کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کتاب بدء الوحی

پہ تالیفي لحاظ سره جلد نمبر ①

تالیف:- صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی

سلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق:- مولانا نورالبشر مدظله العالی

پښتو مترجم:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم،

خصوصیات

- د احادیثو تخریج
- د تعلیقات بخاری تخریج کول
- د اسماء الرجال مختصر تعارف
- د گرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
- ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
- د حدیث د مختلفو جملو په صورت کښې ترجمه
- د شرحې دهرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
- د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
- د مختلفو مذاهب تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
- د بخاری د اردو او د عربئ د شروحاتو خلاصه او جامع کتاب
- د حدیث اطراف بیان چې په بخاری کښې دا حدیث په کوم کوم ځائې کښې دي

جلد:- بدء الوحی وکتاب الایمان

دکتاب نوم:- کشف الباری عما في صحیح البخاری

شارح:- صدروفاق المدارس شیخ الحدیث مولاناسلیم الله خان مدظله العالی

ترتیب وتحقیق:- مولاناأنورالبشربارك الله فی عمره

پښتومترجم:- مولاناشاه فیصل مؤلف تسهیل الهدایه
فاضل امداد العلوم و وفاق المدارس ایم اے اسلامیات وعربي پیښبو ریونیورسټي

ضروري وضاحت

دا خبره دې په ذهن کښې وي چې فیصل کتب خانه د صدروفاق المدارس العربیه پاکستان مهتمم جامعه فاروقیه او شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان مد ظله العالی څخه د کشف الباری پښتو اور اوفارسئ ژبو کښې د ترجمو حقوق ترلاسه کړل او د حقوقو معاوضه ئې ورته ورکړه ددې څخه روسته هیڅ چا ته د کشف الباری پښتو او فارسئ د ترجمه کولو اوچهاپ کولو اجازت نشته او د هریو جلد رجسټریشن ئې هم د حکومت پاکستان سره شوې دې. خلاف ورزی کونکې قانون ته مخامخ کولې شي.

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۳۳۳۹۱۵۸۴۷۷
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبة القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- انصاف کتب خانه جلال آباد ۰۷۹٤۰۰٤۰۲۹
- رحیمی کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۷۷۱۰۱۵۱۸

فهرست مضامين

صفحه	مضمون	شمیره

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

د امام بخاری رحمة الله علیه نوم او نسب

شمیره	مضمون	صفحه

الحديث الأول

الحديث الثاني

شمیره	مضمون	صفحه

الحدیث الثالث

شمیره	مضمون	صفحه
	دعلامه شبلی نعمانی رحمه الله غلط فهمی	۳۷۹
	ورقه بن نوفل:	۳۸۲
	قوله: ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ:	۳۸۲
	قوله: وَكَانَ امْرَأً قَدْ تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ:	۳۸۲
	زیدبن عمروبن نفیل:	۳۸۲
	قوله: وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ فَيَكْتُبُ مِنَ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللّٰهُ:	۳۸۳
	د تورات او انجیل ژبه	۳۸۳
	دسریانئ وجه تسمیه	۳۸۳
	د انجیل د کتابت وجه:	۳۸۴
	قوله: وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ:	۳۸۵
	قوله: فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ:	۳۸۵
	قوله: اِسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ:	۳۸۲
	قوله: فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ هٰذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللّٰهُ عَلَى مُوسَى:	۳۸۷
	ورقه عیسائی وو خو د عیسی علیه السلام په ځائې د موسی علیه السلام د ذکر کولو وجه:	۳۸۷
	علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی:	۳۸۸
	یو اشکال اودهغې جواب:	۳۸۹
	دعلامه سهیلی رحمه الله بیان اودهغې رد:	۳۸۹
	قوله: يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا:	۳۹۰
	د ,,جذع،، اعراب او ددې وجوه:	۳۹۰
	د ,,جذع،، لغوی معنی:	۳۹۱
	قوله: لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ:	۳۹۱
	قوله: أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ:	۳۹۱
	د «أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ» اعراب:	۳۹۲
	د نبی صلی الله علیه وسلم دتعجب وجه:	۳۹۳
	قوله: قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ:	۳۹۳
	قوله: وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا:	۳۹۳
	قوله: ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ:	۳۹۴
	قوله: وَفَتَرَ الْوَحْيُ:	۳۹۴
	اول بحث دوحی دفتور اوانقطاع وجه:	۳۹۴
	دویم بحث د فترت موده:	۳۹۵

شمیره	مضمون	صفحه

الحديث الرابع

صفحه	مضمون	شمیره

الحدیث الرابع

الحدیث الخامس

الحديث السادس

شمیره	مضمون	صفحه

كتاب الإيمان

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

الحدیث السّابع

(۱) باب الایمان وقول النبی ﷺ بنی الاسلام علی خمس

الحديث الثامن

۲ = بَابُ أُمُورِ الْإِيمَانِ

شمیره	مضمون	صفحه

الحدیث التاسع

۳- باب: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

الحدیث العاشر

شمیره	مضمون	صفحه

الحديث الحادي عشر

۴- بَاب أَيُّ الإِسْلَامِ أَفْضَلُ

شمیره	مضمون	صفحه

۵- بَابُ إِطْعَامُ الطَّعَامِ مِنَ الْإِسْلَامِ

الحدیث الثانی عشر

فہرست رجال الحدیث

رجال	صفحه	رجال	صفحه
عمربن الخطاب رضی اللہ عنہ		مُعَاذُبْنُ جَبَلٍ	
عمربن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ		مَعْمَرٌ	
عمروبن خالد		مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ	
لیث بن سعد		مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ	
مَالِكٌ بن انس		هِشَامِبن عُرْوَةَ	
اخبرنی محمدبن ابراهیم التیمی رحمۃ اللہ علیہ		ورقه بن نوفل	
مرثدبن عبدالله (ابوالخیر) یزنی مصری		يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ	
		يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ	
		حدثنا یحی بن سعید الانصاری	
		يُونُسُ بن یزید ایلی	

په دے تقریر کښے چه مونږ د صحیح بخاری کومه نسخه د متن په طور غوره کړے ده. په هغے باندے د ډاکټر مصطفی دیب البغا تحقیقی کار شوے دے. ډاکټر مصطفی دیب په احادیثو باندے د نمبرو لګولوسره سره د احادیثو د مواضع متکررهٔ د خودلو التزام هم کړے دے. که یو حدیث روستو راتلونکے وی. نو د حدیث په آخر کښے په نمبرو سره د هغے خودنه کوی. یعنی چه په دے نمبر باندے دا حدیث راځی. اوکه حدیث تیر شوے وی. نو د نمبر نه وړاندے ..ر.. لګوی. یعنی دے نمبر طرف ته رجوع اوکړه.

بسم الله الرحمن الرحيم

د ترتيب وركونكى درخواست

اللهم لك الحمد لله كما ينبغي لجلال وجهك وعظيم سلطانك، اللهم ما أصبح بي من نعمة او بأحد من خلقك، فمنك لا شريك لك، اللهم ولك الشكر، اللهم لك الحمد، لا أحصي ثناءً عليك أنت كما أثنيت على نفسك. اللهم صل وسلم وبارك على سيدنا ومولانا محمد النبي الأمي وعلى آله وصحبه وتابعيهم وتبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

دالله تعالى بے حده كرم او احسان دے چه د استاذ الاساتذه شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب دامت فيوضهم وبركاتهم د درس صحيح بخارى شريف يو جلد د ترتيب، تحقيق او تعليق سره عالمانو، طالبانو او د علم حديث شوق لرونكو په خدمت كښے د وړاندے كولو سعادت حاصليږى.

حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم زمونږ د اكابرو د هغه خوش قسمته ډلے سره تعلق ساتى چه محدث كبير، مجاهد اعظم، شيخ الاسلام حضرت مولانا سيد حسين احمد مدنى قدس سره د صحبت او درس نه د استفادے سعادت ورته اصل دے. دعلم ددے بے كناره سمندرنه هر كس د خپل استعداد مطابق فائده اخستے ده. زمونږ حضرت مدظلهم هم د حضرت شيخ الاسلام قدس سره د علمى درستخوان نه ښه پوره استفاده اخستے ده. او بيا ئے تر اوسه پورے خپل ټول ژوند د دغه علومو په خورولو كښے تير كړے دے. نن د لوستونكو په خدمت كښے چه دا كومه علمى كارنامه پيش كولے شى. دا هم په اصل كښے د خپل استاذ شيخ الاسلام حضرت مدنى نورالله مرقده د درسى خصوصياتو كامل مظهر دے. په راروانو صفحاتو كښے به تاسو د حضرت شيخ الاسلام نورالله مرقده د حالاتو په ضمن كښے د هغوى د درس خصوصيات په تفصيل سره اوګورئ. بيا دالله تعالى دا خصوصى كرم دے چه د پورتنئ آمالئ د ليكلو نه وړاندے حضرت مد ظلهم شليريشت كاله د بخارى شريف درس وركړے دے. او د جامع ترمذى تدريس خو ددے نه هم زيات دے.

اين سعادت بزور بازو نيست تانه بخشد خدائے بخشنده

لكه چه د بخارى شريف دا تقرير د دوى د استاذ محترم د درسى افاداتو نه علاوه تقريبا د صدئ د خلورمے حصے د شپے او ورځے تدرسى مشاغلو او د حديث د ډيرو كتابونو د مطالعے خلاصه او نچوړ دے. د بخارى په دے تقرير كښے د لاندينو خبرو د اول نه تر آخره پورے اهتمام كړے شوے دے.

① د ترجمة الباب تفصيل او قابل اعتماد تشريح.
② دترجمة الباب او باب په مينځ كښے د مطابقت دپاره نفيس توجيهات.
③ د ترجمة الباب د ماقبل او مابعد سره ربط.
④ په متشابه تراجمو كښے د فرق وضاحت.
⑤ د حديث په راويانو كښے د هر راوى په قدر د حاجت پيژندګلو.

⑥ د کومو راویانو په نومونو کښې چه اشتباه راځی.د هغې وضاحت.
⑦د کومو راویانونه چه په صحیح بخاری کښې صرف یو یا دوه روایتونه منقول دی.دداسې راویانو خودلو سره سره د هغوی د مرویاتو نشاندهی هم کول.
⑧ د بخاری په راویانو کښې چه په چا باندې محدیثوکلام کړې وی.د هغې علمی طور منصفانه جائزه.
⑨ دحدیث د معنی قابل اعتماد زړه ته پریوتونکې وضاحت.
⑩ په مکررو روایاتو باندې تنبیه چه آیا د سند او متن اتحاد سره تکرار شوې دې.او که په دې دواړو کښې د یو د اختلاف سره.
⑪ د فقهاؤ دمذاهبو د پوره تفصیل اهتمام او دهغې تنقیح.
⑫ د فقهی مذاهبو د بیان دپاره د اصل ماخذو د حوالو اهتمام.
⑬ د فقهی مسائلو په آسانه طریقه باندې تفهیم او تشریح.
⑭ د فقهاؤ او محدثینو په مختلفو اقوالو کښې محاکمه.
⑮ په سند کښې د ,,تحویل،، د راتلو په صورت کښې دا اهتمام کول چه دلته کوم حدیث ذکر دې.دا د اولنی سند روایت دې.اوکه د دویم دغه شان ددې خبرې وضاحت چه دویم سند د کوم روایت چه دلته مذکور نه دې.هغه مصنف په کوم ځائې کښې بیان کړې دې.
⑯ د معلقاتو په باره کښې ددې خودلو اهتمام چه مصنف یا بل محدث دا موصولاً په کوم ځائې کښې ذکر کړې دې.
⑰ دآثارې موقوفه په باره کښې دا خودل چه یو محدث دا موصولاً په کوم ځائې کښې ذکر کړې دې.
⑱ د موقعې په مناسبت سره د امام بخاری رحمه الله او نورو شارحینو په وهمونو تنبیه.
⑲ د بعضې تراجمو او نورو مواقعو باندې د ابهام وضاحت.
⑳ په صحیح بخاری کښې په بعضې ځایونوکښې باب وی.او ترجمه نه وی.او په بعضې ځایونو کښې ترجمه وی.او حدیث نه وی.بلکه آیت ذکر وی.او په بعضې کښې نه حدیث وی اونه آیت وی.بلکه صرف ترجمه ذکر وی.په داسې موقعو باندې تسلی بخش کلام.
㉑ ,,قال بعض الناس،، د ماله وما علیه سره ذکر کول.
㉒ په براعت اختتام باندې عموماً تنبیه ورکول.

بیا دوه اهم ترینې مقدمې هم په اصل تقریر پاند زیاتی دی.یوه مقدمةُ العلم په دې کښې دعلم حدیث تعریف ،وجه تسمیه،موضوع،غرض اوغایت،دعلم حدیث مرتبې د حدیث دکتابونو اقسام ،تدوین حدیث،د منکرین حدیث اعتراضات اود هغې په جوابونو مشتمل سیر حاصل مباحث ذکر شوی دی.او دویمه مقدمه ,,مقدمة الکتاب ده.په دې کښې د صاحب تقریر نه واخله تر امام بخاری رحمه الله پورې چه د سند د رجالو تفصیلی حالات مذکور دی.دغه شان دا مقدمه صحیح بخاری سره متعلقه په ټولو تفصیلونو هم مشتمله ده.

تقرير حتى الوسع سهل او د سليس ساتلو كوشش شوے دے.په مينځ كښے چه كوم عربى عبارات دى.دټولو د ترجمے التزام نه دے شوے.ځكه چه دا كتاب بنيادى طور د عالمانو او منتهى طالبانو دپاره دے.دوى ته د ے څه خاص ضرورت نه وى. خو كه چرته ګران عبارت يا څه ګران شعر راغلے دے.نو د هغے تشريح شوے ده.

د دےنه علاوه په حواشى كښےئے د لاندينى امور التزام شوے دے.

①د تقرير په مينځ كښے كه چرته څه حديث راغلے دے.نو د هغے مكمل تخريج شوے دے.او د متعلقه كتاب حواله د صفحاتو سره وركړے شوے ده.

②كه د حديث څه حصه ذكر شوے وى.نو بعضے وخت د ضرورت مطابق پوره حديث په حاشيه كښے نقل كړے شوے دے.

③د عالمانو ،فقهاؤ،او شارحينو د اقوالو په سلسله كښے دا كوشش شوے دے.چه د هغوى د خپلو تصنيفاتو نه حوالے وركړے شى .خوچه يو كتاب نه دے ملاؤ شوے.نو په دے صورت كښے د معتمد عليه شروحو اوكتابونو حوالے وركړے شوى دى.

④د بخارى شريف د هرحدث تخريج د اصول سته ؤ په دائره كښے دننه شوے دے.

⑤حديث باب په بخارى شريف كښے څو خله راغلے دے.او په كوم كوم ځائے كښے ذكر دے؟ ددے خودنه شوے ده.

⑥د قرآن كريم د آياتونو د حوالے دپاره د سورت او آيت نمبر ذكر كړے شوے دے.

احقرته خپل علمى سامان او سرمائے د كم والى پوره احساس او اعتراف دے.هم د دے احساس د وجے زما دپاره د اسے اهم علمى خدمت ته تياريدل هم په ظاهره ګران وو.خو چونكه د حضرت شيخ الحديث صاحب مد ظلهم د طرف نه پوره ډاډګيرنه، دعاګانے او پوره راهنمائى راته حاصله ده.نو ځكه په الله باندے توكل كولو سره مے په دے كار شروع اوكړه.

بنده تر خپله وسه پورے كوشش كړے دے.چه كار پوره وى.او يوه خبره هم د حوالے نه بغير پاتے نشى.خو يقينى ده.چه په دے كښے د ډيرو خبرو حوالےٴ پاتے شوى دى.بله دا چه په دومره غټ كار كښے دغلطىٴ د امكان نه هم انكار نشى كولے. حضرت اهل علموٴ ته درخواست دے.كه څه غلطىٴ باندے خبر شى.او دا دے د مرتب خامى اوګڼرى.او دے دے د دغه غلطىٴ اودغه شان د خپلو فائده مندو تجويزونو او مشورونو نه خبر كړى. چه غلطىٴ لرے كړى شى.او د تجويزونو او مشورونو په رڼړا كښے راروان جلدونه د زيات نه زيات فائده مند جوړولو كوشش اوكړے شى.احقربه دے احسان منونكے او شكرګزار وى.

دتقرير د ترتيب په دوران كښے چه د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم هدايات، راهنمائى اودلچسپىٴ زما د همت او ډاډګيرنے باعث دے.اوهغه د هر قسم رسمى شكريه نه ډير اوچت دے.الله تعالى دے حضرت صاحب ته صحت او پوره عافيت وركړى.او هم ددوى وراندے دے دا كتاب آخرته اورسوى.او په خپل دربار كښے دےئے قبول كړى.او د عالمانو، طالبانو او ديندارو دپاره دے مفيد اوګرځوى.

د كتاب په ,,مقدمة العلم،،باندے تحقيقى كار اول محب محترم مولانا عبد الرحمن صاحب مليبارى حفظه الله تعالى شروع كړے وو.روستو اګرچه احقر په هغے باندے د سر نه محنت

اوکړلو.خو د هغوی په کار سره احقر ته ددے کار په تکمیل کښے ډیره آسانتیا ملاؤ شوه.الله تعالی دے هغوی ته جزائے خیر ورکړی.
دکتاب د کمپوزنګ نه پس د پروف د تصحیح مسئله وه.الله تعالی په خپل فضل او رحم سره دا ګرانه مرحله هم په آسانئ سره پوره کړه.په دے باره کښے د عزیز ګرامی مولانا محمد انیس صاحب (استاذ جامعه احتشامیه کراچی) شکریه ادا کول ډیر ضروری ګنړم.چه هغوی ډیر په شوق سره د خپلو مصروفو وختونو نه زما دپاره وخت اوویستلو.او د تصحیح په ټولو مرحلو کښے ئے زما پوره مدد اوکړلو.الله تعالی دے هغوی ته جزائے خیر ورکړی.او علمی او عملی ترقئ دے ورته ورکړی.
په آخر کښے قدرمندو لوستونکو ته درخواست دے.چه د صاحب تقریر حضرت شیخ الحدیث صاحب دامت فیوضهم وبرکاتهم د صحت اوعافیت دپاره خصوصی دعا کوی.دغه شان د مرتب دپاره دے هم دعا کوی.چه ددے کار زر پوره کولو توفیق ورته ورکړی.او په خپل دربار کښے ورته د قبولیت شرف ورکړی.اود احقر دپاره، د احقر د مورپلار دپاره او ټولوملګرو او دوستانو دپاره ئے د آخرت توښه اوګرځوی.آمین.

نورالبشر بن محمد نورالحق
استاذ جامعه فاروقیه و رفیق شعبۂ تصنیف وتالیف جامعه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د مترجم د طرفه

د بنده شاه فیصل د هغه وخت نه د ,,کشف الباری،، د ترجمے شوق اوخواهش پیدا شوے وو.کله چه ئے د ,,الفوز العالی فی إختبار البخاری،، په نوم د وفاق المدارس، دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک او جامعه امدادالعلوم پښور د پنځو کالو بخاری پرچو حل لیکلو.نوپه دغه وخت کښے د دے شرحے نه ډیر زیات متاثره شو.یوځو کاله پس په خپلو دوو عربی کتابونو ,,دروس العبادة،، او ,,سنن الصلاة فی فقه الأحناف،، باندے د تقریظ اخستلو په غرض د شیخ الحدیث ، صاحب تقریر په خدمت کښے حاضرشوم.د تقریظ لیکلو سره مے ترے د کشف الباری د ترجمے اجازت هم طلب کړلو.حضرت راته اوفرمائیل.چه مونږ به پرے مشوره اوکړو. غالباً د حضرت مولانا ابن الحسن عباسی ,,صاحب القلم،، او حضرت مولانا نورالبشر سره د مشورے نه پس ئے ماته د ترجمے اجازت اوکړلو.او د احقر په دواړو کتابونو د تقریظ لیکلو نه پس دحضرت هغه دوه کلمات زما دپاره د نه هیرولو قابل دی.چه د مازیګر نه پس د جامعے په چمن کښے تشریف فرما وو.او حضرت مولانا ابن الحسن عباسی صاحب ته ئے د خپل تبسم په مخصوص انداز کښے اوفرمائیل.،، ماشاءالله مولانا صاحب مستعد بهی هے او تجربه کار بهی،، دا وو د ترجمے د اجازت نامے یو څو ټکی.

بنده شاه فیصل خطیب جامع مسجد الفرقان حسین ټاؤن
نزد پولیس چوکئ اتحاد روډ پیښور ښار

الاجازة المسندة لسائر الكتب والفنون المتداولة

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذی فضل بنی آدم بالعلم والعمل علی جمیع العالم، والصلاة والسلام علی محمد سید العرب والعجم، وعلی آله وأصحابه ینابیع العلوم والحکم.

په اول کښې دمقدمة العلم او مقدمة الکتاب پیژندل ضروري دي.د ټولو نه وړاندې به دمقدمة العلم ذکر کولې شي.او ددې نه پس د مقدمة الکتاب ذکر کولې شي.په مقدمة العلم کښې د اته مباحثو ذکر کولې شي.په کومو سره چه دعلم حدیث سره متعلق ضروري معلومات حاصلیږي.دې مباحثوته ,,رووس ثمانیه،، یا ,,مباحث ثمانیه،، ونیلی شي.

مقدمة العلم

اولني بحث: د ټولونه اولنې بحث د ,,علم اصول حدیث،، تعریف سره متعلق دې.اول به د مطلق ,,علم حدیث،، تعریف کیږي.او دویم به د علم ,,روایة الحدیث،، او دریم به د ,,علم درایة الحدیث،، او څلورم به د ,,علم اصول حدیث،، تعریف کیږي.

د مطلق علم حدیث تعریف: علامه کرماني او علامه عیني (رحمهما الله) ددې تعریف کړې دې.

((هوعلم یعرف به أقوال رسول الله ﷺ وأفعاله وأحواله))(۱)

د علم روایة الحدیث تعریف: ((هوعلم یشتمل علی نقل أفعال رسول الله ﷺ وأقواله وصفاته وتقریراته))(۲)

د علم درایة الحدیث تعریف: ((هوعلم یشتمل علی شرح أقوال رسول الله ﷺ وأفعاله وصفاته وبیان کرلیه معاني ألفاظه، ویتعلم به طرق أستنباط الأحکام، ویعرف به ترجیح الراجح منها والتطبیق بین الأحادیث))(۳)

د علم اصول حدیث تعریف: هوعلم بقوانین یعرف بها أحوال السند والمتن،،(۴)

---

(۱) الکرماني (۱/۱۲) وعمدة القاري (۱/۱۱)

(۲) اوګورئ تدریب الراوي (۱/۲۰)

(۳) قال الأکفاني.. وعلم الحدیث الخاص بالدرایة :علم یعرف به حقیقة الروایة وشروطها وأنواعها وأحکامها وحال الرواة وشروطهم وأصناف المرویات.. انظر تدریب الراوي (۱/٤۰)

(۴) تدریب الراوي (۱/٤۱) د اصول حدیث دټولو نه غوره تعریف هغه دې.کوم چه حافظ بن حجر رحمه الله کړې دې ..معرفة القواعد المعرفة بحال الراوي (تدریب الراوي ۱/٤۱)

علامه سیوطی رحمه الله په الفیه (دا د هغوی یوه رساله ده.چه یوزر شعرونو باندے مشتمله ده.خکه ورته الفیه وائی) دا تعریف د مطلق علم حدیث تعریف گرخولے دے.هغوی فرمائی.

علم الحدیث ذو قوانین تحد یدری بها أحوال متن وسند(۱)

یعنی په علم حدیث کښے داسے قوانین وی.چه په هغے باندے د متن او سندحالات معلومیږی.
دغه شان علامه کرمانی رحمه الله هم دا تعریف د مطلق علم حدیث تعریف گرخولے دے .(۲) خو صحیح دا ده.چه ذکر شوے تعریف د علم اصول حدیث دے.
د قول رسول ﷺ نه مراد د دوی ارشادات مبارکه دی.لکه نبی ﷺ چه فرمائیلی دی.
«الدین النصیحة»(۳)

یادغه شان د نبی ﷺ دا ارشاد دے.«بنی الإسلام علی خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله وإقام الصلاة وإیتاء الزکاة والحج وصوم رمضان»(۴) یا لکه چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.«إنما الأعمال بالنیات وإنما لإمرئ ما نوی فمن کانت هجرته إلی الله ورسوله فهجرته إلی الله ورسوله ومن کانت هجرته إلی دنیا یصیبها أو إلی إمرأة ینکحها فهجرته إلی ما هاجر إلیه» (۵)
اود افعال الرسول ﷺ نه د نبی ﷺ هغه افعال مراد دی.کوم چه د نبی ﷺ نه صادر شوی وی. مثلاً «رأیت رسول الله ﷺ مهجراً فجمع بین الظهر والعصر»(۶)
یا مثلاً «إن رسول الله ﷺ جمع فی حجة الوداع المغرب والعشاء بالمزدلفة»(۷)
دنبی ﷺ صفات په دوه قسمه دی.① اختیاریه ② غیراختیاریه

---

(۱) اوجزالمسالک (۱/۵)
(۲) اوجزالمسالک (۱/۵)

(۳) أخرجه مسلم فی صحیحه (۱/۵۴) عن تمیم الداری فی کتاب الإیمان باب بیان أن الدین النصیحة والترمذی فی جامعه (۲/۱۴) عن أبی هریرة فی أبواب البر والصلة عن رسول الله ﷺ باب ماجاء فی النصیحة.....والنسائی فی سننه(۲/۵۸۱) عن أبی هریرة رضی الله عنه فی کتاب البیعة .النصیحة للإمام .وأحمد فی مسنده (۱/۳۵۱) عن ابن عباس رضی الله عنه
(۴) أخرجه البخاری فی صحیحه فی کتاب الإیمان باب قول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس (۱/۶) ومسلم فی کتاب الإیمان باب بیان أرکان الإسلام ودعائمه العظام (۱/۳۲) والترمذی فی جامعه فی أبواب الإیمان عن رسول الله ﷺ باب ما جآء بنی الإسلام علی خمس (۲/۸۵)
(۵) أخرجه النسائی فی سننه فی کتاب الطهارة باب النیة فی الوضوء (۱/۲۴) والبخاری فی صحیحه باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله ﷺ (۱/۳)
(۶) أخرجه أبوداود فی سننه فی کتاب المناسک باب الخروج إلی عرفة (۱/۲۷۲)

(۷) أخرجه البخاری فی صحیحه فی کتاب المناسک باب من جمع بینهما ولم یتطوع (۱/۲۲۷) ومسلم فی کتاب الحج باب الإفاضة من عرفات إلی مزدلفة وإستحباب صلاتی المغرب والعصر جمعاً بالمزدلفة فی هذه اللیلة (۱/۴۱۷)

① اختیاریه صفات دا دی.جود وسخا، عبدیت، تواضع او حلم بردباری وغیره
② غیراختیاریه صفات لکه د نبی ﷺ جسمانی صفات. ((وکان ربعة من القوم))(۱) یعنی نبی ﷺ میانه قد وو.((بعید ما بین المنکبین))(۲) د نبی ﷺ د دواړو اوګو په مینځ کښې فاصله لګه غونډے زیاته وه.دا دواړه صفتونه د نبی ﷺ د بدن مبارك سره متعلق دی.بدنی صفات غیراختیاری دی.روحانیت او اخلاقو سره چه د کومو صفاتو تعلق دے.هغه ټول اختیاری دی.حضرات محدثین ﷫ چه په کوم علم روایة الحدیث کښے مشغول دی.نو هغه دواړه قسمه صفات بیانوی.اوفقهاء کرام ﷫ چونکه د مسائلو په استنباط پسے لګیدلی دی. نوهغوی څکه صرف د صفات اختیاریه نه بحث کوی.څکه چه داحکامو تعلق ددے سره دے. د صفات غیر اختیاریه سره د احکامو تعلق نشته.
تقاریر تقاریر جمع د تقریر ده.اودلته کښے د تقریر نه مراد دا دے.چه د شریعت یو متبع د نبی ﷺ وړاندے څه کار یا څه خبره کړے وی.او په هغے باندے نبی ﷺ چپوالے اختیار کړے وی.او انکار ئے پرے نه وی کړے.(۳) دے سکوت ته تقریر وائی.او د نبی ﷺ سکوت حجت دے.او د غیر نبی سکوت حجت نه دے.نو کوم عمل چه نبی ﷺ لیدلی وی.یا ئے کومه خبره اوریدلی وی.اوسکوت ئے اختیار کړے وی.نودا ددے عمل یا قول د صحت دلیل دے.
فائده : طالب هغه کس ته وائی.چه هغه د حدیث په طلب او د روایت په اخستلو کښے شروع اوکړی.(۴) اوچه څوك روایات نقل کوی.هغه ته محدث وائی.شیخ الادب حضرت مولانا اعزازعلی ﷫ دا هم فرمائیلی دی.چه د محدث تعریف دے.((من یعتنی بروایته ویکتفی بدرایته)) یعنی چه دهغه روایت معتبر وی.اوچه د حدیث کومه شرح کوی.هغه قابل اعتماد وی.
ملا علی قاری ﷫ په شرح نخبه کښے لیکلی دی.چه کوم محدث ته یو لاکھ روایتونه سنداً ومتناً، جرحاً وتعدیلاً یاد وی.هغه ,,حافظ،، دے.اوکوم محدث ته چه درے لکھ احادیث سنداً ومتناً جرحاً وتعدیلاً یاد وی.هغه ته ,,حجت،، وائی.اوکوم محدث ته چه ټول روایتونه سنداً ومتناً جرحاً وتعدیلاً یاد وی.هغه ته ,,حاکم،، وئیلے شی (۵) خو صحیح خبره دا ده.چه د ,,حافظ،، حجت ، او حاکم کوم تعریفونه چه ملا علی قاری ﷫ بیان کړی دی.هغه د محدیثنو حضراتو په نیز معتبر نه دی.او د متقدمینو ﷫ په کلام کښے ددے ذکر نشته.(۶)
,,فقیه،، هغه کس ته وائی.چه د مسائلو د استنباط اهتما کوی.او په اقوالو کښے ترجیح کر کوی.او کوم کس چه احکام شرعیه او مسائل فقهیه د تطبیق او ترجیح او استنباط په ذریعه

(۱) أخرجه الترمذی فی شمائله باب ما جآء فی خلق رسول الله ﷺ (ص.۱)
(۲) ...... أخرجه الترمذی فی شمائله باب ما جآء فی خلق رسول الله ﷺ (ص.۱)
(۳) لمعات التنقیح (۲۲/۱)
(۴) مقدمه اعلاء السنن (۲۲/۱)
(۵) ..... شرح نخبة الفکر (ص.۳) ناشر مکتبه اسلامیه میزان مارکیټ کوئته.
(۶) د تفصیل دپاره اوګورئ ..قواعد في علوم الحدیث (ص.۲۱، ۲۲)

ښکاره کوی.اود تعارض لرے کولو کوشش کوی.هغه ته محقق وائی.

حدیثه اثر او خبر دحضرات محدثینو ﷭ په نیزدلته یو بحث دا هم شوے دے.چه حدیث، اثر، اوخبر، الفاظ مترادفه دی.اوکه په دے کښےڅه فرق شته؟

شیخ محدث عبدالحق دهلوی﷫ حدیث او اثر مترادف ګرځولی دی.(۱) او مشهوره دا ده.چه د حدیث اطلاق په مرفوع الی النبی ﷺ باندے کیږی.اود صحابی ﷜ اثر ته موقوف وائی.او د تابعی اثر ته مقطوع وئیلے شی.(۲)

دریم قول دا دے.چه مرفوع الی النبی ﷺ او اثرموقوف د صحابی ﷜ ته حدیث وائی.اود تابعی اثر ته مقطوع وئیلے شی.(۳)

دحدیث او خبر متعلق یو قول دا دے.چه دا دواړه مترادف دی.اوبل قول دا دے. چه د حدیث اطلاق د رسول الله ﷺ په اقوالو، افعالو وغیره باندے کیږی.او خبر عام دے.د نبی ﷺ او د بادشاهانو او حاکمانو دواړو باندے ددے اطلاق کیږی.(۴)

یواشکال اود هغې جواب : دلته یو اشکال کیږی.چه د حدیثو بعضے کتابونه لکه مصنف ابن ابی شیبه او مصنف عبدالرزاق کښے عام طور باندے د صحابه کرامو﷡ او تابعینو ﷭ آثار موجود دی.د مرفوع احادیثو ذخیره په کښے ډیره کمه ده.نو بیا دا د حدیثو په کتابونو کښے ولے شمارلی شي؟حالانکه دحدیث لفظ د ,,مرفوع الی النبی ﷺ ،، دپاره استعمالیږی

د ذکر شوی اشکال جواب خو دا دے.چه د صحابی ﷜ یا تابعی﷫ آثار به د دوو حالتونو نه خالی نه وی.یا به هغه مدرك بالقیاس وی.او یا به غیر مدرس بالقیاس وی.که هغه غیر مدرك بالقیاس وی.نود هغے حکم د حدیث مرفوع دے.نو د حدیث په کتاب کښے ددے په ذکر کولوباندے اشکال وارد نشو.

او که هغه مدرك بالقیاس وی.نو دحسن ظن په بناء به دا ګڼلے شی.چه صحابه کرامو﷡ او تابعینو ﷭ دا د نبی ﷺ نه نقل کړی دی.او د خپل طرفه ئے نه دی بیان کړی.اګرچه نبی کریم ﷺ ته ئے د هغے نسبت نه دے کړے.نو په دے صورت کښے هم دحدیث په کتاب کښے ددے په ذکر کولو اشکال نه دے پکار.

دویم جواب دا دے.لکه چه شیخ عبدالحق محدث دهلوی ﷫ فرمائیلی دی.چه دحدیث اطلاق لکه څنګه چه د نبی ﷺ په اقوالو افعالو تقاریرو او صفاتو باندے کیږی.دغه شان د صحابه کرامو﷡ او تابعینو ﷭ په آثارو باندے هم کیږی.دا بیله خبره ده.چه بیا نبی کریم ﷺ ته د کوم قول او فعل نسبت شوے وی.هغے ته مرفوع اوچه صحابی ﷜ ته د کوم قول او فعل نسبت شوے وی.هغے ته موقوف او چه تابعی ته د کوم قول او فعل نسبت شوے وی.هغے ته مقطوع وئیلی شی.(۵) په حقیقت کښے دا درے واړه په حدیث کښے شامل دی.او په دے

---

(۱) مقدمه مشکاة المصابیح اووړئ لمعات التنقیح (۲۲/۱)
(۲) اوګورئ قواعد في علوم الحدیث (مقدمه اعلاء السنن (ص،۲۸)
(۳) لمعات (۲۲/۱)
(۴) ...اوګورئ شرح نخبة الفکر (ص، ۸)
(۵) اوګورئ لمعات التنقیح (۲۲/۱)

درے واړو کښے د فرق دپاره يو ته ,,حديث،، دويم ته ,,موقوف،، او دريم ته ,,مقطوع،، ونيلی شی.

د حضرات صحابه کرامو ﷺ شان حقيقت هم دا دے چه ددے حضراتو آثار په حديث کښے داخل کړے شی.ځکه چه دا د رسول الله ﷺ د نبوت دلائل دی.خاص کر د صحابه کرامو ﷺ شان دومره ښکاره او اوچت دے.چه د انکار ګنجائش په کښے نشته.

په قرآن کريم کښے د صحابه کرامو ﷺ دپاره في الحقيقت عام طور ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ فرمائيلی شوی دی.(۱) الله تعالی چه دهغه شان﴿ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ﴾(۲) او ﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾(۳) هغه د صحابه کرامو دپاره د خپلے رضا زيرے ورکړے دے.

اودا معلومه ده.چه قصداً عمداً د ګناه ارتکاب کونکو او په هغے باندے د. اصرار کونکو دپاره د الله تعالی رضا نه وی.نو ددے وجے دوی ته معصوم خو نه دی.ځکه چه عصمت د پيغمبرانو عليهم السلام پورے خاص دے.خو محفوظ منل او دحق معيار ګرځول ضرور دی.الله تعالی ددوی ايمان پخپله معيار خودلے دے.﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ۭ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ﴾(۴) دمنافقانو نه مطالبه کړے شوے ده.چه د صحابه کرامو ﷺ پشان ايمان راوړی.که دوی دحق معيار نه وو.نو د دوی پشان دايمان راوړلو مطالبه به ولے کولے شوه؟حقيقت دا دے.چه په صحابه کرامو ﷺ کښے څنګه اخلاص، تقوی او للهيت پيدا شوے وو.هم د هغے مطالبه د منافقانو نه شوے وه.﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا﴾(۵) په دے آيت کښے ﴿فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ﴾ الفاظ د خصوصی توجه مستحق دی.ددے نه د صحابه کرامو ﷺ خلوص او تقوی ښکاره ثابتيږی.

په بل ځائے کښے ددوی متعلق فرمائيلی شوی دی.﴿يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا﴾(۶) په دريم ځائے کښے بيا ارشاد دے﴿اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ۭ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾(۷) اوپه يو ځائے کښے ارشاد دے.﴿وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى﴾(۸)

---

(۱) المجادلة – ۲۲)
(۲) سبا-۳)
(۳) التغابن-۱۸)
(۴) البقره-۱۳)
(۵) الفتح-۱۸)
(۶) الفتح-۲۹)
(۷) الحجرات:۳)
(۸) النساء:۹۵.والحديد:۱۰)

په حدیث شریف کښې فرمائیلې شوی دی.«أصحابي کالنجوم فبأیهم اقتدیتم اهتدیتم» ([1]) په یو ځائې کښې دا هم ارشاد دې چه زما د صحابوْ د یو مد یا د نیم مد صدقه د نورو د احد دغر هومره صدقې نه غوره ده.([2]) اوښکاره ده.چه د هغوی دا کمال داخلاص د وجې دې.نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم حالات او واقعات په حقیقت کښې دنبی ﷺ د حالاتو او واقعاتو سیورې اوعکس دې.نوځکه ددې آثار په حدیث کښې شاملول پکار دی.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قول دې«أولئك أصحاب محمد ﷺ کانوا أفضل هذه الأمة أبرها قلوباً وأعمقها علماً وأقلها تکلفاً اختارهم الله لصحبة نبیه ولإقامة دینه» ([3]) الله تعالی دې حضراتو ته په پرهیزګارئ ، علم او سادګئ کښې کمال ورکړې وو.او د رسول الله ﷺ د مقصد د تکمیل دپاره ئې ددوی انتخاب کړې وو.نوبیادې ولې ددوی آثار په حدیث کښې شامل نکړې شی؟ او ولې دې د هغوی د معیار حق کیدو نه انکار اوکړې شی؟

دریم جواب دا دې.چه مصنف ابن ابی شیبه او مصنف عبدالرزاق پشان کتابونه چه په دې کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعین رحمهم الله آثار په کثرت سره موجود دی.کتب الآثار ورته وئیلې شي.کتب الحدیث ورته نشی وئیلې.لکه چه په دې جواب کښې په حدیث او اثر کښې د فرق لحاظ شوې دې.

یوبل سوال او د هغې جواب: باقی پاتې شو دا سوال چه په بخاری شریف او سنن ابی داود وغیره کښې هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار موجود دی.نو بیا دا دحدیثو په کتابونو کښې ولې شمارلې شي؟

نوددې جواب دا دې.چه اول خو د مرفوع احادیثو په مقابله کښې ددې آثارو تعداد ډیر کم دې.نودغالب په اعتبار سره دا د حدیثو په کتابونو کښې شمارلې شي. دویمه خبره دا ده. چه په دې کتابونو کښې د آثارو ذکر تبعاً او ضمناً شوې دې.

مقصود بالذات د مرفوع احادیثو بیان دې.

دویم بحث: وجه تسمیه : د حدیث دوجه تسمیه په باره کښې حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله فرمائی.«وأما الحدیث فأصله ضد القدیم، وقد استعمل في قلیل الخبر وکثیره، لأنه محدث شیأ فشیأ» ([4]) یعنی حدیث دقدیم ضد دې.اود حدوث نه ماخوذ دې.ددې اطلاق په خبر قلیل او کثیر دواړو باندې کیږی.اوخبر په یوځل نه صادریږی.بلکه ,,شیأ فشیأ،، یعنی تدریجاً ددې ظهور کیږی.او دخبر دا شان د نبی ﷺ په احادیثو کښې موجود دې.نوځکه ورته حدیث وائی.

حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله د بخاری په شرح کښې فرمائی.«المراد بالحدیث في عرف الشرع ما

([1]) مشکاة المصابیح باب مناقب الصحابة (٥٥٤)

([2]) الصحیح البخاری کتاب المناقب باب قول النبی ﷺ لو کنت متخذاً خلیلاً (١/٥١٨)

([3]) مشکاة المصابیح باب الإعتصام بالکتاب والسنة (ص،٣٢)

([4]) تدریب الراوی (١/٤٢)

يضاف إلى النبى ﷺ، وكأنه أريد به مقابلة القرآن لأنه قديم»(١) يعني د شريعت په عرف كښے حديث هرهغه څيز دے چه نبى ﷺ ته ئے نسبت شوے وى.اوكوم څيز چه نبى ﷺ ته منسوب وى هغے ته د قرآن په تقابل كښے چه چونكه قرآن قديم دے.حديث وائى.څكه چه نبى ﷺ پخپله حادث دے.نو د دوى كلام به هم حادث وى.اوالله تعالى پخپله قديم دے.نو د هغه كلام به هم قديم وى.

علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله په وجه د تسميه كښے فرمائيلى دى.چه قرآن پاك كښے الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ۝ فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝﴾ ﴿فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝﴾ دا د ﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝﴾ په مقابله كښے دے.او د ﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝﴾ دا دريم نمبر احسان په مقابله كښے دے.كوم چه په ﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ۝﴾ كښے مذكور دے.يعني په دويم نمبر چه هدايت دے.دا د دريم نمبر احسان په مقابله كښے دے.اودريم نمبر هدايت چه ﴿وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝﴾ دے.دا د دويم نمبر احسان ﴿وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۝﴾ په مقابله كښے دے.

اوپه دے كښے دا خودلى شوى دى.چه الله تعالى كوم شريعت تاته دركړے دے.د هغے نه دا مخلوق خبر كړه.او دا مفهوم په صيغه د﴿فَحَدِّثْ ۝﴾ سره ادا شوے دے.ددے وجے د نبى ﷺ اقوال ،افعال، تقارير او صفات كوم چه د شريعت د بيان دپاره دى.په هغے ټولو دحديث اطلاق كيږى.نود دے وجے حديث ته حديث وائى.(٢)

دريم بحث : دعلم حديث موضوع: علامه كرمانى رحمه الله دحديث موضوع د نبى ﷺ ذات گرامى گرخولے دے.(٣) خو ذات د رسول ﷺ «من حيث أنه رسول» په حيثيت موضوع ده.

حافظ جلال الدين سيوطى رحمه الله په تدريب الراوى كښے نقل كړى دى(٤) چه زمونږ استاذ كافيجى رحمه الله د امام كرمانى رحمه الله په قول باندے اعتراض كړے دے.چه ذات د رسول چونكه بشر دے.نوڅكه دا د علم طب موضوع گرخول پكار دى.دعلم حديث موضوع نه.

علامه سيوطى رحمه الله دخپل استاذ امام كافيجى رحمه الله اعتراض نقل كړے دے.خو رد كړے ئے نه دے.حالانكه ښكاره خبره ده.چه امام كرمانى رحمه الله د نبى ﷺ ذات دعلم حديث موضوع د «من حيث أن رسول» په اعتبار سره گرخولے دے.او د نبى ﷺ ذات د «من حيث الصحة والمرض» په اعتبار سره د علم طب موضوع ده.او دا خبره معلومه ده.چه د حيثيت په اعتبار سره دموضوع اختلاف ټيك دے.ددے وجے د علامه كافيجى رحمه الله خبره خو غلطه ده.خو د حافظ

---

(١) پورتنى حواله

(٢) مقدمه فتح الملهم (١/١)

(٣) الكرمانى رحمه الله (١٢/١)

(٤) الكرمانى رحمه الله (٤١/١)

جلال الدین سیوطی رحمه الله دخپل استاذ اعتراض نه رد کول هم قابل تعجب خبره ده.
دا خبره د لحاظ قابله ده چه د رسول الله ﷺ ذات «من حیث أنه رسول» د مطلق علم حدیث موضوع ده. د علم روایت حدیث موضوع نه ده. ځکه چه د علم درایة الحدیث موضوع د شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمه الله «المرویات والروایات من حیث الإتصال والإنقطاع دی.» (١) اود علم درایت حدیث موضوع «الروایات والمرویات من حیث شرح الألفاظ واستنباط الأحکام منها» ده. (٢) او دعلم اصول حدیث موضوع متون او اسانید دی.

څلورم بحث غرض او غایت غرض هغه مقصد او ارادے ته وائی چه دهغے دحاصلولودپاره یوکار کولے شی. او غایت هغه نتیجه ده. کومه چه په دغه فعل باندے مرتب وی. مثلاً د جامو اخستلو اراده چه دهغے دپاره بازار ته تګ کولے شی. غرض دے. اوجامه اخستل دا غایت دے. نوغرض اوغایت دواړه د مصداق په اعتبار سره یو دی. صرف دابتداء اوانتهاء فرق دے.

علامه کرمانی رحمه الله دعلم حدیث غرض او غایت «الفوز بسعادة الدارین» ګرخولے دے. (٣) خودا خبره مجمله ده. ددے تفصیل دادے چه د علم حدیث غرض او غایت د صحابه کرامو سره مشابهت پیدا کول دی. اودا مشابهت داسے دے لکه څنګه چه به صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی ﷺ په بارګاه کښے احادیث اوریدل. اودا به ئے یادول. نودغه شان مشتغلین بالحدیث هم کوی. او دا د دوارو جهانو د کامیابئ کونجی ده. یو شعر دے.

أهل الحديث هم أهل النبي وإن لم يصحبوا نفسه أنفاسه صحبوا

یعنی محدثین رحمهم الله د نبی ﷺ سره خاص تعلق ساتی. اګرچه دوی ته د نبی ﷺ صحبت نه دے نصیب شوے. لیکن دوی د نبی ﷺ د اقوالو، افعالو، صفاتو او تقاریرو امین او محافظ دی. او هروخت په دے کښے مشغول وی. داهم د سعادت عنوان دے.
حضرت شاه ولی الله رحمه الله په فیوض الحرمین کښے ارشاد فرمائی. یوځل د حرمین شریفین د قیام په دوران کښے څه مبشرات په نظر راغلل. هم په دغه مبشراتو کښے دا انکشاف اوشو. چه د نبی ﷺ د زړه مبارك نه د نور تارونه اوخی. او د محدثینو حضراتو زړونو ته رسی. اوپه دے کښے څه شك نشته. چه دا د محدثینو رحمهم الله دپاره د ډیر فضیلت او شرافت خبره ده.
دعلم حدیث دغرض او غایت دپاره دا سعادت چرته تلے شی. چه په سنن ترمذی کښے دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی ﷺ فرمائیلی دی. «أولى الناس بي يوم القيامة أكثرهم علي صلاة» (٤) یعنی د قیامت په ورځ به دنبی ﷺ نزدیکت هغه خلقو ته نصیب

(١) مقدمة أوجز المسالک (ص.٧)_
(٢) مقدمة أوجز المسالک (ص.٧) مطبوعة ندوة العلماء لکهنوا (الهند)
(٣) الکرمانی (١٢/١)
(٤) سنن ترمذی أبواب الوتر باب ماجآء فی فضل الصلاة علی النبی ﷺ (١١/١)

وی.ځوك چه په نبی ﷺ باندے زیات درود وائی.اودا خبره ښکاره ده.چه د حضرات محدثینو ﷺ نه علاوه نورځوك په نبی ﷺ باندے زیات درود نه وائی.نودا ونیلی شی.چه ددے علم غرض او غایت په قیامت کښے نبی ﷺ ته زیات نزدیکت حاصلول دی.
دغه شان طبرانی رحمه الله په ..اوسط.، کښے دحضرت عبدالله بن عباس نه روایت نقل کړے دے.چه «قال النبی ﷺ اللهم ارحم خلفائي،قلنا يارسول الله ومن خلفاؤك؟ قال ﷺ الذين يأتون من بعدي يروون أحاديثي ويعلمونها الناس»(١)
دا روایت په دے باندے دلالت کوی.چه محدثینو ﷺ ته د نبی ﷺ خلافت ملاؤ شوے دے.نوتاسو داهم ونیلے شئ.چه ددے علم غرض او غایت د خلافت رسول حاصلول دی.
امام ترمذی اوبعضے نورو حضراتو ﷺ دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت نقل کړے دے.چه «قال رسول الله ﷺ نضر الله عبداً سمع مقالتي فحفظها ووعاها وأداها»(٢)
حضرات محدثیو ﷺ په دے کښے دوه احتمالات ذکر کړی دی.چه دا خو یا جمله دعائیه ده.او یا جمله خبریه ده.(٣) که دا جمله خبره اوګنړلے شی.نو بیا هم په دے کښے د محدثینو د منقبت اړخ ښکاره دے.چه نبی ﷺ د دوی دپاره د تازګئ او شادابئ دعا کړے ده.نو ددے دعا حاصلول هم د علم حدیث غرض اوغایت ګرځولے شی.اوکه دا جمله خبریه شی.نوپه دے کښے رسول الله ﷺ محدثینو ﷺ ته د تازګئ او شادابئ زیرے ورکړے دے.نودا بشارت هم تاسو د علم حدیث غرض اوغایت شمارلے شئ.
شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمه الله فرمائی.چه دعلم حدیث دغرض او غایت دپاره دا یوه خبره کافی ده.چه نبی ﷺ زمونږ محبوب دے.ځکه چه د هیڅ یو کس ایمان ترهغه وخته پورے نشی کامل کیدے.ترڅوچه د نبی ﷺ محبت په ټولو محبتونو باندے غالب نشی.او نبی ﷺ نے محبوب جوړ نشی.په حدیث کښے دی.«لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده والناس أجمعين»(٤)
هرکله چه نبی ﷺ زمونږ محبوب دے.اوقاعده دا ده.چه محب سره د محبوب د حالاتو پیژندلو اشتیاق وی.اودهغه دحالاتو په لوستلو، وئیلو،اوریدو او اورولو کښے خوند محسوسوی. نودحدیث ذخیره چه د نبی ﷺ په اقوالو،افعالو،تقریراتو اوصفاتو باندے مشتمله ده.د یو مومن دپاره ددے خپله لوستل، بل ته لوستلو، په خپله اوریدل،بل ته اورول، پکار ده چه خوښه مشغله وی.او دمحبت د تقاضا مطابق ددے علم غرض اوغایت هم دا دے.چه د نبی ﷺ حالات پخپله لوستلواو نورو ته لوستلو کښے مشغول وی.

---

(١) مجمع الزوائد كتاب العلم باب في فضل العلماء ومجالسهم (١/١٢٦)
(٢) مشكاة المصابيح.كتاب العلم (ص.٣٥)
(٣) مرقاة المفاتيح (١/٢٨٨)
(٤) الصحيح البخاري كتاب الإيمان باب حب الرسول ﷺ من الإيمان (١/٧)

پنځم بحث دعلومو اجناس په رووس ثمانیه کښې دا بحث هم شامل دے.چه دا علم دکوم جنس سره تعلق ساتی.دعلومو اول دوه قسمونه دی.① علوم نقلیه ② علوم عقلیه بیا په دے کښې د هریو دوه قسمونه دی.①علوم عالیه مقصوده② علوم آلیه غیرمقصوده.
حدیث ،تفسیر،فقه ،نحو،صرف، ادب،معانی،بیان. لغت دا ټول علوم نقلیه دی. اوحکمت ، فلسفه، منطق، رمل، جعفر، علوم عقلیه کښې شمارلے شی.بیا حدیث. تفسیر، اوفقه په علوم عالیه مقصوده کښې شامل دی.اوباقی علوم په علوم نقلیه آلیه غیرمقصوده کښې داخل دی.ددے شمار په وسائلو کښې کیږی.ده شان فلسفه او علم رمل او جعفر علوم عقلیه کښې علوم عالیه مقصوده کښې دخل دی.او باقی علوم عقلیه آلیه غیر مقصوده دی.اودا په وسائلو کښې شمارل شی. ددے تفصیل نه معلومه شوه.چه حدیث په علوم نقلیه کښې دے. او عالیه مقصوده کښې داخل دے.
بیا د علوم عالیه دوه قسمونه دی.① علوم عالیه اصلیه ② علوم اصلیه فرعیه. کتاب الله اواحادیث په علوم عالیه اصلیه کښې شامل دی.او فقه په علوم فرعیه کښې داخل ده.
په اجناس العلوم کښې د ټولو نه جامع کتاب د حضرت مولانا محمد اعلی تهانوی رحمه الله کشاف اصطلاحات الفنون،، دے.په دے کښې د اجناسو د اووه کتابونو ذکر هم دے.په دے فن کښې نواب صدیق حسن خان رحمه الله هم یوعظیم کتاب لیکلے دے.چه د ,,ابجدالعلوم،، په نوم سره مشهور دے.
شپږم بحث: دعلم حدیث مرتبه: دعلم حدیث دوه مرتبې دی.یوپه اعتبار د فضیلت او بله په اعتبار دتعلیم،د فضیلت په اعتبار سره دا علم په دویمه درجه دے.اولنۍ درجه دعلم تفسیر ده.ځکه چه دشریعت په څلورو اصولو کښې قرآن کریم په اوله درجه دے.او حدیث نبوی په دویمه درجه دے.دعلم تفسیر موضوع د قرآن کریم الفاظ دی.کوم چه دالله تعالی کلام دے.اودهغه صفت دے.او دالله تعالی صفت د ټولو موضوعاتو نه غوره دے.د بعضو په نیز علم حدیث افضل دے.ځکه چه د علم تفسیر موضوع چه د قرآن کوم الفاظ دی.هغه کلام لفظی دے.اوکلام لفظی د الله تعالی صفت نشی کیدے.بلکه دالله تعالی صفت کلام نفسی دے.او کلام لفظی د علم حدیث د موضوع نه چه رسول الله ﷺ دے.ددے نه غوره نه دے.
دتعلیم په اعتبار سره د حدیث درجه دټولو نه په آخر کښې ده.ځکه دوره حدیث د ټولو په آخر کښې وی.ددے نه وړاندے دعلوم آلیه تعلیم ورکولے شی.چه د مقاصدو په فهم کښې آسانتیا پیدا شی.اوپه طالب کښې ددے د پوهیدو استعداد پیدا شی.دغه شان چه د حدیث په روایت کښې د خطرناکو غلطیانو نه بچ شی.ځکه چه ددے خطرو دوچے ویره ده.چه د «کذب علی النبی ﷺ» په وعید کښې شامل نشی.لکه چه امام اصمعی رحمه الله چه فرمائی«أخوف ما أخاف علی طالب العلم إذا لم یعرف النحو أن یدخل فی جملة قوله ﷺ من کذب علی متعمداً» الحدیث [1]
باقی پاتو شو دا سوال چه تفسیر په حدیث باندے ولے مقدم کړے شو.نوددے جواب دا دے.

[1] مقدمة أوجزالمسالک (۱۲۶/۱) مطبوعه اداره تالیفات اشرفیه ملتان پاکستان.

چه چونکه قرآن کریم متن دے او احادیث ددے تشریح ده.او قاعده دا ده.چه د متن تعلیم وړاندے وی.او هغه د تفسیر په ذریعه ورکولے شی.او د شرح تعلیم روستو وی.نوځکه د تفسیر تعلیم په حدیث باندے مقدم شوے دے.

اووم بحث د کتابونو تقسیم او تدوین شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمه الله په ,,عجاله نافعه،، کنبے د حدیثو دکتابونو شپږ قسمونه ذکر کړی دی.① جوامع ② مسانید ③ معاجم ④ اجزاء ⑤ رسائل ⑥ اربعینات.(۱) هغوی سنن اربعه د جوامع سره یوځائے شمارلی دی.خو که جوامع اوسنن جدا جدا شمار کړے شی.نوبیا به اووه قسمونه جوړیږی.عام طور دا اووه قسمونه ذکر کولے شی.اوهم دا اووه قسمونه مشهور دی.اګرچه د حدیثو دکتابونو قسمونه داووه نه زیات دی.دلته به ددے اوووه سره د نورو ذکر هم کیږی.

جوامع دا دجامع جمع ده.اوجوامع دحدیث هغه کتابونه دی.چه په هغے کنبے اته قسمه مضامینو احادیث ذکرکولے شی.دا اته مضامین چا په یو شعر کنبے جمع کړی دی.

سیر ادابه تفسیروعقائد فتن، احکام اشراط ومناقب

د,,سیر،، نه مراد دجهاداو مغازی احادیث دی.په ,,ادب،، کنبے دمعاشرت سره دمتعلقه احادیثو ذکر کیږی.د ,,تفسیر،،نه مراد د قرآن کریم تفسیری روایات دی.اوپه,,عقائدو،، کنبےد ایمانیاتو ذکرکیږی.اوپه فتن کنبے هغه احادیث ذکر کیږی .په کومو کنبے چه نبی ﷺ امت ته د پیښیدونکوراتلونکو فتنوخودنه او پیشنګوئی کړے وے.د ,,احکامو،،نه مراد احکام فقهیه سره متعلقه احادیث دی.او په اشراط کنبے د قیامت دعلاماتو احادیث بیانیږی.او په مناقبو کنبے د صحابه کرامو رضی الله عنهم د مناقبو ذکر کولے شی.

صحیح بخاری او سنن ترمذی په اتفاق سره جامع دے.البته په صحیح مسلم کنبے اختلاف دے. د بعضے حضراتو په نیز هغه جامع نه دے.ځکه چه تفسیری روایات په کنبے ډیر کم دی.ځکه دا د «القلیل کالمعدوم» لاندے جامع نه دے شمارلے شوے.(۲) خو صحیح دا ده.چه صحیح مسلم هم په جامع کنبے داخل دے.ځکه چه په صحیح مسلم کنبے اګرچه په کتاب التفسیر کنبے د تفسیری روایاتو ذخیره ډیره کمه ده.خوکه د کتاب مختلف ځایونه اوکتلے شی.نو د تفسیری روایاتوګذاره حال ذخیره په کنبے موجود ده.نودے ته کم نشی وئیلے.

په کتاب التفسیر کنبے د تفسیری روایاتو د کمی وجه دا ده.چه د امام مسلم رحمه الله عادت دا دے.چه کله هغوی د څه مناسبت د وجے روایت ذکر کوی.نو دهغے ټول اطراف هم هلته کنبے پیش کوی.بیا دوباره هغه نه ذکر کوی.او دغه شان دوی حتی الامکان د تکرار نه احتراز کوی.نوچونکه تفسیری روایات په مختلفو ځایونو کنبے موجود وو.ځکه امام مسلم رحمه الله په کتاب التفسیر کنبے د هغے اعاده نه ده کړے . دغه شان امام مسلم رحمه الله د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار هم ذکر کوی .او د اهل لغت اقوال نه ذکر کوی.اود امام بخاری رحمه الله

(۱) مقدمة لامع الدراری (۱۴۲/۱)
(۲) اوګورئ .عجاله نافعه،، مطبوعه مع فوائد جامعه (ص.۱۵)

عادت دا دے.چه هغوی ذکر شوی روایات د سند یا متن دواړو په تبدیلئ سره بار بار ذکر کوی.او د صحابه کرامو ﷺ او تابعینو ﷺ آثار او د اهل لغت اقوال هم ذکر کوی. نوځکه د بخاری په کتاب التفسیر کښے روایات مکرر راوړلے شوی دی.او د صحابوٴ ﷺ او تابعینو ﷺ آثار هم ذکرشوی دی.اودغه شان د اهل لغت اقوال هم پیش کړے شوی دی.
نوځکه د هغوی کتاب التفسیر ښه غټ دے.دغه شان امام ترمذی ﷺ په کتاب التفسیر کښے روایات مکرر ذکر کړی دی.د دے وجے د هغوی کتاب التفسیر هم اوږد شوے دے.
په خلاف دامام مسلم ﷺ چه هغوی داسے نه دی کړے.ځکه چه د هغوی کتاب التفسیر مختصر دے.خوترکومے پورے چه د تفسیری روایاتو تعلق دے.هغه هم په صحیح مسلم کښے کم نه دی.([1]) هم ددے وجے صاحب د ,,کشف الظنون،، جامع گرځولے دے.([2]) اوصاحب دقاموس علامه مجدالدین فیروزآبادی ﷺ هم مسلم جامع گرځولے دے.هغوی په یو ځائے کښے لیکی.((ختمت بحمدالله جامع مسلم))([3])
سنن : سنن د حدیثو هغه کتابونو ته وائی.چه په هغے کښے د فقه په ترتیب سره احادیث ذکر کولے شی.([4]) لکه سنن ابی داود سنن نسائی وغیره.جامع ترمذی د جامع سره سره په سنن کښے هم داخل دے.ځکه چه په دے کښے مصنف ﷺ د فقهی ابوابو د ترتیب اهتمام کړے دے.
مسانید : مسانید دحدیثو هغه کتابونو ته وئیلی شی.چه په هغے کښے دصحابو ﷺ په ترتیب سره احادیث ذکر کولے شی.دصحابو ﷺ ترتیب یا خود حروف تهجی په ترتیب سره وی. یعنی د چا د نوم په اول کښے چه ،،همزه،، وی.چه الف ورته وئیلے شی.د هغوی حدیثونه اول ذکر کولے شی.اود چا د نوم په اول کښے چه ،،باء،، وی.دهغوی حدیثونه وریسے ذکر کولے شی. ((وعلی هذا القیاس))یا د صحابوٴ په ترتیب کښے د تقدم في الاسلام اعتبار شوے وی.یعنی څوك چه په اسلام راوړلوکښے مقدم وی.دهغوی روایات وړاندے جمع کولے شی.((علی هذا القیاس ثم فثم)) خوداسے مسانید مفقوددی.چه په هغے کښے د تقدم في الاسلام رعایت شوے وی. یا د صحابه کرامو ﷺ ترتیب د مرتبو او درجو په اعتبار سره شوے وی.چه اول د خلفاء راشدینو ﷺ روایات راوړلے شی.بیا د عشره مبشره روایات، ددے نه پس د بدریینو روایات، بیا دبیعت رضوان د شرکاوٴ روایات، ددے نه پس د فتح مکے نه د وړاندے هجرت کونکو،بیا د فتح مکے نه پس داسلام راوړونکو بیا د ورو صحابو ﷺ او ددوی نه پس د ښځو روایات ذکرشوی وی.
خوپه ښځو کښے به د ازواج مطهراتو احادیث مقدم کولے شی.ځکه چه د نبی ﷺ په لونړو کښے د درے لونړو حضرت زینب، حضرت رقیه، حضرت ام کلثوم ﷺ نه څه روایت منقول

---

(۱) اوګورئ فتح الملهم (۱/۱۰۵)
(۲) کشف الظنون (۱/ ۵۵۵) تحت حرف الجیم
(۳) دا فیروز آباد د ضلع آگره یوپی انډیا نه دے.بلکه په ایران کښے دے.
(۴) اوګورئ فتح الملهم (۱/۱۰۵) وفوائد جامعه برعجاله نافعه (ص،۱۵۶، ۱۵۷)

نه دے خکه چه دوے درے وارو وفات د نبی ﷺ په ژوند کښے شوے وو.اودحضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها نه څه روایات منقول دی.خوهغه هم ډیر لږ دی.خکه چه د هغوی وفات هم د نبی ﷺ د وفات نه شپږ میاشتے پس شوے وو.اودا زمانه هم په علالت اوبیماریٔ کښے تیره شوے وه.
که مسانید د قبیلو په ترتیب سره مرتب کولے شی.نواول به د بنی هاشم روایات راوړلے شی. خاص کر د حضرت علی رضی الله عنه اود حضرات حسنین،حضرت عباس، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایات به مقدم کولے شی.بیا چه کومه قبیله بنو هاشم ته نزدے وی.د هغے روایات به وړاندے راوړلے شی.په دے صورت کښے به د حضرت عثمان رضی الله عنه روایات د حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه په قبیلو باندے وړاندے کولے شی.خکه چه حضرت عثمان رضی الله عنه د بنو امیه قبیلے سره تعلق ساتلو.اودا قبیله د حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه د قبیلو په نسبت بنوهاشم ته زیاته نزدے ده.(۱) په مسانیدو کښے مسند احمد زیات مشهور دے.

کله دحدیثو په کتاب د مسند اطلاقددے وجے هم کیږی.چه په هغے کښے احادیث مرفوعه مسنده ذکر وی.صحیح بخاری ته المسند الصحیح ددے وجے وئیلے شی.چه په دے کښے احادیث مرفوعه مسنده مذکور دی.دغه شان سنن دارمی ته مسند الدارمی وئیلی شی.خکه چه په هغے کښے احادیث مرفوعه مسنده ذکر دی.(۲)خو دا اصطلاح مشهوره نه ده.چه مسند داسے کتاب ته وائی.چه په هغے کښے د صحابوٓ د ترتیب په اعتبار سره روایات ذکر شوے وی.

معاجم : حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله په ،،عجاله نافعه،، کښے فرمائی.چه د محدثینو په اصطلاح کښے معاجم هغه کتابونو ته وائی.چه په هغے کښے دمشائخو ترتیب سره احادیث ذکر شوی وی.دا ترتیب کله د تقدم في الوفات په اعتبار سره وی.یعنی چه د چا وفات وړاندے شوے وی.د هغوی روایات وړاندے ذکرکړے شی.اوچه د چا وفات روستو شوے وی.د هغوی روایات روستو راوړلے شی.اوکله په ترتیب کښے د مشائخو د علم او فضل اعتبار کولے شی.اوکله د مشائخوپه نومونو کښے د حروف تهجی اعتبار کولے شی.یعنی د چا د نوم په شروع کښے چه ،،همزه،، وی.د هغوی روایات اول ذکر کړے شی.اود چا د نوم په اول کښے چه ،،باء،، وی.د هغوی روایات وروسے ذکر کړے شی.هم دا آخری طریقه عام طور رائج ده.(۳)

خوحضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی.چه ،،معجم،، هغه دے.چه په هغے کښے د حروف تهجی په ترتیب سره احادیث جمع شوے وی.بیا ددے درے قسمونه دی.① چه په هغے کښے د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم احادیث د حروف تهجی په ترتیب سره د جمع کولو لحاظ ساتلے شوے وی.② چه د شیوخو رحمهم الله احادیث په کښے دحروف تهجی په ترتیب سره ذکر کړے

(۱) مقدمه لامع الدراری (۱/۱۴۶) وعجاله نافعه (ص،۱۶،۱۵)
(۲) الرسالة المستطرفة (ص،۶۳) مطبوعه قدیمی کتب خانه کراچی)
(۳)عجاله نافعه (ص،۱۶)

شی.او په هغې کښې د اکابرو روایات په اصاغر باندې مقدم کړې شی.④ چه داحادیثوپه حروفو کښې د حروف تهجی لحاظ اوکړې شی.یعنی دکومو احادیثو په شروع کښې چه ,,همزه،، (الف) وی.هغه وړاندې راوړلې شی.اود کومو احادیثو په اول کښې چه ,,باء،، وی.هغه وروستو راوړلې شی.او په دې باندې قیاس لکه د علامه سیوطیؒ ,,جامع صغیر،، شو.(١)

د امام طبرانیؒ معجم صغیر او معجم اوسط د مشائخو د نومونو دحروف تهجی په ترتیب سره لیکلې شوې دې.او دمعجم کبیر په باره کښې اختلاف دې.شاه عبدالعزیز محدث دهلویؒ په بستان المحدثین (٢) کښې حاجی خلیفه په ,,کشف الظنون،، (٣)کښې دا د صحابوؓ په ترتیب سره خودلې دې.خوپه ,عجاله نافعه،، کښې شاه عبدالعزیزؒ دا د مشائخو په ترتیب سره گرخولې دې.(٤)

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ فرمائی.چه په کال ١٣٤٥ھ کښې ما په مدینه منوره کښې د معجم کبیر قلمی نسخه لیدلې وه.د هغې ترتیب دمشائخو په ترتیب سره وو.(٥) نو د ,,عجاله نافعه،، قول به صحیح گرخولې شی.

مستدرکات: مستدرکات دحدیث هغه کتابونو ته وائی.چه په هغې کښې د یو مؤلف د شرط مطابق روایات ذکر کړې شی.کوم چه مؤلف قصداً پریخودې وی.یا ترې سهو شوې وی.لکه «مستدرک حاکم علی الشیخین»دا کتاب د ابوعبدالله محمد بن عبدالله نیشاپوری متوفی ٤٠٥ھ دې.چه دحاکم په لقب سره مشهور دې.ددې وجې دې ته «مستدرک حاکم» وائی.دا کتاب په حیدر آباد دکن کښې چهاپ شوې دې.ددې په اول کښې مؤلفؒ لیکی:«وأنا أستعين الله على إخراج أحاديث رواتها ثقات قد احتج بمثلها الشيخان رضي الله عنهما أو أحدهما»(٦) ددې عبارت نه دامعلومه شوه.چه حاکمؒ د شیخینو رحمهما الله په روایاتو باندې اکتفاء نه ده کړې.بلکه د بخاری اومسلم د راویانو پشان دنورو راویانو نه ئې هم روایات نقل کړی دی.

اوس پاتې شو دا سوال چه د بخاری او مسلم د راویانو پشان د نورو راویانو نه روایت نقل کولو سره د یو روایت علی شرط الشیخین لزوم راځی اوکه نه؟ ددې جواب دا دې.که په روایت کښې صرف د شیخینورحمهما الله راویان وی.نو بیا ددې د شیخینورحمهما الله په شرط باندې کیدل ضروری نه دی.نوکه په یو روایت کښې د شیخنورحمهما الله د رواة پشان راویان

(١) حاشیه تقریر بخاری شریف اردو (١٤٦/١)
(٢) ص،١٣٧)
(٣) (١٧٣٧/٢)
(٤) مقدمه لامع الدراری (١٤٨/١)
(٥) مقدمة لامع الدراری (١٤٩/١)
(٦) المستدرک مع التلخیص (٣/١) مطبوعه دارالفکر بیروت ١٣٩٨هجری)

موجود شي نودا خو په طريق اولى سره د شيخينورحمهما الله په شرط باندې كيدل نه لازميږي. بيا يو راوي د شيخينورحمهما الله د رواة پشان ګرځول هم يوه اجتهادي مسئله ده. ديوكس په نيز يو راوي د شيخينورحمهما الله د رواة پشان وي.او بل دا ګنړي.چه دې د شيخينورحمهما الله د روايانو پشان نه دې.بهرحال حاكم رحمه الله خو كله روايت ته «على شرط الشيخين» وائي.اوكله «على شرط البخاري» وائي.او كله «على شرط مسلم» وائي.اوكله چه په شيخينو رحمهما الله كښې د يو په شرط هم برابر نه وي.خو د حاكم په نيز صحيح وي.نو«صحيح الأسناد» ورته وائي.(۱) د حاكم رحمه الله تساهل مشهور دې. څكه چه هغوى په ضعيفو رواياتو باندې هم د صحيح حكم لګوي.

امام حاكم رحمه الله او دهغوى مستدرك : په ..كشف الظنون.. كښې په مستدرك حاكم باندې تفصيلي كلام موجود دې.هم په دې كتاب كښې صاحب د .كشف الظنون.. فرمائي.«قال البلقيني :وفيه ضعيف وموضوع أيضاً وقد بين ذلك الحافظ الذهبي رحمه الله وجمع منه جزأ من الموضوعات يقارب مائة حديث»(۲)

حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په تدريب الراوي كښې نقل كړي دي.چه ابوسعد احمد بن محمد ماليني متوفى ۴۱۲ه فرمائي.چه ما د مستدرك حاكم داول نه واخله تر آخره پورې مطالعه اوكړله.خو ماته په دې كښې يو روايت هم على شرط الشيخين ملاؤ نشو.خو په دې قول باندې تبصره كوي.چه علامه ذهبي رحمه الله فرمائي.«هذا إسراف وغلو من الماليني» انصاف دا دې.چه دمستدرك حاكم كافي حصه على شرط الشيخين ده.اوډير روايات «على شرط احدهما» دي.تقريباً د دې دواړو مجموعه نيم كتاب ته نزدې ده.د كتاب څلورمه حصه داسې ده.چه په هغې كښې د احاديثو سند اګرچه صحيح دې.خوپه هغې كښې څه ضعف يا څه علت موجود دې.او دكتاب باقي څلورمه حصه په منكراو غير معتبر رواياتو باندې مشتمله ده.چه په هغې كښې څه حصه په موضوعاتو باندې هم مشتمله ده.(۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه د حاكم رحمه الله نه په مستدرك كښې تساهل څكه شوې دې.چه دمسودې ليكلو نه پس ورته د نظر ثاني موقع نه وه ملاؤ شوې.اوانتقال ئې اوشو.ددې بنكاره دليل دا دې.چه دمستدرك په جزء ثاني كښې ترنصف حصې پورې كافي حصه د تساهل نه پاكه ده.اوهلته دا عبارت هم ليكلې شوې دې.«إلى ههنا انتهى إملاء الحاكم»(۴)

---

(۱) تدريب الراوي (۱۰۵/۱)

(۲) كشف الظنون (۱۶۷۲/۲)

(۳) تدريب الراوي (۱۰۶/۱)

(۴) حاشيه تدريب الراوي (۱۰۶/۱)

علامه سخاوی رحمه الله فرمائی چه دحاکم دتساهل بهترینه توجیه دا ده.چه هغوی داکتاب په آخری عمر کښے لیکلے وو.اوپه دغه وخت کښے د هغوی په حافظه کښے تبدیلی راغلے وه.او ورسره ورته دنظر ثانی موقع هم ملاؤ نشوه.(۱)
د حاکم رحمه الله پشان امام ترمذی رحمه الله هم د تصحیح په باب کښے متساهل دے.خو په دواړو کښے فرق دے.وئیلے شوی دی.«إن تصحیحه دون تصحیح الترمذی والدارقطنی بل تصحیحه کتحسین الترمذی وأحیاناً یکون دونه وأما ابن خزیمة وابن حبان فتصحیحهما أرجح من تصحیح الحاکم»(۲) یعنی که حاکم یو روایت ته صحیح اووائی.نود هغے درجه به د امام ترمذی او دامام دارقطنی رحمه الله د تصحیح کرده روایت نه کمه وی.بلکه حاکم رحمه الله چه کوم روایت ته صحیح اووائی.هغه د امام ترمذی رحمه الله د حسن روایت په درجه کښے وی.اوکله کله د حسن نه هم د هغے درجه کمه وی.خو چه ابن خزیمه اوابن حبان رحمهما الله کوم روایت ته صحیح اووائی.نود هغے درجه د حاکم د صحیح کرده روایت نه زیاته وی.البته که حاکم رحمه الله اوترمذی رحمه الله یو روایت ته صحیح وئیلے وی.او د فن په نورو امامانو کښے چه د دے تائید او توثیق کړے وی نوبیا د عدم اعتماد څه وجه نه ده.
علامه شمس الدین ذهبی رحمه الله متوفی ۴۲۸ھ د مستدرک حاکم تلخیص کړے دے.چه په هغے کښے ئے د تحقیق اوتنقید نه پس فیصله کړے ده.چه په دے مقام کښے د حاکم صحیح ټیک دے.اوپه فلانی مقام کښے هغوی دتساهل نه کار اخستے دے.(۳) کشف الظنون دحاکم ددے تساهل دوجے بعضے حافظانو رحمهم الله په مستقل جزء کښے تقریباً سل احادیث گرخولے دی.(۴) ددے وجے عالمانو رحمهم الله لیکلی دی.چه ترڅو پورے د امام ذهبی رحمه الله یا دبل محقق او محدث تائید د یو روایت په حق کښے موجود نه وی.نو د حاکم د تصحیح به څه اعتبار نه وی.
د مستدرک په باره کښے دومره تفصیل ځکه بیان شو.چه بعضے ناپوهه خلق د مستدرک حاکم په روایاتو باندے استدلال کوی.حالانکه دغه روایات معتبر نه دی.بلکه په موضوعاتو کښے شامل وی.
تنبیه: مشکاۃ شریف کوم چه د امام بغوی رحمه الله په مصابیح باندے تخریج دے.د هغے په دریم فصل کښے ،،مستدرک،، دے.(۵)
مستخرجات: مستخرجات دحدیث هغه کتابونه دی.چه په هغے کښے مصنف رحمه الله د یو تیر شوی مصنف رحمه الله روایات په خپل سند سره نقل کړی.خوپه دے شرط چه د سابقه مصنف رحمه الله

---

(۱) حاشیه تدریب الراوی (۱/۱۰۶)
(۲) نصب الرایة (۱/۳۵۲)
(۳) کشف الظنون(۲/۱۶۷۲)
(۴) الرسالة المستطرفة (ص۲۰)
(۵) تقریر بخاری (اردو) مصنفه شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله (۱/۴۷)

واسطه په مینځ کښې راشي.تردے چه د سابقه مصنف شیخ یا د هغه د شیخ استاذ یا دهغه نه پورته یو استاذ سره خپل سند ملاؤ کړي.
په مستخرج کښې د کتاب سابق ترتیب اودهغې د سند او متن لحاظ ساتلے شي.او ددے خبرے هم خیال ساتلے شي.چه سند د اقرب سره ملاؤ شي.یعنی چه په کوم نزدے ځائے کښے د دوارو سندونو ملاویږي.هلته کښے ئے ملاؤ کړي.ځکه چه اقرب پریږدي.او ابعد سره ئے ملاوه وي.نودا استخراج نه دے.«الا لعذر أو زیادة مهمة»(۱) دمستخرج فائده دا ده.چه په دے سره د اصل کتاب د احادیثو تائید او توثیق کیږي.
دا خبره دے واضحه وي.چه په استخراج کښے د متن د ټولو الفاظو سره موافقت ضروری نه دے.ځکه چه روایت بالمعنی وي.اوپه دے کښے په الفاظو کښےفرق راځي.(۲) لکه «لا تقبل صلاة بغیر طهور» په ځائے «لا تقبل صلاة إلا بطهور» چه راغلے دے.
مستخرجات زیات دي.او په مختلفو کتابونو باندے لیکلی شوي دي.لکه «مستخرج علی سنن أبي داود» د محمد بن عبدالملك رحمه الله او «مستخرج علی جامع الترمذی» د ابوعلي طوسي رحمه الله دغه شان «مستخرج علی صحیح مسلم» د ابوعوانه یعقوب بن اسحاق اسفرائیني رحمه الله (۳)
مستخرج ابوعوانه ته «صحیح ابوعوانه» هم وائي.ځکه چه حافظ ابوعوانه رحمه الله د امام مسلم د طرقو نه علاوه د نورو طرقو او اسانیدو هم ذکر کړے دے.او په متن کښے ئے د څه احادیثو زیادت هم کړے دے.نوځکه ورته د مستقل کتاب حیثیت ملاؤ شوے دے.اوصحیح ابوعوانه ورته وئیلے شي.(۴) لکه چه د یو کتاب دوه نومونه کیخودے شوي دي.کله ورته مستخرج ابوعوانه او کله ورته صحیح ابوعوانه وائي.
اربعینات: دا د اربعین جمع ده.دحدیث هغه کتابونو ته اربعین وائي.چه په هغې کښے څلوېښت احادیث لیکلی شوے وي.د اربعینات متعلق عالمانو رحمهم الله یوحدیث بیان کړے دے.چه د نبي پاك ﷺ ارشاد دے.«من حفظ علی أمتي أربعین حدیثاً في أمر دینها بعثه الله فقیهاً وكنت له یوم القیامة شافعاً شهیداً»(۵)
دا روایت ضعیف دے.احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي.«هذا متن مشهور فیما بین الناس ولیس له إسناد

(۱) اوګوری تدریب الراوی (۱/۱۱۲)
(۲) مقدمة لامع الدراری (۱/ ۱۶۸،۱۶۹)
(۳) تدریب الراوی (۱/۱۱۶،۱۱۱)
(۴) مقدمة لامع الدراری (۱/۱۶۸)
(۵) رواه البیهقی فی شعب الإیمان (۲/۲۷۱،۲۷۰) باب ی طلب العلم ،فصل فی فضل العلم وشرف مقداره رقم (۱۷۲۶) و(۱۷۲۷)

صحیح))(۱) حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه دا حدیث د دیارلس صحابه کراموؓ نه منقول دے.خو دډے یو سند هم د علت قادحه نه محفوظ نه دے.(۲) د امام نوویؒ قول دے.((واتفق الحفاظ على أنه حديث ضعيف وإن كثرت طرقه))(۳)

صاحب د کشف الظنون لیکی.((أما الحديث فقد ورد من طرق كثيرة بروايات متنوعة ... واتفقوا على أنه حديث ضعيف وإن كثرت طرقه))(۴)

خوحافظ جلال الدین سیوطیؒ په ..الجامع الصغیر..(۵) کښې د ابن النجار په طریق سره د ابوسعید خدری ؓ روایت نقل کړے دے.او په هغې باندے ئې د صحیح نښه لګولے ده.ددے نه معلومیږی.چه دا حدیث اګرچه د خپلو جدا جدا سندو په اعتبار سره ضعیف دے.لیکن دکثرت طرقو دوجے دے د اعتبار درجه حاصله کړے ده.اوهسے هم د فضائلو په باب کښې دضعیف روایت اعتبار کولے شی.هم دا وجه ده.چه متقدمینو او متاخرینو ؒ په کثرت سره اربعینات لیکلی دی.د اربعیناتو په لیکلو کښې د اولیت شرف حاصلونکے د امام نوویؒ د قول مطابق عبدالله بن مبارکؒ دے.(۶)

بیا د اربعینات لیکونو مختلف انداز اختیار کړے دے.مثلاً حافظ ابن حجرؒ یو داسے اربعین لیکلے دے.چه په هغې کښې د سند په لحاظ سره امام مسلمؒ په امام بخاریؒ باندے اوچت دے.(۷) دغه شان که په یو حدیث کښې د امام بخاریؒ او نبی ﷺ په مینځ کښې پنځه واسطے دی.نو هم دغه حدیث د امام مسلمؒ د نبی ﷺ نه په څلورو واسطو نقل کړے دے

یو ..اربعين بلدانية .. لیکلے شوے دے.چه په هغې کښې څلویښت احادیث د څلویښتو مشائخو ؒ نه په څلویښتو ښارونو کښې اخستے شوی دی.او حافظ ابوالقاسم ابن عساکر الدمشقیؒ یو قدم نور هم وړاندے اخستے دے.داسے اربعین ئې لیکلے دے.چه په هغې کښې ((أربعين حديثاً من أربعين شيخاً، في أربعين بلداً، من أربعين صحابياً)) ذکر دی.(۸)

اجزاء او رسائل: دحضرت شاه عبدالعزیزؒ د تحریر مطابق په اجزاء او رسائلو کښې فرق

---

(۱) مشكاة المصابيح (ص،۳۷) وشعب الإيمان (۲۷۱/۲)
(۲) تلخيص الخبير كتاب الوصايا رقم (۱۳۷۵) (۹۳/۳) مطبوعه دارنشر الكتب الإسلامية لاهور باكستان.
(۳) الأربعين النووية بشرح الإمام أبن دقيق العيد رحمهما الله تعالى (ص،د)
(۴) كشف الظنون (۵۲/۱)
(۵) الجامع الصغير مع شرح فيض القدير (۱۱۹/۶) رقم ۸۶۳۷)
(۶) مقدمة لامع الدراري (۱۵٤/۱)
(۷) مقدمة لامع الدراري (۱۵۷/۱)
(۸) كشف الظنون (۵٤/۱)

دے اجزاء هغه کتابونوته وائی.چه په هغے کښے د یو شیخ روایات جمع کړے شی.او رسائل هغه دی.چه په هغے کښے د یوے مسئلے روایات راجمع کړے شی(۱) خو تحقیق دا دے.چه دواړه یو څیز دے متقدمینو رحمهم الله چه د کوم څیز نه په اجزاؤ سره تعبیر کولو.متاخرین رحمهم الله د هغے نه په رسائلو سره تعبیر کوی.دامام بخاری رحمه الله ،،جزء رفع الیدین،، او ،،جزء القراءة خلف الإمام،، ددے باوجود چه د یوے مسئلے سره تعلق دی.خو دے ته رساله نه ده وئیلے شوے.دا د متقدمینو رحمهم الله اصطلاح ده.(۲)

کتاب العقائد دا هم د حدیثو د کتابونو یو قسم دے.په دے کښے د عقائدو سره متعلقه روایات ذکر کولے شی.لکه د بیهقی رحمه الله ،،کتاب الأسماء والصفات،، او د ابن خزیمه رحمه الله ،،کتاب التوحید،، او دامام بخاری رحمه الله ،،خلق أفعال العباد،،(۳)

کتاب الاحکام : په دے کښے د فقهی مسائلو سره متعلقه روایات ذکر کولے شی.لکه صحاح سته او د حافظ عبدالحق رحمه الله ،،الأحکام الصغری ،، او ،،الأحکام الکبری،، او د عبدالغنی مقدسی ،،عمدة الأحکام،،(۴)

کتاب التاریخ : دا هغه قسم دے.چه د تاریخی موادو متعلق روایات په کښے درج کولے شی. بیا ددے دوه قسمونه دی.یو هغه چه په هغے کښے د ابتداء د پیدائش نه واخله ترد نبی ﷺ نه پس پورے واقعات ذکر کولے شی.لکه د امام بخاری رحمه الله کتاب ،، بدء المخلوقات،، او دویم قسم هغه دے.چه په هغے کښے د نبی ﷺ سره متعلقه تاریخی مواد پیش کولے شی.لکه سیرت ابن هشام رحمه الله او مغازی محمد بن اسحاق رحمه الله (۵)

کتاب الزهد :د داسے مضامینو روایات چه په هغے سره په زړه کښے نرم والے پیدا کیږی.اود آخرت د فکر جذبه بیداریږی.که جمع کړے شی.نوداسے کتاب ته ،،کتاب الزهد،، وائی.په دے باب کښے عبدالله بن مبارك،احمد بن حنبل،امام بخاری، ابوداود، امام ترمذی، او بیهقی رحمهم الله وغیره کتابونه لیکلی دی.(۶)

کتاب الآداب: د خوراك څکاك اودهٔ کیدو پاسیدو، مزل کولو او خبرو کولو سره متعلق روایات که ذکر کړے شی.نوپه هغے باندے دکتاب الآداب اطلاق کیږی.دامام بخاری رحمه الله ،،الأدب المفرد،، په دے لړ کښے مشهور کتاب دے.(۷)

---

(۱) فوائد جامعه بر عجاله نافعه (ص.۱۶)

(۲) مقدمة لامع الدراری (۱/۱۵۲)

(۳) مقدمة لامع الدراری (۱/۱٤۳) کشف الظنون (۱/۷۲۲)

(۴) سیر أعلام النبلاء (۲۱/۱۹۹) کشف الظنون (۲/۱۱۶٤)

(۵) اوګورئ عجاله نافعه (ص.۱٤) وفوائد جامعه(ص. ۱٤۷)

(۶) کشف الظنون (۲/۱٤۲۲) تهذیب التهذیب (۹/۳۸۹) الأعلام للزرکشی (۳/۱۲۲)

(۷) عجاله نافعه (ص.۱۴)

کتاب الفتن : دفتنو متعلق احادیث چه په کومو کتابونو کښے ذکر کولے شی.هغے ته ، ،کتاب الفتن ، ، ونیلے شی.لکه د نعیم بن حماد رحمه الله «کتاب الفتن والملاحم»(۱)

کتاب المناقب دیو فرد یا قوم یا ډلے وغیره سره متعلقه د فضائلو روایات په کتاب المناقب کښے جمع کولے شی.لکه چه امام نسائی رحمه الله چه د «خصائص علی» په نوم باندے کتاب لیکلے دے.(۲) اومحب الدین طبری رحمه الله متوفی۶۹۴ھ چه د «الریاض النضرة فی فضائل العشرة» لیکلے دے.(۳)

مشیخه مشیخه هغه کتابونو ته وائی.چه په هغے کښے د یو یا څو شیوخو روایات جمع کړے شی.(۴) برابره خبره چه د کومے مسئلے سره متعلق وی.لکه «مشیخة ابن البخاری» او «مشیخة ابن القاری» وغیره (۵)

کتاب الافراد والغرائب : په کوم کتاب کښے چه دیو شیخ تفردات جمع کړے شی.هغے ته «کتاب الأفراد والغرایب» وائی. (۶) لکه د دارقطنی رحمه الله «کتاب الأفراد»(۷)

کتاب العلل : که په یو کتاب کښے دحدیث علل خفیه چه په صحت کښے مخل وی.اولیکلے شی. نودغه کتاب ته «کتاب العلل» وائی.په علت خفیه باندے پوهیدل ډیر گران کار دے.دا د هرچا د وس خبره نه ده.ددے دپاره په اسانیدو او متونو باندے ژور نظر کول ضروری دے.اود حافظے زیات قوت ورله ضروری دے.(۸) دحدیث د راویانو د ولادت او د وفات دتاریخونوعلم، او دهغوی په خپل مینځ کښے ملاقات، اوعدم ملاقات نه واقفیت هم ډیرزیات ضروری دے.نوهله سړے علت خفیه معلومولے شی. هم داوجه ده.چه د ،علل، په باب کښے ډیرو کمو کسانو قلم اوچت کړے دے.(۹)

امام احمد بن حنبل،علی بن مدینی ،امام بخاری، ترمذی،مسلم دارقطنی او ابن ابی حاتم رحمهم الله کتاب العلل لیکلی دی.(۱۰) دامام احمد بن حنبل رحمه الله کتاب د هغه د مشری خوی

---

(۱) کشف الظنون (۱۴۴۵/۲)
(۲) کشف الظنون (۷۰۶/۱)
(۳) کشف الظنون (۹۳۷/۱)
(۴) مقدمة لامع الدراری (۱۵۱/۱)
(۵) کشف الظنون (۱۶۹۶/۲)
(۶) مقدمة لامع الدراری (۱۵۸/۱)
(۷) کشف الظنون (۱۳۹۶/۲)
(۸) نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر (ص.۷۵)
(۹) نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر (ص.۷۵)
(۱۰) مقدمة لامع الدراری (۱۷۱/۱) دغه شان اوګورئ تدریب الراوی (۲۵۸/۱) کشف الظنون (۱۱۵۹/۲ - ۱۴۴۰) مقدمة فتح الباری (ص.۴۹۲) مطبوعه دارالنشر الکتب الإسلامیة لاهور پاکستان

عبد الله بن احمد رحمه الله په روايت سره په ،،انقره،، كښې چهاپ شوے دے.او د ابن ابى حاتم د كتاب العلل اول جزء په مصر كښې چهاپ شوے دے.او د دارقطنى رحمه الله كتاب العلل ډير جامع دے.[١] په هندوستان كښې د پټنه په كتب خانه كښې موجود دے.او دامام ترمذى رحمه الله كتاب العلل الصغير د جامع ترمذى په آخر كښې چهاپ شوے دے.[٢]

اطراف دا د حديث هغه كتابونه دى.چه په دے كښې دحديث يوه حصه ذكر كولے شى.او دا خودلى شى.چه دا حديث په كوم كوم كتاب كښې په كوم كوم مقام كښې موجود دے.[٣] لكه «إنما الأعمال بالنيات» د يو حديث اولنۍ جمله ده.دا ذكر كولے شى.او بيا خودلے شى.چه دا حديث په كوم كوم كتاب كښې موجود دے.او د كتاب په كوم كوم مقام باندے دا ذكر شوے دے.په دے باره كښې مختلفو حضراتو په مختلف نوعيت كتابونه ليكلى دى.مثلاً ابن عساكر رحمه الله د سنن اربعه اطراف ليكلى دى.او حافظ ابومسعود ابراهيم بن محمد الدمشقى رحمه الله په صحيحنو اطراف ليكلى دى.او حافظ جمال الدين مزنى رحمه الله متوفى ٧٤٢ هـ «تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف» په نوم باندے د صحاح سته اطراف ليكلى دى.[٤]

ترغيب او ترهيب: كتاب الترغيب والترهيب هغه كتاب ته وائى.چه په هغے كښې آخرت طرف ته رغبت وى.او د اور نه د ويرے په رواياتو مشتمل وى.په دے باب كښې زيات مشهور كتاب د حافظ منذرى رحمه الله «الترغيب والترهيب» دے.[٥]

مسلسلات: د حديث هغه كتابونه دى.چه دهغے په اسنادو يا متونو كښې د اول نه واخله تر آخره پورے يوخاص قسم تسلسل جارى وى.ابوبكربن شاذان، ابونعيم او مستغفرى رحمه الله مسلسلات ليكلى دى.[٦] حافظ جلال الدين سيوطى رحمه الله دوه مسلسلات ليكلى دى.[٧] زمونږ په كورنو كښې شاه ولى الله رحمه الله مسلسلات «الفضل المبين فى المسلسل من حديث النبى الأمين»[٨] معروف او متداول دى.

ثلاثيات: دا هغه كتابونو دى.چه په هغے كښې داسے روايات ذكر كړے شى.چه په هغے كښې د مصنف رحمه الله نه واخله تر رسول الله ﷺ پورے صرف درے واسطے وى.امام بخارى رحمه الله په خپل

---

(١) مقدمة لامع الدرارى (١/١٧٢،١٧١)
(٢) پورتنۍ حواله (١/١٧٢)
(٣) نزهة النظرفى توضح نخبة الفكر(ص،١٤٦)مطبوعه فاروقى كتب خانه بيرون بوهړ گيټ ملتان
(٤) كشف الظنون (١/١٠٣، ١١٦) دغه شان اوګورئ مقدمة لامع الدرارى (١/١٧٣) او الرسالة المستطرفة (ص،١٣٧، ١٣٨)
(٥) مقدمة لامع الدرارى (١/١٨٣) كشف الظنون (١/٤٠٠)
(٦) الرسالة المستطرفة (ص،٦٩)
(٧) مقدمة لامع الدرارى (١/١٨٦) وكشف الظنون (١٦٧٧)
(٨) مقدمة لامع الدرارى (١/١٨٦)

صحیح کښې دوویشت ثلاثیات ذکر کړی دی.په دے کښې یوولس روایات د مکی بن ابراهیم رحمه الله نه منقول دی.کوم چه د امام ابوحنیفه رحمه الله خاص شاګرد وو.اوشپږ روایات د ابو عاصم النبیل ضحاك بن مخلد رحمه الله نه مروی دی.دے هم د امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرد دے. درے روایات د محمد بن عبدالله انصاری رحمه الله دی.دے د امام ابویوسف رحمه الله او امام زفر رحمه الله شاګرد دے.نو په دے حساب په دویشتو کښې شل ثلاثی روایات هغه دی.چه د حنفی مشائخو نه ئے اخستې شوے دی.او په باقی دوه روایاتوکښې یو د خلاد بن یحی کوفی رحمه الله دے.اویو د عصام بن خالد حمصی رحمه الله دے.د هغوی متعلق دا معلومه نه ده.چه دوی حنفی دی اوکه نه؟ دا دویشت روایات د سند په لحاظ سره دویشت دی.[1] خود متن په اعتبار سره اوولس دی.

دامام بخاری په ثلاثیاتو باندے ډیر فخر کولے شی.اوپه حقیقت کښې د فخر خبره هم ده.ځکه چه د ثلاثیاتو سند عالی وی.او سند عالی د فخر باعث دے.د یحی بن معین رحمه الله نه د وفات په وخت کښې چا تپوس کړے وو.«ماتشتهی؟» نوهغوی فرمائیلی وو.«بیت خال واسناد عال»[2] دامام احمد بن حنبل رحمه الله ارشاد دے.د متقدمینو رحمهم الله طریقه د عالی سند طلب اولتون وو.[3] خو امام ابوحنیفه رحمه الله چه د هغوی زیات روایات ثلاثی دی.او زیات ثنائی دی.لکه چه د مسانید امام اعظم او کتاب الآثار نه ښکاره ده.او امام ابوحنیفه رحمه الله د لیدلو په اعتبار سره تابعی هم دے.ځکه چه هغوی د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه زیارت کړے وو بلکه روایة ورته هم تابعی وئیلے شوے دے.اګرچه په دے کښې اختلاف دے.[4] خو ددے باوجود د امام بخاری رحمه الله په مقابله کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله ثنائی او ثلاثی روایاتو ته صحیح اهمیت نشی ورکولے.دا خبره قابله د شکایت ده.

د بخاری رحمه الله نه علاوه په ابن ماجه کښې پنځه ثلاثی روایات دی.[5] او په جامع ترمذی کښې یو ثلاثی روایت دے.[6] په مسلم ابوداود او نسائی کښې ثلاثی روایت نشته.ملا علی قاری رحمه الله ته د ،،مرقات،، په مقدمه کښې وهم شوے دے.او هغوی د ترمذی روایت ته ثنائی وئیلے دے.[7] حالانکه هغه ثلاثی دے.د کتاب الفتن په روایت کښې دی.«یأتی علی الناس زمان الصابر

---

(۱) مقدمة لامع الدراری (۶۳/۱، ۶۴، ۱۰۲، ۱۸۷) دغه شان اوګورئ تذکرة الحفاظ (۳۶۵.۲۶۶/۱) سیر أعلام النبلاء (۴۸۱/۹) الجواهرالمضیئة (۲۶۳/۱) هدی الساری (ص.۴۷۹) تهذیب الکمال (۵۳۹/۲۵) تاریخ بغداد (۴۰۸.۴۱۲/۵)

(۲) مقدمة ابن الصلاح(ص.۱۳۰)

(۳) مقدمة ابن الصلاح (۱۳۰)

(۴) مقدمة لامع الدراری (۱۰۳/۱) د رویة تابعیت د ثبوت دپاره او ګورئ سیرأعلام النبلاء (۳۹۱/۶) تهذیب التهذیب (۴۴۹/۱۰) تهذیب الکمال (۴۱۸/۲۹) تذکرة الحفاظ (۱۶۸/۱) تاریخ بغداد (۳۲۳/۱۳)

(۵) سنن ابن ماجه (ص.۳۱۷.۲۴۸.۲۴۰.۲۳۷.۲۲۴)

(۶) السنن الترمذی (۵۲/۲) رقم الحدیث ۲۲۶)

(۷) مرقاة شرح مشکاة (۲۳/۱)

فيهم على دينه كالقابض على الجمر»([1]) خوچه كله ملاعلي قاري رحمه الله د مشكاة شرح ليكله.او دے حديث ته راوړسيدلو .نوهغوى د ترمذى دا روايت ثلاثي ليكلے دے.([2]) او هم دا صحيح ده.
دملا على قاري رحمه الله نه د مرقات په مقدمه كښے په دے مقام كښے يوه بله سهوه شوے ده.هغوى د مسلم او ابوداود په باره كښے اشاره كړے ده.چه په دے دواړو كښے هم ثلاثي روايات موجود دي.([3]) حالانكه په مسلم او ابوداود كښے هيڅ يو ثلاثي روايت نشته.البته په ابوداود كښے يو روايت «رباعي في حكم الثلاثي» موجود دے. يعني د مصنف رحمه الله نه واخله ترنبي ﷺ پورے څلور واسطے دي.خو په دے كښے دوه راويان د يوے طبقے دي.يعني تابعيان دي.نو د طبقے د اتحاد د وجے ورته حكماً ثلاثي ونيلے شي.او په اصطلاح كښے ددے نوم «رباعي في حكم الثلاثي» دے.
دامام مسلم رحمه الله په صحيح كښے هيڅ يو روايت ثلاثي نه دے.البته د امام مسلم رحمه الله په بعضے نورو كتابونو كښے ثلاثي روايت موجود دے.د بخاري او مسلم د ټولو نه ادنى سند هغه دے.چه په هغے كښے د مصنف رحمه الله او نبي ﷺ په مينځ كښے نهه واسطے وي.داسے سند ته تساعي وائي.د ترمذى او نسائي ادنى سند عشاري دے.([4]) دابوداود نازل سند ثماني دے.
په مسند احمد بن حنبل رحمه الله كښے د «عقود اللآلي» دصاحب په قول اووه ديرش سندونه ثلاثي دي.([5])
تردغئ پورے د حديث د كتابونو د قسمونو ذكر وو.قسمونه خو نور هم دي.خو د اكثرو ذكر دلته كښے اوشو.
تدوين حديث: دويم بحث دلته د تدوين كيږي.يو مؤلف د فن وي.او بل مؤلف د كتاب. د مؤلف الكتاب ذكر خو به په مقدمة الكتاب كښے راشي.او د مؤلف الفن ذكر دلته كيږي.
دا معلومه شوے ده.چه د نبي ﷺ د احاديثو اطلاق د دوى په اقوالو،افعالو،تقاريرو او صفاتو باندے كيږي.دلته په دے باره كښے خبره كيږي.چه د رسول الله ﷺ احاديثو ته د فن حيثيت چا وركړے وو.په دے باره كښے دوه نومونه ياديږي.
يومحمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن الحارث بن زهره بن كلاب.د دوى وفات په كال ١٢٥ﻫ كښے شوے وو.دوى د نبي ﷺ د مور بي بي حضرت آمنے د قبيلے زهره سره تعلق ساتي.ددے وجه ورته زهري ونيلے شي.او ابن شهاب ورته هم وائي.چونكه ددوى پلار شهاب ډير مشهور سړے وو.نوځكه اكثر هغوى طرف ته منسوب

---

(١) جامع الترمذى (٥٢/٢) كتاب الفتن باب ٧٣ حديث ٢٢٦٠)
(٢) مرقاة شرح مشكاة (٩٨/١٠)
(٣) مرقاة شرح مشكاة (٢٣/١٠)
(٤) تدريب الراوى (١٦٦/٢) سنن الترمذى محققه ابراهيم عطوه عوض (١٦٧/٥) سنن نسائى (١٥٥/١)
(٥) عقود اللآلي في الأسانيد العوالي (١٢٧)

كيږى.اوابن شهاب ورته وائى.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((اتفقوا على إتقانه وإمامته)) ددوى په باره كښے دحضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله قول دے((لم يبق أحد أعلم بسنة ماضية من الزهرى)) او په تذكرة الحفاظ كښے دحضرت سعد بن ليث رحمه الله قول هم ددوى په باره كښے نقل شوے دے.چه ((ما رأيت عالماً قط أجمع من الزهرى وإن حدث عن القرآن والسنة فكذلك)) يعنى د زهرى رحمه الله په شان جامع عالم ما نه دے ليدے.او د قرآن او حديث بيانونكو كښے د دوى نه بهتر څوك نشته.(٢) هم دا ابن شهاب د ((أول من دون الحديث)) مصداق دے.حافظ ابن حجر رحمه الله په ((باب كتابة العلم)) كښے هم دوى اول مدون دحديث ګرځولے دے. (٣)دغه شان ابو نعيم په حلية الاولياء كښے د امام مالك رحمه الله قول نقل كړے دے.چه اول مدون ابن شهاب زهرى رحمه الله دے.(٤)

منكرين حديث د خپل باطنى خباثت دوجې د امام زهرى متعلق د طعن ژبه اوږدوى. او دوى د مشكوك ګرځولو دپاره (والعياذ بالله) دوى د يهودى سازش يو كردار ادا كونكے ښائى.ددے د ترديد دپاره د عالمانو رحمهم الله دا اقوال ذكر شوى دى.

د مدون اول په حيثيت دويم نوم د ابوبكر بن حزم رحمه الله راځى.د دوى وفات په كال ١٢٠هـ كښے شوے دے.دوى د حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله د طرفه د مدينے منورے ګورنر وو.عالم فاضل متقى عابد او تهجد ګذار وو.ددوى د بى بى بيان دے.چه څلويښتو كالو پورے دوى چرته د شپے په بستره نه دى څملاستلے.د امام مالك رحمه الله قول دے.په مدينه منوره كښے د دوى نه زيات چاته د قضا علم نه وو.(٥)

امام بخارى رحمه الله په ((باب كيف يقبض العلم)) كښے نقل كړى دى.چه ((كتب عمر بن عبد العزيز إلى أبى بكر بن حزم: أنظر ما كان من حديث رسول الله ﷺ فاكتبه فإنى خفت دروس العلم وذهاب العلماء))(٦) ددے نه معلوميږى.چه عمربن عبدالعزيز رحمه الله (چه ددے امت مجدد اول دے.او دوى تجديدى كارنامه تدوين حديث دے .هغوى) دتدوين خدمت ابوبكر بن حزم رحمه الله ته حواله كړے وو.خكه د علامه هروى رحمه الله رائے دا ده.چه مدون اول ابوبكربن حزم رحمه الله دے.(٧)

خوامام مالك رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله ابن شهاب زهرى رحمه الله اول مدون ګرځولے دے.او حقيقت هم دا دے.چه اول مدون ابن شهاب زهرى رحمه الله دے.

---

(١) تذكرة الحفاظ (١٠٨/١) تهذيب الكمال (٤١٩/٢٦) فتح البارى (٢٢/١)

(٢) اوګورئ پورتنئ حواله

(٣) فتح البارى (٢٠٨/١)

(٤) حلية الأولياء (٣٦٣/٣)

(٥) تهذيب الكمال (١٣٧/٣٣)

(٦) البخارى كتاب العلم باب كيف يقبض العلم

(٧) مقدمة أوجز المسالك (١٦/١)

حافظ ابن حجر رحمه الله د ابونعيم اصفهانى رحمه الله په حوالے سره ذکر کړی دی . چه «كتب عمر بن عبدالعزيز إلى الآفاق أنظروا احاديث رسول الله ﷺ فاجمعوه» (١) حافظ ابو عمر بن عبد البر رحمه الله په «جامع بيان العلم» کښے نقل کړی دی.«يحدث سعد بن ابراهيم أمرنا عمر بن عبدالعزيز رحمه الله بجمع السنن» (٢) دغه شان د تاريخ د كتابونو نه معلوميږی.چه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د امراء الاجناد يعنى د لښكرو اميرانو ته حكم كړے وو.چه د رسول الله ﷺ د احاديثو د ليكلو اهتمام اوكړئ.خكه به دا ونيلى شى.چه د احاديثو دجمع كولو حكم صرف ابوبكر بن حزم رحمه الله ته نه وو وركړے شوے لكه چه په بخارى كښے دى.بلكه نورو حضراتو ته هم دا حكم شوے وو.او په هغوى كښے ابن شهاب زهرى رحمه الله هم شامل وو.بيا داسے اوشو.چه ابن شهاب زهرى رحمه الله د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په حكم سره احاديث جمع كړل.اوهغه ئے عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته اوليږل. اوهغوى د دے نقلونه تيار كړل.اوپه اطرافو كښے ئے تقسيم كړل.لكه چه امام مالك رحمه الله ذكر كړی دی.

باقى د ابوبكر بن حزم رحمه الله متعلق حافظ ابن عبدالبر رحمه الله په ،،التمهيد،، شرح موطا كښے نقل كړی دی.چه «فتوفي عمر وقد كتب ابن حزم كتباً قبل أن يبعث بها إليه» (٣) نومعلومه شوه.چه د ابن شهاب رحمه الله ليكلى شوى احاديث عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته اورسيدل.اوهغه تقسيم كړے شول.او ابن حزم رحمه الله ته دا سعادت نصيب نشو.د هغوى ليكلى شوى احاديث عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته اونه رسيدل.او نه هغه تقسيم كړے شو.نوخكه به د اولنى مدون اطلاق په ابن شهاب باندے كيږی.په ابوبكر بن حزم رحمه الله باندے نه كيږی.

اشكال : دلته كښے دا اشكال كيږی.چه امام مسلم رحمه الله د ابوسعيد خدرى رضی الله عنه روايت نقل كړے دے.چه «أن رسول الله قال: لا تكتبوا عني،ومن كتب عني غير القرآن فليمحه»(٤) نواوس سوال دا دے.چه كله نبى ﷺ د غير قرآن دليكلو يعنى د احاديثو د ليكلو نه منع كړے وه.نو عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د احاديثو دليكلو او سننو جمع كول ولے كړے وو؟اودد ے كتابت د وجے هغوى ،،مجدد،، ولے گرخولے شى؟

جواب نمبر ١ : دابوسعيد خدرى رضی الله عنه په دے حديث كښے د وقف اورفع اختلاف نقل شوے دے.خوك ورته موقوف وائى.اوخوك ورته مرفوع وائى.او امام بخارى رحمه الله موقوف ته ترجيح وركړے ده.(٥)نودا حديث موقوف دے.او د احاديث مرفوعۀ صحيحۀ په مقابله كښے دا حجت نشى گرخيدے.

(١) فتح البارى (١٩٥/١)
(٢) جامع بيان العلم (٧٦/١)
(٣) التمهيد (٨١/١)
(٤) صحيح مسلم (٤١٤/٢)
(٥) فتح البارى (٢٠٨/١)

جواب نمبر ۲ امام بخاری رحمه الله په كتاب العلم كښې څو روايتونه نقل كړى دى.اولنى روايت د حضرت على رضى الله عنه دے.روافضوا دا مشهوره كړے وه.چه د حضرت على رضى الله عنه سره څه ليكل وو چه په هغې كښې د دولسو امامانو نومونه مذكور وو.اوپه هغې كښې دهغه دولسو امامانو په حق كښې د نبى صلى الله عليه وسلم وصيت موجود وو.نوځكه د حضرت على رضى الله عنه نه تپوس اوشو.چه تاسو سره څه خاص ليكل شته؟نووے فرمائيل.نه دا قرآن مجيد دے.او دا ليكل دى.چه د صدقو، ديت، قصاص، او امان احكام په كښې ذكر دى.دحضرت على رضى الله عنه دا روايت امام بخارى ،مسلم، نسائى، احمد بن حنبل او بيهقى رحمهم الله وغيره نقل كړے دے.(١) ددے نه ثابته شوه.چه د نبى صلى الله عليه وسلم د حديثو ليكل ممنوع نه وو.ګنى د صدقو، ديت او قصاص احكام به وركښے ليكلى شو.دا خو هم د نبى صلى الله عليه وسلم احاديث وو.

امام بخارى رحمه الله دويم روايت نقل كړے دے.چه نبى صلى الله عليه وسلم دمكې د فتح په موقع باندے خطبه ونيله.نو ابوشاه يمنى رضى الله عنه عرض اوكړلو.حضرت دا خطبه ماته اوليكئ.نو نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. ((اكتبوالأبى فلان))(٢)ښكاره ده.چه د نبى صلى الله عليه وسلم دا خطبه د احاديثو وه.او د نبى صلى الله عليه وسلم د حكم نه ددے د ليكلو جواز معلوميږى.

امام بخارى رحمه الله دريم روايت د ابوهريره رضى الله عنه نه نقل كړے دے.((ما من أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم أكثر حديثاً منى إلا ماكان من عبدالله بن عمرو، فإنه كان يكتب ولا أكتب))(٣) دغه شان په مسند احمد، ابوداود، او مسند دارمى (٤)كښې د حضرت عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما د حديث د ليكلو ذكر موجود دے.د مسند احمد روايت دے.((قال قلت يارسول الله إنا نسمع منك أحاديث لا نحفظها أفلا نكتبها قال: بلى فاكتبوها))(٥) په يو روايت كښې دحضرت عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما نه دا منقول دى.((قال قلت يا رسول الله إنى أسمع منك أشياء أفأكتبها؟قال: نعم،قلت: فى الغضب والرضا قال نعم، فإنى لا أقول إلاحقاً))(٦) دحضرت عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما سره د ليكلوشوو احاديثو يوه مجموعه موجود وه.دهغې نوم هغوى په خپله ((الصحيفة الصادقة)) كيخودے وو.(٧)په مسند دارمى كښې

---

(١) فتح البارى (٢٠٤/١، ٢٠٥) صحيح بخارى (٢١/١)

(٢) صحيح بخارى (٢١/١)

(٣) صحيح بخارى (٢٣/١)

(٤) مسند احمد (١٦٢/٢و ٢٩٢،٢١٥) وابوداود كتاب العلم باب فى كتابة العلم رقم. (٣٦٤٦) وسنن الدارمى (١٣٦/١) المقدمة باب من رخص فى كتابة العلم)

(٥) مسند احمد (٢١٥/٢)

(٦) مسند احمد (٢١٥/٢)

(٧) ابن سعد (٣٧٣/٢)

دی. «قال عبدالله بن عمرو: أما الصادقة فصحيفة كتبتها من رسول الله ﷺ»[1] دغه شان امام بخاری رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما روایت نقل کړے دے.«قال لما اشتد بالنبی ﷺ وجعه قال ایتونی بکتاب أکتب لکم کتاباً لا تضلوا بعده الخ» [2]دلته کښے د اول کتاب نه ورق مراد دے.او د دویم کتاب نه تحریر مراد دے.او دا ښکاره ده.چه د کوم تحریر د لیکلو چه نبی ﷺ اراده کړے وه.هغه په حدیث کښے داخل وو.نو ددے نه هم د کتابت حدیث جواز ثابت شو.

حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه سره لیکلی شوی احادیث موجود وو.د دغه لیکلو شوو احادیثو روایت به حسن بصری رحمه الله کولو.او په هغے کښے اکثر احادیث په سنن اربعه کښے راغلی دی.[3]څه وخت چه په ابوداود کښے دا روایات راځی.نوددے په شروع کښے وی.«أما بعد» لکه چه دا نښه ده.چه دا احادیث د حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه د لیکلو نه ماخوذ دی.[4]

دغه شان په صحابه کرامو کښے یوه ډله د ،،مکثرین في الحدیث،، په نوم پیژندلی شی.،،مکثرین في الحدیث،، هغه صحابؤ ته وائی.چه د هغوی د احادیثو شمار یو زر یا د یوزرو نه زیات وی. [5] دے حضراتو نومونه دا دی.حضرت ابوهریره رضی الله عنه حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عباس ،حضرت جابربن عبدالله ، حضرت انس بن مالك ،او حضرت عائشه رضی الله عنهم.[6]د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د احادیثو شمار پنځه زره څلور سوه څلوراویا دے.[7] حافظ ابن عبدالبر په جامع بیان العلم کښے د هغوی د شاګرد قول نقل کړے دے.« تحدثت عند أبي هريرة رضی الله عنه فأنكره فقلت، فقلت إني قد سمعته منك قال إن كنت سمعته مني فهو مكتوب عندي، فأخذ بيدي إلى بيته فأرانا كتباً كثيرة من حديث رسول الله ﷺ فوجد ذلك الحديث» [8] دا د ابوهریره رضی الله عنه یو شاګرد حسن بن عمرو رحمه الله دے.د دوی بل شاګرد بشیر بن نهیك رحمه الله فرمائی.

«كنت أكتب ما أسمع من أبي هريرة رضی الله عنه فلما أردت أن أفارقه أتيته بكتابه فقرأته عليه وقلت له: هذا ما

---

(۱) سنن الدارمی (۱۰۵/۱)

(۲) صحیح بخاری (۲۲/۱) کتاب العلم باب کتابة العلم)

(۳)اوګورئ تهذیب التهذیب (۶۶/۲) الحسن ابن أبي الحسن يسار،البصري)

(۴) اوګورئ سنن ابی داود.(۶۶/۱) رقم ٤٥٦. و(۱٤۰/۱) رقم ۹۷۵) و(۲۱۸/۱) رقم ۱۵۶۲) و(۳٤۶/۱) رقم ۲۵۶۰) و(۱۵/۲) رقم ۲۷۱۶) و(۲۹/۲) رقم ۲۷۸۷)

(۵) تدوین حدیث ازمولانا مناظراحسن ګیلانی (ص.۳٤۱)

(۶) اوګورئ تقریب نووی مع شرح تدریب (۲۱۶/۲)

(۷) تدریب الراوی (۲۱۶/۲)

(۸) جامع بیان العلم (۸۹/۱)

سمعته منك قال نعم)) (۱)د يمن په امراؤ کښے همام بن منبيه رحمه الله او وهب بن منبه رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه شاګردان وو.هغوی د ابوهريره رضي الله عنه احاديث په صحيفو کښے جمع کړی وو.د يوے نوم ..صحيفه همام بن منبه.. وو.اود بلے نوم صحيفه وهب بن منبه .. وو.د همام بن منبه رحمه الله د صحيفے روايات اکثر په مسند احمد کښے موجود دی.(۲) او دغه شان په صحيح مسلم کښے هم شته.(۳)

اشکال يواشکال دلته دا کيږی.چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په مکثرين في الحديث صحابؤ کښے شامل دے.او د دوی د راياتو شمار (۵۳۷۴) دے.پکار دا وه.چه حضرت عبدالله بن عمرو العاص رضي الله عنهما هم په مکثرين في الحديث کښے داخل وو.خو دهغوی روايات د ابوهريره رضي الله عنه په نسبت کم دی.حالانکه په خپله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه اقرار دے.چه عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما احاديث زما نه زيات دی.نودا معامله برعکس څنګه شوه.او د عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما احاديث ولے کم شو؟

جواب ددے جواب دا دے.چه دعبدالله بن عمرو قيام په مصر کښے وو.هغه په هغه وخت کښے دعلم مرکز نه وو.او دابوهريره رضي الله عنه قيام په مدينه منوره کښے وو.اودے ته دعلم مرکزيت حاصل وو.نوځکه د ابوهريره رضي الله عنه د احاديثو اشاعت زيات اوشو.اود عبدالله بن عمرو داحاديثو اشاعت زيات اونشو.

او يا دا وجه ده.چه ابوهريره رضي الله عنه به هر وخت په درس او تدريس کښے مشغول وو.اوددے په خلاف دبعضے حضراتوپه قول عبدالله بن عمروبن ا لعاص رضي الله عنه زيات تر په نوافلو کښے مشغول وو.او بعضو دا وئيلی دی.چه عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما به د تورات او انجيل مطالعه زياته کوله.او اسرائيليات به ئے هم بيانول.نوځکه د حديث د طالبانو هغوی طرف ته زيات رغبت نه وو.(۴)په خلاف د ابوهريره رضي الله عنه دهغوی دنبی صلی الله علیه وسلم احاديثو سره شغل زيات وو.هغوی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احاديثو نه سوا بل څه نه بيانول.نو ځکه د هغوی نه زياته استفاده اوشوه.والله اعلم

په مکثرين في الحديث کښے حضرت عائشه رضي الله عنها هم داخله ده.د دوی د احاديثو شمار دوه زره دوه سوه او لس دے.(۵) عروه بن زبير رحمه الله د حضرت عائشے رضي الله عنها احاديث په کتابی شکل کښے جمع کړی وو.کله چه د مدينے منورے سياسی حالات د ..حره.. د واقعے په موقع خراب شو.نو د عروه هغه ليکل ورك شو.حضرت عروه رحمه الله به فرمائيل: ((لوددت أني كنت فديتها بأهلي

---

(۱) سنن دارمی (۱۳۸/۱)مقدمة باب من رخص فی کتابة العلم-
(۲) مسند احمد (ص،۳۱۲، ۳۱۸)
(۳)اوګورئ تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف (۳۹۷/۱۰، ۴۱۰)
(۴) فتح الباری (۲۰۷/۱) کتاب العلم باب کتابة العلم –
(۵) تدريب الراوی (۲۱۷/۲)

ومالى» (۱) چه زما اهل وعيال او مال هلاك شوے وے.خو افسوس چه هغه ليكل محفوظ وو.
دحضرت عائشے رضي الله عنها روايات حضرت قاسم بن محمد رحمه الله هم په كتابى شكل كښے جمع كړى وو.د عمره بنت عبدالرحمن سره هم د عائشے رضي الله عنها احاديث ليكلے شوے موجود وو.عمربن عبدالعزيز رحمه الله چه كله د مدينے منورے گورنر ابوبكر بن محمد بن عمروبن حزم ته د احاديثو جمع كولو حكم كړے وو.نو دا هدايت ئے ورته هم كړے وو.چه د عمروبنت عبدالرحمن سره احاديث ليكلى شوى موجود دى.هغه هم ترلاسه كړئ.(۲)حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما هم په مكثرين في الحديث صحابو رضي الله عنهم كښے شامل دے.د دوى د رواياتو شمار يو زر شپږ سوه دے.(۳) حضرت سعيد بن جبير رحمه الله به د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايات ليكل.اودومره ورسره اهتمام وو.كه كاغذ به ختم شو.نوپه څرمن به ئے ليكل كولو.(۴)دا هم نقل شوى دى.چه د عبدالله بن عباس احاديث په كتابى شكل كښے ، ،حمل بعير ، ، (د اوښ بوج) برابروو.(۵) امام ترمذى په كتاب العلل كښے نقل كړى دى.«أن نفراً قدموا على ابن عباس رضي الله عنهما من أهل الطائف بكتاب من كتبه فجعل يقرأ عليه الخ(۶)حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه هم په مكثرين في الحديث كښے داخل دے.ددوى د رواياتو شمار يوزر پنځه سوه څلويښت دے.(۷)حافظ ابن حجر رحمه الله ذكركړى دى.چه وهب بن منبه رحمه الله اوسليمان بن قيس رحمه الله سره د جابربن عبدالله رضي الله عنه روايات په كتابى شكل كښے موجود وو.او دوى به د هغے نه روايت كولو.(۸) حضرت انس بن مالك رضي الله عنه هم په مكثرين في الحديث كښے داخل دے.د دوى د رواياتو شمار يوزر دوه سوه شپږ اتيا دے.(۹)حضرت انس بن مالك رضي الله عنه سره ليكلى شوى احاديث موجود وو.حاكم په مستدرك كښے دهغوى د يو شاگرد قول نقل كړے دے.«كنا إذا أكثرنا على أنس بن مالك رضي الله عنه أخرج إلينا مجالاً عنده فقال هذه سمعتها من النبى صلى الله عليه وسلم فكتبتها وعرضتها عليه صلى الله عليه وسلم»(۱۰)
د دے رواياتو او واقعاتو نه دا ثابته شوه.چه د نبى صلى الله عليه وسلم د احاديثو په كتابى شكل كښے جمع كولو سلسله په خپله د نبى صلى الله عليه وسلم او صحابو په زمانه كښے شروع شوے وه.نو د ابوسعيد

---

(۱) تهذيب الكمال (۱۹/۲۰)
(۲) ابن سعد (۴۸۰/۸)
(۳) خلاصة تهذيب تهذيب الكمال (ص-۲۰۲) الأعلام للزرقانى (۹۵/۴) تدريب الراوى (۲۱۷/۲-
(۴) اوگورئ سنن دارمى (۱۳۸/۵، ۱۳۹) المقدمة باب من رخص فى كتابة العلم ،رقم (۵۰۰) و(۵۰۱)
(۵) ابن سعد (۲۹۳/۵)
(۶) جامع ترمذى كتاب العلل (۲۳۶/۲)
(۷) تدريب الراوى (۲۱۷/۲) وخلاصة تذهيب تهذيب الكمال (ص.۵۹) والأعلام للزرقانى (۱۰۴/۲)
(۸) اوگورئ تهذيب التهذيب (۲۱۵/۱)
(۹) خلاصة تهذيب تهذيب الكمال (ص.۴۰)
(۱۰) مستدرك حاكم (۵۷۳/۳)

خدري ﷺ روايت كوم چه د كتابت په ممانعت دلالت كوي.په هغې كښې او ددے واقعاتو او رواياتو كښې تعارض لازميږي.بعضې حضرات ممانعت ته ترجيح وركوي.څكه چه په اباحت او ممانعت كښې كله تعارض راشي.نوترجيح به ممانعت ته وي.خو دا جماعت ډير كم دے.بعضو په دواړو كښې د تطبيق صورت اختيار كړے دے.كه د هيريدو ويره وي.نو د كتابت اجازت شته.اوكه د هيريدو ويره نه وي.نو اجازت نشته.(١)حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم په مكثرين في الحديث كښې دے. هغوى ته ټول دوه زره شپږ سوه ديرش احاديث مروي دي.

خواوس صورت حال دا دے.چه په اول كښې اختلاف وو.حضرت عبدالله بن عمر،زيد بن ثابت، حضرت ابوسعيد خدري، حضرت ابوهريره او ابوموسى اشعري وغيره ﷺ د كتابت د عدم جواز قائل وو.(٢)اونورحضرات صحابه كرام ﷺ حضرت عمر،حضرت علي، حضرت عبدالله بن عمرو، حضرت عبدالله بن عباس وغيره ﷺ د كتابت د جواز قائل وو.(٣)

بيا دا اختلاف ختم شو.او حضرات صحابه كرام ﷺ په جواز كتابت باندے متفق شو.ددے اجماع نه پس او د پورتنو رواياتو او واقعاتو نه پس حديث د ابوسعيد خدري ﷺ قابل استدلال نشي پاتے كيدے.(٤)

دريم جواب دا دے.چه علامه نووي ﷫فرمائيلي دي.د ممانعت صورت په هغه وخت كښې دے.چه كله قرآن او حديث دواړه په يو ځائے كښې ليكلي شي.(٥) مثلاً چه كله به وحي نازليدله.نونبي ﷺ به صحابه كرامو ﷺ ته د قرآن نازل شوے آياتونه اوږول.او هغه به ئے ليكل.د تلاوت په دوران كښې به ئے كله كله تفسير اوتشريح هم كوله.د دے تفسير اوتشريح حيثيت به د حديث وو.نو نبي ﷺ د قرآن كريم د آياتونو سره ددے د ليكلو نه منع اوكړله.

څلورم جواب ابن قتيبه ﷫وركړے دے.چه نبي ﷺ د حديث د كتابت نه ددے وجے منع كړے وو.چه دڅو كسانو نه علاوه نور صحابه ﷺ د كتابت نه ناواقف وو.كه دے حضراتو ليكل كولو.نو د هغوى ليكل به صحيح نه وو.اوپه هغې باندے پوهيدل او وئيل به محال اوګران وو.نوځكه نبي ﷺ عمومي طور دحديثو د ليكلو نه منع اوفرمائيله.(٦)

پنځم جواب دا وركړے شوے دے.چه د كتابت نه پس په يادداشت كښې سستي واقع كيږي.سړے دا وائي.ما ليكل كړي دي.چه كله ئے اوغواړم.نواوبه ئے ګورم.او يا به ئے ياد

---

(١) تدريب الراوي (٢/ ٦٧)
(٢) تريب الراوي (٦٥/٢)
(٣) تدريب الراوي (٦٥/٢)
(٤) اوګورئ فتح الباري (٢٠٨/١) كتاب العلم باب كتابة العلم)
(٥) شرح النووي على صحيح مسلم (٤١٥/٢) كتاب الزهد باب التثبيت فى الحديث وحكم كتابة العلم)
(٦) فتح الملهم (٢٦٠/١)

کرم ﷺ نوخکه به هغه احادیث چه نبی ﷺ فرمائیلی وو.هغه به د نه یادول د وجے ضائع کیدل. او د صحابه کرامو ﷺ د ابتدائی حالاتو په وجه به کتابت کنبے غلطی هم واقع کیدله. ددے په وجه په کتابت کنبے هم د غلطئ امکان وو.نوعمومی طور صحابه کرام ﷺ د حدیث د کتابت نه منع شول.چه د کتابت د غلطو نه په امن هم شی.اود یادولو سلسله هم جاری پاتے شی. خکه چه د صحابه کرامو ﷺ حافظه ډیره قوی وه.البته خواصو ته د کتابت حدیث اجازت وو.خکه چه دهغوی په حق کنبے د غلطئ ویره نه وه.(۱) لکه څنګه چه د مکثرین في الحدیث د کتابی ذخیرو نه دا ثابته شوه.چه د نبی ﷺ په زمانه کنبے هم څه خاص په شمیر کسانو احادیث لیکلی وو.او دوی نه پس هم دا سلسله جاری وه.دا بیله خبره ده.چه په هغه وخت کنبے به دے حضراتود نبی ﷺ نه کوم حدیث واوریدلو.هغه به ئے لیکلو.د بابونو د تقسیم طریقه په هغه وخت کنبے نه وه.چه د کتاب الطهارة حدیثونه جدا اولیکلی شی.او د کتاب الصلاة حدیثونه جدا.د ترتیب اوتهذیب دا طریقه په روستو راتلونکو مختلفو زمانو کنبے په وجود کنبے راغلے ده.

شپږم جواب مولانا مناظر احسن ګیلانی ﷫ورکړے دے.هغوی فرمائی.چه عام طور د حدیث د لیکلو اجازت خکه نه وو ورکړے شوے.چه د حدیث مقام به د قرآن پسے په دویمه درجه کنبے دے.که چرته د قرآن کریم پشان د حدیثو لیکلو اهتمام هم د اول نه شوے وو.نو راتلونکو نسلونو به په قرآن اوحدیث کنبے فرق نشو کولے.اودواړه به ئے په یوه درجه کنبے ګنړل.اود قرآن پاك په اوله درجه کنبے او د نبی ﷺ احادیث په دویمه درجه به باقی نه وو پاتے شوے.بلکه ممکنه وه.چه په دواړو کنبے اصطلاحی فرق هم ختم شوے وو.هم دا وجه وه.چه خلفاء راشدینو ﷺ په خپل دور خلافت کنبے په سرکاری سطح د حدیث د لیکلو اهتمام نه وو کړے.(۲) حضرت ابوبکرصدیق ﷺ سره د حدیثونو کتابی مجموعه موجود وه.هغوی د تدوین حدیث اراده هم کړے وه.خو بیا ئے دا اراده پریخودله.(۳) حضرت عمر ﷺ هم د تدوین حدیث اراده کړے وه.صحابه کرامو ﷺ سره ئے مشوره هم کړے وه.او تریو میاشتے پورے ئے استخاره کړے وه.آخرهغوی دا اراده پریخودله.(۴)او وجه دا وه.که دے حضراتو د تدوین حدیث په سرکاری طور اهتمام کړے وے.نو په قرآن اوحدیث کنبے به څه فرق نه وو پاتے شوے.

دے سره دا نکته هم د غور قابله ده.چه د نبی ﷺ په زمانه کنبے د ناسخ او منسوخ سلسله جاری وه.نو په دے صورت کنبے کتابت مناسب نه وو.دغه شان صحابه کرام ﷺ په جهاد، تبلیغ ددین په اشاعت کنبے مشغول وو.نو په هغه وخت کنبے هم کتابت حدیث مناسب نه وو. خو چه کله سل کاله تیر شو.اود قرآن اوحدیث فرق دعامو خلقو په ذهن کنبے مضبوط شو.

---

(۱) تدریب الراوی (۶۷/۲)

(۲) تدوین حدیث (ص۲۴۵،۲۳۸)

(۳) اوګورئ تدوین حدیث (ص۲۸۷،۲۷۶)

(۴) جامع بیان العلم وفضله (۷۷/۱) باب ذکر کراهیة کتاب العلم وتخلیده فی الصحف)

او بل طرف ته معتزله، روافض، خوارج، قدریه، جهمیه باطلے فرقے پیدا شوے.او هغوی د خپلو فاسدو نظریو او باطلو عقائدو دپاره احادیث جوړول شروع کړل.نوعمربن عبدالعزیز رحمه الله په سرکاری اهتمام سره د تدین حدیث کارنامه ترسره کړه
اووم جواب دا دے.چه دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه دممانعت حدیث منسوخ دے.اود حضرت علی ،عبدالله بن عمروبن العاص، ابوهریره او ابوشاه یمنی رضی الله عنهم روایات ناسخ دی.(۱)

دعلم حدیث د تدوین طبقات: تدوین حدیث په څو طبقاتو باندے تقسیمولے شی.
اولنۍ طبقه دابن شهاب زهری رحمه الله او ابوبکر بن حزم رحمه الله ده.د دوی زمانه د ۱۰۰ھ نه واخله تر ۱۲۵ھ پورے ده.په دے طبقه کښے ابن شهاب زهری رحمه الله ته اولیت حاصل دے.په دے دور کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو جمع کولواهتمام کړے شوے وو.خو د بابونو اوکتابونو سلسله نه وه قائمه شوے.بلکه «کیف ما اتفق أحادیث منتشره» جمع کړے شوی وو.(۲)
په دویمه طبقه کښے د ربیع بن صبیح رحمه الله متوفی (۱۶۰ھ) او سعید بن ابی عروبه رحمه الله متوفی (۱۵۶ھ) وغیره نوم اخستے شی.حافظ ابن حجر رحمه الله په مقدمه د فتح الباری کښے ده ته اولنی جامع وئیلے دے.اولیکلی ئے دی.«وکانوا یصنفون کل باب علیحدة»(۳) چلپی رحمه الله په کشف الظنون کښے ربیع بن صبیح رحمه الله «أول من صنف وبوب» گرځولے دے.(۴)
دا دور د ۱۲۵ھ نه واخله تر ۱۵۰ھ پورے وو.دے حضراتو احادیث جمع کړل.او دصحابه کرامو رضی الله عنهم آثار ئے جمع کړل.او ورسره ورسره ئے بابونه هم قائم کړل.خو هر باب ئے په خانله مجموعه کښے جمع کړل.(۵) مثلاً د مونځ احادیث ئے د «باب الصلاة» په عنوان سره جدا جمع کړل.اود زکاة احادیث ئے د «باب الزکاة» په عنوان سره جدا مجموعه اولیکله.
ددے نه پس دریمه طبقه ده.ددے دور تقریباً د ۱۵۰ھ نه واخله تر ۲۰۰ھ پورے دے.په دے طبقه کښے ډیر نومونه ذکر شوی دی.اوهریو ته مدون اول وئیلے شوے دے.مثلاً ابن جریج عبدالملك بن عبدالعزیز متوفی ۱۵۰ھ په مکه کښے.معمربن راشد متوفی ۱۵۴ھ په یمن کښے، عبدالرحمن بن عمرو الاوزاعی رحمه الله متوفی ۱۵۷ھ په شام کښے، سفیان بن سعید الثوری رحمه الله متوفی ۱۶۱ھ په کوفه کښے،حماد بن سلمه ۱۶۷ھ په بصره کښے،مالك بن انس رحمه الله متوفی ۱۷۹ھ په مدینه کښے عبدالله بن مبارك رحمه الله په ۱۸۱ھ په خراسان کښے، اوجریربن عبدالحمید متوفی ۱۸۸ھ په رئے کښے په دے کښے یو ته هم علی الاطلاق مدون

---

(۱) فتح الباری (۲۱۰.۲۰۸/۱) کتاب العلم باب کتابة العلم)
(۲) تدریب الراوی (۹۰/۱) ومقدمة أوجزالمسالک (۱۵/۱)
(۳) مقدمة فتح الباری (ص۶) وتقریب التهذیب (۲۰۶)
(۴) کشف الظنون (۶۳۷/۱)
(۵) مقدمة فتح الباری (ص۶،ومقدمة أوجزالمسالک (۱۶/۱)

اول نشی ونیلے البته په خپله زمانه کښے د خپلو خپلو علاقو په اعتبارسره مدون اول کرخولی شی.(۱) دے حضراتو هم احادیث مرفوعه او د صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار جمع کړی وو.خو په دویمه طبقه او دوی کښے دا فرق دے.چه د دویمے طبقے په نیز به دهرباب د احادیثو مجموعه خانله خانله وه.او د دوی په نیز هم یوه مجموعه کښے به د مختلف بابونو احادیثو ته د مختلفو بابونو عنوان ورکړے شوے وے.اومستقلاً جمع شوی وو.(۲)

ددے نه پس ۲۰۰ھ نه پس څلورمه طبقه شروع کیږی.دوی صرف د مرفوع احادیثو جمع کولو اهتمام کړے وو.اومسانید ئے لیکلی وو.د دوی په کتابونو کښے د صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار نه وو ذکر شوے.الا ماشاء الله خو د مرفوع روایاتو سره سره په دے کتابونو کښے د صحیح حدیثونو نه علاوه ضعیف او حسن روایات هم موجود وو.ددے طبقے په مصنفینو رحمهم الله کښے عبیدالله بن موسی عبسی رحمه الله متوفی ۲۱۳ھ نعیم بن حماد رحمه الله متوفی ۲۲۸ھ.عثمان بن ابی شیبه رحمه الله متوفی ۲۳۹ھ اوامام احمدبن حنبل رحمه الله وغیره شامل دی.(۳)

پنځمه طبقه د صحیح اوحسان مصنفین دی.ددوی دور د ۲۲۵ھ نه شروع کیږی.په دے دور کښے د صحاح سرفهرست امام بخاری رحمه الله دے.دوی صحیح بخاری اولیکلو.بیا نور حضراتو هم ددوی تقلید اوکړلو.مثلاً امام مسلم رحمه الله وغیره او په حسان باندے مختلف کتابونه تصنیف شول.لکه سنن ابی داود او سنن نسائی وغیره (۴)

حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله په خپله الفیه کښے ارشاد فرمائیلے دے.

أول جامع الحديث والأثر....ابن شهاب آمرله عمر.......وأول الجامع للأبواب.........جماعة في العصر ذواقتراب.كابن جريج وهشيم مالك.....ومعمر و ولد المبارك.......وأول الجامع باقتصار........على الصحيح فقط البخاری(۵)

دلته جلال الدین سیوطی رحمه الله اول د طبقه اولی ذکر کړے دے.اوبیا د طبقه ثانیه ذکر کړے دے.اوبیا ئے ددے نه پس د پنځمے طبقے ذکر کړے دے.

ربیع بن صبیح اوسعید بن ابی عروبه رحمهما الله کوم چه د دریمے طبقے سره تعلق ساتی.د هغوی ذکر ئے نه دے کړے.دغه شان احمد بن حنبل رحمه الله او عثمان بن ابی شیبه رحمه الله چه ددوی تعلق د څلورمے طبقے سره دے.ددوی ذکر ئے هم په دے اشعارو کښے نه دے کړے.دا حدیث د کتابونو د قسمونو او تدوین بیان وو.

---

(۱) مقدمة فتح الباری (ص.۶) ومقدمة أوجزالمسالک(۱۶/۱) او د وفیات دپاره اوګورئ (تقریب التهذیب)

(۲) مقدمة أوجزالمسالک (۱٤/۱)

(۳) مقدمة فتح الباری (ص.۶) مقدمة أوجزالمسالک (۱۶/۱) وفیات دپاره اوګورئ .. تقریب التقریب)

(۴) مقدمة أوجزالمسالک (۱۱۷/۱)

(۵) مقدمة أوجزالمسالک (۱۵/۱)

اتم بحث حکم شرعی که په یوه علاقه کښې صرف یو مسلمان وی.نو په هغه باندې د علم حدیث زده کول فرض عین دی.اوکه په یوه علاقه کښې ډیر مسلمانان وی.په هغوی باندې د علم حدیث زده کول فرض کفایه دی.

د رووس ثمانیه ذکر مکمل شو.البته یوبحث که هغې ته د ،،رووس ثمانیه،، تتمه اوونیلی شی.نو بهتر به وی.کوم چه د حجیت حدیث بحث دې.د خواهش خاوندانو دخپل خواهش پوره کولو دپاره د آزادئ حاصلولو په غرض د رسول الله ﷺ د حدیث نه انکار اوکړلو.د هغوی شبهاتواو اعتراضاتواو د هغې نه د جوابونو دپاره دا بحث ذکر کولې شی.

دمنکرین حدیث اعتراضات او د هغې جوابونه

① دوی وائی.چه نبی ﷺ د حدیث د لیکلو نه منع فرمائیلې وه.لکه چه د حضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه په حدیث کښې چه تیر شو.نو بیا حدیث څنګه حجت ګرځولې شی؟

ددې جواب وړاندې تیر شوېدې.مونږ په تفصیل سره خودلی دی.چه د نبی ﷺ په زمانه کښې د کتابت حدیث سلسله قائمه وه.خو په هغې کښې عموم نه وو.او د ممانعت یوه وجه د قرآن کریم سره یوځائې د حدیث لیکل وو.(ورنه في نفسه د حدیث لیکل ممنوع نه وو) یا ممانعت د عامو خلقو دپاره وو.څکه چه هغوی په لیکلو ښه نه پوهیدلو.خواصو ته اجازت وو.او یا د ممانعت حدیث په نسخ باندې محمول دې.او دا هم خودلې شوی دی.چه دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه په حدیث کښې د رفع او وقف اختلاف دې.نو د ابوسعید خدری رضی الله عنه دا حدیث چه دومره احتمالات په کښې دی.اوپه رفع او وقف کښې ئې اختلاف دې.د مرفوع احادیثو په مقابله کښې حجت نشی جوړیدې.

② منکرین حدیث دا وائی.چه قرآن کریم په عربئ کښې نازل شوې وو.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې.﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا﴾ (۱)اودا پخپله واضح دې.لکه چه په بل مقام کښې ارشاد دې.﴿بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ﴾(۲) نو هرکله چه قرآن کریم په عربئ ژبه کښې نازل شوې دې.او واضح هم دې.نوصرف د عربئ ژبې نه واقفیت کافي دې.داحادیثو نه دمدد اخستلو ضرورت نشته.

ددې اعتراض جواب دا دې.چه دصحابه کرامو رضی الله عنهم مادری ژبه عربی وه.او هغوی په کښې ماهران هم وو.خو ددې باوجود هغوی د قرآن په پوهیدو کښې د نبی کریم ﷺ د تفسیر او بیان محتاج وو.

مثلاً په قرآن پاك کښې چه کله دا آیت نازل شو.﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا﴾(۳) نوصحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړلو.یا رسول الله د سلام طریقه خو تاسو مونږ ته په ،،التحیات،، کښې خودلې ده.خو د ،،صلاة،، څه طریقه ده؟ نو نبی ﷺ

---

(۱) سورة یوسف:۲-

(۲) سورة شعراء:۱۹۵-

(۳) سورة احزاب:۵۶-

ورته د ،،التحيات،، نه پس د درود تعليم ورکړلو.(۱)
دغه شان کله چه ﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ﴾ (۲) آيت په نازل شو.نوصحابه کراموؓ عرض اوکړلو.يا رسول الله ﷺ په مونږ کښې به څوك وي.چه هغه به ظلم نه وي کړے؟ نوددے خو دا مطلب شو.چه زمونږ دپاره امن نشته.نونبي ﷺ اوفرمائيل: دلت د ظلم نه مراد شرك دے.هغه ظلم مراد نه دے.کوم چه عام دے.يعني گناه.(۳)
دغه شان د قرآن کريم آيت دے.﴿فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا﴾(۴) نازل شو.نو حضرت عائشه ؓ په دے باندے پوهه نشوه.هغې د نبي ﷺ نه تپوس اوکړلو.حضرت قانون خو ستاسو د وينا مطابق ((من حوسب عذب))(۵)يعني چه چا سره حساب اوشي.هغه ته به عذاب ملاويږي.اودلته په آيت کښې د حساب ذکرخو شته.خو د عذاب ذکر نشته؟ نو نبي ﷺ د هغوي دا اشکال په دے طريقه باندے رفع کړلو.چه هغه حساب په کوم چه به عذاب وي.هغه ،،حساب مناقشه،، دے.او دلته چه د کوم حساب ذکر دے.نودا د عرض او پيشي په معنى کښې دے.په دے کښې مناقشه شامله نه ده.(۶)
دغه شان د قرآن کريم آيت﴿وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ﴾(۷)کښې حضرت عدي بن حاتم ؓ ته اشکال پيښ شو.هغوي د خيط ابيض او خيط اسود نه سپين او تور تار مراد اخستلو.نو نبي ﷺ اوفرمائيل: د خيط ابيض نه مراد ورځ او د خيط اسود نه مراد شپه ده. (۸)نوتر څو چه شپه وي.پيشمنے کولے شي.خوچه څنگه صبا راوخيژي.نود پيشمنی خوراك بندول ضروري دي.
دا يوځو مثالونه وو.ددے نه دا خبره خودل مقصود وو.چه د قرآن کريم د پوهيدلو دپاره صرف د عربئ ژبے پيژندل کافي نه دي.د نبي ﷺ حديث پيژندل ددے دپاره ضروري دي.
منکرين حديث وائي.چه قرآن کريم پخپله جامع هم دے.اوواضح هم دے.نوددے د جامعيت او وضاحت تقاضا دا ده.چه بيا دے ته د رسول الله ﷺ د زباني بيان ضرورت نه وي.که دا د نبي ﷺ د تشريح او تفسير محتاج کړے شي.نوبيا جامع او واضح څنگه شو؟

---

(۱) اوگورئ تفسير درمنثور (۲۱۶/۵)
(۲) سورة انعام:۸۲_
(۳) اوگورئ صحيح بخاري کتاب التفسير ،سورة انعام باب ،،ولم يلبسوا إيمانهم بظلم،، رقم ۴۶۲۹)
(۴) سورة انشقاق:۸-
(۵) السنن الترمذي ،کتاب التفسير، باب ومن سورة إنشقاق إذا السماء انشقت رقم (۳۳۳۸) _
(۶) صحيح بخاري (۲۱/۱) کتاب العلم باب من سمع شيأ فلم يفهمه فراجعه حتى يعرفه_
(۷) سورة بقرة:۱۸۷_
(۸) صحيح بخاري (۲۵۷/۱) کتاب الصوم باب قول الله تعالى ﴿وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾

ددے جواب دا دے چه د قران په جامعیت او د حدیث په ضرورت کښے څه تضاد نشته.قرآن کریم د کلیاتو او اصولو په اعتبار سره جامع دے.اود حدیث ضرورت ددے کلیاتو او اصولو د وضاحت دپاره دے.ځکه چه «کلام الملوك ملوك الکلام» دے.نوالله تعالی چه د بادشاهانو بادشاه دے.دهغه په کلام باندے پوهیدل د هر کس دپاره څنګه ممکنه ده؟ د فلسفے یو معمولی کتاب راواخلئ.په هغے باندے پوهیدل د هر کس په وس کښے نه دی.نو قرآن کریم چه د احکم الحاکمین کلام دے.هرسړے په دے باندے څنګه پوهیدے شی.اودا دعوی څنګه صحیح کیدے شی.چه قرآن کریم ته د نبی ﷺ د بیان حاجت نشته ؟!

④ منکرین حدیث وائی.چه د نبی کریم ﷺ حیثیت د سفیر پشان دے.الله تعالی خپل کلام مخلوق ته د رارسولو دپاره دوی واسطه اوګرخوله.اونبی ﷺ دالله تعالی د هغه مخلوق ته اورسولو.اوس دا ضروری نه ده.چه د دوی اطاعت هم اوشی.او د دوی په احادیثو باندے عمل هم لازم اوواجب اوګرځولے شی.

ددے جواب دا دے.چه پخپله قرآن کریم کښے ارشاد دے.﴿هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ (۱) دلته کښے نے نبی ﷺ د کتاب او حکمت معلم خودلے دے.نو بیا نبی ﷺ صرف سفیر څنګه شو.په بل ځائے کښے ارشاد دے.﴿وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ﴾(۲) دلته کښے دوی ته د کتاب بیانونکے ونیلے شوے دے.په دریم ځائے کښے ارشاد دے.﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾(۳) دلته هم دے بیان ته اشاره ده.د کوم ذکر چه په ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾او﴿لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ﴾ کښے شوے دے.په قرآن کریم کښے دا ارشاد هم شته.چه ﴿اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا﴾(۴) ددے ارشاداتو باوجود په کوم قانون دوی ته صرف سفیر ونیلی شی.او د دوی د اطاعت نه اوریدل څنګه ټیک کیدے شی؟

په قرآن کریم کښے د مونځ، زکاة، روژے، او حج احکام موجود دی.خو ددے تفصیلات په قرآن کریم کښے موجود نه دی.هغه د احادیثو نه معلومیږی.که د دوی د احادیثو نه اعراض اوشی.نو نه په ﴿وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ باندے عمل ممکن دے.او نه په ﴿وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ باندے هم دا حال د نورو احکامو هم دے.

ددے نه علاوه د عربئ ژبے وسعت د بیان محتاج نه دے.په دے کښے ډیر الفاظ مشترك دی.که د نبی ﷺ تعلیماتو نه سترګے پټے کړے شی.نود بے دینئ دروازه به پرانستے شی.کوم

(۱) سورة الجمعة:۲_
(۲) النحل:٤٤_
(۳) القیامة:۱۶تا۱۹_
(۴) النساء:۱۰۵_

کس چه ښکه غواړي.د قرآن کريم تفسير به بيانوي.او ددے په نتيجه کښے چه به کوم اختلاف اوفساد پيدا کيږي.هغه پته نه ده.

④ منکرين حديث په يوه مغالطه کښے اچول کوي.چه قرآن کريم کښے ارشاد دے.﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ (١) نو بيا د رسول الله ﷺ اطاعت څنګه جائز کيږي؟

ددے جواب دا دے.چه په قرآن کريم کښے نور هم ډير آياتونه دي.﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ (٢) او﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ (٣) او﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ (٤)او﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ﴾(٥) او﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾(٦) او﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾ (٧) په دے آياتونو کښے داتباع رسول او طاعت رسول حکم موجود دے.نوددے نه سترګے نشي پټولے.باقي په.﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾او په پورتنو آياتونو کښے چه په ظاهره تضاد غوندے معلوميږي.دا په خپله قرآن کريم لرے کړے دے.اود دواړو په مينځ کښے ئے تطبيق بيان کړے دے.چه ﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ﴾ (٨) يعنى د پيغمبر تابعداري څه جدا څيز نه دے.دا دالله تعالى تابعداري ده.په بل ځائے کښے ارشاد دے.﴿وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾(٩) دنبي ﷺ احکام د وحي مطابق وي.ځکه چه کوم حکم دوي بيانوي.هغه دالله تعالى حکم دے.

⑤ منکرين حديث ته دا وسوسه هم شوے ده.که اطاعت رسول ﷺ لازم او ضروري اوګرځولے شي.نو په دے باندے عمل ممکن نه دے.ځکه چه د احاديثو مجموعه زمونږ وړاندے موجود ده.دا دعجمي سازشونو لاندے جوړه شوے ده.او په دے کښے ډيرے غلطے خبرے شامل کړے شوي دي.نو د داسے احاديث په ذريعه د اطاعت رسول فريضه څنګه ادا کولے شي؟

---

(١) يوسف:۶۷_
(٢) الحشر:۷_
(٣) الأحزاب:۲۱_
(۴) الأحزاب:۳۶_
(۵) النساء:۵۹_
(۶) النساء:۶۵_
(۷) الأنفال: ۲٤_
(۸) النساء:۸۰_
(۹) النجم:۳،٤_

ددے نه جواب دا دے.چه د قرآن کریم نه پس په مخ دزمکے د احادیثو دمجموعے نه علاوه داسے بله مجموعه نشته.چه هغه د حدیث په مقابله کښے پیش کړے شی.او چه دهغے څه تاریخی حیثیت وی.حضرات محدثینو داسماء الرجال فن ایجاد کړلو.اود جرح او تعدیل قواعد ئے مقرر کړل.او د احادیثو د چنړولو او تحقیق او تفتیش هغه کارنامه ئے اوکړله.چه مثال ئے نشته.وضاعینو چه کوم احادیث وضع کړی وو.هغه ئے د صحیح احادیثو نه جدا کړل.تردے چه د موضوعی احادیثو ئے مستقلے مجموعے تیارے کړے.اودا ئے اوخودله.چه دا غیر معتبر او موضوعی روایات دی.او د صحیح احادیثو مجموعے ئے جدا تیارے کړے.د وضاعینو اومتروکینو فهرستونه ئے تیار کړل.او د صحیح روایاتو راویان ئے جدا جمع کړل.او د یو یو راوی تفصیلی حالات ئے اولیکل.د یو انګریز قول دے.چه داسماء الرجال عظیم الشان علم کوم چه محدثینوایجاد کړے دے.ددے مثال په نورو مذاهبو کښے نه د اسلام نه وړاندے وو اونه پس ترنن ورځے پورے موجود شوے دے.(۱)

مستشرقین یهود او نصاری په لوئے تعداد ددے اقرار کوی.چه مسلمانانو چه دخپل پیغمبرحالات او واقعات په کوم تفصیل، صداقت اودیانت سره جمع کړی دی.دا عظیم الشانه کارنامه ده.او ددے مثال په هیڅ یو مذهب کښے موجود نه دے.د یو یوحدیث سند رسول الله ﷺ ته رسولے شوے دے.

دتاریخ علم چه خلق پرے ناز کوی.په دے کښے بے سنده واقعات ذکر کولی شی.اوبه ناقلینو کښے دروغژن او ربنتینی هر قسم بے شمیره خلق وی.د عقل او خرد نه محروم دا منکرین حدیث خو تاریخی واقعات مستند ګڼړی.او حدیث غیر مستند!

ناطقه سر بگریباں ہے اسے کیا کہیئے!

⑥ منکرین حدیث وائی.چه دحدیث په ذخیرو کښے ډیر مواد د عقل نه خلاف موندلے شی.څکه ددے د تابعداریٔ حکم نشی ورکولے.

ددے اعتراض.جواب دا دے.چه مونږ ددوی نه تپوس کوو.چه تاسو د ارشادات رسول ﷺ په مقابله کښے د نابالغه عقل پسے څئ.تاسو ته دا معلومه نه ده.چه عقل د وحی دنور نه بغیر دهدایت موندلو دپاره کافی نه دے.دعقل راهنمائی هلته فائده منده وی.چه د عقل رنړا ورته حاصله وی.او کوم عقل چه ددے وحی نه آزاد وی.هغه به عجیبه عجیبه تیندکونه خوری.په ماضی کښے د داسے قسم عاقلانو فیصله وه.چه د اعراضو دپاره بقا نشته.او ددے تقدیر (اندازه کول) ناممکن دے.خو اوس د یونان د فلسفے دا مذهب لغو او باطل ثابت شوے دے.آواز چه عرض دے.د ټیپ ریکارډ په ذریعه محفوظ کولے شی.د نمر شعاګانے محفوظ کولے شی.اود بدن د دننه حصے ایکسرئے اخستلے شی.او دعقل هغه پخوانئ فیصله پښیمانه او سرټیټه په نظر راځی.

په یوه زمانه کښے به هم دے عقل پرستو وئیل.چه زمکه ساکن ده.او آسمان متحرک دے.روستو دا فیصله بدله کړے شوه.دغه شان به وئیلی شو.چه آسمان څه حقیقت نه لری.دا

(۱) الرسالة المحدية (عربی خطبات مدراس (ص.۲۷_

(چه مونږ ته څه ښکاري) د نظر انتها ده.او اوس ددے حقیقت منلے شی. سپوګمۍ ته سفر کول دے عاقلانو ناممکن ګنړل.او اوس خلق په سپوګمۍ باندے چهل قدمی کونکی کتلی شی.آیا په داسے کمزورے عقل باندے اعتماد کولے شی.چه د هغے فیصلے ورځ په ورځ بدلیږی د نبی ﷺ احادیث چه دا خلق ورته خلاف عقل وائی.ددے یوه خبره خو خلاف عقل اوښائے او دا ثابته کړئ.دا د هغوی دپاره ناممکنه ده.

ددے نه علاوه مونږ دا تپوس کوو.چه داحادیثو تللو دپاره به کوم عقل معتبر وی. او د هغے تعریف څه دے؟ ځکه چه په عقلونو کښے تفاوت یومنلے شوے حقیقت دے.که دا اووئیلی شی.چه د هر کس ناکس د عقل اعتبار دے اوکړے شی.نوټول نظام به دړے وړے شی.ځکه چه هر کس خپل عقل قابل اعتبار ګنړی.ددے په نتیجه کښے به داسے سخت اختلاف پیدا شی.چه د هغے دختمیدوبه څه طریقه به نه وی.او که دا اووئیلی شی.چه دهر کس عقل معتبر نه دے.بلکه دخواصو دعقل اعتبار به کولے شی.نو سوال دا دے.چه په خواصو کښے به څوك داخل وی.او څوك به په خواصو کښے شمارلے شي؟ بیا په خواصو کښے هم اختلاف وی.نو اوس سوال دا دے.چه د دے اختلاف فیصله به څه سره کولے شی؟ په عقل او که په نقل؟ که دا فیصله په عقل سره کولے شی.نو بیا اختلاف نه ختمیږی.ځکه چه څوك هم د خپلے فیصلے غلطۍ منلو ته تیار نه وی.او که دا فیصله په نقل سره کولے شی.نو هم دا زمونږ مدعی ده.چه په وحی اعتماد ضروری دے.ددے نه بغیر کار نه کیږی.

دغه شان په دے باندے دے هم غوراوکړے شی.چه په حکومتونو کښے د سفار او نمائندګۍ دپاره د هغه کسانو انتخاب کولے شی.چه په عقل، خرد، او وقار کښے امتیازی شان لری.نوآیا الله تعالی به د رسالت پشان عظیم منصب باندے فائز کولو دپاره ددے نه د اوچتو صفاتوخاوندانو انتخاب نه کوی.او حقیقت هم دا دے.چه حضرات پیغمبران علیهم السلام کوم چه الله تعالی خپل قاصدان جوړ کړی دی.د هغوی عقل،فهم، وقار او دیانت په اوچته درجه کښے وو.په نورو انسانانو کښے د هغے نظیرموجود نه وی.دالله تعالی ارشاد دے.
﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ﴾ (۱) داسے څوك نبی یا پیغمبر نشی جوړولے.نو رسول الله ﷺ چه د رسالت عظیم منصب ئے ورته ورکړے دے.اعقل الناس او اعلم الناس وو.

د عقل کامل په اعتبار سره د صلح حدیبیه واقعه ددے بهترین مثال دے.د خانه کعبے د جوړولو په وخت کښے د حجر اسود د لګولو فیصله هم د دوی په کامل عقل دلالت کوی.او د دوی د ټولو فیصلوهم دا حیثیت وو.

ترکومے پورے چه دعلم تعلق دے.نو قرآن مجید کښے ﴿وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا﴾ دی(۲)
دمنکرین حدیث بدقسمتی دا ده.چه هغوی خلاف عادت څیزونه خلاف عقل اوګنړل.حالانکه د نبی ﷺ په احادیثو کښے یوه خبره هم دعقل خلاف نه ده.ځکه چه خلاف

(۱) الأنعام: ۱۲۴_
(۲) سورة نساء:۱۱۳_

عقل هغے ته وائی.چه د هغے تسليمولو سره محال لازميږی.او د نبی ﷺ هيڅ يوه خبره محال لره مستلزم نه ده.دوی دا سوچ هم نه دے کړے.چه د نبی ﷺ د احاديثو نه انکار کولو سره د دوی مبارك ژوند په پرده کښے پټيږی.او هغه رسالت چه ترقيامته پورے د راتلونکو انسانانو د هدايت دپاره دے.که د احاديثو نه انکار اوکړے شی.نو د راروان نسلونو دپاره به ددے ثابتول ناممکن شی.

په قرآن مجيد کښے فرمائيلے شوی دی.﴿فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِ﴾ (۱) دلته کښے د نبی ﷺ مبارك ژوند او دوی شمائل او اخلاق د نبوت د ثبوت دپاره د دليل په طور بيان شوی دی.ځلوينت کاله نبی ﷺ د دوی په معاشره کښے تير کړی وو.په دے کښے نه نبی ﷺ څه کتاب پرانستے وو.اونه ئے قلم په لاس کښے راخستے وو.نه ئے د څه درسګاه دروازه ليدلے وه.نه ئے شعر وئيلے وو.اونه ئے په مشاعرو کښے شرکت کړے وو.ددے باوجود د نبی ﷺ د ديانت او صداقت په ټول ښار کښے ډنډوره وه.اخلاق ئے اوچت وو.ددوی لمن د عصمت د داغ نه محفوظ وه.د پيغمبرئ په ملاويدو چه کوم کلام دوی پيش کړلو.هغه په بلاغت اوفصاحت کښے بے مثاله وو.د شان شوکت په اعتبار سره بے نظيره وو.ددے تاثير په بے جان روحونو کښے د ايمان او يقين داسے قوت پيدا کړلو.چه دهغے مثالونه نه ملاويدل.د جهالت په تيرو اود ګمراهئ په غارونو کښے پراته انسانان ئے په علومو ښائست کړل.اود اخلاقو اوچتو پوړو ته ئے اورسول.څوك چه د هدايت نه محروم وو.هغوی هاديان جوړ شول.څوك چه د علم نه نااشنا وو.هغوی معلمان شول.څوك چه د کفر په پليتئ ګنده وو.هغوی د معرفت خاوندان شول.

جو نہ تھے خود راہ پر اوروں کے ہادی بن گئے — اللہ اللہ! کیا نظر تھی جس نے مردوں کو مسیحا کردیا

ذاتی طور ئے د ژوند يوه بهترينه نمونه پيش کړله.بلکه يو ډير لوئے جماعت ئے په ايمان اويقين اواخلاقو باندے ښائسته کړل.دپاتے دنيا دپاره ئے يوه نمونه پيش کړله.د چا دپاره چه قرآن کريم ﴿أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا﴾(۲) تصديق کوی.او﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾(۳) فرمائيلی دی.او دقرآن کريم ډير آياتونه ددوی په مناقبو باندے مشتمل دی.

احاديث هم ددے مقدس جماعت شان بيانوی.د نبی ﷺ ارشاد دے.((أصحابي كالنجوم فبأيهم اقتديتم اهتديتم))(۴)

الله تعالى دنياوی ژوند په بهترينو طريقو تيرولو دپاره دقرآن اوسنت په شکل کښے دائمے آئين ورکړے دے.چه ترڅو پورے دنيا باقی وی.اوددے مطابق عمل اوکړے شی.نودا دنيا د

(۱) يونس:۱۶_

(۲) الانفال:۷۲_

(۳) الأنعام:۸۳_

(۴) مشكاة المصابيح (ص.۵۵٤) باب مناقب الصحابة ﷺ الفصل الثالث_

جنت نظیر جوړیدے شي.بهر حال که د احادیثو نه انکار اوکړے شي.نو د نبی ﷺ د ژوند ټول تفصیلات به د سترګو نه پټ شي.او د نبی ﷺ د نبوت اثبات به ممکن نشي.

⑥ د منکرین حدیث دطرفه یو اشکال دا کیږي.چه دحافظ ابوزرعه رحمه الله متعلق وئیلی شي چه هغوی ته اووه لاکه احادیث یاد وو.(۱) او امام احمدبن حنبل رحمه الله خپل مسند د اووه نیم لاکه احادیثو نه منتخب کړے دے.(۲) اوامام بخاری رحمه الله صحیح بخاری د شپږ لاکه احادیثونه لیکلے دے.(۳)

او امام مسلم صحیح مسلم د درے لاکه احادیثو نه منتخب کړے دے.(۴) حالانکه وئیلی شي چه د صحیح احادیثو شمار پنځوس زره دے.(۵) نوبیا دا اووه لاکه او درے لاکه احادیث د کوم ځائے نه راغلل.دغه شان دا خبره هم ناقابل فهم ده.چه یوکس دے درے لاکه یا اووه لاکه احادیث یاد کړي.

ددےجواب دا دے.چه ترکومے پورے د احادیثو د پنځوس زره او درے لاکهو په مینځ کښے دتعارض سوال دے.نودا د محدثینو د اصطلاح نه په ناواقفیت باندے مبنی دے.د حدیث متن یو وي.اود هغے طرق او سندونو ګڼړ وي.عام سړے دے ته یو حدیث وائی.خو محدثین هرسند ځانله ځانله شماري.مثلاً «انما الأعمال بالنیات» یو حدیث دے.خودا په دوه سوه یا دوه سوه اوپنځوس یا اووه سوو سندونو سره منقول دے.نو دمحدثینو د اصطلاح مطابق دا یو حدیث نشی شمارلے.بلکه دوه سوه یا دوو سوو نه زیات د خپل سند په اعتبار سره شمارلے شي.نوحاکم د متون عدد بیان کړے دے.اود امام احمدبن حنبل رحمه الله ابوزرعه رحمه الله یا بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله د اووه لاکه یا درے لاکه تعداد د طرقو او اسانیدو په لحاظ سره کړے دے.

دویمه خبره دا ده.چه د پنځوس زره کوم شمار چه خودلے شوے دے.اود ذکرشوو محدثینو دپاره د اووه لاکه یا شپږ لاکه یا درے لاکه کوم شمار خودلے شوے دے.په دے کښے د صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار هم شامل دي.کله چه د نبی ﷺ احادیث پنځوس زره کیدے شي.نوچه د صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار ورسره شامل شي.ددے نه پس که ددے شمار اووه لاکه ته اورسي.نو په دے کښے د تعجب څه دي!

دمحدثینو رحمهم الله حافظه: ترکومے پورے چه د زیاتو احادیثو یادولو تعلق دے.نوددے مختلف اسباب وو.یوخود عربو حافظه هسے هم ضرب المثل وه.بیا چه الله تعالی دا حضرات ددے خدمت دپاره منتخب کړل.نوددے مطابق ئے په هغوی کښے ددے صلاحیت هم پیدا کړلو.یوځل د مدینے منورے ګورنر مروان بن الحکم د ابوهریره رضی الله عنه د حافظے شهرت چه واوریدلو.نوهغوی ئے د امتحان په غرض راوغوښتلو.د اخوا دیخوا خبرو کولو نه پس ئے ترے

(۱) تدریب الراوی (۵۰/۱)
(۲) تدریب الراوی (۴۹/۱)
(۳) هدی الساری (ص،۴۸۹) ذکرفضائل الجامع الصحیح_
(۴) تدریب الراوی (۵۰/۱)
(۵) تدریب الراوی (۱۰۰/۱)_

د حدیثونو تپوسونه شروع کړل.او د پردے نه اخوا ئے یو کاتب کینولے وو چه هغوی به د ابوهریره ﷛ بیان کړی احادیث لیکل.د کاتب بیان دے.چه مروان به تپوسونه کول.اوما به لیکل کول.اودغه ډیر احادیث شو.یو کال مروان خاموش پاتے شو.اوبیا ئے هغوی راوغوښتلو.اوزه ئے د پردے نه اخوا کینولم.هغوی به ترے تپوسونه کول.او ما د تیرشوی کال حدیثونه کتل.نوهغوی نه یوحرف زیاتی کړلو.اونه ئے کم کړلو.(١)

هشام بن عبدالملك امام زهری ﷬ته د خپل خوی دپاره د احادیثو لیکلو درخواست اوکړلو.نوهغوی تقریبا څلورنیمه سوه احادیث اولیکل.بیا څه موده پس دوباره هشام د هغه احادیثو لیکلو درخواست اوکړلو.نوامام زهری ﷬دوباره هغه املاء کړل.کله چه د هغے مقابله د اولنی کتاب سره اوشوه.نود یوحرف فرق په کښے هم راؤ نه وتلو.(٢)

حافظ ابوزرعه ﷬فرمائیل. «إن في بيتي ما كتبته منذ خمسين سنة ولم أطالعه منذ كتبته وإني أعلم في أي كتاب هو،في أي صفحة هو،في أي سطر هو»(٣)

دحضرت عبدالله بن عباس ﷠ مشهوره ده.چه هغوی ته عمران بن ابی ربیعه شاعر راغلو.او د اویا اشعارو یوه اوږده قصیده ئے اوونیله.دشاعر د تلو نه پس د یو شعر په باره کښے خبرے شروع شوئے.او اختلاف پیدا شو.نوحضرت ابن عباس ﷠ اوفرمائیل. هغه دا مصرعه داسے وئیلے وه.چه کوم مخاطب وو.هغه ورته اوونیل. تاته په اول ځل اوریدوسره څه یاده شوه؟نو دوی ورته جواب ورکړلو.صرف دا یوه

مصرعه نه بلکه ماته د اویا اشعارو پوره قصیده په یو ځل اوریدو سره یاده شوه.(٤)

دا ددے حضراتو د حافظے حال وو.او دهغوی د یادداشت یوه وجه بله هم وه.چه د هغوی د نبی ﷺ سره ډیر زیات محبت وو.او چه محبت زیات وی.نو داسے کیږی.چه د محبوب خبرے په یو ځل اوریدو او لیدو سره یادیږی.

او یوه بله معقوله وجه دا هم وه.چه په هغه زمانه کښے په حدیثو کښے مهارت د خلقو په نظر کښے ډیر دعزت سبب وو.نوځکه د دے حضراتو احادیثو سره ډیر شوق وو.او هغوی د دے په حاصلولو کښے د ډیر محنت او کوشش نه کار اخستلو.د محدثینو ﷭ حضراتو د محنت او کوشش که اندازه واخستے شی. نو معلومه به شی.چه هغوی د احادیثو حاصلولو دپاره څومره څومره سفرونه کړی دی.او د څومره استاذانو نه ئے استفاده کړے وه.اود حدیث اوریدو دپاره ئے څومره مشقتونه برداشت کړی وو.که دا ټول حالات وړاندے کیخودے شی.نو په دومره زیات تعداد کښے د احادیثو یادول څه د اشکال خبره نه ده.

منکرین حدیث به یو اشکال دا هم کولو.چه د احادیثو روایت بالمعنی دے.ځکه دا حجت

---

(١) الإصابة (٢٠٥/٤)_
(٢) تذکرة الحفاظ (١١٠/١)_
(٣) تهذیب التهذیب (٣٣/٧)
(٤) تدوین حدیث مولانا مناظر احسن گیلانی (ص.٤١)_

نشی جوړیدے.معلومه نه ده.چه راویانو په کوم کوم ځائے کښے څه څه تصرف کړے دے؟
ددے جواب دا دے.چه په احادیثو کښے صرف اقوال نه دی.بلکه د نبی ﷺ افعال ، تقاریر او صفات هم په حدیث کښے شامل دی.او د روایت بالمعنی تصور په اقوالو کښے خو کیدے شی.خو په افعالو ،تقاریرو او صفاتو کښے نشی کیدے.
دویمه خبره دا ده.چه د روایت بالمعنی دپاره چه کوم شرطونه مقرر دی.دهغے په وجود کښے دحدیث په صحت کښے څه شبه نه پاتے کیږی.حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائی.«فإن لم يكن عالماً عارفاً بالألفاظ ومقاصدها، خبيراً بما يحيل معانيها، بصيراً بمقادير التفاوت: فلا خلاف أنه لايجوز له ذلك»(۱)
اوتاسو به دا هم کتلے وی.څومره کرته د حدیث راوی یو لفظ ذکر کړے وی.اوبیا فرمائی.چه «أو قال كذا أو كذا» ددے نه معلومه شوه.چه دے حضراتو د روایت باللفظ ډیر اهتمام کړے دے.
⑧ یو اعتراض دا شوے دے.چه اکثر احادیث اخبار احاد دی.او اخبار احاد مفید د ظن دی.او د ظن په باره کښے په قرآن کریم کښے ارشاد دے.﴿إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا﴾(۲) نوبیا ددے اتباع څنګه کولے شی؟
ددے جواب دا دے.چه ظن د یقین په معنی کښے هم راځی.﴿الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ﴾(۳) په دے کښے د یقین په معنی راغلے دے.﴿وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ﴾(۴) په دے کښے هم دیقین په معنی کښے دے.اوظن د راجح طرف په معنی کښے هم استعمالیږی.کله چه اعتمادی کس څه خبره اوکړی.نوغالب ګمان هم دا وی.چه دے صحیح وائی.اګرچه د هغه په خبر کښے د جانب مخالف احتمال هم وی.خو هغه د التفات قابل نه وی.د دنیا ټول معاملات هم په دے ظن غالب باندے چلیږی.که دے ته څه اعتبار ورنکړے شی.نوددنیاټول نظام به درهم برهم شی.
ظن داټکل په معنی کښے هم استعمالیږی.لکه چه مشرکانو به د خپلو خدایانو دالوهیت ظن کولو. هغه صرف اټکل وو.د هغے شاه ته څه معقول دلیل نه وو.په قرآن کریم کښے ددے ظن مذمت کړے شوے دے.او د رسول الله ﷺ د احادیثو سره ددے څه تعلق نشته.په احادیثو کښے ظن داولنی او دویمے معنی په اعتبار سره موجود دے.
⑨ یو اشکال داسے کیدے شی.چه په احادیثو کښے تعارض وی.نو بیا به دے باندے څنګه عمل کولے شی.
ددے جواب دا دے.چه عقائد ذات وصفات، حشر ونشر، ترغیب وترهیب او اخلاق وغیره احادیثو کښے څه تعارض نشته.داحکامو په بعضے احادیثو کښے تعارض وی.نو ددے د رفع کولو دپاره نسخ. ترجیح. تطبیق. اوتوقف وغیره طریقے موجود دی.نو د تعارض بهانه

(۱) مقدمة ابن الصلاح (ص۱۰۵) _
(۲) یونس:۳۶_
(۳) السورة البقرة:۴۶_
(۴) سورة ص:۲٤_

جوړول او داحادیثو رد کولو گنجائش نشته.بیا داسې تعارض خو د قرآن کریم په آیاتونو کښې هم شته.قرآن مجید کښې په یوځائې کښې دی.چه کافران به دقیامت په ورځ د یوبل نه سوال کوی.(۱) او په بل ځائې کښې دی.چه دوی به سوال نشی کولې.(۲) دغه شان په یوځائې کښې دی. ﴿وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾(۳) او په بل ځائې کښې دی. ﴿اِنَّهُمْ مَّسْـُٔوْلُوْنَ﴾(۴) نوچه څنگه دا تعارض رفع کولې شی.دغه شان به په احادیثو کښې هم کولې شی.اوچه څنگه قرآن حجت دے. دغه شان به احادیث هم حجت گرځولې شی.او د تعارض دا اشکال د حجت دپاره مانع نه دے.

فائده په بیان د مصطلحات کښې : دحدیث دوه قسمونه دی.① خبرمتواتر② خبر واحد

① خبرمتواتر: هغه حدیث ته وائی.چه د هغې راویان په هره زمانه کښې دومره زیات وی.چه عقل سلیم دا محال گنړی.چه دا ټول دې په دروغه راجمع شوی وی.

② خبرواحد: هغه حدیث دے.چه د هغې راویان دومره زیات نه وی.

د منتها په اعتبار سره د خبرواحد قسمونه : خبرواحد د منتها په اعتبار سره په درې قسمه دے.① مرفوع ② موقوف③ اومقطوع

① مرفوع: هغه حدیث دے.چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د قول یا فعل یا تقریر اویاصفت ذکر وی.

② موقوف: هغه حدیث دے.چه په هغې کښې د صحابی د قول یا فعل یا تقریر ذکر وی.

③ مقطوع: هغه حدیث دے.چه په هغې کښې د تابعی د قول یا فعل یا تقریر ذکر وی.

خبرواحد د راویانو په اعتبار سره په درې قسمه دے.①مشهور② عزیز③ او غریب

① مشهور: هغه حدیث دے.چه دهغې راویان په هیڅ یوه زمانه کښې د دریو نه کم نه وی.او دمتواتر حد ته نه وی رسیدلې.

② عزیز: هغه حدیث دے.چه دهغې راویان په هیڅ یوه زمانه کښې د دوو نه کم نه وی

③ غریب: هغه حدیث دے.چه دهغې په سند کښې په یوځائې کښې صرف یوراوی پاتې شوې وی.

د راویانو د صفاتو په اعتبار سره د خبرواحد قسمونه

خبرواحد دخپلو راویانو په اعتبارسره په شپاړلس قسمه دے.①صحیح لذاته ② حسن لذاته ③ صحیح لغیره④ حسن لغیره ⑤ ضعیف ⑥ موضوع ⑦ متروک ⑧ شاذ ⑨ محفوظ ⑩ منکر⑪ معروف ⑫ معلل ⑬ مضطرب ⑭ مقلوب ⑮ مصحف ⑯ مدرج

① صحیح لذاته هغه حدیث دے.چه دهغې ټول راویان عادلان کامل الضبط وی.سند ئې متصل وی.اوعلت او شذوذ په کښې نه وی.

---

(۱) قال الله تعالی:﴿ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ﴾سورة صافات:۲۷_
(۲) ﴿قال الله تعالی: فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ﴾سورة مؤمنون:۱۰۱_
(۳) سورة بقرة: ۱۷٤_
(۴) سورة صافات: ۲٤

② حسن لذاته هغه حدیث دے چه په هغے کښے د صحیح لذاته ټول صفات موجود وی.خو حفظ او ضبط کښے څه نقصان وی.
③ صحیح لغیره هغه حدیث دے.چه هغه په اصل کښے حسن لذاته وو.خو د تعدد طرق د وجے صحیح لغیره اوګرځیدلو.
④ حسن لغیره هغه حدیث دے.چه هغه ضعیف حدیث وی.خوطرق ئے زیات وی.
⑤ ضعیف هغه حدیث دے.چه دهغے په راویانو کښے دصحیح او حسن صفات موجود نه وی.
⑥ موضوع هغه حدیث دے.چه د هغے راوی د «کذب علی النبی ﷺ» مرتکب شوے وی.
⑦ متروك هغه حدیث دے.چه دهغے راوی متهم بالکذب وی.یعنی د دروغو وئیلو تهمت په هغه باندے لګیدلے وی.یا هغه روایت د دین د معلومو قواعدو نه خلاف وی.
⑧ شاذ هغه حدیث دے.چه دهغے راوی ثقه وی.خو د داسے جماعت نه خلاف کوی.کوم چه د ده نه زیات ثقه وی.
⑨ محفوظ هغه حدیث دے.چه هغه د شاذ په مقابله کښے وی.
⑩ منکرهغه حدیث دے.چه دهغے راوی د ضعف باوجود د ثقاتو نه مخالفت کوی.
⑪ معروف هغه حدیث دے.چه هغه د منکر مقابل وی.
⑫ معلل هغه حدیث دے.چه په هغے کښے خفی علت وی.چه په هغے سره د حدیث صحت ته نقصان رسی.
⑬ مضطرب هغه حدیث دے.چه دهغے په سند یا متن کښے داسے اختلاف موجود وی.چه په هغے کښے ترجیح یاتطبیق نشی کیدے.
⑭ مقلوب هغه حدیث دے.چه د هغے په متن یا سند کښے تقدیم او تاخیر واقع شوے وی.یا د یو راوی په ځائے بل راوی ذکر شوے وی.
⑮ مصحف هغه حدیث دے.چه دهغے د خط صورت برقرار وی.خو ددے باوجود په نکتو یا حرکت یا سکون کښے د تغیر د وجے په تلفظ کښے غلطی واقع کیږی.
⑯ مدرج هغه حدیث دے.چه په هغے کښے راوی په څه ځائے کښے خپل کلام داخل کړی.

دسقوط او عدم سقوط په اعتبار سره د خبر واحدقسمونه

خبرواحد د سقوط او عدم سقوط په اعتبار سره په اووه قسمه دے.
① متصل ② مسند ③ منقطع ④ معلق ⑤ معضل ⑥ مرسل ⑦ مدلس
① متصل هغه حدیث دے.چه د هغے په سند کښے ټول راویان مذکور وی.
② مسند هغه حدیث دے.چه دهغے سند د نبی ﷺ پورے متصل وی.
③ منقطع هغه حدیث دے.چه د هغے په سند کښے یو راوی ساقط شوے وی.
④ معلق هغه حدیث دے.چه دهغے دسند په شروع کښے د یو یا د زیاتو راویانو ذکر نه وی شوے ⑤ معضل هغه حدیث دے.چه دهغے په سند کښے مسلسل د یو نه زیات راویان مذکور نه وی ⑥ مرسل هغه حدیث ته وائی.چه د هغے د سند په آخر کښے یو راوی ساقط شوے وی.

⑤ مدلس هغه حديث ته وائي چه دهغې د راوي عادت دا وي چه خپل شيخ يا د خپل شيخ شيخ پټوي.

د صيغو د ادا په اعتبار سره د خبر واحد قسمونه

د خبرواحد د صيغ ادا په اعتبار سره دوه قسمونه دي. ① معنعن ② مسلسل

① معنعن هغه حديث ته وائي چه د هغې په لفظ کښې لفظ د عن راغلې وي. ② مسلسل هغه حديث ته وائي چه د هغې په سند کښې صيغ د ادا يا د راويانو صفات يو شان وي.

....

مقدمة الكتاب

سند: په علم حديث کښې د سند مقام پټ نه دے.د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله ارشاد دے.«الإسناد من الدين، ولولا الإسناد لقال من شاء ما شاء»(١)

سفيان ثوری رحمه الله فرمائي.«الإسناد سلاح المؤمن فإذا لم يكن معه سلاح فبأي شيء يقاتل»(٢)

امام شافعي رحمه الله فرمائي.«مثل الذي يطلب الحديث بلا إسناد كمثل حاطب ليل»(٣)

بهرحال په علم حديث کښې سند يوبينادي څيز دے.ددے نه بغير حديث نه قبليږي .داولنو محدثينو رحمهم الله طريقه دا وه.چه هر محدث په نبي ﷺ پورے خپل سند بيانولو.او بيا به ئې حديث ذکرکولو.خوچه احاديث په کتابي شکل کښې مدون شول. نو د دے نه پس دا کافي گڼړلې شي.چه يومحدث خپل سند صاحب د کتاب ته اورسوي .او بيا حديث روايت کړي.

بيا دا خبره دے هم ستا په ذهن کښې وي.چه په هندوستان کښې د علم حديث انتهاء حضرت شاه ولي الله رحمه الله ته رسي.د هرے دلے سند هم دوي ته رسي.زمونږ

اکابر حضرت شاه صاحب پورے سند بيانوي.دحضرت شاه صاحب نه واخله تر د کتابونو مصنفينو رحمهم الله پورے د دوي اسانيد په کتاب کښې «الإرشاد إلى مهمات الإسناد» کښې ذکر دي.

لکه چه زمونږ د سند درے حصې دي.يوه حصه حضرت شاه ولي الله رحمه الله پورے. دويمه حصه د دوي نه حضرت امام بخاري رحمه الله پورے او دريمه حصه د امام بخاري رحمه الله نه تر نبي ﷺ پورے.چونکه آخري حصه په کتاب کښې د هر حديث سره ليکلې شوے وي.نوځکه مونږ دلته صرف د دوو اولنو حصو نه بحث کوو.او ددے تولو واسطو په اختصار سره ذکر کوو.

---

(١) مقدمة صحيح مسلم (ص.١٢) باب بيان أن الإسناد من الدين-

(٢) الأجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الكاملة (ص.٤٤)

(٣) الأجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الكاملة (ص.٤٤)

زما د بخاری د سند سلسله ما بخاری شریف درسا د شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدنی قدس سره نه ونیلے دے.هغوی دشیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله نه،هغوی د مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله او حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله نه،دے دواړو حضراتو د حضرت شاه عبدالغنی مجددی رحمه الله نه هغوی د حضرت شاه محمد اسحاق رحمه الله نه. هغوی د حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله نه اوهغوی د اسانیدو د مرکز حضرت شاه ولی الله رحمه الله نه بخاری لوستے دے.

دحضرت شاه ولی الله رحمه الله د صحیح بخاری سند

قال الشاه ولی الله احمد بن عبدالرحیم الدهلوی رحمهما الله تعالیٰ:

((أخبرنا الشیخ ابوطاهرمحمد بن ابراهیم الکردی المدنی، قال: أخبرنا والدی الشیخ ابراهیم الکردی ،قال قرأت علی الشیخ احمد القشاشی قال: أخبرنا احمد بن عبدالقدوس ابوالمواهب الشناوی ، قال أخبرنا الشیخ شمس الدین محمد بن احمد بن محمد الرملی عن الشیخ شیخ الإسلام زین الدین زکریا بن محمد الأنصاری، قال: قرأت علی الشیخ الحافظ أبی الفضل شهاب الدین احمد بن علی بن حجر العسقلانی عن الشیخ زین الدین ابراهیم بن احمد التنوخی عن الشیخ أبی العباس احمدبن أبی طالب الحجار عن الشیخ سراج الدین الحسین بن المبارک الزبیدی عن الشیخ أبی الوقت عبدالأول بن عیسی بن شعیب السجزی الهروی عن الشیخ أبی الحسن عبدالرحمن بن یوسف بن مظفر الداؤدی عن الشیخ أبی محمد عبدالله بن احمد السرخسی عن الشیخ عبدالله محمد بن یوسف بن مطربن صالح بن بشر الفربری عن مؤلفه فی الحدیث محمد بن اسماعیل بن ابراهیم البخاری رضی الله عنه وعنهم أجمعین))

څه د خپل ځان باره کښې: دیوبند سره نزدے اوتهانه بهون سره تقریباً متصل حسن پور لوهاری کلے ضلع مظفرنگر یوپی انډیا کښے د احقر مولد او مسکن قدیم دے.دلته کښے زه په ۲۵دسمبر ۱۹۲۶عیسوی کښے پیدا شوم.دا کلے د آفریدی پختونو دے.دے کلی ته دا فضیلت حاصل دے. چه حاجی امدادالله مهاجرمکی رحمه الله حافظ ضامن شهید رحمه الله اود مولانا شیخ محمد تهانوی رحمه الله پیراومرشد اود حضرت سید احمد شهید رحمه الله خاص معتمد میانجی نورمحمد جهنجهانوی رحمه الله قیام هم په دے کلی کښے وو.اود تهانه بهون پورته ذکر شوے درے واړه عارفین حسن پور لوهاری ته حاضر شوی وو.اود میانجی موصوف رحمه الله نه ئے استفاده کړے وه. او په مستفیدینو کښے د حاجی صاحب مهاجر مکی فیض په خلور قنجه دنیا کښے هم جاری او ساری دے.او انشاء الله ترقیامته پورے به جاری وی.داحقر تعلق هم ددے آفریدیانوخانانو یو متوسطه کورنۍ سره دے.د دوی پیشه طبابت دے.زما پلار صاحب جناب عبدالعلیم خان صاحب لا ماشوم وو.چه د نیکه په وفات یتیم شو.نوځکه د هغوی دتعلیم څه معقول انتظام اونشو. اوهغوی د طب علم حاصل نکړے شو.د هغوی د یونانی دویانو دوکان وو.او هغوی عطار وو.

د تعليم شروع او زما استاذان زما اولنے استاذ منشى بنده حسن ﷫ وو.د هغوى نه ما داردواو فارسئ تعليم حاصل كړے وو.پرهيزګار اومتقى انسان وو.ما په خپل ژوند كښے د هغوى پشان ذاكر اوزيات نفل كونكے نه دے ليدلے.

زما بل استاذ منشى الله بنده ﷫ وو.دهغوى نه د اردواو فارسئ د تعليم په دوران كښے ما قرآن كريم په ناظره ونيلے وو.هغوى به د مابنام نه پس كور ته د درس دپاره تشريف اوړلو.هغوى په قناعت او د دنيا نه په بے رغبتئ كښے بے مثاله وو.د هغوى معمول وو.چه روزانه به ئے يو قرآن كريم ختمولو.حالانكه هغوى حافظ نه وو.

مدرسه مفتاح العلوم جلال آباد او دارالعلوم ديوبند د قران كريم او اردو او فارسئ د تعليم نه پس زه مدرسه مفتاح العلوم جلال آباد ضلع مظفر نګر كښے د مولانا مسيح الله خان صاحب ﷫ په خدمت كښے حاضر كړے شوم.دلته كښے مے د دوو كالو او شپږ مياشتو په موده كښے د څلورمے درجے پورے كتابونه اوونيل.بيا احقر ديوبند ته اوليږلے شو.هلته كښے مے پنځه كاله تير كړل.د دارالعلوم رائج نصاب مے پوره كړل.ټول فنون منطق، فلسفه، ادب، اصول، رياضى،فقه،كلام، اود حديث په نصاب كښے شامل ټول كتابونه مےختم كړل.د دارالعلوم نه د فراغت په وخت كښے زما عمر شل كاله وو.او پاكستان نه وو جوړ شوے.(١) زما د بچپن او طالب علمئ زمانه په لويو كښے تيره شوے وه.خو معلومه راته نه ده.چه څه وجه وه.چه د هغه زمانے د اول نه واخله تر آخره پورے د ټولواستاذانوراباندے هميشه دپاره شفقت او ښه ګمان وو.په دوى كښے څو حضراتو د محبت د غلبے او شفقت د وجے كله كله په دے شاګرد باندے ډيرزيات فخر اواعتماد هم كړے دے.چه په هغے سره ما په هغه وخت كښے هم شرم محسوس كړے وو.په ابتداء كښے اګرچه نه راسره څه ويره وه.اونه د شوق كيفيت وو.په يوه درجه كښے راكښے د طالب علمئ په استعداد كښے څه قدرے استحكام پيدا شو.نوځكه راته ماشوموالى خيالاتو څه نقصان اونه رسولو.دا بيله خبره ده.كه چرته سبقونه، مطالعه، اوتكرار په پوره توجه سره وو.نويقينى ده.چه ډير بهتر صورت حال به وو.بهرحال هغه نقصان خو اوشو.خوبيا مے د تدريس په دوران كښے ډير محنت اوكړلو.اوپه هرقسم حالاتو كښے دتدريس دا زمانه تيره شوه.

تدريس اود جامعه فاروقيه سنګ بنياد د پاكستان د هجرت نه وړاندے د جلال آباد په مدرسه مفتاح العلوم كښے مے پوره درس نظامى (بشمول جمله فنون او دوره حديث) اته كاله درس وركړلو. پاكستان ته د راتلو نه پس مے درے كاله په دارالعلوم الاسلاميه اشرف آباد ټنډواله

---

(١) د طالب علمئ په زمانه كښے د دارالعلوم په چهټيانو دوى كور ته راغلل.په دے كښے ورته د قرآن كريم د حفظ خيال ورغلو.ارادے ئے اوكړله.چه روزانه ربع پاره يادوى.خوچه كله د يادولو دپاره كيناستلو. نو د ربع پارے په ځائے كله نيمه نيمه كله يوه يوه پاره اوكله چه يوه نيمه پاره به ئے حفظ كوله.اوپه ورځ كښے خو د دوه نيمو پارو يادولو نوبت هم راغلو.دا د فرق د نشاط طبع دفرق سره كيږى.دغه شان ئے په اووه ويشت ورځو كښے پوره قرآن حفظ كړلو.او ورسره ورسره ئے په تراويحو كښے هم واورول.((وذلك فضل الله يؤتيه من يشاء))

یا زکښې مدرس پاتې شوم.بیا لس کاله په دارالعلوم کراچۍ کښې او دارالعلوم سره سره یو کال مې په جامعة العلوم الاسلامیه کښې هم تدریسي خدمات ورکړل.په هره مدرسه کښې د حدیث دمرکزي سبقونو سره سره د نورو فنونو کتابونه هم په درس کښې شامل وو.په کال ۱۹۶۷ عیسوی کښې مې د جامعه فاروقیه بنیاد کیخودلو.او د اته ویشتو کالو راسې دلته کار کوم (۱)

سواد اعظم د اهل سنت تاسیس او د وفاق المدارس ذمه داریانې

هم په دې دوران کښې د وفاق المدارس العربیه چه بنیاد ئې په کال ۱۳۷۸ه مطابق ۱۹۵۹عیسوی کښې کیخودې شوې وو.ددې د نظامت اعلی ذمه واری په احقر باندې په کال ۱۴۰۱ه مطابق ۱۹۸۰عیسوی کښې راغله.په دې دوران کښې الله تعالی د وفاق المدارس کار په وسیع پیمانه باندې کړلو.د ملحقه مدارسو په شمار کښې قابل قدر زیادت اوشو.دنصاب پابندي اوشوه.په مدارسو کښې درجه بندي لازمي شوه.اول به صرف د ,,مرحله عالیه،،(دوره حدیث) امتحان دوفاق المدارس زیرانتظام کیدلو.اوس دټولودرجو امتحانونه کیږي.ددې نه علاوه د وفاق په انتظامي امور کښې مثبت تبدیلۍ راغلې.ددې کارکردګي ډیره بهتره شوه.او ددې سندونه د یونیورستی د اوچتو ډګرو سره برابر شول.
بیا د مولانا محمد ادریس میرتهي رحمه الله د وفات نه پس ۱۹۸۹عیسوی کښې د وفاق المدارس د صدارت ذمه واری په ما باندې واچولې شوه.چه تراوسه پورې جاري ده.
بیا په کال ۱۹۸۳عیسوی کښې د سواد اعظم بنیاد کیخودې شو.په دې سره الحمد لله عالمان په یو فلیټ فارم باندې جمع شول.(یعني متحد شول) او د رافضیانو سرګرمۍ کمزورې شوې.

زما محسن استاذان: هسې خو ټول استاذان مشفق وو.خو زما په ژوند کښې د ټولو نه زیات بدلون، د دیني جذباتو پرورش، د اخلاقو د حسن او قبح احساس، ددې اصلاح طرف ته توجه، او همیشه دپاره خپل خان د دین په کسانو کښې د شاملولوشوق، اوجذبه، د حضرت مولانا مسیح الله خان رحمه الله په خدمت کښې پاتې کیدو سره پیدا شوی وو.دا بله خبره ده.چه زما نه د نفس او شیطان د دهوکه کولو د وجې څه جوړ نشو.خو په دې باندې شکرګزار یم.چه داهل حق عالمانو او اهل اصلاح لمن مې رانیولې ده.او امیدوار یم.چه په دې تعلق به راسره الله تعالی د عفو اوبخښنه معامله اوکړي. او مغفرت به مې اوکړي.((وما ذلك على الله بعزيز))
زما بل محسن استاذ د هغوی د شاګردئ په وجه مې د حدیثو سره مناسبت پیدا شوې دې. اوددې سره تعلق پیدا شوې دې.هغه شیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد

---

(۱) د دوی شاګردان په دې وخت کښې تقریباً د دنیا په اکثرو ملکونو کښې خواره شوي دي.او په قابل ذکر دیني خدمتونو کښې مصروف دي.په هندوستان کښې په ډیرو مدرسو کښې د دوی شاګردان د حدیث شیوخ دي.په پاکستان کښې خو دا دائره نوره هم خوره ده.مولانا مفتي محمد رفیع عثماني ،مولانا مفتي محمد تقي عثماني، مولانا شمس الحق صاحب، مولانا مفتي نظام الدین شامزئ ، مولانا حبیب الله مختار او مولانا عنایت الله صاحب دامت برکاتهم د دوی ممتاز شاګردان دي.

مدني ؒ نورالله مرقده دے.

دحضرت د ترمذي درس به روزانه دوه دوه گهنټے دوه نيمے گهنټے په داسے کيفيت سره کيدلو. چه دلته نظرونو ته هغه ښکلے منظرته کتل چرته نصيب کيدے شي.هغه شيخ د زمانے چه دهغوي د ديني، ملي، سياسي، سماجي، اصلاحي، انتظامي، او درسي خدماتو څه حد نه وو.هغوي د استقامت او ثبات لوئے غر وو.کله چه به درس ته کيناستلو.په مخ به ئےدخوشحالئ آثار ښکاره وو.شخصيت ئےدومره زړه راښکونکے او دلربا وو.چه زړه به هم هغوي طرف ته متوجه وو.کوم طالبان چه به ټول کال درس ته حاضريدل.دهغوي دپاره به دحضرت په ذات گرامي کښے د اولے ورځے پشان نوے جذبه اوجاذبيت وو.خيال راته راځي.چه درسول الله ﷺ د عاشقانو کله دا حال وي.نود نبي ﷺ به په خپله کوم حال وو. الله اکبر

دحضرت په درس ترمذي کښے به په فني مباحثوباندے ښه بحث کيدلو.اسناد. جرح وتعديل، او د تطبيق او ترجيح مباحث، فقهي،کلامي، تاريخي مسائل، او اخلاقي او اصلاحي خبرے به ئے ډيرے په بسط اوتفصيل سره بيانولے.صحاح سته او نور کتابونه به ئے ځان سره ايخودي وو.دحوالے هرے خبرے دپاره به ئے کتاب پرانستلو. اود هغے عبارت به ئے وئيل.اوبيانول به ئے.اوپه دے تفصيلي سبق کښے به دومره اطميان وو.چه چرته دا به نه محسوس کيدله.چه د هغوي ددے کار نه سوا څه بل کار هم شته؟ د طالبانو دهر قسم سوالونو تفصيلي جوابونه به ئے ډير په خوشحالئ سره ورکول.کله به ئے هم د مخ نه انقباض نه ښکاره کيدلو.بلکه د انبساط او خوشحالئ کيفيت به ښکاره وو.هم دا درس ترمذي د احقر ددے علم سره د مناسبت پيدا کيدو بنياد دے.او ددے سره د مولانا اعزاز علي ؒ شيخ الادب والفقه د هغوي درس ابوداود هم معاون وو.دهغوي د درس نه هم احقر ډير څه زده کړي دي.ترمذي شريف کتاب السير نه تر آخره پورے مع شمائل احقر د شيخ الادب صاحب نه وئيلي دي.د تدريس په زمانه کښے د حضرت شيخ الحديث مولانا زکريا صاحب نورالله مرقده د تصنيفاتو او حواشي نه مے ډيره استفاده کړے ده . د حضرت شيخ الاسلام قدس سره نه پس که د علم حديث په سلسله کښے په ما باندے د ټولو نه زيات احسان دے.

نوهغه دشيخ الاسلام صاحب دے.بذل المجهود أوجزالمسالك، الكوكب الدري، لامع الدراري، تقرير بخاري دهر يو نه مے ښه پوره استفاده کړے ده.اوآخري دوه کتابونو خو اوس هم برابر زما په مطالعه کښے دي.

دے ظلوم او جهول کله دا سوچ هم نشو کولے.چه ددے مبارك او عظيم الشان منصب دپاره به زما نه هم کار اخستلے شي.بس د درس او تدريس ډير زيات شوق هم وو.اوهميشه دپاره هم په دے کښے مشغوليت هم وو.خوچه کله ما پنځه ويشت خله د بخاري درس ورکړلو.نوالله تعالى د بخاري شريف د درس ټيپ کولو انتظام ته برابرے ورکړلو.حالانکه زما ددے نه ويره هم کيدله.اوما دخپل سبق دومره اهميت هم نه گڼړلو.خو د طالبانو اصرار زيات شو.او دالله تعالى په نوم باندے دا کار شروع شو.بيا دالله تعالى په توفيق سره محنت مے هميشه دپاره زيات کولو.او ټول کار صحت اوتازگي برقراره وه.او دغه شان دوه نيمے گهنټے درس د

روزانه معمول مطابق په یوویشتم شوال مطابق ۱۹۸۶عیسوی باندے شروع شو.اوپه لسم رجب ۱۴۰۷ھ مطابق ۱۹۸۷عیسوی پورے کتاب ختم شو.دکال په آخر کښے څو ورځے د شپے هم تدریس اوشو

د درس په دوران کښے د بخاری موجوده اردومطبوعے، د عربئ د شروحاتو نه د ضرورت مطابق استفاده حاصلولے شوه.دحضرت مولانا خیرمحمد جالندهری رحمه الله د غیر مطبوعه شرح بخاری نه هم استفاده واخستے شوه.په فقهی مسائلو کښے د فقهاؤ او علماؤ د مذاهبو تنقیح. د قدیم اوجدید شارحینواو محدثینو په کلام باندے نقد ونظراو د مکرر روایاتو خودنه وغیره امورو کښے مے عام طور د شیخ الحدیث علامه محمد یونس صاحب دامت برکاتهم اتباع کړے ده.څومره چه به وه.که د حضرت مولانا صاحب د بخاری شریف پوره تقریر راته ملاؤ شوے وے.په تفسیری مباحثو کښے مے اکثردعلامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله د فوائدو نه استفاده کړے ده.

دا ټول اسباق په څلور سوه کیسټو کښے محفوظ دی.یوځل مے د خپلے بیمارئ په زمانه کښے دجلد اول سبق هم ددے کیسټو نه خودلے وو.اویوځل د خپلے سابقه تجربے مطابق پوره جلد ثانی په کیسټو باندے لوستلے شوے وو.هم دے طریقه دا کیسټے ما واوریدل.(چه طالبانو نه مے ددے په ذریعه درس ورکولو)ګنی ددے نه بغیر ددے اوریدل زما دپاره ممکن نه وو.ددے دوو کرتو نه علاوه د سبق معمول د کیسټو نه بغیرجاری دے.

اوس چه په دے تقریرباندےدطباعت کارشروع شوے دے.نوجناب مولانا نورالبشر صاحب زید مجدهم په اول جلد باندے د تعلیق او مراجعت کار کوی.او جناب مولانا ابن الحسن عباسی زید مجدهم په جلد ثانی باندے هم دا خدمت کوی .دے حضراتو دتعلیق اومراجعت کارد احقر په راهنمائی کښے اصل تقریر په کتابی شکل کښے مرتب کړلو.په بعضے مضامینو کښے اضافه او په بعضو کښے کمے هم شوے دے.لکه چه دنظرثانی په وخت کښے دارباب تصنیف همیشه دپاره دا طریقه پاتے شوے ده.مذکور الصدر دواړو معززو رونړو چه په کوم سلیقے، شوق، اوکامیابئ سره دا سلسله جاری ساتلے ده.امید دے چه په دے سره به پوره تقریرپه حسین اوجمیل اندازکښے د بیشمیره فوائدو اوعظیم الشان تحقیقاتو سره د طباعت په زیور باندے ښائسته شی.اود طالبانو او استاذانو دپاره به د فائدے نه خالی نه وی.

د مذکور الصدر دواړو معززینو سره مولانا اسدالله صاحب او مولانا محمد عظیم صاحب د معاونینو په حیثیت په دے کار کښے مشغول دی.دالله تعالی نه سوال دے.چه ددے ټولو حضراتو په علم اوعمل، ایمان اویقین، رزق او مال،عزت او جاه، او عمر کښے برکت واچوی.اوپه دواړوجهانونو کښے ورته خپله رضا او قرب نصیب کړی.آمین ثم آمین

انسان د خطاء اونسیان نه جوړ دے.څکه د غلطئ امکان په هرحال موجود دے.که اهل علم چرته په څه غلطئ باندے خبر شی.نوخبردارے دے راکړی.او د شکریه موقع دے راته راکړی.

شيخ الاسلام والمسلمين آية من آيات رب العالمين .سيدنا وسندنا حضرت مولانا سيد حسين احمد مدني نورالله مرقده وبرد مضجعه

پيدائش اوحليه ددوی پيدائش په ۱۹ شوال ۱۲۹۶ هـ مطابق ۱۸۷۹ عيسوی د نهې (سه شنبه) په ورځ د شپې په بانگر مؤ ضلع اناؤ يوپی انډيا کښې شوې وو.ددوی پلار هلته په اردو مډل سکول کښې هيډ ماسټر وو.ددوی تاريخی نوم ،چراغ محمد،، مقرر شوې وو . د دوی رنګ تورواليٰ ته مائل، قددرميانه، پلن بدن، بارعب کتابي مخ، گوره زيره، پلن نوراني تندې، په تندی د سجدې نښې، روښانه سترګې، پراعتماد لب اولهجه. په تګ کښې د زمرو پشان بې خوفي، اوزړه د عاجزئ نه ډك وو.

نسب حسين احمدبن سيد حبيب الله بن سيد پيرعلي بن سيد جهانگيربخش بن شاه انور اشرف- شاه نور اشرف هغه مورث اعلی دے چا چه آله دادپور قصبه ټانډه ته تشريف راوړے وو. اودلته ئے ستوګنه اختيار کړې وه.

ددوی څلور رونړه او يوه خور وه.مولانا سيد صديق احمد او مولانا سيد احمد مشران وو.او د دارالعلوم فاضلان وو.مولانا سيد جميل احمد او مولانا سيد محمود احمد کشران وو.د دے دوارو تعليم په مدينه منوره کښې شوې وو.حضرت شيخ مينځنې وو.اود دوی تعليم په ديوبند کښې شوې وو.مولانا صديق احمد د ۴۱ کالو په عمر ۱۹۱۱ء کښې په مدنيه منوره کښې وفات شو.مولانا سيد احمد باني د مدرسه علوم شرعيه مدينه منوره هم په ۱۹۴۰ عيسوی کښې په مدينه کښې وفات شو.اود آخزت باقي کور ته منتقل شو.مولانا جميل احمد بيښې په ځوانئ کښې د ،،دق سل،، په بيمارئ کښې اخته شو.اوپه کال ۱۹۰۹ کښې او مولانا محمد احمد د ۸۲ کالو په عمر کښې د ډير کامياب ژوند تيرولو نه پس په کال ۱۹۷۳ عيسوی کښې په مدينه منوره کښې خپل مالك حقيقي سره ملاؤ شو.

دا خاندان کم و زيات په دريمه صدئ هجرئ کښې د مدينې منورې نه تلې وو.اوپنځه سوه کاله پس ترمذ، چه لاهور سره دے په ضلع فيض آباد يوپی قصبه ټانډه کښې ئے قيام کړے وو.بيا په آخره د شعبان کال ۱۳۱۶هـ مطابق ۱۸۹۹عيسوی کښې د نن نه تقريباً يوسل پنځه ويښت کاله وړاندې ذيقعده کال ۱۳۹۶هـ کښې مکې مکرمې ته لاړل.او دحج د فراغت نه پس په ۲۵ ذی الحجة کال ۱۳۱۶هـ مطابق مئ ۱۸۹۹عيسوی کښې مدينې منورې ته داخل شو.

دعزتمند پلار صاحب مختصره يادګيرنه دحضرت شيخ الاسلام قدرمند پلار جناب سيد حبيب الله صاحب ۱۲۵۳هـ کښې په آله داد پور کښې پيدا شوې وو.دا قصبه ټانډه ضلع فيض آباد سره يو کلې وو.کومه چه نن صبا د قصبه ټانډه يوه محله ده.د دوی وفات د ايډريا نويل نظربندئ په زمانه کښې دشيخ الاسلام د اسارت مالټا ۱۹۱۷عيسوی نه څه ورځې پس د اويا کالو په عمر کښې په ترکی کښې شوې وو.

دوی قرآن کريم، اود اردو، فارسئ اوهندی بهاشا تعليم حاصل کړې وو.په اردو مډل سکول کښې ئے ملازمت کړې وو.او د هيډماسټر په عهده باندې فائز شو.

دوی ته د مولانا فضل رحمن گنج مراد آبادی نه شرف بيعت حاصل شوې وو. د دوی زړه به

همیشه دپاره د دیارحبیب په یاد کښے بیتابه وو.د ۱۰۵.کالو په عمر کښے چه کله د شیخ انتقال اوشو.نود هجرت د سفر نیت ئے اوکړلو.ددے عزم او ارادے خبر چه کله خپلو خپلوانو اوتعلق دارو ته اوشو.نود حالاتو د خرابئ. او د لرې والی اوفراق او مهجورئ حواله ئے ورته ورکړله.اوبعضے خپلوانو ورته درخواست اوکړلو.چه په دے اراده باندے عمل مه کوئ.نو دوی اوفرمائیل.که ماته دا یقین اوشی.چه ما د توپے خولے ته مخامخ کوی.او توپه راباندے چلوی.نوهله به زه مدینے ته رسم.نوزه دے ته هم تیار یم.
دوی ته په اردو، فارسئ او هندئ کښے د شعر وئیلو ملکه راسخه حاصله وه.زیات تراشعار ئے نعتیه وو.د دوی ارشاد دے.

اے بہار باغ رضوان کوئے تو ‎ ‎ ‎ بلبل سدره اسیر موئے تو
سجده ریزان آمده سویت حبیب ‎ ‎ ‎ اے هزاران کعبه در ابروئے تو
اس حبیب دل خستہ پر نظر ہو جائے ‎ ‎ ‎ دردمندون کی دوا آپ کیے جاتے ہیں
سر رہے یا نہ رہے پر رہے سودا سر میں ‎ ‎ ‎ عشق احمد کا خدایا یہی ہم چاہتے ہیں

د شیخ الاسلام په دارالعلوم دیوبند کښې داخله: د مډل دتعلیم لاَیو کال باقی وو.چه د صفر په اولنو ورخو کښے دوی د دینی تعلیم دپاره دیوبند ته اولیږلے شو.دلته کښے ددوی دوه مشران رونړه مولانا محمد صدیق او مولانا سید احمد د وړاندے نه زیر تعلیم وو.
د حضرت شیخ الهند په ارشاد باندے ورته د ابوداود شارح حضرت مولانا خلیل احمد سهانپوری خصوصی طور دګلستان او میزان الصرف سبقونه شروع کړل . په علم کښے د غیر معمولی امتیاز په وجه دوی همیشه دپاره د استاذانو دنظرونو مرکز او دهغوی د سترګو ستورے وو.د شیخ الهند رحمه الله د قدرمند پلار مولانا ذوالفقار علی رحمه الله نه دوی فصول اکبری اووئیله.په نورو استاذانو کښے ئے شیخ الهند، مفتی عزیزالرحمن، مولانا خلیل احمد شارح ابوداود وغیره رحمهم الله شامل وو.
په دارالعلوم دیوبند کښے دوی اته کاله علم حاصل کړے وو.او دوره حدیث ئے مکمل کړلو.حضرت شیخ الهند رحمه الله دخصوصی توجه او شفقت د وجے واړه او لوئے دریوښت کتابونه دوی ته په خپله وئیلی وو.
د حجاز مقدس سفر: د شعبان ۱۳۱۶ھ په آخری ورخو کښے د حجاز مقدس په اراده چه ئے کله د دیوبند نه روانګی اوشوه.نو شیخ الهند د نورو حضراتو رحمهم الله سره دوی سره استیشن پورے پیدل تشریف یوړل.چه مدینے منورے ته اورسیدلو.نو د استاذانو او مشائخو د تاکید اوهدایاتو مطابق ئے درس او تدریس شروع کړلو.او ورسره ئے د ذکر، مراقبے، احسان او سلوک منازلو سر کولو کښے مشغول شو.
په مدینه منوره کښې د دوی د درس حالات: مولانا عاشق الهی میرتهی ددوی د درس په خپلو سترګو لیدلے حال دا بیانوی. دمولانا حسین احمد صاحب درس په حرم نبوی کښے الحمد لله ډیر په ترقئ دے. او عزت اومرتبه ورته هم الله تعالی هغه ورکړے ده.چه دهندوستان عالمانوته خو لاڅه چه یمنی شامی بلکه مدنی عالمانوته هم هغه خبره نه ده حاصل ((ذلك فضل الله یؤتیه من یشاء))

د دستاربندئ جلسه په کال ۱۳۲۸ھ کښے دوی د مدینے منورے نه دیوبند ته تشریف راوړلو اوپه جلسه د دستاربندئ کښے ئے شرکت اوکړلو اول د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله دستار بندی اوشوه.بیا د حضرت شیخ الاسلام دستاربندی اوشوه.دوی ته یوخصوصی دستار قطب العالم دحضرت گنګوهی رحمه الله خوئی حضرت مولانا حکیم مسعود احمد چه د مدرسے سرپرست وو.هغوی ورکړلو.او دریم دستار ورته مولانا حکیم محمد احمد رامپوری چه د مجلس شوری رکن وو.هغوی ورکړلو.

په مدینه منوره کښې قیام اولنے قیام ئے دوه کاله ۱۳۱۷ھ نه تر ۱۳۱۸ھ پورے او دویم قیام ئے د ۱۳۲۰ھ نه تر ۱۳۲۶ھ پورے اووه کاله وو.دریم قیام ئے ۱۳۳۰ھ نه تر ۱۳۳۱ھ پورے وو خلورم قیام ئے د ۱۳۳۴ھ نه تر ۱۳۳۵ھ پورے وو.په دے پنځلس کاله کښے دوی د سلوك اواحسان تکمیل اوکړلو.اوحضرت گنګوهی په خرقهٔ خلافت باندے سرفرازکړلو.د تدریس اوترغیب او جهاد سلسله ئے جاری اوساتله.او د حق مسلك دفاع ئے اوکړله.

د مالټا قید او خلاصیدل ۱۹۱۴عیسوی کښے د جنګ عظیم نه پس چه کله انګریزانو په هندوستانیانو باندے او بیا خاص کرد مسلمانانو خلاف ظلمونه د حد نه زیات شو.نوحضرت شیخ الهند رحمه الله دحاجی ترنګزئ په ذریعه د انګریزی فوځ خلاف د جنګ شروع اوکړله.ددے تیاری د وړاندے نه شروع وه.په دے جنګ کښے برطانیے ته پرله پسے جانی او مالی نقصان اوشو.اوماتے ئے اوخوړلو.بل خوا شیخ الهند رحمه الله د خپل دے مقصد دپاره خپل سفیر مولانا عبیدالله سندهی،مولانا میان منصور. مولانا سیف الرحمن وغیره افغانستان. ترکی. جرمی وغیره ته لیګلی وو.او دا حضرات خپلوخپلو مرکزونو ته رسیدلی وو.اوپه کامیابئ سره په خپل کار کښے مشغول وو.په دے کښے معلومه شوه چه دحضرت شیخ الهند رحمه الله ټوله منصوبه اوتحریك دبرطانیه حکومت په علم کښے راغلو.(دا تحریك د ریښمی رومال په نوم باندے مشهور دے) په دے حالاتو کښے شیخ الهند رحمه الله حجاز مقدس ته اورسیدلو.اوخلافت عثمانیه سره ئے رابطه اوکړله .اودهندوستان د آزادئ دپاره ئے ترے د مدد اخستلومنصوبه جوړه کړه.اوپه څه چل ول حجازته اورسیدلو.اوسلطنت عثمانیے د مشرانو سره ئےکامیاب مذاکرات جاری وو.چه شریف حسین چه دمکے ګورنر وو.هغه د خلافت عثمانی نه بغاوت اوکړلو . اوانګریزانو سره ملاؤ شو.او د انګریزانو په وینا باندے ئے حضرت شیخ الهند رحمه الله او دهغوی څلور ملګری چه حضرت شیخ الاسلام په کښے هم وو.بندیان کړل.او دا حضرات مصر اومالټه ته روان کړے شول.

بابدان یار شد شریف حسین خاندان شرافتش گم شد (شیخ الهند رحمه الله)

د مالټے نه د درے کاله او اووه میاشتو نه پس په ۸جون ۱۹۲۰عیسوی مطابق ۲۰ رمضان ۱۳۳۸ھ کښے آزاد شو.او دا حضرات بمبئ ته راورسیدل.

په سلهټ کښې تدریس ۱۹۲۳ء نه تر ۱۹۲۸ء پورے شپږکاله په سلهټ کښے ئے قیام اوکړلو.په دے دوران کښے ئے نه یواځے سلهټ بلکه پوره بنګال د دینی علوم اوعلوم معرفت نه ډك کړل.

دارالعلوم دیوبند ته راتګ. په دارالعلوم کښې یو انقلاب راغلو.لوئې استاذان سره د حضرت علامه محمد انورشاه کشمیری،مفتی عزیزالرحمن،اوعلامه شبیراحمدعثمانی رحمهم الله وغیره دارالعلوم پریخودل.او ډابهیل ته لاړل.نو مولانا حبیب الرحمن (مهتمم) او مولانا محمد طیب (نائب مهتمم)دحضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله (سرپرست) په مشوره سره د دارالعلوم مقام،اوددې وقاراومرجعیتاومحبوبیت برقرار ساتلو دپاره د شیخ الاسلام رحمه الله نه دارالعلوم ته د تشریف راوړلو درخواست اوکړلو.په داسې وخت کښې دارالعلوم ته هم د داسې صاحب عزیمت، حامل شریعت وسنت، مجاهد آزادی وسیاست ضرورت وو.چه هغه د شیخ الهند رحمه الله د ګده نشنئ په ټولو وجوهو سره حقدار وو.

دحضرت شیخ الاسلام نه د مزاج تپوس کولو نه پس حضرت تهانوی رحمه الله یو خط اولیکل اوهغه ئې د شیخ الاسلام رحمه الله په خدمت کښې پیش کړلو.

..حضرت مولانا مولوی حسین احمد تقرری په حیثیت د صدر مدرس په ۱۵۰ روپئ ماهوار باندې دکارشروع کولود تاریخ نه مجلس شوری ته منظور ده.د حضرت ممدوح اعلی شخصیت او علمی تبحر په لحاظ سره ذکر شوې مشاهره بالکل کافی نه وه.خو د حضرت ممدوح د نیت اخلاص او د دارالعلوم د خدمت د جذباتو نه مونږ امید کوو.چه حضرت ممدوح به دا منظور کړی.او مجلس شوری ته به د شکرګزارئ موقع ورکړی.او د دارالعلوم په حالت باندې به خپل توجهاتو اوبزرګانه اخلاقو سره د رحم نظر اوکړی.اودا به په کامله توجه سره به دا (ذمه واری) قبوله کړی.لکه څنګه چه د حضرت ممدوح د استاذ حضرت شیخ الهند رحمه الله طریقه وه. (فقط اشرف علی ۲۰رجب ۱۳۴۸ه)

شیخ الاسلام په ډیره مشکله اهل سلټ راضی کړل.او د څو شرائطو سره ئې خپله امادګی ظاهره کړه.(چه په سیاسی نظریاتو کښې به پوره آزادی وی.د آزادئ په تحریك کښې به شرکت باندې اعتراض نشی کولې.وغیره) د دارالعلوم د منتظمینو نه زیات د حضرت د مزاج نه زیات څوك واقف کیدې شو؟(بلکه دوی د شیخ الاسلام په مزاج ښه پوهیدل) او دشیخ الهند رحمه الله د ګده نشینئ دپاره دهغوی په نزد بل بزرګ ددې حقدار څنګه کیدې شو.(بلکه حضرت شیخ الاسلام ددې حقدار وو) بیا چه په حالاتو باندې پوره قابو راولی.د دې دپاره د حضرت شیخ الاسلام نه سوا بل څوك نه وو.نوځکه پوره په انشراح اوخوشحالئ سره ټول شرطونه اومنلی شول.او په کال ۱۹۲۸ء کښې د صدارت مسند سنبهالولودپاره دوی دیوبند ته تشریف راوړلو.او د دوی په وجه ټول خطرات، انتشار، اواضطراب کوم چه وختی طور پیدا شوې وو.ختم شو.او موافقینو اومخالفینو ټولو ته دزړه تسلی او سکون نصیب شو.بیا چه د دیوبند اسلامی، علمی،اخلاقی، روحانی، اوسیاسی مرکزیت وو.په دې ټولو لحاظونو سره حضرت شیخ الاسلام د دې خدمات اوکړل.اوچه په کومه طریقه ئې د ملك اوملت قیادت اوکړلو.نودلته د هغې د بیان ګنجائش نشته.

دشیخ الاسلام سیاسی ژوند دوی د تحریك خلافت،اوجمعیت علماء هند د پلیټ فارم نه په سیاسی میدان کښې قائدانه کردار ادا کړې دې.او د خپلوخان قربانونکو اوقائدانه سرګرمو په ذریعه ئې ددې لارې ټول تکلیفونه او مصیبتونه چه د خپلو او اغیارو د طرفه لکه د باران

پښتانه وریدل اوزغمل او هندوستان ئے آزاد کړلو.اوددے په آزادئ ئے د اسلامی ملکونو دآزادئ دپاره یوه لاره پیدا کړه.

یوخوا چه د آزادئ تحریك خپل مقصد ته نزدے کیدلو.نو تقسیم هند هم زور شروع کړے وو.چه مسلم لیګ دتقسیم جنډا اوچته کړه.نوحضرت مولانا شبیر احمد عثمانی حضرت مولانا ظفراحمد عثمانی حضرت قاری طیب مهتمم دارالعلوم دیوبند او د دوی په زرګونو عالمانو ﷺ د ملك د تقسیم په خبره کښے د مسلم لیګ د جنډے لاندے شول.دوی ته د حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی ﷺ حمایت اوتائید حاصل وو.بل طرف ته جمعیت علماء هند د ملك تقسیم د مسلمانانودپاره په مستقبل کښے نقصانی ګڼړلو.خکه هغوی د تقسیم مخالفت اوکړلو .ددے عالمانوقیادت شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد مدنی ﷺ کولو .دلته سوال دپاکستان د مخالفت یا حمایت نه وو.لکه چه د پروپیګنډے او شور او واویلا په ذریعه دا خبره خورولے شوه.بلکه سوال په حقیقت کښے دا وو.چه د آزادئ کوم صورت به د مسلمانانو د مستقبل دپاره سودمند، غوره اود کامیابئ ضامن وی.اوپه دے کښے خو په چا باندے وحی نه نازلیدله.فیصله په انسانی سوچ او رائے باندے کول وو.او په انسانی رائے کښے د خطا او صواب دواړو احتمال وی.

دتقسیم حمایتیانو دا ګڼړل.چه دمغربی تهذیب نه دخلاصی دپاره،اود مسلمانانو په خپل اسلام دعمل کولو دپاره، او خپل ژوند قرآن او سنت په قالب کښے اچولو دپاره صرف دا یو صورت دے.چه ملك تقسیم شی.او مسلمانانو ته یوه جدا د زمکے حصه ورکړے شی.په کوم خائے کښے چه دوی خپل دین نافذ کړی.اوپه دے باندے په عمل کولو کښے آزاد وی.دتقسیم د مخالفینو دا وینا وه.چه د انګریزانو نه صرف آزادی حاصله کړئ.نور څه مه کوئ.که د دے نه جداوالے اوشی.نوهغوی به یقیناً په مسلمانانو باندے ډنډے اوچلوی.اوبیا په ټول عمر پښمانه وی.د تقسیم حامیانو ته په دے باندے دا اعتراض وو.که دانګریزانو نه اجتماعیت سره آزادی حاصله کړے شی.نو روستو به بیا هندوان په مونږ باندے غالب شی.او هغوی به مونږ ته څه هم رانکړی.د تقسیم مخالفینووئیل.چه ددے خطرے بندون د وړاندے نه شوے دے.متحده بنګال، آسام، متحده پنجاب، کشمیر، سرحد، سنده او بلوچستان دا علاقے به دمسلمانانو وی.د دوی به خپل قانون او دستور وی.او دا به هم د دوی په مرضئ باندے وی.چه دوی د مرکز سره اوسیږی.اوکه جدا کیږی. باقی پاتےشوه د هندوانو خطره نوهغوی اګرچه په اکثریت کښے دی.خوهغوی دومره زړه ور نه وی.چه د مسلمانانو دومره عظیم او متحد طاقت مغلوبه کړی.حالانکه یو ډیر طاقتور او تربیتیافته فوځ هم د دوی په قبضه کښے دے.

تقدیر د هندوستان د تقسیم په باره کښے فیصله اوکړله.او د بل موقف نفی ئے اوکړله.
انګریز اول متحده بنګال او آسام تقسیم کړلو.متحده پنجاب ئے تقسیم کړلو . کشمیر ئے د پاکستان نه جدا کړلو.او د مسلمانانو مجتمع قوت ئے منتشر کړلو.بیا کافرانو پاکستان په دوو حصو تقسیم کړلو.او په نتیجه کښے اسلامی قوت په پاکستان او بنګله دیش، هندوستان او کشمیر څلورو حصو کښے تقسیم شولو.او د هندوانو اکثریت یو پاتے شو.

دتقسيم په ذريعه چه پاكستان په وجود كښے راغلو نو ددے نه پس شيخ الاسلام په خپل موقف كښے ناكامئ نه د ..انا.. مسئله جوړه نكړله بلكه په پاكستان كښے ئے خپلو متعلقينو ته هدايت اوكړلو چه د پاكستان نه د اسلام قلعه جوړه كړئ او ددے د محافظينو لاسونه مضبوط كړئ دپاكستان مثال د يو جمات پشان دے چه ددے په نقشه كښے اختلاف كيدے شي خوچه كله جمات جوړ شي نو چه هغه په كومه نقشه باندے هم وي هغه جمات وي او د ټولو دپاره قابل احترام وي.
خوافسوس چه مونږ دالله تعالى دا راكړے ملك د نيمے صدئ تيريدو نه پس د تباهئ په غاړه باندے اودرولو دكوم بدشكله صورت نه چه شيخ الاسلام رحمه الله د آزادئ نه وړاندے ويريدل كولو د مسلمانانو متحده طاقت درے ورے شو د برصغير د مسلمانانو مستقبل لكه چه په تيارهٔ كښے پريوتے دے د بنگله ديش مسلمان د تحفظ نه محروم دي د بهارت مسلمان په تخته دار دے كشمير د مسلمانانو قتل گاه جوړه شوے ده د حيدرآباد دكن مسلمانان د ذلت اومسكنت شپے ورځے تيروي جوناگړه د دنيا د نقشے نه ختم كړے شوے دے د پاكستان مسلمانان د ظلم او استحصال ښكار دي.
د تقسيم دمخالفت دويمه وجه دا وه چه د پاكستان قيادت د كومو كسانو په لاس كښے وو شيخ الاسلام د هغوى نه مطمئن نه وو د هغوى دا خيال وو چه د اسلامى اقدارو نه ناخبره دا قيادت به د اسلامى نظام په باره كښے خپل خوب ته عملى جامه وانه غوستلوئ شي اوانگريز به د خپلو پليتو مقاصدو دپاره ئے د څه مشكل نه دوى استعمالوى نوهغه د دوو قومونو نظريه چه د پاكستان په قيام كښے ئے بنيادى كردار ادا كړے وو اوكومه چه كفر داسلام نه د جدا كولو دليل وو دهغے د خورولو دپاره ضرورى وه چه په پاكستان كښے د اسلام، اهل اسلام، داصلاح او تقوى حقوقو ته هر قسم تحفظ حاصل وو او دكفراو ارتداد اوفسق او فجور د حقوقو دپاره څه ضمانت نه وو داوس نه نهٔ بلكه داولے ورځے نه ديره اهتمام سره ددے خلاف چليږو دلته كښے اسلام او مسلمانان پردى اومظلوم ښكارى او كفراوارتداد او فسق او فجور ته د ترقئ كولو آزادى حاصله ده.
د تقسيم نه پس چه كله د پاكستان په حاميانو بهارتى مسلمانانو باندے د مصيبتونو غرونه راپريوتل د هغوى ژوندونه د غم اووير په دلدل كښے انختى وو نو بيا هم هغه شيخ الاسلام او دهغه ملگرو ميدان ته راوڅانگل كلى په كلى اوگرځيدل اووعظ نصيحت، او تقريرونه ئے اوكړل د درديدلو مسلمانانو حوصله ئے اوچته كړله هغوى ته ئے د ايمان او يقين سبق وركړلو دبهروسے تلقين ئے ورته اوكړلو نو ددے دا اثر اوشو چه ريكديدونكى زړونه او خونيدونكى قدمونه مضبوط شول او ژوند خپل معمول ته راغلو.
دحق پرسته عالمانو هغه ډله چه دتحريك پاكستان په هره دسته كښے ئے په اول كښے كار كولو او دهغوى د كوششونو په نتيجه كښے دا معركه د كاميابئ طرف ته روانه وه مونږ نهٔ د هغوى په اخلاص باندے شك كوو اونه د هغوى دخپل ملك سره محبت ته چا په شكى سترگو باندے كتلى دى اوتركومے پورے چه د اسلام د ترقئ او د قرآن اوسنت د نفاذ سره د هغوى تعلق دے د هغے به څه بيان اوكړے.. عيان را چه بيان..

خودا هم يو تريخ او افسوسناك حقيقت دے چه د دے حضراتو د پاكستان نه كوم اميدونه وو هغه پوره نشو اونه د هغے د پوره كيدو په ظاهره څه اميد شته.بلكه په ۱۹۷۱ء كښے چه پاكستان په دوو حصو كښے تقسيم شو نو دپاكستان دا معمولى غوندے وجود هم په خطره كښے دے.كاش چه دا د نظر دهوكه وى.اوپاكستان محفوظ وى.مستحكم وى.او په حقيقت كښے د اسلام قلعه وى.آمين ثم آمين (۱)

سلوك او تصوف دوى ته چه د شيخ الهندؒ په دربار كښے كوم خصوصيت حاصل وو.د دے وجے نے په بل خائے كښے د بيعت كولو خيال هم چرته نه وو راغلے.نو حضرت شيخ الهندؒ نه نے د بيعت كولو درخواست اوكړلو.او ډير كوشش نے هم اوكړلو.خو هغوى ورته حكم اوكړلو.چه دحضرت گنگوهىؒ نه بيعت اوكړه.سره د دے نه چه زړه نے نه غوښتل.خو دحكم منلو دپاره مدينے منورے ته د روانيدو نه وړاندے گنگوه ته حاضر شو.اومولانا حبيب الرحمن عثمانىؒ دا اوونيل.چه مولوى صديق احمد خپل دواړه رونړه مولوى سيد احمد او مولوى حسين احمد د بيعت كولو دپاره راليږلى دى.او حاضر دى.دوى ورته د بيعت كولو درخواست اوكړلو.حضرت گنگوهىؒ سمدستى بيعت اوكړلو.او وے فرمائيل ورته چه ما خو درسره بيعت اوكړلو.خو اوس تاسو مكے معظمے ته څئ.هلته قطب العالم حاجى امدادالله صاحب قدس سره موجود دے.هغوى ته عرض اوكړئ.هغوى به درته ذكر تلقين اوكړى.

شيخ الاسلام فرمائى.اگرچه دا بيعت په نه زړه باندے شوے وو.خو د دے مبارك آثار دهغه ورځ نه ما په خپل ځان كښے محسوس كړى وو.

دحضرت حاجى صاحب په خدمت كښے په مكه معظمه كښے حاضرى اوشوه.او عرض نے ورته اوكړلو.چه حضرت گنگوهىؒ مونږ دواړو سره بيعت خو اوكړلو .خودا نے اوفرمائيل.چه د ذكر تلقين به دحضرت نه حاصل كړئ.نو هغوى ورته د ،،پاس انفاس،، تلقين اوكړلو.او ورته نے اوفرمائيل.چه روزانه د صبا په وخت كښے راځئ . او دلته كينئ.او دا ذكر كوئ.د دے نه پس مدينے منورے ته لاړلو.څه وخت پس حاجى صاحب وفات شو.خو تقريباً يو يونيم كال يا د دے نه هم څه زياته موده دوى د حضرت حاجى صاحبؒ د تلقين مطابق د ذكرسلسله جارى اوساتله.په دغه دوران كښے د رښتينى خوبونو او مبشراتو څه عجيبه سلسله شروع شوه.او دحضرت گنگوهىؒ سره په تعلق كښے ورځ په ورځ زيادت كيدلو.دحضرت سره خط كتابت هم جارى وو.په دے دوران كښے حضرت گنگوهىؒ دوى هندوستان ته راغوښتلو.دوى په ډير نامناسبه حالاتو كښے د سفر هغه تكليفونه اوزغمل.چه د هغوى په وهم اوگمان كښے هم نه وو.او گنگوه ته راورسيدلو.تقريباً درے مياشتے نے په گنگوه كښے قيام اوكړلو.حضرت گنگوهى ورته مراقبه د ذات بحث اوخودله.د مازيگر نه پس به مجلس ته حاضريدلو.اوپه دے مراقبه به نے عمل كولو.نور تول وختونه نے هم په عبادت، رياضت

---

(۱) مترجم وائى.الله تعالى د شيخ الحديث مدظلهم العالى دعا چه د پاكستان د حفاظت دپاره كړے ده.دا قبول كړے ده.ځكه چه الحمد لله نن په اسلامى دنيا كښے پاكستان يو ايتمى طاقت دے.چه د اسلام قلعه ورته هم ونيلى شى.اودشمن ورته په خيرنه سترگه د كتلو جرات هم نشى كولے .

اومراقبه کښے تیریدل چه یوه نیمه میاشت ئے تیره کړه.نوحضرت گنگوهی رحمه الله ورته دستار خلافت ورکړلو.په دغه وخت کښے دحضرت شیخ الاسلام رحمه الله عمر ۳۳ کاله وو.بیا په دے لار کښے چه الله تعالی په دوی باندے بیحده احسانات اومهربانئ اوکړے.هغه الله او د هغه بنده (شیخ الاسلام) ښه پیژنی.

د حضرت شیخ الاسلام نه بغیر دځه مبالغے نه په لکهونو خلق بیعت شول.او دهغوی عقائدو او اعمالو او اخلاقو اصلاح اوشوه.د رجوع ئے دا حالت وو.چه په یووخت به څو څو سوه کسانو بیعت کولو.د بانسکنډی آسام په آخری سفر کښے تقریباً شپږ زره کسان په وخت کښے په سلسله کښے داخل شول.او په لاوډسپیکر باندے د بیعت کلمات اوونیلی شول.هغه خوش نصیبه چه د معرفت او سلوك د لارے مراحل ئے پوره کړل.او الله تعالی ته اورسیدل.اومرتبه داحسان باندے فائزشول.د هغوی شمار ۱۶۷ دے.بهارت، بنگله دیش،برما، آسام، پاکستان، او جنوبی افریقه پورے تولو مقاماتو کښے دا فیض جاری اوساری دے.

دحضرت شیخ الاسلام عزیمت اوحمیت: دوی د عالمانو اواهل درس د حلقے نه بهرته قدم راواخستلو.او د وخت د اهمے مسئلے دانگریزی حکومت د عروج په وخت کښے ئے دحق اعلان اوکړلو.او د «كلمة حق عند سلطان جائر» دافضل جهاد شرافت ئے حاصل کړلو.دمالټے او هندوستان په جیلونو کښے ئے کلونه تیرکړل.اوسنت یوسفی ئے ادا کړلو.او د دنیا د عظیم ترین سلطنت وړاندےئے په کلونو خپله سینه نیولے وه.تردے چه د دوی مقصد پوره شو.بیا د فرائضو ادا کول، د نوافلو او مستحباتوپابندی، په مخالف ماحول کښے د معمولات محافظت، د وعدو پوره کول، او په لرے لرے جلسو او اجتماعاتو کښے شرکت،او ددے دپاره هر قسم تکلیفونه زغمل مستقل عزیمت دے.د اسباقو تکمیل، د میلمنوخدمت، د مریدانو تربیت، د بیشمیره خطونو جوابونه ورکول ددے ضعف او بوډاتوپ په زمانه کښے دا ټول کارونه د دوی د عزیمت اوهمت دلیل دے.حقیقت دا دے چه دوی په خپل ژوند کښے په«ان الله يحب معالى الأمورويكره سفاسفها» باندے عمل کړے وو.

حمیت د دوی د ژوند د کتاب ډیر روښانه عنوان دے.هم دے حمیت په کښے د انگریزانو د مخالفت جذبه پیدا کړے وه.اوهغه ترهغه وخته پورے سړه نشوه. تر څو چه انگریزان ددے ملك نه تلی نه وو.په تحریك خلافت او جمیعت علماء هند کښےهم دے روح کار کولو.او هم دے حمیت دوی همیشه دپاره څوان،مستعد اوسرگرم گرځولے وو.هم دا حمیت وو.چه په دوی باندے ئے د اسلام د دشمنانو خلاف په کلونو قنوت نازله وئیلے وو.او دا سے به معلومیدله.چه (د دوی د دعائیه کلماتو د وجے) په محراب کښے سوری کیږی.

دغه شان د دوی په صفاتو کښے ددوی انسانی عظمت ممتاز او منلے شوے وو . پاکیزه شخصیت، بے داغه ژوند، او اوچتو اخلاقو ددوی د ذات نه پاسه سره زر جوړ او ربنتینے ملغلره جوړه کړے وه.او د اخلاقو او طبعی هغه اوچتوالی ته ئے رسولے وو چه دهغے متعلق د اولے زمانے عربی شاعر وائی.

هجان الحی کالذهب المصفى　　　صبيحة ديمة يجنيه جان

ترجمه : د قبیلې سرې داسې د پاسه سرو زرو پشان دی.چه د باران صبا د زمکې نه اوچت کړې دی.او صفا کړې ئې دی.
د اخلاقی کمال باوجود په خپل خان بدګمانی کول.ددې د کمی استحضار او اعلان د انسانیت د عظمت دلیل او ددې خبرې ښکاره ثبوت دې چه انسان د نفس اماره د ګرفت، او دخودفریبۍ او خودپرستۍ نه خلاص شوې دې.دا صفت د شیخ الاسلام په ژوند کښې ډیرښکاره وو.او دا د هغوی حال وو.قال نه وو.

مهمان نوازی دحضرت شیخ الاسلام په ټول ژوند کښې په «الیدالعلیا خیر من الیدالسفلی» باندې عمل وو.هغوی ډیر کم د نورو احسان قبول کړې دې.بلکه هغوی په ډیرو خلقو احسان کړې دې.دهغوی مهمان خانه د هندوستان په وسیع مهمان خانو کښې وه.اود هغوی دسترخوان د هندوستان په لویو دسترخوانونو کښې وو.اوحقیقت دا دې چه د هغوی زړه ددې نه هم وسیع وو.د بعضې واقفینو اندازه ده.چه اوسطاً به روزانه پنځوس میلمانه وو.بیا په دې کښې به دهرې طبقې او هرحیثیت خلق وو.د شیخ بشاشت،انتظام، مستعدی، او اهتمام به خودله.چه هغوی ته ځومره د زړه خوشحالی اوروحانی خوند حاصلیږی.
ضیافت، مهمانوازی، او اطعام طعام د هغوی روحانی غذا او طبیعت ثانیه جوړ شوې وو. بیا میلمنو سره چه به هغوی په کومه عاجزۍ اوانکسارۍ او اعزاز او اکرام سره ملاویدلو. چه هغه به دې اولیدلو.نو بې اختیاره به درته دا شعر یادیدلو.

وإنی لعبد الضیف ما دام نازلاً وما شیمة لی غیرها تشبه العبدا

ترجمه : زه د میلمه غلام یم.ترڅو چه هغه زما په کور کښې وی.اوپه ما کښې هم دا یو صفت دې.په دې باندې زه غلام معلومیږم.
په دارالعلوم کښې تدریس او درسی خصوصیات : تقریباً دیرشت کاله دوی په دارالعلوم دیوبند کښې د بخاری شریف اوجامع ترمذی درس ورکړې دې.
① کله چه به حضرت قرات کولو.نوپه اول کښې به ئې د مسنون خطبې نه پس به ئې «فإن أصدق الحدیث کتاب الله وأحسن الهدی هدی محمد، وشر الأمور محدثاتها، کل محدثة بدعة، وکل بدعة ضلالة،وکل ضلالة فی النار،وبالسند المتصل منا إلی الإمام الحافظ الحجة أمیر المؤمنین فی الحدیث أبی عبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة بن بردزبة الجعفی البخاری رحمه الله تعالی ونفعنا بعلومه آمین» اولوستل.او د باب شروع به ئې د «قال»نه کوله.مثلاً «قال باب کیف کان بدء الوحی إلخ» به ئې اوونیل.او بیا به ئې دهرحدیث سره په شروع کښې «وبه قال حدثنا» لوستلو.
② د سند په اختتام به ئې د صحابی د نوم سره «رضی الله تعالی عنه وعنهم» وئیل. او په دې طریقه به ئې په دعا کښې د صحابی سره ټول راویان شریک کړل.
③ دحضرت تقریر ډیر روان، خوندور، او رفتار به ئې ډیر په مزه وو.یو یو لفظ به ئې ډیر په مزه په اوچت آواز د خولې نه راویستلو.مشکل مقامات به ئې ډیر په ساده انداز کښې د مثالونو په رڼړا کښې حل کول.

④ کله چه به ئې په یوه مسئله کښې په حدیث کښې توجیه بیانوله.اوتوجیهات به ګڼ وو.نوهره یوه توجیه به ئې جدا جدا شمارله.
⑤ د حدیث د کتابونو پوره سیټ به دوی سره پروت وو.د ټولو فقهاؤ دلیل به ئې کتاب پرانستلواو بیانول به ئې.د یو امام دلیل به د کتاب د حوالې نه بغیر نه پرېخودلو.
⑥ په سندبه ئې د ضرورت مطابق بحث کولو.او د جرح اوتعدیل د عالمانو اقوال به ئې نقل کول.
⑦ په حضرت شیخ الاسلام کښې وقار او تواضع دواړه جمع وو.د هغوی په درس کښې به طالب په ادب اواحترام سره متوجه وو.اوددې باوجود ئې د شفقت داحال وو.که د طالبانو په دوه دوه نیم سوه ډله کښې به چا تپوس کول غوښتلو.نود دوی هیبت به هغه د تپوس کولو نه نۀ منع کولو.⑧ دحدیث مفهوم به ئې داسې واضحه خودلو.چه د طالبانو په ذهن کښې به کیناستلو.⑨ که په حدیث به څه اعتراض واریدلو.نود اعتراض تشریح به ئې اوکړله.او مستند جوابونه به ئې بیان کړل.
⑩ په مشکلو مقاماتو کښې که به ضرورت وو.نونحوی ترکیب به ئې بیانولو.او د مشکلو الفاظو د حل په ضمن کښې به ئې د شاعرانو په کلام سره دهغې تائید پیش کولو.
⑪ د احکامو د فرضیت تاریخ به ئې بیانولو.
⑫ ددرس په دوران کښې به ئې په خوندورو قصو او تاریخی واقعاتو باندې خوند پیدا کولو.
⑬ د حق او باطلو فرقو دعقائدو به ئې زړه ته پرېتونکې تشریح کوله.او بیا به ئې په احقاق حق او په ابطال باطل کښې څه کوتاهي نه کوله.
⑭ په اختلافي مسائلو کښې به ئې دهرامام دلائل بیانول.اوپه آخر کښې به ئې د حنفي مذهب دحدیث سره داسې مطابقت بیانولو.چه دا به معلومیدله.چه حنفي مذهب د نبوی احادیثو عین مطابق دې.او دا چه امام ابوحنیفه رحمه الله ته په تفقه في الدین کښې هغه اوچت مقام حاصل دې.چه بل امام ته نه دې حاصل.⑮ دایمان او عقائدو بحث به ئې په بخاری کښې ډیر په تفصیل سره بیانولو.⑯ په اخلاقي او معاشرتي مسائلو باندې به ئې هم ښه بحث کولو.
⑰ د هندوستان او عالم اسلام په سیاسي مسائلو باندې به ئې هم عام طور دطالبانو د سوالونو په جوابونویا د زیربحث حدیث په مناسبت سره بیانول.
⑱ دمغازی د درس یو خاص خوند دا وو.چه حضرت د عربو د جغرافیه نه واقف وو.نوځکه به ئې د جهاد د مقاماتو جعرافیه ډیر په وضاحت سره بیانوله.
⑲ په متعارض احادیثو کښې به ئې د تطبیق پوره پوره کوشش کولو.برابره ده که تعارض به د راویانو د وجې راغلې وو.اوکه د نبی ﷺ د قول او فعل اختلاف به وو . او به ئې تطبیق کولو.اوکه تطبیق به ممکن نه وو.نوپه دلائلو سره به ئې د ترجیح طریقه اختیاروله.
⑳ په کتاب التفسیر کښې به ئې مختصر آیت پوره لوستلو.
㉑ دبخاری اول جلد درس به په اول کښې تفصیلي وو.په دویم جلد کښې به د مغازی او تفسیر درس تفصیلي وو.بیا به «علی سبیل السرد» کتاب ختمیدلو.دلته کښې به سند یا لغت یا فقهي مسائلو ته څه تعرض نشوکولې.

⑫ كه د يو حديث نه به د تصوف او احسان مسئله معلوميدله.نودهغې په اثبات كنبې به د حضرت د تقرير رواني او د طبعيت مستي د ليدلو قابله وه.داسې به معلوميدله.چه لكه عنبر(كب) ته د لامبو وهلو دپاره درياب ملاوْ شو.يا باز ته فراخه فضا.دحديث جبرئيل د تشريح په وخت كنبې به طالبانو ته داسې معلوميدله.چه په چمن كنبې بلبل چغيږي.د مذكوره حديث حزء ((فإن لم تكن تراه))توجيهات به ئې بيانول.او فرمائيل به ئې ..دريمه توجيه دا ده.كه په ((لم تكن)) كنبې كان تامه مراد واخستلې شي اومطلب دا شي.چه تاسو ته د فنا مقام حاصل شي.نوتاسو به الله وينئ . دا د غلبه حال يو كيفيت وي.په كثرت ذكر سره چه دقوت متخيله نه د تولو څيزونو شعور لاړ شي.تردې چه نه د ذكر شعورپاتې شي.اونه د ذاكر.بلكه صرف مذكوره شعور پاتې شي.(دې ته فناء الفناء وائي) نود ذكر او ذاكر د شعور نفي كومه چه په كثرت ذكرسره حاصل شوې ده.((فإن لم تكن)) دې.او صرف د مذكور (الله تعالى) شعور ((تراه)) وي. خو دا د غلبه حال كيفيت دې.حقيقت نه دې.منصور ته هم دا مرتبه حاصله شوې وه.چه هغه د ((أنا الحق)) نعره لګولې وه. خو ددې باوجود منصور عبادت نه وو پريخودې.هغه په عبادت كنبې مشغول وو . د دې نه معلومه شوه.چه دا كيفيت د غلبه حال كيفيت دې.د حقيقت سره ددې څه تعلق نشته.په حديث كنبې راځي.چه بنده دنوافلو په ذريعه داسې ترقي كوي.اوالله تعالى ته دومره نزدې شي.چه الله تعالى فرمائي.دده لاس دالله تعالى لاس شي.چه په هغې سره نيول كوي.دده نظر دالله تعالى نظر شي.چه په هغې سره كتل كوي.دده اوريدل دالله تعالى اوريدل شي.چه په هغې سره دې اوريدل كوي.دلته كنبې هم دغه كيفيت ته اشاره ده.حضرت اوفرمائيل.چه په داسې كيفيت راتلو باندې الله تعالى د خپل بنده سره داسې محبت كوي.لكه څنكه چه پلار بچي سره كوي.

⑬ دترمذي درس به داول نه ترآخره پورې پوره تحقيق اوتفصيل سره وو.

⑭ دحضرت په درس كنبې د سماع من الشيخ او قرات على الشيخ، د دواړو رواج وو.په اول كنبې به عام طور قرات على الشيخ وو.طالب علم به لوستل كول. او د كال په آخر كنبې به د مازيګر او ماسخوتن نه پس سماع من الشيخ وه.حضرت به په خپله قرات كولو.بالكل د كال په آخره كنبې د سالانه امتحان نه پس چه به كله د بخاري ختم وو.نو د سرد طريقه به ئې اختياروله.څو طالبان به مقرر وو.هغوي په قرات كولو.په كوم كال د تقسيم هند نه وړاندې چه احقر په درس كنبې شريك وو.نو د سالانه امتحان نه پس ئې تقريباً څلورويشت پنځويشت پارې په اته ورځې كنبې اووئيلې.اوپه ٢٨ شعبان باندې ختم شوې وو.

تصنيفات: ① نقش حيات : دا په دوو جلدونو كنبې دې.دا د دوي دخپل لاس ليكلي سوانح حيات دي.په دې كنبې ددوي خانداني حالات،د تعليم ورځې، د مدينې منورې هجرت وغيره او دخپل شيخ سره د مالټې د قيد حالات ذكر دي.ددې څبرو سره سره د هندوستان سياسي حالات خاص كر د انګريزانو چالبازي او دهغوي سياسي دهوكه بازو باندې تفصيلي تبصرې دي.② الشهاب الثاقب على المسترق الكاذب.دا كتاب د مولانا احمد رضا خان بريلوي په رد كنبې دې.چاچه د اكابرينو عالمانوتكفير كړې وو.③ د دوي مكاتيب چه د

مکتوبات شیخ الاسلام په نوم په څلورو جلدونو کښې چهاپ شوی دی.④ معارف مدینه دا ددوی د درس ترمذی شریف تقریر دے.چه په دوو جلدونو کښے شائع شوے دے.
⑤ اسیرمالٹا⑥ مودودی دستور کی حقیقت ⑦ متحده قومیت وغیره
بیبیانې او اولاد د دوی اوله نکاح په کال ۱۳۱۲کښې دطالب علمئ په زمانه کښے د ۱۶ کالو په عمر کښے شوے وه.بی بی محترمه په مدینه منوره کښے ۱۳۲۶ھ کښے وفات شوه. د هغوی نه یوه جینۍ زهره بی بی پیدا شوه.هغه په دمشق کښے په کال ۱۳۳۷ھ کښے وفات شوه.دویمه نکاح ئے د حافظ زاهد حسن مرحوم د لور سره اوشوه.چه دهغے نه دوه خامن الطاف احمد او اشفاق احمد پیدا شول.د محترمے بی بی او دوارو خامنو وفات ئے د مالټے د قید په زمانه کښے په مدینه منوره کښے اوشو.دریمه نکاح ئے د دویمے بی بی د کشرے خور سره اوشوه.چه دهغے نه مولانا محمد اسعد او یوه لور پیدا شوه.د لوروفات ئے په ماشوموالی کښے په سلټ کښے او د محترمے بی بی وفات ئے په کال ۱۳۵۵ھ کښے په دیوبند کښے اوشو. څلورمه نکاح ئے د مشر تره دمحمد بشیر صاحب دکونډے لورسره اوشوه.چه دهغے نه ئے اووه اولاد پیدا شول.د کشری بچی د پیدائش په وخت کښے د حضرت عمر تقریباً اتیا کاله وو.
د وصال په وخت کښے ددوی درے خامن او څلور لونړه وئے.مولانامحمد اسعد، مولانا محمد ارشد، مولانا محمد اسجد، ریحانه، عمرانه،صفوانه، فرحانه سلهم الله تعالی وحفظهم.
مولانامحمداسعد مدنی د جمیعت علماء هند صدر،مولانا محمد ارشد مدنی په دارالعلوم دیوبندکښے دحدیثواستاذ، اومولانا محمد اسجدمدنی د جمعیت علماء هند ناظم دے.
ماشاء الله خلف الصدق اوصاحب اولاددی.﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً﴾
دجولائی په نیمه میاشت کال ۱۹۵۷ء کښے ورته د سفرپه دوران کښے د ساه تکلیف شروع شو.سفر ئے پریخودلو.اوواپس دیوبند ته راغلو.د مرض سلسله ئے جاری وه.اود ساه تکلیف ئے د زړه په مرض کښے بدل شو.د دوائی، علاج او پرهیز سلسله ئے هم جاری وه.د ملاقاتونو عباداتواو سبق معمول ئے هم برقرار وو.په ۲۸ محرم کال ۱۳۷۷ھ کښے د بخاری آخری درس ورکړلو.ددے نه پس ئے مرض زیات شو.طبیبان او ډاکټران جمع شول.دوایانے علاج او خوراك ئے ورته هم اوخودل.کله به په هوش کښے هم راغلو.خو﴿كل نفس ذائقة الموت﴾ آخر په جمادی الاولی ۱۳۷۷ھ مطابق ۵دسمبر ۱۹۵۷ء کښے د ماسپخین نه وراندے شیخ الاسلام والمسلمین آیة من آیات رب العالمین، ګده نشین د شیخ الهندؒ خلیفه مجاز د قطب عالم مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ یادګار دحجة الاسلام مولانا محمد قاسم نانوتویؒ نقیب حاجی امدادالله صاحب مهاجر مکی شیخنا وسندنا مولانا سید حسین احمد مدنیؒ دالله تعالی د ډیرمخلوق نه په مخه ښه واخستلو.او د رفیق اعلی سره ملاو شو.
﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ آسمان راحق بود ګرخون ببارد برزمین[1]

---

(۱) دا ټول حالات د نزهة الخواطر (ج،۸) پرانے چراغ، مشاهیرعلماء دیوبند، چراغ محمد او شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدنی نه ماخوذ دی.

شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب رحمہ اللہ

دحضرت شیخ الهند پیدائش په کال ۱۲۶۸ھ مطابق ۱۸۵۱ء کښے د جنگ آزادئ نه شپږ کاله وړاندے شوے وو.ددوی پلار حضرت مولانا ذوالفقار علی رحمہ اللہ ډیر متبحر عالم،دحضرت ګنګوهی رحمہ اللہ په ملګرو کښے او د دیوبند په استاذانو کښے وو.علم ادب سره ئے خصوصی مناسبت وو.په عربی دیوانونو د دوی حواشی معروف او مشهور دی.

ددوی تصانیفو کښے ① التعلیقات علی السبع المعلقات ② تسهیل البیان فی شرح الدیوان للمتنبی ③ تسهیل الدراسة شرح دیوان الحماسة ④ الإرشاد إلی قصد بانت سعاد ⑤ عطر الوردة شرح قصیدة البردة او ⑥ تذکرة البلاغة. په دے آخری کتاب کښے دوی علم معانی اوبیان په ډیربنه طریقه په اردو ژبه کښے بیان کړی دی.اود ،،معانی،، قواعد او مثالونه ئے په اردو کښے داستاذانو د کلام نه پیش کړی دی.اوکمال ئے کړے دے.

حضرت شیخ الهند ابتدائی تعلیم په مکتب کښے حاصل کړے وو.قرآن کریم د میان جی منګلوری صاحب نه، دفارسئ ابتدائی کتابونه د مولوی عبداللطیف صاحب نه او د عربئ ابتدائی کتابونه د تره مولوی مهتاب علی صاحب نه لوستی وو.

۱۲۸۳ھ کښے چه کله ددوی عمر پنځلس کاله وو.د مدرسه عربیه دیوبند بنیاد کیخودے شو.ددے د ټولو نه اولنے استاذ ملا محمود وو.اود ټولونه اولنے شاګرد ،،محمود الحسن،، وو.لکه چه د دیوبند ابتداء د محمودین نه شوے وه.په دیوبند کښے د دوی نور استاذان مولانا سید احمد دهلوی رحمہ اللہ او مولانا محمد یعقوب نانوتوی رحمہ اللہ وو.

۱۲۸۶ھ کښے ئے کتب سته اوبعضے نور کتابونه د حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمہ اللہ نه شروع کړل.په سفر او حضر کښے به ورسره وو.او په مزه مزه ئے په کال ۱۲۸۹ھ یا ۱۲۹۰ھ کښے ټول کتابونه ختم کړل.په راروان کال کښے دوی دمعین مدرس په طور اولګیدلو.په اول کښے دا تقرری اعزازی طور بغیر د تنخواه نه وه.خو په بل کال کښے دویم څلورم مدرس اوګرځولے شو.بیا څه وخت چه کله د حضرت مولانا محمد یعقوب نانوتوی وفات شو وو.اودهغوی نه پس مولانا سید احمد دهلوی صدر مدرس جوړشو.نوهغوی د دارالعلوم نه مستعفی شو. او بهوپال ته لاړلو.نودوی په کال ۱۳۰۸ھ کښے دتدریس صدارت اوسپارلے شو.ترآخر عمر پورے هم د تدریس د صدارت په منصب باندے باقی وو.

حکیم الاسلام قاری محمد طیب رحمہ اللہ فرمائی.چه حضرت شیخ الهند مسلسل څلویښت کاله د حدیثو درس ورکړے وو.او په دے دوران کښے ئے اته سوه اته د اوچت استعداد خاوندان عالمان اود علومو اوفنونو فاضلان اوماهران پیدا کړل.ددوی د حدیثو درس په هغه زمانه کښے یو امتیازی شان لرلو.او د عالمانو مرجع وو.د هغه زمانے عالمانو دوی ،محدث عصر،، منلے وو.

د دوی شاګردان: ددوی په ممتاز ترینو شاګردانو کښے حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی شیخ الاسلام حضرت حسین احمد مدنی امام العصر حضرت مولانا انورشاه

كشميري مولانا عبيدالله سندهي مولانا مفتي محمد كفايت الله علامه شبيراحمد عثماني شيخ الادب مولانا محمد اعزازعلي، مولانا سيد فخرالدين مراد آبادي، مولانا عزيرگل رحمه الله وغيره حضرات اكابرين رحمهم الله تعالى دي.

حضرت شيخ الهند او تحريک آزادی او وفات ١٨٥٧ء کښې دحضرت شيخ الهند رحمه الله عمر شپږ کاله وو. دا د هندوستان د مسلمانانو دپاره د آزادۍ هند کال وو. کوم ته چه انګريزانو د ..غدر.. نوم ورکړے وو. دا جنګ آزادۍ ناکامه شو. ددے نه پس انګريزانو په مسلمانانو ظلمونه شروع کړل. د ظلم اوبربريت دغه ټول واقعات د حضرت شيخ الهند رحمه الله دسترګو د وړاندے وو. دوی د هغې عيني شاهد وو. دغه شان د انګريزانو سره دشمني په ميراث کښې د پاتې کيدو نه علاوه د عيني شهادت په بنياد باندے علي وجه البصيرة وو. نو چه يو طرف ته دوی په ظاهره په درس او تدريس کښې مشغول وو. نوبل طرف دوی د اکابرينو دمشن پوره کولو اود جهاد په تيارئ کښې مصروف وو. دوی د انګريزانو د ظالمے پنجې نه د آزادولو دپاره يوه جامع منصوبه تياره کړے وه. او ددے دپاره ئے د ډير وړاندے نه تيارے کړے وو. د خپلوشاګردانو جال ئے خور کړلو. يو طرف ته ئے شمالي حدودو او افغانستان سره رابطه وه. اوبل طرف ته ئے خلافت عثمانيه سره خبره اتره برابر کړے وه. دوی په دے سلسله کښې د حجاز مقدس سفر اوکړلو. ١٣٣٣ھ کښې دوی حجاز ته تشريف يوړلو. اوهلته ئے د ترکي والي غالب پاشا سره ملاقات اوکړلو. په مدينه منوره کښې وزير حرب انورپاشا او دعثماني فوځونو د سربراه جمال پاشا سره ملاقات اوکړلو. هغوی سره ئے انګريزان د هندوستان نه د ويستلو اود هندوستان د مسلمانانو سره د مدد په باره کښې پوره خبره اوشوه. د هغوی نه ئے يو پټ تحرير هم واخستلو. د دوی اراده وه. چه د ايران په لاره دهندوستان په شمالي حدودو په آزادو علاقو کښې پاتے شي. او دهغه ځائے نه پوره تحريك شروع کړي. خوانګريزان ددے کاروان په ګنګوسي پوهه شوی وو. په هغه وخت کښې د مکے ګورنر شريف حسين وو. هغه د خلافت عثماني نه بغاوت اوکړلو. او د انګريزانو سره ئے ساز باز اوکړلو. نو دهغه په ذريعه انګريزانو شيخ الهند او د دوی ملګری بنديوان کړل. او بيا د مصر په لاره مالټے ته اورسولی شول. هلته دوی ١٣٣٨ھ پورے د قيد مشقت په صبر او استقلال سره برداشت کړل. او په ١٣٣٨ھ کښې دوی ته د هغه ځائے نه خلاصے ملاؤ شو.

چه هندوستان ته راورسيدل. نو اهل هند د دوی يو زبردست استقبال اوکړلو. دوی د هندوستان د خلقود زړونو مالك ګرځيدلے وو. خلق د پتنګانو په شان ددوی د زيارت دپاره راتلل. په هندوستان کښې ددوی د مقبوليت اندازه ددے نه کيږي. چه د ،، شيخ الهند،، لقب د دوی په نوم باندے غالب راغلو. په عوامو او خواصو کښې دوی په دے لقب باندے مشهور شو. د جيل مشقتونو او پرله پسے بيماريانو دوی ډير کمزوری کړی وو. ددوی اندامونو کار پريخودل. خودوی د دے تکليفونه پرواه اونکړله. او د هندوستان د ټول ښارونو دوره ئے اوکړله. تقريرونه ئے اوکړل. د انګريز د حکومت نه ئے د بيانکاټ حکم ورکړلو. هم په دے دوران کښې ئے دهلي ته تشريف راوړے وو. او هم دلته په ٨ربيع الاول کال ١٣٣٩ھ کښې مالك حقيقي سره ملاؤ شو. دوی دويوبند ته راوړلے شو. اود خپل استاذ حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله سره په خوا کښې دفن کړے شو.

دهند مورخ علامه عبدالحی حسنی رحمه الله په کتاب ..نزهة الخوطر.. کښے چه د دوی کومه صوری او معنوی نقشه رانقل کړے ده هغه ډیره جامع ده فرمائی.

«کان مولانا محمود الحسن آیة باهرة فی علو الهمة وبعد النظر والأخذ بالعزیمة، وحب الجهاد فی سبیل الله، قد انتهت إلیه الإمامة فی العصر الأخیرفی البغض لأعداء الإسلام والشدة علیهم، مع ورع و زهادة وإقبال إلی الله بالقلب والقالب والتواضع والإیثار علی النفس، وترک التکلف، وشدة التقشف والإنتصار للدین والحق، وقیام فی حق الله وکان دائم الإبتهال، قوی التوکل ثابت الجأش ،سلیم الصدر، جید التفقه، جید المشارکة فی جمیع العلوم العقلیة والنقلیة مطلعاً علی التاریخ، کثیر المحفوظ فی الشعر والأدب ،صاحب قریحة فی النظم، واضح الصوت، موجز الکلام فی إفصاح وبیان، تمتاز دروسه بالوجازة والدقة والإقتصار علی اللب، کثیر الأدب مع المحدثین والأئمة المجتهدین ،لطیفاً فی الرد والمناقشة کان قصیرا لقامة نحیف الجثة أحمراللون، کث اللحیة فی توسط غیر متکلف فی اللباس عامته من الکرباس الثخین وقور فی المشی والکلام، تلوح علی محیاه أمارات التواضع والهم، وتشرق أنوار العبادة والمجاهدة فی وقار وهیبة مع بشر وانبساط مع التلامیذ والإخوان»

تصنیفات: دحضرت شیخ الهند رحمه الله تصانیف زیات نه دی.څکه چه اولنی پنځه ویشت کاله خوئے په درس او تدریس کښے تیر شوی وو.اووده نه پس ژوند ئے په مجاهدانو سرگرمو کښے تیر شوے وو.خو بیا هم چه څومره ددوی یادگارتصانیف دی.هغه دا دی.

① ادله کامله: دا دحضرت شیخ الهند رحمه الله د ټولو نه اولنے تصنیف دے.ددے دویم نوم ..اظهار الحق،، دے.ددے کتاب دتالیف وجه دا وه.چه مولانا محمد حسین بټالوی په حنفی مذهب باندے اعتراض کولو.اویو اشتهار ئے شائع کړے وو.او د ټول هندوستان حنفیانو ته ئے چیلنج ورکړے وو.چه رفع الیدین، قرات خلف الامام ،آمین بالجهر، وغیره لس مسئلے که حنفی عالم په قرآن اوحدیث سره ثابتے کړی.نو دهرے مسئلے په بدله کښے به لس روپۍ انعام حاصل کړی.حضرت شیخ الهند رحمه الله د خپل استاذ په اشاره او حکم قلم رااخستلو.او د اختصار باوجود ئے ډیر مدلل جواب اولیکلو.او ورسره ئے د غیر مقلدینو په مسلك یوولس اعتراضات اوکړل.

② ایضاح الادله : دا د ..مصباح الادله،، مصنفه محمد احسن امروهی جواب دے.

③ احسن القری فی توضیح اوثق العری: په دے رساله کښے ئے ثابته کړے ده.چه په کلی کښے د جمعے مونځ کول جائز نه دی.

④ جهد المقل فی تنزیه المعزو المذل مولانا احمد حسن پنجابی د ..امکان کذب،، په مسئله کښے په حضرت شاه اسماعیل شهید اود هغه په معتقدینو باندے سخت ترین اعتراضات کړی وو.حضرت شیخ الهند رحمه الله دهغه اعتراضاتو ډیرمحکم او مسکت جواب اولیکلو.

⑤ افادات محمود:دا کتاب ددوی د دوو مضمونونو مجموعه ده. ⑥ الابواب والتراجم

دا رساله د بخاري شريف د خو بابونو ترجمه ده.چه مختصره خو جامع ده.دا د اسلرت مالتا ياد گار دے ⑦حاشيه مختصر المعاني ⑧ تصحيح وتعليقات سنن ابى داود ⑨فتاوى

⑩كليات شيخ الهند رحمه الله ⑪ مكتوبات شيخ الهند رحمه الله

⑫ ترجمه د قرآن كريم او تفسيري حواشي تر سورة نساء

دا ترجمه د حضرت ډيره لويه كارنامه ده.ددے افاديت او عموميت د هندوپاك نه بهر هم شته.د سورة نساء پورے حواشي هم ددوى د قلم دى.باقي د دوى قابل فخر شاگرد شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله مكمل كړى دى.(١)

قاسم العلوم والخيرات حجه الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوى رحمه الله

عالم اجل، شيخ كبير، حجة الاسلام، حضرت مولانا محمد قاسم بن اسدعلي بن غلام شاه بن محمد بخش صديقي نانوتوى رحمه الله په قصه ،،نانوته،، كښے په كال ١٢٤٨هـ مطابق ١٨٣٣ء كښے پيدا شوے وو.د دوى تاريخي نوم ،،خورشيدحسين،، دے.

تعليم: ابتدائي تعليم ئے په خپل وطن كښے حاصل كړلو.او د مكتب د تعليم نه پس دارالعلوم ديوبند ته اوليږلے شو.هلته ئے څه ورځے د مولوى مهتاب علي (د شيخ الهند تره) نه عربي شروع كړه.بيا څه زمانه پس نيكه شيخ وجيه الدين ته سهارنپور ته منتقل شو . نيكه ئے په خپله هم عالم او په فارسئ پوهيدونكے وو.او د اردو شاعر هم وو.دهغوى د صحبت نه علاوه دوى هلته د مولوى محمد نوازسهارنپور نه د فارسئ اوعربئ څه كتابونه اووئيل.د نيكه د وفات نه پس دوى د سهارنپور نه ،،نانوته،، ته واپس راغلو.١٢٥٩هـ په آخر كښے مولانا مملوك علي نانوتوى دوى د خان سره دهلي ته بوتلو.هلته كښے ئے كافيه او نور كتابونه اووئيل.ددے نه پس دوى په دهلي كالج كښے داخل كړے شو.په دهلي كالج كښے د داخليدو نه وړاندے دوى د مولانا مملوك علي نه د منطق،فلسفه، اوكلام كتابونه ميرزاهد ، قاضي مبارك، صدرا ، شمس بازغه، وغيره هم دهغوى په كور كښے اووئيل.... په آخر كښے هغه حلقه درس ته حاضر شو.كومه چه دقرآن اوحديث علوم په علومو كښے په پوره هندوستان كښے مركزي حيثيت لرلو.دحضرت شاه ولي الله دهلوى رحمه الله په مسند علم باندے حضرت شاه عبدالغني مجددى رحمه الله جلوه گروو.دهغوى نه ئے علم حديث زده كړلو.د طالب علمئ په زمانه كښے ددوى د ذهانت، علم وفضل، اوفهم وفراست شهرت عام شوے وو.

دعلم حاصلولو نه پس ذريعه معاش او د تدريس مشغله

دتحصيل علم نه پس مولانا نانوتوى رحمه الله دخپل ذريعه معاش دپاره د حضرت مولانا احمدعلي سهانپورى رحمه الله په مطبع احمدى كښے د كتابونو د تصحيح كار اوكتلو . هم په دغه زمانه كښے د حضرت مولانا احمدعلي سهارنپورى رحمه الله په فرمائش ئے د صحيح بخارى

---

(١) دا ټول حالات د ،،نزهة الخواطر،، (٨/٤٦٥،٤٦٩) العناقيدالغاليه (ص٩٨،٩٤) اومشاهير علمائے ديوبند (١ /٥٦٥،٥٧٦) نه ماخوذ دے.د تفصيلي حالاتو او كمالاتو دپاره اوگورئ ،،حيات شيخ الهند،، از حضرت ميان سيد اصغرحسين صاحب رحمه الله.

په آخری څو پارو باندے د حاشیه لیکلو کار هم اوکړلو.
د دوی یو غټ خصوصیت دا وو چه دوی درس وتدریس کله هم ذریعه دمعاش نه ده ګرځولے چه مالدارنه وو.نود مجبورئ دوجے نے نوکری غوره کړه.او په تدریس باندے ئے د اجرت اخستلو په ځائے په مطبع کښے د تصحیح کار کولو.او بیا په تنخواه کښے هم د عام عادت خلاف د زیادت په ځائے د کمی درخواست کولو.او په دومره کمه تنخواه به ئے ګزاره کوله چه په هغے کښے به ډیر په مشکله وخت تیریدلو.دوخت د لویو نه لویه عهده کومه چه یو هندوستانی ته ملاویدے شوه.هغه دوی ته په قول د مولانا محمد یعقوب صاحب رحمه الله دوی ته د سترګو او وریزو په معمولی اشاره ملاویدے شوه.خو دوی په تعلیم باندے نوکری کول خوښ نکړلو.
د کتابونو د تصحیح دا کار ترآخره پورے وو.او دے سره سره د درس اوتدریس سلسله هم همیشه دپاره جاری وه.دصحاح سته نه علاوه ،مثنوی مولانا روم او نور کتابونه به ئے هم لوستلو.خودرس به د مدرسے په ځائے د مطابع د چاردیوارئ دننه یا په جمات یاکور کښے کیدلو.هلته به خاص خاص شاګردانو د ادب زنګنونه کیخودل .ددوی د تعلیم فیض حضرت شیخ الهند محمودالحسن،مولانا احمد حسن امروهی او مولانا فخرالحسن ګنګوهی رحمه الله تعالی وغیره غوندے د باکماله نامتوعالمانو داسے ډله پیدا کړه.چه د هغے نظیر د حضرت مولانا شاه عبدالغنی رحمه الله نه پس نه ملاویږی.
جنګ آزادی او حضرت نانوتوی رحمه الله : په ۱۸۵۷ء کښے چه کله جنګ آزادی شروع شو. نو حضرت حاجی صاحب رحمه الله دوی د شاملی په محاذباندے سپه سالار مقرر کړلو.دوی په هغے کښے ډیر په مړانه باندےهاوجنګیدل.اود شاملی ضلع مظفرنګر تحصیل ئے فتح کړلو.خو دهغه وخت نازك سیاسی حالاتو ورته د شاملی نه د وړاندے تلو موقع ورنکړله.ددے نه پس د ګرفتاریانو سلسله شروع شوه.د دوستانو په ډیر منت زارئ باندے په یوکور کښے پټ شو.خو درے ورځے پس رابهر شو.او ښکاره ګرځیدلو.او وے فرمائیل.د درے ورځو نه زیات پټیدل د سنت نه ثابت نه دی.نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هجرت په موقع صرف درے ورځے پټ شوے وو.یو ځل دوی د دارالعلوم د چهته په جمات کښے وو.چه د پولیس سپاهیان راغلل.دوی په جمات کښے ګرځیدل.چه کپتان ترے تپوس اوکړلو.مولانا قاسم کوم ځائے کښے دے؟ دوی سمدستی یو قدم دهغه ځائے نه اخوا شو.او وے فرمائیل.اوس دلته کښے وو.وے ګورئ. کپتان غریب په کتلو کښے لګیا شو.او دوی ډیر په اطمینان د جمات نه رابهر شو.او د پولیس د ګیرے نه ئے ځان بچ کړلو.او ورسره بل نزدے جمات ،مسجد شاه رمزالدین،، طرف ته روان شو . کپتان د جمات نه رابهر شو.اوچه دوی ئے په تلو باندے اولیدلو.نو وے وئیل.چه مولانا هم دا معلومیږی.کوم چه روان دے.پولیس هلته لاړلو.او د مسجد شاه رمزالدین محاصره ئے اوکړله.حضرت دهغه ځائے اووتلو.اوبل جمات ته اورسیدلو . غرض دا چه د پولیس دا چکرے او د حضرت دا کردار څه مودے پورے جاری وو.خو دالله په حفاظت پولیس په دوی باندے قادر نشو.

دارالعلوم ديوبند او دتحفظ اسلام خدمات دجنګ آزادۍ د ناکامیابۍ نه پس د دیوبند د اکابرینو په مشوره د دین د حفاظت دپاره په کال ۱۲۸۳ھ مطابق ۱۸۶۶ء کښې د دارالعلوم دیوبند افتتاح اوشوه. حضرت نانوتوي ددے اولنے مدرس حضرت مولانا محمود دیوبندي مقرر کړلو.اوبیا ئې د هغې دپاره راهنما اصول مقرر کړل.

دحضرت نانوتوي رحمه الله د ټولو نه لويه او عظيمه كارنامه په هندوستان كښې د ديني علومو دوباره ترقۍ دپاره د تعليمي تحريك احياء او د مدارس دينيه دپاره راهنما اصول وضع كول دي.چه په هغې باندے د ديني مدارسو د بقا دارومدار دے.ددوي په توجه او ترغيب باندے په مختلفو ځايونو كښې ديني مدرسے پرانستے شوے.او بيا دا سلسله تر ننه پورے جاري ده.ديني مدارسو چه د اسلام په حفاظت كښې كوم شاندار كردار ادا كړے دے.هغه د چا نه پټ نه دے.

داسلام د كلمې اوچتوالې او مولانا نانوتوي رحمه الله: په هندوستان كښې د انګريزانو داقتدار په دور كښې عيسائيت هم ډيره ترقي حاصله كړے وه.او په هر ممكن كوشش سره د هندوستانيانو نه بيا خاص كر مسلمانانانو نه عيسايان جوړولو كوشش كولے شو.د ۱۸۵۷ء د جنګ آزادۍ نه پس دے سلسلے ته ډيره ترقي ملاؤ شوه.پادريانو به په بازارونو، ميلو او عامو اجتماعاتو كښې په اسلام او نبي ﷺ باندے اعتراضونه كول.حضرت نانوتوي رحمه الله چه د دهلي دقيام په زمانه كښې دا صورتحال اوكتلو.نوخپلو شاګردانو ته ئې اووئيل.چه تاسو هم دغه شان په بازارونو كښې وعظ شروع كړئ.او د پادريانو رد كوئ.دوي يوه ورځ په خپله هم بغير د تعارف نه او د نوم خودلو نه يوے مجمعے ته اورسيدلو.اود پادري تارا چند سره ئې مناظره اوكړله.اوهغه ته ئې د عامو خلقو په مخ كښې ماتے وركړلو.دا د ربيع الاول ۱۲۹۲ھ نه تر د جمادي الثانيه ۱۲۹۲ھ په مينځ كښې پيښه شوے واقعه ده.

ميله خدا شناسي: انګريز حكومت دا يو خطرناك سازش كړے وو.چه هندوان ئې د مسلمانانو خلاف اودرولي وو.په هندوستان كښې مسلمانانو ته سياسي اهميت حاصل وو.انګريزانو دخپلے پاليسۍ لاندے هندوان اوچت كړل.او مسلمانان ښكته كړل.كله چه په سياسي او معاشي ميدان كښې هندوان وړاندے شول.نوهغوي ته ئې د مذهبي برترۍ لاره اوخودله. او هندوان ئې د مسلمانانو په مقابله كښې مناظرے ته تيار كړل.اوددے مواقع ئې ورته پيدا كولے. چه هندوان د مسلمانانو سره برسرعام مناظرے اوكړي.

شاه جهان پور (يوپي) ته نزدے چاندا پوركلي كښې د هغه ځائے زميندار پيارے لال كبير پنتهي.د پادري نولس په مشرۍ كښې اود رابرټ جارج ككتر شاهجهان په پوره تائيد او اجازت سره په مئ ۱۸۷۶ء كښې يوه ميله خدا شناسي مقرر كړله.په دے كښې عيسايانو، هندوانو او مسلمانانو د درے واړه مذاهبو نمائندګانو ته د اشتهاراتو په ذريعه دعوت وركړے شو.چه دوي د خپل خپل مذهب حقانيت ثابت كړي.د مولانا محمد منير نانوتوي،او مولوي الهي بخش رنګين بريلوي په تحريك باندے حضرت نانوتوي رحمه الله ،مولانا محمود حسن. مولانا رحيم الله بجنوري رحمه الله او مولانا فخرالحسن رحمه الله په يوځائے دے ميلے ته اورسيدل. ددوي نه علاوه نور نامور عالمان هم شريك شول.اوهغوي تقريرونه اوكړل.چه

دهغے ډیراثر اوشو.حضرت نانوتوی د ابطال تثلیث وشرك او اثبات توحید داسے بیان کړل.چه حاضرین جلسه که موافق وو اوکه مخالف ټولو اومنله.

په دویم کال په مارچ ۱۸۷۷ء کښے دا میله بیا منعقده شوه.دے خل منشی اندرمن مراد آبادی اود آریه سماج بانی پنډت دیانند هم شریك شو.پادری نولس یو بل پادری اسکاټ هم راغوښتے وو.دحضرت نانوتوی رحمه الله تقاریر د وجود، توحید، او تحریف په موضوعاتو باندے اوشو اوډیر کامیاب وو.

دړړکی مناظره په شوال ۱۲۹۴ھ مطابق ۱۸۷۷ء کښے حضرت نانوتوی رحمه الله د عالمانو د یوے ډلے سره حج ته لاړل.په ربیع الاول ۱۲۹۵ھ کښے راواپس شول.په واپسئ کښے د جده نه د حضرت نانوتوی رحمه الله طبیعت خراب شو.چه وطن ته راورسیدلو.نو طبیعت ئے څه ښه شو.خو مرض ختم نه شو.هم په دغه کال په شعبان ۱۲۹۵ھ کښے ورته د ړړکی نه خبر راغلو.چه پنډت دیانندجی دلته رارسیدلے دے.او په مذهب اسلام باندے اعتراض کوی.حضرت مولانا نانوتوی رحمه الله دکمزورئ اوبیمارئ باوجود ړړکی ته اورسیدلو.ډیر ئے اوغوښتل.چه په عامه مجمع کښے پنډت جی سره خبرے اوشی.خو هغه دے ته تیار نشو.او د ړړکی نه لاړلو. دحضرت نانوتوی رحمه الله په اشاره باندے حضرت مولانا فخر الحسن صاحب گنگوهی او حضرت مولانا محمود حسن صاحب رحمهما الله په عامو جلسو کښے تقریرونه شروع کړل.او پنډت جی ته ئے د مناظرو چیلنج ورکړلو.حضرت نانوتوی رحمه الله په جلسه عام کښے د هغه د اعتراضاتو جوابونه ورکړل.

ددے نه پس پنډت جی میرټ ته اورسیدلو.هغه هلته هم هغه انداز اختیار کړلو. د میرټه د مسلمانانو په درخواست باندے مولانا نانوتوی رحمه الله هلته هم تشریف یوړلو .پنډت جی هلته هم خبرے کول قبول نکړلے.مجبوراً حضرت نانوتوی رحمه الله په میرټه کښے په عامه مجمع کښے د پرزور تقریر په ذریعه د اعتراضاتو جوابونه ورکړل.

د کونډو د نکاح اصلاح: دحضرت نانوتوی رحمه الله په عظیم الشان معاشرتی اواصلاحی کارنامو کښے یوه کارنامه دا هم وه.چه د کونډو د نکاح رواج ئے عام کړلو.د دیارلسمے صدئ آخره پورے د کونډو سره نکاح کول ډیره دعیب خبره کنړلے شوه.خلقو به دا نظریه بده گنړله.خو ددے رسم ختمولو په چا کښے همت نه وو.دحضرت سید احمد شهید ، حضرت مولانا محمد اسماعیل شهید .حضرت مولانا مملوك علی حضرت مولانا مظفرحسین کاندهلوی، حضرت مولانا محمد احسن نانوتوی، او حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحهم الله تعالی په کوششونو د کونډو د نکاح رواج عام شو.حضرت نانوتوی خپله کونډه خور چه په عمر کښے ددوی نه زیاته وه.اوبوډئ شوے وه.په نکاح باندے آماده کړله.او دا قبیح رسم ئے په دے طریقه باندے ختم کړلو.چه اوس دلته څوك دا هم نه پیژنی.چه دلته دا رسم موجود وو.

عاجزی اواستغناء: په مزاج کښے ئے تواضع عجز او انکساری دومره وه.چه د عالمانود مخصوص وضع جبه.پټکے وغیره ددے استعمال ئے چرته نه وو کړے.د تعظیم نه به ډیروبریدلو. فرمائیل به ئے دے.د علم دے نوم خراب کړم.گنی د خپله وضع به مے داسے په خاورو کښے ملاؤ کړے کړے وه.چه چا به دا هم نه سږندل.چه قاسم نومے کس پیدا شوے هم

دے په کومو کارونو کښے چه د شهرت پیدا کیدو موقعه وه.دهغے نه به اکثر لرے اوسیدلو. بیا داستغناء او پرهیزګارئ نے دا شان وو چه ټولو ته معلومه ده.چه دارالعلوم دیوبند هم د دوی د لاس جوړ شوے وو.خوهیڅ کله ئے د څه څیز نه فائده نه ده اخستے.په شروع شروع کښے اهل شورئ درخواست کړے وو چه تاسو هم ددے مدرسے استاذی قبول کړئ.اودهغے په عوض کښے څه وظیفه هم.خو قبول ئے نکړلو.اوکله ئے هم په هیڅ صورت کښے د یوے جیے هومره هم د مدرسے نه اخستل روا نه دی کنړلے.حالانکه شپه اورځ به د مدرسے په خیګړه کښے مشغول وو اوپه تعلیم کښے به مصروف وو.اوکه کله به ئے د مدرسے په قلم او دوات خپل ذاتی خط ئیکلو. نو سمدستی به ئے یوه آنه د مدرسے په خزانه کښے داخله کړه.

حضرت نانوتوی رحمه الله د خپل شیخ سیدالطائفه حضرت حاجی د امدادالله صاحب مهاجر مکی په نظرکښې

حضرت نانوتوی رحمه اللهد سلوك منازل د سیدالطائفه حضرت حاجی امدادالله صاحب مهاجر مکی په لاس باندے بیعت کړے وو.اوحاصل کړی وو.د سلوك د تکمیل نه پس په ځلوړو واړو سلسلو کښے دهغوی خلیفه مجاز شو.

دحضرت حاجی رحمه الله صاحب په نظر کښے د دوی څه مقام وو.ددے اندازه ددے لاندینو جملو نه لګولے شی.دوی به فرمائیل.

،،خوك چه ددے فقیر سره محبت اوعقیدت ساتی.مولوی رشید احمد صاحب سلمه اومولوی محمد قاسم صاحب سلمه دے چه د ظاهری اوباطنی علومو د ټولو کمالاتوجامع دی.زما په ځائے دے بلکه زما نه زیات دے هغوی لوئے اوګنړی.اګرچه معامله برعکس ده.پکار دا وه.چه زه دهغوی په ځائے اوهغوی زما په ځائے وو.دهغوی صحبت غنیمت اوګنړئ.دهغوی پشان کسان په دے زمانه کښے نشته.،،

دغه شان فرمائی.،،که الله تعالی زما نه تپوس اوکړی.چه امدادالله څه دے راته راوړی دی؟ نو مولوی رشید احمد او مولوی محمد قاسم به ورته پیش کوم.چه دا مے راوړی دی.

یو ځل د حضرت حاجی صاحب رحمه الله په مجلس کښے د حضرت شاه اسماعیل شهید ذکر اوشو.او دهغوی مناقب بیانولے شو.نوحضرت مولانا نانوتوی رحمه الله ته اشاره اوکړه.او وے فرمائیل.مولانا اسماعیل خو وو اسماعیل.څوك خو زمونږ اسماعیل ته هم اوګورئ.،،

حضرت نانوتوی رحمه الله د خپل معاصر سرسید احمد خان په نظرکښې

سرسید احمد خان د مولانا نانوتوی رحمه الله صرف یواځے همعصر نه وو.بلکه استاذ الاساتذه مولانا مملوك علی صاحب نانوتوی رحمه الله نه په شاګردئ کښے هم شریك وو.بیا ددے دواړو حضراتو د عقائدو په سلسله کښے باقاعده خط وکتابت هم وو . د مولانا نانوتوی رحمه الله په باره کښے د هغوی شهادت یو وقیع او ممتاز حیثیت لری . هغوی لیکی.

،،دخلقو دا خیال وو.چه د مولانا محمد اسحاق پشان کس به دهغه په ټولو صفاتو کښے پیدا نشی.خو مولوی قاسم صاحب د خپل کاملے نیکئ،دینداریٔ اوتقوی اوورع او مسکینئ نه ثابته کړه.چه ددے دهلی د تعلیم او تربیت دپاره د مولوی اسحاق صاحب پشان یوبل شخصیت هم الله تعالی پیدا کړے دے.بلکه په څو خبروکښے نو ر هم زیات دے.

داول نه د تقوی او ورع آثار اونیك بختی اوخدا پرستی دهغه د كړو اوړو نه ښكاره وو.د طالب علمئ په زمانه كښې چه لكه څنګه هغوی په ذهانت، اوچتو دماغو او فهم اوفراست كښې مشهور وو.دغه شان په نیكئ او خدا پرستئ كښې هم داهل اوكمال د ژبو ورد وو.دوی د جناب مولوی مظفرحسین صحبت د سنت تابعدارئ ته ډیر زیات راغب كړے وو.او دحاجی امداد الله صاحب رحمه الله فیض صحبت د دوی زړه د ډیرے اوچتے مرتبے جوړ كړے وو.پخپله هم د شریعت اوسنت پابند وو

.اوخلق د شریعت اوسنت تابعدرا جوړولو كښې ئے هم ډیر زیات كوشش كولو د دے باوجود دعامو مسلمانانو د خیګړے ورسره هم فكر وو.هغوی پخپله د پیرئ اومرشدئ خواهش نه لرلو.خو په هندوستان او خواه شاه كښې په زرګونو كسان دهغوی معتقد وو.اودوی به ئے خپل پیشوا اومقتدا ګڼړلو.

په اختلافی مسائلو كښې بعضے خلق ددوی نه خفه وو.او د بعضو نه دوی خفه وو.خوترخومره چه زمونږ پوهه ده.نومونږ د مولوی محمد قاسم رحمه الله یو فعل كه د چا نه د خفګان وی اوكه د چا نه د خوشحالئ وی.د نفسانی خواهشاتو.یا په ضد او دشمنئ باندے نشو حمل كولے.دهغوی چه څومره افعال اوكارونه وو.بیشكه د الله تعالی او دآخرت دثواب په غرض وو.اوكومه خبره چه به هغوی حق اوربښتینے ګڼړله .د هغے تابعداری به ئے كوله.اودهغوی دچا نه خفګان صرف دالله تعالی دپاره وو.او د چا نه خوشحاله كیدل هم صرف دالله تعالی دپاره وو.مولوی محمد قاسم به هیڅ څوك د خپل ذاتی تعلقاتو په وجه ښه یا بد نه ګڼړلو.بلكه صرف په دے خیال چه هغه غلط كار كوی.یا غلطه خبره كوی.هغه به ئے دالله تعالی دپاره بدګڼړلو.د هغوی په كردار كښې به د حب في الله او بغض في الله مسئله وه.دهغوی ټول خویونه د فرشتو پشان وو.مونږ ټول د زړه نه دهغه سره محبت ساتو.اوداسے شخصیت چه د نیكو نه ئے خپل ژوند ډك كړے وی.بیشكه د ډیر محبت لائق دے.

په هغه زمانه كښې ټولو خلقو منله.اوكیدے شی هغه خلق هم منله.چه په بعضے مسائلو كښې ئے دوی سره اختلاف كولو.دا منله.چه مولوی محمد قاسم رحمه الله په دے دنیا كښې بے مثاله دے.د دوی مرتبه په هغه زمانه كښې كیدے شی.علمی معلوماتو كښې دحضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله نه څه كمه وه.خوپه باقی ټولو كښې د هغوی نه اوچت وو.مسكینی اونیكی اوساده مزاجی كه ددے تله ئے د مولوی محمد اسحاق رحمه الله نه درنه نه وه.نو كمه هم نه وه.په حقیقت كښې فرشته سیرت، اودملكوتی خصلت خاوندوو.او د داسے شخصیت د وجود نه د زمانے خالی كیدل دهغه خلقو دپاره كوم چه د هغوی نه پس ژوندی دی.ډیره د غم او افسوس باعث دے،،

تصانیف: دحضرت نانوتوی رحمه الله د دوو درجنونه زیات تصانیف یادګار دے.هغوی په هغه مسائلو قلم پورته كړے وو.كومے چه په هغه وخت كښې زیاتے زیربحث وے.د هغوی ټول كتابونه د چا نه چا د استفسار په جواب كښې لیكلی شوی دی.ددوی تصانیف دا دی.

① تقریر دلپذیر ② آب حیات ③ انتصار الاسلام ④ تصفیۃ العقائد ⑤ حجۃ الاسلام ⑥ قبلہ نما ⑦ مباحث شاہ جہانپور ⑧ توثیق الکلام ⑨ اجوبہ اربعین ⑩ مناظرہ عجیبہ ⑪ مکاتیب حضرت نانوتوی

⑬ اسرار قرآنی ⑭ تحفه لحميه ⑮ انتباه المؤمنين ⑯ ميله خدا شناسی ⑰ الدليل المحكم ⑱ لطائف قاسمی ⑲ جمال قاسمی ⑳ فيوض قاسمية ㉑ مصابيح التراويح ㉒ الحق الصريح ㉓ اسرار الطهارة ㉔ قصائد قاسمی ㉕ حاشيه بخاری صرف آخری پاره ㉖ فتوی متعلقه اجرت تعليم ㉗ جواب ترکی به ترکی ㉘ هدية الشيعة ㉙ الأجوبة الكاملة ㉚ الخط المقسوم من قاسم العلوم.(۱)

وفات حضرت نانوتوی رحمه الله د يوكم پنخوس كالو په عمر كښې په ۴جمادي الثاني ۱۲۹۷ھ مطابق ۱۸۸۰ء كښې د زيارت په ورځ وفات شو.د دارالعلوم ديوبند شمالي طرف ته د دوی مزار دے.قبر د سنت طريقے مطابق كچه دے.دا ځائے د قبرستان قاسمی په نوم باندے مشهور دے.دلته بيشميره عالمان طالبان. نيكان او نور ډير خلق په خوب اوده دی.(۲)

حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی رحمه الله : الشيخ الامام قطب العالم عالم ربانی حضرت مولانا رشيد احمد بن هدايت احمد بن پيربخش بن غلام حسن بن غلام علي بن علي اكبر حنفي رامپوری ثم گنگوهی رحمه الله دوی د سهارنپور په مشهوره قصبه گنگوه كښې په ۶ذيقعده ۱۲۴۴ھ كښې پيدا شوے وو.قرآن كريم ئے په خپل وطن كښې اووئيل.اودخپل ماما سره كرنال ته لاړلو. او د هغوی نه ئے د فارسئ كتابونه اولوستل.بيا ئے د مولوی محمد بخش رامپوری نه د صرف اونحو تعليم حاصل كړلو.بيا په كال ۱۲۶۱ھ كښې ئے د دهلی سفر اوكړلو . هلته كښې ئے څه سبقونه د قاضی احمدالدين جهلمی نه اووئيل.او بيا شيخ الكل حضرت مولانا مملوك نانوتوی رحمه الله ته اورسيدلو.اوزيات درسی كتابونه ئے د هغوی نه لوستے دی.ددے ځائے نه ئے د حضرت نانوتوی رحمه الله سره تعلق جوړ شو.كوم چه ټول عمر باقی وو.په دهلی كښې ئے د بعضے معقولات كتابونه د مفتی صدرالدين آزرده رحمه الله نه اولوستل.په آخر كښې د شاه عبدالغنی مجددی رحمه الله په خدمت كښې پاتے شو.او علم حديث ئے زده كړلو.

د تعليم د فراغت نه پس د شيخ المشائخ حضرت حاجی امدادالله صاحب رحمه الله په خدمت كښې حاضر شو.او د بيعت شرف ئے حاصل كړلو.په يوه هفته كښې حضرت حاجی رحمه الله اوفرمائيل...ميان مولوی رشيد احمد! كوم نعمت چه الله تعالى ماته راكړے دے.هغه ئے تا ته دركړلو. روستو ددے زياتول ستا كار دے.بيا څلويښت دوه څلويښت ورځے پس چه دوی د حضرت حاجی رحمه الله نه رخصت شو اوكور ته تلو.نوپه هغه وخت كښې ئے دوی د بيعت اوخلافت په اجازت مشرف كړلو.اوچه گنگوه ته واپس راغلو.نودحضرت شيخ عبدالقدوس حجره ئے خپل د ستوگنے ځائے اوگرځولو.اوپه هغه دور كښې ئے طب ذريعه د معاش اوگرځوله.

په كال ۱۸۵۷ء كښې د خانقاه قدوسی نه په مړانه اووتلو.اود انگريزانو خلاف په صف كښې اودريدلو.او د خپل مرشد حضرت حاجی صاحب او نورو ملگرو سره د شاملی د جهاد په

---

(۱) د تصانيف دتعارف دپاره اوگورئ مقدمة اجوبه اربعين (ص.۲۰-۴۵) از حضرت مولانا صوفی عبدالحميد سواتی مدظلهم ـ

(۲) دا ټول حالات د ..تاريخ دارالعلوم ديوبند.. (۱/۱۰۲-۱۲۲) مشاهير ديوبند (۱/۵۵۱-۵۶۰)او ارواح ثلاثه (ص.۲۱۳) نزهة الخواطر(۷/۳۹۱-۳۹۳) او سوانح قاسمی نه ملخوذ دی.

معرکه کښې شامل شو. اوبه مړانه ئې ښکاره کړه. کله چه په میدان جنګ کښې حافظ ضامن رحمه الله شهید شو او راپریوتلو. نودوی دغه لاش اوچت کړلو او نزدې جمات ته ئې یوړلو. او ورسره کیناستلو. د قرآن شریف تلاوت ئې ورته شروع کړلو.
دشاملي د جنګ نه پس ئې د ګرفتارئ ورنټ جاري شو. او دوی ګرفتار کړې شو. او د سهارنپور جیل ته اولیږلې شو. بیا دوی دغه ځائې نه مظفرآباد نګر ته منتقل کړې شو. شپږ میاشتې ئې په جیل کښې تیرې شوې. هلته ډیر قیدیان د دوی معتقد شول. او په جیل خانه کښې په جماعت سره مونځ کول شروع شو.
: خلاصیدو نه پس دوی د درس اوتدریس سلسله شروع کړه. دوی دړې حجونه کړي وو د آخري حج نه وړاندې دوی د مختلفو فنونو او علومو کتابونو درس ورکولو. د آخري حج نه په واپسئ باندې دوی صرف د صحاح سته درس شروع کړلو. د صحاح سته دا موجوده صورت د دوی ایجاد دے. چه د صحاح سته درس به ئې په یو کال کښې ورکولو او په رمضان کښې به دعبادت او ریاضت دپاره دوی خپل خان فارغه کولو.
د کال ۱۳۱۴ه پورې د دوی درس جاري وو. د درې سوو نه زیاتو حضراتو د دوی نه د دوره حدیث تکمیل کړے دے. د حدیث په درس کښې د دوی آخري شاګرد حضرت شیخ الحدیث مولانامحمدزکریاصاحب رحمه الله قدرمند پلارحضرت مولانا محمد یحی صاحب کاندهلوی وو.
اګرچه د تدریس باقاعده سلسله په ۱۳۱۴ه کښې ختمه شوې وه. خو د باطني فیض سلسله ئې ترآخره پورې جاري وه.
د دوی ژوند پوره په پوره د سنت د تابعدارئ نه عبارت وو. تقوی، دسنتو او شریعت تابعداري، په دین باندې استقامت، د بدعاتو ختمول، دسنت اشاعت او د شعائر اسلام اوچتولو اود دین په معامله کښې دوی دالله تعالی د نښو نه یوه نښه وه.
د دوی په مشرانو خلیفګانو کښې حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري، مولانا محمود حسن دیوبندي، مولانا عبدالرحیم رائې پوري، شیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد مدني. رحمهم الله دي. دغه شان ددوی مشهور شاګردانو کښې حضرت مولانا محمد یحی کاندهلوي. شیخ ماجد علي او مولانا حسین علي رحمهم الله دي.
په کال ۱۲۲۷ه کښې دحضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله دوفات نه پس دوی د دارالعلوم سرپرست شو. په مشکلو حالاتو کښې د نزاع ختمول ددوی خصوصیت وو. ۱۳۱۴ه کښې د مدرسه سهارنپور سرپرستي ئې هم قبوله کړه.
په فقه او فتاوی کښې د دوی قول حجت دے. حضرت مولانا نانوتوي رحمه الله به دوی ته ابوحنیفه عصر ونیل. حضرت علامه کشمیري رحمه الله چه د علامه ابن عابدین رحمه الله پیشان محقق او وسیع النظرعالم هم فقیه النفس نه ګڼړلو. خو حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله قدس سره ئې فقیه النفس ګڼړلے وو. (۱)

---

(۱) اوګورئ ..البلاغ.. مفتي اعظم نمر جمادی الثانیه تا شعبان ۱۳۹۹هګ (ص.۴۱۱)_

په ۱۲ یا ۱۳ جمادی الاولیٰ د شپې د نوافلو دپاره راپاسیدلو .څه زهریله څیز ورته تك ورکړلو دهغه د اثر نه په ۸ یا ۹ جمادی الثانیه باندې دجمعې په ورځ د جمعې د اذان نه پس وفات شو ددوی د وفات سن ﴿وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ﴾ او د ((مولانا عاش حمیداً مات شهیداً)) نه ماخوذ دے

تصانیف دوی د سوونو شاګردانو نه علاوه درج ذیل تصنیفات پریخودے دی.

① فتاوی رشیدیه ② سبیل الرشاد ③ زبدة المناسك ④ هدایة الشیعه ⑤ فیصلة اللاعلام فی دار الحرب ودار الاسلام ⑥ لطائف رشیدیه ⑦ هدایة المعتدی فی قراءة المقتدی ⑧ القطوف الدانیة فی تحقیق الجماعة الثانیة ⑨ الحق الصریح فی اثبات التراویح.

دغه شان ددوی دجامع ترمذی او صحیح بخاری د درسی افاداتو او تقاریرو مجموعه ددوی شاګرد مولانا محمد یحی صاحب کاندهلوی راجمع کړی دی.تقریر ترمذی د ..الکوکب الدری.. په نوم او تقریر بخاری د ..لامع الدراری.. په نوم د حضرت شیخ الحدیث صاحب د قیمتی حاشیواو تعلیقاتو سره چهاپ شوی دی.(۱)

حضرت شاه عبدالغنی مجددی دهلوی رحمه الله حضرت مولانا شاه عبدالغنی مجددی رحمه الله د حضرت مولانا ابوسعید مجددی خوئے وو.ددوی نسب نامه د حضرت مجدد الف ثانی په واسطه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته رسی.

(دوی قدرمند پلار حضرت شاه ابوسعید صاحب یو متبحرعالم او د سلسله نقشبندیه لوئے بزرګ وو.دوی پیدائش په ذیقعده ۱۱۹۶ه کښې شوے وو.درسی کتابونه ئے د مولوی شرف الدین رامپوری او شاه رفیع الدین دهلوی رحمهما الله نه وئیلی وو.اجازت نامه ئے دحضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله نه حاصله کړے وه. ۱۲۵۰ه کښې د حجاز نه واپس راغلو.او په ،،ټونك،، کښې وفات شو.دهغه ځائے نه لاش دهلی ته راوړلے شو.او دلته دفن کړے شو.)

شاه عبدالغنی رحمه الله په شعبان ۱۲۳۵ه کښې په دهلی کښې پیدا شو.قرآن کریم ئے حفظ کړلو.نحو او علوم عربیت ئے د مولانا حبیب الله دهلوی نه حاصل کړی وو.بیا ئے ټوله توجه فقه اوحدیث ته ورکړله.

حدیث ئے دحضرت شاه محمد اسحاق رحمه الله نه وئیلی وو.دخپل پلار نه ئے د مؤطا درس لوستے وو.اومشکاة شریف ئے د مولانا مخصوص الله بن شاه رفیع الدین دهلوی رحمه الله نه وئیلی وو.

۱۲۴۹ه کښې د خپل پلار سره دحجاز په سفر لاړلو.اوهلته ئے د مولانا عابد سندهی رحمه الله نه استفاده اوکړه.بیا هندوستان ته راغلو.ټول همه تن دعلم حدیث په خدمت کښې مشغول شو.

ددوی درسګاه په هندوستان کښې دټولو نه لویه مرکزی درسګاه وه.د دوی د علم د فیض نه حضرت مولانامحمد قاسم نانوتوی رحمه الله حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله اوحضرت

---

(۱) دا ټول حالات د نزهة الخواطر(۸/۱٤۸-۱۵۲) نه ماخوذ دی.دغه اوګورئ مشاهیر علمائے دیوبند، (۱ ۱۸۶_۱۸۹) تاریخ دارالعلوم دیوبند (۱/۱۲۵_۱۲۹) او تذکرة الرشید مصنفه حضرت مولانا محمد عاشق الهی میرټهی رحمه الله

مولانا محمد یعقوب نانوتوی رحمہ اللہ پشان مایه ناز عالمان پیدا شوی دی
د ۱۸۵۷، په هنگامه کښې دعلم حدیث دا د تولو نه لویه درسگاه د زمانې د حادثاتو ښکار شوه اوهمیشه دپاره ختمه شوه شاه عبدالغنی مدینې منورې ته هجرت اوکړلو او هلته په محرم ۱۲۹۶ھ کښې وفات شو.

صاحب د نزهة الخواطر د دوی په باره کښې لیکلی دی.

..علم اوعمل.زهد اوپرهیزګاری،حلم او صبر.صداقت.امانت .عفت اوصیانت.حسن نیت اواخلاص.رجوع الی الله.دالله تعالی ویره.د سنت تابعداری.حسن اخلاق.د مخلوق سره احسان کول.اود دنیا او ددې د اسبابو نه بې رغبتی د دوی په ذات باندې ختم وو د دوی د مجلس نه او ددوی د ساهګانو نه ډیر عالمان مستفید شول .د دوی په ولایت اوجلالت شان باندې د عربو او هندوستان ټول خلق متفق وو..

په سنن ابن ماجه باندې ښکلې حاشیه ،،انجاح الحاجة،، ددوی علمی یادګار دې .رحمه الله رحمة واسعة (۱)

صرف اونحو ئې ترکافیه پورې د مولانا عبدالحی بډهانوی رحمہ اللہ نه ونیلی وو اوباقی درسی کتابونه ئې د شاه عبدالقادر رحمہ اللہ سره ونیلی وو.دحدیث شریف تحصیل ئې د شاه عبدالعزیز رحمہ اللہ نه کړې وو.د خپل نیکه د وفاته پورې د هغوی په خدمت کښې وو.او دهغوی د وفات نه پس هم هلته دهغوی ګده نشین شو.
۱۲۲۰ھ کښې ئې د حرمینو سفر اوکړلو.هلته ئې د شیخ عبدالکریم مکی (متوفی ۱۲۴۷ھ) نه استفاده اوکړله.بیا هندوستان ته راواپس شو.اومسلسل ترشپاړس کالو پورې ئې د حدیثو درس ورکولو.
په کال ۱۲۵۸ھ کښې دوی دخپل اهل وعیال سره مکې ته هجرت اوکړلو.ددوی په لویو شاګردانو کښې شاه عبدالغنی مجددی ،شیخ عبدالرحمن پانی پتی،سیدعالم علی مراد آبادی.شیخ عبدالکریم بډهانوی،نواب قطب الدین دهلوی،مولانا احمد علی سهارنپوری، مفتی عنایت احمد کاکوروی،میان سید نذیرحسین دهلوی،مولانا احمدالله بن دلیل الله رحمہم اللہ تعالی شمار دې. ددوی اکثرشاګردان په حدیثو کښې قابل فخر وو.په هندوستان کښې دحدیث سند هم ددوی نه وراندې خی.((وذلك فضل الله یؤتیه من یشاء))
دوی د مشکاة المصابیح په اردو کښې ترجمه کړې ده.کومه چه د دوی په اشاره ددوی شاګرد مولانا قطب الدین خان صاحب دشرح صورت ته منتقل کړه.کومه چه د مظاهرحق په نوم باندې نامداره ده.,,مائة مسائل،.او,,رسائل اربعین،. هم ددی قابل قدر تصنیفات دی.
په رجب ۱۲۶۲ھ کښې په مکه مکرمه کښې دوی وفات شو.اود مکه په قبرستان ..معلاة،، کښې دفن کړې شو.رحمة الله علیه.

---

(۱) داحالات دنزهة الخواطر(۲۹۶،۲۹۷/۷) اوتاریخ دارالعلوم دیوبند (۹۵،۶۹/۱) نه ماخوذ دی. دغه شان اوګورئ مقدمة أوجزالمسالک (۶۵/۱، ۶۶) او ماتمس إلیه الحاجة (ص۵۴)_

سراج الهند مولانا شاه عبدالعزیز صاحب رحمه الله د نزهة الخواطر د دوی د حالاتو ابتداء داسے کړے ده ((الشیخ الإمام العالم الکبیر العلامة المحدث عبدالعزیز بن ولی الله بن عبدالرحیم العمری الدهلوی سید علمائنا فی زمانه وابن سیدهم لقبه بعضهم ،،سراج الهند،، وبعضهم ،،حجة الله،،))

ددوی پیدائش په ۲۵ رمضان ۱۱۵۹ھ کښے شوے وو .تاریخی نوم ئے ،،غلام حلیم،، دے. حافظه اوذهانت ئے خدا داد وو .دقرآن کریم سره ئے فارسی هم اوونیله.د یوولس کالو په عمر کښے ئے دعربئ دتعلیم انتظام اوشو.د پنځلس کالو په عمر کښے دټولو رائجو علومونه فارغ شو. دوی د حدیث اوفقه تحصیل دپلار نه کړے وو.د قدرمند پلار د وفات نه پس د هغوی بعضے شاګردانو خاص کردهغوی خاص شاګرد مولانا محمد عاشق پهلتی رحمه الله نه ئے تکمیل اوکړلو. چونکه دوی دخپل پلار د ټولو نه مشرے خوئے وو.او په علم او فضل کښے هم د ټولو نه ممتاز وو.نو مسند درس وخلافت هم دوی ته حواله شو.او دوی همه تن په درس وتدریس.هدایت وارشاد ، تصنیف وتالیف کښے مصروف شو.

علامه عبدالحی حسنی رحمه الله لیکی.

..دوی دخپل علم وفضل،آداب، ذکاوت وذهانت،فهم وفراست،او سرعت حفظ په وجه په دنیا کښے لاثانی وو.د ډیرو خایونو نه به طالبان صرف ددوی نه د سبق وئیلو دپاره راتلل.اودوی ته به داسے لیواله وو.لکه څنګه چه ترے اوبو ته لیواله وی.

دوی ته په ټولوعلومو متداوله اوفنون عقلیه ونقلیه کښے پوره مهارت حاصل وو . حافظه ئے هم ډیره ښه وه.تقریرئے معنی خیز، مرتب او زړه راښکونکے وو.او دے صفاتو ددوی ذات د عواموا‌وخواصو مرجع جوړه کړه. د علواسناد دپاره به خلقو د لرے لرے نه سفرونه کول.اوپه حلقه درس کښے به ئے شرکت کولو.اوسند فراغت حاصلولو دپاره به راتلل.په درس وتدریس،افتاء وتصنیف،فصل خصومات، پندو و موعظت،او دشاګردانو په تربیت کښے به هر وخت مشغول وو. د دوی د وجے په هندوستان کښے د اسلامی علومو خاص کر د حدیث اوتفسیر شهرت اوشو.د مسلمانانو اصلاح اوشوه.اود فتنو سد باب اوشو.د دوی د ښکلے کوششونوني شپئ او عاجزئ اوتوجه په شاګردانو او مریدانو کښے هغه روح پوك وهلو.چه هغه په مسلمانانو کښے انقلاب پیدا کړلو.او دمسلمانانو دینی ،تعلیمی،ثقافتی حالت ئے ښه کړلو.شاه صاحب ته صرف په حدیث فقه،تفسیر،او کلام کښے مهارت نه وو حاصل.بلکه په منطق، فلسفه، او په شعر اوادب کښےئے هم مهارت لرلو.احادیث ورته ډیر یاد وو.حضرت تهانوی رحمه الله د حضرت مولانا شیخ محمد رحمه الله نه د شاه عبدالعزیز رحمه الله په باره کښے نقل کړی دی.چه هغوی ته شپږ زره احادیث د متن سره یاد وو.

د شاه عبدالعزیز رحمه الله عمر اوس پنځویشت کاله وو.چه سخت مرضونه پرے راغلل .تردے چه په یو وخت کښے پرے څوارلس بیمارئ شمارلے شوی دی .کیناستل پاسیدل،اوګرځیدل ورته ګران شو.خو ددے باوجود به دوی په خپله درس ورکولو . په تالیف وتصنیف اوپندو موعظت کښے مصروف وو.چه په لاره به روان وو.نو هم به د وعظ نصیحت نه اوزګار نه وو. بیادتعجب خبره داده.چه ددے دومره سختو مرضونوباوجود ،دوی خوش طبع، حاضرجواب، شیرین ګفتار ،خوش کلام،متواضع،هشاش بشاش،اوباوقار وو.د دوی مجلسونه به د

عقلونو او ذهنونو دپاره د تفریح سامان وو.ددوی قصو به غوږنه او د دوی ښکلی شعرونو به طبیعتونه رابیدارول.د لرے لرے ځایونو اود هغه ځائے دخلقوقصے به ئے ښه بیانولے.د حیرانتیا خبره دا ده.چه اوریدونکو یه دا ګمان کولو.چه موصوف دا خبرے لیدلے دی.اوددے علم ئے حاصل کړے دے.حالانکه هغوی به د کلکته نه سوا بل ځه نه وو لیدلے دارالخلافه دهلی ته به خلق راتلل.او دهغوی نه به ئے اوریدل .اود حقائقو بحث به ئے کول.اودهغوی نه به ئے معلومات حاصلول.

حضرت شاه ولی الله رحمه الله چه د دینی علومو د دوباره احیاء کوم بنیاد ایخودے وو شاه عبدالعزیز رحمه الله د هغے تکمیل اوکړلو.اودعلم ئے داسے خاص معیار مقرر کړلو چه په هغے سره د دینی علومو یو خاص عزت او وقار قائم شو.حضرت شاه صاحب رحمه الله د خپل پلار د وفات نه پس د شپیتو کالو په اوږده زمانه کښے په دهلی کښے د دینی علومو خدمت کول د دوی په شاګردانو کښے د دوی درے واړه رونړه شاه اسماعیل شهید،شه محمد اسحاق،شاه محمد یعقوب،شاه مخصوص الله بن رفیع الدین.مولانا عبدالحی بډهانوی . مفتی الهی بخش کاندهلوی، شیخ غلام علی دهلوی،شاه ابوسعید مجددی. شه احمد سعید مجددی، شیخ رشیدالدین صاحب،مفتی صدرالدین صاحب او مولانا فضل الرحمن ګنج مراد آبادی رحمهم الله تعالی پشان د امت ستنے اوعلماء فاضلان شامل دی.

د درس او تدریس نه علاوه شاه صاحب رحمه الله ګڼ کتابونه لیکلی دی.

① تفسیرفتح العزیز، المعروف به ،،تفسیرعزیزی،، دا کتاب دوی په سخته بیمارئ اوکمزورئ کښے املاء کړے وو.په غټو جلدونو باندے مشتمل وو.خو د هندوستان په انقلاباتو کښے ئے اکثره حصه ضائع شوه.صرف اولنے او آخرنے جلد ملاویږی.

② ،،فتاوی عزیزیه،، ددے هم دوه جلدونه ملاویږی.ګنی هسے خودا هم ضخیم کتاب دے

③ ،،تحفه اثناء عشریه،،دا کتاب د تشیع د حقیقت په باره کښے دے.او یو عظیم شاهکار دے.ددے مثال په دے موضوع باندے په اسلامی کتابونو کښے نشته.

④ ،،بستان الصالحین،، دا د محدثینو رحمهم الله طبقات او دهغوی د مصنفاتو په باره کښے دے.اصل کتاب په فارسئ کښے دے.ددے اردو ترجمه حضرت مولانا عبد السمیع صاحب دیوبندی رحمه الله کړے ده.

⑤،، عجاله نافعه،، دا رساله په اصول حدیث کښے ده.دا په ثبت او حدیثوکښے د هغوی د علومو آئینه ده.مولانا عبدلحلیم صاحب چشتی ددے اردو کښے ترجمه کړے ده.او د تراجم رجال اضافه ئے ورسره کړے ده.اوددے افادیت ئے ډیر زیات کړے دے.

⑥ رساله ،،مایجب حفظه لطالب الحدیث،، ⑦ میزان البلاغة ،، په علم بلاغت کښے.

⑧ ،،میزان الکلام،، په علم کلام کښے.⑨ ،،السر الجلیل فی مسألة التفضیل،،

⑩،،سرالشهادتین،،دحضرات حسنین رضی الله عنهما د شهادت په موضوع باندے.

⑪ ،،رساله فی الانساب،، ⑫ ،،رساله فی تعبیرالرؤیا،،

⑬ حاشیه ،،میرزاهد رساله،،⑭ حاشیه میرزاهد ملاجلال،،

⑮ حاشيه ..ميرزاهد شرح المواقف..⑯ حاشيه ملا كوسج..
⑰ حاشيه ..شرح هداية الحكمة.. للصدر الشيرازى.
ددے نه علاوه هم ددوى څه رسائل دى.
دوى د اتيا کالويه عمر کښے ۱۲۳۹ھ کښے دخپل خالق حقيقى سره ملاؤ شو.حکيم مومن خان مومن تاريخ د وفات ئبه بيان کړے دے

دست بیدادِ اجل سے بے سروپا ہوگئے　　فقر و دین، فضل و ہنر، لطف و کرم، علم و عمل

ق. ى. ض. ن. ط. ر. ل. م.
۱۰۰. ۱۰. ۸۰۰. ۵۰. ۹. ۲۰۰. ۲۰. ۴۰.
۱۲۳۹ھ
رحمه الله رحمة واسعة (۱)

امام الهند منبع الكمالات مركز الاسانيد

حضرت الامام الشاه ولى الله احمد بن عبدالرحيم رحمهما الله تعالى

صاحب د نزهة الخواطر.. ددوى په حالاتو داسے شروع کوى.

«الشيخ الإمام حجة الله بين الأنام، إمام الأئمة قدوة العلماء، وارث الأنبياء آخر المجتهدين، أوحد علماء الدين، زعيم المتضلعين، بحمل أعباء الشرع المتين، محى السنة ومن عظمت به لله علينا المنة، شيخ الإسلام قطب الدين، احمد ولى الله بن عبدالرحيم بن وجيه العمرى الدهلوى»

ددوى والد صاحب حضرت عبدالرحيم رحمه الله د سلسله نقشبنديه په لويو بزرگانو کښے وو.دهغوى بچى نه وو.بل خوا د هغوى بى بى د بوډئ توب عمر ته رسيدلے وه . دوى په بوډاتوب کښے دويمه نکاح اوکړله.او د چارشنبه په ورځ د نمر راختو په وخت کښے ۴شوال ۱۱۱۴ھ کښے شاه ولى الله رحمه الله پيدا شو.
د ولادت نه وړاندے شاه عبدالرحيم رحمه الله خواجه قطب الدين بختار کعکى رحمه الله په خوب کښے اوليدلو.هغوى ورته د څوى زيرے ورکړلو.اوورته ئے اوفرمائيل.دهغه نوم زما په نوم باندے کيږدئ.حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى.چه کله زه پيدا شوم.نود قدرمند پلار په ذهن کښے مے هغه خبره پاتے نه وه.اوهغوى زما نوم ..ولى الله.. کيخودلو.څه موده پس ورته ورياد شو.نو زما بل نوم ئے ..قطب الدين احمد.. کيخودلو.
دوى د پنځو کالو په عمر کښے په مکتب کښے تعليم شروع کړلو.د اووه کالو په عمر کښے ئے د قرآن کريم حفظ مکمل کړلو.اود فارسئ اوعربئ ابتدائى کتابونه ئے شروع کړل.د لسو کالو په عمر کښے ئے شرح ملاجامى ختمه کړه.بيا ئے د خپل قدر مند پلار نه فقه ،حديث،تصوف،عقائدو او اصولو کتابونه اووئيل.په دغه دوران کښے د شيخ محمد افضل

(۱) شاه عبدالعزيز رحمه الله دا ټول حالات د ..نزهة الخواطر.. (۲۷۵/۷) فوائد جامع برعجاله نافعه (ص،۲۶۹، ۲۷۶) او تاريخ دارالعلوم ديوبند (۹۴/۱) نه ماخوذ دى.

سيالكوتى رحمه الله په درس كښے شريك شو اود حديثو سند ئے واخستلو د پنځلسو كالو په عمر كښے ورسره والدصاحب بيعت وركړلو اوپه سلسله نقشبنديه كښے ے د سلوك منازل طے كړل.
دخوارلس كالو په عمر كښے ئے واده اوشو اوس دوى د اوولسو كالو وو چه پلار صاحب ئے وفات شو د قدرمند پلار د وفات نه پس حضرت شاه ولى الله رحمه الله د خپل پلار مسند درس ته بنانست وركړلو اوكم وزيات تقريبا دولس كاله ئے د علوم نقليه او عقليه تعليم وركړلو په ۱۱۴۳ھ كښے د حرمينو شريفينو او دحج شوق پيدا شو او د حجاز سفر ئے اوكړلو هلته كښے ئے دوه كاله تير كړل.او دحجاز د شيوخو نه ئے ښه استفاده اوكړله خاص كرد شيخ ابوطاهركردى مدنى رحمه الله نه ئے ښه ډيره استفاده اوكړله.شيخ ابوطاهرد علوم ظاهره سره سره په علوم باطنيه كښے هم ښه اوچت بزرګ وو.دهغوى نه دوى خرقه خلافت هم حاصله كړه ۱۱۴۵ھ كښے خضرت شاه صاحب د حجاز نه هندوستان ته واپس تشريف راوړلو او د وراندے پشان ئے دخپل والد صاحب په مدرسه كښے درس شروع كړلو د درس اوتدريس نه چه به كوم وخت بچت شو.هغه به ئے په تاليف وتصنيف اود اعمالو او اشغالوپه تعليم او تلقين كښے تيرولو.
هم په دے عملى مشاغلو اوداالله تعالى مخلوق ته فائده رسولو كښے دوى مصروف وو.تردے چه په ۱۱۷۶ھ دعلم او عمل دا نمر پټ شو.
حضرت شاه ولى الله رحمه الله ته په ټولو عقلى او نقلى علومو كښے مهارت حاصل وو . اود ورع اوتقوى،او ذهانت او ذكاوت په صفاتو باندے هم موصوف وو.ډير اوچت مفكر او مصلح وو.په اسرارو اوحكم،د تصوف په مسائلو،اود كلام په مباحثو،اوپه حكمت او اخلاقو ئے ښه ژور نظرلرلو.هغوى چه د قرآن اوحديث حقائق څنګه پيژندلى وو.اوخودلى وو هغے د متقدمينوياد تازه كړلو.په توجيه او دحديث په تشريح كښے د شاه صاحب مقام ډير زيات اوچت دے.اوپه دے باب كښے هغوى د هندوستان په زمكه بے مثاله دى.د دوى د علم او فضل اعتراف دهغه وخت ټولو خلقو كولو.د حرم شيوخ هم د دوى د فهم او فراست.د حديث د معانيود شرح او د مطالبو د وضاحت قائل وو.

ددوى شيخ ابوطاهر كردى مدنى رحمه الله ددوى په باره كښے فرمائى.«إنه يسند عنى اللفظ وكنت أصحح منه المعنى»

حضرت مرزا مظهرجان جانان رحمه الله فرمائى. «إن الشيخ ولى الله قد بين طريقة جديدة ،وله أسلوب خاص فى تحقيق أسرار المعارف وغوامض العلوم،وإنه رجل من العلماء،لعله لم يوجد مثله فى الصوفية المتحققين الذين جمعوا بين علمى الظاهر والباطن ،وتكلموا بعلوم جديدة،إلا رجال معدودون»
شيخ فضل حق امام خير آبادى چه كله د ..ازالة الخفاء.. مطالعه اوكړله.نوو ے فرمائيل.

«إن الذى صنف هذا الكتاب لبحر زخار لايرى له ساحل»

مفتى عنايت احمد كاكورى رحمه الله فرمائى.«إن الشيخ ولى الله مثله كمثل شجرة طوبى، أصلها فى بيته، وفرعها فى كل بيت من بيوت المسلمين، فما من بيت ولامكان من بيوت المسلمين وأمكنتهم إلا وفيه فرع من فرع تلك الشجرة، لايعرف غالب الناس أين أصلها»

نواب صدیق حسن خان قنوجی لیکی ,,انصاف این است که اگر وجود او در صدر اول وزمانه ماضی می بود، امام الائمه وتاج المجتهدین شمرده می شد،،

دحضرت شاه رحمه الله سیاسی بصیرت په ملکی سیاست باندے هم د شاه صاحب رحمه الله ژورنظر وو د دوی په زمانه کښے هندوستان کښے سیاسی کشالے ډیرے په ترقئ وے مسلمانان په بدنظمی او جګړو کښے اخته وو د شیعګانو غلبه وه ددے نه علاوه د هندوستان د قسمت فیصله کونکی درے جګړه مار قومونه وو مرهټ سکه اوجاټ په دے حالاتو کښے شاه صاحب رحمه الله ډیرد سیاسی بصیرت نه کار واخستلو اول ئے د نواب نجیب الدوله سره خط وکتابت اوکړلو اودهغوی په واسطه ئے احمدشاه ابدالی سره غوږ اوجنګولو بیا ئے براه راست احمد شاه ابدالی ته خط اولیکلو ددے په نتیجه کښے احمد شاه ابدالی خپل فوځونه راواخستل اوپه هندوستان باندے ئے حمله اوکړله اوداسلام د دشمنانو طاقت ئے ذرے ذرے کړلو.

دحضرت شاه رحمه الله تصنیفات: حضرت شاه صاحب رحمه الله د ډیرو تصنیفاتو عالم دے ددوی هرتصنیف ډیر اوچت دے داسے معلومیږی چه د دے ټولو علومو دوی ته الهمام کیږی اګرچه دوی په ټولوعلومو کښے امام وو خوزیاته غلبه پرے د تفسیر، حدیث، عقائدو، اسرار شریعت. او تصوف پاتے شوے وه ددوی مشهور کتابونه دادی.

① فتح الرحمن فی ترجمة القرآن ② الزهراوان فی تفسیر سورة البقرة وآل عمران ③ الفوز الکبیر فی اصول التفسیر ④ تأویل الأحادیث ⑤ فتح الخبیر بما لا بد من حفظه فی علم التفسیر ⑥ المصفی شرح الموطا ⑦ المسوی شرح الموطا ⑧ شرح تراجم أبواب البخاری ⑨ النوادر من أحادیث سید الأوائل والأواخر ⑩ الأربعین ⑪ الدر الثمین فی مبشرات النبی الأمین ⑫ الإرشاد فی مهمات الإسناد ⑬ إنسان العین فی مشائخ الحرمین ⑭ حجة الله البالغة ⑮ إزالة الخفاء عن خلافة الخلفاء ⑯ قرة العینین فی تفضیل الشیخین ⑰ حسن العقیدة ⑱ الإنصاف فی سبب الإختلاف ⑲ عقد الجید فی أحکام الإجتهاد والتقلید ⑳ البدور البازغة ㉑ المقدمة السنة فی إنتصار الفرقة السنیة ㉒ الطاف القدس فی لطائف النفس ㉓ القول الجمیل فی بیان السوال ㉔ الإنتباه فی سلاسل أولیاء الله ㉕ الهمعات ㉖ اللمحات ㉗ السطعات ㉘ الهوامع ㉙ شفاء القلوب ㉚ الخیر الکثیر ㉛ التفهیمات الإلهیة ㉜ فیوض الحرمین.. وغیره

هسے خو د دوی ټول تصنیفات ډیر قابل قدر او قیمتی دی خو په دے کښے بالخصوص حجة الله البالغة او,,ازالة الخفاء،، امتیازی مقام لری«رحمه الله رحمة واسعة وجزاه عن العلم وأهله خیر الجزاء»(۱)

---

(۱) دا ټول حالات د نزهة الخواطر. (۶/۴۱۵) او فوائد جامعه برعجاله نافعه (ص. ۲۷۶، ۲۸۷) نه ماخوذ دی د دوی د حالاتو کمالاتو خدماتو او تالیفاتو د پوره تعارف دپاره اوګورئ ..تاریخ دعوت وعزیمت جلد پنځم از مولانا سید ابوالحسن علی ندوی رحمه الله

شيخ ابوطاهر كردي رحمه الله د دوى نوم محمد عبدالسميع بن ابراهيم بن حسن بن شهاب الدين الكردي اومدني الشافعي رحهم الله تعالى
دوى په ۲۱رجب ۱۰۸۱ھ مطابق ۱۶۷۰ء په مدينه منوره كښې پيدا شوى وو.علوم عربيت ئې دخپلې زمانې سيبويه شيخ احمد ادريس مغربى نه حاصل كړى وو.فقه شافعي ئې د شيخ علي طوبوني مصرى نه حاصل كړله.د معقولاتو كتابونه ئې د منجم باشي نه كوم چه د روم متبحر عالمانو نه وو.علم حديث ئې د خپل پلار نه حاصل كړے وو.ددے نه پس ئې دا علم د شيخ حسن عجمي نه اووئيل.هم د دوى نه ئې استفاده كړے وه.ددے نه پس ئې د شيخ احمد نخلي او شيخ عبدالله سالم بصرى نه فائده واخستله.دشيخ سالم بصرى نه ئې شمائل نبوى اووئيل.او ددو مياشتو نه په كمه موده كښې ئې د مسند احمد سماع هم اوكړله.د حرمينو نه راتلونكي عالمانو نه ئې ښه استفاده اوكړله.چه په هغې كښې شيخ عبدالله لاهورى هم وو.هم د دوى په واسطه به دوى د ملا عبدالحكيم سيالكوتي رحمه الله كتابونه روايت كول.دغه شان د شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله كتابونه به ئې هم روايت كول.خكه چه ملا عبدالحكيم ته د شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله نه اجازت حاصل وو.
دوى په ورع اوتقوى،طاعت خداوندى،اشتغال علمي اوانصاف پسندئ كښې د سلفو نمونه وه.ديوسوال جواب چه به ئې ترڅو پورے كتابونه ښه نه وو كتلے.نه وركولو .
نرم دل دومره وو.چه د رقاق احاديث به وئيل.نوپه سترګو كښې به ئې اوښكے راغلے.په لباس وغيره كښې به ئې څه تكلف نه كولو.خپلو خادمانو او شاګردانو سره به ئې ډيره عاجزى كوله.
حضرت شاه صاحب رحمه الله په ،،الانتباه،، كښې ليكى.
دا فقير څه وخته پورے د شيخ ابوطاهرپه صحبت كښې پاتے شوے وو.صحيح بخارى مے د دوى نه حرفاً حرفاً وئيلے ده.د دوى په صحبت كښې چه پاتے شوم.نو ددے فن مشكلات مے د بحث اونظر نه پس حل كړل.په تتبع تلاش اولټون سره مے رجال او د حديث د شرحے نه واقفيت حاصل كړلو.ددے طبقے نه واخله تر مصنفينو پورے او بيا د مصنفينو رحمهم الله نه واخله تر نبى ﷺ پورے په رجالو كښې مے مهارت حاصل كړلو.صحيح مے دسقيم نه جدا كړلو.د روايت قوانين او د حديث اصول مے ياد كړل.د حديث د متابعاتو او شواهدو معرفت مے حاصل كړلو.مسند دارمي مے ټوله د دوى نه واوريدله.د كتب صحاح سته اطراف مے هم دوى ته واورول.هغوى صرف ددےكتابونو د روايت كولو اجازت رانكړلو.بلكه د ټولو رواياتو او اسنادو تفصيلاتو نه ئےخبر كړم.او خرقه خلافت ئې راته واچولو.جزاه الله سبحانه عني خيراً..
په رمضان ۱۱۴۵ھ مطابق ۱۷۳۳كښې دوى په مدنيه منوره كښې وفات شو.او په جنة البقيع كښې دفن كړے شو.(۱)

(۱) دا ټول حالات د ..فوائد جامعه برعجاله نافعه.. (ص،۲۹۸، ۳۰٤) او الأعلام للزركشي (۳۰٤/۵) نه اخستے شوي دي.د نورو تفصيلاتو دپاره اوګورئ سلک الدرر(۲۷/۲) إنسان العين في مشائخ الحرمين (۱۳، ۱٤) الإنتباه في سلاسل أولياء الله و وارثي أسانيد رسول الله،وحصر الشارد في أسانيد الشيخ محمد عابد،واليانع الجني ،فهرس الفهارس)_

شیخ ابراهیم بن حسن بن شهاب الدین الکورانی الکردی رحمه الله ددوی نوم ابراهیم کنیت ابوعرفان او لقب برهان الدین دے د دوی سلسله نسب دا ده. ابراهیم بن حسن بن شهاب الدین الشهرزوری الکردی الکورانی الشافعی رحمه الله

په کال ۱۰۲۵ھ مطابق ۱۶۱۶ء کښے د کرد د غرونو په علاقه ..شهران.. کښے پیدا شوے وو د دینی علومو تحصیل ئے دهغه خائے د نامتو عالمانو نه اوکړلو اوبیا ئے سفر اوکړلو. دوه کاله ئے په بغداد کښے تیر کړل. اود لویو لویو عالمانو نه ئے فیض حاصل کړلو. څلور کاله ئے په شام کښے تیر کړل اود مصر په لار حرمینو ته اورسیدلو. دلته کښے ئے د شیخ احمد قشاشی رحمه الله سره ملاقات اوشو اود دوی سره ئے خصوصی تعلق جوړ شو. هم ددوی نه ئے د حدیثو په روایت کښے اجازت واخستلو .اوخرقه خلافت ئے هم ددوی نه حاصله کړه. ددوی په صحبت کښے پټے شو .لوئے مرتبے او اوچت کمالات ئے حاصل کړل.

دوی ته د کردئ او فارسئ نه علاوه عربی اوترکی ژبے هم یادے وے. تبحرعلمی. روشن دماغی. زهد او تقوی .اود صبر اوحلم په صفاتو موصوف وو. دوی دخپلے زمانے دنوم نهاد فقهاؤ او صوفیاؤ د لباس نه خان ساتلو. ساده ژوند به ئے تیرولو. اوسادګی به ئے خوښوله. دوی به په مجلس کښے د صدر په حیثیت کیناستل. په خبرو کښے وړاندے والے کول. یا داسے قسم په نورو خبرو د خپل حقیقت ښکاره کولو نه ئے پرهیز کولو.

د تبحرعلمی ئے دا حالت وو. چه علامه محمد عابد سندهی رحمه الله فرمائی.

..موصوف امام محقق. جامع معقول ومنقول. او حاوی فروع واصول وو. د حکمت نظریه وعملیه متقن او ددے په اسرارو حاوی وو. دغه شان د ابن عربی، جیلی، قاشانی .قونوی. او قیصری د کتابونو دحقائقو ماهر وو. هم دوی په دے علومو کښے حرف آخر ګڼړلے کیدل. چه علم حدیث طرف ته متوجه شو. نو ددے لعلونه او جواهرات ئے راوویستل..

ددوی د اتباؤ نه زیات تصانیف دی. علامه محمد زاهد سندهی رحمه الله فرمائی. «**کانت مصنفاته جدیرة، بأن تکتب بماء العیون، وأن یبذل فی تحصیلها المال والأهل والبنون**» چه ددوی تصانیف ددے لائق دی. چه د چینو په اوبو باندے اولیکلے شی. او د دے په حاصلولو کښے د مال او اهل وعیال. په خرچ کولوهم هیله نه ده بکار.

ددوی مشهور تصانیف دا دی:

① **الأمم لإیقاظ الهمم** دا د دوی ثبت. ډیرتفصیلی اوجامع فوائد دی. ② **إتحاف الخلف بتحقیق منهب السلف** ③ **تنبیه العقول علی تنزیه الصوفیة من إعتقاد التجسیم والعینیة والإتحاد والحلول** ④ **مد الفیء فی تقریر لیس کمثله شیء** ⑤ **مشرع الورود إلی مطلع الجود بتحقیق التنزیه فی وحدة الوجود**_

دوی په جمادی الاولی کال ۱۱۰۱ھ مطابق ۱۶۹۰ء کښے په مدینه منوره کښے وفات شو او په جنة البقیع کښے دفن کړے شو. رحمه الله [۱]

---

(۱) دا ټول حالات د ..فوائد جامعه برعجاله نافعه.. (ص.۳۰۵. ۳۱۴) او الأعلام (۳۵/۱) نه ماخوذ دی. د تفصیل دپاره اوګورئ. نسان العین فی مشائخ الحرمین. الإنتباه فی سلاسل الأولیاء الله. البدر الطالع(۱۱/۱. ۱۲)وسلک الدرر (۵/۱. ۶)

صفی الدین احمد القشاشی رحمه الله احمد بن محمد بن یونس بن احمدبن علی بن یوسف بن حسن البدری القشاشی المدنی رحمه الله د پلار د طرفه ددوی سلسله نسب حضرت علی رضی الله عنه او د مور د طرفه حضرت تمیم داری رضی الله عنه ته رسی

د دوی لقب..صفی الدین.. دے صاحب د «الرحلة العیاشیة» لیکی د اهل مشرق عادت دے چه د کوم سړی نوم احمد وی دهغه لقب ..شهاب الدین.. ایږدی شیخ احمد قشاشی خپلو شاګردانو ته اوفرمائیل زما نوم ..احمد.. دے چه په نومونو کښے معزز دے نو ما په ..شهاب الدین..باندے مه ملقب کوئ کوم چه د عذاب او رجم نوم دےنو د دوی لقب ..صفی الدین)) مشهور شو.

د دوی نیکهٔ د عبدالغنی په نوم ملقب وو.په نسبت لرونکو بزرګانو کښے ورته اوچت مقام حاصل وو.دوی به د خپل نسبت پټولو دپاره ..قشاشه.. خرخول.قشاشه کبړ ته وائی لکه زوړ سامان جامے وغیره

دوی په کال ۹۹۱ﻫ مطابق ۱۵۸۳ء کښے پیدا شوے وو.تعلیم او تربیت ئے د قدرمند پلار شیخ محمد مدنی رحمه الله نه حاصل کړے وو.هغوی د خپل شیخ محمد بن عیسی تلمسانی رحمه الله په تابعداریٔ کښے مالکی مذهب اختیار کړے وو.نو دوی په شروع کښے دوی ته د فقه مالکی تعلیم ورکړلو.په کال ۱۰۱۱ﻫ کښے ئے د خپل پلار سره د یمن سفر اوکړلو.اودهغه ځائے د مشانخو نه ئے استفاده اوکړه.بیا په ګرځیدو ګرځیدو کښے مکے معظمے ته راغلو.دلته څه زمانے پورے پاتے شو.بیا مدینے منورے ته لاړلو.اودهغه ځائےد مشانخو نه ئے استفاده اوکړله.ددے نه پس د شیخ احمد شناوی رحمه الله سره د صحبت په وجه ئے د هغوی مسلك او طریقه اختیار کړله .د هغوی نه ئے دحدیث تکمیل اوکړلو.اودهغوی د لور سره ئے نکاح اوکړله.د هغوی نه پس د هغوی په ګدئ کیناستلو.او ټول عمر ئے په حرم نبوی کښے د حدیثو درس ورکولو.

احمد قشاشی دطریقت اوشریعت امام وو.چه د حقائقو خبرے به ئے بیانولے نو د آیتونو او احادیثو نه به ئے دلائل او براهین پیش کول.د ډیرو مشانخو سره ئے صحبت کړے وو خرقه خلافت ورته د خپل پلار نه ملاؤ شوے وه.اوکامیابی او قبولیت ورته د شیخ احمد شناوی په لاس باندے ملاؤ شو.

دوی خونهٔ د هغه زمانے د فقهاؤ په جامه کښے وو.او نهٔ د خشك زاهدانو په طریقه وو.بلکه ددوی طریقه ساده او دسنت مطابق وه.دوی به د مالدارانو کور ته چرته نه تلو.خو که په هغوی کښے به څوك د دوی ځائے ته راغلو.نو ډیر په خوشحالئ او روڼ تندی به ورسره ملاویدلو.دهرکس سره به ئے د هغه د مرتبے مطابق رویه ساتله .ډیر په نرمه لهجه کښے به ئے امر بالمعروف اونهی عن المنکر کولو.ملاقاتیان به ئے د نصیحت نه بغیر نه رخصتول.

د دوی نه ډیرو لویو لویو عالمانو اوصوفیانو استفاده کړے ده.چه په هغوی کښے عارف بالله عبدالرحمن مغربی ادریسی .شیخ عیسی مغربی جعفری .سید عبدالله بافقیه او ابراهیم حسن کورانی رحمهم الله وغیره مشهور دی.

د دوی په تصنیفاتو کښے لاندینی کتابونه مشهور دی.
① السمط المجید فی تلقین الذکر والبیعة وإلباس الخرقة وسلاسل أهل التوحید ② بستان العابدین وروض العارفین ③ حاشیة علی الإنسان الکامل ④ حاشیة علی المواهب اللدنیة ⑤ الدرة الثمینة فیما لزائر النبی ﷺ إلی المدینة ⑥ شرح عقیدة ابن عفیف ⑦ کتاب النصوص ⑧ کلمة الجود فی القول بوحدة الوجود ⑨ الکملة الوسطی فی شرح حِکَم ابن العطا ⑩ الکمالات الإلهیة ⑪ الکنز الأسنی فی الصلاة والسلام علی الذات المکملة الحسنی
دوی د ذکل په ورځ ١٠٧١ھ مطابق ١٦٦١ء کښے په مدینه منوره کښے وفات شو .او په بقیع کښے دفن کړے شو رحمه الله (١)
شیخ احمد بن علی بن عبدالقدوس الشناوی رحمه الله ددوی نوم احمد او کنیت ابوالمواهب او ابوالعباس دے.پوره سلسله نسب ئے دا ده.
احمد بن علی بن عبدالقدوس بن محمد الشناوی المصری ثم المدنی.
په شوال ٩٧٥ھ مطابق ١٥٦٧ء کښے په مصر کښے په محله ،،روح ،، کښے پیدا شو.دعلومو تکمیل ئے په مصر کښے اوکړلو.د نامور محدث شمس الدین رملی،
قطب الدین محمد بن ابی الحسن بکری رحمه الله او شیخ نورالدین زیدی رحمه الله نه ئے حدیث او فقه اووئیله.بیا ئے په مدینه منوره کښے د سید صبغة الله بن روح الله سندهی نه په تصوف کښے داعمالو اواشغالو تعلیم حاصل کړلو.او دعلم طریقت تکمیل ئے اوکړلو.موصوف ورته خرقه خلافت ورکړه.
د شیخ احمد شناوی رحمه الله مشران په لویو بزرګانو کښے وو.پخپله جامع د شریعت او طریقت وو.محبی رحمه الله په خلاصة الاثر کښے لیکلی دی.«الأستاذ الکامل المکمل، باهر الطریقة، ترجمان لسان القوم، کان آیة الله الباهرة فی جمیع المعارف، وقد أعلی الله تعالی مقداره، ونشر ذکره، وله بالحرمین الشهرة الطنانة...وله خلفاء فی کل أرض، ورتبهم عالیة معلومة»
د دوی نه چه کومو عالمانو حدیث حاصل کړے دے.او اکتساب فیض ئے ترے کړے وو.په هغوی کښے سید سالم بن احمد بن شیخان محمد بن عمر حبشی غرابی او شیخ صفی الدین احمد قشاشی مشهور دی.
د دوی مشهور تصنیفات دا دی: ① الإرشاد إلی سبیل الرشاد ② إفاضة الجود فی وحدة الوجود ③ الإقلید الفرید فی تجرید التوحید ④ التأصیل والتفصیل ⑤ تجلیة البصائر حاشیة علی کتاب الجواهر ⑥ خلاصة الإختصاص و ما للکل من الخواص ⑦ السطعات الأحدیة فی روائح الذات المحمدیة ⑧ سعة الأخلاق

(١) دا ټول حالات د فوائد جامعه برعجاله نافعه (ص.٣١٤، ٣١٩) نه ماخوذ دی.د زیات تفصیل دپاره اوګورئ إنسان العین فی مشائخ الحرمین .الإنتباه فی سلاسل أولیاء الله .الرحلة العیاشیة .خلاصة الأثر. فهرس الفهارس . هدیة العارفین.

⑨ شفاء الغرام في أخبار الكرام ⑩ صارحة الأزل وسانحة النزل ⑪ الصحف الناموسية والسحف النادوسية ⑫ ضمائر السرائر الإلهية في بواهر آيات جواهر الغوثية ⑬ فتح الإله فيما يقال دبر كل صلاة ⑭ فواتح الصلوات الأحدية في لوائح مدائح الذات الأحمدية ⑮ مناهج التأصيل ⑯ موجبات الرحمة وموافقات العصمة ⑰ بيعة الإطلاق.

تنبيه شناوي، شنو (بكسر شين معجمه ونون مشدده مضمومه) طرف ته منسوب دے دا د مصر مغربي طرف ته يو كلے دے.

په ۸ ذالحجة ۱۰۲۸ كنبے په مدينه منوره كنبے وفات شو او په بيع غرقد كنبے د خپل شيخ صبغة الله سره په اړخ كنبے خاورو ته اوسپارلے شو. رحمه الله رحمة واسعة (۱)

شمس الدين محمد بن احمد الرملي رحمه الله شيخ مجدد شمس الدين محمد بن احمد بن حمزة الرملي المنوفي الانصاري الشافعي المصري دے.

په جمادى الاولى ۹۱۹ھ كنبے په منوفه (مصر) كنبے پيدا شوے وو. اول ئے قرآن پاك حفظ كړلو. او بيا ئے ټول علوم د خپل قدرمند پلار شيخ احمد رملي رحمه الله نه حاصل كړل. دوى ته د حديث سند د شيخ الاسلام زكريا انصارى رحمه الله اوشيخ برهان الدين بن ابى شريف رحمه الله نه حاصل كړلو. دغه شان شيخ الاسلام احمد بن النجار حنبلي رحمه الله. شيخ الاسلام يحى دميري مالكي. شيخ الاسلام طرابلسي حنفي رحمه الله او شيخ سعد الدين ذهبي شافعي رحمه الله نه ئے هم په حديثو كنبے اجازت اخستے دے. الله تعالى ورته د حافظے. فهم. علم او عمل د نعمتونو نه پوره برخه وركړے وه.

محبى په ((خلاصة الاثر)) كنبے د شيخ عبدالوهاب شعرانى رحمه الله كلام د هغوى د ((الطبقات الكبرى)) نه نقل كړے دے. فرمائي. زه هغه د هغه وخت نه پيژنم. د كوم وخت نه چه به هغه ما په خپلو اوږو باندے اوچتولو. او تراوسه پورے مے ورسره تعلق دے. ما په هغوى كنبے تراوسه پورے داسے څه خبره نه ده ليدلے. چه په هغے د هغه دين ته نقصان رسيدلو. دوى به په ماشومتوب كنبے هم ماشومانو سره لوبے نه كولے. بلكه ددوى نشونما او تربيت د ديندارئ. تقوى د اندامونو او جوارحو په پاكوالي او د عزت په حفاظت سره شوے ده. د دوى تربيت ددوى پلار ډير په ښه طريقه كړے وو. ماچه په كوم وخت كنبے دهغوى د پلارنه په مدرسه ناصريه كنبے سبق وئيل. نو دے به ئے په غيږ كنبے كينولو. دهغه وخت نه به ما په دوى كنبے صلاح. تقوى او دخير آثار كتل. د دوى نه چه زما څه اميد وو. الله تعالى هغه پوره كړلو. او ددوى په وجه الله تعالى د محبينو سترگے يخے كړے. دوى په مصر كنبے په فتوو ليكلو كنبے دخلقو مرجع اوگرځودلو. او د اهل مصر د دوى په ديندارئ باندے اتفاق دے. او دالله په فضل هغوى په دے كنبے ترقي كوى.

---

(۱) دا تفصيلات د فوائد جامعه (ص.۳۱۹. ۳۲۲) نه ماخوذ دى. دتفصيلي حالاتو دپاره اوگورئ ..إنسان العين في مشائخ الحرمين.. الإنتباه.. خلاصة الأثر.. هدية العارفين..

د قدرمند پلار د وفات نه پس په مسند درس باندے كيناستلو.او په داسے عجيبه شان ئے درس شروع كړلو چه د دوى د پلار نامور شاګردان لكه ناصرالدين طبلاوى رحمه الله او شهاب الدين احمد چه شمار ئے دهغه وخت په اوچتو عالمانو كښے كيدلو .هغوى هم د استفادے په غرض ددوى په درس كښے شريك شول.د دوى د جليل القدر علمى اوعملى خدماتو په وجه بعضے خلقو د دوى شمار په مجددينو كښے كړے دے.
د دوى په نسبت كښے ..رملى.. رمله طرف ته منسوب دے.دا د مصر يو كلے دے. د شام ..رمله.. نه ده.

د دوى مشهور تاليفات دا دى.

① نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج ② الفتاوى ③ غاية البيان فى شرح زبدة الكلام ④ شرح العقود فى النحو
⑤ شرح منظومة ابن العماد—

په ۱۳جمادى الاولى ۱۰۰۴ھ كښے د اتوار په ورځ په مصر كښے دوى وفات شو.رحمه الله تعالى رحمة واسعة (۱)

شيخ الاسلام زين الدين زكريا الانصارى رحمه الله

شيخ الاسلام زين الدين زكريا بن محمد بن زكريا انصارى الخزرجى الشافعى رحمه الله ۸۲۳ھ كښے د مصر په وړوكى ښار ،،سنيكه،، كښے پيدا شوے وو.هلته ئے ابتدائى تعليم حاصل كړلو.په كال ۸۴۱ھ كښے قاهرة ته راغلو.خولږ وخت پس بيا وطن ته واپس شو.بيا دوباره قاهرة ته راغلو.په جامع ازهر كښے ئے قيام اوكړلو.او د اسلامى علومو په تحصيل كښے همه تن مشغول شو.
شيخ الاسلام زكريا انصارى رحمه الله د خپلے طالبعلمئ واقعه ذكر كړے ده.فرمائى.چه زه د خپل كلى نه جامع ازهر ته راغلم.نو خوان ووم.اكثر به اوږے ووم.د مجبورئ نه به د شپے راوتلم.اودس خانے ته به لاړم.هلته به د خربوزے پوستكى پراته وو.هغه به مے اووينځل.او خوړل به مے.او په دے طريقه به مے لوږه ختموله.په دے حالت باندے څو كاله تيرشول.بيا الله تعالى ماته يو سړے راوليږلو.چه هغه به په جرنده كار كولو.هغه زما نه زما حالات معلوم كړل.ددے نه پس هغه زما د خوراك څكاك ذمه وارشو.يوه شپه زه اودهٔ ووم.هغه ماته راغلو.اوزما لاس ئے اونيولو.او وے وئيل.پاسه.اوسره راروان شه.زه هغه سره روان شوم.هغه زه د جامع ازهر پوړو ته بوتلم.او ماته ئے اووئيل.په دے پوړئ باندے اوخيژه.زه اوختم.هغه بزرګ صفت شخص راته اووئيل.نور هم اوخيژه.زه اوختم.زه آخر ته اورسيدم.ددے نه پس زه راكوز شوم.په هغه وخت كښے راته دغه قدرمند شخصيت اووئيل.زكريا ته به د خپلو ملګرو نه پس مرے.او دټولو نه به ښه ژوند تيروے.د يوے زمانے پورے به د شيخ الاسلام په عهده

---

(۱) ذكرشوى حالات د ..فوائد جامعه (۲۲۶، ۳۲۹) نه ماخوذ دى.د زيات تفصيل دپاره اوګورئ (خلاصة الأثر.. او په المجددون فى الإسلام)_

باندے پاتے کیږے ستا شاګردانو نه به هم شیوخ جوړیږی.بیا هغه زما نه لاړلو.ددے نه پس مے د هغه سره ملاقات اونشو.

دوی چه د کومو استاذانو نه فیض حاصل کړے دے په هغوی کښے حافظ ابن حجر عسقلانی شافعی.تقی الدین ابوالعباس شمنیؒ حنفی.زین الدین ابوالحسن طاهر بن محمد النویری المالکی ، زین الدین ابوذرعبدالرحمن زرکشی حنبلی. محی الدین محمد بن سلیمان حنفی کافیجی. محقق ابن الهمام حنفی او شرف الدین مناوی رحمهم الله تعالی پشان د علم او فضل ستنے دی.دوی په تفسیر.حدیث.فقه .اصول فقه .او داصول فقه تکمیل د هغه دور د نامورو عالمانو نه کړے وو.اود هغه وخت د کم نه کم د یونیم سل مشائخو او محدثینو ﷺ نه ئے په حدیث کښے اجازت اخستے وو.دغه شان دوی ته د افتاء او تدریس اجازت هم په سوونو عالمانوورکړے وو.

دوی چه کله د دینی علومو تحصیل اوکړلو.نود درس وتدریس شغل ئے اختیار کړلو.او ډیرد خوشحالیؒ ژوند ئے تیرولو.د قضاء په عهده باندے مقرر شو.نو درے ځلور روپیؒ ورځ ئے تنخواه وه. ددے نه پس په عظیم الشان منصبونوباندے فائز شو .په مقام امام شافعی ﷫ کښے ورته د تدریس عهده ملاؤ شوه.دا په هغه زمانه کښے د ټولو نه لویه عهده وه.په مدرسه رفیعه مدرسه خانقاه صوفیه کښے په مسند درس باندے پاتے شوے وو.

علامه شعرانی ﷫ فرمائی.چه شیخ الاسلام د فقه اوتصوف دواړو طریقو په ارکان علم کښے وو.دمصر د لویو نه لوئے عالم به د دوی په مقابله کښے طفل مکتب ښکاریدلو.هم دا حال دهر امیر اوغریب وو.

حافظ علائی ﷫ فرمائی.اګرچه مونږ دهغه په ډیرو استاذانو کښے شریك وو.خو هغه زمونږ په استاذانو کښے وو.هغوی د مختلفو علومو او معارفو جامع اود مقبول تصنیفاتو مالك وو.حسن اخلاق، حسن سلوك،وقار، او د استاذانو نه استفاده داسے صفات هغوی جمع کړی وو.چه د هغے نه نور خلق محروم وو.

شیخ عبدالله بن عمربامخرمه ﷫ دوی د لسمے صدیٔ مجدد ګرځولے دے.هغوی فرمائی.

،،زما په نیز قاضی زکریا انصاری د لسمے صدیٔ مجدد دے.ځکه چه د هغوی د ذات او دهغوی د تصنیفاتو نه عامه فائده ملاویږی.زیات خلق د هغے محتاج دی.خاص کر په فقه اود مذاهبو په سلسله کښے هغوی مرجع پاتے ده.

دوی صرف د علم دمیدان شهسوار نه وو.بلکه د میدان عمل بادشاه هم وو.علامه شعرانی ﷫ فرمائی.زه شل کاله هغوی سره پاتے شوے یم.ما هغوی چرته په غفلت کښے نه دی لیدلے.اونه په لایعنی کار کښے مشغول لیدلی دی.کله چه به هغوی سره کیناستم.نو داسے به مے محسوسوله.چه زه عارف بالله او صالح بادشاه سره ناست یم.

دغه شان هغوی فرمائی،،ما د موصوف نه زیات څوك صدقه کونکے اوخیرات کونکے نه وو لیدلے.دوی به دا کار دومره په ښه شان سره کولو.چه ورسره ناست پاست خلقو ته به هم دا پته نه لګیدله.د بعضے غریبانانود ورځے او د میاشتے صدقه ئے مقرر کړے وه.

د شیخ ﷫ عمر د سلوکالو نه زیات وو.خو په معمولاتو کښے ئے چرته فرق نه وو راغلے.د بیماریٔ په حالت کښے به ئے هم نفلونه په ولاړه کول.

د دوی نه په زرګونود حدیث طالبانو استفاده کړې ده.په ذیقعده۹۳۴ھ یا ۹۲۶ھ کښې د یوسل درې کالو په عمر کښې وفات شو. په مختلفوعلومو او فنونو کښې ئې د څلوېښتو نه زیات تصانیف یادګار پریخودی دی.په هغې کښې د څو نومونه دا دی.

① آداب القاضی علی مذهب الشافعی ② تحفة الطلاب شرح تحریر تنقیح اللباب ③ تحفة نجباء العصر فی أحکام النون الساکنة والتنوین والقصر ④ الدقائق المحکمة فی شرح المقدمة للجزری ⑤ شرح الجامع الصحیح للبخاری ⑥ شرح صحیح مسلم ⑦ فتح الباقی بشرح ألفیة العراقی وغیرها(۱)

قاضی القضاة ابوالفضل شهاب الدین احمد بن علی العسقلانی المعروف بالحافظ ابن حجر رحمه الله

سلسله نسب ئې دا ده.احمد بن علي بن محمد بن علی بن محمودبن بن احمد الکنانی العسقلانی المصری الشافعي... ددوی کنیت ابوالفضل ،لقب شهاب الدین او عرف ..ابن حجر..دې.

دحافظ سخاوی رحمه الله د تصریح مطابق ،حجر،، د دوی په پلار نیکهٔ کښې د چا لقب دې.دوی د بنوکنانه سره تعلق ساتی.کومه چه د عربو مشهوره قبیله ده. د دوی مشران په اصل کښې د عسقلان اوسیدونکی وو.دا د فلسطین اطرافو ته د سمند ساحل سره د شام یو مشهور ښار دې.د دې نسبت د وجې دوی په عسقلانی باندې مشهور دی.ګنې ددوی ولادت او تربیت په مصر کښې شوې وو.او هم دلته خاورو ته سپارلې شوی وو.

ولادت او تعلیم وتربیت: د دوی پیدائش شعبان ۷۷۳ھ کښې شوې وو.په لږه موده کښې ئې اول مور وفات شوه.اود څلورو کالو په عمر کښې ئې د قدرمند پلار د شفقت سیورې د سر نه اوچت شو.د دوی پلار د دوی د تربیت دپاره دوه وصیان مقرر کړی وو.یو شیخ زکی الدین خروبی کوم چه د مصر لوئې سوداګر وو.او بل شیخ شمس الدین محمد بن قطان کوم چه د متبحرو عالمانو څخه وو.

زکی الدین خروبی د یتیمۍ په حالت کښې دوی د خپل تربیت په جولۍ کښې واخستلو.او تر بلوغه پورې هم د دوی په تربیت کښې وو.کله چه پوره د پنځو کالو شو.نو په مکتب کښې داخل کړې شو.د نهه کالو په عمر کښې ئې د صدرالدین سفطی نه قرآن پاك حفظ کړلو.د قرآن پاك نه علاوه ئې ..عمدة الاحکام.. الحاوی الصغیر، مختصر ابن الحاجب، ألفیة العراقي، ملحة الاعراب وغیره کتابونه زبانی یاد کړل.

په ۷۸۴ھ کښې چه د دوی عمر یوولس کاله وو.د خپل وصی سره حج د بیت الله ته لاړلو.یو کاله پورې د حرم په ګاونډ یتوب کښې اوسیدلو.اود هغه ځائې په قیام کښې ئې د شیخ عفیف الدین عبدالله بن محمد النشاوری نه دصحیح بخاری سماع اوکړله.په فن حدیث کښې دا د

(۱) دا تفصیل د فوائد جامعه (ص.۳۴۲، ۳۴۹) نه ماخوذ دی.د زیات تفصیل دپاره اوګورئ الکواکب السائرة ،النور السافر، البدر الطالع، المجددون فی الإسلام ،الضوء اللامع ،شذرات الذهب او فهرس الفهارس _

دوى د ټولو نه اولنے استاذ دے.هم په دے كال ٧٨٥ھ ئے په مسجد حرام كښے په تراويح كښے قرآن پاك واورولو.په كال ٧٨٦ھ كښے مصر ته واپس راغلو.او ددے ځائے د مشائخو نه مستفيد شو

په كال ٧٩٧ھ كښے ئے د حافظ العصر شيخ زين الدين عراقى رحمه الله صحبت اختيار كړلو.لس كاله دهغوى په خدمت كښے پاتے شو.اوعلم حديث ئے حاصل كړلو.او حديثو سره ئے داسے شغف پيدا شو.چه ترژونده پورے وو.د مسند قاهره شيخ ابواسحاق تنوخى رحمه الله نه ئے استفاده اوكړله.بيا ئے د اسكندريه سفر اوكړلو.د هغه ځائے نه په مكه مكرمه ، مدينه منوره. زبيد. عدن. وغيره مختلفو مقاماتو او ملكونو كښے د مشائخو نه د حديثو سماع اوكړله.په يمن كښے ئے د لغت د امام صاحب ،،قاموس،، او علامه مجدالدين فيروزآبادى نه استفاده اوكړله.

دحافظ رحمه الله د استاذانو په باره كښے حافظ سخاوى رحمه الله ليكى.په دوى كښے هر يو په خپل علم كښے متبحر وو.او په كوم فن كښے چه دچا شهرت وو.نو دومره وو.چه بل چا دهغه مقابله نشوه كولے،،

حافظه او ذكاوت: الله تعالى په دوى باندے د زبردستے حافظے اوذكاوت احسان كړے وو.ابن فهد ليكلى دى.چه دوى پوره سورت مريم په يوه ورځ كښے ياد كړے وو.د حاوى صغير پوره صفحه به ورته په دوه ځله وئيلو سره حفظ كيدله.په اول ځل به ئے د استاذ نه صحيح كوله او لوستله.او دوباره به ئے پخپله وئيله.او په دريم ځل به ئے ورته زبانى تيروله.

علم او فضل: حافظ رحمه الله ته په مختلفو علومو او فنونو كښے كمال حاصل وو.د ټولو نه وړاندے ئے ادب اوتاريخ ته توجه وركړے وه.په دے دواړو كښے ورته اوچت مقام حاصل وو.په فقه اوعربيت كښے ممتاز وو.د شعراو سخن ذوق ئے فطرى وو.

په دے كښے شك نشته.چه علم حديث د حافظ رحمه الله خاص فن وو.اوهغوى د خپل ژوند زياته حصه دے كښے تيره كړے وه.د هغے په وجه نن هم د حافظ الحديث په لقب سره يادولے شى.خو دا يو حقيقت دے.چه دوى اول شاعر ، بيا محدث،او په دريمه مرتبه كښے فقيه وو.علامه ابن العماد رحمه الله د دوى په باره كښے بالكل صحيح نقل كړى دى.((**كان شاعراً طبعاً، محدثاً صناعة، فقيهاً تكلفاً**)) يعنى دوى طبعى طور شاعر وو.د فن په اعتبار سره محدث وو.او په تكلف فقيه وو.وجه ښكاره ده.چه د شعر سليقه ئے فطرى وه.حديث ئے دفن په حيثيت حاصل كړے وو.او په فقه كښے به ورته د كوشش ضرورت وو.

داكابرينو او معاصرينو خراج تحسين حافظ ابن حجر رحمه الله په خپله زمانه كښے ،،د اختلافه ،،اميرالمؤمنين في الحديث،، وو.په اسماء الرجال كښے ورته هم د امامت مرتبه حاصله وه.منقول دى.چه حافظ ابن حجر رحمه الله چه د زمزم اوبه څكلے.نو دعا ئے كړے وه.چه زما حافظه دے د امام ذهبى رحمه الله د حافظے پشان وى.د دوى دا دعا قبوله شوه.په علم حديث كښے د مهارت او د حفظ حديث د ياد وجے على الاطلاق د ،،حافظ،، په نوم باندے مشهور شو.

حافظ عراقى رحمه الله به د دوى په باره كښے فرمائيل. ((**انه أعلم أصحابي بالحديث**))

دغه شان د هغوی چه کله چا تپوس اوکړلو چه ستاسو گډه نشین به څوك وی؟ نوجواب ئے ورته ورکړلو «ابن حجرثم ابنی ابوزرعه ثم الهیثمی»

محقق ابن الهمام رحمه الله د دوی همعصر وو.اودتحقیق او اجتهاد مرتبے ته رسیدلی وو.ددے باوجود هغوی د حافظ رحمه الله ذکر کوی.اولیکی.

«وقال غیره ممن یوثق بسعة علمه، وهو قاضی القضاة شهاب الدین العسقلانی» په یو بل مقام کښے لیکی.

«قال شیخنا قاضی القضاة»

حافظ ابن فهد په لحظ الالحاظ کښے د دوی تذکره ددے الفاظو نه شروع کړے ده.«ابن الحجر العسقلانی المصری الشافعی الإمام العلامة الحافظ فرید الوقت مفخر الزمان بقیة الحفاظ علم الأئمة الأعلام عمدة المحققین خاتمة الحفاظ المبرزین والقضاة المشهورین أبوالفضل شهاب الدین...»

حافظ سیوطی په ، ،ذیل تذکرة الحفاظ ، ، کښے د دوی تذکره په دے الفاظو شروع کړے ده.

«ابن حجر شیخ الإسلام وإمام الحفاظ فی زمانه، وحافظ الدیار المصریة، بل حافظ الدنیا مطلقاً قاضی القضاة»

درس وافتاء : دحافظ ابن حجر رحمه الله زیات ژوند د علم دین په خدمت کښے خصوصاً دحدیث په خدمت،نشرواشاعت، درس وتدریس،اوتصنیف وافتاء کښے تیر شوے دے.د قاهرے په لویو لویو مدرسو کښے دوی د تفسیر ،حدیث،اودفقه تعلیم ورکړے دے .په حسینیه او منصوریه کښے ئے دتفسیر درس ورکړے دے.بیبرسیه،جمالیه،حسینیه ، زینبیه . شیخونیه. جامع طولون او قبه منصوریه کښے ئے دحدیثو درس ورکړے دے .اوپه حروبیه، بدریه. شریفیه. فخریه. صالحیه. نجمیه. صلاحیه. مویدیه. کښے ئے د فقه درس ورکړے دے په دارالعدل کښے د افتاء کار دوی ته سپارلے شوے وو.جامع ازهر او ددے نه پس جامع عمروبن العاص کښے خطیب پاتے شوے وو.په محمودیه کښے خازن کتب وو.ددے تولو مصروفیتونو باوجود د یو زر مجلسونو نه په زیاتو کښے ئے دخپل یاد داشت نه امالی هم لیکلی دی.

د قضاء عهده په اول کښے الملك المؤید د شام د مملکت د قضاء عهده دوی ته پیش کړے وه. اوخو څو خله ئے ددے د قبولو خواهش کړے وو.خو دوی د اصرار باوجود دا پیش کش رد کړے وو.خو په محرم ۸۲۷هـ کښے چه الملك الاشرف د قاهره او د هغے د مضافاتو د قضاء منصب دوی ته حواله کړلو.نو دوی پوره په ذمه داریٔ او دیانتداریٔ دا منصب قبول کړلو.په قاهرهٔ کښے د دوی د قضاء منصب د حافظ سخاوی رحمه الله د تصریح مطابق یوویشت کاله وو.خو په دے دوران کښے دومره په کثرت سره د دوی معزوله کول او په منصب باندے فائز کول په لیدلو کښے راغلی دی چه د حیرانتیا خبره ده.روستو پخپله حافظ رحمه الله ته د قضاء ددے عهدے په قبلولو ډیره پښیمانتیا وه. لکه چه حافظ سخاوی رحمه الله لیکلی دی.

زرلوستل او زر لیکل د حافظ رحمه الله د تیزلوستلو دومره مشق شوے وو.چه دحیرانتیا خبره وه.یوخل ئے صحیح بخاری په لس نشستو (کوم چه بعد ماسپخین نه ترمازیگره پورے وو) ختم کړلو.دغه شان صحیح مسلم ئے په دوه نیمو ورځو کښے په پنځو نشستو کښے ختم کړے وو د امام نسائی سنن کبری ئے هم په لسو نشتو کښے ختم کړے وو. هر نشست څلور گهنټے

وو د ټولو نه لویه د حیرانتیا خبره دا ده.چه یو خل ئے د خپل شام په سفر کښے د امام طبرانی رحمه الله ..المعجم الاوسط.. (چه په هغے کښے دوه نیم زره احادیثو ته نزدے، سره د سندونو احادیث موجود دی) صرف په یو مجلس کښے د ماسپخین او مازیګر په مینځ کښے اورولے وو.په دمشق کښے د دوی دوه میاشتے لس ورځے قیام وو په دے دوران کښے د خپلو ضروری مشاغلو او علمی فوائد نقل کولو نه علاوه سلو جلدونو ته نزدے د حدیثو کتابونه ئے اهل شام ته لوستلی وو.

حافظ رحمه الله چه لکه څنګه زر لوستونکے وو.دغه شان زر لیکونکے هم وو.خو خط ئے ډیر خراب وو.بیا د تعجب خبره دا ده.چه د خط انداز ئے هم یو شان نه وو.ددے د وجے دهغوی د خط پیژندل او دهغے لوستل ډیر ګران وو.او په مبیضه کښے به هم دومره رودبدل کیدلو.چه مسوده به پاتے شوه.

زهد عبادت او اخلاق: دوی به په خوراك څکاك او اغوستلو کښے پوره احتیاط کولو.زیاتے روژے به ئے نیولے.اوښه عبادت به ئے کولو.د تهجدو اهتمام ئے هم کولو.د پاکیزه اخلاقو ،خوږو خبرو مالك او عاجز طوره او صبرناك وو.د دوستانو به ئے خیال ساتلو.اوښه سلوك به ئے ورسره کولو.

د حافظ رحمه الله په تذکره کښې یوه اهمه نکته: دا خبره عجیبه ده.چه دحافظ رحمه الله په خبرو کښے خومره ګوږوالے وو.نو دومره د دوی قلم زهریله وو.ملا کاتب چلپی رحمه الله په ..کشف الظنون.. کښے «الجواهر والدرر فی ترجمة شیخ الإسلام ابن حجر» باندے تبصره کوی.اولیکی.«وکان قلم ابن حجر سیئا فی مثالب الناس، ولسانه حسناً، ولیته عکس ،لیهلی الحسن» دحافظ رحمه الله شاګرد محدث برهان الدین بقاعی رحمه الله د خپل استاذ دطرز عمل ګیله کوی. اولیکی .«إن فیه من سیئ الخصال أنه لایعامل أحداً بما یستحقه من الإکرام فی نفس الأمر»

بیا خاص کر د حنفی عالمانو رحمهم الله په تراجمو کښے خود هغوی د قلم سفاکی د حجاج د توره نه څه کمه نه ده.د احنافو رحمهم الله په مشهورو امامانو کښے (د امام ابوحنیفه رحمه الله نه بغیر) کیدے شی چه څوك داسے نه وی.چه ددوی د قلم نوك د زخمی شوے نه وی.حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله ددوی په باره کښے بالکل صحیح فرمائیلی دی.«وهلی الحافظ ابن حجر رحمه الله وهوضر الحنفیة بما استطاعه، حتی إنه جمع مثالب الطحاوی والطعون فیه، مع أن أبا جعفر إمام عظیم، لم یهلغ إلی أحد من أئمة الحدیث خبره، إلا حضر عنده بمصر، وجلس فی حلقة أصحابه وتلمذ علیه»

حافظ سخاوی رحمه الله د حافظ رحمه الله مایه ناز شاګرد دے.هغوی د خپل استاذ په تذکره کښے یوضخیم کتاب «الجواهر والدرر فی ترجمة شیخ الإسلام ابن حجر»هم لیکلے دے.خوبیا هغه ته د خپل استاذ په دے طرز عمل باندے ځائے په ځائے د تنبیه ورکولو ضرورت پیښ شوے دے.د شیخ حسین بن علی حنفی رحمه الله په تذکره کښے لیکی.«أهمله شیخنا علی عادته فی الحنفیة مع تقدمه فی العلم» دغه شان د علامه جمال الدین عبدالله بن محمد حسینی نیشاپوری حنفی په تذکره

کښے لیکی. ((ثم نکت علیه علی عادته فی تغلیب التنکیت علی الحنفیة))

تصنیفات حافظ رحمه الله په حدیث، رجال، اوتاریخ وغیره باندے قلم اوچت کړے دے او د حافظ سخاوی رحمه الله د قول مطابق دا تصانیف د یونیم سلو نه زیات دی بلکه بعضے جدید محققینو د حافظ رحمه الله کتابونه دوه دوه اتیا حساب کړی دی. په دے کښے د څو مشهورو ذکر دا دے.

① إتحاف المهرة بأطراف العشرة ② الإصابة فی تمیز الصحابة ③ إنباء الغمر بأبناء العمر ④ بلوغ المرام ⑤ تبصیر المنتبه بتحریر المشتبه ⑥ المجمع المؤسس ⑦ تعجیل المنفعة بزوائد رجال الأئمة الأربعة ⑧ تغلیق التعلیق ⑨ تقریب التهذیب ⑩ تهذیب التهذیب ⑪ لسان المیزان ⑫ التلخیص الحبیر ⑬ الدرایة فی تخریج أحادیث الهدایة ⑭ الکافی الشاف فی تخریج أحادیث الکشاف ⑮ فتح الباری بشرح صحیح البخاری ⑯ المطالب العالیة ⑰ نخبة الفکر وشرحها نزهة النظر ⑱ نزهة الألباب فی الألقاب.

حافظ سخاوی رحمه الله د حافظ رحمه الله د تصانیفو په باره کښے په خپله د هغوی بیان نقل کوی. ((سمعته یقول لست راضیاً عن شئ من تصانیفی، لأنی عملتها فی ابتداء الأمر ثم لم یتهیألی من تحریرها سوی شرح البخاری ومقدمته والمشتبه والتهذیب ولسان المیزان، بل رأیته فی مواضع أثنی علی شرح البخاری والتغلیق والنخبة، ثم قال: وأما سائر المجموعات فهی کثیرة العدد واهیة العدد ضعیفة القوی ظامیة الروی))

د حافظ رحمه الله په تصانیفو کښے چه فتح الباری ته کوم مقام حاصل دے هغه بل تصنیف ته نه دے حاصل.

حافظ رحمه الله به د خپلو دروسو املاء کوله. بالخصوص په درس بخاری کښے به ددے اهتمام وو. بیا به هره هفته اجتماع کیدله. اوپه هغے کښے به د املاء کاپیانے پیش کیدلے. او په هغے به بحث کیدلو. دغه شان په ۸۱۷ھ کښے دا شرح شروع شوه. ۸۴۲ھ کښے مکمل شوه. اوددے لویه مقدمه په یو جلد کښے ده. چه دهغے نوم ،،هدی الساری،، دے. د دے مقدمه نه دوی په ۸۱۳ھ کښے فارغ شوی وو.

په فتح الباری باندے زمونږ په زمانه کښے د بخاری د معانیو دارمدار دے. او په دے سلسله کښے هیڅ یو کتاب ددے مقابله نشی کولے. دا شرح د حسن نظم، فن حدیث اوجامعیت په لحاظ سره په ټولو شروحو اوچته ده.

حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی. حافظ رحمه الله صرف ناقل دے. دوی د حدیث د ډیرو کتابونو مطالعه کړے وه. خاص کرد بخاری د شروحو نے شل کاله ژوره مطالعه کړے وه. بیا ئے ددے شروحو خلاصه په یو مفصله شرح کښے اولیکله.

په دے کښے څه شك نشته. چه حافظ ابن حجر رحمه الله ته په حدیث اواسماء الرجال کښے کمال حاصل وو. خو په فقهی مباحثو اوحدیث په توجیه کښے دوی ته هغه مقام نه دے حاصل کوم چه علامه خطابی رحمه الله اوامام نووی رحمه الله ته حاصل وو. هم دا وجه ده. چه په فتح الباری کښے فقهی مباحث دهغه معیار نه دی. څنګه چه حدیثی مباحث دی.

حاجي خليفه حاجي رحمه الله په کشف الظنون کښې ليکي. کله چه فتح الباري پوره شوه.نو حافظ رحمه الله د يو عظيم الشان دعوت اهتمام اوکړلو.چه په دے کښې د ښار ټولو عالمانو او مشائخو تشريف راوړلو.اوپه دے دعوت کښې حافظ رحمه الله پنځه سوه دينار خرچ کړل.

وفات په ذيقعده ۸۵۲هـ کښې ورته د اسهال مرض لاحق شو.په لعابو کښې به ئے وينه هم راتله.د بيمارئ سلسله ئے د يوے مياشتے نه زياته وه.آخر د ذوالحجه په اته ويشتم تاريخ د خالي په شپه د ماسخوتن د مانځه نه پس وفات شو.او ددے فاني کور نه باقي کور ته رخصت شو.د خالي په ورځ د ماسپخين نه لږ غوندے وړاندے د قاهره نه بهر په ميله کښې په ،،مصلي المؤمنين،، کښې د جنازے مونځ ادا شو.په جنازه کښې ډير رش وو. د وخت خليفه،د سلطنت عمائدين او مشران حاضر وو.د اميرانو او اکابرينو دا حال وو چه جنازے ته د اوږے ورکولو دپاره به ئے کوشش کولو.د جنازے نه پس د دوی لاش اوچت کړے شو.او ،،قرافه صغری،، ته يوړے شو.او جامع ديلمي ته مقابل د بنوالخروبي په قبرستان کښې د علم دا شهاب ثاقب خاورو ته اوسپارلے شو.(۱)

شيخ زين الدين ابراهيم بن احمد تنوخي رحمه الله ددوی نوم ابراهيم لقب برهان الدين اوکنيت ابواسحاق او ابوالفداء دے.پوره سلسله نسب ئے دا ده.

ابراهيم بن احمد بن عبدالواحدبن عبدالمؤمن بن سعيد بن علوان التنوخي البغلي الاصل الدمشقي المنشا نزيل القاهره ،شيخ الاقراء ومسند القاهره

دوی په ۷۰۹هـ يا ۷۱۰ کښې پيدا شوی وو.علم قرات ئے د برهان جعبري،ابن نصحان. رقي، مرادي،ابوحيان،وادي ،آشي،حکري،او ابن السراج نه حاصل کړے وو.اوښه پوره مهارت ئے په کښې حاصل کړے وو.مذکوره حضراتو دوی ته اجازت هم ورکړے وو.علم فقه ئے د بازري،ابن النقيب او ابن القماح نه ونيلے وه.دے حضراتو ورته د تدريس او افتاء اجازت ورکړے وو.د حديث شريف درس ئے د ابوالعباس حجار، عبدالله بن الحسين بن ابي التائب ،حافظ برزالي،حافظ مزي،بنيجي او نورو محدثينو نه اخستے وو.چه د هغوی تعداد د دوو سوو نه زيات دے.

په حديث کښې ورته داسے کمال حاصل شو.چه ددوی بعضے شيوخو به هم ددوی نه روايت کولو.چه په هغوی کښې حافظ ذهبي رحمه الله هم دے.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه ماته په دے خبره باندے ډير تعجب وو.خو روستو راته ددے ثبوت ملاؤ شو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.زمونږ شيخ په ډيرو مسموعاتو کښې منفرد وو.په علم قرات او اسناد کښې د ديارمصر شيخ وو.ما دهغوی سره ډير څه ونيلي وو.ډيره موده مے دهغوی په صحبت کښې تيره کړے وه.هغوی دتحديث په معامله کښې ډير سخت وو.خو په ما باندے ډيره مهربان وو.ځکه چه ما دهغوی د ،،مائة عشاريه،، او ،،اربعين،، تخريج کړے وو.نو ددے نه پس د حديث د ډير لويو او وړو کتابونو سماع هم د هغوی راته اوشوه.هغوی زما په

---

(۱) دا ټول حالات د الجواهروالدرر في ترجمة شيخ الإسلام ابن حجر، مقدمة لامع الدراري (ص،۱۲۶، ۱۲۸) فوائد جامعه (۴۳۷، ۴۴۳) او مقدمه بلوغ المرام اردو از مولانا عبدالرشيد صاحب مد ظلهم العالي نه ماخوذ دی.

حق کښې دعا هم کړې وه.چه د هغې آثار زه محسوسوم.په جمادی الاولی ۸۰۰ھ کښې وفات شو کله چه زه په حجاز کښې ووم.د دوی په تالیفاتو کښې ..اربعین.. دې.
تنبیه دا خبره دې واضحه وی.چه تنوخ د تائې فوقانیه په فتح او د نون خفیفه په پیښ سره ونیلی شی.(١)

شیخ ابوالعباس احمدبن ابی طالب الحجار رحمه الله

شیخ شهاب الدین احمد بن ابی طالب بن نعمة بن حسن الصالحی الحجار رحمه الله د ابن الشحنه په نوم سره هم پیژندلی شی.
دوی د ۶۴۴ھ نه وړاندې پیدا شوی وو.د دمشق د مشهور محدث علامه زبیدی رحمه الله نه ئې د حدیث سماع کړې وه.اودهغه زمانې دنورو نامتو محدثینو ابن اللتی .قطیعی .ابن روزبه اوجعفربن علی رحمهم الله نه ئې احادیث اوریدلی وو.بیا ئې دحدیث ورکول شروع کړل.الله تعالی دوی ته اوږد عمر ورکړې وو.ددې وجې د دوی په سند کښې نمسی د نیکونو سره ملاؤ کړی وو.په مختلف اسلامی ملکونو د دمشق، قاهره، حماة.بعلبك .او حمص وغیره کښې ئې کم وبیش شپته اویا ځله بخاری شریف اورولې وو.اوپه ژوند کښې ئې ډیر عزت حاصل کړې وو.
دحافظ ذهبی رحمه الله بیان دې.چه دوی باهمته اوصاحب د فهم او فراست وو.په توجه سره به ئې اوریدل کول.زما په علم کښې نشته.چه ما دې پرکاله لیدلې دې.په آخری عمر کښې به ئې اوچته خبره اوریدله.بعضې ورځ خو به ئې ټوله ورځ په اورولو کښې تیره شوه.دوی ته مال او دولت او قدر او عزلت هم حاصل وو.په دوی کښې دیره دینداری وه.دجماعت د مونځ ډیر پابند وو.نفلی روژې به ئې هم نیولې. سلو کالو ته رسیدلې وو.اوددې باوجودبه ئې د رمضان په روژو پسې د شوال شپږ روژې هم نیولې.اوپه یخو اوبو به ئې غسل کولو.
حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی.مونږ د دوی نه دارالحدیث اشرفیه کښې د یخنۍ په موسم کښې تقریباً د پنځه سوو اجزاؤ سماع کړې وه.اواجازت موترې اخستې وو.هغوی د ابن الزبیدی اوابن اللتی نه سماع کړې وه.د بغداد په شیوخوکښې ورته د یو سل اته دیرش شیوخو نه د حدیث د روایت اجازت حاصل شوې وو.دچا سند چه ډیر اوچت وو.سلطان الملك الناصر هم د دوی نه سماع کړې وه.اوهغوی ته ئې خلعت ورکړې وو.دوی د مصر اوشام د دومره شیوخو نه سماع کړې ده.چه د هغوی شمار نشی کیدې.دوی خوبصورته، خوب منظره، سلیم الصدر .اوپه خپلو حواسو اوقوتونو نه فائده اخستونکې وو.څه دپاسه سل کاله ډیر بنه تیر کړی وو.څکه چه دوی د علامه زبیدی رحمه الله نه د حدیث سماع په ۶۳۰ھ کښې کړې وه.اوپه ۹صفر ۷۳۰ھ دوی په جامع دمشق کښې اورول کړی وو.اومونږ هم په دغه زمانه کښې د هغوی نه سماع کړې وه.

---

(١) دا حالات د ..بلغة الأریب فی مصطلح آثارالحبیب.. د حاشیه (ص.۱۹۸، ۲۰۰) او فوائد جامعه (ص.٤٤٣، ٤٤٥) نه ماخوذ دی.د زیات تفصیل دپاره اوګورئ .الدررالکاملة (۹/۱) إنباء الغمر بأبناء العمر (۳۹۸/۳) او فهرس الفهارس (۱۵۷/۱)_ رحمه الله تعالی رحمه واسعه

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه کله دهغوی انتقال اوشو.نوخلق په سند کښې یودرجه کم شو.
دوی د دوشنبه په ورځ ۲۵صفر د مازیګرپه وخت کښې خپل خالق حقیقی سره ملاو شو.(۱)

شیخ سراج الدین الحسین بن المبارك الزبیدی رحمه الله

علامه ابوعبدالله سراج الدین حسین بن مبارك بن محمد بن یحی بن علی بن مسلم بن موسی بن عمران الربعی الزبیدی الاصل البغدادی الحنفی المعروف بابن الزبیدی رحمه الله دوی د مشهور زاهد شیخ محمد بن یحی بن علی زبیدی نمسے وو.۵۴۵ھ یا ۵۴۶ھ کښې پیدا شوے وو.اول ئے قرآن کریم په مختلفو قراءتونو سره اولوستلو اوبیا ئے نور علوم او فنون حاصل کړل.د خپل نیکهٔ شیخ ابوالوقت ابوزرعه او ابوزید حموی رحمه الله نه ئے حدیث اوفقه لوستلی وو.او په دے کښې بصیرت پیدا کړے وو.او بیا ئے د وزیر ابوالمظفر هبیره په مدرسه کښې د حدیث درس شروع کړلو.دوی د فقهی مذاهبو وسیع النظر عالم وو.اود روایت حدیث په مستندو شیوخو کښې وو.

حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله د طبقات حنابله په ضمن کښې لیکی.. دوی ته په ادب کښې ډیر مهارت حاصل وو. د دوی مشیخه (معجم الشیوخ) هم لیکلے شوے دے. په لغت او قرات کښې د دوی نظم هم شته.فقیه او فاضل، متدین او نیك سیرت وو . متواضع او باخلاق وو.دوی په بغداد ،دمشق ، حلب وغیره ښارونو کښې دحدیث درس ورکړے دے.ډیرو خلقو ددوی نه سماع کړے ده.او ډیروحافظانو ددوی نه روایت کړے دے.چه په هغې کښې حافظ دبیثی او ضیاء الدین هم دی.د دوی نه روایت کونکے آخری کس ابوالعباس حجارصالحی دے.چا چه د دوی نه د حدیث سماع کړے ده.

تنبیه : حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله دوی په ذیل طبقات الحنابله کښې ذکر کړی دی.او دے ئے حنبلی ګرځولے دے.دغه شان عبدالعزیز رحمه الله هم دوی په ،،عجاله نافعه،، (۲)کښې حنبلی لیکلے دے.حالانکه صحیح خبره دا ده.چه دے حنفی دے.حافظ ابن کثیر. حافظ ذهبی. حافظ سخاوی رحمه الله د دوی د حنفیت تصریح کړے ده.(۳) علامه کوثری رحمه الله هم دابن فهد په . ذیل تذکرة الحفاظ،، کښې د ده حنبلی ګرځولو پرزور تردید کړے دے.(۴) د دوی په تالیفاتو کښې ،،البلغة فی الفقه،، ډیر مشهور دے.

۲۳صفر ۶۳۱ھ کښې دوی وفات شو.او په جامع مسجد منصوره بغداد کښې دفن کړے شو.(۵) رحمه الله رحمة واسعة،،

---

(۱) دا حالات د فوائد نافعه (۴۴۵، ۴۴۹) نه ماخوذ دی.د تفصیل دپاره اوګورئ البدایة والنهایة (۱۵۰/۱۴) الدررالکامنة (۱۴۳/۱) شذرات الذهب (۹۳/۶) فهرس الفهارس (۲۵۲/۱)_ رحمه الله رحمة واسعة .

(۲) (ص. ۲۰) مطبوعه مع فوائد جامعه)_

(۳) اوګورئ البدایة والنهایة (۱۳۳/۱۳) وتذکرة الحفاظ (۱۴۱۳) _

(۴) اوګورئ تعلیقات علامه زاهد کوثری بر ،،ذیل تذکرة الحفاظ لابن فهد المکی ،، (۲۵۸، ۲۵۹)

(۵) دتفصیلات د فوائد جامعه (۴۴۹، ۴۵۰) او العناقید الغالیة (ص.۲۰۶، ۲۰۷) نه ماخوذ دی.نور اوګورئ ،،الجواهر المضیة فی طبقات الحنفیة (۲۱۶/۱) الدارس فی تاریخ المدراس ،شذرات الذهب (۱۴۴/۵) او ذیل طبقات الحنابلة (۱۴۴/۲)_

شيخ ابوالوقت السجزي رحمه الله شيخ ابوالوقت عبدالاول بن عيسى بن ابراهيم بن اسحاق السنجزي رحمه الله.

دوى په كال ۴۵۸هـ كښې په هرات كښې پيدا شوى وو.هلته ئې تعليم حاصل كړے وو.د دوى پلار محدث ابوعبدالله عيسى د سلوكالو نه د زيات عمر خاوند وو . هغوى د محدث على بن بشرى نه د حديث په سماع كښې منفرد د زمانے وو.دوى خپل خوئے ابوالوقت په خپلو اوږو باندے كينولو اود هرات نه ئې بوشنج ته راوستلو.او دلته هغوى په كال ۴۶۵هـ كښې چه په دغه وخت كښې د دوى عمر صرف اووه كاله وو.د محدث جمال الاسلام داودي وغيره نه صحيح بخاري، مسند دارمي، او منتخب عبدالله بن حميد وغيره سماع اوكړله.د دوى د حديث په استاذانو كښې محدث ابوعاصم الفضل ،محمد بن ابى مسعود او د شيخ الاسلام عبدالله انصارى رحمه الله نوم سرفهرست راځي.دوى د شيخ الاسلام انصارى د صحبت نه ډيره فائده واخستله.

ابن الجوزى رحمه الله د دوى په باره كښې ليكي.

((كان صبوراً على القراءة ،وكان شيخاً صالحاً على سمت السلف، كثير الذكر والتهجد والبكاء))

حافظ ابن نقطه رحمه الله فرمائي: دوى كشران په سند كښې مشرانو سره يوځائے كړلو.د روايت حديث سيادت ئې د خپل خان دپاره داسے بيا موندے وو.چه په هم عصرو كښې هيڅ چاته دا نصيب نشو.صائب الرائے اوحاضر دماغ وو.

ابن العماد حنبلى رحمه الله ليكي.((قدم بغداد ،فازدحم الخلق عليه،وكان خيراً متواضعاً حسن السمت، متين الديانة محباً للرواية وعمر حتى ألحق الأصاغر بالأكابر))

۵۵۳هـ كښې ئې د حج دپاره سامان تړل.چه په ۶ذيقعده ۵۵۳هـ د پنځه نوى كالو په عمر كښې وفات شو.دوفات په وخت ئې په ژبه مباركه دآيت كريمه جارى وو.﴿يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ۝ بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ۝﴾(١)

شيخ جمال الدين ابوالحسن عبدالرحمن الداودي البوشنجي رحمه الله

جمال الاسلام ابوالحسن عبدالرحمن بن محمد بن المظفر بن محمد بن داود بن احمد بن معاذ بن سهل بن الحكم الداودي البوشنجي رحمه الله.

دوى په ربيع الثانى كال ۳۷۴هـ كښې پيدا شوى وو.ابوعلى فجروى ،ابوبكر،القفال المروزى. ابوالطيب سهل صعلوكى، ابوحامد اسفرائينى ،فقيه ابوسعيد بحربن منصور ته ئې د شاګردئ زنګونه خواره كړى وو.ابوعلى دقاق او ابوعبدالرحمن سلمى نه ئې تصوف حاصل كړے وو.اود هغوى د صحبت نه ئې ښه استفاده كړے وه.د محدث ابوالحسن بن الصلت نه ئې په بغداد كښې د ابوعبدالله الحافظ نه ئې په نيشاپور كښې او ابومحمد بن ابى

(١) اوګورئ فوائدجامعه (۴۵۱، ۴۵۲) دغه شان المنتظم لابن الجوزى (۱۸۲/۱۰) وفيات الأعيان (۳۳۱/۱) شذرات الذهب (۱۶۶/۴) النجوم الزاهرة (۳۲۸/۵، ۳۲۹)_

شریح وغیره نه ئے په بوشنج کښے د حدیثو سماع کړے وه اوبیا په درس وتدریس، تصنیف وتالیف، او ارشاد وتبلیغ کښے مشغول شو.
حافظ عبدالکریم سمعانی رحمه الله فرمائی دوی د خراسان د مشائخو د سرتاج وو د نواح بوشنج به څه وائے په اهل خراسان کښے خو د دوی فضل اوکمال او سیرت او تقوی مشهوره وه په تصوف کښے هم د دوی تله درنه وه.
حافظ ابوبکرمحمد بن عبدالغنی رحمه الله لیکی...ابوالحسن عبدالرحمن بن محمد داؤدی د ابومحمد عبدالله بن احمد بن حمویه سرخسی رحمه الله نه د صحیح بخاری روایت کوی.د دوی ولادت په ربیع الاول ۳۷۴ھ کښے شوے وو.اودوی په بوشنج کښے د اووه کالو په عمر کښے په صفر ۳۸۱ھ کښے د صحیح بخاری سماع کړے وه..
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.دوی په علم او فضل ،جلالت شان او سند کښے د خراسان شیخ وو.ابومحمد بن حمویه سرسی نه ئے ډیر روایتونه کړی دی.دا آخری محدث وو چه ددوی نه به ئے بلاواسطه روایت کولو.
حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی.«كتب الكثير، وأفتى ،ووعظ الناس، وكانت له يد طولى في النظم والنثر وكان مع ذلك كثير الذكر، لايفتر لسانه عن ذكر الله تعالى»
دغه شان حافظ ابن کثیر رحمه الله دا واقعه لیکلے ده.چه یوه ورځ وزیر نظام الملك دوی ته راغلو.او دوی ته مخامخ کیناستلو.شیخ رحمه الله دوی ته اوفرمائیل.الله تعالی ته په خپلو بندګانو باندے مقرر کړے ئے.نو خیال کوه.چه الله تعالی ته به څنګه جواب ورکوے.کله چه الله تعالی ستا نه ددوی په باره کښے تپوس کوی.
د دوی په ښه اشعارو کښے دوه دا دی.

كان في الاجتماع بالناس نور ذهب النور وادلهم الظلام

فسد الناس والزمان جميعاً فعلى الناس والزمان السلام

ترجمه: ① دخلقو په اجتماعاتو کښے به اول نور وو.خواوس نور ختم شوے دے.اوتیاره خوره شوے ده. ② خلق هم خراب شو.اوزمانه هم خرابه شوه.نوخلقو او زمانے دواړو ته سلام.
پرهیزګاری اوتقوی ئے دومره وه.چه د کوم وخت نه ترکمانو خراسان لوټ کړلو.نو دوی څلویښت کالو پورے غوښه نه خوړله.په دے خیال چه هسے نه څاروی د لوټ مار وی.صرف کب به ئے خوړلو.اوکله چه دوی ته اوونیلی شو.چه د دریاب د کوم اړخ نه د کبانو ښکار کولے شی.په هغه اړخ باندے د دوی سردارانو خوراك څکاك کړے دے اوچه څه بچ شو.نوهغه ئے هلته په دریاب کښے اوغورځول.نو هغوی کبان خوړل هم بند کړل.
شوال ۴۶۷ھ کښے د څلورنوی کالو په عمر کښے وفات شو.(۱)

(۱) دا ټول تفصیلات د فوائد جامعه (۴۵۳، ۴۵۶) نه ماخوذ دی.

شیخ ابو محمد عبدالله بن احمد بن حمویه سرخسی رحمه الله

شیخ ابومحمد عبدالله بن احمد حمویه بن یوسف بن اعین السرخسی رحمه الله په ۲۹۳ھ کښې پیدا شوی وو دهغه وخت د اکابرو محدثینو نه ئې د حدیث سماع کړے وه.د فربری د ممتاز شاګردانو څنې وو اود ..راوی صحیح بخاری.. په نوم باندے مشهور وو.حافظ ذهبی رحمه الله په ..تذکرة الحفاظ..کښې دحافظ ابن المقری په تذکره کښې دوی ته ..مسند خراسان.. ونیلی دی اودوی ئې د ..راوی صحیح بخاری.. په الفاظو سره یاد کړی دی.
حافظ ذهبی رحمه الله په کتاب العبرکښې فرمائی: ..محدث ثقه عبدالله بن احمد سرخسی رحمه الله د فربری نه صحیح بخاری د عیسی بن عمر سمرقندی رحمه الله نه کتاب دارمی، او دابراهیم بن خریم نه مسند عبدالله بن حمید او دعبدبن حمید نه د تفسیر روایت کړے دے. د اتیا کالو په عمر کښې د ذی الحجه په میاشت کښې وفات شو.(۱) رحمه الله رحمة واسعة.
تنبیه حافظ ذهبی رحمه الله د دوی عمر اتیا کاله لیکلے دے.نو په دے حساب سره به د وفات کال ۳۷۳ھ جوړیږی.خو په دے باندے اشکال دا دے چه د دوی نه صحیح بخاری روایت کونکو کښې شیخ جمال الدین داودی هم دے.چه د هغوی سن ولادت ۳۷۴ھ دے.نو سماع خو څه چه ولادت ئې هم دهغه د وفات نه یوکال پس شوے دے؟
علامه کرمانی رحمه الله د شرح بخاری په مقدمه کښې لیکلی دی.((ومات سنة أحدی وثمانین وثلاث مائة))(۲) چه د دوی وفات په ۳۸۱ھ کښې شوے دے.په دے صورت کښې اشکال نشته.څکه چه د داؤدی عمر په دغه وخت کښې اووه کاله وو .او هم دا ټیك ده.څکه چه په خپل حافظ ذهبی رحمه الله په سیر اعلام النبلاء کښې تاریخ وفات ۲۸ ذی الحجه ۳۸۱ھ لیکلے دے.(۳)

شیخ ابوعبدالله محمدبن یوسف الفربری رحمه الله

شیخ ابوعبدالله محمد بن یوسف بن مطربن صالح بن بشر الفربری رحمه الله ۲۳۱ھ کښې پیدا شوے وو.د ارباب کمال نه ئې دینی علوم حاصل کړل.او د احادیثو سماع ئې اوکړله.دعلی بن خشرم نه ئې حدیثونه واوریدل.د امام بخاری رحمه الله نه ئې دوه څله د بخاری سماع کړے وه.یوځل په خپل وطن فربر کښې اوبل ځل ۲۵۲ھ یا ۲۵۵ھ کښې په درے کالو کښې په بخارا کښې بلکه د صاحب د ..مجمع بحار الانوار ..د بیان مطابق ئې درے څله د صحیح بخاری سماع کړے ده.
دا خبره دے یاده وی.چه دامام بخاری رحمه الله وفات په ۲۵۶کښې شوے وو.لکه چه د فربری رحمه الله سماع دامام بخاری رحمه الله نه بالکل په آخری عمر کښې شوے وه.د دے وجے به خلق د لرے لرے نه دوی ته د صحیح بخاری دسماع دپاره راتلل.

---

(۱) دا تفصیلات د فوائد جامعه (ص.۴۵۶) نه ماخوذ دی. او نور اوګورئ کتاب العبر(۱۷/۳) النجوم الزاهرة (۱۶/۴) وشذرات الذهب (۱۰۰/۳)_
(۲) اوګورئ شرح کرمانی (۸/۱)
(۳) اوګورئ سیرأعلام النبلاء (۴۹۳/۱۶)_

علامه فربری رحمه الله فرمائی:((سمع صحيح البخاری ممن مؤلفه تسعون الف رجل، فما بقی أحد يرويه غيری)) چه د صحيح بخاری سماع د دے د مؤلف نه تقريباً نوی زره خلقو کړے وه.خو اوس زما نه سوا په هغوی کښے څوك هم پاتے نه دی.

خو حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چه دا هغوی دخپل علم مطابق فرمائیلی وو گنی حقیقت دا دے چه امام بخاری رحمه الله نه د صحیح بخاری آخری راوی ابوطلحه منصور بن محمد بن علی قرینه بزدوی رحمه الله دے.د دوی وفات د فربری رحمه الله د وفات نه نهه کاله روستو یعنی په ۳۲۹ھ کښے شوے وو.غالباً د فربری رحمه الله ددے قول په بناء باندے مؤرخ ابن خلکان وغیره دا لیکلی دی چه ((وهو آخر من روی الصحيح عن البخاری))او ابونصر بن ماکولا رحمه الله په یقین سره دا ذکر کړی دی چه آخری راوی ابوطلحه منصور بن محمد بزدوی دے.

د فربری رحمه الله روایت کونکو کښے ابواسحاق ابراهیم بن احمد مستملی ،ابومحمد عبدالله بن احمدبن حمویه سرخسی،ابوالهیثم محمد بن مکی کشمیهنی او شیخ معمرابولقمان یحی بن عمار بن مقبل بن شاهان ختلانی رحمهم الله دی.

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی:((كان ورعاً ثقة))دوی صاحب ورع او ثقه وو.

د یو کم سِل کالو په عمر کښے ۳شوال ۳۲۰ھ کښے وفات شو.رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

فائده: فربر،د فاء په کسره او راء په فتحه او باء موحده په سکون سره دے.دا د دریاب جیحون په غاړه بخارا سره متصل د یو کلی نوم دے.(۱)

....

د امام بخاری رحمة الله علیه نوم اونسب

محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیره بن بردزبه (۲) بن بذذبه الجعفی البخاری ... عام طور په کتابونو کښے د امام بخاری نسب د ،،بردزبه،، پورے موجود دے.خو علامه تاج الدین سبکی رحمه الله په ((الطبقات الکبری))کښے د ،،بذذبه،،(۳)زیادت کړے دے.

د بذذبه اوبردذبه دحالاتونه تاریخ خاموش دے.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ،،بردزبه،، دفارسی ټکے دے.اود بخارا خلق دا لفظ د زمنیدار دپاره استعمالوی.بردزبه فارسی وو.او دخپل قوم په دین وو.هغوی داور عبادت کونکی وو.(۴)

---

(۱) اوګورئ فوائد جامعه (ص.۴۵۷، ۴۵۹) وفتح الباری (۵/۱) ومجمع بحار الأنوار(۳۲۹/۵) ووفيات الأعيان (۲۹۰/۴) ومعجم البلدان (۲۴۵/۴)_

(۲) قوله بردزبه. بفتح الباء الموحدة. وسكون الراء المهملة. وكسر الدال المهملة. وسكون الزای المعجمة.وفتح الباء الموحدة بعدها هاء هدی الساری(ص.۴۷۷_

(۳) قوله ،،بذذبه،، بباء وحدة.ثم ذال معجمة مكسورة.ثم ذال ثانية معجمة ساكنة ثم باء موحدة مكسورة ثم هاء اوګورئ الطبقات الشافعية الكبری (۲/۲_

(۴) هدی الساری (ص. ۴۷۷_

دامام بخاری رحمه الله قرنیکهٔ مغیره د بخارا د حاکم یمان بن اخنس جعفی په لاس باندے په اسلام مشرف شو.(۱) یمان عربی النسل وو.د جفعی قبیلے سره د هغه تعلق وو.اوجعفی بن سعد العشیرة د قبیله مذحج شاخ دے.(۲) یمان بن اخنس. عبدالله بن محمد مسندی دبخاری د استاذ د نیکه نیکهٔ وو.(۳) د دستور مطابق د ولاء اسلام په وجه مغیره فارسی ته جعفی ونیل شروع شو.ځکه چه هغه د یمان جعفی په لاس اسلام قبول کړے وو.امام بخاری رحمه الله ته هم په دے وجه جعفی وائی.

استطراد احناف رحمهم الله د ولاء اسلام قائلین دی.د دوی دلیل دابوداود روایت دے.«عن تمیم الداری،أنه قال: یارسول الله ﷺ_ وقال إن تمیماً قال یزید:یا رسول الله ﷺ ما السنة فی الرجل یُسْلِم علی یدی الرجل من المسلمین؟قال هو أولی الناس بمحیاه و مماته»(۴)

د امام بخاری رحمه الله دنیکهٔ د حالاتو نه هم تاریخ خاموش دے.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «وأما والده ابراهیم بن المغیرة،فلم نقف علی شئ من أخباره»(۵)

دامام بخاری رحمه الله پلار ابوالحسن اسماعیل بن ابراهیم په محدثینو عالمانوکښے وو.ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښے دهغوی ذکر کړے دے.(۶) دوی به د حماد بن زید رحمه الله اوامام مالک رحمه الله نه روایت کولو.(۷) اوددوی نه د عراق محدثینو روایت کړے دے.(۸) هغوی د عبدالله بن مبارك زیارت کړے وو.امام بخاری رحمه الله لیکی .«رأی حماد بن صافح ابن المبارك بکلتا یدیه»(۹)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«کان أبوالبخاری من العلماء الورعین»(۱۰) د پرهیزګارئ ئے دا حالت وو. چه د وفات په وخت کښے ئے ډیر مال په میراث کښے پریخودے وو .خو فرمائیل به ئے چه په

---

(۱) پورتنئ حواله

(۲) اوګورئ عمدة القاری (۱۲٤/۱) کتاب الإیمان باب أمور الإیمان_

(۳) نو ددوی نسب نامه دا ده.عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر بن اخنس بن خنیس الجعفی البخاری.اوګورئ عمدة القاری (۱۲۳/۱) کتاب الإیمان باب أمورالإیمان_

(۴) اوګورئ سنن أبی داود کتاب الفرائض .باب الرجل یسلم علی یدالرجل رقم. ۲۹۱۸)_

(۵) هدی الساری (ص.٤۷۷)_

(۶) الثقات لابن حبان(۹۸/۸)_

(۷) هدی الساری (ص.٤۷۷)_

(۸) پورتنئ حواله_

(۹) تاریخ کبیر بخاری (۳٤۳/۱) رقم ۱۰۸٤_

(۱۰) مقدمة شرح قسطلانی (۳۱/۱) _

دے کنبے یوه روپۍ هم د حرام یا مشتبه مال نه ده.(۱) هم دا حلال او پاک مال د امام بخاری رحمه الله په تربیت کنبے خرچ شو.

پیدائش او وفات د بعضے عالمانو رحمهم الله خیال دے چه دامام بخاری رحمه الله پیدائش په دولسم شوال ۱۹۴ھ کنبے شوے دے.خو د راجح قول مطابق د دوی پیدائش په دیارلسم شوال ۱۹۴ھ کنبے د جمعے په ورځ شوے دے.(۲) الله تعالی ورته د شوال میاشت ورکړه.کومه چه د حج په میاشتو کنبے اولنۍ میاشت ده.اود رمضان المبارك او ذوالقعدے په مینځ کنبے واقع شوے ده.او بیا ئے د جمعے ورځ د ولادت دپاره مقرر کړه.چه د ورځ سرداره ده.

وفات ئے په ۲۵۶ھ کنبے د خالی په شپه شوے وو.دا د وړوکی اختر شپه وه.دغه شان ټول عمر ۱۳ ورځے کم ۶۲ کاله شول.د وړوکی اختر په ورځ په اولنی شوال په کال ۲۵۶ھ د مازیگرد مانځه نه پس په ،،مقام خرتنگ،، کنبے دفن کړے شو.

چا په اختصار سره د پیدائش، وفات او عمر ذکر داسے کړے دے.

كان البخاری حافظاً ومحدثاً جمع الصحيح مكمل التحرير

ميلاده صدق (۱۹۴) ومدة عمره فيها حميد (۶۲) وانقضى فى نور (۲۵۶) (۳)

مختصر حالات اوتعلیم: امام بخاری اوس لا ماشوم وو.چه ددوی پلار اسماعیل بن ابراهیم وفات شو.او د تربیت ټوله ذمه واری ددوی په مور بی بی باندے راغله.بل طرف ته هم په دے ماشوموالی کنبے دامام بخاری رحمه الله د سترگو نظر ختم شو.په دے باندے ئے مور بی بی ډیره پریشانه شوه.هغه ډیره عبادتگذاره او دالله تعالی نزدے میرمن وه.په عاجزۍ او زارۍ سره ئے دعاگانے کولے.یوه شپه ورته په خوب کنبے دحضرت ابراهیم علیه السلام زیارت اوشو.نو هغوی ورته زیرے ورکړلو.چه ستا د دعا گانو په برکت الله تعالی ستا د بچی بصارت واپس کړلو.(۴)

علامه تاج الدین سبکی رحمه الله لیکی.چه په گرمۍ اونمر کنبے د علم په طلب کنبے د سفرونو په وجه ئے دوباره د سترگو نظر ختم شو.خراسان ته اورسیدلو.چا ورته د سر ویخته خرئیلو اود گل ختمی پورے کولو مشوره ورکړله.په دے ئے بصارت دوباره راغلو.(۵)

په ماشوموالی کنبې علمی کمال په ماشوموالی کنبے د مکتب د زمانے نه ورسره د حدیث د حفظ شوق پیدا شو. حالانکه په دغه وخت کنبے ئے عمر د لسو کالونه زیات نه وو. دمکتب نه

(۱) هدی الساری (ص. ٤٧٧) ومقدمة شرح قسطلانی (۳۱/۱)

(۲) قال الحافظ رحمه الله فی ،،هدی الساری،، (ص.٤٧٧) قال المستنیربن عتیق أخرج لی لک محمد بن اسماعیل بخط أبیه. وجاء ذلک عنه من طرق .. او د شوال قول ابویعلی خلیلی په ،،الإرشاد،، کنبے نقل کړے دے. اوگورۍ مقدمة لامع الدراری (ص.۲۸)_

(۳) مقدمة صحیح بخاری ازحضرت احمدعلی صاحب سهارنپوری رحمه الله (ص.۳۰)

(۴) هدی الساری (٤٧٨) _

(۵) طبقات الشافعیة الکبری (۲/٤)_

د وتلو نه پس ئے د محدث داخلی رحمه الله او دهغه نه علاوه د نورو محدثینو په درسونو کښے شریکیدل شروع کړل.(۱)

یوه ورځ امام داخلی رحمه الله یو سند بیان کړلو.((سفیان عن أبی الزبیر عن ابراهیم)) امام بخاری رحمه الله چه په یو ګوټ کښے ناست وو.عرض اوکړلو.((أبوالزبیرلم یروعن ابراهیم)) استاذ ناتجربه کاره ماشوم اوګڼړلو.بلکه وے رټلو.نوامام بخاری ورته په وقار سره عرض اوکړلو.که تاسو سره اصل وی نوبه هغے کښے ئے اوګورئ. چونکه خبره معقوله وه.نومحدث داخلی رحمه الله کور ته دننه لاړلو اوچه اصل ئے اوکتلو.نود امام بخاری رحمه الله خبره ټیک وه.واپس راغلو.او تپوس ئے اوکړلو.هلکه! اصل سند کوم یو دے؟ امام بخاری رحمه الله ورته اوفرمائیل.((هوالزبیر_ وهوابن عدی_ عن ابراهیم)) محدث داخلی قلم راواخستلو.اوهغه ئے ټیک کړلو.اوورته ئے اوفرمائیل.((صدقت)) تا رښتیا اووئیل.چا د امام بخاری رحمه الله نه تپوس اوکړلو.په دغه وخت کښے ستاسو عمر څومره وو؟ نو دوی اوفرمائیل.یوولس کاله.(۲)

علامه بیکندی رحمه الله فرمائی.چه محمد بن اسماعیل به کله درس ته راشی.نوپه ما باندے د تحیر کیفیت شروع شی.او زه د حدیث په بیانولو کښے ویریږم.(۳) یوه خل سلیم بن مجاهد علامه بیکندی ته راغلو.نوهغوی ورته اوفرمائیل: که لږ غوندے وړاندے راغلے وے.نو ما به ته داسے هلك سره ملاؤ کړے وے.چه هغه ته اویا زره احادیث یاد دی.(۴)

یوځل سلیم بن مجاهد علامه بیکندی رحمه الله امام بخاری رحمه الله ته اوفرمائیل.ته زما په تصنیف باندے نظر اوکړله.اواوګوره.که چرته غلطی وی.نوهغے اصلاح اوکړه.چا ډیرپه تعجب سره اووئیل: دا هلك څوك دے؟! یعنی چه امام بیکندی رحمه الله د دے باوجود د خپلے زمانے امام دے.ده ته د خپل کتاب داصلاح دپاره وائی.نو بیکندی رحمه الله ورته اوفرمائیل.دده ثانی نشته.(۵)

علامه قسطلانی رحمه الله نقل کړی دی.چه امام بخاری رحمه الله ته په ماشوموالی کښے اویا زره احادیث یاد وو.(۶)

بے مثاله حافظه حافظ رحمه الله په مقدمه د فتح الباری کښے لیکلی دی.چه دحاشد بن اسماعیل بیان دے.چه مونږ د امام بخاری رحمه الله سره د بصرے مشائخو ته تلو.مونږ به لیکل کول.او امام بخاری رحمه الله به لیکل نه کول.د پیغور په شکل به ملګرو امام بخاری رحمه الله ته وئیل.ته خامخا خپل وخت ضائع کوے.او احادیث نه لیکے.کله چه خبرے زیاتے شوے.نوامام

---

(۱) هدی الساری (ص.۴۷۸)_

(۲) پورتنۍ حواله_

(۳) هدی الساری (۴۸۳)_

(۴) پورتنۍ حواله_

(۵) هدی الساری (ص.۴۸۳)_

(۶) مقدمة شرح قسطلانی(ص.۳۳)

بخاری رحمه الله په غصه شو.اووے فرمائیل لیکلے شوے احادیث راوړئ تر هغه وخته پورے پنځلس زره احادیث لیکلی شوی وو چه امام بخاری رحمه الله دغه احادیث اوړول شروع کړل نو تول حیران شول بیا به د احادیثو لیکونو د خپلو لیکلو تصحیح د امام بخاری رحمه الله د حافظے نه کوله.او په امام بخاری رحمه الله به ئے اعتماد کولو (۱)

دغه شان یوځل امام بخاری رحمه الله بغداد ته تشریف یوړلو.دهغه ځائے محدثینو رحمهم الله دامام بخاری رحمه الله نه د امتحان اخستلو اراده اوکړله.اولس کسان ئے مقرر کړل . او هریو ته ئے لس لس احادیث حواله کړل.چه دهغے په متونو او اسانیدو کښے ردوبدل شوے وو.کله چه امام بخاری رحمه الله تشریف راوړلو.نو یوکس پاسیدلو. او

هغۀ احادیث ئے وړاندے کړل.کومو کښے چه تبدیلی شوے وه.امام بخاری رحمه الله اوفرمائیل.

«لاأعرفه» دغه شان لسو کسانو خپل خپل متغیر الاسانید والمتون احادیث بیان کړل.او امام بخاری رحمه الله به دهر یو په جواب کښے فرمائیل«لا أعرفه» عوامو خو دا اوګنړله.چه دے کس ته څه هم نه ورځی.خوچه په هغوی کښے کوم عالمان وو.هغوی پوهه شول.چه امام بخاری رحمه الله ددوی په چال باندے پوهه شوے دے . ددے نه پس امام بخاری رحمه الله یو یو ته متوجه کیدل.اوهغه ته به ئے خودل . چه تا اولنئ روایت داسے وئیلے وو.هغه غلط وو.اوصحیح داسے دے.اوپه دے ترتیب سره ئے د لسوواړو د احادیثو اصلاح اوکړله.نوټولو ته معلومه شوه.چه دے څومره د فن ماهر دے.

حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله فرمائی.چه تعجب په دے باندے نه دے.چه د هغوی په غلطئ پوهه شو.او دهغے اصلاح ئے اوکړله.ځکه چه هغوی حافظ حدیث وو.د خو کار هم دا وو.بلکه تعجب په حقیقت کښے په دے خبره دے.چه غلط احادیث ئے یوځل واوریدل.اوترتیب وار ئے محفوظ کړل.او بیا ئے په ترتیب سره هغه بیان کړل.(۲)

رحلات یا علمی سفرونه: دمحدثینو رحمهم الله په اصطلاح کښے ..رحلة.. هغه سفر ته وئیلی شی.چه هغه د طلب حدیث دپاره اوشی.په صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله کښے ددے خاص ذوق وو.امام بخاری رحمه الله هم ددے خاص اهتمام کړے وو.چونکه د اسلامی فتوحاتو د وجے محدثین لرے لرے خواره شوی وو.نودوی به دهغوی په خدمت کښے حاضری کوله . اود احادیثو سماع به ئے کوله.حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د یو یو حدیث دپاره د یوے یوے میاشتے مزلونه کړی دی.په بخاری شریف کښے دی.چه

«رحل جابربن عبدالله بن أنیس مسیرة شهرفی حدیث واحد»(۳)

په قرآن کریم کښے فرمائیلی شوی دی﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾ (۴)

---

(۱) هدی الساری (ص.۴۷۸)_

(۲) هدی الساری (ص.۴۸۶)_

(۳)اوګورئ صحیح بخاری(۱۷/۱) کتاب العلم باب الخروج فی طلب العلم)_

(۴) سورة توبه:۱۲۲)_

په دے آیت کریمه کښے دطلب علم اوتفقه في الدین دپاره د وتلو او بیا ددے د تعلیم او تبلیغ تاکید شوے دے.
د مشهور بزرك ابراهیم بن ادهم رحمه الله ارشاد دے.. محدثین رحمهم الله د حدیث د طلب دپاره په سفر کولو ددے امت نه دالله تعالی مصیبتونه لرے کوی.(١)

دامام بخاری رحمه الله رحلات امام بخاری رحمه الله اول ټول کتب متداوله او بخارا د مشائخوکتابونو یاد کړل بیا ئے د شپاړس کالو په عمر کښے د حجاز مقدس قصد اوکړلو.(٢) مور او رور احمد بن اسماعیل ورسره وو.مور او رور د حج د فراغت نه پس وطن نه واپس راغلل.او امام بخاری رحمه الله د علم حاصلولو دپاره په مکه معظمه کښے ایسار شو.په مکه مکرمه کښے د دوی استاذان .ابوالولید احمد بن محمد ازرقی. امام حمیدی. حسان بن حسان البصری. خلاد بن یحی او عبدالرحمن مقری رحمهم الله وو.(٣)
بیا ئے داتلس کالوپه عمر کښے د مدینے منورے سفر اوکړلو.او دهغه ځائے د مشهورو محدثینو عبدالعزیز اویسی. ایوب بن سلیمان بن بلال او اسماعیل بن ابی اویس رحمهم الله وغیره نه ئے استفاده اوکړله.١٨کالو په عمر کښے ئے «قضایا الصحابة والتابعین» اولیکلو.هم په دے سفر کښے ئے په مدینه منوره کښے د سپوږمۍ په شپو کښے د «التاریخ الکبیر» مسوده اولیکله.دا دامام بخاری رحمه الله دویم تصنیف دے.(٤)
بیا امام بخاری بصره ته تشریف یوړلو.هلته ئے د ابوعاصم النبیل، محمدبن عبدالله انصاری،بدل بن المحبرعبدالرحمن بن حماد الشعیثی،محمدبن عرعره،حجاج بن منهال ، عبدالله بن رجاء غدانی او عمربن عاصم کلابی رحهم الله وغیره نه احادیث واوریدل . (٥)
امام بخاری رحمه الله په حجاز کښے شپږ کاله پاتے شو.بصره ته ئے څلور ځله سفر اوکړلو.اودکوفے اوبغداد په باره کښے پخپله فرمائی.«ولا أحصی کم دخلت إلی الکوفة وبغداد مع المحدثین»(٦)
دکوفے مشائخ رحمهم الله په چا باندے چه امام بخاری اعتماد کړے دے.دا دی . عبیدالله بن موسی. ابونعیم احمد بن یعقوب. اسماعیل بن ابان. حسن بن الربیع ،خالد بن مخلد،

(١)فتح المغیث(٢/٨٦)کذا فی ..الإمام البخاری إمام الحفاظ والمحدثین..للدکتورتقی الدین الندوی حفظه الله).
(٢) ځکه چه امام صاحب په خپله فرمائی ((فلما طعنت فی ست عشرة سنة حفظت کتب ابن المبارك، ووکیع. وعرفت کلام هولاء یعنی أصحاب الرأی قال: ثم خرجت مع أمی وأخی إلی الحج _ قلت (القائل هوالحافظ ابن حجررحمه الله) فکان أول رحلته علی هذا سنة عشر ومائتین ... هدی الساری (ص.٤٧٨)_
(٣) اوګورئ سیرأعلام النبلاء (١٢/٣٩٥) مقدمة شرح قسطلانی (ص.٣٢)_
(٤) اوګورئ سیرأعلام النبلاء (١٢/٣٩٥) وهدی الساری (ص.٤٧٨)_
(٥) سیرأعلام انبلاء (١٢/٣٩٤) ومقدمة قسطلانی (ص.٣٢) _
(٦) هدی الساری (ص.٤٧٨)_

سعید بن حفص، طلق بن غنام، عمروبن حفص، عروه، قبیصه بن عقبه، ابوغسان اوخالد بن یزید مقری ﷭ تعالی وغیره (۱)

د بغداد په مشانخو ﷭ کښے امام احمد بن حنبل، محمدبن سابق، محمد بن عیسی بن الطباع او سریج بن نعمان ﷭ وغیره قابل ذکر دی. (۲)

د شام په مشانخو ﷭ کښے محمد بن یوسف فریابی، ابونصراسحاق بن ابراهیم، آدم بن ابی ایاس، ابوالیمان الحکم بن نافع، حیوة بن شریح، علی بن عباس او بشربن شعیب ﷭ وغیره دی. (۳)

د مصر په مشانخو کښے عثمان بن صالح، سعید بن ابی مریم، عبدالله بن صالح، احمد بن صالح، احمد بن شعیب، اصبغ بن الفرج، سعیدبن عیسی، سعید بن کثیر، یحی بن عبدالله بن بکیر، احمد بن اشکاب اوعبدالله بن یوسف ﷭ تعالی وغیره دی. (۴)

او د جزیرے په مشانخو ﷭ کښے احمد بن عبدالملک حرانی، احمد بن یزید الحرانی، عمروبن خلف، او اسماعیل بن عبدالله الرقی قابل ذکر دی. (۵)

په مروٓ کښے ئے د علی بن الحسن بن شقیق، عبدان او محمد بن مقاتل ﷭ وغیره نه ئے سماع کړے ده. (۶)

په بلخ کښے ئے د مکی بن ابراهیم، یحی بن بشر، محمد بن ابان، یحی بن موسی، او قتیبه رحهم الله وغیره نه د احادیثو سماع کړے ده.

په هرات کښے ئے د احمدبن ابی الولید حنفی نه د احادیثو سماع کړے ده. (۷)

په نیشاپور کښے ئے د یحی بن یحی، بشربن الحکم، اسحاق بن راهویه، محمد بن نافع، محمد بن یحی ذهلی ﷭ وغیره نه احادیث اوریدلی دی. (۸)

غرض دا چه امام بخاری ﷫ تقریباً د ټولو اسلامی ملکونو سفر کړے دے او د یو زر اتیا مشانخو نه ئے احادیث اوریدلی دی. (۹)

تنبیه: علامه سبکی ﷫ د امام بخاری ﷫ د الجزیره د سفر نه انکار کړے دے اووئیلے ئے دی چه امام بخاری ﷫ جزیرے ته نه دے داخل شوے. (۱۰)

---

(۱) اوګورئ: سیر أعلام النبلاء (۳۹/۱۲) وتهذیب الأسماء (۷۲/۱)_

(۲) تهذیب الأسماء (۷۲/۱) سیرأعلام النبلاء (۳۹٤/۱۲)_ .

(۳) سیر(۳۹۵/۱۲) وتهذیب الأسماء (۷۱/۱)_

(۴) پورتنی حواله جات _

(۵) تهذیب الأسماء (۷۲/۱)_

(۶) پورتنئ حواله_

(۷) پورتنئ حواله

(۸) پورتنئ حواله_

(۹) اوګورئ: سیرأعلام النبلاء (۳۹۵/۱۲) ومقدمة فتح الباری (ص٤۷۹) _

(۱۰) اوګورئ: طبقات الشافعیة الکبری (۳/۲)_

خوامام نووي رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله ددے سفر قائل دي.(١)

په دې رحلاتو کښې د امام بخاري رحمه الله تنګدستي امام بخاري رحمه الله د علم د طلب په زمانه کښې لوږے هم تیرے کړي دي. اوپه پاڼړو او وابنو ئے هم ګذاره کړے ده. بعضے وخت ورته د خپلو ځامو خرخولو هم نوبت راغلے دے. د ژوند په ډیره لویه حصه کښې ئے ترکاري نه د خوړلے. یوځل بیمار شو. طبیبانو د دوي قاروره (هغه شیشه چه متیازے په کښې بندے کړي اوطبیبان ئے ګوري) اوکتله. نووے وئیل. دا قاروره د داسے پادري ښکاري. چه هغه ترکاري نه استعمالوي. طبیبانو دهغے علاج ترکاري اوخودله. نوامام بخاري رحمه الله انکار اوکړلو اوچه کله ورته عالمانو او مشائخو رحمهم الله ډیر منت اوکړلو. نودا ئے منظور کړه. چه د روټئ سره ګوړه استعمالوم.(٢)

حقیقت دے چه ((لایستطاع العلم براحة الجسم))(٣)

هم دا وجه ده. چه امام بخاري رحمه الله دے لوئے مرتبے ته اورسیدلو. چه لوئے واړه ټول د دوي په تعریف کښې رطب اللسان په نظر راځي. (یعني د ټولو ژبے بغیر د څه خجالت نه د هغوي تعریف کوي)

لکه امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي. ((ماأخرجت خراسان مثل محمدبن اسماعیل))(٤)

امام مسلم رحمه الله فرمائي. ((أشهد أنه لیس في الدنیا مثلك))(٥)

امام حاکم رحمه الله نه امام بیهقي رحمه الله نقل کړي دي. چه امام مسلم رحمه الله یوځل امام بخاري رحمه الله ته راغلو. اوددوي تندے ئے ښکل کړلو. او ورته ئے اوفرمائل. ((دعني أقبل رجلیك یا استاذ الأستاذین وسید المحدثین وطبیب الحدیث في علله))(٦)

دامام بخاري رحمه الله فضل او شرف: امام بخاري رحمه الله په اهل فارس کښې دے. او نبي کریم ﷺ

---

(١) حافظ رحمه الله فرمائي. ((وقال سهل ابن السری قال البخاري: دخلت إلی الشام ومصر والجزیرة مرتین.)) (هدی الساري. ص.١٧٨) اوامام نووي رحمه الله د الجزیره سره دنورو ډیرو ملکونواو دهغے د مشائخو ذکر کولو نه پس فرمائي. ((قد رحل البخاري رحمه الله إلی هذه البلاد المذکورة في طلب العلم وأقام في کل مدینة منها علی مشائخها .. (تهذیب الأسماء (٧٢/١)_

(٢) هدی الساري (ص.٤٨١ وتهذیب الأسماء (٦٨/١)_

(٣) قاله الإمام یحی بن أبي کثیر. کما رواه مسلم في صحیحه(٢٢٣/١)کتاب الصلاة باب أوقات الصلوات الخمس)

(٤) هدی الساري (ص.٤٨٢.٤٨٣) وسیرأعلام النبلاء (٤٢١/١٢) وتاریخ بغداد (٢١/٢) وتهذیب الأسماء واللغات (٦٨/١) _

(٥) هدی الساري (ص.٤٨٥) وتایخ بغداد (٢٩/٢)_

(٦) هدی الساري (ص.٤٨٨) وسیر أعلام النبلاء (٤٣٢/١٢) وتهذیب الأسماء (٧٠/١) وطبقات الشافعیة للسبکي (٢ ٢١٢)_

حضرت سلمان فارسى رضي الله عنه ته مخاطب شوے وو.اوفرمائيلى ئے وو.«لوكان الدين عند الثريا لذهب به رجل من فارس أوقال من أبناء فارس»(١)

دحضرات محدثينو رحمهم الله ارشاد دے چه ددے اولين مصداق امام ابوحنيفه رحمه الله دے. اوبيا امام بخارى رحمه الله دے.

دغه شان په قرآن كريم كنبے ارشاد دے.﴿وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ﴾(٢)

كله چه صحابه كرامو رضي الله عنهم ددے آيت متعلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړلو.نوپه حضرت سلمان فارسى رضي الله عنه باندے ئے لاس كيخودلو.او وے فرمائيل.«لوكان الإيمان عند الثريا لناله رجال من هولاء»(٣)ددے مصداق هم امام ابوحنيفه رحمه الله او امام بخارى رحمه الله دى.

د امام بخارى رحمه الله وراق محمد بن ابى حاتم رحمه الله بيان دے چه ما خوب اوليدلو . چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم روان دے.اوامام بخارى رحمه الله په هغوى پسے روستو روان دے.په كوم ځائے چه به د نبى صلى الله عليه وسلم قدم مبارك راتلو.نوپه هغه ځائے به د امام بخارى رحمه الله قدم هم راتلو.(٤) ددے نه دامام بخارى رحمه الله دا ښكاره كيږى.چه امام بخارى رحمه الله د سنتو متبع دے.

فربرى رحمه الله فرمائى.چه ما په خوب كنبے اوليدل.چه نبى صلى الله عليه وسلم ماته فرمائى.«أين تريد؟»ما ورته عرض اوكړلو.«أريد محمد بن اسماعيل»نونبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.«اقرأه منى السلام»(٥)

احتياط او تقوى : دامام بخارى رحمه الله قول دے.«مااغتبت أحدا قط منذ علمت أن الغيبة حرام»(٦)

دغه شان فرمائى.چه«إنى لأرجو أن ألقى الله ولايحاسبنى أن اغتبت أحدا»(٧)

امام بخارى رحمه الله د ګناهونو او منكرانونه د بچ كيدو ډير اهتمام كړے وو.ځكه چه ګناهونو سره حافظه خرابيږى.امام بخارى رحمه الله د ګناهونو نه ډيرزيات احتياط كړے وو.ځكه دهغوى حافظه متاثره نشوه.او په حفظ كنبے ورته زبردست كمال حاصل وو .

---

(١)صحيح مسلم (٣١٢/٢) كتاب الفضائل باب فضل فارس)_

(٢) سورة جمعة:٣)_

(٣) صحيح بخارى،كتاب التفسير، سورة الجمعة باب قوله ﴿ وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ﴾ رقم ٤٨٩٧) وصحيح مسلم (٣١٢/٢) كتاب الفضائل باب فضل فارس)_

(٤) هدى السارى (ص،٤٨٩) وتاريخ بغداد (١٠/٢)_

(٥) هدى السارى (٤٨٩/٢) وتاريخ بغداد (١٠/٢) وسيرأعلام النبلاء (٤٤٣/١٢) وتهذيب الأسماء (٦٨/١) وطبقات السبكى (٢٢٣/٢)_

(٦) هدى السارى (ص.٨٨٠)_

(٧) هدى السارى (ص.٤٨٠) وتاريخ بغداد (١٠/٢) وسير أعلام النبلاء (٤٤٣/١٢) وتهذيب الأسماء (٦٨/١) وطبقات السبكى (٢٢٣/٢)_

حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي

شكوت إلى وكيع سوء حفظي	فأوصاني إلى ترك المعاصي
فإن العلم نور من إله	ونور الله لا يعطى لعاص

دعلمي وقار حفاظت ونيلي شي.چه يوخل امام بخارى رحمه الله دريابي سفر كولو.اويو زر اشرفئ دونى سره وے. يوكس ډيره د نياز منديئ طريقه اختيار كړه.او امام بخارى رحمه الله ته په هغه اعتماد پيدا شو.دخپلو حالاتو نه ئے هغه خبر كړلو.دا ئے ورته هم اوخودل.چه ما سره يوزر اشرفئ دى.يوورځ صبا چه هغه كس راپاسيدو.نوهغه چغے شروع كړے.اودا ئے ووئيل.چه زما د يو زر اشرفو تهيلئ غائبه شوه.دجهاز خلقو لټون شروع كړلو.امام بخارى رحمه الله ته موقع ملاؤ شوه.او پټه ئے هغه تهيلئ درياب ته اوغورځوله.د لټون باوجود تهيلئ پيدا نشوه.نوخلقو هغه ملامته كړلو.دسفر په ختميدو هغه كس د امام بخارى رحمه الله نه تپوس كوى.چه ستا هغه اشرفئ څه شوے؟امام بخارى رحمه الله ورته اوفرمائيل.هغه ما درياب ته اوغورځولے.هغه ورته اووئيل.دومره ډير رقم تا ضائع كړلو.دوى ورته اوفرمائيل.زما د ژوند اصلى ګټه خو د ثقاهت دولت دے. د څو اشرفو په عوض ماهغه څنګه ضائع كولے شو.(۱) (۲)

دامام بخارى رحمه الله پلار په ميراث كښے ډير مال پريخودے وو.امام رحمه الله هغه مال په مضاربت باندے وركړلو.يوخل مضارب پنځويشت زره درهم يوړل.اوپه بل ښار كښے آباد شو.اودغه شان د امام بخارى رحمه الله رقم ضائع شو.خلقو ورته اووئيل.چه د مقامى حاكم نه خط واخله.او دهغه ځائے حاكم ته ئے اوليګه.نو دا رقم به درته په آسانئ سره ملاؤ شى.امام بخارى رحمه الله اوفرمائيل.كه نن زه د حاكمانو په ذريعه خپل رقم واپس كړم.نو صبا به هم دا حاكمان زما په دين كښے دخل اندازى شروع كړى.اوزه خپل دين د دنيا دپاره ضائع كول نه غواړم.بيا دا فيصله اوشوه.چه مقروض به لس درهم په مياشت كښے ادا كوى.خوپه دے كښے يوه درهم هم

---

(۱) دا واقعه د امدادالبارى (۱/٤۶۱) او فضل البارى (۱/۵۵) كښے دحافظ رحمه الله د فتح البارى په حواله سره منقول ده.خود لټون باوجود راته ملاؤ نشوه.دغه شان په تاريخ بغداد.تهذيب الكمال، سيرأعلام النبلاء.تهذيب التهذيب.تهذيب الأسماء واللغات.مقدمة فتح.مقدمة قسطلانى.او مقدمة لامع كښے د امام بخارى دترجمے لاندے ددے واقعه ذكر نشته.

(۲) احقرمترجم په دے واقعه پسے د كمپيوټر په ذريعه فتح البارى اوددے نه علاوه نهه سوه جلدونه اوكتل.ليكن په يوكتاب كښے هم دا واقعه نه وه.بيا مے په خپله علاقه كښے ..مكتبة الإمام البخارى.. كښے د علامه عبدالسلام مباركپورى رحمه الله كتاب ..سيرة الإمام البخارى.. اوكتل.په دے كښے هغوى دا واقعه دامام بخارى رحمه الله په علمى اسفارو كښے (ص،۶۹) ذكر كړے ده.خوبيا لاندے په تحقيق كښے ئے فرمائيلى دى. ((تفرد بذكرة العجلونى رحمه الله فى ..فوائدالدرارى.. علامه مبارك پورى رحمه الله د دولسمے او علامه عجلونى د يوولسمے صدئ شخصيت دے.چونكه د امدادالبارى اوفضل البارى ماخذ فتح البارى دے.اوزه په يقين او وثوق سره وايم چه دا واقعه په فتح البارى كښے نشته.نواصل حواله په دے مقام كښے هم د مباركپورى رحمه الله شوه احقرمترجم شاه فيصل).

امام بخارى رحمه الله ته ملاو نشوه.(۱)

د وراق بخارى محمدبن ابى حاتم رحمه الله بيان دے چه امام بخارى رحمه الله اوفرمائيل .چه زه دحديث د طلب دپاره آدم بن ابى اياس ته ورغلم.اوخرچه راسره ختمه شوے وه .نوما وابنه او پانړے خوړل شروع كړل.اوڅوك مے خبر نكړلو.په دريمه ورځ يو ناشنا سړے راغلو.او د اشرفو يوه تهيلئ ئے راته په لاس كښے په زور راكړه.(۲)

د عمربن حفص الاشقربيان دے چه مونږ څو كسان د سبق ملګرو په بصره كښے احاديث ليلكل.مونږ سره امام بخارى رحمه الله هم وو.يوځل امام بخارى رحمه الله څو ورځو پورے رانغلو.په لټون سره معلومه شوه.چه هغوى سره خرچه ختمه شوے ده.اوخبره دے ته رسيدلے وه.چه امام بخارى رحمه الله خپلے جامے هم خرڅے كړے وے. مونږ ورله چنده اوكړه.اود جامو انتظام موږ ورله اوكړلو.(۳)

داسے مشقتونه زغمل دامام بخارى رحمه الله په فطرت كښے داخل شوى وو.د بخارا نه بهر هغوى مهمان خانه جوړه كړے وه.نو ډير خلق ددوى د مدد دپاره جمع شول. دوى به خپله هم خښتے اوچتولے.او اوړلے.يوشاګرد ورته عرض اوكړو.تاسو ولے تكليف برداشت كوئ.نو ورته ئے اوفرمائيل.په اصل كښے په كارراتلونكے محنت خو هم دا دے.

د وراق بخارى محمد بن ابى حاتم رحمه الله بيان دے.چه بعضے وخت به مے په امام بخارى رحمه الله سره په سفر كښے په يوه كمره كښے شپه تيروله.مابه دشپے كتل.چه د شپے به امام بخارى رحمه الله پنځلس اوشل كرته راپاسيدلو.اوهر ځل به ئے ډيوه لګوله . او بيا به ئے په احاديثو نښے لګولے.بيا به ئے د پيشمنى په وخت كښے تهجد كولو.اوزه ئے چرته نه وم پاسولے.ما ورته يوځل عرض اوكړلو.چه تاسو دا دومره مشقت كوئ.ما راپاسوئ؟ نو هغوى راته اوفرمائيل.«أنت شاب فلا أحب أن أفسد عليك نومك» چه ته ځوان ئے.زه ستا خوب خرابول نه غواړم.(۴)

ښه سلوك او ايثار: په خپله خو به ئے څو څو ورځے بغير دخوراك څكاك نه تيرولے.اوكله به صرف درے بادام خوړل د دوى دپاره كافى وو.خو د نورو سره د ښه سلوك په باره كښے د هرچانه وړاندے وو.ملا على قارى رحمه الله فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله ته به په هره مياشت كښے د پنځو سوو روپو ګټه كيدله.او دا ټول رقم به هغوى په فقيرانو، مسكينانو،طالبانو او محدثينو باندے خرچ كولو.(۵)

---

(۱) اوګورئ هدى السارى (ص.٤٧٩) وطبقات السبكى (۲۲۷/۲) وسيرأعلام النبلاء (٤٤۶/۱۲)_

(۲) هدى السارى (ص.٤٨٠) وسيرأعلام النبلاء (٤٤٨/۱۲) وطبقات السبكى (۲۲۷/۲)_

(۳) سيرأعلام النبلاء (٤٤٨/۱۲) وتاريخ بغداد (۱۳/۲) وطبقات السبكى (۲۱۷/۲)_

(۴) هدى السارى (ص.٤٨١) وسيرأعلام النبلاء (٤٠٤/۱۲) وتاريخ بغداد (۱۳/۲_۱٤) وتهذيب الأسماء واللغات (۷۵/۱) وطبقات السبكى (۲۲۰/۲) _

(۵) مرقاة شرح مشكاة المصابيح (۱۵/۱)_

بې نفسي د بې نفسۍ ئې دا حالت وو.چه دعبدالله بن محمد صيارفي رحمه الله بيان دے.چه يو ځل د امام بخاري رحمه الله وينزه دده په خواه کښې تيريدله.نو دوات ئې په لته اووهلو.او سياهي توئې شوله.امام بخاري رحمه الله وينزے ته اووئيل.څنګه ګرځې؟ نو وينزے ورته اووئيل.چه لاره نه وي.(ځکه چه هرطرف ته کتابونه پراته وو) نوڅه مې کړے وے.چه دا ئې واوريدلو.نو امام بخاري رحمه الله ورته اوفرمائيل.«اذهبي فقد أعتقتك» چا ورته اووئيل.اے ابوعبدالله هغې ستا په شان کښې ګستاخي اوکړه.اوته ئې خفه کړې. خو تاسو هغه آزاده کړه.امام صاحب ورته اوفرمائيل.ما په دے کار باندے خپل ځان راضي کړلو.(۱)

په حديث دعمل اهتمام: عام طور د محدثينو په نيز ددے ډير زيات اهتمام وي.چه کوم حديث واوري.په هغې عمل کوي.امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي.چه «ماكتبت حديثاً إلا وقد عملت به ،حتى مربي النبي ﷺ احتجم وأعطى أباطيبة الحجام ديناراً فأعطيت حجاماً ديناراً حين احتجمت»(۲)

امام بخاري رحمه الله هم په دے باب کښې ډير مستعد وو.دوى د نبي ﷺ په تابعدارئ کښې خښتې اوکانړي اوچت کړي دي.وابنه او پاڼړے ئې خوړلي دي.اود ننې ويشتلو مشق ئې کړے دے.

د وراق بخاري رحمه الله بيان دے.چه امام بخاري رحمه الله به د تيراندازئ او نشانه بازئ دپاره ډير زيات وتل.ما په خپل ژوند کښې صرف دوه ځله ليدلي وو.چه دهغه ننبه خطا شوے وه.ګني تيك به ئې خپله ننبه ويشتله.يوځل د فربر نه بهرد تيراندازئ دپاره اووتلو.چه تيراندازي شروع شوه.نو امام رحمه الله تير په پل کښې په يو ميخ باندے اولګيدلو.او پل ته نقصان اورسيدلو.امام بخاري رحمه الله د سورلئ نه راکوز شو .اودميخ نه ئې تير راوويستلو.او واپس راغلو.اوماته ئې اووئيل.زما يو کار اوکړه.د پل مالك ته ورشه.چه مونږ ته يا دنقصان تيك کولو اجازت اوکړي.يا د نقصان تاوان واخلي.اومعافي راته اوکړي.وائي چه د پل مالك حميد بن الاخضر ته چه کله دا خبره اورسيدله.نو هغوى اووئيل.چه ابوعبدالله ته زما د طرفه سلام اووايه.او ورته اووايه.چه څه شوى دى.هغه معاف دى.اودا چه زما ټول مال دولت اوجائيداد په تا باندے د قرباني کولو دپاره تيار دى.چه امام بخاري رحمه الله دا واوريدلو.نو ډير خوشحاله شو.اود شکر دپاره ئې په دغه ورځ پنځه سوه احاديث واورول.او درے سوه درهمه ئې صدقه کړل.(۳)

---

(۱) هدى السارى (۴۸۰) وسيرأعلام النبلاء (۴۵۳/۱۲)_

(۲) سيرأعلام النبلاء (۲۱۳/۱۱) ترجمه امام احمد بن حنبل رحمه الله مشهور محقق شعيب الأرنووط حديث ((النبي ﷺ إحتجم وأعطى أباطيبة ديناراً) تخريج کړے دے اوليکي.دا حديث امام مالك رحمه الله په موطا کښے امام بخاري رحمه الله او امام مسلم په خپل خپل صحيح کښے امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله اوامام دارمي په خپلو سننو کښے او امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کښے ذکر کړے دے خو په دے کښے په بعضو کښے(فأمر بصاع من طعام)دى.اوپه بعضو کښے ((بصاع من شعير)) دى.او په بعضو کښے ((بصاعين من طعام)) دى په هيڅ يوروايت کښے دا نشته.چه دوى ورته يو دينار ورکړلو.اوګورئ حاشيه إعلام النبلاء (۲۱۳/۱۱)_

(۳) هدى السارى (۴۸۰)_

دعبادت شوق د همیشه نې دا معمول وو چه د شپې په آخری حصه کښې به نې دیارلس رکعته کول (۱) او په رمضان کښې به نې زیادت کولو
حافظ ابوعبدالله حاکم رحمه الله په خپل سند سره نقل کوی.چه کله به رمضان شروع شو نو امام بخاری رحمه الله به د قرآن یو ختم په تراویح کښې په هر رکعت کښې شل شل آیاتونو ونیلو سره ختمولو .بیا به نې خانله د شپې په آخری حصه کښې نصف یا ثلث قرآن لوستلو.او په دې طریقه به نې په هره دریمه ورځ قرآن ختمولو.بیا به نې توله ورځ هم تلاوت کولو او روزانه به نې د افطار په وخت کښې قرآن ختمولو . اوفرمانیل په نې د قرآن په هر ختم دعا قبلیږی.(۲)
یوځل امام بخاری رحمه الله په باغ کښې نفلونه کول.د مانځه نه پس نې چاته اوونیل دا قمیص مې لږ اوچت کړه.اوګوره چه څه ضرری څیز خو نه دې؟چه اوکتلې شو نو یوې ډنبرې شپاړس اوولس ځایه ټکونه ورکړی وو.په بدن کښې هغه حصه پړسیدلې وه.کومه چه چیچلې شوې وه.چا ورته اوونیل.تانیت ولې نه ماتولو؟ وې فرمانیل.ما د یو سورت تلاوت کولو.هغه مې په مینځ کښې پریخودل مناسب نه ګنړلو.(۳)
د دعا قبولیت : امام بخاری رحمه الله فرمانی.ما دوه ځله د خپل رب نه دعا کړې ده.او سمدستی قبوله شوې ده.ددې نه پس ما سره دا ویره شوه.چه هسې نه زما د اعمالو بدله ما ته په دنیا کښې رانکړې شی.ځکه مې ددې نه پس د دنیا دپاره د څه غوښتل نه دی خوښ کړې.(۴)
د علل حدیث په معرفت کښې انفرادیت: په اصطلاح کښې ،،علت،، د جرح یو پټ سبب ته وانی.په دې علم کښې د مهارت دپاره د ډیر زیات مهارت، سیال ذهن. او فی الفوز پوزه مهارت ضروری دې.د حدیث د راویانو پیژندګلو،د ولادت او وفات د وختونو علم،اسماء، القاب، کنیتونه، او دهغوی د ملاقات د تفصیل علم ضروری دې.د حدیث په الفاظو باندې پوره نظر کول ضروری دی.(۵)
امام ابن مهدی رحمه الله فرمانی.چه شل نامعلومه احادیث راته معلوم شي.نو ددې نه دا خبره ماته زیاته خوښه ده.چه د یو حدیث علت قادحه راته معلوم شی.(۶) امام ترمذی رحمه الله په کتاب العلل کښې فرمانیلی دی.چه په جامع ترمذی کښې چه ما داحادیثو څومره علتونه بیان کړی دی.یا د رجالو او تاریخ په باره کښې چه مې څه ونیلی دی.ددې زیاته حصه مې د امام بخاری رحمه الله یا د هغوی د تاریخ نه اخستې ده. خو په څو مقاماتو کښې مې دامام دارمی او

---

(۱) هدی الساری (ص،۴۸۱) وتاریخ بغداد (۱۳/۲) وسیرأعلام النبلاء (۴۴۱/۱۲)_
(۲) هدی الساری (ص،۴۸۱)_
(۳) سیرأعلام النبلاء (۴۴۲/۱۲) وتاریخ بغداد (۱۲/۲، ۱۳) وطبقات السبکی (۲۲۳/۲) وهدی الساری (۴۸۰، ۴۸۱)_
(۴) سیرأعلام النبلاء (۴۴۸/۱۲) وهدی الساری (۴۸۰)_
(۵) اوګورئ مقدمة ابن الصلاح (ص،۴۲) النوع الثامن عشر،معرفة الحدیث المعلل _
(۶) تدریب الراوی (۲۵۲/۱) النوع الثامن عشر،المعلل_

امام ابوزرعه رحمهما الله نه هم استفاده کړې ده.[۱]

د احمدبن حمدون رحمه الله بیان دے چه ما امام بخاری رحمه الله د سعید بن مروان په جنازه کښې اولیدلو او دهغه شیخ محمد بن یحی ذهلی رحمه الله د هغوی نه د اسماء او کنیتونو او دحدیث دعللو په باره کښې تپوسونه کول.اوامام بخاری رحمه الله به داسې جوابونه ورکول.لکه چه ﴿قل هو الله أحد﴾ وائی.[۲]

ابوحامد اعمش رحمه الله بیان کوی.چه امام مسلم رحمه الله د امام بخاری رحمه الله مجلس ته راغلو. او یو حدیث «عبیدالله بن عمر عن أبی الزبیر،عن جابر،قال بعثنا رسول الله ﷺ فی سریة ومعنا أبوعبیدة» واورول.او عرض ئې اوکړلو.که تاسو سره دا حدیث وی .نو دا متصل کړئ.مطلب ئې دا وو.چه عبیدالله تابعی دے.نودا حدیث امام بخاری رحمه الله سره شته اوکه نه؟ او که وی نو متصل السند دے اوکه نه؟ او که سند وی. نومعلل دے که صحیح؟ اوکه معلل وی.نو علت ئې معلوم دے اوکه نه؟ امام بخاری رحمه الله هم په هغه وخت کښې د حدیث سند متصل بیان کړلو.«حدثنا ابن أبی أویس حدثنی أخی عن سلیمان بن بلال عن عبیدالله»[۳]

هم ددے مجلس دویمه واقعه ده.چه یو سړی سند اووئیل.اوحدیث ئې واورولو. «حجاج بن محمد عن ابن جریج،عن موسی بن عقبة عن سهیل بن أبی صالح ، عن أبیه عن أبی هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: کفارة المجلس إذا قام العبد أن یقول: سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك وأتوب إلیك» چه دا حدیث ئې واوریدلو.نو امام مسلم رحمه الله اوفرمائیل.ددے حدیث د دے نه اوچت سند په ټوله دنیا کښې نشته.او ددے ئې دوه سندونه ذکر کړل.یو «محمد بن سلام حدثنا مخلد بن یزید أخبرنا ابن جریج حدثنی موسی بن عقبة عن سهیل بن أبی صالح عن أبیه عن أبی هریرة رضی الله عنه» او بل سند احمد بن حنبل ویحیی بن معین قالا حدثنا حجاج بن محمد»

امام بخاری رحمه الله اوفرمائیل.«إلا أنه معلول»امام مسلم چه دا واوریدلو.نو اوریږدیدو .او ددے دعلت تپوس ئې اوکړلو.امام بخاری رحمه الله اوفرمائیل.الله تعالی چه په چا باندے پرده اچولې وی.هغه هم دغه شان پریږده.خو امام مسلم رحمه الله اصرار اوکړلو.نو ددے د معلولیت وجه ئې دا اوخودله.چه «لا یذکر لموسی بن عقبة سماع من سهیل» یعنی د موسی بن عقبه د سهیل بن ابی صالح نه سماع ثابته نه ده.او بیا هغوی غیر معلول سند بیان کړلو. چه «حدثنا موسی بن

---

(۱) فاتحة کتاب العلل المطبوع بجامع الترمذی (۲/۲۳۳)_

(۲) سیرأعلام النبلاء (۱۲/۴۳۲، ۴۵۵) وتهذیب الأسماء واللغات (۱/۶۹) وتاریخ بغداد (۲/۳۱) وطبقات السبکی (۲/۲۲۹) وهدی الساری (ص۴۸۸)_

(۳) هدی الساری (ص۴۸۸) ومقدمة قسطلانی (ص۳۶) وتاریخ بغداد (۲/۲۹)_

اسمٰعيل حدثنا وهيب حدثنا سهيل عن عون بن عبد الله»(۱)
د اسماء او كنيتونو د معرفت په باره كښے واقعه مشهوره ده.چه امام فريابى رحمه الله د امام بخارى رحمه الله په موجودګئ كښے يوحديث بيان كړلو.«حدثنا سفيان عن أبى عروة عن أبى الخطاب عن أبى حمزة» په حاضرينوكښے چا د سفيان نه پس چه كوم راويان وو.هغوى كښے څوك نه پيژندل.امام بخارى رحمه الله اوفرمائيل.ابوعروه معمربن راشد دے.ابوالخطاب قتاده بن دعامه سدوسى دے.او د ابوحمزه نه مراد حضرت انس بن مالك رضى الله عنه دے.دغه شان وے فرمائيل.د سفيان دا عادت دے.چه هغه د مشهوررو شيوخو كنيت ذكر كوى.(۲)

په علم حديث كښې دنقد وجرح حيثيت: د حديث د راويان په بيان كښے د هغوى دصداقت اوثقاهت،حفظ اوضبط ضرورت دبيان محتاج نه دے.د قرآن كريم ارشاد دے.﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا﴾(۳) اګرچه په جرح اونقد كښے يوقسم غيبت هم وى.خود دينى ضرورت د وجے جرح صرف جائزنه بلكه ضرورى ده.دحديث د حفاظت دپاره دا اهتمام كړے شوے دے.كنى اهل باطل نه بلكه بعضے نيكانو خلقو د ثواب په خيال د وضع حديث ارتكاب كړے دے.او د فضائلودپاره هغوى د شنيع او قبيح كار ارتكاب كړے دے.لكه: ابوعصمه نوح بن ابى مريم نه چه كله تپوس اوشو.چه تاسو د قرآن كريم د هرسورت په باره كښے د حضرت.ابن عباس رضى الله عنهما نه فضائل نقل كوئ.دا مو د كوم ځائے نه حاصل كړى دى؟
نوهغه اووئيل.«إنى رأيت الناس أعرضوا عن القرآن،واشتغلوا بفقه أبى حنيفة ومغازى ابن إسحاق،فوضعت هذا الحديث حسبة»(۴)
دغه شان عبدالكريم بن ابى العوجاء په خپله اقرار كوى.چه ده څلور زره داسے احاديث وضع كړى دى.چه په هغے كښے ئے حلال حرام او حرام حلال ګرځولى دى.(۵)
كه د ځهان بين اونقدوجرح نه كار نه وو اخستلے شوے.نود صحيح احاديثو حفاظت به ناممكن وو.(۶)

---

(۱) هدى السارى (ص.۴۸۸)سيرأعلام النبلاء (۱۲/۴۳۶) وتاريخ بغداد (۲/۲۹)_
(۲) هدى السارى (ص.۴۷۸)_
(۳) سورة حجرات:۶)_
(۴) تدريب الراوى (۱/۲۸۲) النوع الحادى والعشرون الموضوع_
(۵) اوګورئ ميزان الإعتدال (۲/۶۴۴) رقم ۵۱۶۷)_
(۶) ددے وجے امام ترمذى رحمه الله په خپل كتاب العلل.. (مطبوعه مع جامع ترمذى (۲/۲۳۳) كښے ليكى.((وقد وجدنا غير واحد من الأئمة من التابعين قد تكلموا فى الرجال منهم... من أهل العلم.تكلموا فى الرجال وضعفوا وإنما حملهم على ذلك عندنا – النصيحة للمسلمين.لا يظن بهم أنهم أرادوا الطعن على الناس والغيبة. إنما أرادوا عندنا أن بينوا ضعف هولاء لكى يعرفوا لأن بعض الناس الذين وضعفوا (بقيه حاشيه په راروانه صفحه........

دصحابو ﷺ په زمانه کښے ددے نقد سلسله شروع شوے وه.د خوارجو اوروافضو د خروج نه پس به د تحقیق نه بغیر روایت نشو قبلولے کله چه په رجالو د سند کښے زیادت اوشو.نو د نقد او انتقاد سلسله هم وسیع شوه.(۱)

دامام بخاری رحمه الله طریقه د جرح اوتعدیل په باب کښے محدثینو رحمهم الله د دوی مراتب مقرر کړی دی.اوبیا د هر یو دپاره مخصوص اصطلاحات مقرر شوی دی.نو دجرح په مراتبو کښے «**فلان کذاب**» دا الفاظ شائع اوخواره دی.

خو امام بخاری رحمه الله د عامو محدثینو رحمهم الله په شان د ،،وضاع،، او ،،کذاب،، لفظ ډیر کم استعمالوی.(۲) دوی د ،،منکرالحدیث،، او ،،فیه نظر،، او ،،سکتوا عنه،، الفاظ استعمالوی. (۳) دغه شان فرمائی.«**إذا قلت:فلان فی حدیثه نظر فهو متهم واه**» (۴)دغه شان فرمائی.«**کل من قلت فیه: منکر الحدیث،فلاتحل الروایة عنه**» (۵)لکه چه امام بخاری رحمه الله د جرح په باب کښے هم د احتیاط لمن نه د پریخودے.

دامام بخاری رحمه الله وراق دوی ته اوویل.چه خلق ستا په تاریخ باندے اعتراض کوی .چه په دے کښے غیبت شوے دے.نو دوی ورته اوفرمائیل.چه مونږ په تاریخ کښے د متقدمینو اقوال

(.....بقیه حاشیه) کان صاحب بدعة،وبعضهم کان منهم متهماً فی الحدیث، وبعضهم کانوا أصحاب غفلة وکثرة خطأ، فأراد هولاء الأئمة أن یبینوا أحوالهم شفقة علی الدین وتثبتاً لأن الشهادة فی الدین أحق أن یتثبت فیها من الشهادة فی الحقوق والأموال))

(۱) اوګورئ مقدمة صحیح مسلم (ص،۱۰، ۱۱)_

(۲) حافظ ذهبی رحمه الله په ،سیرأعلام النبلاء،، (۴۳۹/۱۲، ۴۴۰) کښے فرمائی.((وقل أن یقول:فلان کذاب، أو کان یضع الحدیث)) شیخ عبدالفتاح ابوغده رحمه الله دامام بخاری رحمه الله نه د یو څو راویانو په باره کښے د ،،کذاب یذکر بوضع الحدیث،، وغیره الفاظ نقل کولو نه پس فرمائی.((ویلاحظ مم هذه الأمثلة القلیلة أن البخاری رحمه الله یحرص علی أن یکون لفظ الجرح الذی ترتضیه من قول غیره إذا وجده،فینقله عنه، وإلا قاله من قبل نفسه،وذلک من دقیق ورعه رحمة الله تعالی علیه)) اوګورئ تعلیقات،، الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل،، (ص،۴۰۱، ۴۰۲)_

(۳) اوګورئ سیرأعلام النبلاء (۴۳۹/۱۲) وطبقات الشافعیة (۹/۲) وهدی الساری (ص،۴۸۰)_

(۴) اوګورئ سیرأعلام النبلاء (۴۴۱/۱۲) ومیزان الإعتدال (۴۱۶/۲) ترجمه عبدالله بن داود واسطی .

(۵) اوګورئ میزان الإعتدلال ۶/۱) ترجمة أبان بن جبلة الکوفی حافظ ذهبی رحمه الله په میزان الاعتدال (۴۱۶/۲) ترجمه عبدالله بن داود واسطی) کښے فرمائی.((وقد قال البخاری ،وفیه نظر،، ولا یقول هذا إلا فیمن یتهمه غالباً)) دغه شان عراقی رحمه الله په شرح الفیه (ص،۱۷۶) کښے فرمائی.((فلان فیه نظر، وفلان سکتوا عنه، وهاتان العبارتان یقولهما البخاری رحمه الله فیمن ترکوا حدیثه)) خو محدث جلیل حضرت مولانا حبیب الرحمن اعظمی رحمه الله دحافظ ذهبی رحمه الله اوحافظ عراقی رحمه الله قول په تحقیقی اوتفصیلی طور رد کړے دے.اووورئ حاشیه ،،الرفع والتکمیل،،(ص،۳۸۹، ۳۹۱) وحاشیه قواعد فی علوم الحدیث (ص،۱۵۵، ۱۵۷) وحاشیه سیرأعلام النبلاء (۱۲ ۴۳۹، ۴۴۰)

نقل کړی دی.د خپل طرفه خو مونږ څه هم نه دی ونیلی.(۱)
بیا امام بخاری رحمه الله دحدیث په حاصلولو کښے هم ډیر احتیاط کړے دے.یو خل یوکس د یو حدیث په باره کښے تپوس اوکړلو.چه په هغے کښے دتدلیس گمان وو نو امام بخاری رحمه الله ورته اوفرمائیل. ته زما په باره کښے دتدلیس شبه کوے.ماخو د یو محدث لس زره احادیث ددے ویرے پریخودی دی.او هم د شبه د وجے مے د یو بل محدث دومره احادیث یا ددے نه زیات احادیث پریخودے دی.(۲)

یعقوب بن ابراهیم دورقی رحمه الله فرمائی.((محمد بن اسماعیل فقیه هذه الأمة))(۳)دا قول دنعیم بن حماد رحمه الله نه هم منقول دے.(۴)

امام بخاری رحمه الله د عالمانو په نظرکښې د امام بخاری استاذ محمد بن سلام بیکندی رحمه الله امام بخاری رحمه الله ته اوفرمائیل .((أنظر فی کتبی،فما وجدت فیها من خطأ فاضرب علیه،کی لا أرویه)) امام بخاری رحمه الله دهغوی په احادیث نظر ثانی اوکړلو.نود کومو احادیثو په باره کښے چه امام بخاری اطمینان ښکاره کړلو.په هغے باندے استاذ اولیکلو.((رضی ا لفتی)) او کوم احادیث چه ضعیف وو.په هغے باندےئے اولیکل.((لم یرض الفتی)) (۵)

دغه شان د دوی یو بل استاذ عبدالله بن یوسف تنیسی رحمه الله هم دوی ته فرمائیلی وو.((أنظر فی کتبی وأخبرنی بما فیها من السقط))(۶)

ددوی استاذ اسماعیل بن ابی اویس رحمه الله فرمائی.چه په کومه باریکه طریقه چه امام بخاری زما داحادیثو اصلاح کړے ده.هغه شان چا هم نه ده کړے. دوی فرمائی. ((أتنذن لی أن أجددها؟)) یعنی زه دا دوباره لیکم؟نوهغوی ورته اجازت ورکړلو .((فاستخرج عامة حدیثی بهذه العلة))(۷)
دغه شان په خپله امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه ما د اسماعیل بن ابی اویس د کومو احادیثو انتخاب کړے وو.په هغے باندے هغوی لیکل.((هذه الأحادیث إنتخبها محمد بن اسماعیل من حدیثی))(۸)

(۱) اوګورئ سیر أعلام النبلاء (۱۲/٤٤١) وهدی الساری (٤٨٠) ومقدمة قسطلانی (ص.۳۷)_
(۲) هدی الساری (٤٨١) وتاریخ بغداد (۲/۲۵)_
(۳) تهذیب التهذیب (٢٤/٤٥٧) وطبقات السبکی (۲/۹)_
(۴) تهذیب التهذیب (٢٤/٤٥٩)_
(۵) تاریخ بغداد (٢/٢٤)
(۶) هدی الساری(٤٨٣) وسیر أعلام النبلاء (١٢/٤١٩)_
(۷) سیر أعلام النبلاء (١٢/٤٣٠)_
(۸) هدی الساری(٤٨٣)_

حافظ رجاء بن مرجی فرمائی .((فضل محمد بن اسماعیل علی العلماء کفضل الرجال علی النساء))[1]

دغه شان فرمائی .((هو آیة من آیات الله یمشی علی ظهر الأرض))[2]

امام محمد بن اسحاق بن خزیمه رحمه الله فرمائی .((ما تحت أدیم السماء أعلم بالحدیث من محمد بن اسماعیل))[3]

محمد بن بشار بندار رحمه الله قول دے ((هذا أفقه خلق الله فی زماننا))[4]

کله چه امام بخاری رحمه الله بصرے ته تشریف یوړلو .نو محمد بن بشار رحمه الله اوفرمائیل . ((دخل الیوم سید الفقهاء))[5]

ابو مصعب زهری رحمه الله فرمائی .((محمد بن اسماعیل أفقه عندنا وأبصر بالحدیث من أحمد بن حنبل رحمه الله فقیل له جاوزت الحد، فقال للرجل : لو أدرکت مالکاً ونظرت إلی وجهه ووجه محمد بن اسماعیل لقلت : کلاهما واحد فی الفقه والحدیث))[6]

ابو عمرو خفاف رحمه الله فرمائی .((محمد بن اسماعیل أعلم بالحدیث من إسحاق بن راهویه واحمد بن حنبل رحمهما الله وغیرهما بعشرین درجة))[7]

دا ټول تعریفی کلمات یا د دوی د استاذانو دی .یا د دوی د معاصرینو .د امام بخاری رحمه الله په باره کښے چه د روستنو عالمانو کوم اقوال دی .هغه د حد نه زیات دی. حافظ رحمه الله فرمائی.

((لو فتحت باب ثناء الأئمة علیه ممن تأخر عن عصره لفنی القرطاس ونفدت الأنفاس فذاك بحر لا ساحل له))[8]

---

(۱) تاریخ بغداد (۲/۲۵) وهدی الساری(۴۸۳) وسیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۲۷)_

(۲) پورتنۍ حواله)_

(۳) هدی الساری(۴۸۵ وتاریخ بغداد (۲/۲۷) وسیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۳۱)_

(۴) سیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۲۹) وهدی الساری (۴۸۳)_

(۵) تهذیب الکمال (۲۴/۴۴۹) وتاریخ بغداد (۲/۱۶) وتهذیب الأسماء واللغات (۱/۶۸) وهدی الساری (ص.۴۸۳) وسیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۲۲)_

(۶) سیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۲۰) وهدی الساری (ص.۴۸۲) وتهذیب الکمال (۲۴/۴۵۵) اود سیر أعلام النبلاء محقق ددے په حاشیه کښے لیکی.((یغلب علی ظنی أن أبا مصعب الزهری لم یقف علی کلام احمد فی الفقه حتی جعل البخاری رحمه الله أفقه منه ولو وقف علی کلامه لم یتفوه بذلک)_

(۷) طبقات السبکی (۲/۱۰) وهدی الساری (۴۸۵) وسیر أعلام النبلاء (۱۲/۴۳۵. ۴۳۶)

(۸) هدی الساری (۴۸۵)_

دحديث مشهورو امامانو فقهي مذاهب دامام بخاري رحمه الله مسلك

دامام بخاري رحمه الله د مسلك په باره کښې پنځه اقوال دي.

① دټولو نه مشهور قول دا دے چه دوی مجتهد مطلق دے.د چا مقلد نه دے.دا قول د علامه ابن تيميه رحمه الله (۱) علامه نفيس الدين سليمان بن ابراهيم علوی (۲) او دعلامه انورشاه کشميری رحمه الله (۳) دے.حضرت شيخ الحديث رحمه الله هم دا اختيار کړے دے.(۴) او هم دا راجح قول دے.خکه چه د بخاری رحمه الله د زمانې عالمانو دوی د تفقه او امامت تصريح کړے ده.او په هغه زمانه کښې چاته د فقيه يا امام ونيلو مطلب هغه مجتهد خودل وو وړاندے د نعيم بن حماد اويعقوب دورقی رحمهما الله قول تير شو.چه هغوی امام بخاری رحمه الله ،،فقيه هذه الامة،، ګرځولے دے .دغه شان محمد بن بشار رحمه الله ورته ،، افقه خلق الله فی زماننا،، ونيلی دی.

عبدالله بن محمد مسندی رحمه الله فرمائی.«محمد بن اسماعيل امام،فمن لم يجعله إماماً فاتهمه»(۵)

يوخل د قتيبه بن سعيد رحمه الله نه د،،طلاق السکران،، دمسئلې تپوس اوشو.نوامام بخاری رحمه الله تشريف راوړلو.امام قتيبه (چه دامام بخاری رحمه الله استاذ وو) اوفرمائيل. «هذا احمد بن حنبل، وابن المديني ،وابن راهويه،قد ساقهم الله إليك» (۶)يعنی بخاری رحمه الله چه ددے اکابرينو مجموعه ده.الله تعالی تاته راوليږلو.

وړاندے د ابومحمدزهری رحمه الله قول ذکر شوے دے.چه «محمد بن اسماعيل أفقه عندنا وأبصر بالحديث من أحمد بن حنبل رحمه الله فقيل له جاوزت الحد، فقال للرجل: لوأدركت مالكاً ونظرت إلى وجهه ووجه محمد بن اسماعيل لقلت: كلاهما واحد في الفقه والحديث» يعنی په تفقه او استنباط کښې چه کوم مقام دوی ته حاصل دے. هغه امام بخاری رحمه الله ته هم حاصل دے.

② دويم قول د ابوعاصم عبادی اوتاج الدين سبکی رحمهما الله دے.دوی امام بخاری رحمه الله په شوافعو رحمهم الله کښې شمار کړے دے.ددے وجه دا ده.چه امام بخاری رحمه الله د زعفرانی، ابوثور، کرابيسی،او حميدی رحمهم الله نه حديث اوفقه حاصله کړے ده.او دا ټول دامام شافعی رحمه الله شاګردان وو.(۷) خودا خبره ددے وجے ټيك نه ده.چه د شاګردئ نه دا نه لازميږی.چه د شاګرد

---

(۱) اوګورئ مقدمه لامع الدراری (۶۹)_

(۲) اوګورئ ،،ماتمس إليه الحاجة لمن يطالع سنن ابن ماجه (ص،۲۶) مطبوعه مع سنن ابن ماجه)_

(۳) اوګورئ فيض الباری (۵۸/۱) وذکر الترتيب بين الصحاح الست وبيان مذاهبهم مع بعض الفوائد المهمة

(۴) اوګورئ لامع الدراری (۶۰)_

(۵) هدی الساری (ص،٤٨٤)_

(۶) سير أعلام النبلاء(١٢/٤١٨) وهدی الساری (ص،٤٨٢)_

(۷) اوګورئ طبقات الشافعية (۲/۲،۳ ٤)_

مذهب دے هم هغه وی.کوم چه د استاذ وی.که داسے وی.نوبیا د امام بخاری رحمه الله په استاذانو کښے ډیر احناف هم دی.

③ دریم قول دا دے.چه دوی حنبلی دی.ابن ابی یعلی رحمه الله دوی په ..طبقات الحنابله.. کښے ذکر کړی دی.(۱) اوابن القیم رحمه الله فرمائی.((وكذلك البخاري ومسلم وابوداود والأثرم وهذه الطبقة من أصحاب أحمد اتبع له من المقلدين المحض المنتسبين إليه)) (۲)

④ څلورم قول دا دے.چه دوی مجتهد منتسب الی الشافعی رحمه الله دے.(۳)

⑤ پنځم قول د بعضے متاخرینوعالمانو رحمهم الله دے.چه امام بخاری رحمه الله نه مجتهد وو.اونه مقلد.(۴)

دامام مسلم رحمه الله مسلک دامام مسلم رحمه الله د مسلك په باره کښے شاه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی . ((وأما مسلم وابن ماجه فلا يعلم مذهبهما))(۵)هغه شان فرمائی.((وأما مسلم فلا أعلم مذهبه بالتحقيق))(۶)

د شاه ولی الله رحمه الله او نواب صدیق خان رحمهما الله په نظر کښے دوی شافعی وو .(۷) ابن ابی یعلی رحمه الله دوی په طبقات حنابله کښے ذکر کړے دے.(۸)

ابن تیمیه رحمه الله فرمائی.چه دوی نه مجتهد وو.اونه مقلد.بلکه دوی د اهل حدیثو په مذهب باندے وو.(۹)

علامه ابراهیم بن شیخ عبداللطیف سندهی رحمه الله فرمائی.چه امام مسلم رحمه الله مجتهد منتسب الی الشافعی رحمه الله دے.ابن الاثیر رحمه الله په جامع الاصول کښے اوحافظ ابن حجر رحمه الله په ,,تقریب،، کښے د دوی مجتهد کیدو ته اشاره کړے ده.(۱۰)

علامه ابراهیم سندهی رحمه الله د ،،اتحاف الاکابر،، په حواله سره لیکلی دی.چه امام مسلم مالکی المسلك وو.

---

(۱) ما تمس إليه الحاجه (ص.۲۶)_

(۲) إعلام الموقعين عن رب العالمين (۲/۲٤۲) الوجه الرابع والأربعون من وجوه رد التقليد)_

(۳) قاله الإمام ولى الله الدهلوی رحمه الله فی ..الإنصاف فی بيان سبب الإختلاف.. كذا فی ما تمس إليه الحاجه (ص.۲۶)_

(۴) اوګورئ ..ماتمس إليه الحاجة لمن يطالع ابن ماجه (ص.۲۷)_

(۵) فيض البارى (۱/۱۵۸)

(۶) العرف الشذی مطبوعه مع جامع ترمذی (۱/۲)_

(۷) اوګورئ ..ماتمس إليه الحاجه.. (ص.۲۵.۲۶)_

(۸) ..ماتمس إليه الحاجه.. (ص.۲۶)_

(۹) توجيه ا لنظر إلى أصول الأثر(ص.۱۸۵) ذكرالنوع الثانی والثلاثين من علوم الحديث)_

(۱۰) اوګورئ ..ماتمس إليه الحاجه.. (ص.۲۵، ۲۶)_

دامام ابوداود رحمه الله مسلک ① دامام ابوداود رحمه الله په باره کښې مشهوره دا ده چه دوی حنبلی وو. ابن ابی یعلی رحمه الله دوی په طبقات حنابله کښې ذکر کړی دی.(۱) اسماعیل پاشاه بغدادی رحمه الله په ،،هدیة العارفین،، کښې دوی ،،حنبلی،، لیکلی دی.(۲)علامه انور شاه کشمیری رحمه الله هم دوی حنبلی ګرخولی دی.(۳)شیخ الحدیث صاحب هم دا غوره کړے ده.(۴)

② تاج الدین سبکی رحمه الله دوی په طبقات شافعیه کښې ذکر کړے دے.دغه شان نواب صدیق حسن خان هم دوی ته شافعی ونیلی دی.(۵)

③ دریم قول دا دے چه دوی مجتهد مطلق وو.(۶)

④ څلورم قول دا دے چه دوی مجتهد منتسب الی احمد واسحاق رحمهما الله وو.(۷)

دبعضے متاخرینو رحمه الله په نیز دوی اهل حدیث وو.((لیس بمجتهد مطلق ولا هو من المقلدین))(۸)

دامام ترمذی رحمه الله فقهی مسلک: امام ترمذی رحمه الله علامه انورشاه کشمیری رحمه الله شافعی ګرخولے دے.(۹)

ابن تیمیه رحمه الله فرمائی.دوی په اهل حدیثو کښې وو.نه مجتهد مطلق وو.اونه مقلد محض(۱۰)

د شاه ولی الله رحمه الله په رائے کښې دوی مجتهد منتسب الی احمد واسحاق وو.(۱۱)

دابن ماجه رحمه الله مسلک: دابن ماجه رحمه الله په باره کښې شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی.چه د دوی مذهب په تحقیق سره معلوم نه دے.(۱۲)

د شاه ولی الله رحمه الله په رائے کښې دوی مجتهد منتسب الی احمد واسحاق دی.(۱۳)

دابن تیمیه رحمه الله په رائے کښې دوی نه مجتهد وو.اونه مقلد محض.بلکه اهل حدیث وو.(۱۴)

---

(۱) ..ماتمس إلیه الحاجه.. (ص.۲۶)_

(۲) هدیة العارفین (۱/۳۹۵) _

(۳) فیض الباری (۱/۵۸) والعرف الشذی (ص.۲۰)_

(۴) مقدمة لامع الدراری (۷۱)_ تاج الدین سبکی رحمه الله

(۵) ماتمس إلیه الحاجه(۲۵. ۲۶)_

(۶) قاله ابن تیمیة .کما فی توجیه النظر(ص.۱۸۵)_

(۷) قاله الإمام ولی الله الدهلوی رحمه الله کذا فی ماتمس إلیه الحاجه (ص.۲۶)_

(۸)..ماتمس إلیه الحاجه.. (۲۷)_

(۹) فیض الباری (۱/۵۸) والعرف الشذی (ص.۲۰)_

(۱۰) توجیه النظر إلی أصول الأثر(ص.۱۸۵)_

(۱۱) ..ماتمس إلیه الحاجه.. (۲۶)_

(۱۲) فیض الباری (۱/۵۸) والعرف الشذی (ص.۲۰)

(۱۳) ..ماتمس إلیه الحاجه.. (۲۶)_

(۱۴) توجیه النظر(ص.۱۸۵)_

د امام نسائی رحمه الله مسلک امام نسائی رحمه الله د شاه ولی الله رحمه الله په رائې کښې شافعی دے.(۱)
د ابن تیمیه رحمه الله په نیز دوی هم اهل حدیث دی.نه مقلد محض وو.اونه مجتهد مطلق.(۲)
علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ئې حنبلی ګرځوی.(۳)
علامه ابن تیمیه رحمه الله امام بخاری اوامام ابوداود رحمهما الله مجتهدین ګرځولی دی . او امام مسلم.امام ترمذی.امام نسائی.امام ابن ماجه. امام ابن خزیمه.ابویعلی .امام بزار رحمهم الله وغیره حضراتو په باره کښې فرمائی.چه دا حضرات داهل حدیثو په مذهب باندے عاملین وو.مجتهدین امامانو کښې نه وو.خوامام شافعی .امام احمد . امام اسحاق . او ابو عبید رحمهم الله داقوالو طرف ته مائلین وو.
دوی فرمائی.چه دے ټولو حضراتو به د سنت د تابعدارئ پوره پوره کوشش کولو . بیا په دوی کښې دوه طبقې وې.یوه طبقه عراقیینو طرف ته مائله وه.لکه امام وکیع. یحی بن سعید . رحمهما الله وغیره اویوه طبقه مدنیینو ته مائله وه.لکه امام عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله بیا امام دارقطنی رحمه الله اګرچه امام شافعی رحمه الله طرف ته مائل وو . خو په هغوی کښې شان اجتهاد زیات وو.د دوی مقام د امام بیهقی رحمه الله نه اوچت وو.ځکه امام بیهقی رحمه الله دامام شافعی رحمه الله نه بیخی خلاف نه کوی.اوامام دارقطنی رحمه الله د دوی په مقابله کښې په اجتهاد کښې اوچت او په فقه کښې زیات عالم وو. (۴)والله اعلم.
ازمینښت او وصال: امام بخاری رحمه الله عظیم شخصیت وو.اوقاعده دا ده.چه کله سړے ترقی کوی .نو د هغه حاسدین هم پیدا کیږی.اوهغه ته قسم قسم تکلیفونه اواذیتونه رسولی شی. امام بخاری رحمه الله ته هم داسې حالات پیش شوی وو.ددے وجې هغه د خپل وطن نه په وتلو مجبوره شو.
اولنئ جلا وطنی: صاحب د ،،جواهر مضیئه،، لیکلی دی.چه امام بخاری رحمه الله د بغداد نه واپس راغلو .نو فتوی ورکول ئې شروع کړلو.د بخارا مشهور عالم ابوحفص کبیر چه د امام محمد رحمه الله شاګرد وو.هغوی دے منع کړلو.چه فتوی مه ورکوئ.خودوی اونه منل .نو د دوی نه چا د رضاعت د مسئلې پښتنه اوکړه.که دوه ماشومان د یوے چیلئ یا غوا پئ اوڅکی. نو رضاعت ثابتیږی که نه؟ دوی د حرمت فتوی ورکړه.نو ددے په نتیجه کښې یوه هنګامه جوړه شوه.اوامام بخاری رحمه الله په خپل وطن پریخودو باندے مجبوره شو.دا واقعه اګرچه لویو لویو عالمانوذکر کړے ده.(۵)

---

(۱) ..ماتمس إلیه الحاجه.. (۲۶)-
(۲) توجیه النظر (۱۸۵)_
(۳) فیض الباری (۱/۵۸) والعرف الشذی (ص.۲۰)_
(۴) اوګورئ توجیه النظر إلی أصول الأثر(ص.۱۸۵) ذکرالنوع الثانی والثلاثین من علوم الحدیث_
(۵) دا واقعه امام سرخسی رحمه الله په مبسوط کښې ذکر کړے ده.صاحب د جواهر مضیئه په جواهر مضیئه (۱ / ۶۷) کښې په ترجمه د احمد بن حفص کبیر کښې د شمس الائمه نه نقل کړے ده.دغه شان دا واقعه غنیه شرح وقایه. کفایه شرح هدایه او فتح القدیر کښې هم (بقیه حاشیه په راروانه صفحه.........

خو ددے باوجود ددے صداقت مشکوک دے یقینی ده.چه ددے په روایت کښے گمان داخل دے چه په دین باندے معمولی غوندے پوهیږی.نوهغه انسان هم دا حماقت نه کوی.بیا پاتے شو دومره لوئے امام فقیه، محدث، مفسر.چاچه د شپاړس کالو په عمر کښے د وکیع بن الجراح او ابن المبارك رحمهماالله کتابونه حفظ کړی وو.هغه داسے غلطه فتوی څنګه ورکولے شی؟ څکه دا واقعه معلوله ده.(١)

په دویم ځل ویستل په دویم ځل په هغه وخت کښے اوویستلے شو.کله چه هغوی فتوی ورکړه چه ایمان مخلوق دے.ابوبکربن حامد، ابوحفص الزاهد،اوشیخ ابوبکر الاسماعیلی د احنافو په اکابرینو کښے دی.هغوی په یو محضرباندے دستخط اوکړلو چه ایمان مخلوق نه دے اوڅوك چه ددے د مخلوقیت قائل وی.هغه کافر دے.نوامام بخاری رحمه الله ددے د مخلوقیت قائل وو.نوځکه دوی د بخارا نه اوویستلی شو.صاحب د ..فصول عمادیه.. ددے ذکر کړے دے.(٢)

خو دا مسئله مختلف فیه ده.داحنافو اکابرین د غیرمخلوق قائلین وو.خو بله ډله د مخلوقیت قائله ده.امام بخاری رحمه الله اوابونصر مروزی رحمه الله دے طرف ته دی.امام احمد بن حنبل رحمه الله په دواړو باندے انکار کړے دے.هغوی فرمائی.څوك چه ایمان ته مخلوق وائی.هغه کافر دے.ځکه چه په دے کښے کلام الله طرف ته تعریض دے.اوڅوك چه ایمان ته غیر مخلوق وائی.هغه مبتدع دے.(٣)

خو حقیقت دا دے.چه په دے مسئله کښے تفصیل دے.که یو کس ایمان اووائی .او مراد ئے کلمه د شهادت وی.اودے ته مخلوق وائی.نودا غلطه ده.ځکه چه«لا إله إلا الله محمد رسول الله» دقرآن دستور دے.اوکه یو کس د ایمان نه اقرارلسانی ، تصدیق قلبی، او عمل بالارکان مراد اخلی.نو دا بالکل صحیح ده.ځکه چه انسان دخپل ذات او صفاتو په اعتبار سره مخلوق دے.د مسئله تنقیح نه ووشوے.بلکه د اجمال نه کار اخستے شوے وو.ځکه د اختلاف اوتشدد نوبت راغلو.

په دریم ځل د وطن نه ویستل امام بخاری رحمه الله چه کله په ٢٥٠هـ کښے نیشاپور ته تشریف

(...بقیه حاشیه) منقول ده.اوګورئ (٣/٣١٩، ٣٢٠) دغه شان علامه حسین بن محمد بن الحسن دیاربکری هم په تاریخ خمیس (٢/٣٤٢) کښے دکشف الاسرار شرح منار په حواله سره دا واقعه ذکر کړے ده.دغه شان فوائد بهیه (ص.١٨) تعلیقات دراسات اللبیب (٣٠٤)_

(١) څکه علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله په فوائد بهیه (ص.١٨) کښے لیکی.((لکنی استبعد وقوعها بالنسبة إلی جلالة قدرالبخاری رحمه الله ودقة فهمه وسعة نظره وغورفکره، مما لا یخفی علی من انتفع بصحیحه ،علی تقدیر صحتها فالبشر یخطئ.)_

(٢) اوګورئ تعلیقات .. دراسات اللبیب.. (٣٠٤، ٣٠٥)_

(٣) اوګورئ ..مجموع فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله (٧/٦٥٥، ٦٦١) فصل: وأما الإیمان هل هو مخلوق أوغیرمخلوق)_

بوړلو نوامام محمد بن يحى ذهلى رحمه الله اوفرمائيل صبا ته د محمد بن اسماعيل رحمه الله د استقبال دپاره تلل دى. څوك چه تلل غواړى نو تيار دے شى.
امام مسلم رحمه الله فرمائى چه د امام بخارى رحمه الله داسے استقبال اوشو.چه د يو والى يا حاكم يا عالم داسے استقبال نه وو شوے.دوه درے منزله ورته خلق وړاندے د ملاقات دپاره راووتل. دوى نيشاپور ته تشريف راوړلو.او داهل بخارا په محله كښے ډيره شو.امام ذهلى رحمه الله خپلو شاګردانو ته دا هدايت كړے وو.چه دوى ته ورځئ .او د احاديثو سماع ترے كوئ.اوورسره ئے ورته دا هم وئيلى وو.چه د علم كلام د څه مسئلے تپوس ترے مه كوئ.ځكه كه دوى زمونږ خلاف څه خبره اوكړه.نود نيشاپور او خراسان ناصبى.رافضى. جهمى.مرجئه ټول به خوشحاله شى.او انتشار به زيات شى.
خوقاعده دا ده.چه «الإنسان حريص فيما منع» نويو كس په عام مجلس كښے تپوس اوكړلو.چه تاسو د قرآن د الفاظو په باره كښے څه وائے.نوامام بخارى رحمه الله برابر د جواب نه اعراض كولو بيا دهغه په اصرار باندے ئے اوفرمائيل.«القرآن كلام الله غير مخلوق ،وأفعال العباد مخلوقة، والإمتحان بدعة»(١)
بعضے خلقو نقل كړى دى.چه اول كښے خو محمد بن يحى ذهلى رحمه الله خلقو ته د امام بخارى رحمه الله نه د سماع ترغيب وركولو.خوچه كله هغه طرف ته رجوع زياته شوه.نوپه ذهلى باندے دا خبره سخته شوه.اوهغه په امام بخارى رحمه الله باندے د تنقيد كولو تدبيرونه جوړول شروع كړل.(٢)
بهرحال داامام بخارى رحمه الله په دے جواب باندے يو شور جوړ شو.په خلقو كښے اختلاف پيدا شو.چه دوى«لفظى بالقرآن مخلوق»اووئيل.اوڅه كسانو انكاركولو.كوربنومفسدين اوويستل دا خبره په مزه مزه امام ذهلى پورے اورسيده.هغوى اعلان اوكړلو.«القرآن كلام الله غير مخلوق من جميع جهاته،وحيث تصرف،فمن لزم هذا استغنى عن اللفظ وعما سواه من الكلام فى القرآن،ومن زعم أن القرآن مخلوق فقد كفر، وخرج عن الإيمان،وبانت منه إمرأته ،يستتاب،فإن تاب وإلا ضرب عنقه، وجعل ماله فيئاً بين المسلمين، ولم يدفن فى مقابرهم،ومن وقف فقال: لا أقول: مخلوق ولا غير مخلوق ،فقد ضاهى الكفر،ومن زعم أن لفظى بالقرآن مخلوق، فهذا مبتدع ،لا يجالس ولا يكلم، ومن ذهب بعد هذا إلى محمد بن اسماعيل البخارى فاتهموه فإنه لايحضر مجلسه إلا من كان على مثل مذهبه»(٣)

---

(١) هدى السارى (٤٩٠) وسير أعلام النبلاء (١٢/٤٥٤)_
(٢) هدى السارى (ص.٤٩٠) تاريخ بغداد (٢/٣٠) وسير أعلام النبلاء (١٢/٤٥٣) وطبقات السبكى (٢/١١).
(٣) تاريخ بغداد (٢/٣٢،٣١) وسير أعلام النبلاء (١٢/٤٥٥، ٤٥٦)_

دغه شان دا اعلان ئے هم اوکړلو «ألا من قال باللفظ فلا يحل له أن يحضر مجلسنا»(١)
ددے اعلان نه پس امام مسلم رحمه الله هم په هغه وخت خپل څادر په سر واچولو او پاسيدو لاړل په هغه پسے امام احمد بن سلمه رحمه الله هم د مجلس نه پاسيدلو امام مسلم چه څومره حديثونه اخستی وو هغه ټول ئے واپس کړل (٢)
بل طرف ته احمد بن سلمه رحمه الله امام بخاری رحمه الله ته راغلو اووے وئيل حضرت په خراسان کښے يو کس ته ډير مقبوليت حاصل دے او په دے مسئله کښے هغه مخالف شو اوس به څه کيږی؟ امام بخاری رحمه الله په خپله ږيره باندے لاس راښکلو او وے فرمائيل «وأفوض أمرى إلى الله إن الله بصير بالعباد، اللهم إنى لم أرد المقام بنيسابور أشرا، ولا بطرا، ولا طلبا للرياسة، وإنما أبت على نفسى فى الرجوع إلى وطنى لغلبة المخالفين، وقد قصدنى هذا الرجل حسدا لما آتانى الله لا غير» بيا ئے اوفرمائيل اے احمد! زه به هم صبا ته ددے ځائے لاړ شم چه زما د وجے تاسو د هغه د خبرو نه خلاص شئ.(٣)
بل طرف ته دا اوشوه چه کله امام مسلم رحمه الله اوامام احمد بن سلمه رحمه الله د امام ذهلی د مجلس نه پاسيدل نوذهلی اووئيل «لا يساكننى هذا الرجل فى البلد» امام بخاری رحمه الله دهغه ځائے نه روان شو اوبخارا ته ئے تشريف يوړلو.(٤)
اوس دلته د دوو خبرو تحقيق ضروری دے.
چه امام بخاری رحمه الله «لفظى بالقرآن مخلوق» وئيلی هم دی اوکه نه؟ د امام بخاری رحمه الله نه «لفظى بالقرآن» چرته منقول نه دی په تاريخ بغداد وغيره کښے ذکر دی چه امام بخاری رحمه الله خپل ځان ته ددے قول نسبت غلط خودلے دے غنجار په تاريخ بخارا کښے په خپل سند سره دابوعمرو احمد بن نصر خفاف نه نقل کړی دی چه مونږ د ابواسحاق قيسی په مجلس کښے وو زمونږ سره محمد بن نصرمروزی رحمه الله هم موجود وو چه دامام بخاری رحمه الله ذکر شروع شو محمد بن نصر رحمه الله اوفرمائيل ما د امام بخاری رحمه الله نه دا اوريدلی دی چه فرمائيل ئے «من زعم أنى قلت: لفظى بالقرآن مخلوق، فهو كذاب، فإنى لم أقله» خفاف اووئيل چه په خلقو کښے خو ددے خبرے ډير شهرت دے محمد بن نصر اووئيل خبره هم هغه ده کومه چه ما اوکړه.
ابوعمرو خفاف رحمه الله فرمائی زه امام بخاری رحمه الله ته ورغلم اول مے ورسره د څه حديثونو په باره کښے بحث اوکړلو تردے هغه حديثونه حل شو بيا ورته ما عرض اوکړلو چه دلته څه خلق ستاسونه داسے خبرے نقل کوی امام بخاری رحمه الله اوفرمائيل «يا أبا عمرو! احفظ ما أقول

(١) سير أعلام النبلاء (١٢/٤٦٠) وهدى السارى (٤٩٠)_
(٢) سير أعلام النبلاء (١٢/٤٦٠) وهدى السارى (ص.٤٩١)_
(٣) سير أعلام النبلاء (١٢/٤٥٩) وهدى السارى (٤٩١)_
(٤) سير أعلام النبلاء (١٢/٤٦٠) وهدى السارى (٤٩١)_

لك، من زعم من أهل نيسابور، وقومس، والرأى، وحلوان، وبغداد، وكوفة، والبصرة، ومكة، والمدينة، أنى قلت: لفظى بالقرآن مخلوق، فهو كذاب، فإنى لم أقله، إلا أنى قلت: أفعال العباد مخلوقة»(١)
دويمه خبره ده مسئله او ددے تحقيق ....نو داهل حق د سلفو اوخلفو په دے باندے اتفاق دے چه قرآن كريم دالله تعالى كتاب دے.قديم دے.اوغير مخلوق دے.
دمسئلے د تحقيق نه وړاندے دا خبره ياده كړئ.چه حسين بن على كرابيسى.عبدالله بن كلاب. ابوثور. داود بن على ظاهرى وغيره د «لفظى بالقرآن مخلوق» قائل دى.(٢)
حسين بن على كرابيسى دامام احمدبن حنبل رحمه الله د نزدے دوستانوځنے وو.خو ددے قول د راتلو نه پس د هغوى دوستى په دشمنئ بدله شوه.هم دا قول ئے بنيادجوړ كړلو.اود يوبل خلاف ئے خبرے اوكړے.(٣) كرابيسى رحمه الله ته چه كله د امام احمد رحمه الله د انكار علم اوشو.نو وے وئيل. «ما ندرى أيش نعمل بهذا الفتى؟ إن قلنا مخلوق، قال، بدعة، وإن قلنا غير مخلوق قال: بدعة»(٤)
دغه شان داود ظاهرى رحمه الله باندے اسحاق بن راهويه رحمه الله انكار كړے وو.بيا چه كله دامام احمد بن حنبل رحمه الله مجلس ته حاضر شو.نوهغه ئے منع كړلو.او وے فرمائيل.چه ماته محمد بن يحى ذهلى رحمه الله ده په باره كښے ليكلى دى.چه دے د «لفظى بالقرآن مخلوق» قائل دے. خلقو ورته اووئيل.چه دے خوانكار كوى.دوى اوفرمائيل.«محمد بن يحى أصدق منه»(٥)
اوس د مسئلے تحقيق دا دے.چه په دے باندے خو اجماع ده.چه قرآن كريم دالله تعالى كلام قديم اوغير مخلوق دے.خود تالى په الفاظو تلاوت كښے اختلاف دے .چه تلاوت او متلو يو دے.اوكه په دواړو كښے فرق شته.بعضو فرق كړے دے . هغوى وائى.چه متلو دالله تعالى كلام دے.اوتلاوت د قارى فعل دے.اوبعضو په دے مسئله كښے خاموشى اختيار كړے ده.
امام احمد رحمه الله ته دا نسبت شوے دے.چه هغوى دواړه يو څيز ګڼړى.(٦)
امام بيهقى رحمه الله فرمائى.چه امام احمد رحمه الله دا صرف ددے دپاره وئيل.چه څوك تفريق اوكړى.چه تلاوت دقارى فعل دے.او متلو دالله تعالى كلام دے.نوچونكه د متلو وجود د قارى په وجود باندے مبنى دے.نو د قرآن د مخلوقيت قول ئے نه اختيارولو ګنى د امام

---

(١) تاريخ بغداد (٣٢/٢) وطبقات السبكى (١٣/٢ وسيرأعلام النبلاء (٤٥٧/١٢، ٤٥٨) وهدى السارى (ص.٤٩١)_ ؟؟؟
(٢) اوګورئ .. قواعد فى علوم الحديث..(ص.٢٢٦)_
(٣) اوګورئ .قواعد فى علوم الحديث..(٢٢٦)_
(٤) تهذيب التهذيب (٣٦١/٢) ترجمه حسن بن على بن يزيد كرابيسى_
(٥) اوګورئ لسان الميزان (٤٢٢/٢) ترجمة داود بن على الأصبهانى الظاهرى_
(٦) اوګورئ شرح أصول إعتقاد أهل السنة والجماعة (٣٥٥/٢) لأبى القاسم اللالكائى رحمه الله _

احمد رحمه الله پشان به ئے د «لفظی بالقرآن مخلوق» باندے نکیر کولو. دغه شان ئے «د لفظی بالقرآن غیرمخلوق» باندے به ئے هم انکار کولو.
اوس چه چونکه دامام احمد رحمه الله اوامام بخاری رحمه الله مسلك یو شو خکه که دامام احمد رحمه الله په نیز په لفظ او ملفوظ او تلاوت او متلو کښے فرق نه وو.نو په «لفظی بالقرآن غیرمخلوق» به هغوی انکار نه کولو بیا امام بخاری رحمه الله دومره سخت اختلاف ولے اوکړلو؟او ددے اختلاف شهرت ولے اوشو.
ددے جواب دا دے چه د امام احمد رحمه الله مقابله د قدریه.جهمیه. اومعتزله سره وه .دوی د قرآن د مخلوقیت قائلین وو.او په مختلفو تعبیراتو سره به ئے دا پیش کول .امام احمد رحمه الله په «لفظی بالقرآن مخلوق» باندے خکه انکار اوکړلو.چه جهمیو به په دے سره دخپل مسلك تشهیر کولو.چه «لفظی بالقرآن مخلوق» او «القرآن بلفظی مخلوق» کښے څه فرق نشته حالانکه په اوله جمله کښے د «مخلوق» حمل په «لفظی» باندے دے.او په دویمه جمله کښے د «مخلوق» حمل په «قرآن» دے.اود امام بخاری رحمه الله مقابله دهغه حنابلو سره وه.کوم چه د امام احمد رحمه الله د علومو نه پوره واقف نه وو.او د ،،خلق قرآن،، په مسئله کښے ئے دومره مبالغه کوله .چه په کومه سیاهئ چه قرآن لیکلی شي.اوپه کوم کاغذ باندے چه هغه لیکلی شي.د قرآن کریم لیکلو نه پس به ئے هغه سیاهئ اوکاغد ته هم قدیم وئیل.حالانکه دامام احمد رحمه الله او دهغه په اصحابو کښے ذی علم اوفضل کښے څوك هم ددے قائل نه وو.اوښکاره ده.چه لفظ او آواز دواړه یو شان څنګه کیدے شي . لفظ بیل څیز دے.او آواز بیل څیز دے.دامام احمد رحمه الله نه هم دا منقول دی.چه دا قرآن نه دے.دانسان فعل اومخلوق دے.په حدیث کښے دی «زینوالقرآن بأصواتکم»[1] اوښکاره خبره ده.چه که یوکس دبل نه روایت کوی.نو «هذا لفظه» وائی.یا «هذا معناه» وائي.دا څوك نه وائی.چه «هذا صوته» د لفظ او صوت فرق ددے نه ښکاره کیږی.امام احمد رحمه الله د لفظ په باره کښےهغه انداز نه وو اختیار کړے.کوم چه د صورت په باره کښے هغوی اختیار کړے وو .ددے وجه هم هغه ده.چه څوك ،،لفظی مخلوق،، اووائی.یا ددے پشان بل لفظ اووائی.اود خلق قرآن تشهیر شروع نکړی.بهرحال دا ضمنی طور د مسئلے تحقیق وو.
په خپل وطن بخارا کښې ازمائش .بیا چه کله امام بخاری رحمه الله د نیشاپور نه بخارا ته راغلو. نود بخارا خلقو د دوی په راتلو باندے ددوی زبردست استقبال اوکړلو.امام بخاری رحمه الله دلته درس شروع کړلو.خلق به ډلے ډلے د حدیث اوریدو دپاره راتلل.

---

(۱) سنن نسائی (۱۵۷/۱) کتاب الإفتتاح باب تزیین القرآن بالصوت ... وسنن أبی داود کتاب الصلاة باب إستحباب الترتیل فی القراءة رقم. ۱٤٦۸ وسنن ابن ماجه کتاب إقامة الصلاة باب فی حسن الصوت بالقرآن رقم (۱۳٤۲)_

بل طرف ته خالدبن احمد ذهلی چه د بخارا حاکم وو.هغه امام بخاری رحمه الله ته درخواست اوکړلو چه ته شاهی دربارته راځه اوماته د بخاری شریف او تاریخ درس راکوه امام بخاری رحمه الله ورته اوفرمائیل ((أنا لا أذل العلم ولا أحمله إلى أبواب الناس)) او ورته ئے اوفرمائیل که تاته ضرورت وی نوبزما جمات یا کور ته حاضریږه او په درس کښے شرکت کوه.که ستا دا خبره خوښه نه وی نو ته حاکم ئے.ما د درس نه منع کړه.چه د قیامت په ورځ زه الله تعالیٰ ته خپل عذر پیش کولے شم.ځکه چه زه علم نشم پټولے.نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی.((من سئل عن علم فکتمه ألجم بلجام من نار))(۱)

په یو روایت کښے دی.چه د بخارا حاکم امام بخاری رحمه الله ته اووئیل.چه دلته راځه او زما ځامنو ته جامع صحیح بخاری او دتاریخ درس ورکوه.امام بخاری رحمه الله انکار اوکړلو هغه دوباره پیغام راولیږلو.چه زما ځامنو ته خصوصی درس ورکوه.چه بل څوك په کښے شریك نه وی.امام بخاری رحمه الله ددے نه هم انکار اوکړلو.په دے باندے هغه د څوکسانو نه مدد اوغوښتلو.دامام بخاری رحمه الله په مذهب تنقیدونه شروع شول.او دوی مبتدع اوګرځولے شو.بیا ورته حاکم د ښار نه د وتلو حکم اوکړلو.کله چه دوی بخارا پریخودلو.نو خیرے ئے اوکړلے.((اللهم أرهم ما قصدونی به ی أنفسهم وأولادهم وأهالیهم)) نویوه میاشت هم نه وه تیره شوے.چه خلیفة المسلمین په څه وجه د دغه حاکم نه خفه شو.اوهغه ئے معزول کړلو.او بیا ئے حکم اوکړلو.چه په خر دے سور کړے شی.او په ټول ښار کښے دے د ده تذلیل اوکړے شی.په آخر کښے هغه قید کړے شو.دغه شان نور په نوم عالمان چه هغوی امام بخاری رحمه الله تنګ کړے وو.هغوی ته هم د خپل عمل سزا ملاؤ شوه.او ښه رسوا شول.(۲) رښتیا دی.چه ((من عادی لی ولیاً فقد آذنته بالحرب))(۳)

بهرحال امام بخاری رحمه الله دهغه ځائے نه اووتل.اوبیکند ته اورسیدلو.هلته کښے هم د دوی په باره کښے په خلقو کښے اختلاف پیدا شو.یوفریق دده موافق او بل مخالف شو.ځکه ئے هلته کښے هم ډیره کیدل مناسب اونه ګڼړلو.په دغه دوران کښے د سمرقند خلقو دوی ته دعوت ورکړلو.دوی د هغوی دعوت قبول کړلو.د بیکند نه روان شو.په لاره کښے په ،،خرتنګ،، مقام کښے ایسار شو.دلته د دوی څه خپلوان وو.

---

(۱) سنن أبی داود کتاب العلم باب کراهیة منع العلم رقم (۳۶۵۸) جامع ترمذی کتاب العلم باب ما جاء فی کتمان العلم رقم ۲۶۴۹. وسنن ابن ماجه،مقدمة باب من سئل عن علم فکتمه رقم.۲۶۱و(۲٦٤) و۲۶۵. ومسند احمد (۲/۲۶۳. ۳۰۵. ۳٤٤. ۳۵۳. ٤۹۵)_

(۲) د دے پوره تفصیل دپاره اوګورئ هدی الساری (ص،٤۹۳) وسیرأعلام النبلاء (۱۲/٤۶۳. ٤۶۵) وتاریخ بغداد (۲/۳۳. ۳٤) وتهذیب الکمال (۲٤/٤٦٤. ٤۶۶) وطبقات السبکی (۲/۱٤) _

(۳) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب التواضع رقم ۶۵۰۲)_

غالب بن جبریل خوک چه ددوی میزبان وو د هغوی بیان دے چه ما د امام بخاری رحمه الله نه د شپے په وخت د تهجدو نه پس دا دعا واوریدله چه کوله ئے ((اللهم إنه قد ضاقت علی الأرض بما رحبت فاقبضنی إلیك)) ددے نه پس یوه میاشت هم نه وه تیره شوے چه دوی وفات شو د رمضان په آخره کښے داهل سمرقند په جمع دعوت باندے دوی سمرقند ته روان شو امام بخاری رحمه الله سورلئ طلب کړه د دوو کسانو په مدد ئے څو قدمونه واخستل وے فرمائیل ما کینوئ کمزوری مے ډیره زیاتیږی دوی څه دعا اوکړله اوهم هلته په خرتنګ کښے د وړکی اختر په شپه ۲۵۶ھ کښے وفات شود اختر په ورځ د ماسپخین نه پس هم هلته خاورو ته اوسپارلے شو.(۱)

یو زیرے عبدالواحد بن آدم طواویسی رحمه الله فرمائی ماپه خوب کښے اولیدلو چه په یو ځائے کښے نبی کریم ﷺ د صحابه کراموﷺ د یوجماعت سره ولاړ دے ما ورته سلام اوکړلو دوی د سلام جواب راکړلو ماعرض اوکړلو یارسول الله تاسو دلته څه ته ولاړ یئ هغوی اوفرمائیل مونږ د محمدبن اسماعیل رحمه الله انتظارکوو څو ورځے پس راته د امام بخاری رحمه الله د وفات خبر راورسیدلو چه پته اولیګیدله نودا هم هغه وخت وو په کوم وخت چه ما نبی کریم ﷺ په خوب کښے لیدلے وو.(۲)

دامام بخاری رحمه الله یو کرامت: کله چه امام بخاری رحمه الله دفن کړے شو نود قبر نه د مشکو خوشبوئی شروع شوه خلقو به تعجب کولو اود قبر خاوره به ئے اوړله د څوکیدار د وس نه هم خبره اووتله نود لرګی جالئ ورته اولګولے شوه ډیر مخالفینو چه دا کرامت اولیدلو نو توبه ئے اوویستله.

دا خوشبو څنګه وه ښکاره ده چه دا د سنتو دتابعدارئ اود شریعت د ژوندی کولو خوشبوئی وه رحمه الله رحمة واسعة وجزاه خیرالجزاء.

تصنیفات: امام بخاری رحمه الله د اتلس کاله په عمرکښے ((قضایا الصحابة والتابعین)) لیکلے وو .(۳) ددے نه پس ئے په مدینه منوره کښے په هغه شپوکښے چه سپوږمئ به په کښے روښانه وه ,,تاریخ کبیر،، اولیکلو.(۴) امام اسحاق بن راهویه رحمه الله دا کتاب د امیرعبدالله بن طاهر ته پیش کړلو چه آیا زه تاته جادو نه ښایم؟ چه امیر اوکتلو نود تعجب اظهار ئے اوکړلو اووے وئیل زه دا نه ګڼړم چه دا به د دوی تصنیف وی.(۵)

---

(۱) اوګورئ هدی الساری (ص،۴۹۳) وسیرأعلام النبلاء (۴۶۶/۱۲، ۴۶۷) وتاریخ بغداد(۳۴/۲) وطبقات السبکی (۱۵/۲، ۱۶) وتهذیب التهذیب (۴۶۶/۲۴) _

(۲) تهذیب التهذیب ۴۶۷/۲۴) وتاریخ بغداد (۳۴/۲) وسیرأعلام النبلاء (۴۶۸/۱۲) وهدی الساری (ص،۴۹۳) وطبقات السبکی (۱۴/۲) _

(۳) هدی الساری (ص،۴۷۸) وسیرأعلام النبلاء (۳۴/۱۲) وطبقات السبکی (۵/۲) وتاریخ بغداد(۷/۲)_

(۴) پورتنئ حواله _

(۵) هدی الساری (ص،۴۸۳) وتاریخ بغداد (۷/۲) وسیرأعلام النبلاء (۴۰۳/۱۲) وطبقات السبکی (۷/۲)_

دامام بخاری تصنیفات لاندینی دی ① صحیح بخاری ② قضایا الصحابة والتابعین ③ الأدب المفرد ④ جزء رفع الیدین ⑤ جزء قراءة خلف الإمام ⑥ تاریخ کبیر ⑦ تاریخ اوسط ⑧ تاریخ صغیر ⑨ خلق أفعال العباد ⑩ کتاب الضعفاء ⑪ برالوالدین.

د دے کتابونو نه علاوه څه تصانیف نور هم دی.د کومو ذکرچه مختلفو محدثینو کړے دے.
⑫ جامع کبیر.دا محدث ابن طاهر رحمه الله ذکر کړے دے. ⑬ مسند کبیر ⑭ تفسیر کبیر ⑮ دا فربری رحمه الله ذکر کړے دے. ⑯ کتاب الاشربة. ددے ذکر امام دارقطنی رحمه الله کړے دے ⑰ کتاب الهبة. ددے ذکر وراق بخاری ابن ابی حاتم رحمه الله کړے دے. ⑱ اسامی الصحابة. ددے ذکر محدث ابوالقاسم بن منده رحمه الله کړے دے. ⑲ کتاب الوحدان ⑳ کتاب المبسوط.. ددے ذکر امام خلیلی رحمه الله في ..الارشاد.. کښے کړے دے. ㉑ کتاب العلل ددے ذکر هم ابن منده رحمه الله کړےدے. ㉒ کتاب الکنی.ددے ذکر حاکم ابواحمد رحمه الله کړے دے . ㉓ کتاب الفوائد ددے ذکر امام ترمذی رحمه الله د خپل جامع د کتاب المناقب په ضمن کښے کړے دے.(۱)

صحیح بخاری په دے ټولو تصنیفاتو کښے د ټولو نه زیات مشهور ..صحیح بخاری.. دے.امام نووی رحمه الله د دے نوم «الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رسول الله صلی الله علیه وسلم وسننه وأیامه» لیکلے دے.(۲) او حافظ ابن حجر رحمه الله ددے نوم «الجامع الصحیح المسند من حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم وسننه وأیامه» کیخودے دے.(۳)

() ..جامع.. ورته د اته څیزونو د وجے وئیلی شي.(یعنی په دے کښے د اته قسمه مضامینو احادیث دی.د جامع تعریف وړاندے تیر شوے دے.)

() ..مسند.. ورته څکه وائي.چه په سند متصل سره مرفوع روایات نقل کوی.اوکوم آثار وغیره چه ذکر دی.هغه ضمناً او تبعاً دی.

() ..صحیح.. څکه دے.چه په د ے کښے د صحت التزام شوے دے.

() ..مختصر.. څکه دے.چه د ټولوصحیح احادیثو احاطه په دے کښے نه ده شوے.پخپله دامام بخاری رحمه الله قول دے.«ما أدخلت فی هذا الکتاب إلا ما صح وترکت من الصحاح کی لا یطول الکتاب»(۴)

() ..من امورالرسول ﷺ.. یا ..من حدیث رسول الله ﷺ.. څکه چه دنبی ﷺ اقوال په کښے مروی دی.

---

(۱) اوګورئ هدی الساری (٤٩١، ٤٩٢) _
(۲) اوګورئ تهذیب الأسماء واللغات (۷۳/۱) ومقدمة لامع الدراری (۸۳)_
(۳) اوګورئ هدی الساری (ص۸۰) الفصل الثانی فی بیان موضوعه والکشف عن مغزاه فیه)_
(۴) سیرأعلام النبلاء (٤۰۲/۱۲) وتاریخ بغداد (۹/۲) وتهذیب الأسماء واللغات (۷٤/۱) وطبقات السبکی (۲ ۷) وهدی الساری (ص۷۰)

...سنن.. کښې افعال اوتقریراتو ته اشاره ده
...ایام.. نه غزوات او هغه تول واقعاتو طرف ته اشاره ده.کوم چه د نبی ﷺ په زمانه کښې پیښ شوی وو
امام بخاری رحمه الله ډیر روایات داسې ذکر کړی دی.چه په هغې کښې د نبی ﷺ قول یا فعل یا تقریر نه دے ذکر.په داسې مقاماتو کښې خلقو ته اشکال پیښیږی که د کتاب پوره نوم د نظرلاندے وی نواشکال په کښې نشته.

دصحیح بخاری دتالیف سبب ددے کتاب د تالیف دوه اسباب بیانولی شی

① ابراهیم بن معقل نسفی رحمه الله فرمائی.چه دامام بخاری رحمه الله بیان دے.مونږ دخپل استاذ اسحاق بن راهویه رحمه الله په مجلس کښې وو.چه زمونږ په ملګرو کښې یو کس اوونیل «**لوجمعتم کتاباً مختصراً لسنن النبی ﷺ**» د فتح الباری د مقدمه الفاظ دی.«**لوجمعتم کتاباً مختصراً لصحیح سنة رسول الله ﷺ**» ددے قول د وجې زما په زړه کښې ددے کتاب د تالیف داعیه پیدا شوه.(۱)

② محمدبن سلیمان بن فارسی رحمه الله لیکی.چه ما د امام بخاری رحمه الله نه اوریدلی دی.چه دوی فرمائیل.ما رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدلو.چه زه دوی ته مخامخ ولاړ یم.او زما په لاس کښې ببوزے دے.په هغې باندے زه د نبی ﷺ نه مچان شړم . د معبرینو نه ما د تعبیر تپوس اوکړلو.نو هغوی راته اوفرمائیل.«**أنت تذب عنه الکذب**» ددے خوب د تعبیر نه زما په زړه کښې د صحیح احادیثو راجمع کولو شوق پیدا شو.(۲)

په دے دواړو اسبابو کښې څه منافات نشته.دواړه کیدے شی.چه هم خوب محرك جوړ شوے وی.اودامام اسحاق بن راهویه رحمه الله دمجلس واقعې سره داعیه پیدا شوے وی.

د تالیف ابتداء اوانتهاء: د صحیح بخاری دتالیف شروع کله شوے وه.اوپوره شوے کله وو؟د رجال اوتاریخ په کتابونو کښې ددے څه صراحت نشته.البته حضرت شیخ الحدیث رحمه الله د بعضې واقعاتو نه معلومه کړے ده.اوفرمائیلی ئے دی.چه په ۲۱۷ھ کښې ددے شروع شوے وه. اوپه ۲۳۳ھ کښې سرته رسیدلے وو.ددے تفصیل دا دے.چه ابوجعفر محمود بن عمرو عقیلی رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله کله د خپل کتاب په تالیف شروع اوکړه.نوامام احمد بن حنبل رحمه الله یحی بن معین رحمه الله اوعلی بن مدینی رحمه الله ته ئے دا پیش کړلو.تولو ئے تعریف اوکړلو. اوصرف په څلوراحادیثو کښې ئے ورسره اختلاف اوکړلو.امام عقیلی فرمائی.په دے څلورو کښې هم دامام بخاری رحمه الله رائے راجح ده.(۳)

---

(۱) اوګورئ تاریخ بغداد (۸/۲) وتهذیب الکمال (۴۴۳/۲۴) وسیرأعلام النبلاء (۴۰۱/۱۲) وطبقات السبکی (۷/۲) وهدی ا لساری (ص۷) وتهذیب الأسماء واللغات (۷۴/۱)_

(۲) تهذیب الأسماء واللغات (۷۴/۱) وهدی الساری (ص۷) _

(۳) اوګورئ هدی الساری (ص۷)_

په دوی کښې دیحی بن معین رحمه الله وفات په ۲۳۳ھ کښې شوے دے.(۱) دعلی بن مدینی رحمه الله وفات په ۲۳۴ھ کښې شوے دے.(۲) اودامام احمد بن حنبل رحمه الله وفات په ۲۴۱ھ کښې شوے دے.(۳) دے درے واړه امامانو ته دا کتاب هله پیش کیدے شی.چه په ۲۳۳ھ کښې شوے وی.اودا معلومه ده.چه کتاب په شپاړس کاله کښې پوره شوے دے.(۴) نو د ۲۳۳ھ نه ۱۶کاله اوباسه.نو ۲۱۷باقی پاتے کیږی.(۲۳۳-۱۶= ۲۱۷) نودا به ونیلے شی.چه په ۲۱۷ھ کښې ددے په تالیف باندے شروع شوے وه.اوپه هغه وخت کښې د امام بخاری رحمه الله عمر دریویشت کاله وو او په ۲۳۳ھ کښې ئے دا تکمیل ته رسولے وو.اوپه دغه وخت کښې دامام بخاری رحمه الله عمر دوه کم څلویښت کاله وو.

بیا امام بخاری رحمه الله ددے نه پس دریویشت کاله ژوندے پاتے شوے دے.نو د مصنفینو رحمهم الله د عادت مطابق په خپل کتاب کښې ئے کمے زیاتے کولو.ددے وجے د کتاب په نسخو کښې اختلاف موندلے شی.دحماد بن شاکرپه نسخه کښې د فربری رحمه الله د نسخے په مقابله کښې دوه سوه احادیث کم دی.اود ابراهیم بن معقل په نسخه کښې خو درے سوه احادیث کم دی.(۵)

دصحیح بخاری یو امتیاز: ابن عدی رحمه الله فرمائی.چه د عبدالقدوس بن همام رحمه الله بیان دے.چه ما د ډیرو مشائخو نه اوریدلی دی.چه امام بخاری رحمه الله د صحیح بخاری د ابوابو تراجم په ریاض الجنة کښې د منبر مبارك اوورضه مطهره په مینځ کښې لیکلی دی.او د هرے ترجمے دپاره به ئے دوه رکعته نفل کول.(۶)

عمربن محمد بن بجیر البجیری رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله فرمائیل.ما دا کتاب په مسجدحرام کښې لیکلے دے.دهرحدیث د لیکلو نه وړاندے مے استخاره کړے ده.اودوه رکعته نفل مے کړی دی.اوترڅوچه به راته د هغے دصحت یقین نه وو شوے.نو په کتاب کښې به مے نه لیکل.(۷)

په دے دواړو خبروکښې څه تضاد نشته.ممکنه ده.چه مسوده ئے په مسجد حرام کښې لیکلی وی.اوتبییض ئے په ریاض الجنة کښې کړے وی.دا هم کیدے شی.چه تراجم ئے په ریاض الجنة کښې لیکلی وی.اود احادیثولیکلو شروع ئے په مسجد حرام کښې کړی وی.څکه چه وړاندے تیر شوی دی.چه دا کتاب په شپاړس کاله کښې مکمل شوے دے.اودا موده په یوځائے کښې نه

(۱) تقریب التهذیب (ص.۵۹۷) ترجمه (۷۶۵۱)_
(۲) تقریب (ص.۴۰۳) ترجمه (۴۷۶۰)_
(۳) تقریب (ص.۸۸٤) ترجمه (۹۶)_
(۴) اوګورئ تاریخ بغداد (٤/۲ وسیرأعلام النبلاء (۱۲/٤۰۵) وتهذیب الأسماء واللغات (۲/۷٤) وطبقات السبکی (۲/۷) وهدی الساری (ص.٤۸۹)_
(۵) اوګورئ مقدمة لامع الدراری (۱۲٤ الفائدة السادسة_
(۶) تهذیب الأسماء واللغات (۱/۷٤) وسیرأعلام النبلاء (۱۲/٤۰٤) وهدی الساری (٤۸۹)_
(۷) هدی الساری (ص.٤۸۹)_

وی تیره شوے. ( )

د بخاری د روایاتو تعداد حافظ ابن الصلاح رحمه الله په ..مقدمه.. کښے لیکلی دی.«**جملة ما فی کتابه الصحیح سبعة آلاف ومائتان وخمسة وسبعون حدیثاً بالأحادیث المکررة،وقد قیل إنها بإسقاط المکررة أربعة آلاف حدیث**» یعنی چه مکررات په کښے شمار کړی.نو د صحیح بخاری د احادیثوتعداد اووه زره دوه سوه پنځه اویا دی.اود مکرراتو د حذف نه پس څلور زره احادیث جوړیږی.امام نووی رحمه الله په ..تقریب.. کښے او حافظ ابن کثیر په ،،**إختصارعلوم الحدیث**،، کښے ددے اتباع کړے ده. ([2])

امام نووی رحمه الله په خپله شرح د بخاری کښے ([3]) او **تهذیب الأسماء واللغات** کښے ([4]) هم دا تعداد ذکر کړے دے.خو په دے دواړوکتابونو کښے ئے د ..مسندة.. قید لګولے دے.په دے سره هغه ټول روایات خارج شول.کوم چه د تعلیقاتو اومتابعاتو په صورت کښے دی.بیا هغوی په خپله شرح د بخاری کښے د حافظ ابوالفضل محمد بن طاهر رحمه الله د کتاب ..جواب المتعنت.. نه په تفصیل سره هغه ټول روایات ذکر کړی دی.حافظ ابن حجر رحمه الله دا ټول تفصیلات په مقدمه کښے نقل کړی دی.او ځائے په ځائے ئے په هغے باندے تنقید کړے دے.اوبه آخر کښے ئے فرمائیلی دی.زما د تحقیق مطابق په بخاری کښے د مکرراتو سره اووه زره درے سوه اووه نوی احادیث دی.([5]) هم دا شماره قابل اعتماد دے.دتفصیل پیژندلو نه وړاندے په دے باندے پوهه شئ.چه په صحیح بخاری کښے څه روایات مرفوعه موصوله دی.څه معلقات دی.اوڅه متابعات دی.بیا د معلقاتو دوه قسمونه دی.یوهغه دی.چه د هغے تخریج مؤلف په خپله په خپل کتاب کښے په بل ځائے کښے کړے دے.اودویم قسم هغه معلقات دی.چه د هغے تخریج هغوی په خپله نه دے کړے.اوس په دے کښے د یو تفصیل دا دے.

روایات مرفوعه موصوله مع مکررات (۷۳۹۷)

روایات معلقه مخرجة المتون في الصحیح (۱۳۴۱) متابعات ([6])

---

(۱) اوګورئ هدی الساری (ص،۴۸۹) .. قال النووی رحمه الله قال الآخرون منهم أبوالفضل محمدبن طاهر المقدسی ـ صنفه ببخاری وقیل:بمکة وقیل بالبصرة وکل هذا صحیح،ومعناه أنه کان یضیف فیه فی کل بلدة من هذه البلدان فإنه بقی فی تصنیفه ست عشرة سنة ... تهذیب الأسماء واللغات (۱/ ۷۴)_

(۲) اوګورئ تقریب الراوی مع تدریب الراوی (۱/ ۱۰۲) او ..اختصار علوم الحدیث.. مع شرح الباعث الحثیث..

(۳) اوګورئ مقدمة لامع الدراری (ص، ۱۲۴، ۱۲۵) _

(۴) (۱/ ۷۵)_

(۵) اوګورئ هدی الساری (ص،۴۶۵، ۴۶۹) الفصل العاشر فی عدأحادیث الجامع)_

(۶) مقدمة فتح الباری (ص،۴۶۹) کښے د متابعاتو تعداد درے سوه یوځلویښت ذکر دے.دا د کاتب سهوه ده.صحیح تعداد درے سوه څلورځلویښت دے.کوم چه قسطلانی رحمه الله دحافظ رحمه الله نه نقل کړے دے.که درے سوه یوځلویښت وو.نومجموعه به ئے نهه زره دوه ځلویښت نه جوړیدله دکوم چه حافظ رحمه الله تصریح کړے ده.فتنبه _

مجموعه _ (۹۰۸۲)
روایات مرفوعه موصوله بغیر دتکرار نه (۲۶۰۴)
روایات معلقه غیر مخرجة المتنون في الصحیح (۱۵۹)
میزان د ټولو حادیثو بغیر د تکرار نه (۲۷۶۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه پورتنۍ شمار د آثارصحابه رضی الله عنهم اوتابعین رحمهم الله د مقطوعانو نه علاوه دے.چه دهغې شمار په پوره کتاب کښې یو زر شپږ سوه اته دے.(۱)
دلته دے دا خبره ښکاره وی.چه حافظ ابن حجر رحمه الله د فتح الباری په مختلفو ځایونو کښې اوبیا په مقدمه د فتح الباری کښې د صحیح بخاری د احادیثو شمار بیان کړے دے.خو په دے مختلفو مقاماتوکښې مختلف تعداد موجود دے.(۲) په بعضې مقاماتو کښې د حافظ رحمه الله نه سهوه شوے ده.او په بعضې مقاماتوکښې اختلاف د ناسخ په سهو محمول دے.کوم تعداد چه پورته اوخودلے شو.هغه محقق اومحرر دے.علامه قسطلانی رحمه الله هم دا غوره کړے دے.(۳)
والله سبحانه وتعالى أعلم

دکتاب موضوع حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دصحیح بخاری اصل موضوع خو د صحیح احادیثو جمع کول دی.دا موضوع ددے د نوم نه ښکاره ده.«الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه» دے سره سره دا خبره هم دے سره د نظروړاندے ده.چه د فقهی استنباطاتو اوفوائدو هم په دے کښې ذکر دے.امام بخاری رحمه الله چه د احادیثو نه کوم فقهی استنباطات کړی دی.هغه ئے په متفرقو بابونو کښې ذکر کړی دی.(۴)
امام نووی رحمه الله فرمائی.چه د امام بخاری رحمه الله مقصود صرف د صحیح احادیثو جمع کول نه وو.بلکه په مختلفوفقهی بابونوکښې دهغې نه مسائل مستنبط کول هم وو.هم دا وجه ده.چه دوی په ډیرو بابونوکښې حدیث په سند سره نه دے ذکر کړے.بلکه صرف په دومره خبره ئے اکتفاء کړے ده.«فيه فلان عن النبى صلى الله عليه وسلم»اوکله متن بغیر د سندنه ذکر کوی.اوکله متن تعلیقاً ذکر کوی.دا ټول اسالیب په دے باندے دلالت کوی.چه د دوی مقصود احکام او مسائل په څه باندےچه ئے تراجم قائم کړی دی.په هغې باندے احتجاج او استدلال کول دی.نوکله یو معلوم حدیث طرف ته اشاره اوکړی.اوکله داسے کیږی.چه هغه حدیث نزدے یا په بل ځائے کښے ذکر شوے وی.(۵)

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱۲/۵٤۳) خاتمه _
(۲) اوګورئ فتح الباری (۱/۸٤) کتاب الإیمان باب کفران العشیر،و(۱۳/۵٤۲، ۵٤۳ خاتمه .. وهدی الساری (ص،٤٦۵، ٤٦۹) الفصل العاشر فی عد أحادیث الجامع ... و(ص،٤۷۷) ذکر من لا یعرف أسمه واختلف فیه)_
(۳) اوګورئ مقدمة إرشاد القاری (۲۸) دغه شان اوګورئ ارشاد القاری ازحضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله (۳۵، ۳٦)_
(۴) هدی الساری (ص،۸) الفصل الثانی فی بیان موضوعه الکشف عن مغزاه فیه _
(۵) پورتنئ حواله_

علامه کوثری رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصود داحادیثو صحیحو تخریج .او فقه ،اوسیرت. اودتفسیر استنباط دے نوهغوی څکه ضمناً موقوف اومعلق احادیث دغه شان د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله فتاوے او رائیگانے هم ذکر کړی دی.او ددے غرض د حاصلولودپاره ئے متون حصے حصے کړی دی.اوهغه ئے په مختلفو بابونو کښے ذکر کړی دی.(۱)

حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی.چه عالمانو د ټولو نه وړاندے چه دا علم مدون کړلو.نو په څلورو فنونوباندے ئے تقسیم کړل.

o فن السنة: یعنی فقه لکه موطا امام مالك او ..جامع سفیان رحمه الله ..

o فن تفسیر: لکه کتاب ابن جریج رحمه الله

o فن سیر: لکه د محمد بن اسحاق کتاب .

o فن زهد ورقائق: لکه دامام ابن المبارك رحمه الله کتاب.

دامام بخاری رحمه الله اراده دا پیدا شوه.چه دا څلور واړه فنون یو ځائے کړی . او صرف هغه احادیث راجمع کړی.په کومو باندے چه د امام بخاری رحمه الله نه وړاندے یا په دغه زمانه کښے چا دصحت حکم لګولے وی.بله دا چه دا کتاب د مرفوع اومسند احادیثو دپاره خاص کړی.نوځکه هغوی دخپل کتاب نوم ..الجامع الصحیح المسند.. کیخودلو.ترکومے پورے چه دآثارو وغیره تعلق دے.نوهغه تبعاً ذکر شوی دی.اصالةً نه دی.

بیا دامام بخاری رحمه الله مقصود دا هم وو.چه داحادیثو نه بنه استنباط اوشی.نوهغوی هم داسے اوکړلو.د یو یو حدیث نه ډیرمسائل مستنبط کوی.دا طریقه ددوی نه وړاندے چانه وه اختیار کړے.(۲)

دصحیح بخاری شروط د شروطو مطلب دا دے.چه مصنفین دکتاب دتالیف په وخت کښے بعضے خبرے د نظرلاندے ساتی.اوهم د هغے مطابق مضامین راوړی.دهغے نه نه اوړی.چه څه ذکر کړی . شپږو امامانو رحمهم الله هم په خپلو کتابونوکښے د څه شروطو خیال ساتلے دے.خو ددے حضراتو نه دا تصریح منقول نه ده.چه ما فلانے شرط دنظرلاندے ساتلے دے.روستنو عالمانود هغوی د کتابونو مطالعه کړے ده.اوهغه شرطونه ئے معلوم کړی دی.(۳)

امام حاکم رحمه الله فرمائی.د صحیح متفق علیه اولنے قسم هغه دے.کوم چه امام بخاری او مسلم رحمهما الله نقل کړے وی.اودا د اولے درجے صحیح دے.یعنی هغه حدیث چه داسے صحابی رضی الله عنه ئے روایت اوکړی.کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په روایت کولو کښے مشهور وی.د دغه صحابی

---

(۱) اوګورئ تعلیقات الکوثری رحمه الله علی شروط الأئمة الخمسة للحازمی (ص.۸۲) المطبوع مع سنن ابن ماجه)_

(۲) اوګورئ ابتداء رساله شرح تراجم ابواب صحیح البخاری مطبوعه مع صحیح بخاری (ص.۱۳)_

(۳) حافظ ابوالفضل محمدبن طاهرمقدسی رحمه الله لیکی.((إعلم أن البخاری ومسلماً ومن ذکرنا بعدهم لم ینقل عن واحد منهم أنه قال شرطت أن أخرج فی کتابی مایکون علی شرط الفلانی وإنما یعرف لک من سیرکتبهم فیعلم بذلک شرط کل رجل منهم)) اوګورئ ابتداء شروط الأئمة الستة (ص.۷۰) مطبوعه قدیمی کتب خانه کراچی مع سنن ابن ماجه _

رضی الله عنه نه ددغه حدیث نقل کولو دوه راویان ثقه وی.بیا دا حدیث هغه تابعی رحمه الله بیان کړی.چه هغه د صحابو رضی الله عنهم نه په روایت کولو کښې مشهور وی.او دهغې هم دوه ثقه راویان وی.بیا په تبع تابعینو کښې حافظ متقن مشهور کس دهغې روایت اوکړی.اوپه څلورمه طبقه کښې د دې حدیث د دوو نه زیات راویان وی.بیا دبخاری یا مسلم رحمهما الله شیخ حافظ اومتقن وی.او په خپل روایت کښې د عدالت شهرت لری.(۱)

په دې لحاظ سره د امام حاکم رحمه الله په نیز د صحیح دپاره د دریو خبرو وجود ضروری دې.کوم چه دهغوی په قول کښې د شیخینو رحمهما الله په شرط کښې دی.

① دصحابی رضی الله عنه اوتابعی نه د هغه حدیث دوه ثقه راویان وی.او په څلورمه طبقه کښې ددې د وو نه زیات راویان وی.لکه چه په هره طبقه کښې د دوو راویانو وجود ضروری دې.

② دامام بخاری رحمه الله او مسلم رحمه الله دشیخ نه واخله ترصحابی رضی الله عنه پورې هر راوی ثقه او په روایت کښې مشهور وی.

③ شیوخ شیخین رحمهما الله او په تبع تابعینو رحمهم الله کښې چه څوك هم دا حدیث روایت کوی.هغه د ثقاهت اوشهرت سره سره حافظ اومتقن هم وی.

حاکم رحمه الله چه اولنې شرط کوم بیان کړلو.چه په هره طبقه کښې د دوو راویانو وجود ضروری دې.داسې حدیث ته په اصطلاح کښې ..عزیز.. وائی.(۲)داسې احادیث ډیر کم دی.خکه حافظ ابوعلی غسانی رحمه الله د حاکم رحمه الله په کلام کښې د تاویل کوشش کړې دې.دوی فرمائی. «وإنما المراد أن هذا الصحابي رضی الله عنه وهذا التابعي رحمه الله قد روی عنه رجلان خرج بهما عن حد الجهالة» (۳) یعنی په هره طبقه کښې د دوو راویانو دوجود مطلب دا نه دې.چه هم دغه حدیث د صحابی رضی الله عنه یا تابعی رحمه الله نه روایت کوی.هغوی دوه کسان وی.بلکه مطلب دا دې.چه ددغه صحابی رضی الله عنه یا تابعی رحمه الله نه روایت کونکی مطلقاً دوه کسان وی.خکه که د یوراوی نه دوه کسان روایت اوکړی. نوهغه د ..جهالت.. نه اوځی.

خو دحاکم رحمه الله د کلام دا مطلب اخستل دهغوی د خپلو تصریحاتونه خلاف دې . خکه علامه ابوعبدالله المواق فرمائی.«ماحمل الغسانی علیه کلام الحاکم وتبعه علیه عیاض وغیره لیس بالبین» دغه شان فرمائی.زه نه پیژنم چه یوکس هم د شیخینو رحمهما الله نه روایت کړې وی.چه هغوی ددې تصریح کړې ده.اونه د دې په صحیحینوکښې څه درك لګی.اونه د صحیحینو نه علاوه د بل خائې نه که ددې قائل په صحیحنو کښې د شیخینو رحمهما الله طرز ته کتلې وی.اودا ئې ګنړلی وی.نوهغه غلطی کړې ده خکه چه په صحیحینوکښې خو دواړه

---

(۱) اوګورئ معرفة علوم الحدیث للحاکم (۶۲) ذکرالنوع التاسع عشر من علوم الحدیث وهو معرفة الصحیح والسقیم والمدخل فی أصول الحدیث (ص.۹۰)_

(۲) اوګورئ مقدمة ابن الصلاح (ص.۱۳۶) النوع الحادی والثلاثون معرفة الغریب والعزیز من الحدیث)_

(۳) تدریب الراوی (۱/۱۲۶)_

قسمه احادیث موجود دی اوکه ده په صحیحینو کښې داسې احادیث زیات لیدلی وی.اوخیال ئے کړے وی.نودا د دے خبرے دلیل نشی کیدے چه د شیخینو رحمهما الله په نیز دا مشروط دے.دا د انصاف نه بیخی لرے خبره ده.چه د دهغوی نه د ثبوت نه بغیر دا شرط په هغوی باندے لازمولے شی.حالانکه هغوی صحیحین ددے شرط نه خالی ساتلی دی.خکه که د هغوی نه ددے شرطیت ثابت شی.نوددے په پریخودو باندے به په هغوی باندے اعتراض راتلے شی.

حافظ ابن حجر رحمه الله د علامه ابن المواق ددے بیان متعلق بیان کوی.((وهذا کلام مقبول وبحث قوی))(۱)

دحاکم رحمه الله دا بیان عالمانو رد کړے دے. حافظ ابوالفضل محمد بن طاهر مقدسی رحمه الله فرمائی. ((إن البخاری ومسلماً لم یشترطا هذا الشرط ولا نقل عن واحد منهما أنه قال ذلك والحاکم قدر هذا التقدیر وشرط لهما هذا الشرط علی ما ظن ولعمری إنه شرط حسن لوکان موجوداً فی کتابیهما إلا أنا وجدنا هذه القاعدة التی أسسها الحاکم منتقضة فی الکتابین جمیعاً))(۲)

ددے نه پس هغوی د صحیحینو نه اووه مثالونه پیش کړی دی.چه دهغے نه د امام حاکم رحمه الله د خبرے تردید کیږی.بیا فرمائی.

((هذا ما اقتصرنا منها علی هذا القدر لتعلم أن القاعدة التی أسسها منتقضة لا أصل لها ولو اشتغلنا بنقض هذا الفصل فی التابعین وأتباعهم ولمن روی عنهم إلی عصر الشیخین لأربی علی کتابه ،،المدخل،، إلا أن الإشتغال بنقض کلام الحاکم لایفید فائدة وله فی سائر کتبه مثل هذا الکثیر عفاالله عنا وعنه))(۳)

علامه حازمی رحمه الله هم ددے پرزور تردید کوی.اوهغوی یو مستقل باب ((باب فی إبطال قول من زعم أن شرط البخاری إخراج الحدیث عن عدلین وهلم جراً إلی أن یتصل الخبر بالنبی ﷺ))قائم کړے دے (۴) دا خودامام حاکم رحمه الله خیال وو.ابوحفص میانجی رحمه الله ددے نه لویه دعوه کړے ده.هغوی لیکی.((شرط الشیخین فی صحیحیهما أن لا یدخلا فیه إلا ما صح عندهما وذلك ما رواه عن النبی ﷺ اثنان فصاعداً وما نقله عن کل واحد من الصحابة أربعة من التابعین فأکثر،وأن یکون عن کل واحد من التابعین أکثر من أربعة))(۵) یعنی د شیخینو رحمهما الله په نیز د حدیث دصحت دپاره دا شرط دے.چه دا د

(۱) شروط الأئمة الستة(۷۱)_

(۲) شروط الأئمة (ص.۷۱)_

(۳) پورتنۍ حواله_

(۴) اوګورئ شروط الأئمة الخمسة (ص.۷۳. ۷۵. ۷۷)_

(۵)تدریب الراوی (۱/۷۱)_

رسول الله ﷺ نه دوه يا د دوو نه زيات صحابه كرام رضي الله عنهم روايت كړى وى او د هر صحابي رضي الله عنه نه څلور يا د څلورو نه زيات تابعين رحمهم الله روايت اوكړى او د هر تابعي رحمه الله نه د څلورو نه زيات تبع تابعين رحمهم الله روايت اوكړى
حاكم رحمه الله خو په هره طبقه كښے د دوو راويانو وجود ضروري كړے وو او ابوحفص ميانجي رحمه الله په كښے په ددو باندےهم زيادت اوكړلو بيا دحاكم رحمه الله په نيز د يو صحابي شهرت كفي وو او ددوى په نيز دحديث دصحت دپاره دوه صحابيان ضروري اوګرخولي شو دحاكم رحمه الله د بيان د ترديد نه پس د دے د ترديد څه ضرورت پاتے نشو صرف د حافظ رحمه الله يو قول دلته نقل كولے شي كوم چه هغوى د ابوحفص ميانجي ددے بيان په باره كښے كړے دے فرمائي

«وهو كلام من لم يمارس الصحيحين أدنى ممارسة فلو قال قائل: ليس في الكتابين حديث واحد بهذه الصفة لما أبعد» (۱) يعني دا داسےكس خبره ده چه دهغه د صحيحينو سره معمولي تعلق هم نشته كه څوك دا اووائي چه په صحيحينو كښے په دے صفت باندے يو حديث هم نشته نودا خبره هم څه لرے نه ده.
باقي پاتے شو دحاكم رحمه الله دويم شرط چه دامام بخاري رحمه الله اومسلم رحمه الله د شيخ نه واخله ترصحابي رضي الله عنه پورے هرراوي ثقه وى او په حديث كښے مشهور وى نواګرچه په دے دعوى كښے ابن جوزي رحمه الله هم د دوى سره ولاړ دے (۲) دغه شان حافظ مقدسي رحمه الله هم ليكلي دى «إن شرط البخاري ومسلم أن يخرجا الحديث المتفق على ثقة نقلته إلى الصحابي المشهور من غير اختلاف بين الثقات والأثبات» (۳) يعني د امام بخاري رحمه الله اومسلم رحمه الله شرط دا دے چه دهغه حديث تخريج به كوى چه د شروع نه واخله ترصحابي رضي الله عنه پورے دهغے د ناقلينو ثقاهت متفق عليه وى او د ثقاهت په اثبات كښے د هغوى په مينځ كښے اختلاف نه وى...
خوحقيقت دا دے چه دا شرط هم صحيح نه دے حافظ عراقي رحمه الله فرمائي.
«وليس ما قاله بجيد، لأن النسائي ضعف جماعة أخرج لهم الشيخان أو أحدهما» (۴)
دغه شان حافظ محمد بن ابراهيم وزيريماني رحمه الله ليكي.
«ما هذا مما اختص به النسائي بل شاركه في ذلك غير واحد من أئمة الجرح والتعديل كما هو معروف في كتب هذا الشأن» (۵) يعني دا صرف دامام نسائي رحمه الله پورے خاص نه دے بلكه د جرح والتعديل ډير

---

(۱) تدريب الراوي (۱ / ۷۱)_
(۲) اوګورئ ..تبصرة برمدخل في أصول الحديث.. از مولانا عبدالرشيد نعماني مدظلهم (ص.۶۹)_
(۳) اوګورئ فاتحة شروط الأئمة (ص.۷۰)_
(۴) فتح المغيث شرح ألفية الحديث للعراقي (ص.۲۱، ۲۲) مراتب الصحيح)_
(۵) اوګورئ تبصره. المدخل في أصول الحديث (ص.۷۰)_

مومن دهغه سره په دے کښے شریك دی لکه څنګه چه په کتابونو د رجالو کښے دا خبره وضحه ده

دغه شان محدث امیر یمانی رحمه الله فرمائی «لا یخفی أنه لیس کل من جرح من رجال الصحیحین جرحه مطلق، بل فیه جملة جرحوا جرحاً مبین السبب» (۱) یعنی دا خبره نه ده چه د صحیحینو په رجالو کښے چه په چا باندے جرح اوشوه هغه جرح مطلق ده بلکه دے راویانو کښے یوه ډله داسے ده چه په هغوی باندے جرح مفسره ده او د جرح داسبابو وضاحت په کښے موجود دے.
خلاصه دا شوه چه د حاکم رحمه الله دا دویم شرط هم ټیك نه معلومیږی چه دټولو راویانو ثقاهت او شهرت ضروری دے ځکه چه په صحیحینو کښے ډیرداسے راویان هم موجود دی چه په هغوی باندے جرح شوے دے اودهغوی په باره کښے کلام شوے دے اوپه هغوی باندے جرح مفسره یعنی د جرح سبب هم خودلے شوے دے اصل خبره هم هغه ده کومه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلے ده چه «إن ما قاله ابن طاهر هوالأصل الذی بنیاعلیه وقدیخرجان عنه لمرجح یقوم مقامه» (۲) بیشکه دابن طاهر رحمه الله چه کوم بیان دے شیخینو رحمهما الله هم په دغه اصولو باندے بنیاد ایخودے دے خوکله دا اصول ددے وجے پریږدی چه د ترجیح څه وجه د دغه اصولو قائم مقام وی.
باقی پاتے شو دریم شرط چه په هغے کښے حاکم د صحت دحدیث دپاره د شیخینو د شیوخو اوتبع تابعینو رحمهم الله وغیره دپاره د اتقان شرط لګولے دے نودا شرط هم ټیك نه دے ځکه چه وړاندے تاسو ته معلومه شوه چه د شیخینو رحمهما الله د هرراوی دپاره ثقاهت لازمی شرط نه دے نوبیا د شیخینو د شیوخو اوتبع تابعینو دپاره د حفظ اواتقان شرط څنګه ټیك کیدے شی حافظ علائی رحمه الله لیکی «هو متفق علی قبوله والإحتجاج به إذا وجدت فیه شرائط القبول، ولیس من المختلف فیه البتة، ولا یبلغ الحفاظ العارفون نصف رواة الصحیحین ولیس کونه حافظاً شرطاً، وإلا لم احتج بغالب الرواة» (۳)
یعنی د داسے حدیث په مقبولیت باندے اتفاق دے اوپه هغے باندے استدلال هم کولے شی که په هغے کښے د قبولیت شرطونه موجود وی اودا د مختلف فیه قسم ځنے نه وی بیا د حافظانو عارفانو تعداد خو د صحیحینو په راویانو کښے نیم هم نه دے نوبیا د حفظ شرط څنګه لګولے شی؟ چونکه حافظ کیدل دصحت دپاره شرط نه دے ګنی په اکثرو راویانو به احتجاج ممکن پاتے نشی.
بیا حافظ ابن حجر رحمه الله د بخاری په راویانو کښے د ډیرو داسے راویانو خودنه کړے ده. چه

---

(۱) پورتنئ حواله_
(۲) تدریب الراوی (۱/۱۲۵)_
(۳) تدریب الراوی (۱/۱۴۲)_

هغوی دحفظ اواتقان مرتبے ته نه وو رسیدلی.احمدبن ابراهیم حرانی (استاذ د بخاری رحمه الله) ابی بن عباس (تبع تابعی) اسباط ابوالیسع (تبع تابعی) اسید بن زید بن نجیح الجمال او موسی بن مسعود ابوحذیفه النهدی (شیوخ بخاری رحمه الله) دا ټول حضرات د حفظ اواتقان مرتبے ته نه وو رسیدلی.خو بیا هم ددوی روایات امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښے نقل کړی دی (١)

معلومه شوه چه د امام حاکم رحمه الله بیان کړی شرطونو کښے یو شرط هم ټیک نه دے.هم دا وجه ده چه محدث امیر یمانی رحمه الله لیکی.((إنما هو تظنين وتخمين من العلماء أنه شرطهما إذ لم يأت تصريح بما شرطاه)) (٢) یعنی د شیخینو رحمهما الله په نیز څه شرط نشته.باقی کوم شرطونه چه عالمانو ذکر کړ دی.هغه د هغوی خپلے اندازے اوتخمینے دی.

بهرحال دلته مونږ هغه شرطونه ذکر کوو.کوم چه امام بخاری په خاص طریقه په خپل کتاب کښے مدنظرساتلی دی.

① سندمتصل وی. راوی مسلمان وی.صادق غیر مدلس، اوغیر مختلط وی.د عدالت په صفاتو متصف وی.ضابط وی.سلیم الذهن او قلیل الوهم وی.اوعقیده ئے صحیح وی. (٣)

② د راوی د مروی عنه سره کم از کم یوځل ملاقات ثابت وی. (٤)

③ راویان داسے وی.چه هغوی د اهل حفظ واتقان څنے وی.او دخپلو استاذانو سره ئے اوږد صحبت کړے وی.کله دهغه راویانو نه هم روایت اخلی.چه طویل الملازمة نه وی.خودا عمومی شرط دے.وړاندے مونږ بیان کړے دے.چه حفظ اواتقان لازمی اومستقل شرط نه دے.(٥)

④ امام بخاری رحمه الله په خپل کتاب کښے د یو مدلس روایت ترهغه وخته پورے نه نقل کوی. ترڅو چه هغه دتحدیث صراحت اونکړی.که په دغه حدیث کښے وی.اوکه په بل سند کښے وی. (٦)

⑤ امام بخاری رحمه الله که د یو داسے کس روایت نقل کړی.چه په هغه باندے کلام شوے وی.نو دهغه چا روایت په کښے نه اخلی.چه په هغه باندے انکار شوے وی. (٧)

---

(١) اوګورئ هدی الساري وتقريب التهذيب)_

(٢) تبصره بر المدخل فی أصول الحدیث (ص.٧٤)_

(٣) اوګورئ هدی الساری (ص.٩) وشروط الأئمة الخمسة للحازمی (٧٨. ٧٩)_

(٤) مقدمة فتح الملهم (ص.٢٧١) دغه شان اوګورئ ..النكت على كتاب ابن الصلاح (٢٨٩/١) النوع الأول :الصحيح.)_

(٥) اوګورئ شروط الأئمة الخمسة للحازمی (ص.٧٩. ٨٠) وهدی الساری (ص.٩) ومقدمة لامع الدراری (ص.٨٩) _

(٦) اوګورئ هدی الساری (ص.٤٤٩)_

(٧) فتح الباری (١٨٩/١) کتاب العلم باب من أعاد الحدیث ثلاثاً ليفهم عنه)_

⑨ که په راوی کښې څه قسم نقص وی.او بیا هغه روایت په بل سند سره هم نقل وی. چه په هغې باندې نقص پوره کیږی.نودا حدیث هم د امام بخاری رحمه الله په شرط کښې داخلیږی. (۱)
دا یو څو شرطونه دی. نور شرطونه هم شته.کوم چه په فتح الباری او هدی الساری وغیره کښې په تتبع سره راویستې شی.

دصحیح بخاری خصوصیات ① دامام بخاری رحمه الله په صحیح کښې د ټولو نه اهم خصوصیت تراجم دی.داسې تراجم نه د دوی نه وړاندې چا قائم کړی دی.اونه بعد ئې روستو څوك قائم کړې شی.ددوی بعضې تراجم تراوسه پورې (په ګرانوالی کښې) مشهور دی.اود هغې صحیح مراد تراوسه پورې نشی متعین کولې.هر کس د خپلو معلوماتو او قرائنو په مدد سره د مراد تعین کوی.په تراجمو به مستقل بحث انشاء الله وړاندې راشی.

② دویم خصوصیت دا دې.چه د احکامو په اثبات کښې اکثر امام بخاری رحمه الله قرآنی آیاتونه ذکر کوی.(۲)

③ دریم خصوصیت دا دې.دصحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله په آثارو سره د مختلف فیه مسائلو وضاحت کوی.اوکله چه مختلف آثار ذکرکوی.نوچه کوم اثر د دوی په نیز ارجح وی.هغه وړاندې ذکر کوی.

④ څلورم خصوصیت دا دې.چه امام بخاری رحمه الله په پوره ..الجامع الصحیح.. کښې داسې روایت نه دې ذکر کړې.کوم چه هغه د خپل استاذ نه «علی سبیل المکاتبة» اخستې وی.خو په «کتاب الأیمان والنذور» کښې ئې یو روایت داسې راوړې دې.چه په هغې کښې ئې «کتب إلی محمد بن بشار» فرمائیلی دی. (۳) د سند په مینځ کښې د مکاتبت راتلل بله خبره ده.اوهغه د امام بخاری رحمه الله فعل نه دې.بلکه د نورو راویانو عمل دې. (۴)

⑤ پنځم خصوصیت دا دې.چه امام بخاری رحمه الله د بدء الحکم ذکر هم کوی.لکه .بدء الوحی، بدء الحیض. بدء الاذان. بدء الخلق ئې ذکرکړی دی.او دحکم ابتداء ته ئې اشاره کړې ده. (۵)
حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله کله بغیر د تصریح نه اشارة هم د حکم ابتداء بیانوی.(۶)

⑥ شپږم خصوصیت دا دې.چه دوی براعت اختتام طرف ته اشاره کوی.د حافظ ابن

---

(۱) فتح الباری (۶۳۵/۹) کتاب الصیدوالذبائح باب ذبیحة الأعراب ونحوهم ــ
(۲) مقدمة لامع الدراری (ص.۱۰۲)ــ
(۳) اوګورئ صحیح بخاری (۹۸۷/۲) کتاب الأیمان والنذور باب إذا حنث ناسیاً فی الأیمان رقم، ۶۶۷۳ــ
(۴) اوګورئ تدریب الراوی (۵۶/۲) النوع الرابع والعشرون: کیفی سماع الحدیث وتحمله القسم الخامس :الکتابة)ــ
(۵) مقدمة لامع الدراری (ص.۱۰۸)ــ
(۶) پورتنۍ حواله ــ

حجر رحمه الله وائی ده چه دهر کتاب په آخر کښې کله امام بخاری رحمه الله په خاتمه باندې دلالت کونکې لفظ راوړی نو دهغې د کتاب اختتام طرف ته اشاره وی. (۱)
حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دانسانی ژوند ختمیدو طرف ته یادګیرنه کوی. (۲)
⑥ اووم خصوصیت دا دې چه صحیح بخاری کښې ..ثلاثیات.. دی.امام بخاری رحمه الله دوه ویشت ..ثلاثیات.. په خپل کتاب کښې ذکر کړی دی.
د ..ثلاثیات.. په باره کښې تفصیل په مقدمه کښې تیر شوې دې.
فصل اول دبخاری تراجم د بخاری په خصوصیاتو کښې د ابواب والتراجم.. بحث ډیر داهمیت حامل دې.د بخاری تراجم د حدیث د ټولو کتابونو د تراجمو په مقابله کښې ډیرګران دی.د «فقه البخاری فی تراجمه» مقوله په دې باره کښې ډیره مشهوره ده.د دې مطلب دا دې چه دامام بخاری رحمه الله د ژورنظراود تفقه شان اندازه ددوی د تراجمو نه لګیدې شی.دویم مطلب دا بیانولې شي.چه امام بخاری رحمه الله خپل فقهی نکته نظر په تراجمو کښې بیان کړې دې.
دامام بخاری رحمه الله دترجمې په قائمولو کښې خپل مخصوص انداز دې.اوهغه په مختلفو طریقو سره ترجمه قائموی.
① بعضې وخت د رسول الله ﷺ حدیث نه ترجمه جوړه کړی.اودهغې دحدیث نبوی صراحت هم کوی.لکه دکتاب الایمان اولنئ ترجمه «باب قول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس» دغه شان په کتاب الایمان کښې یوه بله ترجمه «باب قول النبی ﷺ الدین النصیحة» دغه شان په کتاب العلم کښې «باب قول النبی ﷺ رب مبلغ أوعی من سامع»
② کله امام بخاری حدیث نبوی نه ترجمه جوړه کړی.لیکن دهغه د حدیث کیدو ذکر نه کوی.لکه «باب من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین» ترجمه حدیث دې.خو ددې حدیث کیدو ته ئې اشاره نه ده کړې.
③ کله کله امام بخاری رحمه الله د نبی ﷺ دحدیث نه ترجمه جوړوی.خو په هغې کښې لږ غوندې تصرف اوتبدیلی کوی.اوددې مقصد د حدیث تشریح وی.لکه «باب ما کان النبی ﷺ یتخولهم بالموعظة والعلم کی لاینفروا»حدیث کښې «کراهة السآمة»راغلې دې.امام بخاری رحمه الله ترجمه کښې د «سآمة» تفسیر په «نفرة» سره کړې دې.
④ کله امام بخاری رحمه الله داسې حدیث ترجمه اوګرځوی.چه هغه د دوی په شرط برابر نه وی.بیا په خپلو روایاتو سره هغه مؤید کړی.لکه ابواب الوضوء کښې «باب ما جآء لا تقبل صلاة

(۱) فتح الباری شرح الحدیث الأخیر_
(۲) مقدمة لامع الدراری (ص۱۱۳)_

يعرطهون» اوپه . .ابواب الزكاة . . كښې «باب ماجاء لا تقبل الصدقة من غلول» دى.دا د يو روايت دوه حصے دى.مسلم اوترمذى رحمهماالله ددے تخريج کړے دے.امام بخارى رحمه الله په يوجزء په كتاب الوضوء كښې او په بل جزء په كتاب الزكاة كښې ترجمه قائمه کړے ده.

دغه شان په كتاب الصلاة كښې «باب إذا أقيمت الصلاة فلا صلاة إلا المكتوبة» ترجمه ئے قائمه کړے ده.اودا د مسلم په روايت باندے قائمه شوے ده.

دغه شان يوه ترجمه ده.«باب الإثنان فما فوقهما جماعة» دا ترجمه دابن ماجه په روايت باندے قائمه شوے ده.(١)

⑤ په ډيرځايونوكښې امام بخارى رحمه الله په خپلو الفاظوكښې ترجمه قائمه کړے ده.اوپه هغې كښې ابهام پريږدى.ددے ابهام مختلف وجوه وى.

(الف) كله د تعارض د دلائلود وجے ترجمه مبهمه پريږدى.لكه «باب ماجاء فى قاتل النفس» ترجمه ئے مبهمه قائمه کړے ده.دلته د ابهام وجه دا ده.چه د بعضے رواياتو نه معلوميږى.چه خودكشى كونكے به هميشه دپاره په جهنم كښې وى.اود نورو قوى دلائلو نه دا ثابته ده.چه د گناه كبيره مرتكب به هميشه دپاره په جهنم كښې نه وى.نو ددلائلو دتعارض د وجے امام بخارى رحمه الله څه فيصله اونکړله.او ترجمه ئے مبهمه پريخوده.(٢)

(ب) كله دا ابهام د توسع طرف ته اشاره كولو دپاره وى.لكه «باب مايقرأ بعد التكبير» دلته امام بخارى رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه يو روايت ذكر کړے دے.چه په هغې كښې دتكبير نه پس د سورة فاتحه ذكر دے.دويم روايت ابوهريره رضي الله عنه دے.چه په هغې كښې د تكبير د قرات نه پس د «اللهم باعد بينى وبين خطاياى كما باعدت بين المشرق والمغرب،اللهم نقنى من الخطايا كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس اللهم اغسل خطاياى بالماء والثلج والبرد» دعا مذكوره ده.(٣) په دے كښې دے خبرے ته اشاره ده.چه د تكبير نه پس كه دا دعا اووئيلے شى.يا ثنا اووئيلے شى.يا بغير دڅه وئيلو نه د سورة فاتحه قرات شروع کړے شى.(٤)

(ج) دغه شان په «كتاب الأيمان والنذور» كښې امام بخارى رحمه الله «باب إذا حنث ناسياً فى الأيمان» ترجمه قائمه کړے ده.اوجزاء ئے نه ده ذكر کړے.ددے وجه دا ده.چه په باب كښې دوه قسمه روايات ذكردى.د بعضو نه معلوميږى.كه په هيره حانث شو نوكفاره لازميږى.اود بعضو نه معلوميږى.چه په هيره د حانث كيدو په صورت كښې كفاره نه واجبيږى.امام بخارى رحمه الله ترجمه مبهمه پريخودے ده.پخپله ئے فيصله نه ده کړے.بلكه فيصله ئے د مجتهد په رائے

(١) دتفصيل دپاره اوگورئ مقدمة لامع الدرارى (ص.٣٠٣، ٣٠٤)۔
(٢) اوگورئ فتح البارى (٢٢٧/٣) كتاب الجنائز باب ماجاء فى قاتل النفس)۔
(٣) اوگورئ صحيح بخارى (١٠٢/١) كتاب الأذان)۔
(٤) اوگورئ مقدمة لامع الدرارى (ص.٣٥١) الأصل السابع والأربعون)۔

باندے پریخودے دہ.چہ ھغہ پہ خپل اجتہاد سرہ څہ فیصلہ اوکړی.(۱)

(د) کلہ امام بخاری رحمہ اللہ د دلیل د محتمل کیدو پہ وجہ ھم ترجمہ مبھمہ راوړی .لکہ چہ حافظ رحمہ اللہ د «باب إذا أسلمت المشرکة أو النصرانیة تحت الذمی أو الحربی» د لاندے فرمائیلی دی.(۲)

⑥کلہ امام بخاری رحمہ اللہ ترجمہ واضحہ او پہ فیصلہ کن انداز کښے قائموی.لکہ «باب وجوب صلاة الجماعة» او«باب التیمم ضربة»او«باب التیمم للوجہ والکفین» امام بخاری رحمہ اللہ دا پہ ھغہ وخت کښے کوی.چہ کلہ چہ دھغوی د نقطہ نظر تائیدی روایات ،صحیح، قوی، اوصریحی وی.ھلتہ کښے نہ د نورو امامانو داختلاف پرواہ کوی.اونہ د مخالف روایتونو لحاظ ساتی.بلکہ نقطہ نظر بنہ پورہ پہ قوت سرہ پیش کوی.(۳)

⑦ امام بخاری رحمہ اللہ کلہ پہ ،ھل،، سرہ استفھامیہ ترجمہ راوړی.او دا د دلیل د محتمل کیدو پہ وجہ وی.پہ کتاب التیمم کښے امام بخاری رحمہ اللہ «باب ھل ینفخ یدیہ» ترجمہ قائمہ کړے دہ.او روایت چہ ئے کوم نقل کړے دے.پہ ھغے کښے دی.« فضرب النبی ﷺ بکفیہ الأرض ونفخ فیھما» دلتہ کښے د نبی ﷺ فعل «نفخ فیھما» مذکور دے.خو پہ دے کښے احتمال شتہ.چہ د خاورے سرہ پہ لاس پورے څہ خاشی بیشی انختے وی.او دا احتمال ھم شتہ.چہ دا نفخ د تیمم د سنت پہ حیثیت وہ.پہ دے بناء باندے امام بخاری رحمہ اللہ استفھامیہ ترجمہ «ھل ینفخ فی یدیہ» قائمہ کړہ.(۴)

⑧کلہ امام بخاری رحمہ اللہ ترجمہ استفھامیہ قائمہ کړی.اود روایاتو اوآثارو پہ ذریعہ جواب پیش کوی.لکہ «باب ھل یسافر بالجاریة» (۵) قائمہ کړے دہ.او بیا ئے د روایت پہ ذریعہ ددے جواب بیان کړےدے.

⑨ کلہ امام بخاری رحمہ اللہ تفصیل تہ د اشارے کولو دپارہ ترجمہ استفھامیہ راوړی .لکہ «باب ھل یمضمض من اللبن» دلتہ کښے امام بخاری رحمہ اللہ روایت نقل کړے دے .«أن رسول اللہ ﷺ شرب لبناً فمضمض وقال إن لہ دسماً» نودلتہ دا خودل مقصود دی.چہ د پیو څکلو نہ پس کہ پہ خولہ کښے د غوړوالی اثر موجود وی.نو خولہ کښے دے اوبہ واچوی.اوکہ د خولے د لیاړو پہ ذریعہ غوړوالے زائلہ شوے وی. نوخولہ کښے داوبو اچولو ضرورت نشتہ.(۶)

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱۱/۵۵۰) کتاب الأیمان والنذور)_
(۲) اوګورئ فتح الباری (۱۱/۵۵۰) کتاب الأیمان والنذور)_
(۳) اوګورئ مقدمة لامع (ص.۳۵۰، ۳۵۱) الأصل السادس والأربعون)_
(۴) مقدمة لامع الدراری (ص.۳۳۵، ۳۳۶) الأصل الثانی والثلاثون)_
(۵) اوګورئ صحیح بخاری (۱/۲۹۷) کتاب البیوع)_
(۶) اوګورئ تقریر بخاری (۲/۲۷۵)_

دغه شان ئې يوه ترجمه قائمه کړې ده.((هل تصلى المرأة فى ثوب حاضت فيه)) او روايت ئې نقل کړې دے((ماکان لأحدنا إلا ثوب واحد تحيض فيه، فإذا أصابه شئ من دم، قالت بريقها فمصعته بظفرها)) يعنى مونږ سره د جامو کمے وو په کومو جامو کښې چه به د حيض زمانه تيره شوه که هغې پورې به معمولى غوندې وينه اولګيدله.نوهغه به ئې لرې کوله.اوهم په هغې کښې به ئې مونځ کولو امام بخارى رحمه الله په خپله ترجمه کښې تفصيل طرف ته اشاره کړې ده.که بله جامه نه وى.نو هغه جامه چه په هغې کښې ئې د حيض زمانه تيره کړې وى.د مانځه په وخت کښې د هغې په استعمال کښې څه حرج نشته.خو په دې شرط چه په هغې پورې څه نجاست نه وى. (١)

دغه شان امام بخارى رحمه الله يوه ترجمه قائمه کړې ده.((باب هل يدخل الجنب يده فى الإناء قبل أن يغسلها إذا لم يكن على يده قذر غير الجنابة)) ددې لاندې ئې يو روايت هم نقل کړې دے((کان رسول الله ﷺ إذا اغتسل من الجنابة غسل يده)) امام بخارى رحمه الله په ترجمه کښې استفهام راوړلو.او اشاره ئې اوکړله.که په لاس باندې پليتى نه وى.نو بغير د وينځلو نه په هغه لوښى کښې داخلولو کښې څه قباحت نشته.(٢)

دغه شان امام بخارى رحمه الله يوه ترجمه قائمه کړې ده.چه ((باب هل تکسر الدنان التى فيها خمر أو تخرق الزقاق)) دلته کښې دې تفصيل طرف ته اشاره مقصوده ده.چه که د شرابومنګى داسې وى.چه په وينځلو سره دهغې نه دشرابو اثر نه زائله کيږى.نو بيا خو به هغه ماتولى شى.خو که د وينځلو نه پس د هغې اثر زائله کيږى . نو بيا دهغې د ماتولو ضرورت نشته. (٣) ⑩ کله امام بخارى رحمه الله ترجمه د ((من قال کذا ومن فعل کذا)) په عنوان سره قائموى.ددې څو وجوه دى.

(الف) کله دحکم عموم طرف ته اشاره وى.لکه هغوى باب قائم کړې دے((باب من برك على رکبتيه عند الإمام أو المحدث)) (٤) په دې کښې دې طرف ته اشاره ده.چه دا طريقه دهغه کس سره خاص نه ده.د کوم واقعه چه په حديث کښې ذکر ده.بلکه کوم کس ته چه هم دا صورت پيښ شى. هغه ته دا طريقه پکار ده.

(ب)کله دا عنوان د مختار مسلك بيانولو دپاره اختيارولے شى.لکه ((باب من لم يتوضأ إلا من الغشى المثقل)) (٥) يا ((باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين)) (٦) په دې دواړو ځايونو کښې امام

---

(١) اوګورئ فتح البارى (٤١٢/١) کتاب الحيض)_

(٢) اوګورئ فتح البارى (٣٧٣/١) کتاب الغسل باب هل يدخل الجنب يده.

(٣) اوګورئ فتح البارى (١٢٢/٥) کتاب المظالم باب هل تکسر الدنان...)_

(٤) اوګورئ صحيح بخارى (٢٠/١) کتاب العلم)_

(٥) اوګورئ فتح البارى(٢٨٩/١) کتاب الوضوء باب من لم يتوضأ)_

(٦) اوګورئ فتح البارى (٢٨٠/١) کتاب الوضوء)_

بخاري رحمه الله خپل مختار مسلك اختيار كړے دے.

(ج) كله دا عنوان اخلاقو او آدابو باندے تنبيه وركولو دپاره اختياروي.لكه ((باب من قعد حيث ينتهي به المجلس)) كښے ئے دا خودلي دي.چه مجلس ته راتلونكے چه كوم خائے كښے مجلس ختميږي.هلته دے كيني.د وړاندے تلو كوشش دے نه كوي. (١)

دغه شان ترجمه ده.((باب من رفع صوته بالعلم)) دلته دا خودل دي.چه كله مجمع زياته وي.نو ادب دا دے.چه حديث په اوچت آواز سره بيان شي. (٢)

① بعضے وخت امام بخاري رحمه الله د تاريخي واقعاتو بيانولو دپاره ترجمه قائموي . لكه ((باب ذكر قحطان))(٣)

② كله امام بخاري رحمه الله داسے هم كوي.چه د سابقه باب حديث كښے د باب نه علاوه كه نوے فائده موجوده وي.نوپه دغه نوے فائده باندے تنبيه وركولودپاره ترجمه قائموي.دے ته ((باب في باب)) وائي.يعني دويم باب د اولني باب په ضمن كښے شمارلے شي. (٤)

③ بعضے وخت امام بخاري رحمه الله داسے ترجمه راوړي.چه په ظاهره بے فائدے معلوميږي .خو په حقيقت كښے په هغے كښے فائده وي.لكه يوه ترجمه ده.((باب قول الرجل فاتتنا الصلاة)) دلته په ظاهره ددے ترجمے څه فائده نه ښكاري.خو امام بخاري رحمه الله په دے باندے دهغه كسانو رد كړے دے.څوك چه د ..فوت،، نسبت ،،صلاة،، طرف ته جائز نه ګڼړي.لكه چه امام بخاري رحمه الله ددے جواز د حديث نه ثابتوي. (٥)

④ كله امام بخاري رحمه الله د بدء الحكم طرف ته اشارے كولو دپاره ترجمه قائموي.لكه ((بدء الحيض))(٦)((بدء الأذان))(٧)((بدء الخلق))(٨)((بدء السلام))(٩)وغيره كښے.

---

(١) اوګورئ مقدمة لامع الدراري (ص.٣١٦) الأصل الرابع)_

(٢) اوګورئ فتح الباري (١٤٣/١) كتاب العلم دغه شان مقدمة لامع (ص.٣١٦) الأصل الرابع عشر)_

(٣) اوګورئ مقدمة لامع (ص.٢٧٧) و(ص.٣١٠) الأصل التاسع)_

(٤) ومثال ذلک ((باب من مضمض من السويق.. انظرمقدمة لامع (٣٠٧، ٣٠٨) الأصل السادس)_

(٥) اوګورئ فتح الباري (١١٦/٢) كتاب الأذان دغه شان اوګورئ هدى الساري (ص.١٤) ومقدمة لامع (ص.٢٩٣) و(ص.٣١٤) الأصل الرابع عشر)_

(٦) اوګورئ فتح الباري (٤٠٠/١)كتاب الحيض)_

(٧) اوګورئ فتح الباري (٧٧/٢) كتاب الأذان)_

(٨) اوګورئ فتح الباري (٢٨٧/٦) كتاب بدء الخلق)_

(٩) فتح الباري (٣/١١) كتاب الإستيذان)_

⑮ كله امام بخارىؒ د اشكال لرے كولو دپاره هم ترجمه قائموى لكه «باب ترك الحائض الصوم» شو حائضه ته د مونځ او روژے دواړو د پريخودلو حكم وركړے شوے دے د مانځه پريخودل خو معقوله خبره ده ځكه چه دمانځه دپاره طهارت شرط دے اوحائضه ناپاكه وى خو د روژے د پريخودو په حكم اشكال دے چه ددے حكم ولے وركړے شوے دے حالانكه ددے دپاره طهارت هم شرط نه دے امام بخارىؒ دا ترجمه قائمه كړه اواشكال ئے لرے كړلو او دے طرف ته ئے اشاره اوكړه چه دا حكم تعبدى دے په دے كښے د عقل د دخل اندازئ گنجائش نشته. (١)

⑯ كله امام بخارىؒ د ..جمع بين الروايات.. دپاره ترجمه قائموى لكه «باب لا تستقبل القبلة بغائط أوبول، إلا عندالبناء، جدار أونحوه» دحضرت ابوايوب انصارىؓ كښے داستقبال اواستدبار دواړو مطلقاً ممانعت دے (٢) اودحضرت عبدالله بن عمرؓ په روايت كښے دا ذكر دى چه نبىﷺ د ديوال په موجودگئ كښے استدبار كړے وو. (٣) امام بخارىؒ ترجمه قائمه كړله اوپه دواړوكښے ئے تطبيق اوكړلو چه دحضرت ابوايوب انصارى ؓ روايت په دے صورت محمول دے چه په مينځ كښے ديوال وغيره بل څه نه وى اود حضرت عبدالله بن عمرؓ روايت په دے حالت محمول دے چه حائل موجود وى. (٤)

دغه شان يوه ترجمه ده. «باب قول النبى ﷺ يعذب الميت ببعض بكاء أهله عليه إذا كان النوح من سنته» دلته كښے هم امام بخارىؒ مقصد جمع بين الروايات ده. د حضرت عمر او حضرت عبدالله بن عمرؓ د رواياتو نه معلوميږى چه د اهل د ژړا د وجے مړى ته عذاب ملاويږى او دحضرت عائشےؓ په روايت كښے ددے نه انكار موجود دے حضرت عائشےؓ په ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى﴾ باندے استدلال كړے دے (٥) دلته امام بخارىؒ ددے ترجمے په ذريعه په دواړوكښے تطبيق اوكړلو چه دحضرت عمرؓ اوحضرت عبدالله بن عمرؓ روايت په هغه حالت باندے محمول دے چه د مړى عادت وير كول وى اود حضرت عائشےؓ روايت دهغه صورت متعلق دے چه د مړى عادت وير كول نه وى. (٦)

---

(١) اوگورئ فتح البارى (٤٠٥) كتاب الحيض)_

(٢) ددوى نه مرفوع روايت دے ((إذا أتى أحدكم الغائط فلا يستقبل القبلة ولايولها ظهره. شرقوا أو غربوا صحيح البخارى كتاب الوضوء باب لاتستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عند البناء جدار أونحوه)_

(٣) اوگورئ صحيح بخارى كتاب الوضوء باب من تبرز على لبنتين رقم ١٤٥. وباب التبرز فى البيوت رقم ١٤٨)_

(٤) اوگورئ مقدمة لامع (ص.٣٠٦. ٣٠٧) الأصل السادس)_

(٥) اوگورئ صحيح بخارى كتاب الجنائزباب قول النبى ﷺ يعذب الميت ببعض بكاء أهله عليه إذا كان النوح من سنته رقم. ١٢٨۶. ١٢٨٨)_

(۶) اوگورئ مقدمة لامع (ص.٣٠٧) الأصل الخامس)_

⑮ بعضے وخت په ترجمه کښے څو خبرے ذکر وی خوامام بخاری په هغے کښے صرف دیوے دپاره روایت راوړی د نورو خبرو په باره کښے روایات نه پیش کوی ددے هم مختلف وجوهات دی.

(الف) کله خوداسے وی چه د کومے خبرے په تائید کښے امام بخاری رحمه الله روایت پیش کوی دهغے ثابتول ئے مقصود وی اود کومو خبرودپاره چه روایات پیش نکړی د هغے نفی ئے مقصود وی لکه امام بخاری رحمه الله ((باب الصلاة بعد الجمعة وقبلها)) ترجمه قائمه کړیده اوپه دے کښے د ..صلاة بعد الجمعة.. روایت خو ئے ذکرکړے دے خو د ..قبل الجمعة.. روایت ئے نه دے ذکر کړے دلته کښے دامام بخاری رحمه الله مقصود ..صلاة بعد الجمعة.. ثابتول دی اود ..صلاة قبل الجمعة.. نفی کول دی.(۱)

(ب) کله په داسے موقعه امام بخاری رحمه الله بل روایت ته اشاره کوی کوم چه په بخاری کښے موجود نه وی لکه یوه ترجمه ئے قائمه کړے ده ((باب التقاضی والملازمة فی المسجد))(۲) په دے ترجمه کښے دوه څیزونه مذکور دی یو ..تقاضی.. او بل ..ملازمة.. خوپه دے باب کښے چه کوم روایت ذکر دے په هغے کښے د ..تقاضی.. ذکرشته خود ..ملازمة.. ذکر نشته خو په کتاب الخصومات کښے چه امام بخاری رحمه الله کوم روایت نقل کړے دے په هغے کښے د ..لازمة.. ذکر شته. (۳) خکه به دا وئیلی شی چه دلته ئے دغه د خصومت روایت ته اشاره کړے ده (۴)

(ج) کله امام بخاری رحمه الله داسے روایت طرف ته اشاره کوی کوم چه په بخاری کښے ذکر نه وی اودهغے نه خپله مدعا ثابتوی لکه ((باب دلك المرأة نفسها إذا تطهرت من المحیض وکیف تغتسل وتأخذ فرصة ممسکة فتتبع بها أثر الدم)) ددے دلاندے د ..غسل.. ذکر شته خود ..دلك.. ذکر نشته.(۵) خکه دا وئیلی شی چه امام بخاری رحمه الله د ترجمے ثابتولو دپاره د امام مسلم روایت ته اشاره کړے ده. (۶) خکه به دا وئیلی شی چه امام بخاری رحمه الله دترجمے ثابتولو دپاره د مسلم روایت ته اشاره کړے ده. (۷)

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۲/۸۲۶) کتاب الجمعة)_

(۲) اوګورئ صحیح بخاری (۱/۶۵) کتاب الصلاة)_

(۳) اوګورئ صحیح بخاری (۱/۳۲۷) کتاب الخصومات باب الملازمة)_

(۴) اوګورئ مقدمة لامع (ص. ۳۱٤) الأصل الحادی عشر)_

(۵) اوګورئ صحیح بخاری (۱/٤۵) کتاب الحیض)_

(۶) په مسلم شریف (۱/۱۵) کتاب الحیض باب إستحباب إستعمال المغتسلة من الحیض فرصة من مسک فی موضع الدم) کښے حضرت عائشے رضی الله عنها روایت کښے دی (فتدلکه دلکاً شدیداً)_

(۷) اوګورئ فتح الباری (۱/٤۱٤، ٤۱۵) کتاب الحیض باب دلک المرأة .. دغه شان اوګورئ مقدمة لامع (ص.۳۱۲) الأصل الحادی عشر)_

⑱ کله امام بخاري رحمه الله د باب لاندې مختلف روايات ذکر کوي او اشاره دې طرف ته وي چه مسئله مختلف فيها ده. (۱)

⑲کله امام بخاري رحمه الله ترجمه مقيده راوړي او روايت مطلق ذکر کوي مقصود په کښې دې طرف ته اشاره وي چه په روايت کښې د ترجمې قيد مدنظر دې ددې اطلاق مراد نه دې مثلاً ترجمه ئې قائمه کړې ده. ((باب الصفرة والكدرة في غير أيام الحيض)) په دې روايت کښې ((في غير أيام الحيض)) قيد دې حالانکه په روايت کښې اطلاق دې ((كنا لا نعد الكدرة والصفرة شيئا)) (۲) نو امام بخاري رحمه الله په خپلې ترجمې سره اوخودله چه د حيض په زمانه کښې به زيړ يا خاکي رنګ حيض شمارلې شي دا د ((غير أيام حيض)) يعنې طهر د حالت راتلو نه پس واقعه ده د حيض د زمانې نه ده. (۳)

⑳کله ترجمه مطلقه وي او حديث مقيد وي په دې کښې امام بخاري دې طرف ته اشاره کوي چه په روايت کښې کوم قيد ذکر دې دا اتفاقي دې احترازي نه دې نوځکه به حکم مطلق وي لکه ((باب الجمع في السفر بين المغرب والعشاء)) (۴).

دا ترجمه مطلق ده او ددې لاندې چه کوم روايت ذکر دې په هغې کښې ((كان النبي ﷺ يجمع بين المغرب والعشاء إذا جد به السير)) ذکر دې په دې کښې د ((جمع بين الصلاتين)) دپاره د ((إذا جد به السير)) قيد مذکور دې امام بخاري رحمه الله ترجمه مطلق راوړه دې طرف ته ئې اشاره اوکړه چه ,,جمع بين الصلاتين،، په سفر کښې مطلقاً جائزده او د ((إذا جد به السير)) قيد احترازي نه دې. (۵)

㉑ کله ترجمه خاص راوړي او دهغې لاندې روايت عام ذکر کوي دې طرف ته اشاره مقصود وي چه د روايت عموم معتبر نه دې. (۶)

㉒ کله ترجمه عامه وي او روايت خاص راوړي دې طرف ته اشاره مقصود وي چه د روايت خصوصيت ملحوظ نه دې بلکه حکم عام دې. (۷)

㉓ کله ترجمه د شرط سره ذکر کړي او دهغې جواب هم په روايت کښې موجود وي لکه ((باب

---

(۱) او ګورئ مقدمة لامع (ص۳۰۶) الأصل الرابع)_
(۲) صحيح بخاري كتاب الحيض باب الصفرة والكدرة في غير أيام الحيض رقم. ۳۲۶)_
(۳) او ګورئ فتح الباري (۴۲۶/۱) دغه شان او ګورئ مقدمه لامع (ص.۳۲۵) الأصل الثالث والعشرون)_
(۴) صحيح بخاري (۱۴۹/۱) كتاب تقصير الصلاة)_
(۵) او ګورئ (فتح الباري (۵۸۰/۲) كتاب تقصير الصلاة)_
(۶) او ګورئ مقدمة فتح الباري (ص.۱۳) ومقدمة لامع (ص.۳۱۷) الأصل الخامس عشر)_
(۷) پورتنئ حواله)_

إذا وکل المسلم حربیاً فی دار الحرب أو فی دار الإسلام جاز» (۱) خوکله په ترجمه کښې شرط ذکر کړی.اودهغې جواب په ترجمه کښې نه وی.لکه «باب إذا وهب هبة فقبضها الآخر ولم یقل قبلت» (۲) دلته کښې جواب په ترجمه کښې ذکر نه دے.بلکه د روایت نه جواب معلومیږی.چه په قبض کولو سره هبه تمامیږی.اګرچه ..موهوب له.. د ..قبلت.. لفظ نه وی ونیلے (۳)

⑬ کله امام بخاری رحمه الله ترجمه شرطیه راوړی.اوجواب د صحابی رضی الله عنه یا تابعی رحمه الله په اثر سره بیانوی.لکه «باب إذا أقرضه إلی أجل مسمی» کښې ئے په ترجمه کښې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه اثر ذکر کړے دے.چه دهغې نه د تاجیل جواز معلومیږی (۴)

دا تفصیل دهغه تراجمو په باره کښې وو.په کوم ځانې کښې چه امام بخاری رحمه الله د ترجمې قائمولو نه پس حدیث مسند پیش کوی.بلکه کله داسې کیږی.چه امام بخاری رحمه الله د آیت نه ترجمه جوړه کړی.اوبیا هلته نه مسند حدیث راوړی.اونه معلق.هغه آیت په خپله دعوا هم وی.او دهغه دعوے دپاره دلیل هم وی (۵)

کله داسې کوی.چه دخپل طرفه ترجمه راوړی.اودهغې سره آیت یا حدیث معلق ذکر کوی.په داسې صورت کښې هغه آیت اوحدیث معلق د دغه ترجمې دپاره دلیل جوړیږی (۶)

په پوره صحیح بخاری کښې نهه مقامات داسې دی.چه امام بخاری رحمه الله په خپلو الفاظو کښې ترجمه قائمه کړے ده.اوبیا ئے نه حدیث مسند ذکر کړے دے.اونه حدیث معلق.اونه ئے څه آیت پیش کړے دے.بلکه صرف خالی ترجمه ده.د داسې مقاماتو په باره کښې ونیلے شوی دی.چه په خواه خواه کښې نزدے ورسره یو روایت ضرور داسې وی.چه دهغې نه دغه ترجمه ثابتیږی (۷)

باب بلا ترجمة

امام بخاری رحمه الله په څو ځایونو کښې باب بغیرد ترجمې نه راوړے دے.صرف ..باب.. وی.ترجمه نه وی.اود هغې دلاندې مسند روایات پیش کوی.په دے باره کښې حضرات شارحینو رحمهم الله مختلف توجیهات کړی دی.

① امام بخاری رحمه الله سهوه شوے دے.څکه ئے باب نه دے قائم کړے.

② مصنف نه دے سهوه شوے.بلکه کاتب سهوه شوے دے یعنی مصنف رحمه الله چه کومه ترجمه

---

(۱) صحیح بخاری (۳۰۸/۱) کتاب الوکالة_

(۲) صحیح بخاری (۳۵٤/۱) کتاب الهبة)_

(۳) اوګورئ فتح الباری (۲۲۳/۵)_

(۴) اوګورئ فتح الباری (۶۶/۵) کتاب الإستقراض)_

(۵) اوګورئ مقدمة لامع (ص۳۲)_

(۶) اوګورئ مقدمة لامع (ص۳۲۹، ۳۳۰)_

(۷) اوګورئ مقدمة لامع (ص۳۲۹، ۳۳۰)_ الأصل السابع والعشرون)_

لیکلې وه.کاتب نه هغه پاتې شوې ده.

③ بعضې حضرات فرمائي.چه دا د راوی تصرف دې.[1]

④ حافظ ابن حجر رحمه الله په بعضې مقاماتو کښې دا ونیلی دی.چه مصنف رحمه الله قصداً ترجمه پریخودې ده.د ترجمې قائمولو اراده ئې وه خو ورستو ورته موقع ملاو نشوه.

خودا جوابونه ټیک نه دی.ځکه چه د کتاب مکمل کولو نه پس تقریباً درویشت کاله امام بخاري رحمه الله ددې کتاب درس ورکړې دې.او سل کم یولاکه شاګردانو د امام بخاري رحمه الله نه دا لوستې دې.نوپه دې صورت کښې د امام بخاري یا کاتب د سهوبرقرار پاتې کیدو څه ګنجائش کیدې شي؟دغه د موقعې نه ملاویدو عذر هم د اوریدو قابل نه دې.اوبیا هم که دوه څلور ځایه د..باب بلاترجمه.. سهو که د مؤلف یا کاتب نه وه.نود دې څه ګنجائش کیدې شي.دلته کښې خو ډیر بابونه په بخاري کښې بلا ترجمه دی.

⑤ علامه کرماني رحمه الله [2] حافظ ابن حجر رحمه الله [3]علامه عیني رحمه الله [4] علامه قسطلاني رحمه الله [5]ابن رشد رحمه الله [6] شیخ نورالحق رحمه الله [7] اوشاه ولی الله رحمه الله [8] دوی عام طور ..باب بلاترجمه.. دباب سابق نه دفصل پشان ګرځولې دې.یعنی امام بخاري رحمه الله په ..باب بلاترجمه.. کښې داسې روایت راوړي.چه هغه من وجه د سابقه باب سره هم متعلق وي.او من وجه مستقل هم وي.نوځکه دا باب د سابقه باب دپاره د فصل په پشان وي.

⑥ دشیخ الهند حضرت مولانا محمودالحسن دیوبندی رحمه الله رائې دا ده.چه ..باب بلاترجمه.. په بعضې مقاماتو کښې د تشحیذ اذهان دپاره وي.یعنی دامام بخاري رحمه الله مقصد دا وي.چه چه د باب روایت ته نظر اوکړي.اوقاري په خپله داسې ترجمه قائمه کړي.چه هغه د بخاري د شان مطابق هم وي.اوتکرار په کښې رانشي.په دې طریقه ذهن تیزیږي.اود مسائلو د استخراج او استنباط صلاحیت پیدا کیږي.[9]

⑦ کله امام بخاري رحمه الله دسابقه باب نه د پیدا شوی اشکال لرې کولو دپاره باب بلاترجمه.. راوړي. [10]

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۵۶۱/۶) باب بلاترجمة بعدباب کنیة النبی ﷺ)

(۲) شرح کرمانی (۱۰۳/۱)_

(۳) فتح الباری (۶٤/۱)_

(۴) عمدة القاری (۱۵۲/۱)_

(۵) ارشادالساری (۱۹۹/۱)_

(۶) مقدمة لامع (ص.۳۲۲) الأصل العشرون)_

(۷) تیسیرالقاری (۲۰/۱. ۲۱)_

(۸) رساله شرح تراجم ابواب البخاری (ص.۲۲)_

(۹) مقدمة لامع (ص.۳۲۷. ۳۲۸) الأصل الخامس والعشرون)_

(۱۰) اوګورئ تقریربخاری (۱۲۶/۱)_

⑧ ..بلاترجمه .. باب د زیاتو فوائدو دپاره وی.یعنی د باب روایت ډیرو فائدو ته شامل وی.که ترجمه ئے قائمه کړے وه.نو دقاری ذهن به صرف هم دغه ترجمے طرف ته تلو.نورو فوائدو طرف ته به نه متوجه کیدلو.امام بخاری بلا ترجمه باب ددے وجے ذکر کوی.چه ټولو فوائدو طرف ته ذهن متوجه شی. (۱)

⑨ باب بلا ترجمه د رجوع الی الاصل دپاره وی.یعنی د بابونو یوه سلسله زاروانه وی.په مینځ کښے څه ضمنی تراجم راشی.نو اصل سلسلے طرف ته د رجوع کولو دپاره باب بلاترجمه راوړلے شی. (۲)

⑩ علامه عینی رحمه الله په بعضے مقاماتو کښے دا هم فرمائیلی دی.چه امام بخاری د تکثیر طرق طرف ته داشارے کولو دپاره .باب بلاترجمه.. راوړی. (۳)

⑪ شاه ولی الله رحمه الله فرمائی.چه دامام بخاری رحمه الله ..باب بلا ترجمه.. د تحویل په طور وی.لکه چه یو سند ذکر کوی.اودهغے په مینځ کښے ..ح.. راوړی او د دے نه پس بل سند ذکر کوی.دا تحویل من سند الی سند وی.او وړاندے دواړه سندونه ملاویږی. (۴)

خو په دے باندے اشکال دا کیږی.چه په پوره بخاری کښے صرف په باب بدء الخلق کښے ددے یو مثال موجود دے.اود یو مثال په وجود باندے دا نه لازمیږی.

چه امام بخاری به دا په خپل کتاب کښے د قاعدے په طور غوره کړے وی. (۵)

دا ټولے خبرے د ابواب وتراجم په باره کښے د اول فصل حیثیت لری.

فصل ثانی د تراجمو د اثبات طریقې ددے بحث دویم فصل دا دے.چه امام بخاری رحمه الله دترجمے د اثبات دپاره کومه طریقه اختیاروی.اوخپله دعوی په کوم انداز باندے ثابتوی.یعنی ددوی د استدلال طریقه څه ده.

عام طور باندے د امام بخاری تراجم دعاوی وی.او احادیث مسنده د دغه دعاویو دلائل وی.خو د امام بخاری رحمه الله څه تراجم. تراجم شارحه هم دی.هلته کښے د دعوی او اثبات دعوی بالدلیل سلسله نه وی.

یوحدیث عام وی.او په هغے باندے خاص ترجمه قائمه کړی.اودا ښائی.چه ددے عام نه خاص مراد دے.یا روایت مطلق وی.اوترجمه مقیده راوړی.اودا خودل غواړی.چه په روایت مطلقه کښے دترجمے قید ملحوظ دے.اوکله ددے په عکس وی.چه روایت خاص وی.اوپه هغے باندے ترجمه عامه راوړی.ددے خودلو دپاره چه په روایت کښے د کوم خصوصیت ذکردے.هغه ملحوظ نه دے.کله روایت مقید وی.اوترجمه مطلقه راوړی.هلته دا خودل غواړی.چه په روایت کښے د کوم قید ذکر دے.هغه ملحوظ نه دے.بلکه هغه اتفاقی قید دے.داسے تراجمو

(۱) اوګورئ: مقدمة لامع (۳۲۹) الأصل السادس والعشرون)_
(۲) مقدمة لامع (۳۶۷) الأصل السابع والخمسون)_
(۳) اوګورئ: مقدمة لامع (ص.۳۱۸، ۳۱۹) الأصل السابع عشر)_
(۴) اوګورئ: رساله شرح تراجم ابواب البخاری (ص.۱۲)_
(۵) اوګورئ: مقدمة لامع (۳۰۹) الأصل الرابع)_

ته ،،تراجم شارحه،، وائی. دلته ددے خبرے ضرورت نشته.چه ترجمه په روایت باندے ثابته کړی.خوعام طور داسے وی.چه تراجم په منزله د دعوی وی.او د باب روایت دلیل وی.هم دا طریقه په صحیح بخاری کښے د ټولو نه زیاته ده.

دتراجم قسمونه بیا د تراجم دوه قسمونه دی.① تراجم ظاهره ② تراجم خفیه

په تراجم ظاهره کښے د ترجم الباب اود باب په حدیث کښے مطابقت آسان وی.هلته څه مشکل نه وی.خوپه تراجم خفیه کښے تطبیق ګران وی.ځکه امام بخاری رحمه الله د ترجمه د اثبات دپاره د یوے طریقے پابندی نه ده کړے.کله یوه طریقه اختیاروی.اوکله بله طریقه اختیاروی.

① کله داسے کوی.چه ترجمه قائمه کړی.اودهغے لاندے روایت نقل کړی.خو د ترجمے ثبوت د بل روایت نه کیږی.کوم چه په بخاری کښے په بل ځائے کښے موجود وی.

مثلا کتاب العلم کښے ئے ترجمه قائمه کړے ده.«باب السمر فی العلم» او کوم روایت چه ئے نقل کړے دے.په هغے کښے د «سمر فی العلم» ذکر نشته.خوپه کتاب التفسیر کښے ئے هم دا روایت ذکر کړے دے.او په هغے کښے «فتحدث رسول الله مع أهله ساعة» الفاظ ذکر دی. (۱) لکه چه ترجمه ئے په کتاب العلم کښے ده.او ددے ثبوت د کتاب التفسیر نه کیږی. (۲)

دغه شان د کتاب العلم یوه ترجمه ده.«باب الفتیا وهو واقف علی الدابة وغیرها» دلته کښے چه ئے کوم روایت ذکر کړے دے.په دے کښے د «وقوف علی الدابة» ذکر نشته.خو په کتاب الحج کښے هم دا روایت ذکر دے.او هلته «وقف رسول الله ﷺ علی ناقته» (۳) الفاظ موجود دی.لکه چه ترجمه د کتاب الحج د روایت نه ثابتیږی. (۴)

دغه شان وړاندے راغلی دی.چه امام بخاری رحمه الله په «ابواب الصلاة» کښے «باب التقاضی والملازمة فی المسجد» ترجمه قائمه کړه.اودے لاندے چه ئے کوم روایت نقل کړے دے.په هغے کښے د «تقاضی» ذکر شته.خود «ملازمة» ذکر په کښے نشته.خوچه په «کتاب الخصومات» کښے دا روایت ذکر کړے دے.نو هلته «فلقیه فلزمه» الفاظ راغلی دی.په دے طریقه دا ترجمه هم په بخاری کښے د ذکر شوی روایت نه ثابته شوه.کومه چه ئے ددے ځائے په ځائے بل ځائے ذکر کړے دے.(۵)

---

(۱) اوګورئ صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب ﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾رقم ۴۵۶۹._

(۲) اوګورئ فتح الباری (۱/۲۱۳) کتاب العلم باب السمر فی العلم)_

(۳) اوګورئ صحیح بخاری کتاب الحج باب الفتیا علی الدابة عند الجمرة رقم. ۱۷۳۸)_

(۴) اوګورئ فتح الباری (۱/۱۸۱) کتاب العلم باب الفتیا وهو واقف علی الدابة وغیرها)_

(۵) اوګورئ اصل ⑮ شق (ب) _

③ دغه شان امام بخاري رحمه الله کله ترجمه قائموي او دهغې داثبات دپاره په داسې روايت بندې اعتماد کوي کوم چه په بخاري کښې مذکور نه وي. ددې مثال وړاندې تيرشوې دې چه امام بخاري رحمه الله ترجمه قائمه کړې ده ((باب دلك المرأة نفسها إذا تطهرت من المحيض)) اود باب لاندې چه ئې کوم روايت نقل کړې دې په هغې کښې د ..دلك.. ذکر نشته. خو په صحيح مسلم کښې داسې روايت مذکور دې چه په هغې کښې د ..دلك.. ذکر شته.(١)

④ کله امام بخاري رحمه الله د روايت داجمال نه ترجمه ثابتوي په کتاب الوضوء کښې يوه ترجمه ده ((باب وضوء الرجل مع إمرأته وفضل وضوء المرأة)) او ددې لاندې امام بخاري رحمه الله اثر نقل کړې دې((وتوضأ عمر رضي الله عنه بالحميم ومن بيت نصراني)) ددې نه امام بخاري رحمه الله داسې استدلال کوي چه حضرت عمر رضي الله عنه په ګرمو اوبو باندې اودس کوي. اوښځې عام طور اوبه ګرموي. اود ګرمولو په وخت کښې هغه خو کرته په اوبوکښې لاس وهي. چه اوبه څومره ګرمې شوې دي. دلته کښې حضرت عمر رضي الله عنه ګرمې اوبه په اودس کښې استعمال کړې دي. اوڅه تفصيل معلوم نه دې چه د ښځې ګرمې کړې اوبه وې اوکه د سړي. که د ښځې ګرمې کړې اوبه وې. نودې په هغې کښې لاس دننه کړې وو اوکه نه؟ نوګرمې اوبه ئې په اودس کښې استعمال کړې اوحقيقت ئې مجمل پريخودلو. ددې نه امام بخاري رحمه الله ثابته کړه. چه که سړې اوښځه دواړه په يوځائې اودس کوي. اود ښځې لاس د سړي د اودس په اوبو کښې ورداخل شي. نوبه دې کښې څه قباحت نشته.

دغه شان ((ومن بيت نصراني)) جمله ده. په دې کښې عقلاً دوه احتمالات دي. يو دا چه ګرمې اوبه د دغه نصراني ښځې د کور وې. اوعبارت داسې دې. ((وتوضأ عمر رضي الله عنه بالحميم من بيت نصراني)) لکه چه په يوه نسخه کښې دغه شان بغير د .واو.. نه راغلې دي. او دويم احتمال دا دې چه په ګرمو اوبود اودس کولو واقعه جدا ده. اود ((وضوء من بيت نصرانية)) واقعه بله ده. لکه چه حقيقت دواقعې هم دا دې.(٢) که دا يوه واقعه وي. نو ددې بحث تير شوې دې. اوکه دا واقعه جدا وي نود استدلال تقرير به دا وي چه حضرت عمر رضي الله عنه دنصراني ښځې د کور نه اوبه واخستلې اوبه هغې ئې اودس اوکړلو. اودا تفصيل ئې ترې اونه پوښتلو. چه دا اوبه د نصراني ښځې د استعمال کړې اوبو باقي مانده خو نه دي. حالانکه هلته د دواړو صورتونو احتمال وو. دا هم ممکنه وه چه دا د هغې نصراني ښځې د استعمال شوې اوبو نه باقي پاتې شوې اوبه

---

(١) اوګورئ اصل شق (ج)_

(٢) خکه چه ((توضأ بالحميم)) اثر مستقل دې او دا سعيد بن منصور، عبدالرزاق، ابن ابي شيبه، او دارقطني رحمهم الله وغيره موصولاً ذکر کړې دې او((ومن بيت نصراني)) دا يو مستقل اثر دې. کوم چه شافعي. عبدالرزاق بيهقي. اواسماعيلي وغيره موصولاً ذکر کړې دې حافظ ابن حجر رحمه الله دا تفصيل ذکر کړې دې او ددې د وحدانيت احتمال ئې رد کړې دې اوفرمائيلي ئې دي((وقد عرفت أنهما أثران متغايران)) اوګورئ فتح الباري (٢٩٩/١) كتاب الوضوء باب وضوء الرجل مع إمرأته...)_

وے اودا هم ممکنه وه چه خانله اوبه وے د استعمال نه بچ شوے نه وے خو حضرت عمر رضی الله عنه تفصیل اونه غوښتلو امام بخاری رحمه الله ددے نه استدلال اوکړلو او ددے اجمال نه ئے خپله ترجمه ثابته کړه (۱)

④ کله امام بخاری رحمه الله د یو باب لاندے څو روایتونه ذکر کوی اودهر روایت نه ترجمة الباب نه ثابتیږی بلکه یو روایت په کښے د ترجمے سره مطابق وی په دا سے موقع ونیلی شی چه بخاری رحمه الله خپله ترجمه ددے روایاتو د مجموعه نه ثابته کړے ده لکه ((باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم)) ددے لاندے شپږ روایات دی خو د دریم روایت نه سوا په بل یو روایت کښے هم د بدء الوحی ذکر نشته دلته کښے یوه توجیه دا هم کولے شی چه بخاری رحمه الله د مجموعه روایات نه ترجمه ثابته کړے ده په هر روایت باندے د ترجمے منطبق کیدل ضروری نه دی (۲)

⑤ کله امام بخاری د روایت د عموم نه ترجمه ثابتوی هغوی باب قائم کړے دے ((باب التیمن فی دخول المسجد))(۳) ددے لاندے ئے د حضرت عائشے رضی الله عنها حدیث ذکر کړے دے چه په هغے کښے دی ((کان النبی صلی الله علیه وسلم یحب التیمن ما استطاع فی شأنه کله)) په روایت کښے د تیمن په استحباب کښے عموم دے امام بخاری رحمه الله د روایت د عموم نه ((تیمن فی دخول المسجد)) ثابت کړے (۴)

⑥ کله امام بخاری لغوی او اصلی معنی مدنظر ساتی او ترجمه ثابتوی لکه په ..کتاب الصلاة.. کښے ترجمه ده ((باب ما یذکر فی الفخذ)) امام بخاری رحمه الله د ..فخذ.. (پتون) عورتیت طرف ته اشاره کوی او د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه روایت پیش کوی ((وفخذه علی فخذی)) (۵) اود فخذی اصلی اولغوی معنی دنظر لاندے ساتی اودا خودل غواړی چه ..فخذ.. عورت نه دے که دا عورت وے نو د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ..فخذ.. به نبی صلی الله علیه وسلم په خپل ..فخذ.. باندے نه کیخودلو څکه چه خپل عورت بل په عورت باندے کیخودل جائز نه دی

دلته کښے ونیلی شی چه دا وضع د ..فخذ.. بغیر د حائل نه نۀ وه کومه چه ناجائز ده بلکه حائل سره وه یو د نبی صلی الله علیه وسلم لنګ او قمیص وو او بیا د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه لنګ

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱/۲۹۹)_

(۲) اوګورئ لامع (۱/۴۸۹) باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه شان مقدمة لامع (ص.۳۳۴. ۳۳۵) الأصل الحادی والثلاثون)_

(۳) صحیح بخاری (۱/۶۱) کتاب الصلاة)_

(۴) اوګورئ فتح الباری (۱/۵۲۳) کتاب الصلاة باب التیمن فی دخول المسجد وغیره وعمدة القاری (۴/۱۷۱)

(۵) أخرجه البخاری تعلیقاً فی کتاب الصلاة باب ما یذکر فی الفخذ. وموصولاً فی کتاب التفسیر. تفسیر سورة النساء باب ﴿لا یستوی القاعدون من المؤمنین﴾ .._

اوقمیص په مینځ کښې حائل وو.خوامام بخاری رحمه الله دے ته نظر نه کوی.او د ..فخذ.. د لغوی معنی اعتبار کوی.اوددے نه استدلال کوی. (۱)

⑤ کله امام بخاری رحمه الله په طریق د اولویت باندے ترجمه ثابتوی.لکه ((باب البول قاعداً وقائماً)) کښې دحضرت حذیفه رضي الله عنه روایت نقل کوی.((أن النبی ﷺ أتی سباطة قوم فبال قائماً)) (۲) روایت کښې د بول قاعداً ذکر نشته.حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی.امام بخاری رحمه الله دا په طریق د اولویت سره ثابت کړه ده.ځکه چه په ولاړه بولو کولو کښې جامو او بدن ته د متیازو څاڅکو ورتلو ویره وی.او ددوی د فعل نه ددے جواز ثابت شو.نو.بول قاعداً.. چه په دے کښې دا خطره نشته.اوپه هغې کښې سترهم زیات دے.به په طریقه اولی سره جائز وی.(۳)

دغه شان امام بخاری رحمه الله یوه ترجمه قائمه کړے ده.((باب التیمن فی الوضوء والغسل))اوددے لاندے ئے دحضرت ام عطیه رضي الله عنها روایت نقل کړے دے.چه نبی ﷺ د خپلے لور بی بی د غسل په باره کښې کله چه هغه وفات شوے وه . دا فرمائیلی وو.((وابدأ بمیامنها ومواضع الوضوء منها))(۴)

دلته کښې اشکال کیږی.چه امام بخاری رحمه الله خو په دے باب کښې د ژوندی دپاره د ((تیمن فی الوضوء والغسل)) بیان کوی.اوروایت د مړی د اودس اوغسل ذکر کوی.ددے جواب هم دا دے.چه امام بخاری رحمه الله په طریقه داولویت باندے استدلال کړے دے.چه هرکله د مړی دپاره دا حکم دے.نو دژوندی دپاره خو به په طریق اولی سره وی. (۵)

د جامع صحیح بخاری فضائل ① یو فضیلت خو ئے دا دے.چه امام بخاری رحمه الله ددے دتالیف په وخت کښې یوحدیث ترهغه وخته پورے نه دے لیکلے.ترڅوچه ئے د دے نه وړاندے غسل .دوه رکعته مونځ اود استخارے نه پس ددے حدیث د صحت یقین نه وو کړے. (۶)

② دویم فضیلت ئے دا دے.چه ددے ټول احادیث صحیح دی. (۷)

③ دریم فضیلت دا دے.چه د نبی ﷺ دخوب بشارت د دے د تالیف سبب جوړ شوے وو.د ابوزید مروزی بیان دے.چه زه د رکن او مقام په مینځ کښې اوده وم.چه دنبی کریم ﷺ زیات مے نصیب شو.نبی ﷺ اوفرمائیل.((یا أبازید إلی متی تدرس کتاب الشافعی ولاتدرس کتابی)) ماورته

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱/۴۷۹) کتاب الصلاة باب مایذکر فی الفخذ)_

(۲) اوګورئ رساله شرح تراجم ابواب البخاری(ص.۱۸) دغه شان اوګورئ مقدمة لامع(ص.۳۲۰) الأصل التاسع عشر)

(۳) اوګورئ رساله شرح تراجم ابواب البخاری(ص.۱۸)دغه شان اوګورئ مقدمة لامع (ص.۳۲۰) الاصل التاسع)

(۴) صحیح بخاری (۱/ ۲۸. ۲۹) کتاب الوضوء)_

(۵) اوګورئ رساله شرح تراجم أبواب البخاری ⑱ دغه شان مقدمة لامع(ص.۳۲۰) الأصل التاسع عشر)_

(۶) اوګورئ تاریخ بغداد (۲/۱۹) وتهذیب الأسماء واللغات (۱/۱۷۴) وهدی الساری (ص.۴۸۹) وسیرأعلام النبلاء (۱۲/۴۰۲)_

(۷) تاریخ بغداد (۲/۱۹) تهذیب الأسماء واللغات (۱/۱۷۲) وسیرأعلام النبلاء (۱۲/۴۰۲)_

عرض اوكړلو.يا رسول الله ستاسو كتاب كوم يو دے؟ نو وے فرمائيل:«جامع محمد بن اسماعيل» ([1])

⑥ خلورم فضيلت دا دے.چه لکه څنګه ددے کتاب باطنی برکات دی.اوپه دے باندے عمل کولوسره سړی ته په دین کښے ترقی ملاویږی.دغه شان ددے ظاهری برکات هم دی.

ابن ابی جمره رحمه الله فرمائی.چه ماته بعضے عارفینو د داسے بزرګانو نه نقل کړی دی .چه دهغوی د فضل او بزرګئ په خلقو کښے ښه شهرت اواعتراف وو.که صحیح بخاری په څه مصیبت کښے اولوستے شی.هغه به لرے شی.اوکه په کشتئ کښے ئے خان سره په سفر کښے اوساتی.نوهغه به ډوبیدو نه محفوظه وی.اونجات به مومی .مصنف رحمه الله مستجاب الدعوات وو.هغوی ددے د لوستونکو دپاره دعا کړے ده. ([2])

علامه جمال الدين رحمه الله دخپل استاذ اصيل ا لدين نه نقل کړی دی.چه فرمائيل ئے .ما دا كتاب تقريباً يوسل شل كرته لوستے دے.په كوم نيت چه مے هم وئيلے دے.نو هغه مراد مے پوره شوے دے.([3]) ددے وجے دبخاری رحمه الله د ختم رواج په عالمانو اومحدثينو رحمهم الله كښے راروان دے.داسلسله د كوم وخت نه راروانه ده.په دے باره كښے يقينى خبره نشى كولے.خو د اوومے اتمے صدئ نه ددے پته لګی.كيدے شی . چه ددے نه وړاندے هم دا سلسله جارى وه.

أصح الكتب بعد كتاب الله الصحيح البخاري

دصحيح بخارى د شرطونو ،خصوصياتو ،اوفضائلو پيژندلو نه پس دا خبره ښكاره كيږى.چه دے ته دحديث په نوروكتابونو باندے مجموعى طورفوقيت حاصل دے .څكه چه امام بخارى رحمه الله چه په كوم باريك نظرئ اواحتياط سره دصحيح احاديثو انتخاب كړے دے.اوبيا دهغوى جلالت شان اوپه معرفت علل كښے هم د هغوى مقام مقدم دے.ددے څيزونو په رڼړا كښےكه د «أصح الكتب بعد كتاب الله صحيح البخاري» اطلاق پرے شوے وی.نودا به بے ځايه نه وی.دصحيح بخارى نه وړاندے د موطا مالك دپاره د امام شافعى رحمه الله نه داسے الفاظ منقول دی.خوچونكه په موطا كښے د مراسيل، بلاغاتو او منقطعاتو كافى تعداد موجود دے.كوم چه د امام مالك رحمه الله په نيز حجت دی.اود كتاب د موضوع په مينځ كښے داخل دی.اوپه صحيح بخارى كښے عام طور احاديث صحيح متصله دی.اوتعليقات، وغيره چه په كښے داستشهاد دپاره راوړلے شوی دی.د كتاب د مينځ جزء نه دے.څكه متاخرينو رحمهم الله د صحيح بخارى په باره كښے د «أصح الكتب بعد كتاب الله صحيح البخاري» اطلاق بيان كړلو.اوهم دا ئے خپل كړلو.

---

(١) هدى السارى (ص،٤٨٩)_

(٢) هدى السارى)_

(٣) اشعة اللمعات (١/١١)_

دصحیح بخاری سره صحیح مسلم هم د صحت په اعتبار سره شریك دے خود حدیثو جمهور عالمانو ﷫ صحیح بخاری ته په صحیح مسلم باندے فوقیت ورکړے دے حافظ ابن حجر﷫ د صحیح بخاری فوقیت ثابتوی اوفرمائی.

۱) که د راویانو د عدالت په اعتبار سره اوکتلے شی نودصحیح بخاری فضیلت داسے ثابتیږی چه امام بخاری په کومو راویانو کښے منفرد دے دهغوی تعداد څلور سوه پنځه دیرش دے په هغې کښے متکلم فیه راویان صرف اتیا دی اوامام مسلم ﷫ په شپږ سوه شل راویانو کښے متفرد دےاوپه دے کښےمتکلم فیه راویان یو سل شپته دی دا تعداد د امام بخاری﷫ د متکلم فیه راویانو په دوچنده دے ښکاره خبره ده چه د متکلم فیه راویانو تعداد په کوم کښے کم وی هغه ته به فضیلت وی

۲) بیا امام بخاری﷫ چه د کومو متکلم فیه راویانو نه احادیث نقل کړی دی نو د هغوی نه ئے زیات احادیث نه دی اخستے اوامام مسلم﷫دخپل متکلم فیه راویانو نه زیات احادیث اخستے دی.

۳)یوه وجه دا هم ده چه دامام بخاری﷫ دمتکلم فیه راویان دهغوی خپل استاذان او براه راست شیوخ دی چه دهغوی دحالاتو اودهغوی دصحیح اوسقیم روایاتو نه امام بخاری﷫ ښه خبر وو نوامام بخاری﷫ دهغوی ټول احادیث چه څنګه ورته ملاؤ شوی دی نه دی نقل کړی بلکه ښه پوره نچوړ ئے په کښے کړے دے اونقل کړی ئے دی حالانکه د امام مسلم﷫ متکلم فیه راویان دهغوی براه راست شیوخ نه دی بلکه متقدمین دی.

۴) بیا امام بخاری﷫ د دغه متکلم فیه راویانو احادیث اکثر په استشهاد، متابعاتو او تعلیقاتوکښے راوړی حالانکه امام مسلم ئے په اصل کتاب کښے داحتجاج په طور نقل کوی

۵) داتصال سند په اعتبار سره صحیح بخاری ته داسے فوقیت حاصل دے چه د امام مسلم مذهب دا دے چه حدیث معنعن دمتصل په حکم کښے وی خو په دے شرط چه راوی او مروی عنه په یوه زمانه کښے وی اګرچه ددوی په مینځ کښے ملاقات ثابت نه وی حالانکه امام بخاری﷫ په خپل جامع کښے دا مسلك اختیار کړے دے چه حدیث معنعن داتصال په حکم کښے هله ګڼړی چه دمعاصرت سره سره کم از کم یو ځل ملاقات هم ثابت وی ښکاره ده چه دامام بخاری شرط داتصال په اعتبار سره زیات قوی اوسخت دے.

۶) دعلت اوشذوذ د انتفاء په اعتبار سره صحیح بخاری ته په صحیح مسلم فوقیت داسے حاصل دے چه دصیحینو په احادیثو کښے ټول په دوه سوه احادیثو باندے کلام شوے دے چه په دے کښے داتیاؤ احادیثو نه هم کم په بخاری کښے دی او باقی احادیث په صحیح مسلم کښے دی (۱)

اوس د دے تفصیل نه به ښه معلومه شوے وی چه صحیح بخاری ته په صحیح مسلم او نورو دحدیثو په کتابونو باندے فوقیت حاصل دے

---

۱. اوګورئ هدی الساری (ص۱۱،۱۲)_

یوه غلط فهمي خو ددې دا مطلب نه دې چه د صحیح بخاری هریو حدیث ته د صحیح مسلم یا د حدیث د نورو کتابونو په هر یو حدیث باندې فوقیت حاصل دې بلکه صحیح بخاری ته چه کوم فوقیت حاصل دې هغه په مجموعي طور حاصل دې څنګه حافظ سیوطی رحمه الله په تدریب الراوی کښې نقل کوی «قد یعرض للمفوق ما یجعله فائقاً کأن یتفقا علی إخراج حدیث غریب، ویخرج مسلم اوغیره حدیثاً مشهوراً أو مما وصفت ترجمته بکونها أصح الأسانید، ولا یقدح ذلك فیما تقدم أی من کون ما فی البخاری فائقاً، لأن ذلك باعتبار الإجمال، قال الزرکشی ومن ههنا یعلم أن ترجیح کتاب البخاری علی مسلم وغیره إنما المراد به ترجیح الجملة علی الجملة لا کل فرد من أحادیثه علی کل فرد من أحادیث غیره» (۱)

په اصل کښې ددې غلط فهمۍ شروع د هغه تقسیم نه کیږی کوم چه حافظ ابن الصلاح رحمه الله د صحیح د مراتبو په بیان کښې ذکر کړی دی هغوی د صحیح قسمونه بیانوی او فرمائی «فأولها صحیح أخرجه البخاری ومسلم جمیعاً، الثانی صحیح إنفرد به البخاری أی عن مسلم، الثالث، صحیح إنفرد به مسلم أی عن البخاری، الرابع صحیح علی شرطهما لم یخرجاه، الخامس: صحیح علی شرط البخاری لم یخرجه: السادس: صحیح علی شرط مسلم لم یخرجه، السابع صحیح عند غیرهما ولیس علی شرط واحد منهما، هذه أمهات أقسامه وأعلاها الأول» (۲)

دحافظ ابن الصلاح په اتباع کښې دحدیث نورو عالمانو هم دا تقسیم ذکر کړے دے خو د حدیث محققینو عالمانو رحمهم الله دا رد کړے دے د تولو نه وړاندې محقق ابن الهمام رحمه الله دا تقسیم رد کړے دے هغوی په فتح القدیر کښې لیکلی دی

«وکون معارضه فی البخاری لا یستلزم تقدیمه بعد إشتراکهما فی الصحة بل یطلب الترجیح من خارج، وقول من قال: أصح الأحادیث ما فی الصحیحین ثم ما إنفرد به البخاری ثم ما إنفرد به مسلم، ثم ما إشتمل علی شرطهما من غیرهما، ثم ما إنفرد علی شرط أحدهما، تحکم لا یجوز التقلید فیه، إذ الأصحیة لیس إلا لإشتمال رواتهما علی الشروط التی إعتبراها، فإذا فرض وجود تلك الشروط فی رواة حدیث فی غیر الکتابین أفلا یکون الحکم بأصحیة ما فی الکتابین عن التحکم، ثم حکمهما أو أحدهما بأن الراوی المعین مجتمع تلك الشروط لیس مما یقطع فیه بمطابقة الواقع فیجوز کون الواقع خلافه، وقد أخرج مسلم عن کثیر فی کتابه لم یسلم من غوائل الجرح، وکذا فی البخاری جماعة تکلم فیهم، فدار الأمر فی الرواة علی إجتهاد العلماء فیهم، وکذا فی الشروط، حتی

---

(۱) تدریب الراوی (۱/۲۴) دغه شان اوګورئ شرح نخبة الفکر (ص.۴۰) قواعد فی علوم الحدیث (ص.۶۵) ما تمس إلیه الحاجه (ص.۲۲) تعلیقات الشیخ نورالدین عتر علی مقدمة ابن الصلاح (ص.۱۹)۔

(۲) علوم الحدیث لإبن الصلاح (۲۷، ۲۸)۔

إن من إعتبر شرطاً وألغاه آخر يكون ما رواه الآخر مما ليس فيه ذلك الشرط عنده مكافئاً لمعارضة المشتمل على ذلك الشرط وكذا فيمن ضعف راوياً ووثقه الآخر»(۱)

د محقق ابن الهمام رحمه الله تائيد حافظ زين الدين قاسم قطلوبغا او علامه ابن اميرالحاج (۲) کړے دے. بيا دلته کښے د سوچ خبره ده.چه «ماأخرجه الشيخان» مطلقاً څنګه اصح ګرځولے شي.حالانکه پخپله امام بخارى رحمه الله فرمائى.«ما أدخلت فى كتابى الجامع الصحيح ،تركت من الصحاح لحال الطول» (۳) دغه شان امام مسلم رحمه الله فرمائى.«ليس كل شئ عندى صحيح وضعته ههنا» (۴) ددے وجے د حافظ ابن الصلاح رحمه الله دا تقسيم حافظ ابن حجر رحمه الله نه دے تسليم کړے.

«ثم إن البخارى ومسلم لم يلتزما بإخراج جميع ما يحكم بصحته من الأحاديث،فإنهما صححا أحاديث ليست فى كتابيهما،كما ينقل الترمذى وغيره عن البخارى تصحيح أحاديث ليست عنده بل فى السنن وغيرها»(۵)

دغه شان هغوى فرمائى.

«وقد خرجت كتب كثيرة على الصحيحين،يؤخذ منها زيادات مفيدة وأسانيد جيدة كصحيح أبى عوانة وأبى بكر الإسماعيلى والبرقانى،وأبى نعيم الأصبهانى وغيرهم ، و كتب أخر التزم أصحابها صحتها كإبن خزيمة ،وابن حبان البستى،وهما خير من المستدرك،بكثير وانظف أسانيد ومتوناً،وكذلك يوجد فى مسند الإمام احمد من الأسانيد والمتون شئ كثير مما يوازى كثيراً من أحاديث مسلم ،بل والبخارى أيضاً وليست عندهما ولا عند أحدهما،بل ولم يخرجاه ولم يخرجه أحد من أصحاب الكتب الأربعة وهم ابوداود والترمذى والنسائى وابن ماجه»(۶)

دغه شان په دے ترتيب باندے علامه قسطلانى شارح د صحيح بخارى هم تنقيد کړے دے هغوى د ابن الهمام رحمه الله قول دتائيد اواستحسان په طورنقل کوى.

«وهذا تحكم محض لأنه إذا كان الفرض، أن المروى على نفس الشرط المعتبر عندهما فلم يفته إلا كونه لم يكتب فى خصوص أوراق معينة»(۷)

---

(۱) فتح القدير (۳۱۷/۱. ۳۱۸) باب النوافل)_

(۲) اوګورئ قفوالأثر (ص.۵۷) التقرير والتحرير (۳۰/۳)_

(۳) اوګورئ علوم الحديث لإبن الصلاح (ص.۱۹)_

(۴) اوګورئ صحيح مسلم (۱۷۴/۱) كتاب الصلاة باب التشهد فى الصلاة)_

(۵) إختصار علوم الحديث مع الباعث الحثيث (ص.۱۹. ۱۸)_

(۶) پورتنئ حواله.

(۷) ارشاد السارى كذا فى تعليقات ذب ذبابات الدراسات (۲۴۰/۲. ۲۴۱)_

د ذکر شوی ترتیب رد کونکی صرف دا حضرات نه دی.بلکه علامه رضی الدین ابن الحنبلي رحمه الله (۱) علامه عبدالحق دهلوی رحمه الله (۲) علامه محمد اکرم نصر پوری (۳) ملا علی قاری (۴) علامه عبداللطیف سندهی (۵) علامه امیر صنعانی (۶) شیخ احمد شاکر (۷) علامه کوثری (۸) مولانا ظفر احمد عثمانی (۹) رحمهم الله تعالی هم دی.

په اصل کښې ددې ټولوحضراتو ددې په رد کولو کښې مقصد دا دې چه دحدیث دصحت مدار په دې خبره باندې نه وی.چه فلانې حدیث په صحیح بخاری یا صحیح مسلم کښې یا په فلانی کتاب کښې شته که نه.بلکه ددې مدار خو دشرطونو د صحت په وجود باندې دې په کوم حدیث کښې چه د صحت شروط څومره پوره وی.نوهغه حدیث به دصحت په دغه مرتبه وی. لکه حافظ عراقی رحمه الله چه صراحت کوی.

«القول المعتمد علیه المختار أنه لایطلق علی إسناد معین بأنه أصح الأسانید، لأن تفاوت مراتب الصحة مرتب علی تمکن الإسناد من شروط الصحة» (۱۰)

دغه شان فرمائی.«إعلم أن درجات الصحیح تتفاوت بحسب تمکن الحدیث من شروط الصحة وعدم تمکنه» (۱۱)

علامه زین الدین قاسم بن قطلوبغا رحمه الله فرمائی.

«قوة الحدیث إنما هی بالنظر إلی رجاله لا بالنظر إلی کونه فی کتاب کذا» (۱۲) بیا دلته دا خبره هم د غور قابله ده.چه ټول عالمان په دې باندې اقرار کوی.چه په صحیحینو کښې څه احادیث متکلم فیه دی.اودغه شان څه راویان متکلم فیه دی.هم دا وجه ده.چه امام بخاری رحمه الله د خپلو

---

(۱) اوګوری: قفوا الأثر (ص.۵۷)
(۲) شرح سفر السعادة اوګوری ..ذب ذبابات الدراسات عن المذاهب الأربعة المتناسبات (۲/۲٤۲)
(۳) اوګوری: أمعان النظر (ص.۶۳)_
(۴) کذا فی ذب الذبابات الدراسات (۲/۲٤۲)_
(۵) ذب ذبابات الدراسات (۲/۲٤۲)_
(۶) توضیح الأفکار اوګوری: تعلیقات قفوا الأثر (ص.۵۷) وتعلیقات ..النکت علی کتاب ابن الصلاح (۱/۲۹۸)
(۷) تعلیقات مسند احمد (۱۳/۱۶) والباعث الحثیث (ص.۲۲) _
(۸) تعلیقات شروط الأئمة الخمسة للحازمی (ص.۸۳)_
(۹) قواعد فی علوم الحدیث (۳۵، ٦٤ ۶۶) _
(۱۰) شرح الألفیه للعراقی (ص.۹)_
(۱۱) شرح الألفیة للعراقی (ص.۲۱)_
(۱۲) القول المبتکر علی شرح نخبة الفکر - کذا فی تعلیقات الشیخ ابوغدة علی قفوا الأثر (ص.۵۷)_

متکلم فیه شیوخو هر حدیث نه اخلی بلکه په هغې کښې چه په کوم روایت د هغه اطمینان وی هغه روایات د استشهاد او متابعت دپاره ذکر کوی بنکاره ده چه د دوی درجه هغه نه ده کوم چه امام بخاری رحمه الله د احتجاج او استدلال په طور ذکر کوی (۱)

دغه شان حاکم رحمه الله فرمائی «ولم یحکما ولا واحد منهما أنه لم یصح من الحدیث غیر ما أخرجه» (۲)

خلاصه دا چه د حافظ ابن الصلاح رحمه الله بیان کړے ترتیب د حدیث عالمانو عموماً او احنافو محدثینو خصوصاً رد کړے دے د حدیث د نورو کتابونو د حدیث د صحیحینو د صحیح بخاری د حدیث سره معارضه هم کوی او ګورئ علامه حازمی رحمه الله په خپل کتاب «الاعتبار فی الناسخ والمنسوخ من الآثار» کښې چه د احادیثو په مینځ کښې د تعارض په وخت کښې د ترجیح ورکولو کوم وجوهات لیکی هغوی تقریباً پنځوس وجوهات لیکلی دی په هغې کښې په یوځائې کښې هم دا وجه د ترجیح نه ده لیکلې چه «ماأخرجه الشیخان أو أحدهما» نه به د تعارض په وخت کښې ترجیح وی (۳)

حافظ عراقی په «التقیید والإیضاح لما أطلق وأغلق من کتاب ابن الصلاح» د ترجیح یو سل نس وجوه ذکر کړی دی په دے کښې نے «کون أحد الحدیثین أتفق علیه الشیخان» په یو سل دوه نمبر باندے ذکر کړے دے (۴) علامه ظفراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی «فیجوز معارضة حدیث أخرجاه أو واحد منهما بحدیث صحیح أخرجه غیرهما» (۵)

دغه شان علامه عراقی رحمه الله فرمائی «إنما یرجح بما فی الصحیحین علی ما فی غیرهما من الصحیح حیث کان ذلك الصحیح مما لم تضعفه الأئمة ،فأما ما ضعفوه فلا یقدم علی غیره لخطأ وقع من بعض رواته» والله أعلم (۶)

هم دا وجه ده چه د صحیحینو د جلالت باوجود د هغې د احادیثو سره عالمانو موازنه کړے ده او د معارضه په صورت کښې نے بعضے وخت د غیر صحیحینو احادیثو ته د صحیحینو په احادیثو باندے ترجیح هم ورکړے ده مولانا عبدالرشید نعمانی صاحب په خپل کتاب «ابن

---

(۱) او ګورئ نصب الرأیة (۱ ۳٤۱)_

(۲) مستدرک حاکم (۱ ۲)_

(۳) او ګورئ شرح الألفیه للعراقی (ص.۳۳۷)_

(۴) التقیید والإیضاح (.۲۸۹) النوع السادس والثلاثون معرفة مختلف الحدیث)_

(۵) قواعد فی علوم الحدیث (ص.۶۳)_

(۶) او ګورئ التعقیبات علی الدراسات (ص.۳۷۵)_

ماجه اورعلم حدیث)) کښے د ابن ماجه څو داسے احادیث پیش کړی دی چه هغې ته ئے د صحیح بخاری په احادیثو باندے مقابله کښے ترجیح ورکړے ده (۱)

ب: علامه ابن امیر الحاج رحمه الله فرمائی ((ثم مم ینبغی التنبه له أن أصحیتهما علی ما سواهما تنزلاً إنما تکون بالنظر إلی من بعدهما لا المجتهدین المتقدمین علیهما، فإن هذا مع ظهوره قد یخفی علی بعضهم أو یغالط به والله سبحانه أعلم))(۲)

علامه کوثری رحمه الله ددے په تشریح کښے لیکی ((یرید أن الشیخین وأصحاب السنن جماعة متعاصرون من الحفاظ أتوا بعد تدوین فقه الإسلامی، واعتنوا بقسم من الحدیث، وکان الأئمة المجتهدون قبلهم أوفر مادة وأکثر حدیثاً بین أیدیهم المرفوع والموقوف والمرسل وفتاوی الصحابة والتابعین، ونظر المجتهد لیس بقاصر علی قسم من الحدیث ،،ودونك ،،الجوامع،، والمصنفات،، فی کل باب منها تذکر هذه الأنواع التی لایستغنی عنها المجتهد وأصحاب الجوامع والمصنفات قبل الستة من الحفاظ ،أصحاب هؤلاء المجتهدین وأصحاب أصحابهم ،والنظر فی أسانیدها کان أمراً هیناً عندهم لعلو طبقتهم لاسیما واستدل المجتهد بحدیث صحیح له، والإحتیاج إلی الستة، والإحتجاج بها إنما هو بالنظر إلی من تأخر عنهم فقط والله أعلم))(۳)

علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی.

((لو سلم أصحیة ما فی کتابیهما فهذا مما یلتفت إلیه فی المعارضة کما إذا قام الرجلان بینة وشهود کلیهما عدول، ولکن شهود أحدهما أتقی وأورع من شهود الآخر فلا یترجح بینته لهذه الزیادة بعد إشتراکهما فی العدالة الشرعیة، بل یطلب الترجیح من خارج))(۴)

بیا بعضے حضراتو د صحیحینو د ترجیح دپاره دا هم وئیلی دی چه دے دواړو کتابونو ته تلقی بالقبول حاصله ده.

خودا خبره علامه امیر صنعانی او علامه ابوالفضل جعفر بن ثعلب اوفوی رحمه الله رد کړے ده:

علامه اوفوی رحمه الله فرمائی چه امت تلقی صرف د صحیحینونه ده کړے بلکه د حدیث د نورو کتابونو تلقی ئے هم کړے ده. چه په هغې کښے صرف صحیح احادیث نه بلکه حسن احادیث هم داخل دی.

---

(۱) اوګورئ ابن ماجه اور حدیث (ص۲۴۳، ۲۴۴)۔

(۲) التقریر والتحریر (۳/۳۰) فصل فی التعارض)۔

(۳) تعلیقات شروط الأئمة الخمسة للحازمی (۸۳)۔

(۴) قواعد فی علوم الحدیث (ص.۶۵)۔

علامه امیر صنعانی رحمه الله فرمائی.((تلقی الأمة بالقبول)) مطلب هم دا دے.چه دا احادیث ثابت دی.اوبعضے خلق په دے باندے عمل کوی.اوبعضے خلق په دے کښے تاویل کوی.کتل دا پکار دی.چه آیا دا تلقی د صحیحنو احادیثو ته حاصله ده.؟

اوس مونږ دا تپوس کوو.چه د ..تلقی امت.. نه ټول امت مراد دے.که حضرات مجتهدین ښکاره خبره ده چه ټول امت مراد نشی کیدے.نومعلومه شوه.چه ددے نه د امت مجتهدین مراد دی.اوس کتل دا پکار دی.چه آیا دامت په مجتهدینو کښے هر یو فرد ..تلقی بالقبول.. کړے ده.ښکاره خبره ده.چه ددے دعوے دپاره د دلیل ضرورت دے.کوم چه عادة متعذر دے.ځکه چه دا دعوے په اجماع باندے د دلائلو داقامت د قبیلے نه دی.امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.((من ادعی الإجماع فهو کاذب)) کله چه دصحیحینو د تالیف نه وړاندے: اجماع دا حال دے.نو په روستو زمانه کښے به د اجماع څه حیثیت وی.

بیا که چرته دا تسلیم کړے شی.چه صحیحینو ته تلقی دامت بالقبول حاصل ده.اود امت په دے باندے اجماع ده.نو بیا به هم دا منل پکار وی.چه اول د صحیحینو تالیف شوے وو.اوبیا دهغے شهرت شوے دے.مشرق اومغرب ته دا دواړه کتابونه اورسیدل.اوهرمجتهد ددے نه خبر شو.بیا په څه وخت کښے پرے اتفاق اواجماع اوشوه.خودا خبره محل د نظرده.چه هرمجتهد د صحیحینو نه واقف شوے دے.

بل دا سوال هم واردیږی.چه د تلقی امت نه څه مراد دی؟که دا مراد وی.چه امت دا پیژنی.چه صحیحین د امام بخاری رحمه الله او امام مسلم رحمه الله کتابونه دی.نودا مفید د مطلوب نه ده.اوکه دا مراد شی.چه د صحیحینو دهر یو حدیث په باره کښے امت ته دا یقین دے.چه دا د رسول الله ﷺ نه ثابت دے.نودا مفید د مطلوب ضرور دے .خو ښکاره خبره ده.چه دا دعوی مسلمه نه ده.ځکه چه د صحیحینو دکم نه کم دوه او لسو احادیثو باندے کلام شوے دے.دغه شان په دے کښے متکلم فیه راویان هم په سوؤونو دی.نومعلومه شوه.چه دامت په دے خبره باندے اجماع هم نه ده.چه د صحیحینو هریو حدیث ملقی بالقبول دی.اود رسول الله ﷺ نه ثابت دے.بیاکه بالفرض دا هم اومنلے شی.چه تلقی بالقبول هرحدیث ته حاصله ده.نو بیا هم خطا ممکنه ده.ځکه چه د امت معصوم عن الضلالة ضمانت خو اخستے شوے دے.خود معصوم عن الخطا ضمانت نه دے اخستے شوے.

بیا که مونږ دا هم اومنو.چه دامت ټولو مجتهدینو دصحیحینو احادیث قبول کړی دی .او هم ددے وجے ددے ارجحیت ثابتیږی.نوبیا خو د صحیحنو په مینځ کښے فرق نه دے پکار.نو

«ما انفرد به البخارى» ته په «ما انفرد به مسلم» باندے ترجيح نه دى وركول پكار.(١) والله سبحانه اعلم

بسم الله الرحمن الرحيم

باب بدء الوحى

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد النبى الأمى وعلى آله وصحبه أجمعين.

دامام بخارى رحمه الله د شروع طريقه او په دې باندې اعتراض مصنف رحمه الله دا كتاب د بسم الله نه شروع كړے دے. د كتاب په شروع كښے ئے نه څه خطبه راوړے ده. چه په هغے كښے مقصود طرف ته اشاره وى. او نه د ..حمد.. صلاة.. او ..شهادة.. ذكر شته. حالانكه قانون دا دے چه مصنفين د خپلو كتابونو شروع د ..حمد.. ..شهادة.. او ..صلاة.. نه كوى.

تركومے پورے چه د خطبه تعلق دے نو ددے دپاره د څه خاص لفظ يا مخصوص سياق متعين نه دے بلكه دهر داسے څيز نه شروع كول كافى دى. كوم چه په مقصود باندے دلالت كوى. امام بخارى رحمه الله دا مقصود د ..بسم الله.. نه پس د ..باب بدء الوحى.. ترجمے انعقاد كړے دے. اوددے نه پس ئے د ټولو نه اولنے حديث «إنما الأعمال بالنيات» ذكر كړے دے. اوښكاره كړے ئے ده. چه په دے كتاب كښے .. وحى سنت ..(وحى غيرمتلو) جمع كول غواړم كومه چه د نبى كريم ﷺ نه منقول ده. اوهم ددے ځائے نه په دے كښے د نيت اندازه پخپله لګولے شى خكه چه د امام بخارى رحمه الله عادت دے چه دوى ..اخفى.. په ..اجلى.. باندے ترجيح وركوى (يعنى پټ ته په ښكاره باندے ترجيح وركوى) امام بخارى رحمه الله د خپل كتاب په ابتداء كښے هم داسے كړى دى.(٢) باقى پاتے شوه دا خبره چه امام بخارى رحمه الله په كتاب كښے نه ..حمد.. ذكركړے دے اونه ..صلاة.. اونه شهادت. حالانكه د احاديثو نه ددے مطالبه معلوميږى.

د ..حمد.. مطالبه دحضرت ابوهريره رضى الله عنه په حديث كښے راغلے ده. «قال رسول الله ﷺ كل كلام لا يبدأ فيه ..بالحمد لله.. فهو أجذم» رواه ابوداود(٣) (واللفظ له) وابن ماجه(٤) والنسائى فى عمل اليوم والليلة(٥) وابوعوانة فى أول مستخرجه على صحيح مسلم(٥) وابن حبان(٥) وغيرهم(٥) حسنه ابن الصلاح(٦) والنووى(٦)

---

(١) هذا ملخص ما فى ..العقيبات على الدراسات.. للمحدث الناقد الشيخ عبدالرشيد النعمانى حفظه الله (ص. ٣٨٥، ٣٨٩)_

(٢) اوګورئ فتح البارى (٨/١)_

(٣) سنن ابى داود كتاب الأدب باب الهدى فى الكلام رقم. ٤٨٤٠)_

(٤) سنن ابن ماجه كتاب النكاح. باب خطبة النكاح رقم. ١٨٩٤)_

(٥) اوګورئ: تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف للحافظ المزى (١١/ ٤٠، ٤١)_

(٦) قاله النووى فى فاتحة المجموع شرح المهذب (٧٢/١)_

د شهادت متعلق هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه مرفوع روایت دے «کل خطبة لیس فیها تشهد فهی کالید الجذماء» رواه ابوداود(۵) والترمذی(۶) واحمد(۷) قال الترمذی، هذا حدیث حسن صحیح غریب،(۸)
او د صلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم مطالبه هم د بعضے روایاتو نه معلومیږی امام دیلمی رحمه الله په ..مسند الفردوس.. کښے او عبدالقادر رهاوی رحمه الله په ..اربعین.. کښے د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت نقل کړے دے چه «کل أمری ذی بال لایبدأ فیه بحمد الله والصلاة علی فهو أقطع أبتر ممحوق من کل برکة»(۹) او ابن منده رحمه الله په ..فضائل.. کښے دا حدیث «کل کلام لا یذکر الله فیه فیبدأ به ویصلی علی فیه فهو أقطع أکتع ممحوق من کل برکة»(۱۰) الفاظ نقل کړی دی.

د اشکال جوابونه (۱) خو په دے روایاتو کښے یوهم د امام بخاری رحمه الله د شرط مطابق نه دے (۱۱) ځکه چه د اول روایت په سند کښے ..قرة بن عبدالرحمن.. دے (۱۲) امام بخاری رحمه الله د دوی کوم روایت نه دے اخستے امام مسلم رحمه الله د ده روایات په شواهدو او متابعاتو کښے اخستے دی.(۱۳)

---

(۱) انظر الطبقات الشافعیة الکبری للتاج السبکی (۱/ ٤)_

(۲) مثل الدارقطنی فی سننه (۱/ ۷۳) فاتحة کتاب الصلاة وعبدالقادر الرهاوی فی أربعینه کما فی المجموع شرح المهذب للنووی رحمه الله (۱/ ۷۳) وقال التاج السبکی رحمه الله فی طبقاته (۱/ ٤) وکذلک أخرجه الحاکم فی مستدرکه)_

(۳) قال التاج السبکی فی طبقاته (۱/ ٤) وقضی ابن الصلاح بأن الحدیث حسن ..)_

(۴) انظر المجموع شرح المهذب (۱/ ۷۳) فقد حسنه ابن الصلاح رحمه الله والنووی والعراقی والحافظ ابن حجر کما فی الفتوحات الربانیة عی الأذکار النوویة لابن عجلان (۳/ ۲۸۸) و(۶/ ۴۳)_

(۵) سنن ابی داود کتاب الأدب باب فی الخطبة رقم ٤٨٤١)_

(۶) سنن الترمذی. کتاب النکاح. باب ما جآء فی خطبة النکاح رقم ۱۱۰۶)_

(۷) مسند احمد (۲/ ۳۰۲، ۳٤۳)

(۸) کذافی النسخة التی حققها الشیخ احمد بن محمد الشاکر .محمد فواد عبدالباقی والشیخ ابراهیم عطوه عوض _ وأما فی النسخة المطبوعة مع تحفة الأحوذی ففیها ..هذا حدیث حسن غریب.. أنظر (۲/ ۱۷۹)_

(۹) کذا فی الجامع الکبیر للسیوطی رحمه الله (۱/ ۶۲۳)_

(۱۰) کذا فی الجامع الکبیر (۱/ ۶۲۳) وکنزالعمال (۳/ ۲۶۵) رقم ۶٤۶۳)_

(۱۱) قال الحافظ رحمه الله فی فتح الباری (۱/ ۸) والجواب .أن الحدیثین (أی حدیث الحمد والشهادة) لیسا علی شرطه .بل فی کل منهما مقال)_

(۱۲) قرة بن عبدالرحمن حیویل _ بمهملة مفتوحة تحتانیة وزن جبریل _ المعافری المصری .یقال إسمه یحیی .صدوق له مناکیر من السابعة .مات سنة سبع وأربعین (أی بعدالمائة أخرج له مسلم والأربعة کذا فی تقریب التهذیب (۵۵٤) رقم الترجمة (٥٥٤۱) وانظر تهذیب الکمال (۲۳/ ۵۸۱) رقم الترجمة (٤٨۷۱) ومیزان الإعتدال (۳/ ۳۸۸) رقم الترجمة (۶۸۸۶) ولسان المیزان (۸/ ۳۷۲ ، ۳۷٤) رقم (۶۶۱)_

(۱۳) خرج له مسلم فی الشواهد_ میزان الإعتدال (۳/ ۳۸۸) وانظر طبقات الشافعیة للسبکی (۱/ ٤)_

دغه شان په دے روايت كښے وصلا وارسالا اختلاف دے.قره دا موصولا نقل كوى او يونس. عقيل. شعيب. اوسعيد بن عبدالعزيز رحمهم الله نے ارسالا نقل كوى (١) امام دارقطني رحمه الله فرمائى.((والمرسل هوالصواب))(٢)

د دويم روايت په سند كښے عاصم بن كليب دے (٣) د دوى نه امام مسلم رحمه الله اونورو اصحاب اصول روايتونه اخستى دى اوامام بخارى رحمه الله ددوى نه هيڅ يوروايت اصلا نه دے نقل كړے(٤)د دريم روايت په سند كښے اسماعيل بن ابى زياد شامى دے (٥)

حافظ عبدالقادر رهاوى رحمه الله فرمائى ((غريب، تفرد بذكر الصلاة فيه إسماعيل بن أبي زياد الشامي،وهو ضعيف لايعتد بروايته ولا بزيادته))(٦)

خودا جواب ضعيف دے.ځكه چه امام بخارى رحمه الله په خپل ..صحيح.. كښے حديث ذكركولودپاره دغسل .دوه ركعته نفلونو او استخارے پورے اهتمام كړے وو (٧) حالانكه په دے كښے د يو ذكر هم په حديث كښے نشته.او د تسميه اوتحميد دپاره حديث خو شته اګرچه ضعيف وى.

دويمه دا لكه چه ذكر شو.چه د ..قره.. متابعين موجود دى.نو ضعف هم باقى پاتے نشو

دريمه دا چه هسے هم د فضائلو په احاديثو كښے زيات تحقيق نه كيږى په ضعيف حديث باندے هم عمل كولے شى.(٨)

څلورمه داچه شاه انورشاه كشميرى رحمه الله د صحت دپاره څلور معياره مقرر كړى دى

(١) قاله ابوداود فى سننه فى كتاب الأدب باب الهدى فى الكلام رقم ٤٨٤٠)_

(٢) سنن دارقطنى (١/٢٢٩) فاتحة كتاب الصلاة)_

(٣) قال الحافظ فى التقريب:عاصم بن كليب بن شهاب بن المجنون الجرمى الكوفى :صدوق رمى بالإرجاء من الخامسة مات سنة بضع وثلاثين (أى بعدالمائة)خت (أى البخارى فى صحيحه تعليقا)م ٤)

(٤) استشهد به ا لبخارى فى ..الصحيح.. وروى له فى كتاب رفع اليدين فى الصلاة وفى .. الأدب.. وروى له الباقون – كذا فى تهذيب الكمال للمزى (١٣/٥٣٩) رقم الترجمة (٣٠٢٤)_

(٥) اسماعيل بن ابى زياد أ ابن أبى زياد .الكوفى.قاضى الموصل.متروك.كذبوه. من الثامنة ق.(أى أخرج له ابن ماجه فى سننه) تقريب التهذيب (ص.١٠٧) رقم الترجمة (٤٤٦)_

(٦) انظر الجامع الكبير للسيوطى (١/٦٢٣)_

(٧) اوګورئ لامع الدرارى (١/١٢٢) الفائدة السادسة فيما اهتم به البخارى فى تاليفه من الغسل والصلاة وغيرذلك) علامه عينى رحمه الله فرمائى.((ولئن سلمنا أن الحديث ليس على شرطه فلا يلزم من ذلك ترك العمل به.. اوګورئ عمدة القارى (١ ١٢) _

(٨) قال الحافظ فى هدى السارى (ص.٤٤٠) وهو يسرد أسماء من طعن فيه من رجال صحيح البخارى فى ترجمة محمدبن عبدالرحمن الطفاوى ...فهذا الحديث قد تفرد به الطفاوى وهو من غرائب الصحيح وكأن البخارى لم يشدد فيه لكونه من احاديث الترغيب والترهيب والله أعلم) _

① ما رواه تام الضبط، كامل العدالة، باتصال السند، لايكون فيه الشذوذ والعلة،
② يو ماهر محدث دهغے تصحيح كړے وى.
③ كومو مؤلفينوچه د صحت التزام كړے وى.په هغوى كښے چا نقل كړى وى.
④ چه راويان غيرمجروح وى.او روايت عملاً د قبوليت درجه حاصله كړے وى. اوكه يو راوى مجروح وى.نو په متابعت سره دهغے تدارك شوے وى.(١)
دلته آخرى درے واړه معيار موجود دى.خكه چه ابن الصلاح.نووى. عراقى.سبكى رحمهم الله وغيره ددے حديث تصحيح اوتحسين كړے دے.دغه شان چه كومو مؤلفينو د صحت التزام كړے دے.په هغو كښے هم ابوعوانه رحمه الله او ابن حبان رحمه الله ددے تخريج كړے دے.دغه شان متابعين هم موجود دى.((وقد مرالتفصيل آنفاً))
②دويم جواب دا دے.چه دا روايتونه امام بخارى رحمه الله ته نه دى رسيدلى.لكه چه په امام مزنى رحمه الله باندے په ..مختصرالمزنى.. كښے په دے طريقه باندے دا اعتراض شوے دے.هلته كښے هم شارحينو رحمهم الله د نورو جوابونه نه علاوه دا هم ذكر كړى
دى.چه هغوى ته دا روايات نه وو رسيدلى.(٢) ((ولايقدح ذلك فى جلالته))
خوبه دے جواب باندے اشكال دادے.چه دامام بخارى رحمه الله غوندے جامع شخصيت باندے ددے رواياتو پټ پاتے كيدل ډيرلرے خبره ده.
③ دريم جواب دا دے.چه د ..حمد وغيره دپاره تحرير اوكتابت ضرورى نه دے.په ژبه حمد ونيل هم كافى دى.كيدے شى.چه امام بخارى رحمه الله په خوله باندے حمد ونيلى وى.اگرچه په قلم سره ئے نه وى ليكلے.(٣) د سلفو طريقه وه.چه هغوى به احاديث ليكل.او په ژبه به ئے درود شريف ونيل.خطيب بغدادى رحمه الله په ..الجامع.. كښے د ..مسند احمد.. په باره كښے نقل كوى.چه هغوى به درود ليكل نه بلكه ونيل به ئے.(٤)
④ څلورم جواب دا دے.چه په ..بسمله.. كښے دكمال په صفتونو باندے دلالت كونكى الفاظ ..الله.. - ..رحمن.. _ او ..رحيم.. دى.ښكاره خبره ده.چه ددے ذكر د حمد په ضمن كښے راغى.(٥)
⑤ پنځم جواب دا دے.چه د ..حمد.. دحديث مقصد دالله تعالى ذكر دے.مطلب دا دے.چه ((كل أمرذى بال)) كه دالله تعالى د ذكرنه بغير شروع شى.نوهغه به ناتمامه او نامكمله

---

(١) اوگورئ فضل البارى (١٦٦/١) وايضاح البخارى (٢٨/١)_
(٢) (٢٨) انظرالمجموع شرح المهذب (٧٤/١)_
(٣) اوگورئ فتح البارى (٨/١)_
(٤) اوگورئ فتح البارى (٩/١)_
(٥) انظرلامع الدرارى (٤٨٦/١، ٤٨٧)_

وی.ددے دلیل دا دے.چه دا حدیث ((کل أمرذی بال لایبدأ فیه بالحمد: أقطع)) الفاظو سره مروی دے.(۱)

هم ددے حدیث نور الفاظوکښے ((کل أمرذی بال لا یبدأ فیه ببسم الله الرحمن الرحیم أقطع)) دی.رواه عبدالقادر الرهاوی فی أربعینه)(۲)

دغه شان ددے دریم قسم الفاظ دا دی.چه ((کل أمرذی بال لا یبدأ فیه بذکرالله :أقطع)) رواه الدارقطنی(۳)واحمد(۴)

د درےواړه قسمه الفاظو دحدیث مدار په ..قره بن عبدالرحمن.. باندے دے. معلومه شوه. چه دحمد مقصد ..ذکر.. دے.اودا مقصد په بسم الله سره حاصل شو .هم دا جواب امام نووی رحمه الله اختیار کړے دے.(۵)

خو په دے باندے معمولی غوندے اشکال دا دے.چه دحدیث په الفاظو کښے اختلاف یقینی شته.خو په دے اختلافاتو کښے د ..وحمد.. لفظ د ..بسم الله.. او ..ذکرالله.. د الفاظو په مقابله کښے اثبت اوارجح دے.

ددےجواب دا دے.چه د..حمد.. په روایاتوکښے د..حمد..نه اعم مراد دے.چه ..بسم الله.. او ..حمد.. دواړو ته شامل دے.هم دا وجه ده.چه اکثرشرعی اعمال د حمد نه نهٔ شروع کیږی.مثلاً مونځ چه د تکبیر نه شروع کیږی.دحمد نه نهٔ شروع کیږی.دغه شان حج وغیره.

ددےنه علاوه د ..حمد.. په روایاتو کښے په څه ځائے کښے ..بحمدالله.. مروی دے .اوپه څه ځائے کښے ..بالحمد.. مروی دے.اوپه څه ځائے کښے ..بالحمدلله... نو معلومه شوه.چه مطلق حمد مراد دے.کوم چه په ذکر کښے داخل دے.(۶)

⑨ شپږم جواب دا دے.چه امام بخاری رحمه الله د ((أول مانزل)) تابعدرای کړے ده.د ټولو نه وړاندے آیت کریمه چه نازل شوے دے.هغه ((اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِیۡ خَلَقَ ۚ)) په اولنئ وحی کښے د رب په اسم باندے د قرات حکم ورکړے شوے دے.نوځکه امام بخاری رحمه الله په تسمیه باندے د خپل کتاب شروع اوکړله.اوبیا د خوند خبره دا ده.چه په ((أول مانزل)) کښے د رب د اسم نه د وحی د قرات حکم وو.او دامام بخاری رحمه الله ټول کتاب په وحی (غیرمتلو) باندے مشتمل دے . نو دوی هم د وحی دپاره په اول کښے تسمیه راوړله.اود رب د اسم نه خپل کتاب شروع کړلو.

(۱) سنن ابن ماجه کتاب النکاح باب خطبة النکاح رقم ۱۸۹٤._

(۲) قاله السیوطی فی الجامع الکبیر(۱/۶۲۳) _

(۳) سنن الدارقطنی (۱/۲۲۹) کتاب الصلاة

(۴) مسند احمد (۲/۳۵۹)_

(۵) انظرالمجموع شرح المهذب (۱/۷٤)_

(۶) د پوره تفصیل دپاره اوګورئ طبقات الشافعیة الکبری (۱/۹، ۱۰)_

⑦ اووم جواب دا دے چه امام بخاری رحمه الله د نبی کریم ﷺ تابعداری کړے ده خکه چه نبی کریم ﷺ د صلح حدیبه په موقع کومه صلح نامه لیکله نود هغے شروع ئے په اول کښے د ((بسم الله الرحمن الرحیم)) نه وه کړے (۱)

⑧ اتم جواب دا دے چه د حمد د حدیث تعلق د خطبو سره دے د کتابونو سره نه دے ددے وضاحت دا دے چه په عربو کښے رواج دا وو چه کله به هغوئ خطبه ونیله نو شروع به ئے داشعارو نه کوله نو نبی کریم ﷺ د دے دا تعلیم ورکړلو چه د حمد نه شروع کول پکار دی (۲)

باقی پاتے شوه دا خبره چه کتاب تول اشعارو وی نودهغے ابتداء د ..بسم الله.. نه کول پکار دد اوکه د ..حمد.. نه؟ نوامام شعبی رحمه الله منع کوی اوامام سعید بن جبیر رحمه الله اجازت ورکوی اکثروعالمانو او جمهورو رحمهم الله د سعید بن جبیر رحمه الله تابعداری کړے ده (۳)

⑨ نهم جواب دا ورکړے شوے دے دحمد حدیث د حدیبیه د ورځے په واقعه سره منسوخ شوے دے (۴)

خودا جواب صحیح نه دے خکه چه د نسخ دپاره د تاریخ د بیان ضرورت وی (۵)

بله دا چه د نسخ قول اختیارول په هغه وخت کښے پکار وی چه جمع ناممکن وی دجمهورو عالمانو هم دا مسلك دے که په دلائلو متعارضو کښے جمع ممکن وی نو د نسخ قول اختیارول نه دی پکار ⑨

⑩ لسم جواب بعضے عالمانو دا ورکړے دے چه دامام بخاری رحمه الله پیش نظر د ..حمدله.. اوبسمله..روایات وو اوپه دواړو کښے تعارض دے خکه که د ..حمدله.. نه شروع کوله نودعرف اوعادت خلاف راتلو اوکه د ..بسمله.. نه ئے شروع کوله نود ..حمدله.. ترك لازمیدلو نوامام بخاری رحمه الله هم د بسم الله نه شروع اوکړله (۶)

خودا جواب ضعیف دے خکه چه ..بسمله.. او ..حمدله..دواړه جمع کیدے شی

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱/ ۸) وذکر ابن سعد بسنده عن عکرمة قال:لما کتب النبی ﷺ الکتاب الذی بینه وبین أهل مکة یوم الحدیبیة قال اکتبوا بسم الرحمن الرحیم قالوا: أما الله فنعرفه وأما الرحمن الرحیم. فلا نعرفه.قال فکتبوا باسمک اللهم ...الطبقات الکبری لابن سعد (۲/ ۱۰۱) غزوة رسول الله ﷺ الحدیبیةوانظرأیضاً زاد المعاد فی هدی خیرالعباد لابن القیم (۳/ ۲۹٤)_

(۲) عمدة القاری (۱/ ۱۲) قاله العینی روی أن أعرابیاً خطب فترک التحمید فقال ﷺ کل أمر ...الحدیث)_

(۳) قال الحافظ فی الفتح (۱/ ۹) واختلف القدماء فیما إذا کان الکتاب شعراً فجاء عن الشعبی رحمه الله منع ذلک، وعن الزهری قال مضت السنة أن لا یکتب فی الشعر بسم الله الرحمن الرحیم وعن سعید بن جبیر جواز ذلک وتابعه علی ذلک الجمهور قال الخطیب : هوالمختار) _

(۴) عمدة القاری (۱/ ۱۲)_

(۵) انظرمقدمة ابن الصلاح (ص: ۱٤۰) النوع الرابع والثلاثون.معرفة ناسخ الحدیث ومنسوخه .والتقریب مع شرحه التدریب (۲/ ۱۹۱، ۱۹۲)_

(۶) فتح الباری (۱/ ۸) وعمدة القاری(۱/ ۱۲)_

لكه چه په قرآن پاك كښے دى.
① يوولسم جواب دا وركړے شوے دے چه امام بخارى رحمه الله د نبى كريم ﷺ په كلام باندے خپل كلام مقدم كولو نه احتراز اوكړلو. او په ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ (١) باندے ئے عمل اوكړلو. (٢)
په دے باندے دا اشكال كيدے شى چه امام بخارى رحمه الله دالله تعالى دكلام نه اول حمد هم اخستلے شو. (٣) مثلاً سورة فاتحه اولنى آياتونه ﴿لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝﴾ ئے هم ذكر كولے شول.
دويم اشكال دا دے چه امام بخارى رحمه الله دحديث نه وړاندے ترجمة الباب اوسند ذكركړے دے. او دا خپل كلام مقدم كول دى.
بعضے حضراتو ددے جواب دا وركړے دے چه اګرچه ترجمة الباب اوسند په ظاهره مقدم دے خو په حكم كښے روستو دے (٤) خو دا جواب صحيح نه دے.
② دولسم جواب دا وركړے شوے دے چه امام بخارى رحمه الله په خپل كتاب كښے دتسميه نه پس حمد هم ذكر كړے وو. خو د ناسخينو د بے توجهئ د وجے ساقط شوے دے. علامه عينى رحمه الله دا جواب خوښ كړے دے. اوفرمائيلى ئے دى. چه دا خبره ما دخپلو بعضو لويو استاذانو نه اوريدلے ده. (٥) خو دا جواب صحيح نه دے. ځكه كه امام بخارى رحمه الله حمد ذكر كړے وو. نو په يوه نيمه نسخه كښے به موجود وو.
دويمه خبره دا ده. چه پكار دا وه. چه دامام بخارى رحمه الله په بل يو تصنيف كښے هم ،،حمد،، موجود وے. حالانكه دامام بخارى رحمه الله كوم تاليفات چه اوس موجود دى. لكه ،،الأدب المفرد، خلق أفعال العباد، جزء رفع اليدين، جزء القراءة خلف الإمام، تاريخ كبير، تاريخ صغير، كتاب الكنى،، وغيره. په دوى كښے په يو كښے هم دحمد ذكر نشته.
ښكاره ده. چه امام بخارى رحمه الله دا كتاب د متقدمينو رحمهم الله په طرز باندے ليكلے دے. هغوى به ((بسم الله الرحمن الرحيم)) اوونيله اوكتاب به ئے شروع كړلو امام بخارى رحمه الله اودهغه د استاذانو او داستاذانو استاذانو او هم عصرو هم دا طريقه وه. امام مالك، امام عبدالرزاق. ابن ابى شيبه . امام احمدبن حنبل، امام حميدى، امام دارمى، امام ابوداود، رحمهم الله دى. ټولوحضراتو د ،،بسم الله،، نه خپل كتابونه شروع كړى دى.

---

(١) سورة حجرات:١)_
(٢) فتح البارى (٨/١) وعمدة القارى (١٢/١)_
(٣) فتح البارى (٨/١)_
(٤)،، اوګورئ فتح وعمده اوپورتنئ حواله)_
(٥) اوګورئ (١٢/١. ١٣)_

۱) حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده چه کله په ۱۳۸۴ه کښې حج دبيت الله ته تشريف يوړلو.نوحضرت په مدينه منوره کښې خوب اوليدلو.چه په مسجد نبوی کښې دوی ته د صحيح بخاری د ونيلو حکم کړې شي.حضرت خپل عذر پيش کړلو.چه ما خپل خان سره کتابونه وغيره نه دی راوړی.چه د ضروت په وخت ورته مراجعت کړې شي.خو چه مې اوکتلو.نو نزدې امام بخاری رحمه الله تشريف فرما دې .او ارشاد فرمائی.چه ته ئې لوله.چه په کوم خائې کښې ضرورت وی.زه به درسره مدد کوم.حضرت دحمد نه ذکر کولو وجوه شروع کړل په دې باندې امام بخاری رحمه الله ارشاد اوفرمائيل.په اصل کښې خبره داسې شوې وه.چه دا کتاب د کراساتو يعنی کاپيانو په شکل کښې تاليف شوې وو.روستو ټول کراسات جمع کړې شوې.او دحمد ليکلو موقع رانغله.(۱)

خودې ته يو لطيفه غوندې ونيلې شی.دې ته په جواب ونيلو کښې تامل دې.خکه چه دحضرت نورالله مرقده تحقيق دا دې.چه دا کتاب په ۲۳۳ه کښې مکمل شوې وو.(۲)

④ څوارلسم جواب دا ورکړې شوې دې.چه دا بيخی بې فائدې جواب دې . چه مؤلف خپل کتاب نه دې ګنړلې.لکه د ..کافيه.. شارحينو چه د صاحب کافيه د طرفه جواب ورکړې دې.څکه چه هلته کښې هم صرف تسميه ذکر ده . حمد نشته.

ددې جواب د عبثيت وجه دا ده.چه امام بخاری رحمه الله دصحيح بخاری دتاليف دومره زبردست اهتمام کړې وو.چه دهرحديث دپاره به ئې غسل کولو.مونځ به ئې کولو . اواستخاره به ئې کوله.چه کله به ورته د صحت يقين اوشو.نوهله به ئې په خپل کتاب کښې داخلولو.دغه شان ددې تراجم ئې په رياض الجنة يعنی دقبر اومنبر
په مينځ کښې په ناسته کښې ليکلی دی.(۳)

نو آيا د دومره لوئې اهتمام باوجود به هم امام بخاری رحمه الله خپل کتاب کتاب نه ګنړلو . دا جواب زما په نيز صحيح نه دې.

خوښ جوابونه: زما په نيز په دې جوابونو کښې خوښ دوه جوابونه دی.

① يا چه دا اوونيلی شی.چه «**انه حمد لفظاً لا کتابة**»

② يادا اوونيلی شی.چه د..حمد.. مقصود په «**بسم الله الرحمن الرحيم**» سره حاصل شو.والله اعلم

---

(۱) تقرير بخاری ازحضرت شيخ الحديث صاحب قدس سره (۶۴/۱)_

(۲) مقدمة لامع الدراری(ص.۱۲٤) الفائدة السادسة فيما اهتم به البخاری فی تاليفه من الغسل والصلاة وغيرذلک دغه شان اوګورئ تقرير بخاری شريف (٤۲/۱)_ ددې نه پس امام بخاری رحمه الله ۲۳ کاله ژوندې وو.څکه چه دهغوی وفات په کال ۲۵۶ه کښې شوې وو.نو آيا په دومره اوږده موده کښې به ورته د حمد ليکلو موقع نه وی ملاو شوې؟ دا خبره ډيره لرې ده.والله اعلم_

(۳) اوګورئ مقدمة لامع الدراری (۱۲۲/۱) الفائدة السادسة فيما إهتم به البخاری فی تاليفه من الغسل والصلاة وغيرذلک)_

بسم الله الرحمن الرحيم باء حرف جار دے چه د څوارلس معانيودپاره استعماليږى.(١) په دے كښے حقيقى معنى د الصاق ده
ولته د زمخشرى رحمه الله په رائے كښے ..باء..دپاره دمصاحبت ده.حالانكه د امام بيضاوى رحمه الله ميلان ..باء استعانت.. طرف ته دے.(٢)
په دے كښے اختلاف دے.چه ددے متعلق اسم دے.لكه چه بصريان وائى.يا فعل دے .لكه چه كوفيان وائى.
بيا په دے كښے هم اختلاف دے.چه دا مقدر به مقدم منلے شى كه موخر؟مشهوره دا ده.چه مقدم اومنلے شى.بعضے حضراتو وئيلى دى.چه اسم به موخرمنلے شى.بياپه د ےكښے هم اختلاف دے.چه عام به منلے شى كه خاص؟دعلامه زمخشرى رحمه الله رائے دا ده.چه فعل به مقدر منلے شى.خاص اوموخر.يعنى دكوم فعل نه چه ابتداء كيږى.هم هغه فعل به مقدر منلے شى.لكه چه ته قرات شروع كوے.نو دبسم الله سره به «أقرأ»مقدروى.اوكه كتابت كوے.نو «أكتب» به مقدركولےشى.حالانكه نور حضرات فرمائى.چه عام منل ئے غوره دى. صحيح دا ده. چه خاص مقدر منل ئے اولى دى.څكه كه چرته عام چه «ابتدائى»يا«أبتدئ»اومنلے شى. نواستعانت به د ..باء.. سره خاص شى.اودخاص منلو په صورت كښے استعانت د فعل ټولو صورتونو ته شامليږى.

د ..اسم.. د لفظ تحقيق لفظ د ..اسم.. د بصريانو په نيزد«سمو»نه ماخوذدے.اود كوفيانو په نيز د «وسم»نه ماخوذ دے.د بصريانو رائے ارجح ده.څكه چه داشتقاق فائده دا ده.چه مشتق اومشتق منه په ماده كښے مشترك وى.او د جمع او تصغير نه د ماده حقيقت هم معلوميږى. نود اسم جمع «اسماء» راځى. «اوسام» نه راځى.كه دا د «وسم» نه ماخوذ وو.نوددے جمع به «أوسام»راتله.بله دا چه ددے فعل «سميت» راځى .«وسمت» نه راځى.دغه شان ددے تصغير «سُمَىٌّ» راځى.«وُسَيْمٌ» نه راځى.

البته كه د«وسم» نه دا مشتق اومنلے شى.نودا وئيلى شى.چه دا خو يا «اشتقاق اوسط» دے.چه په هغے كښے مشتق او مشتق منه په نفس ماده كښے مشترك وى. او په ترتيب كښے مختلف وى. اويا اشتقاق اكبر دے.چه په هغے كښے مشتق اومشتق منه داشتقاق په اكثرو حروفو كښے مشترك وى.

د ..الله.. د لفظ تحقيق دالله تعالى ذات اوصفات بنكاره نه دى.څكه چه هغه دخپل عظمت په نور كښے پټ دے .عقلونه په دے باره كښے حيران دى.لكه څنګه چه د ذات او صفاتو پته نه لګى.دغه شان د دے لفظ په باره كښے هم عقلونه حيران دى.داسے معلوميږى.چه د ذات

---

(١) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح(٤/١)_
(٢) انظر روح المعانى لخاتمة المفسرين الآلوسى رحمه الله (٤٧/١) مباحث فى البسملة البحث الثالث فى معناها)_

انوارات دے لفظ طرف تہ منتقل شوی دی.لکہ څنګہ چہ د عظمت د انواراتو سره د اختلاط د وجے علقونہ پہ ذات اوصفاتو کښے حیران دی. دغہ شان د لفظ پہ بارہ کښے عقلونہ حیران دی.

حضرات علماء کرامو کښے اختلاف دے چہ دا لفظ عربی دے.کہ عبرانی اوکہ سریانی؟بیا کہ عربی وی.نوعَلم دے کہ صفت؟دعلمیت پہ صورت کښے مشتق دے کہ غیر مشتق؟ بیا عَلم پہ طریقہ د وضع دے اوکہ پہ طریقہ د غلبہ؟

د ابوزید بلخی رحمه الله قول دے چہ دا لفظ عبرانی یا سریانی دے.خوراجح دا دے چہ دا عربی لفظ دے.اسم دے.اوعَلم دے.اومرتجل دے.هم دا د امام ابوحنیفہ، امام محمد، امام شافعی،خلیل بن احمد،زجاج، ابن کیسان،حلیمی،امام غزالی ،امام الحرمین،خطابی،او د سیبویہ رحمهم الله رائے دا دہ.(۱)

اسم عین مسمی دہ اوکہ غیر دې د مسمی نہ دلتہ زہ یوہ مسئلہ ضمناً بیانوم.اګرچہ ددے څہ خاص ضرورت نشتہ.هغہ دا چہ اسم او مسمی دواړہ یو دے.کہ جدا جدا.یعنی اسم عین مسمی دے.اوکہ غیر دمسمی نہ دے؟ د بعضے حضرات فرمائی.چہ اسم عین مسمی دے.هم دا دامام ابوالحسن اشعری رحمه الله نہ هم منقول دی.

د معتزلہ،جهمیہ،او کرامیہ رائے دہ.چہ «الإسم غیرالمسمی» امام غزالی رحمه الله اوابن التین رحمهما الله هم دا قول اختیار کړے دے.څکہ چہ د «اسم» نہ مراد هغہ لفظ دے.کوم چہ د ذات پہ مقابل کښے وضع شوے دے.چہ دا یاد کړے شی.نومراد ترے ذات اخستلے شی.اود «مسمی» نہ مراد ذات دے.او پہ دواړو کښے فرق دے. دواړہ جدا جدا دی.

اوځہ حضرات ددے خبرے قائلین دی.چہ «الإسم لا عین ولا غیر» یعنی اسم نہ عین مسمی دہ.اونہ غیر دے د مسمی نہ.(۲)

پہ اصل کښے دالله تعالی اسمونہ پہ درے قسمہ دی.

① بعضے خو عین مسمی دی.لکہ موجود، ذات، قدیم.

② بعضے غیرمسمی دی.لکہ خالق،رازق، وغیرہ صفات فعلیہ.

③ اوبعضے نہ عین دی.اونہ غیر دی.لکہ علیم،قادر. وغیرہ صفات حقیقیہ کوم چہ قائم بالذات دی.(۳)

---

(۱) اوګورئ فتح الملهم.(۳۰۱/۱) اوفتح الله بخصائص الإسم :الله.. (ص.۱۵۵) الباب الرابع والثلاثون، فصل فی إیضاح القول الرابع)_

(۲) اوګورئ مرقاة المفاتیح(۴/۱)_

(۳) اوګورئ إرشاد الساری للقسطلانی (۴۹/۱) وفتح الله بخانص الإسم الله(ص.۵۹۶)_

په سلفو کښې دا اختلاف نه وو.معتزلو دااختلاف ايجاد کړے دے.اود هغه وخت نه اختلاف راروان دے.معتزله د «خلق قرآن» قائلين وو.او ددےنے مختلف دلائل پيش کول.نوهغوى يو دليل دا هم پيش کړے دے.چه «الإسم غيرالمسمى» اوچه کله اسم الله غير دے دالله نه.نو خامخا به مخلوق وى.ځکه چه څه غيرالله وى.هغه به مخلوق وى.او دالله نوم د قرآن کريم يوه کلمه ده.نوکله چه دقرآن پاك دبعضے کلمے مخلوقيت ثابت شو.نود باقى مخلوقيت هم ښکاره شو.

خواهل سنت عالمانو ددے ترديد کړے دے.اودا ئے اختيارکړى دى.چه «الإسم عين المسمى» د بعضےحضراتونه نقل دى.که ديوسړى نه داواورئ.چه«الإسم غيرالمسمى فاشهدواعليه بالزندقة»(١)

ډيرسلفو دا مسئله چيړل نه خوښولو.چه اسم عين مسمى دے.اوکه غير مسمى؟ ابن جريرطبرى رحمه الله فرمائى...دا حماقات مبتدعه دى.. دانسان دپاره خو بس دا کافى دى.چه څه په قرآن کښے راغلى وى.هلته اودريږى.(٢)

الله تعالى فرمائى.﴿ وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ﴾ ددے نه معلومه شوه.چه «الإسم للمسمى» يعنى اسم دمسمى دپاره دے.اودهغےدپاره ثابت دے.ددے نه د معتزلو خبره نه ثابتيږى.چه کلام دمتکلم دپاره ثابت دے.اوپه دواړو کښے غيريت دے .ځکه چه يوڅيز د يوذات دپاره ثابت شى.نوپه دےسره ددغه څيزد دغه ذات نه جدا کيدل اوغيرلازميت نه راځى.والله اعلم

د ,,الله،، د لفظ څو لفظى خصوصيات ① يوخصوصيت دا دے.چه دا منسوب اليه وى.خو په خپله بل څيزته نه منسوب کيږى.② دويم خصوصيت دا دے.چه په مخلوق کښے دا نوم د چا دپاره هم نشى ايخودلے. ③ دريم خصوصيت دا دے.چه دحرف ندا ,,يا،، په ځائے کښے ددے په آخر کښے ,,ميم مشدد،، راوړل ټيك دى.لکه «اللهم».④کله چه ,,يا الله،، وائى.نو ددے باوجود چه دا همزه همزة الوصل دے.ددے سره د ,,همزة القطع،،معامله کولے شى.(يَاالله به نشى وئيلے.بلکه يَاالله به وئيلے شى)⑤,,يا،،حرف ندا چه په خپله هم مفيد د تعريف دے. او ,,لام تعريف،،جمع کوى⑥ ,,حرف جار،،حذف کوى.اودهغے عمل باقى ساتى.وائى.«اللهِ لأفعلن کذا»(٣)

---

(١) قاله الأصمعى وأبوعبيدة معمربن المثنى .انظرشرح أصول إعتقاد أهل السنة والجماعة للإمام ابى القاسم اللالكائى رحمه الله (٢٠٧،٢١٢/٢)۔

(٢) علامه طبرى رحمه الله فرمائى.((وأما القول فى الإسم.أهوالمسمى أوغيرالمسمى فإن من الحماقات الحادثة التى لا أثر فيها فيتبع ولاقول من إمام فيستمع.والخوض فيه شين. والصمت عنه زين.وحسب المرئ من العلم به.والقول فيه.أن ينتهى إلى قول الصادق عزوجل وهو قوله ﴿ قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ اَيًّامَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ﴾ وقوله ﴿ وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ﴾ اوګورئ.شرح أصول إعتقاد أهل السنة والجماعة (١٨٥/١، ١٨٦)۔

(٣)ددے خصوصياتو او ددے نه علاوه د نورو خصوصياتو دپاره اوګورئ ((فتح الله بخصائص الإسم الله)) (١٠٨، ٢١٧، ٢٧٨، ٢٨٣، وغيره)۔

الرحمن الرحیم () دا دواړه دمبالغه صیغې دی خو په ..الرحمن.. کښې د ..الرحیم.. په نسبت مبالغه زیاته ده.ځکه چه ددې حروف زیات دی.((وزیادة المبنی تدل علی زیادة المعنی))

() بعضې حضرات وائی چه ((رحمن)) هغه دې چه په دنیا اوآخرت کښې رحم کونکې وی. او ((رحیم)) چه صرف په آخرت کښې رحم کونکې وی.

() بعضې حضرات وائی چه ((رحمن))دلویو نعمتونو ورکونکې اواحسان کونکې دې . او((رحیم)) د وړو نعمتونو ورکونکې اواحسان کونکې دې.[1]

اعلم رحمه الله اوابن مالک رحمه الله فرمائی چه دا په اصل کښې علم دې ..صفت مشتقه.. نه دې.[2] خودا خبره ټيك نه ده.ځکه چه د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په حدیث کښې دی ((سمعت رسول الله ﷺ یقول قال الله، أنا الله ،وأنا الرحمن، خلقت الرحم، وشققت لها من إسمی ،فمن وصلها وصلته،ومن قطعها قطعته))[3]

بیا دلته دالله تعالی دجمال په صفاتو کښې په دوو باندې اکتفا شوې ده.د جلال څه صفت په کښې نه دې ذکر.ځکه چه په حدیث قدسی کښې دی.((إن رحمتی غلبت غضبی))[4]

دغه شان په رحیم باندې اختتام کښې دې طرف ته اشاره ده.چه دمومنانو دپاره حسن خاتمه ده.او د انجام خیګړې د متقیانو دپاره دی.

(۱)باب کَیْفَ کَانَ بَدْءُالْوَحْیِ إِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

وَقَوْلُ اللّٰهِ جَلَّ ذِکْرُهُ ﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾(۵)

---

(۱) دتفصلاتو دپاره اوګورئ ((مرقاة المفاتیح (۱/۶۰)_

(۲) روح المعانی (۱/۶۰)_

(۳) أخرجه الترمذی فی جامعه فی کتاب البروالصلة باب ما جآء فی قطیعة الرحم.رقم الحدیث (۱۹۰۷) قال الترمذی حدیث سفیان عن الزهری حدیث صحیح وأخرجه ابوداود فی کتاب الزکاة باب فی صلة الرحم رقم. ۱۶۹٤. ۱۶۹۵)_

(٤) اوګورئ صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ماجآء فی قول الله تعالی: ﴿وهوالذی بدأالخلق ثم یعیده﴾.. رقم ۳۱۹٤) کتاب التوحید باب قول الله تعالی ﴿ویحذرکم الله نفسه﴾ رقم ۷٤۰٤) وباب کان عرشه علی الماء رقم ۷٤۲۲. وباب قوله تعالی ﴿ولقد سبقت کلمتنا لعبادنا المرسلین﴾ رقم ۷٤۵۳. وباب قول الله تعالی: ﴿بل هوقرآن مجید فی لوح محفوظ﴾ رقم ۷۵۵٤. دغه شان اوګورئ صحیح مسلم (۲/۳۵۶) کتاب التوبة باب سعة رحمة الله تعالی وأنها تغلب غضبه)_

(۵) النسآء:۱۶۲)_

دصحيح بخارى شروع دا دامام بخارى رحمه الله د دے عظيم كتاب افتتاحيه ده.د كتاب په شروع كښے هم امام بخارى رحمه الله ناشنا اوعجيبه انداز اختيار كړے دے.امام ابوداود، امام ترمذى، امام نسائى رحمهم الله د خپلوكتابونوشروع د «كتاب الطهارة» نه كړے ده.څكه چه مونځ د دين په اركانو كښے يواهم ترين ركن دے اوددے صحت په طهارت باندے موقوف دے.بيا په قبر كښے به هم د ټولونه اول د طهارت تپوس كيږى.اوپه حشر كښے به هم دټولونه وړاندے د مونځ سوال كيږى.(۱) دطهارت په باره كښے په قبر كښے دسوال په باره كښے احقرته دلټون باوجود څه نص ملاؤ نشو.خوحضرت مولانا سيد فخرالدين صاحب شيخ الحديث دارالعلوم ديوبند په تقرير بخارى شريف كښے بعينه هم دا خبره موجود ده.(۲)

البته د قبر د قيد نه بغيردابوالعاليه رحمه الله نه مرسلاً روايت مروى دے.«أول ما يحاسب به العبد طهورة، فإذا حسن طهورة فصلاته كنحوطهورة، وإن حسنت صلاته فسائرعمله كنحوصلاته»(۳)
امام ابن ماجه خپل كتاب د ..اتباع سنت.. نه شروع كړے دے.څكه كه د سنتو اتباع اونشى.اوبدعات په دين كښے داخل شى.نوصرف ددين هيئت اوشكل به مسخ نشى بلكه ددے وجود به هم په خطره كښے واقع شى.نوامام ابن ماجه د حفاظت دين د وجه اتبا سنت دټولو نه وړاندے ذكركړله.بياچونكه حضرات صحابه كرام رضى الله عنهم د سنت ناقلين دى.دغه شان نبى صلى الله عليه وسلم صحابه كراموته خطاب كړے وو.چه «ليبلغ الشاهد الغائب»(۴) يعنى كوم كسان چه موجود دى.هغوى دے دا دين غائبينو ته ورسوى.
دغه شان نبى صلى الله عليه وسلم فرمائى.«ليليني منكم أولوالأحلام والنهى»(۵)

---

(۱) أخرجه النسائى فى سننه (۸۱/۱) فى كتاب الصلاة باب المحاسبة على الصلوات من حديث أبى هريرة رضى الله عنه مرفوعاً: إن أول ما يحاسب به العبد بصلاته .. وأخرجه الترمذى أيضاً فى جامعه فى أبواب الصلاة باب ماجآء أن أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة. رقم ۴۱۳) من حديثه كما أخرج ابوداود فى سننه فى كتاب الصلاة باب قول النبى صلى الله عليه وسلم كل صلاة لايتمها صاحبها تتم تطوعه رقم .۸۶۴، ۸۶۶) من حديث ابى هريرة وتميم الدارى رضى الله عنه وابن ماجه فى سننه فى كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها.باب ماجآء فى أول ما يحاسب به العبدالصلاة رقم ۱۴۲۵، ۱۴۲۶) من حديثهما أيضاً)
(۲) إيضاح البخارى (۴۰/۱)
(۳)اوګورئ: كنزالعمال (۲۷۸/۹، ۲۷۹)رقم ۲۶۰۱۰)كتاب الطهارة الباب الأول فى فضل الطهارة مطلقاً الإكمال)
(۴) صحيح بخارى كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم ..رب مبلغ أوعى من سامع رقم ۶۷ وباب ليبلغ العلم الشاهد الغائب رقم ۱۰۵. وكتاب الحج باب الخطبة أيام منى رقم .۱۷۴۱، وصحيح مسلم (۶۰/۲، ۶۱) كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات باب تغليظ الدماء والأعراض والأموال_ وسنن ابن ماجه باب من بلغ علماً رقم ۲۳۳، ۲۳۵)_
(۵) صحيح مسلم .۱۸۱/۹۱) كتاب الصلاة باب تسوية الصفوف وإقامتها ...وسنن نسائى (۱۲۹/۱) كتاب الإمامة باب من يلى الإمام ثم الذى يليه .. وسنن ابى داود كتاب الصلاة باب من يستحب أن يلى الإمام فى الصف وكراهية التأخررقم.۶۷۴، ۶۷۵ وسنن ترمذى .أبواب الصلاة باب ماجآء ليلينى منك أولوالأحلام والنهى رقم. ۲۲۸)_

يعنى په مانخه كښې دے ماسره هغه كسان نزدے اودريږى چه عقلمنداو پوهان وى.ددين حكم د نوروصلحتونونه علاوه يو مصلحت دا هم دےچه دوى د نبى ﷺ مونځ په ښه طريقه اوګورى او نورو ته ئے صحيح صحيح بيان كړى.نوصحابه كرام ﷺ د سنت پوهان او ناقلين شو.كه صحابه كرام معاذالله ثم معاذالله مشكوك شى.اودهغوى نه اعتماد پاسى نودهغوى نه منقول سنت به هم مشكوك شى.ددے وجه امام ابن ماجه رحمه الله اتباع سنت او دهغے د متعلقاتو نه پس د صحابه كرامو ﷺ مناقب ذكر كړل.

امام مسلم رحمه الله يوبل طرف ته نظر كړے دے.اود ..اسناد.. بحث ئے مقدم كړے دے.ځكه چه «لولا الإسناد لقال من شاء ما شاء» (١)

كه اسناد نه وے.نو چه زړه چه څه غوښتل هغه به ئے ونيل.د سنت تحفظ اود دين حفاظت په سند باندے موقوف دے.دسند ددے اهميت په وجه امام مسلم رحمه الله د اسناد مباحث اول ذكر كړى دى.

امام مالك رحمه الله دخپلے موطا شروع د «أوقات الصلاة» نه كړے ده.ځكه چه ددين په حكمونو كښے دټولو نه اهم ركن مونځ ادا كول په وخت كښے فرض كيږى.چه وخت داخل شى.دغه شان: ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ (٢) او ﴿إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا﴾ (٣) نه هم د وخت اهميت معلوميږى.

خوامام بخارى رحمه الله دټولو نه جدا لار اختيار كړے ده.اودخپل كتاب شروع ئے د ..وحى.. نه اوكړله.ځكه چه بيشكه د ..سنت.. طهارت.. صلاة.. اوقات صلاة.. او اسناد.. اهميت په خپل خپل ځائے ضرور شته.خو ددے ټولو دارومدار خو په وحى دے.ځكه چه د .مونځ. سنت.وختونو. طهارت. ثبوت هم په وحى دے.دغه شان د اسناد اهميت د سنت دحفاظت دپاره دے.اود سنت اثبات په وحى دے.نوچونكه د ټول شريعت منبع اومدار په وحى دے.نو ځكه امام بخارى رحمه الله د وحى دعظمت او ددے اهميت ښكاره كولو دپاره د وحى د بحث نه د خپل عظيم الشان كتاب افتتاح اوكړله.

---

(١) دا د امام عبدالله بن مبارك رحمه الله د اقوالو يوه حصه ده پوره قول دا دے((الإسناد من الدين.ولو لا الإسناد لقال من شاء ما شاء.. فإذا قيل له من حدثك؟ بقي))اوګورئ ((مقدمة صحيح مسلم باب الكشف عن معايب رواة الحديث ونقلة الأخبار وقول الأئمة في ذلك))دغه شان اوګورئ ((الأجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الكاملة للعلامة اللكنوى رحمه الله مع ..التعليقات الحافلة على الأجوبة الفاضلة .. للشيخ عبدالفتاح أبوغدة حفظه الله تعالى- السوال الأول في الإسناد. (ص.٢٠، ٦٥)_

(٢) سورة بقره:٢٣٨)_

(٣) سورة نساء:١٠٣)_

دعلامه سندهی رحمه الله رائې: علامه سندهی رحمه الله فرمائی [1] چه امام بخاری رحمه الله د خپل کتاب شروع د وحی نه کړے ده.اودا ئے په ایمان باندے مقدم کړے ده خکه چه په دے صحیح کښے دوی د څه ذکر کونکے دے.هغه ټول په دے خبره موقوف دی چه نبی ﷺ ..موحی الیه.. پیغمبر دے.نوخکه ئے اول دا ثابته کړه چه دوی دالله تعالی رسول دے.او وحی پرے نازلیږی.

بیا چونکه وحی کله د الهام په معنی کښے هم راځی.لکه ﴿وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ﴾ [2]،او﴿وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ﴾ [3] خکه امام بخاری رحمه الله آیت کریمه ﴿اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ﴾ [4] ذکرکړه.اودا ئے اوخودله چه وحی ددے قبیلے وحی نه وه بلکه وحی رسالت وه. کومه چه په پیغمبرانوعلیهم السلام باندے نازلیدله.
کله چه د وحی په ذریعه د نبی ﷺ نبوت ثابت شو.او په جامع بخاری کښے چه کوم احادیث امام بخاری رحمه الله د نبی ﷺ نه نقل کړی دی.په دے باندے اعتماد پیدا شو اوپه دے باندے ایمان راوړل ضروری شو.نو ددے نه پس ئے کتاب الایمان ذکر کړلو [5]
دحضرت شیخ الهند رحمه الله تقریر: حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی چه الله تعالی انسان ته حواس هم ورکړی دی.اوعقل ئے ورته هم ورکړے دے.خوددے په ذریعه دیوخاص حده پورے علم حاصلیدے شی.بلکه په دے هم غلطیانے کیږی.مثلاً مونږ دشپے اووړخے گورو چه ستر گے په کتلوکښے غلطی کوی.چه دسپوږمۍ په شپه سپوږمۍ هم راختلی اوپه اسمان باندے وریځ هم وی.کتونکے دا محسوسوی.لکه چه سپوږمۍ منډے وهی.خوپه حقیقت کښے هغه وریځه

---

(۱) العلامة المحقق المحدث الفقیه الأصولي.ابوالحسن نورالدین محمدبن عبدالهادی سندهی. دوی د سند په مردم خیزه زمکه تهټه کښے پیدا شوی وو.اوهم دلته کښے لوئے شوی وو تسترئے ته سفر اوکړلو او:هغه خائے د مشانخو نه ئے استفاده اوکړه.اومدینے منورے ته ئے تشریف یوړلو هلته ئے د سید محمد برزنجی رحمه الله ملا ابراهیم کورانی رحمه الله وغیره نه علم حاصل کړلو اوپه حرم نبوی کښے ئے درس ورکولو ټول علوم حدیث.فقه.اصول. معانی.منطق اوعربیت باندے ئے پوره ماهر وو دعلامه محمد حیات سندهی رحمه الله غوندے جلیل القدر علماء ددوی په شاگردانو کښے دی
په علمی دنیا کښے اصول سته مسند احمد فتح القدیر.(تاباب النکاح) بیضاوی .الزهراوین للقاری .شرح جمع الجوامع لابن قاسم باندے د دوی قیمتی حاشیے د دوی یادگار دے او انشاءالله د آخرت ذخیره به وی.د علم اوتقوی دے مجسمه په دولس شوال ۱۱۳۸ھ کښے د مدینے منورے په پاکه زمکه د آخرت سفر اوکړلو.په مسجد نبوی کښے ئے دجنازے مونځ اوشو اوپه ..بقیع.. کښے دفن شو جزاه الله تعالی عن العلم وأهله خیرالجزاء اوگورئ ..ماتمس إلیه الحاجه (ص،۵۳)_
(۲) سورة نحل:۶۸)_
(۳) سورة قصص:۷)_
(۴) سورة نساء:۱۶۳)_
(۵) اوگورئ حاشیة السندی علی البخاری (۱/ ۵، ۶)_

منډے وهي دغه شان په يو ګاړي کښے ته سوړ نے اوهغه اودريدلے وي.اوبل ګاډے ورسره نزدے تيريږي.کتونکي ته داسے محسوسيږي.چه زمونږ ګاډے منډے وهي.حالانکه هغه اودريدلي وي.
دغه شان چه په ريل ګاډي کښے ناست نے.کله چه درته په خنګل کښے اونے په نظر راشي.نو داسے محسوسيږي.چه هغه منډے وهي.حالانکه اونے په خپل خائے باندے وي.نودا نظر چه په حواس ظاهره کښے دي.د شيے اوورخے غلطيانے کوي.
دغه شان الله تعالى قوت سامعه راکړے ده.خوددے بنه تجربه ده.چه دا په اوريدلو کښے غلطي کوي.ويونکے غريب وائي يو خه.اواوريدونکے دهغے خلاف اوريدل کوي.
قوت ذائقه خوبدليږي رابدليږي.چه معمولي غوندے دصفرا تبه شي.نوخوږ خيز هم په ژبه باندے تريخ لګي.نود حواسوخو دا حالت دے.
ترکومے پورے چه دعقل تعلق دے.نو تاسو ته معلومه ده.چه دا نابالغه دے.اګرچه ده ترقي کړي وي.اود کوم خائے نه کوم خائے ته رسيدلے وي.په ده کښے دعدم بلوغ شان باقي اوبرقرار وي. مونږ عاقلانو ته ګورو.چه په هرخيز کښے اختلاف کوي.شاذ اونادر په خه مسئله کښے اتفاق کوي.ګني بس اختلاف او اختلاف وي.د عقلاؤ په خپل مينخ کښے اختلاف ددے خبرے دليل دے.چه دا ضروري نه ده.چه عقل به خامخا حق خبرے ته رسي.
معلومه شوه.چه دانسان دکاميابئ دپاره نه خو په حواس خمسه باندے پوره اعتماد کولے شي.اونه په انساني عقل باندے.خکه چه دا خيزونه دحقيقت دادراك نه کما حقه قاصر دي.
ددے په مقابله کښے يوه ذريعه ..علم وحي.. دے.چه دهغے د دائره کار شروع دعقل او حواسو د حدوود د ختميدونه پس کيږي.اودا داسے محفوظه ذريعه ده.چه قرآن پاك اعلان کوي﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ۖ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾[1] په دے کښے دباطل دګډون هډوخه ګنجائش نشته.ته به حيران شے.چه رسول الله ﷺ ته به کله وحي راتله.نو په رواياتو کښے راخي.چه بعضے وخت کښے به اويا زره فرشتے دهغے دحفاظت دپاره دحضرت جبرئيل ﷺ سره راتلے.[2] نود ﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ﴾ اعلان په خپل خائے بالکل تيك دے.په دے کښے د غلطئ يا هيرے خه احتمال نشته.خکه که دانسان د فلاح اوکاميابئ دپاره په خه خيز مکمل اعتماد کولے شي . نو هغه صرف وحي ده.
چونکه امام بخاري رحمه الله د انسانانو د کاميابئ اوکامرانئ دپاره «الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه» تصنيف کوي . نو خکه امام بخاري رحمه الله ضروري اوګنړله.چه د ..وحي.. اهميت اوضرورت ښکاره کړے شي.خکه چه د انسانانو د

(۱) حم السجدة:۴۲)_

(۲) دتفصيل دپاره اوګورئ الإتقان في علوم القرآن (۱/۵۰) النوع الثالث عشر: ما نزل مفرقاً وما نزل جمعاً او النوع الرابع عشر:ما نزل مشيعاً وما نزل مفرداً)_

کامیابی، اوکامرانی، دپاره محفوظ، قابل اطمینان، اوباعتماده لار که چرته وی نوصرف دالله تعالی وحی ده نوځکه دوی دځپل کتاب افتتاحیه وحی اوګرځوله.

دحضرت کشمیری رائې امام العصر حضرت انورشاه کشمیری یوه بله خبره کړې ده. هغوی فرمائیلی دی چه په اصل کښې د الله تعالی سره د بندګانو کوم تعلق دے چه الله تعالی خالق دے اوبندګان مخلوق دے الله تعالی مالک دے اوبندګان مملوك دی الله تعالی معبود دے اوبندګان عابدان دی دا تعلق د وحی په ذریعه ثابت شوے دے.

ددے تعلق دثبوت نه پس د بندګانو نه د ایمان، علم، اعمالو او عباداتو مطالبات کیږی نوهم په دے ترتیب باندے امام بخاری اول وحی ذکر کړه ځکه چه ددے نه د تعلق ظهور اوثبوت شوے دے او بیا ئے ددے متقضیات ایمان، علم، اواعمال ذکر کړل.(۱)

ترجمة الباب امام بخاری ترجمه قائمه کړے ده. «باب کیف کان بدأ الوحی إلی رسول الله ﷺ» دلته په عنوان کښے لفظ د ،،باب،، دے دکتاب نه دے ځکه چه دمؤلفینو په اصطلاح کښے ،،کتاب،، په هغه وخت کښے وئیلی شی چه په هغے کښے مختلف ابواب، فصول اوانواع وی. ددے په مقابله کښے باب هغے ته وائی چه په هغے کښے یو قسم څیزونه ذکر وی چونکه په «بدأالوحی» کښے هم ټول احادیث د وحی سره متعلق وو نوځکه ئے دلت د ،،باب،، لفظ غوره کړلو.(۲)

بیا دا لفظ په درے طریقو باندے لوستلے شوے دے.

○ بَابٌ (تنوین سره) کیف کان...

() بابُ (بغیر دتنوین نه، بلکه اضافت سره) کیف کان..

() بابْ (په سکون سره) د وقف په حالت کښے وئیلی شی.(۳)

په اولنی یعنی دتنوین په صورت کښے به تقدیر د عبارت داسے وی. «هذا باب کیف کان...» په دے کښے «هذا» مبتداء «باب» مبدل منه او «کیف کان..» بدل دے. مبدل منه سره د بدل نه. نو خبر شو د مبتدا دپاره. مبتدء او خبر دواړه ملاؤ شو . نو جمله اسمیه جوړه شوه.

یا تقدیرد عبارت «هذا باب مضمونة کیف کان» راویستے شی. په دے صورت کښے «هذا» مبتدا «باب» موصوف. «مضمونة کیف کان» خبر، مبتدء او خبر دواړه ملاؤ شو نوصفت شو د موصوف. کوم چه خبرواقع دے د مبتداء دپاره.

---

(۱) فیض الباری (۳/۱)_

(۲) عمدة القاری للعینی (۱۳/۱)_

(۳) یجوز فیه وفی نظائره أوجه ثلاثة، أحدها رفعه مع التنوین، والثانی رفعه بلا تنوین علی الإضافة ..والثالث باب علی سبیل التعدا للأبواب بصورة الوقف، فلا إعراب له کذا فی الکواکب الدراری فی شرح صحیح البخاری المعروف بشرح الکرمانی (۱۳/۱)_

په دويم يعني بغير د تنوين نه داضافت سره دونيلو په صورت کښے به تقديرعبارت دا وی.((هذا باب كيف كان...))يعنی((كيف كان الخ)) به مضاف اليه وی.

دلته کښے دا اشکال خوکيدے شی.چه ((كيف كان..الخ)) دا خوجمله ده.او لفظ د ((باب)) دهغه الفاظو څخه نه دے.کوم چه جملے طرف ته مضاف وی.(١)

ددے جواب دا دےچه يا خوبه دا ونيلی شی.چه جمله دمفرد په حکم کښے ده.يا په تقدير دعبارت دا وی.((هذا باب جواب قول القائل : كيف كان..))په دے صورت کښے څه اشکال نشته.

او په دريم صورت کښے به نه تنوين وانی.اونه رفع.بلکه سکون به وانی.لکه کاغذ . کتاب. قلم. وغيره چه شماری.نووقف به کوی.اوسکون سره به ئے لولی.اوپه دے به اعراب نه وی.(٢)

د مذکوره ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله مقصود څه دے؟ په دےخبره دپوهيدو نه وړاندے يوه بله خبره په ذهن کښے کينول ډير ضروری دی.چه دامام بخاری رحمه الله طريقه د ترجمة الالباب په باره کښے دنورو مصنفينو په مقابله کښے بالکل جدا دے.دنورحضراتو په نيز اکثر داسے وی.چه ترجمة الباب دعوی وی.اودهغے لاندے چه کوم احاديث وی.هغه د دغے دعوی دلائل وی.عامه طريقه هم دا ده.خودامام بخاری رحمه الله په نيزصرف دا طريقه نه ده.بلکه امام بخاری رحمه الله تراجم الابواب ډير ګران جوړ کړی دی.د دوی په نيز تراجم د ډيرومقاصدو دپاره دی.ددے پوره تفصيل وړاندے په ((مقدمة الكتاب)) کښے تير شوے دے.

دترجمة الباب مقصد دلته چه امام بخاری رحمه الله کومه ترجمه قائمه کړے ده.د دےنه ظاهره دا معلوميږی.چه امام بخاری داولنئ وحی دنزول کيفيت بيانوی.چه په غار حراء کښے اولنئ وحی ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ نازل شوے وه.دهغے دنزول په وخت کښے کوم کيفيات وو؟

دترجمه الباب په مقصد باندې اشکال که دترجمة الباب هم دا مقصد اوګرځولے شی.نودلته دا اشکال کيږی.چه په دےباب کښے شپږ روايات ذکر شوی دی.په دے کښے صرف داولنی روايت (چه په هغے کښے په غارحراء کښے د وحی دنزول واقعه ذکرده) نه علاوه په يوروايت کښے هم دوحی دنزول اولنے کيفيت ذکرنه دے؟ نودذکرشوے ترجمے به دذکرشوو احاديثو سره مطابقت څنګه راځی.ددے اشکال مختلف جوابونه ورکړے شوی دی .کوم چه دا لاندے دی.

(۱)محمد بن اسماعيل تيمی رحمه الله فرمائی.که دلته د((كيف كان الوحی وبدءه)) عنوان وو.نوبهتره به وه.ځکه چه په دے ټولو رواياتو کښے د بدءالوحی کيفيت ته تعرض نشته .دمطلق کيفيت وحی بيان دے (١)

---

(١) يضاف إلى الجملة ثمانية أسماء كما في مغنى ابن هشام _ الزمان.وحيث. وآية بمعنى علامة . وذو.ولدن. وريث. وقول وقائل.كذا في شرح القسطلاني (٤٧/١)-

(٢) اورد القاري في شرح الشمائل على هذا الأخيران أن التعداد في عرف البلغاء إنما يكون لضبط العدد من غيرفصل بين أجزاء المعدود بشي آخر فضلا عن إيراد الأحوال الكثيرة بين المعدودات كذا في الأبواب والتراجم لصحيح البخاري ..شيخ الحديث علامة محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله (ص.٢٢)_

دعلامه سندهى رحمه الله جواب علامه سندهى رحمه الله فرمائى چه په ..بدء.. كښے اضافت د ..وحى.. طرف ته اضافت بيانيه دے يعني «كيف كان بدء أمرالدين والنبوة الذى هوالوحى» مطلب دا شو چه نبي كريم ﷺ ته د وحى نزول د دين حكم دے اوپه دے باندے د نبوت اورسالت مدار دے ځكه نے د ..وحى.. نه په ..بدء.. سره تعبير اوكړلو (٢)

لكه چه په دے صورت كښے به د ترجمے غرض د وحى ابتداء بيانول نه وى بلكه د دين ابتداء بيانول وى چه دالله تعالى د دين شروع څنګه شوے وه اودے مبدا څنګه وه نو ددے جواب دا شو چه د دين مبتدا وحى خداوندى ده ښكاره ده. چه په دے صورت كښے د باب د احاديثو د ترجمة الباب سره په مطابقت اومناسبت كښے څه اشكال نه پاتے كيږى (٣)

دحضرت شاه ولى الله رحمه الله جواب حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى چه زمونږ په نيز ددے معنى ده چه وحى متلو محفوظ يعنى قرآن كريم او غيرمتلو چه حديث ورته وئيلى شى كوم چه د مسلمانانو په ژبه باندے پروت دے يعنى د كوم ځائے نه ښكاره شوے دے؟د دے وجود څنګه وو؟اومونږ ته څنګه راورسيدلو؟ددے جواب دا دے چه دا به مونږ ته د ثقات عالمانو په ذريعه رارسى هغوئ ته دصحابه كرامو رضي الله عنهم نه اوهغوى ته د نبى ﷺ نه او دوى ته دالله تعالى د طرفه د وحى په ذريعه رارسيدلے ده او د الله تعالى نبى كريم ﷺ ته ددے كارونو وحى راليږل په طريقه دتواتر سره ثابته ده حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى چه په ترجمه كښے د «كيف» ذكر د «تنبيه على الفائدة» په طور سره دے

هغوى دا هم فرمائى چه دا هم كيدے شى چه د وحى نه مراد صرف د نبى كريم ﷺ احاديث وى اود «بدأ» نه مراد «مبدأ» وى اوهغه الله تعالى دے نواوس به مطلب دا شى چه ددے احاديثو كوم چه د نبى كريم ﷺ نه نقل شوى دى مبدا څه ده؟د روايات باب نه معلومه شوه چه مبدا د وحى اوفرښتو په واسطه ده يعنى حضرت جبرئيل عليه السلام په نبى ﷺ باندے دالله تعالى د طرفه وحى راوړله.

دحضرت شاه ولى الله رحمه الله د دواړو تقريرونو خلاصه دا ده چه دا خودل مقصود دى چه ددے ظهورڅنګه اوشو.ددے مبدا څه ده؟ اومونږ ته څنګه رارسيدلے دے. په دے طريقه د باب داحاديثو د ترجمة الباب سره مطابقت هم ښكاره شو.

دحافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله جواب حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله فرمائى چه د بدءالوحى نه دامام بخارى رحمه الله مدعا دا نه ده چه صرف د وحى ابتداء اواغاز

---

(١) اوګورئ شرح كرمانى (٤/١) وفتح البارى (٩/١) وعمدة القارى (١٣/١) په دےقول باندے علامه كرمانى رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دواړو رد كړے دے.

(٢) انظرحاشية السندى على البخارى (٦/١)_

(٣) الأبواب والتراجم. ازحضرت علامه محمد ادريس كاندهلوى رحمه الله (ص.٢٧، ٢٨)_

بيان كړے شي بلكه بعضے وخت داسے كيږي چه ذكر خو دابتداء وي خومراد ترے كل وي په صحيح بخاري كښے به باب راشي «باب بدء الأذان» اوهلته د اذان ټول متعلقات ذكر دي.
دغه شان دلته اگرچه ذكر د ..بدا.. دے خو دامام بخاري رحمه الله صرف دابتداء وحي د كيفيت بيان مقصود نه دے بلكه د مطلق وحي ټول كيفيات اود هغے متعلقات بيانول مقصود دي.
يا داسے اووايه چه دحديث د ټولو داحاديثو نه ترجمة الباب ثابتول كافي دي دا ضروري نه ده چه هرحديث دترجمة الباب دپاره ثابتونكے وي (١)
دحضرت شيخ الهند رحمه الله تقرير حضرت شيخ الهند رحمه الله فرماني چه په دے ترجمه كښے واقع الفاظ د ..وحي.. او ..بدء..كيف.. عام اوگرځوئ هغه داسے چه وحي عامه ده كه متلو وي اوكه غير متلو منامي وي اوكه الهامي وي فرشته په اصلي صورت كښے راغلي وي اوكه په بشري صورت كښے په وحي كښے خو به دا تعميم شي.
اودويم لفظ د ..بدء.. دے په دے كښے به هم تعميم وي چه ..بدايت په اعتبار دمكان چه د كوم ځائے نه شروع شوے وه بدايت په اعتبار د زمان چه په كومه زمانه كښے شروع شوے وه بدايت په اعتبار د ماحول اوحالاتو چه په كومو حالاتو كښے ابتداء شوے وه بدايت په اعتبارد موحي اليه اومبعوث اليهم چه په وحي په چا نازليده اودهغه څه صفات وو اودچا طرف ته چه دوى ليږلے شوے وي دهغوى څه صفات وو. د ..بدء.. په لفظ كښے به داسے تعميم راشي.
دغه شان لفظ د ..كيف.. دے په دے كښے به هم د مكاني زماني موحي اليه او مبعوث اليهم تعميم گڼرلي شي په دے طريقه به په ترجمه كښے ډير وسعت راشي . اودټولو احاديثو به په باب باندے منطبق كولو كښے څه مشكل نه پيښيږي. ځكه چه په ټولو رواياتو كښے په څه نا څه صورت كښے د وحي كيفيت اوحالت ذكر دے (٢)
دشيخ الهند رحمه الله يو بل تقرير حضرت شيخ الهند رحمه الله يوه بله خبره هم كړے ده فرماني چه دلته دامام بخاري رحمه الله مقصد هغه نه دے كوم چه په ظاهره گڼرلے شي بلكه اصلي مقصد د وحي د عظمت عصمت اوصدق اثبات دے كوم چه دترجمة الباب مدلول مطابقي خو نه دے خو مدلول التزامي ضرور دے.
تاسو وړاندينئ دتعميم خبره په ذهن كښے اوساتئ اوآيت ﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ....﴾ هم د نظرلاندے ساتئ نو دعظمت طرف ته به درته ښكاره اشاره معلومه شي.
ددے وضاحت دا دے چه «باب كيف كان بدء الوحي» كوم چه ئے د كتاب الايمان نه وړاندے راوړلو دا په منزله د ..كبرى.. اوگڼړئ اود كتاب الايمان نه واخلئ تر آخره پورے ټول احاديث په منزله د ..صغرى.. ده نونتيجه به داسے راوځي «هذا حديث رسول الله ﷺ من كتاب

---

(١) اوگورئ فتح الباري (٩/١) وعمدة القاري (١٣/١) دغه شان اوگورئ ((الأبواب والتراجم)) ازمولانا كاندهلوي رحمه الله (ص. ٢٤)_
(٢) اوگورئ ايضاح البخاري (٢٤/١) وفضل الباري (١٢١/١)_

العلم مثلا وحی)) دا صغری شوه .دویمه مقدمه به دا وی.((وما كان وحياً يجب العلم به لعظمة الوحي وحفظه عن السهو والخلل)) نونتیجه به ئے دا شی.((فهذا الحديث يجب العمل به))
لکه امام بخاری رحمه الله چه کومه ترجمه قائمه کړے ده.دا ئے د وحی د عظمت بیانولو دپاره قائمه کړے ده.ددے دپاره چه په کتاب کښے کوم احادیث ذکر کولی شی په هغے باندےعمل کولو طرف ته اشاره اوشی.د وحی دعظمت تقاضا دا ده.چه په دے باندے دعمل کولو اهتمام اوشی.
دوحی دعظمت خو دا حال وو.چه نبی ﷺ سره په شروع شروع کښے دا ویره وه. چه کیدے شی.زه هلاك شم.دغه د وحی د شدت د وجه به په ژمی کښے په دوی باندے خونه راتله.د نزول وحی په وخت کښے که به نبی ﷺ په سورلئ باندے سور وو.نو د ډیربوج دوجه به هغه کیناسته.که دچا په پتون باندےبه د نبی ﷺ پتون پروت وو.نوهغه به دا گنړل چه چرته زما هډوکی چوری چوری نشی.
اودوحی دعصمت اوحفاظت دپاره څکه چه ددے ابتداء د الله تعالی منتهی ئے نبی کریم ﷺ اوواسطه ئے حضرت جبرئیل علیه السلام دے.په دے ټولو مراحلوکښے چرته هم د خطا سهو یا خلل څه امکان نشته.الله تعالی ددے د حفاظت دا اهتمام کړے دے.چه ددے دحفاظت انتظام ئے په خپله ذمه اخستے دے.چه ته به په وحی الهی کښے یولفظ هم نه هیروے.
کله چه داثابته شوه.چه وحی دالله تعالی کلام دے.اومعصوم عن الخطا ده.د زیادت اوکمی نه بالکل پاکه ده.نو ددے په فرضیت اوواجب الاطاعت کیدو کښے څه شك پاتے کیدے شی؟ ددے باب ټول احادیث ددے مدعا داثبات دپاره شافی کافی دی.(۱)
د امام العصر حضرت انورشاه کشمیری رحمه الله جواب حضرت علامه سید انورشاه کشمیری قدس سره فرمائی.چه دلته د ترجمة الباب نه ظاهری معنی یعنی کومه وحی چه په نبی ﷺ باندے دټولو نه وړاندے په غار حراء کښے نازل شوے وه.بلکه مقصود دا دی.چه د حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته د پورته کیدو نه پس چه د وحی سلسله منقطع شوے وه.اوس شپږ سوه کاله د فترت نه پس هغه سلسله څنګه شروع شوه.یعنی جنس وحی خو د ډیرے زمانے نه مفقود وه.اوس څنګه په وجود کښے راغله او ددے د ښکاره کیدو د ټولو نه اولنے کوم صورت وو.
غرض داچه د .بدء الوحی.. نه د وحی هغه ټوله سلسله مراد ده.کومه چه دریویشت کاله پورے جاری وه.اوپه دے زمانه کښےچه څومره واقعات شوی دی. هغه ټول په بداية الوحی کښے شامل اوداخل دی.
امام بخاری رحمه الله په دے طریقه په خپل صحیح کښے څو ابواب قائم کړی دی.مثلا ((بدء الخلق)) ،((بدء الحيض))، ((بدء الأذان)) وغیره.نو په دے ټولو ځایونو کښے ((بدء)) په معنی د بدایت اونهایت په مقابله کښے نه ده.اودا مطلب نه دے.چه په دے باب کښے صرف دتخلیق عالم،یا

---

(۱) اوګورئ:الأبواب والتراجم ازعلامه کاندهلوی رحمه الله (ص.۲۶، ۲۷)۔

د اذان د ابتدائی حالاتو بیان کولے شی. او درمیانی اوآخری حالات نه بیانوی.بلکه مقصود دا وی.چه کوم څیز په اول کښے موجود نه وو.اوس هغه څنګه په وجود کښے راغلو.مثلا آیت﴿كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ﴾ (۱) کښے بدایت دنهایت په مقابله کښے نه دے.بلکه د عالم د شروع بیان دے.کوم چه د پیدائش ټولو احوالو او حالاتو ته شامل دے.اومقصود دا دے چه دا عالم دعدم نه وجود ته څنګه راغلو.نوامام بخاری ﷫ په دے بابونو کښے د عالم دپیدائش اواذان وغیره ټول حالات بیان کړی دی.صرف دابتدائی حالاتو په بیانولو ئے اکتفا نه ده کړے.

دغه اوګنړه.چه په ..بدء الوحی.. کښے بدایت دنهایت مقابل نه دے.چه صرف د وحی دابتداء حالت په کښے بیان شی.اومینځنی اوآخری حالات نه بیانوی.بلکه مقصود دا خودل دی.چه د فترت وحی د زمانے نه پس وحی څنګه شروع شوه . او جنس وحی د عدم نه پس بیا څنګه په وجود کښے راغله.او ددے د ظهور شروع څنګه اوشوه؟ (۲)

تنبیه دصحیح بخاری په بعضے نسخو کښے دلته د ..بدءالوحی.. په ځائے ..بدوالوحی.. دے . د حضرت شاه صاحب په دے توجیه سره د دواړو نسخو مفهوم یو راځی.او د دواړو مآل یو کیږی.(۳)

دشیخ الحدیث حضرت مولانا زکریاصاحب کاندهلوی ﷫ توجیه حضرت شیخ الحدیث صاحب نورالله مرقده فرمائی.چه امام بخاری ﷫ په خپل کتاب کښے دیرش بابونونه اصالة د ..کیف.. نه شروع کړی دی.په دے کښے شل په اول جلد کښے دی.او لس په دویم جلد کښے دی.داصالةً په قید سره دهغه بابونو اخراج مقصود دے.چه په هغے کښے د کیفیاتوذکر تبعاً دے اصالةً نه دے.

حضرت فرمائی.چه د دے ټولو بابونونه ئے په اکثروکښے د کیفیاتوته تعرض نه دے شوے نو خکه په غور کولو سره دا خبره ذهن ته راځی.چه دامام بخاری ﷫ په داسے بابونوکښے مقصود په هغه څیز کښے په اختلاف باندے تنبیه ورکول وی.کوم چه د ,,کیف.. مدخول وی. برابره که دا اختلاف په روایاتوکښے وی.اوکه په عالمانو کښے وی.(۴)

دلته چه امام بخاری ﷫ کوم روایات ذکر کړی دی.په هغے کښے اختلاف ښکاره دے.څکه چه د وحی کوم کیفیات چه د روایاتو نه معلومیږی.هغه مختلف دی په بعضے کښے دا دی.چه خوب ئے اولیدلو.په بعضے کښے دا دی چه فرشته دانسان په شکل کښے ښکاره شوه.په بعضو کښے د وحی د نزول د کیفیت تشبیه د .صلصلة الجرس.. سره بیان شوے ده.

---

(۱) الأنبیاء: ۱۰٤)_

(۲) اوګورئ فیض الباری وحاشیه البدرالساری (۱/۲. ۳)_

(۳) اوګورئ فیض الباری وحاشیه البدرالساری (۱/۳. ۲)-

(۴) تعلیقات علی لامع الدراری (۱/۴۸۶)_

حضرت مولانا محمد يونس مظاهرى رحمه الله **رائے** دمظاهرالعلوم شيخ الحديث حضرت مولانا محمد يونس صاحب مظاهرى فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله ددے ترجمة الباب نه اصلى مقصود خو ددے ثابتول وو چه نبى كريم ﷺ دالله تعالى پيغمبر دے الله تعالى په دوى باندے داسے وحى نازل كړے وه. لكه څنګه چه ئے په نورو پيغمبرانو حضرت نوح او په نورو پيغمبرانو عليهم السلام باندے نازل كړے وه. خوامام بخارى رحمه الله ددے سره د وحى او د وحى ابتدائى كيفيت ته هم اشاره اوكړه. دا ابتداء د زمان ،مكان او احوالوټولوته شامل ده. او ابتداءآنى نه ده. بلكه ممتد ده. اومطلب دادے چه په نبى ﷺ باندے د وحى د نزول حالات څه وو؟ د باب د رواياتو نه د دغه ابتدائى حالاتو پته لګى. چه اول دوى ته څه داسے حالات په نظر راغلل. بيا ورته فرشته راتله. كله به هغه فرشته په انسانى شكل كښے راتله. اوكله به د صلصلة الجرس په صورت كښے راتله. په رمضان كښے به دهغے راتګ كيدلو. د نزول وحى په وخت كښے به ئے دهغے د حفاظت اهتمام كولو. او ژبے اوشونډو ته به ئے حركت وركولو. كله چه نبى ﷺ د وحى دابتداء اظهار اوكړلو. نود دوى مخالفت اوشو. اوس په دے تقرير باندے ټولے ترجمے مطابق شوئ. بس صرف دومره خبره ده. چه د ،،بدء،، نه مراد ابتدائى ،،آنى،، مراد نه ده. بلكه ابتدائے ممتد زمانى مراد ده.(١) دعلامه كرمانى د كلام نه هم ددے تائيد كيږى. (٢)

دترجمة الباب د اجزاء تحليليه تشريح وړاندے د ،،باب،، دلفظ څه تشريح تيره شوے وه.

په اصل كښے دباب معنى د «مداخل الأمكنه» ده. دعلم په يوے طائفے يا مجموعه باندے د ،،باب،، اطلاق په دے حيثيت كيږى. چه لكه څنګه د كورپه دروازه سړے كورته داخليږى. دغه شان دعلم پوره باب وئيلو نه پس سړے په علم كښے ور داخليږى. اوپه هغے كښےچه ئے څنګه غواړى تصرف كوى.

امام راغب اصفهانى رحمه الله ليكلى دى. چه د «باب كذا» معنى «باب إلى كذا» ده. لكه څنګه چه «باب الدار» د «دخول الدار» ذريعه ده. دغه شان «باب الطهارة» مثلا د طهارت په مسائلو كښے د داخليدو ذريعه ده. والله اعلم (٣)

د ،،باب،، لفظ دټولونه وړاندے د تابعينو رحمهم الله په زمانه كښے شروع شوے وو. امام شعبى رحمه الله د طلاق روايات په يو ځائے جمع كړل. اووے فرمائيل. «هذا باب من الطلاق جسيم»(٤)

،،كيف،، لفظ د ،،كيف،، اسم استفهام دے چه صدارت دكلام غواړى. كه ددے نه وړاندے لفظ د ،،باب،، نه وو. لكه چه د ابوذر او اصيلى په روايت كښے چه دى.(١) نو بيا خو څه

(١) اوګورئ الأبواب والتراجم شيخ الحديث محمد زكريا رحمه الله كاندهلوى. (ص٣٢)_

(٢) اوګورئ شرح كرمانى (١٥/١)_

(٣) المفردات فى غريب القرآن ص٦٤ لفظ ،،باب،،)_

(٤) تدريب الراوى (٨٩/١)_

اشكال نشته.اوكه د ..باب.. لفظ وى.لكه چه په باقى تولو نسخو كښے موجود دے.(١) اومضاف هم وى.نو بيا اشكال وارديږى.چه ..كيف.. په صدر د كلام كښے نه ده راغلے. ددے جواب دا دے.چه ..كيف.. او داستفهام د نورو ادواتو په صدر د كلام كښے د راتلو معنى دا ده.چه په كوم كلام كښے دا ذكروى.نودهغے كلام په ابتداء كښے به وى.(٢) دلته هم د جمله استفاميه په صدر كښے ..كيف.. استعمال شوے دے.

«بدء» قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه دا لفظ دوه قسمه مروى دے.

○بدء: (بفتح الباء الموحدة وسكون الدال وآخره همزة)

○بدو: بضم الباء والدال وتشديد الواو په معنى د ظهور(٣)

علامه عينى رحمه الله د بعضے عالمانونه داولنى معنى رجحان نقل كړے دے.اوبعضے نورو عالمانو د دويمے معنى رجحان غوره كړے دے.(٥)

حافظ ابن حجر رحمه الله د ..بدء..مهموزپه .. بدو.. باندے راجح كړے دے. اوفرمائيلى ئے دى. چه دبخارى د طرز سره مناسب هم دا دے.ځكه چه امام بخارى رحمه الله وړاندے «بدء الحيض» او «بدء الأذان» او«بدء الخلق» تراجم منعقد كړى دى.او په هرځائے كښے ..بدء.. مهموز دے. مونږ د خپلو مشانخو نه هم مهموز اوريدلے دے.دغه شان ددے تائيد ددے نه هم كيږى.چه په بعضے نسخو كښے «كيف كان إبتداء الوحي» واقع دے.(٦) علامه عينى رحمه الله د قاضى عياض رحمه الله قول نقل كړے دے. اوفرمائى. چه كله د ..بدو.. روايت موجود دے.نو ددے د انكار څه وجه نشته.(٧)

بهرحال كه دلته د ..بدو.. لفظ وى.نوبيا خو ئے مفهوم ښكاره دے.اوكه ..بدو.. وى. نومطلب لكه ځنگه چه مونږ دحضرت شاه انورشاه كشميرى رحمه الله په توجيه كښے بيان كړے دے.دا دے.چه د وحى تشريعى كومه سلسله چه د حضرت عيسى عليه السلام نه پس منقطع شوے وه. ځنگه په وجود كښے راغله.والله اعلم.

«الوحى». وحى په لغت كښے «الإعلام في خفاء» په معنى راځى.(٨) يعنى په پټه خودل.لكه فرشته به راتله.او نبى ﷺ ته به ئے دالله تعالى پيغام داسے راوړلو.چه چاته به پته هم نه

---

(١) فتح البارى(٨/١)_

(٢) فتح البارى (٨/١)_

(٣) شرح قسطلانى (٤٨/١)_

(٤) اوگورئ فتح البارى (٩/١) وعمدة القارى (١٤/١)_

(٥) عمدة (١٤/١)_

(٦) فتح البارى(٩/١)_

(٧) عمدة القارى (١٤/١)_

(٨) اوگورئ عمدة القارى(١٤/١)_

لګیدله.بعضے حضرات فرمائی.چه وحی ((الإشارة السريعة)) ته وائی.([1]) یعنی په جلتئ کښے اشاره کول اوخودل. دا هم بالکل ښکاره ده.ځکه چه فرښته به په یو سکند کښے راغله.اود غیبو خبرے به ئے اوخودلے.

امام راغب رحمه الله فرمائی.((وذلك يكون بالكلام على سبيل الرمز والتعريض، وقد يكون بصوت مجرد عن التركيب وبالإشارة ببعض الجوارح وبالكتابة))([2])

خوپه اصطلاح کښے د وحی اطلاق صرف په هغه کلام باندے کیږی.کوم چه د الله تعالی د طرفه نازل شوے وی.که د فرښتے په ذریعه وی.یا په بله ذریعه وی.په دے کښے داسباب ظاهری اوامورعادیه دخل نه وی.دا وحی نبوت ده.اوپیغمبرانوعلیهم السلام سره مخصوص ده.

که وحی په ذریعه د ((القاء فی القلب))وی.نودے ته ((وحی الهامی)) وائی.کومه چه اولیاوته کیږی.

اوکه په ذریعه د خوب وی.نودے ته ((رؤیا صالحه)) وائی.کوم چه عام مسلمانان اونیکان هم وینی.خو د شریعت په عرف کښے چه کله د ..وحی.. د لفظ اطلاق اوشی.نوددے نه وحی دنبوت مراد وی.په کشف،الهام، او رؤیائے صالحه باندے په لغت کښے د ..وحی.. اطلاق کیږی. خو اصطلاحاً پرے نه کیږی. ([3])

دوحی قسمونه: امام ابوالقاسم السهیلی رحمه الله (متوفی ۵۸۱هـ) په ((الروض الأنف)) کښے د وحی اووه صورتونه بیان کړی دی.

① وحی منامی: چه په خوب کښے وحی راشی.دا صورت د حضرت عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے ذکر دے.کوم چه هم ددے باب دریم حدیث دے.((أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحی: الرؤیا الصالحة فی النوم...))

② نفس في الروع: چه په زړه کښے خبره واچولے شی.په یو حدیث کښے نبی ﷺ فرمائی.((إن روح القدس نفث فی روعی أن نفساً لن تموت حتی تستکمل أجلها وتستوعب رزقها فاتقوا الله وأجملوا فی الطلب))([4])

③ صلصلة الجرس: دټلئ دآواز په صورت کښے وحی راشی.ددے صورت د حضرت عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے ذکر دے.کوم چه د باب دویم حدیث دے .((أحیاناً یأتینی مثل صلصلة الجرس))

---

(۱) المفردات فی غریب القرآن (ص.۵۱۵)_

(۲) پورتنئ حواله)_

(۳) المفردات فی غریب القرآن (۵۱۵) والأبواب والتراجم للکاندهلوی (ص.۳۰)_

(۴) رواه أبونعیم فی الحلیة عن أبی أمامة الباهلی:.والطبرانی عنه أیضاً و رواه ابن أبی الدنیا والحاکم عن ابن مسعود ورواه البیهقی فی المدخل وقال منقطع ..کذا فی فیض القدیرللمناوی (۲/ ۴۵۰، ۴۵۱)_

④ تمثیل ملک یعني د فرښتې په انساني شکل کښې متمثل کېدل اوخبرې کول لکه چه دحضرت عائشې رضي الله عنها په دويم حديث کښې چه دی «واحیاناً یتمثل لی الملك رجلاً فیکلمنی»
⑤ دحضرت جبرئیل علیه السلام په خپل اصلي شکل کښې ښکاره کېدل حضرت جبرئیل علیه السلام به داسې ښکاره کېدلو چه شپږ سوه وزرې به ئې اودهغې نه به جواهرات او یاقوت دورېدل.[1]
⑥ دالله تعالی براه راست خبرې کول. که په بیدارئ کښې وی لکه د معراج په شپه چه داسې شوی وو اوکه په خوب کښې وی لکه چه دحضرت معاذ رضي الله عنه په حدیث کښې کوم چه په ترمذی شریف [2] کښې دی «إنی قمت من اللیل فتوضأت وصلیت ما قدر لی فنعست فی صلاتی حتی استثقلت فإذا أنا بربی تبارك وتعالی فی أحسن صورة فقال یا محمد قلت لبیك رب، قال فیم یختصم الملأ الأعلی ؟....»
⑦ وحی اسرافیل: دحضرت جبرئیل علیه السلام نه وړاندې حضرت اسرافیل علیه السلام نبی ﷺ ته وحی راوړې وه اوراغلې وو.[3]
حضرت شیخ الحدیث نورالله مرقده فرماني زماپه نیز د وحی ټول څلور قسمونه دی.
① دالله تعالی کلام من وراء حجاب اورېدل: لکه چه حضرت موسی علیه السلام په کوه طور باندې اونبی ﷺ په شپه د معراج کښې اورېدلې وو. ② تلقی بالقلب: ③ خوب یعني وحی منامي.
④ دفرښتې په ذریعه وحی رالیږل: که هغه فرښته جبرئیل علیه السلام وی اوکه اسرافیل علیه السلام یا بله فرښته وی بیا دجبرئیل علیه السلام راتلل که په اصلي شکل اوصورت کښې وی . اوکه دانسان په صورت کښې وی.

خوصاحب دروح المعاني رحمه الله د بعضې حضراتو نه نقل کړی دی چه «تلقی بالقلب» عامه ده که په خوب کښې وی اوکه په بیدارئ کښې وی.[4] په دې طریقه د وحی درې قسمونه پاتې کیږی.
① تکلم بلاواسطه ② تکلم په واسطه د فرښتې.
③ تلقی بالقلب که په خوب کښې وی اوکه په بیدارئ کښې.
احنافوفقهاؤ په خپلو کتابونو کښې لیکلی دی چه وحی دوه قسمونه دی.
(الف) وحی ظاهر(ب) وحی باطن.
(الف) وحی باطن دپیغمبر علیه السلام اجتهاد وی په کوم باندې چه پیغمبر علیه السلام برقرار پاتې کولې شی.
(ب) او د وحی ظاهر امام فخرالاسلام بزدوی رحمه الله درې قسمونه بیان کړی دی.
① دفرښتې بالمشافه بیان کول.
② بغیر دبیان نه د فرښتې ښکاره اشاره کول دځه نه په «نفث فی الروع» سره تعبیر کولې شی.

---

(۱) الروض الأنف (۱/۱۵٤)_
(۲) ابواب التفسیر باب ومن سورة ص.رقم ۳۲۳۵)_
(۳) اوګورئ ..الروض الأنف.. (۱/۱۵۳. ۱۵٤) فصل فی ذکر نزول جبریل علیه السلام علی رسول الله ﷺ)_
(٤) روح المعانی (۱۳/جزء ۲۵ ص.۵٤) درتفسیر ﴿وماکان لبشر أن یکلمه الله إلا وحیاً﴾..)_

() الهام، یعني د فرشتې د اشارې نه بغیر، یا د عبارت نه بغیر په قلب کښې القاء کول . خو پیغمبر ﷺ ته یقین کیږي، چه دا دالله تعالی دطرفه ده.(۱)
د الهام په باره کښې اختلاف دے، چه دا د وحي ظاهر قسم دے، لکه چه فخرالاسلام بزدوي رحمه الله فرماني، یا په وحي باطن کښې داخله ده، لکه چه د شمس الائمه سرخسي رحمه الله رائې ده.(۲)
شیخ قوام الدین اتقاني رحمه الله د شمس الائمه سرخسي رحمه الله رائې ته ترجیح ورکوي . فرماني .
«ما یثبت فی القلب بالإلهام لیس بظاهر بل هو باطن»(۳)
خوکه دوحي باطن تعریف «ما ینال المقصود به بالتأمل فی الأحکام المنصوصة» وي . اود وحي ظاهر تعریف «ما ینال المقصود به لا بالتأمل فیها» اوګرځولې شي، نود فخرالاسلام بزدوي رحمه الله رائې به راجع وي.(۴)
باقي د «تکلم فی لیلة الإسراء والمعراج» اود تکلم منامي کښې امام بزدوي رحمه الله وغیره ذکر نه دے کړے، دعلامه ابن امیرالحاج رحمه الله رائې دا ده، چه «تکلم فی لیلة الإسراء» وحي ظاهر او منام وحي باطن کښې داخل ده.(۵)
أيا الهام حجت دې؟ وړاندې تیر شوي دي، چه الهام غیر انبیاء یعني اولیاؤ ته هم کیږي. دپیغمبرانو علیهم السلام د الهام په باره کښې خو دا فیصله ده، چه دا حجت دے، البته د اولیاؤ دالهام په باره کښې اختلاف دے.
() یو قول دا دے، چه داحکامو په باره کښې حجت دے، دا قول بعضې صوفیانو رحمهم الله ته منسوب دے، بلکه په رافضیانو کښې د فرقه جعفریه په نیز خو ددے نه سوا خو هډو بل حجت نشته.
() دویم قول دا دے، چه الهام د صاحب الهام په حق کښې حجت دے، د بل دپاره حجت نه دے، یعني په دے باندې پخپله د صاحب الهام عمل کول ضروري دي، خو نورو ته ددې دعوت ورکول جائز نه دي، صاحب د میزان ددې قول نسبت جمهورو عالمانو رحمهم الله ته کړے دے، امام سهروردي رحمه الله دا قول غوره کړے دے، امام رازي رحمه الله اوابن الصباغ رحمه الله هم په دے قول اعتماد کړے دے.

---

(۱) اوګورئ «اصول بزدوي» مطبوعه مع شرح «کشف الاسرار» (۳/۲۰٤) باب تقسیم السنة في حق النبي ﷺ وشرح التحریر (۳/۲۹۵)_
(۲) شرح التحریر (۳/۲۹۶)_
(۳) پورتنۍ حواله)_
(۴) اوګورئ پورتنۍ حواله)_
(۵) پورتنۍ حواله)_

() دریم قول دا دے چه دا نه په صاحب الهام حجت دے اونه په بل چا .هم دا قول مختار دے خکه چه دغیر نبی په حق کښے داسے څه قطعی دلیل نشته.چه دا په حقیقت کښے دالله تعالی د طرفه دے اونفسانی خیالات یاشیطانی وسوسے نه دی.والله اعلم (۱)

امام حلیمی رحمه الله د وحی شپږ څلویښت قسمونه ذکرکړی دی.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دے کښے اکثرد صاحب وحی صفتونه دی.کوم چه په ذکرشوو صورتونو کښے داخل دی.(۲)

قوله: إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم: کله چه لفظ د ..رسول.. مطلق ذکر شی. نومراد ترے د نبی کریم ﷺ ذات گرامی وی.

د رسول لغوی اواصطلاحی معنی لفظ د ..رسول.. په لغت کښے د پیغامبر اوقاصد په معنی راخی. اوپه اصطلاح د شریعت کښے ..رسول.. هغه شخصیت ته وائی.چه هغه الله تعالی د خپلو پیغاماتو رسولو دپاره منتخب کړے وی.اود پیغاماتو رسولو عهده ئے ورته ورکړے وی.رسالت یوه خاصه مرتبه ده.چه الله تعالی ئے خپلو بعضوبندگانو ته ورکوی.دا دالله تعالی او بندگانو په مینځ کښے د یوسفارت نوم دے.کوم چه دعقل اوفهم خاوندانو ته په هغه خبرو باندے تنبیه ورکوی.کوموته د هغوی د عقل رسیدل نشی کیدے . یعنی د الله تعالی صفات، د قیامت حالات،د دین اودنیا مصلحتونه،داسے محرکات چه د هدایت باعث وی. اوداسے امور چه د شبهاتو اوزندقیت منع کونکی وی.

نبوت: ..نبی.. د ..نبأ..نه ماخوذ دے.ددے معنی ده.خبر.چونکه نبی دالله تعالی د طرفه خبر ورکوی.خکه ورته نبی ونیلے شی.

بعضے حضرات وائی.چه دا نبوت د ارتفاع د معنی نه ماخوذ دے.چونکه د نبوت مقام یو اوچت مقام دے.خکه ورته نبی ونیلی شی.(۳)

د رسول او نبی په مینځ کښې فرق: د بعضے حضراتو په نیز دا هم معنی دی.ددے په مینځ کښے څه فرق نشته.(۴) خو راجح قول دا دے.چه په دواړو کښے فرق دے.خکه چه دالله تعالی ارشاد دے ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ﴾ (۵)

ددے نه علاوه په کومو احادیثو کښے چه دانبیاؤ اورسولانو په تعداد کښے فرق بیان شوے دے. نو دهغے نه هم معلومیږی.چه په دواړو کښے فرق شته.

(۱) د تفصیل دپاره اوگورئ (التقریروالتحبیر شرح التحریر.لابن أمیرالحاج الحلبی (۳/۲۹۵. ۲۹۶) المقالة الثالثة فی الإجتهاد وما یتبعه)_

(۲) فتح الباری (۱/۲۰) شرح حدیث ثانی)_

(۳) کشاف اصطلاحات الفنون. (۲/۱۳۵۸) باب النون.فصل الهمزة .لفظ النبی)_

(۴) کشاف اصطلاحات الفنون. (۱/۵۸٤) باب الراء فصل اللام .لفظ الرسالة)_

(۵)سورة حج (۵۲)_

امام احمد رحمه الله د حضرت ابوذر رضي الله عنه روايت نقل كړے دے.په هغے كنبے دى چه «قلت : يا رسول الله كم الأنبياء؟ قال مائة ألف وأربعة وعشرون ألفاً قال:قلت: يارسول الله كم الرسل؟ قال ثلاث مائة وثلاثة عشر،جم غفير، كثير طيب»
دغه شان هم د حضرت ابوذر رضي الله عنه نه ابن مردويه رحمه الله په خپل تفسيركنبے روايت نقل كړے دے «قلت يارسول الله كم الأنبياء ؟قال مائة ألف وأربعة وعشرون ألفاً،قلت يارسول الله كم الرسل منهم؟ قال ثلاث مائة وثلاثة عشر،جم غفير»هم دا روايت ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح كنبے هم نقل كړے دے.
دغه شان دابوامامه رضي الله عنه نه نقل دى.«يانبي الله كم الأنبياء؟ قال: مائة ألف وأربعة وعشرون الفاً، الرسل من ذلك ثلاثمائة وخمسة عشر،جماً غفيراً»
په اولنى اودويم روايت كنبے ابراهيم بن هشام دے.دا متكلم فيه راوى دے.هم ددے راوى د وجے امام ابن جوزى رحمه الله دا روايت موضوعى ګرځولے دے.
اوپه دريم روايت كنبے معان بن رفاعه ،على بن يزيد او قاسم ابوعبدالرحمن دى.دا ټول د سيرمے ضعيفان دى.( )
ددے نه علاوه نور رواياتونه هم شته.چه ټول ملاوكړے شى.نو دومره اندازه خو ترے خامخا لګيدے شى.چه په انبياؤ او رسولانو كنبے فرق شته.
باقى پاتے شو دا سوال چه د دوى په مينځ كنبے څه فرق دے.نو په دے سلسله كنبے د قرآن اوحديث څه په څه نص كنبے خوڅه وضاحت نشته.البته عالمانو د خپلے پوهے اودخپلو معلوماتو په اعتبار سره فرق كړے دے.
() بعضو وئيلى دى.چه رسول مامور بالتبليغ وى.په خلاف د نبى.
() بعضے حضرات وائى.چه په رسول باندے حضرت جبرئيل عليه السلام وحى راوړے وى.اونازليږى.
() اويو قول دا دے.چه رسول هغه دے.چه هغه ته مخصوص شريعت وركړے شوے وى.په سابقه شريعت باندے ورته د عمل كولو حكم نه وى شوے.
() يو قول دا دے.چه رسول هغه دے.چه په هغه كتاب نازل شوے وى.
() بهرحال مشهوره دا ده.چه رسول هغه پيغمبر ته وائى.چه هغه ته نوے كتاب او نوے شريعت وركړے شوے وى.اونبى هرهغه پيغمبر ته وائى.كه هغه ته نوے شريعت وركړے شوے وى.اوكه نه.بلكه هغه د وړاندينى شريعت اود بل پيغمبر متبع وى.

په دې تعريف باندې اشكال د هغې دفاع خوپه دے تعريف باندے به اشكال واردېږى.چه دا تعريف جامع نه دے.ځكه چه ډير پيغمبران داسے دى.چه هغوى ته نوے كتاب اوشريعت نه دے وركړے شوے .خو په قرآن كنبے هغوىٔ ته رسول وئيلے شوى دى.مثلاً دحضرت اسماعيل

(۱) دپورتنوروایاتونونه علاوه دنورواحادیث اوپه هغې باندے دكلام دپاره اوګورئ تفسيرابن كثير.(۱/۵۸۵، ۵۸۶) په ذيل دآيت ﴿وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ﴾ سورة نساء:۱۶۴)

ﷺ متعلق ارشاد ربانى دے﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا﴾ (١)
حالانكه هغوى ته څه نوے شريعت يا نوے كتاب يا صحيفه نه ده وركړے شوے بلكه هغوى به د ملت ابراهيمى اتباع او تبليغ كولو دغه شان د حضرت يوسف ﷺ په باره كښے د مؤمن آل فرعون وينا په قرآن مجيد كښے موجوده ده. ﴿وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ﴾ (٢) حضرت يوسف ﷺ ته هم څه نوے كتاب يا نوے شريعت نه وو وركړے شوے. نو دا حضرات د دے تعريف په بناء د رسول دتعريف نه اووتل. حالانكه قرآن پاك دوى ته رسولان وئيلى دى
ددے اشكال نه جواب دا دے چه په اصل كښے د رسول او دنبى تعريف داسے كولے شى چه ,,دالله تعالى د طرفه كوم خلق د مخلوق دهدايت لارخودلو. او اصلاح دپاره مقرر كړے شى كه نوے دين اوشريعت اويانوے كتاب ورته وركړے شوے وى. يا د يو كافرقوم د اصلاح او هدايت دپاره مبعوث وى. نوهغه رسول دے. گنى نه به وى.
حضرت اسماعيل ﷺ به د ملت ابراهيمى اتباع او دهغے تبليغ كولو. خوهغوى ته كتاب نه ملاؤ شوے. هم د صحف ابراهيم اشاعت به ئے كولو. خوبنو جرهم قبيله كافره وه. دهغوى په دعوت اوارشاد باندے مامور وو. دغه شان حضرت يوسف ﷺ د ملت ابراهيمى متبع وو. خود مصر كافر قوم طرف ته مبعوث وو. نوځكه رسول شو. والله اعلم بالصواب
قوله: وقول الله عزوجل: ,,قول،، مرفوع هم وئيلى شى. او مجرور هم.
د مرفوع په صورت كښے خو به دا يا مبتداء گرځولے شى. او ددے خبر به مذكوره آيت ﴿اِنَّآ اَوْحَيْنَآ...﴾ وى. اويا به د فعل محذوف دپاره فاعل گرځولے شى او. تقديرى عبارت به دا وى. ((ويدل عليه قول الله ...)) يا به دا هم مبتدا گرځولے شى. خو خبر به ئے محذوف وى. مثلاً ,,وفيه قول الله ...)) يعنى ((فى إثبات ما ترجمت به قول الله عزوجل)) په دے ټولو صورتونو كښے به اوس په ((باب)) باندے تنوين وئيلى شى.
دمجرور په صورت كښے به ددے عطف په لفظ د ,,باب،، مضاف اليه واقع كيدونكے جمله باندے وى. اومطلب به دا وى چه ((وباب معنى قول الله عزوجل)) په دے صورت كښے به په ,,باب،، په تنوين سره نشى لوستلے.
قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه دا د ((كيف)) د لاندے نشى داخليدے ((لأن قول الله لا يكيف)) ځكه چه كيفيت خو داعراضو د قبيلے ځنے دے اود اعراضو حلول د محدثاتو ځنے دے اوالله تعالى دخپل ذات اوصفاتوسره دحلول حادث نه پاك دے (٣)

---

(١) سورة مريم: ٥٤_
(٢) سورة مؤمن: ٣٤_
(٣) دتفصيل دپاره اوگورئ عمدة القارى (١٥/١) وفتح البارى (٩/١)_

قوله: ﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾: دامام بخاري رحمه الله عادت دے چه دوي خنگه خپله دعوی د احادیث نبوي نه ثابتوي .دغه شان چه څومره پورے ممکنه وي.نو د قرآن کریم نه ئے هم د ثابتولو کوشش کوي.چونکه مصنف رحمه الله دا دعوی کړے وه.چه محمد ﷺ دالله تعالی رسول دے . اوپه هغوی باندے دالله تعالی د طرفه وحي نازل شوے وه.نوپه دے دعوی باندے دوی د قرآن کریم نه دلیل پیش کوي﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ یعنی اے محمد ' (ﷺ) مونږتاته داسے وحي نازله کړے ده. لکه څنګه چه مو په نوح علیه السلام اودهغه نه پس په نورو پیغمبرانوباندے نازل کړے وه. نو لکه څنګه چه نوح علیه السلام او نور پیغمبران نبیان وو.او شو.دغه شان ته هم دالله تعالی نبي ئے.ددے آیت نه دا هم معلومه شوه.چه وحي دلله تعالی سنت قدیمي دے.اودا هم معلومه شوه.چه نبي کریم ﷺ دالله تعالی پیغمبر دے.دوی ته چه کومه وحي راتله.هغه وحي الهامي نه وه.بلکه وحي رسالت وه.

په حقیقت کښے د یو پیغمبر د پیغمبرئ پیژندلو دپاره یو صورت دا اختیارولے شي.چه د پخوانو پیغمبرانوعلیهم السلام په حالاتو باندے دده حالات منطبق کړے شي.او اوکتلے شي.چه د نبي کریم ﷺ نه وړاندے حضرت نوح علیه السلام تشریف راوړے وو .حضرت ابراهیم علیه السلام تشریف راوړے وو.اوداسے دهغوی نه پس نور ډیر پیغمبران مبعوث شوي وو.نوددغه ټولو پیغمبرانو په حالاتو دے د نبي کریم ﷺ حالات منطبق کړے شي.که منطبق وي.نو د نبي کریم رسالت دے تسلیم کړے شي.اوکه منطبق نه وي.نو رد دے کړے شي.

بیا که په آیت باندے غوراوکړے شي.نو﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ نوپه دے کښے ،،ان، حرف تحقیق دے.اوبیا جمله اسمیه ده.کومه چه په استمرار اوثبوت باندے دلالت کوي.اوضمیر هم د جمع متکلم راوړلے شوے دے.اوپه مسند فعلي باندے مسند الیه مقدم کړے شوے ده.په دے ټولو خبروپه کلام کښے یو قوت پیدا شو.اوکلام ډیر تاکیدي شو.اواوس مطلب دا شو.چه یقیناً مونږ تا طرف ته بعینه هم هغه شان وحي نازل کړے ده.لکه څنګه چه مونوح علیه السلام او نورو پیغمبرانو ته لیږلے وه.

بیا په آخر کښے ئے فرمائي.﴿وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا﴾ چه الله تعالی د موسی علیه السلام سره خبرے کړے وے.دغه شان د نبي کریم ﷺ حالات د نورو پیغمبرانو دحالاتو سره منطبق شول.

البته دا دالله تعالی حکمت او مصلحت دے.چه کله هغه کتاب نازلوي.اوکله د الهام اوالقاء في القلب په ذریعه وحي نازله وي.اوکله هغه ،،ملك،، یعنی فرښته د وحي سره رالیږي.نو د یهودیانو دا وینا چه د موسی علیه السلام نه پس په چا باندے کتاب نه دے نازل شوے.یادا خبره چه د نبوت دپاره د کتاب نزول ضروري دے.دا خبره د منلو قابله نه ده.

په ایت کښې د تشبیه نوعیت بیا په دے باندے پوهه شئ.چه په آیت کښے دا فرمائیلي شوي دي.چه ﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ کښے دا تشبیه خو یا د وحي په ټولو

صفاتو كښې ده.يعنې چه څنګه په نورو پيغمبرانو عليهم السلام باندے وحي نازليدله.نوم دهغه صفاتو سره په تا باندے هم وحي نازل شوے ده.يا دا تشبيه په امر اول كښې ده.يعنې لكه څنګه چه په نورو پيغمبرانو عليهم السلام باندے په اول كښې وحي د خوبونو په ذريعه نازل شوے وه.دغه شان ستا د وحي شروع هم د خوب نه اوشوه.ابونعيم رحمه الله په دلائل النبوة كښې په حسن سند سره د حضرت علقمه بن قيس رحمه الله نه نقل كړي دي.چه ((إن أول ما يؤتى به الأنبياء في المنام، حتى تهدأ قلوبهم ثم ينزل الوحي بعد في اليقظة))(۱)

د آيت د ذكر كولو مقصد مونږ وړاندے عرض كړے وو.چه امام بخاري رحمه الله په خپل مقصد باندے لكه څنګه چه احاديث نبوي راوړي.دغه شان قرآني آياتونه هم په دے غرض باندے راوړي.اودلته كښې دا چه امام بخاري رحمه الله د نبي كريم ﷺ رسالت اوپه دوي باندے د نازل شوے وحي حقيقت ثابتوي.

دے سره تاسو په دے هم پوهه شئ.چه ددے آيت په ذريعه د وحي عظمت ثابتول هم غواړي.هغه داسے چه دا وحي د انساني عقل پيداوار نه دے.دا وحي د علم انساني نتيجه نه ده.بلكه دا وحي دالله تعالى پيغام دے.اود هغه كلام دے.چه خاوند د عظمت او لوئي دے.هغه د مخلوق دهدايت دپاره د شروع نه وحي رالېږي.محمد ﷺ ته هم دغه د عظمت اولوئي لوئي ذات وحي رالېږلے ده.نو ددے وحي عظمت اومنئ.اودده تابعداري اوپيروي اوكړئ.

په يو آيت كښې ارشاد خداوندي دے﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا﴾ (۲) دلته كښې وحي رباني قوي حجت ګرځولے شوے دے.څكه چه ،،برهان،، قوي حجت ته وائي.بيا دلته د ،،نور،، سره كوم چه په خپله روښانه وي.د ،،مبين،، صفت زياتي شوے دے.دا صرف ددے دعظمت او افتخاريت خودلو دپاره ده.

بهرحال دلته امام بخاري رحمه الله دا آيت ذكر كړلو.اود دوي مدعا د حديث رسول او د وحي عظمت او اهميت ثابتول دي.ذكر شوے آيت په دے مدعا باندے مكمل دلالت كوي.

په آيت كښې دحضرت نوح عليه السلام د تخصيص وجه دحضرت نوح عليه السلام تخصيص په باره كښې علامه عيني رحمه الله فرمائي.چه شارحينو رحمهم الله په دے كښې دوه وجوهات بيان كړي دي.

① بعضے حضرات فرمائي.چه د حضرت نوح عليه السلام تخصيص څكه اوشو.چه هغه اولنے صاحب شريعت نبي وو.څكه چه حضرت شيث عليه السلام اوادريس عليه السلام پيغمبران وو.خو رسولان نه وو.

② دويمه وجه دا بيان شوے ده.چه حضرت نوح عليه السلام هغه پيغمبر وو.چه دهغوي د وحي منلو په وجه دهغه په قوم باندے عذاب راغلے وو.حالانكه دهغوي نه وړاندے په چا باندے عذاب نه وو راغلے.لكه چه د حضرت نوح عليه السلام ذكر ئے اوكړلو.نو په دے كښې قريشو ته تنبيه

---

(۱) اوګورئ فتح الباري (۹/۱)_

(۲) سورة نساء:۱۷۵)_

ورکړه.که تاسو دمحمد ﷺ د وحی مخالفت اوکړلو.نولکه څنګه چه د حضرت نوح علیه السلام په قوم باندے عذاب راغلے وو.دغه شان به تاسو هم راشی.
علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه عالمانو رحمهم الله اګرچه دا دواړه توجیهات کړی دی. خو دواړه قابل نظر دی.
په اولنی جواب کښے دا قباحت دے.چه دا خبره ټیک نه ده.چه حضرت نوح علیه السلام اولنے نبی مشرع دے.بلکه حضرت آدم علیه السلام د ټولو نه اولنے رسول وو.هغوی ته د هغوی اولاد طرف ته شریعت ورکړے شوے وو.اوراليږلے شوے وو.بیا دحضرت آدم علیه السلام نه ټوله ذمه واری حضرت شیث علیه السلام اوچته کړه.نوهغوی هم نبی مرسل وو .بیاحضرت ادریس علیه السلام دقابيل اولاد طرف ته ليږلے شوے وو.روستو بیا هغوی آسمان ته اوچت کړے شو.
د دویم جواب په باره کښے ونیلی شوی دی.چه دا خبره هم صحیح نه ده.چه د ټولو نه اول عذاب دحضرت نوح علیه السلام په قوم باندے نازل شوے وو.بلکه قابیل چه کله هابیل قتل کړلو.نو حضرت ادریس علیه السلام د حضرت آدم علیه السلام د وصیت مطابق قابیل ته سزا ورکړے وه.ګرفتار کړے شو.اوپه هتکړو کښے بندیوان کړے شو.بیا په زندان کښے په حالت د کفر مړ شو.لکه چه عذاب دحضرت نوح علیه السلام نه وړاندے نه موجود وو.نودا دواړه توجیهات ټیک نشی ګرځولے.
دد نه پس علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه په حقیقت کښےدحضرت نوح علیه السلام تخصیص ددے وجے شوے دے.چه نوح علیه السلام آدم ثانی دے.یعنی کله چه دنوح علیه السلام قوم دهغوی مخالفت اوکړلو.نو دطوفان په شکل کښے په هغوئ باندے عذاب راغلو.په هغے کښے ټول خلق هلاک شوی وو.دابن اسحاق رحمه الله د قول مطابق د ښځو نه علاوه صرف لس کسه سړی پاتے شوی وو.کوم چه دحضرت نوح علیه السلام په کشتئ کښے سواره وو.امام مقاتل رحمه الله فرمائی.چه ټول اویا کسان وو.اوابن عباس رضی الله عنه فرمائی.چه ټول اتیا کسان وو.په دے کښے دحضرت نوح علیه السلام درے ځامن ،سام، حام، یافث هم وو.د طوفان نه پس ددے درے واړو نه علاوه نور هم وفات شو.اودهغوی څه نسل پاتے نشو.اوچه دا درے واړه وړاندے لاړلو.نو نسل ئے راروان دے.اوپه ټوله دنیا کښے آباد شو.اودغه شان حضرت نوح علیه السلام د آدم علیه السلام نه پس دوباره د دنیا آبادولو سبب جوړ شو.نوځکه ورته آدم ثانی وائی.په دے وجه ددوی تخصیص دلته کښے اوکړے شو.(١)

دعلامه عینی رحمه الله په قول باندې اشکال: په دے باندے اشکال کیږی.که د آدم ثانی د وجے د حضرت نوح علیه السلام تخصیص شوے دے.نوبیا به د اول آدم علیه السلام ذکرشوے وو.دهغوی د ذکر کولو نه ولے اعراض اوشو.ثانی خو د دویم نه پس وی.نوځکه د اول ذکر دلته کښے غوره وو؟
بیا دعلامه عینی رحمه الله دا ونیل.چه حضرت آدم علیه السلام هم رسول وو.دا خبره ټیک نه ده.ځکه چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الانبیاء کښے حدیث د شفاعت ذکر کړے دے.په هغے کښے دی.چه د

(١٣١) اوګورئ عمدة القاری (١٦/١) بیان التفسیر)

شفاعت د درخواست دپاره به خلق حضرت نوح ﷺ ته راشى او ورته به اووائى چه «يا نوح أنت أول الرسل إلى أهل الأرض وسماك الله عبداً شكوراً»(۱)
هم په دے طريقه په كتاب الرقاق كښے دحديث شفاعت لاندے دحضرت آدم ﷺ قول منقول دے «ايتوا نوحاً أول رسول بعثه الله ....» (۲) ددے دواړو حديثونو په رڼړا كښے حضرت آدم ﷺ ..رسول.. يا ..اول الرسل.. ګرځول ټيك نه دى.
دلته يو اشكال دا كيږى چه په بخارى كښے يو روايت داسے هم موجود دے چه په هغے كښے حضرت نوح ﷺ اول نبى ګرځولے شوے دے دحضرت انس ﷺ روايت دے «ولكن ايتوا نوحاً أول نبى بعثه الله تعالى إلى أهل الأرض»(۳) دلته دوه اشكال دى.
اول اشكال دا چه حضرت نوح ﷺ د دے حديث په رڼړا كښے اول نبى دے نو لازميږى چه : دوى نه وړاندے چه حضرت آدم ،حضرت شيث او حضرت ادريس عليهم السلام تير شوى دى هغه نبيان نه وو؟
دويم اشكال دا دے چه په دے حديث كښے دوى اول نبى ګرځولے شوے دے . حالانكه ددے نه وړاندے چه كوم حديثونه ذكر شوى دى. د هغے نه ..اول رسول.. معلوميږى؟
ددے جواب دا دے چه «أول نبى بعثه الله تعالى» نه مراد دے «أول نبى بعثه الله تعالى بعد الطوفان» يعنى د طوفان نه پس چه د ټولو نه اولنے نبى مبعوث شوے دے
.هغه حضرت نوح ﷺ دے نوهغوى ته اوليت په دے اعتبار سره حاصل دے نو د حضرت آدم حضرت شيث اوحضرت ادريس عليهم السلام د نبوت نه په كښے انكار نشته.
دويم جواب دا وركړے شوے دے چه «أول نبى بعثه الله» نه مراد «أول نبى بعثه الله إلى قوم هلكوا وعذبوا لعدم الإيمان» يعنى دا هغه اولنے پيغمبر دے چه ددوى قوم ته دايمان نه راوړلو په وجه عذاب ملاوُ شوے وو .دحضرت آدم، حضرت شيث اوادريس عليهم السلام قومونو ته عذاب نه دے ملاوُ شوے اوس څه اشكال باقى پاتے نشو.
علامه عينى ﷫ يوه خبره دا كړے ده چه دټولو نه وړاندے د عدم ايمان په وجه د حضرت نوح ﷺ قوم ته عذاب نه دے ملاوُ شوے بلكه حضرت شيث ﷺ د حضرت آدم ﷺ د وصيت مطابق قابيل بنديوان كړلو اوسزا ئے ورته وركړه اوپه حالت د كفر كښے مړ شو.
دلته څو خبرے محل د نظر دى.
كه قابيل ته سزا وركړے شوے وى نوحضرت آدم ﷺ په خپله ولے نه وركوله . حضرت شيث ﷺ ته د حكم كولو څه وجه وه؟

---

(۱) بخارى شريف (۴۷۰/۱) كتاب الأنبياء باب قول الله عزوجل ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ ﴾_
(۲) صحيح بخارى (۹۷۱/۲) كتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار)_
(۳) صحيح بخارى (۹۷۱/۲) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى:﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ ()إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾_

دویمه خبره داچه که قابیل ته سزا ورکړے شوے وه نودا یوه شخصي معامله وه او دلته دټول قوم خبره کیږي.دحضرت آدم. شیث. اوادریس علیهم السلام په زمانه کښے د عدم ایمان په وجه یو قوم ته عذاب نه دے ورکړے شوے داخصوصیت صرف دنوح ﷺ دے چه دهغوی د قوم دعدم ایمان په وجه پرے عذاب راغلو نو د حضرت شیث ﷺ قابیل ته د سزا ورکولو ذکر دلته مناسب نه دے.خکه چه زمونږ خبره دهغه عذاب په باره کښے ده کوم چه په ټول قوم باندے راغلے وی.دانه چه یو کس ته سزا ورکړے شوے وی.

یواشکال دا هم راځي.چه علامه عیني رحمه الله فرمائي چه د قابیل انتقال په حالت د کفر کښے شوے وو.نودا خبره هم قابل تسلیم نه ده.خکه چه هغه د قتل عمد ارتکاب کړے وو او قتل عمد د اهل السنة والجماعة په نیز یقیناً کفر نه دے.

بیا ددے نه علاوه شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائیلي دي.چه کفر خو د قابیل په نسل کښے د شپږو نسلو نه پس پیدا شوے وو.[1]

دحضرت نوح ﷺ د تخصیص په باره کښې د حضرت شیخ الهند رحمه الله ارشاد حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائي.چه لکه څنګه په انسان باندے طفولیت.خواني او شیخوخت راځي.دغه شان په دنیا باندے هم دا درے واړه دورونه راځي.

د آدم ﷺ نه دا دنیا پیدا شروع شوے ده.د هغوی نه پس حضرت شیث ﷺ تشریف راوړلو اوهغوی نه پس ادریس ﷺ دازمانه لکه چه د طفولیت وه.لکه څنګه چه ماشوم ته په اول کښے وړے وړے خبرے.د خبرو آداب. د ناسته پاسته آداب.اود معاشرت آداب خودلې شي. څه سخت حکم ورته نشي ورکولے.دغه شان ددے پیغمبرانو علیهم السلام په زمانه کښے به وحي عام طورد تکویني امور په باره کښے وه.دامور تشریعي اوتکلیفي وجود وو.خو ډیر کم. الله تعالی حضرت آدم ﷺ ته په جنت کښے پیدا کیدونکوټولو څیزونو تخم ورکړے وو.دهغه د کرلو طریقه ئے ورته خودلے وه.د کورونو جوړولو طریقے ئے ورته خودلے وے.دجامو ګنډلو طریقه ئے ورته خودلے وه.دغه شان ئے ورته د نورو ډیرو څیزونو چل خودلے وو.

کله چه د حضرت نوح ﷺ دور راغلو نو د خوانئ زمانه شروع شوے وه.که چه د خوانئ وخت راشي.نوډمه واریانے هم پیدا کیږي.نوځکه د حضرت نوح ﷺ په دور کښے په امورتشریعیه او تکلفیه کښے ترقي اوشوه.حضرت نوح ﷺ تر ډیرے زمانے پورے دخپل قوم داصلاح کوشش کولو.هغوی به ورته د عزت اووقار اود دین داصولو تعلیم ورکولو.اوهغوی به وریورے توقے اومسخرے کولے.

حضرت نوح ﷺ هغوی ته د توحید دعوت ورکړلو.نوهغوی دے په کانړو اوویشتلو .ددے صورت حال نتیجه دا شوه.چه الله تعالی د حضرت نوح ﷺ په قوم باندے خپل عذاب راولیږلو.

---

[1] اوګورئ فیض الباري (۳/۱)_

منشا دا چه دحضرت نوحؑ د زمانے نه د خوانئ دور شروع شو.د امورتشریعیه او تکلیفیه وحی زیاته نازلیدل شروع شو بیا ددےوحی په مخالفت باندے قوم ته عذاب ورکړے شو.
دخوانئ دا دور دحضرت نوحؑ نه شروع شو.او په حضرت ابراهیم ؑ باندے ختم شو.اوددے ځائے نه د شیخوخت دور شروع کیږی.
هم دا وجه ده چه دحضرت ابراهیم ؑ د دور نه چه دعلوم او معارفو کومے چینے راوخی دا وړاندے نه وے.حکیمان او فلسفیان چه د حضرت ابراهیم ؑ نه پس څومره پیدا شوی دی. دهغوی نه وړاندے داسے نه وو پیدا شوے.
بهرحال د حضرت ابراهیم ؑ د زمانے نه په علومو کښے ترقی اوشوه.روحانیت ورځ په ورځ په ترقئ روان وو.تردے چه د نبی کریم ﷺ په بعثت باندے علوم او معارف او روحانیت خپل کمال ته اورسیدلو.
کله چه د نبی کریم ﷺ په ذریعه د علومو تکمیل اوشو.اوروحانیت انتها ته اورسیدلو نو ضروری شوه.چه په دوی کښے دا د کاملے درجے صفات پیداکړے شی .چه کوم چه دے انتهٰ سره مناسبت لری.
نو نبی کریم ﷺ ته کلامی وحی ورکړے شوه.کومه چه دانسانی علم د ارتقاء آخری پوړئ ده.اوددے نه د علم اوچته درجه نشته.اوسرورکائنات نبی کریم ﷺ ته دا کلامی وحی اوشوه.حضرت موسی ؑ ته یو ځل نه بلکه په تسلسل سره شوے وه.اوبیا په هغه وحی کښے داسے وزن کیخودے شو.چه کله به په دوی باندے وحی راتله.نودوی به په سخته یخنئ کښے خولے خولے شو.که ددوی جسم مبارک به دبل چا په بدن باندے وو.نوهغه سړے به هم دے وزن زغملو ته تیار نه وو.اوهغه به دا وزن نشوزغملے.
بیا ددے اثرات دومره زیات اوزور شول.چه دیلے وحی وسعت او زوروالے دومره نه وو.صرف دریویشت کالو موده دوی ته ورکړے شوے وه.چه په دے کښے دیارلس کاله دوی په مکه معظمه کښے تیر کړل.دلته ماحول ډیرناموافق وو.ددے نه پس بیا نبی کریم ﷺ خپل مرکز بدل کړلو.اودوی مدینے منورے ته تشریف یوړلو.د مدینےمنورے اولنے دور هم په اول کښے ډیر دکشالو وو.دصلح حدیبیه په وجه څه د اطمیان اوآسانتیا فضا پیدا شوه.نوددے وحی اثرات خوارۀ شول.اوحیرت ناك وسعت ئے ښکاره کړلو.یعنی خلق ډلے ډلے په اسلام کښے داخلیدل شروع شول.او پوره جزیرة العرب په دغه څلورو کالو کښے داسلام د اثر لاندے راغله.
بیا دریویشت کاله پس څو نبی کریم ﷺ وفات شو خوددے وحی اثراتو ،ایشیاء ،یورپ بلکه دټولے دنیا ټول ملکونه متاثره کړل.اود علم ،حکمت، اومعرفت سلسله ترننه پورے وسعت اختیاروی.اوقیامته پورے به انشاء الله د دے اثرات خوریږی.
نوحضرت شیخ الهند ؒ فرمائی.چه په دے تشبیه کښے په حقیقت کښے دے طرف ته اشاره ده.چه څنگه حضرت نوحؑ ته وحی شوے وه.نوپه هغے کښے د تکلیفاتو اوتشریعاتوعنصر غالب وو.اوقوم چه کله مخالفت اوکړلو.نوپه هغوی باندے د وعید نه پس عذاب نازل شوے وو.دغه شان د رسول الله ﷺ وحی چه ډیره اعلی او اوچته او اکمله ده.په دے کښے هم

تشریعات غالب دی.که ددے مخالفت اوشو.نو هم په دغه طریقه به په عذاب کښے گرفتار شی.لکه څنګه چه د نوح ﷺ قوم گرفتار شوے وو.(۱)

الحديث الأول

[۱] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِءٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ [۵۴، ۲۵۲۹، ۳۸۹۸، ۵۰۷۰، ۶۶۸۹، ۶۹۵۳]

قوله حدثنا دلته کښے دا خبره زده کړئ.چه په سند کښے کله «حدثنا» یا «أخبرنا» راشی. نو هلته ددے نه وړاندے «وبه قال» وئیلی شی.کوم چه د «بالسند المتصل منا إلى الإمام الهمام الحافظ الحجة أمير المؤمنين في الحديث محمد بن اسماعيل بن المغيرة الجعفي البخاري قال:» مخفف دے.غوره دا ده.چه کله سبق شروع شی.نو یوځل دا پوره عبارت اووئیلی شی.او ددے نه پس په هر حدیث کښے «وبه قال» باندے اکتفا کولے شی.

په «حدثنا» او «اخبرنا» کښې فرق «حدثنا» د تحدیث نه دے.تحدیث دا دے.چه استاذ بیان کوی. اوشاګرد اوری.او «أخبرنا» د «إخبار» څنے دے.او«إخبار» دا دے.چه شاګرد لولی. او استاذ اوری .که د یوے ډلے وړاندے استاذ لوستل کوی.نو«حدثنا»به وائی.اوکه دخانله سړی په مخ کښے ئے وئیلی وی.نو«حدثني» به وئیلی شی.

دغه شان که د جماعت په موجودګئ کښے قرات کیږی.نو «أخبرنا» به وائی.اوکه قاری یواځے وی.نوهغه به «أخبرني»وائی.ددے طریقو التزام مناسب دے (۲)

باقی پاتے شوه دا خبره چه په دے دواړو کښے آیا مساوات دے یا یو ته په بل باندے فضیلت حاصل دے؟ نو ددے بحث به انشاءالله وړاندے په کتاب العلم کښے راشی.

الحمیدی دا دامام بخاری رحمه الله استاذ ابوبکرعبدالله بن الزبیربن عیسی القرشی الاسدی الحمیدی المکی دے.دوی دامام شافعی رحمه الله د هم عصر سره سره دحدیث په دطلب ملګرے هم دے.دامام شافعی رحمه الله نه دوی د فقه علم حاصل کړے وو.اوهغوی سره ئے د مصر سفر کړے وو.اوبیا چه کله هغوی وفات شو.نومکے معظمے ته واپس راغلو.د دوی وفات په کال ۲۱۹ھ

---

(۱) اوګورئ ایضاح البخاری (۱۵، ۵۲)_

(۲) اوګورئ نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر(ص.۱۱۷، ۱۱۸) وقفوا الأثر فی صفو علوم الأثر(ص.۱۱۲)

کښې شوې وو (۱) ددوی په تصانیفو کښې ((مسند الحمیدی)) زیات مشهور دے. اود علامه حبیب الرحمن اعظمی رحمه الله د تحقیق سره په دوو جلدونو کښې شائع شوې دے.
ددے نه علاوه یو ((حمیدی)) بل هم دے.اودهغوی نوم ((ابوعبدالله محمدبن ابی النصرفتوح الحمیدی الاندلسی)) دے.دے داولنی حمیدی نه روستو دے.د دوی کتاب ((الجمع بین الصحیحین)) مشهور دے.په هغے کښې دوی د صحیحینو .. احادیث جمع کړی دی.ددوی وفات په ۴۸۸ﻫ کښې شوے دے.(۲)
یوه نکته دامام بخاری رحمه الله هم عجیبه اشارات وی.دلته کښې هم یوه عجیبه لطیفه ده.هغه دا چه امام بخاری رحمه الله دټولونه وړاندے دامام حمیدی رحمه الله روایت ذکر کړلو.اودوی قریشی دے.اود رسول الله ﷺ ارشاد دے.((قدموا قریشاً)) (۳)دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی.((الائمة من قریش)) (۴)لکه چه امام بخاری رحمه الله دا روایات د نظر وړاندے ساتلی دی.اودخپل استاذ حمیدی رحمه الله نه ئے د کتاب شروع اوکړله.
بیا دوی مکی هم دی.لکه چه د دوی شیخ سفیان بن عیینه رحمه الله چه مکی دے.د دے روایت نه پس دویم روایت د ((عبدالله بن یوسف أخبرنا مالك)) په سند سره مروی دے .اوامام مالک رحمه الله مدنی دے.چونکه اسلام په مکه کښې راغلے وو.اوپه مدینه منوره کښې ښکاره شوے وو.ابتداء ئے د مکے مکرمے نه شوے وه.اوترقی ئے په مدینه منوره کښې شوے وه.لکه چه د وحی اولنے منزل مکه او دویم مدینه منوره ده .نوځکه ئے اولنے منزل مکه مکرمه او دویم منزل مدینه منوره ده.نوځکه ئے اولنے روایت دمکی استاذانو اودویم روایت دمدنی استاذانونه ذکر کړلو.
بیا چه امام بخاری رحمه الله په خپل کتاب کښې دټولو نه اولنے سند کوم ذکر کړے دے.په هغے کښې ددوی استاذ امام حمیدی دے.اودکتاب په آخری سند کښې د دوی استاذ ..احمدبن اشکاب..دے.د دواړو په نومونوکښې حمد واقع دے.په دے کښې دے طرف ته اشاره ده.چه دامام بخاری رحمه الله په دے کتاب کښې داول نه واخله ترآخره پورے هر څیز هم محمود دے.دغه شان دے طرف هم اشاره ده.چه انسان ته په خپل ټول ژوند کښې دالله تعالی په حمد اوثنا

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱/۱۰)_
(۲) اوګورئ کشف الظنون (۱/۵۹۹)_
(۳) رواه الطبرانی وفیه ابومعشروحدیثه حسن. وبقیة رجاله رجال الصحیح .قاله الهیثمی أنظرمجمع الزوائد (۱۰/۲۵) کتاب المناقب باب فضائل قریش وانظرأیضاً التخلیص الخبیر.(۲/۳۶) کتاب صلاة الجمعة رقم. ۵۷۹)
(۴) رواه احمد فی مسنده (۳/۱۲۹، ۱۸۳) من حدیث أنس بن مالک رضی الله عنه)_

کښې مشغول وي تردې چه منتها ئې په جنت اوشي.کوم چه ((دارالحمد)) دے هلته به خلق ﴿اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ﴾ وائي.(۱)

قوله حدثنا سفيان: دا سفيان بن عيينه بن ميمون ،ابومحمد الکوفي رحمه الله دے.ددوی وفات په ۱۹۸ھ کښې شوے وو.(۲)

په دے نوم دويم بزرګ سفيان بن سعيد بن مسروق ثوري رحمه الله دے.هغه د دوی نه وړاندے او ددوی استاذ دے.دهغوی وفات په ۱۶۱ھ کښې شوے دے.(۳)

قوله حدثنا يحي بن سعيد الانصاري : دا يحيى بن سعيد بن قيس بن عمرو الانصاري المدني دے.د دوی قرنيکه قيس بن عمروصحابي رضي الله عنه وو اودوی په خپله په وړو تابعينو رحمهم الله کښې دے.(۴)دابوذر په نسخه کښې دلته د ((حدثنا)) په ځائے ((عن يحيى...))دے.(۵)

قوله اخبرني محمد بن ابراهيم التيمي رحمه الله: محمدبن ابراهيم بن حارث بن خالد تيمي .د اوساط تابعينو رحمهم الله کښې د دوی شمار کيږي.(۶)

قوله سمع علقمة بن وقاص الليثي : دے په کبارو تابعينو رحمهم الله کښې دے تردے چه بعضے حضراتوصحابي رضي الله عنه ګرځولے دے.خودا خبره ټيك نه ده.صحيح دا ده.چه دوی په کبار تابعينو رحمهم الله کښې دی.(۷)

ددے حديث په لطائفو کښې يوه لطيفه دا هم ده.چه په دے کښې درے تابعيان مسلسل راغلي دي.اوکه دعلقمه رحمه الله صحابيت ثابت شي.نوبيا به په کښې دوه تابعيان اودوه صحابيان شي.((تابعي عن تابعي))او((صحابي عن صحابي))(۸)

يوه بله لطيفه په دے سند کښې دا ده.چه امام بخاري رحمه الله په دے ځائے کښې هغه ټول الفاظ استعمال کړی دی.کوم چه په محدثينو کښې رائج دی.يعنی ((تحديث))((اخبار)) او ((سماع)) او ((عنعنه)) البته دا ده.چه دا عنعنه د ابوذر رحمه الله د روايت مطابق ده.(۱)

---

(۱) ﴿وَاٰخِرُ دَعۡوٰىهُمۡ اَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ﴾ يونس: ۱۰)_

(۲) اوګورئ عمدة القاري (۱/ ۶۷) _

(۳) اوګورئ خلاصة الخزرجي (ص.۱٤۵)_

(۴) فتح الباري (۱/ ۱۰)_

(۵) پورتنئ حواله)_

(۶) پورتنئ حواله)_

(۷) پورتنئ حواله)_

(۸) پورتنئ حواله)

قوله: **سمعت عمر بن الخطاب** رضی الله عنه: دوی په خلفاء راشدينو رضی الله عنهم کښې دويم خليفه اميرالمومنين عمربن الخطاب رضی الله عنه دے چه عشره مبشره.(يعنی هغه لس خوش قسمته حضرات چاته چه په يومجلس کښې د رسول الله ﷺ د طرفه دجنت زيرے ملاؤ شوے دے) کښې دے.د دوی مناقب او فضائل بے شميره دی.([۲]).

آيا دامام بخاری رحمه الله په نيز د صحت حديث دپاره په هره طبقه کښې د دوو راويانو وجود ضروری دی؟

امام حاکم رحمه الله فرمائيلی دی.چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې کوم روايت نقل کوی نو دا خيال ساتی.چه دا غريب نه وی.يعنی چه په دے کښې په څه مرحله کښې هم تفرد د راوی نه وی راغلے بلکه په هره طبقه کښې کم ازکم دوه راويان ضرور وی.نودا ضروری گنړی.([۳])
خودا دامام بخاری رحمه الله اولنے روايت دے.هم ددے نه دامام حاکم رحمه الله د خيال ترديد کيږی څکه چه په دے کښې د رسول الله ﷺ نه نقل کولو کښې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه متفرد دے.اوحضرت عمر رضی الله عنه نه په نقل کولو کښې حضرت علقمة بن وقاص رحمه الله متفرد دے.اوددوی نه محمد بن ابراهيم روايت کوی.دے هم متفرد دے.بيا يحيی بن سعيد دخپل استاذ محمد بن ابراهيم رحمه الله نه په روايت کولو کښې متفرد دے .البته د يحيی بن سعيد نه پس په دے کښې د راويانو کثرت پيدا شوے دے.
ددے وجے علامه حازمی رحمه الله اوحافظ محمدبن طاهرمقدسی رحمه الله نه علاوه نورو ډيرو محققينو دحاکم رحمه الله قول رد کړے دے.علامه حازمی رحمه الله خوپه «**شروط الأئمة الخمسة**» کښې د ډيرو مثالونو په ذريعه دا ښکاره کړے ده.چه دا شرط مقبول نه دے.([۴])

په بخاری کښې داولنی حديث پشان ددے آخری حديث «**كلمتان حبيبتان إلى الرحمن، ثقيلتان في الميزان، خفيفتان على اللسان، سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم**» هم غريب دے.حالانکه تاسو پيژنی:چه دبخاری شريف په تصنيف کښې امام بخاری رحمه الله څومره اهتمام کړے دے بيا خاص کرددے په اولنی اوآخری حديث کښې به ئے څومره اهتمام کړی وی.ددے باوجود دا وئيل چه امام بخاری رحمه الله غريب روايت نه نقل کوی.بيخی غلطه خبره ده.
ددے ځائے نه يوه خبره دا هم معلومه شوه.چه په سند کښې دغرابت وجود د حديث د صحت دپاره نقصانی نه دے.يوحديث دغرابت سره صحيح هم کيدے شی
يوه لطيفه بيا دلته يوه عجيبه لطيفه دا ده.چه د راوی تصريح دا ده چه دحضرت عمر رضی الله عنه نه دا روايت دوی د منبر دپاسه اوريدلے دے.اگرچه دلته ددے خبرے صراحت نشته.چه نبی ﷺ

---

(۱) اوگورئ: پورتنۍ حواله)_
(۲) ددوی د حالاتو دپاره اوگورئ: الإصابة (۲/۵۱۸-۵۱۹)_
(۳) اوگورئ: شروط الأئمة الستة للمقدسی.(ص.۱۷) وشروط الأئمة الخمسة للحازمی رحمه الله (ص.۷۳)_
(۴) اوگورئ: شروط الأئمة الخمسة للحازمی رحمه الله (۷۵تا ۷۷) _

هم د منبر دپاسه دا حديث اورولے وو خو امام بخارى رحمه الله دا روايت په خپل كتاب كښے په مختلفو ځايونو كښے نقل كړے دے «كتاب الحيل باب في ترك الحيل» كښے ئے تصريح كړے ده چه حضرت عمر رضي الله عنه خطبه وركوله اودا حديث ئے بيان كړے وو «سمعت رسول الله ﷺ يقول: يا أيها الناس...»

دلته كښے د «يا أيها الناس» عنوان په دے خبره دلالت كوى چه نبى كريم ﷺ په مجمع كښے دا حديث بيان كړے دے خو ددے باوجود د نبى ﷺ نه په حديث نقل كولو كښے حضرت عمر رضي الله عنه متفرد دے.(١)

بيا حضرت عمر رضي الله عنه په خپله په منبر دپاسه دا حديث بيانوى خو ددوى نه روايت كونكے صرف علقمة رحمه الله دے بيا دهغوى نه په روايت كولو كښے محمد بن ابراهيم تيمى متفرد دے او په آخر كښے يحيى بن سعيد رحمه الله هم متفرد دے په دے حديث كښے په تفرد باندے امام ترمذى، نسائى، بزار، ابن السكن، حمزة الكنانى رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو رحمهم الله تصريح كړې ده.(٢)

تردے چه علامه خطابى رحمه الله فرمائى «ولا أعلم خلافاً بين أهل الحديث في أن هذا الخبر لم يصح مسنداً عن النبى ﷺ إلا من رواية عمر بن الخطاب رضي الله عنه»(٣)

بيا بعضے حضراتو دا حديث متواتر ګرځولے دے خو صحيح دا ده چه دا متواتر نه دے البته متواتر معنوى دے ځكه چه نيت اوددے په اهميت كښے ګڼ احاديث مروى دى.(٤)

البته د يحيى به سعيد رحمه الله نه پس په دے كښے تواتر پيدا شوے دے حافظ محمد بن على بن سعيد النقاش رحمه الله وائى چه د يحيى نه دا روايت په دوه نيم سوه سندونو سره مروى دے. حافظ ابوالقاسم ابن منده رحمه الله د درے سوو نه زيات نومونه شمارلى دى. دحافظ ابواسماعيل انصارى نه مروى دى. دوى فرمائى چه ما داحديث د يحيى بن سعيد داووه سوو شاګردانو نه ليكلے دے.(٥)

---

(١) يعنى په صحت سره د بل چا نه مروى نه دے البته ځه معلول طرق دارقطنى رحمه الله اوابن منده رحمه الله وغيره ذكر كړى دى چه دهغے په رڼا كښے دا حديث دحضرت عمر رضي الله عنه نه علاوه د خو نورو حضراتو نه هم مروى دے اوګورئ: فتح البارى (١١/١) وأعلام الحديث للخطابى (١١١/١)_

(٢) فتح البارى (١١/١)

(٣) أعلام الحديث للخطابى رحمه الله بتحقيق الدكتور محمد بن سعد بن عبدالرحمن آل سعود (١١٠/١) الطبعة الأولى ١٤٠٩هـ المطابق ١٩٨٨م.

(٤) دتفصيل دپاره اوګورئ فتح البارى (١١/١)_

(٥) پورتنئ حواله)_

خوحافظ ابن حجر رحمه الله دا تعداد لرے كرخولے دے فرمائى ما چه د طلب حديث د زمانے نه واخله تراوسه پورے ددے د طرقو كومه تتبع كړے ده نودهغے په نتيجه كښے ماته سل طرق هم نه دى برابر شوى (۱) نودا به په مبالغه باندے محمول وى

خودا خبره دے په ذهن كښے وى چه ((من حفظ حجة على من لم يحفظ)) حافظ رحمه الله ته د نه ملاويدو مطلب دا نشى كيدے چه د نورو طرقو وجود نشته.بلكه ممكن ده چه طرق موجود وى خو حافظ رحمه الله ته نه وى ملاو شوے خكه چه ډير كتابونه دحافظ رحمه الله دزمانے نه وړاندے ضائع شوى وو دغه ډيركتابونه داسے هم وو.كوم چه ضائع شوے نه وو خوحافظ رحمه الله ته نه وو رسيدلے والله اعلم

دحديث د ترجمة الباب سره مطابقت په حديث كښے به تاسو محسوس كړے وى چه امام بخارى رحمه الله پوره حديث نه دے نقل كړے ((فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله)) د حصه دلته دحديث نه غائبه ده.دا بحث به انشاء الله تعالى وړاندے راشى چه دا حصه ئے دلته ولے ذكر نكړه.؟

دلته قابل توجه خبره دا ده.چه په دےحديث كښے د ..وحى.. يا .بدء الوحى.. څه ذكر نشته نه خو ددے د ((كيف كان بدء الوحي)) سره څه ربط په پوهه كښے راځى او نه ددے د آيت ((إنا أوحينا...)) سره څه تعلق معلوميږى.نو بيا امام بخارى رحمه الله دا دلته ولے ذكر كړلو.په دے باره كښے څو توجيهات منقول دى.

۱) بعضے حضرات فرمائى.چه دا حديث امام بخارى رحمه الله دلته د خطبه په طور سره ذكركړلو خكه چه حضرت عمر رضي الله عنه دا په منبر دپاره د خطبے په دوران كښے بيان كړے وو. نوخكه امام بخارى رحمه الله دا دخپل كتاب خطبه جوړه كړه.(۲)

خو.ښكاره ده.چه دا جواب تسلى بخش نه دے.خكه كه چرته خطبه جوړول ئے مقصود وو نود ..باب.. نه وړاندے به ئے ذكر كړے وو.خكه چه كتاب خو د ((باب كيف كان بدء الوحي...)) نه شروع دے.داكومه طريقه ده.چه كتاب دے شروع كړے شى.اوخطبه روستو راوړلے شى؟!

۲) بعضے حضراتو فرمائيلى دى.چه امام بخارى رحمه الله په اصل كښے د تصحيح نيت طرف ته اشاره كول غواړى.او ددے مقصد دا دے چه لوستونكو له پكار دى.چه په شروع كښے خپل نيت صحيح كړى.(۳)

خودا خبره هم محل نظر ده خكه چه داصلاح نيت اوتصحيح نيت دپاره ضرورى ده. چه دا هم د باب نه وړاندے وى.مشكاة شريف تاسو وښيلے دے چه هلته د ..كتاب الايمان.. شروع كولو نه وړاندے ئے دا حديث راوړے دے دغه كښے هم كه څوى د باب نه وړاندے ((إنما الأعمال

---

(۱) پورتنئ حواله)_
(۲) تقرير بخارى (۱ ۷۷)_
(۳) پورتنئ حواله)_

بالنيات» حديث ذكر كړے وو نوموړي دا ونيلى شو چه داصلاح نيت دپاره يا د خطيے په طور نے دا ذكر كړے دے.

() دريم جواب كوم چه يو لطيف جواب دے دا دے چه په حديث كښے ذكرد ,,هجرت,, دے اوپه ترجمه كښے ذكرد ,,بدء الوحى,, دے.خكه چه په حديث كښے «انما الأعمال بالنيات وإنما لامرئ مانوى،فمن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إلى امرأة ينكحها فهجرته إلى ما هاجر إليه» دے.اوپه ترجمة الباب كښے دى «باب كيف كان بدء الوحى...» اوس موږ ته په هجرت كښے غور كول پكار دى.

د ,,هجرت,, معنى ده.د يو خائے نه بل خائے ته منتقل كيدل اوشرعى معنى ددے ده د معصيت نه طاعت طرف ته تلل.په حديث كښے دى.«المهاجر من هجر مانهى الله عنه»(١) الله تعالى چه كوم څيزونو نه منع كړے ده.هغه پريخودل ,,هجرت,, دے.اوپريخودنكے ,,مهاجر,, دے.

د مكے معظمے نه چه مدينے منورے ته چه هجرت فرض كړے شوے دے.دا ددے وجه چه په مكه كښے قيام په هغه وخت كښے په معصيت كښے شمارلے شو.نوهغه پريخودل اومدينے منورے ته منتقل كيدل لازمى شوى وو.

دهجرت دا معنى چه په پوهه كښے راغله.نو اوس پوهه شئ.چه هجرت دوه دى.

يوهجرت هغه دے.چه كوم چه نبى ﷺ د مكے نه غار حراء ته كړے وو.دهغے سلسله تقريباً شپږ مياشتے جارى وه.دوى به دعبادت دپاره خپل كور پريخودلو.اوغار حراء ته به ئے تشريف اوړلو..هلته به څو څو ورځے د نبى ﷺ قيام وو.كله چه به ورسره توښه ختمه شوه.نوحضرت خديجے رضي الله عنها به ورته توښه اوړله.

دويم هجرت هغه دے.كوم چه نبى ﷺ د مكے نه مدينے طرف ته كړے وو.اولنے هجرت د نزول وحى اوهدايت وحى ذريعه اوګرځيدله.اودويم هجرت د ظهور وحى اوغلبه وحى ذريعه اوګرځيدله.

دلته كښے امام بخارى رحمه الله ترجمه د ,,بدايت,, قائمه كړه.اود ,,هجرت,, حديث ئے نقل كړلو.دے خبرے ته داشارے كولو دپاره چه د ,,بدايت,, وحى ذريعه هغه هجرت دے.كوم چه نبى ﷺ د كور نه غار حرا طرف ته كړے وو اوس په مناسبت كښے څه پټوالے پاتے نشو.خكه چه ترجمه د ,,بدايت وحى,, قائمه شوے دے.اوپه دے كښے دهجرت د حديث ذكر شوے دے.كوم چه د بدء الوحى سبب دے.(٢)

() علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى.چه د عمل دوه طرفه وى يو ,,ورود من الله,, يعنى د الله تعالى د طرفه مكلف ګرځول.اوبل دمكلف د طرفه ددے صدور.

(١) صحيح بخارى كتاب الإمارة باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده رقم: ١٠)_

(٢) اوګورئ امدادالبارى (٤٣٢/٢)_

اول خیز یعنی داعمالو ورود اود الله د طرفه دبندګانو مکلف جوړول.دا د وحی په ذریعه کیږی چه فلانے عمل په تاباندے واجب شوے دے.ددے کول لازمی دی.اوفلانے عمل په تاباندے ممنوع اوحرام ګرځولے شوے دے.اوچه افعال د مکلفینو نه صادریږی.نو ددے دپاره د نیت ضرورت وی چه مونځ کوی.نو نیت لازمی دے.چه زکاة ورکوی.نو نیت لازمی دے دغه شان د روژے اود نورو عبادات محضه حال دے.

معلومه شوه چه ورود دعمل په ذریعه دوحی وی.او صدور د عمل په ذریعه د نیت .نو په ترجمة الباب کښے دوحی ذکر دے.او په حدیث کښے دنیت.وحی د عمل اول طرف دے.او نیت ئے بل طرف دے.یعنی چه ترڅو پورے د وحی راهنمائی نه وی.نود څه نیك عمل نه واقف کیدل ممکن نه دی.اوچه ترڅو پورے د دغه عمل

د کولو په وخت کښےنیت صحیح نه وی.نوهغه عمل به ناقابل قبول اوناقابل اعتبار وی.

اوس دترجمة الباب سره دحدیث مناسبت بالکل ښکاره شو.څکه چه په ترجمة الباب کښے د وحی ذکر دے.کوم چه د ورود اعمال مبدا ده.اوپه حدیث کښے د نیت ذکر دے.کوم چه د صدور اعمال مبدا ده.دعمل صدور دنیت په ذریعه وی.اوددے ورود دوحی په ذریعه وی نومناسبت ښکاره شو.(۱)

() بعضے حضرات فرمائی.چه ددے حدیث د ترجمة الباب داولنی جزء «کیف کان بدء الوحی» سره مناسبت نشته.بلکه ددے د دویم جزء یعنی قرآنی آیت «إنا أوحینا...»سره مناسبت دے. دا مناسبت په دے طریقه دے.چه ددے حدیث په ذریعه امام بخاری رحمه الله د یوے داسے وحی مثال پیش کړلو. کومه چه ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ته شوے وه. او هغه ده د نیت د تصحیح وحی.د کومے چه ټولو انبیاؤ ته تلقین شوے وو.(۲)

() یوه توجیه دا کړے شوے ده.چه دا کتاب د وحی السنة دپاره وضع شوے دے.څکه امام بخاری د ..بدءالوحی.. نه ددے ابتداء اوکړله.بیا چونکه په وحی کښے د اعمال شرعیه بیان کیږی.نوځکه د ..حدیث اعمال.. نه شروع اوشوه. (۳)

() یوه توجیه دا شوے ده.چه لکه څنګه وحی داسرار الهیه نه یو راز دے.چه الله تعالی ددے دپاره خپل خاص بندګان غوره کوی﴿ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَیْثُ یَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ﴾ (۴) او ﴿ اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ ﴾ (۵) دغه شان دنیت اخلاص هم دالله تعالی د اسرارو نه یو راز دے.ددے دپاره هم د زړونو انتخاب کیږی.نولکه څنګه چه الله تعالی خپلو منتخبو بندګانو

(۱) اوګوری (۱/۱۳) وجه مناسبة الحدیث مع الترجمة)_
(۲) امدادالباری (۲/۴۳۲)_
(۳) فتح الباری (۱/۱۱)_
(۴) سورة أنعام:۱۲۴)_
(۵) سورة حج:۷۵)_

ته کوی دغه شان اخلاص هم خپلو خوښو بندګانو ته ورکوی.په دے طریقه د ..وحی..د ترجمے د «إخلاص فی العمل» حدیث سره مناسبت پیدا شو.
() یوه توجیه دا هم ده.چه لکه څنګه د وحی په ذریعه انشراح صدر حاصلیږی.علوم ربانی .اسرارالهی.حقائق الهیه څرګندیږی دغه شان داخلاص په وجه شرح صدر نصیب کیږی.اود علومو او معارفو چینے روانیږی.لکه چه په حدیث کښے راغلی دی .«ما أخلص عبد لله أربعین صباحا إلا ظهرت ینابیع الحکمة من قلبه علی لسانه» (۱) لکه چه ترجمه د وحی وه اوحدیث د اخلاص او په دواړو کښے مناسبت موجود دے.
() یوه توجیه دا هم ممکنه ده.چه په اصل کښے وحی کیږی.دعمل دپاره اود عمل د صحت اوقبولیت دپاره نیت شرط دے.لکه چه په ترجمه کښے د وحی ذکر دے. کومه چه د اعمالو د بیان دپاره وی.اوپه حدیث کښے دهغه اخلاص اونیت ذکر دے .کوم چه دعمل دصحت دپاره شرط دے.په دے طریقه په دواړو کښے مناسبت پیدا شو.
د حضرت شیخ الهند رحمه الله توجیه () حضرت شیخ الهند رحمه الله د مناسبت په باره کښے عجیبه خبره کړے ده.فرمائی.چه دا خبره خو معلومه ده.چه په وحی تشریعی او نبوت باندے کوم کسان فائز کولی شی. هغه دالله تعالی منتخب بندګان وی. ﴿اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ﴾ (۲) او ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَیْثُ یَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ﴾ (۳) نو نبوت یوه عهده ده.څه ډګری نه ده.عهده خو مالك چه چاته ورکوی.هغه ته ملاویږی.خو ډګری هرکس محنت اومشقت کوی اودحاصلولو کوشش ئے کوی.
منصب وهبی وی.اوډګری کسبی.داسے کیږی.چه ډیرو کسانو یوه ډګری حاصله کړے وی. خوعهده په هغوی کښے یو ته ملاویږی.کمشنر سره چه کومه ډګری وی د هغے وجود د نورو سره هم ممکن دے.خو دکمشنرئ عهده صرف یو ته ورکولے شی .هریو ته نه.
دغه شان نبوت هم یو ډیر لوئے منصب اوعهده ده.کومه چه په زیات عبادت او ریاضت سره نه حاصلیږی.نود معتزلهٔ اومتنبی قادیان دا خیال چه نبوت کسبی څیز دے .دا بالکل غلط دے.ددے تکذیب ذکر شوی نصوص کوی.
نو بیا چه لکه څنګه په دے کښے شك نشته.چه نبوت وهبی څیز دے.نو بیا په دے کښے هم شك نشته.چه کوم کس ته الله تعالی نبوت ورکوی.نو په هغه کښے صفات حمیده اوکمالات انسانیه په اعلی او اوچته درجه وی.یو خسیس اوبےکاره کس پیغمبر نشی جوړیدے.چاته چه دا منصب ملاویږی.په هغه کښے به دانسانیت داسے اعلی کمالات وی.چه دهغوئ په مقابله کښے به دنورو هیڅ حیثیت نه وی.

---

(۱) الدرالمنثور (۲۳۷/۲) تحت تفسیر قوله تعالی:﴿أَخْلَصُوا دِیْنَهُمْ لِلّٰهِ﴾_
(۲) سورة حج:۷۵_
(۳) سورة أنعام: ۱۲٤_

سرورکندت رسول الله ﷺ الله تعالی په نبوت باندے سرفراز کړے دے اود ختم نبوت تاج ئے د دوی په سر باندے کیخودے دے دنبی ﷺ دیانت او شرافت د مسلمانو نه وو د دوی د صداقت او امنت په وجه به هرکس ددوی احترام کولو خوچه کله دوی دتوحید دعوت ورکړلو هم هغه خلق اوددوی د خپل خاندان خلق ددوی دشمنانان جوړ شول دوی ته به ئے سخت تکلیفونه ورکول دوی به ئے په لارو کوڅو کښے آزارول په ګنړه او ځان به ئے ورته تکلیفونه رسول د دوی په عبادت کښے به ئے رکاوټونه پیدا کول او ددوی په دعوت الی التوحید کښے به ئے خنډان پیدا کول

نبی ﷺ چه د قریشو دتکلیفونو نه تنګ شو چه طائف ته لاړلو هلته کښے دوی خلقو ته دعوت ورکړلو نو په وینو کښے رنګ بنګ کړے شو تردےچه حضرت جبرئیل ﷺ راغلو او عرض ئے اوکړلو چه ستا تول معاملات الله تعالی اوری اووینی دا د غرونو فرښته مسره تاسو ته راغلے ده تاسو ورته حکم ورکړئ بیا «ملك الجبال» عرض اوکړلو یا رسول الله تعالی زه تاسو ته رالیږلے یم تاسو حکم اوکړئ که تاسو غواړئ نو زه به د دواړو غرونو په مینځ کښے دوی چیخړے کړم.

نبی ﷺ د ډیر لوئے شفقت مظاهره اوکړله اودهغوی د نیست نابود کولو اجازت ئے ورنکړلو.[1] بیا ئے مکے مکرمے ته تشریف یوړلو او بیا ئے دهغه ځائے نه مدینے منورے ته هجرت اوکړلو په دے ټوله موده کښے د دوی په ژبه مبارکه باندے د شکیت یوحرف هم نه دے راغلے د دوی د عزت، جان اومال دشمنانو به هر وخت دوی ته تکلیفونه ورکول خو دوی صبر اوتحمل اختیار کړے وو.

مدینے منورے ته دهجرت کولو نه پس د جنګونو سلسله شروع شوه اوهر وخت به هنګمی حالت وو خود مکے د فتحے په موقع چه کله نبی ﷺ خپل دغه دشمن مغلوبه کړلو اوپه مکه مکرمه کښے د دوی حکومت قائم شو نود قریشو یو یو سردار دوی ته مخامخ په یو قطار کښے اودریدل اودوی ته په هغوی باندے پوره قدرت حاصل شو په دغه وخت کښے نبی ﷺ اوفرمائیل «لاتثریب علیکم الیوم اذهبوا فانتم الطلقاء»[2] دنبی کریم ﷺ د خلق عظیم ددے نه زیات به څه ثبوت کیدے شی اوهغه به څومره عظیم الشان اخلاص وی چه دهغے په نتیجه کښے دا رحمت اوشفقت ښکاره شو ددے اخلاص اندازه لګول زمونږ د وس نه بهر ده

خلاصه دا چه بیشکه نبوت وهبی وی د کسب په دے کښے څه دخل نه وی خوچه چاته نبوت ورکولے شی نو پکار ده چه په هغه کښے دکمال اعلی صفتونه موجود وی بیا دا دیاد ساتلو خبره ده چه په صفاتو او کمالاتو کښے د ټولو نه اوچت صفت او دټولو نه لوئے کمال ,,اخلاص.. دے کوم چه په نبی ﷺ کښے علی وجه الکمال موجود وو

---

[1] اوګورئ پوره واقعه دپاره(البدایة والنهایة (۲/ ۱۳۷)_

[2] اوګورئ زادالمعاد مع تعلیقات (۳/ ٤۰۸) فصل فی الفتح الأعظم)_

امام بخارىؒ ددے عبارت په ذريعه دے خبرے ته اشاره کوى چه رسول اللهﷺ ته کومه وحى رالیږلے شوے وه اوکوم نبوت چه دوى ته ورکړے شوے وو دا ځکه چه په دوى کښے نيت حسنه او اخلاص په اعلى درجه موجود وو په روايت کښے دى ((إنما الأعمال بالنيات)) کښے د دے اخلاص په اهميت باندے زور ورکولے شى او ددے دحصولو تلقين ورته کولے شى ځکه چه امام بخارىؒ دا عبارت راوړلو نو په اصل کښے دا خودل غواړى چه په نبوت اواخلاص کښے نزدے او ژور تعلق دے کوم سړے چه نبى جوړول وى نو په هغے کښے اخلاص په کامله درجه پکار دے په دے طريقه د حديث دترجمة الباب سره ربط ښکاره کيږى (۱)

دحديث ((انما الاعمال بالنيات)) اهميت امام بخارىؒ دټولو نه وړاندے دا حديث ذکر کړلو ځکه چه د علماء اسلام په نيز د دے روايت صحت، عظمت، او جلالت متفق عليه دے حضرات علماء کرامو ؒ فرمائيلى دى چه دا حديث په هغه احاديثو کښے شامل دے په کوموباندے چه دا اسلام دارومدار دے (۲)

امام عبدالرحمن بن مهدىؒ فرمائى ((من أراد أن يصنف كتاباً فليبتدئ بهذا الحديث)) (۳)

امام خطابى ؒ فرمائى ((صدر أبوعبدالله كتابه بحديث النية، وافتتح كلامه به، وهو حديث كان المتقدمون من شيوخنا ؒ يستحبون تقديم أمام كل شئ ينشأ ويبتدأ من أمور الدين لعموم الحاجة إليه فى جميع أنواعها ودخوله فى كل باب من أبوابها)) (۴)

امام شافعىؒ فرمائى ((إن هذا الحديث يدخل فيه نصف العلم)) د دے توجيه دا ده چه داعمالو تعلق به يا جوارحو سره وى اويا زړه سره که جوارحو سره متعلق وى نو بدنى عبادات اوکه زړه سره تعلق ساتى نوقلبى عبادات ورته وائى اوښکاره ده چه دنيت تعلق د زړه سره وى (۵)

دامام شافعىؒ نه علاوه د نورو حضراتو نه هم دا منقول دى چه دا حديث ((ثلث العلم)) دے ددے توجيه امام بيهقى دا فرمائى چه دبنده عمل به يا د جوارحو سره متعلق وى يا ژبے سره او يا د زړه سره او د قلب عمل نيت دے اودا ثلث دے (۶)

امام ابوداودؒ فرمائى د اسلام دارومدار په څلور احاديثو دے (۷)

---

(۱) امدادالبارى (۲: ٤۳۵)_

(۲) كتاب الأذكار النواوية بشرح الفتوحات الربانية (۱/ ۶۳) فصل فى الأمر بالإخلاص)_

(۳) كتاب الأذكار (۱: ۶۶)_

(۴) أعلام الحديث للخطابى ؒ (۱: ۱۰۶) آخر مقدمة المؤلف)_

(۵) الفتوحات الربانية على الأذكار النواوية (۱: ۶۳)_

(۶) پورتنئ حواله)_

(۷) اوګورئ الفتوحات الربانية (۱: ۶٤) وعمدة القارى (۱/ ۲۲) خوپه عمدة القارى کښے د څلورم حديث ((أزهد فى الدنيا..)) په ځائے ((لايكون المؤمن مؤمناً حتى يرضى لأخيه ما يرضى لنفسه)) ذکر دے

① ((إنما الأعمال بالنيات))

② ((من حسن إسلام المرء ترکه مالا يعنيه))(۱)

③ ((الحلال بين والحرام بين..))(۲)

④ ((أزهد في الدنيا يحبك الله..))(۳)

دا خبره طاهربن مفوز رحمه الله په نظم کښې بيان کړې ده.

عمدة الدين عندنا كلمات أربع من كلام خير البرية

أتق الشبهات،و،،ازهد،،و،،دع مالايعنيك،،و،،اعملن بنية،(۴)

امام احمد رحمه الله فرمائی.چه اصول داسلام په درے احاديثو باندے دی.

① ((إنما الأعمال بالنيات)) ② ((الحلال بين والحلام بين..))

③ ((من أحدث في أمرنا هذا ماليس منه فهو رد))(۵)

دحديث شان ورود: امام طبرانی په صحيح سنده سره دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ددے حديث شان ورود ذکر کړے دے.چه په موږ کښې يو کس ام قيس نومے ښځے ته د نکاح پيغام اوليږلو.نوهغے ورته شرط اولګولو.چه هجرت اوکړه.نو نکاح به درسره اوکړم. دے کس مدينے منورے ته هجرت اوکړلو.اوهغه ښځے سره ئے نکاح اوکړه.موږ به هغه ته ،،مهاجر ام قيس،، وئيل.(۶) نبی صلی الله عليه وسلم ته چه کله دا خبره اورسيدله.نودا حديث ئے اوفرمائيل.

---

(۱) أخرجه الترمذی فی جامعه فی كتاب الزهد باب (بلاترجمة)) بعد باب فيمن تكلم بكلمة يضحک بها الناس رقم ۲۳۱۷ وابن ماجة فی كتاب الفتن باب كف اللسان فی الفتنة رقم ۳۹۷۶)_

(۲) أخرجه البخاری فی صحيحه فی كتاب الإيمان باب فضل من إستبرأ لدينه رقم ۵۲. وفی كتاب المساقاة باب الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات رقم ۲۰۵۱. ومسلم فی صحيحه فی كتاب المساقاة باب أخذ ....الحلال وترک الشبهات رقم (۱۵۹۹) والنسائی فی سننه فی كتاب البيوع باب إجتناب الشبهات فی الكسب والترمذی فی جامعه فی كتاب البيوع باب ماجآء فی ترک الشبهات رقم (۱۲۰۵) وابن ماجة فی سننه فی كتاب الفتن باب الوقوف عند الشبهات (۳۹۸۴)_

(۳) أخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الزهد باب الزهد فی الدنيا رقم ۴۱۰۲)_

(۴) عمدة القاری (۱/۲۲) والفتوحات الربانية (۱/۶۴)_

(۵) أخرجه البخاری فی صحيحه فی كتاب الصلح باب إذا إصطلحوا علی صلح جور مردود رقم(۲۶۹۷) ومسلم فی صحيحه فی كتاب الأقضية باب نقض الأحكام الباطلة ورد محدثات الأمور رقم (۱۷۱۸) وابوداود فی سننه فی كتاب السنة باب لزوم السنة رقم ۴۶۰۶. وابن ماجه فی سننه فی المقدمة باب تعظيم حديث رسول الله صلی الله عليه وسلم والتغليظ علی من عارضه رقم ۱۴)_

(۶) اوګورئ عمدة القاری (۱/۲۸) بيان السبب والمورد)_

يو اشكال او دهغې جواب دلته يو اشكال دا كيږي چه حضرت ابوطلحه ﷺ چه حضرت ام سليم ﷺ (دحضرت انس ﷺ مور) ته دنكاح دپاره اووئيل نوحضرت ام سليم ﷺ ورسره شرط لګولے وو چه ايمان راوړه نونكاح به درسره اوكړم نوحضرت ابوطلحه ﷺ ايمان راوړلو او ددے نه پس نكاح هم اوشوه.(١)

داسلام معامله خو د هجرت نه هم اهمه اومعززه ده.نبى ﷺ دنكاح دپاره په هجرت باندے انكار كړے دے او ((فمن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إمرأة ينكحها فهجرته إلى ما هاجر إليه)) ئے اوفرمائيل.اود ناخوښئ اظهار ئے اوكړلو.خو د حضرت ابوطلحه ﷺ د اسلام په باره كښے د دوى ﷺ نه څه نكير منقول نه دے دا لرے خبره ده.چه نبى ﷺ ته به د دے خبر نه وى شوے.څكه چه ام سليم ﷺ ته په دربار رسالت كښے ډير نزديكت حاصل وو.(٢)

داسلام عالمانو فرمائيلى دى.چه په اصل كښے دحضرت ابوطلحه ﷺ د وړاندے نه داسلام راوړلو اراده وه.هغوى هم په هغه طريقه اسلام قبول كړلو.لكه څنګه چه عاموخلقو على وجه البصيرة اسلام قبول كړے وو.(٣) خو ورسره ورسره هغوى د تزويج مباح يعنى جائز نكاح نيت هم شامل كړے وو.

اودا داسے ده.لكه چه يو سړے روژه نيسى.نيت ئے د روژے نيولو وى.خو ورسره ورسره دپرهيز خيال هم كوى.

يا يو كس د بيت الله طواف كوى.نيت ئے هم د طواف وى.خو ورسره ورسره ئے دا نيت هم وى.چه زما مديون چه هغه هم طواف كوى.هغه به هم د نظر لاندے ساتم.نو لكه څنګه چه د پرهيز په خيال باندے په روژه كښے نقصان نه راځى.او د ((ملازمة الغريم)) په اراده په طواف كښے فرق نه راځى.دغه شان د ابوطلحه ﷺ د تزويج مباح په نيت سره دهغه په اسلام كښے څه خرابى نه راځى.

خودلته دا سوال كيدے شى.چه هم دا توجيه هم تاسو د مهاجر ام قيس په باره كښے هم كولے شئ.خوهلته تاسو دا توجيه نه كوئ؟

د دے جواب دا دے.چه دمهاجر ام قيس په باره كښے دنبى كريم ﷺ نه د ((ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إمرأة يتزوجها فهجرته إلى ما هاجر إليه)) په الفاظو سره نكير راغلے دے.نو دهغه په قصه

---

(١) عن أنس ﷺ قال تزوج أبوطلحة أم سليم رضى الله عنها فكان صداق ما بينهما الإسلام .أسلمت أم سليم. قبل أبي طلحة فخطبها فقالت إني قد أسلمت فإن أسلمت نكحتک فأسلم أبوطلحة فكان صداق ما بينهما))_

(٢) حضرت انس ﷺ فرمائي.((أن النبى ﷺ كان يزور أم سليم فتتحفه بالشئ تصنعه له)) دغه شان حضرت انس ﷺ نه منقول دى.((لم يكن رسول الله ﷺ يدخل بيناً غير بيت أم سليم إلا على أزواجه فقيل له فقال إني أرحمها قتل أخوها وأبوها معى)) اوګورئ الإصابة (٤/٤٦١)_

(٣) د لاندينى روايت نه ددے تائيد كيږى ((عن أنس بن مالک ﷺ أنا أباطلحة ﷺ خطب أم سليم رضى الله عنها يعنى قبل أن يسلم فقالت:يا أباطلحة ألست تعلم أن إلهک الذى تعبد نبت من الأرض؟ قال بلى قالت أفلا تستحى تعبد شجرة إن أسلمت فإني لا أريد منک صداقاً غيره.قال حتى أنظر فى أمرى فذهب ثم جاء فقال أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله ﷺ .. اوګورئ الإصابة (٤/٤٦١) ترجمه ام سليم بنت ملحان)

كنبے به څه تاويل يا توجيه نشي كولے او د ابوطلحه رضي الله عنه په قصه كنبے نكير موجود نه دے.نوهلته د تاويل گنجائش شته.په دے باره كنبے به څه تفصيل وړاندے راشي.انشاء الله والله اعلم

قوله إنما الأعمال بالنيات : په دے ځائے كنبے په روايت كنبے د ((أعمال)) او ((نيات)) دواړه د جمع صيغے راغلي دي.حالانكه په يو روايت كنبے ..نيت.. مفرد هم راغلے دے.(١) عالمانو ليكلي دي.چه په كوم ځائے كنبے اعمال جمع اونيت مفرد وي نو هلته به دا توجيه كولے شي.چه داعمالو صدور چونكه د جوارحو نه كيږي.او جوارح گڼړ دي نوځكه اعمال جمع راوړلے شوه.اود نيت صدور چونكه د قلب نه كيږي.او قلب واحد دے نوځكه نيت واحد راوړلے شوے دے.(٢)

يو توجيه دا هم كيدے شي.چه عمل په حقيقت كنبے يو وي.خو د جهاتو د تنوع د وجے يوعمل متعدد عمل اوگرځولے شو.مثلاً چه يو سړے جمات ته خي.اودے څو نيتونه اوكړي لكه : ذكر نيت اوكړي.د تلاوت نيت اراده اوكړي.د مونځ خيال ورسره وي.د جماعت انتظار كول غواړي.په دعا كنبے د مشغوله كيدو اراده ئے وي . په جمات كنبے په كيناستو د لايعني حركاتو نه حفاظت ئے مقصود وي.د مسلمانانو رونړو ملاقات ئے قصد وي.اودلته د استفاده او افادے نيت هم وي.نو اوگورئ دلته عمل يو.خود جهاتود تعدد د وجے دا يوعمل نشي گرځولے.بلكه متعدد اعمال ورته وئيلى شي.په خلاف د نيت ځكه چه نيت نوم دے داخلاص لله.او په اخلاص لله كنبے يووالے وي.په دے كنبے تعدد نه وي.په دے وجه اعمال جمع او نيت واحد راوړلے شوے دے.

خوچه په كوم ځائے كنبے اعمال او نيات دواړه جمع وي.نوهلته لكه چه ((مقابلة الجمع بالجمع)) ده.كومچه ((انقسام الآحاد بالآحاد)) لره مقتضى دے.اومطلب به دا وي.چه ((كل عمل بنية)) يعنى : هر عمل دپاره به دهغے دخپل نيت اعتبار وي.اود نيت په اختلاف سره به عمل هم مختلف گرځي.(٣)

---

(١) امام بخاري رحمه الله دا روايت د باب بدء الوحي نه علاوه په نورو شپږو ځايونو كنبے ذكر كړے دے .يو روايت خو هم دا دے.د كوم الفاظ چه ستاسو وړاندے دي ((إنما الأعمال بالنيات)) په دوو مقاماتو كنبے ((إنما الأعمال بالنية)) دے.اوگورئ كتاب الأيمان والنذورباب النية في الأيمان رقم ٦٦٨٩ او كتاب الحيل باب في ترك الحيل رقم ٦٩٥٣. په دريے مقاماتو كنبے ((الأعمال بالنية)) الفاظ دي. اوگورئ كتاب ((الأيمان باب ما جآء أن الأعمال بالنية والحسبة رقم ٥٤. وكتاب العتق باب الخطأ والنسيان في العتاقة والطلاق ونحوه رقم ٢٥٢٩. وكتاب مناقب الأنصار باب هجرة النبي ﷺ وأصحابه إلى المدينة رمق ٣٨٩٨)) او په يومقام كنبے ((العمل بالنية)) لفظ مروي دے.اوگورئ كتاب النكاح باب من هاجر أوعمل خيراً لتزويج إمرأة فله ما نوى رقم ٥٠٧٠_

(٢) فتح الباري(١٢/١)_

(٣) اوگورئ فتح الباري (١٢/١) وتقرير بخاري شريف حضرت شيخ الحديث صاحب قدس سره (٧٣/١)_

مثلاً یو کس خوشبوئی استعمالوی داتباع سنت په نیت یا په دے خیال چه زما د بدن نه کومه بدبوئے داره خوله خې په هغې چاته تکلیف نه رسی یا دده نیت دا وی چه زما دماغو ته تقویت ملاو شی نو ده ته به په دے باندے اجر اوثواب ملاویږی.
خوکه دده نیت په دے باندے خپل خان لوئے ښکاره کول وی. یا دده نیت پردئ زنانه خپل خان ته مائله کول وی نو په دے به نیول اوعذاب وی نولکه چه «انما الأعمال بالنيات» کښے ئے نیت داعمالو په مقابله کښے جمع راوړلو. او دے خبرے ته ئے اشاره اوکړه چه دعمل دارومدار ددے په نیت دے که دخیر نیت ئے وی نو عمل به ئے هم عمل خیرشمارلے شی اوکه د شر نیت ئے وی نوعمل به ئے هم عمل شر شمارلے شی.

په فعل اوعمل کښې فرق بیا ئے دلته «انما الأعمال بالنيات» اوفرمائیل. «انما الأفعال بالنيات» ئے نه دی فرمائیلی. ددے وجه دا خودلے شوے ده چه په اصل کښے په ..عمل. کښے دوام اواستمرار طرف ته اشاره وی. ځکه چه دعمل معنی ..ساختن.. یعنی جوړول دی. او په جوړولو کښے امتداد وی. اووخت پرے لګی. او دفعل معنی ..کردن.. یعنی کول دی. په دے کښے امتداد نه وی او دوخت ضرورت نه وی نوچونکه لفظ د ..عمل.. په دوام او استمرار باندے دلالت کوی. نو ددے وجے ئے «انما الأعمال بالنيات» اوفرمائیل. هم دا وجه ده. چه په قرآن کریم کښے ﴿وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ راغلی دی . خو «وافعلوا صالحا» نه دی راغلے. دغه شان ﴿وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ راغلے دی. خو «فعلوا الصالحات» نه دی راغلے. ځکه چه په ښه کارونو کښے دوام او استمرار مطلوب وی.(۱) دلته کښے هم نبی ﷺ داعمال خیر دوام او استمرار طرف ته اشاره کړے ده.
یوه وجه دا هم بیان شوے ده چه په عمل اوفعل کښے په دے حیثیت باندے هم فرق دے چه عمل هغې ته وائی چه دمکلف نه صادریږی. اوفعل عام دے. که د مکلف فعل وی اوکه د غیر مکلف وی. چونکه د لته د مکلفینو دافعالو ذکر کول مقصود دے ځکه د ..اعمال.. لفظ استعمال شو د ..افعال.. لفظ نه.(۲)
دریمه وجه دا بیان شوے ده چه د ..عمل.. لفظ د ذوی العقول سره خاص دے او. فعل.. عام دے. د ذوی العقول اوغیر ذوی العقول دواړو دپاره استعمالیږی هم دا وجه ده چه دبهائمو دپاره ..عمل البهائم.. نشی ونیلے بلکه ..فعل البهائم.. ونیلی شی (۳) چونکه دلته د ذوی العقول د اعمالو ذکرمقصود دے نو ځکه «انما الأعمال...» فرمائیلے شوے دے

دنیت لغوی او شرعی معنی د نیت لغوی معنی ..قصد.. او ..اراده.. ده قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی «النية عبارة عن انبعاث القلب نحو مايراه موافقا لغرض من جلب نفع أو دفع ضر حالا أو مآلا»(۴)

---

(۱) اوګورئ فیض الباری (۱ ۵) شرح الحدیث علی نحو ما قالوا)_
(۲) حاشیه علامه سندهی رحمه الله بر صحیح بخاری (۱ ۷)_
(۳) اوګورئ حاشیة علامه سندهی رحمه الله برصحیح بخاری (۱ ۷)_
(۴) اوګورئ کرمانی (۱ ۱۸) وفتح الباری ۱۳) وعمدة القاری (۱ ۲۳)_

په شريعت کښې د نيت معنى ده.«الإرادة المتوجهة نحوالفعل لابتغاء رضاء الله وامتثال حكمه»(١) يعنى
چه د لغوى معنى په اعتبار سره دا عام دے.البته د شرعى معنى په اعتبار سره صرف هغه
اراده دنيت په تعريف کښې داخل ده چه په هغې کښې دالله تعالى رضا مقصود وى.

په ,,انما الاعمال بالنيات،، کښې لغوى معنى مراد ده او که شرعى؟

په دے خبره د پوهيدلو نه پس دا هم په زړه کښې کينوئ.چه په دے مقام کښې د نيت نه لغوى
معنى مراد ده.ددے وجه دا ده.چه نبى کريم ﷺ په دے حديث کښې دوه قسمه اعمال ذکر
کړى دى.يو «فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله» او دويم «ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو امرأة يتزوجها
فهجرته إلى ما هاجر إليه» په دے کښې په اولنى عمل کښې «ابتغاء مرضاة الله» ملحوظ ده او په
دويم عمل کښې ملحوظ نه ده.نودا به ونيلى شى.چه دلته د جنس نيت ذکر دے.په دے کښې
لغوى معنى مراد ده شرعى معنى مراد نه ده.(٢)

په ,,نيت،،او ,,اراده،، کښې فرق بيا په دے باندے پوهه شئ.چه حافظ ابوالحسن مقدسى
رحمه الله نيت، اراده ،قصد . اوعزم په يوه معنى خودلى دى.خو دمحققينو په نيز په ..نيت.. او
..اراده.. کښې فرق شته.هغه دا چه په اراده کښې دکوم څيز اراده کولے شى.د هغې په وجود
کښې راوستل مقصود وى.د ارادے کونکى غرض ملحوظ نه وى.په خلاف د نيت ځکه چه په
دے کښې مقصد عام طور ذکر کولے شى.نوداسے ونيلى شى.«نويت لكذا» په خلاف د ارادے چه
هغه د غرض ذکرکولو نه بغير هم استعمالولے شى.ونيلى شى . «أراد الله سبحانه وتعالى» ددے
سره د غرض ذکر کول څه ضرورى نه دى.هم دا وجه ده.چه دالله تعالى دپاره «أراد الله» ونيلى
شى.خو «نوى الله» نه وائى.ځکه چه د نيت استعمال عام طور په هغه افعالو کښې کيږى چه
هغه معلل بالاغراض وى.حالانکه عالمانو ﷺ فرمائيلى دى.چه دالله تعالى دافعال معلل
بالاغراض نه وى.که «نوى الله» اوونيلى شى.نودالله تعالى د افعالو معلل بالاغراض وهم به
پيدا شى.(٣)

علامه کشميرى رحمه الله فرمائى.چه دالله تعالى افعال معلل بالاغراض کيدے شى.په دے کښې
څه محال والے نشته.البته د شريعت په ژبه کښې دالله تعالى دپاره صرف د ارادے لفظ
استعمال شوے دے دنيت ورله نه دے نوځکه په شرعى اطلاق باندے اکتفاء کول به غوره
وى.والله اعلم(٤)

---

(١) پورتنئ حواله)_
(٢) اوګورئ فتح البارى (١٣/١)_
(٣) فيض البارى (٥/١)_
(٤) پورتنئ حواله)_

يواشكال او دهغې جواب دلته يو اشكال دا كيدے شي چه په حديث كښې «إنما الأعمال بالنيات» ونيلى شوى دى.او كلمه د «إنما» د حصر دپاره وى نو ددے معنى شوه.«لا عمل إلا بالنية» يعنى د نيت نه بغير هيڅ عمل موجود نه دے.خو مونږ ګورو دعمل وجود بغير د نيت نه هم وى دا زمونږ طالب علم دے.د كلونو راسے سبق وائى.اولګيا دے نور به هم وائى.خو ددوى څه نيت نه وى.معلومه شوه.چه د نيت نه بغير هم د عمل وجود راتلے شى.نو بيا د «لاعمل إلا بالنية» معنى څنګه صحيح شوه.؟

ددے جواب دا دے.چه رسول الله ﷺ چه د «إنما الأعمال بالنيات» په ذريعه كومو مخاطبونو ته خطاب كړے وو.هغوى اهل زبان وو.هغوى ددے جملے نه داسے مفهوم اخستے دے.چه دهغے نه بغير د شارع ﷺ د تعليم نه واقفيت ممكن نه دے .اوهغه معنى دا ده.چه د يو څيز شرعي وجود د نيت نه بغير نه وى.ښكاره ده چه دا خبره داسے ده.چه هم شارع ئے بيانولے شى. نو نبى ﷺ دلته كښې د «إنما الأعمال بالنيات» نه حسى وجود مراد نه دے اخستے.بلكه وجود شرعى ئے ترے مراد كړے دے.اوهغه وجود د نيت نه بغير نه كيږى.(١)

په اودس كښې د نيت مسئله په دے مقام كښې شارحينو په اودس كښې د نيت بحث كړے دے.نو په دے باره كښې اول د مذاهبو تفصيل باندے خان پوهه كړئ.

تفصيل د مذاهبو دامام مالك. امام شافعى.امام احمد .ابوثور.او داود ظاهرى ﷺ مسلك دا دے.چه دنيت نه بغير اودس صحيح نه دے.د دوى په نيز په اودس كښې نيت شرط دے.(٢) دامام ابوحنيفه. امام ابويوسف. امام محمد . امام زفر.امام سفيان ثورى.امام اوزاعى. د حسن بن حى ﷺ نه او په يو روايت مطابق د امام مالك رحمه الله په نيز هم په اودس كښې نيت واجب نه دے.(٣)

داختلاف منشا علامه ابن رشد مالكى رحمه الله ددے حضراتو داختلاف منشا دا بيان كړے ده.چه په دے خبره كښې خو د ټولو اتفاق دے.چه په عباداتو كښې نيت شرط دے لكه مونځ. روژه. زكاة. حج وغيره.چه په دے كښې دټولو په نيز نيت شرط دے.

البته په اودس كښې تردد دے.چه آيا دا عبادت محضه يعنى غيرمدرك بالعقل عبادت دے.چه په هغے كښې مقصود صرف قربت وى.لكه د مونځ عبادت.اوكه دا مدرك بالعقل عبادت دے.لكه غسل نجاست وغيره؟ نودرے واړه امامان او د هغوى همخيال دے ته عبادت محضه وائى.اوچونكه په عبادت محضه كښې نيت شرط وى نو څكه په اودس كښې هم نيت ضرورى دے.

---

(١) اوګورئ شرح كرمانى على البخارى (١٨/١) وفتح البارى (١٣/٣)_

(٢) اوګورئ بداية المجتهد ونهاية المقتصد(٨/١) كتاب الوضوء الباب الثانى.المسئلة- الأولى من الشروط)_

(٣) اوګورئ عمدة القارى (٣٠/١) استنباط الأحكام)_

خواحناف او ددوى موافقين دے ته عبادت محضه نه وانى بلكه د عبادت محضه يوه ذريعه او وسيله ئے گنړى نو ددوى په نيز په اودس كنبے نيت ضرورى نه دے (۱)

د وسله او ذريعه گرخولو وجه دا ده چه په قرآن كريم كنبے د ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ (۲) راغلى دى اود ځا په نيز هم د جامو د نجاست لرے كولو دپاره نيت ضرورى نه دے دغه شان په قرآن كريم د اودس د آيت په آخر كنبے ونيلے شوى دى ﴿ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ ﴾ (۳) دلته كنبے الله تعالى په خپله د طهارت مقصود خودلے دے په حديث رسول كنبے هم صراحت دے «مفتاح الصلاة الطهور» (۴) دلته الله تعالى په خپله مقصود طهارت گرخولے دے په حديث رسول ﷺ كنبے هم صراحت دے چه «مفتاح الصلاة الطهور» (۵) د دے نه معلومه شوه چه دمونځ پشان دا په عبادت محضه كنبے داخل نه دے بلكه نظافت محضه اوطهارت محضه دے.

كله چه شوافعو ﷺ ته اوونيلى شى چه د جامو نه د پليتئ لرے كولو اودهغے د پاكولو دپاره د نيت ضرورت نشته نو په اودس كنبے (چه په دے كنبے د بدن پاكوالے دے) نيت ولے ضرورى دے؟نود حضرات شوافعو ﷺ د طرفه دا ونيلى شى چه د جامو د حقيقى اوحسى نجاست لرے كول مقصود وى اود حسى زوال په سترگو په نظر راځى خكه په دے كنبے دنيت ضرورت نشته اوپه اودس كنبے د نجاست حكمى زائله كول مقصود وى كوم چه نه په خپله په نظر راځى او نه دهغے زوال په نظر راځى نوپه دے كنبے به دنيت ضرورت وى اوبه د نجاست حقيقى اوحكمى دواړو دپاره پاكونكے دى

خوددے جواب دا دے چه الله تعالى ارشاد فرمائيلے دے ﴿ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا ﴾ (۶) په دے كنبے اوبه بالطبع مطهر گرخولے شوے دى اود مبالغه صيغه استعمال شوے ده چه اوبه

---

(۱) بداية المجتهد (۱/ ۸ ۹)_

(۲۰۵) سورة المدثر: ٤)_

(۳) سورة المائدة: ۶)_

(۴) أخرجه ابوداود فى سننه كتاب الطهارة باب فرض الوضوء رقم ۶۱) والترمذى فى جامعه فى أبواب الطهارة باب ما جاء أن مفتاح الصلاة الطهوررقم. ۳. وابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة باب مفتاح الصلاة الطهور رقم. ۲۷۵. ۲۷۶)_

(۵) أخرجه ابوداود فى سننه فى كتاب الطهارة باب فرض الوضوء رقم. ۶۱. والترمذى فى جامعه فى أبواب الطهارة باب ماجاء، أن مفتاح الصلاة الطهور رقم. ۳ وابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة باب مفتاح ا لصلاة الطهور رقم. ۲۷۵. ۲۷۶)_

(۶) سورة الفرقان: ٤۸)_

بالطبع مطهر شوے.نوددے تقاضا دا ده.چه نجاست هرخنګه وی.که حسی حقیقی وی.یا حکمی معنوی وی.په اوبو کښے الله تعالی د هغے دزائله کولو صلاحیت اوېخودے دے.نولکه څنګه چه نجاست حسیه حقیقیه دپاره دنیت ضرورت نشته.نودغه شان به دنجاست حکمیه معنویه دپاره هم د نیت ضرورت نه وی.

په احنافو رحمهم الله یواشکال اود هغې جواب سوال دا پیدا کیږی.چه احناف په تیمم کښے نیت ولے ضروری ګرخوی.حالانکه دا هم طهارت دے.دغه شان احناف رحمهم الله په نبیذالتمر باندے د اودس کولو دپاره هم نیت ضروری ګرخوی.حالانکه هغه هم طهارت دے.(۱)

ددے جواب دا دے.چه په تیمم کښے په اصل کښے د خاورے استعمال کیږی.او هغه بالطبع مطهر نه ده.او په اودس کښے د اوبو استعمال کیږی.اودا بالطبع مطهر دی.نوچه په کوم ځائے کښے د مطهر بالطبع استعمال وی.هلته به د نیت ضرورت نه وی اوچه په کوم ځائے کښے د په کوم ځائے کښے دخاورے استعمال کیږی.کومه چه بالطبع د بدن ګنده کونکے ده.پاکونکے نه ده.هلته به د نیت ضرورت وی.

ددے نه علاوه په دے دواړو کښے یو بل فرق دا دے.چه د تیمم په باره کښے په قرآن پاك کښے ﴿فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا﴾ (۲) راغلے دے.اود تیمم لغوی معنی قصد او اراده کول دی.نوپه لغوی اوشرعی معنی کښے دموافقت پیدا کولو دپاره احنافو په تیمم کښے ضروری اوګرخولو او چونکه د اودس په باره کښے داسے څه لفظ نه دے استعمال شوے. کوم چه د نیت په لزوم باندے مشعر وی.(۳)

اوترکومے پورے چه په نبیذ التمر د اودس کولو مسئله ده.نو په دے کښے دامام ابوحنیفه رحمه الله نکته نظر دا دے.چه نبیذالتمر نه خو مطلق اوبه دی.چه لکه څنګه دماء مطلق استعمال په آزادئ سره کولے شی.د نبیذ التمر په اودس کښے داستعمال اجازت نشته.ځکه چه دا د مطلق اوبو په حکم کښے نه دی.خو بل طرف دا ماء مقید هم نه دی.چه په دے باند بیخی اودس کول جائز نه وی.ځکه چه نبی ﷺ ورته ((تمرة طيبة وماء طهور)) فرمائیلی دی.(۴) اوددے نه

(۱) قال فی شرح الوقاية بشرحه السعاية (۵۲۷/۱) فالنية فرض فی التيمم. علامه عبدالحی لکهنوی السعایه (۴۷۴/۱) کښے لیکی.وقال القدوری فی کتابه. وکان أصحابنا يقولون إن الوضوء بالنبيذ علی أصولهم يجب أن لا يصح إلا بالنية كالتيمم لأنه بدل عن الماء ولهذا لا يجوز التوضی به حال وجود الماء ..دغه شان اوګورئ فیض الباری (۷/۱)_

(۲) سورة النساء :۴۳، وسورة المائدة:۶)_

(۳) اوګورئ فیض الباری (۷/۱)_

(۴) الحديث أخرجه ابوداود عن ابن مسعود رضي الله عنه فی كتاب الطهارة باب الوضوء بالنبيذ.رقم. ۸۴ والترمذی عنه أيضاً فی جامعه فی أبواب الطهارة باب ما جآء فی الوضوء بالنبيذ رقم ۳۸۴، و(۳۸۵) وانظر لتفصيل الكلام على هذا الحديث نصب الرأية قبيل باب التيمم)_

پس نبی ﷺ د هغې نه اودس اوکړلو.نو د نبی ﷺ د اودس نه معلومه شوه.چه دا ..ماء مقید.. نه دی.چه اودس به پرے نه کیږی.

امام اعظمؒ فرمائی چه ..نبیذ تمر.. ته چونکه د ماء مطلق او ماء مقید په مینځ مینځ کښے یوه درجه حاصله ده.نو په دے باندے به د اودس کولو اجازت وی.خو د شرطونو سره چه د نیت شرط به وی.دغه شان دا به هم ضروری وی.چه د نور مطلق اوبه موجود نه وی.(۱)

آیا احناف رحمهم الله قیاس ته په حدیث باندې ترجیح ورکوی؟ په احنافو ﷺ باندے عام طور دا اعتراض کیږی.چه دوی حدیث ته هغه درجه او مقام نه ورکوی.کوم مقام چه ددوی په نیز د قیاس او رائے دے.دوی د حدیث په مقابله کښے قیاس او رائے ته ترجیح ورکوی.

حالانکه دا اعتراض بیخی غلط دے.بلکه دامامؒ په نیز خو ضعیف حدیث هم د قیاس نه اوچت دے.هم دا د نبیذ مسئله راواخلئ.امام اعظمؒ په نبیذ باندے د اودس کولو اجازت نه دے ورکړے.څکه چه دا ماء مطلق نه دی.خوامام ابوحنیفه

اودس کولو اجازت ورکړے دے.اوپه ائمه ثلاثه کښے چا هم په دے باندے دؒ د دے علم باوجود چه دا اوبه مطلق نه دی.په دے باندے داودس کولواجازت ورکوی.څکه چه په حدیث کښے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.«تمرة طیبة وماء طهور» او ددے نه پس نبی ﷺ په دے باندے اودس اوکړلو.نو ددے حدیث په احترام کښے امام صاحب په نبیذ باندے د اودس کولواجازت ورکړلو.اوبیا په دے باره کښےئے د څومره باریکو خبرو خیال ساتلے

① چونکه نبی ﷺ په نبیذ تمر باندے اودس کړے وو.نوصرف په نبیذ تمربه اجازت وی.په نبیذ عسل، نبیذ شعیر، او بل نبیذ باندے اجازت نشته.(۲)

② دویمه خبره دا ده.چه نبی ﷺ په هغه وخت کښے په نبیذ تمر باندے اودس کړے وو.چه مطلق اوبه موجود نه وے.نوامام صاحب هم دا فرمائی.چه په نبیذ تمر باندے د اودس کولو اجازت په هغه وخت کښے وی.چه مطلق اوبه موجود نه وی.(۳)

③ دریمه خبره دا ده.چه امام صاحب فرمائی.نبی ﷺ په نبیذ تمر باندے اودس کړے وو.غسلئے پرے نه وو کړے.نوموږ هم صرف د اودس اجازت ورکوو.د غسل اجازت نه ورکوو.(۴)

که په قیاسئے عمل کولو.نو په نبیذ التمر بهئے قیاس کولے او په نورو نبیذونو بهئے هم د اودس کولو اجازت ورکړے وے.دغه شان د مطلق اوبو د وجود په صورت کښے بهئے هم په نبیذ تمر باندے اودس ته تیك وئیلی وو.دغه شان د اودس پشان بهئے د غسل کولو اجازت هم ورکړے وے.خود حدیث خیال ساتلو د وجے امامؒ دا ټول قیاسونه نظر انداز کړل.

---

(۱) اوګورئ فیض الباری (۱/۷، ۸)_

(۲) السعایة (۱/۴۷۳، ۴۷۴)_

(۳) اوګورئ السعایه (۱/۴۷۳، ۴۷۴)_

(۴) اوګورئ السعایة (۱/۴۷۴)_

دحديث باب نه د ائمه ثلاثه استدلال په اودس كنبے د نيت د اشتراط دپاره ائمه ثلاثه په حديث باب باندے استدلال كوى.اوفرمانى چه نبى ﷺ **((انما الأعمال بالنيات))** فرمائيلے دے.اوپه اعمالو كنبے اودس هم داخل دے.نو د اودس دپاره به هم نيت لازم وى.

بيا چونكه دلته د ټولونيز تقدير راويستل ضرورى دى. نودا حضرات **((صحة))** تقدير راوباسى. اووانى.چه **((انما صحة الأعمال بالنيات))** يا **((انما الأعمال تصح بالنيات))**

اوداحنافو رحمهم الله په نيز دلته د **((صحة))** تقدير راويستل ټيك نه دى.بلكه دوى دلته د **((ثواب الأعمال))** يا **((حكم الأعمال))** تقدير ګنړى.يعنى **((انما ثواب الأعمال بالنيات))** يا **((انما حكم الأعمال بالنيات))**(۱)

هرفريق د خپل مسلك داثبات دپاره دلته زور لګولے دے.خو حقيقت دا دے.چه د دواړو طرفونه په دے خائے كنبے ،،غلو،، ده.ددے تفصيل به انشاء الله روستو راشى.

. د ذكرشوو تقديرونو دعدم صحت په سلسله كښى دحضرت شاه رحمه الله تقرير

حضرت شاه رحمه الله فرمائى.چه كه د ،،صحت،، تقدير وى.او كه د **((ثواب))** تقدير وى.هيڅ يو صورت په دے مقام كنبے ټيك نه دے.

د ،،صحت،، تقدير ددے وجے دلته صحيح نه دے.چه ددے په منلو په حديث كنبے دوه تخصيصه منل پكار دى.

يو دا چه حديث به بيا د دنيوى احكامو سره متعلق شى.د آخرت داحكاموته به جامع نه وى. خكه چه د ،،صحت،، معنى دا ده.چه **((استجماع الشرائط والأركان بحيث يسقط الفرض عن ذمته))** ديوخيزټول اركان او شرائط جمع كول ،،صحت،، دے.او ددے نيتجه سقوط د فرض او غاړه خلاصيدل دى.

،،بطلان،،ددے نقيض دے.نبكاره ده.چه د صحت او بطلان تعلق د فقه او دنياوى احكامو سره وى.دآخرت احكامو سره نه وى.حالانكه حديث عام دے.په دے كنبے ددنيا او آخرت دواړه احكام شامل دى.

دويم تخصيص په دے كنبے دا لازميږى.د ،،صحت،، او ،،بطلان،، اجراء په هغه افعالو كنبے كيږى.چه په هغے كنبے دحلت اوحرمت دواړه جهته وى.اوچه كوم افعال قطعاً حرام دى.لكه قتل. زنا. سرقه وغيره. نو په دے باندے د صحت يا بطلان اطلاق نه كيږى.دا نشى وئيلے.چه **((صح قتله وزناه وسرقته أوبطل))** د صحت د تقدير منلو په صورت كنبے به حديث ددے احكامو نه ساكت ګرخول وى .حالانكه حديث ټولو ته شامل دے.

دغه شان دا خبره هم ياد ساتل پكار دى.چه صحت او بطلان د روستنى دور اصطلاحات دى.دنبى ﷺ ارشادات د روستنى دور اصطلاحاتو باندے مقيد كول ټيك نه دى. بيا دلته

---

(۱) اوګورئ شرح وقايه مع السعايه (۱/۱٤۳، ۱۵۲)_

داحنافو ﷺ راویستے تقدیر «وثواب الأعمال» هم صحیح نه دے خکه چه د ثواب او عقاب تعلق داخروی احکامو سره وی.حالانکه ددے حدیث تعلق د دنیاوی احکامو سره هم دے دویم تخصیص دا لازمیږی.چه دا حدیث به صرف د طاعاتو پورے مخصوص شی. خکه چه ثواب خو په طاعاتو ملاویږی په معاصی نه ملاویږی.خکه چه په هغے خو عذاب ملاویږی حالانکه په حدیث کښے په معاصی باندے عقاب هم داخل دے. بلکه ښکاره په کښے ددے ذکر دے چه «ومن کانت هجرته إلی دنیا یصیبها»

دلته کښے دا خبره قابله د توجه ده.چه په اصل کښے د ثواب ملاویدل په صحت موقوف وی.خکه چه ثواب خو به هله وی.چه عمل صحیح وی.اوکه عمل صحیح نه وی.نو ثواب به څه ملاو شی.نو دصحت د تقدیر نه د بچ کیدو دپاره د ،،ثواب،، تقدیر څه مفید نه دے.خکه چه ددے په تقدیر راویستلو باندے به هم صحت منل ضروری وی.او بیا به هغه ټولې قباحتونه راخی.کوم چه مونږ دصحت د تقدیر په صورت کښے بیان کړی وو.(۱)

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله ذکر شوے حدیث «الأعمال بالنیات» په خپل صیحح کښے اووه خایه راوړے دے.اولنے خو هم دا دے.دویم په .ص ۱۳. کښے «باب ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة ولکل امرئ ما نوی» الفاظ راغلی دی.په دے کښے دایمان .اودس. مونځ.زکاة.حج روژه وغیره ټول داخل شول .مطلب دا چه داخیر داعمالو اجر اوثواب به هله حاصلیږی.چه اراده د طلب ثواب وی.(که نیت فاسد وی.یا د طلب ثواب اراده نه وی.نوهغه عمل به دثواب نه خالی وی)

دریم ئے په کتاب العتق کښے راوړے دے.څلورم په باب الهجرة کښے پنځم په نکاح کښے شپږم دنذر په بیان کښے اووم په کتاب الحیل کښے (ددے ټولومقاماتو تخریج په مخکښې حاشیه کښے شوے دے.مرتب) په څه خائے کښے ددوی مقصد دصحت اعمال مدار په نیت باندے خودل دی.اوکله ثواب اعمال په نیت باندے موقوف خودل دی.ددے نه معلومه شوه.چه دامام بخاری رحمه الله په نیز دحدیث مفهوم عام دے.چه دواړو صورتونو ته شامل دے.

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.چه د حدیث مذکور نه صرف دصحت اعمال تخصیص لکه چه فقهاء ئے کوی.ټیک نه دے.لکه څنګه چه د ثواب اعمال تخصیص مناسب نه دے.لکه چه د بعضے احنافو فقهاؤ رائے ده.(۲)

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.چه په دے مقام کښے فریقینو د ،،صحت،، او ،،ثواب،، تقدیرونه راویستے دی.اودا بحث ئے چیړلے دے.چه په اودس کښے نیت ضروری دے اوکه نه؟ او دا چه دعمل دوجود دپاره نیت ضروری دے.اوکه بغیر د نیت هم عمل په وجود کښے راتلے شی؟حالانکه د حدیث مقصود هډو دا دے نه.بلکه دلته خو د نیت د دوو قسمونو بیان

---

(۱) د پوره تفصیل دپاره اوګورئ فیض الباری (۱/۵، ۶)_
(۲) انوارالباری (۱/۲۲، ۳۲)_

دے.يو نيت حسنه او بل نيت قبيحه.كه نيت ښه وى.نو ثمره او ميوه به ئے ښه وى.اوكه نيت بد وى.نو نتيجه به ئے هم بده وى.لكه چه وړاندے په ((فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله)) كښے د نيت حسنه بيان دے.او په ((ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إمرأة يتزوجها فهجرته إلى ما هاجر إليه)) كښے چه د نيت سيئه بيان دے.(١)

حافظ ابن كثير رحمه الله دلته د ..اعتبار.. تقدير منلے دے.اوفرمائيلى ئے دى.چه ((إنما إعتبار الأعمال عندالله بالنيات))(٢) هم دا تقدير سلطان العلماء عزالدين عبدالسلام رحمه الله هم راويستے دے هغوى فرمائى.((الجملة الأولى(أى إنما الأعمال) لبيان مايعتبر من الأعمال))(٣)

ددے اقوالو خلاصه هم دا شوه.چه دلته دا خبره خودلى شى.چه د اعمالو اعتبار به د نيت مطابق وى.كه نيت ښه وى.نوعمل به معتبر او ښه وى.اوكه نيت خراب وى.نوثواب اوعمل به برباد ګڼړلے شى.اودا بعينه هم هغه خبره ده.كومه چه شاه صاحب رحمه الله فرمائى.چه داعمالو دارومدار د نيت د حسن او قبح سره متعلق دے .تر دے چه بعضے وخت داسے هم كيږى.چه په كتلو كښے عمل قبيح ښكارى.ليكن د نيت د صحت دوجے هغه قبيح نشى ګرځولے.يا دهغے د قباحت اثرات نه ښكاره كيږى.

اوګورئ كله چه نبى كريم ﷺ په مكه معظمه باندے د حملے كولو اراده اوكړله. نو حضرت حاطب بن ابى بلتعه رضى الله عنه اهل مكه ته يو خط اوليكلو.اوپه هغے كښے ئے خبر وركړلو.چه رسول الله ﷺ يو عظيم لښكر تيار وى.اوپه مكه معظمه باندے حملے كولو اراده لرى.حالانكه پخپله نبى ﷺ خپله اراده پټه ساتله.نوالله تعالى دوى ته د وحى په ذريعه د دے واقعه خبر وركړلو.نبى ﷺ حضرت على، حضرت زبيراو حضرت مقداد رضى الله عنهما ته حكم وركړلو. چه سمدستى په سورلئ باندے سواره شئ.او د ..روضه خاخ.. په مقام كښے به درته يوه مسافره ښځه ملاؤ شى.هغے سره به يو خط وى.هغه راوړئ.

دا حضرات روان شول.و د نبى ﷺ دخودنے مطابق ئے په هغه مقام كښے دغه ښځه اوموندله. اودهغے نه ئے خط واخستلو.او دنبى ﷺ په خدمت كښے ئے پيش كړلو.نبى ﷺ د په خط كښے د ليكلو خبرو نه خبر شو.او دحضرت حاطب رضى الله عنه نه ئے تپوس اوكړلو.نو هغوى دا عذر پيش كړلو.حضرت د اسلام په باره كښے زما په زړه كښے څه شك نشته.اصلى خبره دا ده.چه تاسو سره دلته كښے ګومره مهاجرين دى.د هغوى خپل خپلوان هلته په مكه كښے موجود دى. اوهغوى ددوى داهل وعيال اومال او اسبابو حفاظت كوى.اوزه د قريشو حليف ووم.په هغوى كښے نه يم.هلته زما خپل خپلوان داسے څوك نشته.چه زما داهل وعيال حفاظت اوكړى. ما سوچ اوكړلو.چه زه به مشركانو ته خط اوليكم.اوهغوى به خپل خيرخواه جوړ

(١) فيض البارى (٩/١)۔

(٢) اوګورئ التعليق الصبيح على مشكاة المصابيح (٩/١)۔

(٣) اوګورئ فتح البارى (١٤/١) والتعليق الصبيح (١٠/١)۔

كرم. چه هغوى زما داهل وعيال حفاظت كوى.اودا زما يقين دے چه الله تعالى به اسلام ته غلبه وركوى.اوزما په خط ليكلو سره به اسلام ته څه نقصان نه رسى.البته زما په كښے دغه لږه غوندے فائده وى.

نبى ﷺ اوفرمائيل.«أما إنه صدقكم» چه ده رښتيا اووئيل.حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د راز ښكاره كولو په وجه د حضرت حاطب رضي الله عنه د څټ وهلو اجازت اوغوښتلو .خو رسول الله ﷺ منع كړلو او وے فرمائيل.«إنه قد شهد بدراً وما يدريك لعل الله أطلع على من شهد بدراً قال: إعملوا ما شئتم، فقد غفرت لكم» يعنى دوى بدرى صحابى دے.او دالله تعالى په نيز د بدريانولونږ فضيلت دے.بله دا چه دے په خپل عذر كښے رښتينے دے.(١)

دلته كښے تاسو اوس اوګورئ.چه دحضرت حاطب رضي الله عنه عمل صحيح نه وو .خوچونكه د هغوى نيت د خير وو.څكه نبى ﷺ هغه ته سزا ورنكړه.

بهرحال ددے حضراتو قول دے.چه دلته د نبى ﷺ منشا دنيت حسنه او نيت سيئه په مينځ كښے فرق دے.اودوى دا بيانول.چه داعمالو دحسن اوقبح مداردنيت په حسن او قبح باندے دے.

د شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله تحقيق حضرت شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى.چه بهتره دا ده.چه دلته ،،وجود،، مقدر اومنلے شى.خو وجود به د وجود حسى سره خاص نه وى.بلكه ،،وجود عندالله،، او ،،وجود شرعى،، مراد وى.چه د ښه يا بد عمل نيت كولو سره دهغه عمل وجود دالله په نيز باندے متحقق كيږى.اوپه ظاهر كښے دعدم وجود باوجود پرے د عذاب اوثواب فيصلے مرتب كيږى.

دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه روايت دے.چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.«إذا مرض العبد أو سافر كتب له مثل ما كان يعمل صحيحاً مقيماً»(٢)يعنى كله چه سړے بيمارشى.يا په سفر لاړ شى.اوهغه نفلى اعمال كوم چه به ئے په حالت دصحت اوپه حالت د اقامت كښے كول.د مرض يا دسفر د وجے نشى كولے.نوالله تعالى دمرض او سفر په دوران كښے د هغه نيكو اعمالو ثواب دده په عمل نامه كښے ليكى.

دغه شان څه خلق چه ايمان ئے راوړے وى.خود فرضيت د هجرت باوجود په مكه كښے هغوى په ازميښت كښے وو.او بيا د غزوه بدر په موقع هغوى دمجبورئ نه خامخا د كافرانو سره راووتل.نودا آيت نازل شو.(٣) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾

---

(١) د واقعه دتفصيل دپاره اوګورئ صحيح بخارى كتاب المغازى باب غزوة الفتح وما بعث به حاطب بن أبى بلتعة إلى أهل مكة يخبرهم بغزو النبى ﷺ)_

(٢) صحيح بخارى كتاب الجهاد باب يكتب للمسافر ما كان يعمل فى الإقامة رقم ٢٩٩٦)_

(٣) اوګورئ تفسير قرطبى (٣٤٥/٥)_

(۱) دا مسلمانان په خپله خوښه د مسلمانانو سره د جنګيدو دپاره نه وو راوتلي. خو چونکه هجرت ئے نه وو کړے او دکافرانو په زور زياتي باندے دوی راوتلي وو په دے باندے وعيد نازل شو
ددے وعيدعلم چه کله حضرت ضمره بن جندب رضي الله عنه (۲) ته اوشو هغوی په مکه کښے وو اوسخت بيمار وو هغوی خپلو متعلقينو ته اوونيل چه په هرحال کښے هم زه يم ما مدينے منورے ته بوځئ نو په کټ کښے ئے کينولو اومدينے منورے سفر شروع شو چه څنګه تنعيم ته اورسيدلو نووفات شو. د هغوی په باره کښے ګونګوسے شروع شو بعضے حضراتو ونيل که هغه مونږ ته رارسيدلے وو نو پوره اجر به ورته
ملاو شوے وو. خوچونکه هغوی په تنعيم کښے وفات شو په دے باندے دا آيت نازل شو
(۳)﴿وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ﴾ (۴) دلته اوګورئ په دے کلام کښے څومره زور دے..قد.. هم دے..وقع..هم او..على الله.. هم. حالانکه هجرت متحقق شوے نه وو. د هجرت خارجي اوحسي وجود نه وو راغلے اومدينے منورے ته نه وو رسيدلے. خو ددے باوجود د دوی د هجرت اعتبار شوے دے.
دغه شان دارقطني رحمه الله (۵)کښے حضرت انس رضي الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.((يجاء يوم القيامة بصحف مختمة، فتنصب بين يدى الله عزوجل فيقول الله عزوجل لملائكته القوا هذا واقبلوا هذا، فتقول الملائكة وعزتك ما رأينا إلا خيراً، فيقول وهو أعلم إن هذا كان لغيرى، ولا أقبل اليوم من العمل إلا ماكان ابتغى به وجهى)) دلته فرشتو ټول اعمال د نيکئ په حيثيت باندے ليکلی دی. خوچونکه په بعضے اعمالو کښے نيت صحيح نه وو. هغه رد کړے شول. اوبعضے اعمال چه په هغے کښے نيت صحيح وو. هغه قبول کړے شول. لکه چه دالله تعالى په نيز دهغه عمل وجود معتبر دے چه په هغے کښے د صحيح نيت دخل وی. او باقی اعمال تباه اوضائع دی. لکه چه دهغے هډو وجود نشته.
امام ترمذی. ابن ماجه. اوامام احمد رحمه الله د حضرت ابوکبشه رضي الله عنه نه حديث نقل کړے دے چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.((مثل هذه الأمة كمثل أربعة نفر، رجل آتاه الله مالاً وعلماً فهو يعمل بعلمه فى

---

(۱) سورة النساء:۹۷)_
(۲) په دے آيت کښے د ..ومن يخرج من بيته نه مراد څوك دے په دے باره کښے ډير نومونه اخستے شوی دی.(۱) ضمره بن العيص (۲) العيص بن ضمره بن زنباع (۳) خالد بن حزام بن خويلد(۴) حبيب بن ضمره (۵) ضمره بن جندب الضمری (۶) جندب بن ضمره الجندعی (۷) ضرمه بن بغيض ليثی (۸) ضمره بن ضمر بن نعيم (۹) ضمره بن خزاعه. اوګورئ الجامع لأحكام القرآن للقرطبى (۵/۳٤۹)_
(۲۲۹) اوګورئ تفسير قرطبى(۵/۳٤۹)_
(۴) سورة نساء:۱۰۰)_
(۵) سنن دارقطنی (۱/۵۱) كتاب الطهارة باب النية)_

ماله بينفقه فى حقه، ورجل آتاه الله علماً ولم يؤته مالاً فهو يقول لو كان لى مثل هذا عملت فيه مثل الذى يعمل، قال رسول الله ﷺ فهما فى الأجر سواء، ورجل آتاه الله مالاً ولم يؤته علماً فهو يخبط فى ماله، ينفقه فى غير حقه، ورجل لم يؤته علماً ولا مالاً، فهو يقول: لوكان لى مثل هذا عملت فيه مثل الذى يعمل قال رسول الله ﷺ فهما فى الوزر سواء» واللفظ لابن ماجه (۱)

په دے حديث كښے اوګورئ په اولنو دوو سړو كښے ديو سره علم هم شته اومال هم.هغه سړے دخپل علم مطابق خپل مال د نيكو په كارونو كښے خرچ كوى.اوبل سړى سره علم شته.خومال نشته.خودهغه نيت دا دے.كه ده سره مال وے.نوده به هم د اولنى كس پشان د نيكو په كارونو كښے مال خرچ كولو.نبى ﷺ په اجر كښے دواړه برابر كړل.حالانكه د دوم دعمل څه حسى اوظاهرى وجود نشته.خودے ته شرعاً اوعندالله وجود حاصل دے.ځكه معتبر اوګنړلے شو.

دغه شان په دوو روستنو كسانو كښے د يو سره مال شته. علم نشته.هغه مال په فضول او د ګناهونو په ځايونو كښے خرچ كوى.اوبل سړى سره نه علم شته.اونه مال.خوهغه دا اراده لرى.كه زما سره مال وے.نو ما به هم د فلانى پشان په نوم نهاد ،رياكارئ اوګناهونو كښے خرچ كولو.نبى ﷺ ددے دواړو په باره كښے اوفرمائيل .چه په ګناه كښے دواړه برابر دى.حالانكه د بل كس د ګناه څه عمل نه دے بنكاره شوے.خوچونكه هغه نيت كړے دے.نوځكه هغه هم په ګناه كښے شريك شو.معلومه شوه.چه په اصل كښے اعتبار وجود شرعى اووجود عندالله ته دے .د وجود حسى څه اعتبار نشته.

دغه شان په حديث كښے راځى.رسول الله ﷺ فرمائيلى دى.«إن أقواماً بالمدينة خلفنا ماسلكنا شعباً ولا وادياً إلا وهم معنا فيه،حبسهم العذر» (۲) په يوبل سند كښے دا الفاظ دى.«أن رسول الله ﷺ رجع من غزوة تبوك فدنا من المدينة فقال:إن بالمدينة أقواماً ما سرتم مسيراً ولا قطعتم وادياً إلا كانوا معكم قالوا يارسول الله وهم بالمدينة؟! قال وهم بالمدينة حبسهم العذر» (۳) يعنى په مدينه منوره كښے څه خلق زمونږ نه روستو پاتے شوى دى.هغوى زمونږ سره شركت اونكړے شو.خوكه مونږ يوګنداؤ يا خوړ باندے تير شوى يو.نوهغوى په مدينه كښے د ايساريدو باوجود مونږ سره دى.يعنى په دے ګنداؤ او خوړ كښے چه په تګ باندے كوم اجر اوثواب الله تعالى زمونږ دپاره مقرر كړے دے.هغه اجر اوثواب به هغوى ته هم ملاويږى حالانكه هغوى په مدينه كښے ايسار دى.لكه چه دلته هم د نيت په وجه دهغوى عمل موجود اوګرځولے شو.

---

(۱) أخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب الزهد باب مثل الدنيا لأربعة نفر رقم.۲۳۲۵. ابن ماجه فى سننه فى كتاب الزهد باب النية رقم ٤۲۲۸. واحمد فى مسنده (٤/۲۳۰، ۲۳۱)_

(۲) صحيح بخارى كتاب الجهاد باب من حبسه العذر عن الغزو رقم ۲۸۳۸، ۲۸۳۹)_

(۳) اوګورئ صحيح بخارى كتاب المغازى باب (بلاترجمة) بعد باب نزول النبى ﷺ الحجر رقم. ٤٤۲۳)

په مسند ابويعلى كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مرفوعاً روايت دے چه ((من خرج حاجاً فمات كتب له أجر الحاج إلى يوم القيامة، ومن خرج معتمراً كتب له أجر المعتمر إلى يوم القيامة، ومن خرج غازياً في سبيل الله فمات كتب له أجر الغازى إلى يوم القيامة))(١) يعنى د حج عمرے او جهاد دپاره وتونكے كه په لاره كښې وفات شي نو صرف د نيت په وجه به عندالله ماجور وى بنكاره ده چه دلته كښې هم ثواب په وجود في النية باندے دے.

خلاصه د كلام دا شوه چه ديو څيز د وجود دپاره په خارج كښې حساً وجود ضرورى نه دے بلكه د ښه يا بد عمل نيت كول د الله تعالى په نيز د هغې وجود متحقق كيږى.

هم دا وجه ده چه وئيلې شي ((نية المؤمن خير من عمله))(٢) د مؤمن نيت د ده د عمل نه بهتر دے ځكه چه په عمل كښې بعضې وخت رياكارى راځى او نيت چونكه د دے تعلق د زړه سره وى نو ځكه په دے كښې د رياكارئ احتمال نشته نو ځكه صرف د نيت په وجه د څيز وجود تسليمولے شي.

بهرحال حضرت شيخ الاسلام علامه عثمانى رحمه الله فرمائى كه په دے حديث كښې مونږ ،،وجود،، مقدر اومنو او د وجود نه مراد ،،وجود شرعى،، او ،،وجود عندالله،، مراد واخلو نو مطلب بغير د څه تكلف صفا بے غباره په پوهه كښې راشى.(٣)

دائمه ثلاثه رحمهم الله د استدلال نه جوابونه وړاندے تير شو چه ائمه ثلاثه دلته د ،،صحت،، تقدير راويستے دے او په اودس كښې ئے نيت شرط ګرځولے دے د دے په جواب كښې احنافو رحمهم الله د ،،ثواب،، يا ،،حكم،، تقدير راويستے دے حضرت علامه عثمانى رحمه الله د ،،وجود،، تقدير منلے دے او حافظ ابن كثير، شيخ عزالدين عبدالسلام رحمهم الله د ،،عبرة،، تقدير منلے دے او حضرت كشميرى رحمه الله د دے متعلق عام ګرځولے دے په دے ټولو صورتونو كښې په اودس كښې د نيت اشتراط نه لازميږى.

د دے نه علاوه بعضې حضراتو دا فرمائيلى دى چه دا حديث د عباداتو په سلسله كښې وارد دے دا نه چه د قربات او طاعاتو په باره كښې مونږ دا وايو چه اودس بغير د نيت نه عبادت خو نشى ګڼړلے خو البته هغه اودس چه نيت په كښې نه وى او هغه دے ،،مفتاح صلاة،، هم جوړ نشى نو په دے باندے په حديث كښې څه دلالت نشته (بلكه كه نيت نه وى نو هم دغه اودس مفتاح الصلاة ګرځيدے شي.)

---

(١) رواه الدارقطنى عن سہل بن سعد الساعدى كما فى مجمع الزوائد للهيثمى رحمه الله (٢٠٨/٣، ٢٠٩) كتاب الحج باب فضل الحج والعمرة)_

(٢) رواه الطبرانى عن سهل بن سعد الساعدى .كما فى مجمع الزوائد للهيثمى رحمه الله (١٠٩/١) كتاب الإيمان باب فى نية المؤمن المنافق وعملهما)_

(٣) اوګورئ فضل البارى شرح صحيح البخارى (١٤٥/١، ١٤٦)_

شيخ الاسلام حضرت زکريا انصاري رحمه الله فرمائي.چه د نيت تعلق صرف د عباداتو سره وي د قربتو او طاعاتو سره نه وي.ددے وضاحت دا دے.چه يودے عبادت ددے د صحت دپاره نيت هم ضروري دے.اود «من يتقرب إليه» معرفت هم ضروري دے.لکه تلاوت دقرآن.چه په دے کښے نيت لازمي نه دے.خو د «من يتقرب إليه» د معرفت سره تلاوت کول ضروري دے.چه دا دالله تعالى کلام دے او ددے په تلاوت به ده ته قرب حاصليږي.

دريم څيز دے طاعت.په دے کښے نه نيت ضروري دے.اونه د «من يتقرب إليه»معرفت.لکه د دين اسلام د حقانيت پيژندلو دپاره غور اوفکر.

په دے باندے داسے پوهه شئ.چه يوکافر کس دے.چه دالله تعالى د وجودنه منکر دے.نوهغه د عالم په حوادثاتو کښے سوچ اوفکر شروع کړل.او وے کتل.چه د نمر د راختلو ا ډوبيدو سلسله ډيره په نظم وضبط او ترتيب سره جاري ده.مثلاً نن يوديشتم تاريخ دے.نن څه وخت نمر راوختلو.يوزرکاله چه کله دا تاريخ وو نو هم په دے وخت نمر راختلے وو.او صبا اولنے تاريخ دے.او صبا ته به نمر راختل د نن په مقابله کښے نيم منټ روستو راخيژي.نو يو زر کاله وړاندے چه کله صبائے تاريخ راغلے وو نو يو منټ پس راختلے وو.دا حيرانونکے نظام هغه ګوري.دغه شان د غروب سلسله ده.چه دا هم د مستحکم نظام سره تړلے دے.هم دا کيفيت د سپوږمئ په راختو او پريوتو کښے مشاهده کړي.صرف په نمر سپوږمئ کښے نه بلکه د دنيا په ټولومعاملاتو کښے هغه مشاهده کوي.چه يو نظم دے.يوترتيب دے.ډير په منظم او مرتب انداز کښے دا ټوله سلسله روانه ده.

دغه شان د غور اوفکر کولو نه پس هغه دے يقين ته اورسي.چه لکه څنګه مونږ ترکومے پورے د شيے او ورځے په کارونو کښے ترتيب قائم نکړو.نوپه خپله ترتيب نه قائميږي.اود ترتيب حسن، سليقه، استحکام. د ترتيب قائمونکي په علم، قدرت او اراده باندے موقوف وي.که ترتيب قائمونکے بے علمه وي.نوهغه په صحيح طريقه ترتيب نشي قائمولے.که هغه قادر نه وي.بلکه عاجز وي.نوهغه ترتيب نشي ورکولے.چه دا ئے اوکتل.نو هغه يقين اوکړلو.چه ددے عالم پيدا کونکے هم ضرور داسے ذات دے.چه هغه په علم اوقدرت کښے د کمال خاوند دے.اوچه اراده کونکے دے.بيا هغه دا هم ګوري.چه مونږ په دنيا کښے ډيرداسے څيزونه ګورو.چه په هغے کښے ترتيب وي.خو د نظم و نسق قائمونکے زمونږ وړاندے نه وي.او مونږ نه يقين وي.چه دا ترتيب چا قائم کړے دے.نوهغه ددے خبرے يقين اوکړي.که دغه ذات زمونږ وړاندے نه دے خوچه مخامخ نه دے.نو ددے په وجه دهغه نه انکار کول نه لازميږي.نو ددے سوچ اوفکر په نتيجه کښے دالله تعالى دوجود او بيا د الله تعالى د کمال علم، کمال قدرت، او د ارادے د صفت قائل شي.

اوس ښکاره خبره ده.چه هغه په اول کښے دا سوچ شروع کړے وو.دثواب نيت ئے نه وو کړے.نيت خو دا څه کوئ.چه هغه د ثواب اوعقاب قائل نه وو.لکه چه په هغه وخت کښے نه نيت وو.اونه د «من يتقرب إليه» معرفت حاصل وو.خو دا نظر اوفکر اودا غور اولتون په طاعاتو کښے شامل دے.په دے باندے به ده ته اجر ملاويږي.

نوحضرت شيخ الاسلام زكريا انصاري رحمه الله فرمائي چه په عباداتو كښے خو د نيت هم ضرورت شته.اود معبود معرفت هم لازمي دے.اوپه قرباتو كښے د نيت ضرورت نشته.خود «من يتقرب إليه» معرفت ضروري دے.اوپه طاعاتو كښے نه نيت ضروري دے.اونه د مطاع معرفت.(١)

تركومے پورے چه د اودس تعلق دے.نو مونږ وايو.چه دا په قرباتُ كښے داخل دے . په دے كښے نيت شرط نه دے.خودا معلومول ضروري دي.چه اودس د مانځه دپاره كيږي اومونځ دالله تعالى دپاره كولے شي.

په كومو كومو څيزونو كښې د نيت ضرورت شته؟ حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه دين په اصل كښے د پنځو څيزونو نه مركب دے.

① اعتقادات ② اخلاق ③ عبادات ④ معاملات ⑤ عقوبات.

په فقه كښے د اعتقادات او اخلاقو نه بحث نه كيږي.البته د باقي نورو درے څيزونو نه بحث كيږي.په دے كښے په عباداتو كښے په اتفاق سره نيت شرط دے.نومونځ روژه.حج.زكاة كښے هيڅ يو عبادت بغير د نيت نه نهٔ صحيح كيږي.

په معاملاتو كښے مناكحات، مالي معاوضات، خصومات، تركات، او امانات داخل دي.په دے كښے په يوكښے هم په اتفاق سره د نيت ضرورت نشته.

دغه شان په عقوبات كښے حد ردت، حد قذف، حدزنا ، حد سرقه، اوقصاص داخل دي.په دے كښے هم چا د نيت شرط نه دے لګولے.

حضرت كشميري رحمه الله فرمائي.چه لكه څنګه دے حضراتو په معاملات، عقوبات، د نيت په دائره كښے د راتلونكو اعمالو نه خارج كړي دي.نومونږ هم اودس ددے اعمالو نه خارج كوو. څكه چه دا عبادت محضه نه دے.بلكه په وسائلو كښے يو وسيله ده.كه په اودس كښے د نيت دعدم اشتراط اعتراض په مونږ باندے ددے حديث د وجے متوجه كيدے شي.نوهم ددے حديث نه په معاملاتو،عقوباتوكښے د نيت د عدم اشتراط اعتراض په دے حضراتوهم راتلے شي.والله اعلم (٢)

آيا داحنافو رحمهم الله اودس د نيت نه خالي وي؟ حضرت كشميري رحمه الله فرمائي.كه غور اوكړے شي.نومعلومه به شي.چه دلته د حديث باب دلاندے ددے اختلاف ګنجائش نشته. ددے وجه دا ده.چه دنيت نه بغير هيڅ حنفي اودس نه كوي.څكه چه دنيت نه قصد قلبي اود زړه اراده مراد ده .تلفظ په نيت باندے مراد نه دے.ددے وجه علامه ابن تيميه رحمه الله وغيره ګڼرو عالمانوتصريح كړے ده.چه د نيت تلفظ نه د رسول الله ﷺ نه منقول دے.اونه د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه اونه د تابعينو نه.اونه د ائمه اربعوٌ نه.(٣) لكه چه حنابلوٌ رحمهم الله په نيت

(١) اوګورئ فيض الباري (٦/١)_

(٢) فيض الباري (٧/١)_

(٣) اوګورئ فيض الباري (٨/١)_

باندے تلفظ بدعت گرځولے دے (۱) نود نیت نه د زړه اندازه مقصود ده. کومه چه داختیاري افعالو کولو نه وړاندے وي. اوپه دے کښے احناف او باقي ټول حضرات برابر دي. ځکه چه بو کس د اذان داوریدو نه پس د مونځ په اراده باندے د کور نه راووځي. دهغه لاس د لوټے او مسواك طرف ته وړاندے کیږي. او بیا اوبه راواخلي. د دے اندامونو وینځل او مسح اوکړي نو آیا دا کس دا ټول کارونه بغیر د نیت نه کوي؟ نه بلکه دده نیت وي په نیت نے تلفظ نه وي کړے اوپه دے کښے څه حرج نشته.

بلکه داودس عمل د متوضي دعمل نه بغیر نه ثابتیږي. ځکه چه د اودس کولو نه دده نیت کله د قرآن تلاوت وي. کله ذکر وي. کله دجماعت مونځ یا نوافل وي. اوکله د فرض مونځونو ادا کول وي. بغیر د نیت نه څوك اودس کوي نه.

البته دا صورت کیدے شي. چه یو سړے د خپل کور نه رابهر شو. اود دوکان نه سود راوړي. اوپه لاره کښے باران شروع شي چه په هغے باندے دده د اودس اندامونه اووینځلے شي دلته کښے دده نیت د اودس کولو نه دے. بلکه د دوکانه پورے تلل اوسودا راوړل مقصود دي. په دے صورت کښے اختلاف کیدے شي. چه چونکه نیت نے نه وو. نو د شوافعو په نیز به اودس نه کیږي. اود احنافو ﷺ په نیز نیت ضروري نه دے. نو اودس به صحیح کیږي.

خود غور کولو خبره داده. چه دا صورت خوشاذ اونادر پیښیږي. نو په دے کښے ګرم ګرم بحثونه کول مناسب نه دي. بلکه داسے مسئله د مجتهدینو په اجتهاد باندے پریخودل پکار دي. او داسے شاذمسائل دحدیث په شرح کښے داخلول نه دي پکار. چه په هغے سره د حدیث مراد نظري جوړ شي. (یعني ګران اومشکل شي) حالانکه دهغے مراد بالکل بدیهي او واضح وو.

قوله: وإنما لكل إمرء ما نوي: دلته کښے دا بحث دے. چه په «إنما الأعمال بالنيات» اوپه «إنما لكل إمرئ ما نوى» کښے څه فرق دے؟ په دے سلسله کښے د عالمانو څو اقوال دي.

① دعلامه قرطبي رحمه الله رائے دا ده. چه دویمه جمله د اولنۍ جملے دپاره تاکید دے د نیت معاملہ چونکه مهتم بالشان وه. ځکه نبي ﷺ د «إنما الأعمال بالنيات» جمله اووئیله. اوهم دا مضمون نے په بل انداز کښے بیان کړلو. حالانکه خبره یوه ده. د اولنۍ جملے مطلب دا دے. که نیت صحیح وي نو عمل به مقبول وي. اوکه نیت صحیح نه وي. نو عمل به مقبول نه وي. او د دویمے جملے مطلب دا دے. چه نیت به وي نو عمل د ښه جزاء سبب جوړیږي. اوکه په نیت کښے فتور او خرابي وي. نو عمل د خرابۍ بدلے سبب جوړیږي. لکه چه عنوان بدل شو. او معنون یو دے (۲)

---

(۱) اوګورئ السعاية في كشف ما في شرح الوقاية (۲/ ۱۰۰) د نیت دمسائلو او ددے د شرعي حیثیت دپاره اوګورئ .. السعاية (۲/ ۹۷، ۱۰٤) قبيل باب صفة الصلاة)_

(۲) فتح الباري (۱/ ۱٤)_

② نور حضرات فرمائی چه په اولنئ جمله کښې داعمالو په باره کښې خودلې شوی دی.چه ددې تعلق د نیت سره دې.اود حکم ترتب به په دې کیږی.او په دویمه جمله د عامل دحالت بیان دې.چه ده ته به دخپل نیت مطابق جزا ملاویږی.(۱)

③ علامه نووی رحمه الله فرمائی.چه په اوله جمله کښې د نیت اوعمل په مینځ کښې ربط بیان شوې دې.چه داعمالو تعلق دنیت سره دې.او ددې دحسن او قبح مدار په نیت دې.اوپه دویمه جمله کښې د تعین منوی داشتراط فائده حاصلیږی.مثلاً د یوکس په ذمه د ماسپخین اومازیګر د مونځونه قضا ده.اوس که هغه مطلق نیت اوکړی . اود ماسپخین مونځ ادا کول غواړی.نونۀ ادا کیږی.دغه شان د مطلق څلورو رکعتو په کولو سره د مازیګر مونځ نه ادا کیږی.بلکه د ماسپخین د ادا کولو دپاره د ماسپخین او د مازیګر دادا کولو دپاره د مازیګر تعین ضروری دې.لکه چه په دویمه جمله کښې دا خودلې شوی دی.چه عامل ترڅو منوی متعین نکړی.نودهغه دعمل اعتبار به نه وی.(۲)

④ د ابن السمعانی رحمه الله توجیه دا ده.چه په اوله جمله کښې هم د هغه «ربط بين العمل والنية» بیانول دی.اوپه دویمه جمله کښې دهغه مباح اعمالو بیان دې.کوم چه په عبادات کښې شامل نه دی.اوپه هغې کښې د نیت نه بغیر اجر او ثواب نه ملاویږی .چه نیت ئې د ثواب وی.اود خیر نیت اوکړی.نوثواب به ورته ملاؤ شی.ګنی نه.(۳)

مثلا خوراك څکاك په مباحاتو کښې دی.په دې باندې به ثواب په هغه وخت کښې ملاویږی.کله چه د «تقوى على العبادة» نیت وی.یعنی چه زه دا خوراك ددې دپاره کوم.چه زما په بدن کښې طاقت پیدا شی.اوهغه قوت زه دالله تعالی په عبادت کښې خرچ کړم.

⑤ علامه ابن دقیق العید رحمه الله دا توجیه فرمائیلې ده.چه اوله جمله د «ربط بين العمل والنية» دپاره ده.اوپه دویمه جمله کښې دا خودلې شوی دی.چه په عمل باندې به اجر اوثواب په هغه وخت کښې مرتب کیږی.چه په دغه عمل کښې نیت هم وی.او ورسره ورسره د شرطونو خیال هم ساتلې شوې وی.که صرف د شرطونو خیال اوساتلې شی.اونیت نه وی.نواجربه نه ملاویږی.دغه شان چه دعمل نیت اوکړی .اود هغې د پوره کولوپخه اراده ئې هم وی.خو د څه شرعی عذر د وجې هغه کار اونکړې شی.نوده ته به د هغې کار ثواب ملاویږی.خوصرف دهغه عمل چه نیت ئې کړې وی.(۴)

(۱) فتح الباری (۱/۱٤)_
(۲) عمدة القاری (۱/۲۷)_
(۳) فتح الباری (۱/۱٤) وعمدة القاری (۱/۲۷)_
(۴) فتح الباری پورتنئ حواله)_

() بعضے شاحينو دا توجيه کړے ده چه په دويمه جمله کښے د «نيابة في النية» نه منع شوے ده چه بغير دعذر نه د بل دطرفه نيت کول معتبر نه دے بلکه هرسړے دے دخپل عمل په خپله نيت کوی (١)

() شيخ عزالدين عبدالسلام رحمه الله فرمائی چه داولنۍ جملے مقصد دا دے چه کوم عمل معتبر دےاو د دويمے جملے مقصد دا دے چه په اعمالو به نتائج کله مرتب کيږی نو په اونه جمله کښے دا خودلے شوی دی چه هغه عمل معتبر دے چه په هغے کښے نيت وی اوچونکه په يو عمل کښے ښه نيت او بد نيت هم کيدے شی.نوخکه ئے په «انما لکل إمرئ ما نوی» کښے اوخودل چه د عمل په وخت کښے څنګه نيت اوکړی.نتيجه به هم هغه مرتب کيږی (٢)

() اتمه توجيه دا ده چه په اولنۍ جمله کښے هم هغه د نيت او عمل په مينځ کښے ربط بيان شوے دے چه د عمل دارومدار په نيت دے چه څنګه نيت وی.هغه شان به عمل وی او د دويمے جملے مقصد دا دے که په يوعمل کښے ګڼ نيتونه جمع کيدے شی.نود ټولو ثواب به ملاويږی.مثلاً يو سړے جمات ته ځی.اوصرف د مونځ نيت کوی.نوصرف يو ثواب يعنی د مانځه ثواب به ورته ملاويږی.اوکه هغه کس جمات ته دتلو په وخت کښے د مانځه د نيت سره دا نيت هم اوکړی.چه د جماعت انتظار اوکړم.اوتلاوت به اوکړم.نفلی اعتکاف به اوکړم.د مسئلے د زده کولو او بل ته دخودلو نيت هم اوکړی.د نيکانو سره د ملاقات او هغوی د ليدونيت هم اوکړی.د ګناهونو نه د بچ کيدو قصد هم اوکړی نو په دے ټولو نيتونو به ورته مستقل او خانله خانله ثواب ملاويږی.(٣)

() علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه اولنۍ جمله مقدمه تجربيه عرفيه عقليه ده او دويمه جمله د شرعی حکم بيان دے.يعنی په اوله جمله کښے دا خودلے شوے دی چه عقلاً اوعرفاً دا خبره منلے شوے ده.او ټولو ته معلومه ده.چه داعمالو دارومدار په نيت وی اوپه دويمه جمله اولنۍ جملے ته شرعی استناد ورکوی.اودا ښائی.چه شرعاً هم دا عرف او عقلی فيصله معتبر ده.(٤) په احاديثو کښے ددے خو مثالونه مونډلی شی د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه په منقبت کښے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.«لکل أمة أمين، وأمين هذه الأمة أبوعبيدة بن الجراح» (٥) په دے حديث کښے «لکل أمة أمين» يوه جمله عرفيه تجربيه ده.او«أمين هذه الأمة أبوعبيدة بن الجراح» دا جمله شرعيه ده.شريعت دے عرف ته استناد ورکړلو.

---

(١) عمدة القاری (٢٧/١)_

(٢) فتح الباری (١٤/١)_

(٣) تقرير بخاری ازشيخ الحديث مولانا محمد زکريا صاحب کاندهلوی قدس سره (٧٤/١)_

(٤) اوګورئ حاشيه علامه سندهی رحمه الله برصحيح بخاری (٨/١)_

(٥) صحيح بخاری کتاب المغازی باب قصة أهل نجران رقم ٤٣٨٢)_

دغه شان د رسول الله ﷺ ارشاد دے ((لكل شئ عروس، وعروس القرآن، الرحمن))(۱) په دے كښے اولنئ جمله ((لكل شئ عروس)) جمله عرفيه تجربيه ده او دے ته دويمے جملے استناد وركړلو.

(۲) علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه داولنئ جملے تعلق د اصل عمل سره دے يعنى اعمال به په هغه وخت كښے محبوب اومعتبر وى چه د نيتونو سره د هغے اقتران وى. او په دويمه جمله كښے ددے بيان دے چه نيابت به په هغه وخت كښے معتبر وى چه د اخلاص سره اقتران وى خلاصه دا چه په دويمه جمله كښے د نيت نه مراد ..اخلاص.. دے.(۲)

(۳) يوه توجيه دا شوے ده چه په دے كښے اولنئ جمله په منزله د علت فاعليه ده اودويمه جمله علت غائيه يعنى په اولنئ جمله كښے دا خودلى شوى دى چه څنګه فاعل په فعل كښے موثر وى دغه شان نيت په عمل كښے موثر وى.او په دويمه جمله كښے غايت بيان شوے دے چه څنګه نيت وى.دعمل ثمره به هم هغه شان وى.(۳) والله اعلم

امام بخارى رحمه الله په دې مقام كښې نامكمل حديث ولې نقل كړلو؟

امام بخارى رحمه الله دا حديث په خپل صحيح كښے ټول په اووه مقاماتو كښے نقل كړے دے.(۴) ددے مقام نه علاوه په باقى ټولو ځايونو كښے ئے حديث مكمل ذكر كړے دے.اودلته كښے ئے يوه جمله چه ((فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله)) ئے پريخودے دے سوال دا پيدا كيږى چه امام بخارى رحمه الله داسے ولے كړى دى؟

(۱) ابن عربى رحمه الله فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله سره ددے جملے په سقط كولو كښے څه عذر نشته. ځكه چه ددوى شيخ حميدى رحمه الله په خپل مسندكښے دا حديث مكمل ذكر كړے دے.(۵)

(۲) بعضے حضراتو فرمائيلى دى.كيدے شى.چه دا حديث امام بخارى رحمه الله دخپل شيخ حميدى رحمه الله نه زبانى اوريدلى وى.اود امام حميدى رحمه الله نه د بيانولو په وخت كښے سهو شوے وى.يا بخارى رحمه الله دخپل حفظ نه نقل كړےوى او هغه نه سهو شوے وى.

ابن عربى رحمه الله فرمائى.ددے حضراتود قوت حافظه او عملى شغف په رڼا كښے دا جواب ډيرمستبعد معلوميږى.(۶)

---

(۱) كنزالعمال (۱/ ۵۸۲) الباب السابع فى تلاوة القرآن وفضائله .الفصل الثانى رقم. ۲۶۳۸)_

(۲) الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبى (۱/ ۹۰)_

(۳) امدادالبارى (۲/ ۲۱۷)_

(۴) اوګورئ د ((إنما الأعمال بالنيات)) د بحث لاندے مونږ د دغه ټولوځايونو حوالے ذكر كړى دى._

(۵) فتح البارى (۱/ ۱۵) دغه اوګورئ مسند الحميدى (۱/ ۱۶. ۱۷) احاديث عمران عمربن الخطاب)_

(۶) فتح البارى(۱/ ۱۵)_

() علامه داودی فرمائی دا اسقاط یقینا دامام بخاری رحمه الله نه شوے دے.خکه چه دا حدیث د هغوی دشیخ او شیخ الشیخ په روایت کښے مکمل دے.او پورته تیر شو چه امام حمیدی رحمه الله دا حدیث په خپل مسند کښے مکمل ذکر کړے دے.
بیا دیرو عالمانو مثلاًبشربن موسی رحمه الله،ابواسماعیل ترمذی رحمه الله وغیره دامام حمیدی رحمه الله په سند سره دا حدیث مکمل نقل کړے دے.قاسم بن اصبغ رحمه الله په خپل کتاب کښے. ابونعیم رحمه الله په مستخرج کښے،ابوعوانه رحمه الله په خپل مسند کښے هم د امام حمیدی رحمه الله په سره دا حدیث مکمل نقل کړے دے.(١)
بالفرض که چرته اسقاط دامام بخاری رحمه الله د طرفه نه وی.بلکه د هغوی د شیخ د طرفه وی. نوسوال پیدا کیږی چه امام بخاری رحمه الله دا ناقصه حصه دخپل کتاب په اول کښے ولے راوړله؟
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه امام حمیدی رحمه الله دامام بخاری رحمه الله په مکی شیوخو کښے د ټولو نه لوئے شیخ وو.اوهم په مکه کښے د وحی ابتداء شوے وه.خکه امام بخاری رحمه الله دخپل د ټولو نه لوئے مکی شیخ نه د افتتاح په نیت سره دا حدیث او اودا سیاق دلته کښے درج کړلو (٢)
اوکه امام بخاری رحمه الله په خپله اسقاط کړے وی.اوهم دا راجح قول دے.نوددے مختلف جوابونه شوی دی.
() ابن حزم ظاهری اندلسی رحمه الله دا جواب ورکړے دے.چه په اصل کښے امام بخاری رحمه الله د عامو مصنفینو رحمهم الله پشان دخپل کتاب شروع کړے وه.د عامو مصنفینو رحمهم الله طریقه دا ده.چه هغوی دخپل کتاب شروع د خطبے نه کوی.او په هغے کښے د مقاصدو وضاحت کوی.چه دا تالیف ولے لیکلی شی؟ددے اسباب څه دی؟ په کتاب کښے به څه راوړی؟ وغیره وغیره.امام بخاری رحمه الله دا اوغوښتل.چه دا حدیث د خطبے په ځائے راوړی.اوهغوی دا اوخودل چه ما دا کتاب د کوم مقصد دپاره لیکلے دے.دهغے علم الله تعالی ته دے.که ما د دنیا د څه څیز نیت کړے وی.نو د هغے بدله به راته ملاویږی.اود حدیث دویم جزء چونکه په تزکیه باندے دلالت کوی.نوځکه امام بخاری رحمه الله دا حذف کړلو.(٣)
حاصل دا دے.چه جمله متروکه په تزکیه باندے دلالت کوی.اوجمله مذکوره باقیه په تردد باندے.چونکه امام بخاری رحمه الله دلته د خپل حالت بیان کوی.نوځکه ئے هغه جمله حذف کړه.کومه چه په تزکیه مجرده باندے دلالت کوی. اوپه کومه جمله کښے چه احتمال او تردد وو هغه ئے ذکر کړله.لکه چه د حسن نیت د دعوے نه ئے اجتناب اوکړلو.
خودا جواب ښه نه دے خکه چه په حدیث کښے ترمیم کول او دهغے جملے حذف کول صرف د دے خیال اوتوهم د وجے ټیک نه دے بیا دحدیث پوره ذکر کولو نه دا خبره نه لازمیږی.چه

---

(١) پورتنئ حواله)_
(٢) پورتنئ حواله)_
(٣) فتح البارى (١/١٥)_

امام بخاري رحمه الله د خپل خان دپاره د حسن نيت دعوه کوي بلکه دا صرف توهم دے ددے په وجه په حديث کښے اختصار کول جائز نه دے.

() حافظ ابن حجر رحمه الله ددے جواب دا ورکړے دے چه عام طور دمصنفينو ﷺ عادت دا دے چه په خپلو خطبو کښے خپلو خاصو اصطلاحاتو او اختيار کړي رائے ګانو ته اشاره کوي چونکه دامام بخاري رحمه الله مسلك دا دے چه په حديث کښے ..خرم.. يعني اختصار کول جائز دے دوی د روايت بالمعني د جواز هم قائل دی.د مسائلو په استنباط کښے تحقيق کوي اخفی په ته خفی باندے ترجيح ورکوي .او هغه اسانيد خوښوي چه په هغے کښے د سماع، اوتحديث او اخبار صراحت وی . نو امام بخاري رحمه الله دے ټولو مقاصدو ته ددے حديث په سند او متن کښے اشاره اوکړله.(١)

حاصل دا چه امام بخاري رحمه الله دلته په حديث کښے اختصار کړے دے اودا ئے خودلی دی چه زما په نيز ((خرم في الحديث)) جائز دے.

تنبيه ((خرم في الحديث)) مطلب دا دے چه دحديث په بعضے جملو باندے اکتفاء اوکړے شي.اوبعضے جملے حذف کړے شي.د دے حکم دا دے که په دے سره په معنی کښے څه خلل نه واقع کيږي.نوپه دے کښے څه قباحت نشته.(٢)

() علامه کرماني رحمه الله يو عجيبه جواب ورکړے دے چه په اصل کښے امام بخاري رحمه الله دا حديث په مختلفو مواقعو کښے اوريدلے دے په کوم وخت کښے چه د دے مسئلے بحث کيدلو چه په ايمان کښے د ..نيتونو..اعتبار دے نو په هغه وخت کښے ئے مکمل حديث اوريدلے دے خکه ئے په کتاب الايمان کښے مکمل د سياق سره ذکر کړے دے.اوکله چه دا مسئله زير بحث وه.چه داعمالو دپاره نيت ضروری دے. نو په هغه وخت کښے ئے ناقص اوريدلے دے خکه ئے دلته ناقص حديث ذکر کړے دے.(٣)خودا دعلامه کرماني رحمه الله خيال دے چه ددے څه اصل نشته. خکه چه دا خو په دے خبره باندے موقوف دے چه دا ثابته شي چه د کومو کومو شيوخو نه امام بخاري رحمه الله دا حديث حاصل کړے دے.دهغه مشائخو خانله خانله تاليفات وی.اوهغوی د مسائلو بحث کښے دا حديث ذکر کړے وی.او بيا امام بخاري رحمه الله د خپلو دغه مشائخو په تقليد کښے هم د دغه مسائلو په ضمن کښے دا احاديث ذکر کړی وی.

اول خو د هر يو تاليف ثابت نه دے.بالفرض که د بعضو ثابت هم شي.نود امام بخاري رحمه الله تقليد ثابت نه دے.خکه چه امام بخاري رحمه الله لکه چه څنګه د صحيح احاديثو په نقل کولو کښے د چا تقليد نه دے کړے.دغه شان ئے په تبويب او اخذ تراجم کښے هم د چا تقليد نه دے

---

(١) فتح الباري (١/ ١٥، ١٦)_

(٢) د ((خرم في الحديث)) د جواز او عدم جواز په باره کښے د تفصيل دپاره اوګورئ: تدريب الراوي (٢/ ١٠٣، ١٠٤) النوع السادس والعشرون.صفة رواية الحديث.جواز رواية بعض الحديث وإختصاره)_

(٣) اوګورئ: شرح کرماني على البخاري (١/ ٢١٣) کتاب الإيمان باب ما جآء أن الأعمال بالنية والحسبة)_

کېږې مشهوره ده چه دوی د تراجمو په انعقاد اود مسئلو په اخذ او استنباط کښې منفرد دې د چا اتباع ئې نه ده کړې والله اعلم

(۱) خلورم جواب کوم چه د شیخ الاسلام علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله خوښ کړې دې دا دې چه وړاندې مونږ د شیخ الاسلام زکریا انصاری په حواله سره ذکر کړی دی چه د خیر د اعمالو او نیکو درې قسمونه دی

طاعت، قربت، او عبادات. هلته کښې مونږ دا هم ذکر کړی وو چه په طاعاتو باندې داجر او ثواب دپاره نه د نیت ضرورت شته اود مطاع د معرفت، حالانکه په عباداتو باندې داجر و ثواب د ترتب دپاره نیت هم ضروری دې اود معبود معرفت هم.

ترکومې پورې چه د قربتو تعلق دې نو په هغې کښې د نیت ضرورت نشته خو د «من یتقرب إلیه» معرفت ضروری دې خو شرط دا دې چه نیت فاسد نه وی. لکه چه په قربات باندې د ثواب د ترتب دپاره د بد نیت نه احتراز لازمی دې

اوس دلته کتل دا دی چه دلته د کوم تصحیح نیت په غرض دا حدیث راوړلې شوې دې هغه په کوم قسم کښې داخل دې؟ نو دا دقربات په قسم کښې داخل دې، ځکه چه د نبی ﷺ احادیث لوستل د قرآن کریم دتلاوت پشان دی. اوپه قربات کښې نیت د تقرب شرط نه دې صرف د بد نیت نه احتراز کافی دې.

امام بخاری رحمه الله دلته جزء اول یعنی «فمن کانت هجرته إلی الله ورسوله» حذف کړلو او دویم جزء یعنی «فمن کانت هجرته إلی دنیا..» ئې ذکر کړله په دې باندې تنبیه ورکول غواړی چه که تاسو ددې د لوستلو او اوروللو په وخت کښې ښه نیت نشئ کولې نو کم ازکم د بد نیت نه احتراز اوکړئ دا به هم د ثواب دپاره کافی شی.(۱)

قوله فمن کانت هجرته: هجرت او ددې قسمونه په لغت کښې د «هجرة» معنی ده پریخودل. اوپه عرف کښې هجرت ترک وطن ته وائی بیا د وطن د پریخودلو مختلف صورتونه دی

(۱) کله خو سړې د دنیاوی غرض دپاره وطن پریږدی لکه ډیرخلق دتجارت په غرض یا د ملازمت په نیت په نورو ملکونو کښې اوسیږی

(۲) بعضې وخت کښې ترک وطن ددې وجې کیږی چه په خپل وطن کښې امن او اطمینان نه وی نو سړې د خوف د خانې نه د امن خانې ته منتقل شی لکه چه د حبشه په دواړو هجرتونو وو نو هغوی دغه وطن پریخودلو اوحبشه ته لاړل چه هلته کښې امن وو.

(۳) دغه شان په اول کښې چه مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت اوکړلو نو مدینه دارالامن وو خو چه کله نبی ﷺ مدینې ته تشریف یوړلو اوهلته ورسره قرار ملاو شو نو بیا دالاسلام

---

(۱) اوګورئ فضل الباری (۱/۱۵۰)_

شو.ددے نه پس چه کومو خلقو هجرت کړے وو.نو دا هجرت من دارالکفر الى دارالاسلام وو دا هجرت د ترک وطن يو دريم صورت شو. (١)

() بيا په آخره زمانه کښے به يو بل هجرت وى.کوم چه به شام طرف ته وى.په مسند احمد (٢) و ابوداود (٣)کښے يو حديث دے.«ستكون هجرة بعد هجرة، فخيار أهل الأرض ألزمهم مهاجرا إبراهيم عليه السلام...»

او په شريعت کښے هجرت د ترک معاصى نوم دے.اوهم دا حقيقى هجرت دے . نبى ﷺ فرمائيلى دى.«المهاجر من هجر ما نهى الله عنه»(٤)

لکه چه د هجرت درے اهم قسمونه دى.() هجرت لغوى () هجرت عرفى () او هجرت حقيقى شرعى. د تجزيه کولو په صورت کښے ددے په شمار کښے زيادت راځى.

بيا په دے قسمونو کښے «هجرة إلى الحبشة» او«هجرة إلى المدينة» خو ختم شوى دى.البته «هجرة من دار الكفر إلى دار الإسلام» او«هجرة إلى مهاجر إبراهيم عليه السلام» باقى دے.

دحضرت ابن عباس رضى الله عنه په حديث کښے «لاهجرة بعد الفتح ولكن جهاد ونية» (٥) کښے د مدينے دهجرت نفى شوے ده.او دحضرت معاويه رضى الله عنه په حديث «لا تنقطع الهجرة حتى تنقطع التوبة، ولا تنقطع التوبة حتى تطلع الشمس من مغربها»(٦)کښے «هجرت من دار الكفر إلى دار الإسلام» مراد دے.والله اعلم

قوله: إلى دنيا يصيبها: () ..دنيا.. د ..دنو.. نه مشتق دے.ددے معنى ..نزديکت.. دے.چونکه دا زوال ته نزدے ده.خکه ورته ..دنيا.. وائى.

() اوبعضو وئيلى دى.چه ..دنيا.. ورته خکه وائى.چه دا دآخرت په نسبت نزدے ده.(٧)

() دبعضے حضراتو رائے دا ده.چه دا د «دناءة» نه ماخوذ ده.ددے معنى خست او رذالت دے.چونکه دا د آخرت په نسبت خسيسه او ذليله ده.خکه ورته ..دنيا.. وائى.(٨)

---

(١) اوگورئ فتح البارى (١٦/١)_

(٢) مسنداحمد (٢٠٩/٢) مسند عبدالله بن عمروبن العاص رضى الله عنهما)_

(٣) سنن أبى داود كتاب الجهاد باب فى سكنى الشام رقم ١٤٨٢)_

(٤) صحيح بخارى كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده رقم ١٠)_

(٥) صحيح بخارى كتاب الجهاد والسيرباب فضل الجهاد والسير رقم ٢٧٨٣)_

(٦) سنن أبى داود كتاب الجهادباب فى الهجرة هل انقطعت؟ رقم ٢٤٧٩)_

(٧) فتح البارى (١٦/١)_

(٨) امدادالبارى (٤٢٥/٢)_

دنيا د فعلى په زون داسم تفضيل صيغه ده اوغيرمنصرف ده دعدم انصراف وجه ئې لزوم تانيث دے اودا يو سبب قائم مقام د سببينو دے.(۱)

علامه تيمى رحمه الله فرمائى په دے كښے دوه سببه دى يو وصف او بل تانيث. خو دهغوى په قول اعتراض شوے دے چه تانيث كله دالف مقصوره يا الف مدوده سره وى نو د بل سبب ضرورت نه وى (۲) ددے نه علاوه ددے وصفيت ختم شوے هم دے.ځكه چه ددے نه : وصفيت معنى ويستلے شوے ده.او خالص داسميت په معنى كښے مستعمله ده.هم دا وجه ده چه دا نكره راوړل ټيك دى.كه چرته د وصف په معنى كښے وه.نو د اسم تفضيل چه كوم درے طريقو (د اضافت سره.د ..من.. سره. اود الف لام سره.) كښے به په يوه طريقه ددے استعمال ضرورى وو . حالانكه د ..اضافت.. او ..من.. سره ددے استعمال ممكن نه دے.البته دريمه طريقه ممكنه وه.او هغه استعمال شوے نه ده.نومعلومه شوه چه په دے كښے د وصفيت معنى نشته.چونكه د وصفيت معنى په كښے ختمه شوے ده.او د اسميت معنى په كښے پيدا شوے ده.نوځكه نكره استعمال ئې ټيك دے.لكه د شاعر په دے شعر كښے اسم تفضيل منكر استعمال شوے دے.

وإن دعوت إلى جُلّى ومكرمة ﴿﴾ يوماً سراة كرام الناس فادعينا (۳)

كه ته په دجنګ په ورځ .يا عظيمے حادثه په ورځ. ياد سخاوت دپاره شريفان راغواړے نو مونږ هم راوغواړه.ځكه چه مونږ هم په سردارانو كښے يو.

دلته كښے «جلى» په اصل كښے اسم تفضيل دے.او په دے كښے د وصفيت معنى وه.خو ددے وصفيت ختم شوے دے.او اوس دا د حادثه عظيمه په معنى كښے مستعمل ده.(۴)

د دنيا تعريف د دنيا په تعريف كښے دوه اقوال دى.

① «ماعلى الأرض من الهواء والجو»

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.دا تعريف غوره دے.خو په دے كښے د «قبل قيام الساعة» قيد لګولو ضرورت دے.

② دويم قول دے.«كل المخلوقات من الجواهر والأعراض الموجودة قبل الدار الآخرة» علامه عينى رحمه الله د علامه نووى رحمه الله نه ددے دويم قول ترجيح نقل كړے ده.(۵)

بيا په لفظ د ..دنيا.. باندے تنوين شته كه نه؟ د بخارى په تولو نسخو كښے غير منون دے.او ابن الدحيه رحمه الله دابوالهيثم كشميهنى رحمه الله په روايت كښے تنوين سره نقل كړے دے.او

---

(۱) فتح البارى (۱/۱۷)_

(۲) پورتنئ حواله)_

(۳) اوګورئ ديوان حماسه مع شرح تسهيل الدراسة (ص.۲۱)_

(۴) فتح البارى (۱/۱۷) وعمدة القارى (۱/۲٤)_

(۵) اوګورئ فتح البارى (۱/۱٦) وعمدة القارى (۱/۲٤)_

ددے تضعیف ئے کړے دے.اودا ئے هم وئیلی دی.چه ابوذر هرویﷺ په آخر کښے د کشمیهنیﷺ هغه روایات چه په هغے کښے هغه منفرد دے.هغه ئے حذف کول.اوفرمائیل به ئے چه دے دعلم خاوند نه وو.(١)
حافظ ابن حجرﷺ فرمائی.چه دا خبره علی الاطلاق مسلمه نه ده.ځکه چه په ډیرو مقاماتو کښےد کشمیهنی ﷺ روایات د نورو د روایاتو په مقابله کښے صحیح وی.(٢) ترکومے پورے چه په نفس لفظ کښے د تنوین تعلق دے.نو اکثر حضرات وائی.چه دا بغیرد تنوین دے.البته علامه عینیﷺ د بعضے شاعرانو د شعرونو نه دا ثابته کړے ده. چه د تنوین لغت بیخی مردود نه دے.البته قلیل الاستعمال دے.(٣)

قوله: أو إلى إمرأة ينكحها: دلته کښے په ..دنیا.. کښے ښخه داخله وه.ددے باوجود ئے مستقلاً ښخه ولے ذکر کړه؟د دے څو جوابونه ورکړے شوی دی.
① امام نوویﷺ فرمائی.چه ..دنیا..نکره ده.اوتحت الاثبات ده.او په نکره تحت النفی کښے عموم وی.په دے صورت کښے د«امرأة» په ..دنیا.. کښے دخول یقینی وو.اوس چونکه نکره تحت الاثبات ده.نود «امرأة» د ..دنیا.. په مفهوم کښے دخول متیقن نه وو.ځکه ئے دا ذکر کړله.(٤)
خود امام نوویﷺ په دے جواب باندے اعتراض شوے دے.چه لکه څنګه په نکره تحت النفی کښے د عموم مفهوم وی.نو دغه په نکره في سیاق الشرط کښے هم عموم وی.او دلته هم داسے ده.نو عموم راغلو.او په دے کښے ..ښخه.. هم داخله ده.(٥)
② دویم جواب دا ورکړے شوے دے.چه دا د قبیلے د ذکرالخاص بعدالعام دے .او دا زیادت د اهتمام دپاره وی.(٦)
③ دریم جواب ابن بطالﷺ د ابن سراجﷺ نه دا نقل کړے دے.چه د ښځے تخصیص ذکر ځکه راغلو.چه عربیانو به د اسلام نه وړاندے د غلام سره دعربی ښځے نکاح نه کوله.او دکفاءت اعتبار به ئے کولو.کله چه اسلام راغلو.نو دا ئے باطل کړلو.نو مدینے منورے ته ډیرو غلامانو په دے نیت باندے هجرت اوکړلو.چه دلته به دعربی ښځے سره نکاح اوکړی.(٧)
حافظ ابن حجرﷺ فرمائی.چه دلته څو اول ددے خبرے دثبوت ضرورت دے. چه هجرت کونکے سړے غلام وو.اوهغه ښخه عربیه وه.بیا دا چه څه وئیلی شوی دی.چه عربیانو به د

---

(١) فتح الباری (١٧/١)_
(٢) پورتنۍ حواله)_
(٣) عمدة القاری (٢٤/١)_
(٤) فتح الباری (١٧/١)_
(٥) پورتنۍ حواله)_
(٦) اوګورئ شرح نووی علی صحیح مسلم (١٤١/٢) کتاب الإمارة باب قوله ﷺ إنما الأعمال بالنیة وفتح الباری (١٧/١)
(٧) فتح الباری (١٧/١)_

موالیو سره د عربي ښځو نکاح نه کوله.دا هم نه ده منلې شوې .ځکه چه د اسلام نه وړاندې د موالیو سره د نکاح ډير واقعات ثابت دی.بیا دا هم مطلقاً نشی منلې چه اسلام مطلقاً کفاءت باطل اوګرځولو.[1] ((وسیأتی البحث منه فی موضعه إن شاء الله تعالیٰ))

④ څلورم جواب دا ورکړې شوې دې.چه مهاجرینو ﷺ کله مدینې منورې ته تشریف راوړلو نوانصارو د ایثارې مثاله مظاهره اوکړله.اود همدردئ انتها ئې اوکړله . دخپلو مهاجرینو رونړو دپاره دخپلو زمکو او مالونو تقسیم ته غاړه کیخودله.بعضو په کښې خپلو مهاجرینو رونړو ته تر دې پورې اووئیل.چه زما په نکاح کښې دوه بیبیانې دی په هغوی کښې زه یوه ستا دپاره پریږدم.چه کومه غواړې .نوخوښه ئې کړه.نودا خطره پیدا شوه.چه د انصارو د دې قربانو او ښه اخلاقو په باره کښې څوك واوری.اوڅوك دا سوچ اونکړی.چه زه غریب او تنګ حاله یم.هجرت به اوکړم.او مدینې منورې ته به لاړ شم.هلته به راته مال هم ملاؤ شی.او ښځه هم.نو نبی ﷺ ((سداًللباب))او د تنبیه دپاره دواړه څیزونه ذکر کړل.[2]

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ [3] په دې کښې دټولو نه اول د ښځو ذکر شوې دې.او ددې وجه دا ده.چه د ښځو فتنه دټولو نه سخته اوعظیمه فتنه ده. په حدیث کښې ارشاد دې ((ماترکت بعدی فتنة أضر علی الرجال من النساء)) [4] په یو بل حدیث کښې دی.((النساء حبائل الشیطان))[5]

چونکه د ښځو فتنه دټولو نه نقصانی وه.تردې چه ښځو ته د شیطان جال وئیلې شوې دې.د دې نه د ویرولو او بچ کیدو دپاره نبی ﷺ د ..دنیا.. د ذکر کولونه پس مستقلاً د ښځې ذکر اوکړلو.

⑤ یوجواب دا هم ورکړې شوې دې.چه چونکه د حدیث شان ورود د مهاجر ام قیس واقعه ده.ددې وجې نبی ﷺ د دنیا نه پس د ښځې ذکر اوکړلو.

وړاندې مونږ ددې حدیث په شان ورود کښې د طبرانی په حواله سره دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ روایت ذکر کړې وو.چه یو کس ام قیس نوم ښځې ته د نکاح پیغام راولیږلو.په

---

(۱) پورتنئ حواله)_

(۲) فضل الباری (۱۴۹/۱) وامداد الباری (۲۲۵/۲، ۲۲۶)_

(۳) آل عمران ۱۴۰

(۴) اوګورئ صحیح بخاری شریف. او په یوحدیث کښې دی.((النساء حبائل الشطان)) (() رواه رزین کذا فی مشکاة المصابیح (ص.٤٤٤) کتاب الرقاق الفصل الثالث)_

(۵) رواه رزین کذا فی مشکواة المصابیح (ص.٤٤٤) کتاب الرقاق الفصل الثالث)_

دے باندے هغے د هجرت شرط اولګولو .اوهغه شرط پوره کړلو او دغه شان دهغوی په خپل مینځ کنبے نکاح اوشوه.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.دا حدیث په خپل ځائے صحیح او ټیك دے.خو ددے خبرے په دے کنبے څه صراحت نشته.چه حدیث «إنما الأعمال بالنیات» هم په دے واقعه کنبے وارد شوے دے اونه څه په بل سند سره ددے تصریح ملاویږی. (۱) خو شیخ محمد عابد سندهی رحمه الله په خپل کتاب «مواهب لطیفه» کنبے د زبیربن بکار رحمه الله دکتاب په حوالے سره روایت نقل کړے دے په هغے کنبے صراحت دے .چه هم ددے واقعه په وجه نبی ﷺ خطبه ونیلے وه او په هغے کنبے ئے دا حدیث اوروله وو. (۲)
یواشکال اودهغی جواب دلته یو اشکال کیږی.چه مهاجرام قیس رضی الله عنه صحابی دے.اود یو صحابی په حق کنبے دا خبره ډیره لرے ده.چه هغوی د ښځے دپاره هجرت اوکړی.هغوی دا سے ولے اوکړلو؟
ددے جواب دادے.چه چونکه د نبی کریم ﷺ د طرفه براه راست نکیر موجود دے نوځکه ددے د نفی خو ګنجائش نشته.البته په صحابه کرامو رضی الله عنهم د حسن ظن تقاضا دا ده.چه مونږ داسے اووایو.چه زمونږ دا عقیده نه ده.چه دغه صحابی رضی الله عنه صرف د نکاح په نیت باندے هجرت کړے وو.بلکه مطلب دا دے.چه د هغوی نیت مخلوط وو او دمخلوط په باره کنبے دا تفصیل دے.که لوجه الله نیت غالب وی.نو هغے اعتبار به وی.اوکه نیت د غیرالله غالب وی.نو دهغے اعتبار به وی.اوکه دواړه برابر وی.نو بنا په«أنا أغنی الشرکاء عن الشرك»(۳) باندے دغیرالله اعتبار به وی.خودلته د رسول الله ﷺ په صحابی رضی الله عنه حسن ظن هم دا دے چه د هغوی نیت لوجه الله غالب وو.نو د ثواب نه بیخی محروم به نه وی خوچونکه دلته معمولی غوندے خلط هم د صحابی ﷺ د شان سره لائق نه دے.نوځکه په حدیث کنبے پرے تنبیه ورکړے شوه. (۴)
فائده د ام قیس په باره کنبے حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله لیکلی دی.چه د دے نوم ..قیله.. وو.البته د ..مهاجرام قیس.. په باره کنبے تولو دلاعلمی اظهار کړے دے. (۵)
حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب قدس سره فرمائی.چه قصداً د دوی نوم نه دے ښکاره کړے شوے.چه یو صحابی په دے خاص خبره باندے مشهور نشی. (۶)

---

(۱) فتح الباری (۱۰/۱)_
(۲) اوګورئ فضل الباری (۱۴۹/۱)_
(۳) صحیح مسلم (۴۱۱/۲) کتاب الزهد باب تحریم الریاء)_
(۴) فضل الباری (۱۴۹/۱)_
(۵) اوګورئ فتح الباری (۱۷/۱) وعمدة القاری (۲۸/۱)_
(۶) تقریربخاری (۷۶/۱)_

نکاح یو مباح څیز دې ددې په نیت سره ولې هجرت نه صحیح کیږي؟ دلته یو اشکال داهم کیږي چه د یوې ښځې سره نکاح کول مباح څیز دے ناجائز نه دے که یو سړے د نکاح دپاره هجرت کوی نوپه دے کښې خو د عدم جواز څه خبره نشته.نو بیا د داسې هجرت مذمت ولې بیان شو؟

ددے جواب دا دے چه بیشکه نکاح یو مباح .مسنون بلکه په بعضې وخت کښې واجب هم وی خودلته مذمت په دے وجه دے چه د دنیا کار ته د دین شکل ورکولے شی.د دنیا یوجائز کار که د دنیا په رنګ کښې اوشی.نو په دے کښې څه اشکال نشته.خو چه د دنیا کار وی اوهغې ته د دین صورت ورکړے شي.اوپه ظاهر کتونکو ته دا ښکاري چه ته د دین کار کوے.او په حقیقت کښې ستا نیت د دین نه وی.نودا خبره معیوبه او قابل اعتراض ده.

څو سوالونه او دهغې جوابونه مجموعی طور د حدیث تشریح اوشوه.البته دلته څو سوالونه او دهغې جوابونه ذکر کولی شی.

اولنی سوال د شرط او جزاء په مینځ کښې اتحاد په حدیث کښې ((**فمن کانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله**)) الفاظ راغلی دی.په دے کښې د ((**من کانت هجرته إلى الله ورسوله**)) کښې مبتداء متضمن معنی دشرط لره ده.او ((**فهجرته إلى الله ورسوله**)) کښې دوه صورتونه کیدے شی.

یو دا چه د ((**إلى الله ورسوله**)) تعلق د ((**هجرة**)) سره وی.په دے صورت کښې به پوره عبارت مبتدا شی.او خبر به محذوف راویستلے شی.مثلاً ((**صحیحة**)) پوره عبارت به دا شی.((**فهجرته إلى ورسوله صحیحة**)) او ددے نه پس به دا خبر متضمن معنی د جزاء لره شی.

دویم صورت دا دے.چه ((**هجرته**)) مبتدا جوړه کړے شی.او((**إلى الله ورسوله**)) د ((**کائنة**)) سره متعلق خبر کړے شی.بیا مبتدا اوخبرملاؤ شی.اومتضمن معنی د جزاء لره شی.

په صورت کښې دلته اوله حصه ((**من کانت هجرته إلى الله ورسوله**)) مبتدا متضمن معنی د شرط لره شوه.او دویمه حصه ((**فهجرته إلى الله ورسوله**)) خبر متضمن معنی د جزاء لره شو.

دلته اشکال دا دے.چه د مبتدا او خبر په مینځ کښې دغه شان د شرط او جزاء په مینځ کښې تغایر پکار دے.حالانکه دلته په دواړو کښې اتحاد موندے شی.اوبعینه هم دا خبره ((**ومن کانت هجرته إلى دنیا یصیبها أو إلى إمرأة ینکحها فهجرته إلى ما هاجر إلیه**)) کښې هم ده.دلته کښې هم په مبتدا او خبر کښې لفظاً اتحاد دے.

ددے څو جوابونه ورکړے شوی دی

① ابوالفتح قشیری رحمه الله فرمائی.لفظاً اګرچه اتحاد دے.خو معناً تغایر دے.دلته عبارت محذوف دے.هغه داسې دے ((**فمن کانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله حکماً وشرعاً**))(۱)

---

(۱) عمدة القاری (۱/ ۲٤) بیان الإعراب)_

دغه شان په دويمه جمله كښے هم ونيلى شى چه «من كانت هجرته إلى دنيا... قصداً ونية فهجرته إلى ما هاجرإليه حكماً وشرعاً» اوس په شرط او جزاء كښے اتحاد باقى پاتے نشو بلكه تغاير شو

③ دويم جواب دا دے اگرچه دلته لفظاً اتحاد دے خو معناً تغائر دے او مغايرت معنوى د صحت كلام دپاره كافى وى بيا دا «اتحاد بين الشرط والجزاء» او «اتحاد بين المبتدء والخبر» كله د «مبالغة فى التعظيم» دپاره هم وى لكه چه ونيلى شى «أنا أنا» دلته كښے په ظاهره مبتدا او خبر دواړه متحد دى خو په معنى كښے تغاير شته خكه چه په دے كښے د دويم «أنا» نه مراد «الكامل فى المرؤة» يا «الكامل فى الشجاعة» دے.

دغه شان د ابوالنجم مشهوره مصرعه ده «أنا أبوالنجم وشعرى شعرى»

په دے مصرعه كښے «شعرى شعرى» په ظاهر مبتدا او خبردواړه يو دى خو په معنى كښے ئے تغاير شته په مصرعه كښے ددے معنى ده «شعرى الآن كشعرى فيما مضى» يا دا مطلب دے چه «شعرى هو شعرى المشهور بالبلاغة»(۱)

دغه شان دلته كښے هم «من كانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله» كښے د مبالغه في التعظيم د وجے صورة اتحاد دے او حقيقة اتحاد نه دے.(۲)

بيا كله دا «اتحاد بين المبتدء والخبر» د مبالغه في التحقير دپاره هم راځى لكه چه هارون الرشيد واقعه مشهوره ده چه هغوى حج ته تلى وو نو هلته ئے په ژړا ژړا كښے دا دعا كوله «اللهم أنت أنت وأنا أنا» يعنى «أنت العواد بالمغفرة وأنا العواد بالذنب»

دغه شان دلته په دويمه جمله كښے يعنى «ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إلى إمرأة ينكحها فهجرته إلى ما هاجر إليه» كښے مبالغه في التحقير ده.(۳)

خلاصه دا كه هجرت د الله او د رسول طرف ته وى نو دغه هجرت به ډير قدر وى او كه هجرت د دنياوى مال ومتاع دپاره وى نو دا سے هجرت څه څيز نه دے

④ دريم جواب حضرت شاه صاحب رحمه الله ورکړے دے هغوى فرمائى چه عام طور خلق دا خيال كوى چه په دنيا كښے عمل وى او په آخرت كښے د هغے ثمره وى حالانكه صحيح دا ده چه په آخرت كښے به سړے هم هغه څيز موجود بيا مومى كوم چه ده په دنيا كښے كړے وى په قرآن كريم كښے ارشاد ﴿وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا﴾(۴) يعنى خلق به په آخرت كښے خپل كړى

---

(۱) اوګورئ النبراس شرح شرح العقائد (ص. ۲۹. ۳۰)_

(۲) عمدة القارى (۱/۲٤)_

(۳) عمدة القارى (۱/۲٤)_

(۴) الكهف ٤۹.

اعمال حاضر بیا مومی.هم د دے وجے ئے په حدیث کښے «وإنما لإمرئ ما نوی» فرمائیلی دی.یعنی سړی ته به بعینه هم هغه څیز ملاویږی.دکوم چه ده نیت کړے وی.هم دے حقیقت طرف ته اشاره ده په دے جمله کښے چه «من کانت هجرته إلی الله ورسوله فهجرته إلی الله ورسوله» یعنی چه څنګه هجرت وی.په آخرت کښے به هم هغه ملاویږی.البته دا بیله خبره ده.چه په دنیا کښے د دغه عمل یوشکل وی.او په آخرت کښے به ئے بیل شکل وی.اودا د شکل بدلیدل څه مستبعده خبره نه ده.

اوګورئ چه نبی کریم ﷺ ته په عالم رؤیا کښے پئ پیش کړے شو.نونبی ﷺ هغه اوڅکل اوچه ښه موړ شو.نو بیا ئے حضرت عمر رضی الله عنه ته ورکړلو.صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړلو یا رسول الله ددے تعبیر څه دے؟ نونبی ﷺ اوفرمائیل.ددے تعبیر علم دے.لکه چه په عالم رؤیا کښے علم د پیو په شکل کښے پیش کړے شو.(۱)

دا خبره په دے طریقه اوپیژنئ.چه یوسړے دلته اوسیږی.اوبیمار وی.مخ ئے زیړیږی .او په بدن کښے ئے وینه کمیږی.هغه یو څو میاشتے په صحت افزاء ځائے کښے تیرے کړی.نو دهغه په صحت کښے مناسب تبدیلی راشی.د مخ رنګ ئے سور شی.او په بدن کښے ئے د وینے زیادت اوشی.اوپه هغه کښےطاقت پیدا شی.اوګورئ دا هم هغه کس دے.خو په شکل او صورت کښےئے تبدیلی پیدا شوه.

په دے طریقه حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی.چه په آخرت کښے سړی ته د هغه دعمل جزاء ورکړے شی.نو په جزاء کښے به ورته هم هغه عمل وړاندے کولے شی .کوم چه ده کړے وی.دا بیله خبره ده.چه دهغے په مناسبت سره به دهغے شکل جدا کړے شی.اودلته به دهغے شکل بل شان وی.نوهغوی فرمائی.چه «فهجرته إلی الله ورسوله» کښے چونکه د جزاء بیان دے او چه «من جنس العمل»وی.نو ځکه بعینه د «فهجرته إلی الله ورسوله»اعاده اوشوه.(۲)

دویم سوال: «فهجرته الی ما هاجرالیه» کښې د ابهام وجه. یو سوال دا دے.چه د «فهجرته إلی الله ورسوله» په جواب کښے خو ئے تصریحاً د «فهجرته إلی الله ورسوله» اوفرمائیل.او د «ومن کانت هجرته إلی دنیا یصیبها أو إلی إمرأة ینکحها»په جواب کښے ئے دوباره ..دنیا..او..ښځه..ئےدصراحة ذکر کولو په ځائے «فهجرته إلی ما هاجرإلیه» اوفرمائیل.او د ..ما.. په عموم کښے ئے داخله کړه.ددے څه وجه ده؟

① ددے یوه وجه دا ده.چه د ..الله.. او ..رسول.. اعاده ئے ددے وجے اوکړله . چه د ..الله.. او ..رسول.. په ذکر کښے خوند وی.لکه چه د خوند دپاره ئے د جزاء په جانب کښے د ..الله.. او ..رسول.. ذکر دوباره اوکړلو.اوپه دویمه جمله چونکه د ..دنیا.. او ..ښځے..

(۱) اوګورئ صحیح بخاری (۱۰۳۷/۲) کتاب التعبیر باب اللبن)_
(۲)اوګورئ فیض الباری (۱۱/۱)_

ذکر وو اودا د (روحانی) لذت څیزونه نه دی نوځکه ئې ددې اعاده صراحتاً اونکړله.بلکه د «ماهاجرالیه» په عموم کښې ئې داخل کړل.

③ دویمه وجه دا هم کیدې شی چه چونکه دلته کښې دهغه هجرت عظمت بیانول وو.کوم چه «إلى الله ورسوله» ته وی او د دې هجرت د عظمت ټوله وجه د ..الله..او..رسول..قصد دې نوځکه د ..الله..او..رسول..دنومونواعاده اوشوه کوم چه په اصل کښې دعظمت سبب دې اوپه هغه هجرت کښې څه عظمت نشته.چه هغه د دنیا او د ښځې دپاره وی.نوځکه ئې په جزاء کښې د دنیا او ښځې ذکرصراحة اونکړلو.بلکه په «ماهاجرالیه» سره ئې ترې تعبیر اوکړلو.

④ بوه وجه دا هم کیدې شی.چه د «هجرة إلى الله والرسول» مقصود دالله تعالی رضا ده.اودا یوه ده.په خلاف د «هجرة الى الدنيا»ځکه چه ددې مقاصد ډیر دی.د دنیا دپاره په هجرت کښې کله مقصد د مال ومتاع حصول وی.اوکله د منصب او عهدې خوائش اوطلب وی.او کله ددې نه اسباب د عیش او سامان د راحت مقصود وی.نوچونکه دالله او رسول طرف ته د هجرت کولو مقصود صرف یو دې.په هغې کښې تعدد نشته.یعنی د الله تعالی رضا حاصلول.نوځکه هلته د..الله..او..رسول.. بعینه اعاده اوکړې شوه اودنیا طرف ته په هجرت کښې چونکه مختلف مقاصد شاملیدې شی.نوځکه هلته په«ماهاجرالیه» کښې اجمال اوابهام اختیارکړې شو

دطاعاتو، عباداتو،مباحاتواو معاصی سره د نیت دتعلق نوعیت

دلته کښې د نیت په بنیاد یو عمل مقبول اوغیر مقبول ګرځولې شی.چه دهجرت دینی عمل که د الله تعالی د رضا دپاره وی.خو مقبول او معتبر به وی.اوکه د دنیا د حاصلولو په اراده وی.نوغیر مقبول او غیر معتبر به وی.په دې باره کښې داتفصیل هم په ذهن کښې کینوئ.

چه د نیت تعلق د عباداتو او طاعاتو سره هم دې.او د مباحاتو سره هم.که عمل د عباداتو او مباحاتو څخې وی.او نیت ښه وی.نواجر او ثواب به ملاویږی.اوکه عمل د عبادات اوقربات څخې وی.او په نیت کښې فساد راغلو.نوبیا به ګناه او عذاب وی.

ترکومې پورې چه د مباحاتو او جائز امورو تعلق دې.نو د هغې په باره کښې مونږ وړاندې ذکر کړې دې.که نیت ښه وی.نو ثواب به ملاویږی.اوکه نیت غلط وی .نوګناه به وی.او که بیخی نیت نه وی.نونۀ به ثواب وی.اونۀ به ګناه وی.البته که په نیت کښې اختلاط وو.نوپه دې کښې به د غالب اعتبار وی.که د خیر نیت غالب وی.نو ثواب به ملاویږی.اوکه د شر نیت غالب وی.نوګناه به وی.اوکه دواړه طرفونه برابروو.نوهم به د «أنا أغنى الشركاء عن الشرك» په بنا به د شر طرف غالب ګرځولې شی.او عمل به غیرمقبول اوګناه وی

بیا ترکومې پورې چه د معاصی تعلق دې.نوددې په باره کښې هم ښه خان پوهه کړئ.چه د نیت حسنه د معاصی سره د تعلق امکان هم نشته.په معاصی کښې ددې خبرې صلاحیت نه وی.چه د هغې سره د نیت حسنه تعلق وی.ځکه چه نیت حسنه د داسې څیز سره متعلق وی.کوم چه د شارع د منشاء مطابق وی.اود شارع د منشاء مطابق قربات، عبادات، او مباحات دی.نو ددې سره د نیت حسنه تعلق کیدې شی.د معاصی سره په هیڅ حالت کښې د

نیت حسنه تعلق نشي راتلې.بلکه که یو کس د نیت حسنه سره گناه کوي.نو دهغه د ایمان د
ضائع کیدو ویره ده.والله اعلم بالصواب

حدیث ,,انما الاعمال بالنیات،، نه د کتاب د شروع وجه امام بخاری رحمه الله چه ددے حدیث نه د
خپل تصنیف ابتداء کړے ده.ددے څو وجوهات کیدے شي.

① یوه ښکاره وجه خو دا په پوهه کښے راځي.چه امام بخاري رحمه الله د تصحیح نیت او ددې
اهمیت طرف ته متوجه کولو دپاره په دے حدیث د خپل ,,صحیح،، شروع اوکړله.

② یوه وجه دا هم کیدے شي.چه د هجرت حدیث ئے ذکر کړلو.امام بخاری رحمه الله دے طرف ته
متوجه کول غواړي.چه دعلومو د تحصیل دپاره هجرت ظاهره ضروري دے.او هجرت ظاهري
هم دادے چه د یو ځائے نه بل ځائے ته منتقل شي.لکه چه امام بخاری رحمه الله فرمائي.که ته د
علومو تحصیل غواړے.نوستا دپاره ضروري ده.چه د خپل کور نه هجرت اوکړے.او د دنیا
په کورونو ورګډ شے.

③ دریمه وجه دا هم کیدے شي.چه امام بخاری رحمه الله د هجرت په حدیث سره صرف ظاهري
هجرت ته اشاره نه کوي.بلکه هجرت باطني طرف ته هم متوجه کول غواړي.ځکه چه کمال
هجرت مطلوب دے.اوکمال هم په هغه صورت کښے حاصلیږي.چه په هجرت ظاهره سره سره
په هجرت باطنه باندے هم عمل اوشي.

دهجرت ظاهره مطلب خو واضح دے.چه د یو ځائے نه بل ځائے ته منتقل کیدل.لکه چه نبي
ﷺ د خپل کور نه غار حراء ته هجرت کړےوو.دا هجرت ((من مکان إلی مکان آخر)) دے.

د هجرت ظاهره یو شکل هغه هم وو.کوم چه صحابه کرامو رضی الله عنهم د مکے مکرمے نه حبشه ته
کړے وو.دا هجرت ((من دار الخوف إلی دار الأمن)) ته وو.

دغه شان د نبي ﷺ مدینے منورے ته د روانیدو نه وړاندے د صحابه کرامو رضی الله عنهم مدینے طرف
ته هجرت هم ((من دار الخوف إلی دار الأمن)) ته هجرت وو.اوپه هجرت ظاهره کښے داخل وو.بیا د
نبي ﷺ مدینے منورے ته دتشریف اوړلو نه پس هجرت ((من دار الکفر إلی دار الإسلام)) شو.دا
هم هجرت ظاهره دے.

اویو هجرت باطنه دے.د کوم چه په حدیث ((المهاجر من هجر ما نهی الله عنه)) کښے ذکر دے.په دے
د منهیاتو او ګناهونو پریخودلو ته هجرت وئیلے شوے دے.او دا هجرت باطنه دے.
لکه چه امام بخاری رحمه الله په دے خبره باندے تنبیه ورکول غواړي.چه د علوم ظاهره د تحصیل
سره سره که ته حقیقي تکمیل هم غواړے.نود هجرت ظاهره سره سره هجرت باطنه هم
اوکړه.او هجرت باطنه حاصلیږي.د ګناهونو او معاصي په پریخودو سره.نوترڅو چه ګناهونه
پریخودے شوي نه وي.کمال نشي حاصلیدے.

د امام شافعي رحمه الله مشهور اشعار دي

شكوت إلى وكيع سوء حفظي فأرشدني إلى ترك المعاصي
وأخبرني بأن العلم نور ونورالله لايهدى لعاص......(۱)

د حديث باب نه مستنبط مسائل د دے حديث نه فقهاوو ډير مسائل مستنبط كړي دي. مونږ دلته څو احكام ذكر كوو.

① ائمه ثلاثه په دے حديث باندے استدلال كوي. اوپه اودس او غسل كښے نيت واجب ګرځوي. اود امام ابوحنيفه، سفيان ثوري، او امام اوزاعي رحمهم الله په نيز په اودس او غسل كښے د نيت ضرورت نشته. ((وقد سبق منا التفصيل))

② دويمه مسئله د دے حديث نه دا مستنبط شوے ده. چه د امام مالك رحمه الله او په يو روايت كښے د امام احمد رحمه الله په نيز د رمضان د مياشتے په شروع كښے يو نيت د ټولو روژو دپاره كافي دے. هغوي فرمائي. چه د رمضان ټولے روژے چه يوځائے شي. نو يو عبادت دے. نو يو نيت به ورله كافي وي.

اوامام ابوحنيفه، امام شافعي، او د يو روايت مطابق د امام احمد رحمه الله په نيز د هرے روژے دپاره مستقل نيت كول ضروري دے. ځكه چه هره روژه مستقل عبادت دے. نو يو نيت به د ټولو دپاره كافي نه وي.

③ يوه مسئله دا مستنط شوے ده. چه د خطبه په دوران كښے احاديث بيانول جائز دي. ځكه چه حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د خطبے په دوران كښے دا حديث بيان كړلو.

④ يوه مسئله دا هم مستنبطه شوے ده. چه د عباداتو دپاره نيت لازم او واجب دے. البته په عبادات مقصوده كښے د نيت وجوبي اتفاقي دے. او په وسائلو كښے اختلاف دے.

دحديث باب نه حاصل شوي څو فوائد ① د دے روايت نه يوه فائده دا ذهن ته راغله. چه د ديني علومو دتحصيل دپاره هجرت ظاهره پكار دے.

② دويمه فائده دا حاصله شوه. چه په ديني علومو كښے كمال حاصلولو په هجرت باطنه باندے موقوف دے.

③ دريمه فائده دا په ذهن كښے راغله. چه ((خرم في الحديث)) جائز دے. د كوم تفصيل چه وړاندے تير شو. والله اعلم بالصواب.

---

(۱) ديوان الشافعي رحمه الله (ص. ٥٤) جمع وتعليق محمد عفيف الزعبي)۔

الحديث الثانى

[۲] حَدَّثَنَا عَبْدُاللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا (۱) أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ فَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِي الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا [۳۰۴۳]

رجال الحديث

قوله: عَبْدُاللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ:- دوی د عبدالله بن یوسف تنیسی او دمشقی په نوم باندې مشهور دې.اصل خو ددوی دمشقی دې.تنیس کښې ئې ستوګنه اختیار کړې وه.(۲)

تنیس په مصر کښې د سمندر په ساحل باندې یو ښار وو.کوم چه نن صباً ویران دې.دا تنیس بن حام بن نوح ﷺ طرف ته منسوب دې.(۳)

عبدالله بن یوسف تنیسی دامام مالك او لیث بن سعد رحمهماالله په شاګردانو کښې دې.دامام ذهلی رحمه الله اوامام یحیی بن معین رحمه الله غوندې فاضلان ددوی شاګردان دی.(۴)

یحیی بن معین رحمه الله فرمائی.((ما بقي على أديم الأرض أحد أوثق في ،،الموطا،، من عبدالله بن يوسف التنيسي رحمه الله (۵)

امام بخاری رحمه الله ددوی نه موطا اوریدلے ده.(۶) او فرمائیلی ئې چه ((كان من أثبت الشاميين))(۷)

---

(۱) هذا الحديث أخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق أيضاً في باب ذكر الملائكة رقم .۳۲۱۵) ومسلم في صحيحه في كتاب الفضائل باب طيب عرقه ﷺ ومالک في الموطا (ص.۱۸۸) كتاب القرآن باب ما جآء في القرآن رقم ۷. والنسائي في سننه في كتاب الإفتتاح باب جامع ما جآء في القرآن رقم.۹۳۴. ۹۳۵. والترمذي في جامعه في كتاب المناقب باب كيف كان ينزل الوحي على النبي ﷺ رقم ۳۶۳۴. واحمد في مسنده (۱۵۸/۶. ۲۵۷)_

(۲) عمد القاری (۳۶/۱) وتهذيب الكمال (۳۳۳/۱۶)_

(۳) عمدة القاری(۳۶/۱)_

(۴) اوګورئ تهذيب الكمال (۳۳۳/۱۶. ۳۳۴) وعمدة القاری (۳۶/۱)_

(۵) تهذيب الكمال (۳۳۵/۱۶)_

(۶) عمدة القاری(۳۶/۱)_

(۷) تهذيب الكمال(۳۳۵/۱۶)_

قوله: مَالِكٌ :- دا مالك بن انس بن مالك بن ابی عامرالاصبحی المدنی رحمه الله دے.
ابوعبدالله ئے کنیت او «امام دار الهجرة» ئے لقب دے.(۱)
دامام مالك رحمه الله د شیوخو شمار نهه سوه دے په دے کښے درے سوه تابعیان او شپږ سوه تبع تابعیان دی (۲)
امام مالك رحمه الله چه کله موطا اولیکله نوچونکه ددوی نه وړاندے ابن ابی ذئب هم د ..موطا.. په نوم کتاب لیکلے وو.او هغه کتاب غټ هم وو نوخلقو تپوس اوکړلو «مال الفائدة في تصنيفك؟» نو دوی جواب ورکړلو.«ماكان لله بقي»(۳) یعنی ما دالله تعالی د رضا دپاره دا تصنیف کړے دے.خکه به ورته دوام نصیب شی.او هم داسے اوشوه

قوله: هِشَامٍ بن عُرْوَةَ:- دے دعروه بن زبیر بن العوام خوئے دے.ددوی کنیت ابوالمنذریا ابوعبدالله دے.تابعی دے.او مدنی هم دے.دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما اوحضرت جابر رضي الله عنه وغیره ملاقات ئے کړے دے.حضرت عمر رضي الله عنه خو ددوی په سر باندے لاس راښکلے وو او دعا ئے ورته هم کړے وه.په ۶۱ھ کښے پیدا شوے وو.او(۱۴۵ھ) کښے په بغداد کښے وفات شو رحمه الله (۴)

قوله: عَنْ أَبِيهِ: دا حضرت عروه بن زبیربن العوام رحمه الله دے جلیل القدرتابعی وو.اودے سره سره د مدینے منورے په اووه فقهاؤ کښے شمارلے شی.
دوی ته الله تعالی د نسب اوخاندان عظیم شرافت ورکړے وو.حضرت زبیربن العوام رضي الله عنه «أحد العشرة المبشرة» ئے پلاروو.اود صدیق اکبر رضي الله عنه لورذات النطاقین حضرت اسماء رضي الله عنها ئے مور وه.نبی عليه الصلاة والسلام د دوی ماما وو.او حضرت عائشه رضي الله عنها د دوی ترور وه.په ۲۰ھ کښے د دوی پیدائش شوے وو.او په ۹۴ھ یا ۹۹ھ کښے وفات شوی وو.(۵)

قوله: عَائِشَةَ: حضرت عائشه رضي الله عنها بنت سیدنا ابوبکر رضي الله عنه وه.ددوی نکاح د نبی صلى الله عليه وسلم سره د هجرت نه وړاندے شوے وه.چه د دوی عمر شپږ کاله وو.اود یو روایت مطابق دوی عمر اووه کالو وو. دغزوه بدر نه پس د دوی وادهٔ اوشو. چه عمر ئے نهه کاله وو.او کله چه نبی صلى الله عليه وسلم وفات شو.دوی عمر اته پنځوس کاله وو.پنځه شپته کاله ژوندئ پاتے شوے وه.په رمضان ۵۵ھ یا شوال ۵۷ھ یا ۵۸ھ کښے وفات شوے وه.د دوی د وصیت مطابق دا د شپے په جنت البقیع کښے دفن کړے شوه.او حضرت ابوهریره رضي الله عنه پرے دجنازے مونځ اوکړلو.

---

(۱) تهذیب الکمال (۲۷/۱۶)_
(۲) عمدة القاری(۳۶/۱)_
(۳) تدریب الراوی(۸۹/۱)_
(۴) عمدة القاری.(۳۷/۱)_
(۵) عمدة القاری (۳۸/۱)

ددوى مور ام رومان زينب بنت عامر وه.نبى كريم ﷺ د حضرت اسماء رضي الله عنها د خونى او حضرت عائشے رضي الله عنها د خورى حضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنه په نوم باندے د دوى كنيت ..ام عبدالله.. كيخودے وو (١)

حضرت عائشه رضي الله عنها په فقهاؤ صحابؤ كښے داخل ده.اوپه هغه شپږو صحابو رضي الله عنهم كښے د دوى شمار كيږى كوم چه مكثرين في الحديث دى.(٢) د دوى نه ټول دوه زره دوه سوه لس احاديث مروى دى.په دے كښے يو سل څلوراويا احاديث متفق عليه دى.څلور پنځوس روايتونه هغه دى.كوم چه صرف امام بخارى رحمه الله نقل كړى دى.اواته پنځوس احاديث هغه دى د كومو تخريج چه صرف امام مسلم رحمه الله كړے دے (٣)

قوله أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا:دا يواځے دحضرت عائشے رضي الله عنها نه بلكه د ټولو ازواج مطهراتولقب دے.او دا په اصل كښے دالله تعالى د ارشاد ﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ (٤) نه ماخوذ دے.

خودا خبره دے واضحه وى.چه د مورولى د احترام اواحسان دوجوب او تحريم نكاح په حيثيت باندے ده.تركومے پورے چه د هغوى دلونړو سره نكاح ده.د هغوى سره د خلوت دجواز.او دهغوى سره د سفر وغيره تعلق دے.نو په دے كارونو كښے مورولى نشته.نوهغوى سره خلوت بلكه كتل ورته هم ناجائز دى.اودهغوى سره سفر كول هم ناجائز دے او دهغوى د لونړو سره نكاح جائز ده.(٥)

بيا په دے كښے اختلاف دے.چه د ازواج مطهراتو باندے لكه څنګه چه د ..ام المؤمنين.. يا..امهات المؤمنين..اطلاق كيږى.نو آيا د..امهات المؤمنات..اطلاق ورباندے هم كيدے شى كه نه؟

دحضرت عائشے رضي الله عنها رائے دا ده.چه ..امهات المؤمنات.. نشى ويلے.قاضى ابن العربى(٦) حافظ ابن كثير(٧)اوعلامه عينى رحمه الله دے قول ته ترجيح وركړے ده.حضرت عائشے رضي الله عنها نه

---

(١) عمدة القارى (١/٣٨)_

(٢) مكثرين في الحديث شپږ صحابه كرام رضي الله عنهم دى (١) حضرت ابوهريره (٢)حضرت عبدالله بن عمر (٣) حضرت عبدالله بن عباس (٤) حضرت جابربن عبدالله (٥)حضرت انس بن مالک (٦) حضرت عائشه رضى الله عنهاوعنهم اجمعين .اوګورئ تقريب النووى مع شرح تدريب الراوى (٢/٢١٦. ٢١٨) النوع التاسع والثلاثون فى معرفة الصحابة)_

(٣) عمدة القارى (١/ ٣٨)_

(٤) الأحزاب: ٦)

(٥) عمدة القارى(١/ ٣٨)_

(٦) اوګورئ تفسير قرطبى(٤/ ١٢٣)_

(٧) ارشاد السارى للقسطلانى(١/٥٧)_

بوے ښځے په ..یاامه.. سره خطاب اوکړلو نو دوی ورته اوفرمائیل. «لست بأمك أنا أم رجالكم»(۱)

دحافظ ابن حجر رحمه الله رجحان دے طرف ته دے چه د ..ام المؤمنات.. په وئیلو کښے څه قباحت نشته (۲)

بهرحال دا اختلاف په دے اختلاف باندے مبنی دے چه آیا د رجالو په خطاب کښے نساء هم داخل دی که نه؟ دچا په نیز چه داخلے دی نو دهغوی په نیز ..ام المؤمنات.

وئیل جائز دی او دچا په نیز چه داخلے نه دی نو هغوی دا ټیک نه ګنړی (۳)

آیا په رسول الله ﷺ باندې د ،،ابو المومنین،، اطلاق کیدې شی؟ یو سوال دا هم کیدے شی چه آیا مونږ په رسول الله ﷺ باندے د ..ابوالمؤمنین.. اطلاق کولے شو نو په دے کښے هم اختلاف دے د بعضو حضراتو خیال دے چه د ..ابوالمؤمنین.. اطلاق وربانديے نشی کیدے استاذ ابواسحاق اسفرائینی رحمه الله فرمائی ..هو کابینا.. وئیلی شی او ..ابونا.. نشی وئیلے د دے حضراتو وینا دا ده چه په قرآن کریم کښے صراحة راغلی دی ﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ ﴾ (۴) په دے کښے د ،،أبوّت،، نفی ده دغه شان په یو حدیث کښے دی «إنما أنا لكم بمنزلة الوالد»(۵)

خو داکثرو عالمانورائے دا ده چه په دوی باندے د ..ابوالمؤمنین.. اطلاق ټیک دے په دے کښے څه حرج نشته دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما او حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوی د دے آیت ﴿ النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ ﴾(۶) په آخر کښے ..وهو اب لهم.. اضافه کوله هم دا د حضرت معاویه ،مجاهد ،عکرمه او حسن رحمهم الله نه مروی دی (۷)

خوچه ترکومے پورے په ﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ ﴾ (۸) کښے د نفی تعلق دے نو په دے کښے د ..أبوّت،، صلبیه نفی ده د مطلق ..أبوّت،، نفی په کښے نشته (۹) هم دا وجه ده چه په «إنما أنا

---

(۱) طبقات ابن سعد(۸/ذکرأزواج رسول الله ﷺ ذکر عائشة رضی الله عنها)_

(۲) فتح الباری (۱/۱۸)_

(۳) اوګورئ شرح کرمانی(۱/۲۵)_

(٤) الأحزاب ٠٤٠ -

(۵) سنن ابی داود کتاب الطهارة باب کراهیة إستقبال القبلة عند قضاء الحاجة)_

(۶) الأحزاب ٠٠٦ -

(۷) تفسیر ابن کثیر(۳/٤۶۸)_

(۸) الأحزاب ٠٤٠ —

(۹) عمدة القاری(۱/۳۹)_

لكم بمنزلة الوالد» كښې من وجه د ‹‹أبوّت›› اثبات دے والله اعلم.
د اخوال المؤمنين او خالات المؤمنين اطلاق د امهات المؤمنين خويندو ته ترورياني او رونړو ته ماماګان اولونړو ته خويندے ونيلی شی که نه؟ په دے باره كښے علامه عينى رحمه الله فرمائی.
په دے كښے هم اختلاف دے. بعضو ﴿وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ باندے قياس كړے دے. اوفرمائی چه هركله هغوی مياندے دی نو دهغوی په رشتے سره ورته ترورياني، ماماګان او خويندے ونيلی شی. خو اصح قول دا دے چه ددے نومونو اطلاق صحيح نه دے لعدم التوقيف (۱)
تركومے پورے چه د نص تعلق دے نو هغه مؤول دے (۲) خكه چه ازواج د احترام، عزت اواكرام په غرض امهات ګرځولے شوی دی. په څه حكم كښے نه دی. هم دا وجه ده چه د امهات المؤمنين لونړه او خويندے بالاجماع حرامے نه دی. (۳) نو دوی ته ‹‹اخوات المؤمنين›› او ‹‹خالات المؤمنين›› هم نشی ونيلے والله اعلم.
حضرت عائشه رضی الله عنها غوره ده كه حضرت خديجه رضی الله عنها بيا په دے كښے هم اختلاف دے چه حضرت عائشه رضی الله عنها افضله ده كه حضرت خديجه رضی الله عنها؟
بعضے حضرات د حضرت عائشے رضی الله عنها د فضيلت قائل دی. خو راجح دا دی چه حضرت خديجه رضی الله عنها د حضرت عائشے رضی الله عنها نه افضله ده. د قاضی متولی، او ابن العربی مالكی رحمه الله نه علاوه د نورو ډيرو حضراتو هم دا يقينی رائے ده. (۴)
حضرت عائشه رضی الله عنها افضله ده كه حضرت فاطمه رضی الله عنها بيا په دے كښے هم د عالمانو كلام دے چه حضرت عائشه رضی الله عنها افضله ده كه حضرت فاطمه رضی الله عنها؟
په دے كښے راجح دا ده چه حضرت عائشے رضی الله عنها ته په حضرت فاطمے رضی الله عنها باندے فضيلت حاصل دے. (۵)
حضرت عطاء الله شاه بخاری رحمه الله دا په عجيبه عنوان سره ذكر كړے ده. هغوی فرمائی چه حضرت فاطمه رضی الله عنها (چه د رسول الله ﷺ د خيګر ټوټه وه) اوفرمائيل چه نبی ﷺ زما په باره كښے فرمائی «هی بضعة منی» يعنی فاطمه رضی الله عنها زما نه يوه حصه ده.
حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زه او ته څه نه پيژنو. صرف دومره خبره ستاسو نه تپوس كول غواړم چه هركله نبی ﷺ زما خاوند دے اوهغه جنت ته ځی نو زما لاس به دهغوی په لاس كښے وی. كوم خواه ته چه هغوی ځی هلته به زه هم ځم. اوستا خاوند حضرت علی رضی الله عنه دے كله چه هغه جنت ته ځی نو ته به دهغوی سره ئے. كوم خواه ته چه هغه ځی هلته به ته ځے. اوس تاسو په خپله سوچ اوكړئ چه د چا مرتبه اوچته ده؟

---

(۱) عمدة القاری (۳۸/۱)_
(۲) پورتنئ حواله)_
(۳) ابن كثير (۴۶۸/۳)_
(۴) عمدة القاری (۳۸/۱)_
(۵) پورتنئ حواله)_

بهرحال په دے کښے په يو خطيبانه انداز کښے دحضرت عائشے رضي الله عنها د افضيلت اثبات دے کوم چه بالکل ټيك دے علامه عينى رحمه الله دخپلو بعضو استاذانو نه نقل کړی دی چه «فاطمة أفضل في الدنيا وعائشة أفضل في الآخرة»(۱)

قوله أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دا حارث بن هشام بن مغيره دحضرت خالد بن وليد د تره خوئے اود ابوجهل حقيقى ورور وو د غزوه بدر په موقع د کافرانو د طرفه د مسلمانانو خلاف په جنګ کښے شريك شوے وو د فتح مکے په موقع ئے اسلام قبول کړے وو د غزوه حنين په موقع ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم سل اوښان ورکړى وو په جنګ يرموك کښے دوی شهيد شوی وو رضى الله تعالى عنه (۲)

دا حديث د مسانيد عائشه رضي الله عنها څخه دي اوكه دمسانيد حارث بن هشام رضي الله عنه څخه دي؟

دلته کښے حضرت عائشه رضي الله عنها روايت کوی چه حارث بن هشام رضي الله عنه د نبى صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړلو «كيف كان يأتيك الوحي؟» په دے مقام کښے دوه احتمالات دی.

۱) يودا چه په کوم وخت کښے حارث بن هشام رضي الله عنه د نبى صلى الله عليه وسلم نه تپوس کولو نو په هغه وخت کښے حضرت عائشه رضي الله عنها موجود وه دا سوال اوجواب دوی براه راست اوريدلى وو په دے صورت کښے دا روايت په مسانيد عائشه رضي الله عنها کښے شمارلے شي او هم دا د صاحبانو د اطراف رائے ده (۳)

۲) دويم احتمال دا دے چه حضرت عائشه رضي الله عنها هلته موجود نه وه او دا روايت هغوى د حارث بن هشام رضي الله عنه نه اوريدلے وى نو په دے صورت کښے به دا د مسانيدو د حارث بن هشام رضي الله عنه څخه وى اودلته به دے ته مرسل دصحابى رضي الله عنه وئيلى شي دجمهورو په نيز ددے حکم هم د موصول دے (۴)

اومعجم بغوى وغيره د عامر بن صالح زبيرى په واسطه باندے راغلے دے په دے کښے تصريح راغلے ده چه حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت حارث بن هشام رضي الله عنه نه روايت کوى (۵)

د دے دويم احتمال په تائيد کښے په مسند احمد (۶)

اګرچه په عامر بن صالح زبيرى کښے ضعف دے (۷) خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ابن منده رحمه الله سره د دوى متابع موجود دے (۸) بهر حال مشهوره هم دا ده چه دا د مسانيد

---

(۱) عمدة القارى (۳۸/۱)_
(۲) عمدة القارى (۳۹/۱)_
(۳) فتح البارى (۱۹/۱)_
(۴) اوګورئ تقريب النووى مع شرح تدريب الراوى (۲۰۷/۱) النوع التاسع: المرسل)_
(۵) فتح البارى (۱۹/۱)_
(۶) اوګورئ مسند احمد (۱۵۸/۶، ۲۵۷)-
(۷) قال الحافظ في التقريب (ص.۲۸۷) متروک الحديث أفرط ابن معين فكذبه)-
(۸) فتح البارى (۱۹/۱)_

عائشه رضي الله عنها خبره ده (۱)

قوله كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ: يعنى تاسو ته وحى څنګه راځى؟

دحضرت حارث بن هشام رضى الله عنه سوال په نزول وحى كښې د شك د وجې نه وو دا سوال په نزول وحى كښې د شك دوجې نه وو بلكه دا داسې وو لكه څنګه چه حضرت ابراهيم عليه السلام دالله تعالى نه سوال كړے وو چه ﴿رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ﴾ (۲) هغوى سوال كولو اے زما پروردګاره! ماته د احياء موتى د كيفيت مشاهده اوكړه.حضرت ابرهيم على نبينا وعليه الصلاة والسلام د جليل القدر او اوالوالعزم پيغمبرئ سره سره د ډيرو پيغمبرانوعليهم السلام پلار هم دے.رسول الله ﷺ ته د هغوى د ملت د تابعدارئ حكم شوے دے.هغوى ته د احياء موتى په كيفيت كښې د شك تصور څه كيدے شو.بلكه دهغوى د سوال منشا دا وه چه هغوى ته د احياء موتى په قدرت باندے پوره يقين وو.خودډے نه پس په هغوى كښې دا شوق پيدا شو.چه لږ اوګورم.چه د احياء موتى كيفيت څنګه وى؟(۳)

نودغه شان حارث بن هشام رضي الله عنه ته د وحى په باره كښے مكمل يقين حاصل وو . خو د دے خبرے شوق پيدا شو.چه د دے د كيفيت علم ورته اوشى.(۴) دحضرت ابراهيم عليه السلام سوال د خصائص الوهيت په باره كښے وو.اودحضرت حارث بن هشام رضي الله عنه سوال د خصائص نبوت په باره كښے وو.

دا هم داسے ده.چه مونږ ته د مكے معظمے او مدينے منورے كښے د وجود په باره كښے په تواتر سره يقين حاصل دے.هم ددے يقين په وجه به زمونږ دا شوق پيدا كيږى.چه كاش مكه او مدينه مو اوليدلے.هم دا وجه ده.چه چا ليدلى وى.په هغوى پسے ګرځو.اودا تپوس ترے كوو.چه مكه مكرمه څنګه ده؟مدينه منوره څنګه ده؟دا سوال د مكے مكرمے يا مدينے منورے په وجود كښے د شك د وجے نه كيږى.بلكه د دے په وجود باندے د يقين حاصليدو نه پس د شوق پيدا كيدو د وجے وى.

دحضرت حارث بن هشام رضى الله عنه د سوال نوعيت په ظاهره خودا معلوميږى.چه سائل د نفس وحى د راتلو كيفيت معلوم كړے وو.په «أحياناً يأتيني مثل صلصلة الجرس» باندے ددے تائيد كيږى.په بخارى كښے په «كتاب بدء الخلق، اوباب ذكر الملائكة» هم دا روايت راغلے دے.د هغے نه هم د دے تائيد كيږى.ځكه چه په هغے كښے د «كيف يأتيك الوحى»په جواب كښے نبى ﷺ فرمائيلى دى.«كل ذلك، يأتيني الملك أحياناًفي مثل صلصلة الجرس» مطلب دا دے.چه بعضے وخت به وحى په غير معروف صورت كښے راتله.چه اول وهله كښے په پوهه كښے نه راتله.

---

(۱) پورتنئ حواله)_
(۲) البقرة ۲۶۰) -
(۳) اوګورئ تفسيرابن كثير(۳۱۵/۱)_
(۴) فضل البارى(۱۵۱/۱)_

ودا احتمال هم شته چه د حامل وحی د راتلو د کیفیت په باره کښې تپوس کول دسائل مقصود وو دحدیث جزء ثانی «أحیاناً یتمثل لی الملك رجلاً» ددې تائید کوی چه حامل وحی بعضې وخت ماته په شکل انسانی کښې راخی
اوس که دا اوونیلی شی چه سوال د نفس وحی د راتلو د کیفیت متعلق وو نو بیا به د «أحیاناً یأتینی مثل صلصلة الجرس، وأحیاناً یتمثل لی الملك رجلاً» مطلب دا وی چه بعضې وخت وحی په غیر معروف صورت کښې راخی.چه په اوله وهله کښې پرې پوهیدل نه کیږی اوکله د اول وهله نه معلومیږی.لکه څنګه چه سړے د یو انسان سره خبرې کوی نودهغه خبرې په پوهه کښې راخی.
اوکه سوال د حامل وحی د راتلو په باره کښې وو نومطلب به دا شی چه کله فرښته په معهود او معلوم صورت کښې راتله.اود دے نه ئے په «مثل صلصلة الجرس» سره تعبیر اوکړلو خکه چه د «صلصلة الجرس» نه د یوڅیزنه اخذ کول اود څه کلام اخذ کول معهود نه وی اوکله به ئے په معلوم شکل یعنی انسانی شکل کښې فرښتې وحی راوړله.اوراتله به«وأحیاناً یتمثل لی الملك رجلاً» دلته کښې هم ممکن ده.چه سوال بالکل عام وی.یعنی د وحی متعلق هم سوال وی چه دا به څنګه راتله.اودحامل وحی په باره کښې هم سوال وی.چه هغه به څنګه راتلو؟[۱]

قوله: صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ :- «صلصلة» هغه آواز ته وائی.کوم چه د اوسپنې په اوسپنه د راپریوتو نه پیدا کیږی.په هغې کښې د طنین یعنی د ..زن.. زن.. آواز وی لکه څنګه چه ټلی وهلی شی.نو دهغې نه پس یو قسم آواز اوریدے شی.دغه شان دے آواز ته هم«صلصلة»ونیلی شی.چه هغه مسلسل وی.اوپه هغې سره په اول وهله کښې څه خبره په پوهه کښې نه راخی[۲]

د «صَلصَلَة» نه څه مراد دی؟ - د «صَلْصَلَة» چه د کوم آواز تشبیه ورکړے شوے ده په دے باره کښې ډیر اقوال دی.چه ددے نه څه مرادَ دے؟
① بعضې حضرات فرمانی.چه دا د فرښتې د وزرو وهلو آواز دے[۳]
② بعضو فرمانیلی دی.چه دا د «رصد» آواز دے یعنی دحضرت جبریل ﷺ سره چه به د وحی د حفاظت دپاره د فرښتو کومه لویه ډله راتله.دا د هغوی د راتګ آواز دے[۴] د لاندینی آیت لاندے.﴿ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا ﴾[۵] تاسو به کتلی وی.چه کله

---

(۱) اوګورئ فتح الباری (۱۹/۱) وعمدة القاری (۴۳/۱)_
(۲) مجمع بحار الأنوار(۳۴۱/۳) وعمدة القاری (۴۰/۱) وفتح الباری (۲۰/۱)_
(۳) فتح الباری(۲۰/۱)_
(۴) د ..رصد.. په باره کښې داحادیثو دپاره اوګورئ الدر المنثور(۶/ ۲۷۴، ۲۷۵)
(۵) الجن ۲۷)-

تاسو ته نزدے د مارغانو لوئے سيل تيريږى نود..شان.. شان.. آواز ستاسو په غوږونو كښے اوريدے شى.دغه شان دلته د جبريل آمين ﷺ سره د راتلونكو فرشتو د وزرو د آواز نه په «صلصلة» سره تعبيراوكړے شو.[1]

③ دا حضرت جبريل آمين د راتلو آواز وو.لكه څنګه چه د ريل ګاډى د راتلو آواز د لرے نه معلوميږى.دا قول د شيخ الاسلام حضرت مدنى قدس سره نه منقول دے.[2]

په دے باندے بعضے طالبانو دا اشكال كړے دے.كه داسے واقعه وه.نوبيا پكار دا وه چه تولوته ددے آواز احساس كيدلو.اوهم دا اشكال د فرشتو د وزرو په آواز باندے هم وارد كيدے شى.

خو ددے جواب وركولے شى.چه دا څيز د كشف سره تعلق ساتى.اوګورئ په احاديثو كښے دا هم دى.چه جبريل آمين په شب قدر كښے خپلے وزرے خوروى.اودا څيزاهل كشف ته معلوم دے. نورو ته نه.لكه څنګه چه كوڼرآواز نه اورى.دغه شان دا آواز هم نورو خلقو نه اوريدلو.[3]

④ بعضے حضراتو فرمائيلى دى.چه دا يو خاص آواز وو.چه په دے سره به د نبى ټول قوتونه جمع كولى شول.اوددے په ذريعه به د وحى نه وړاندے نبى ته خبردارے وركولے شو.لكه څنګه چه د ټيلفون ټلئ وى.چه د خبرو اترو كولو دپاره مخاطب هوښيار وى.[4]

⑤ بعضے حضراتو فرمائيلى دى.چه الله تعالى به په خپل قدرت سره د موحى به كښے يو آواز پيدا كړلو.[5]

⑥ بعضے حضرات فرمائى.چه دا د فرشتے خپل اصل آواز وو.[6]

⑦ حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى.چه په اصل كښے قاعده دا ده.كله چه د انسان په حواسو كښے تعطل پيدا شى.نوپه دے حاسه كښے دا كيفيت پيدا شى.چه هغه د مختلف قسم څيزونو ادراك كولے شى.مثلاً خدائے دے نكړى.كه په حاسه بصر كښے څه خرابى پيدا شى.نو قسم په قسم رنګونه په نظر راځى.دغه شان د سترګو مهلو نه پس مختلف قسم رنګونه په نظر راځى.كله سور. كله زيړ. كله تور وغيره.حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى.چه دا «صلصلة الجرس» په اصل كښے د حواسو دتعطل نه كنايه ده.يعنى الله تعالى به د وحى د نزول په وخت

---

(۱) فضل البارى (۱۵۲/۱)_

(۲) اوګورئ الأبواب والتراجم(۲۵)_

(۳) پورتنئ حواله)_

(۴) فضل البارى (۱۵۲/۱)_

(۵) نقله عن بعض المشائخ شيخ الحديث العلامة الكاندهلوى فى أوجزالمسالک(۱۲۸/٤) كتاب القرآن ما جاء فى القرآن)_

(۶) فتح البارى (۲۰/۱)_

کښے د نبی ﷺ حاسه سمع.د عالم شهادت د مسموعاتو نه معطل کړله او د بل عالم طرف ته به ئے متوجه کړله.چه په پوره توجه سره تلقی د وحی اوکړے شی.(۱)

⑧ بعضے حضرات فرمائی.چه دا په خپله دالله تعالی صوت قدیم دے اوشاه صاحب هم دا غوره کړے دے.

آیا دالله تعالی دپاره صوت ثابت دې؟ په دے خبره دټولو اتفاق دے.چه دالله تعالی دپاره کلام ثابت دے.اوپه الله تعالی باندے د متکلم اطلاق کیږی.خو په دے کښے اختلاف دے چه آیا دا صفت کلام په معنی د قائم بذات الباری تعالی دے اوکه قائم بغیره دے؟معتزله د قائم بغیره قائل دی.اواهل السنة والجماعة د قائم بذاته سبحانه وتعالی قائل دی.

بیا په اهل سنة کښے داختلاف دے.چه دا کلام په حرف وصوت دے.اوکه بلا حرف ولا صوت دے د متکلمینو رحمهم الله مذهب دا دے.چه کلام بلاحرف ولا صوت دے.او د محدثینو مسلک دا دے.چه دا کلام بحرف وصوت دے.لکه چه متکلمین رحمهم الله د صوت انکار کوی.اومحدثین رحمهم الله ئے اثبات کوی.(۲)

امام بخاری رحمه الله په کتاب التوحید کښے صوت ثابت کړے دے.دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه یو روایت ئے تعلیقاً ذکر کړے دے.«إذا تكلم الله بالوحى سمع أهل السماوات شيأ فإذا فزع عن قلوبهم وسكن الصوت عرفوا أنه الحق،ونادوا ما ذا قال ربكم، قالوا الحق» (۳)یعنی کله چه په وحی باندے تکلم اوفرمائی.نواهل سماوات یعنی فرشتے ئے واوری.اوهغوی بیهوشه شی.کله چه په هغوی کښے راشی.نو فرشتے تپوس کوی.چه الله تعالی څه ارشاد اوفرمائیلو.په جواب کښے ورته اووئیلی شی.چه حق ئے اوفرمائیل.

اوګورئ دلته د یو داسے څیز اثبات دے.چه هغه مسموع دے.ښکاره ده.چه هغه صوت دے.
دغه شان امام بخاری رحمه الله دحضرت عبدالله بن انیس رضی الله عنه نه یو معلق روایت نقل کړے دے.«يحشر الله العباد، فيناديهم بصوت يسمعه من بعد كما يسمعه من قرب،أنا الملك الديان» (۴) دلته کښے د «ينادى»ضمير الله تعالی ته راجع دے.اود صوت اثبات په صراحت سره شوے دے.
خودا خبره دے واضحه وی.چه دا صوت په هیڅ شان د مخلوق د صوت سره مشابه نه دے.نودا به وئیلی شی.چه «له صوت لا كأصواتنا» لکه چه وائی.«له يد لا كأيدينا وله سمع لا كأسماعنا» وغیره ذلك.

---

(۱) اوګورئ رساله شرح تراجم أبواب صحیح بخاری (ص.۱٤) باب کیف کان بدء الوحی)_
(۲) تحفة القاری بحل مشكلات البخاری (ص.۱۲۷، ۱۳۳)_
(۳) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالى﴿وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ﴾
(۴) صحیح بخاری کتاب التوحید.باب قول الله تعالى.﴿ وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ﴾

په نصوصو سره ثابت شوى صفات د تنزيه په عقيدې سره په ظاهر باندې پريخودل پكاردى
شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى چه حضرت شيخ الهند رحمه الله به فرمائيل چه عالمان او مفسرين رحمهم الله په ..يد. سمع. بصر. وغيره كښې تاويل كوى چه ((له يد لا كأيدينا، وله سمع لا كأسماعنا وله بصر لا كأبصارنا)) خوچه په كوم ځائے كښې دعلم او حيات ذكر كوى نوهلته دا تاويل نه كوى.حالانكه هلته هم دا تاويل ضرورى دے.څكه چه زمونږ حيات دالله تعالى دحيات پشان نه دے.زمونږ حيات خو مسبوق بالعدم دے.چه مونږ د حيات نه وړاندے په پرده دعدم كښې وو. اوبيا به د حيات نه پس دوباره معدوم كيږو هم.لكه چه مونږ دعدمينو په مينځ كښې يو.حالانكه دالله تعالى حيات خو نه مسبوق بالعدم دے.اونه هغه فنا كيدونكے دے .هغه خو ((هوالأول والآخر)) دے.
دغه شان زمونږ علم مسبوق بالعدم دے.اول جهل وو.اود هغے نه پس علم شو.اوبيا چه لكه بوډاتوب شى.نوبيا دے علم كښې ذهول او نسيان هم راځى.حالانكه دالله تعالى علم نه مبسوق بالعدم دے.اونه په دے كښې دكمى او نسيان څه امكان شته.
بيا زمونږ علم او اوزمونږ حيات په مقولاتو كښې په يوه مقوله كښې داخل دے.
حالانكه دالله تعالى علم اودهغه حيات په مقولاتو كښې په څه مقوله كښې داخل نه دے.څكه چه هغه خو خالق للمقولات دے.
نو دعلم او حيات په باره كښې هم دا وئيل پكار دى.چه ((له علم لا كعلمنا، وله حياة لا كحياتنا))
الغرض د سلفو عقيده ده.چه د نصوصو نه كوم صفات ثابت وى.هغه به مونږ په ظاهر باندے پريږدو.خو دتنزيه دعقيدے سره.چه دالله تعالى صفات د چا سره مشابه نه دى.﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾ (١) لكه څنګه چه الله تعالى په خپلو نورو ټولوصفاتو كښې د مخلوق نه بالاتر دے.اودهغه د صفاتو كيفيات مونږ نشو بيانولے.او هغه زمونږ په عقلونو كښې نه راځى.دغه شان په دے صوت كښې هم هغوى د مخلوق نه بالاتر دے.په دے باره كښې چونكه احاديث چپ دى.نوددے وجے په دے كښې بحث كول زمونږ د سوچ او فكر نه بهر دى.(٢)
په حديث كښې د تعارض شبه او د هغې ازاله - په دے حديث كښې تاسو ګورئ چه د آواز د ((صلصلة الجرس)) سره تشبيه وركړے شوے ده.اوپه يو بل حديث كښې ((كأنه سلسلة على صفوان)) راغلى دى. يعنى په هموار كاڼړى باندے د زنځير پريوتو يا دهغے د ړانبكلو آواز سره تشبيه وركړے شوے ده.اوپه يو بل حديث كښې ((دوىّ نحل)) (يعنى د شهدو د مچئ آواز) سره تشبيه وركړے شوے ده.په دے درے واړو تشبيهاتو كښې دومره خبره مشتركه ده.چه آواز مسلسل او متدارك وو.حروف جدا جدا نه وو.اومخارج جدا جدا نه وو.

---
(١) الشورى :١١)-
(٢) اوګورئ فضل البارى (١٥٢/١)_

بهرحال دا درے احادیث دی چه په دے کښے په هریو کښے د وحی تشبیه دمختلف څیز سره ورکړے شوے ده.ددے نه په ظاهره تعارض غوندے معلومیږی
ددے تعارض دفعیه دا ده چه ددے احادیثو په الفاظو کښے غور کولو سره پخپله تعارض لرے کیږی خکه چه د «سلسلة علی صفوان» حدیث پوره داسے دے«إذا قضی الله الأمر فی السماء ضربت الملائكة بأجنحتها خضعاناً لقوله كأنه سلسلة علی صفوان»(۱) دغه شان د «دوی النحل» د حدیث الفاظ دا دی «كان النبی ﷺ إذا أنزل علیه الوحی سمع عند وجهه كدوی النحل»(۲) چه دا ټول احادیث وړاندے کیخودے شی نودا خبره ښکاره کیږی چه نبی ﷺ به کوم آواز اوریدلو هغه به د «سلسلة الجرس» وو.فرشتو به هغه «سلسلة علی صفوان» گنړلو.اوعامو صحابوﷺ کوم چه به د وحی د نزول په وخت کښے موجود وو.هغه به دا «دوی النحل» محسوس کولو والله اعلم.

د مشبه محمود اود مشبه به د مذموم کیدو اشکال او ددې دفع کول - دلته کښے دا اشکال کیږی.که دا د وحی آواز وی.اوکه د فرشتے.ددے تشبیه د «صلصلة الجرس» سره ورکړے شوے ده.کوم چه ډیرمذموم څیز دے.نبی ﷺ فرمائیلی دی «لاتصحب الملائكة رفقة فیها كلب ولا جرس»(۳)یعنی د رحمت فرشتے د داسے ډلے سره نه وی.چه په هغے کښے سپے یا ټلۍ وی.دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی. «الجرس مزامیرالشیطان»(۴)
سوال دا دے.چه نبی ﷺ د وحی غوندے محمود څیز چه دهغے تعلق د بارگاه الهی سره دے.ددا سے مذموم څیز سره ولے ورکړه.چه د هغے تعلق د شیطان سره دے؟

ددې څو جوابونه دی:
۱) یوآسان جواب خو دا دے.چه نبی ﷺ چه د «جرس» کوم مذمت بیان کړے دے.دا د دے وجے وو.چه کله به نبی ﷺ د شپے په کافرانو د حملے کولو دپاره تلو.نو ضرورت ددے خبرے وو.چه دا حمله پټه وی.اودشمن هوښیار نشی.په داسے صورت کښے که د څا اوښ ته جرس آویزاند وی.نودهغے آواز لرے لرے پورے رسی.نو په دے باندے دشمن هوښیاریدےشی.په دے وجه نبی ﷺ ددے مذمت کړے دے.(۵)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر.سورة سبا.باب حتی فزع عن قلوبهم.... رقم.۴۸۰۰) وكتاب التوحید باب قول الله تعالی﴿حتی إذا فزع عن قلوبهم...﴾ رقم.۴۸۰۰) وكتاب التوحید باب قول الله تعالی:﴿ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ﴾

(۲) جامع الترمذی كتاب التفسیرباب ومن سورة المؤمنون رقم. ۳۱۷۳)_

(۳) صحیح مسلم كتاب اللباس والزینة باب كراهیة الكلب والجرس فی السفر)_

(۴) اوگورئ صحیح مسلم كتاب اللباس والزینة باب كراهة الكلب والجرس فی السفر)_

(۵) حكاه ابن أثیر فی النهایة(۱/۲۶۱)_

() حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په كوم ځائے كښے تشبيه وي نوهلته دا ضروري نه ده چه مشبه دے د مشبه به په ټولو صفاتو كښے برابر وي بلكه په خصوصي خبره كښے هم اشتراك ضروري نه دے صرف دومره خبره كافي ده چه په يو صفت كښے مشترك وي دلته دجرس صوت جرس سره تشبه وركول مقصود دي چه ددے صوت نه ټول سامعين مانوس كيږي.
خلاصه د جواب دا ده چه د صوت جرس دوه حيثيتونه دي يو حيثييت د قوت دے اويل حيثيت د تلذذ دے دلته تشبيه په قوت كښے وركړے شوے ده اومذمت چه كوم بيان شوے دے هغه د تلذذ د حيثيت په اعتبار سره وركړے شوے دے. (۱)

() دريم جواب دا دے (كوم چه د ټولو نه قوي دے) چه په ((تشبيه المحمود بالمذموم)) كښے ئے وجه د شبه ښكاره وي نو څه قباحت نشته دلته وجه د شبه د آواز مسلسل اومتدارك كيدل دي يعني په دے آواز كښے حروف او مخارج جدا جدا نه دي اودا ممتاز كولے نشي لكه چه د وحي يا د فرشتے د آواز تشبه په تسلسل او اتصال كښے وركړے شوے ده اودا وجه د شبه معروفه ده نو په دے تشبيه كښے څه قباحت نشته. (۲)

اوګورئ په حديث كښے راغلي دي چه ((إن الإيمان ليأرز إلى المدينة كما تأرز الحية إلى جحرها)) (۳)
يعني په آخره زمانه كښے به ايمان مدينے طرف ته داسے واپس شي لكه څنګه چه مار خپلے سوړے ته واپس كيږي ايمان څومره مقدس څيز دے د داسے مقدس څيز تشبيه ئے وركړے ده د مار سره چه هغه دومره ضرري دے چه په حرم كښے د عام ځناورو د قتلولو نه منع شوے ده. خوهلته كښے هم حكم دے چه مار وژنئ. (۴)
خو ښكاره خبره ده چه دلته د ايمان د مار سره په ضرر رسولو كښے تشبيه وركول مقصود نه ده بلكه په دے خبره كښے تشبيه وركول مقصود دي چه مار كوم ځائے ته هم لاړ شي اوپه كوم ځائے كښے هم ګرځي نوواپس كيږي به اوهم هغه خپلے سوړے ته به ننوځي نودغه شان به ايمان هم په ټوله دنيا كښے خور شي اوقيامت ته نزدے به دا مدينے ته راواپس شي.
دغه شان په حديث كښے راځي چه نبي ﷺ حسان بن ثابت رضي الله عنه ته د كافرانو د هجو بيانولو حكم اوكړلو نوهغه سمدستي تيار شو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل تادي مكوه . حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته ورشه هغه ته د قريشو نسب ښه معلوم دے د هغه نه زما نسب ښه زده كړه هغه حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته ورغلو اود نبي ﷺ خپل خپلوان ئے ښه اوپيژندل اوبيا د نبي

---

(۱) فتح الباري(۱/۲۰)_

(۲) اوګورئ فضل الباري (۱/۱۵۵)_

(۳) صحيح بخاري كتاب فضائل المدنية رقم ۱۸۷۶. وصحيح مسلم كتاب الإيمان أن الإسلام بدأ غريباً وسيعود غريباً وأنه يأرزبين المسجدين)_

(۴) په صحيح بخاري كښے د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث كښے دي چه ((بينما نحن مع النبي ﷺ في غار بمنى .إذ نزل عليه ..والمرسلات.. وإنه ليتلوها.وإني لأتلقاها من فيه. وإن فاه لرطب بها. إذ وثبت علينا حية. فقال النبي ﷺ اقتلوها...)) اوګورئ كتاب جزاء الصيد باب ما يقتل المحرم من الدواب رقم ۱۸۳۰)_

ﷺ په خدمت کښې حاضرشو.او په یو روایت کښې دا هم دی چه نبی ﷺ دهغه نه تپوس اوکړلو.((کیف بنسبی؟)) نوحضرت حسان رضی الله عنه اوفرمائیل ((یارسول الله قد لخص لی نسبك، والذی بعثك بالحق،لأسلنك منهم کما تسل الشعرة من العجین)) (۱) یعنی زه به تاسو د قریشو دهجو نه داسې بچ کوم.لکه څنګه چه د اوړو نه ویخته راویستې شی یعنی لکه څنګه چه په اوړو باندې د ویخته څه اثر نه وی.دغه شان به په تاسو باندې د هجو څه اثر نه وی.اودغه شان به دقریشو د هجوپه تاسو څه اثر نه کیږی.اوتاسو به ترې په آسانئ سره بچ کوم

دغه شان د سیرت په کتابونو کښې تاسو ونیلی دی.چه نبی ﷺ کله د حدیبیه په سفر روان وو.نود دوی اوښه قصوی کیناستله.د هغې د پاسولو او روانولو دپاره ډیر کوششونه اوشول. خو هغې د پاسیدو نوم نه اخستل.د صحابه کرامو رضی الله عنهم د ژبې نه اووتل ((خلأت القصواء،خلأت القصواء)) چه قصوی اوښه په ضد شوې ده.ضد کوی.چه نبی ﷺ دا واوریدل.نو وې فرمائیل. ((ما خلأت القصواء،وما ذاك لها بخلق،ولکن حبسها حابس الفیل)) (۲)یعنی دا ضد نه کوی.اونه ضد کول ددې عادت دې.بلکه دا الله تعالی ایساره کړې ده.لکه څنګه چه ئې د ابرهه هاتیان ایسار کړی وو.

اوس اوګورئ چرته د نبی ﷺ پاك ذات.اوچرته ابرهه پلیت. هغه خو دمکې مکرمې د وړانولو او بیت الله نړولو دپاره راتلو.اونبی ﷺ د مکې معظمې او د بیت الله تعظیم کونکې او جوړونکې وو.

خو وجه د شبه ښکاره ده.چه دلته صرف په مشیت خداوندی کښې د اشتراك د وجه تشبیه ورکړې شوې ده.یعنی لکه څنګه چه ابرهه،دهغه لښکر اوهاتیان د الله تعالی مشیت ایسار کړی وو.دغه شان اوښه هم دالله تعالی مشیت کینولې ده.او وړاندې ئې نه روانه وی.چونکه وجه د شبه ښکاره ده.اوپه دې کښې څه قباحت نشته.نوځکه په دې تشبیه کښې هم څه د قباحت خبره نشته.دا تشبیه خو په خپله د نبی ﷺ نه منقول ده.اود حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه تشبیه اګرچه د نبی ﷺ نه منقول نه ده.خود نبی ﷺ وړاندې بیان شوې وه.اوپه دې باندې نبی ﷺ څه انکار نه وو کړې.نوځکه په دې کښې هم دمذمت څه خبره نشته.

ددې ټول تفصیل نه دا خبره ښکاره شوه.چه د مشبه به د مذمومیت د وجه په مشبه محموده باندې څه اثر نه غورځیږی.(۳) والله اعلم

قوله: وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ :اود وحی دا قسم د نورو ټولو قسمونو په مقابله کښې په ما باندې سخت وو.

---

(۱) اوګورئ صحیح بخاری کتاب المناقب باب من أحب أن لایسب نسبه رقم.۳۵۳۱[وصحیح مسلم (۳۰۰/۲) کتاب الفضائل باب فضائل حسان بن ثابت رضی الله عنه)_

(۲) اوګورئ زادالمعاد (۲۸۹/۳) فصل فی قصة الحدیبیة)_

(۳) اوګورئ فضل الباری (۱۵۵/۱)_

دا صورت چه په نبی ﷺ باندے به د ټولو نه زیات سخت وو هغه دے چه په هغے کښے به د فرشتے نزول براه راست د نبی ﷺ په قلب اطهرباندے کیدلو په قرآن کریم کښے ددے ذکر دے ﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ۝ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ۝﴾ (۱)په دے صورت کښے به د فرشتے تشکل په انسانی شکل کښے نه وو چه مخامخ به راغله اود انسانانو په شان به ئے د وحی مکالمه کوله بلکه براه راست به په قلب باندے د فرشتے نزول کیدلو

د وحی د دې قسم د ګرانوالي سبب بیا ددے وحی تلقی به نبی ﷺ په ظاهری غوږونو باندے نه کوله بلکه د زړه په غوږونو به ئے کوله ددے دپاره به دوی ته ضروری وه چه ټولې قوتونه راجمع کړی اوملا اعلی طرف ته متوجه شی اوچه تجرد روحانیت غالب اوبشریت مغلوب کړی اودا ټول کارونه د بشریت نه بیخی خلاف دی اوبنکاره خبره ده چه هرسړی ته د خپل طبیعت نه خلاف کار کولو کښے سختی وی ځکه نبی ﷺ اوفرمائیل چه دا صورت په ما باندے د ټولو نه زیات سخت اوګران دے.

خلاصه دا ده چه یو قائل یعنی فرشته او یو سامع یعنی نبی ﷺ کله قائل د سامع صفت اختیارکړی یعنی فرشته په انسانی شکل کښے راځی اوپه خپل ځان صفات بشریت غالب کوی اوکله په سامع باندے د قائل صفات غالب کولی شی یعنی نبی ﷺ به صفات بشریت مغلوبه کول اوصفات ملکیت به ئے غالب کول نو په دے صورت کښے به ئے مشقت محسوس کولو دا هم ممکن ده چه فرشتے ته دانسانی صفاتو په غالب کولو کښے مشقت وی لکه څنګه چه به نبی ﷺ د صفات ملکی د غالب کولو په موقع مشقت محسوس کولو.(۲)

د وحی د سختئ دویمه وجه یوه وجه دا هم کیدے شی چه دالله تعالی په کلام کښے ډیر وزن وی په قرآن پاك کښے دی.

﴿لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ﴾ (۳) دغه شان په قرآن کریم کښے دا هم راغلی دی ﴿ اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ۝﴾ (۴)

دغه شان په حدیث کښے راغلی دی چه یو خل د نبی ﷺ پتون دحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په پتون باندے پروت وو اوصرف درے الفاظ﴿غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ﴾ نازل شول حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائی چه داسے معلومیدله چه زما پتون مات شو (۱) دا د وزن اثر وو.

---

(۱) الشعراء ۱۹۳-۱۹۴).

(۲) اوګورئ فضل الباری (۱/۱۵۶)_

(۳) الحشر ۰۲۱).

(٤) المزمل ۰۰۵).

په حديث كښې دا هم راغلي چه كله به په نبي ﷺ باندې وحي نازليدله اونبي ﷺ به په سورلۍ باندې سور وو هغه به كيناستله په كلام كښې به دومره وزن وو چه اوښه به په ولاړه نه شوه پاتې كيده.(٢)

چونكه په دې صورت كښې به د نبي ﷺ په زړه باندې دالله تعالى كلام براه راست نازليدلو. يا دحضرت جبريل ﷺ په واسطه او واسطه كمه ده يعني صرف يوه واسطه ده په كوم ځائې كښې چه واسطه بيخي نه وي يا كمه وي نوهلته وزن زيات محسوسيږي نوځكه په نبي ﷺ د وحي دا صورت ډير گران او سخت وو.(٣)

د حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادي واقعه په وحي كښې څومره وزن وي دد دې اندازه د دې واقعه نه كيدې شي.

يوځل دحضرت مولانا شاه فضل الرحمن گنج مراد آبادي (٤) په خدمت كښې يو عالم حاضر شو دهغوي متعلق مشهوره وه چه د بخاري شريف حافظ دې او دخپل خان سره ئې د خپلو شاگردانو يوه ډله هم راوستې وه د راتلو غرض ئې دا وو چه چونكه حضرت فضل الرحمن صاحب ﷺ دحضرت شاه اسحاق ﷺ شاگرد وو بلكه د حضرت شاه عبدالعزيز ﷺ نه ئې هم د بخاري د څه حصې سماع كړې وه.(٥) نوځكه ددوي سند عالي وو ذكر شوې عالم د دوي نه د اجازت حديث دپاره راغلې وو.

دوي بخاري شريف كهولاؤ كړلو او د بسم الله نه پس ئې قرات شروع كړلو ﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ (٦) چه دلته راورسيدلو . نوهغوي چپ شول حضرت به ورته فرمائيل اووايه خو دهغه ژبه نه كهولاويدله . اونه ورته د كتاب حروف په نظر راتلل كله چه

---

(١) صحيح بخاري كتاب التفسير سورة النساء باب ﴿لَا يَسْتَوِي ٱلْقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُو۟لِى ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ رقم(٤٥٩٢)_قال الحاكم هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه.وأقره الذهبي وقال صحيح)_

(٢) اوگورئ مسند احمد(١١٨/٦) او مستدرك حاكم (٥٠٥/٢) كتاب التفسير.تفسيرسورة المزمل. توضيح معنى آية ﴿إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا﴾ (المزمل ٠٠٥)-

(٣) اوگورئ ايضاح ا لبخاري (٦٦/١ ٦٧)_

(٤) حضرت مولانا فضل الرحمن اهل الله رحمه الله د څوارلسمې صدئ په بزرگانو كښې تير شوې دې په ١٢٠٨هـ كښې پيدا شوې وو دخپلې زمانې دلويو عالمانو او عظيم مشائخو نه ئې كسب فيض كړې وو په مختلفو علومو خصوصاً په علم حديث كښې ورته اوچت مقام حاصل وو اوپه اتباع سنت او عشق رسول كښې بې مثاله وو په ربيع الاول ١٣١٣هـ كښې په گنج مراد آبادي كښې وفات شو.((رحمه الله رحمة واسعة)) د دوي د ژوند د تفصيلي حالاتو دپاره اوگورئ تذكرة حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادي .مصنفه حضرت مولانا سيد ابوالحسن ندوي مدظلهم)-

(٥) اوگورئ تذكرة مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادي (١٣. ١٤)_

(٦) النساء:١٦٢)_

ډير وخت تيرشو نوحضرت ورته اوفرمائيل چه ته لوستل نشے كولے نو اجازت د څه څيز دركړم د اجازت اخستلو طريقه دا راروانه وه چه د كوم څيزاجازت غوستل به وو نو دهغې څه حصه به ئے د صاحب اجازت وړاندے لوستله آخر دا چه هغه عالم پاسيدلو.

شاګردان ئے ډيرحيران شو چه نن حضرت عبارت هم نشوونيلے چه تپوس ئے ترے اوكړنو جواب ئے وركړو چه كله زه حديث ته راورسيدم نو زړے مے كار پريخودلو او په سترګو مے تياره شوه حضرت مولانا صاحب نه چه د حقيقت حال پوښته اوشوه نو وے فرمائيل چه د پيغمبر ﷺ د كلام د وزن يوه نمونه راته اوخودلے شوه د هغې اثر وو چه زړے او سترګو مے كار پريخودلو (١)

دبراه راست تاثير يو حسي مثال تاسو د نمر رنړا وينئ اومحسوس كوئ الله ته پته ده چه سوونواوزرګونو پردو نه راتيريږي اومونږ ته رارسي نوځكه مونږ ددے تحمل كولے شو خو يو خاص قسم شيشه ده چه هغه د نمر رنړا براه راست جذب كوي د هغې كيفيت دا وي كه هغه تاسو جامے ته متوجه كړے نوهغه به اوسوزي كه هغه خرمن ته متوجه كړئ نوخرمن به سوزيدل شروع كړي اوكه د لږ وخت دپاره دے ورته اونيوله نو اوبه سوزي.

دغه شان دلته هم د نبي ﷺ په قلب اطهر باندے د الله تعالى د كلام نزول يا خو براه راست وو يا په يوه واسطه نوځكه به ئے دومره مشقت اوسختي برداشت كوله والله اعلم.

قوله فَيُفْصَمُ عَنِّي: په دے كښے درے روايتونه دي.

① **يَفْصِمُ**: د باب ضرب نه د مضارع معروف صيغه.

② **يُفْصَمُ**: هم د باب ضرب نه د مضارع مجهول صيغه.

③ **يُفْصِمُ**: د باب افعال نه د مضارع معروف صيغه.

اولنے روايت افصح دے د ..فصم.. معنى د قطع ده او مطلب دا دے چه د وحي جاري والے به زما نه ختم شو يا زما نه ختم كړے شو يعني د وحي سلسله به ختمه شوه (٢)

قوله وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ: دوحي انقطاع به په هغه وخت كښې كيدله چه څه به فرشتې دالله تعالى دطرفه القاء كول هغه به زما په حافظه كښې پاتے شو او هغه به ماته ياد شول.

قوله وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلًا: د تمثيل معنى ده ..تشكل.. يعني د بل په شكل اومثال كښے ښكاره كيدل مطلب دا دے چه بعضے وخت به فرشته په انساني شكل كښے متشكل كيدله.

د ملك يا فرشتے تعريف متكلمينو رحمهم الله داسے كړے دے «الملائكة أجسام علوية لطيفة، يتشكل أي شكل أرادوا» (٣) يعني فرشتے لطيف علوي اجسام دي دوي ته په هر قسم شكل او صورت

---

(١) ايضاح البخاري (١/ ٦٧، ٦٨)_

(٢) اوګورئ عمدة القاري (١/ ٤١)_

(٣) فتح الباري (١/ ٢١)_

اختیارولو باندے قدرت وی.بیا دلته د فرښتے نه کومه مراد ده.نو د بعضے حضراتو وینا ده. چه دلته جنس فرښته مراد اخستل پکار دی ځکه چه دحضرت اسرافیل (۱) او ملك الجبال (۲) دوی ته راتګ ثابت دے

خوداکثرو شارحینو رائے دا ده.چه دلته د ملك نه مراد حضرت جبرائیل دے.(۳) اوهم دا راجحه ده ځکه چه په طبقات ابن سعد کښے د جبریل تصریح ده.(۴)او ددے وجے هم چه د سفارت وحی کار دحضرت جبریل په ذمه وو.

ترکومے پورے چه د حضرت اسرافیل د راتلو تعلق دے.نوهغه په اول کښے د نبی سره لګولے شوے وو.د قرآن کریم وغیره وحی به هغوی نه راوړله.(۵) دغه شان دملك الجبال راتلل صرف یو ځل ثابت دی.هغے هم وحی نه وه راوړے.بلکه په طائف کښے چه کله دشمنانو نبی ډیرزیات تنګ کړلو.اودوی حیران او پریشان کیناستلو.نوپه هغه وخت کښے ملك الجبال د حضرت جبریل سره راغلو .اود دوی نه ئے د کافرانو د هلاك کولو اجازت اوغوښتلو.خو نبی ورته اجازت ورنکړلو.(۶)

د فرښتے په انسانی شکل کښے متشکل کیدلوباندے اشکال او ددے جوابونه دلته کښے یوسوال دے.چه د حضرت جبریل بدن خو ډیر غټ دے.نبی چه کله هغوی په خپل اصلی شکل کښے لیدلی وو.نو دهغوی شپږ سوه وزرے وے.اوټول افق ئے پټ کړے وو.(۷) نو دومره لویه فرښته په انسانی شکل کښے څنګه راغله؟

ددے مختلف جوابونه ورکړے شوی دی.

() امام الحرمین فرمائی.چه د جبریل آمین زوائد به فنا کولے شول.بیا به الله تعالی په خپل قدرت عظیمه باندے پیدا کول.یا زوائد خو به ئے نه فنا کول.البته جدا کولے به شو. اوبیا به ئے ورسره هغه دوباره یوځائے کول.(۸)

() شیخ عزالدین عبدالسلام فرمائی.چه زوائد به فناکولے نشو.البته جدا کولے به شو.(۹)

---

(۱) اوګورئ شرح قسطلانی (۵۹/۱) وعمدة القاری (٤٤/١) وغیره)_

(۲) وګورئ الروض الأنف(١٥٤/١)_

(۳) اوګورئ البدایة والنهایة ۱۳۷/۲)_

(۴) ابن سعد په خپل سند سره ذکر کوی.((أن رسول الله کان یقول: کان الوحی یأتینی علی نحین:یأتینی به جبریل فیلقیه علی کما یلقی الرجل علی الرجل.فذلک یتفلت منی.ویأتینی فی شئ مثل صوت الجرس.حتی یخالط قلبی.فذاک الذی لا یتفلت منی)اوګورئ طبقات ابن سعد(۱۹۷/۱، ۱۹۸)ذکرشدة نزول الوحی علی النبی)

(۵) علامه ابوعمربن عبدالبر په الاستیعاب (بهامش الإصابة ۲٤/۱) کښے دامام شعبی نه نقل کړی دی.چه ((أنزلت علیه النبوة وهو ابن أربعین سنة فقرن نبوته اسرافیل ثلاث سنین. فکان یعلمه الکلمة والشئ.ولم ینزل علیه القرآن علی لسانه..)_

(۶) د واقعه د تفصیل دپاره اوګورئ البدایة والنهایة (۱۳۷/۲)_

(۷) د جبریل کښے د روایاتو دپاره اوګورئ.الدرالمنثور(۱۲۳/۶) تفسیر سورة النجم)_

(۸) فتح الباری(۲۱/۱)

(۹) پورتنئ حواله)_

() حافظ ابن حجر رحمه الله دخپل شیخ قول نقل کړے دے چه هغوی به فرمائیل چه جبریل علیه السلام به په خپل اصلی شکل کښے راتلو البته دومره به کیدله چه هغوی به خپل ځان راغونډ کړلو اودانسانی شکل په اندازه به ئے کړلو اوبیا روستو به په خپل اصلی شکل کښے شو ددے مثال داسے دے لکه وینځلے شوے روئی چه دهغے حجم زیات وی خو چه زور ورکړے شي نوور کوټے شي معلومه شوه چه د کمی زیاتی نه بغیریو څیز وړکی لویدے شي.(١)

د فرشتې د تشکل انسانی نه پس به دهغې روح کوم ځائې کښې وو؟ دلته یوسوال دا هم شوے دے چه فرشته په انسانی شکل او صورت کښے شي نود هغے روح کوم ځائے وی؟که نه وائے چه روح هم په هغه بدن کښے وی د کوم چه شپږ سوه وزرے دی نو بیا خو راتلونکے څیز نه د جبریل علیه السلام روح دے اونه جسد جبریل. اوکه روح په دانسانی شکل په بدن کښے وی نو سوال دا پیدا کیږی چه آیا په دغه لوئے بدن باندے مرګ راځی اوکه داسے بغیر د روح نه خالی وی.

ددے جواب دا دے چه دانسانی شکل سره روح جبریلی راځی اوپه دے سره په جسد عظیم باندے مرګ راتلل نه لازمیږی لکه چه داودهٔ کس بدن ژوندے وی اود هغه روح سیل کوی دغه شان د شهیدانو روحونه دشنو مارغانوپه خیټو کښے وی اود بدن سره دهغے تعلق وی دلته کښے دا خبره هم د یاد ساتلو ده چه د روح په مفارقت سره د مرګ راتلل عقلاً څه ضروری نه دی دا خو الله تعالی عادت داسے جاری کړے دے نوځکه مرګ واقع کیږی الله تعالی ددے په خلاف کولو باندے هم قادر دے.

دفرشتې په تشکل انسانی کښې تحقیقی خبره: خودلته ددے قسم سوال اوجواب څه خاص ضرورت هم نشته ځکه چه مونږ په شروع کښے د فرشتو تعریف ذکر کړے دے چه «الملائکة أجسام علویة لطیفة تتشکل بأی شکل أرادوا» ددے نه معلومه شوه چه الله تعالی هغوی ته دا استعداد ورکړے دے چه هغوی خپل شکلونه چه څنګه غواړی بدلولی شي ورکوټے کولی شي غټولے هم شي خپل ځان راغونډولے هم شي اوخورولے هم شي نود فرشتے په انسانی شکل کښے راتلل څه لرے یا غیرممکنه خبره نه ده نودا بحث بے فائدے دے چه آیا د زوایه افناء کیږی اوکه ازاله؟ روح جبریلی راځی او که جرئیل آمین بجسده و روحه راځی؟ خلاصه دا شوه چه د جبریل آمین مختلف شکلونه د قرآن او سنت نه ثابت دی نو ددے منل ضروری دی او ددے کیفیات به څه وی په دے کښے دتولو نه غوره لاره تفویض دے چه الله تعالی ته ددے صحیح علم دے والله اعلم.

حضرت جبریل علیه السلام به عام طور د دحیة الکلبی رضی الله عنه په شکل کښې راتلو بیا چه به حضرت جبریل علیه السلام په انسانی شکل کښے راتلو نوعام طور به د حضرت دحیة الکلبی رضی الله عنه

(١) پورتنۍ حواله)_
(٢) اوګورئ عمدة القاری(١/٤٥، ٤۶) وفتح الباری (١/٢١)_

په صورت کښې راتلو (۱)دوى د يرزيات ښکلے وو په رواياتو کښې راځى چه دوى به کله مدينې منورې ته راغلو نو ښځو به ورته په چونډو کښې کتل (۲)نو دوى به په نقاب اچولے وو او وتلو به (۳)
البته کله کله به نورو شکلونو کښې راتلل هم ثابت دى لکه په حديث جبريل عليه السلام کښې تاسو وئيلى دى (۴)((إذا طلع علينا رجل شديد بياض الثياب، شديد سواد الشعر، لايرى عليه أثر السفر، ولا يعرفه منا أحد)) په دے حديث کښې تصريح ده.چه هغه په داسے شکل کښې راغلوچه چانه پيژندلو حالانکه حضرت دحية الكلبى رضي الله عنه خو ټولو پيژندلو.بلکه په بعضے روايتو کښې خو د نبى ﷺ دا ارشاد هم موجود دے.چه ((هذا جبريل جاء ليعلم الناس دينهم، والذى نفس محمد بيده ما جآءنى قط إلا وأنا أعرفه إلا أن تكون هذه المرآة))(۵)
يعنى دا جبريل عليه السلام دے.چه خلقو ته د دين خودلو دپاره راغلے وو.ما ته د ده په پيژندګلو کښې څه مشکلات نه دى پيښ شوى.خو دا خل مے اونه پيژندل.حضرت جبريل عليه السلام ډير وخته پورے سوالونه کول.او نبى ﷺ به جوابونه ورکول.خو نبى ﷺ په دے دوران کښے نه وو پيژندلے.
أيا د نبى ﷺ د جبريل عليه السلام په نه پيژندلو سره په وحى اعتماد باقى پاتې کيږى؟ بعضے خلقو دلته د اعتراض کړے دے.چه کله نبى ﷺ جبريل عليه السلام نه پيژندلو.نو په دے سره خود وحى نه اعتماد پورته کيږى.ځکه چه لکه په دے ځل چه نبى ﷺ دوى اونه پيژندلو.چه آيا دا انسان دے که فرشته؟دا هم کيدے شى.چه شيطان په انسانى شکل کښې ښکاره شى.او دهوکه ورکړى. او نبى ﷺ د هغه د نه پيژنګلو د وحې په غلطئ کښې واقع شى.
ددے جواب دا دے.چه په بله موقع دغلط کيدو څه امکان نشته.اوپه دے موقع کښې چه نبى ﷺ اونه پيژندلو.نودا د وحى راوړلو موقع نه وه.بلکه په دے موقع حضرت جبريل عليه السلام ـــ نل

(۱) دحية بن خليفة بن فروة بن فضالة الكلبى. صحابى مشهور.أول مشاهده الخندق. وقيل أحد. ولم يشهد بدراً. وكان يضرب به المثل فى حسن الصورة وكان جبريل عليه السلام ينزل على صورته..... وقد شهد دحية اليرموك وقد نزل دمشق وسكن المزة وعاش إلى خلافة معاوية كذا فى ..الإصابة.. (۱/۴۷۳، ۴۷۴)_
(۲) اوګورئ ..الإصابة (۱/۴۷۳)_
(۳) اوګورئ عمدة القارى(۱/۴۰)_
(۴) دحديث جبريل دپاره اوګورئ.صحيح بخارى كتاب الإيمان باب سوال جبريل عليه السلام النبى ﷺ عن الإيمان والإسلام والإحسان. رقم. ۵۰. وكتاب التفسير.تفسير سورة لقمان. باب إن الله عنده علم الساعة. رقم ۴۷۷۷. وصحيح مسلم كتاب الإيمان وسنن نسائى. كتاب الإيمان وشرائعه باب نعت الإسلام رقم .۴۹۹۳. وباب صفة الإيمان والإسلام رقم .۴۹۹۴. وسنن ابى داود كتاب السنة باب فى القدر رقم ۴۶۹۵. (۴۶۹۸) وسنن ترمذى كتاب الإيمان باب ما جآء فى وصف جبريل عليه السلام للنبى ﷺ الإيمان والإسلام رقم. ۲۶۱۰) وسنن ابن ماجة .مقدمة باب فى الإيمان رقم ۶۳، ۶۴)_
(۵) اوګورئ مسند احمد (۴/۱۲۹) دغه شان اوګورئ مجمع الزوائد(۱/۴۰، ۴۱. كتاب الإيمان)_

جوړ شوی وو او راغلی وو د هغوی د سوالونو په ذریعه نبی ﷺ صحابو ﷺ ته د دین تعلیم ورکول چونکه په دې موقع حضرت جبریل آمین وحی نه وه راوړې.نوځکه که نبی ﷺ هغه نه وی پیژندلی نو په دې کښې څه نقصان نشته.اوچه کله به ئې وحی راوړله.او راتلوبه.نو نبی ﷺ هغه اوپیژندلو.هغوی ته په پیژنګلو کښې څه مشکل نه وو.

دحضرت جبریل ﷺ د نه پیژندګلو حکمت باقی پاتې شوه دا خبره.چه په دې خل دهغه نه پیژندګلو څه حکمت وو؟نو ددې جواب دا دې.چه د الله تعالی په دې خبره باندې تنبیه ورکول مقصود وو.چه دا علم کوم چه مونږ تاته در کړې دې.چه ددې چه شان دې«أوتيت علم الأولين والآخرين» دا زمونږ په اختيار کښې دې.مونږ دا سلب کولې هم شو.په قرآن کریم کښې ارشاد دې.﴿ وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴾ (۱) لکه چه په دې خبره تنبیه ده.چه نبی کریم ﷺ ته کوم علم ورکړې شوې دې.هغه عطائی دې.او الله تعالی قادر دې.که غواړی نو دا سلب کولې هم شی.اوګورئ هغه جبریل ﷺ چه بیشمیره کرته نبی کریم ﷺ ته راغلی وو.هغه ئې اونه پیژندلو.

دحضرت مولانا محمد یعقوب صاحب نانوتوی رحمه الله واقعه حضرت مولانا محمد یعقوب رحمه الله (۲) یو ځل فتوی لیکله.چه فتوی ئې مکمل کړه.نو په هغې باندې ئې دستخط کول غوښتلو.چه ناڅاپه ترې خپل نوم هیر شو.چه ورسره کوم کس ناست وو.هغه نه ئې تپوس اوکړلو.چه زما څه نوم دې؟هغوی ورته اوخودلو.نو دوی دستخط اوکړلو.

دحضرت تهانوی رحمه الله واقعه حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله یوځل دخپلې خانقاه نه اووتلو.اوکور ته ئې تشریف اوړلو.د حضرت دواړه کورونه د خانقاه نه لږ غوندې لرې وو.د حضرت نه دخپل کور لاره هیره شوه.

دشیخ عبدالحق ردولوی رحمه الله واقعه حضرت شیخ عبدالحق ردولوی رحمه الله یو ډیر لوئې بزرګ تیر شوې دې.د خلوېښتو پنځوستو کالو راسې به هغوی دخپل کور نه جمات ته په اول وخت کښې تشریف اوړولو.اوپه خپل لاس به ئې جارو وهله.خو داستغراق ئې دا حالت وو.چه اکثر به

---

(۱) الإسراء ۰۸۶)-

(۲) حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب نانوتوی رحمه الله د حضرت مولانا مملوك علی صاحب رحمه الله (استاذ دحضرت نانوتوی رحمه الله اوحضرت ګنګوهی رحمه الله) فرزند رشید وو دوی په ۱۳صفر ۱۲۴۹ھ کښې په نانوته کښې پیدا شوی وو.دحفظ قرآن نه پس ئې دخپل پلار صاحب سره د یوولسو کالو په عمر کښې دهلی ته تشریف یوړلو.ټول علوم متداوله ئې د خپل پلار نه حاصل کړل.البته د علم حدیث تحصیل ئې د شاه عبدالغنی مجددی رحمه الله نه کړې وو په ۱۲۶۷ھ کښې ئې والدصاحب وفات شو.ددې نه پس یوکاله پورې په دهلی کښې پاتې شو ددې نه پس د اجمیر په ګورنمنټ کالج کښې د دوی تقرری اوشوه.د غدر په موقعه د دوی قیام په نانوته کښې وو.د سرکاری ملازمت نه فارغ شو.اوپه میرټه کښې د منشی ممتازعلی په مطبع کښې ملازم شو په ۱۲۸۳ھ کښې ئې دیوبند ته تشریف راوړلو.اودلته د "صدارت تدریس" په منصب دټولونه وړاندې دوی مقررشو ددوی نه بیشمیره طالبانو فیض حاصل کړلو.په ۳ربیع الاول ۱۳۰۲ھ کښې دهیضه په مرض ئې دمرګ فرښتې ته لبیك اووئیل.اوګورئ تاریخ دارالعلوم دیوبند (۲/۱۷۱ ، ۱۷۸)

ئے په لار کښې د خدام. ..حق حق.. آواز لګولو.او په دے آواز به هغوی جمات طرف ته روان وو د دےوجه د هغوی لقب ..عبدالحق.. شو.ګنې دهوی اصلی نوم ئے ..احمد.. وو.(۱)
دا خاص کیفیات وی.چه دالله تعالی بعضے خاص بندګان ترے تیریږی.نو دحضرت جبریل ﷺ نبی ﷺ ته راتلل.او د نبی ﷺ هغه نه پیژندل څه عجیبه خبره نه ده.والله اعلم بالصواب

لفظ د ,,رجلا،، په ترکیب کښې څه واقع شوې دې؟ په لفظ د ((رجلاً)) کښې شارحینو ﷭ مختلف صورتونه بیان کړی دی.اودا ئے ونیلی دی.چه دا ((تمیز)) ګرځولے شی.او((حال)) هم ګرځولے شی.دغه شان مفعول مطلق هم ګرځولے شی.(۲)

() د مفعول مطلق جوړولو په صورت کښې به تقدیر وی.((یتمثل لی الملك تمثل رجل))

() دحال جوړولو په صورت کښې به تقدیر داسے وی.((یتمثل لی الملك هیئة رجل))
علامه کرمانی ﷫ دا رائے هم ښکاره کړے ده.چه دا مفعول به شی.اوفرمائیلی ئے دی.چه په دےصورت کښې به د ((یتمثل)) معنی ((یتخذ))لره متضمن وی.(۳)
خوعلامه عینی ﷫ دا احتمال بعید ګرځولے دے.(۴) دغه شان ئے فرمائیلی دی.چه د ..تمیز.. ګرځولو صورت هم ټیک نه دے.ځکه چه تمیز دپاره د رفع دابهام راځی .اودلته نه خو په ((تمثل)) کښې ابهام دے.اونه په ((ملك)) کښې.اونه په ((تمثل ملك)) کښے.نودا تمیز ګرځول ټیک نه دی.(۵)
د ټولونه نه بهتر صورت دا دے.چه دا منصوب بنزع الخافض اوګرځولے شی.لکه چه تقدیری عبارت وو.((یتمثل لی الملك صورة رجل)) دلته ..رجل.. مجرور دے.او دے ته جر ورکونکے لفظ د ..صورة.. مضاف دے.او ..جر.. ورکونکے مضاف ئے حذف کړے دے او ددے په ځائے ئے مضاف الیه ساتلے دے.او د مضاف اعراب دے ته ورکړے شوی دی.
دغه شان په ..حال.. ګرځولو کښې دا خرابی راځی.چه حال په اصل کښې د ذوالحال دپاره په منزله د خبر وی.په داسے صورت کښې ((الملك رجل)) ونیل پکار ده چه ټیک وو.خودا ښکاره خبره ده چه ټیک نه ده.دغه شان ..حال.. هغه څیز جوړولے شی.چه په هغے کښے تغیرکیدے شی.دلته د ..رجل.. په رجولیت کښې څه تغیر نشی راتلے.نودا ..حال.. ګرځول ټیک نه دی.(۶)

---

(۱) اوګورئ تاریخ مشائخ چشت از حضرت شیخ الحدیث صاحب قدس سره (ص۱۹٤)_
(۲) فتح الباری (۲۱/۱)_
(۳) شرح کرمانی (۲۷/۱)_
(۴) عمدة القاری (٤۲/۱)
(۵) پورتنئ حواله)_
(۶) فضل الباری (۱۵۶/۱)_

تنبيه د «تمييز» گرځولو صورت اګرچه علامه عيني رحمه الله رد کړے دے خو په ظاهره د دے رد کول مناسب نه دی او دعوی دا وينا ټيك نه معلوميږی چه دلته رفع د ابهام نشته بلکه دلته کښے د نسبت نه رفع د ابهام ده په دے طريقه چه مونږ دا منلی دی چه فرښتو ته په مختلفو شکلونو جوړولو باندے قدرت شته نو کله چه «يتمثل لی الملك» اووئيلی شی نو په دے کښے ابهام شته چه په کوم شکل کښے متشکل شو؟ آيا د انسان په شکل کښے او که د غير انسان په شکل کښے؟ بيا د مذکر په شکل کښے که د مؤنث په شکل کښے؟ دا ابهام «رجلا» لرے کړلو چه فرښته به ماته د سړی په شکل کښے راتله نو په دے مقام کښے «رجلا» تمييز ګرځول هم ټيك دی . والله اعلم.

قوله فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ: يعنی فرښته چه کله په انسانی شکل کښے متشکله شی اوما سره خبرے کوی نو هغه چه څه وائی زه هغه يادوم.

دلته ستاسو وړاندے لفظ دے «فيكلمنى» حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د بيهقی په روايت کښے کوم چه د ..قعنبی عن مالك.. په سند سره مروی دے «فيعلمنى» دے کوم چه په ظاهره تصحيف دے ځکه چه د ..قعنبی عن مالك.. په سند سره په ..موطا.. کښے هم «فيكلمنى» راغلے دے.(۱)

د وحی په دواړو صورتونو کښې د حفظ دپاره د مختلفو صيغو استعمال

دلته کښے تاسو ګورئ چه د وحی اولنے صورت يعنی «أحياناً يأتينى مثل صلصلة الجرس» سره وئيلی شوی دی چه «وقد وعيت عنه ما قال» او په دويم صورت «وأحياناً يتمثل لى الملك رجلا» سره نبی ﷺ فرمائی چه «فأعى مايقول» يعنی د اول صورت سره ئے د ماضی صيغه استعمال کړے ده.اود دويم صورت سره ئے د مضارع صيغه.دا مختلف ولے اختيار شوی دی؟

() ددے يو جواب خو دا دے چه په اول صورت کښے د ماضی صيغه ځکه استعمال شوے ده چه هلته «وحی» او«حفظ» قبل انقطاع الوحی او قبل الفصم حاصليږی.د انقطاع الوحی نه پس ياد پاتے کيدل متصور نه دی.

او په دويم صورت کښے فرښته په انسانی شکل کښے راځی اوخبرے کوی.او د مکالمے سره سره نبی ﷺ يادول کوی نوښکاره خبره ده چه «وعی» د مکالمے نه وړاندے ممکن نه ده. بلکه د خبرو سره سره به نبی ﷺ هغه يادول چونکه په خبرو کښے استمرار اوتجدد وی نو ځکه نبی ﷺ د مضارع صيغه استعمال کړله کومه چه په تجدد دلالت کوی.(۲)

(۱) فتح البارى (۲۱/۱)_

(۲) فتح البارى (۲۱/۱)_

(۲) دویم جواب دا دے چه په اصل کښے په اول صورت کښے نبی ﷺ صفات بشریت مغلوب کړی وو اوصفات ملکیت سره ئے تلبس اختیار کړے وو کله چه د وحی سلسله ختمه شوه نو په نبی ﷺ باندے د بشریت صفات غالب شول او تلبس بالصفات الملکیة باقی پاتے نشو نوځکه ئے په دے کښے د ماضی صیغه استعمال کړله.
اوپه دویم صورت کښے دوی په خپل فطری حالت باندے برقرار پاتے کیږی په دوی کښے څه تغیر نه راځی چه څنګه فرشته وائی نو نبی ﷺ ئے یادوی نوځکه دلته د مضارع صیغه راوړلے شوه کوم چه په تجدد دلالت کوی.(۱)

په دې حدیث کښې د وحی صرف په دووصورتونو ولې اکتفاء شوې ده؟

دلته تاسو اوکتل چه دحارث بن هشام ﷺ د سوال په جواب کښے نبی ﷺ د وحی د نزول صرف دوه صورتونه بیان کړل.سوال دا دے چه نبی ﷺ د وحی نور صورتونه ولے بیان نکړل؟
ددے جواب دا دے چه تاسو اګرچه وړاندے ډیر صورتونه لوستلی دی خو حقیقت دا دے چه د وحی په باب کښے اصل د قرآن کریم د سورت شوری آیت دے ﴿ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ﴾ (۲) په دے آیت کښے د وحی ټول درے صورتونه دی.

① اولنے صورت چه دهغے نه ئے په وحی سره تعبیر کړے دے چه په هغے کښے القاء في القلب کیږی.بغیر د څه واسطه نه.په دے قسم کښے د فرشتے یا بل څا واسطه نه وی بلکه دنبی باطن د عالم قدس تابع ګرځولے شی.اوبیا په هغے باندے د وحی القاء کولے شی.
په دے صورت کښے یو احتمال دا هم وو چه القاء په واسطه د فرشتے مراد واخستلے شی خو دا بعید احتمال وو.ځکه چه وړاندے آیت ﴿أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا﴾ کښے د فرشتے په واسطه د نزول مستقل ذکر راځی.

② دویم صورت «کلام من وراء حجاب» دے.یعنی د نبی ﷺ خاسه سماعت د الله تعالی دقدیم کلام براه راست سماع کوی.
دا صورت صرف دوه ځله د دوو پیغمبرانو علیهما السلام سره پیښ شوے دے.یو حضرت موسی ﷺ سره په جبل طور باندے او بل د نبی کریم ﷺ سره په معراج کښے.(۳)

③ دریم صورت په آیت کښے «ارسال رسول» بیان شوے دے. د دے دوه صورتونه دی.
(الف) یودا چه فرشته په انسانی شکل کښے متشکله شی.او راشی.لکه چه په قرآن کریم کښے دحضرت بی بی مریم علیها السلام په واقعه کښے چه راغلی دی.﴿ فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴾

---

(۱) فتح الباری (۲۱/۱)-
(۲) الشوری ۰۵۱)-
(۳) فضل الباری (۱۵۹/۱)_

( ) دغه شان وړاندے تیر شوی دی چه حضرت جبریل علیه السلام به د حضرت دحیة الکلبی رضی الله عنه په صورت کښے تشریف راوړلو
(ب) دویم صورت دا دے چه فرشته په انسانی شکل کښے ښکاره نشی او د نبی ﷺ په قلب باندے القاء کوی اود نبی ﷺ قلب دهغے احساس کوی
ددے تفصیل زده کولو نه پس دا خبره بالکل ښکاره شوه چه دلته په حدیث کښے د وحی د دے آخری صورت د دواړو قسمونو ذکر دے نه د «القاء فی القلب بغیر واسطة» ذکر شته اونه د «کلام من وراء حجاب» ذکر.
ددے واړه قسمونو نه ذکر کولو وجه دا ده چه دلته د نبی ﷺ مقصود اکثر پیښیدونکی کیفیتونه بیانول دی او زیات واقع کیدونکی صورتونه هم دوه وو یعنی چه فرشته د نبی باطن مسخر کړی اوالقاء پرے اوکړی اود فرشتے په انسانی شکل کښے راتلل باقی دواړه قسمونه کثیرالوقوع نه وو.
بیا په دے کښے د «کلام من وراء حجاب» واقعه خو صرف د دوو پیغمبرانو سره پیښه شوے وه او هغه هم یو یو کرته نوځکه ئے د هغے ذکر پریخودلو.
اود فرشتے د واسطے نه بغیر چه دالله تعالیٰ کومه القاء ده نو په هغے کښے ..منام.. او ..الهام.. هم داخل دی چونکه ..منام.. او ..الهام.. د پیغمبرانوعلیهم السلام سره مختص نه دی نوځکه ئے ددے ذکر هم پریخودلو.([2]) والله اعلم.
قوله: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددے تعلق داسناد سابق سره دے اودا مسند دے په ظاهره دلته حرف عطف پکار وو خو دامام بخاری رحمه الله عادت دے چه د مسند معطوف نه حرف عطف حذف کوی اوچه کوم ځائے کښے تعلیق مقصود وی هلته حرف عطف برقرار ساتی.([3])
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دلته دواړه احتمالات شته یوخو هغه چه په اسناد اول باندے معطوف وی اوحرف عطف محذوف اوګڼلے شی «کما هو مذهب بعض النحاة منهم ابن مالك رحمه الله» په دے صورت کښے به دا حدیث مسند وی.([4]) اومطلب به دا وی چه حضرت عائشے رضی الله عنها د حضرت حارث بن هشام رضی الله عنه د سوال اود نبی ﷺ د جواب نه نقل کولو نه پس خپله ذاتی مشاهده هم حضرت عروه رحمه الله ته بیانوی اوحضرت عروه رحمه الله نه دواړه روایاتونه هم په یو سند سره نقل شوی دی نو دواړه روایتونه مسند شول او د دواړو سند یو دے.

---

(۱) مریم ۰۱۷)-
(۲) اوګورئ فضل الباری (۱/۱۵۸، ۱۵۹)_
(۳) فتح الباری (۱/۲۱)_
(۴) اوګورئ عمدة القاری (۱/٤۲)_

دا هم ممكن ده.چه حضرت عائشے رضي الله عنها دواړه روايتونه عروه رحمه الله ته په يوځائے نه وى ذكر كړے بلكه په مختلفو وختونو كښے ئے بيان كړى وى.اوعروه رحمه الله د يو روايت نقل كولو نه پس د وضاحت دپاره دويم روايت هم ذكر كړے وى.اوبيا دواړه روايتونه يوځائے نقل كول شروع شوى وى.

دويم احتمال علامه عينى رحمه الله داذكر كړے دے چه دا مستقل كلام وى او د دواړو سند يو نه وى بلكه جدا جدا وى.اوامام بخارى رحمه الله د اختصار دوجے حذف كړے وى.په دے صورت كښے به دا روايت په تعليقات بخارى كښے وى.(١)

علامه عينى رحمه الله په هغه خلقو باندے رد كړے دے كوم چه د تعليق د نفى قائل دى.او فرمائيلى ئے دى.چه د هغوى نفى قابل نفى ده.ځكه چه دوى په خپله دعوى باندے څه دليل نه دے پيش كړے.ددے نه علاوه په عطف كښے اصل دا دے چه د حرف عطف سره وى.تركومے پورے چه د بعضے نحاتو مذهب دے.دكوم چه ابن مالك رحمه الله تصريح كړے ده.هغه د جمهور نه خلاف يو غير مشهور قول دے.(٢)

قوله: وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.چه ما رسول الله ﷺ د سختے يخنى په زمانه كښے د وحى نازليدو په حالت كښے ليدلو چه كله وحى ختمه شوه.نو د دوى د تندى مبارك نه خولے بهيدلے.په دے سره حضرت عائشه رضي الله عنها د شدت وحى طرف ته اشاره كول غواړى.چه دومره سخته به وه.چه د سختے يخنى په زمانه كښے به هم دوى خولے خولے شو.اوداسے خوله به ترے وتله.لكه چه څنګه يو رګ اووهلے شى.او وينه مسلسل راوځى.

دا كلام تشبيهى دے.د نبى ﷺ د تندى دخولے تشبيه ئے په كثرت سيلان كښے د وهلے شوى رګ سره وركړے ده.لكه چه څنګه يو رګ كټ كړے شى.او دهغے نه وينه وتل شروع شى.دغه شان به داسے وه.لكه چه د نبى ﷺ په تندى كښے به د خولے رګ كټ كړے شو.او دهغے نه به مسلسل خوله بهيدله.

بيا((ليتفصد)) (كوم چه په فاء سره دے) بعضے حضراتو ((ليتقصد)) (قاف سره) ونيلے دے.كوم چه په ظاهره تصحيف دے.اوكه د ..قاف.. سره ثابت شى.نودا ..تقصد.. به په معنى د ..تقطع و تكسر.. نه ماخوذ وى.(٣) والله اعلم

د نزول وحى په موقع د خولے د وتلوحكمت دلته سوال دا دے.چه د نبى ﷺ د تندى نه په دومره لويه پيمانه د خولے وتلو حكمت څه وو؟بيا خاص كرچه د يخنى زمانه به وه.نو د يخنى په حالت كښے داسے خوله وتل لكه چه د رګ وهلو په ذريعه باندے وينه اوځى.ډيره د تعجب خبره ده.

(١) عمدة القارى(١/٤٢، ٤٣)_

(٢) عمدة القارى (١/٤٢، ٤٣)_

(٣) فتح البارى(١/٢١، ٢٢)_

ددے يو ساده غوندے جواب خو دا دے چه کله به په نبی ﷺ د وحی نزول کيدلو. نو دوی باندے به مشقت اوسختی وه.اوکله چه په سړی باندے مشقت اوسخته راشی.نوپه هغه خوله راخی که سخته يخنی ولے نه وی.نوددے وجه به د نزول وحی په وخت د نبی ﷺ د تندی نه خوله بهيدله

ددے دويم جواب شيخ محی الدين بن عربیؒ په ..فتوحات.. او شاه ولی اللهؒ په ..حجة الله البالغة.. کښے ورکړے دے.چه د الله تعالی کوم کلام به د نبی ﷺ په قلب باندے نازليدلو.نو هغه نور وو.کومه فرشته چه دا به نے نازلولو.هغه هم د نور نه جوړه ده.دغه شان د نبی باطن هم د نور نه ډك وو.دا به د درے انوارواتو ملاقات کيدل.اود نور په لقاء کښے ..حدت.. وی.ددے نه گرمی پيدا کيږی.د حرارت پيدا کيدو په وجه په طبيعت کښے يو تقاضا پيدا کيږی.چه دا لرے کړی.هم دا خوله ده.(١)

د سختې ګرمئ دوجې خوله وتل اود يخنئ د وجې د کمبل د اغوستلو اشکال او د هغې دفعيه

دلته کښے دا سوال هم شوے دے.چه ددے حديث نه خو معلومه شوه.چه دوی به د گرمئ دحدت او شدت د وجے خولے خولے شو.حالانکه په بل روايت کښے ديخنئ د زيادت د وجے «زملونی زملونی» الفاظ راغلی دی.(٢)

ددے جواب دا دے.چه په حقيقت کښے صورت حال دا دے.چه د حدت او حرارت د وجے د بدن مسامونه پرانستے شی.اودهغے نه خوله وتل شروع شی.بيا چه کله شدت ختم شی.اوپه بدن باندے هوا اولگی.نو ددغه مسامونو په ذريعه برودت پيدا شی.نو څه اشکال پاتے نشو.

ددے نه علاوه خو به تعارض اوتناقض په هغه وخت کښے گڼړلے شو.چه د دواړو زمانه يوه وه. دلته د خولے وتلو زمانه يوه ده.اود يخنئ لگيدو زمانه بله ده.نو څه تعارض اوتناقض نشته.

د حديث باب نه څو مستنبط فوائد. د حديث باب نه ډير فوائد مستنبط کيږی.څو په کښے دا دی.① ددے حديث نه معلومه شوه.چه فرشتے موجود دی.او فلاسفوئ چه کوم انکار کړے دے.هغه غلط دے.

② دويمه خبره دا معلومه شوه.چه فرشتو ته الله تعالی دمختلفو شکلونو جوړولو اختيار ورکړے دے.

③ دريمه فائده دا معلومه شوه.چه حضرات صحابه کرامؓ به د نبی ﷺ نه د خصائص نبوت په باره کښے تپوسونه کول.او هغوی به ورته د هغے جوابونه ورکول.

④ يوه فائده دا هم معلومه شوه.که سوال د تحقيق په غرض وی.د شك او ارتياب يا استهزاء او توقو په غرض نه وی.نو په داسے سوال کښے څه قباحت نشته.(٣)

---

(١) اوگورئ..درس بخاری..علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله ضبط وتحريرمولانا عبدالوحيد صديقی فتح پوری (ص،٥٣)

(٢) اوگورئ صحيح بخاری د باب بدء الوحی دريم حديث)_

(٣) اوگورئ عمدة القاری(٤٦/١)_

په حديث باب اوترجمه كښې مناسبت اسماعيلى رحمه الله خو فرمائيلى دى چه ددے حديث د ترجمة الباب سره څه تعلق نشته خكه چه په دے كښے د بدء الوحى څه ذكر نشته صرف د وحى د راتلو د كيفيت بيان دے (١)

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه مونږ دا نه منو چه په دے كښے د بدء الوحى ذكر نشته خكه چه كيدے شى دحضرت حارث بن هشام رضي الله عنه تپوس دابتداء وحى ياظهوروحى متعلق وى (٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د جواب انداز ددے نه انكار كوى چه سوال د ابتداء وحى يا ظهور وحى متعلق وى خكه چه په جواب كښے د «يأتيني» لفظ دے اودا د مضارع صيغه ده اودا د مستقبل دپاره استعمال شوے ده البته دا ونيلى شى چه چونكه نبى صلى الله عليه وسلم په جواب كښے د وحى د راتلو هم دوه صورتونه بيان كړى دى نو خكه ظاهره هم دا ده چه هم په دے دواړو صورتونو كښے به د يو نه د وحى شروع شوے وى په دے طريقه د حديث د ترجمة الباب سره مناسبت ښكاره شو. (٣)

دا تقرير دهغه حضراتو په مسلك باندے دے چه هغوى دترجمه نه ظاهر مراد اخلى اوخوك چه دا وائى چه د ترجمه نه نفس وحى بيانول مراد دى د هغوى په رائے باندے د مطابقت بيانولو ضرورت هډو شته نه خكه چه په روايت كښے د وحى ذكر دے

دغه شان كوم حضرات چه دا فرمائى چه د ترجمة الباب نه د وحى عظمت بيانول مقصود دى نو دهغوى د قول مطابق د حديث مناسبت بيخى ښكاره دے خكه چه په دے حديث كښے خودلى شوى دى چه كله به په نبى صلى الله عليه وسلم باندے وحى نازليدله نو ددے د عظمت د وجے به په نبى صلى الله عليه وسلم سختى اومشقت وو. د حضرت عائشے رضي الله عنها په يو روايت كښے دا الفاظ راغلى دى «كان نبى الله صلى الله عليه وسلم إذا نزل عليه الوحى كرب لذلك وتربد وجهه» (٤) يعنى كله چه به وحى نازليدله نوپه نبى صلى الله عليه وسلم باندے به د سختئ حالت شروع كيدلو او ددوى په مخ مبارك به د پريشانئ كيفيت پيدا كيدلو. دا د مشقت كيفيت دا ښائى چه وحى يو اوزنى او عظيم خيز دے. «والله أعلم وعلمه أتم وأحكم»

---

(١) فتح البارى (١٩/١)_

(٢) شرح كرمانى (٢٧/١) وفتح البارى (١٩/١)_

(٣) فتح البارى(١٩/٣١)_

(٤) أخرجه مسلم فى كتاب الفضائل باب عرق النبى صلى الله عليه وسلم وين يأتيه الوحى. وقد روى الحديث عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه ايضاً انظر صحيح مسلم كتاب الحدود باب حد الزنى. والطبقات لابن سعد(١٩٧/١) ذكر شدة الوحى على النبى صلى الله عليه وسلم ودلائل النبوة لأبى نعيم (٢٢٤/١) كيفية إلقاء الوحى إلى النبى صلى الله عليه وسلم رقم ١٧٣._

الحديث الثالث

[٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ

فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ قَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ

فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا فَقَالَ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ فَقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي فَقَالَتْ خَدِيجَةُ كَلَّا وَاللَّهِ مَا يُخْزِيكَ اللَّهُ أَبَدًا إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ

فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ وَكَانَ امْرَأً قَدْ تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ فَيَكْتُبُ مِنْ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكْتُبَ وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنْ ابْنِ أَخِيكَ فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَأَى

فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللَّهُ عَلَى مُوسَى يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَفَتَرَ الْوَحْيُ [٣٢١٢، ٣٦٧٠، ٣٦٧٢، ٣٦٧٣، ٦٥٨١]

رجال الحديث

قوله يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ: د ده پوره نوم ابوزکریا یحیی بن عبدالله بن بکیر القرشی

المخزومى المصرى دے.(۱) تقریبا ټولو سوانح نګارو دوی مصرى لیکلے دے.(۲) البته امام بخارى رحمه الله په ..تاریخ کبیر.. کښے دوی شامی لیکلے دے.(۳)
دلته امام بخارى رحمه الله دوی خپل نیکۀ طرف ته منسوب کړی دی.د پلار نوم ئے نه دے ذکر کړے خکه چه دوی هم داسے مشهور دی.(۴)
دوی د شیخینو رحمهما الله او نورو ائمه حدیث په نیز په قابل احتجاج راویانو کښے دے.(۵) خصوصاً د لیث بن سعد رحمه الله په روایاتو کښے ثقه دے البته دامام مالک رحمه الله نه دوی ته سماع حاصله ده که نه؟په دے باره کښے د عالمانو کلام دے.(۶)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((کان یفهم هذا الشأن،یکتب حدیثه ولا یحتج به)) (۷) اوامام نسائی دوی مطلقاً ضعیف ګرخولی دی.(۸) خو راجحه خبره هم هغه ده.کومه چه مونږ ذکر کړے ده.چه د حدیث په حافظانو کښے دے.ثقه دے.اود شیخینو رحمهما الله په نیزمحتج به دے.حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی((کان عزیزالعلم،عارفاً بالحدیث،وأیام الناس،بصیراً بالفتوی،صادقاً دیناً،وما أدری ما لاح للنسائی منه حتی ضعفه وقال مرة لیس بثقة وهذا جرح مردود،فقد احتج به الشیخان،وما علمت له حدیثاً منکراً حتی اورده)) (۹)
دغه شان ابن حبان رحمه الله هم دوی په خپل ..کتاب الثقات.. کښے ذکر کړی دی.(۱۰)
ددوی پیدائش په ۱۵۴ھ یا ۱۵۵ھ کښے شوے وو.اووفات ئے په نصف صفر ۲۳۱ھ کښے شوے وو.(۱۱)

قوله: اللَّيْثُ بْن سَعْدٍ: دوی امام ابوالحارث لیث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی دی.(۱۲)دوی په قلقشنده یا قرقشنده کښے (دا د مصر نه تقریباً درے خلور فرسخ باندے واقع دے) په ۹۴ھ کښے پیدا شوی وو.(۱۳)

---

(۱) تهذیب الکمال(۳۱/۴۰۱)_
(۲) اوګورئ تهذیب الکمال(۳۱/۴۰۱) وسیرأعلام النبلاء (۱۰/۶۱۲) وتقریب التهذیب(۵۹۲) وغیره)_
(۳) التاریخ الکبیربخاری (۸/۲۸۵) رقم الترجمة (۳۰۱۹)_
(۴) فتح الباری(۱/۳۲)_
(۵) میزان الإعتدلال(۴/۳۹۱)_
(۶) تقریب التهذیب (ص.۵۹۲) دغه شان هدی الساری (۴۵۲)_
(۷) میزان الإعتدلال(۴/۳۹۱)_
(۸) میزان الإعتدلال(۴/۳۹۱)_
(۹) سیرأعلام النبلاء (۱۰/۶۱۴)_
(۱۰) الثقات لإبن حبان(۹/۲۶۲)_
(۱۱) سیرأعلام النبلاء (۱۰/۶۱۳، ۶۱۴)_
(۱۲) تهذیب الکمال(۲۴/۲۵۵)_
(۱۳) وفیات الأعیان لإبن خلکان (۴/۱۲۸) وتهذیب الکمال (۲۴/۲۵۶)_

د ائمه اعلام نه ئې کسب فيض کړے وو.د علم .فضل. فقه. ورع. او د سخاوت په اعتبار سره په خپله زمانه کښې ممتاز وو.(١)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«أحد الأعلام، والأئمة الأثبات، ثقة حجة بلا نزاع»(٢)

هم دا حافظ ذهبی رحمه الله قول دے.«ما هو بدون مالك ولا سفيان»(٣)

يحيى بن معين رحمه الله فرمائی.چه امام ليث بن سعد رحمه الله به په شيوخواو دهغوی نه په روايت اخستلو کښې د تساهل نه کار اخستلو.(٤) خو حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.«وما تساهل فيه الليث فهو دليل على الجواز، لأنه قدوة»(٥)يعنى امام ليث چرته د تساهل نه کار نه اخستے دا د جواز دليل دے.ځکه چه هغه مقتدا وو.

امام شافعی رحمه الله فرمائی.«هو أفقه من مالك، إلا أن أصحابه لم يقوموا به»(٦)يعنى دوی د امام مالك رحمه الله نه هم زيات فقيه وو.خو ددوی شاګردانو د دوی علم مدون نکړلو.چه خوار کړے شو وے.اودامام مالك رحمه الله علم د هغوی د شاګردانو په ذريعه خور شو.

دامام ليث بن سعد رحمه الله په باره کښے ګنړو سوانح نګارو ليکلی دی.چه دوی حنفی وو.قاضی بن خلکان رحمه الله ليکی.«ورأيت في بعض المجاميع أن الليث كان حنفي المذهب»(٧)

قاضی زکريا انصاری رحمه الله په شرح د بخاری کښے په دے باندے جزم کړے دے.(٨)

حافظ ابن ابی العوام رحمه الله په خپل سند سره نقل کړی دی.چه دوی د امام اعظم شاګرد وو.چه کله به ئې دامام په باره کښے واوريدلو.چه دحج دپاره راځي.نو دوی به هم د حج دپاره مکے معظمے ته اورسيدلو.او دامام رحمه الله نه به ئې د مختلفو بابونو د مسائلو تپوس اوکړلو.اودامام صاحب رحمه الله په اصابت رائے اوسرعت جواب باندے به ئې تعجب کولو.(٩)

امام ليث بن سعد رحمه الله په ١٧٥ھ هم په مصر کښے وفات شوے دے.(١٠)

رحمه الله رحمة واسعة.

---

(١) سير أعلام النبلاء (٨/١٣٦، ١٦٣)_

(٢) ميزان الإعتدلال(٣/٤٢٣)_

(٣) پورتنئ حواله)_

(٤) پورتنئ حواله)_

(٥) پورتنئ حواله)_

(٦) تذكر الحفاظ (١/٢٢٤)_

(٧) وفيات الأعيان(٤/١٢٧)_

(٨) مقدمة نصب الرأية(ص.٤٠)_

(٩) مقدمة أنوارالبارى (١/٢١٢)_

(١٠) عمدة القارى(١/٤٧)_

قوله عُقَيْلٌ: عقیل (بالتصغیر) بن خالدبن عقیل (بالتکبیر) ثقه او ثبت راویانو کښې دې(۱) دزهری رحمه الله نه روایت کونکو مضبوطو راویانو کښې دې(۲) په مصر کښې په ۱۴۴ھ کښې وفات شوې وو (۳)

قوله ابْنِ شِهَابٍ: د دوی پوره نوم ابوبکرمحمدبن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن الحارث بن زهره بن کلاب بن مره بن کعب لوی الزهری المدنی دے.(۴) دابن شهاب زهری رحمه الله په نوم مشهور دے.زیات تر هم په دے نوم سره یادولے شی.
د دوی شمار په صغار تابعینو رحمهم الله کښے کیږی.دصغارصحابوٴ او کبار تابعینو رحمهم الله نه دوی علم حاصل کړے دے.(۵)
د دوی فضائل بے شمیره دی.په ۵۰ھ کښے پیدا شوی وو.اوپه ۱۲۴ھ کښے وفات شوی وو.(۶)
دحضرت عروه بن زبیر رحمه الله اوحضرت عائشے رضی الله عنها مختصرحالات وړاندے تیر شوی دی.
د باب دا روایت مرسل دې که متصل؟ دا حدیث په ظاهره مرسل معلومیږی.څکه چه په دے کښے کومه واقعه بیان شوے ده.هغه د حضرت عائشے رضی الله عنها د ولادت نه هم وړاندے ده.لکه چه دوی دا واقعه د چا صحابی رضی الله عنه نه اوریدلے ده.اونقل کوی ئے.په دے صورت کښے به دے ته روایت مرسل د صحابی وئیلے شی.اودصحابی رضی الله عنه د مرسل په باره کښے مونږ وړاندے ذکر کړے دے.چه دا د جمهورو په نیز د موصول په حکم کښے وی.
بیا دلته یو احتمال دا شته.(دا اقرب هم دے)چه دا واقعه براه راست حضرت عائشے رضی الله عنها د نبی صلی الله علیه وسلم نه اوریدلے وی.نو په دے صورت کښے به دے روایت ته متصل وئیلے شی.(۷)

قوله أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ: یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحی شروع د رویائے صالحه نه شوے وه.
«من الوحی» کښے ,,من،، خویا تبعیضی دے.او یا بیانیه.که تبعیضی وی.نو معنی به دا شی.
«أول ما بدئ به رسول الله صلی الله علیه وسلم من أقسام الوحی» په دے صورت کښے به خوب د وحی په قسمونو

---

(۱) تقریب التهذیب(۳۹۶)_
(۲) فتح الباری(۲۲/۱)-
(۳) عمدة القاری(۴۷/۱)_
(۴) تذکرة الحفاظ (۱۰۸/۱) وعمدة القاری (۴۷/۱. ۴۸)_
(۵) تذکرة الحفاظ (۱۰۸/۱)_
(۶) د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ طبقات ابن سعد(۳۸۸/۲. ۳۸۹) وتهذیب الأسماء واللغات (۹۰/۱. ۹۱) وسیرأعلام النبلاء(۳۲۶/۵)وتهذیب الکمال (۴۱۹/۲۶. ۴۴۳)_
(۷) عمدة القاری(۴۷/۱)_

كښے شي. اوكه بيانيه شي.نومعنى به ئے دا شي.چه د وحى شروع د خوب نه شوے وه.لكه چه دا لازمه نه ده چه خوب وحى ده. قزاز رحمه الله بيانيه لره راجح كرخولے ده.(١)
اود جمهور رحمهم الله په نيز دانبياؤ خوب وحى ده (٢)
دوحى ابتداء د ابن اسحاق رحمه الله وغيره معتمدو مورخينو رحمهم الله د قول مطابق په خلوېښتم كال شوے وه مياشت د ربيع الاول وه دحضرت جبريل عليه السلام نزول په غارحراء كښے په رمضان كښے شوے وو. د ربيع الاول نه تررمضان پورے شپږ مياشتے جوړيږى.لكه چه دخوبونو سلسله د نبوت د شروع نه ترشپږ مياشتو پورے چليدله.(٣) دخوبونو په ذريعه په اصل كښے د نبى ﷺ مانوس كول مقصود وو. د حضرت علقمه بن قيس رحمه الله نه مروى دى.چه ((إن أول مايؤتى به الأنبياء في المنام حتى تهدأ قلوبهم ثم ينزل الوحي بعد))(٤)
صرف خوب نه بلكه د نبوت د ذمه وارئ سپارلو نه وړاندے د دوى د تيارولو په غرض به نور مبشرات هم راتلل.په رواياتو كښے راځى.چه دوى به كله په لار روان وو.نود سلام آواز به ئے اوريدلو.چه دوى به بنى اوګس طرف ته متوجه شول.او اوبه ئے كتل.نود اونو او كاڼړو نه علاوه به نور څه نه وو.(٥)
دغه شان نبى ﷺ په خپله فرمائيلى دى.((إني لأعرف حجراً بمكة كان يسلم على قبل أن أبعث إني لأعرفه الآن))(٦)
خلاصه دا چه په باقاعدګئ سره د وحى د نازليدو نه وړاندے د وحى سره د مناسبت پيدا كولو دپاره ورته تمهيداً ښه اورښتينى خوبه اوخودلى شول.اودغه شان شجر او حجر د دوى د رسالت اقرار كولو.
قوله: الرُّؤيَا الصَّالِحَةُ: هم د بخارى شريف د كتاب التفسير په بعضے طرقو سره دغه شان په كتاب التعبير كښے د ..الرؤيا.. د صفت د ((الصالحة)) په ځائے ((الصادقة)) راغلى دى.لكه

---

(١) فتح البارى(١/٢٢، ٢٣)
(٢) كما روى عن ابن عباس رضي الله عنه قال ..رويا الأنبياء وحي.. رواه الطبراني كذا في مجمع الزوائد للهيثمي (١٧٦/٧) كتاب التعبير.باب فيما رآه النبي ﷺ في المنام- وري ابن ابي حاتم عنه مرفوعاً أيضاً بلفظ ..قال رسول الله ﷺ رؤيا الأنبياء في المنام وحي كذا في تفسير ابن كثير) رحمه الله ١٥٢/٤)_
(٣) فتح البارى (٢٧/١)_
(٤) الخصائص الكبرى للسيوطي (٩٣/١) باب ما وقع عند المبعث من المعجزات والخصوصيات)_
(٥) دلائل النبوة للبيهقي (١٤٦/٣) باب مبتدأ البعث والتنزيل وما ظهر عند ذلک من تسليم الحجروالشجر وتصديق ورقة بن نوفل إياه)) دغه شان سيرة ابن هشام مع الروض الأنف (١٥٢/١)
(٦) صحيح مسلم كتاب الفضائل باب فضل نسب النبي ﷺ وتسليم الحجر عليه قبل النبوة)_

چه د دوی د خوبونو د دے صفات وو یو صالحه. دویم صادقه او دریم واضحه کوم چه ((فكان لايرى رؤيا إلا جاءت مثل فلق الصبح)) نه په پوهه کیږی راخی
د واضحه کیدو مطلب دا دے چه نبی ﷺ به کوم خوب اولیدلو نو په هغې کښې به څه مشکلات نه وو اودهغې د تعبیر په متعین کولو کښې به څه مشکل نه راتلو هغې به په خپله مدعی اومفهوم باندے بالکل ښکاره دلالت کولو.(۱)
اود ..صالحة.. معنی ده خوشحاله کونکې.مسرت انگیز.او ..صادقه.. ریښتیا خوب ته وائی بیا د ..صالحه.. او ..صادقه.. په باره کښې عالمانو فرمائیلی دی.چه د انبیاؤ علیهم السلام په اعتبار سره خو په آخرت کښې دا برابر دی.د دوی هرخوب صالح او صادق دے خود دنیا په اعتبار سره..صادقة..د صالحة.. نه اعم ده.د انبیاؤ هر خوب صادق وی. خو هر خوب ئے صالح نه وی.بلکه بعضے خوب غیرصالح وی. د جنګ احد په موقع باندے دوی خوب اولیدلو چه دوی توره راواخستله.هغه ئے اوخوزوله نوهغه په څوخ یه ماته شوه.(۲) دغه شان دوی په خوب کښې اولیدلو.چه چه غواګانې ذبح کولې شی.(۳) دوی د تورے د ماتیدو د مسلمانانو په شهادت سره تعبیر اوکړلو.دغه شان د غواګانو د ذبح کیدو تعبیر ئے هم د صحابو ﷺ په شهادت سره اوکړلو.اوس ښکاره خبره ده.چه شکست او د صحابو ﷺ قتل څه د خوشحالئ څیز نه دے.خو خوب صحیح اوصادق وو.(۴)
بیا د انبیاؤ نه علاوه د نورو خلقو په حق کښې به په .صالحه.. او ..صادقه.. کښې د عموم خصوص من وجه نسبت وی.که د ..صادقه.. تعبیر په ((ما لايحتاج الى التعبير)) سره اوکړے شی.یعنی بعضے خوبونه صالح وی.اود تعبیر محتاج هم وی.او بعضے خوبونه صالح وی.خو د تعبیر محتاج نه وی.اوبعضے داسے خوبونه وی.چه هغه صالح نه وی.او د تعبیر محتاج وی.یا د تعبیر محتاج نه وی.یعنی صادق خو وی.خو صالح نه وی.دا د افتراق دویمه ماده شوه.اویوه ماده د افتراق په اولنی صورت کښې وه.
خوکه د ..صادقه.. تفسیرپه ((ما ليس بأضغاث أحلام)) سره اوکړے نود دے دواړو په مینځ کښې به دعموم خصوص مطلق نسبت وی.او..رویائے صالحه.. به خاص او..رویائے صادقه.. به عام ګرځولے شی.لکه دا ضروری ده.چه هر ..رؤیائے صالحه.. به ..صادقه.. یعنی غیر ..اضغاث احلام.. وی.خودا ضروری نه ده چه هر..رؤیائے صادقه.. یعنی ..غیر اضغاث احلام.. به ..صالحه.. یعنی خوشحالونکی وی.(۵)

---

(۱) فضل الباری(۱/۱۶۲)_
(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب من قتل من المسلمین یوم أحد رقم. (۴۰۸۱)_
(۳) صحیح بخاری کتاب التعبیرباب إذا رأی بقرأ تنحر.رقم (۷۰۳۵)_
(۴) فتح الباری(۱۲/ ۳۵۵) کتاب التعبیر.باب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحی الرؤیا الصالحة)_
(۵) پورتنئ حواله)_

زمونږ په دے تقریر سره به دا خبره په پوهه کښے راغلے وی چه د ..صادقه.. معنی دہ ربښتنے خوب.خو ددے تفسیر مختلف شوے دے

() یو تفسیر ددے دادے چه ((مالا یحتاج إلی تعبیر)).

() دویم تفسیر نے دا دے چه ((مالیس بأضغاث أحلام)) والله اعلم

د مومن خوب د نبوت نه یو جزء دې بهرحال په حدیث کښے ددے ذکر شوے دے چه په نبی ﷺ باندے د وحی ابتداء د خوبونو نه شوے وہ.اوامام بیهقی رحمه الله تصریح کړے دہ چه د دا ے خوبونو موده شپږ میاشتے وہ.([1]) چونکه ددے شپږو میاشتو نسبت د وحی باقی مودے یعنی د څلویښتو کالوپه مقابله کښے شپږ څلویښتمه حصه دہ.نوځکه په حدیث کښے راغلی چه

((رؤیا المؤمن جزء من ستة وأربعین جزءاً من النبوة))([2])

یواشکال او دهغې جواب دلته یو اشکال دا کیږی.چه کله د نبی ﷺ په وفات سره د وحی سلسله ختمه شوه .نود مؤمن خوب د نبوت جزء ولے ګرځولے شوے دے.آیا داد ختم نبوت د مسلمه عقیدے نه خلاف نه دے؟

ددے ساده او بے غباره جواب دا دے.چه د یو جزء وجود د کل وجود لره مستلزم نه دے اوګورئ دایمان د اویاؤ نه زیات شاخونه دی.خود یوے شعبه په وجود سره ایمان نه متحقق کیږی.ترڅو چه بنیاد نه وی.او ضروریات د دین اونه منی.

دغه شان دلته هم اوګنړئ.چه ..نبوت.. صرف د یو جزء نوم نه دے.بلکه د نبوت د ټولو حصو نوم دے.اود نبوت د ټولو اجزاؤ د وجود سلسله د نبی ﷺ په وفات سره ختمه شوے دہ.د څه مصلحت په بنا د دے د یوجزء یا د دے نه زیاتو اجزاؤ په وجود سره د نبوت وجود نه لازمیږی.([3])

د ((رویا المومن)) په حدیث کښې د مختلفو روایاتو تعارض او دهغې دفعیه

یواشکال دا شوے دے.چه ((رویا المومن جزء من ستة وأربعین جزءاً من النبوة)) حدیث کښے تقریباً لس بلکه پنځلس الفاظ راغلی دی.حافظ رحمه الله چه کوم اقوال نقل کړی دی.دهغے مطابق په دے حدیث کښے ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۴۰، ۴۲، ۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۹، ۵۰، ۷۰، ۷۲ او ۷۶ پورے شمار موندلے شی.([4])

ددے جواب دا دے.چه په دے ټولو روایاتو کښے دټولو نه محفوظ روایت د ((ستة وأربعین))

---

(۱) فتح الباری(۶۷/۱)_

(۲)صحیح بخاری کتاب التعبیر.باب الرؤیا الصالحة ج ء من ستة وأربعین جزء من النبوة رقم(۶۹۸۷، ۶۹۸۸)

(۳) فتح الباری (۳۷۵/۱۲) کتاب التعبیرباب المبشرات .د زیاتو جوابونو دپاره اوګورئ فتح الباری (۳۶۳/۱۲) کتاب التعبیرباب رؤیا الصالحین)_

(۴) فتح الباری (۳۶۲/۱۲، ۳۶۳)_ کتاب التفسیرباب رویاالصالحین)_

روايت دے.اودے سره نزدے د ((سبعين)) روايت دے.باقى ټول روايات د راويانو تصرفات دى.(١)
په دے صورت کښے به د شپږڅلويښت روايت په رويا صديقين باندے محمول وى.
او د ((سبعين)) روايت به دعامو مسلمانانو په خوب باندے .اودا هم ممکنه ده.چه داسے اوونيلى شى.چه اصل خو د شپږڅلويښتو روايت دے.اود ((سبعين)) روايت د تحديد دپاره نه دے.بلکه د تکثير دپاره دے.ځکه چه اهل عرب دتکثير دپاره اکثر د..سبعين.. عدد استعمالوى.(٢)
په ((رويا الانبياء وحى)) باندې اشکال او دهغې جواب بيا دجمهورو عالمانو رحمهم الله په نيز چه د انبياؤ خوب وحى ګرځولے شوے ده.په دے باندے اشکال وارد شوے دے.چه ابراهيم عليه السلام په خوب کښے ليدلى وو.چه خپل ځوئے قربانى کړه.ددے تقاضا خو دا وه.چه حضرت ابراهيم عليه السلام سمدستى بغير د څه سوچ نه حضرت اسماعيل عليه السلام ذبح کړے وے.خوهغوى داسے اونکړلو. بلکه د خپل خوى سره ئے مشوره اوکړله.اود هغه نه ئے رائے طلب کړله.چه ﴿قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّىٓ اَرٰى فِى الْمَنَامِ اَنِّىٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى﴾ (٣) يعنى حضرت ابراهيم عليه السلام حضرت اسماعيل عليه السلام ته اوفرمائيل. چه ما خوب ليدلے دے.چه تاذبح کوم.اوس اوښايه.چه ستا څه رائے ده؟
ددے جواب عالمانو رحمهم الله دا ورکړے دے.چه دحضرت ابراهيم عليه السلام دخپل خوى نه سوال ددے وجے نه وو.چه هغه راضى شى.نوعمل به اوکړى.اوکه راضى نشى.نوعمل به نه کوى.بلکه د سوال نه مقصود د خوى امتحان وو.چه دے څه جواب راکوى.چه دده اطاعت اوصبر ته اوګورى.اوخوشحاله شى.(٤)هم دا وجه ده.چه حضرت اسماعيل عليه السلام دخپل د خوب نه په امر سره تعبير اوکړلو.او وے فرمائيل.چه ﴿قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ﴾ (٥) يعنى بابا جانه! چه تاسو ته دکوم څيز حکم کولے شى.هغه اوکړئ.
بوجواب دا هم ورکړے شوے دے.چه دحضرات پيغمبرانوعليهم السلام طريقه هميشه دپاره دا پاتے شوے ده.چه هغوى دالله تعالى احکاماتو ته خو هر وخت تيار اوسيږى.خو اطاعت دپاره هميشه دپاره هغه لار اختياروى.چه هغه په حکمت او حتى المقدور په آسانتيا باندے مبنى وى.که ابراهيم عليه السلام د وړاندے نه بغير د څه ونيلو خپل ځوئے ذبح کولو.نو دا دواړو دپاره د مشقت سبب وو.اوس دا خبره دوى د مشورے په انداز کښے خپل خوى ته ځکه ذکر کړله.چه خوى ته د وړاندے نه دا معلومه شى.چه دا دالله تعالى حکم دے.نوهغه به د ذبح

---

(١) قاله ابن بطال كذا فى فتح البارى (١٢/٣٦٥)۔
(٢) ددے توجيهاتو نه علاوه د نورو ډيرو توجيهاتو دپاره اوګورئ فتح البارى (١٢/٣٦٥، ٣٦٨)۔
(٣) سورة صافات(١٠٢)۔
(٤) تفسير قرطبى (١٥/١٠٣)۔
(٥) الصافات ١٠٢)-

تکلیف زغمولو ته د وړاندے نه تیار شی.دغه شان که دخوی په زړه کښے څه تذبذب پیدا شی.نوهغه به پوهه کړی.(چه بچیه دا دالله تعالی حکم دے.دے ته غاړه بسته شه) (۱)
دلته کښے دا اشکال هم شوے دے.چه هرکله حضرت ابراهیم ﷺ ته الله تعالی د حضرت اسماعیل ﷺ د ذبح کولو حکم اوکړلو.نوذبحه ولے واقع نشوه.حضرت ابراهیم ﷺ په دے باندے عمل ولے اونکړلو؟
ددے په جواب کښے خو حضرت شیخ اکبر رحمه الله یوه ډیره کمزورے خبره کړے ده.هغوی فرمائیلی دی.چه په اصل کښے حضرت ابراهیم ﷺ ته دخوب د تعبیر په پوهه کښے غلطی شوے وه.تعبیر دا نه وو.چه حضرت اسماعیل ﷺ ذبح کړه.بلکه ددے صحیح تعبیر د ګډ ذبح وه.(۲) داسے کیږی.چه په خوب کښے په ظاهره څه اوخودلے شی.خودهغے تعبیرېل څه وی.مثلاً نبی ﷺ په خوب کښے لیدلی وو.چه پئ څکی.په ظاهره خو ددے نه هم دا په پوهه کښے راځی.چه الله تعالی په دوی باندے احسان اوکړلو.او یو نعمت ئے ورته ورکړلو.اودوی هغه اوڅکل.خو پخپله نبی ﷺ اوفرمائیل.چه ددے تعبیر علم دے.(۳)
دغه شان نبی ﷺ د قمیص تعبیر په دین سره کړے دے.(۴)

دغه شان په قرآن کریم کښے د «سبع بقرات سمان» او «سبع بقرات عجاف» ذکر موجود دے.او ددے نه اووه کاله د خوشحالئ او اووه کاله د قحط سالئ مراد دی. (۵)
شیخ اکبر رحمه الله فرمائی.چه دلته هم حضرت ابراهیم ﷺ په خوب کښے ﴿اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ﴾ لیدلی وو.اوهغوی ددے نه ظاهری معنی یعنی د اسماعیل ﷺ ذبح اوګنړله .حالانکه ددے تعبیر د ګډ ذبح وه.او ذبح د ګډ واقع شوه.هرکله چه اسماعیل ﷺ ذبح مراد نه ده.نو دا سوال غلط شو.چه حضرت ابراهیم ﷺ خپل خوئے ولے ذبح نکړلو؟
خولکه څنګه چه مونږ عرض اوکړلو.چه د شیخ اکبر رحمه الله دا جواب ټیک نه دے. ځکه چه په دے کښے یو اولوالعزم پیغمبرته بغیر د څه وجے نه د غلطئ نسبت کول دی.چه هغوی د خوب په مطلب پوهه نشو.دا صحیح ده.چه د پیغمبر نه اجتهادی غلطی کیږی.خو یو کار به په هغه وخت کښے په اجتهادی غلطئ باندے حمل کولے شی.چه مجبوری وی.اوبله صحیح توجیه موجود نه وی.حالانکه دلته څه داسے مجبوری نشته.
ددے نه علاوه د قرآن کریم سیاق اوسباق ددے جواب تردید کوی.په قرآن مجید کښے دی.﴿اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۙ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا﴾ چه اے ابراهیم! تا خوب رښتینے اوخودلو. حضرت ابراهیم ﷺ خو هم دا کړی وو.چه د خپل خوی د ذبح دپاره اودریدلے وو.اودهغه د ذبح کولو عمل ئے

(۱) معارف القرآن ازمفتی اعظم حضرت مولانا محمد شفیع صاحب قدس روحه (۴۵۸/۷، ۴۵۹)۔
(۲) فیض الباری(۲۲/۱)۔
(۳) صحیح بخاری کتاب العبیرباب اللبن)۔
(۴) صحیح بخاری کتاب التعبیرباب القمیص فی المنام – وباب جر القمیص فی المنام)۔
(۵) تفسیرقرطبی (۲۰۲/۹، ۲۰۳)۔

شروع کړے وو هم دے عمل ته خو قرآن (قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا) وائی که ابراهیم ﷺ غلط تعبیر ویستے وے نو بیا د (قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا) څه مطلب وو؟

دغه شان قرآن وائی چه (وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ) چه مونږ د اسماعیل ﷺ په بدله کښے یو غټ لویه ذبیحه (یعنی ګډ) ورکړلو ددے نه هم معلومه شوه چه په خوب کښے په اصل کښے دحضرت اسماعیل ﷺ ذبح خودلے شوے وه اوبیا الله تعالی په خپل فضل سره دحضرت اسماعیل ﷺ په ځاے ګډ راولیږلو که دلته تعبیرد ګډ وے نوبیا د (وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ) څه مطلب اخستے شی؟

بیاقرآن دا هم وائی چه (إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ) یعنی دا په حقیقت کښے لوئے امتحان وو اوس اوښایه چه د اسماعیل ﷺ ذبح ته به ..البلاء المبین.. ونیلی شی که د ګډ؟ بلکه په ذبح د ګډ باندے خو د (الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ) اطلاق هم ټیک نه دے

نو په واقعه کښے چه کوم نصوص راغلی دی د هغے تولو نه دا ثبتیږی چه حضرت ابراهیم ﷺ ته د خوب په تعبیر کښے څه غلطی نه وه شوے او د شیخ اکبر رحمه الله دا جواب ټیک نه دے.

دحضرت کشمیری رحمه الله جواب د پورتنی اشکال یو جواب حضرت کشمیری رحمه الله ورکړے دے هغوی فرمائی چه حضرت ابراهیم ﷺ چه دخوب څومره حصه لیدلے وه په هغے ئے عمل اوکړلو هغوی په خوب کښے دا نه وو لیدلی چه دوی خپل خوئے ذبح کړے دے بلکه دا ئے لیدلی وو چه خوئے ذبح کوی اوهم دومره خوب باندے هغوی عمل اوکړنو چاړه ئے راواخستله هغه ته تیره کړله خوئے څملولو اوبیا چه ئے پرے چاړه راښکله دا ټول کار په (أَنِّیٓ أَذْبَحُكَ) باندے عمل وو نو ددے نه پس دا ونیل څنګه ټیک کیدے شی چه حضرت ابراهیم ﷺ په خوب باندے عمل ولے اونکړلو.(1)

دحافظ ابن القیم رحمه الله جواب: حافظ ابن القیم رحمه الله دا جواب ورکړے دے چه حضرت ابراهیم ﷺ چه د حضرت اسماعیل ﷺ د ذبح کولو کوم خوب لیدلے وو هغه خو د الله تعالی په مصلحت د عمل نه وړاندے منسوخ شولو.(2) اودا داسے ده لکه چه په نبی ﷺ باندے په شپه د معراج پنځوس مونځونه فرض شو خو په پنځوسو باندے د عمل کولو موقع یوخل هم رانغله.(3)

حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی چه الله تعالی د انسانانو په زړونو کښے د خپل اولنی اولاد سره محبت د وړاندے نه امانت ایخودے دے د اولنی اولاد سره محبت د نورو په نسبت سره زیات وی حضرت ابراهیم ﷺ د الله تعالی نه د اولاد سوال اوکړلو نو الله تعالی د هغوی سوال قبول کړلو او اولاد ئے ورته ورکړلو دحضرت ابراهیم ﷺ په زړه کښے چه هغه دالله

---

(1) فیض الباری (۱/۲۲)_

(2) زادالمعاد فی هدی خیرالأنام. (۱/۷۴. ۷۵) فصل فی نسبه ﷺ بحث فی أن الذبیح إسماعیل لا إسحاق)_

(3) صحیح بخاری کتاب بیان الکعبة باب المعراج)_

تعالى خليل وو د خپل خوى محبت پيدا شو د الله تعالى دا خوښه شوه چه د حضرت ابراهيم ﷺ د زړه نه دغير الله محبت اوباسى نو دخپل محبوب خوى د ذبح كولو حكم ئې ورته اوكړلو كله چه هغه د ذبح عمل شروع كړلو نوثابته شوه چه دهغوى په زړه كښې دالله تعالى محبت د خوى دمحبت نه زيات دے اود الله تعالى د محبت سره د بل چا محبت شريك نه دے نو اوس د ذبح كولو مصلحت باقى پاتې نشو چونكه مقصود قبل العمل حاصل شو نو
خكه دا حكم منسوخ شو.(١)

قوله: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ: دلته كښې ئې د ..في النوم.. قيد لګولے دے په ظاهر اشكال راځى چه خوب خو د نوم په حالت كښې وى نوبيا د ..نوم.. قيد ولې اولګولے شو؟
ددے جواب دا دے چه د «رويا» اطلاق لكه څنګه چه په «رويا حلمى» يعنى خوب باندے كيږى. دغه شان په «رؤيت بصريه» باندے هم كيږى.(٢) چه په حالت يقظه كښې كه يو كار خارق للعادة په نظر راشى نوپه هغې باندے هم د «رؤيا» اطلاق كيږى.
په قران كريم كښې ارشاد دے ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ أَرَيْنٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ ﴾ (٣) په دے كښې رويت دسترګو مراد دے يعنى په واقعه د معراج كښې نبى ﷺ ته ..رويت عينيه حاصل شوے وو.
«كما روى عن سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما هى رؤيا عين أريها رسول الله ﷺ ليلة اسرى به» (٤)
په دواړو ..رؤيا.. كښې مناسبت دا دے چه لكه څنګه د ..رؤيائے منامى.. علم صرف رائى يعنى خوب ليدونكى ته وى بل چاته نه وى دغه شان چه په حالت د بيدارئ كښې كوم امر خارق للعادة راشى نودهغې علم هم صرف ليدونكى ته وى. نو څكه هلته كښې هم د ..رؤيا.. اطلاق كولے شى.
خلاصه دا چه چونكه د ..رؤيا.. لفظ مشترك استعماليږى نوځكه په حديث كښې د ..رؤيا منامى.. د تخصيص دپاره د ..في النوم.. قيد اولګولے شو.(٥)

قوله: فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ: يعنى نبى ﷺ چه به كوم خوب هم ليدلو نود هغې تعبير به د صبا ورخ پشان ښكاره كيدلو.

---

(١) زادالمعاد (١/٧٤، ٧٥)_
(٢) فتح البارى (١/٢٣) وعمدة القارى (١/٥٦) وإرشادالسارى(١/٦١)_
(٣) الإسراء ٦٠)-
(٤) صحيح بخارى (٢/٦٨٦) كتاب التفسير سورة الإسراء باب قوله ﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ أَرَيْنٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ﴾-
(٥) فتح البارى(٢٣) وعمدة القارى (١/٥٦) وارشاد السارى(١/٦١)_

اکثروشارحینو ،،مثل فلق الصبح،،حال گرځولے دے خوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه «مثل فلق الصبح» د محذوف مصدر صفت دے اوهغه مصدر مفعول مطلق دے. تقدیر د عبارت به دا وی.«الاجاءت مجيئاً مثل فلق الصبح»(۱)

«فلق» په لغت کښے څیرولو او شلولو ته وائی.په قرآن کریم کښے دی.﴿ اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ﴾ (۲)یعنی بیشکه الله تعالی دانه اوګیتکے څیروی.

،،فلق،، سپینوالی یا د سحرسپین والی ته وائی.اود یو ښکاره کار تشبیه په دے سره ورکولے شی.په دے حدیث کښے د نبی ﷺ د خوبونو تشبیه د «فلق الصبح» سره ورکړے شوے ده.اودا خودلی شوی دی.چه د نبی ﷺ خوبونه به بالکل ښکاره وو.په هغے کښے څه قسم مشکلات نه وو.

دلته په خصوصیت سره د «فلق الصبح» سره تشبیه ددے وجے ورکړے شوے ده. چه لکه څنګه د دنیاوی نمر د راختلو نه وړاندے د صبا صادق رڼائی راځی.دغه شان د روحانی نمر د راختلو نه وړاندے د رویائے صالحه او صادقه په صورت کښے روحانی صباصادق راوختلو. تاسوبه کتلی وی.چه کله ریل ګاډے په یوسټیشن باندے تیریږی.د هغے دپاره هلته کښے اودریدل هم نه وی.خو بیا هم د هغے دپاره د جنډے. تلئ، اوسګنل وغیره اهتمام کولے شی. دغه شان د نمر راختلو نه وړاندے د شپے پرقیدونکی ستوری غائب شی.او د نمر راختلو نه وړاندے د شپے تیارهٔ کمیږی.اود نمر راختلو نه وړاندے د صبا صادق رڼائی راځی.
دلته کښے هم اوګورئ.چه د رسول الله ﷺ د نبوت نمر راختونکے وو.نو حجر او شجر دوی ته سلامونه کول.(۳) رڼا به ورته خودلے شوه.(۴) اوربنتینی خوبونه ورته خودلی شول.دا ټول اهتمام او دا ټول انتظام ولے کیدلو.څکه چه د نبوت د نمر راختلو وخت رانزدے شوے وو.

تاسو په قرآن کریم کښے وئیلی دی.چه نبی ﷺ ته ،،سراج منیر،، وئیلے شوی دی.(۵) د دے مطلب هم دا دے.چه لکه څنګه نمر د آسمان د کنارو نه راخیژی.اوبیا دنیا روښانه کوی.اودهغے نه ټول جهان فائده اخلی.دغه شان نبی ﷺ سراج منیر جوړ شو.اود فاران د افق نه راوختلو.چه ټولو کائناتو ترے رڼا حاصله کړه.د جهالت تیرے ختمے شوے.د علم اوفضل رڼاګانے خورے شوے.او د دوی د نور نه هر یو کس دخپل استعداد اوصلاحیت

---

(۱) فتح الباری (۲۳/۱) وعمدة القاری(۵۶/۱)_
(۲) الأنعام ۰۹۵)
(۳) فتح الباری(۲۳/۱)-
(٤) فتح الباری(۲۳/۱)_
(۵)﴿ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴾

مطابق کسب فیض اوکړلو

ابن ابی جمره رحمه الله فرمائی چه د نبی ﷺ د ..رؤیائے صالحه.. د ..فلق صبا.. سره تشبیه ورکړے شوه دېل څیز سره نه خکه چه د نبی ﷺ د نبوت د نمرد انواراتو شروع د ..رؤیائے صالحه.. نه شوے وه اوبه دے انواراتو کښے به پرله پسے زیادت کیدلو تردے چه شمس نبوت پوره روښانه شو لکه څنګه چه د صبا صادق رڼا خوریږی تردے چه نمر راوخیژی.او س چه د چا باطن روحانی وی.نو هغه به په تصدیق کښے د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه پشان شی.اوچه د چ باطن ظلمانی وی.نو دهغه باطن به په تکذیب کښے دابوجهل پشان ..خاپیرك..شی چه رڼا به نشی لیدلے.اوبیا به باقی خلق د دے دواړو درجو په مینځ کښے شی.اودخپل خپل استعداد مطابق به د نور نه کسب فیض کوی.(١)

قوله :ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ: یعنی بیا نبی ﷺ ته خلوت نشینی خوښه شوه.دلته د حُبِّبَ صیغه مجهوله راوړلے شوه.ظاهره دا ده.چه ددے محبت منشا دالله تعالی د طرف د دوی په زړه کښے القاء کول دی.چونکه ددے محبت څه ظاهری سبب نه وو.په انسانی تقاضو کښے څه تقاضا نه وه.بلکه روحانی تقاضا اوباطنی سبب وو.نوځکه ددے فاعل ظاهر نکړے شو

دخلوت فائدي بیا خلوت په ډیرو فائدو باندے مشتمل دے.① یوه فائده خو په دے کښے دا ده.چه سړے فارغ القلب وی.② دویمه په ذکرکښے آسانتیا وی.③ دریم د ډیرو منکراتو نه بچ وی.④ څلورم په خانله ناسته باندے په زړه کښے خشوع پیدا کیږی.سړے چه کله خانله وی.نو هغه ته خپل پوره حقیقت په نظر راځی.اودخپل عاجزئ اوکمزورئ استحضار ورته کیږی.⑤ پنځمه فائده دا ده.چه د بشری مالوفاتو او مرغوباتو نه انقطاع راشی.

دخلوت محبوبیت ① ددے ټولو فائدو د وجے چه په طبیعت کښے سکون وی په غور فکر او سوچ کښے آسانتیا وی.ددنیا اوددے د تعلقاتو سره تعلق نه وی.نو ددے دپاره د نبی ﷺ په زړه کښے دخلوت نشینئ محبت واچولے شو.

② یوه وجه دا هم کیدے شی.چه چونکه دوی په نبوت او وحی باندے مشرف کیدونکی وو.او وحی مکمله یکسوئی اوفارغ القلبی غواړی.نوځکه ددوی په زړه کښے د خلوت محبت پیدا کړے شو.چه د وحی سره ئے مناسبت پیدا شی.ځکه چه په خلوت سره پوره یکسوئی حاصلیږی.

قوله:وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ: حراء په مکه معظمه کښے یو مشهور غر دے.چه نن صبا ورته ..جبل النور.. وائی.د.. حراء.. په تلفظ کښے مختلف لغات منقول دی.په دے کښے دټولو نه اصح او افصح((بکسر الحاء وتخفيف الراء المفتوحة وبالألف الممدودة)) دے.(٢)

دخلوت دپاره دغار د انتخاب وجه باقی پاتے شوه دا خبره چه دخلوت دپاره دوی د غار

---

(١) فتح البارى (٣٥٥/١٢) كتاب التعبير باب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحي الرويا الصالحة)_

(٢) عمدة القارى(٤٨/١، ٤٩)_

انتخاب ولې اوکړلو؟

① ددې جواب بعضې حضراتو دا ورکړې دې چه په ظاهره ددې خلوت ماخذ بقایائې شرائع ابراهیم وو.مطلب دا دې.چه دحضرت ابراهیمؑ د شریعت بعضې احکام په خپل اصلي صورت کښې محفوظ پاتې شوي وو.په هغې کښې خلوت نشیني هم وه.نبي ﷺ ددې وجې خلوت اختیار کړې وو.اود نبي ﷺ نه وړاندې به د دوی نیکۀ په غار حراء کښې خلوت نشیني کوله.کله چه د نبي ﷺ نوبت راغلو.نو دوی د خپل نیکۀ په ګډئ کیناستلو اوهلته ئې خلوت اختیار کړلو.د دوی ترونو او د قبیلې خلقو دوی ته څه تعرض اونکړلو.خکه چه د ټولو په زړونوکښې د دوی قدر او عزت وو.(١)

② ابن ابي جمرهؒ فرمائي.چه نبي ﷺ د خلوت دپاره د غار حراء انتخاب خکه اوکړلو.چه دهغه ځائې نه بیت الله مخامخ په نظر راتلو.نوچه هلته به کیناستلو درې عبادتونه به ورته حاصلیدل.یو خلوت،دویم تعبد ، دریم د بیت الله زیارت.(٢)

خلاصه دا چه چونکه خلوت نشیني د پخوانو پیغمبرانوعلیهم السلام او د دوی د نیکه په معمولاتو کښې وه.اوبیا د غار حراء محل وقوع داسې وه.چه نه ډیره نزدې چه د آبادئ د شورشغب د وجې خلل پیدا کیدلو.اونه ډیره لرې.چه هلته تلل متعذر یا ګران وو.بیا د خلوت د نورو فائدو نه سوا هلته دوی په آرام سره د بیت الله زیارت هم کولې شو.نوخکه نبي ﷺ دهغه غار انتخاب اوکړلو.والله اعلم.

نبي کریم ﷺ به په کومه زمانه کښې خلوت کولو؟ بیا د نبي ﷺ دا خلوت به د ابن اسحاقؒ د تصریح مطابق په رمضان کښې وو.(٣) د مسلم شریف په یو روایت کښې دي.چه

«جاورت بحراء شهراً»(٤)

په «جوار» او «اعتکاف» کښې فرق: علامه سهیليؒ د حافظ ابن عبدالبرؒ نه نقل کړې دي.چه ،،جوار،، او ،،اعتکاف،،دواړه په یوه معنی دي.البته،اعتکاف په جمات کښې کیږي. او،،جوار،، په غیر دجمات کښې.هم دا وجه ده.چه د ،،جوار،، لفظ استعمال شوې دې.خکه چه غارحراء اګرچه د حرم په غرونو کښې دې.خوهغه د جمات نه بهر دې.(٥)

قوله: فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ وَهُوَ التَّعَبُّدُ: د ،،حنث،، معنی ګناه او نافرمانی راخي.اود باب تفعل یوه خاصه ،،سلب ماخذ،، ده.نو لکه چه د ،،تحنث،، معنی شوه.ازاله د ،،حنث،،.چونکه ازاله د حنث یا د ګناه نه کول په یو اعتبارسره طاعت اوعبادت کښې داخل دي.نوخکه د ،،تحنث،، لازمي تفسیرپه ،،تعبد،، سره شوې دې.

---

(١) فتح الباري (٣٥٥/١) کتاب التعبیرباب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحي الرؤیا الصالحة)_

(٢) پورتنۍ حواله)_

(٣) سیرت ابن هشام مع الروض الأنف (١٥٢/١، ١٥٣)_

(٤) صحیح مسلم کتاب الإیمان باب بدء الوحي إلی رسول الله ﷺ)_

(٥) الروض الأنف (١٥٣/١)_

علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه د ،،تحنث،، تعبير په ،،تعبد،، سره شوے دے.ځکه چه د عبادت په ذريعه ،،حنث،، لرے کولے شي.اوفرمائي.چه دغه شان د سلب ماخذ خاصيت د ،،تحنث،،نه علاوه ،،تحوب،،او،،تاثم،،هم دے.دغه شان د بعضے خلقو نه نقل دي.چه په کلام عرب کښے په باب تفعل کښے د سلب ماخذ خاصيت د ددے درے کلماتو نه سوا په بله کلمه کښے نه دے موندلے شوے.(۱)

خو علامه کرماني رحمه الله وغيره فرمائي.چه دا ټيك نه ده.ځکه چه ددے نه علاوه نور هم ډير الفاظ دي.چه په هغے کښے دا خاصيت موندلے شي.لکه ،،تحرج،، او ،،تخون،، وغيره.(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه د تحنث معني ده..يتحنف،، يعني دوی به د حنفيت اتباع کوله.د حنفيت نه مراد دين ابراهيمي دے.ددے تائيد ددے نه کيږي . چه د ابن اسحاق رحمه الله په روايت کښے ،،يتحنف،، راغلی دی.(۳) هسے هم اهل عرب ،،فاء،، په ،،ثاء،، سره بدلوی. (۴)

وهوالتعبد،، ددې ادراج څا کړې دې؟ دلته د ،،تحنث،، تفسير چه په ،،تعبد،، سره شوے دے. ددے په باره کښے تقريباً د ټولو اتفاق دے.چه دا ،،مدرج،، دے.خو دا ادراج د چا دے؟په دے باره کښے علامه طيبي رحمه الله خو په جزم سره فرمائي.چه دا ادراج د امام زهري رحمه الله دے.(۵)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه علامه طيبي رحمه الله په جزم باندے څه دليل نه دے پيش کړے.(۶) خو دا کيدے شي.چه حضرت عروه رحمه الله يا د هغه نه لاندے يو راوی دا تفسير کړے وی.(۷)

خو حقيقت دا دے.چه حافظ ابن حجر رحمه الله دلته څه مستنده خبره نه ده کړے. او تر کومے پورے چه د طيبي رحمه الله د جزم تعلق دے.د هغے وجه دا ده.چه عام طور داامام زهري رحمه الله عادت دا دے.چه دحديث په مينځ کښے د ګرانو الفاظو تشريح کوی.(۸)

په غار حراء کښې د نبي ﷺ د تعبد کيفيت: بيا دا چه نبي ﷺ به هلته څه قسم عبادت کولو. دا مسئله په اصل کښے د يوے بلے مسئلے په تحقيق باندے موقوفه ده.اوهغه مسئله دا ده.چه آيا نبي ﷺ د نبوت نه وړاندے په سابقه شريعتو کښے د يو شريعت په اتباع باندے مکلف وو که نه؟ په دے مسئله کښے د عالمانو درے اقوال دی.

① يوقول دا دے.چه په دے کښے توقف اوشي.ځکه چه په نقل سره څه خبره ثابته نه ده.او

---

(۱) اعلام الحديث (۱۲۸/۱)_
(۲)شرح کرماني (۳۲/۱) وعمدة القاری(۴۹/۱)_
(۳) فتح الباری(۲۳/۱)_
(۴) سيرت ابن هشام او الروض الانف (۱۵۳/۱)_
(۵) الکاشف عن حقائق السنن (۴۶/۱۱) کتاب الفضائل والشمائل باب المبعث وبدء الوحی)_
(۶) فتح الباری(۲۳/۱)_
(۷) فتح الباری (۷۱۷/۸) کتاب التفسير تفسير سورة العلق)_
(۸) تدريب الراوی (۲۷۴/۱) النوع العشرون:المدرج او شرح کرمانی) رحمهما الله (۳۲/۱)_

عقل د یو څیز نه مانع نه دے.

۲ دویم قول دا دے چه نبی ﷺ د سابقه شریعتونو مکلف وو

بیا ددے قول په قائلینو کښے اختلاف دے چه د کوم شریعت مکلف وو؟ بعضو خو دلته کښے هم د تعیین توقف کړے دے او بعضو حضراتو تعین کړے دے.

بیا په تعین کښے اختلاف دے بعضے عالمانو فرمائیلی دی چه د حضرت آدم ﷺ د شریعت مکلف وو او بعضے حضرات فرمائی چه دحضرت نوح ﷺ په شریعت باندے عمل کونکے وو بعضو د حضرت ابراهیم ﷺ او بعضو د حضرت موسی ﷺ اوبعضو د حضرت عیسی ﷺ نومونه اخستی دی او څه حضرات دا وائی چه په څه مخصوص شریعت باندے دوی عمل نه کولو بلکه په سابقه ټولو شریعتونو کښے چه کوم شریعت دوی ته په صحیح طریقه سره رارسیدلے وو په هغے باندے به ئے عمل کولو.

۳ دریم قول دا دے چه دوی د یو شریعت مکلف نه وو اوس سوال دا پیدا کیږی چه بیا دوی څنګه عبادت کولو.

بعضے حضرات فرمائی چه کوم مسکینان به هلته کښے ورغلل نوهغوی ته به ئے روټئ ورکوله خو دا هروختی عبادت نه دے.

بعضے حضرات فرمائی چه د دوی عبادت به هلته تفکر وو یعنی دوی به په کائناتو او مصنوعات الهیه کښے سوچ اوفکر کولو.

بعضے حضرات فرمائی چه د رؤیائے صالحه او کشف او الهام په ذریعه چه به د دوی په زړه د څه القاء اوشوه دهغے مطابق به ئے عمل کولو.

یوقول دا دے چه دالله تعالی د طرفه چه به د معرفت د انواراتو کوم فیضان کیدلو د هغے مطابق به ئے عبادت کولو.

یو قول دا دے چه په اصل کښے دا ،،نفس خلوت،، هم عبادت وو خکه چه په دے سره به د قوم او د هغوی د غلطو کارونو نه اجتناب راتلل.(۱) والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

قوله: اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ: ،،اللیالی،، د یتحنث دپاره ظرف دے او په مینځ کښے ،،وهو التعبد،، د یتحنث تفسیر دے تفصیل مخکښے تیر شوے دے.

بیا دلته د ،،لیالی،، نه صرف شپے مراد نه دی بلکه ورځے په کښے هم داخل دی. چونکه د خلوت دپاره شپه زیاته مناسب وی نوځکه دلته تغلیباً ،،لیالی،، ذکر شوے. (۲)

دا هم ممکنه وه چه چا وهم کړے وے چه نبی ﷺ به صرف د ورځ خلوت اختیارولو او د شپے به واپس راتلو ددے وهم د لرے کولو دپاره د ،،لیالی،، تصریح وارده شوه.

---

(۱) فتح الباری(۷۱۷/۸) کتاب التفسیر تفسیر سورة العلق (۳۵۵/۱۲) کتاب التعبیرباب أول ما بدئ برسول الله ﷺ من الوحی الرؤیا الصالحة وشرح کرمانی(۳۲/۱، ۳۳)_

(۲) شرح طیبی (۴۶/۱۱) کتاب الفضائل والشمائل باب المبعث وبدء الوحی)_

قوله ذَوَاتِ الْعَدَدِ: دلته تاسو گورئ چه د ..ليالى.. څه مخصوص تعداد ذکر نه دے بلکه د ابهام سره ((ذوات العدد)) ذکر شوے دے په دے کښے احتمال هم شته.چه هغه شپے به کمے وی اودا احتمال هم شته چه د دغه شپو شمار زيات وو.

علامه طيبى رحمه الله فرمانى (۱) چه د تقليل په اراده دلته د ((ذوات العدد)) قيد لګولے شوے دے لکه په قرآن کريم هم تقليل طرف ته د اشارے کولو دپاره فرمانى ﴿ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ ﴾ (۲)

علامه کرمانى رحمه الله فرمانى چه دلته د تکثير احتمال هم شته.ځکه چه ((ذوات العدد)) ويلے شوی دی اوهم زيات څيز د شمار محتاج وی.د کم څيز د شمارلو ضرورت نه وی.(۳)
دعلامه ابن ابى جمره رحمه الله رجحان هم دے طرف ته دے.چه دا د تکثير دبيان دپاره دے.په دے باندے هغوی جزم کړے دے.هغوی فرمانى.چه د عدد دوه قسمونه دی.يو عدد قليل اوبل عدد کثير.دلته چونکه مطلق دے.څه تعيين په کښے نشته.نوځکه به دلته د دواړو قسمونو مجموعه مراد وی.لکه چه د ((الليالى ذوات العدد)) مطلب به وی.((ليالى کثيرة)) (۴)
بعضے عالمانو فرمانيلى دی.چه ددے تعداد ځکه متعين نکړے شو.چه دا معلوم نه وو.ځکه چه حقيقت دا دے.چه نبى ﷺ به د خلوت په دوران کښے کله کله کور ته تشريف راوړلو.او ددے تشريف راوړلو موده خو معلومه نه ده.البته ټوله موده خلوت معلوم دے.لکه چه په مخکښے روايت کښے تير شوی دی.چه ((جاورت بحراء شهرا)) (۵) چه ما په غار حراء کښے يوه مياشت اعتکاف کړے وو.اوهلته مے خلوت نشينى کړے وه.مخکښے ددے بيان هم شوے دے.چه نبى ﷺ په رمضان
کښے په غار حراء کښے اعتکاف کړے وو.(۶) والله اعلم.

قوله: قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ: نزع ينزع د باب ضرب يضرب نه مستعمل دے.ددے معنى د ميلان او اشتياق سره د واپس کيدو ده.(۷)

---

(۱) پورتنئ حواله)_
(۲) يوسف ۲۰:۱۲
(۳) شرح کرمانى(۳۲/۱)_
(۴)فتح البارى (۳۵۵/۱۲) کتاب التعبير باب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحي:الرويا الصالحة)_
(۵) صحيح مسلم کتاب الإيمان باب بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ)_
(۶) فتح البارى (۷۱۷/۸) کتاب التفسير.تفسير سورة العلق)_
(۷) شرح طيبى (۴۷/۱۱) کتاب الفضائل والشمائل باب المبعث وبدء الخلق- وعمدة القارى (۴۹/۱)_

مطلب دا دے چه نبی ﷺ به په غار حراء کښے خلوت نشین شو اوعبادت به ئے کولو چه ترڅو پورے به ئے خپل اهل وعیال ته شوق نه وو پیدا شوے بیا چه کله به ئے شوق پیدا شو نو واپس به راتلو

په اسلام کښې رهبانیت نشته که د حدیث په دے جمله باندے غور اوکړی نو تاسو ته به معلومه شی چه د نبی ﷺ به کله مینه پیدا شوه نوخپل کور طرف ته به ئے تشریف راوړلو مطلقاً ئے تجرد نه وو اختیار کړے څکه چه تجرد او رهبانیت د حکمت خداوندی نه هم خلاف دے او د فطرت انسانی نه هم خلاف دے

د حکمت خداوندی نه څکه خلاف دے چه په رهبانیت کښے تجرد اختیارولے شی او چه کله تجرد اختیار کړے شی نو دا عالم باقی نشی پاتے کیدے څکه چه د عالم بقاء په نسل انسانی باندے ده او په تجرد اختیارولو سره نسل ختمیږی او نسل منقطع کیږی نو چه تجرد اختیار کړے شی نو د عالم د بقاء تصور نشی کیدے

او د فطرت انسانی خلاف څکه دے چه الله تعالی په انسانانو کښے څه جذبات پیدا کړی دی. څه صفات ئے په کښے ودیعت کړی دی که دغه قوتونه او صفات په صحیح ځائے کښے استعمال نشی نو هغه سبب د فساد او موجب د تباهئ او نقصان گرځی چونکه نبی ﷺ کامل حکیم او صاحب د فطرت سلیمه وو نو څکه ئے نه رهبانیت په خپله اختیار کړے وو او نه ئے د امت دپاره مشروع کړے دے

قوله وَيَتَزَوَّدُ لِذٰلِكَ: یعنی کله چه به نبی ﷺ دخلوت نشنئ دپاره تشریف اوړلو نو دوی به اسباب نه ترک کول نن صبا خلق ترک اسباب توکل گنړی حالانکه په ترک اسباب سره عام طور د تعطل لار هواریږی.

هم دا وجه ده چه یو صحابی ﷺ د نبی ﷺ نه تپوس اوکړلو چه یا رسول الله آیا زه خپل اوښ اوتړم او په الله بهروسه اوکړم او که هغه پرانستے پریږدم او په الله بهروسه اوکړم نو نبی ﷺ اوفرمائیل «اعقلها وتوکل»(۱)

بهرحال د ترک اسباب گنجائش د مستثنیاتو په شکل کښے خو کیدے شی په عامو حالاتو کښے دے ته توکل نشی وئیلے او نه ددے اجازت ورکولے شی په خپله د نبی ﷺ د تول ژوند ښکلے طریقه زمونږ وړاندے ده چه هغوی به د ترک اسباب په ځائے اسباب اختیارول او په الله پاک باندے به ئے پوره توکل لرلو.

قوله ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا: یعنی بیا به دوی حضرت خدیجه ﷺ ته تشریف راوړلو او د دومره ورځو توښه به ئے بیا واخستله.(۲)

---

(۱) سنن ترمذی کتاب صفة القیامة باب (بلاترجمة) رقم ۶۰ رقم الحدیث (۲۵۱۷) دغه شان اوگورئ حلیة الأولیاء (۳۹۰/۸) ترجمة عبدالرحمن بن محمد بن یحیی بن سعید القطان رحمهما الله)_

(۲) فتح الباری (۳۲/۱)_

د «لمثلها» د ضمير په مرجع کښے څو احتمالات دي. يواحتمال دا دے چه «عبادة» طرف ته راجع وي. کوم چه د مقام د قرينے نه معلوميږي. دغه شان د ..مرة.. خلوة.. او ..فعلة.. احتمالات هم شته.(۱)

علامه سراج الدين بلقيني رحمه الله فرماني چه دا ضمير ..سنة.. طرف ته راجع دے. اومطلب دا دے چه نبي ﷺ به هرکال يوه مياشت خلوت کولو. کله چه به راروان کال راغلو.نو د تير شوي کال په اندازه به ئے توښه واخستله.او د خلوت دپاره به ئے تشريف يوړلو.

خو په دے باندے اشکال دا دے.چه نبي ﷺ د مکے مکرمے اوسيدونکے وو.د اهل مکه په ژوند کښے فراخي نه وه.عام طور فقيري وه.اوعام طور به د هغوي ژوند په غوښه او پيو باندے تيريدلو.نوځکه په يو ځل د يوے مياشتے توښه اخستل اوهلته ذيره كيدل په ظاهره باندے ممکن نه ده.بياخاص کر د نبي ﷺ په مزاج کښے جود اوسخاوت وو.اوپه رواياتو کښے راځي.چه نبي ﷺ به په لاره د تلونکو خلقو هم خبر اخستل.اوپه هغوي به ئے خوراك ځکاك کول.نوځکه دا خبره ډيره لرے ده.چه د يوے مياشتے توښه د نبي ﷺ سره وه.ظاهره هم دا ده.چه دڅه ورځو توښه به ئے خان سره اوړله.کله چه به هغه ختمه شوه.نو واپس به راتلو.او بيا به ئے اوړله.دغه شان به دوي يوه مياشت پوره کوله.(۲)

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله په ..کتاب التفسير.. کښے ددے حديث شرح کوي.اودخپل استاذ سراج الدين بلقيني رحمه الله اتباع کوي.اودا اظهر ګرځوي.خوچه کله ..کتاب التعبير.. ته رسي.نوپه هغے کښے د خپل قول نه رجوع کوي.اود پورتنو اسبابو په بناء قول ثاني اختياروي.(۳) والله سبحانه وتعالى اعلم.

قوله: حَتّٰى جَاءَهُ الْحَقُّ: دلته په حديث باب کښے د «جاءه» لفظ دے.حالانکه د کتاب التفسير اوکتاب التعبيرپه روايت کښے «فجئه» راغلي دي. يعني ناڅاپه دوي ته حق راغلو.

امام نووي رحمه الله فرماني.چه ..فجئه.. ئے ځکه اوفرمائيل.چه نبي ﷺ ته دا توقع نه وه.چه په دوي به فرشته نازليږي.اودوي ته به نبوت ورکولے شي.(۴)

علامه سراج الدين بلقيني رحمه الله په دے باندے دا اشکال کړے دے.چه نبي کريم ﷺ ته خوب کښے بعينه هم هغه صورت پيښ شوے وو.کوم چه په ويخه وو.نوځکه على الاطلاق دا وئيل چه د نبي ﷺ څه توقع نه وه.صحيح نه ده.(۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرماني.که په خوب کښے نبي ﷺ ته څه څيز په نظر راغلي وي.نو ددے

---

(۱) فتح الباري(۱۷/۸) کتاب التفسير.تفسير سورة العلق)_

(۲) فتح الباري (۳۵۵/۱۲، ۳۶۵) کتاب التعبيرباب أول ما بدئ ... ﷺ الخ)_

(۳) فتح الباري (۳۵۵/۱۲) کتاب التعبير.باب أول ما بدئ به..إلخ)_

(۴) شرح نووي على صحيح مسلم (۸۹/۱) کتاب الإيمان باب بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ)_

(۵) فتح الباري(۳۵۶/۱۲) کتاب التعبيرباب أول ما بدئ به ...إلخ)_

نه دا ښکاره لازميږي چه د دوى دا توقع هم وه چه په ويخه به هم دا څيز راپيښيږي نوځکه دلته څه يقيني فيصله کول نه دى پکار.([1])

..الحق،، نه مراد څه دی؟ علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه د ..حق،، نه مراد يا خو ..امرحق،، يعنى وحى ده اويا ..رسول الحق،، مراد دے يعني د ..حق قاصد،، ددے نه به مراد حضرت جبريل عليه السلام وى.([2])

علامه بلقيني رحمه الله فرمائى چه د ..حق،، نه مراد ((الأمرالبين الظاهر)) دے.([3]) والله سبحانه اعلم.

قوله: فَجَاءَهُ الْمَلَكُ: يعني دوى ته فرشته راغله.

دلته سوال دا دے چه نبى ﷺ ته څنګه معلومه شوه چه دا راتلونکے فرشته ده؟

امام اسماعيلى رحمه الله فرمائى چه په اول کښے نبى ﷺ ته معلومه نه وه چه دا فرشته ده البته چه کله فرشته راغله اوملاقات ورسره اوشو نوددے نه پس نبى ﷺ ته معلومه شوه چه دا فرشته ده نو په روستو معلوميدو سره نبى ﷺ د هغې نه په ..فرشتے،، سره تعبير اوکړلو.([4])

سراج الدين بلقيني رحمه الله فرمائى چه ممکن ده چه نبى ﷺ ته د خپل ماشوموالى واقعه ياده وه (يعني واقعه د شق صدر) خوپه دے کښے اشکال دا دے چه د ماشوموالى په واقعه کښے نبى ﷺ ته څنګه معلومه شوے وه چه دا فرشته ده؟([5])

دا هم کيدے شى چه دا تعبير د حضرت عائشے رضي الله عنها وى.([6])

بهرحال په دے درے واړه جوابونو کښے د ټولو نه ښه اوغوره جواب دامام اسماعيلى رحمه الله معلوميږي چه نبى ﷺ ته څه هم معلوم نه وو صرف دومره ورته معلومه وه چه يو راتلونکے راغلو روستو ورته پته اولګيدله چه راتلونکے فرشته ده نواول ورته دهغې متعلق علم نه وو دعلم راتلو نه پس ئے دهغې نه په امرمعلوم سره تعبير اوکړلو دا داسے ده لکه چه زمونږ د يو کس سره ملاقات اوشى اول خو دا ګنړو چه دا څوك سړے دے خوچه کله ورسره د ملاقات نه پس تعارف اوشى .اومونږ ئے اوپيژنو نوکه روستو د اول حالت قصه بيانول وى نوهم داسے به وايو .چه زمونږ ملاقات د فلانى کس سره شوے وو. والله اعلم

بيا دلته د ..الملك،، نه مراد حضرت جبريل عليه السلام دے اصحاب سير ددے صراحت کړے دے.([7])

---

(۱) پورتنئ حواله)_

(۲) شرح طيبى(۴۷/۱۱) وفتح البارى (۳۵۶/۱۲) كتاب التعبيرباب أول ما بدئ به ..إلخ)_

(۳) فتح البارى (۳۵۶/۱۲)_

(۴) پورتنئ حواله)_

(۵) پورتنئ حواله)_

(۶) فتح البارى(۳۵۶/۱۲)_

۷) الروض الأنف للسهيلى(۱۵۳/۱)اوفتح البارى(۳۵۶/۱۲)_

د فرشتې راتلل په کومه ورځ، په کوم تاریخ، او په کومه میاشت کښې وو او په هغه وخت کښې د نبی ﷺ عمر څومره وو؟

دوی ته د وحی راتلل د دوشنبه(گل) په ورځ شوے وو. په دے کښے د چا اختلاف نشته.(۱)
مشهوره دا ده چه په ربیع الاول کښے فرشته راغلے وه. په اول یا په اتم تاریخ.(۲)
() دویم قول دا دے چه په ۲۷ رجب باندے د دوی بعثت شوے وو.(۳)
() دریم قول دا دے چه د دوی بعثت په رمضان کښے شوے وو. بیا د رمضان په تاریخونو کښے اختلاف دے اووم، یا اوولسم، یا څلیرویشتم تاریخ کښے دوی ته فرشته راغلے وه.(۴)
په رمضان کښے د راتلو قول ته حافظ ابن حجر رحمه الله ترجیح ورکړے ده.(۵) ځکه چه مخکښے د ابن اسحاق رحمه الله په حواله سره مونږ ذکر کړی دی چه نبی ﷺ به په رمضان کښے اعتکاف کولو. او هم د دغه اعتکاف په دوران په غارحراء کښے فرشته راغلے وه. یحیی صرصری رحمه الله هم دا اختیار کړے دے. او په خپله قصیده نونیه کښے فرمائی.

وأتت علیه الوحی أربعون فأشرقت شمس النبوة منه فی رمضان(۶)

دا حضرات دویم دلیل دا پیش کوی چه په قرآن کریم کښے دی چه ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ أُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ﴾ (۷) چه د قرآن کریم نزول په رمضان کښے شوے دے.

خوکوم کسان چه په ربیع الاول کښے راتلل منی. هغوی دا وئیلی شی چه د ﴿أُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ﴾ معنی دا ده چه د لوح محفوظ نه ,,بیت العزت،، ته په رمضان کښے نازل شوے دے. اوبیا دهغه ځائے نه نجماً نجماً دضرورت مطابق زمکے ته راغلے دے.(۸) یا دا معنی چه ﴿أُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ﴾ «أی فی شأن رمضان وتعظیمه وفرض صومه»(۹) یعنی د رمضان میاشت هغه میاشت ده چه ددے په عظمت کښے قرآن نازل شوے دے. اوهم ددے میاشتے روژے په کښے فرض شوی دی. دحافظ ابن القیم رحمه الله رجحان هم دے طرف ته معلومیږی چه ددوی بعثت په ربیع الاول کښے شوے وو.(۱۰) والله سبحانه اعلم.

---

(۱) زادالمعاد فی هدی خیرالعباد لابن القیم رحمه الله (۷۷/۱)_
(۲) فتح الباری (۳۵۶/۱۲، ۳۵۷) کتاب التعبیر باب أول ما بدئ به ...إلخ)_
(۳) پورتنۍ حواله)_
(۴) پورتنۍ حواله)_
(۵) فتح الباری(۳۵۶/۱۲)_
(۶) زادالمعاد(۷۵/۱)_
(۷) سورة البقرة:۱۸۵)_
(۸) پورتنۍ حواله)_
(۹) مخکنۍ حواله)_
(۱۰) پورتنۍ حواله)_

یا د بعثت په وخت کښې د نبی ﷺ عمر څومره وو؟ په دے کښې لږ اختلاف دے.
مشهوره دا ده چه ددوی عمر په دغه وخت کښې څلویښت کاله وو بیا بعضے وائی چه لس ورځې زیاتی وے بعضو ونیلی دی چه څلویښت ورځې زیاتی وے بعضے وائی چه دوه میاشتے زیاتی وے اوبعضے وائی چه دوه کاله زیاتی وو یعنی دوه څلویښت کاله ددوی عمر وو بعضے حضرات وائی چه درے کاله زیاتی وو یعنی د درے څلویښت کالو په عمر کښې دوی مبعوث شوی دی اوبعضے حضرات وائی چه پنځه کاله زیاتی وو یعنی عمر شریف ئے پنځه څلویښت کاله وو.(۱)
اوکه دا اومنلی شی چه په نبی ﷺ باندے د وحی نزول په رمضان کښې شوے وو. نو بیا خو به یا دا ونیلی کیږی چه ددوی عمر درے څلویښت اوشپږ میاشتے وو په څلویښتم کال کښې دوی داخل شوی وو یا به داسے ونیلی کیږی چه څلویښت نیم کاله وو ځکه چه د ربیع الاول نه تر رمضان پورے شپږ میاشتے وی.او په ربیع الاول کښې د نبی ﷺ ولادت شوے وو
اوکه د وحی نزول په ربیع الاول کښې اومنلے شی نو د نبی ﷺ پوره عمر په دغه وخت کښې څلویښت کاله جوړیږی والعلم عندالله سبحانه وتعالی.

قوله: فَقَالَ اقْرَأْ: دلته دا اشکال شوے دے چه نبی ﷺ امی وو دوی ته د لوستلو حکم ولے ورکړے شو.دا خو تکلیف بمالایطاق دے؟
ددے جواب ورکړے شوے دے چه دلته د ..اقرا.. نه مراد امرتکلیفی نه دے بلکه امرتلقینی دے.(۲) لکه څنګه چه طالب علم ته استاذ وائی چه لوله اومقصد ئے دا وی چه څنګه زه وایم نوهغه شان وایه.دلته کښې هم بلا تشبیه دحضرت جبریل ؑ مقصد دا وو چه څنګه درته زه تلقین کوم.هغه شان لوله.لکه چه د قرات حکم نه وو بلکه دتعلم قرات حکم وو خو نبی ﷺ د الفاظو د ظاهر نه دا خیال اوکړلو چه د قرات حکم راکولے شی.نو په جواب کښې دوی اوفرمائیل.«ماأنابقارئ»
علامه بلقینی ﷫ فرمائی چه دا ټوله قصه په دے خبره باندے دلالت کوی چه مقصود د هغه لفظ لوستل وو.کوم چه حضرت جبریل ؑ ونیل.اوس دے ته دا هم ونیلے شی چه «قل اقرأ» خو په دے کښې دا خطره وه چه نبی ﷺ دا اونګړی چه قل هم په کلام مقصود کښې داخل دے.اوددے هم قراءت مطلوب دے.(۳)
حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی چه د ..قل.. نه ونیلو وجه دا هم کیدے شی چه بیا به ابهام نه پاتے کیدلو.اود ..غط.. او ..ارسال.. نوبت به نه راتلو.اوهغه حکمتونه او فوائد به نه حاصلیدل.کوم چه په ..غط.. او ..ارسال.. کښې پټ وو.(۴)

---

(۱) فتح الباری (۱۲/۳۵۶)_
(۲) فتح الباری(۸/۷۱۸) کتاب التفسیر باب تفسیرسورة العلق)_
(۳) فتح الباری (۱۲/۳۵۷) کتاب التعبیرباب أول ما بدئ به ..إلخ)_
(۴) پورتنئ حواله)_

ابن اسحاق رحمہ اللہ د عبید بن عمیر رحمہ اللہ نه روایت نقل کړے دے په هغے کښے دا دی چه هغه ټول کیفیات کوم چه په بیدارئ کښے نبی ﷺ ته راپیښ شوی وو هغه دوی په خوب کښے لیدلی وو په هغے کښے دا وو چه حضرت جبریل علیه السلام ورته د ریښمو یوه جامه پیش کړله په هغے کښے یولیکل وو.(۱) دلته ممکن ده چه دهغے د لوستلو حکم ورته شوے وی. خو یو خیز چه په خوب کښے اولیدے شی نودا ضروری نه ده چه په بیدارئ کښے دے هم هغه وی علامه سهیلی رحمہ اللہ په ﴿الٓمّٓ ۚ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ﴾ کښے د «ذلك» مشار الیه د بعضے مفسرینو په حواله سره «نمط من دیباج» گرځولے ده.(۲) والله اعلم

عالمانو دلته دا احتمال هم ذکر کړے دے چه «اقرأ» امر تکلیفی دے.(۳) په دے صورت کښے ددے نه د ،، تکلیف بما لا یطاق،، جواز ثابتیږی.

تکلیف بما لایطاق جائز دی که نه؟ خودلته دا اشکال کیږی چه دا امرتکلیفی شی نودا تکلیف بمالا یطاق دے.اودا ټیك نه دے.

په دے مقام کښے د ،،تکلیف بمالایطاق،، په سلسله کښے دومره خبره یاد ساتئ چه دا مسئله په مختلف فیه مسائلو کښے ده.

د اشاعرؤ مسلك دا دےچه تکلیف بمالایطاق جائز دے.اود نورو حضراتو مسلك دا دےچه تکلیف بما لایطاق جائز نه دے.(۴) الله تعالی فرمائیلی دی.﴿ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۭ﴾ (۵)

خو اشاعره ددےآیت په باره کښے دا جواب ورکوی چه ددےآیت شریفه نه خو دومره معلومه شوه چه الله تعالی د طاقت نه زیاتی چاته تکلیف نه ورکوی.ددے عدم تکلیف نه د مکلف کولو د جواز نفی نه ثابتیږی.مطلب دا چه دا کیدے شی چه الله تعالی مکلف نکړی.خود دے نه لازمیږی چه په مکلف کولو باندے قادر نه دے.دا دواړه څیزونه جدا جدا دی.

قوله: قَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ: ددےترجمه ،،زه لوستونکے نه یم،، هم کولے شی.او،، زه نشم لوستے،، ترجمه هم کیدے شی.دویمه جمله د اولنئ جملے په مقابله کښے غوره ده.

ددے وجه دا ده چه نبی ﷺ افصح العرب والعجم وو.د دوی بلاغت او فصاحت د اعلی درجے وو.نوځکه دا خبره څه عجیبه غوندے معلومیږی چه جبریل آمین یو څو کلمات په دوی باندے وئیل غوښتل.اودوی دے ورته اووائی چه زه لوستونکے نه یم.ددے څو کلماتو لوستلو دپاره دا ضروری نه ده چه سړے دے لوستونکے وی.بیا دا چه نبی ﷺ د اعلی درجے

---

(۱) سیرت ابن هشام مع الروض الأنف (۱۵۳/۱، ۱۵٤)_
(۲) الروض الأنف للسهیلی(۱۵٤/۱)_
(۳) فتح الباری(۷۱۸/۸)_
(۴) تفسیر قرطبی(۴۳۰/۳)_
(۵) البقرة: ۲۸۶)-

فصاحت مالك وو په فصاحت كښې د دوى نظير نه وو.دا كلمات نبى ﷺ په آسانئ سره ادا كولې شونې نودا ونيل پكار دى.چه نبى ﷺ اوونيل.چه زه لوستې نشم.(١)

ب: د نبى ﷺ د نه لوستلو وجه دا وه.چه دوى په غار حراء كښې يواځې عبادت كولو.چه ناڅاپه فرشته راغله او ددوى نه ئې د ((اقرأ)) مطالبه اوكړله.د دغه حالاتو د وجې نبى ﷺ متأثره شو.بل طرف ته د وحى د عظمت بوج هم وو.ددې وجوهاتو په بنا نبى ﷺ اوفرمائيل.چه زه لوستل نشم كولې.

دا داسې ده.لكه چه مونږ عام طور ګورو.چه يوطالب علم ډير ذهين وى.خوچه مشر استاذ ته د امتحان وركولو دپاره كينى.نودومره په ويره كښې شى.چه آواز ئې نه خيژى.

دغه شان په نبى ﷺ باندې د بشريت كيفيت طارى شو.اوددې وجې هغوى اوفرمائيل.چه زما ژبه كار نه كوى.زه لوستل نشم كولې.

په ،،ماانا بقارى،، كښې ،،ما،، نافيه ده كه استفهاميه؟ قاضى عياض رحمه الله په دې كښې د عالمانو رحمهم الله اختلاف نقل كړې دې.بعضې عالمان ئې نافيه ګرځوى.اوڅه ئې استفهاميه منى.(٢)

علامه سهيلى رحمه الله په ((الروض الأنف)) كښې د ابن اسحاق رحمه الله په روايت كښې د ((ماأنا بقارئ)) په ځائې د ((ماأقرأ)) لفظ راغلې دې.فرمائى.چه په دې ،،ما،، كښې دوه احتمالات دى.يو د استفهام،، مطلب دا چه تاسو تپوس كوئ.چه څه اووايم؟ او دويم احتمال دا دې.چه ،،ما،، د نفى ده.نو مطلب به داشى.چه ((ماأحسن أن أقرأ)) زه لوستل نشم كولې.(٣)

تركومې پورې چه د صحيحينو د روايت تعلق دې.چه د ((ما أنا بقارئ)) الفاظ دى.نودا ،،ما،،نافيه ده.(٤)

خوحافظ ابن حجر رحمه الله د حضرت عروه رحمه الله نه د ((كيف أقرأ)) الفاظ او د حضرت عبيد بن عمير رحمه الله نه د ((ماذا أقرأ)) الفاظ اود امام زهرى رحمه الله نه د ((كيف أقرأ)) الفاظ نقل كړى دى.(٥) دا ټول روايتونه په ((ماأنا بقارئ)) كښې ددې قول تائيد كوى.چه ،،ما،، استفهاميه ده.

اګرچه ونيلې شى.چه ددې رواياتو نه تائيد ضرور كيږى.خودا ټول مراسيل دى. حالانكه د صحيحينو روايت ثابت السند دې.اوكه يو كس په اختلافاتو باندې د نظر كولو نه بغير اوګورى.نوسمدستى ذهن ته دا راځى.چه دا ،،ما،،نافيه ده استفهاميه نه ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دا ،،ما،، نافيه ده.استفهاميه نه ده.ځكه چه ددې ،،ما،،په

---

(١) امدادالبارى (٣/٧٢)_

(٢) شرح نووى على صحيح مسلم (١/٨٩) كتاب الإيمان باب بدء الوحى إلى رسول الله ﷺ_

(٣) الروض الأنف(١/١٥٥)_

(٤) الروض الأنف (١/١٥٥)_

(٥) فتح البارى(١/٢٤)

خبر باندے..با.. داخله ده.او..با.زایده.. د ..ما نافیه.. په خبر داخلیږی.د ..مااستفهامیه.. نه پس ..با.. نه راځی.اګرچه امام اخفش د ..ما استفهامیه.. نه پس د ..با.. راتلل جائز ګرځولی دی.خودا شاذ دی.(۱)

خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ..مااستفهامیه.. ته غلط وئیل تیک نه دی.ترکومے پورے چه د..با.. د دخول تعلق دےنو دا خو اخفش جائز ګرځولے ده.بیا چه موند روایات هم موجود وی نود استفهامیه د غلط ګرځولوڅه مطلب؟ (۲)

د..مااناً بقارئ.. جملې د مکرر راوړلو وجه حافظ ابوشامه رحمه الله فرمائی چه په اولنی «ماانا بقارئ» کښے ..ما.. نافیه ده.اونبی ﷺ د امتناع خبر ورکوی.یعنی نبی ﷺ دا فرمائی چه زما دپاره لوستل ممکن نه دی.

اوپه دویم خل کښے ..ما.. هم نافیه ده.خودا خل د امتناع دپاره نه بلکه د نفی محضه دپاره ده چه زه خو لوستونکے نه یم.نوڅنګه اولولم؟

اوپه دریم خل ..ما.. استفهامیه ده یعنی نبی ﷺ تپوس کوی چه اوښایه چه زه څه اولولم؟د استفهامیه تائید دهغه مراسیلو نه کیږی.کوم چه مونږ مخکښے اوس ذکر کړل.(۳)

په ..ما.. نافیه او استفهامیه کښې د تطبیق صورت دحافظ ابوشامه رحمه الله په دے تقریر سره په نفی او استفهام باندے دلالت کونکی روایاتو په مینځ کښے تطبیق هم کیږی.څکه چه چونکه نبی ﷺ په خلوت کښے دالله تعالی په عبادت کښے مستغرق وو.اود عبدیت شان به کمال ته رسیدلے وو.په داسے حالت کښے چه کله جبریل آمین «اقرأ» اووئیل.نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه «ماانا بقارئ» چه زه لوستل نشم کولے.بیا چه کله جبریل آمین زور ورکړلو.او دے فرمائیل چه «اقرأ» نو نبی ﷺ اوخودل.چه «ماانا بقارئ» زه خو امی یم «کیف اقرأ» چه بیا جبریل آمین زور ورکړلو.او «اقرأ» ئے اووئیل.نونبی ﷺ اوفرمائیل.چه «ماذا اقرأ» څه اولولم.داسے د نفی او استفهام په ټولو روایاتو کښے تطبیق راځی. والعلم عندالله سبحانه وتعالی.

قوله قال فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي : د طبرانی رحمه الله په روایت کښے د..غطنی.. په ځائے ..غتنی.. دے اوپه مسند ابوداود طیالسی رحمه الله کښے «فأخذ بحلقی» دے.(۴) ..غط.. او ..غت.. دواړه یوه معنی لری یعنی دباؤ کول.زور ورکول.او د دریم روایت مفهوم دا دے.چه جبریل آمین زما حلق اونیلو

(۱) پورتنی حواله)_
(۲) عمدة القاری(۱/ ۵۷)_
(۳) فتح الباری(۱/ ۲٤)_
(۴) فتح الباری(۱/ ۲٤)_

قوله حَتّٰى بَلَغَ مِنِّى الْجُهْدَ: د ..جهد.. لفظ ..بضم الجيم.. هم لوستلے شی او ..بفتح الجيم.. هم .بضم الجيم د گنجائش اوطاقت په معنی کښے استعمالیږی او ..جهد.. بفتح الجيم. معنی ده مشقت او تکلیف.(١)
بیا د ..الجهد.. دال مرفوع هم لوستلی شی او منصوب هم.(٢) په دے طریقه ټول څلور صورتونه شول چه تفصیل ئے دا دے.

(١) ((حتى بلغ منى الجهد)) (بضم الجيم وضم الدال) په دے صورت کښے به ..الجهد.. د ..بلغ.. فاعل گرځولے شی اومطلب به دا شی چه جبریل ماته دومره زور راکړلو چه زما طاقت خپل انتها ته اورسیدلو یعنی زما طاقت ختم شو.

(٢) ((حتى بلغ منى الجهد)) (بضم الجيم وضم الدال) په دے صورت کښے به هم ..الجهد.. د ..بلغ.. فاعل وی اومطلب به دا وی چه د جبریل آمین په زرو راکولو سره ماته کوم تکلیف او مشقت ملاؤ شو هغه تکلیف خپلے انتها ته اورسیدلو.

(٣) ((حتى بلغ منى الجهد)) (بضم الجيم وفتح الدال) په دے صورت کښے به ..الجهد.. د ..بلغ.. دپاره مفعول شی اوفاعل به ئے ..غط.. شی اومطلب به دا شی چه د جبریل زرو راکولو سره زما طاقت انتها ته اورسیدلو اوزما طاقت ختم شولو.

(٤) ((حتى بلغ منى الجهد)) (بفتح الجيم والدال) په دے صورت کښے به هم ..الجهد.. د ..بلغ.. دپاره مفعول شی او ددے فاعل به ..غط.. شی او مفهوم به دا شی چه د جبریل آمین زرو سره زما مشقت انتهاء ته اورسیدلو یعنی د مشقت انتهاء اوشوه.(٣) ددے څلورو واړو مجموعی مفهوم تقریباً یو دے.
بعضے حضراتو په آخری دواړو صورتونو کښے ..بلغ.. فاعل جبریل آمین گرځولے دے او مطلب ئے دا بیان کړے دے چه جبریل زما طاقت یا زما د مشقت انتهاء ته اورسیدلو.(٤)
علامه توربشتی فرمائی چه ..جهد.. مفعول گرځول یا خو وهم دے او یا په طریقه د احتمال دا بیان شوے دے هغه احتمال دا دے چه په دے صورت کښے به مفهوم دا شی چه فرشتے په نبی باندے پوره طاقت خرچ کړلو تردے چه نور طاقت ئے باقی پاتے نشو.(٥)
خوعلامه توربشتی فرمائی چه دا احتمال هم ټیك نه دے ځکه چه انسانی بدن د قوت ملکیه بالکیه ختمولو تقاضا نه کوی بیا خاص کر چه دابتداء نبوت وخت وو او په دوی باندے خوف او ویره هم راغلے وه.

---

(١) النهاية في غريب الحديث والأثر(٣٢٠/١)_
(٢) شرح نووى على صحيح مسلم (٨٩/١) كتاب الإيمان باب بدء الوحى إلخ)_
(٣) عمدة القارى (٥٧/١)_
(٤) پورتنی حواله)_
(٥) شرح طيبى (٤٨/١١) كتاب الفضائل والشمائل باب المبعث وبدء الوحى)_

یواشکال او دهغې جواب دلته چه کومو حضراتو د ..بلغ.. فاعل حضرت جبریل ﷺ گرځولے دے په هغوی باندے هم دا اشکال شوے دے چه د حضرت جبریل ﷺ طاقت خو ډیر زیات وو.نو بیا انتهاء ته د رسیدلو څه مطلب؟بلکه په داسے صورت کښے خو د نبی ﷺ ژوندے پاتے کیدل هم ممکن نه وو.

ددے یو جواب خو هم هغه دے چه د فرشتے پوره طاقت خرچ کول مقصود نه دی.

دویم جواب علامه طیبی رحمه الله دا ورکړے دے چه په هغه وخت کښے حضرت جبریل ﷺ په خپل اصلی صورت کښے نه وو.بلکه په انسانی شکل او صورت کښے وو.دلته طاقت هم ددے انسانی او بشری صورت مطابق مراد دے.نوځکه انتهاء ته رسیدل ممکن دی.په دے کښے مرگ واقع کیدل نه لازمیږی . (١)

ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی.چه په انسانی شکل اوصورت کښے کیدلو سره ملکی قوت چرته فناکیدے شی؟د قالبونو او صورتونو په تبدیلئ سره په حقائقو کښے تبدیلی راتلے شی؟یعنی د علامه طیبی جواب ټیك نه دے (٢)

خود ملاعلی قاری رحمه الله دا خبره ټیك نه معلومیږی.ځکه چه د ملك الموت او حضرت موسی ﷺ واقعه ده.چه کله ملك الموت دحضرت موسی ﷺ په خدمت کښے حاضر شو.او عرض ئے اوکړلو.چه زه ستا د روح قبض کولو دپاره راغلے یم.نو هغوی ورته پړق ورکړلو.اودهغوی سترگه راووتله.(٣)

خبره په اصل کښے دا ده.چه کله څوك خپل اصلی شکل پریږدی.اوبل شکل اختیار کړی.نو په هغه کښے هم هغه اثرات او خواص پیدا شی.گورئ که هم دا پیریان د مار یا لړم په شکل کښے ښکاره شی.اوچیچل اوکړی.نوسړے مری.اوکه څوك ئے په لرگی باندے اووهی.نو مری.خوکه دا د زمری یا هاتی په شکل کښے ښکاره شوی وو.نو ددے مقابله به گرانه وه.معلومه شوه.چه د شکلونو او صورتونو په بدلیدو سره اثرات هم بدلیږی.اوهم هغه خواص پیدا کیږی.کوم چه دا شکلونو او صورتونو وی.

،غط، او ،ارسال، او په دې کښې حکمتونه ..غط.. یعنی د زور ورکولو په حکمتونو کښے عالمانو فرمائیلی دی.چه ① یو حکمت دا دے چه نبی ﷺ د دنیاوی خیالاتو نه خالی شی. اود دے طرف نه ددوی زړه واوړی.(٤)

② دویم حکمت دا وو.چه دوی ته په دے خبره تنبیه ورکړے شوه.چه په تاسو ډیره لویه ذمه ورای اچولی شی.اوقول ثقیل به نازلولے شی.(٥)

---

(١)الکاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطیبی(٤٨/١١) کتاب الفضائل والشمائل باب المبعث وبدء الوحی)

(٢) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح (١٠٨/١١)_

(٣) صحیح مسلم (٢٦٧/٢) کتاب الفضائل باب من فضائل موسی ﷺ)_

(٤) فتح الباری(٧١٨/٨) کتاب التفسیر.تفسیر سورة العلق)_

(٥) پورتنۍ حواله)_

③ دریم حکمت دا وو.چه آیا د زور ورکولو نه پس دوی دخپل طرف نه وائی او که نه؟ معلومه شوه.چه دوی د خپل طرفه څه نشو وئیلے.نو دوی داعتماد قابل دی . اګرچه دا عندالله معلومه وه.خو نبی ﷺ ته ئے زور ورکړلو.اوپه خپله دوی ته اوخودلے شوه.چه ته معتمد ئے.دخپل طرف نه څه نشے وئیلے.(۱)

④ څلورم حکمت دا وو.چه دوی ته په دے خبره تنبیه ورکول وو که ته د خپل طرف نه قرات کول اوغواړے.نودا ستا د وس خبره نه ده.دالله تعالی په فضل سره په تا کښے قدرت پیدا کیدے شی.(۲)

⑤پنځم حکمت دا وو.چه دوی ته اوخودلی شی.چه دا څه تاته ښکاری.دا د وسوسو .وهمونو. اوخیالاتو د قبیلے نه نه دی.ځکه چه په وهمونو او وسوسوکښے بدن زوړولے نشی. هغه خو خیالی صورت وی.(۳)

⑥ شپږم حکمت دا وو.چه دا زور ورکول د نسبت پیدا کولو دپاره وو.ددے وضاحت به وراندے راشی.

په ،،غط،، کښې د تکراروجوهات بیا دا چه په دے..غط..کښے تکرار ولے راغلو؟نو په دے کښے هم ډیر حکمتونه ذکر شوی دی.

① علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی.چه داولنی ځل زور ورکولو مقصد دا وو.چه د دوی خیال د دنیاوی ټولو کارونو نه منقطع اوفارغ شی.اوکومه وحی چه دوی طرف ته کیږی.هغے طرف ته پوره متوجه شی.په دویم او دریم ځل ددے دتاکید او مبالغه دپاره زور ورکړے شو.(۴)

② بعضے حضراتو وئیلی دی.چه په اول ځل نبی ﷺ ته زور ورکړے شو.«لیتخلی عن الدنیا» دویم ځل زور ورکړے شو.«لیتفرغ لما یوحیٰ الیه» او په دریم ځل د موانست یعنی وحی سره د أنس پیدا کولو دپاره ورته زور ورکړے شو.

③ بعضے حضراتو یوه بله خبره کړے ده.هغه دا چه یوطرف ته الله تعالی انسانانو ته عقل ورکړے دے.نو دے سره ئے درے ښیزونه نور هم پیدا کړی دی.یو نفس. دویم طبع. او دریم شیطان.

④ د نفس اثر دا دے.چه شیطان خواهشاتو طرف ته مائله کیږی.د طبیعت اثر دا دے.چه انسان په غفلت او بے پرواهئ کښے پریوځی.اود شیطان اثر دا دے.چه دے په عادات مذمومه کښے اخته کیږی.

په اولنی ځل زور ورکولو د نفس د اثراتو زائله کولو دپاره وو.دویم ځل د طبیعت د اثر یعنی غفلت لرے کولودپاره وو.اودریم ځل عادات مذمومۍ ته توجه نه کولو دپاره زور ورکړے شو.

---

(۱)پورتنئ حواله)_
(۲) پورتنئ حواله)_
(۳) پورتنئ حواله)_
(۴) ارشاد الساری للقسطلانی رحمه الله)_

③ زمونږ بعضے استاذانو فرمائيلي دي چه په اصل کښے ددے ..غطات.. په ذريعه نبي ﷺ ته تنبيه ورکول وو.او اشاره وه هغه ازميښتونو او امتحاناتو ته کوم چه په راراون ژوند کښے دوی ته پيښيدونکي وو.

نوپه اول خل زور ورکولو سره دے طرف ته اشاره وه.چه د نبوت ذمه واري به ستاسو په اوږو باندے راځي.نوخلق به ستا مخالف شي.تراوسه پورے خو دوی تاته ..الصادرق الامين.. ونيل.ستا احترام به ئے کول.اوستا د اوچتو اخلاقو نه متاثره وو . خو چه کله ته د نبوت ذمه واري واخلے.او دوی ته ورشے.نود دوی محبت به په دشمنئ بدل شي.

په دويم خل زور ورکولو کښے دے طرف ته اشاره وه.چه صرف دا به نه کيږي.چه ددوی محبت به په عداوت بدل شي.اودوی به ستا مخالف شي.بلکه دوی به تاته قسم قسم تکليفونه رسوی.ستا په لاره کښے به ازغي اچوي.اوستا په عباداتو کښے به خلل اچوي.

او په دريم خل زور ورکولو کښے دے طرف ته اشاره وه.چه دوی به ستا د قتل سازش هم کوي.دوی به ستا د سرسودا هم کوي.اوتاسو به آخر مکه معظمه پريخودو ته مجبوره کيږئ.نو دا درے خله زور ورکول دے مرحله وار مشکلاتو او مسائلو طرف ته اشاره وه.(١)

④ حضرت مولانا مرتضی حسن صاحب چاندپوري رحمه الله فرمائي.(٢)چه د عامو انسانانو خو دا حالت وي.چه يو ماشوم وي.اول هغه په مکتب کښے کينولے شي.اول ورته تختئ باندے ليکل شروع کړي.هغه دا ټول علم ګڼري.چه په نيغه تختئ ليکل ختم کړي.نو په الټه تختئ ليکل شروع کړي.او دغه شان دے په يوه نوے مرحله کښے داخل شي.بيا چه اولنئ تختئ ختمه کړي.نوهغه دا اوګڼري.چه زه بالکل اوزګار شوم.خو بيا دويمه تختئ شروع شي.بيا چه قاعده په څه طريقه ختمه کړي.نودا اوګڼري.چه زه عالم فاضل شوم.اواوس مے تعليم مکمل کړلو.خو استاذ ورته په لاس کښے پاره ورکړي.اوبيا په يوه يوه پاره ورته ديشت پارے اووئيلي شي .اوس هغه ته يقين اوشي.چه زما تعليم پوره شو.خو هغه دوباره په درجه کښے کينولے شي.اوکتاب ورته خودل شروع شي.اول دالفاظو په چکر کښے وو.اواوس به په معنی کښے اونخلي.اوس بيخي يوه نوے قصه شروع شي.چه ده ته دهغے څه اندازه نه وي.او د معانيو دا سلسله داسے شروع شي.چه ددے غريب ژوند ختم شي . خو علم نه ختميږي.دا خو د عامو انسانانو خبره وه.

---

(١) ايضاح البخاري(١/٧٦، ٧٧)_

(٢) دوی دحضرت مولانا محمد يعقوب نانوتوي رحمه الله په بختورو شاګردانو کښے اود حضرت تهانوي رحمه الله په همعصرو کښے وو ذکي. طباع. تيزفهم عالمانو کښے وو زبردست مناظر وو ډير وخته پورے ئے په ..دربهنګه.. او ..مراد آباد.. وغيره کښے د تدريس د صدارت فرائض سنبال کړے وو او په آخر کښے د دارالعلوم ديوبند په عهده نظامت تعليم او بيا په نظامت تبليغ باندے فائز شو.په دارالعلوم کښے د درس او تدريس سلسله هم جاري وه.د دوی د بدعاتو اوقاديانيت رد سره زيات شغف وو.اوپه دے باره کښے د دوی ډير قابل قدر تاليفات هم شته کوم چه چهاپ شوی دي.د تفصيلي حالاتو دپاره اووری .مشاهيرعلمائے ديوبند (١/٥٨٣، ٥٨٥)_

خومحمدرسول الله ﷺ د خپل ذهانت او فراست نه په اوله ورځ دا پيژندلى وو چه ماته خومره لويه ذمه وارى په غاړه کولےشى.نوځکه دوى «ماأنابقارئ»اوفرمائيل. يعنى دا ذمه وارى سنبالول اودا سر ته رسول زما غوندے ضعيف البنيان انسان دپاره ډيره مشکله او گرانه ده.نو حضرت جبريل آمين نبى ﷺ ته زور ورکړلو.يو ځل بيا دوباره او بيا سه باره ئے دوى ته زور ورکړلو.چه نبى ﷺ ته دا احساس اوشى چه الله تعالى په نبى ﷺ کښے د بوج زغملو او د اوچتولوصلاحيت ايخودے دے.نو دحضرت جبريل آمين د درے ځله زور ورکولو نه پس نبى ﷺ ته احساس اوشو.اودوى هغه آياتونه تلاوت کړل کوم چه ورته ونيلى شول.(١)

⑤ حضرت شيخ الهندؒ هم دے سره نزدے نزدے خبره کړے ده.صرف عنوان بدل شوے دے.هغوى فرمائى.چه نبى ﷺ کښے عبديت په اعلى درجه وو.اود فنائيت په اوچته مرتبه کامياب شوے وو.نوځکه د دوى ته د خپل صلاحيت.لياقت او کمالاتو بالکل التفات نه وو.جبريل آمين دوى ته بار بار زور ورکړلو.اود دوى خيالات ئے جمع کړل او د مقام عبديت نه د وړاندے بوتلو کوشش ئے اوکړلو.دے دپاره چه دوى ته دخپل صلاحيت او استعداد اندازه وى.او ذمه دارى على وجه البصرة پورته کولے شى.(٢)

⑥ دا هم کيدے شى.چه په درے ځله زور ورکولو کښے دے خبرے طرف ته اشاره اوشوه.چه په تاسو باندے به د قول ،عمل او نيت په اعتبار سره ډيره لويه ذمه وارى اچولى شى.ځکه چه د وحى بنياد ايمان دے.اودا درے واړه د ايمان ارکان دى .په درے ځله زور ورکولو سره د ايمان د دے درے واړه ارکانو وزنيت طرف ته اشاره کړے شوه.

⑦ يو حکمت دا هم کيدے شى.چه درے ځله زور ورکولو کښے دا خودل مقصود وو.چه په قرآن کريم کښے به ډير عظيم الشان مضامين بيانولى شى.يعنى توحيد .احکام او اخبار.(٣)

⑧ يوحکمت دا هم ممکن دے.چه په دے تکرار کښے اشاره شوے وى.چه په مستقبل کښے به د درے قسمه سختو مقابله کول وى.(٤)

اوس هغه درے سختئ کومے دى؟

(الف)امام ابوالقاسم سهيلىؒ فرمائى.چه اولنئ سختى په هغه وخت کښے راغله .چه نبى ﷺ په شعب ابى طالب کښے بند شو.هلته د لوږے تکليف زغملو باندے مجبوره شو.او نور ډيرتکليفونه ورته ورپيښ شول.ځکه چه قريشو په خپلو کښے فيصله کړے وه.چه د محمد(ﷺ) او دده د مددگارو سره دے تعلق پريخودے شى .نه به دوى سره رشته کولے شى.اونه به دوى سره د خرڅولو او اخستلو معامله کولے شى.

---

(١) ايضاح البخارى(١/٨٦، ٨٧)_

(٢) ايضاح البخارى(١/٨٦، ٨٧)_

(٣) پورتنئ حواله)_

(٤) پورتنئ حواله)_

(ب) دویمه سختی په هغه وخت کښے راغله چه کله دوی د شعب ابی طالب نه رابهر شول اوکفرانو د قتل دهمکیانے ورکولے ددے په وجه دوی دپاره حبشه ته هجرت کول پیښ شو
(ج) اودریمه سختی په هغه ورځ کښے پیښه شوه. چه کله د نبی ﷺ د قتل سازش اوشو تردے چه نبی ﷺ د خپل وطن په پریخودو باندے مجبوره شو.اوهجرت ئے اوکړلو اودے خلقو دوی د وطن په پریخودو باندے مجبوره کړلو (۱)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه اوله سختته په شعب ابی طالب کښے محصور کیدل.دویمه سختته خپل وطن پریخودل.او دریمه سختته د احد په موقع پیښه شوه.د دوی نورانی مخ زخمی شو په هغے کښے د خود کړیٔ ننوتلے.اود دوی رباعیه (مخامخ غابنونه) شهیدان شول او د درے . . ارسالات. . نه درے آسانو ته اشاره وه .اوهغه دی ٥یسر فی الدنیا٥یسر فی البرزخ.او یسر فی الآخرة.(۲)

④ بعضے عالمان ارشاد فرمائی.چه په درے ځله زور ورکولو کښے درے سختو ته اشاره وه.یو دا چه ددے په یادولو کښے به شدت وی.دویم په دے باندے عمل کولو کښے به شدت وی.اودریم ددے په تبلیغ کښے به شدت وی.مطلب دا چه د قرآن کریم د لوستلو دپاره به د درے سختو مقابله وی.سړی لره دے ته تیاریدل دی .د لوستلو مشقت برداشت کول.اوبیا د عمل مشقت راتلل.اوبیا د تبلیغ د مشقت برداشت کولو نوبت راتلل.

⑩ بعضے حضراتو فرمائیلی دی.چه په اول ځل حضرت جبریل آمین دے دپاره ورته زور ورکړلو.چه دوی د عالم ناسوت نه رابهر شی.په دویم ځل ئے ددے دپاره زور ورکړلو.چه دوی په عالم ملکوت کښے داخل شی.او په دوی کښے ملکوتی صفات پیدا شی.اوپه دریم ځل ئے ددے دپاره زور ورکړلو.چه دوی ته ذات او صفاتو ته رسیدل حاصل شی.اونسبت حضوری او معیت مع الله دائمی حاصل شی.

⑪ حضرت شاه عبدالعزیزمحدث دهلی رحمه الله فرمائی.چه په اصل کښے دحضرت جبریل علیه السلام نبی ﷺ ته درے ځله زور ورکول د القاء نسبت دپاره وو.

د توجه قسمونه شاه صاحب رحمه الله فرمائی.د توجه څلور قسمونه دی.() توجه انعکاسی () توجه القائی () توجه اصلاحی () توجه اتحادی.

توجه انعکاسی په توجه انعکاسی کښے داسے وی.لکه چه یو کس دے.هغه بنه خوشبوی اولګوی.او د خوشبوئے لګولو نه پس یو مجلس ته لاړ شی اوکینی.نوهغه خوشبوئی تول محسوسوی.خو ددغه خوشبوئی اثر په هغه وخت کښے وی.ترڅو چه دغه سړے په مجلس کښے موجود وی.چه هغه لاړ شی.نوخوشبوئی غائبه شی.
دغه شان په توجه انعکاسی کښے وی.چه مرید د شیخ مجلس ته راشی.اود شیخ په قلب باندے چه کوم انوارات نازلیږی.نو په دغه مجلس د هغے نه مستفید کیږی. خو د شیخ د

---

(۱) الروض الأنف للسهیلی(۱۵۵/۱)_
(۲) فتح الباری (۷۱۸/۸)_

جدا کيدو نه پس څه اثر نه پاتے کيږی.
يا داسے اوګنړئ چه په توجه انعکاسی کښے د شيخ د قلب نورانيت د مريد په زړه باندے منعکس کيږی.څنګه چه شيشه بلب ته مخامخ کړے شی.نو بلب په شيشه کښے منعکس کيږی. او په شيشه کښے رڼا په نظر راځی.خو دا رڼا به ترهغه وخته پورے وی.ترڅو چه بلب شيشے ته مخامخ وی.اوچه کله د هغے نه اخوا شی.نوپه شيشه کښے رڼا نه پاتے کيږی.ددے صورت دا وی.چه کله مريد په ذکر اوفکر سره خپل زړه مجلی اوصفا کړی.نود شيخ د زړه انوارات په هغے کښے منعکس کيږی . خو دا نسبت د شيخ د مجلس سره خاص وی.دمجلس نه د پاسيدو نه پس ددے څه اثر باقی نه پاتے کيږی.
توجه القائی يا نسبت القائی ددے صورت بيخی هم داسے دے.لکه چه يو سړے ډيوه صحيح کړی.اود بلے ډيوے نه دغه ډيوه روښانه کړی.دغه شان چه مريد په ذکر اوفکر سره خپل زړه ښه صفا کړی.نو شيخ د خپل زړه د ذکر او حضور نه يو نور د مريد په زړه باندے واچوی.چه په هغے سره د هغه د زړه ډيوه روښانه شی.اوس که مريد د هغے حفاظت کوی.نودغه ډيوه روښانه وی.خوکه معمولی غوندے غفلت اوکړی.نو مړه شی.
دا نسبت د اولنی نسبت نه قوی وی.اود شيخ دمجلس پورے خاص نه وی.بلکه د مجلس نه پس هم نورانيت باقی وی.خو ډير ضعيف وی.چه په معمولی بے احتياطئ سره ختميږی.
توجه اصلاحی يا نسبت اصلاحی ددے مثال داسے اوګنړئ.چه يو درياب وی.دهغے نه يو نهر اوځی.اوس د درياب نه دغه نهر ته اوبه ورځی.اوکه معمولی غوندے خاشی بيشی راشی.نو اوبه هغه بيوی.او که څه غټ خيز حائل شی.نو اوبه اودروی.او نقصان رسوی.مثلاً چه يو غټ کاڼړے منفذ(د تلو لاره) باندے راشی.او اوبه اودروی.او يا په نهر کښے غټ سورے اوشی .چه په هغے سره ټول اوبه اوځی.
دغه شان چه کله مريد د ذکر اوفکر په ذريعه خپل زړه ښه صفا کړی.نو د شيخ د بحرمعارفو نه يو نهر دده زړه ته شروع ښی.اودهغے نه معارف او علوم دده زړه ته راځی.
دا نسبت د اولنی او دويم نسبت نه زيات قوی دے.او معمولی غوندے لغزش ددے د ختميدو سبب نه ګرځی.لکه څنګه چه پاڼړے او ډکی د اوبو په چپو کښے بهيږی .البته که ډير لوئے لغزش اوشی.د څه کبيره ګناه ارتکاب اوشی.نو ددے د انقطاع خطره پيدا کيږی.او د انقطاع نه مراد دا دے.چه دا نهر د لږ وخت دپاره اوچ شی .که سړے توبه اوباسی نو دوباره شروع شی.لکه څنګه چه د سړی د نهر منفذ بند شی.او د بنديدو نه پس ئے بيا کهولاؤ کړی.يا په هغے کښے د سوری پيدا کيدو يا د هغے د ماتيدو نه پس هغه ټيک کړی.
توجه اتحادی يا نسبت اتحادی په دے توجه کښے دا وی.چه شيخ خپل روح د مريد د روح سره متصل کړی.او خپل کمالات د هغه طرف ته منتقل کړی.دا القاء د نسبت د ټولو نه اوچت قسم دے.
دحضرت خواجه باقی بالله رحمه الله او يونانبائی واقعه په دے باره کښے دخواجه باقی بالله رحمه الله اويو نانبائی واقعه مشهوره ده.يوځل خواجه صاحب ته څه ميلمانه راغلل. اتفاقی خبره وه.چه په دغه موقع شيخ سره د دهغوی د قدراو عزت دپاره څه انتظام نه وو. شيخ غمژن وو.د

ميلمنو ميلمستيا كول ئے غوښتل او په كوز كښے لوړه وه د شيخ په گاونډ كښے يو نابنائى اوسيدلو هغه د شيخ پريشانى په څه طريقه محسوس كړله.اويو خوانچه ئے تياره كړه.اود شيخ په خدمت كښے ئے پيش كړله.حضرت ډيرزيات خوشحاله شو.اوهغه ئے قبوله كړه.او د ميلمنو قدر عزت ئے اوكړلو.او هغه نابنائى ته ئے اوونيل.غواړه څه غواړے.هغه ورته اوونيل حضرت ما دخپل خان پشان جوړ كړه.حضرت ورته اوفرمائيل.بل څه اوغواړه .هغه ورته اووونيل.زما خو بس هم دا حاجت دے.كله چه هغه ډير اصرار اوكړلو.نو حضرت هغه خپلے حجرے ته بوتلو.اوپه هغه باندے ئے توجه اتحادى اوكړه.لږ وخت پس د حجرے نه دواړه رابهر شول.نو په هغوى كښے څه امتياز نه وو.دا نه معلوميدله.چه حضرت كوم يو دے؟اوهغه نابنائى كوم دے؟البته ددے نه فرق معلوميدلو.چه يوپه هغوى كښے په هوش اوحواس كښے وو.اوبل بے خوده او مست وو.ددے توجه اتحادى اثر دا اوشو.چه هغه مسكين د هغے تحمل نشو كولے.اوپه څو ورځو كښے هغه وفات شو.

حضرت شاه عبدالعزيزؒ فرمائى.چه جبريلؑ چه نبى ﷺ درے خله زورلے وو .نو دا ئے د دے آخرنو درے واړو نسبتو د القاء دپاره زور وركړے وو.(١)

حضرت شيخ الحديث صاحب نور الله مرقده فرمائى.چه اولنے نسبت يعنى نسبت انعكاسى خو سمدستى په مخامخ كيدو سره حاصل شو.څكه چه نبى كريم ﷺ په غار حراء كښے څه مودے پورے د مجاهدے خلوت نشينئ اود ذكر اوفكر په ذريعه خپل زړه مبارك مجلى او صفا كړے وو.(٢)

بهرحال سركار دوعالم ﷺ د شاه عبدالعزيزؒ د رائے مطابق په دريم خل زور وركولوسره د حضرت جبريل ؑ صفات ملكيه په خپل خان كښے جذب كړل.لكه چه دوى مقام جبريل ؑ ته اورسيدلو.ددے نه پس نبى كريم ﷺ درے ديشت كاله ژوندے پاتے شو.په دے موده كښے به سيدالاولين والآخرين څومره زياته روحانى ترقى كړے وى.د هغے اندازه لګول زما او ستا د وس خبره نه ده.هم ددے نه څه اندازه اولګوئ.چه په شپه دمعراج كښے د نبى كريم ﷺ سره جبريل امين روان وو.چه مقام ..سدرى.. ته اورسيدل.نوهغوى د وړاندے تلو نه معذرت پيش كړلو.او نبى ﷺ وړاندے شو.

د علامه شبيراحمد عثمانىؒ يوه واقعه دصفات ملكيه د انتقال په باره كښے حضرت شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثمانىؒ يوه واقعه بيان كړے ده.دوى فرمائى.چه كله زه د حيدرآباد دكن شفاخانه ته لاړم.نوهلته ډاكټر د بجلئ په ذريعه د علاج ډيرے كرشمے اوخودلے.او بيا ئے اوونيل.كه تاسو اووائے.نو مونږ به ستا په بدن كښے بجلى داخله كړو.حضرت شيخ الاسلام خو اول پريشانه شو.خوډاكټرانو ورته اوونيل.چه د پريشانئ څه خبره نشته . تكليف به نه وى.

---

(١) تقرير بخارى شريف از حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده (٨٣/١تا ٨٤)_

(٢) تقرير بخارى(٨۶/١)_

هغوى په يوه كرسئ باندے كينولے شو اود پيتلو دسته نے ورته وركړه او مشين نے روان كړلو لږ وخت پس نے ورته اوونيل چه مونږ دومره بجلى ستاسو بدن ته دراورسوله.علامه صاحب رحمه الله ډير حيران شو.هغوى ورته اوونيل ته حيرانيګه مه .اوس به تاسو ته معلومه شى په دے موقع باندے د حضرت عثمانى رحمه الله متبنى مولانا يحيى هم وو.هغه ته اوونيلى شو چه لږ ده ته لاس وراوړه.چه هغه لاس ورنزدے كړلو نود هغوى د ګوتے نه يوه شعله غوندے اووتله هغه دا اوګڼړله.چه ګوته اوسوزيدله.علامه عثمانى رحمه الله هم تكليف محسوس كړلو معلومه شوه.چه څه اجنبى څيز نے په بدن كښے دے.بيا مولانا يحيى صاحب ته اوونيلى شو چه دے كلك اونيسه.اوس څه اثر نه وو.هغه هم دغه شان نيولے وو.چه يو دريم كس ته نے اوونيل چه ده ته لاس وراوړه.د لاس نزدے كول وو.چه بيا هم هغه كيفيت شو.اوچه بيا نے كلك اونيولو.نوڅه اثر نه وو.

حضرت علامه عثمانى رحمه الله فرمائى.چه نن يوه لويه مسئله حل شوه.معلومه شوه چه په زور سره نيولو كښے بعضے وخت د صفاتو په انتقال كښے آسانى راځى.جبريل آمين چه لكه نبى ﷺ كلك اونيولو.نود نور د نور سره اتصال اوشو.اوهغه ملكوتى صفات ورته منتقل شول.او په نبى ﷺ كښے د وحى د تحمل او د هغے دوزن برداشت كولو استعداد پيدا شو (١)

قوله:فَقَالَ ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۞ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۞ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۞﴾:

د آيات مذكوره سره متعلق څو فوائد تاسو ګورئ چه دالله تعالى پيغمبر امى دے خو اولنى وحى چه كومه راځى.نوهغه د قراءت ده.لكه چه الله تعالى د قرات په ذكر كولو كښے هغه علومو ته اشاره كوى. كوم چه خپل پيغمبر ته وركوى.

بيا اولنى آيت كښے ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۞﴾ راغلى دى.تاسو ته دے معلومه وى.چه دالله تعالى د ذات او صفاتو د حقيقت نه مونږ واقف نه يو.مونږ دالله تعالى ذات او صفات دهغه د نومونو نه پيژنو.ددے نومونو مونږ ته علم شوے دے.او هم ددے نومونو په ذريعه مونږ دخالق اومخلوق. قديم اوحادث. عابد او معبود په مينځ كښے واسطه او رابطه پيژنو.هم دا وجه ده.چه دلته د ﴿اِقْرَاْ﴾ وئيلوپه ځائے ﴿ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ نے فرمائيلى دى.او هم ددے وجے نے په ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ كښے د ..اسم.. اضافه كړے ده.

بيا دلته د ..اسم.. د لفظ اضافت .ربك.. ته شوے دے.او اشاره دے طرف ته هغه الله چه رب دے.اوپه تدريج سره هر يو څيز خپل كمال ته رسونكے دے.هغه تا هم په څلويښت كاله كښے په تدريج سره دے كمال ته راورسولے.دكوم كمال سره چه د نبوت د ذمه وارئ تحمل ممكن دے.نوته هم دے خبرے ته توجه وركړه.اوهم دے څيز طرف ته نظر كوه.چه ستا رب

(١) فضل البارى (١٦۶/١)_

ستا تربیت کونکے دے اوپه تدریج سره تالره کمال ته رسونکے دے.بیا ته ولے ناامیده کیږے او د خپل صلاحیت په باره کښے ولے متفکر کیږے؟!

قوله: اَلَّذِیْ خَلَقَ: دلته د ،،خلق،، مفعول نه دے ذکر شوے.ددے خودلو دپاره چه هغه دټولو مخلوقاتو خالق دے.

په دے جمله کښے هم نبی ﷺ خپل استعداد او قابلیت طرف ته متوجه کړے شوے دے.په دے طریقه چه هرکله هغه د ټول کائنات خالق دے.نوستا خالق هم دے.د کائناتو په شان هغه ته دا قدرت هم حاصل دے.چه په تا کښے د قرات طاقت پیدا کړی.نوتا ته په دے باره کښے فکرمند کیدو ضرورت نشته.

قوله: ﴿خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ﴾: یعنی الله تعالی انسان د چکه وینے نه پیدا کړے دے.دلته ئے د منیٔ ذکر نه دے کړے.ځکه چه په دے کښے د عالمانو ﷺ اختلاف دے.چه پاکه ده که ناپاکه.بلکه د وینے ذکر ئے کړے دے.کومه چه په اتفاق سره ناپاکه ده.اولا یعقل او جماد هم دے.په دے کښے في نفسه څه پوهه او استعداد هم نشته.خو الله تعالی په خپل قدرت کامله سره ددے نه یو عاقل او پوهه انسان پیدا کوی.هغه الله چه دا قدرت لری.نوکه په تاکښے علم پیدا کوی.اگرچه ته امی ئے.اوکه په تا کښے د قرات صلاحیت پیدا کړی.اگرچه ته قاری نه ئے.په دے کښے څه لرے والے دے؟

قوله: ﴿اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ﴾: داستفاضه او استفاده دپاره چه څنګه په طالب کښے استعداد ضروری وی.نودغه شان په فیض رسونکی او فائده رسونکی کښے پکار دی.چه بخل نه وی. دلته ئے په اولنو درے جملو کښے د طالب استعداد یعنی د نبی ﷺ صلاحیت.او قابلیت ذکر کړلو.اوپه دے آیت کښے ئے دا بیان کړے دے.چه تاته فائده رسونکے الله تعالی دے.هغه ډیرکرم خاوند دے.دهغه افاضه او افاده همیشه دپاره جاری ده.نو ستادپاره به هم جاری ده.او جاری به وی.زمونږ د طرفه به په افاضه او افاده کښے به څه رکاوټ او مشکل نه وی.ځکه مونږ سره خوبس کرم دے.او کرم دے.دکنجوسیٔ نوم او نشان هم نشته.

قوله: اَلَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ: په دے آیت کښے دے طرف ته توجه ورکړے شوے ده.چه تاسو غور اوکړئ.چه الله تعالی د قلم په ذریعه چه یو جماد غیرذی عقل دے.تعلیم ورکوی.دا صحیح بخاری کوم چه تاسو نن لولئ.هم د قلم برکت دے.دغه تاسو چه د قرآن کریم تلاوت کوئ دا هم د قلم برکت دے.نوکوم ذات چه د قلم په ذریعه علم خودلے شی.نوهغه ذات ستاپشان انسان په ذریعه چه داخلاق مجسمه ده.چه د ذکاوت. ذهانت.او فراست یوعدیم المثال نمونه ده.دعلم اشاعت به اونکړے شی؟ یقینی ده. چه هغه ستاسو په ذریعه د علم اشاعت د قلم نه زیات کولے شی.

بیا دے سره سره دے خبرے ته هم اشاره ده.چه څنګه دکاتب په لاس کښے قلم وی.اوهغه د هغے په ذریعه دعلومو اشاعت کوی.خو قلم د کاتب نه افضل نه وی . هغه خو کاتب چه څه

غواړي په هغې نې چلوي.قلم ته د انکارکولو جرات نشته.هغه د کاتب په لاس کښې ((کالميت فى يدالغسال)) پشان وى.

دغه شان دلته فرمانيلې شوى دى.چه جبريل آمين چه دهغه په ذريعه مونږ تاسو ته علوم رارسوو.ستا نه افضل نه دے.ځکه چه دهغه خو پخپله څه اختيار نشته.هغه خو په فرشتو کښې يوه فرشته ده.ددوى صفت ﴿وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ﴾ (۱) دے.هغوى ته خو چه څنګه حکم کولې شى.دهغې پابند وى.نودا شبه دے نشى کولې .چه جبريل آمين د نبى ﷺ استاذ ګرځولې شوے دے.اود نبى ﷺ نه افضل دے.

قوله: ﴿عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾: په دے آيت کښې هم د مخکنى آيت پشان نبى ﷺ ته اوخودلې شو.چه تاسو ته به د قرات په باره کښې څه پريشانى نه وى

تاسو غور اوکړئ.چه کله ماشوم د مور دخيټې نه پيدا شى.نوهغه عالم نه وى.څه هم نه پيژنى.نه خو ئې د وينا قدرت وى.اونه د اشارے کولو صلاحيت لرى.ددے باوجود الله تعالى دهغه نه عالم جوړ کړى.نوتاسو ته دے څه قسم فکر نه وى.ځکه چه د الله تعالى ورکړه تاسو سره ده.اود هغه تربيت تاسو سره دے.دغه شان دالله تعالى مشيت او اراده هم تاسو سره ده.يقيناً تاسو عالم هم جوړيدے شى.او معلم هم.دا ده ددے آياتونو خلاصه. والعلم عندالله سبحانه وتعالى.

ذکر شوى آياتونه د قرآن کريم خلاصه ده: حقيقت دا دے.چه په دے پنځو آياتونو کښې ټولو مضامين قرآنيه ته اشاره ده.هغه داسې چه د قرآن کريم مضامين په درے قسمه دى.يو توحيد يعنى دذات او صفاتو سره متعلق آياتونه،دويم احکام او دريم اخبار بالغيب او قصے وغيره.

ذات او صفاتو ته اشاره ده په ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ کښې د لفظ ،،رب،، او د ،،الذى خلق،، او ،،خلق الانسان من علق،، نه راوخى.دغه شان په﴿وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ﴾ کښې د لفظ د ،،رب،، نه هم راوخى.

ددے وضاحت دا دے.چه يو دالله تعالى ذات دے.او بل د الله تعالى صفات دى.بيا د الله تعالى صفات په دوه قسمه دى.صفات ذات او صفات افعال.

صفات ذات اووه دى.() علم() قدرت () اراده () سمع () بصر() کلام () اوحيات .د دے نه علاوه باقى ټول صفات افعال دى.لکه خالق،رازق وغيره.

بيا په صفات افعال کښې د ماتريديه او اشاعره دا اختلاف دے.چه آيا دا حادث دى که قديم. اشاعره وائى.چه دا صفات حادث دى.او په اصل کښې د قدرت او ارادے تعلق که د څه خاص فعل سره وى.نو دهغې نه دا صفت ښکاره کيږى.مثلاً که دتخليق سره تعلق وى.نو

---

(۱) التحريم ۶:۰۰۶).

دالله تعالی دپاره د ..خالق.. صفت راوخي اوکه ..ترزيق.. سره تعلق وی نود رازق صفت راوخي وهکذا

خوماتريديه وائي چه د سابقه اووه صفتونو سره يو اتم صفت هم شته کوم چه د تکوين صفت دے د صفات سبعه پشان دا هم قديم دے او تول صفات افعال ددے مختلف شوون احوال او صورتونه دی خلق هم دتکوين يو صورت دے او ترزيق هم د تکوين يو صفت دے

په صفات ذات او صفات افعال کښې فرق بيا په صفات ذات اوصفات افعال کښې څه فرق دے چونکه د ماتريديه په نيز تول قديم دی ددے وجے هغوی فرق بل شان بيان کړے دے هغه دا چه صفات ذات هغه صفات دی چه په هغے باندے الله تعالی متصف وی او دهغے د اضداد سره متصف نه وی الله تعالی عليم دے جاهل نه دے قدير دے عاجز نه دے مريد دے بے ارادے نه دے سميع دے اصم نه دے متکلم دے اخرس نه دے حی دے مړے نه دے

اوصفات افعال هغو ته وائي چه الله تعالی په هغے باندے هم متصف وی اودهغے په اضدادو باندے هم متصف وی لکه احياء او امانت. قبض او بسط. نفع اوضرر وغيره.

د اشاعرو په نيز چونکه صفات سبعه ذاتيه خو دی قديم او صفات افعال حادث دی د دے وجے هغوی بل شان تفصيل کړے دے هغوی دا وائي چه صفات ذات خو هغه صفات دی چه په هغے باندے الله تعالی د ازل نه تر ابد پورے متصف دے.

په ايت کښې صفات ذات او صفات افعال طرف ته اشاره تاسو دا اوګنړئ چه په لفظ د ..رب او لفظ د ..خلق.. کښے صفات ذات اوصفات افعال ته اشاره ده اوپه لفظ ..رب.. سره صفات ذات ته اشاره ده ددے وضاحت دا دے چه رب وائي تربيت کونکی ته اود تربيت کولو دپاره ضروری ده چه تربيت کونکے عالم وی جاهل تربيت نشي کولے د قدرت او ارادے خاوندوی ځکه چه عاجز او بے ارادے کس تربيت نشي کولې اودسمع او بصرمالك وی. ځکه چه دا د علم ذرائع دی او په تربيت کښے ددے ضرورت پيښيږی چه د چا تربيت کولے شی دهغه د خبرو اوريدو ضرورت وی د هغه دحالاتو د نګرانئ ضرورت وی . دغه شان بعضے وخت په تربيت کښے د خبرو ضرورت پيښيږی د خودلو او ورازده کولو ضرورت پيښيږی چه دا کوه اودا مه کوه او ددے نه بچ اوسه اوس ښکاره ده چه په چا کښے دا صفات وی هغه به ژوندے وی نو هم د دے ..رب.. د لفظ نه د الله تعالی تولو صفات ذاتيه ته اشاره کيږی اوچه څوك د صفاتو مالك وی د هغه به ذات هم وی نو ددے نه ذات هم معلوم شو.

خلاصه دا شوه چه د ..رب.. او ..خلق.. په صفت سره دالله تعالی صفات ذاتيه او صفات فعليه ته اشاره کيږی نو په دے دواړو لفظونو سره ذات. صفات. او توحيد ته اشاره اوشوه.

دغه شان وړاندے ﴿عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ راغلی دی د ..علم.. په لفظ سره دالله تعالی صفات ذاتيه ته اشاره کيدے شی نو مونږ ونيلی شو چه په ..خلق.. او ..علم.. سره دالله تعالی ذات او صفات کمال ته اشاره شوے ده ځکه چه ..خلق.. د صفات افعال ځنے دے او ..علم.. دصفات ذات ځنے دے.

دويم قرآني مضمون احکام دی دے ته اشاره په ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ او په ﴿اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ﴾ سره شوے ده. خکه چه ﴿اِقْرَاْ﴾ د امر صيغه ده. ددے نه معلومه شوه چه دا کلام به په احکامو باندے مشتمل وی.

او دريم قرآني مضمون اخبار بالغيب طرف ته اشاره په ﴿عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ سره اوشوه. خکه چه انسان د کوم څيز نه جاهل او ناواقف وو الله تعالى د هغې تعليم ورکړلو.

دټولو نه وړاندې کوم آيتونه نازل شوی دی؟ په دے مسئله کښے اختلاف دے چه دټولو نه وړاندے کوم آياتونه نازل شوی دی.

① دجمهورو قول دا دے چه د سورة علق ابتدائي پنځه آياتونه د ټولو نه وړاندے نازل شوی دی. لکه چه په حديث باب کښے مذکور دی. امام نووی رحمه الله فرمائي ((وهذا هوالصواب الذى عليه الجماهير من السلف والخلف))(١)

② دويم قول دا دے چه د ټولو نه وړاندے د سورت مدثر نزول شوے دے. دا د حضرت جابر رضي الله عنه او دهغوی د شاګرد حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله رائے ده.(٢)

د قول اول د ترجيح وجوهات خوقول اول د قول ثاني نه ارجح دے خکه چه

① د ﴿اِقْرَاْ﴾ ابتدائي آياتونو په نزول کښے قصه راغلے ده. چه فرشتے اوونيل ﴿اِقْرَاْ﴾ نونبی ﷺ ورته اوفرمائيل. ((ماأنا بقارئ)) که د سورة مدثر د آياتونو نزول شوے وو. نونبی ﷺ به ((ماأنابقارئ)) ولے وئيل. بلکه هغوی به سمدستی آياتونه شروع کړی وو؟(٣)

② دويمه وجه دا ده. چه سورة ﴿اِقْرَاْ﴾ کښے د قرات حکم دے. او په سورة مدثر کښے د انذار. او د انذار درجه د قرات نه پس ده. اول به قرات باندے قدرت پيدا شوے وی. اوبيا به انذار وی.

③ دريمه وجه دا ده. چه حضرت جابر رضي الله عنه چه څه فرمائي. دا دهغوی خپله رائے او ګمان دے.(٤) اوحضرت عائشه رضي الله عنها د نبی ﷺ نه نقل کوی. چه حضرت جبريل عليه السلام راغلو. او زما نه ئے د قرات مطالبه اوکړله. او ماته ئے د قرات حکم راکړلو. ما ورته اوونيل چه ((ماأنا بقارئ))

---

(١) شرح نووی على صحيح مسلم (٨٩/١) كتاب الإيمان باب بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ۔

(٢) عن يحيى بن أبي كثير سألت أبا سلمة بن عبدالرحمن عن أول ما نزل من القرآن. قال يا ايها المدثر. قلت: يقولون ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ﴾ فقال ابوسلمة. سألت جابربن عبدالله رضي الله عنه عن ذلك. وقلت له مثل الذى قلت. فقال جابر رضي الله عنه لا أحدثك إلا ما حدثنا رسول الله ﷺ قال: جاورت بحراء فلما قضيت جواري. هبطت فنوديت.. فأتيت خديجة فقلت: دثروني وصبوا على ماءً بارداً قال فدثروني وصبوا على ماء بارداً قال فنزلت ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَاَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ صحيح بخارى كتاب التفسير. سورة مدثر)۔

(٣) زادالمعاد (١٦٩/١) فصل في مبعثه وأول ما نزل عليه۔

(٤) پورتنۍ حواله)۔

درے خله دا خبره راپېښه شوه.او بيا حضرت جبريل ﷺ درے خله زور راكړلو وے وئيل چه ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ...إلخ﴾(١)

۴ څلورمه وجه دا ده چه د حضرت جابر رضي الله عنه په قصه كښې دا الفاظ راغلى دى چه ((فرفعت رأسى فإذا الملك الذى جاءنى بحراء جالس على كرسى بين السماء والأرض(٢)) ددے نه معلومه شوه چه د مدثر د نزول نه وړاندے د نبى ﷺ د جبريل ﷺ سره ملاقات شوے وو.(٣)

په دواړو رواياتو كښې تطبيق بعضے حضراتودا دواړه اقوال جمع كړى دى چه د هغې حاصل دا ده چه ① ((أول ما نزل على الإطلاق)) د﴿اِقْرَاْ﴾ ابتدائى آياتونه دى.او ..مدثر.. ته د ((أول ما نزل كاملاً)) خصوصيت حاصل دے.(٤) دحضرت جابر رضي الله عنه په روايت كښې سورة مدثر ته ((أول ما نزل)) په دے اعتبار سره وئيلے شوے دے.

۲ دويمه توجيه دا ده.چه د فترت نه پس چه كله دوباره د وحى نزول شروع شو. نود ټولو نه وړاندے سورة مدثر نازل شوے وو.په دے اعتبار سره دے ته اوليت حاصل دے.(٥)

۳ دريمه توجيح دا ده.چه د ..انذار.. سره مقيد دټولو نه وړاندے سورة مدثر نازل شوے دے.(٦) ۴ څلورمه توجيح دا ده.چه د ﴿اِقْرَاْ﴾ د آياتونو د نزول دپاره څه سبب نه وو.او د سبب پېښيدو نه پس د ټولو نه وړاندے سورة مدثر نازل شو.په دے وجه دے ته ((أول ما نزل))وئيلے شوے دے.(٧)

بيا دا ټول څلور صورتونه جمع كړے شوى دى.① د اول ما نزل په مصداق كښې يو قول دا دے چه ((بسم الرحمن الرحين)) د ټولو نه وړاندے نازل شوے دے.(٨)

خودا صحيح نه ده.ځكه چه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مروى دى.چه((كان النبى ﷺ لايعرف فصل السورة حتى تنزل عليه بسم الرحمن الرحيم(٩)))ددے نه معلومه شوه .چه د ..بسم الله.. نزول روستو شوے دے.

---

(١) شرح كرمانى (١٨/١٦٩) كتاب التفسير.تفسير سورة المدثر)_

(٢) صحيح بخارى كتاب التفسير.تفسير سورة المدثر)_

(٣) زادالمعاد (١/٨٥)_

(۴) الإتقان فى علوم القرآن (١/٣٢) النوع السابع:معرفة أول ما نزل)_

(۵) فتح البارى (٨/٦٧٨) كتاب التفسير.تفسير سورة المدثر((باب : ربک فكبر))_

(۶) پورتنئ حواله)_

(۷) پورتنئ حواله)_

(۸) الإتقان (١/٣٣ النوع السابع: معرفة أول ما نزل)_

(۹) سنن ابى داود كتاب الصلاة باب من جهر بها (أى بالبسملة) رقم ٧٨٨)_

علامه زمحشرى رحمه الله نقل كړى دى چه د اكثرو مفسرينو رحمهم الله په نيز سورة فاتحه اول ما نزل ده.[1]
خو دا هم ټيك نه ده.ځكه چه اكثر څه چه كثير هم قائل نه دى.ځكه چه ددے قائل صرف ابوميسره عمروبن شرحبيل دے.د دوى مرسل روايت امام بيهقى په دلائل النبوة كښے ذكر كړے دے.په هغے كښے دى.((فلما خلا ناداه يا محمد! قل بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞ حتى بلغ : وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۞))[2]
خوامام بيهقى رحمه الله فرمائى.چه ((فهذا منقطع)) [3]بله دا چه دا د صحيح روايت معارض دے.[4] نوځكه دے ته څه اعتبار نشته.
د عطاء خراسانى نه منقول دى.چه دسورة مدثرنه وړاندے ﴿يٰۤاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۞﴾ نازل شوے دے.[5]
خوحافظ رحمه الله فرمائى.چه عطاء ضعيف دے.[6]

په ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ به څنګه عمل كولې شى؟ د سورة علق په اولنى آيت كښے ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ ۞﴾ راغلے دے.اوپه دے كښے حكم وركړے شوے دے.چه دالله تعالى نوم واخله او لوله.بيا د كوم نوم نه به شروع كوى.په دے كښے ددے څه بيان نشته.
علامه ابوالقاسم سهيلى رحمه الله فرمائى.چه روستو ددے بيان په آيت كريمه ﴿بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا﴾ [7]كښے راغلے دے.ددے نه پس بيا بل آيت ﴿اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞﴾ [8]نازل شو.او بيا ددے نه پس مستقل حضرت جبريل عليه السلام د هر سورت په اول كښے بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ونيلو.[9] والله اعلم.

بسم الله د قرآن جزء دى كه نه؟ : دعالمانو مذاهب بسم الله د قرآن جزء دے كه نه؟ په دے كښے دعالمانو رحمهم الله درے مذاهب دى

---

(۱) تفسير كشاف (۷۷۵/٤) تفسير سورة العلق)_
(۲) دلائل النبوة للبيهقى (۱۵۸/۲) باب أول سورة نزل من القرآن)_
(۳) پورتنئ حواله)_
(۴) فتح البارى (۷۱۹/۸) كتاب الفسير.تفسير سورة العلق)_
(۵) فتح البارى(۶۷۸/۸) كتاب الفسير.تفسير سورة المدثر.باب وربك فكبر)_
(۶) پورتنئ حواله)_
(۷) هود : ٤۱)
(۸) النمل : ۳۰)_
(۹) الروض الأنف للسهيلى(۱۵٤/۱)_

① دامام مالك او بعضے احنفو رحمهم الله قول دا دے چه په سورة نمل كښےچه كومه بسم الله راغلے ده ﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ (١)دا خو په اتفاق سره د قرآن جزء دےاو په بل ځائے كښے جزء نه دے دامام احمد رحمه الله بعضے ملګرو دا د امام احمد رحمه الله مذهب ګرځولے دےاو يا ئے د هغوى نه د روايت په طور نقل كړے دے.(٢)

② دامام شافعي رحمه الله اود هغه د موافقينو رحمهم الله قول د دے مخالف دے.چه بسم الله د هر سورة يا آيت تامه دےاويا بعضے آيت دے.

③ دريم قول چه بسم الله د قرآن جزء دے خو د يو سورت جزء نه دے.دقرآن د جزئيت په حيثيت سره دا وئيلى شى.(٣) نبى كريم ﷺ دا لوستے ده.دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دے فرمائى.چه «بينا رسول الله ﷺ ذات يوم بين أظهرنا إذا غفى إغفاءة ثم رفع رأسه متبسماً فقلنا ما أضحكك يا رسول الله؟ قال أنزلت على انفاً سورة فقرأ ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾»

دا د عبدالله بن مبارك،داود ظاهرى،اود دوى د متبعينو رحمهم الله قول دے.دامام احمد رحمه الله نه هم دا منصوص دى.په احنافو رحمهم الله كښے يو جماعت ددے قائلين دى.(٤) علامه زيلعي رحمه الله فرمائى. «وذكر ابوبكر الرازى رحمه الله أنه مقتضى مذهب أبى حنيفة رحمه الله وهذا قول المحققين من أهل العلم فإن فى هذا القول الجمع بين الأدلة وكتابتها سطراً مفصلاً عن السورة تؤيد ذلك»(٥)

تسميه د سورة فاتحه جزء دي كه نه؟ بيا په دے كښے اختلاف دے.چه بسم الله د سورة فاتحه جزء دے كه نه؟

① دامام شافعي رحمه الله په نيز خو تسميه ددے جزء دے.او دامام مالك.امام ابوحنيفه رحمهما الله اود راجح قول مطابق د امام احمد رحمه الله په نيز ددے جزء نه دے.

② دامام احمد رحمه الله نه يو روايت كوم چه مرجوح دے.دا منقول دے.چه دا د سورة فاتحه جزء دے دبل سورة نه دے.(٦)

په مانځه كښې د تسميه دقرات حكم په مانځه كښے ددے د قرات څه حكم دے.په دے كښے هم درے اقوال دى.

① يوقول دا دے چه واجب ده.لكه څنګه چه د سورة فاتحه لوستل واجب دى.دا د امام شافعي رحمه الله مسلك دےاودامام احمد رحمه الله يوروايت اومحدثينو رحمهم الله ديوے ډلے قول دے.

---

(١) النمل :٣٠)_
(٢) نصب الرأية (٣٢٧/١) أقوال العلماء فى البسملة)_
(٣) پورتنئ حواله)_
(٤) نصب الرأية (٣٢٧/١)_
(٥) پورتنئ حواله)_
(٦) نصب الرأية (٣٢٧/١، ٣٢٨)_

② دويم قول دا دے چه په مانځه کښے تسميه مکروه ده.که جهراً وی اوکه سراً دا قول د امام مالك رحمه الله نه منقول دے.

③ دريم قول دا دے چه دا جائز ده بلکه صرف جائز نه بلکه مستحب ده دا امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دے اود امام احمد رحمه الله اواکثرو محدثينو مشهور قول دے.[1]

په تسميه کښې جهر مسنون دې که نه؟ د تسميه د قرات په صورت کښے جهر مسنون دے که سراً په دے کښے هم درے اقوال دی.

① د امام شافعی رحمه الله او دهغوی د موافقينو رحمهم الله مذهب دا دے چه جهر مسنون دے.

② دامام ابوحنيفه رحمه الله جمهورو فقهاؤ او د امام شافعی رحمه الله د بعضے ملګرو په نيز جهر مسنون نه دے.

③ داسحاق بن راهويه او ابن حزم رحمهما الله په نيز جهراً او سراً دواړه برابر دی چه کوم غواړے اختيار دے کړی.[2]

دا ټول تفصيلات د «الشئ بالشئ يذكر» په تقاضا سره دلته ذكر كړے شول.اصل خبره دا روانه وه.چه د بدءالوحی د مبحوث عنه حديث کښے د سورة علق ابتدائی آيتونه نازل شوی دی.دهغے سره تسميه موجود نه وه.ددے نه معلومه شوه.چه تسميه د سورة جزء نه دے.خکه چه په دے کښے د ...اسم رب... نه د لوستلو حکم دے.خو ددے بيان روستو نازل شوے دے.

.بسم الله. د سورة فاتحه يا نورو سورتونوجزء دے که نه؟په هر صورت کښے دلائل کوم دی.د مسئلے اختلاف خو بيان شوے دے.اوس ئے دلائل واورئ.

دلائل قائلين عدم جزئيت تسيمه: کوم حضرات چه دا وائی.چه تسميه نه د سورة فاتحه جزء دے اونه د بل سورة.د هغوی دلائل لاندينی دی.

۱ **اولنې دليل:** دحضرت انس بن مالك رضی الله عنه حديث دے.«أن النبی صلی الله عليه وسلم وأبا بكر وعمر،كانوا يفتتحون الصلاة بالحمد لله رب العلمين»[3]

هم دا حديث امام مسلم رحمه الله هم په خپل صحيح کښے تخريج کړے دے.د هغے الفاظ دا دی.«صليت خلف النبی صلی الله عليه وسلم د ابی بكر،وعمر وعثمان،فكانوا يستفتحون الصلاة بالحمد لله رب العلمين،لا يذكرون ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ فی أول قراءة ولا فی آخرها»[4]

هم د حضرت انس رضی الله عنه نه په مسلم کښے يو روايت دے.«صليت مع رسول الله صلی الله عليه وسلم وأبی بكر،وعمر،وعثمان رضی الله عنهم فلم أسمع أحداً منهم يقرأ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ»[5]

---

(۱) نصب الرأية (۳۲۸/۱)_
(۲) پورتنۍ حواله)_
(۳) صحيح بخاری (۱۰۳/۱) كتاب الأذان باب ما يقرأ بعد التكبير)_
(۴) صحيح مسلم (۱۷۲/۱) كتاب الصلاة باب حجة من قال لا يجهر بالبسملة)_
(۵)پورتنۍ حواله)_

په يو سند كنبے دا الفاظ راغلي دي ((فلم أسمع أحداً منهم يجهر بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ))(۱)

د مسند احمد په يو روايت كنبے د ((وكانوا لايجهرون ببسم الرحمن الرحيم)) الفاظ منقول دي.(۲)

طبراني په معجم كبير او اوسط كنبے دا الفاظ نقل كړي دي.((أن رسول الله ﷺ كان يسر ببسم الرحمن الرحيم وابوبكر وعمر رضي الله عنهما قال الهيثمي رجاله موثوقون))(۳)

د مسند احمد په يو سند كنبے دي.د((أن النبي ﷺ وابابكر وعمر وعثمان رضي الله عنهم كانوا يستفتحون القرآن بالحمد لله رب العالمين)) الفاظ دي.(۴)

په دے حديث كنبے قابل توجه خبره دا ده.چه په دے كنبے ((يستفتحون القرآن)) دي.حالانكه په صحيح رواياتو كنبے د ((القراءة)) لفظ دے.حافظ بغدادي رحمه الله ددے آخري سند تصحيح كوي.اوفرمائي.چه دلته لفظ محكم دے اوباقي الفاظ متشابه دي.هغوي فرمائي.چه د قتاده رحمه الله حفاظو شاگردانو به هم دا نقل كولو.او دحضرت انس رضي الله عنه نه نقل كونكو. د حضرت قتاده رحمه الله ملگرو به هم دا نقل كولو. (۵)

اوهغوي د ((يستفتحون القرآن بالحمد لله)) معنى دا بيانوي.چه قرات به د سورة الحمد نه شروع كيږي.اوس د سورة الحمد نه د شروع كولو دپاره دا ضروري نه ده .چه د ..الحمد.. نه شروع اوشي.بلكه چه د كوم ځائے نه د سورة شروع كيږي.دهغه ځائے نه به قرات شروع كيږي. يعني د شوافعو رحمهم الله په نيزد سورة ابتداء د تسميه نه ده.نو د تسميه نه به شروع كيږي.
خو علامه زيلعي رحمه الله فرمائي.چه د دے حديث باقي الفاظ چه كوم نقل كولي شي.هغه د دغه لفظ منافي نه دي.كوم چه ته محكم گرځوے.نو د ترجيح د طريقے اختيارولو څه ضرورت نشته.(۶)
په اصل كنبے حضرت انس بن مالك رضي الله عنه چه د كوم څيز نفي كوي.نو هغه جهر دے.يعني د نفس قرات هغه نفي څنگه كولے شي.حالانكه هغوي په خپله فرمائي. حالانكه هغوي په خپله نقل كوي.((لم أسمع أحداً منهم يقرأ بسم الرحمن الرحيم)) او په بعضے رواياتو كنبے د((فلم أسمع أحداً

---

(۱) سنن نسائی (۱۴۴/۱) كتاب الإفتتاح باب ترک الجهر ببسم الرحمن الرحيم)_
(۲) مسند احمد (۱۷۹/۳)_
(۳) مجمع الزوائد(۱۰۸/۲) كتاب الصلاة باب فی بسم الرحمن الرحيم)_
(۴)مسند احمد(۱۶۸/۳)_
(۵) نصب الراية (۳۳۰/۱)_
(۶) نصب الراية(۳۲۰/۱)_

منهم يجهر ببسم الرحمن الرحيم)) الفاظ دى په بعضو كښې ((وكانوا لايجهرون ببسم الرحمن الرحيم)) الفاظ دى اوپه بعضو كښې صراحة د ..بسم.. لفظ راغلے دے.(۱)

ددے نه ښكاره شوه چه په دے ټولو الفاظو كښې دحضرت انس رضي الله عنه نه كومه نفى نقل كړے شى اوحضرت انس رضي الله عنه چه د كوم څيز نفى كوى.هغه جهر دے هم دجهر نه هغوى نفى كړے شى په مستقل قرات كښې خو نفى او اثبات كيدے نشى.مګردا چه د تكبيرتحريمه نه پس د قرات نه وړاندے سكوت نه وى.حالانكه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې تصريح ده.چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم به د تكبير نه پس سكوت كولو.حضرت ابوهريره رضي الله عنه تپوس كوى.((بأبى أنت وأمى يارسول الله إسكاتك بين التكبير وبين القراءة ما تقول؟ قال: أقول...))(۲)

خطيب بغدادى رحمه الله چه دا څه فرمائى.چه ددے نه ابتداء بالسورة ده حافظ زيلعى رحمه الله دا رد كړے ده.هغوى فرمائى.چه دا خويو بديهى څيزدے.ښكاره خبره ده چه د قرات ابتداء د سورة فاتحه نه كيږى.نو ددے د ذكر كولو څه ضرورت دے.دا خو داسے ده لكه چه داسے اووئيلى شى.چه د صبا مونځ دوه ركعته دى.اودماسپخين څلور.اودا چه د ركوع مقام د سجدے نه وړاندے دے.اوتشهد دجلوس نه پس ده. دا ټولے خبرے دومره بديهى دى چه هرعام او خاص ئے پيژنى.د داسے څيزونو د نقل كولو څه فائده نشته.(۳)

اوكه ابتداء بالسورة مراد وه.نوداسے به وئيلى شو.((كانوا يفتحون القراءة بأم القرآن)) يا ،،بفاتحة الكتاب،، يا ،،بسورة الحمد،، څكه چه دا ټول ددے سورة نومونه دى.((الحمد لله رب العالمين)) د دے سورت نوم نه دے.دا نوم نه خو د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه منقول دے.اونه دصحابو رضي الله عنهم او نه د تابعينو نه.اونه د يو داسے كس نه چه دهغه خبره قابل احتجاج وى.(۴)

حافظ ابن حجر رحمه الله په دے باندے اعتراض كړے دے.اوفرمائى.چه ((الحمد لله رب العالمين)) د سورت فاتحه په نومونو كښې يو نوم دے.هغوى ددے خبرے په دليل كښې دحضرت ابوسعيد بن المعلى رضي الله عنه روايت پيش كوى.هغوى فرمائى.((كنت أصلى فى المسجد فدعانى رسول الله صلى الله عليه وسلم فلم أجبه، فقلت يا رسول الله إنى كنت أصلى، فقال صلى الله عليه وسلم ألم يقل الله ﴿اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ﴾ ثم قال لى: لأعلمك سورة هى أعظم السور فى القرآن قبل أن تخرج من المسجد، ثم أخذ بيدى، فلما أراد أن يخرج قلت له: ألم تقل: لأعلمنك سورة هى أعظم سورة فى القرآن؟ قال: ﴿الحمد لله رب العالمين﴾ هى السبع المثانى والقرآن العظيم الذى أوتيته))(۵)

---

(۱) دا ټولو احاديث سره دتخريج نه وړاندے ذكر شوے دى۔
(۲) صحيح بخارى (۱۰۳/۱) كتاب الأذان باب ما يقرأ بعدالتكبير.صحيح مسلم (۲۱۹/۱) كتاب المساجد باب ما يقال بين تكبيرة الإحرام والقراءة)
(۳) نصب الرأية (۳۳۱/۱)۔
(۴) پورتنئ حواله)۔
(۵) صحيح بخارى كتاب التفسيرباب ماجاء فى فاتحة الكتاب رقم. ۴۴۷۴)۔

حافظ رحمه الله فرمائى چه په دے حديث پاك كښے سورة فاتحه ته ((الحمدلله رب العالمين)) ونيلے شوے دے اوپه دے سره دحضرت انس رضي الله عنه په حديث كښے چه كوم الفاظ وارد شوى دى.چه ((يفتحون الصلاة بالحمدلله رب العالمين)) دى په دے كښے د ..سورة..كوم تاويل شوے دے دهغے تائيد كيږى.(۱)

خو دحافظ رحمه الله په دے حديث باندے استدلال ضعيف دے.ځكه چه په دے كښے دا احتمال شته چه ((الحمدلله رب العلمين)) تر د سورت د آخره پورے وى.يعنى دا د ((من باب تسمية السورة بالحمدلله رب العلمين)) ځنے دے.بلكه ((من باب قراءة أول الآية والإشارة إلى باقيها)) ځنے دے.ځكه نے ددے سره اوفرمائيل.چه ((هى السبع المثانى)) والله اعلم.

امام دارقطنى رحمه الله په خپل سنن كښے د حضرت انس رضي الله عنه نه يو روايت نقل كړے دے.په هغے كښے د ((استفتح بأم القرآن)) تصريح ده.(۲) ددے نه ددے خبرے تائيد كيږى.چه دحضرت انس رضي الله عنه باقى روايات چه په هغے كښے د قرات ابتداء د ((الحمد لله رب العالمين)) نه راغلے ده.نو په هغے كښے هم دا سورة مراد دے.آيت ترے نه دے مراد.

خو حافظ زيلعى رحمه الله فرمائى.چه دا روايت بالمعنى دے.اوپه اصل كښے الفاظ هم هغه دى.كوم چه مونږ مخكښے دامام مسلم په حواله سره ذكر كړى دى.((فكانوا يستفتحون بالحمدلله رب العالمين)) لايذكرون بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، فى أول قراءة ولا فى آخرها))(۳)

دويم دليل چه تسميه جزء نه منى.نو دهغوى دويم دليل دحضرت ابوسعيد بن المعلى رضي الله عنه هغه حديث دے.كوم چه مونږ مخكښے ذكر كړے دے.په هغے كښے هغوى د اعظم سورت نشاندهى كړے ده اوفرمائى.چه ((الحمدلله رب العالمين)) او بيا فرمائى.چه ((هوالسبع المثانى)) كه بسم الله جزء دے.نود سبع په ځائے به ثمانى ونيل پكار وو.ځكه چه په سورت فاتحه كښے د بسم الله نه بغير اووه آياتونه دى.(۴)

دريم دليل دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مروى دى.دوى فرمائى.((سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: قال الله تعالى: قسمت الصلاة بينى وبين عبدى نصفين، ولعبدى ما سأل فإذا قال العبد، الحمد لله رب العالمين، قال الله تعالى: حمدنى عبدى، وإذا قال: الرحمن الرحيم، قال الله تعالى: أثنى على عبدى، فإذا قال

---

(۱) فتح البارى(۱۵۸/۸) كتاب التفسير. تفسيرسورة الفاتحة باب ما جاء فى فاتحة الكتاب)_

(۲) د هغے الفاظ دا دى.((كنا نصلى خلف رسول الله ﷺ وأبى بكر وعمروعثمان رضي الله عنهم فكانوا يستفتحون بأم القرآن فيما يجهر فيه)_

(۳) نصب الراية (۳۳۱/۱)_

(۴) نصب الراية(۳۳٤/۱)_

مالك يوم الدين، قال الله تعالى،مجدنى عبدى، وقال مرة فوض إلى عبدى،فإذا قال إياك نعبد وإياك نستعين،قال الله تعالى:هذا بينى وبين عبدى ، ولعبدى ما سأل،فإذا قال إهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين،قال الله تعالى:هذا لعبدى ولعبدى ما سأل..»(۱)
په دے حديث كښے الله تعالى فرمائى چه ما سورة فاتحه په خپل مينځ اود خپل بنده په مينځ كښے نيم په نيمه تقسيم كړے ده.كله چه بنده وائى.«الحمد لله رب العالمين» نو الله تعالى فرمائى.«حمدنى عبدى» معلومه شوه.چه بسم الله د سورة فاتحه جزء نه دے.ګنى په دے حديث كښے چه د تقسيم كوم تقرير شوے دے.هغه به خنګه صحيح وى كه بسم الله جزء وے.نو په دے صورت كښے داسے ونيل پكار وو.«فإذا قال العبد، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ»
حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى.چه دا حديث په دے كښے صريح دے.چه بسم الله د سورة فاتحه جزء نه دے.چه د څه تاويل ګنجائش په كښے نشته.په دے باب كښے ددے نه اوچت ثبوت نشته.(۲)
په دې دليل باندې اعتراض او دهغې جواب خو په دے حديث باندے دا اعتراض شوے دے چه ددے حديث مدار په علاء بن عبدالرحمن باندے دے.اوعالمانو په ده باندے كلام كړے دے
يحيى بن معين رحمه الله فرمائى.«مضطرب الحديث ليس حديثه بحجة»(۳)
ددےجواب دا دے.چه امام احمد .امام نسائى اوامام ترمذى رحمهم الله وغيره ددوى توثيق كړے دے.امام احمد رحمه الله فرمائى.«ثقة لم أسمع أحداً ذكره بالسوء»(۴)
امام نسائى رحمه الله فرمائى.«ليس به بأس»(۵)
امام ترمذى رحمه الله فرمائى.«هو ثقة عند أهل الحديث»(۶)
بيا عثمان بن سعيد رحمه الله دخپل استاذ يحيى بن معين رحمه الله نه د دوى په باره كښے نقل كړى دى.چه هغوى فرمائيل«ليس به بأس»عثمان رحمه الله فرمائى.ماتپوس اوكړلو .چه «هوأحب إليك أوسعيد المقبرى؟»نوهغوى اوفرمائيل.«سعيد اوثق والعلاء ضعيف»(۷)

---

(۱) صحيح مسلم(۱/۱۶۹، ۱۷۰) كتاب الصلاة باب وجوب قراءة الفاتحه فى كل ركعة)_
(۲) التمهيد لمافى الموطاء من المعانى والأسانيد(۲۰/۲۱۵) حديث ثان للعلاء بن عبدالرحمن)-
(۳) تهذيب الكمال (۲۲/۵۲۲) وميزان الإعتدال (۳/۱۰۲)_
(۴) تهذيب الكمال (۲۲/۵۲۲) وميزان الإعتدال(۳/۱۰۲)_
(۵) پورتنۍ حواله)_
(۶) تهذيب الكمال (۸/۱۸۷)_
(۷) ميزان الإعتدال(۳/۱۰۲) وتهذيب الكمال (۸/۱۸۷)_

دلته چه علاء ضعيف گرځولے شوے دے نو ددے نه مطلقا ضعف مراد نه دے بلکه تضعيف نسبتي مراد دے يعني د سعيد په مقابله او دهغه په نسبت کښے ضعيف دے (١)کنې چه اول ئے «ليس به بأس» اووئيل او په آخر کښے ئے ضعيف اوگرځول په دے کښے به تعارض راشي ددے حديث په سند باندے دويم اعتراض دا شوے دے چه علاء رحمه الله مضطرب الحديث دے هم دا وجه ده چه هغوى کله خو دا حديث د خپل پلار نه نقل کوى او کله د ابوالسائب نه اوکله د دواړو نه

خو ددے اعتراض جواب دا دے چه په اصل کښے هغوى دا حديث د دواړو نه اوريدلے دے خکه کله يو ذکر کړى اوکله دواړه ذکرکړى (٢) امام مسلم رحمه الله دا درے واړه صورتونه ذکر کړى دى.(٣) نو دا اضطراب اضطراب قادح نه دے

يو اشكال او دهغې حل دلته يو اشكال دا دے چه هم ددے حديث په بعضے طرقو کښے بسم الله.. ذکر هم شته.د دارقطنى په روايت کښے دى.«إنى قسمت الصلاة بينى وبين عبدى نصفين فنصفها له،يقول عبدى: إذا افتتح الصلاة بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ،فيذ كرنى عبدى،ثم يقول :الحمد لله رب العالمين»(٤)

ددے جواب دا دے.چه په دے سند کښے عبدالله بن زياد بن سمعان دے.امام دارقطنى رحمه الله په خپله ددے روايت نقل کولو نه پس دده په باره کښے ليکى.«متروك الحديث»او وړاندے وائى.چه د دے حديث د علاء بن عبدالرحمن نه نقل کونکو کښے امام مالك.ابن جريج.روح بن القاسم.سفيان بن عيينه ابن عجلان او حسن بن حر رحمهم الله غوندے ثقات دى.په دوى کښے هيڅ چا د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اضافه نه ده کړے«واتفاقهم على خلاف ما رواه ابن سمعان أولى بالصواب»(٥)

دا ابن سمعان په اتفاق د محدثينو رحمهم الله سره ناقابل احتجاج دے.د فن امامانو دده تکذيب کړے دے.مالك رحمه الله فرمائى.«كان كذابا» امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى.«كان كذابا»

---

(١)تهذيب التهذيب (١٨٧/٨)_

(٢) الكامل لابن عدى (٢١٨/٥) رمق الترجمة (١٣٧٢/٤٠٤)_

(٣) صحيح مسلم (١٧٠/١) كتاب الصلاة باب وجوب قراة الفاتحة فى كل ركعة)_

(٤) سنن دارقطنى (٣١٢/١) كتاب الصلاة باب وجوب قراءة بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.فى الصلاة والجهربها وإختلاف الروايات فى ذلک رقم.٤٥)_

(٥) پورتنئ حواله (حافظ زيلعى رحمه الله فرمائى.چه وذكره(اى دارقطنى) فى علله.وأطال فيه الكلام. و ملخصه أنه رواه عن العلاء جماعة أثبات يزيدون على العشرة ولم يذكر أحد منهم فيه البسملة وزادها ابن سمعان نصب الراية (٣٤٠/١)_

ابن حبان رحمه الله فرمائی.«كان يروى عمن لم يره ويحدث بما لم يسمع» امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی. «متروك الحديث، كان من الكذابين»(١)

شلورم دلیل امام مسلم تعليقاً په خپل صحيح کښے د حضرت ابوهريره رضی الله عنه حديث نقل کړے دے دوی فرمائی.«كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا نهض من الركعة الثانية استفتح القراءة بالحمد لله رب العالمين ولم يسكت»(٢)

داحديث امام طحاوی رحمه الله په ,,شرح معانی الآثار،، (٣)کښے امام حاکم په مستدرك کښے (٤)او امام بيهقی رحمه الله په خپل سنن کبری کښے(٥)موصولا په صحيح سند سره نقل کړے دے.امام حاکم دا صحيح علی شرط الشيخين گرځولے دے . اوحافظ ذهبی رحمه الله دهغه تصديق کړے دے.(٦)

امام طحاوی رحمه الله فرمائی.دا حديث ددے خبرے دليل دے.چه دا آيت د سورة فاتحه جزء نه دے.که دسورة فاتحه جزء وے.نو د سورة فاتحه په شان به ئے ددے قراءت هم کولو.(٧)

پنځم دليل: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.«كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يستفتح الصلاة بالتكبير والقراءة بالحمد لله رب العالمين، وكان إذا ركع لم يشخص رأسه ولم يصوبه... وكان يختم الصلاة بالتسليم»(٨)

حافظ ابن حجر رحمه الله په التلخيص الخبير کښے دحافظ ابن عبدالبر رحمه الله په حواله سره ليکلی دی.چه هغوی فرمائی.دا حديث مرسل دے.ځکه چه ابوالجوزاء رحمه الله دا حديث د حضرت عائشے رضی الله عنها نه دے اوريدلے.(٩)

حافظ زيلعی رحمه الله فرمائی.چه امام مسلم دا حديث په خپل کتاب کښے راوړے دے .دا زمونږ دپاره کافی ده.او د ابوالجوزاء نوم اوس بن عبدالله الربعی دے.دا ثقه راوی دے د حضرت عائشے رضی الله نه د دوی د سماع انکار ممکن نه دے . اصحاب اصول سته په ده باندے احتجاج کړے دے.(١٠)

---

(١) ددے ټولو اقوالو دپاره اوګورئ (نصب الراية (١/٣٤٠)_

(٢) (١٣٨/١) كتاب الصلاة باب ما يقال بين تكبيرة الإحرام والقراءة)_

(٣) (١٣٨/١) كتاب الصلاة باب قراءة بسم الله الرحمن الرحيم، فى الصلاة)_

(٤) (٢١٥/١، ٢١٦) كتاب الصلاة باب إذا نهض فى الثانية إستفتح بألحمد لله رب العالمين ولم يسكت)_

(٥) (١٩٦/٢) كتاب الصلاة باب فى سكتتى الإمام)_

(٦) تلخيص المستدرك للذهبى المطبوع مع المستدرك (٢١٦/١)_

(٧) شرح معانى الآثار(١٤٨)_

(٨)صحيح مسلم (١٩٤/١) كتاب الصلاة باب ما يجمع صفة الصلاة)_

(٩) التلخيص الخبير(٢١٧/١) كتاب الصلاة باب صفة الصلاة)_

(١٠) نصب الراية(٣٣٤/١)_

بیا د مصنف عبدالرزاق رحمه الله په روایت کښے د حضرت عائشے رضی الله عنها نه د دوی دسماع تصریح ده.((عن أبي الجوزاء قال: سمعت عائشة رضي الله عنها تقول: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يفتتح صلاته بالتكبير ويختتمها بالتسليم))(١)نودا نشی وئیلے چه امام مسلم په خپل مسلك باندے اعتماد کوی.او صرف معاصرت ئے د اتصال دپاره کافی گنړلے دے

په دے حدیث باندے دویم اعتراض دا شوے دے.چه هم د حضرت عائشے رضی الله عنها نه د جهر روایت منقول دے.نوپه دواړو حدیثونو کښے تعارض راغلو.

حافظ زیلعی رحمه الله فرمائی.چه دحضرت عائشے رضی الله عنها جهربالبسمله ثابت نه دے.اوکوم روایت چه مروی دے.په هغے کښے حکم بن عبدالله بن سعد دے .((وهوكذاب دجال لا يحل الإحتجاج به))(٢)

شپږم دلیل عن قيس بن عباية عن ابن عبدالله بن مغفل رضي الله عنه قال سمعني أبي وأنا في الصلاة،بسم الرحمن الرحيم،فقال أي بني محدث،إياك والحدث،قال:ولم أر احداً من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كان أبغض إليه الحدث في الإسلام،يعني منه،قال:وقد صليت مع النبي صلى الله عليه وسلم ومع أبي بكر ومع عمر ومع عثمان رضي الله عنهم،فلم أسمع أحداً منهم يقولها:فلا تقلها،إذا أنت صليت،فقل:الحمدلله رب العالمين))(٣)

امام ترمذی رحمه الله ددے حدیث تحسین کړے دے.اوفرمائیلی ئے دی.د نبی کریم صلى الله عليه وسلم اکثر اهل علم صحابو رضي الله عنهم په دے عمل باندے دے.چه په کښے خلفاء راشدین رضي الله عنهم او ډیرتابعین رحمهم الله هم دی.

امام نووی رحمه الله فرمائی.د حدیث حافظانوابن خذیمه.ابن عبدالبر.اوخطیب رحمهم الله وغیره دا حدیث ضعیف گرځولے دے.ځکه چه په دے کښے ابن عبدالله بن مغفل مجهول دے.اوامام ترمذی رحمه الله چه دے ته حسن وئیلی دی.نوډوی په دے باندے انکار کړے دے.(٤)

---

(١) مصنف عبدالرزاق (٧٢/٢) كتاب الصلاة باب من نسى تكبيرة الإستفتاح)_

(٢) نصب الرأية (٣٤٤/١) د حكم بن عبدالله بن سعد ايلى په باره كښے امام احمد رحمه الله فرمائى ((أحاديثه كله موضوعة)) ابوحاتم رحمه الله اوسعدى فرمائى.((كذاب)) د امام نسائى.دارقطنى اويوجماعت نه منقول دى.چه (متروك الحديث)) اوگورئ ميزان الاعتدال (٥٧٢/١) رقم الترجمة (٢١٨٠) د سعدى رحمه الله نه هم منقول دى.((الحكم بن عبدالله بن سعد الايلى جاهل كذاب وأمرالحكم أوضح من ذلك)) الكامل لابن عدى (٢٠٢/٢) رقم الترجمة (٣٨٩)_

(٣) سنن ترمذى أبواب الصلاة باب ماآء في ترك الجهر ببسم الرحمن الرحيم رقم.٢٤٤) وسنن نسائى (١٤٤/١) كتاب الإفتتاح باب ترك الجهر ببسم الرحمن الرحيم.وسنن ابن ماجه كتاب إقامة الصلاة والسنة فيهما باب إفتتاح القراءة رقم ٨١٥)_

(٤) نصب الرأية(٣٣٢/١)_

ددے جواب دا دے چه ابن عبدالله بن مغفل مجهول نه دے په مسند احمد [۱] او معجم طبرانى [۲] کښے د دوی د نوم تصریح راغلے ده. دے یزید بن عبدالله بن مغفل دے.
امام بیهقی رحمه الله د دے حدیث ذکر کولونه پس دوه اعتراضونه کړی دی. یو داچه ددے حدیث په راویانو کښے یو ،ابونعامه قیس بن عبایة متفرد دے. دویم دا چه د ابونعامه او ابن عبدالله بن مغفل نه امام بخاری رحمه الله اوامام مسلم رحمه الله څه تخریج نه دے کړے. اونه ئے په دوی باندے احتجاج کړے دے. [۳]
خوحقیقت دا دے چه دا دواړه اعتراضونه ټیک نه دی.
څکه چه په دے حدیث کښے ابونعامه متفرد نه دے بلکه طبرانی رحمه الله چه په خپل معجم کښے کوم روایات نقل کړی دی. په هغے کښے عبدالله بن بریده رحمه الله او ابوسفیان بن طریف بن شهاب رحمه الله د ابو نعامه متابعت کړے دے. [۴]
په دوی کښے عبدالله بن بریده رحمه الله خو ثقه دے. اوابوسفیان اګرچه متکلم فیه دے خو د ده هغه روایات معتبر دی. د کومو چه متابعات وی [۵]
اوترکومے پورے چه د دویم اعتراض تعلق دے چه دصحیحینومصنفینو د دوی د څه روایت تخریج نه دے کړے. نوموږ دا نه منو. چه د حدیث دصحت دپاره د صحیحینوتخریج ضروری دے. [۶]
علی سبیل التسلیم موږ دا وایو. چه دا حدیث حسن دے. اوحسن حدیث قابل احتجاج وی. بیا خاص کر چه دهغے شواهد او متابعات هم موجود وی. والله اعلم
اووم دلیل حضرت ابوهریره رضی الله عنه دنبی ﷺ نه نقل کوی. چه هغوی فرمائی «إن سورة من القرآن ثلاثون آية شفعت لرجل حتى غفر له، وهي سورة تبارك الذي بيده الملك» رواه احمد [۷] وأصحاب السنن الأربعة [۸] والحاكم وقال: صحيح الإسناد وأقره الذهبي [۹]

---

[۱] اوګورئ (۸۵/۴)_
[۲] قاله الزيلعي في نصب الراية (۳۳۲/۱)_
[۳] نصب الراية (۳۳۳/۱)_
[۴] پورتنئ حواله)_
[۵] پورتنئ حواله)_
[۶] پورتنئ حواله)_
[۷] مسند احمد (۲۹۹/۲، ۳۲۱)_
[۸] سنن ابى داود كتاب الصلاة باب عدد الآى رقم الحديث (۱۴۰۰) وسنن ترمذى أبواب فضائل القرآن باب ماجاء فى فضل سورة الملک. رقم (۲۸۹۱) وسنن ابن ماجة فى كتاب الأدب باب ثواب القرآن رقم ۳۷۸۶) وسنن كبرى للنسائى كتاب التفسير. وعمل اليوم والليلة (كما فى تحفة الأشراف للمزى) رحمه الله ۱۲۹/۱۰)
[۹] مستدرک حاکم (۵۶۵/۱) كتاب فضائل القران باب ذكر فضائل سور وآى متفرقة (۴۹۷/۲، ۴۹۸) كتاب التفسير. تفسير سورة الملک)_

حافظ ابن حجر رحمه الله په..التخليص الخبير.. كښې ليكلى دى:((وأعله البخاري في التاريخ الكبير بأن عباساً الجشمي لايعرف سماعه من أبي هريرة))[1] يعنى امام بخارى رحمه الله دا حديث معلول گرځولے دے.خکه چه د عباس جشمى سماع د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه ثابته نه ده.[2] خوحقيقت دا دے چه د عباس جشمى رحمه الله په باره كښې چا كلام نه دے كړے.[3] ابن حبان رحمه الله دوى په ثقاتو كښې ذكر كړے دے.[4]

بيا دامام بخارى رحمه الله دا اعلال د هغوى د مسلك مطابق خو ټيك دے.خو دامام مسلم رحمه الله په مسلك دا حديث متصل الاسناد دے.خکه چه د دوى د حضرت عثمان رضي الله عنه نه سماع ثابته ده.[5] نود حضرت ابوهريره رضي الله عنه معاصرت ثابت شو.او د امام مسلم رحمه الله په نيز معاصرت كافى دے.د لقاء ثبوت ضرورى نه دے.

اوكه دا اومنلے شى چه دلته انقطاع ده.نو بيا هم څه قباحت نشته.خکه چه ددے يو شاهد په معجم طبرانى كښې په ((ثابت عن انس رضي الله عنه)) سند سره مروى دے.[6] چه سند ئې صحيح دے.[7]

اتم دليل اتم دليل دحضرت عائشې رضي الله عنها مبحوث عنه حديث دے.كوم چه د نزول ..اقرء.. په سلسله كښې امام بخارى رحمه الله دلته اودغه شان په نورومقاماتو كښې تخريج كړے دے.[8] ددے نه معلومه شوه.چه تسميه د سورت جزء نه دے.

تنبيه: تراوسه پورے چه دلته كوم دلائل ذكر شول.په دے كښې د آخرى دوو دلائلونه سوا باقى ټول دلائل دا خبره ثابتوى.چه تسميه د سورت فاتحه جزء نه دے.اوآخرى دوه دلائلو نه:خبره په پوهه كښې راځى.چه تسميه دهيڅ سورت جزء نه دے.

---

(۱) التلخيص الخبير(۲۳٤/۱) رقم ۳٤۹) كتاب الصلاة باب صفة الصلاة)_

(۲) امام بخارى په تاريخ كبير په كوم ځائې كښې د دوى ذكر ليكلے دے هلته ددے خبرے څه تصريح نشته.چه ددوى د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه سماع ثابته نه ده.بلكه دا ئې ذكر كړى دى.چه دوى د حضرت عثمان رضي الله عنه نه روايت كوى.او دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په باره كښې مكمل سكوت دے آيا دامام بخارى رحمه الله سكوت دعدم سماع ثبوت دے؟ اوګورئ تاريخ كبير(۷/٤) رقم الترجمة۷_

(۳) نصب الراية(۱/۳۳۵)_

(٤) كتاب الثقات(۵/۳۵۹)_

(۵) كما في التاريخ الكبير(۷/٤) رقم الترجمة۷_

(۶) عن أنس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم سورة من القرآن ما هي إلا ثلاثون آية.خاصمت عن صاحبها حتى أدخلته الجنة وهي سورة تبارك ..رواه الطبراني في الصغيروالأوسط ورجاله رجال الصحيح .كذا في مجمع الزوائد للهيثمي رحمه الله) ۷.۱۲۷/) كتاب التفسيرسورة تبارك.. اوګورئ حافظ ابن حجر رحمه الله په تلخيص الخبير (۲۳٤/۱) كښې د ذكر شوى حديث د حواله دپاره د معجم كبير ذكر كړے دے.حالانكه د علامه هيثمى رحمه الله د تصريح مطابق دا په ..معجم صغير.. او معجم ولاوسط كښې ذكر شوے حديث دے.)_

(۷) التلخيص الخبير(۲۳٤/۱)_

(۸) ددے حديث پوره تخريج مونږ په ابتداء كښې كړے دے_

د جزئيت د قائلينو دلائل کوم حضرات چه د تسمیه د جزئیت قائلین دی.هغوی په ډیرو دلائلو سره استدلال کوی.خواکثر د علت قادحه نه خالی نه دی.بلکه دا حضرات زیات تریه هغه دلائلوسره استدلال کوی چه هغه زیات ترواهیات دی.اوډیر په کښے موضوعات او منکرات دی.
د دے حضراتو د ټولو نه زیات قوی دلیل هغه دے.کوم چه د نعیم بن مجمر رحمه الله نه مروی دے هغوی فرمائی.«صلیت وراء أبی هریرة رضی الله عنه فقرأ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ثم قرأ بأم القرآن،حتی بلغ، ولا الضالین، ، فقال آمین.فقال الناس آمین،ویقول کلما سجد الله أکبر،وإذا قام من الجلوس فی الإثنتین قال: الله أکبر، وإذا سلم، قال والذی نفسی بیده إنی لأشبهکم صلاة برسول الله ﷺ
(۱)داحدیث سنن نسائی،سنن دارقطنی،سنن کبری بیهقی.صحیح ابن خزیمه.او مستدرك حاکم وغیره کښے موجود دے.او ټولو حضراتو ددے تصحیح کړے ده (۲)
جواب حقیقت دا دے.چه دا حدیث د سند په اعتبار سره صحیح دے.خو ددے حضراتو ددے حدیث نه په خپله مدعی باندے استدلال کول د څو وجوهاتو له کبله ټیك نه دے.
(۱) اولنۍ وجه دا ده.چه دا حدیث معلول دے.ځکه چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه اته سوه شاګردان دی.چه په هغوی کښے صحابه رضی الله عنهم هم دی.په دوی کښے د نعیم مجمر رحمه الله نه علاوه بل څوك هم د هغوی نه دا روایت نه نقل کوی.چه هغوی په مانځه کښے په جهر سره تسمیه ونیله ده.(۳) (حالانکه مونځ داسے عمل دے.چه په ورځ کښے پنځه ځله کیږی.ازمترجم)
دلته څوك دا ونیلی شی.چه که بل شاګرد نه وی روایت کړے.او دے ثقه دے او قاعده دا ده.چه «زیادة الثقة مقبولة»
ددے جواب دا دے.چه دا قاعده څه متفق علیه قاعده نه ده.بلکه په دے کښے اختلاف دے.بعضے حضرات دا قاعده مطلقاً قبلوی.او بعضے ئے نه قبلوی. (۴) خو صحیح قول دا دے.چه په دے کښے تفصیل دے.که د زیادت کونکے راوی ثقه حافظ او اثبت وی اوچا چه زیادت نه وی کړے.هغه داولنی راوی نه کمتر وی.یا برابر وی نو په داسے صورت کښے به زیادت قبول وی.ګنی نه.دغه شان په بعضے مقاماتو کښے په مختلفو قرائنو سره زیادت قبلولے شی.عام حکم لګول.چه هر زیادت قابل قبول دے.دا ټیك نه دے.بلکه دهر

---

(۱) أخرجه النسائی فی سننه (۱/۱٤٤) کتاب الإفتتاح باب قراءة بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ. والحاکم فی مستدرکه (۱/۲۳۲) کتاب الصلاة.أن رسول الله ﷺ قرأ فی الصلاة بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ. فعدها آیة.والبیهقی فی سننه الکبری.(۲/۵۸) کتاب الصلاة باب جهر الإمام بالتامین... والدارقطنی فی سننه (۱/۳۰۵، ۳۰۶) کتاب الصلاة باب وجوب قراءة بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ. فی الصلاة والجهر بها واختلاف الروایات فی ذلک رقم ۱٤)_
(۲) نصب الرایة (۱/۳۳۵) وسنن دارقطنی (۱/۳۰۶)_
(۳) نصب الرایة (۳۳۶)_
(۴) دتفصیل دپاره اوګورئ ..النکت علی کتاب ابن الصلاح للحافظ ابن حجر) رحمه الله ۲/۶۸۷، ۷۰۲) النوع السادس عشر معرفة زیادات الثقات)_

زیادت دپاره مخصوص حکم دے کله خو داسے وی چه ددے زیادت د صحت یقین وی.اوکله ددے د صحت یقین خو نه وی.البته غالب گمان وی.اوپه بعضے وختونو کښے د زیادت په غلطئ باندے جزم وی.اوبعضے وخت د ظن غالب په اعتبار سره دغلط حکم پرے لگولے شی.او کله داسے هم کیږی.چه په دے کښے توقف کول وی.(١)

د نعیم بن مجمر رحمه الله دا زیادت هم ددے قبیلے ځنے دے.چه په دے کښے توقف کول پکار دے بلکه غالب گمان دا دے.چه دا زیادت کمزورے دے.(٢)

(٢) دویمه وجه دا ده.که دا حدیث تیك هم اومنلے شی.نود جزئیت یا جهر بالتسمیه دپاره په دے باندے استدلال بیا هم تیك نه دے.ځکه چه په دے کښے ((فقرأ بسم الله الرحمن الرحیم، ثم قرأ بأم القرآن)) راغلی دی.په بعضے روایاتو کښے د ..قال.. لفظ راغلے دے.(٣) قراءت یا قول په جهر باندے دلالت نه کوی.په دے باندے خو ددے حضراتو خلاف استدلال کولے شی.کوم چه د تسمیه د قراءت بالکل قائل نه دی.(٤)

په دے باندے اشکال کیږی.که هغوی تسمیه په جهر سره نه وه وئیلے.نونعیم مجمر رحمه الله به ځنگه اوریدلے وه؟

ددے جواب دا دے.چه بعضے وخت په سری مونځونو کښے هم قراءت اوریدے شی.(٥)

یو اشکال دا هم کیدے شی.که حضرت ابوهریره رضی الله عنه سرأ د بسم الله قراءت کړے وی.اوسورت فاتحه ئے په جهر وئیلی وی.(اویقینی ده.چه سورت فاتحه به ئے په جهر وئیلی وی.ځکه چه مونځ جهری وو.ځکه چه په حدیث کښے د امام اومأموم د تأمین تصریح ده) نو دواړه به ئے په اسلوب سره نه ذکر کول.بلکه داسے به وئیلی وو.((فأسر بالبسملة ثم جهر بالفاتحه))

ددے جواب دا دے.چه په دے حدیث کښے د جهر څه تصریح نشته.نوداسے محتمل روایت په دغه شان نصوص صریحه باندے نشی مقدم کولے.کوم چه سرأ د تسمیه تقاضا کوی.(٦)

که په دا قسم اطلاق سره په جهر باندے استدلال کولے شی.نوپه دے حدیث کښے دا هم وئیلے شی.چه تسمیه دسورة فاتحه جزء نه دے.ځکه چه په دے کښے دا الفاظ دی.((فقرأ بسم الله الرحمن الرحیم، ثم قرأ بأم القرآن)) یعنی د دواړو جملو په مینځ کښے ئے عطف کړے دے.اوعطف دمغایرت تقاضا کوی.نوددے نه به ثابته شی.چه بسم الله د ام القرآن جزء نه دے.(٧)

---

(١) ذكره الزيلعي ببسط وتفصيل في نصب الراية (٣٣٦/١، ٣٣٧)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) كما في رواية البيهقي في سننه الكبرى (فقال بسم الله الرحمن الرحيم. ثم قرأ بأم القرآن (٥٨/٢)

(٤) نصب الراية (٣٣٧/١)_

(٥) پورتنئ حواله)_

(٦) پورتنئ حواله)_

(٧) پورتنئ حواله)_

() دريمه وجه دا ده چه ددے حديث په آخر كښے حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى ((إلى أشهكم صلاة برسول الله ﷺ)) دلته تشبيه په اصل مونغ .مقدار اوددے په هيئت كښے ده.په هريوجزء كښے تشبيه ضرورى نه ده.(١) په دے حديث كښے په اصل كښے دحضرت ابوهريره رضي الله عنه مقصود دتكبير وغيره اثبات دے.اوددے په ذريعه په هغه خلقو باندے رد مقصود دے.كوم چه ددے قائل نه دى.اوتكبير وغيره دهغه ځيزونو ځنے دى.كوم چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه په صحيح طريقه ثابت دى .او تركومے پورے چه د تسميه تعلق دے.نوچونكه ددے په ثبوت كښے نظر دے.نوځكه به ((أشبهكم صلاة)) صرف په دے افعالو پورے خاص ګڼړلى شى.كوم چه د هغوى نه په صحيح سند سره ثابت وى.(٢) والله سبحانه وتعالى اعلم

قوله: فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د ..بها.. ضميريا خو..آيات.. طرف ته راجع كيږى.يعنى ..فرجع بالآيات.. او يا ..قصة.. طرف ته ..اى فرجع بالقصة..
(٣) يعنى رسول الله ﷺ ذكر شوى آيت سره واپس راغلو.يا ټولے قصے سره نے واپس تشريف راوړلو. او حضرت خديجه رضي الله عنها ته نے واورولوله.

قوله: يَرْجُفُ فُؤَادُهُ: د ..فواد.. په تفسير كښے درے اقوال دى.بعضے وائى.قلب.بعضو وئيلى دى.باطن القلب او بعضے حضراتو وئيلى دى.غشاء القلب.(٤)
علامه بلقينى رحمه الله فرمائى.كه ددے تفسير په ..غشاءالقلب.. يا ..وعاءالقلب.. سره اوشى. نوددے نه زبردست درزيدل معلوميږى.ځكه چه كله په ..وعاء.. يا ..غشاء.. كښے حركت وى.نو په باطن كښے خو به په درجه اولى وى.(٥)
دا روايت په بدء الوحى كښے په ..يرجف فواده.. الفاظو سره دے.او په كتاب التفسيراو كتاب التعبير كښے د ..ترجف بوادره.. الفاظ دى.
..بوادر.. د غوښے هغه ټوټے ته وائى.كومه چه د اوږے اوڅټ ترمينځه وى.(٦)
جوهرى رحمه الله فرمائى.ددے غوښے د ټوټے نوم د جمع په صيغے سره دے.(٧) خو ابن برى رحمه الله فرمائى.چه دا د ..بادرة.. جمع ده.او دا څه خاص ټوټه نه ده.بلكه د اوږے او څټ ټولے حصے ته ..بوادر.. وائى.(٨)

---

(١) نصب الرأية (٣٣٨/١)_
(٢) پورتنى حواله)_
(٣) فتح البارى(٢٤/١)_
(٤) عمدة القارى (٥٠/١)_
(٥) فتح البارى (٣٥٨/١٢) كتاب التعبيرباب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ)_
(٦) فتح البارى(٣٥٨/١٢)_
(٧) پورتنى حواله)_
(٨) پورتنى حواله)_

په دے دواړو لفظونو کښے صورةً خو اختلاف دے چه ،فواد،، قلب، یا باطن قلب یا غشاء قلب ته وائی او ،،بوادر،،«مابین المنکب والعنق» ته وائی خوپه حقیقت کښے په دواړو کښے په دے اعتبار سره اختلاف نشته چه کله د زړه درزیدل زیات وی او ویره زیاته وی نوددے اثر په ،،بادره،، باندے غورځیږی اوهغه هم حرکت شروع کوی.(۱)
علامه داودی رحمه الله خو تردومره پورے وئیلی دی چه ،،بوادر او ،،فواد،، دواړه مترادف دی ددے قول نه که د هغوی مراد هم هغه وی کوم چه اوس مونږ اوخودل نوصحیح ده اوکه د هغوی مراد دا وی چه دواړه متحد المعنی او مترادف دی نود هغوی دا خبره ټیک نه ده.(۲)
ددے جملے خلاصه دا شوه کله چه نبی کریم ﷺ دے آیاتونو سره تشریف راوړلو نو ددوی زړه درزیدلو.
د زړه د درزیدو وجه دا درزیدل د څه وجے وو د نبی ﷺ زړه ددے وجے درزیدلو چه په غار حراء کښے د ،،غط،، کومه واقعه پیښه شوے وه په هغے سره نبی ﷺ ته مشقت ملاو شوے وو د بشریت د تقاضا په وجه په دوی باندے د هغے اثر وو الله تعالی په کښے چونکه د وحی د تحمل استعداد پیدا کړے وو نوځکه ئے د زړه حرکت بند نشو خو بشریت وو نوځکه ئے زړه مضطرب وو.
یاداسے اووائے چه د نبی ﷺ زړه ددے وجے درزیدلو چه کومه ذمه واری په دوی باندے اچولے شوے وه ددغه ذمه واریٔ په پوره کولو کښے پرله پسے به مشقتونه وو چونکه ددے مشکلاتو دوی ته احساس وو نوځکه د دوی زړه درزیدلو.
قوله: فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: دا خدیجه بن خویلد بن اسدبن عبدالعزی ده د واقعه فیل(کومه چه د نبی ﷺ د پیدائش کال دے) نه پنځلس کاله وړاندے پیدا شوے وه د نبی اکرم ﷺ سره چه کله د دوی نکاح اوشوه نوپه دغه وخت کښے د دے عمر څلویښت کاله وو او د نبی ﷺ عمرپنځویشت کاله وو د دوی نکاح ددوی تره عمروبن اسد بن عبدالعزی ترلے وه ځکه چه پلار ئے مخکښے وفات شوے وو.
د یوقول مطابق په نبی ﷺ باندے د ټولو نه وړاندے ایمان راوړونکے شخصیت د دوی دے په ښځو کښے دټولو نه وړاندے ایمان راوړونکے په اتفاق سره هم دوی دی د نبی ﷺ ټول اولاد سوا د حضرت ابراهیم نه ټول هم ددوی د بطن نه وو نبی ﷺ نه د دوی نه وړاندے چا سره نکاح کړے نه وه اونه د دوی په ژوند چا سره نکاح کړے وه د نبی ﷺ دوی سره ډیره مینه وه د وفات نه پس به نبی ﷺ د هغے په ملګرو او سهیلو کښے غوښه تقسیموله دوی د دعوت اوتبلیغ په کار کښے دغه شان په هره ګرانه مرحله کښےد نبی ﷺ سره مدد کول او

---
(۱) پورتنۍ حواله)_
(۲) پورتنۍ حواله)_

دوی ته تسلی ورکونکے وه.دهجرت نه درے کاله وړاندے د حضرت ابوطالب د وفات نه درے ورځے پس حضرت خدیجے رضی الله عنها وفات شوه (۱)

قوله: فَقَالَ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي:نبی ﷺ اوفرمائیل په ما څادر واچوئی په ماڅادر واچوئی په بل روایت کښے .دثرونی .. دے د دواړه معنی یوه ده.

قاعده دا ده چه کله ویره راشی نوبدن رپیدل شروع شی اودے رپیدلو علاج په جامه اچولو سره کولے شی.

د سید الطائفه حضرت حاجی امداد الله مهاجرمکی رحمه الله نه تپوس اوشو چه نبی ﷺ دا ولے اوفرمائیل چه ..زملونی زملونی.. ولے چه نبی ﷺ حضرت جبریل علیه السلام اولیدلو نو اوویریدلو؟

حضرت حاجی رحمه الله جواب ورکړلو چه نبی ﷺ حضرت جبریل علیه السلام اولیدلو نو اونه ویریدلو.بلکه چه جبریل علیه السلام ئے اولیدلو.نوخپل حقیقت ورته په نظر راغلو هغه دومره اوچت وو.چه هغه ئے اولیدلو.نو نبی ﷺ ته ویره شوه.اوقاعده دا ده.چه په غیر جنس کښے اوسیږی.نوخپل حقیقت پټ وی.اوچه هم جنس اوګوری.نو منکشف کیږی.لکه چه مشهوره ده.یو کس د زمری بچے ساتلے وو.اوهغه ئے په خپلو چیلو کښے پریخودے وو زمرے چه په دغه چیلو کښے اوسیدلو.نو دخپل حقیقت پته ورته نه وه.هغه هم د چیلو پشان غریب وو په اتفاق سره یو ځل هغه د اوبو څکلو په دوران کښے خپل مخ اولیدلو.او دخپل زړه ورتوب اودلاورئ تصور دهغه د سترګو وړاندے شو.اوچه بیا ئے چیلئ اولیدلے.نو وے ګڼړل.چه زه چیلئ نه یم.څه بل څیز یم.چه دا حقیقت ئے اوپیژندلو.اوکله په چیلو ورګډ شو.نو په ټولو چیلو کښے یو شور جوړ شو.څه ئے اوشوکولے.او څه ئے اوخوړلے.اوڅه ئے مړے کړے.

بیا ئے اوفرمائیل.که په یوه جزیره کښے فرض کړه ټول بدشکله خلق اوسیږی.که یوه ښائسته ښاپیرئ په کښے پیدا شی.نوښکاره ده.چه هغه په دوی کښے اوسیږی.نوخپل ځان به ورته د دوی پشان ښکاری.اودخپل ښائست حقیقت به ورته دناجنسی اختلاط د وجے نه ښکاره کیږی.خوکه په اتفاق سره هلته ددے پشان یو بل حسین پیدا شی.چه هغه پرے نازاو ادا کوی.نوښکاره ده.چه هغه اوګوری.نوخپل حقیقت به ورته سمدستی ښکاره شی.او هغه به هم ناز او ادا شروع کړی.

دغه شان بغیر دتشبیه نه نبی ﷺ هم ددے زمری یا ددے ښائسته پشان د مکے په جاهلانو کښے اوسیدلو.اودوی ته خپل حقیقت ښکاره نه وو.خوکه چه کله نبی ﷺ جبریل علیه السلام اولیدلو.چه هغه په دے معنی کښے د دوی هم جنس وو.چه دهغوی تربیت هم صفت علم کوی.نوځکه د وحی او ایحاء خدمت دوی ته حواله شو.او د انبیاء علیهم السلام تربیت هم په صفت علم سره کیږی.اود جبریل علیه السلام په مخ کښے نبی ﷺ ته خپل حقیقت په نظر راغلو.خوهغه دومره عظیم الشان وو.چه سمدستی نبی ﷺ د هغے برداشت اونکړے شو.او په

---

(۱) الإستیعاب فی معرفة الأصحاب (۴/۲۷۹، ۲۸۹) والإصابة فی تمییز الصحابة (۴/۲۸۱، ۲۸۳)۔

..اضطراب كښے نے.. زملونی زملونی.. اوفرمائيل .دا نه چه نبی ﷺ دحضرت جبريل عليه السلام اووريدلو.

د مولانا روم رحمه الله توجيه د داسے قسم واقعه يوه توجيه د مولانا رومی رحمه الله نه منقول ده قصه دا ده .چه يوخل نبی كريم ﷺ د حضرت جبريل عليه السلام نه دهغه په اصلی شكل كښے د ليدو خواهش اوكړلو .حضرت جبريل عليه السلام ورته اووئيل چه تاسو طاقت نشئ لرلے.خوچه كله نبی ﷺ اصرار اوكړلو .نوحضرت جبريل عليه السلام ورته د خپل اصلی شكل خودنه اوكړله.نبی ﷺ په ليدو سره بيهوشه شو.حضرت جبريل عليه السلام سمدستی راپورته كړلو او بيا دوی په هوش كښے راغلو.(۱)

مولانا رومی رحمه الله فرمائی.چه په دغه وخت كښے متاثر جسدی محمدی وو.روح محمدی نه وو.روح محمدی خو دومره طاقتور او قوی دے.چه جبريل عليه السلام دهغے تحمل نشی كولے اوحقيقت دا دے.چه ددے اندازه د شب معراج د قصے نه كيږی.چه كله ..سدرة المنتهى.. ته اورسيدل.نو په دغه مقام كښے حضرت جبريل عليه السلام اودريږی اونبی كريم ﷺ چه ورته كله : وړاندے تلودپاره فرمائی.نوجبريل آمين وائی.كه زه معمولی وړاندے شم.نو زما وزرے به اوسوزی.نو نبی ﷺ به نفس نفيس تن تنها يواځے تشريف يوړلو.(۲)

يو اشكال او دهغې جواب دلته يوكس ته دا اشكال پيدا كيدے شی.چه وړاندے په حديث كښے راغی.«لقد خشيت على نفسي» ددے نه معلوميږی.چه نبی ﷺ جبريل اوليدلو. نو اوويريدلو.

ددے اشكال جواب حضرت تهانوی رحمه الله دا وركړے دے.چه په دے حديث كښے :..خشيت.. مفعول حضرت جبريل آمين نه دے.چه تصادم راشی.بلكه معنی داده.چه «خشيت أن لا أتحمل أعباء الرسالة» ځكه چه ددے تحمل دپاره د خاص قوت ضرورت وی.اوهغه په دغه وخت كښے مغلوب وو.نو څه تصادم پاتے نشو.

يوبل اشكال اودهغې جواب دلته يو اشكال دا هم شوے دے.چه نبی ﷺ ..زملونی..ولے اووئيل.حالانكه په ظاهره خطاب حضرت خديجے رضی الله عنها ته دے؟ ..زمليني.. وئيل پكار وو د دےجواب دا وركړے شوے دے.چه دحضرت خديجے رضی الله عنها غلام هم وو او وينزے هم.په هغه وخت كښے چونكه د پردے رواج نه وو.ځكه نبی ﷺ ټولو ته خطاب اوفرمائيل.چه په هغوی كښے حضرت خديجه رضی الله عنها هم شامل وه.(۳)

دويم جواب دا دے.چه په داسے مواقع يعنی د خدمت په موقع په محاوراتو كښے د تذكير اوتانيث په اعتبار سره څه فرق نه كوی.نوځكه د مذكر صيغے استعمال شوے.(۴)

---

(۱) مسند احمد(۱/۳۲۲) مسند عبدالله بن عباس رضی الله عنه)_

(۲) السيرة الحلبيه للعلامة علی بن برهان الدين الحلبی (۱/۴۰۲) باب ذكر الإسراء والمعراج)_

(۳) تقرير بخاری حضرت شيخ الحديث رحمه الله تعالی (۱/۸۸)_

(۴) پورتنی حواله)_

دریم جواب دا هم ممکن دے چه د شان د تعظیم او تفخیم د وجے د مذکر صیغه استعمال شوے ده.((کما ورد فی التنزیل فی قصة موسیٰ، ﴿إِذْ رَأَىٰ نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا﴾ (۱)

قوله فقال لخديجة وأخبرها الخبر: لقد خشيت على نفسي: یعنی نبی ﷺ حضرت خدیجے رضی الله عنها ته اوفرمائیل په داسے حال کښے چه نبی ﷺ هغے ته ټوله قصه اوږولے وه.((لقد خشیت علی نفسی)) ماته خو دخپل ځان ویره ده.

نبی اکرم ﷺ ته د څه وجه ویره شوه؟ نبی اکرم ﷺ ته د څه خبرے د وجے ویره شوه.په دے باره کښے حافظ ابن حجر رحمه الله دولس اقوال ذکر کړی دی.

① یو قول دا دے چه دوی ته د جنون پیدا کیدو خطره شوه.(۲)

په دے باندے اشکال دا دے چه نبی ﷺ دفرشتے مشاهده کړے وه.نو ددے نه پس نبی ﷺ ته دجنون ویره ولے کیدله.ابن عربی رحمه الله دا قول باطل ګرځولے دے.(۳)

خوامام ابوبکراسماعیلی رحمه الله ددے جواب ورکړے دے چه کیدے شی.دا ویره دوی ته په هغه وخت کښے شوے وی.چه په کوم وخت کښے دوی ته دا یقین نه وو راغلے چه دا راتلونکے دالله تعالی فرشته ده.اوکله چه دوی ته یقین اوشو.نوبیا دا ویره لاړله.اوداسے کیږی.چه په اول کښے د یوے خبرے تحقیق نه وی.نوسړے په شك کښے وی.اوکله چه تحقیق اوشی.نو شك زائله شی.(۴)

خوپه دے کښے اشکال دا دے.چه د حضرت جبریل علیه السلام راتلل اچانك نه وو.بلکه د ډیرو مقدماتو. تمهیداتواو مبادیو نه پس شوے وو.ددے نه علاوه د بحیرا راهب سره هم د نبی ﷺ ملاقات شوے وو.نبی ﷺ ته بهرحال فی الجمله د جبریل علیه السلام د راتلو علم وو.قرائن او اندازے په دے خبره باندے دلالت کوی.چه حضرت جبریل علیه السلام دوی پیژندلے وو.یعنی په اوله موقع دوی ته یقین شوے وو.د ابن اسحاق رحمه الله په بعضے روایاتو کښے جبریل علیه السلام پخپله وائی.چه ((یا محمد، أنت رسول الله وأنا جبریل)) (۵)ددے خبرو باوجود بهرحال دا احتمال موجود دے.چه په اول وهله کښے دا ویره د نبی ﷺ په زړه باندے تیره شوے وی.او بیا هم په دے غار کښے د فرشتے په راتلو باندے یقین پیدا کیدو سره ویره تلے وی.

② دویم قول دا دے.چه دا د قبیلے د هاجس څنے وه.په دے کښے اشکال دا دے. چه د هاجس استقرار نه وی.

---

(۱) طه ۱۰)- قال الرازی رحمه الله.. وأیضاً فقد یخاطب الواحد بلفظ الجماعة تفخیماً قال الرازی رحمه الله.. وأیضاً فقد یخاطب الواحد بلفظ الجماعة تفخیماً

(۲) فتح الباری(۱/ ۲٤)_

(۳) پورتنئ حواله)_

(۴) پورتنئ حواله)_

(۵) سیرت ابن هشام (۱/۱۵۵)_

③ دریم قول دا دے چه نبی ﷺ سره ویره وه چه د سخت رعب د وجے چرته مرګ واقع نشی
④ څلورم قول دا دے چه نبی ﷺ سره د بیمارئ ویره وه ابن ابی جمره رحمه الله په دے باندے جزم کړے دے.
⑤ پنځم قول دا دے چه نبی ﷺ سره د دوام مرض ویره شوه
⑥ د نبوت د لویو ذمه واریانو د تحمل نه د عاجز کیدو ویره ورته لاحقه شوے وه
⑦ اووم قول دا دے چه د رعب د وجے فرښتے ته د نظر کولونه عاجز شوے وو اودهغے ویره وه
⑧ اتم قول دا دے چه دوی سره ددے خبرے ویره پیدا شوے وه چه د قوم په ضرر رسولو به دوی صبر اونکړے شی.
⑨ نهم قول دا دے چه دوی سره د قوم د طرفه د وژلو ویره وه.
⑩ لسم قول دا دے چه د وطن مفارقت به ضروری شی.د دے ویره ورسره وه.
⑪ یوولسم قول دا دے چه دوی سره دا ویره وه.چه قوم به د دوی تکذیب اوکړی
خو په دے اقوالو کښے اکثر واهی او ضعیف دی.البته حافظ ابن حجر رحمه الله د مرض. دوام مرض.اود مرګ د واقع کیدو اقوالو ته ترجیح ورکړے ده.(۱)
⑫ قاضی عیاض رحمه الله د خوف وجه ذکر کړے ده.اودوه احتمالات ئے په کښے ذکر کړی دی. یودا چه دوی ته د نبوت د پیټی په تحمل کښے ویره شوه.چه کیدے شی.زه دا ذمه واری پوره نکړے شم.اوزما روح اوخی.(۲)
دویم احتمال ئے دا بیان کړے دے.چه کیدے شي.دا بالکل د ابتداء واقعه وی.د فرښتے د راتلو نه وړاندے چه کوم خوبونه لیدلی شو.یا آواز اوریدلے شو.یا رڼا په نظر ورتله.دهغه زمانے واقعه وی.په دغه وخت کښے دوی سره ویره شوے وی.چه کیدے شی.دا د شیطان د طرفه وی.خوچه کله فرښته راغله.اوپه نبوت سره مشرف شو.ددے نه پس د هیڅ قسم شك کولو ضرورت نشته.(۳)
علامه نووی رحمه الله فرمائی.چه دا دویم احتمال ضعیف دے.ځکه چه په حدیث کښے تصریح ده.چه د ویرے واقعه د فرښتے په راتلو او د ﴿اِقْرَاْ﴾ آیاتونو د نازلیدو نه پس وه.(۴)
طبعی ویره دمقام نبوت سره منافی نه ده بیاچه ترڅوپورے د بارنبوت د اوچتولو د وجے بتقاضائے بشریت د ویرے راتلل دی .نودا د نبوت یا رسالت هرګز خلاف نه ده.په قرآن پاك کښے څومره واقعات دی .چه پیغمبران علیهم السلام ویره محسوسوی.خوهغوی ته دخپل نبوت یا رسالت په حقانیت باندے څه شك نه وه.

---

(۱) د دے ټولو اقوالو دپاره اوګورئ: فتح الباری (۲٤/۱)_
(۲) شرح نووی علی صحیح مسلم (۸۹/۱) کتاب الإیمان باب بدء الوحی إلی رسول الله ٤)_
(۳) پورتنئ حواله)_
(٤) پورتنئ حواله)_

په قرآن کريم کښې د حضرت ابراهيم‌ﷺ واقعه ذکر ده چه فرښتې هغوی ته د ميلمنو په صورت کښې راغلې وې ابراهيم‌ﷺ په جلتئ سره دهغوی د ميلمستيا انتظام اوکړلو ﴿ فَلَمَّآ رَآ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ﴾ (۱)

کله چه هغوی اوکتل چه ميلمانه روټئ نه خوري نوهغوی ته دا خبره نوې اوښنا معلومه شوه اوهغوی دميلمنو نه ويره محسوس کړه

دغه شان دحضرت موسی‌ﷺ واقعه په قرآن مجيد کښې مذکور ده چه جادوګرانو کله خپلې رسئ اوهمساګانې اوغورځولې نودغه رسو او همساګانو د مارانو شکل اختيار کړل دلته موسی ﷺ ويره محسوس کړه. ﴿ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ۝ فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ۝ ﴾ (۲)

خلاصه دا چه حضرت موسی‌ﷺ ته ويره محسوس کيدل دنبوت منافي نه دی.

حضرت ابراهيم‌ﷺ ته ويره محسوس کيدل دا هم د نبوت سره منافي نه دی دغه شان چه نبی کريم‌ﷺ ته په غار حراء کښې کومه واقعه پيښه شوې وه. اود نبوت درون بوج په دوی باندې واچولې شو. وحي خداوندی نازل شوه. ددې د قول ثقيل ذکر الله تعالٰی په خپله باندې ذکرکړې دې. بيا د نبوت د ذمه وارئ پوره کولو کښې چه کوم مشقتونه اوتکلفونه پيښبودونکي وو. هغه ټول د هغوی وړاندې وو. ددې ټولو امورو دوجې که په دوی کښې ويره پيدا شوې وی. نودا خو نه د نبوت سره منافي ده اونه ددې دپاره د نظير لټولو څه ضرورت شته. چه آيا نورو پيغمبرانوعليهم السلام باندې هم د نبوت په ابتداء کښې داسې واقعات راغلي وو که نه؟

دحضرت شاه ولی الله رحمه الله **يوه دقيق رائې** حضرت شاه انورشاه کشميری رحمه الله په دې مقام کښې يوه ډيره نفيسه خبره کړې ده. هغوی فرمائي. چه د نبی ﷺ روحانی تربيت دالله تعالٰی د شان ربوبيت خصوصي انداز سره شوې دې. ځکه چه نبی‌ﷺ ئې د وحي متلو د ټولو نه د لوئې مرتبې واله وحي باندې مشرف کړې وو. کومه چه په انبياء عليهم السلام کښې د دوی د خصوصي درجې اوخاتم النبيين سره مناسب وه. خوددې عظيم وحي دپاره د څومره برداشت ضرورت وو. ددې اندازه د حديث د ذکرشوو جملو نه ښه معلوميږي. نوځکه حيرت او تعجب په دې خبره باندې بيخي نشته. چه د نبی ﷺ رسول اعظم ته د ويرې، خوف اودهشت اوګبهراهټ صورت ولې راغلو. بلکه حيرت او لويه حيرانتيا په دې باندې پکار ده. چه په دې دنيا کښې داوسيدو او د ټولو بشری تقاضو او کمزورو باوجود يوانسان د دې عظيم وحي دنزول د عظمت بوج برداشت کړلو. کوم چه د قرآن کريم د تصريح مطابق که په

(۱) هود ۰۷۰)-

(۲) طه ۶۶-۰۶۷)-

يو غر باندے نازل شوے وہ.نوهغه به د ويرے او د الله تعالی خشيت د وجے مات شوے او ريزه ريزه شوے وو.
حضرت شاه صاحب رحمه الله قدس سره فرمائی.چه په دے موقع چه بعضے حضراتو رضی الله عنهم د نبی ﷺ ويره دهشت وغيره دعام ضعف انسانی او بشری سبب خودلے دے.يا ددے اظهار ئے بطور سياست جائز گنړلے دے.دا د نبی ﷺ د رسالت د لوئے مرتبے مناسب نه گنړی.والله اعلم كومو خلقو چه دا حالت ،،تردد في النبوة،، گنړلے دے.هغوی خو د انبياؤ عليهم السلام د ايمان او يقين د مدارج عاليه او علوم وكمالات نبوت نه بيخی ناواقف دی.(۱)
د ورقه د تصديق فائده بيا د ورقه په تصديق سره چه حضرت خديجے رضی الله عنها د كومو خبرو زيرے وركړے وو.دهغے تصديق كيږی.دے سره سره دا فائده هم حاصله شوه.چه نبی ﷺ ته دا خصوصيت حاصل شو.چه د دوی د دعوت كولو نه وړاندے داهل كتابو يوعالم د دوی تصديق كوی.عام طور داسے وی.چه انبياء عليهم السلام اول دعوت وركوی.د هغے نه پس مصدق جوړيږی.خو نبی كريم ﷺ لاتراوسه پورے خپل دعوت پيش كړے هم نه وو.چه تصديق ئے اوشو.
ددے نه علاوه يوه فائده دا هم اوشوه.چه كله ورقه د دوی تصديق اوكړلو.اود نصرت وعده ئے اوكړله.نود دوی د اعلان نبوت نه وړاندے په خلقو كښے د دوی د نبوت شهرت پيدا شو.چه په دوی باندے وحی نازل شوے ده.اودا چه ورقه بن نوفل كوم چه د اهل كتابو يو ډير لوئے عالم وو.د دوی د تصديق سره سره د نصرت وعده هم اوكړله.لكه چه بغير د څه كوشش نه د دوی د نبوت اعلان او په خلقو كښے شهرت اوشو.
قوله: فَقَالَتْ خَدِيجَةُ كَلَّا: ،،كلا،،د نفی دپاره او د رد دپاره استعماليږی.ددے يوه معنی د ،،حقا،، هم ده.او د تنبيه دپاره هم استعماليږی.لكه چه حضرت خديجه رضی الله عنها د دے خشيت نفی كوی.چه داسے به نه كيږی.
امام بخاری رحمه الله په كتاب التفسير كښے دا روايت تخريج كړے دے.په هغے كښے دی.
«كلا أبشر» په هغه روايت كښے د مبشربه څه ذكر نشته.
امام بيهقی رحمه الله په دلائل النبوة كښے هم د ابن شهاب زهری رحمه الله نه مرسلاً نقل كړی دی.چه حضرت خديجه رضی الله عنها اوفرمائيل.«أبشر،فوالله لا يفعل الله بك إلا خيراً،فاقبل الذی جاءك من عند الله عزوجل،فإنه حق،وأبشر،فإنك رسول الله حقاً»(۲)
دغه شان د عبيد بن عمير رحمه الله په مرسل روايت كښے هم دی.«أبشر يا ابن عمي،واثبت،فوالذی نفس خديجة بيده،إني لأرجو أن تكون نبي هذه الأمة»(۳)

(۱) انوارالباری(۱/۴۹)_
(۲) دلائل النبوة للبيهقی (۲/۱۴۳) باب مبتدء البعث والتنزيل)_
(۳) سيرت ابن هشام (۱/۱۵۵)_

..اول من اسلم،، څوك وو؟ په دے کښے اختلاف دے چه د ټولو نه وړاندے اسلام قبلونکے څوك دے؟
امام زهری رحمه الله فرمائی چه حضرت خدیجے رضی الله عنها د ټولو نه وړاندے اسلام قبول کړے وو.(۱)
بعضے فرمائی چه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د ټولو نه وړاندے ایمان راوړونکے دے.(۲)
بعضے وائی چه حضرت علی رضی الله عنه (۳)اوبعضو ونیلی دی چه حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه د ولو نه وړاندے مسلمان شوے وو.(۴)
امام ابوحنیفه رحمه الله په دے ټولو اقوالو کښے داسے تطبیق کړے دے چه په اصیلی سړو کښے د ټولو نه وړاندے حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ایمان راوړے دے اوپه ښځو کښے دټولو نه وړاندے حضرت خدیجے رضی الله عنها اوپه غلامانو کښے حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه اوپه ماشومانو کښے حضرت علی رضی الله عنهم اجمعین (۵)

قوله: وَاللّٰهِ مَا يُخْزِيكَ اللّٰهُ أَبَدًا: دحضرت خدیجه رضی الله عنها کلام چه ((والله مايخزيك الله أبدا)) په دے خبره چه الله تعالی به تا ضائع نکړی عقلی استدلال دے چونکه کوم کس چه ددے صفاتوحامل وی هغه نه ضائع کیږی او بیا ورقه ته بوتلل د دے دپاره وو چه ددے عقلی استدلال تائید په دلیل نقلی سره اوشی.
..يخزى،، د باب افعال نه د مضارع صیغه ده کومه چه د ..خزى،، نه ماخوذ ده . معنی ئے ..رسوائی،، ده.په یوه نسخه کښے ..يحزنك،، دی یعنی باب افعال دے اود ..حزن،، نه ماخوذ ده.اوپه یو روایت کښے ..يحزنك،، دی یعنی د باب نصر نه د ..حزن،، نه ماخوذ دے.دا دواړه هم معنی دی.د رباعی استعمال ئے د بنو تمیم د لغت مطابق دے.اود مجرد نه د قبیله قریش داستعمال مطابق دے.(۶)
مطلب دا دے چه حضرت خدیجه رضی الله عنها دوی ته تسلی ورکوی چه الله تعالی به تاسو هرګز په رسوائی کښے نه اخته کوی.یا تاسو به په غم کښے نه اخته کوی .ځکه چه الله تعالی تاسو ته د نبوت او رسالت د فرائضو پوره کولو عظیم الشان منصب در کړے دے.نوداسے نشی کیدے چه تاسو د ذمه واریانوپه ښه طریقه د پوره کولونه وړاندے وفات شئ.ځکه په دے کښے رسوائی هم ده او غم هم.الله تعالی به تاسو د داسے رسوائے اوغم نه ضرور بچ کوی.

قوله: إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ: ته صله رحمی کوے.اود ضعیفانو پیتے اوچتوے.

---

(۱) دلائل النبوة للبيهقی (۱۴۳/۲)_
(۲)البدایه والنهایة (۲۶/۲)_
(۳) پورتنۍ حواله)
(۴) البدایه والنهایة (۲۸.۲۹/۲)_
(۵) البدایة والنهایة (۲۹/۲)_
(۶) فتح الباری (۷۲۰/۸) کتاب التفسیر.تفسیر سورة العلق)_

..كل.. داسے کس ته وئیلی شی چه هغه خپل کار په خپله نشی کولے لکه ماشوم. یتیم. شنډے یا کونډے ښځے.
مطلب دا دے چه ته صله رحمی ساتے د خپلو خپلوانو او رشته دارانو سره خپلولی ساتے او ته د وړو ماشوماتو.تیمانواو ګنډو ښځو خبراخلے.
دحضرت خدیجے رضی الله عنها د وئیلو مقصد دا دے چه ته ددا سے صفتونو مالك ئے او د داسے صفتونو خاوند الله تعالی نه ضائع کوی.

قوله وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ: په ..تکسب.. کښے دوه روایتونه دی یو د ..تکسب.. بضم التاء. د باب افعال نه او دا د کشمیهنی روایت دے.دویم روایت ..تکسب.. بفتح التاء یعنی مجرد نه دے.دا د اکثرو راویانو روایت دے.(۱)
بیا په دواړو صورتونو کښے په معدوم کښے دوه احتمالات دی یا خو ددے نه مال معدوم مراد دے.او مطلب دا دے چه «تکسب غیرك المال المعدوم» یعنی ته نورو ته هغه من ورکوے.کوم چه هغوی سره نه وی.یعنی په مال سره ته د نورو مدد کوے
دویم احتمال اومطلب دا دے چه «تکسب غیرك نفائس الفوائد ومکارم الأخلاق» (۲) یعنی ته خلقو ته ښه طریقے اوښه اخلاق ښائے.
بیا د ..تکسب.. بفتح التاء په صورت کښے بعضے حضراتو دا معنی هم بیان کړے ده چه «تکسب المال المعدوم وتصیب منه مایعجز غیرك عن تحصیله» یعنی تاسودومره زیات مال ګټل چه نور خلق د هغے د ګټلو نه عاجز وو.عربو به زیات مال ګټل سبب د تمادح ګنړل اونبی ﷺ ته په سوداګرئ کښے پوره مهارت حاصل وو.(۳)
خوامام نووی رحمه الله فرمائی چه دا قول خوقاضی عیاض رحمه الله د قاسم بن ثبت صاحب.. دلائل.. نه نقل کړے دے.خوضعیف بلکه غلط دے.خکه چه دا د نبی ﷺ داوچت مقام سره مناسب نه دے.مګر دا چه دے سره دا قید اولګولے شی چه دوی به مال ګټل اود خیریه کارونو کښے به ئے خرچ کول.(۴)
بعضے حضرات وائی چه د ..معدوم.. نه مراد ..معدوم المال.. دے یعنی فقیر محتاج چه د کسب نه عاجز وی.ده ته معدوم ددے وجے وئیلے شی چه دا کس د مړی پشان دے.په معیشت کښے تصرف نشی کولے اومالدار پشان نشی کیدے. د ده ژوند تنګ تیریږی.لکه چه دده وجود اوعدم وجود دواړه برابر دی.
علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه په دے کښے تحریف شوے دے.په اصل کښے ..المعدم..

---

(۱) فتح الباری (۲٤/۱)_
(۲) شرح نووی علی صحیح مسلم (۸۹/۱) کتاب الإیمان باب بدء الوحی)_
(۳) شرح نووی علی صحیح مسلم(۸۹/۱)_
(۴) پورتنۍ حواله)_

دے اومعدم فقیر ته وائی.(۱)

خومحمد بن اسماعیل تیمی رحمه الله فرمائی چه په یوصحیح لفظ باندے د غلط حکم نګول دخطابی رحمه الله غلطی ده.ځکه چه د..معدوم..په صورت کښے هم معنی ټیک ده اوهم دا راویانوپه روایت اود محدثینو ﷺ په نیزمشهور دے.(۲)

قوله تَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ:ته میلمستیا کوے اوپه حق کارونو کښے د مصیبت زده خلقو مدد کوے.

..نوائب..د..نائبة..جمع ده.حادثه اومصیبت ته وائی.چونکه په عالم کښے حوادث وار په وار راځی.ځکه حادثه ته نائبه ونیلے شی.

چونکه حوادث په دواړه قسمه وی.بعضے ښه وی او بعضے بد.د یوکس مال ددے وجے ضائع شو.چه هغه د فقیرانو او تنګدستو مدد کول.دا نائبة الحق ده.اویوکس خپل مال په ظلم او تعدی کښے برباد کړل.نودا نائبه شر ده.نوحضرت خدیجه رضی الله عنها نوائب دخیر اوحق طرف ته مضاف کړل.چه دا ورته اوښائی.چه تاسو په ښه مواقع او صحیح لارو کښے دا خرچ کوئ.په ظلم او تعدی کښے مال نه خرچ کوئ.او په ناجائزو لارو کښے خپل مال نه خرچ کوئ.(۳)

بعضے عالمان ﷺ فرمائی.چه د..نوائب الحق..نه حادثات سماویه مراد دی.لکه د باران په وجه د کورنو غورځیدل.یا د زیاتے ګرمے هوا یا زیاتے یخے هوا د وجے باغونه او پټی تباه کیدل وغیره وغیره.(۴)

بیا د آفات سماویه دتخصیص وجه دا ده.چه کله آفت آسمانی وی.نوسړے په ظاهره مجبور ښکاری.چه دا خو دالله تعالی د طرفه دے.د انسان په دے کښے څه اختیار نشته؟خو په دے مقام کښے اشاره ده.چه هرکله نبی ﷺ په آفات سماویه غیر اختیاریه کښے مدد کوی.نوپه آفات ارضیه کښے خو به ضرور مدد کوی.(۵)

دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د نبی ﷺ سره خاص مناسبت حضرت خدیجه رضی الله عنها چه د نبی ﷺ کوم صفات بیان کړل.بعینه هم دا صفات ابن الدغنه د ابوبکرصدیق رضی الله عنه بیان کړی دی. دا دهغه وخت خبره وه.کله چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دهجرت په اراده حبشه ته روان شوے وو.چه برك الغماد مقام ته اورسیدلو.نو ابن الدغنه ورسره ملاؤ شو.هغوی تره ته تپوس اوکړلو.چه تاسو چرته ځئ.ابوبکرصدیق رضی الله عنه ورته جواب ورکړلو.چه زه هجرت کوم او څم.زما قوم ما په خپله علاقه کښے نه پریږدی.زه دالله زمکے کښے سفر کوم.دهغه عبادت به کوم.په دے باندے ابن دغنه ونیلی وو.«فإن مثلك يا أبابكر لا يخرج ولا يخرج، إنك تكسب المعدم، وتصل

---

(۱) أعلام الحديث (۱۲۹/۱)_

(۲) شرح كرمانی(۳۷/۱)_

(۳) عمدة القاری(۵۱/۱)_

(۴) تقریر بخاری شریف(۹۰/۱)_

(۵) پورتنئ حواله)_

الرحم، وتحمل الكل، وتقرئ الضيف، وتعين على نوائب الحق))
بيا ابن دغنه ابوبکرصدیق رضی الله عنه واپس راوستلو اود قریشو مشرانو سره ملاو شو او هغوی ته ئے اوونیل ((إن أبابكر لا يخرج مثله، ولا يخرج، أتخرجون رجلاً يكسب المعدم، ويصل الرحم، ويحمل الكل، ويقرئ الضيف، ويعين على نوائب الحق)) (۱)
د دے نه معلومیږی چه د یارغار رسول الله ﷺ سره خاص طبعی مناسبت وو. اوپه دے باندے ډیرواقعات گواهی ورکوی
کله چه په جنگ بدر کښے دمکے مشرکان د مسلمانانو بندیوان جوړ شول نومشوره اوشوه. چه دوی سره څه کول پکار دی؟ حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل د دوی څټونه دے اووهلی شی. عقیل علی رضی الله عنه ته حواله کړئ هغه به دهغه څټ قلم کړی اوفلانے ماته حواله کړئ زه به دهغه څټ قلم کړم. ځکه چه دا ټول د کفر امامان دی.
حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوفرمائیل یارسول الله دا ټول خپل خپلوان او دخاندان خلق دی. زما رائے دا ده چه ددوی نه فدیه واخستے شی اودوی خلاص کړے شی. کیدے شی چه روستو ورته الله تعالی هدایت اوکړی.
نبی ﷺ دحضرت ابوبکر رضی الله عنه رائے خوښه کړه. (۲)
دغه شان کله چه صلح حدیبیه اوشوه اوډیرزیات په تیټوالی سره اوشوه. کافرانو اوونیل که زمونږ سړے مدینے ته درشی نوتاسوبه ئے واپس کوئ اوکه ستاسو کس راشی نومونږ به ئے نه واپس کوو. دغه شان هغوی اوونیل چه تاسو په دے کال کښے عمره نشئ کولے. دغه شان هغوی دا هم اوونیل چه په صلح نامه باندے به ..بسم الرحمن الرحيم.. نشی لیکلے. دغه شان په صلح نامه کښے به ..محمد رسول الله.. هم نشی لیکلے. په عامو صحابو رضی الله عنهم باندے دا ډیره گرانه وه.
حضرت عمر رضی الله عنه د نبی ﷺ په خدمت کښے حاضر شو. اوتپوس ئے اوکړلو. آیا تاسو دالله تعالی رښتینے پیغمبر نه ئی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل ولے نه. مونږ په حق یو. اوزمونږ دشمن په باطل دے نوحضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړلو. ((فلم تعطي الدنية في ديننا)) نومونږ دے د دین په خبره کښے ذلت ولے اختیار کړو. نبی ﷺ اوفرمائیل زه دالله تعالی پیغمبر یم. دهغه نافرمانی به نه کوم. اوهغه زما مددګار دے. حضرت عمر رضی الله عنه بیا عرض اوکړلو. آیا تاسو مونږ ته نه وو وئیلی چه مونږ به بیت الله ته خو. اوطواف به کوو. نبی ﷺ اوفرمائیل آیا ما درته دا هم وئیلی وو چه هم په دے کال کښے به کوو. حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړلو. نه. نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو به ضرور د بیت الله طواف کوئ.

---

(۱) د پوره واقعه دپاره اوگورئ. بخاری شریف (۱/ ۵۵۲، ۵۵۳) بیان الكعبة باب هجرة النبي ﷺ وأصحابه إلى المدينة)_
(۲) دپوره واقعه دپاره اوگورئ. صحیح مسلم (۲/ ۹۳) كتاب الجهاد باب الإمداد بالملائكة وإباحة الغنائم)_

حضرت عمر رضی الله عنه د هغه خائے نه پاسیدلو اونیغ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته ورغلو اود هغوی نه ئے هم بعینه هم هغه سوالونه اوکړل حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم هغه وجوابونه ورکړل او دا ئے ورته هم اووئیل «فاستمسك بغرزه» ددوی پانیدان کلك اونیسه .(۱) مطلب د هغوی په مخ کښے عاجزی او انکساری اختیار کړه.اود هغوی خدمت کوه.

هم دا وجه ده.چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته د نبی صلی الله علیه وسلم نه پس متصلاً خلافت ملاؤ شو که د دوی په خائے بل څوك وو.نود ذمه واری سنبالول به ګران وو.ځکه چه قاعده دا ده.چه کله یو عظیم شخصیت لاړ شی.نو دهغوی په خائے د نیابت دپاره د داسے شخصیت ضرورت پیښیږی.چه د هغه په صفاتو کښے مشارکت لری.اوکه څو اخوا دیخوا راشی.نونظام تباه برباد یږی.

قوله فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ: یعنی حضرت خدیجه رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم بوتلو اوورقه بن نوفل ته ورغللامام بیهقی رحمه الله د ابومیسره عمروبن شرحبیل رضی الله عنه نه مرسلاً نقل کړی دی.چه حضرت خدیجه رضی الله عنها حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ورقه بن نوفل ته لیږلے وو (۲)

په فتح الباری کښے هم دا خبره حافظ رحمه الله دعبیدبن عمیر رضی الله عنه د مرسل روایت په حواله سره نقل کړے ده.(۳)

بهرحال کیدے شی.چه یو ځل ئے په خپله بوتلے وی.اویوځل ئے حضرت ابوبکر صدیق لیږلے وی.(۴)

بیهقی په دلائل النبوة کښے د سعیدبن مسیب رحمه الله نه یو مرسل روایت نقل کړے دے په هغے کښے دی.چه حضرت خدیجه رضی الله عنها اول عداس نومے یو نصرانی کس ته ورغله کوم چه داهل نینوه ځنے وو.اوهغه د عتبه بن ربیعه بن عبدشمس غلام وو.دهغه نه حضرت خدیجه رضی الله عنها دحضرت جبرئیل علیه السلام په باره کښے تپوس اوکړلو.چه ماته دهغه په باره کښے خبر راکړه.نوعداس اووئیل.«قدوس،قدوس، ماشأن جبريل يذكر بهذه الأرض التي أهلها أهل الأوثان» بیا په تپوس کولو سره ئے ورته اوخودل.چه «فإنه أمين الله بينه وبين النبيين،وهو صاحب موسى وعيسى عليهما السلام» چه دهغه خائے نه واپس راغله.نوحضرت خدیجه رضی الله عنها ورقه ته ورغله.(۵)

دعلامه شبلی نعمانی رحمه الله غلط فهمی. حافظ ابن حجر رحمه الله په کتاب التعبیر کښے ددے حدیث په شرح کښے په محدثینو رحمهم الله باندے د اعتراض کونکو اعتراض نقل کړے دے.چه داسے ممکن ده.چه نبی صلی الله علیه وسلم ته په خپل نبوت کښے شك وی.ګرځے چه ورقه ته دتلو ضرورت

(۱) صحیح بخاری(۳۸۰/۱) کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد والمصالحة مع أهل الحرب)۔
(۲) دلائل النبوة للبیهقی (۱۵۸/۲) باب أول سورة نزلت فی من القرآن)۔
(۳) فتح الباری (۷۲۰/۸) کتاب التفسیر.تفسیرسورة العلق)۔
(۴) پورته حواله)۔
(۵) دلائل النبوة للبیهقی (۱۴۳/۲) باب مبدأالبعث والتنزیل..)۔

پیښ شو اوحضرت خدیجه رضی الله عنها ته د خپل تکلیف بیانول حاجت شو دغه شان د غږ نه د خپل ځان د راغوږخولو خوائش نې پیدا شی

امام ابوبکراسماعیلی رحمه الله ددے جواب ورکړے دے چه دالله تعالی دا عادت جاری دے چه کله هم یو عظیم الشان څیز مخلوق ته د رالیږلو اراده اوکړی نو د هغے د مقدماتو او تمهیداتو انتظام کیږی.نو نبی ﷺ چه به کوم رویانے صالحه کتل. او بیا په نبی ﷺ کښے دخلوت خواهش پیدا شوے وو.اوپه هغوی کښے د عبادت شوق پیدا شوے وو.دا ټول کارونه ددے مقدمه او تمهید دقبیلے څنے دی.

بیاچه کله ناڅاپه فرشته راغله.اوخلاف عادت اوپه غیرمانوس طریقه باندے دغار حرا. واقعه پیښه شوه.نونبی ﷺ بتقضائے بشریت ویره محسوس کړه.نو په دے کښے د تعجب څه خبره نشته.څکه چه روستو ددوی دا ویره په مزه مزه ختم شو.ددے نه پس نې حضرت خدیجه رضی الله عنها ته کومه چه ددوی همدرد اوغمخواره وه.هغوی ته ټوله قصه بیان کړه.هغے ورته تسلی ورکړه.اود خپلے تسلئ د تائید دپاره نې ورقه بن نوفل ته بوتلو.ورقه چه واقعت واوریدل.نوپه نبی ﷺ نې پوره یقین اوکړلو.اود دوی دنبوت اعتراف نې اوکړلو.دلته کښے دامام اسماعیلی رحمه الله جمله حافظ رحمه الله نقل کړے ده.«فلما سمع كلامه أيقن بالحق، واعترفه به» یعنی کله چه ورقه د دوی خبرے واوریدے.نود حق یقین نې اوکړلو.اود دے اقرار نې اوکړلو.(۱)

علامه شبلانی نعمانی رحمه الله ددے جملے ټول ضمائیرنبی ﷺ ته راجع کړی دی او ترجمه نې کړے ده...کله چه نبی ﷺ د ورقه کلام واوریدلو.نودوی ته د حق یقین اوشو او دوی ددے اعتراف اوکړلو.،(۲)

دپوهه خبره دا ده.چه امام اسماعیلی رحمه الله دمعترضینواعتراض رد کوی.چه نبی ﷺ ته د نبوت په باره کښے څه شك او تردد وو.اودا وانی.چه نبی ﷺ باندے ویره ضرور راغلے وه.خو دا ویره د شك اوتردد په وجه نه وه.بلکه د امرعظیم په ناڅاپه راتلو باندے وو.

اوعلامه رحمه الله ددے جملے نه دا معنی اخستے ده.چه نبی ﷺ ته په خپل نبوت کښے شك وو.ددے وجے ورقه ته لاړلو.اوحقیقت حال نې ورته بیان کړلو.نود ورقه په تسلئ سره نبی ﷺ ته دخپل نبوت یقین راغلو.

حقیقت دا دے.چه نبی ﷺ ته د اول نه علم او یقین حاصل شوے وو.چه دوی ته نبوت او رسالت ورکولے شی.اودا چه دا راتلونکے فرشته وه.اود ورقه په خبرو سره دوی ته د نبوت یقین نه وو حاصل شوے.بلکه د دوی حالات اوواقعات چه نې واوریدل.نوورقه د دوی دنبوت تصدیق اوکړلو.څکه چه ورقه د تورات او انجیل عالم وو.اود نبوت د علاماتو نه خبر وو.(۳)

---

(۱) فتح الباری (۱۲/۳۶۰) کتاب التعبیر.باب أول ما بدئ به ...)_

(۲) سیرت النبی ﷺ (۱/۱۲۶) آفتاب رسالت کا طلوع)_

(۳) سیرت مصطفی ازمولانا محمد ادریس کاندهلوی قدس سره (۱/۱۴۰)_

علامه سندهي رحمه الله فرمائي حقيقت دا دے چه نبي ﷺ ته هيڅ شك راغلے نه وو خكه چه د فرښتے سره د ملاقات كولو او د وحي الهي د راتلو نه پس د شك او شبه گنجائش نه پاتے كيږي او دا كيدے شي چه د د مكمل وحي نازليدو نه وړاندے په څه څيزونو كښے شبه پيدا شوے وي خاص كرچه فرشته نخپه راغله خود وحي مكمل كيدو نه پس بيا څه شك اوشبه نشوه پاتے كيدے البته دا ممكن ده چه نبي ﷺ خپل ابتدائي حال چه په كوم وخت كښے دوي نه د خپل نبوت تحقق نه وو شوے حضرت خديجه رضي الله عنها ته داسے بيان كړي وي لكه چه په دغه وخت كښے هم نبي ﷺ ته شك وو او دا طريقه نبي ﷺ خكه اختيار كړه چه د حضرت خديجه رضي الله عنها همدردي د نبي ﷺ سره شي خكه چه كيدے شوه چه نبي ﷺ په هغه وخت كښے ونيلي وو چه زه دالله نبي يم دالله فرشته ماته راغلے وه نوحضرت خديجه رضي الله عنها انكار كړے وے او دانكار نه پس اقرار گران وو (١) والله تعالى اعلم

بيا هم په كتاب التعبير كښے امام بخاري رحمه الله د دے حديث په آخر كښے دفترت وحي واقعه ذكر كړے ده او په هغے كښے راغلي دي چه نبي ﷺ دومره پريشانه وو چه دوي د غر د سوكے نه د ځان راغورځولو اراده اوكړله نوجبرئيل آمين راغلو دوي ته ئے تسلي وركړه نودوي منع شو (٢)

د حديث د دے حصے په باره كښے دا احتمال هم شته چه دا متصل وي او دا هم چه دا دامام زهري رحمه الله د بلاغاتو ځنے وي بهرحال په دے حصه كښے څه داسے خبره نشته چه دهغے نه دا معلوميږي چه دوي ته په خپله پيغمبرئ كښے شك وي د دے وجے دوي پريشانه وو اوخپل ځان ئے د غرنه راغورځول غوښتل اوفرشتے دغه شك لرے كړي وي.

علامه شبلي نعماني رحمه الله په دے مقام كښے هم د حديث د دے حصے نه دا مطلب اخستے دے چه نبي ﷺ ته د خپلے پيغمبرئ په باره كښے شك وو نوهغوي دا حصه معتبر نه ده گڼلے او دا ئے وئيلي دي چه دا داسے عظيم الشان واقعه دپاره دا سند كافي نه دے (٣) دامام بلاغات ته سند مقطوع وئيل اودهغه رد په هيڅ صورت كښے ټيك نه دي خكه چه د اصول حديث عالمانو ﷺ چه د ..بلاغات.. په باره كښے كومه قاعده بيان كړے ده هغه دا ده.((بلاغات الثقات من أهل القرون الثلاثة مقبولة عندنا مطلقاً كالإمام مالك وأبي حنيفة والشافعي ومحمدبن الحسن وأبي يوسف وأمثالهم، وبلاغات من دون هولاء إن كان يرويها الثقات كما رووا مسندة كالبخاري واحمد وغيرهما، فمقبول إتفاقاً إذا ان بصيغة الجزم وإن كان يرسل عن الثقات وغيرهم فلا يقبل إتفاقاً،، ،قواعد في علوم الحديث،، للشيخ ظفر احمد العثماني(٤)

---

(١) حاشية السندي على البخاري (١ ١١، ١٢)_

(٢) بخاري كتاب التعبير بب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحي الرويا الصالحة)_

(٣) سيرت النبي (١ ١٢٧)

(٤) ص.١٠١)_

حقيقت دا دے چه ددے عبارت نه دنبى ﷺ پريشانى ضرور معلوميږى.خودا اضطراب په نبوت كښے د څه شك شبه د وحے هرګز نه وو.بلكه داخو دفترت او انقطاع وحى د وحے وو په كوم باندے چه دحديث عبارت بالكل ښكاره دے.((وفتر الوحى فترة حتى حزن النبى ﷺ فيما بلغنا حزناً غدا منه مراراً كى يتردى من رؤوس شواهق الجبال...)) بيا وړاندے دى.((فإذا طالت عليه الوحى غدا لمثل ذلك))(١)

ورقه بن نوفل ورقه بن نوفل بن اسد بن عبد العزى دحضرت خديجه رضی اللہ عنہا د تره خوئے وو.د ورقه د نوفل بن اسد خوے وو.اوخديجه رضی اللہ عنہا د خويلد بن اسد لور وه.

قوله. اِبْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ:دا د ..ورقه.. دپاره صفت دے يا بيان دے يا بدل دے.دا مجرور ونيل لوستل ټيك نه دى.

قوله. وَكَانَ امْرَأً قَدْ تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ:په جاهليت كښے دوى نصرانى شوى وو په مكه كښے څه فطرتى نيكان خلق د بت پرستئ نه نفرت كونكى وو.په دوى كښے ورقه او زيدبن عمروبن نفيل هم وو.دا دواړه دحق دين په لټون كښے شام ته تلى وو.ورقه ته خو بعضے داسے راهبان ملاو شوى وو.چه هغوى دنصرانيت په اصلى دين باندے قائم وو نودے د هغه په لاس نصرانى شو.(٢)

زيد بن عمروبن نفيل اوزيدبن عمروبن نفيل اول يو يهودى عالم ته لاړلو.اوهغه ته ئے اووئيل.دخپل دين په باره كښے ماته خبر راكړه.كيدے شى چه زه ستاسو په دين كښے داخل شم. هغه ورته اووئيل.كه زمونږ په مذهب كښے داخليدل غواړے.نو دالله تعالى څه غصه به هم برداشت كوے.ده ورته اووئيل.زه خو دالله تعالى د غصے نه تختم.زه دهغه غصه نشى برداشت كولے.ماته ددے نه سوا بل دين اوښايه.هغه ورته اووئيل.بيا ته حنيف شه: هغه تپوس اوكړلو.چه حنيف څه څيز دے؟هغه ورته اووئيل.حنيف حضرت ابراهيم عليه السلام وو.هغه نه يهودى وو.اونه نصرانى وو.دهغه دين ته دين حنيف وائى.

بيا يو نصرانى عالم ته لاړلو.هغه ته ئے اووئيل زه ستاسو په دين كښے داخليدل غواړم.هغه ورته اووئيل كه زمونږ په دين كښے په حقيقت كښے داخليدل غواړے.نو دالله تعالى څه لعنت به هم برداشت كوے.دوى ورته اووئيل.د الله تعالى د لعنت نه خو زه تښتم.زه نه لعنت برداشت كولے شم او نه غضب.

بيا ورته هغه هم دا رائے وركړه.چه دين حنيف اختيار كړه.اود حضرت ابراهيم عليه السلام په دين كښے داخل شه

---

(١) صحيح بخارى كتاب التعبير باب أول ما بدئ به ...)۔

(٢) فتح البارى (٢٥/١)۔

زيد بن عمرو بن نفيل چه كله د حضرت ابراهيم عليه السلام په باره كښې د دواړو نه دا خبرې واوريدې نولاس ئې اوچت كړلو او وې وئيل «اللهم أشهد أني على دين ابراهيم عليه السلام»(١)

قوله وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ فَيَكْتُبُ مِنَ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكْتُبَ: عبرانى د عبرنه ماخوذ ده په نسبت كښې خلاف قياس ..عبرانى.. وئيلې شى وائى چه كله حضرت ابراهيم عليه السلام د نمرود نه بچ شو او درياب فرات بانديے تير شو نو نمرود په دوى پسے خلق اوليږل اوهغوى ته ئې حكم اوكړلو كه تاسو ته داسې خوان ملاؤ شى چه هغه سريانى وائى نوهغه واپس راولئ. خلقو حضرت ابراهيم عليه السلام اونيولو خو چه كله ئې ورسره خبرې اوكړې نو الله تعالى ددوى ژبه په عبرانئ كښې بدله كړه چونكه د دريابې فرات نه راواوړيدلې وو نوځكه ددې ژبې نوم ..عبرانى.. شو.(٢)

په بخارى شريف كتاب التفسير اوكتاب التعبير كښې هم دا روايت راغلې دے په دغه دواړو ځايونو كښې د «وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ فَيَكْتُبُ مِنَ الْإِنْجِيلِ بِالْعِبْرَانِيَّةِ» الفاظ دى.

حافظ بن حجرعسقلانى رحمه الله فرمائى چه دواړه خبرې ټيك دى. ورقه بن نوفل ته په عبرانئ او عربئ دواړو ژبو بانديے قدرت حاصل وو. عربى ئې خپله ژبه وه او عبرانى ئې زده كړې وه. انجيل به كله هغوى په عربئ كښې نقل كولو اوكله په عبرانئ كښې (٣)

د تورات او انجيل ژبه د تورات اوانجيل اصلى ژبه څه وه. په دے كښې سخت اختلاف دے علامه تيمى رحمه الله فرمائى چه دتورات انجيل اوټولو آسمانى كتابونو ژبه عبرانى ده (٤)

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى. ددے نه معلومه شوه چه د انجيل اصلى ژبه عبرانى وه (٥)

خوعلامه عينى رحمه الله فرمائى. چه دا خبره ټيك نه ده. بلكه تورات په عبرانئ ژبه كښې وو او دانجيل ژبه سريانى وه.(٦) دلته د حديث الفاظ «فيكتب من الإنجيل بالعبرانية» نه هم دا په پوهه كښې راځى. چه دانجيل ژبه سريانى وه. چه هغه به هغوى كله عربئ ته نقل كولو اوكله عبرانئ ته.(٧) والله اعلم.

دسريانئ وجه تسميه عالمان فرمائى سريانئ ته سريانى ددے وجې وائى چه الله تعالى آدم عليه السلام ته كله د ..اسماء.. تعليم وركولو نوپه پټه ئې ورته تعليم وركړے وو ځكه ددے ژبې نوم ..سريانى.. شو.(٨)

---

(١) صحيح بخارى (١/٥٣٩، ٥٤٠) كتاب المناقب باب حديث زيد بن عمرو بن نفيل_

(٢) عمدة القارى (١/٥١، ٥٢)_

(٣) فتح البارى (١/٢٥)_

(٤) عمدة القارى (١/٥٢)_

(٥) شرح كرمانى (١/٣٨)_

(٦) عمدة القارى (١/٥٢)_

(٧) شرح كرمانى)_

(٨) عمدة القارى (١/٥٢)_

امام العصر حضرت كشميرى رحمه الله فرمائى چه سريانى په اصل كښے د ..سريا.. يعنى سوريا (شام) طرف ته منسوب دے.[1]
د انجيل د كتابت وجه دلته چه دا ونيلى شوى دى چه دوى به انجيل ليكلو.ددے وجه په اصل كښے دا وه .چه په قرآن كريم كښے دالله تعالى ارشاد دے.﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ ﴾ ([2])
ددے نه معلومه شوه. چه د تورات دحفاظت ذمه د تورات په عالمانو باندے كيخودے شوے وه چونكه په هغوى محافظين گرځولے شوى وو.څكه هغوى د حفاظت دا طريقه اختيار كړه چه د كتاب الله كتابت به ئے كولو.اودهغے په نسخو پسے به ئے نسخے تيارولے
هم دا طريقه په انجيل كښے هم وه.چه علمائے ربانينو به دا ليكل او محفوظ كول.دا بيله خبره ده.چه چونكه الله تعالى دغه كتابونو د يو محدود وخت دپاره نازل كړى وو.نوددے وجے هغوى ددے په حفاظت كښے كامياب نشو.
په خلاف د قرآن كريم څكه چه د دے د حفاظت ذمه وارى الله تعالى په خپله اخستے ده.﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ﴾ ([3]) الله تعالى د قرآن د حفاظت كار د داسے كسانو نه واخستلو.چه دهغوى په باره كښے عقل دا نه تسليموى.چه دوى هم د قرآن محافظ كيدے شى.واړه واړه ماشومان د اووه اووه ،اتو اتو. نهو نهو. لسو لسو كالو ماشومان چه د دنيا دهيڅ كار قابل نه وى.د دوى په باره كښے خلقو ته هم معلومه ده.چه دوى د څه كار نه دى.اوپه خپله د دوى هم دا دعوى نه ده.چه دوى څه كار كولے شى.د دوى نه ئے دا كار اخستے دے.او ددوى فوخونه ئے تيار كړى دى.او د دوى په سينو كښے ئے ټول قرآن محفوظ كړے دے.
الله سبحانه وتعالى په خپل حكمت بالغه سره داسے اوقدرت كامله سره د داسے ماشومانو انتخاب كړے دے.چه هغوى د قرآن د حفاظت خو دلا څه چه د وركوټى كتاب د حفاظت نه هم عاجز دى.نه خو د قرآن كريم معانى پيژنى.او نه ددے د حقائقواو مقاصدو نه خبر دى.چونكه دحفاظت ذمه وارى الله تعالى په خپله اخستے ده.نوددے ذمه وارى په دے طريقه پوره كوى.
كه د اتلس يا د ديرشو څلويښتوكالو كسان وو.نو ونيل به ئے چه دا زمونږ د قربانو نتيجه ده.
مونږ الله تعالى ته پته ده.چه دومره ضرورى ضرورى كارونه پريخودل اوقرآن ياد كړل.گنى دا چرته محفوظ كيدے شو.
نوالله تعالى د وړو وړو ماشومانو نه داكارواخستله.اود غټو احسان ئے وانه خستل.د وړو

---

(۱) فيض البارى (۱/ ۳۰)_
(۲) المائدة ۰۴۴)-
(۳) الحجر ۰۰۹)-

معصومو ماشومانو په باره کښې دا نښې ونيلې چه دا د دوی د قربانو نتيجه ده.ګني دوی خو فلانې فلانې کار هم کولې شو.
بهرحال خلاصه دا ده چه ورقه بن نوفل د انجيل د حفاظت په غرض دا ليکل.کله به ئې په عربي کښې ترجمه کول اوکله په عبراني کښې.چونکه ددې يادول اوحفظ مقصود نه وو.دا دقرآن کريم خصوصيت دې.چه يادېږی.په باقي کتابونو کښې دا خصوصيت نشته.نوځکه په دا ليکلې او محفوظ کولې شو.ددې وجې حضرت خديجه رضي الله عنها دلته د کتابت انجيل ذکر اوکړلو.خو د حفاظت انجيل ذکرئې اونکړلو.(۱)

قوله: وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ :ورقه بوډا وو اونابينا شوې وو.
دلته يوبچکانه غوندې سوال پيدا کيږی چه هرکله ورقه نابينا شوې وو نوليکل ئې څنګه کول؟ ددې جواب ښکاره دې.چه اول به ئې ليکل کول.دهغې خبر ورکړې شو چه ((وكان يكتب..)) روستو نابينا شوې وو.مطلب دا دې.چه په يوه زمانه کښې به هغه د انجيل ترجمه عربي او عبراني کښې کوله.او اوس چه د نبي ﷺ واقعه پيښه شوه .نوپه هغه وخت کښې نابينا شوې وو.
دويم جواب دا ورکولې شي.چه دلته د ..عمى.. اطلاق په ..ضعف بصارت.. باندې شوې دې.يعنى د هغوى نظر کم شوې وو.اوپه ضعف بصارت اوکتابت کښې جمع ممکن ده.
دا هم ممکنه ده.چه په حقيقت کښې نابينا شوې وو.اوبل چاته به ئې حکم کولو.او ليکل به ئې کولو.په دې صورت کښې د ليکلو نسبت ورقه ته مجازاً دې.

قوله: فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ :ورقه ته حضرت خديجه رضي الله عنها اوفرمائيل.اې زما د تره خويه! هم دا روايت په کتاب التعبير کښې دې.په هغې کښې د ((أى ابن عم)) الفاظ دی.په کتاب التفسير کښې د ابوذر په روايت کښې خو د ((يا ابن عم)) الفاظ دی.او د نورو حضراتو په روايت کښې د ((ياعم))الفاظ دی.
بيا دمسلم شريف په روايت کښې د ((ياابن عم)) الفاظ دی.(۲)
امام نووی رحمه الله فرمائي.چه دواړه صحيح دی.((ابن عم)) خو ددې وجه چه هغه په حقيقت کښې ((ابن عم)) يعنى د تره خوئې وو.او ..عم.. ونيل په دې اعتبار سره صحيح دی.چه هغه په عمر کښې د دې نه مشر وو.اودعربو رواج دې چه د مشرانو ته د احترام دپاره ..عم.. وائي.(۳)

(۱) فتح البارى (۲۵/۱)_
(۲) صحيح مسلم (۸۸/۱) كتاب الإيمان باب بدء الوحى إلى رسول الله ﷺ)_
(۳) شرح نووی على صحيح مسلم (۸۹/۱)_

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ دا جمع نه ده تسلیم کړے خکه چه په دواړو خایونو کښے په حدیث کښے واقعه یوه ده نوښکاره ده چه یاخو به نے ..ابن عم.. ونیلی وی اویا به ..عم.. ونیلی وی ابن عم خو بالکل ټیك دے خکه چه دا په خپل حقیقت باندے دے نوخکه به هم دا راجح او قوی وی او د ..یاعم.. په باره کښے به دا ونیلی شی چه دا د راوی وهم دے

په دے باندے دا اعتراض وارد یږی چه حافظ ابن حجر رحمہ اللہ مخکښے د «العربي بالعبرانية» او «العبراني بالعربية» په اختلاف کښے فرمانیلی وو چه دواړه ټیك دی خکه چه ورقه په دواړو ژبو قادر وو نوځنګه چه هلته دا احتمال جاری کیدے شو دغه شان دلته هم کیدے شی

حافظ رحمہ اللہ ددے جواب ورکړے دے چه هلته د دغه احتمال د ممکن کیدو وجه دا ده چه دا د راوی کلام دے کله راوی هغه ونیلی دی اوکله دا او په «ابن عم» کښے کلام دحضرت خدیجه رضی اللہ عنہا دے اوهغوی صرف یو خل ونیلی دی.(۱)

علامه زرقانی رحمہ اللہ فرمانی زما خیال دا دے چه دا لفظ په اصل کښے «ابن عم» وو یعنی په شروع کښے حرف ندا محذوف وه بیا لفظ د ..ابن.و محرف شو او ..ای.. ترے جوړ شو.(۲)

د علامه زرقانی رحمہ اللہ دا توجیه د مسلم شرف په روایت کښے کیدے شی خود بخاری شریف په روایت کښے نے جاری کول ګران دی خکه چه په کتاب التفسیر کښے د ابوذر د روایت نه علاوه د بل په روایت کښے «یاعم» واقع دی مګر دا چه دا اوونیلی شی چه په اصل کښے وو «أی عم» بیا راوی روایت بالمعنی اوکړلو او «یاعم» نے اوونیل.

دویم صورت د ترجیح دے چه د ابوذر روایت راجح اوګرخولے شی او د نورو حضراتو روایت مرجوح اوګنړلے شی والله اعلم.

قوله: اِسْمَعْ مِنْ ابْنِ أَخِيكَ: دخپل وراره خبره واوره.

نبی ﷺ ته حضرت خدیجه رضی اللہ عنہا د ورقه د ترة خوئے اوونیل

ددے وجه یا خو دا ده چه ورقه په کال او عمر کښے د نبی ﷺ نه زیات مشر وو.(۳)

او یا ددے وجه دا ده چه ورقه او د نبی اکرم ﷺ پلار دواړه په قصیٰ کښے یوخانے کیږی کوم چه د دواړو نیکهٔ دے د ورقه نسب خو ورقه بن نوفل بن اسد بن عبدالعزی بن قصی دے اود حضرت عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی لکه چه قصی ته اورسیږی نودواړه یوخانے کیږی په دے لحاظ سره لکه چه ورقه د نبی ﷺ ترة شو.(۴)

ورقه ورته اوونیل دا هغه رازدار دے کوم چه الله تعالی موسی علیہ السلام ته رالیږلے وو.

---

(۱) پورتنۍ حواله)_

(۲) فضل الباری (۱/۱۷۵)_

(۳) فتح الباری (۱/۲۵)_

(۴) پورتنۍ حواله)_

قوله فقال له ورقة هذا الناموس الذي نزل الله على موسى: ناموس د ..فاعول .. په وزن دے ((نامست الرجل إذا ساررته)) يعنى د پټو خبرو كولو نه ماخوذ دے.[1] نمس ينمس.. (باب ضرب) معنى ئے پټول راځى.[2]

د ناموس تفسير د بخارى شريف په كتاب التفسير كښے راځى.هلته دده تفسير امام بخارى رحمه الله په ..صاحب السر.. سره كړے دے.[3]

علامه سهيلى رحمه الله اوابن الاثير رحمه الله دد تفسير په ..صاحب سر الملك.. سره نقل كړے دے.[4]

ددے تولو حاصل دا دے چه ..ناموس.. رازدار ته وائى.برابره خبره ده كه ..صاحب سرالخير.. وى.اوكه ..صاحب سر الشر..وى.

بعضے حضرات وائى چه.. ناموس صاحب سر الخير.. ته وائى.او..صاحب سر الشر.. ته ..جاسوس.. وائى.[5] دا تفريق علامه سهيلى رحمه الله هم نقل كړے دے [6] اوعلامه نووى رحمه الله فرمائى.چه هم دا د اهل لغت او غريب الحديث د صاحبانو قول دے.[7]

خو خبره دا ده.چه اهل لغت دواړه قولونه نقل كوى.ابن الاثير رحمه الله په النهايه كښے ..صاحب سر الملك.. قول هم نقل كړے دے.او د تفريق قول هم.

نو كيدے شى.چه داسے اووئيلى شى.چه دواړه قولونه دى.اودا هم ممكن ده.چه داسے اووئيلى شى.چه د لغت په اعتبار دواړه متحد دى.اوخو په عرف كښے فرق دے.د ..ناموس.. اطلاق په ..صاحب سرالخير.. باندے كيږى.اود ..جاسوس.. اطلاق په ..صاحب سرالشر.. باندے كيږى.

بيا دلته د ناموس نه مراد په د ټولو په نيز حضرت جبرئيل عليه السلام دے.[8] د سيرت ابن هشام په روايت كښے ..الناموس الاكبر.. راغلى دى.[9] اهل كتابو به جبرئيل آمين ته ..ناموس اكبر.. وئيل.

د دې باوجود چه ورقه عيسائى وو خو د عيسى عليه السلام په ځائې د موسى عليه السلام د ذكر كولو وجه: دلته د قياس تقاضا خو دا وه.چه ((الذى نزل الله على عيسى)) ئے وئيلے وو.ځكه چه ورقه بن نوفل

---

(۱) اعلام الحديث للخطابى) رحمه الله (۱/۱۳۰)_

(۲) شرح نووى على صحيح مسلم (۸۹/۱)_

(۳) صحيح بخارى (۱/۴۸۰) كتاب الأنبياء باب واذكر فى الكتا بموسى إنه كان مخلصاً ...)_

(۴) الروض الأنف (۱/۱۵۶) او النهاية لإبن الأثير(۱۱۹/۵)_

(۵) فتح البارى(۱/۲۶)_

(۶) الروض الأنف (۸۹/۱)_

(۷) شرح نووى على صحيح مسلم (۸۹/۱)_

(۸) پورتنئ حواله)_

(۹) سيرت ابن هشام (۱۵۶/۱)_

نصرانی وو
بعضو ونیلی دی چه چونکه د عیسی ﷺ په نبوت کښے یهودیانو اختلاف کول او نصاری دهغه دپاره د نبوت په ځائے ابن الله (والعیاذ بالله) ثابتوی او موسی ﷺ په یهودیانو اونصارو کښے متفق نبی وو خکه ورقه دلته دهغه نوم واخستلو. (۱)
علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی صحیح وجه دا ده چه د قرآن کریم نه وړاندے چه څومره صحیفے او آسمانی کتابونه راغلی دی جامع ترین کتاب تورات وو کوم چه په موسی ﷺ باندے نازل شوے وو قرآن کریم هم ددے اشاره کړے ده ﴿ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ ﴾ (۲) انبیاؤ اواهل علم او دین به هم په دے باندے خپلے فیصلے کولے ددے وجه دا وه چه دهغه وخت د احکامو په اعتبار سره دا جامع ترین کتاب وو اوپه انجیل کښے زیات احکام نه وو دهغے زیاته حصه په نصیحتونو او واقعاتو باندے مشتمله وه حضرت عیسی ﷺ فرمائیلی وو خلقو زه ددے دپاره نه یم راغلے چه تورات بدل کړم بلکه ددے دپاره راغلے یم چه دتورات تکمیل اوکړم د عیسی ﷺ په راتلو صرف په یو څو جزئیاتو کښے د زمانے د مصلحت په وجه نسخ شوے وه قرآن کریم ددے گواه دے ﴿ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ﴾ (۳)
باقی په کشف الظنون کښے چه د خلقو کوم قول ذکر شوے دے چه مونږ تورات په استیعاب سره کتلے دے په هغے کښے د مونځ، روژے، حج، زکاة اوحشرنشر متعلق څه تفصیل نشته (۴) نوداحال خودخلقو تحریف د وجے شوے دے په حقیقت کښے تورات د احکامو دپاره جامع وو ورقه ته دآسمانی کتابونو په مطالعے سره معلومه شوے وه چه نبی ﷺ ته به هم یو جامع اواکمل ترین کتاب ملاویږی کوم چه به د تورات نه هم جامع وی په قرآن پاك کښے ارشاد دے ﴿ قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِّنْ عِندِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَا ﴾ (۵) نوځکه ورقه د موسی ﷺ ذکر اوکړلو.
اود نبی ﷺ د موسی ﷺ سره په حقیقت کښے یو خاص مناسبت وو په قرآن کریم د نبی ﷺ رسالت ته د موسی ﷺ سره رسالت سره تشبیه ورکړے شوے ده ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾ (۶) دا تشبیه دجامعیت ده.

(۱) تقریر بخاری (۹۱/۱)_
(۲) المائدة ٤٤-
(۳) آل عمران ٥٠-
(۴) کشف الظنون (٥٠٤/١)_
(۵) القصص ٤٩-
(۶) المزمل ١٥-

تورات په خپل وخت کښے جامع وو. اوقرآن د ټولو آسمانی کتابونو او د قیامته پورے د ټولو زیاتی فوائدو جامع دے.خکه د قرآن کریم په توصیف کښے الله تعالی ارشاد فرمائی.

﴿وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ﴾ (۱) یعنی دا قرآن د ټولو شریعتونو نګهبان اود ټولو جامع دے.

یو مناسبت دا هم دے.چه دموسی ﷺ فرعون هلاك شو.دغه شان د نبی ﷺ د امت فرعون ابوجهل هم هلاك شو.(۲)

یواشکال اودهغے جواب دلته یوه شبه دا کیږی.چه حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله په حواله د دلائل ابی نعیم په حواله سره یو حسن حدیث ذکر کړے دے.چه په هغے کښے دحضرت عیسی ﷺ ذکر دے.په دے صورت کښے به هغه ټولے نکتے کومے چه بیان شوے یے فائدے شی.

ددے جواب دا دے.چه په اصل کښے حضرت خدیجه رضی الله عنها ورقه بن نوفل ته دوه خله تلے وه.یو خل یواځے اوبل خل د نبی ﷺ سره.نویه کوم وخت کښے چه یواځے تلے وه.په هغه وخت کښے نے ((نزل الله علی عیسی ﷺ)) ونیلی وو.اودا د هغوی د فهم مطابق وه خکه چه هغے هم دا پیژندل.چه ورقه نصرانی دے.اودحضرت عیسی ﷺ په منونکو کښے دے.خوچه کله هغے نبی ﷺ بوتلو.اولاړله .نو((نزل الله علی موسی ﷺ)) نے اوونیل.چونکه نبی ﷺ هغه ټول نکات اوحقائق پیژندلی شو.نوځکه نے دحضرت موسی ﷺ ذکر اوکړلو.اوحضرت خدیجه رضی الله عنها چه کله یواځے وه.نوهلته د فهم د آسانئ دپاره نے حضرت عیسی ﷺ ذکر کړلو. (۳)

دعلامه سهیلی رحمه الله بیان اودهغے رد علامه ابوالقاسم سهیلی رحمه الله په ..الروض الانف.. کښے لیکلی دی.چه ورقه دحضرت موسی ﷺ ذکردد ے وجے کړے وو.چه هغه عیسانی وو.اود عیسایانو دا عقیده ده.چه الله تعالی جوهر فرد دے.اودهغه درے اقانیم دی..وجود. کلمه.. او حیاة. دهغوی په اصطلاح کښے ..وجود.. ته ..اب.. او..کلمه ته ..ابن.. او حیاة.. ته ..روح القدس ونیلی شی.لکه چه الله تعالی د الله تعالی دا درے اجزائے ترکیبی دی.والعیاذ بالله تعالی.

هغوی دا وائی.چه په اقانیم ثلاثه کښے اقنوم کلمه په ناسوت مسیح کښے حلول کړے دے.اوکلمه وائی.دهغوی په نیز ..علم.. ته.خکه دهغوی په رائے کښے حضرت عیسی ﷺ په غیبو پوهیږلو.اوچه صبا به څه کیږی.ددے خبر ورکول .چونکه دا دهغه نصارو مذهب وو.چه هغوی دروغژن وو.اوپه پورے نے دروغ تړونکی وو.نوځکه نے دحضرت عیسی ﷺ د ذکر نه عدول اوکړلو.اودحضرت موسی ﷺ ذکر نے اوکړلو.

یادا چه دهغوی عقیده دا وه.چه حضرت جبرئیل ﷺ به حضرت موسی ﷺ ته راتلو.او

---

(۱) المائدة ۴۸)-

(۲) فضل الباری(۳۱/۱۷۶، ۱۷۷)_

(۳) فتح الباری (۱/۲۶)او فضل الباری (۱ص۰)_

حضرت عيسى ﷺ ته د راتلو ضرورت نه وو.خكه چه هغه خو تول هرڅه پيژندل.(١)
خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د علامه سهيلي رحمه الله دا توجيح تيك نه ده.خكه چه ورقه په محرف نصراني دين كښے داخل شوے نه وو.بلكه دهغوى ملاقات د بعضے داسے راهبانوسره شوے وو.څوك چه په اصلي عيسوى شريعت په باندے قائم اوباقي وو.(٢) والله اعلم.

قوله يَالَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا: د ،،يا،، په باره كښے بعضے عالمان ﷺ فرمائي چه دا ،،حرف ندا،، دے.اودد ے نه پس منادى محذوفه ده.يعنى «يامحمد ليتنى فيها جزعاً»(٣)
ابن مالك رحمه الله په دے باندے اشكال كړے دے.چه داسے قسم كلام بعضے وخت متكلم په كلام كښے كوى.حالانكه هغه سره څوك هم نه وى.لكه په قرآن كريم كښے دحضرت مريم عليها السلام قول دے.﴿ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا ﴾ (٤)
دلته دے ته حرف ندا وئيل تيك نه دى.خكه چه هغه په دغه وخت كښے يواخے وه.نودا حرف ندا نه دے.بلكه د ،،الا،، په شان حرف تنبيه دے.(٥)

الاليت شعرى هل أبيتن ليلة بواد وحولى إذخر وجليل (٦)

خو ددے جواب دا دے.چه كوم خائے كښے سړے يواخے وى.اوبل څوك مخاطب نه وى.نو په داسے موقع خپل نفس ته خطاب كولے شى.يعنى ﴿ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا ﴾ (٧)
په ،،فيها،، كښے ضمير يا خو «أيام الدعوة» ته راجع دے.او يا «أيام النبوة» ته.(٨)
د ،،جذع،، اعراب او ددې وجوه. «جذعاً» دلته دوه روايتونه دى.په يو روايت كښے ،،جذع،، بالرفع دے.اوپه بل روايت كښے ،،جذعاً،، بالنصب دے.د رفع په صورت كښے خو ښكاره ده. چه د ،،ليت،، خبر دے.(٩)
البته د ،،نصب،، څو وجوه ذكر شوى دى.

---

(١) الروض الأنف(١٥۶/١)_
(٢) فتح البارى (٢۶/١)_
(٣) عمدة القارى(٥٨/١)_
(٤) مريم ٢٣٠)-
(٥) عمدة القارى(٥٨/١)_
(۶) قاله سيدنا بلال ﷺ كما فى البخارى (٢٥٣/١) كتاب فضائل المدينة باب (بلا ترجمة) بعد ذكر كراهية النبى ﷺ أن تعرى المدينة)_
(٧) عمدة القارى (٥٨/١)_
(٨) فتح البارى(٢۶/١) وعمدة القارى(٥٨/١)_
(٩) پورتنۍ حواله)_

① علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه دلته ..کان.. محذوف دے یعنی ((لیت کنت جذعاً)) [۱]
دامام کسائی رحمه الله میلان هم دے طرف ته دے [۲] کوفیانو ((انتهوا خیرا لکم)) کښے هم دا تاویل کړے دے یعنی ((انتهوا یکن خیراً لکم)) [۳]
② ابن بری رحمه الله فرمائی چه دا د ..جعل.. مفعول دے تقدیر د عبارت دا دے ((یالیتنی جعلت فیها جذعاً)) [۴]
③ کوفیان وائی چه دلته ..لیت.. ته د ..تمنیت.. عمل ورکړے شوے دے لکه چه شاعر په دے قول کښے چه:.. یا لیت أیام الصبا روجعاً [۵]
④ قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دا د حال واقع کیدو د وجے منصوب دے او ..فیها.. د ..لیت.. دپاره خبر دے علامه نووی رحمه الله فرمائی چه ((وهذا الذی إختاره القاضی هوالصحیح الذی إختاره أهل التحقیق والمعرفة ممن شیوخنا وغیرهم ممن یعتمد علیه والله اعلم)) [۶]
د ..جذع.. لغوی معنی: ..جذع.. په اصل کښے نوعمر اوخوان خناور ته وائی کوم اوښ چه څلور کاله پوره کړی اوپه پنځم کښے داخل شی اوکومه غوا چه دوه کاله پوره کړی او کومه چیلۍ چه یوکال پوره کړی هغې ته ..جذع.. وائی [۷]
مطلب دا چه ورقه دا تمنا کوله چه کاش زه د دعوت په ورځو کښے خوان او طاقتور وے نوما به ستا پوره حمایت او مدد کړے وے.
قوله: لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ: دا په طریقے د تنزل سره دے که زه خوان نه یم چه کم ازکم دومره خو یم چه په هغه زمانه کښے ژوندے یم کله چه تاخپل قوم اوباسی.
قوله: أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ: یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا خلق به ما اوباسی؟
دلته سوال دادے چه حرف عطف خوپه حرف استفهام باندے مقدم وی لکه ﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ﴾ [۸]

---

(۱) أعلام الحدیث (۱۳۱/۱)_
(۲) عمدة القاری (۵۸/۱)_
(۳) فتح الباری (۲۶/۱)_
(۴) فتح الباری (۲۶/۱)_
(۵) عمدة القاری (۵۸/۱)_
(۶) شرح نووی علی صحیح مسلم (۸۹/۱)_
(۷) النهایة فی غریب الحدیث (۲۵۰/۱) ومجمع بحارالأنوار (۳۳۵/۱)_
(۸) آل عمران ۱۰۱)-

او ﴿فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ﴾ (١) او ﴿فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ﴾ (٢) كنبے تا سو گورئ چه دلته حرف استفهام دحرف عطف نه مقدم دے.نو((أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ))دا څنگه ټيك شو؟

دابن مالك رحمه الله وينا ده.چه اصل قانون هم دا دے.کوم چه ذکر شو.چه حروف عطف په حروف استفهام باندے مقدم کولی شی.خوچونکه په ادوات استفهام کښے ..همزه.. اصل دے.څکه په دے کښے گنجائش اوگڼړلے شو.چه دا په حرف عطف باندے مقدم کړے شی.(٣)

خوحقيقت دا دے چه د ابن مالك رحمه الله دا کلام رکيك دے.څکه چه اول خو دا د ((اذيخرجك قومك))جواب دے.چه دوی ته چونکه ددے اخراج په خبر باندے تعجب اوشو.نوځکه نبی ﷺ داستبعاد او استعجاب داظهار دپاره سوال اوکړلو.چه آيا دوی به ما اوباسی؟بيا د جواب نه وړاندے د حرف عطف د راوړلو څه معنی ده؟(٤)

دويمه خبره دا ده.چه کله دا ..همزه استفهام.. دے.اوپه ..مخرجی.. باندے داخل دے.نوصرف د اصل بالاستفهام په وجه دا په واو عاطفه باندے خلاف قياس ولے مقدم کړے شو.بے ضرورته ددے وجے چه په کوم ځائے کښے د دے د تقديم مقام وو.هلته مقدم دے يعنی د جمله استفهاميه ابتداء.نو بيا د واو عاطفه نه وړاندے دا ولے راوړلے شو؟(٥)

حقيقت دا دے.چه دلته مضبوطه خبره دعلامه زمحشری رحمه الله ده.هغوی فرمائی.چه په داسے مواقع کښے معطوف عليه محذوفه وی.اوتقدير د عبارت دا دے.((أمعادی ومخرجی هم))(٦)

د ((أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ)) اعراب: ..مخرجی.. د يا په تشديد سره دجمع صيغه ده.دا خبر مقدم دے.او ..هم.. مبتداء مؤخره ده.ددے عکس (يعنی دا چه مخرجی مبتدا اوهم خبر اوگرځولے شی) ټيك نه ده.څکه چه په ..مخرجی.. کښے اضافت ..اضافت لفظيه..دے.اوهغه نکره ده.او هم معرفه دے.چه نکره مبتدا اومعرفه گرځول ټيك نه دی.

دويم صورت دا دے.چه ..مخرجی.. د مبتدا قسم ثانی اوگرځولے شی.او ..هم.. ددے فاعل.کوم چه د خبر قائم مقام دے.په دے صورت کښے به دا جمله د ((أکلونی البراغيث)) د قبيلے نه وی.

دريم صورت دا دے.چه ..ومخرجی.. دتقديم سره نه وی.په دے صورت کښے به دا مبتدا

---

(١) التکوير ٠٢٦)-
(٢) الأحقاف ٠٣٥)-
(٣) شرح کرمانی(١/ ٤٠) وعمدة القاری(١/ ٥٩)_
(٤) پورتنئ حواله)_
(٥) پورتنئ حواله)_
(٦)پورتنئ حواله)_

قسم ثاني او ،،هم،، فاعل سد مسد الخبر،، گرځولے شي.په آخری دواړه صورتونوکښے به د مبتدا اعتماد په همزه استفهام باندے وی.(۱)

دنبی ﷺ دتعجب وجه علامه سهیلی رحمه الله فرمائی چه د نبی ﷺ په زړه کښے دخپل وطن محبت وو.خکه چه دوی ته اوونیلی شو چه ستا قوم به تا چیړی.تاته په تکلیف درکوی په هیڅ خبره باندے د نبی ﷺ په طبیعت کښے څه تاثر اوتغیر ښکاره نشو.دوی چپ وو.خوچه کله ئے د اخراج خبره واوریدله.نوسمدستی ئے وینا اوکړله.اودے خوږ وطن سره محبت کول هم پکار وو.خکه چه هلته بیت الله دے.هلته حرم دے.هلته د دوی پلار نیکونه حضرت اسماعیل علیه السلام د زمانے راسے آباد وو.(۲)

د دوی د شدت انفعال اوتاثر دا وجه هم کیدے شی.چه دوی ته دا خیال راغلی وی که زما قوم ما اوباسی.نودایمان د دولت نه به محروم شی.نو دهغوی د هدایت نه په محرومتیا باندے متاثره شو(۳) اودا هم کیدے شی.چه دواړه خیزونوسبب دتاثیروی(۴) والله سبحانه اعلم

قوله: قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ: ورقه اوونیل آو دا دالله تعالی طریقه ده.چه تا کومه خبره راوړے ده.چه دا سے قسم خبره کله هم چا کړے ده.دهغه سره دشمنی شوے ده.اود دشمنئ انجام ترلرے پورے رسیږی.سړے د خپل وطن په پریخودو باندے هم مجبوره کیږی.

قوله: وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا: یعنی که ستا سو ورځے ماته ملاؤ شوے.نو زه به تاسوسره ډیر مدد کوم.

د ،،یومك،، نه مراد ،،یوم اخراج،، هم کیدے شی.اود جهاد زمانه هم ممکنه ده.اوکیدے شی.چه زمانه د دعوت مراد وی.(۵)

،،موزراً،، د ،،ازر،، نه ماخوذ دے.معنی ئے ده.قوت اوشدت،په دے صورت کښے به معنی شی.«أنصرك نصراً قوياً بليغاً»

قزار وائی.چه ،،موزراً،، د ،،ازر،، نه ماخوذ نه دے.خکه چه دا مهموز نه دے.بلکه د واو سره دے.اود ،،وازر یوازر،، نه ماخوذ دے.چه معنی ئے معاونت دے.خکه وئیلی شی چه ،،وزیرالملك،، او ،،وزراء الملك،،

خو په دے باندے اشکال دا دے.چه علامه جوهری رحمه الله لیکلی دی.چه د ،،معاونت،، د معنی دپاره فصیح لفظ ،،آزر،، دے.کوم ته چه عوام ،،وازر،، وائی.(۶)

---

(۱) عمدة القاري(۵۹/۱)_
(۲) فتح الباري(۳۵۹/۱۲) كتاب التعبير باب أول ما بدئ به ..)_
(۳) پورتنئ حواله)_
(۴) پورتنئ حواله)_
(۵) فتح الباري (۷۲۱/۸) كتاب التفسير.تفسير سورة العلق)_
(۶) الفائق للزمحشري (۳۹/۱) وفتح الباري(۳۵۹/۱۲) كتاب التعبيرباب أول ما بدئ به ..)_

قوله ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ: اى لم يتعلق ورقة بشئ من الحياة.. يعنى څه زياته موده نه وه تيره شوې چه ورقه وفات شو. دغه نه دا معلوميږى چه ددې واقعې نه پس سمدستى وفات شوې وى خو ابن اسحاق رحمه الله يوه واقعه بيان كړې ده. چه حضرت بلال رضی الله عنه كله مسلمان شو اودمكې كافرانو به ورته تكليفونه وركول په گرمه شگه به ئې سملول او دغه په خيټه به ئې گټرى كيخودل. اوحضرت بلال رضی الله عنه به .. احد، احد.. ونيل چه ورقه به په دغه بندې تير شو نو ونيل به ئې «أحد احد والله يا بلال، ... أحلف بالله لئن قتلتموه لأتخذنه حنانا»(١).. حنان.. وائى ځائې د رحمت ته. مطلب دا چه زه به په ده سره تبرك حاصلوم او د رحمت د نازليدو موجب به ئې گڼرم.

ددې نه معلوميږى چه ورقه د روستو زمانې پورې ژوندې وو. تردې چه دحضرت بلال رضی الله عنه د ايمان اودغه د تعذيب وخت ئې رالاندې كړلو.

حافظ ابن قيم رحمه الله فرمائى چه دا روايت وهم دې. صحيح نه دې. كه ورقه ژوندې وې. نو دغه به د حضرت عمر، حضرت حمزه رضی الله عنه پشان ضرور مدد كړې وو. حالانكه په هيڅ ځائې كښې هم د دغه د مدد اونصرت ذكر نشته.(٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا اعتراض بارد دې. ځكه چه ورقه چه كوم «أنصرك نصرا مؤزرا» ونيلى وو. اووعده ئې كړې وه. د دغې مطلب دا وو. چه په يوم الاخراج كښې به ستا مدد كوم. كله چه ستا قوم تا د ښار نه اوباسى. او د وطن نه به دې خارجوى. نو په دغه وخت كښې به زه ستا حمايت كوم.(٣)

خو دحافظ توجيه ټيك نه معلوميږى. ځكه چه ورقه به مسلمان شوې وى. اودغه به د دې خبرې انتظار كولو. چه دالله تعالى رسول صلی الله علیه وسلم ته به كافران تكليفونه وركوى. او قوت باوجود به دغه چپ وى. دحمايت كلمه به نه وائى. اوپه دې انتظار كښې به اوسى چه كله دوى د ښار نه ويستلې شى. نوهله به د دوى مدد كوى؟ دا ډيره لرې ده.

قولـه: وَفَتَرَ الْوَحْيُ: اوپه وحى كښې فتور راغلو. ددې تسلسل ختم شو. اوددې راتلل موقوف شو.

دلته څو مباحث دى.

اول بحث دوحى دفتور اوانقطاع وجه دا دې چه د وحى د فتور اوانقطاع وجه څه وه؟

جواب دا دې چه ددې درې اسباب دى.

(١) يوخو ددې وجې چه په نبى صلی الله علیه وسلم د فرشتې د ناڅاپه راتلو په وجه چه كوم بوج پريوتې وو. هغه لرې شى.

---

(١) سيرت ابن هشام (٢٠٢/١) ذكر عدوان المشركين على المستضعفين ممن أسلم بالأذى والفتنة))_

(٢) فتح البارى(٧٢١/٨) كتاب التفسير، تفسير سورة العلق_

(٣) پورتنئ حواله)_

۱) دویم سبب دا وو چه دفتور نه پس د نبی ﷺ په طبیعت کښے شوق پیدا شو.ځکه چه داسے قسم څیزونه چه یو ځل سړے اووینی.نوطبعاً دوباره ئے زړه لیدل غواړی.اوکوم څیز چه د شوق نه پس راشی.هغه سهل اوآسان وی.

۲) دریمه وجه دا ده.چه څه په دوی باندے نازل شوی وو.بنکاره ده چه هغه قرآن وو.نولړه غونډے موقع ورته ورکړے شوه.چه په دے کښے غور او فکر اوکړی. (۱)

دویم بحث د فترت موده دویم بحث دا دے.چه فترت وحی څومره موده وه؟

حافظ ابن حجر رحمه الله دبعضے حضراتو قول نقل کړے دے.چه موده د فترت وحی دوه کاله وه.(۲)

علامه سهیلی رحمه الله فرمائی.چه ابن اسحاق خو دفترت وحی ذکر کړے.لیکن د مودے ذکرئے نه دے کړے.د اخبار مسنده نه معلومیږی.چه دا دوه نیم کاله وه.(۳)

د بخاری شارحین رحمهم الله فرمائی.چه دشعبی رحمه الله د مرسل روایت نه دړے کاله موده معلومیږی.«أنزلت علیه النبوة وهوابن أربعین سنة، فقرن بنبوته اسرائیل علیه السلام ثلاث سنین، فکان یعلم الکلمة والشیئ ولم ینزل علیه القرآن علی لسانه، فلما مضت ثلاث سنین قرن بنبوته جبریل علیه السلام فنزل علیه القرآن علی لسانه عشرین سنة»(۴)

یعنی دنبی کریم ﷺ عمرچه کله څلویښت کله شو.نو دوی ته نبوت ورکړے شو.او د دوی د نبوت سره حضرت اسرافیل علیه السلام مقرون شو.هغه به دوی ته کله کله د څو خبرو القاء کوله.دا سلسله دړے کالو پورے وه.اوپه دے ورځو کښے د قرآن نزول نه وو شوے.ددے نه پس حضرت جبریل علیه السلام دوی سره مقرر کړے شو.اوبیا د قرآن نزول شروع شو.شل کاله قرآن نازل شو.لس کله په مکه کښے او لس کاله په مدینه طیبه کښے.

ددے پوره اثرد کتلو نه معلومیږی.چه په دے کښے د فترت وحی د مودے بیان نشته.ځکه چه په دے کښے خودا دی.چه کله نبوت ورکړے شو.نواول کښے ورسره حضرت اسرافیل علیه السلام مقرر شوے وو.اوبیا دړے کاله پس ورسره حضرت جبرئیل علیه السلام شوے.اودقرآن نزول روستو شوے وو.ددے نه وړاندے قرآن نه وو نازل شوے.حالانکه ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ نازل شوے وو.ددے سورت اولنی پنځه آیاتونه نازل شوی وو.بیا دا وینا چه قرآن بیخی نازل شوے نه وو.څنګه صحیح کیدے شی؟

دویمه خبره دا ده.چه واقدی رحمه الله ددے اثر نه انکار کوی.اوفرمائی.چه «لیس یعرف أهل العلم ببلدنا أن إسرافیل علیه السلام قرن بالنبی، وإن علماءهم وأهل السیر منهم، یقولون لم ینزل به غیر جبریل علیه السلام

---

(۱) فتح الباری(۱۲/۳۶۰) کتاب التعبیر)_

(۲) البدایة والنهایة (۳/۱۷) باب کیف بدء الوحی)_

(۳) الروض الأنف للسهیلی(۱/۱۶۱)_

(۴) فتح الباری (۱/۲۷) دغه شان طبقات ابن سعد(۱/۱۹۱) ذکر مبعث رسول الله ﷺ ومابعث به..)_

من حين أنزل عليه الوحي إلى أن قبض ﷺ» (١)
خوحافظ ابن حجر رحمه الله په دے انکار باندے نکیر کړے دے. اوفرمائیلی ئے دی چه په نفی باندے څه دلیل نشته. نومثبت ته به نافی باندے ترجیح وی. (٢) لکه چه د دوی رائے دا ده چه په اول کښے به ورسره اسرافیل علیه السلام مقرر کړے شوے وی.
خودا واقعه د فترت بیان ګرځول ګران دی.
دلته مونږ دا ونیلی شو چه کیدے شی حضرت عائشے رضی الله عنها ته د اسرافیل علیه السلام د قصه علم نه وی شوے اودا هم ممکن ده چه علم ورته وو. خوهغوی د اختصار دوجے ذکر اونکړلو بهرحال صورت دا شو چه نبی ﷺ به اول خوبونه لیدل بیا ورسره د اسرافیل علیه السلام اقتران اوشو اودرے کاله پس ورسره دحضرت جبرئیل علیه السلام اقتران اوشو که د شعبی رحمه الله اثر ثابت وی نوهم دا توجیه به وی. والله اعلم.
بیا ابن سعد رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړی دی چه فترت وحی څو ورځو پورے وه «لما نزل علیه الوحی بحراء مکث أیاما لا یری جبریل علیه السلام» (٣)
خلاصه: خلاصه دا چه د فترت وحی د مودے په باره کښے څلور اقوال دی. () دوه کاله () دوه نیم کاله () درے کاله () څو ورځے.
دریم بحث: په زمانه د فترت کښے د جبرئیل علیه السلام نزول شوے وو که نه؟
دریم بحث دا دے چه د فترت وحی په زمانه کښے د حضرت جبرئیل علیه السلام نزول شوے وو که نه؟
صحیح دا ده چه دفترت وحی په زمانه کښے دحضرت جبرئیل علیه السلام نزول شوے وو. ځکه چه په کتاب التعبیر کښے حدیث راځی په هغے کښے دی چه کله د وحی فتور اوشو نونبی ﷺ به د ډیرغم د وجے د غرونو سوکو ته ختل اواراده به کوله چه خپل ځان لاندے راوغورځوی او هلاك شی نوحضرت جبرئیل علیه السلام به سمدستی ښکاره شو اودا به ئے وئیل «یا محمد! إنك رسول الله حقا» د نبی ﷺ په سینه کښے چه به کوم جوش پیدا شوے وو هغه به ختم شو بیا به نبی ﷺ واپس راتلو.
څلورم بحث: د فترت وحی نه پس د ټولو نه وړاندے څه نازل شوی وو؟
دصحیحین په روایت کښے دی چه د فترت وحی نه پس د ټولونه اول د «یاأیها المدثر» اولنی آیاتونه نازل شوی وو. (٤)

---

(١) طبقات ابن سعد (١٩١/١)_
(٢) فتح الباری (٢٧/١)_
(٣) طبقات ابن سعد (١٩٦/١) ذکر أول ما نزل علیه من القرآن وما قیل له ﷺ)_
(٤) صحیح بخاری (کتاب التفسیر. تفسیر سورة العلق وصحیح مسلم (٩٠/١) کتاب الإیمان باب بدء الوحی إلی رسول الله ﷺ)_

خو سليمان تيمى رحمه الله بعضے آثار داسے ذكر كړى دى چه په هغے كښے د سورة ..والضحى.. او سورة ..الم نشرح.. د مكمل نزول ذكر دے.(۱) خودا ټول آثار ضعيف دى
په حقيقت كښے دلته دوه فترت ده

۱) يو فترت هغه دے كوم چه د ابتداء وحى په زمانه كښے وو د هغے نه پس خو ..يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ.. و نازل شوے وو.

۲) اودويم فترت هغه دے كوم چه د درے ورځو مختصره موده وه چه د هغے نه پس سورت ..والضحى.. نازل شو.ددے فترت متعلق دابولهب د ښځے واقعه ده چه رسول الله ﷺ دوه درے ورځے بيمار شو.اوحضرت جبرئيل عليه السلام رانغلو.نودابولهب ښځے وئيل شروع كړل.چه ((يا محمد إنى رأرجوأن يكون شيطانك قد تركك لم أره قربك منذ ليلتين أو ثلاث، فأنزل الله: ﴿وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ إِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝﴾ (۲) والله اعلم.

الحديث الرابع

[۴] قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيَّ قَالَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ بَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَرُعِبْتُ مِنْهُ فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ فَحَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ تَابَعَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ وَأَبُو صَالِحٍ وَتَابَعَهُ هِلَالُ بْنُ رَدَّادٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ يُونُسُ وَمَعْمَرٌ بَوَادِرُهُ [۳۰۶۶،۳۲۳۸،۴۶۴۲،۴۹۲۵،۵۸۶۰]

امام بخارى رحمه الله دلته د حضرت جابر رضى الله عنه روايت بيانوى.اول ئے د ابن شهاب زهرى رحمه الله په سند سره د حضرت عائشے رضى الله عنها حديث بيان كړے دے.

علامه كرمانى رحمه الله دا تعليق گرځولے دے.هغوى فرمائى.چه دلته د سند اولنۍ حصه ذكر نه ده.اوكله چه د سند په ابتداء كښے حذف وى.هغے ته تعليق وائى دا بيله خبره ده.چه امام بخارى رحمه الله كله د جزم صيغے استعمالوى نوهغه معلقات عام طور مسند وى.برابره كه په سند متقدم سره وى يا په بل سند سره وى.بهرحال د هغوى په نيزدا تعليق دے.(۳)

---

(۱) فتح البارى(۸/۷۱۰) كتاب التفسير.تفسير سورة العلق باب ﴿وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ إِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝﴾ (الضحى ۰۰۱-۰۰۳)-

(۲)صحيح بخارى (۲/۷۳۸، ۷۳۹) كتاب التفسير.تفسير سورة والضحى)_

(۳) شرح كرمانى(۱/۴۱)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا موصولاً بالسند السابق دے يعنى ((حدثنا يحيى بن بكير قال: حدثنا الليث عن عقيل عن ابن شهاب أخبرني أبوسلمة...)) لكه چه دلته سند محذوف نه دے نودا تعليق نشو بلكه تحويل دے.(۱)

دتحويل قسمونه (۱) په ابتداء كښے دوه سندونه وى.اوبيا په مينځ كښے چه په مينځ كښے يو راوى ته اورسى.نودواړه سندونه يوځائے شى.وړاندے سند يو وى.هم دا عامه طريقه ده.اواكثر هم دا صورت وى.

(۲) دويم صورت ددے په عكس دے.يعنى د ابتداء نه خو يو سند وى.اوچه وړاندے لاړ شى.نودوه شى.(۲) لكه څنګه چه دلته هم دا صورت دے.چه امام بخارى رحمه الله اول د ((يحيى بن بكير عن الليث عن عقيل عن ابن شهاب)) په سند سره د حضرت عائشے رضي الله عنها حديث ذكر كوى.اوبيا هم په دے طريق سره هم د ابن شهاب په واسطه دحضرت جابر رضي الله عنه حديث ذكر كوى.په اول كښے سند يو وو.اوچه ابن شهاب رحمه الله ته اورسيدلو.نو جدا شو.

قوله: قَالَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ: په ظاهره د ..قال.. ضميردغه شان د ..وهو.. اود ..يحدث.. ضميرحضرت جابر رضي الله عنه ته راجع كيږى.هم دا علامه كرمانى اوعلامه عينى$ هم ذكر كړى دى.(۳)

خوصحيح دا ده.چه دا ضمائر نبى ﷺته راجع كيږى.ځكه چه هم دا روايت په كتاب التفسير كښے راځى.اودغه شان امام مسلم رحمه الله دا روايت په خپل صحيح كښے ذكركړے دے.(۴) په هغے كښے الفاظ داسے دى.((أن جابربن عبدالله الأنصارى رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ وهو يحدث عن فترة الوحى)) په دے كښے د ..قال.. فاعل خو مذكور دے.اود ..هو.. او ..يحدث.. ضمائر هم رسول الله ﷺ ته راجع دى.والله اعلم.

قوله: فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ بَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ: نبى اكرم ﷺ اوفرمائيل.چه زه روان ووم.چه د آسمان د طرفه مے يو آواز واوريدلو.په دے روايت كښے دا ذكر خو شته.چه دوى روان وو.خوكوم خوا ته روان وو؟اوپه كوم مقام كښے ورته آواز واورولے شو.ددے ذكر نشته.په يوبل روايت كښے ددے وضاحت موجود دے.په هغے كښے دى.چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.((جاورت بحراء شهراً فلما قضيت جوارى،نزلت فاستبطنت بطن الوادى،فنوديت فنظرت أمامى وخلفى وعن يمينى وعن شمالى، فلم أر أحداً،ثم نوديت فنظرت فلم أر أحداً،ثم

---

(۱) فتح البارى (۲۸/۱)_

(۲) فيض البارى(۲۲/۱)_

(۳) شرح كرمانى (۴۲/۱) وعمدة القارى(۶۷/۱)_

(۴) صحيح مسلم (۹۰/۱) كتاب الإيمان باب بدء الوحى إلى رسول الله ﷺ)-

فرفعت رأسى، فإذا هو على العرش فى الهواء، يعنى جبريل عليه السلام، فأخذتنى منه رجفة شديدة، فأتيت خديجة رضي الله عنها فقلت دثرونى، دثرونى، فصبوا على ماء فأنزل الله تعالى: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ (۱) ددے روایت نه معلومه شوه چه دوی د غار حراء نه د اعتکاف نه پس تلل.اود مقام علم هم اوشو.چه دوی د غر نه راکوز شوی وو.اود خوړ په مینځ کښے وو.

قوله فَرَفَعْتُ بَصَرِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ: چه ما نظر پورته کړلو. چه اومے کتل نوهغه فرشته وه.کومه چه ما ته په غار حراء کښے راغلے وه.د آسمان او زمکے په مینځ کښے په یوه کرسئ باندے ناسته وه.

..کرسی.. په کاف باندے ضمه او کسره دواړه جائز دی.جمع ئے کراسی. د راء په تشدید اوتخفیف دواړو سره تیك ده.ابن السکیت وائی.چه څه په دے وزن راشی او دهغے په مفرد کښے یاء مشدد وه.نوپه جمع کښے به ئے تشدید اوتخفیف دواړه جائز وی.(۲)

د دے حدیث نه د فرشتے په کرسئ باندے ناسته ثابته شوه.بیا د صحیح مسلم او سنن نسائی د روایت نه د نبی ﷺ په کرسئ باندے ناسته ثابتیږی.((قال ابورفاعة انتهيت إلى النبى ﷺ وهو يخطب، قال فقلت يارسول الله! رجل غريب، جاء يسئل عن دينه، لايدرى ما دينه، قال: فأقبل على رسول الله ﷺ وترك خطبته، حتى انتهى إلى فأتى بكرسى حسبت قوائمه حديداً، قال فقعد عليه رسول الله ﷺ وجعل يعلمنى مما علمه الله، ثم أتى خطبته فأتم آخرها))(۳)

د دے نه معلومه شوه.چه په کرسئ باندے په کیناستو کښے څه قباحت نشته . کیناستے شی.

دحضرت علامه کشمیری رحمه الله **یوه واقعه**: اوریدلی شوی دی.چه علامه کشمیری رحمه الله په یوځائے کښے په جمات کښے ناست وو وعظ ئے کولو.سمدستی د یو کس په زړه کښے دا خیال راغلو.چه جمات اوبیا په کرسئ باندے ناسته!!

حضرت شاه صاحب رحمه الله ته ددے خطرے احساس اوشو.نوحضرت مسلم شریف راوغوښتلو اوهم دا حدیث ئے اولوستلو.او واورولو.کوم چه پورته مونږ ذکر کړلو. والله اعلم.

قوله: فَرُعِبْتُ مِنْهُ: ماچه جبرئیل علیه السلام اولیدلو نو مرعوبه شوم

..رعبت.. مجهول هم لوستلے شوے دے.او..رعبت.. معروف هم لوستلے شوے دے.

دصحیح بخاری په یو روایت کښے دغه شان په صحیح مسلم کښے ((فجئت منه حتى هويت إلى

---

(۱) پورتنئ حواله)_

(۲) عمدة القاری(۱/۶۶)_

(۳) صحیح مسلم(۱/۲۸۷)کتاب الجمعة دغه شان سنن نسائی (۳۰۲/۲) کتاب الزينة باب الجلوس على الكرسى)

الأرض)) (١) الفاظ راغلى دى.ددے معنى هم ويريدل دى.مطلب دا چه زه د ويرے د وجے گهبراز شوم.تردے چه په زمكه راپريوتم.

قوله فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي: زه واپس راغلم.اوما اوونيل چه ما په كمبل كښے پټ كړئ.داصيلى اوكريمه په روايت كښے دغه شان يوكرتے دى.اوپه نورو نسخون كښے ..زملونى زملونى.. دوه كرته راغلى دى.(٢) بيا په كتاب التفسير كښے ..دثرونى.. الفاظ راغلى دى.(٣) په دے مناسبت سره ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ﴾ آياتونه نازل شول.

د كتاب التفسير په روايت كښے ..دثرونى وصبوا على ماء باردا)) هم راغلى دى يعنى په مابانديے څادر واچوئ.اوپه مابانديے يخے اوبه راواړوئ.په نبى ﷺ بانديے ويره راغلے وه.اوزجيدل پرے راغلى وو.په دے كښے د سكون پيدا كولو دپاره نبى ﷺ د كپړے اچولو حكم اوكړلو.اود اوبو په اړولو بانديے هم په طبيعت ته څه آرام ملاويږى.نوځكه ئے اوفرمائيل. چه ((صبوا على ماء باردا))

اودا هم ممكن ده.چه په نبى ﷺ بانديے د ويرے د وجے تبه راغلى وى.اوعربيان د تبے علاج په يخو اوبو سره كوى.(٤) نبى كريم ﷺ په خپله فرمائيلى دى.((الحمى من فيح جهنم،فأبردوها بالماء))(٥) يعنى د تبے اثر د جهنم د ساګانو څخے دے.دا په اوبو سره يخه كړئ.

قوله فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ: يعنى كله چه دوى كمبل واغوستلو.اوسملاستلو.نو دالله تعالى د طرفه ورته خطاب اوشو.﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾

دغه شان په قرآن كريم كښے دوى ته ﴿يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ ونيلى شوى دى.او مخاطب شوى دى.

په بعضے رواياتو كښے دى.چه كافرانو په دارالندوة كښے غونډه راغوستله.اومشوره ئے اوكړله.چه نبى ﷺ ته داسے نوم وركړئ.چه خلق ترے منع شى.چا د ..كاهن.. ونيلو مشوره وركړه.خورد شوه.چه دے كاهن نه دے.چا د ليونى ونيلو رائے وركړه.خودا رائے هم مسترده شوه.چا د ..ساحر.. ونيلو رائے وركړه.اګرچه هغوى رائے وركړه.چه دے ساحر نه دے.خو په دے بانديے مجلس ختم شو.نبى كريم ﷺ ته چه كله ددے علم اوشو.نو هغوى غمګين

---

(١) صحيح بخارى كتاب التفسيرب.تفسير سورة المدثر.باب والرجز فاهجر_ دغه شان صحيح مسلم (٩٠/١) كتاب الإيمان باب بدء الوحى إلى رسول الله ﷺ_

(٢) فتح البارى(٢٨/١)_

(٣) صحيح بخارى كتاب التفسير.تفسير سورة المدثر.باب رقم.١) وباب وربك فكبر)_

(٤) زادالمعاد فى هدى خيرالعباد(٢٥/٤) فصل فى علاج الحمى)_

(٥) صحيح بخارى(٤٦٢/١) كتاب بدء الخلق باب صفة النار وأنها مخلوقة)_

شول اوخادرنے واغوستلو اوسمالستلو په دے باندے حضرت جبرئيل ﷺ د سورة مزمل آيتونو نازلولو سره تشريف راوړلو.(١)

چونکه نبی ﷺ چه جبرئيل ﷺ ليدلے وو نو ويره پرے راغلے وه اوخادرنے اوغوستے وو نو په دے مناسبت سره ورته په ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ سره خطاب اوشو اوکله چه د قريشو د کافرانو د تکذيبونو نه غمژده شو اوخادرنے واغوستلو نوپه ﴿يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ سره ورته خطاب اوشو.

خطاب د محبت وملاطفت بهرحال په ﴿يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ او﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ دواړو کښے د محبت وملاطفت خطاب دے مخاطب چه په کوم صفت سره متصف کولے شی نوپه مينه کښے دهغه صفت ذکر کولے شی لکه دحضرت علی رضی الله عنه واقعه د احاديثو په کتابونو کښے راغلے ده چه چه حضرت علی رضی الله عنه د حضرت فاطمه رضی الله عنها نه خفه شو نومسجد نبوی ته راغلو او سملاستلو نودهغه شاده او څټ باندے خاورے اولګيدلے نبی ﷺ جمات ته تشريف راوړلو او دهغه د شاه نه نے خاورے څنډلے او آوازنے ورکوله «قم يا أبا التراب، قم يا أبا التراب»(٢) يعنی اے د خاورے خاونده! پاسه اے د خاورے خاونده! پاسه دا خطاب دمحبت او مينے خطاب وو.

قوله ﴿قُمْ فَأَنذِرْ﴾: ته پاسه ته تيار او مستعد شه اوس په تا دعوت ورکول دی اوخلقو ته توحيد بيانول دی.(٣)

..انذار.. ويرولو ته وائی. خو مطلق ويريولو ته نه وائی بلکه دے ته تخويف وائی په کوم چه د بد انجام نه ويريولے شی.(٤) يعنی پاسه او خلقو ته اوښايه. که توحيد نه قبلوئ نو ستاسو انجام به خراب وی. اوتاسو به جهنم ته اوغورځولے شئ.

نبی ﷺ چه يوطرف ته ..منذر.. ګرځولے شوے اوراليږلے شوے دے نو ..مبشر.. هم ګرځولے شوے دے ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا﴾ (٥) خو دلته صرف د ..انذار.. د دے وجے تذکره کړے شوے ده. چه په هغه وخت کښے چه کوم خلق موجود وو هغه د ..انذار.. قابل وو. يول کافران او مشرکان وو کله چه څه مسلمانان شول نو بيا الله تعالی د دوی دپاره دواړه اوصاف ذکر کړل.(٦)

قوله ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾: اودخپل رب په قولاً اوفعلاً عظمت بيان کړه پخپله هم ددے عظمت

---

(١) تفسير ابن کثير (٤/٤٣٤)_

(٢) صحيح مسلم(٢/٢٨٠) کتاب فضائل الصحابة رضی الله عنهم باب من فضائل علی بن ابی طالب رضی الله عنه)_

(٣) الکشاف للزمخشری (٤/٦٤٥) تفسير سورة المدثر)_

(٤) مجمع البحار(٤/٦٨١)_

(٥) الأحزاب ٤٥)-

(٦) روح المعانی (١٥/١٣٣) تفسير سورة المدثر)_

قائل اوسه.او نورو ته هم د خلقو د عظمت سبق اولوله.(۱) دا د دے وجے چه انذار ترهغه وخته پورے نه متحقق کیږی.ترڅوچه د عظمت یقین نه وی.داالله تعالی د توحید په نه منلو چه د کوم عذاب نه ویرول کولے شی که داالله تعالی د عظمت یقین نه وی.نود دوزخ او دهغے دعذاب یقین به څنګه پیدا شی.

بعضے کسانو ونیلی دی.چه دلته د ..کبر.. نه مراد په تحریمه صلاة کښے ..الله اکبر.. ونیل دی (۲) ځکه چه په دے کښے هم داالله تعالی عظمت بیانیږی.خو دومره ده چه په دے کښے داالله تعالی عظمت په یوه خاص طریقه بیانیږی.

خو په دے مقام کښے راجح اوښکاره هم دا ده.چه دا خاص معنی مراد نه ده.بلکه عام معنی یعنی مطلق تعظیم بیانول مقصود دی.ځکه چه دلته د ..کبر.. مفعول به ..ربك.. مذکور دے. اوکه د ..کبر.. نه مراد ..الله اکبر.. ونیل مقصود وو.نو دے ته قصر ونیلی شی.اوپه قصر کښے مفعول به نه ذکر کیږی.لکه ..سجل.. ..حوقل.. په خلاف د ..سبح.. چه ددے مفعول اومتعلقات ذکر کوی.(۳) دلته چونکه ..وربك فکبر.. ونیلے شوے دے.او ..ربك.. مفعول به دے.کوم چه دلته مذکور دے.نوځکه به دلته عامه معنی مراد وی.چه ته فعلاً وقولاً واعتقاداً داالله تعالی د عظمت درس ورکوه.اوپه خپله هم په خپل زړه کښے داالله تعالی د عظمت یقین ساته.

قوله: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾: اوخپلے جامے پاکے ساته.لکه چه څنګه چه به دے وړاندے پاکے ساتلے.بعضے حضرات فرمائی.چه دلته د ..ثیاب.. نه مراد ..نفس دے.(۴) مطلب دا دے.چه خپل نفس په اخلاق حمیده باندے موصوف کړئ.او دا د اخلاق رذیله نه بچ ساتئ.لکه څنګه چه تاسود وړاندے نه داپه اخلاق حمیده باندے موصوف ساتلے اود اخلاق رذیله نه بچ ساتلے دے.

د ..ثیاب.. نه بعضے حضراتو ددے ظاهری معنی یعنی هم جامے مراد اخستے دی.(۵) او مطلب ئے دا بیان کړے دے.چه تاسو خپلے جامے داسے پاکے ساتئ.لکه څنګه چه به مو وړاندے پاکے ساتلے.اوکله چه د جامو دپاره دا حکم شو.د نفس دپاره به په طریق اولی سره دا حکم وی.کله چه دظاهرد پاکولو تاکید کیږی.نود باطن د پاکولو تاکید خوبیا زیات تاکیدی وی.لکه څنګه چه نبی ﷺ فرمانیلی دی.«نظفوا أفنيتكم»(۶)خپلو کورونو ته مخامخ خایونه (انګړونه) پاك ساتئ.ددے معلومه شوه.چه د دننه د کمرو او د بهر پاکول په طریق اولی سره ضروری دی.

---

(۱) پورتنئ حواله)_

(۲) پورتنئ حواله)_

(۳) د تفصیل دپاره اوګورئ. فیض الباری (۳۳/۱)_

(۴) الجامع لأحكام القرآن(۶۲/۱۹)_

(۵) پورتنئ حواله)_

(۶)أخرجه الترمذي في جامعه عن سعدبن أبي وقاص في كتاب الأدب باب ما جآء في النظافة رقم ۲۷۹۹).

قوله ﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾: د..رجز.. تفسيرامام بخارى رحمه الله په ..اوثان.. سره كړے دے[1] اومطلب دا دے چه لكه څنګه تاسو د بت پرستئ نه خان ساتلو دغه شان روستو هم ددے نه خپل خان بچ ساتئ.
ددے مطلب دا نه دے چه د نبى ﷺ والعياذبالله د ..اوثان.. سره څه تعلق وو اودهغے د پريخودلو حكم ورته كولے شى بلكه دا امر د استمرار دپاره دے چه لكه څنګه تاسو ..اوثان.. پريخودے دى دغه شان ئے په آئنده كښے پريخے اوساتئ.
نبى كريم ﷺ چرته د بتانو دتعظيم دپاره نه دے تلے يوخل د دوى د خاندان خلق داختر كولو دپاره تلل هلته د بتانو تعظيم هم وو نبى ﷺ نه تلو چه دكور خلق اود كور ښځے خفه شوے نو نبى ﷺ هلته تشريف يوړلو خوچه هلته اورسيدلو نوېچ شو بيا چه كله راواپس شو نو په ويره وو د دوئ نه ترور يانو تپوس اوكړلو نودوى ورته جواب وركړلو چه ما سره ويره وه هسے نه په ما باندے د پيريانو وغيره اثر اوشى هغوى ورته تسلى وركړه چه ته د ښه صفاتو مالك ئے الله تعالى به په تاسو د شيطان داثر نه محفوظ ساتى بيا ئے ترے تپوس اوكړلو چه تاسو هلته څه اوليدل؟ نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل چه هلته زه كله بت ته ورنزدے شوم نو يو سپين د اوږد قد سړے به ماته ښكاره شو اوونيل به ئے چه خبر دار! اے محمده! دے كوتے مه وراوړه ددے نه پس نبى ﷺ دے خلقو سره هيڅ يو اخترته نه دى تلے[2]
د ..رجز.. يوبل تفسير دا هم شوے دے چه ددے نه مراد عذاب دے[3] او مطلب دا دے چه عذاب سبب جوړيدو چه څومره څيزونه دى منكرات، معاصى او فواحش ددے نه خپل خان په حفاظت كښے محفوظ ساته.[4]
بهرحال كه د ..رجز.. معنى د عذاب وى اومراد سبب دعذاب وى نو ..اوثان.. په خپله په دے كښے داخل دى.

قوله فَحَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ: د..حمى.. معنى ګرموالے دے ددے نه مراد د وحى په كثرت سره راتلل دى قاعده دا ده چه كله يو څيز په كثرت او شدت سره راځى نو وئيلى شى چه څيز ګرم شو په بازار كښے چه كله دخرڅولو او اخستلو سلسله زياته شى نووائى چه بازار ګرم دے.

---

(۱) صحيح بخارى(۷۳۳/۲) كتاب التفسير،تفسيرسورة المدثر،باب قوله:﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ وباب وقوله : ﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾ _

(۲) دلائل النبوة لأبى نعيم الاصفهانى(۱۸۷/۱) الفصل ..... الله عزوجل به من العصمة وحماه من التدين بدين الجاهلية وحراسته إياه عن مكايد الجن وإحتيالهم عليه ﷺ _

(۳) صحيح بخارى (۷۳۳/۲) كتاب التفسير،تفسيرسورة المدثرباب قوله:﴿ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾ _

(۴) تفسير كبير(۱۹۳/۳۰) وتفسير قرطبى (۶۶/۱۹)_

دغه شان دلته د ..حمي الوحي.. معنى دا دد چه اوس د وحى راتلل پرله پسے او مسلسل شروع شوه په ..تتابع.. كښے دد ے تصريح او تاكيد دے.
خو دد ے مطلب دا نه دے چه اوس به هر وخت وحى راتله بلكه مطلب دا دے چه لكه څنګه په اول خل انقطاع راغلے وه د كومے په باره كښے چه مونږ مخكښے د عالمانو مختلف اقوال بيان كړى دى هغه شان معتدبه انقطاع نه وه.د يوے نيمے ورځے ته انقطاع نشى ونيلے.ځكه چه په واقعه د افك كښے څه يوه مياشت په نبى ﷺ باندے وحى نه وه راغلے خو دے مودے ته چاد فترت نوم نه دے وركړے.والله سبحانه اعلم

قوله تَابَعَهُ عَبْدُاللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ وَأَبُوصَالِحٍ وَتَابَعَهُ هِلَالُ بْنُ رَدَّادٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ:

د اولنى .تابع..فاعل خو ښكاره ده.چه عبدالله بن يوسف او ابوصالح دى.خودد ے د مفعول ضمير دامام بخارى رحمه الله استاذ يحيى بن بكيرطرف ته راجع كيږى.(١) مطلب دا دے چه لكه څنګه يحيى بن بكير رحمه الله دا روايت د ليث نه نقل كړ دے.نودغه شان عبدالله بن يوسف اوابوصالح هم د ليث شاګردان دى.اوهغوى هم دا روايت د ليث نه نقل كړے دے لكه چه دے دواړو په خپل مشتركه استاذ ليث نه دد ے روايت په نقل كولو كښے د يحيى بن بكيرمتابعت كړے دے.
دعبدالله بن يوسف التنيسى روايت امام بخارى رحمه الله په خپل صحيح كښے په كتاب الانبيء كښے نقل كړے دے.(٢)
او د ابوصالح نه مراد دليث كاتب عبدالله بن صالح دے.(٣)
امام بخارى رحمه الله ددوى هغه روايات كوم چه هغوى د ليث نه نقل كوى.په بخارى شريف كښے په كثرت سره تعليقاً ذكر كړى دى:(٤) يعقوب بن سفيان په خپل تاريخ كښے د ابوصالح عن الليث روايت موصولاً ذكر كړے دے.(٥) حافظ شرف الدين دمياطى رحمه الله دا فرمائيلى دى چه دابوصالح بن مراد دلته عبدالغفار بن داود خرانى دے.(٦) خودا وهم دے.د ابوصالح كاتب الليث روايت موجود دے.خود ابوصالح عبدالغفار بن داود د روايت چا ذكر نه دے كړے.(٧)
دابوصالح روايت رويانى رحمه الله په خپل مسند كښے هم ذكر كړے دے.(٨)

---

(١) فتح البارى(١/٢٨)_
(٢) صحيح بخارى (١/٤٨٠) كتاب الأنبياء باب واذكر فى الكتاب موسى إنه كان مخلصاً)_
(٣) فتح البارى (١/٢٨)_
(٤) پورتنئ حواله)_
(٥) پورتنئ حواله دغه شان تغليق التعليق (٢/١٧)_
(٦) فتح البارى (١/٢٨)_
(٧) پورتنئ حواله)_
(٨) تغليق التعليق (٢/١٧)_

بيا په دويم ..تابعه.. كښې ضميرد مفعول عقيل طرف ته راجع دے.كوم چه د امام زهري رحمه الله شاګرد دے.(١) او مطلب دا دے چه لکه څنګه دا روايت عقيل د زهري رحمه الله نه نقل کوي.نودغه شان ئے هلال بن رداد رحمه الله هم د زهري رحمه الله نه نقل کوي.
د هلال بن رداد روايت امام ذهبي رحمه الله په ..زهريات.. كښې موصلا روايت کړے دے.(٢)

متابعت امام بخاري رحمه الله په دے مقام کښې په اول ځل د متابعت ذکر کړے دے نو ددے په باره کښې څه تفصيل زده کړئ.

دمتابعت لغوي او اصطلاحي معنى ..متابعت.. په لغت کښې وائي چا په پسے شاه ته روانيدل. داهل اصول په اصطلاح کښې متابعت دے ته وائي چه يوراوي يو روايت د خپل استاذ نه نقل کړي.اودويم راوي هم دا روايت نقل کړي.اود اول راوي سره شريك شي.دا شرکت که په اولني استاذ کښې وي يا په شيخ الشيخ يا دده نه پورته په چا کښې وي دغه شان دا هم ضروري نه ده.چه د دواړو روايتونو الفاظ يو شان وي. بلکه که په الفاظو کښې مشارکت وي.يا صرف په معنى کښې.په دواړو ورتونو کښې ورته متابعت وائي. (٣)

دمتابعت قسمونه. ددے تفصيل نه به تاسوته معلومه شوے وي.چه دمتابعت دوه قسمونه دي.
() يو دا چه مشارکت په اولني شيخ باندے اوشي.لکه څنګه چه دلته عبدالله بن يوسف اوابوصالح دواړه د ليث نه په روايت کولو کښې د امام بخاري رحمه الله داستاذ يحيى بن بکير شريکان دي.دے ته متابعت تامه وائي.
() دويم صورت دا دے.چه مشارکت په اول کښې نه وي.بلکه چه وړاندے لاړ شي.نو د شيخ الشيخ يا ددے نه هم پورته کيږي.لکه دلته چه هلال بن رداد د عقيل سره مشارکت کوي.اود دواړو شيخ امام زهري رحمه الله دے.دا اول د سند نه دے.بلکه د سند په درميان کښې مشارکت کيږي.څکه دے ته متابعت قاصره يا ناقصه وائي.(٤)

دشاهد تعريف دمتابع سره نزدے نزدے يو لفظ دے..شاهد..
او..شاهد.. وائي.هغه حديث ته کوم چه يو راوي روايت کړي اوهغه د بل راوي د روايت سره لفظاً يا معنىً مطابقت اوکړي.خو په دے شرط چه په دواړو روايتونو کښې صحابي رضي الله عنه جدا جدا وي.(٥)

---

(١) فتح الباري(٢٨/١)_
(٢) فتح الباري(٢٨/١) وهدى الساري (ص.٢٠) وتغليق التعليق (١٧/٢)_
(٣) شرح المنظومة البيقونية (ص.١٢٨)_
(٤) شرح المنظومة البيقونية(ص.١٢٨)_
(٥) شرح نخبة الفكرمع حاشية لقط الدرر(ص.٦٥ ٦٦)_

په ،،متابع،، او ،،شاهد،، كښې فرق په ..متابع.. او ..شاهد.. كښې اصلاً فرق دا دے چه په متابع كښے صحابي ﷺ يو وي.اوپه شاهد كښے جدا جدا وي.البته بعضے وخت د يو اطلاق په بل باندے توسعاً كيدے شي.(١)

قوله وَقَالَ يُونُسُ وَمَعْمَرٌ بَوَادِرُهُ: دا يونس اومعمر هم د امام زهري رحمه الله شاګردان دي.اود عقيل متابع دي.لكه څنګه چه هلال بن رداد متابع دے.خوفرق دا دے چه هلال بن رداد خو د عقيل پشان ..فواده.. ذكر كوي.يعني ..ويرجف فواده.. واني.اويونس اومعمر د ..وفواد.. په ځائے د ..بوادر.. لفظ ذكر كوي.او ..ترجف بوادره.. ذكر كوي.

مخكښے مونږ د ..فواد.. او ..بوادر.. پوره تشريح هم كړے دے.

دمتابعت فائده دلته امام بخاري رحمه الله د يونس اومعمر متابعت ذكر كړلو.اوبيا ئے د دوي په حواله سره اختلاف د روايت نقل كړلو.لكه چه دا ئے اوخودله.چه په متابعت كښے په الفاظ كښے اتحاد څه ضروري نه دے.د مفهوم يووالے كافي دے.والله سبحانه اعلم

دحديث باب د ترجمة الباب سره مناسبت دا دريم حديث دے.اوهم دا يو حديث دے.كوم چه د ترجمة الباب سره بيخي په ظاهري مطابقت لري.څكه چه په دے حديث كښے دا خودلي شوي دي.چه د وحي شروع داسے شوے وه.اول ورته رويائے صالحه اوخودلي شول.ددے نه پس په دوي كښے دخلوت شوق پيدا شو.بيا يوه ورځ چه نبي ﷺ په غار حراء كښے وو.حضرت جبرئيل عليه السلام اولنئي وحي راوړله.اوتشريف ئے راوړلو.دا ټول تفصيلات د «باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ» سره بالكل موافق دي.

اود حضرت شيخ الهند رحمه الله د قول مطابق كه دا باب د عظمت وحي د بيان دپاره اوګڼړلے شي.نوبيا هم تقرير ښكاره دے.څكه چه ددے روايت نه د عظمت وحي زبردسته اندازه لګي.چه حضرت جبرئيل عليه السلام راغلو.اونبي ﷺ ئے درے ځله د خپلے سينے سره اولګولو.اوبيا ئے نبي ﷺ ته زور وركړلو.اوددے زور وركولو د وجے نبي ﷺ تكليف برداشت كړلو.ددے نه ښكاره ده.چه وحي ډير عظيم الشان څيز دے.د كومے دپاره چه جبرئيل عليه السلام دآسمان نه راغلو.اونبي ﷺ ئے ددے دپاره تيار كړلو.اودوي تكليف برداشت كړلو.

دغه شان په دے كښے د ..موحى اليه.. يعني نبي كريم ﷺ د اوصاف عاليه ذكر هم شته.نو دوحي د مبادئ ذكرپه كښے هم راغلو.په دے لحاظ سره هم دا روايت د ترجمة الباب سره مناسب دے.والله سبحانه وتعالى اعلم

(١) پورتنئ حواله)_

الحديث الرابع

[٥] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ قَالَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (١) فِي قَوْلِهِ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَالِجُ مِنَ التَّنْزِيلِ شِدَّةً وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ شَفَتَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَأَنَا أُحَرِّكُهُمَا لَكُمْ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَرِّكُهُمَا وَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا أُحَرِّكُهُمَا كَمَا رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَرِّكُهُمَا فَحَرَّكَ شَفَتَيْهِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ قَالَ جَمْعُهُ لَكَ فِي صَدْرِكَ وَتَقْرَأَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ قَالَ فَاسْتَمِعْ لَهُ وَأَنْصِتْ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا أَنْ تَقْرَأَهُ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ اسْتَمَعَ فَإِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا قَرَأَهُ [illegible]

رجال الحديث

قوله مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ: دا ابوسلمه موسى بن اسماعيل التبوذكى البصرى دے. دصحاح سته په راويانو كښے دے ثقه او ثبت دے. (٢)

د دوى يوه عجيبه قصه د امام يحيى بن معين سره نقل كولے شى امام يحيى بن معين رحمه الله موسى بن اسماعيل رحمه الله ته ورغلو. او دا ئے اوونيل چه اے ابوسلمه! چه د روايت عفان او حبان روايت كوى. او ستاسو په شاګردانو كښے ئے څوك نه روايت كوى اويس سته دا حديث ستا په كتاب كښے ملاؤ نو بلكه په شاه باند راته ملاؤ شو.

موسى بن اسماعيل تپوس اوكړلو چه ته څه غواړے؟

امام يحيى بن معين رحمه الله اوفرمائيل چه ته قسم اوخورى چه تا دا حديث د همام نه اوريدلے دے. ابوسلمه موسى بن اسماعيل اوفرمائيل ته دا وائے چه ما ستا نه شل زره احاديث ليكلى

---

(١) احديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب التفسر. تفسير سورة القيامة. باب لا تحرك به لسانك لتعجل به رقم. (٤٩٢٧) وباب: إن علينا جمعه وقرآنه. رقم ٤٩٢ وباب قوله: فإذا قرأناه فاتبع قرآنه رقم. ٤٩٢٩. وفى كتاب فضائل القرآن باب الترتيل فى القراءة رقم. ٥٠٤٤ وفى كتاب التوحيد باب وقول الله تعالى: لاتحرك به لسانك رقم (٧٥٢٤ .. ومسلم فى صحيحه فى كتاب الصلاة باب الإستماع للقراءة رقم. ١٠١٢ و١٠١٣ والنسائى فى سننه فى كتاب الإفتتاح باب جامع ما جآء فى القرآن رقم. ٩٣٦ والترمذى فى جامعه فى كتاب التفسير باب ومن سورة القيامة رقم. ٣٣٢٩ وأحمد فى مسنده (١/ ٣٤٣)_

(٢) د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال (٢٩/ ٢١، ٢٦)_

دی که په هغې کښې زه ستا په نیز ریښتینې یم نو تا لره پکار دی چه په یو حدیث کښې زما تکذیب اونکړې او که زه دروغژن یم نو تالره پکار دی چه په دغه ټولو احادیثو کښې زما تصدیق اونکړې اونه زما حدث اولیکې پلکه دغه ټول احادیث اوغورځوه بیا ئې اوفرمائیل زما ښځه بره پنت ابی عاصم د په دړې کانړو طلاقه وی که ما د همام نه دا روایت نه وی اوریدلې او په الله قسم چه زه به تاسره کله هم خپړ اونکړم (۱)

خو حضرات محدثین کرام ﷺ الله دے ورته جزائے خیر ورکړی زهغوی ته دد څیزونو څه پرواه نه وه د امام یحیی بن معین رحمه الله معمول هم دا وو چه کله به ورته د چا په روایات کښې څه شك پیدا شو نوهلته به ئې د استاذ نه به ئې بار بار تپوسونه کول او هلته به ئې د هغه نه قسم اخستلو.

ابن خراش رحمه الله د دوی په باره کښې ونیلی دی.«تکلم الناس فیه» خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دے خبرے ته التفات نه دے کول پکار.
په کال ۲۲۳ ه کښې وفات شو.(۲)

قوله: أَبُوعَوَانَةَ: د دوی نوم وضاح بن عبدالله یشکری دے.دے هم د صحح سته په راویانو کښې دے.او قه او ثبت دے.(۳)
دوی د یزید بن عطاء بن یزید یشکری مولی وو.د جرجان نه په قید کښې راغلے وو یزید واخستلو.او دوی ته ئې اختیار وکړولزچه یا خو آزاد شه.او یاحدیث لیکه .دوی کتابت حدیث ته په آزادیدو باندے ترجیح ورکړه.(۴)
د دوی مالك دوی ته تجارتی کاروبار حواله ړولزیو ځ یو سوالګر راغلو او وے ونیل که ماته دے دوه درهم راکړل.نو زه به تاته فائده اورسوم.دوی ورته دوه درهم ورکړل.هغه سائل د بصره مالدارانو ته ورغلو.او وے ونیل.زر کوئ یزید بن عذاء ته ورشئ.هغوی ابوعوانه آزاد کړے دے.نوخلق یزید ته اورسیدل.د یوے ډلے نه پس به بله ډله رسیدله.یزید خیال اوکړلو.که زه انکار اوکړم.نز زماد احادیثو نه به انکار اوشی.نو ابوعوانه ئې حقیقةً آزاد کړلو.(۵)

قوله: مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ: دا موسی بن ابی انشه الهمدانی البوالحسن الکوفی دے.سفیانین یحیی بن معین او ابن حبان رحمه الله وغیره د دوی توثیق کړے دے.د هم د اصول سته په راویانو کښې دے.(۶)

---

(۱) تهیب الکمال (۲۹/۲۶)
(۲) تقریب التهذیب (ص.۵٤۹، رقم۷٤۳۶)_
(۳) تهذیب الکمال (۳۰/٤٤۸)_
(۴) تهذیب الکمال (۳۰/٤٤۸)_
(۵) تهذیب الکمال (۳۰/٤٤۸) وسیر أعلام النبلاء (۸/۲۱۸، ۲۱۹)_
(۶) تفصیل دپاره اوګورئ (ت تهذیب الکمال (۲۹/۹، ۹۲)_

قوله سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: دا مشهور تابعي سعيد بن جبير بن هشام اسد رحمه الله دے. د دوی په ممت جلالت شان علوفي العلم او عظيم العبادة باند اجماع ده. حجاج بن يوسف ثقفی دے په کال ۹۵ھ نے قتل کړے وو دد نه جاج هم څو ورخو پورے ژوندے پاتے شو.

دوی د ډیرو صحابه کرام رضی الله عنهم نه احادث اوريدلی دی او د دوی ه ډيرو تابعينو علم حاصل کړے دے دوی د ..جهبذ العلماء..(۱) په لقب سره يادول شی (۲)

قوله عبدالله بن ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف د نبی د تره خوے وو د دوی مور ام الفل نبابة الكبرى د ام المؤمنين حضرت ميمونه رضی الله عنها خور وه.

په شعب ابی طالب کښې دهجرت نه درے کاله وړاند پيدا شو وو او په ۶۸ هـ کښے چه د دوی عمريو اويا کاله شووفات شو او په طائف کښے دفن شو په اخری عمرکښے دوی نابينا شوي وو.

دوی ته د کثرت علم د وجے د ..حبر.. او ..بحر.. په القابو سره يادولے شی د خلفائے عباسيه پلاردے او په ..عبادله اربعه.. کښے شمار وو (۳) د قرآن کريم په تفسير او تاويل کښے ورته ډير مهارت حاصل وو نبی اکرم صلی الله عليه وسلم د دوی دپاره دعا کړے وه ((اللهم فقهه في الدين وعلمه التأويل)) (۴) هم دا وجه ده چه دوی ته د ..رئيس المفسرين ونيلی شی اود ..ترجمان القرآن.. (۵) عظيم لقب ورته ملاؤ شو.

«عبادله اربعه» مخکښے د ..عبادله اربعه.. ذکر راغلو نو پوهه شی چه د ..عبادله اربعه.. نه څلور صحابه کرام رضی الله عنهم مراد دی چه نومونه ئے دا دی ① عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ② عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ③ عبدالله بن زبير رضی الله عنهما ④ عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما (۶)

علامه نووی رحمه الله فرمائی او علامه عينی رحمه الله هم ددوی اتباع کړے ده چه جوهری رحمه الله په صحاح کښے د عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما په ځائے ..عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په

---

(۱) بكسر جيم وباء الفائق في تمييز جيد الدرام من رديها كذا في مجمع بحارالأنوار (۴۱۸/۱) والمراد النقاد الجبير ابوامض الأمورج جهابذة. انظرالمعم الوسيط (۱۴۱/۱)_

(۲) عمدة القاری (۷۰/۱) دغه د تفيصلی حلاتو دپاره اوگوری: تهيب الكمال (۳۵۸/۱۰. ۳۷۶) وسير أعلام النبلاء (۳۲۱/۴. ۳۴۳)_

(۳) عمدة القاری (۷۰/۱) د تفصيلی حالاتو دپاره اوگوری: سير أعلام النبلاء (۳۳۱/۳. ۳۵۹) وتذكرة الحفاظ (۴۰/۱. ۴۱) وتهذب الكمال (۱۵۴/۱۵. ۱۶۲)_

(۴) مسند احمد (۲۶۶/۱. ۳۱۴. ۲۲۸. ۳۳۵)_

(۵) طبقات ابن سعد (۳۶۶/۲) ترجمة ابن عباس رضی الله عنه)_

(۶) تهذيب الأسماء واللغات (۲۶۷/۱) ترجمة عبدالله بن الزبير رضی الله عنه)_

..عبادله.. كښې ذكر كړې دې.خودا د لويو محدثينو ﷺ امام احمد رحمه الله وغيره دتصريح نه خلاف ده.([1])
خوحقيقت دا دې چه جوهري رحمه الله په ..صحاح.. كښې دوه خايه د ..عبادله.. ذكر كړې دې.يو خل د (..ع. ب.د.) دمادې لاندې ذكر كړې دې.په هغې كښې عبدالله بن عباس () عبدالله بن عمر() عبدالله () عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهم نومونه ذكر دى.اوپه بل خل د (..الف لينه.) په ..باب.. كښې د ..ها.. د قسمونو په بيانولو كښې په ..عبادله كښې ذكر كړى دى په دې مقام باندې هم ددرې حضراتو نومونه ذكر دى.خوچه دلته رارسيدلې دې.نو عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه خائې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نوم ذكر كړې دې.په دې دواړو مقاماتو كښې په يوخائې كښې هم د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نوم نشته.([2])
امام بيهقي رحمه الله فرمائي.چه چونكه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وړاندې وفات شوې وو.او باقي څلور واړه حضرات د ډيرې مودې پورې ژوندى وو.([3])خلقو ته د دوى د علومو حاجت پيدا شو.كله چه دا څلور واړه په يو قول باندې متفق شي.نو وئيلى شي.((هذا قول العبادلة))([4])
دابن عباس رضي الله عنهما مرويات: دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه ټول يو زرشپږ سوه شپيته احاديث مروى دى.په دې كښې متفق عليه پنځه نوى احاديث دى.اوصرف په صحيح بخارى كښې يوسل شل اوصرف په صحيح مسلم كښې يوكم پنځوس احاديث مروى دى.لكه چه په بخارى شريف كښې د دوى ټول روايات دوه سوه پنځلس اوپه صحيح مسلم كښې يوسل څلور څلويښت روايات دى.([5])
تنبيه: دمتفق عليه پنځه نوى احاديثو او د بخارى د يوسل شل انفرادى احاديثومجموعه ۲۱۵ جوړيږى.هم دا مجموعه علامه كرمانى رحمه الله ذكر كړې ده.([6])خو حافظ ابن حجر رحمه الله په صحيح بخارى كښې د دوى د احاديثو ټول شمار ۲۱۷ (دوه سوه اوولس) ذكر كړې دې.([7])فليحرر.

---

(۱) تهذيب الأسماء واللغات(۲۶۷/۱) وعمدة القارى (۷۰/۱)_
(۲) مختار الصحاح(ص.۴۰۸، ۶۸۸)_
(۳) دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د وفات كال ۳۲هـ دې اودعبدالله بن عمرو رضي الله عنه .وفات په ۶۵هـ كښې د عبدالله بن الزبير رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه وفات په ۷۳هـ كښې اود عبدالله بن عباس رضي الله عنه وفات په ۶۸هـ كښې شوې دې.تهذيب الأسماء واللغات (۲۶۷/۱، ۲۷۵، ۲۸۱، ۲۸۲) دغه شان تهذيب الكمال (۱۲۶/۱۶) د عبادله په باره كښې د زيات تفصيل دپاره اوګورئ. مقدمة السعاية (ص.۲۷)_
(۴) تهذيب الأسماء واللغات (۲۶۷/۱)_
(۵) عمدة القارى(۷۰/۱) وتهذيب الأسماء واللغات (۲۷۵/۱) ترجمة عبدالله بن عباس رضي الله عنهما)_
(۶) شرح كرمانى(۴۶/۱)_
(۷) هدى السارى مقدمة فتح البارى(ص.۴۷۵) ذكر عدة مالكل صحابى فى صحيح البخارى)_

قوله: فِي قَوْلِهِ تَعَالَى لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَالِجُ مِنَ التَّنْزِيلِ شِدَّةً: يعنى حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ د الله تعالى د ارشاد ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ دتفسير په باره كنبے فرمائى چه رسول الله ﷺ به د قرآن د نزول په وخت كنبے تكليف زغملو اوتكليف اومشقت به ئے برداشت كولو.

معالجه وانى. يوخيز په مشقت سره كول.

د شدت سبب ① د دے شدت يوه وجه خو پخپله ددے كلام ثقل او ددے وزن او بوجهـ دے كوم چه په دوى باندے نازليدلو. د دے

② دويم سبب د فرشتے سره ملاقات دے. دخپل هم جنس په ملاقات سره په سړى باندے بوجهـ نه وى. اودغير هم جنس په ملاقات سره په طبيعت باندے ضرور بوجهـ راخى اگرچه ملاويدل ورسره ډير وى. بيا د جسد بشرى اوجسد ملكى فرق هم كول دى. چه جسد بشرى د جسد ملكى نه كمزورے وى.

③ دريمه وجه دا ده. چه نبى كريم ﷺ به د قرآن دنزول سره ددے وجے د قرآن لوستل شروع كولو. چه ياد شى ورته. اوهيرنشى. اوڅه جمله په كنبے پاتے نشى. اوښكاره ده. چه په ورسره ورسره وئيلو كنبے ډيرمشقت وى. ځكه چه په يووخت كنبے لوستلوته، اوريدو ته او بيا يادولو ته ذهن متوجه كول وى. نوپه دے طريقه په ذهن باندے زيات بوجهـ وى.

قوله: وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ شَفَتَيْهِ: اونبى ﷺ به خپلو شونډو ته زيات حركت وركولو. نبى ﷺ به خپلو شونډوته زيات حركت ولے وركولو. دا كثرت حركت ددے وجے وو چه نبى ﷺ به غوستل چه قرآن پاك د حضرت جبرئيل ﷺ چه داسے اونشى چه جبرئيل ﷺ ئے اولولى لاړ شى. اوقرآن ياد نه وى. اوڅه حصه پاتے شى. ځكه چه دا دالله تعالى كلام دے د شهنشاه كلام دے. دمحبوب كلام دے. د دوى په زړه كنبے د دے عظمت هم وو اومحبت هم وو. ددے وجے دوى داول نه دهغے د يادولو په شوق كنبے وو. اودحضرت جبرئيل ﷺ سره به ئے لوستل. خو ورسره ورسره لوستل او يادول ډيرگران وو. كه د اول نه چا ته ياد وى اويوكس د اول نه حافظ وى. نو د بل حافظ سره په وئيلو كنبے څه مشكل نه وى. خوچه يوكس حافظ وى. اوبل كس لا حافظ نه وى. اوغيرحافظ دحافظ سره يوشان وانى. دا گرانه ده.

بيا خاص كرچه يولوستونكے فرشته وى. اوبل انسان. فرشته چونكه نورى محض دے. ځكه په كنبے لطافت وى. اودهغے په لوستلو كنبے تيزى اوعجلت وى. اونبى ﷺ اگرچه د خپل روح په اعتبار سره نورى وو. خودجسد په اعتبار سره خاكى وو. نوځكه په دوى كنبے هغه تيزى او عجلت نشو كيدے. بهرحال نبى ﷺ د يادولو دپاره زر زر وئيل چه څه څه پاتے نشى. وړاندے هم د بخارى په روايت كنبے دى. ((يريد أن يحفظه))(١)

---

(١) صحيح بخارى كتاب التفسير. تفسير سورة القيامة باب لا تحرك به لسانك لتعجل به.. رقم ٤٩٢٧)_

په یو بل روایت کښې دی.((یخشی أن ینفلت منه))([1])
د ،،مما،، معنی ثابت سرقسطی رحمه الله فرمائی چه د ..مما.. معنی ..کثراما.. ده.([2])لکه چه په حدیث کښې دی.((أن رسول الله ﷺ کان مما یقول لأصحابه: من رأی منکم رویا فلیقصها))([3])أی کثیرا مایقول لأصحابه)) یعنی رسول الله ﷺ به په اکثرو وختونو کښې دخپلو صحابو نه تپوس کولو چه په تاسو کښې چا څه خوب لیدلے وی.هغه دے بیان کړی.
په دے معنی کښې د شاعر یو شعر دے.

وإنا لمما تضرب الکبش ضربة علی وجهه یلقی اللسان من الفم([4])

مونږ بعضے وخت د لوئے خلق په مخونو باندے داسے وهو چه دخولے نه ئے ژبه بهرته راوځی.
بعضے عالمان ﷺ فرمائی چه ..مما.. د ..ربما.. په معنی ده.کوم چه د قلت اوکثرت دواړو دپاره استعمالیږی.([5])
علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه ..کان.. ضمیر.. علاج.. طرف ته راجع دے کوم چه د ..یعالج.. نه معلومیږی.اومطلب دا دے چه ((کان العلاج ناشئا من تحریك الشفتین)) علاج یعنی د شدت برداشت کول د تحریك شفتین نه پیدا کیدلو.لکه چه د اعلاج مبتدا خودلے شی چه د تحریك شفتین سره به وه.([6])
خو په دے باندے اشکال دا دے چه هم دا روایت وړاندے په کتاب التفسیر کښې راځی.په هغې کښې دی.((کان رسول الله ﷺ إذا نزل جبریل علیه السلام علیه بالوحی وکان مما یحرك به لسانه وشفتیه))([7]) دلته هډودعلاج ذکر نشته.کوم ته چه علامه کرمانی رحمه الله د ..کان.. ضمیر راجع کړے وو
دویمه معنی علامه کرمانی رحمه الله دا بیان کړے ده.چه .ما.. د ..من.. په معنی ده.څکه چه ..ما.. کله د عاقلانو دپاره هم استعمالیږی.([8])
یعنی نبی ﷺ په هغه کسانو کښې وو چه خپلو شونډو ته حرکت ورکوی.
دا معنی خو بیخی کمزورے ده.څکه چه ددے معنی خو دا شوه.چه ډیرخلق شونډو ته داسے حرکت ورکوی.اونبی ﷺ هم حرکت ورکول.

---

(١) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة القیامة باب إن علینا جمعه وقرآنه.. رقم ٤٩٢٨)_
(٢) فتح الباری(١/ ٢٩)_
(٣) صحیح مسلم(٢/ ٢٤٤)کتاب الرویا)_
(٤) فتح الباری(١/ ٢٩)_
(٥) پورتنئ حواله)_
(٦) شرح کرمانی(١/ ٤٦)_
(٧) صحیح بخاری کتاب التفسیر.سورة القیامة باب: فإذا قرأناه فاتبع قرآنه رقم.٤٩٢٩)_
(٨) شرح کرمانی(١/ ٤٧،٤٦)_

په دے ځلورو واړه معانيو کښې اولنۍ دوه معانی راجح دی اوبيا په دے دواړو کښې هم اولنۍ ارجح ده او د علامه کرمانی رحمه الله دواړه ذکر کړے معانی مرجوح دی والله اعلم

قوله فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَأَنَا أُحَرِّكُهُمَا لَكُمْ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَرِّكُهُمَا:

حضرت ابن عباس رضی الله عنه سعيد بن جبير رحمه الله ته خطاب کوی او فرمائی چه زه ستا وړاندے شونډو ته داسے حرکت ورکوم لکه څنګه چه نبی ﷺ حرکت ورکول

دلته حضرت ابن عباس رضی الله عنه داسے فرمائی چه «كما كان رسول الله ﷺ يحركهما» داسے ئے نه دی فرمائيلی چه «كما رأيت رسول الله ﷺ يحركهما» ددے وجه دا ده چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د نبوت په لسم کال يعنی د نه درے کاله وړاندے پيدا شوے وو او دا قصه بيخی د نبوت د شروع ده لکه څنګه چه د امام بخاری رحمه الله ترجمه په دے باندے دلالت کوی چونکه په دغه وخت کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنه پيدا شوے نه وو نو هغه به څنګه تحريک شفتين ليدلی وو؟

نو ځکه هغوی ..رؤيت.. اونه ونيل بلکه «كما كان يحركهما» ئے اوفرمائيل.(١)

خو اوس سوال دا دے چه ابن عباس رضی الله عنه ته دتحريک شفتين اوددے د کيفيت علم څنګه اوشو؟

ددے جواب دا دے چه دلته يو احتمال خو دا دے چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا واقعه روستو اوريدلے ده.(٢)

په دے صورت کښې به دا روايت د مرسل صحابۍ څخه وی او د مراسيل صحابۍ په باره کښې مخکښې بيان شوے دے چه د جمهورو عالمانو ﷺ په نيز حجت دے(٣)

دويم احتمال دا دے چه نبی ﷺ ابن عباس رضی الله عنه ته روستو دا واقعه اوروڼے وی او په هغه وخت کښې دوی ددے کيفيت مشاهده کړے وی په دے صورت کښې به دا روايت مرسل نه وی بلکه متصل به وی.(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه هم دويم احتمال صحيح دے ځکه چه د ابوداود طيالسی رحمه الله په روايت کښې ددے صراحت موجود دے.(٥)

قوله وَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا أُحَرِّكُهُمَا كَمَا رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَرِّكُهُمَا فَحَرَّكَ شَفَتَيْهِ:

سعيد بن جبير رحمه الله خپل شاګرد ته اوفرمائيل چه ستا په مخامخ خپلے شونډو ته داسے حرکت ورکوم لکه څنګه چه ما ابن عباس رضی الله عنه په حرکت ورکولو باندے ليدلے وو ددے نه پس

---

(١) فتح الباری(٢٩/١)_
(٢) پورتنئ حواله)_
(٣) تقريب النووی مع شرحه تدريب الراوی (٢٠٧/١) النوع التاسع:المرسل)_
(٤) فتح الباری (٢٩/١)_
(٥) پورتنئ حواله)_

سعيد خپلو شونډو ته حركت وركړل ددے نه پس دا سلسله روانه شوه.چه هراستاذ خپل شاگرد ته دا حديث بيانوى نوخپلو شونډو ته حركت وركوى.خكه دا حديث د محدثينو ﷺ په نيز((المسلسل بتحريك الشفتين))دے.(١)

خودا تسلسل په دے كښے باقى پاتےنشو.بلكه په مينځ كښے مات شو.(٢)اواكثر په مسلسل رواياتو كښے په يو نه يوځائے كښے تسلسل ماتيږى.دټولو نه زيات صحيح روايت په مسلسلاتو كښے ((المسلسل بقراءة سورة الصف))دے.(٣)

قوله فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْآنَهٗ﴾:

الله تعالى په دے باندے دا آيت كريمه نازل كړلو.دا د آيت شان نزول دے.

خو په دے باندے اشكال دا دے چه نبى ﷺ به د قراءت په وخت شونډو ته حركت وركول اونبى ﷺ خو په قرآن كريم كښے د تحريك لسان نه منع شوے دے.

د دے جواب دا دے.چه دا دواړه د . .من باب الركتفاء. .نه دى.او د((كان مما يحرك شفتيه)) معنى ده((كان مما يحرك شفيته ولسانه)) دغه شان په آيت كښے د ((لاتحرك به لسانك)) د دے مطلب دے.چه ((لاتحرك به لسانك وشفتيك)) خكه چه ټول حروف شفوى نه دى.بلكه په بعضے حروفو كښے دتحريف شفتين ضرورت راځى.اوپه بعضے كښے نه راځى.نوكله خو به صرف ژبه حركت كوى.اوكله شونډے حركت كوى.اوس د نبى ﷺ متعلق چه په حديث كښے صرف د تحريك شفتين ذكر شوے دے.هلته تحريك د لسان هم مقصود دے.خو د تحريف شفتين په ذكر باندے اكتفاء اوكړے شوه.دغه شان آيت كښے تحريف شفتين هم مقصود دى.خود تحريك لسان په ذكر باندے اكتفاء اوكړے شوه.لكه چه په قرآن كريم كښے دى.﴿سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ﴾ باندے اكتفا شوے ده.(٤)

دويم جواب دا دے.چه په اصل كښے مونږ خلقوته خو تحريك شفتين په نظرراځى . خو الله تعالى عالم الغيب والخفيات دے.هغه هرڅيز ته گورى.هغه ته د ژبے حركت هم په نظرراځى.نوځكه په حديث كښے صرف د تحريك شفتين ذكر دے.اوقرآن پاك كښے د تحريك لسان ذكر دے.

دريم جواب دا دے.چه په اصل كښے په تلفظ كښے د ژبے دخل وو.نوالله تعالى د اصل اعتبار اوكړلو.اوراوى چه د نبى ﷺ كوم ذكر كړے دے.چه هغه د ظاهر په اعتبار سره دے. خكه چه ويونكے شونډے په ظاهره متحرك وى.(٥)

---

(١) ارشادالسارى للقسطلانى(١/٦٩)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) تدريب الراوى (٢/١٨٩)النوع الثالث والثلاثون:المسلسل)_

(٤) عمدة القارى (٢/٧٢)_

(٥) فتح البارى(١/٢٩،٣٠)و ارشاد السارى (١/٧٠)_

څلورم جواب دا دے چه دا د ((من باب إختصار الرواة)) څخه دے په اصل کښے موسی بن ابی عائشه په دے روایت کښے لسان او شفتین دواړو ذکر کړے وو خو د دوی په شاګردانو کښے ابوعوانه رحمه الله او اسرائیل رحمه الله د تحریك شفتین په ذکر اکتفا اوکړله (١) او سفیان صرف تحریك لسان ذکر کړے دے (٢) او جریر رحمه الله دواړه ذکر کړی دی (٣).
پنځم جواب علامه کرمانی رحمه الله دا ورکړے دے چه دواړه حرکتونه د یوبل سره لازم دی. (٤)
شپږم جواب هغوی دا ورکړے دے چه مراد تحریك د ,,فم،، دے کوم چه په لسان او شفتین دواړو باندے مشتمل دے. (٥)
حافظ رحمه الله هم دا دواړه جوابونه نقل کړی دی (٦) خو علامه عینی رحمه الله دا دواړه جوابونه تکلف، تعسف او مستبعد ګرځولی دی. (٧)

قوله: قَالَ جَمْعُهُ لَكَ فِي صَدْرِكَ وَتَقْرَأَهُ: یعنی زمونږ کار دا ستا په زړه کښے جمع کول اوبیا ددے لوستول دی. یعنی ستا په ژبه باندے ددے جاری کول زمونږ ذمه ده
,,جمع،، فعل ماضی هم مروی دے او مصدر هم ونیلی شی چه اضافت ئے ضمیر طرفته کیږی ,,صدرك،، کښے په راء باندے رفع هم ونیلی شی په دے صورت کښے به دا ,,جمع،، (فعل یا مصدر) فاعل وی. اوپه دے باندے بناء بر ظرفیت نصب هم ونیلی شی یعنی الله تعالی به دا ستا په سینه کښے جمع کړی. د کریمه او حموی په روایت کښے ((جمعه لك فی صدرك)) راغلی دی. (٨)
بیا د ,,جمع،، اسناد کوم چه ,,مصدر،، طرف ته شوے دے دا مجازی دے لکه ((أنبت الربیع البقل)) وائی. او مقصود دا وی چه ((أنبت الله البقل فی الربیع)) دغه شان دلته د جمع نسبت اګرچه ,,صدر،، ته شوے دے خو مطلب دے ((جمع الله لك فی صدرك)) (٩)
و((وتقرأه)) دا د ((قرآنه)) تفسیر دے ددے نه ئے دا اوخودله چه لفظ د ,,قرآن،، د قراءت په

(١) حدیث باب، او کتاب التفسیر، سورة القیامة، باب إن علینا جمعه وقرآنه)_
(٢) کتاب التفسیر باب فإذا قرأناه فاتبع قرآنه دغه شان صحیح مسلم (١/١٨٣، ١٨٤) کتاب الصلاة باب الإستماع للقراءة)_
(٣) شرح کرمانی (١/٤٧)_
(٤) پورتنۍ حواله)_
(٥) پورتنۍ حواله)_
(٦) فتح الباری (٨/٦٨٢) کتاب التفسیر سورة المدثر باب (فإذا قرأناه فاتبع قرآنه..)_
(٧) عمدة القاری (١/٧٣)_
(٨) ارشاد الساری للقسطلانی (١/٧٠)_
(٩) فتح الباری (١/٣٠)_

معنى كښې دے او مطلب لکه چه مخکښې بيان شوے دے دا دے چه ددے لوستول هم زمونږ په ذمه دی

قوله فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ قَالَ فَاسْتَمِعْ لَهُ وَأَنْصِتْ: كله چه مونږ او لولو نو ته ددې لوستلو اتباع كوه.

دلته د قراءت اضافت الله تعالى خپل خان طرف ته كړے دے خكه چه په حقيقت كښې الله تعالى لولى صورة چه فرشته لولى دا يوه واسطه ده

بيا حضرت ابن عباس رضي الله عنه د «فاتبع قرآنه» تفسير په «فاستمع له وأنصت» سره كړے دے استماع او انصات دواړه جدا جدا لفظونه دى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په دے دواړو كښې فرق دے ..انصات.. ونيلى شى سكوت ته برابره ده كه هلته ..اصغاء.. يعنى آواز طرف ته متوجه كيدل وى يے نه وى نوسړے چه كله چپ وى او په څه خيال كښې ډوب وى نو دے ته انصت وائى او استماع ونيلى شى ..اصغاء.. يعنى غوږ كيخودلو ته لكه چه په قرآن پاك كښې دى ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا ﴾ (١)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله چه دلته د كومه تنبيه وركړے ده چه د ..استماع.. معنى ..اصغاء.. ده او د ..انصات.. معنى مطلق سكوت ده او دا د خپل عموم د وجے اصغاء او عدم اصغاء دواړو ته شامل دے په دے باندے اشكال دا دے چه اهل لغت د ..انصت.. معنى مطلق سكوت نه ده بيان كړے بلكه داسے سكوت چرته چه استماع وى د ..انصات.. تفسير كوى ...سكوت مستمع.. يعنى د داسے كس سكوت چا چه د بل طرف ته غوږ كيخودے وى مطلقاً سكوت نه. (٢)

او ..استماع.. وائى غوږ كيخودلو ته (٣) او د غوږ كيخودو دپاره سكوت ضرورى نه وى كيدے شى چه يو سړے چپ وى او د بل چا خبرے ته ئے غوږ كيخودے وى او كيدے شى چه چپ نه وى په يو كار كښې مصروف وى چا سره خبرے كوى خو غوږ ئے د بل خبرے ته كيخودے وى نو چه په كوم ځائے كښې ..انصات.. وى هلته به د ..استماع.. تحقق ضرور وى خو چه په كوم ځائے كښې ..استماع.. وى هلته د ..انصات.. وجود ضرورى نه وى څكه چه د استماع دپاره سكوت ضرورى نه دے صرف غوږ كيخودل ضرورى دے او د ..انصات.. دپاره د سكوت سره غوږ كيخودل ضرورى دى.

دقرات خلف الامام په مسئله كښې د احنافو رحمهم الله تائيد حضرت ابن عباس رضي الله عنه د ..فاتبع.. تفسير په ..فاستمع له وانصت.. سره كړے دے بل طرف ته ئے په حديث كښې «انما

---

(١) فتح البارى (٨/ ٦٨٣)_

(٢) النهاية فى غريب الحديث والأثر (٥/ ٦٢) ومجمع الزوائد بحار الأنوار (٤/ ٧١١)_

(٣) مختار الصحاح (ص. ٣١٤)_

«جعل الإمام ليأتم به» فرمائيلي دى (١) د ..ليوتم به.. په باره كښے حافظ ابن حجر رحمه الله تسليم كړى دى چه د ..ائتمام.. معنى ..اتباع.. ده (٢) اود ..اتباع.. تفسيرابن عباس رضي الله عنه په «فاستمع له وأنصت» سره كړے دے.نو نتيجه دا راؤوتله چه د اتباع امام مطلب به دا وى چه ته هغه اورے اوچپ نے.

په مسلم شريف كښے دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه په يو روايت كښے دى.«وإذا قرأ فأنصتوا» (٣) چه كله امام قرات كوى.نوتاسو چپ نے.او اورئ.دا روايت په خپل ځانے صحيح او ټيك دے.خو به حال مخالفين په دے كښے كلام كوى.

خو په «إنما جعل الإمام ليؤتم به» كښے خو څه اشكال نشته.دا خو ټول تسليموى. او د ..ائتمام.. معنى هم ..اتباع.. ده.او حضرت ابن عباس رضي الله عنه د ..اتباع.. مطلب «فاستمع له وأنصت» بيانوى.نومعلومه شوه.چه امام د دے دپاره مقرر كولے شى چه هغه كله قرات كوى.نو مقتديانو ته پكار دى چه اورى.اودهغه د قرات په وخت كښے چپ وى.

داحنافو رحمهم الله مسلك د «وإذا قرأ فأنصتوا» نه ثابتيږى.خو د «إنما جعل الإمام ليؤتم به» نه هم د دوى مسلك ثابتيږى.اودحضرت ابن عباس رضي الله عنه دا تفسير «فاستمع له وأنصت» د احنافو رحمهم الله پوره پوره تائيد كوى.والله اعلم.

داتباع يو بل تفسير اوپه دواړو كښې تطبيق ددے نه پس په دے پوهه شه.چه د ..فاتبع قرآنه.. تفسير دلته خو په ..استماع وانصات.. سره شوے دے.خو په كتاب التفسير كښے امام بخارى رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه د قراءت.. تفسير په ..بيان سره اود ..اتباع.. تفسير په ..عمل.. سره كړے دے.«قال ابن عباس رضي الله عنه: قرأناه: بيناه فاتبع عمل به»

كيدے شى.چه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه په دے كښے دواړه تفسيرونه منقول وى.او دا هم كيدے شى.چه اوونيلى شى.چه استماع او انصات دواړه ابتداء وى.او عمل انتها وى.كوم چه په دے باندے مرتب كيږى.

خلاصه دا چه صرف اوريدل او غور كيخودل مقصود نه دى.بلكه په دے باندے عمل مقصود دے.بعضے وخت حضرت ابن عباس رضي الله عنه په تفسير كښے ذريعه د عمل ذكر كړے ده.او ذريعه د عمل استماع او انصات ده.ځكه چه ددے نه علم حاصليږى.او بعضے وخت ئے مقصود د اتباع بيان كړے دے.او دا ئے خودلى دى.چه ..فاعمل به.. په دے باندے عمل اوكړه.د قرآن اتباع دا ده.چه سړے په دے باندے عمل اكړى.والله سبحانه وتعالى اعلم.

---

(١) صحيح البخارى (٩٥/١) كتاب الأذان باب إنما جعل الإمام ليؤتم به)۔
(٢) فتح البارى (١٧٨/٢) كتاب الأذان باب إنما جعل الإمام ليؤتم به)۔
(٣) صحيح مسلم (١٧٤/١) كتاب الصلاة باب التشهد فى الصلاة)۔

قوله. ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا أَنْ تَقْرَأَهُ: بيا زمونږ په مه دى.ددے بيانول بيا زمونږ په ذمه دى.چه ته دا اولولے.

دلته اشكال دا دے.چه دلته په تفسير كنبے تكرار راغلے دے.«إن علينا جمعه وقرآنه» تفسير وو.«جمعه لك صدرك وتقرأه» او بيا د «إن علينا بيانه» تفسير په «إن علينا أن تقرأه» سره كوى.نو په دواړو خايونو كنبے «تقرأه»«تقرأه»سره كوى.اودا تكرار دے.

ددې څو جوابونه دى .

() اولنے جواب دا دے.چه د اولنى ..تقرءه.. نه مراد «قرأت لنفسه» دے.اود دويم «تقرأه» نه مراد «قرأت لغيره» دے.او مطب دا دے.چه ته خپلے ژبے ته حركت مه وركوه.په چپوالى سره اوريدل كوه.مونږ به دا ستا په سينه كنبے جمع كړو.او تا ته به په لوستلو قدرت دركړوزته به ئے په خپله هم لوستلے شى.اود «إن علينا بيانه»سره ئے دا خودلى دى.چه ته به دا د نورو په وړاندے هم لوستلے شى. يعنى ددے د الفاظو تعليم او تبليغ په كوے.اوددے د مطالبو تفهيم او تعليم به وركوے.(1)

() دويم جواب دا هم ممكن دے.چ اولنى خائے كنبے د «تقرأه» نه مراد مطلقاً «قدرة على القراءة» وى.او په دويم خائے كنبے «إن علينا أن تقرأه» سره دا بيان شوى وى.چه ته به په بيا بيا وئيلو باندے قادر شے.دا نه چ صرف يو خل به ئے اولولے.او ددے نه پس به قدرت ختم شى.نه بلكه بار بار به تاته د لوستلو قدرت در كړے شى.

() دريم جواب بعضے حضراتو دا وركړے دے.چه په اصل كنبے دا تفسير وهم دے.(2) دد اصلى تفسير هغه دے.كوم چه امام بخاى رحمه الله په كتاب التفسير كنبے نقل كړے دے.«ثم إن علينا بيانه: علينا أن نبينه بلسانك»يعنى ستا په ژبه به مونږ دا بيان كړوزيعنى ددے د مطالبو او معنيو تفهيم او ددے توضيح به اوكړو.

خو په دے جواب باندے اشكال دا دے.ترخو پورے د رايت صحيح معنى كيدے شى.نو تر هغه وخته پورے د سهو يا وهم دعوى كولو ته ضرورت نشته.د «إن علينا بيانه» تفسير د ابن عباس رضي الله عنه دلته «إن علينا أن تقرأه» نقل شوے دے.او په كتاب التفسير كنبے په «أن نبينه بلسانك» سره شوے دے.په دواړو كنبه څه فرق نشته.د «أن نبينه بلسانك» معنى دا ده.چه مونږ به ستا ژبے ته قدرت وركړو.او ستا په ژبه به د قرآن الفاظ جارى كړو.ته به دا په خپله ژبه باندے ظاهروے.دا اظهار به على وجه القراءة وى.د دے نه دلته په «إن علينا أن تقرأه»سره

---

(1) لامع الدرارى (1/509، 51)_

(2) فيض البارى (1/35)_

تعبير كړے شوے دے.
په تفسير درمنثور كښے د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دده په تفسير كښے دوا ړه خبرے منقول دى.[1] خو يو روايت ته وهم ونيل تيك نه معلوميږى.

ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ يو بل تفسير بيا بعضے عالمانو رحمهم الله د ((ثم ان علينا بيانه)) تفسير په بيان مجملات او توضيح مشكلات سره كړے دے لكه چه ((ان علينا جمعه وقرآنه)) كښے خو دا بيان شوى دى چه الله تعالى به قرآن كريم د نبى ﷺ په سينه كښے محفوظ كړى او په ونيلو به ورته قدرت وركړى. او په ((ثم ان علينا بيانه)) سره دا خودلى شوى دى چه دده د مجملاتو بيان او د دے د مشكلاتو توضيح او تفصيل به تا ته روستو دركړے شى.[2]

قوله: تأخير البيان عن وقت الخطاب: كه دا معنى شى نو په دے سره يوے اختلافى مسئلے ته اشاره ملاويږى. او هغه دا چه ((تاخير البيان عن وقت الخطاب)) جائز دے او دا مسئله مختلف فيها ده. چه الله تعالى په يو وخت كښے په يو حكم سره بنده ته خطاب اوكړى نو په هغه وخت كښے د هغے وضاحت ضرورى دے. كه په هغے كښے تاخير كيدے شى؟
دجمهور اهل سنت مذهب دا دے چه تاخير كيدے شى. اود امام شافعى رحمه الله نه منصوص دى. په دے آيت باندے د ټولو نه وړاندے قاضى ابوبكربن الطيب په ((تاخير البيان عن وقت الخطاب)) سره استدلال كړے دے.[3]
خودا استدلال ضعيف دے. ځكه ..بيان.. په الفاظ مشتركه كښے دے. ددے اطلاق په ..بيان اجمالى.. باندے هم كيږى. او په ..بيان تفصيلى.. باندے هم. او مطلقاً د اظهار په معنى كښے هم راځى. كه ته دلته يوه خاص معنى مراد اخلے نو بل كس دا ونيلى شى چه نه ددے بله معنى ده.
ابوالحسين بصرى وائى چه ممكن ده دلته د بيان نه ..بيان تفصيلى.. مراد وى.[4] او مختلف فيه مسئله د تاخير بيان اجمالى.. ده. چه بيان اجمالى مؤخر كولى شى كه نه؟ په دے كښے اختلاف دے. او په بيان تفصيلى كښے د چا اختلاف نشته ټول وائى چه د بيان تفصيلى تاخير د خطاب د وخت نه جائزنه دے.
علامه آمدى فرمائى. ممكن ده چه دلته د ..بيان.. نه مراد ..اظهار.. وى ونيلى شى ((بان الكوكب اذا ظهر)) نو دلته مراد اظهار دے او هغه بيان مراد نه دے په كوم كښے چه اختلاف دے ځكه چه ټول قرآن مجمل نه دے چه محتاج د بيان وى حالانكه دلته د ټول قرآن ذكر كيږى.

(۱) الدرالمنثور(۶/۲۸۹) تفسير سورة القيامة)_
(۲) فتح البارى(۱/۳۰) وارشاد السارى(۱/۷۰)_
(۳) فتح البارى(۸/۶۸۳) كتاب التفسير. تفسير سورة القيامة باب: فإذا قرأناه فاتبع قرآنه)_
(۴) پورتنئ حواله)_

خکه چه دلته د بیان اضافت قرآن ته شوے دے.(۱)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په مسئله باندے استدلال صحیح دے.هغه داسے چه مونږ د ,,بیان,, د لفظ نه ددے ټولے معانی مراد واخلو.نولکه څنګه چه په دے کښے ,,بیان تفصیلی,, داخل دے.دغه شان اظهارهم داخل دے.او بیان اجمالی هم داخل دے.(۲)
خودا استدلال دهغه خلقو په مسلك باندے صحیح کیږی.څوك چه د عموم مشترك قائل وی.لکه شوافع.اوڅوك چه د عموم مشترك قائل نه وی.لکه احناف رحمهم الله نو د دوی په نیز دا استدلال صحیح نه دے.البته دا چه عموم مجاز اختیار کړے شی.والله سبحانه وتعالی اعلم.

قوله فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ اسْتَمَعَ فَإِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا قَرَأَهُ: دنبی کریم ﷺ ددے نه پس معمول جوړ شوے وو.چه کله به حضرت جبریل راغلو. او قرآن به لوستلو.نو دوی به چپ وو.او اوریدل به ئے.اوچه کله به هغه لاړلو.نو بیا به نبی ﷺ قرآن پاك لوستلو.بالکل هم هغه شان څنګه چه حضرت جبریل علیه السلام لوستل.
حضرت علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی.دا هم یوه معجزه شوه.چه ټول قرآن به ئے اوریدل.په هغه وخت کښے به ئے په یو ټکی هم ژبه نه ګرخوله.او د فرشتے د تلو نه ورته ټوله وحی ټکے په ټکے په پوره ترتیب سره بغیر د یو زور یا زیر د تبدیلئ نه په فرفر اورول او خودل.(۳)

قوله جبریل علیه السلام: پیغمبرانوعلیهم السلام ته د وحی راوړونکے او په مختلفو قومونو عذاب نازلونکے فرشتے نوم جبریل دے.ددے معنی په سریانئ کښے ,,عبدالله,, ده.د ,,جبر,, معنی بنده ده.او ,,ایل,, دالله تعالی په نومونو کښے یو نوم دے.(۴)
عبدبن حمید په خپل تفسیر کښے د حضرت عکرمه رحمه الله نه نقل کړی دی.چه دحضرت جبریل علیه السلام نوم عبدالله او دحضرت میکائیل نوم عبیدالله دے.(۵)
علامه سهیلی رحمه الله فرمائی.چه جبریل د سریانئ لفظ دے.اود دے معنی عبدالرحمن یا عبدالعزیزده.دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دا معنی موقوفاً او مرفوعاً په دواړه طریقو باندے منقول ده.خو موقوف روایت اصح دے.بعضے حضرات فرمائی.چه په دے نومونو کښے اضافت اضافت مقلوبی دے.لکه چه د ,,ایل,, معنی د بنده ده.او د اول جزء دالله تعالی په نومونو کښے یو نوم دے.د عجمیانو په نیز د ,,جبر,, معنی ,,اصلاح ما فسد,, ده.په دے

---

(۱) پورتنئ حواله)_
(۲) فتح الباری(۶۸۳/۸)_
(۳) فضل الباری(۱۹۰/۱)_
(۴) عمدة القاری(۱۷/۱)_
(۵) پورتنئ حواله)_

حيثيت سره د حضرت جبريل عليه السلام په نوم كښې د عربيت سره مناسبت هم پيدا شو خكه چه په عربئ كښې هم ،،جبر،، ،،اصلاح ما وهى،، ته وائى (١)

دا نوم دعربو په زمكه كښې مشهور نه وو هم دا وجه ده چه حضرت خديجه رضي الله عنها كله د عداس نوم نصرانى نه د حضرت جبريل عليه السلام په باره كښې تپوس اوكړلو نوهغه ورته اووئيل.

((قدوس قدوس ما شأن جبريل يذكر بهذا الأرض التى أهلها أهل الأوثان)) (٢)

علامه عينى رحمه الله فرمائى ما د يو كتاب دمطالعه په وخت كښې ليدلى وو چه دحضرت جبريل عليه السلام نوم عبدالجليل دے او كنيت ابوالفتوح .دحضرت ميكائيل نوم عبدالرزاق دے. اودهغه كنيت ابوالغنائم دے.دحضرت اسرافيل عليه السلام نوم عبدالخالق دے او كنيت ئے ابوالمنافخ دے اودحضرت عزرائيل عليه السلام نوم عبدالجبار دے او كنيت ئے ابويحيى دے (٣)

بيا په جبريل كښې د پنځلسو نه زيات لغات دى. (٤)

د ترجمة الباب سره مناسبت د روايت د ترجمة الباب سره مناسبت د ظاهرى عنوان نه ښكاره دے.خكه چه په دے كښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دتحريك شفتين واقعه ذكر كړے ده. اودا بيخى د د وحى دنزول واقعه ده.خكه چه دا بعيده ده.چه الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوے مودے پورے د حضرت جبريل عليه السلام سره د وئيلو په مشقت برداشت كولوباندے اووينى. اود خپل طرف نه د حفاظت او يادولو ذمه وارى وانخلى.نوپه اول كښې الله تعالى د حفظ او قراءت او بيان ذمه وارى واخستله په دے طريقه دا روايت د بدء الوحى سره مطابقت خورى.

اوكه چرته د حضرت شيخ الهند رحمه الله د قول مطابق مقصود د ترجمه عظمت وحى اوګرځولے شى.نودا هم مناسب ده.دا په دے طريقې سره چه د الله تعالى د طرفه دا ذمه وارى اخستل چه ستا په زړه كښې به مونږ وحى محفوظ كوو.اوستا په ژبه به مونږ ددے تلاوت كوو.اوستا په ذريعه به مونږ ددے معانى هم بيانوو .دا ټولے خبرے په عظمت وحى باندے دلالت كوى.

بيا دا حكم چه كله وحى نازليږى.نوته استماع او انصات كوه.نودا په عظمت وحى باندے دال دى.والله اعلم.

دحديث باب نه مستنبط مسائل د حديث باب نه ډيرفوائد مستنبط شوى دى.چه څو په كښې دا دى.① داستاذ دپاره مناسبت دى.كه د يوے خبرے په تشريح كښې په فعل سره زيات وضاحت كيدے شى.نوپه فعل سره دے طالب علم ته دهغې وضاحت اوكړى.

② دويمه فائده دا په ذهن كښې راغله.چه د قرآن پاك حفظ كول دالله تعالى د مدد نه بغير دچا په وس كښې نه ده.③ د دے حديث نه د ((تأخيرالبيان عن وقت الخطاب)) جواز هم په پوهه كښې راغلو.((كماهومذهب جمهور أهل السنة والجماعة وقد مر تفصيله)) (٥) والله اعلم

---

(١) الروض الأنف (١/١٥٥، ١٥٦)_

(٢) دلائل النبوة للبيهقى (٢/١٤٣) باب مبتدء البعث والتنزيل)_

(٣) عمدة القارى (١/٧٢)_

(٤) راجع تاج العروس للزبيدى (٣/٨٤) مادة ج ب ر)_

(٥) عمدة القارى(١/٧٣)_

یو اشکال او دهغې جوابونه دلته یو مسئله ذکرکولې شي اګرچه دا مسئله د دې ځائې نه ده. بلکه د کتب التفسیر ده خو چونکه استاذان ئې دلته ذکرکوي نوځکه ئې مونږ هم دلته ذکر کوو مسئله دا ده چه ددې آیت د ماقبل او مابعد سره څه ربط نشته ځکه چه په ماقبل کښې د قیامت تذکره ده ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِیَوۡمِ ٱلۡقِیَٰمَةِ...... بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ بَصِیرَةࣱ وَلَوۡ أَلۡقَىٰ مَعَاذِیرَهُۥ﴾

اوروستو هم د قیامت ذکر دې ﴿كَلَّا بَلۡ تُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَتَذَرُونَ ٱلۡـَٔاخِرَةَ﴾ په مینځ کښې دا آیتونه دې په کومو کښې چه نبي ﷺ دتحریك لسان نه منع شوې دې.

ددې اشکال د وجې خو روافضو دا وئیلي دي چه دا ددې خبرې دلیل دې چه قرآن پاك بجنسه محفوظ نه دې ددې څه حصه ضائع شوې ده. دا د روافضو د باطلو دعاوېو څخه ده. دوي وائي چه د قرآن کریم ځلویښت پارې وې عثمان دیرش پارې کړلې اولس پارې په کومو کښې چه د اهل بیتو فضائل د... ائمه.. تصریح او د اهل بیت نبوي د امامت د استحقاق تذکره وه. هغه ټول ئې حذف کړې.

خود روافضو دا خبره صراحة د قرآن او دالله تعالى د وعدې تکذیب دې. الله تعالى فرمائي. ﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾ مونږ قرآن پاك نازل کړې دې او هم مونږ ددې حفاظت کونکي یو. هرکله چه الله تعالى چه دهغه قدرت قاهره او اراده باهره ټول مخلوقات په خپل اختیارکښې اخستي دي. دا وعده کړې ده چه مونږ به ددې کتاب حفاظت کوو. نوددې لس پارې به څه ضائع شي. ددې یو نقطه یا معمولي حصه هم نشي ضائع کیدې.

ترکومې پورې چه د مناسبت او ربط تعلق دې. نوددې ډیر جوابونه ورکړې شوي دي.

(۱) **اول جواب** د ټولو نه اولنې اوبنیادي جواب دا دې چه مناسبت ته د انسانانو په کلام کښې د لټولو ضرورت وي. ځکه چه د دوي ځکه چه ددوي د عقل او نقل دائره محدوده وي. اود دوي مقاصد محدود وي. نوهم په دغه حدودو کښې اوسیږي. اووئیل کولې شي. اولیکل کولې شي. اوڅه کولې شي. هلته خو د مناسبت لټولو ضرورت شته. اود الله تعالى علم ټولو موجوداتو او معدوماتو ته محیط دې. هلته ددې مناسبت لټولو ضرورت نشته. بلکه هلته خو دا ګنړلې شي. چه دې حکیم مطلق د خپل حکمت مطابق چه کومه موقع مناسبت وه. هغه بیان کړې دې

دهغه په کلام کښې ربط لټول دا انسان دحیثیت نه پورته خبره ده. دده دا مقام نه دې. دخپل علم او عقل په اعتبار سره ددې لاتق نه دې چه دالله تعالى په کلام کښې ربط اولټوي. لکه څنګه چه په محسوسات کونیه کښې بې شمیره څیزونه موجود دي په دې کښې تاسو ربط نشئ خودلې. اونه ددې په مینځ کښې په ربط تاسو پوهیدې شئ. مثلاً دا چه دلته کراچۍ ده. اودومره میله لرې حیدر آباد واقع دې او په دومره مسافت لاهور دې. څوك دا خودلې شي چه د فاصلودا مقدار ولې دې؟ دغه شان یو عالم په دې زمانه کښې موجود دې. او فلانې عالم د نن نه څه څلور سوه کاله وړاندې تیر شوې دې آیا څوك خودلې شي چه دهغه دپاره د څلور سوه کاله وړاندې موده ولې مقرر شوې دې اودده دپاره دا زمانه ولې اوټاکلې شوه. علی هذا القیاس څومره څیزونه چه د محسوساتو د باب څخه دي. اوپه دې عالم کښې موجود

دى.ددے په مينځ كښے د ربط پيژندل دانسان د وس كار نه دے.نودغه شان دالله تعالى په كلام كښے ربط پيژندل دانسان په وس كښے څنګه كيدے شى.نو د ربط لټون فضول دے.

دويم جواب امام رازى رحمه الله فرمائى چه دا د جمله معترضه پشان دے.او مدرس د تنبيه د باب ځنے دے.لكه څنګه چه مدرس سبق ښائى.او د طالب علم بے توجهى اووينى.نو په مينځ كښے د هغه د رټولو او هغه ته د تنبيه وركولو ضرورت پيښ شى.نوهغه ورته تنبيه وركړى.په ماقبل كښے هم سبق وى.او په ما بعد كښے هم هغه سبق وى.په مينځ كښے د تنبيه جمله راشى. اوس كه يو كس درس ليكى.اودا په مينځ كښے جمله هم اوليكى.نوچاته چه سبب معلوم وى.هغه به دا حذف واقعه يا غيرمربوط نه ګڼړى.خوچه چاته د سبب علم نه وى.هغه به دا غيرمربوط ګڼړى.

دلته كښے هم دا صورت راپيښ شوے دے.چه كله په قرآن پاك كښے د سورت قيامت ابتدائى آياتونه نازل شو.نونبى ﷺ د يادولو په نيت لوستل شروع كړل.نوپه دغه وخت كښے ورته سمدستى تنبيه وركړے شوه.چه ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ۝ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ۝ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ۝ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ۝﴾ يعنى تاسو د يادولو په غرض قرآن پاك زر زر مه يادوئ.كومه چه ددے وخت كار دے.يعنى استماع او انصات،نودا اختيار كړئ.او روستو چه كار دے.يعنى قراءت مونږ ددے ذمه وارى اخلو.مونږ به دا لولوو.(١)

دريم جواب: علامه زمخشرى رحمه الله فرمائى.چه په ماقبل كښے د قيامت ذكر وو ددے: فكر او اهتمام ترغيب وو.لكه چه ضمناً د ..عاجله.. مذمت وو.او په ما بعد كښے د ..عاجله.. مذمت صراحةً راځى.چه .﴿كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ﴾ چونكه نبى ﷺ به هم په لوستلو كښے او ضبط كولو كښے عجلت كولو.نوځكه ئے ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ﴾...الخ» اوفرمائيل اونبى ﷺ د عجلت نه منع كړے شو.دغه شان د﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ﴾...الخ» دماقبل او ما بعد دواړو كښے ربط راځى.(٢)

څلورم جواب: امام قفال رحمه الله فرمائى چه ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ﴾...الخ» سره خطاب نبى ﷺ ته نه دے. بلكه په ﴿يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ كښے چه كوم ،،الإنسان،، دے هغه ته خطاب دے.يعنى دده په وړاندے او روستو اعمالو به ده ته خبر وركړے شى.ددے صورت به دا وى.چه عمل نامه به ورته وركړے شى.او ورته به اووئيلى شى.﴿اقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا﴾ (٣)چه دخپل حساب كتاب دپاره نن ته په خپله كافى ئے.دا خپله عمل نامه

---

(١) تفسير كبيرامام رازى) رحمه الله ٣٠/٢٢٢، ٢٢٣)_
(٢) الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل (٤/٦٦٢)_
(٣) الإسراء ١٤)-

اولوله کله چه هغه خپله عمل نامه لوستل شروع کړي.نوپه هغه وخت کښې به نې ژبه د زياتې ويرې د وجې به نې ژبه بې اختياره شي.اوزر زر لوستل به شروع کړي.نو په هغه وخت کښې به الله تعالى اوفرمائي. ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴾ خپلې ژبې ته زر زر حرکت مه ورکوه.چه عمل نامه زر ختمه کړې.﴿اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ﴾ مونږ ستا عملونه جمع کړي دي.اوپه دې عمل نامه کښې مو ليکلي دي.اوس دا زمونږ په ذمه دي.چه مونږ دا اولولو.يعنې چه هرڅيز ستا وړاندې پش کړو.﴿فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ﴾ کله چه مونږ دا عمل نامه په تفصيل سره اولولو.نوهره يوه خبره کومه چه تا کړې وي.دهغې اقرار به اوکړې.اوهغه به تسليم کړې.﴿ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ﴾ بيا زمونږ په ذمه ده.چه مونږ ددې عقوبت او سزا بيان کړو.

حضرت ابن قفال رحمه الله چه کوم مناسبت بيان کړلو.په دې صورت کښې د ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴾ آيتونو د ماقبل او مابعد آيتونو سره بيخي مربوط کيږي.خو دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما د بيان کړې شان نزول سره ددې څه مناسبت نشته.(١)

پنځم جواب: يوجواب دا ورکړې شوې دې.چه ددې آياتونو د ماقبل سره ربط دې.هغه دا چې دقرآن کريم دا عادت دې.چه کله دې د نامه اعمال يا د کتاب اعمال ذکر کوي.نوهلته نامه احکام يا کتاب احکام ذکر هم کوي.اوګورئ په سورة اسراء کښې دي.﴿ فَمَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ ﴾(٢) داد کتاب اعمال ذکر دې.اوددې نه لږ غوندې وړاندې دي. ﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ﴾ (٣) په دې کښې د قرآن کريم يعنې د کتاب احکام ذکر دې.

دغه شان په قرآن کريم کښې دي.﴿ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ ﴾ (٤)دا هم کتاب اعمال دې.ددې نه پس ذکر دې د کتاب احکام.﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ﴾(٥)

---

(١) تفسير كبير(٢٢٣/٣٠، ٢٢٤)_
(٢) الإسراء ٧١)-
(٣) الإسراء ٨٩)-
(٤) الكهف ٤٩)-
(٥) الكهف ٥٤)-

دغه شان په یوبل ځائے کښے د قیامت اود دے د هیبتونو ذکر دے.﴿ یَوْمَ یُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِیْنَ یَوْمَئِذٍ زُرْقًا﴾(١) او ددے نه پس د قرآن کریم تذکره ده.﴿ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا وَّصَرَّفْنَا فِیْهِ مِنَ الْوَعِیْدِ لَعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ اَوْ یُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ؕ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّقْضٰۤی اِلَیْكَ وَحْیُهٗ ۫ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا﴾ (٢)

نودلته هم اول راغلی دے.﴿یُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ یَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ چه انسان به دخپل وړاندے او روستو عملونو نه خبردار کړے شی.ښکاره خبره ده.چه دا خبرداړے ورکول به د عمل نامه په ذریعه وی.لکه چه اول د کتاب اعمال ذکر اوشو.او ددے نه پس په ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾...الخ» کښے د قرآن کریم یعنی احکامو ذکر اوشو.(٣)

شپږم جواب: امام العصرحضرت کشمیری رحمه الله فرمائی.چه بعضے وخت کښے د قرآن کریم دوه مرادونه وی.یو مراد معلومیږی د نظم قرآن او سیاق کلام نه.دا مراد اولی دے.او یو مراد دخارج نه یعنی د شان نزول نه په پوهه کښے راځی.دا مراد ثانوی وی.مثلاً لفظ د ،،خمر،، دے.ددے یوه معنی خو هغه ده.کومه چه احناف رحمهم الله بیانوی.«النیئ من ماء العنب إذا اشتد وقذف بالزبد»(٤)_ دویمه معنی «الخمر ما خامر العقل» ده.(٥) د تلویح یو محشی لیکلی دی.چه د ،،خمر،، اولنئ معنی مراد اولی دے.اودویمه معنی مراد ثانوی دے.

دغه شان که په نظم قرآن کښے دا صورت پیښ شی.چه د عبارت د سیاق نه ددے یو کلام په فهم کښے راځی.او د شان نزول نه دویم.نو په داسے صورت کښے به څه کولے شی؟

حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی.په داسے صورت کښے چه د نظم قران نه کومه مفهوم معلومیږی.هغه به مراد اولی ګرځولے شی. لکه چه په قرآن کریم کښے دی. ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِیْحٌۢ بِاِحْسَانٍ﴾ (٦)ددے «تَسْرِیْحٌۢ بِاِحْسَانٍ»تفسیر په منصف عبدالرزاق کښے دابورزین نه مرسلاً په طلاق ثالث سره نقل شوے دے.«جاء رجل فقال: یارسول الله أسمع الله یقول: الطلاق مرتان،، فأین الثالثة؟ قال: «التَّسْرِیْحٌۢ بِاِحْسَانٍ» (٧)

---

(١) طه ١٠٢)-

(٢) طه ١١٣-١١٤)-

(٣) فتح الباری(٦٨٠/٨) کتاب التفسیر.سورة القیامة باب لا تحرک به لسانک لتعجل به)

(٤) المغرب (٢٧١/١)مادة خمر)

(٥) پورتنئ حواله دغه شان اوګورئ. مختار الصحاح(ص.١٨٩)_

(٦) البقرة ٢٢٩)-

(٧) مصنف عبدالرزاق(٣٣٨/٦) کتاب الطلاق باب ..الطلاق مرتان..)_

شوافع ﷺ فرمائی چه وړاندے ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ ...الخ﴾ د دے آیت تعلق هم د «اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ» سره دے څکه چه دا وړاندے جدا طلاق اوګرځولے شی. نو طلاقونه به څلور شی.
خو احناف حضرات ﷺ فرمائی چه د «تَسْرِیْحٌ بِإِحْسَانٍ» نه مراد ترک رجعت دے او وړاندے د «فَإِنْ طَلَّقَهَا» نه مستقل طلاق مراد دے کوم چه د ترک رجعت یو صورت دے که «تَسْرِیْحٌ بِإِحْسَانٍ» په خپل ظاهر یعنی ترک رجعت باندے پریخودلے شی او «فَإِنْ طَلَّقَهَا» د ترک رجعت بیان اوګرځولے شی نو تکرار نه لازمیږی (١)
حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه د «تسریح بإحسان» یو مراد اولی دے او دا هغه دے کوم چه احنافو ﷺ ګرځولے دے یعنی ترک رجعت او دویم مراد ثانوی دے او هغه دے طلاق کوم چه د شان نزول نه په پوهه کښے راځی.
دغه شان دلته کښے هم اوګنړئ چه په آیات مبحوث عنها کښے یو مراد اولی دے او یو ثانوی دے مراد اولی دا دے چه کله الله تعالی د قیامت او دَدے حالاتو ذکر اوکړلو نو مشرکانو به تعنتاً ددے په باره کښے تپوسونه کول کله به نے ونیل ﴿أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾ (٢) کله به نے ونیل ﴿أَيَّانَ مُرْسَاهَا﴾ (٣) او کله به نے تپوس کول چه ﴿أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ﴾ نو په دے مقام کښے دی. ﴿بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ ۝ يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ﴾ (٤) الله تعالی په دے باره کښے د اول وهله نه نبی ﷺ ته فرمائی چه ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ د قیامت د ورځے په تعین کښے ته بیخی خبره مه کوه. ﴿إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ﴾ د وعدے مطابق د محشر په ورځ هم مونږ به د عالم ټول منتشر اجزاء جمع کړو او د قرآن کریم په ذریعه مونږ په خپله د محشر احوال اواهوال د ضرورت او مصلحت مطابق بیانونکی یو ﴿فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾ کله چه مونږ په قرآن کښے د قیامت متعلق آیاتونه اولولو نو ددے په مقتضی باندے عمل کوئ او نورو ته هم ددے د تیاری تاکید کوئ ﴿ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ﴾ بیا د وعدے مطابق زمونږ په ذمه دی د نفخ صور وغیره په ذریعه ددے اظهار.
دا خو مدلول اولی دے کوم چه د سیاق او سباق نه متعین کیږی په دے سره ددے د ماقبل

(١) فیض الباری (٣٥/١)_
(٢) الذاریات ١٢)-
(٣) النازعات ٤٢)-
(٤) القیامة ٥-٠٠٦)-

اومابعد سره مطابقت راغلو او مدلول ثانوى اګرچه په دويمه درجه كښے ملحوظ دے خود ربط بين الآيات دپاره ددے خيال ساتل ضرورى نه دے [1] والله اعلم

اووم جواب حضرت مولانا عبدالرحمن صاحب امروهوى رحمه الله يو لوئے عالم او مفسرتير شوے دے په دارالعلوم ديوبند ته ئے په هغه زمانه كښے چه حضرت شيخ الاسلام رحمه الله په جيل كښے وو د بخارى شريف لوستلو دپاره تشريف راوړے وو دوى د دحضرت نانوتوى رحمه الله شاګرد رشيد مولانا احمد صاحب امروهوى رحمه الله شاګرد وو په اصل كښے دوى د ګجرات اوسيدونكى وو خوچونكه دوى خپل مستقل قيام په امروهه كښے اختيار كړے وو نو خكه ورته ..امروهوى.. وائى.

دوى فرمائى چه په اصل كښے په ما قبل كښے وو ﴿يُنَبَّؤُا الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾[2] په قيامت كښے به دا تپوس كيږى چه كوم څيز د روستو كولو وو تاسو هغه ولے وړاندے كړلو؟ اوكوم څيز چه د مقدم كولو وو هغه مو ولے مؤخر كړلو؟

مثلاً دا چا سوداګرى د روستو كولو څيز دے او مونځ د وړاندے كولو تاسو سوداګرى مقدم كړه او مونځ مو روستو كړلو دغه شان د حج سفر مقدم وو او نور دنيوى اسفار مؤخر وو خوتاسو نورو سفرونه مقدم كړل اود حج سفر مو روستو كړلو.

دلته كښے هم دا تقديم او تاخيرجارى وو چه په نبى ﷺ به وحى نازليدله دلته د مقدم كولو څيز دا وو چه دوى اوريدل او چپ وے او ددے لوستل. تحريك لسان وشفتين د روستو كولو څيزونه وو كوم چه مؤخر كول وو نبى ﷺ هغه وړاندے كړل اوخه چه مقدم كول وو هغه ئے مؤخر كړل نوخكه اوونيلى شو چه ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ يعنى ستاسو وړاندے لوستل د مقدم كولو څيز نه دے بلكه د مؤخر كولو څيز دے كله چه مونږ لوستل كوو نو ته په خاموشئ سره هغه اوره په دے طريقه ددے آياتونو ربط سره ﴿يُنَبَّؤُا الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ بيخى ښكاره كيږى.[3]

اتم جواب: حضرت شيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى چه د ربط آيات دپاره ددے خبرے ضرورت وى چه د يو آيت مضمون د بل آيت دمضمون سره مناسبت لرى د سبب نزول سره مناسبت لرل ضرورى نه دى.[4]

دمؤخر الذكر آيت شان نزول كوم چه د حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه منقول دے هغه دا چه په بعضے مسلمانانو د حيا د حد نه زيات دومره غلبه وه چه هغوى به داستنجاء جماع وغيره په

---

(۱) فيض البارى(۱/۳۵، ۳۶)_

(۲) القيامة ۱۳)-

(۳) ايضاح البخارى (۱/۹۸)_

(۴) تفسيرعثمانى(ص.۲۹۳) بذيل آيت ﴿أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ .....﴾ سورة هود آيت ۵)-

وخت كښې د بدن د څه حصې بربنډولونه شرميدل چه دآسمان خاوند مونږ وينې.اوكه بربنډيدو ته به ضرورت شو نودحيا د وجې به ټيټيدل.او د شرمګاه د پټولو دپاره به ئې پلنه كړې وه.(١)

چونكه د صحابه كرامو ﷺ داسې غلو او تعمق د آئنده دپاره امت په تنګئ كښې واقع كولے شو نوځكه قرآن پاك په ﴿اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ...الخ﴾ سره دهغوى اصلاح اوكړله.يعنى كه د ضرورت په وخت كښې د بدن په بربنډولودالله تعالى نه حيا راځى.او ددے وجې ټيټيږئ نوغور اوكړئ چه د جامو بدلولو په وخت كښې ستاسو ظاهراو باطن الله تعالى ته ښكاره نه وى څه؟ كله چه انسان دهغه نه په هيڅ وخت كښې نشى پټيدلے.نود ضروريات بشريه سره متعلق د دومره غلو نه كار اخستل ټكي نه دى.(٢)

يوه شبه او دهغې ازاله دا شبه دے نشى كولے.چه هركله الله تعالى ظاهر او پټ هرڅه پيژنى.اوددے وجې د قضائے حاجت په وخت كښې په خپل خان باندے څادر اچول.سينه ښكته كول او د پردے د تكلف نه منع شوے ده.نو په عاموحالاتو كښې اود تنهائے او خلوت په وخت كښې هم پردنه نه دى كول پكار.ځكه چه دالله تعالى نه خو يوځيز د پټولو باوجود پټ نه دے دا ونيل به غلط وى.ځكه چه په دے وخت كښې حكم هم دا دے چه پرده دے اوكړے شى.د نبى ﷺ ارشاد دے چه «ان الله عزوجل حيى ستير يحب الحياء والستر»(٣)نوچه په كوم ځائے كښې مجبورى نه وى.هلته هم پرده كول پكار دى.او چه په كوم ځائے كښې مجبورى وى.او د عورت ښكاره كولو ضرورت وى.نوهلته ددے تكلف نه منع شوے ده.

بهرحال كوم شان نزول چه د حضرت ابن عباس ﷠ نه منقول دے.هغه په خپل ځائے ټيك دے.خو ددے شان نزول په اعتبار سره د آيت ﴿اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ﴾ ربط د ماقبل آيت ﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ.....﴾ سره بيخى نه جوړيږى.خو د دواړو د مضامينو په اعتبار سره دا آياتونه مربوط دى.

اودا په دے طريقه چه دلته دا خودلى شى.كه تاسو د پيغمبرتابعدارى اونكړله.بغاوت او سركشى مو خپل شعار جوړ كړلو.نوپه قيامت كښې به تاسو ته سزا دركړے شى.لكه چه د ﴿وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ﴾

نه ښكاره ده.اوس يو مجرم ته د سزا وركولو دپاره د درے خبرو ضرورت وى.

يوه دا چه مجرم په قابو كښې وى دقابونه بهر نه وى.ښكاره ده چه د يو حكومت مجرم دهغه حكومت د حدودو نه بهر شى.نوحكومت هغه ته په سزا وركولو قادر نه وى.

(١)صحيح بخارى كتاب التفسير.تفسير سورة هود: باب :اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ_

(٢) تفسير عثمانى(ص.٢٩٣) تفسير سورة هود)_

(٣) سنن نسائى (٧٠/١) كتاب الغسل باب الإستتار عندالغسل)_

دويمه خبره دا ده.چه حاكم ته مجرم ته د سزا وركولو قدرت حاصل وى.هغه كمزورے نه وى.گنى كه حاكم د مجرم په مقابله كښے كمزورے وى.نوهغه به ورته څه سزا وركړے شى.
دريمه خبره دا ده.چه حاكم ته د مجرم د جرم علم وى كه يو سړے جرم كوى.او حاكم ته د جرم پته نه وى.نو بيا به ورته هغه څنگه سزا وركړى.؟!
اوس په قرآن كريم كښے فرمائيلے شوى دى.چه﴿وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ﴾(١)
په سركشئ او بغاوت كولو د قيامت د عذاب نه ويرولے شى.﴿إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ﴾ مجرم نشى بچ كيدے.الله تعالى ته دده پيشى ضرورى ده.دا اولنئ خبره شوه.چه مجرم د عذاب نه بچ كيدے نشى.الله تعالى ته به خامخا پيش كيږى.
دويمه خبره چه حاكم د مجرم نه طاقتور وى.هغه د مجرم نه كمزورے نه وى دے طرف ته په ﴿أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ سره اشاره شوے ده.ددے خلاصه دا ده.چه دالله تعالى نه د چا هيڅ يو حالت پټ نه دے.نو د يو مجرم جرم هم د الله تعالى نه پټ نه دے.
نو دشان نزول چه كومه واقعه بيان شوے ده.ددے د اجزاؤ سره د ماقبل آياتونو ربط نشته.خود دے د مضمون او ماحصل سره ئے ربط دے.او اشاره ده دے خبرے ته چه مجرم خپل جرم دالله تعالى نه نشى پټولے.الله تعالى خو عليم بذات الصدور دے.دهغه نه خو دانه جامو لاندے هم څه څيز پټ نه دے.نودچا جرم به دالله تعالى نه څنگه پټ پاتے شى.
په سورة قيامت كښے چه مولانا د آياتونو د ربط په باره كښے كوم تقرير كړے دے.ددے ماحصل دادے.چه دلته ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾ د نه وړاندے د دريے ..جمع.. كولو ذكر دے.
(١) يوه جمع د ..عظام اوبنان.. ده.﴿أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ﴾
(٢) دويمه جمع ﴿وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ﴾ يعنى شمس او قمر به جمع كړى.او يے نوره به شى.
(٣) دريمه جمع دانسان داعمالو ده.﴿يُنَبَّأُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾
وړاندے په لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ
كښے دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت مطابق خو واقعه هغه ده.كومه چه مونږ ذكر كړه.چه نبى ﷺ به د يادولو او حفظ په نيت تحريك لسان اوشفتين كول.نو د دے نه دوى منع شو.
ددے د شان نزول واقعه ماحصل دا دى.چه رسول الله ﷺ ددے باوجود چه امى وو.په قراءت او كتابت نه پوهيدلو.په دوى باندے قرآن نازليدلو.كله كله به په يوځل خو خو ركوع گانے نازلے كړے.دوى د حضرت جبريل عليه السلام سره د قراءت لوستلو نه منع شوى وو.خو الله سبحانه وتعالى د جبريل عليه السلام د تلو نه پس دا آياتونه د نبى ﷺ په سينه كښے جمع كول.نه يواځے دا چه

(١) هود ٠٠٣-

اوانو به ئې جمع کول بلکه به دوئ باندې به ئې دهغې تلاوت هم کول اوبه دې کښې به دوئ هم زور او زیر فرق نه وو اونه به اخر دا چه د دوئ په سینه کښې به ئې جمع کول اود دوئ به ژبه به ئې ددې تلاوت کول بلکه ددې مضامین او حقائق به ئې د دوئ په ژبه بیانیدل بیا ځکه چه دا خودلې شی چه الله سبحانه وتعالی کله چه محمد رسول الله ﷺ په ژړه کښې دا آیتونه جمع کولې شی نو دغه شان ..جمع عظام وبنان. جمع شمس وقمر. او بیا جمع اعمال فی کتاب الاعمال. دالله تعالی دپاره څه ګران نه دی(١) په دې طریقه به دماقبل سره ربط راشی
نهم جواب یو مناسبت بعضې عالمانو ﷺ دلته دا بیان کړې دې چه الله تعالی اول د نفس انسانی تذکره کړې ده اوفرمائی چه ﴿وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ﴾ کله چه ددې متعلق بیان اوشو نوبیا ئې د اشرف النفوس او اکمل النفوس د رسول الله ﷺ د نفس تذکره اوکړه ود اوونیلی شو چه ستاسو نفس د ټولو نه اشرف او اکمل دې نو ستا دپاره دټولو نه اکمل و افضل صورت اختیارول پکار دی دجبریل ﷺ د لوستلو په وخت کښې پوره متوجه کیدل پکار دی ځکه چه هغه زمونږ کلام لولی نودزړه په حضور سره په پوره توجه سره ددې په اوریدو کښې مشغول شه.اوچه کله هغه فارغ شی نوبیا زمونږ په ذمه ده. چه مونږ به ستا په ذریعه لولو.(٢)
لسم جواب یومناسبت حضرت حکیم الامت مجدد الملة مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره بیان کړې دې.ددې حاصل دا دې چه الله تعالی ددې نه وړاندې ﴿يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۢ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ فرمائیلی دی.ددې نه دوه خبرې معلومې شوې یوه دا چه دالله تعالی ټول څیزونه په خپله احاطه کښې اخستې دی.هیڅ یو ورکوټې او لوئې څیز دالله تعالی دعلم د دائرې نه بهر نه دې.که داشخاصو وی.او که د اجسامو وی.یا داعراضو وی.که افعال وی اوکه د اعمال. دالله تعالی ته د ټولو علم محیط حاصل دې.
دویمه څیز دامعلوم شو.چه الله تعالی کله اوغواړی.نو ډیر امور غائبه اوعلوم غائبه کثیره دانسان په ذهن کښې راولی.اوګورئ دا انسان معلومه نه ده.چه په ژوند کښې څومره کارونه کوی.صبا ته د قیامت په ورځ به دده ټول کارونه ده ته مخامخ کړې شی.
اوس الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ ته خطاب کوی.چه کله تاسو ته معلومه شوه.چه زمونږ علم محیط دې.اومونږ علوم غائبه چه کله اوغواړو.نو حاضرولې شو.نوخامخا تاسو خپل ځان ولې په مشقت کښې اچوئ.چه دحضرت جبریل ﷺ سره په لوستلو کښې مشغول کیږئ.یوطرف ته اوریدو ته توجه کوئ.بل طرف ته یادولو ته توجه ورکوئ.او دغه شان مضامینو طرف ته متوجه ئې.بلکه تاسو صرف کار کوئ.چه کله جبریل آمین لوستل کوی.نوته اوره.او وړاندې ددې حفظ کول او اورول او بیانول زمونږ په ذمه واری ده.(٣)

---

(١) تفسیرعثمانی(ص.٧٦٧) تفسیرسورة القیامة)_
(٢) فتح الباری(٦٨١/٨) کتاب التفسیر.سورة القیامة ﴿لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ﴾_
(٣) بیان القرآن (٦١/١٢) تفسیر سورة القیامة)_

الحديث الخامس

[٥] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ وَمَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ نَحْوَهُ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ [۱۸۰۳، ۱۸۸۰، ۳۰۴۸، ۳۳۶۱، ۴۷۱۱]

رجال الحديث

قوله: عَبْدَانُ: دا د دوی لقب دے.نوم ئے عبدالله بن عثمان بن جبله دے.بعضے شارحینو رحمهم الله فرمائیلی دی.چه دا د «من باب تغیرالأسماء» څنے دے.قاعده داده.چه کله مسمی معلوم وی.نو بعضے وخت دهغه نوم ګډوډ کړے شی.لکه علی ته چه علان. احمد بن یوسف سلمی ته حمدان، او وهب بن بقیة واسطی ته وهبان وئیلی شی.دغه شان عبدالله بن عثمان ته ..عبدان.. وئیلی شی.

خوعلامه عینی رحمه الله د حافظ بن طاهر رحمه الله نه نقل کړی دی.چه ددی نوم عبدالله او کنیت عبدالرحمن دے.نوم او کنیت ئے ملاؤ شوی دی.نوعبدان ترے جوړ شوے دے.خلك ورته عبدان وئیل شروع شو.لکه چه دا غلط نوم نه دے.بلکه په علم او کنیت کښے ئے دوه ..عبد..ملاؤ کړی دی.او تثنیه ترے جوړه شوے ده.

علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه دا اوجه صورت دے.[1] ځکه چه کله صحیح توجیه ممکنه وی.نوخامخا د ګډوډ کیدو قائل کیدل مناسب نه دے.

عبدان ثقه او حافظ دے.په ۲۲۱ھ کښے د ۷۶ کالو په عمر کښے وفات شو.[2]

قوله: قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ: یاد ساتئ چه د عبدان نه پس چه کله هم عبدالله علی الاطلاق راشی.نو ددے نه به حضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله مراد وی.[3]

عبدالله بن مبارك: داعبدالله بن المبارك حنظلی دے.د دوی کنیت ابوعبدالرحمن دے.د مرو اوسیدونکے وو.ځکه ورته مروزی وائی.

---

[1] دهوره تفصیل دپاره اوګورئ. عمدة القاري(۱/۷٤)_

[2] د دوی د حالاتو دپاره اوګورئ. تهذیب الکمال(۱۵/۲۷۶. ۲۷۹)_

[3] هدی الساری (ص.۲٤۹)الفصل السابع کتاب بدء الوحی)_

دامام ابوحنیفه.سفیان بن عیینه.او د دوی پشان عالمانو ﷺ نه ئے علم حاصل کړے دے.بیا سفیان ثوری رحمه الله او سفیان بن عیینه رحمه الله هم ددوی نه روایتونه اخستی دی.د دوی په جلالت شان او ثقاهت باندے اتفاق دے.دوی ته دعلم حدیث سره سره په علم فقه کښے هم مهارت حاصل وو.ډیرسخي وو.دوی سره لوئے لوئے مجاهدین هم وو.ترآخری عمره پورے د دے خبرے پابند وو.چه یوکال به حج ته تلو.او یو کال به جهاد ته تلو.د دوی ولادت په ۱۱۸ھ او وفات په ۱۸۱ھ کښے شوے وو.(١) رحمه الله تعالی.

قوله یُونُس:دا یونس بن یزیدبن ابی النجاد ایلی دے.ثقه دے.دحضرت معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما مولی د.د قاسم.عکرمه.سالم.نافع.اوزهری پشان ډیروتابعینو ﷺ نه روایت کوی.په ۱۵۹ھ کښے وفات شوی وو.(٢) دلته هم یاد ساتئ:چه په کوم ځائے کښے علی الاطلاق یونس راشي.نوددے نه به هم دا یونس مراد وی.(٣)

قوله الزُهْرِيّ:داامام ابن شهاب زهری رحمه الله حالات وړاندے تیر شوی دی.

قوله ح وحَدَّثَنَا:دا اولنئ موقع ده.چه دلته په بخاری شریف کښے ..حاء.. واقع شوے ده.دا په صحاح سته کښے واقع ده.دغه شان په مسند احمد کښے هم شته.خو په ابوداود او مسلم کښے په کثرت سره واقع شوے ده.

دقدماؤ ددے لفظ متعلق کلام نه دے کړے.د ټولو نه وړاندے په دے مسئله کښے اختلافات حافظ ابن الصلاح رحمه الله جمع کړی دی.(٤) بهرحال ددے لفظ په باره کښے اختلاف دے.اوپه دے کښے د عالمانو ﷺ دوه رائیگانے دے.بعضے حضرات دا حاء مهمله گرځوی.او دویمه رائے دا ده.چه دا خاء معجمه ده.

بیا د حاء مهمله د قائلینوپنځه اقوال دی.

(۱)د ټولو نه زیاته مشهوره دا ده.چه دا د ..تحویل.. نه ماخوذ ده.تحویل وئیلی شی بدلولو ته .منصف سند لیکی اوبه لیکلو کښے خپل طرف بل سند ته واړوی.دے طرف ته د اشارے دپاره ..حاء مهمله.. لیکی.(٥)

داسے وی.چه د یو حدیث څو سندونه وی.که دا چرته جدا جدا بیان کړے شی.نو تطویل هم دے.اوگرانه هم.نوځکه دا حضرات داسے کوی.چه د شیخ مشترک پورے هرسند جدا جدا بیان کړی.اودشیخ مشترک نه پس چه کله سند یو شی.نود ټولو دپاره یو سند ذکر کوی.د شروع

(١) د دوی د حالاتو دپاره اوگورئ. حلیة الأولیاء(١٦٢/٨. ١٩٠) وسیرأعلام النبلاء (٣٧٨/٨. ٤٢١) وبستان المحدثین (ص.١٤٧. ١٦٠) وتهذیب الکمال(٥/١٦. ٢٤)_

(٢) عمدة القاری(٦٨/١) وتقریب التهذیب (ص.٦١٤)_

(٣) هدی الساری (ص.٢٤٩)_

(٤) مقدمة ابن الصلاح(ص.٩٩) النوع الخامس والعشرون کتابة الحدیث وضبطه وتقییده.بیان أمور مفیدة (الأمر) الخامس عشر)_

(٥) پورتنئ حواله وشرح قسطلانی (٧١/١)_

نه یوسند د شیخ مشترك پورے وی او ددے نه پس بل سند د دغه شیخ مشترك پورے ذکر کولے شی او ددے دواړو سندونو په مینځ کښے د فصل دپاره ..حاء..لیکی.چه په جدا جدا سندونو باندے د یو سند کیدو ګمان نه راځی.

مثلاً دلته دامام بخاری رحمه الله استاذ عبدان دے او د دوی سند دے.((قال أخبرنا عبدالله قال أخبرنا یونس عن الزهری)) دا زهری رحمه الله شیخ مشترك دے.دعبدان سند ئے د زهری رحمه الله پورے بوړلواو پرےئے خودلو.او د دےنه پس د امام بخاری رحمه الله دویم استاذ دے.بشربن محمد.د دوی سند جدا دے.هغه دا دے ((حدثنا بشربن محمد قال أخبرنا عبدالله قال أخبرنا یونس ومعمر عن الزهری نحوه)) دبشربن محمد دا سند هم د شیخ مشترك یعنی امام زهری پورے راورسیدلو.د زهری رحمه الله نه پس د دواړو سند یو دے.((قال أخبرني عبیدالله بن عبدالله عن ابن عباس)) د زهری رحمه الله پورے دعبدان سند جدا وو.اود بشربن محمد سند جدا.د عبدان په سند کښے د عبدالله بن مبارك رحمه الله یو استاذ دے.اود بشربن محمد په سند کښے د ده دوه استاذان دی. دا دواړه سندونه ئے جدا جدا اولیکل.او د دواړو په مینځ کښے ئے د فصل دپاره ..حاء.. اولیکله.ددے دپاره چه معلومه شی.چه د ..حاء.. نه وړاندے یو سند دےاو د دےنه پس دویم سند دے.اود ..حاء.. نه وړاندےچه متصل کوم شیخ مذکور دے.هغه په دواړو سندونوکښے مشترك دے.

بهرحال د جمهور متقدمینواومتاخرینو رحمهم الله هم دا طریقه ده.چه دلته راورسی نو..حاء مفرده.. اولولی.اووړاندےځی.(۱)

() دویم قول دا دے.چه دا ..حاء.. دحائل نه ماخوذ ده.چه قاری دلته راورسی نو څه به نه لولی.بلکه د سند اول نه پس به سند ثانی شروع کړی.حافظ عبدالقادر رهاوی رحمه الله دخپلو مشائخو نه هم دا نقل کړی دی.(۲)

() دریم قول دا دے.چه دا خو هم د ..حائل.. نه ماخوذ ده.خوقاری به د..حائل.. تلفظ هم کوی.دحافظ شرف الدین دمیاطی رحمه الله نه هم دا منقول دی.(۳)

()څلورم قول دا دے.چه دا د ..الحدیث.. مخفف دے.عام طور چه مغاربه کله دا لولی.نود ..حاء.. په ځائے ..الحدیث.. لولی.او وړاندے سند شروع کوی.

() پنځم قول دا دے.چه دا د ..صح.. نه مخفف دے.اودا ددے وجے لیکلی شی چه څوك دا اونه ګڼړی.چه مؤلف یا کاتب ته وهم شوے دے د سند څه پاتے شوے ده یا د سند متن ساقط شوے دے.حافظ ابوعثمانی صابونی رحمه الله حافظ ابومسلم عمربن علی لیثی بخاری رحمه الله

(۱) مقدمة ابن الصلاح (ص.۱۰۰) ومقدمة شرح نووی علی صحیح مسلم (ص.۱۹)_

(۲) مقدمة ابن الصلاح (ص.۱۰۰) وارشاد الساری(۷۱/۱)_

(۳) ارشاد الساری(۷۱/۱)_

او محدث ابوسعد خلیلی رحمہ اللہ د قلم نه د په داسے مقاماتو کښے د ،،حاء،، په ځائے د ،،صح،، کتابت موندلے شي.(١)

دا ټول پنځه اقوال شو په دے کښے اولنے قول راجح دے «کما ذکرہ ابن الصلاح والنووی رحمہما اللہ»(٢) بیا کوم حضرات چه د ،،خاء معجمه،، قائل دي په هغوی کښے هم دوه اقوال مشهور دي.

() یو دا چه دا «آخرالحدیث» طرف ته اشاره ده.(٣)

() دویم قول دا دے چه دا «بسند آخر» طرف ته اشاره ده.(٤)

دلته د ،،حا،، دلفظ نه پس چه کوم ،،واو،، دے دے ته واو تحویل وائي.(٥)

قوله: بِشْرُبْنُ مُحَمَّدٍ: دا بشربن محمد سختیانی دے ابومحمد ئے کنیت دے په صحاح سته کښے صرف امام بخاری رحمہ اللہ ددوی نه روایات نقل کړی دي. بل چا نه دی نقل کړے. ابن حبان رحمہ اللہ دوی په کتاب الثقات کښے ذکر کړی دي. اودا ئے هم وئیلی دي چه دے په مرجئو کښے دے. ۲۲۴ھ کښے وفات شوے وو.(٦)

قوله: مَعْمَرٌ: معمر بن راشد ازدی ابوعروه بصری دے په یمن کښے ئے ستوګنه اختیار کړے وه. د هغه ځائے عالم بللی شي. حافظ عبدالرزاق صنعانی رحمہ اللہ فرمائي چه ما د دوی نه لس زره احادیث اوریدلی دي.

د ډیروتابعینو رحمہم اللہ نه ئے په خپله هم احادیث اخستے دي. او ډیرو تابعینو رحمہم اللہ د دوی نه هم احادیث اخستے دي.

هسے دے ثقه دے خو د ثابت، اعمش، او هشام بن عروه نه چه کوم احادیث دوی نقل کوی په هغې کښے کلام دے. دغه شان په بصره کښے چه ئے کوم احادیث نقل کړی دي په هغې باندے هم کلام شوے دے.

د اته پنځوس کالو په عمر کښے ۱۵۴ھ کښے وفات شوے دے.(٧)

قوله: عَنِ الزُّهْرِيِّ نَحْوَهُ: ددے مطلب دا دے چه عبدالله بن مبارک رحمہ اللہ دا حدیث د یونس او معمر دواړو نه نقل کوی خوالفاظ د یونس دي. اود معمر الفاظ ئے نه دی ذکر کړے بلکه دهغه الفاظ د یونس دالفاظو هم معنی دي په لفظونو کښے اتحاد نشته.(٨)

---

(١) مقدمة ابن الصلاح(ص.٩٩)_

(٢) مقدمة (ص.١٠٠) ومقدمة نووی علی صحیح مسلم (ص.١٩)_

(٣) مقدمة أوجزالمسالک (ص١١٣) الباب الخامس فی توضیح ألفاظ کثر استعمالها فی کتب الحدیث)_

(٤) پورتنئ حواله)_

(٥) عمدة القاری (٧٥/١)_

(٦) تهذیب الکمال (١٤٥/٤، ١٤٦) وعمدة القاری (٧٤/١)_

(٧) تقریب التهذیب (ص.٥٤١) رقم الترجمة (٦٨٠٩) وعمدة القاری (٦٨/١، ٦٩)_

(٨) فتح الباری(٣٠/١)_

په مثله او نحوه کښې فرق په دے سره به په دے دواړو لفظونو يعنی ..مثله.. او ..نحوه.. کښے فرق هم په پوهه کښے راغلے وی.په کوم ځائے کښے چه په الفاظو کښے هم اتحاد وی.هلته د ..مثله.. اطلاق کيږی او په کوم ځائے کښے چه په الفاظو کښے اتحاد نه وی.بلکه صرف معنی يوه وی.نوهلته ..نحوه.. استعماليږی.(١)

قوله عُبَيْدُاللَّهِ بْنُ عَبْدِاللَّهِ: دا عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود دے.دمدينے په مشهورو اووه فقهاؤ کښے يو دے.د ډيروصحابه کرامو ﷺ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ، حضرت عبدالله بن عمر ﷺاوحضرت ابوهريره ﷺغوندے حضراتو نه ئے احاديث اوريدلی دی.د دوی نه د تابعينو ﷺ يوے لوئے ډلے علم حاصل کړے دے.دحضرت عمربن عبدالعزيز ﷺ معلم وو.دوی روستو نابينا شوی وو.دوی په ٩٩ه ٩٨ه يا ٩٤ه کښے وفات شوی دی.(٢)

رسول الله ﷺ په ټولو انسانانو کښے د ټولو نه زيات د جود او سخا خاوند وو.

د ,,جود.. معنی ده.بغيرد سوال نه ورکول.ددے دپاره چه سائل د ذلت نه بچ شی.دغه شان د ,,جود..معنی زيات ورکول هم ده.هم دا وجه ده.چه موسمی باران ته ..جود.. ونيلی شی.(٣)

علامه کرمانی ﷫ فرمائی.جود وائی ((اعطاء ماينبغی لمن ينبغی)) يعنی څه چه مناسب وی.اوچاته چه مناسب وی.هغه ته ورکولو ته ..جود.. وائی.(٤)

علامه محمد اعلی تهانوی ﷫ فرمائی.((افادة ماينبغی لالعوض)) يعنی څه چه مناسب وی.هغه بغير دڅه عوض او بدلے نه ورکول.دے ته ..جود.. وائی.(٥)

ياد ساتئ چه د جود دپاره د مال اودولت کثرت ضروری نه دے.رسول الله ﷺ سره د مال او دولت کثرت نه وو.خوددوی چه کوم قلبی کيفيت وو.اوبيا چه دهغے څه اثر ښکاره کيدلو. نود هغےنظيرنه ملاويږی.

ددے تعريفاتو نه دا هم معلومه شوه.چه په ..جود.. کښے بے غرضی وی.کوم سړے چه ..جواد.. وی.هغه په څه لالچ باندے ورکړه نه کوی.

بيا د سخاوت تعلق د مال سره وی.او ..جود.. وائی.((اعطاء ماينبغی)) ته.ددے نه معلومه شوه.چه دا د مال سره مخصوص نه ده.دعلم تقسيم، دمعارف تقسيم، د اخلاقو تقسيم، اودغه شان هدايت وغيره ټول په ..جود.. کښے داخل دی.

دلته داهم معلومه شوه.چه په ..جود.. کښے اعطاء د حال مناسب وی.چه يو سړے اوږے وی.

---

(١)عمدة القاری(٧٥/١)وارشادالساری للقسطلانی(٧١/١)
(٢) عمدة القاری(٧٢/١) وتهذيب الکمال(١٩/٧٣. ٧٦)_
(٣) تاج العروس(٣٢٧/٢)
(٤) شرح کرمانی(٥٠/١)_
(٥) کشاف اصطلاحات الفنون(١٩٦/١)_ دغه شان تفسير کبير(١٦٦/١) لا رحمن إلا الله)_

هغه ته جامې ورکړي يا يو سړې بربنډ وي په هغه باندې روټئ اوخوري. دا ..جود.. نه دې.
دغه شان دا هم معلومه شوه چه مستحق ته مناسب څيز ورکړي.دا ..جود.. دې.غير
مستحق ته ورکول ..جود.. نه دې.
دلته دا هم پيژندل پکار دي چه ..جود.. يوه ملکه فاضله ده.او سخا دهغې اثر دې.نو
..جود.. او سخا ته يو نشي وئيلې.رسول الله ﷺ د ملکات فاضله په اعتبار سره په هرچا
باندې فوقيت لرلو.دا بيله خبره ده.چه د بعضې عوارضو د وجې په بعضې ځايونوکښې د هغوی
دملکاتو پوره پوره اظهارنه دې شوې.بهرحال د ..جود.. مدار د نفس په غنا دې.د زيات
مال په تقسيم باندې نه دې چه يو کس سره سل روپۍ وي.اوهغه لس روپۍ خيرات کړي.نو
عشر سره به سخاوت وي.او بل سره صرف يوه روپۍ وي.اوهغه دغه هم خيرات کړي.نودا
سل فيصده خيرات دې.«کما فی قصة أبی بکر وعمر رضی الله عنهما» (١)رسول الله ﷺ چه دخلقو سره د
..جود.. کومه معامله کړې ده.حقيقت دا دې.چه دهغې مثال نه ملاويږي.

دنبی ﷺ د ..جود.. څو مثالونه نبی کريم ﷺ ته يو ځل د بحرين نه يو لاکھ درهم راغلل.دوی
هغه تقسيمول تردې چه يو درهم هم باقي پاتې نشو.(٢)

يوځل يوې ښځې دنبی کريم ﷺ په خدمت کښې يو نقش دار څادر پيش کړلو.اوعرض ئې
اوکړلو.چه دا ما خاص کرستاسو دپاره تيار کړې دې.نبی ﷺ ته ضرورت هم وو.دوی کورته
تشريف يوړلو.اودغه څادر دوی د لنګ دپاره استعمال کړلو.

يوصحابي رضی الله عنه هغه مس کړلو.او وې کتل.دهغه خوښ شو.هغوی عرض اوکړلو.يا رسول الله
دا خومره ښکلې څادر دې.ماته ئې راکړئ.نبی ﷺ هغه ته ورکړلو.نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم په
هغه نکير اوکړلو.چه د رسول الله ﷺ ورته ضرورت وو.خکه هغوی واچولو.اوتاته معلومه هم
ده.چه دوی د سائل سوال نه رد کوي.خو تا ترې بيا هم واخستلو.هغوی اووئيل.په اصل کښې
دا څادرزه په خپل کفن کښې استعمالول غواړم.نوځکه مې ترې اوغوستلو.(٣)

دغه شان چه کله دوی د غزوه حنين نه واپس تشريف راوړلو.نو يو اعرابي راغلو.او د دوی
نه ئې په اصرار سره غوستل کول.تردې چه دوی ئې په روستو کيدو باندې مجبوره کړلو.د
کيکر د يوې ونې سره د دوی څادر اونختلو.اودغه شان څادر د دوی د لاس نه لاړلو.دوی
اودريدلو.او وې وئيل.زما څادر ماته راکړه.که ماسره په دې ځنګل کښې چه څومره د کيکر
ونې دي ددې په برابر څاروي وو.نو مابه به تاسو کښې تقسيم کړې وې.اوزه به مو
بخيل.دروغژن اوبزدله نه وې موندلې.(٤) رخو په هغه وخت کښې ورسره څه څيز باقي نه وو
پاتې شوې)

---

(١) سنن ترمذی کتاب المناقب باب فی مناقب أبی بکر وعمررضی الله عنهما کليهما رقم (٣٦٧٥)_
(٢) صحيح بخاری(١/٦٠)کتاب الصلاة باب القسمة وتعليق القنو فی المسجد)_
(٣) صحيح بخاری کتاب الجنائزباب من استعد الکفن فی زمن النبی ﷺ فلم ينکر عليه)_
(٤) صحيح بخاری کتاب الجهاد باب الشجاعة فی الحرب والجبن رقم (٢٨٢٠) وکتاب فرض الخمس باب ما کان النبی ﷺ يعطی المؤلفة قلوبهم وغيرهم من الخمس ونحوه رقم (٣١٤٨)_

رسول الله ﷺ يو خل روان وو .د دوى په بدن باندے نجرانى څادر وو .يوبانډيجى دوى يعنى ددوى څادر اونيولو .او ډير په زور سره ئے راښكلو .تردے چه د دوى په څټ مبارك باندے د راښكلو اثارښكاره شو .او بيا ئے اوونيل .ماته د څه راكولو حكم اوكړه .دوى هغه طرف ته متوجه شو .او وے خندل .اوهغه ته ئے د وركولو حكم اوكړلو (١)

حضرت بلال رضي الله عنه فرمائى .چه رسول الله ﷺ به كله څوك حاجتمند او ليدلو نو ماته به ئے حكم اوكړلو .ما به دچا نه قرض واخستلو .هغه ته به مے جامے واغوستلے اوروټى به مے پرے اوخوړله .يوخل يو مشرك ماته راغلو .او وئيل .ماسره ډيرزيات مال دے ته د بل چانه قرض مه اخله .زه به درته دركوم.

يوه ورځ ما اودس اوكړلو .او د اذان تيارے مے كولو .چه هغه مشرك د خپلو پيشورو سوداګرو يوے ډلے سره راغلو .اودهمكى ئے راكوله .اوبه چغه ئے اوونيل اے حبشى !اوبيا ئے راته په ډيره سخته لهجه كښے اوونيل .معلومه ده درته .چه د مياشتے په پوره كيدو كښے څومره ورځے دى؟ما ورته اوونيل .بس يو څو ورځے دى .هغه اوونيل .صرف څلور ورځے دى كه په دے ورځو كښے دے زما قرض ادا نكړلو .نوزه به تا خپل غلام جوړ كړم .او بيا به د اولنى پشان چيلئ څروے .حضرت بلال رضي الله عنه فرمائى .ماسره ډير غم شو .په څه طريقه مے د ماسخوتن مونځ اوكړلو .اود نبى ﷺ په خدمت كښے حاضر شوم .او واقعه مے ورته بيان كړه او عرض مے اوكړلو .زما مور پلار دے په تاسو قربان وى .تاسو سره په دے وخت كښے څه نشته .چه قرض پرے خلاص كړئ .اونه ماسره څه شته .اوهغه به ما رسوا كړى .ماته اجازت اوكړئ .چه زه د څو ورځو دپاره پټ شم .تردےچه الله تعالى تاسوته څه مال راولى.

دا مے ورته اوونيل .چه كور ته راغلم تيارى مے اوكړله .د صبا راختو په انتظار كښے وم .چه يو كس په منډه منډه راغلو .او وے وئيل .اے بلال !رسول الله ﷺ دے غواړى .چه زه حاضر شوم .چه مے اوكتل .نو څلور اوښے د سامان ډكے ناستے دى .نبى ﷺ ماته زيرے واوروَلو .اووے فرمائيل .چه دا څلور اوښے د سامان سره د شاه فدك د طرفه هديه ده .اوس چه دے سره دے څه خوښه وى .اوكړه.

حضرت بلال رضي الله عنه قرض وركړلو .او چه بيا جمات ته راغلو .نو رسول الله ﷺ تشريف فرما وو .نبى ﷺ د مال په باره كښے تپوس اوكړلو .نوهغوى عرض اوكړلو .الله تعالى ټول قرض خلاص كړلو .اوس قرض باقى نشته .نبى ﷺ تپوس اوكړلو .آيا څه باقى پاتے شوى دى .هغه عرض اوكړلو .اوڅه باقى دى .نبى ﷺ اوفرمائيل .باقى مال تقسيم كړه .او ما ئے فكره كړه .ځكه چه ترڅو پورے ټول مال تقسيم شوے نه وى .اوماته آرام رانكړے .نو زه به خپلو بيبيانو ته نه ورځم.

بيا د ماسخوتن دمانځه نه پس نبى ﷺ هغه راوغوستلو .اوتپوس ئے اوكړلو .نوهغه ورته عرض اوكړلو .تراوسه پورے مال موجود دے .څوك مستحق نه دے راغلے .نبى ﷺ كور ته لاړلو .بلكه په جمات كښے ئے شپه تيره كړه .په دويمه ورځ ئے د ماسخوتن په وخت كښے زه

(١) صحيح بخارى كتاب فرض الخمس باب ما كان النبى ﷺ يعطى المؤلفة قلوبهم وغيره رقم (٣١٤٩)_

راوغوستلم او تپوس نے اوکړلو مٰ عرض اوکړلو يارسول الله ټول مال تقسيم شو.الله تعالی تاسو ته فکره کړئ نبی ﷺ خوشحاله شو.او تکبير نے اووئيل.او دالله تعالی تعريف نے اوکړلو دوی سره ويره وه چه هسے نه دا مال موجود وی.او مرګ راشی.(۱)
يوځل نبی ﷺ د مازيګر مونځ اوکړلو اوډير په جلتئ سره نے حجرے ته تشريف يوړلو.خلق پريشانه شول چه څه واقعه پيښه شوه؟نبی ﷺ واپس تشريف راوړلو.خلقو د پريشانئ په حالت کښے وو نبی ﷺ اوفرمائيل.حقيقت کښے خبره دا وه.چه مونږ سره څه سره زر پراته وو.اوماسره ويره شوه چه هسے نه هغه رانه هير شی.ځکه مے دهغے د تقسيم حکم ورکړلو.(۲)
نبی ﷺ سره په مرض الوفات کښے څو اشرفئ وے.دوی ته ترهغه وخته پورے آرام نه ملاويدو.ترڅوچه نے هغه تقسيم کړے نه وے.(۳)
يعنی رسول الله ﷺ په جود اوسخا کښے د ټولو انسانانو نه اوچت وو.او په رمضان کښے چه به ورسره جبريل عليه السلام ملاؤ شو.نودوی به د نور کله نه زيات جواد او سخی شو.اوحضرت جبريل عليه السلام به په رمضان کښے هره شپه د دوی سره ملاقات کولو.او دوی سره به نے د قرآن کريم دور کولو.الغرض نبی ﷺ به په نفع رسولو کښے دتيزے سيلئ نه زيات جواد اوسخی وو.

دحديث دجملو ربط علامه طيبی رحمه الله فرمائی.چه دلته د دوی مطلق جود ته د ټولو خلقو په جود باندے فضيلت ورکړے شوے دے.بيا د دوی هغه جود کوم چه به په رمضان کښے وو.هغے ته د باقی ټولووختونو په جود باندے فضيلت ورکړے شوے دے.بيا د جبريل عليه السلام د ملاقات په موقع چه د رمضان په شپو کښے کوم جود وو.هغے ته د رمضان په باقی ټولووختونو باندے فضيلت ورکړے شوے دے.اوبيا د دوی د سخاوت د ريح مرسله سره تشبيه ورکړے شوے دے.چه ددوی سخاوت د دے نه هم زيات وو.(۴)

دنبی ﷺ په دې موقع باندې د جود او سخا سبب بيا خاص کر په رمضان کښے به د دوی په جود او سخا کښے زيادت کيدلو.ددے څو اسباب دی.
() دټولو نه بنيادی سبب خو دا دے.چه په دے مياشت کښے الله تعالی ذوالجلال والاکرام په خپله جود کوی.د جنتونو دروازے پرانستے شی.د جهنم دروازے بندولے شی.شيطانان تړلی شی.بيا زياتی دا چه د فرض ثواب اويا درجے زياتيږی.اود نفلو ثواب د فرضو سره برابريږی. دغه شان د افطارصائم ترغيب ورکړے شوے دے.او انبياء عليهم السلام د الله تعالی د صفاتواتم مظهر وی.نوهرکله چه الله تعالی په رمضان کښے په جود او سخا کښے زيادت کوی.نونبی ﷺ چه دالله تعالی آخری پيغمبراود الله تعالی د صفاتو اتم مظهر دے.هغوی به ولے جود نه کوی.ځکه ددوی په جود کښے زيادت اوشو.
() دويمه وجه دا ده.چه په خپله د رمضان مياشت د خير اونيکو مياشت ده.دا د انسان په

---

(۱) سنن ابی داود كتاب الخراج والإمارة با ب في الإمام يقبل هدايا المشركين رقم.٣٠٥٥)_
(۲) صحيح بخاری(١/١١٧، ١١٨) كتاب الأذان باب من صلى بالناس فذكرحاجته فتخطاهم)_
(۳) طبقات ابن سعد(٢/٢٣٧، ٢٣٩) ذكرالدنانيرالتی قسمها رسول الله ﷺ فی مرضه الذی مات فيه)_
(۴) شرح طيبی(٤/٢٠٩)كتاب الصوم باب الإعتكاف)_

طبیعت کښې نیکۍ ته رغبت پیدا کوی.جود او سخا یوه لویه نیکی ده.د نبی کریم ﷺ په طبیعت به د رمضان په راتلو سره نور زیات اثر کیدلو او د ددوی دورکړے او بخشش سمندر به د مستۍ چپې وهلې.

() دریمه وجه دا ده.چه د حضرت جبریل علیه السلام سره به ملاقات کیدلو او هغه دالله تعالی فرشته ده.چه په کښې هوس اوخواهش معمولی حصه نشته.اوقاعده دا ده.چه د صحبت اثر کیږی.نود جبریل علیه السلام په ملاقات سره به په نبی ﷺ کښې د مال او متال خرچ کولو زیاته تقاضا پیدا کیدله.

() څلورمه وجه دا ده.چه په رمضان کښې به د جبریل علیه السلام سره د قرآن پاك دور کیدلو.دا قرآن پاك دالله تعالی کلام دے.ددے په لوستلو سره الله تعالی سره تعلق پیدا کیږی.اودا دغناء نفس سبب دے.دانسان په نفس کښې د غناء صفت پیدا کیږی.اوپه چا کښې چه څومره د نفس غناء وی.هغه هم هغه هومره زیات جود او سخا کوی.دا څو اسباب ملاؤ شو او دنبی کریم ﷺ په جود او سخا کښې ئې ډیره زیاته اضافه کوله.

هسے هم راتلونکے جبریل آمین وو.راوړنکے کتاب افضل الکتب وو.چاته چه ئې راوړلو هغه سیدالمرسلین وو.کله چه دخیر او برکت دومره خیزونه جمع وی.نو ددوی د باطنی فیوضاتو سمندر او د علوموا ومعارفو چینې به ولې نه راوتلې؟!

د «وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ» اعرابی کیفیت: په أَجْوَدُ مَايَكُونُ فِي رَمَضَانَ کښې دوه روایتونه دی.په رفع سره او په نصب سره.که دا مرفوع شی.نو په دے کښې دوه احتمالات دی.

یو دا چه د ,,أَجْوَدُ مَايَكُونُ،، دکان اسم او،،فی رمضان،، دحاصلاً،،سره متعلق شی اوحال قائم مقام خبر شی.لکه چه وئیلی شی.«أخطب مايكون الأمير في يوم الجمعة أي كائناً في يوم الجمعة»

دویم احتمال دا دے.چه«أجود مايكون»مبتدا وی.او«فی رمضان» ددے خبر شی. مبتدء اوخبر ملاؤ شو.اودواړه پوره جمله شوه د ,,کان،، دپاره.اود ,,کان،، ضمیر د رسول اکریم ﷺ ذات طرف ته راجع وی.کوم چه د ,,کان،،اسم دے.تقدیر د عبارت به داشی «كان رسول الله ﷺ أجود أكوانه حاصل في رمضان»دامام بخاری رحمه الله رجحان هم دے طرف ته دے.ځکه چه دوی په کتاب الصوم کښې ترجمه قائمه کړے ده.«باب أجود ما كان النبي ﷺ يكون في رمضان».

اوکه دا منصوب شی.نوبیا د ,,کان،، ضمیر رسول الله ﷺ ته راجع دے او«أجود مايكون في رمضان» به ددے خبر شی.په دے کښې به ,,ما،، مصدریه ظرفیه شی.اوتقدیر د عبارت به داشی.«كان رسول الله ﷺ مدة كونه في رمضان: أجود منه في غيره» یعنی رسول الله ﷺ به په رمضان کښې د نورو میاشتو په نسبت زیات اجود وو.(1)

(1) فتح الباری(١/ ٣٠، ٣١)_

قوله وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ:

حضرت جبریل ﷺ به ورسره په رمضان کښې هره شپه ملاویدلو. اود نبی ﷺ سره به ئې د قرآن کریم دور کولو.

آیا د ټول قرآن پاک دور به کیدلو؟ دلته دحضرت جبریل ﷺ او نبی ﷺ د دور ذکر دے سوال دا دے چه آیا د ټول قرآن کریم دور به کیدلواوکه صرف د نازل شوے حصے؟دواړه اقوال شته. بعضے حضرات فرمائی. چه د ټول قرآن دور به وو. دحضرت جبریل ﷺ په ونیلو سره به دوی ته یادیدل. اودوی به ورته هم اورول. خوروستوبه الله تعالی د دوی د حافظه نه غیرنازل شوے حصه لرے کوله. دویم قول دا دے. چه صرف د نازل شوے حصے دور به کیدل. والله اعلم. (١)

د شپې د انتخاب وجه دشپې د انتخاب وجه په ظاهره هم دا ده. چه د ورځې دنبی کریم ﷺ نور هم ډیرکارونه وو. امت ته تبلیغ اودهغوی اصلاح ئې د نظرو‌لاندے وه. د شپې وخت د تنهائۍ او خلوت وو. ددے وجې به په دے کښې نبی ﷺ د حضرت جبریل ﷺ سره دور کولو. (٢)

د مدارست حکمت بیا ددے مدارست یو حکمت خو هغه وو. چه نبی کریم ﷺ د حضرت جبریل ﷺ نه د قرآن پاك ادا كول اوتجوید زده کړی.

دویم حکمت دا وو. چه د آیاتونو او سورتونو ترتیب معلوم شی. ځکه چه په نبی ﷺ باندے قرآن پاك په یوځل نه وو نازل شوے. بلکه نجماً نجماً د ضرورت مطابق نازل شوے وو. نودحضرت جبریل ﷺ سره چه کله دور کیدلو. اوهغه به لوستلو. نو د یوسورت ټول آیتونه به ئې مرتب لوستل. نو په دے سره به معلومیدله. چه کوم آیت د کوم سورة سره متعلق دے. اگرچه نبی ﷺ ته د وړاندے نه دا معلومه وه. ځکه چه حضرت جبریل ﷺ به ورته خودل.

دریمه فائده دا وه. چه په دے سره نبی ﷺ ته دا معلومیدله. چه کوم آیت منسوخ شوے دے. او کوم باقی دے.

څلورمه فائده دا وه. چه روستو د دوی په امت کښې د مدارست سنت شروع شو. ددے وجې امت د نبی کریم ﷺ نه دا سنت قبول کړلو. اوهمیشه دپاره ئې دخپلے سینے سره اولګولو. ا په دے باندے عمل کوی.

قوله فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ:

،،خیر،، مال ته هم وائی. اومطلق نفع رسولو ته هم وائی. که په مال سره وی اوکه په بل څه سره وی. که دخیر نه مراد مال وی. نومطلب به دا شی. چه دوی د مال په ذریعه کومه نفع رسوله. او سخاوت ئې کولو. هغه د تیزے چیلدونکے سیلئ نه هم تیز وو.

اوکه په خیر کښې تعمیم اوکړے شی. نو،،جود بالمال،، او ،،جود بالدین،، دواړه به په کښې شامل شی. لکه چه دا اوخودلی شو. چه څنګه هوا چلیږی. نوهرځائے ته رسی. او هرکس ته

---

(١) فتح الباری (٤٥/٩) کتاب فضائل القرآن باب کان جبریل ﷺ یعرض القرآن علی النبی ﷺ وإیضاح البخاری (١٠٥/١) وتقریربخاری شریف (٩٧/١)_

(٢) فتح الباری(٤٥/٩) کتاب فضائل القرآن باب کان جبریل ﷺ یعرض القرآن علی النبی ﷺ)_

د نسیم رسوی دغه شان د نبی کریم ﷺ د جود او سخا اثر هر خائی او هر چا ته رسیدلو ... ریح مرسله .. دا هغه دے کوم ته چه قرآن کریم ﴿وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ﴾ [1] ونیلی دی ددے نفع عامه ده هر گوټ ته رسی اوډیر په سرعت سره چلیږی دا تشبیه په عموم او سرعت کښے ده

بیا د .. جود .. د لفظ نه دا معلومیږی چه د دوی جود د ریح مرسله د ریح نه وسیع او زیات وو ودد ے وجه دا معلومیږی چه په هوا سره صرف اشیاء او جسمونو ته حیات ملاویږی جسمانی فائده رسی اوجسمانی ژوند ملاویږی او نبی کریم ﷺ چه د کومو خیزونو سخاوت کولو په هغے سره حیات جسمانی اوحیات روحانی دواړه حاصلیږی لکه چه خنګه چه دوی په مال او متاع سره خلقو ته فائده رسوله دغه شان ئے علوم او معارف هم تقسیمول

ددے نه علاوه یو فرق دا هم په پوهه کښے راځی چه کله هوا چلیږی نو هر کس ته یو شان نفع نه رسی بعضو ته د نفع سره نقصان هم رسی مثلاً چه یخه هوا اوچلیږی نو چه د چا مزاج یخ وی هغه ته پرے تکلیف رسی یا تیزه هوا اوچلیږی نو د کمزوری طبیعت کس ته تکلیف ملاویږی او د نبی کریم ﷺ په جود سره صرف نفع رسیده، چا ته تکلیف نه رسیدلو و سبحانه اعلم

د زمان او مکان د فضیلت په سلسله کښې د متکلمینو او محققینو اختلاف: متکلمینو ﷺ په نیز توئے زمانے او مکانونه د خپل ذات په اعتبار سره برابر دی دیوے اهم واقعه په ذے کښے وقوع کیدو سره فضیلت راځی.

دشیخ اکبر رحمه الله او ابن قیم رحمه الله وغیره محققینو ﷺ په نیز خلقة د فطری استعداد په وجه کوم چه په علم ازلی قدیم کښے ثابت وی په هغے کښے زمان او مکان ته فضیلت حاصل دے

دمتکلمینو ﷺ په نیز یوم عاشوراء ته فضیلت د نوح ﷺ د نجات او مشرکانو غرقیدو. ابراهیم ﷺ ته د نمرود د اور نه په نجات. دموسی ﷺ په نجات ودفرعون په غرقیدو حاصل دے لیلة القدر د قرآن کریم په نزول او د آسمانی کتابونو په نزول سره دفضیلت خاونده ده. بیت الله ته فضیلت د حج دوجے ملاؤ شوے دے

او د محققینو ﷺ نقطه نظر دا دے چه دے زمانواو مکانونو ته ذاتی فضیلت حاصل وو نو الله تعالی ددے اهمو کارونو دپاره ددے انتخاب اوکړل [2]

ابن قیم رحمه الله په زادالمعاد کښے د متکلمینو ﷺ مذهب په بسط او تفصیل سره بیان کړے دے [3] او د متکلمینو ﷺ د قول په باره کښے فرمائی «وهذه الأقاويل وأمثالها من الجنايات التي جناها المتكلمون على الشريعة ونسبوها إليها وهي بريئة منها» [4]

---

[1] سورة النمل (٦٣)_

[2] فضل الباري (١/٢٠٣)_

[3] زادالمعاد (١/٣٩، ٧٠)_

[4] زادالمعاد (١/٥٣)_

په متاخرينو ﷺ کښې د شاه ولي الله رحمه الله اوحضرت نانوتوی رحمه الله هم دا مسلك دے.او هم دا صحيح دے.ځکه چه دالله تعالى ارشاد دے.﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ﴾(۱) دغه شان الله تعالى حکيم دے.او د حکمت معنى ده.((وضع الشئ في محله)) نوکه د يو مکان يا زمان انتخاب د يو عظيم کار دپاره اوشي.نوخامخا به ضرور په هغې کښې څه خاص لياقت د وړاندے موجود وی.کوم چه به په بل زمان اومکان کښې نه وی.د ګلاب اوبو ته د بويولواو په شيشه کښے د کيخودو د وجې فضيلت نه دے حاصل.بلکه په دے کښې فضيلت وو.ځکه دا بويولی شی.اوپه شيشه کښے کيخودلے شي.دغه شان دحرم په زمکه کښې فضيلت وو.نوپه دے کښې بيت الله جوړ کړے شو.او نور شعائر هلته قائم کړے شول.اوحضرت ابراهيم عليه السلام ته حکم اوشو.چه حضرت اسماعيل عليه السلام اوحضرت هاجره عليها السلام هلته اورسوه.(۲)

ترجمة الباب سره مناسبت په ظاهره د روايت د ترجمه سره څه مناسبت نشته.ځکه چه په دے کښې د بدء الوحی ذکر نشته.خو پوهه شئ.چه دلته د موحی اليه د ملکات فاضله ښئ چه کومه مبادی وحی ده.په هغې کښې د يوے اهم مبدء او اهم صفت جود بيان دے.

ددے نه علاوه وړاندے دا بيان شوے دے.چه د بعضے حضراتو په نيز په ..بدء.. کښې عموم دے.برابره خبره ده که دا د زمان په اعتبار سره وی.اوکه د مکان په اعتبار سره وی.برابره ده که د حالاتو او کيفياتو په اعتبار سره وی.په دے حديث پاك نه ابتداء زمانی معلوميږی.ځکه چه په دے کښې په رمضان کښې د قرآن پاك د دور تذکره ده.او په رواياتو کښے تصريح ده.چه قرآن پاك په رمضان کښې نازل شوے دے.لکه چه امام بخاری رحمه الله دا روايت دلته راوړلو.اودے خبرے ته ئے اشاره اوکړله.چه د قرآن کريم نزول په رمضان شريف کښے شوے دے.ددے نه د بدء زمانی علم راځی.

دحضرت شيخ الهند رحمه الله د رائے مطابق به داسے وئيلی شی.چه د مکان او زمان انتخاب دڅه معمولی څيز دپاره نه کيږی.دحضرت جبريل عليه السلام افضل الملائکه په هر رمضان کښے د دور دپاره راتلل.د نبی کريم ﷺ افضل الکائنات دهغه سره د قرآن د نازل شوے حصے دور کول.اودے سره د جود او سخا مناسب اعمال اختيارول دا د وحی الهی د عظمت لوئے دليل دے.والله سبحانه وتعالى اعلم.

دحديث باب نه مستنبط مسائل او څو فوائد ① په رمضان کښے اوخاص کر چه کله د نيکانو اجتماع وی.نو په داسے موقع کښے د جود او سخا ترغيب اوتحريض خوښ عمل دے.

② دنيکانو زيارت مسلسل اوبالتکرار کول پکار دے.

③ په رمضان کښے د قرآن پاك تلاوت ښه زيات کول پکار دے.

④ په رمضان کښے د قرآن دور کول سنت دے.

---

(۱) سورة قصص:۶۸)_

(۲) فضل البارى(۱/۲۰۳، ۲۰۴)_

⑤ د ..رمضان.. د لفظ اطلاق د ..شهر.. يوخانے كولو نه بغير هم تيك دے بعضے حضرات دغه مباشتو په شروع كښے د ..شهر.. لفظ راوړلو ته ضرورى وائى

⑥ تلاوت د تسبيح او نورو ذكرونو نه افضل دے خكه كه چرته ذكر د تلاوت نه افضل يا دے سره برابر وے نودوار وحضراتو به يا هميشه دپاره ذكر كولو ياپه بعضے وختونو كښے به ئے ذكر كولو حالانكه د هغوى اجتماع به مسلسل كيدله (خويوخل هم د ذكر د دور ثبوت نشته) والله سبحانه وتعالى اعلم

الحديث السّادس

[١] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ (١) أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي رَكْبٍ مِنْ قُرَيْشٍ وَكَانُوا تِجَارًا بِالشَّامِ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَادَّ فِيهَا أَبَا سُفْيَانَ وَكُفَّارَ قُرَيْشٍ فَأَتَوْهُ وَهُمْ بِإِيلِيَاءَ فَدَعَاهُمْ فِي مَجْلِسِهِ وَحَوْلَهُ عُظَمَاءُ الرُّومِ ثُمَّ دَعَاهُمْ وَدَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا بِهَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا أَقْرَبُهُمْ نَسَبًا فَقَالَ أَدْنُوهُ مِنِّي وَقَرِّبُوا أَصْحَابَهُ فَاجْعَلُوهُمْ عِنْدَ ظَهْرِهِ ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ فَوَاللَّهِ لَوْلَا الْحَيَاءُ مِنْ أَنْ يَأْثِرُوا عَلَيَّ كَذِبًا لَكَذَبْتُ عَنْهُ ثُمَّ كَانَ أَوَّلَ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَنْ قَالَ كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ مِنْكُمْ أَحَدٌ قَطُّ قَبْلَهُ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ قُلْتُ لَا قَالَ فَأَشْرَافُ النَّاسِ يَتَّبِعُونَهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَقُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ

---

(١) الحديث أخرجه البخارى فى كتاب الأيمان .باب (بلاترجمة بعد باب سوال جبريل النبى ﷺ عن الإيمان والإسلام والإحسان...رقم٥١. وفى كتاب الشهادات باب من أمربإنجازالوعدرقم.(٢٦٨١)وفى كتاب الجهادباب قول الله عزوجل:﴿قل هل تربصون بنا إلا إحدى الحسنيين.والحرب سجال رقم.(٢٨٠٤) وباب دعاء النبى ﷺ الناس إلى الإسلام والنبوة..رقم(٢٩٤١)وباب ما قيل فى لواء النبى ﷺ رقم.(٢٩٧٨) وفى كتاب الجزية والموادعة باب فضل الوفاء بالعهدرقم(٣١٧٤) وفى كتاب التفسيرباب ﴿قل ياأهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم أن لا نعبد إلاالله رقم.(٤٥٥٣) وفى كتاب الأدب باب صلة المرأة أمها وهل يجوز ترجمان واحد رقم(٧١٩٦) وفى كتاب الجهاد باب ما يجوز من تفسيرالتوراة وغيرها من كتب الله بالعربية وغيرها ...رقم(٧٥٤١) ومسلم فى صحيحه (٩٧/٢) كتاب الجهاد والسيرباب كتب النبى ﷺ إلى هرقل ملك الشام يدعوه إلى الإسلام وأبوداود فى سننه فى كتاب الأدب باب كيف يكتب إلى الذمى رقم.(٥١٣٦) والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان باب ما جآء كيف يكتب إلى أهل الشرك رقم(٢٧١٧)_

قُلْتُ بَلْ يَزِيدُونَ قَالَ فَهَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِي مُدَّةٍ لَا نَدْرِي مَا هُوَ فَاعِلٌ فِيهَا قَالَ وَلَمْ تُمْكِنِّي كَلِمَةٌ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرُ هَذِهِ الْكَلِمَةِ قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قُلْتُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالٌ يَنَالُ مِنَّا وَنَنَالُ مِنْهُ قَالَ مَاذَا يَأْمُرُكُمْ قُلْتُ يَقُولُ اعْبُدُوا اللَّهَ وَحْدَهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ فَقَالَ لِلتَّرْجُمَانِ قُلْ لَهُ سَأَلْتُكَ عَنْ نَسَبِهِ فَذَكَرْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو نَسَبٍ فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي نَسَبِ قَوْمِهَا وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ أَحَدٌ مِنْكُمْ هَذَا الْقَوْلَ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ أَحَدٌ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ قَبْلَهُ لَقُلْتُ رَجُلٌ يَأْتَسِي بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا قُلْتُ فَلَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ أَبِيهِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا فَقَدْ أَعْرِفُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَذَرَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ وَيَكْذِبَ عَلَى اللَّهِ وَسَأَلْتُكَ أَشْرَافُ النَّاسِ اتَّبَعُوهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَذَكَرْتَ أَنَّ ضُعَفَاءَهُمُ اتَّبَعُوهُ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَسَأَلْتُكَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَذَكَرْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ وَكَذَلِكَ أَمْرُ الْإِيمَانِ حَتَّى يَتِمَّ وَسَأَلْتُكَ أَيَرْتَدُّ أَحَدٌ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ حِينَ تُخَالِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ وَسَأَلْتُكَ بِمَا يَأْمُرُكُمْ فَذَكَرْتَ أَنَّهُ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَيَنْهَاكُمْ عَنْ عِبَادَةِ الْأَوْثَانِ وَيَأْمُرُكُمْ بِالصَّلَاةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ فَإِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا فَسَيَمْلِكُ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ لَمْ أَكُنْ أَظُنُّ أَنَّهُ مِنْكُمْ فَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لِقَاءَهُ وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمِهِ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي بَعَثَ بِهِ دِحْيَةُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى فَدَفَعَهُ إِلَى هِرَقْلَ فَقَرَأَهُ فَإِذَا فِيهِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ وَيَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لَا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَلَمَّا قَالَ مَا قَالَ وَفَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ كَثُرَ عِنْدَهُ الصَّخَبُ وَارْتَفَعَتِ الْأَصْوَاتُ وَأُخْرِجْنَا فَقُلْتُ

بِأَصْحَابِي حِينَ أُخْرِجْنَا لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ إِنَّهُ يَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الْأَصْفَرِ فَمَا زِلْتُ مُوقِنًا أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللَّهُ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ وَكَانَ ابْنُ النَّاظُورِ صَاحِبُ إِيلِيَاءَ وَهِرَقْلَ سُقُفًّا عَلَى نَصَارَى الشَّامِ يُحَدِّثُ أَنَّ هِرَقْلَ حِينَ قَدِمَ إِيلِيَاءَ أَصْبَحَ يَوْمًا خَبِيثَ النَّفْسِ فَقَالَ بَعْضُ بَطَارِقَتِهِ قَدِ اسْتَنْكَرْنَا هَيْئَتَكَ قَالَ ابْنُ النَّاظُورِ وَكَانَ هِرَقْلُ حَزَّاءً يَنْظُرُ فِي النُّجُومِ فَقَالَ لَهُمْ حِينَ سَأَلُوهُ إِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ حِينَ نَظَرْتُ فِي النُّجُومِ مَلِكَ الْخِتَانِ قَدْ ظَهَرَ فَمَنْ يَخْتَتِنُ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَالُوا لَيْسَ يَخْتَتِنُ إِلَّا الْيَهُودُ فَلَا يُهِمَّنَّكَ شَأْنُهُمْ وَاكْتُبْ إِلَى مَدَايِنِ مُلْكِكَ فَيَقْتُلُوا مَنْ فِيهِمْ مِنَ الْيَهُودِ فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى أَمْرِهِمْ أُتِيَ هِرَقْلُ بِرَجُلٍ أَرْسَلَ بِهِ مَلِكُ غَسَّانَ يُخْبِرُ عَنْ خَبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا اسْتَخْبَرَهُ هِرَقْلُ قَالَ اذْهَبُوا فَانْظُرُوا أَمُخْتَتِنٌ هُوَ أَمْ لَا فَنَظَرُوا إِلَيْهِ فَحَدَّثُوهُ أَنَّهُ مُخْتَتِنٌ وَسَأَلَهُ عَنِ الْعَرَبِ فَقَالَ هُمْ يَخْتَتِنُونَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَذَا مُلْكُ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَدْ ظَهَرَ ثُمَّ كَتَبَ هِرَقْلُ إِلَى صَاحِبٍ لَهُ بِرُومِيَةَ وَكَانَ نَظِيرَهُ فِي الْعِلْمِ وَسَارَ هِرَقْلُ إِلَى حِمْصَ فَلَمْ يَرِمْ حِمْصَ حَتَّى أَتَاهُ كِتَابٌ مِنْ صَاحِبِهِ يُوَافِقُ رَأْيَ هِرَقْلَ عَلَى خُرُوجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَّهُ نَبِيٌّ فَأَذِنَ هِرَقْلُ لِعُظَمَاءِ الرُّومِ فِي دَسْكَرَةٍ لَهُ بِحِمْصَ ثُمَّ أَمَرَ بِأَبْوَابِهَا فَغُلِّقَتْ ثُمَّ اطَّلَعَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الرُّومِ هَلْ لَكُمْ فِي الْفَلَاحِ وَالرُّشْدِ وَأَنْ يَثْبُتَ مُلْكُكُمْ فَتُبَايِعُوا هَذَا النَّبِيَّ فَحَاصُوا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ إِلَى الْأَبْوَابِ فَوَجَدُوهَا قَدْ غُلِّقَتْ فَلَمَّا رَأَى هِرَقْلُ نَفْرَتَهُمْ وَأَيِسَ مِنَ الْإِيمَانِ قَالَ رُدُّوهُمْ عَلَيَّ وَقَالَ إِنِّي قُلْتُ مَقَالَتِي آنِفًا أَخْتَبِرُ بِهَا شِدَّتَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ فَقَدْ رَأَيْتُ فَسَجَدُوا لَهُ وَرَضُوا عَنْهُ فَكَانَ ذَلِكَ آخِرَ شَأْنِ هِرَقْلَ رَوَاهُ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ وَيُونُسُ وَمَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ

[٥١، ٢٥٣٥، ٢٦٥٠، ٢٧٣٨، ٢٧٧٨، ٢٧٨٢، ٢٨٠٦، ٣٠٠٣، ٣١٧٨، ٤٥٣٢، ٤٥٥٣، ٥٩٠٥، ٦٧٧١]_

رجال الحديث

قوله: أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ: دا ابواليمان حكم بن نافع بهرانى حمصى دے.د يو بهرانى نوم ښځې مولى وو.ثقه او ثبت وو.دوى به د اسماعيل بن عياش.شعيب بن ابى حمزه رضى الله عنهم اود دوى نه علاوه د نورور ډيرواهل علمو نه روايت كوى.اوددوى په شاګردانو كښې امام بخارى امام حمد.امام يحيى بن معين.ابوحاتم او امام ذهلى رحمهم الله غوندے دعلم ستنې دى.[1]

---

(١) تهذيب الكمال (١٤٦/٧. ١٥٥) وعمدة القارى (٧٩/١) وتقريب التهذيب(١٧٦)_

دلته دا خبره دیادولو ده.چه دوی د خپل استاذ شعیب بن ابی حمزه رحمه الله نه کوم روایات نقل کوی.هغه دوی اکثرسماعاً نه دی حاصل کړی.بلکه دوی ته د هغی اجازت وو.اودوی د داسی روایاتو دپاره هم د ..سماع.. لفظ یعنی ((أخبرنا))استعمالوی.(١)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.که یو کس د شعیب بن ابی حمزه رحمه الله نه اجازةً د حدیث روایت کوی.او مُجازله راوی ثقه وی.نوداسی روایت حجت دے.خو په دے شرط چه مُجاز د کتاب اتقان او ضبط په صفت موصوف وی.شعیب بن ابی حمزة رحمه الله کتاب هم داسی وو.نوځکه د ابوالیمان د شعیب بن ابی حمزه نه روایت کړی مرویات د محققینو رحمهم الله په نیز حجت دی.(٢)
ابوالیمان رحمه الله په ١٣٨ھ کښی پیداشوی وو.اوپه ٢٢٢ھ کښی وفات شوی وو.(٣)

قوله: **شعیب**:دا ابوالبشر شعیب بن ابی حمزه القرشی الاموی دے.د دوی د پلار ابوحمزه. نوم دینار وو.ثقه حافظ او متقن دے.دتابعینو رحمهم الله نه ئې کسب علم کړے دے.په دوی کښی ئې د ټولو نه زیاته استفاده د امام زهری رحمه الله نه کړے ده.

() تردے چه امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی.((شعیب أثبت الناس في الزهری رحمه الله))(٤)

() امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.((رأیت کتب شعیب بن أبی حمزة رحمه الله ،فرأیت کتبها مضبوطة مقیدة)) او ښه تعریف ئې کړے دے.(٥)
په ١٦٢ھ یا ١٦٣ھ کښی دوی وفات شوی دی.عمر ئې د اویا (٧٠) کالونه زیات وو.(٦)

قوله: **ابوسفیان**:دا مشهور صحابی صخربن حرب بن امیه بن عبد شمس بن عبدمناف الاموی دے.ابوسفیان او ابوحنظله دواړه ئې کنیتونه دی.اولنی کنیت زیات مشهور دے.
دعام الفیل نه لس کاله وړاندے پیدا شوے وو.دے د ام المؤمنین حضرت ام حبیبه رضی الله عنها او حضرت معاویه رضی الله عنه پلار دے.دابوجهل نه پس همیشه دپاره داهل مکه سردار او د غزوه بدر نه پس په ټولو غزاګانو کښی د قریشو علمبردار پاتے شوے دے.تردے چه په لیلة الفتح کښی بلکه د فتح مکه په ورځ د صبا په وخت کښی په اسلام مشرف شو.د رسول الله ﷺ سره ئې په غزه حنین او طائف کښی شرکت کړے وو.نبی ﷺ دوی ته د حنین په غزا کښی سل اوښان

(١) تهذیب التهذیب (١٧٦) دغه شان (مقدمة فتح الباری(ص.٣٩٩) الفصل التاسع سیاق أسماء من طعن فیه من رجال هذا الکتاب)_
(٢) سیرأعلام النبلاء (١٩٠/٧، ١٩١) تذکرة شعیب بن أبی حمزه رحمه الله)_
(٣) تهذیب الکمال (١٥٤/٧) وعمدة القاری(٧٩/١)_
(٤) عمدة القاری(٧٩/١) وتهذیب الکمال (١٢/٥١٦، ٥٢٠)_
(٥) تهذیب الکمال(٥١٧/١٢)_
(٦) تقریب التهذیب (٢٦٧ وتهذیب الکمال (٥٢٠/١٢ وعمدة القاری (٧٩/١)_

اوځلویښت اوقیه سپین زر ورکړی وو.د دوی یوه سترګه د طائف په غزا کښې شیهدشوې وه.او دویمه سترګه ئې د یرموك په غزا کښې د خپل ځوی یزید په قیادت کښې په جنګیدو کښې شهید شوه.[1]
په مدینه منوره کښې دوی ستوګنه اختیار کړې وه.او په ۳۱. ۳۴. کښې د اته اتیا کالو په عمر کښې په مدینه کښې وفات شو.حضرت عثمان رضی الله عنه د دوی جنازه اوکړله.[2]
تاریخی تجزیه اوتفصیل دلته کښې د ټولو نه وړاندې به مونږ تاریخی تجزیه ذکر کوو.ددې دپاره چه د حضرت دحیه رضی الله عنه،ابوسفیان رضی الله عنه او هرقل په خائې کښې دجمع کیدو راز هم معلوم شی.او تاریخی اشکال هم رفع شی.ددې نه پس به د حدیث د واقعې تشریح کیږی.
نبی کریم ﷺ چه څه وخت دنیا ته تشریف راوړلو.نو په دنیا کښې په هغه وخت کښې دوه غټ حکومتونه وو.یو روم اوبل فارس یا ایران.دا دواړه حکومتونه دومره وسیع وو چه دخپلو خپلو علاقو نه راوتلی وو.اود عربو په بعضې حصو کښې رانښوتی وو.عراق او یمن ئې پریخې وو.اومصر او شام د روم زیراثر وو.د فارس خلق آتش پرست مجوسیان او رومیان عیسایان اهل کتاب وو.دفارس بادشاه ته به ئې کسری وئیل.اود روم بادشاه ته قیصر.د قصر معنی د هغوی په ژبه کښې ځیرولووو.ددوی یو لوئې بادشاه د مور د مرګ نه پس د خیټې په ځیرولو سره راویستې شوې وو.ددې نه ئې اخذ اوکړلو.اود هغه وخت نه د دوی د بادشاهانو لقب قیصر شو.
د روم او فارس په مینځ کښې به همیشه دپاره جنګ وو.د ۶۰۲ء نه تر ۶۱۰ء پورې د دوی د دشمنئ جنګونه شروع وو.
په ۵۷۰ء کښې د نبی ﷺ ولادت باسعادت اوشو.او په ۶۱۰ء کښې یعنی څلویښت کاله پس پیغمبر شو.دمکې خلقو ته به د روم او فارس د جنګونو خبرونه رارسیدل.ځکه ددې اثرات د عربو حدودو ته رارسیدلی وو.اودا خبرونه به ډیر په شوق سره اوریدې شول.مشرکانو به فارسیان خان ته نزدې ګڼړل.اومسلمانانو رومیان،ځکه چه هغوی اهل کتاب وو.کله چه به د فارس د غلبه خبر راغلو.نومشرکان به خوشحاله کیدل.اومسلمانان به خفه کیدل.د روم د فتح په صورت کښې به معامله ددې په عکس وه.په ۶۱۴ء کښې چه په قمری حساب سره د ولادت باسعادت پنځه څلویښت کاله شوی وو.او د بعثت پنځه کاله تیر شوی وو.شاه فارس خسرو پرویز رومیانو ته یو فیصله کن شکست ورکړلو.اوپه مصر،شام او ایشاء کوچك باندې ئې قبضه اوکړله.هرقل ایرانی لښکر په قسطنطنیه کښې په پناه اخستلو باندې مجبور کړلو.لوئې لوئې پادریان قتل یا قیدیان کړې شول.د بیت المقدس نه د ټولو نه مقدس ترین

(۱) دعلامه شبلی نعمانی رحمه الله په سیرت (۲۹۶/۱) کښې دی په طائف کښې د دوی یوه سترګه زخمی شوې وه.اوپه جنګ یرموك کښې هغه هم لاړله ددې نه معلومیږی چه هم یوه سترګه شهید شوې وه. اوحافظ ابن عبدالبر رحمه الله په ((الإستیعاب)) کښې بهامش الاصابة (۲/ ۱۹۰، ۱۹۱) کښې لیکی. ((وشهد الطائف ورمی ففقئت عینه الواحدة ..إنه فقئت عینه الأخری یوم الیرموک))
(۲) عمدة القاری (۷۹/۱) وتقریب التهذیب (ص۲۷۵)۔

صلیب ایرانی فاتحینو یوړلو.په ظاهره د رومیانو دوباره د راپاسیدو څه صورت پاتې نه وو.مشرکان ښه خوشحاله شول.او وئیل ئې چه لکه څنګه فارس روم ختم کړل.دغه شان به اوس مونږ تاسو ختم کوو.

په داسې موقع باندې قرآن کریم د ظاهری اسبابو نه بالکل خلاف او دخپل عادت نه خلاف د مودې تعین اوکړلو او پیشنګوئي ئې اوکړله.﴿ الٓمّٓ ۚ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ۙ فِیْۤ اَدْنَی الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَیَغْلِبُوْنَ ۙ فِیْ بِضْعِ سِنِیْنَ ۬ۗ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَیَوْمَئِذٍ یَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ ﴾(۱)د آیت د نزول نه پس حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د بعضې مشرکانو سره شرط اولګولو.(تردغه وخته پورې ددې حرمت نه وو راغلې) چه رومیانو ته به دوباره په فارسیانو باندې غلبه حاصلیږی.اول ئې څه موده مقرر کړې وه.د نبی ﷺ په ارشاد باندې ئې نهه کاله مقرر کړل.مشرکان خو مطمئن وو.چه رومیان په نهه کاله کښې خو لاڅه چه په سل کاله کښې هم نشی پاسیدې.څکه هغوی شرط اومنلو.او دنهه کالو شرط ئې قبول کړلو.ټیك نهه کاله پس کله چه مسلمانانو د بدر د فتح خوشحالی کوله.د قیصر د فتح خبر راغلو.د مسلمانانوخوشحالی دوچنده شوه.اود مشرکانو غم یوپه دوه شو.ډیرخلق د قرآن کریم د پیشنګوئۍ د صداقت نه متاثره شو. او مسلمانان شول.حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه سل اوښان واخستل.اونبی ﷺ د هغې د صدقه کولو حکم اوکړلو.

ددې نه پس د جنګونو سلسله شروع شوه.په ۶هـ کښې صلح حدیبیه اوشوه.ددې په نتیجه کښې څه امن راغې.نو ابوسفیان یوه قافله واخستله.اود تجارت په غرض شام ته روان شو.بل طرف ته نبی کریم ﷺ کوم کوم خائې ته چه په آسانتیا سره ممکن وه.د دنیا بادشاهانو ته د اسلام ددعوت خطونه اولیکل.په محرم ۷هـ کښې حضرت دحیه رضی الله عنه د هرقل دپاره خط واخستلو.اولاړلو.

بل طرف ته هرقل دا نذر منلې وو.که په فارسیانوباندې غلبه حاصله شي.نوزه به د حمص نه ایلیاء یعنی بیت المقدس ته پیدل سفر کوم.نوهم ددې نذر په سلسله کښې هرقل بیت المقدس ته اورسیدلو.حضرت دحیه رضی الله عنه نبی اکرم ﷺ مکتوب مبارك واخستلو.او والی د بصری ته اورسیدلو.چه هرقل ته نامه مبارك (خط)اورسوی.خود بصری والی حضرت دحیه رضی الله عنه بیت المقدس ته اولیږلو.څکه چه هرقل هلته رسیدلې وو.

یواشکال اودهغې جواب: دلته یو اشکال دې.چه فتح په ۲هـ کښې شوې وه.نوبیا نذر په څلور کاله پس ولې پوره کولې شی؟

ددې جواب دا دې.چه د نذر مطلق علی الفور پوره کول ضروری نه وی.نوڅکه په تاخیر کښې څه قباحت نشته.یا دا هم ممکن ده.چه اصل فتح خو په ۲هـ کښې شوې وه.خولړه غونډې سلسله باقی وه.اوپه څلورو کالوکښې د ټول انتظام اطمینان او فتح تکمیل اوشو.

---

(۱)الروم :۵)_

دهرقل د واقعې تمهيد نبي كريم ﷺ هرقل ته دوه ځله خط ليږلے وو. يوځل په ٧ﻫ كښې او دويم ځل د غزوه تبوك په موقع باندے.په دواړو كښې چونكه ګډ وډے راځي.نوځكه به مونږ په ترتيب سره دواړه جدا جدا ذكر كړو.

په اول ځل دعوت اسلام: هرقل چه كله بيت المقدس ته اورسيدلو.نوهغه د علم نجوم په ذريعه سره معلومه كړه چه ملك الختان غالب كيدونكے دے.چه د ملك سردارانو سره خبرے اوشوے .نوهغوى ورته اووئيل.چه ختنه كونكي يو يهوديان دي.دهغوى د طرفه څه خطره كيدے شي.نوهغوى د يهودو د قتلولو مشوره وركړه.په دغه وخت كښې حضرت دحيه ﷺ خط په لاس بيت المقدس ته اورسيدلو.يا خودحضرت دحيه ﷺ د خط د پورتني عبارت نه پته اولګيدله.چه خط دعربو نه راغلے دے.اومدعي د نبوت راليږلے دے.دقاصد په باره كښې معلومه شوه.چه مختون دے.او اهل عربو كښې د ختنه رواج دے.ددے نه پس د عربو د قافلے لټون اوشو.چه د خط راليږنكي حالات معلوم كړے شي.په دے طريقه ابوسفيان هرقل ته اورسيدلو.دابوسفيان سره د خبرو اترونه پس هرقل ډيره په زور داره طريقه د نبي ﷺ د صداقت اعلان اوكړلو.او د ملاقات شوق ئے هم ښكاره كړلو.ددے نه پس خط اولوستلے شو.اوچه شور جوړ شو.نوابوسفيان ئے رخصت كړلو.

روميه كوم چه داټلي دارالحكومت دے.دا هميشه دپاره د نصاروٰ مركز پاتے شوے دے.هلته ضغاطرنومے يو الاټ پادري وو.ټولو نصاروٰ هغه منل.هرقل دا خط ضغاطر ته اوليږلو.اودا ئے هم اوليكل.چه ما ددے خط د رارسيدو نه وړاندے د ستورو په ذريعه دا معلومه كړے وه.چه دا خلق غلبه موندونكي دي.ځكه چه هم دوي ختنه كونكي دي.په دے واقعه كښې په تعين سره څه نشي وئيلے.چه خط راوړونكي څوك وو؟هرقل د بيت المقدس ته حمص ته لاړلو.اوډيره شو.كله چه د هرقل سره د خط مبارك روميه ته اورسيدلو.نو لوئے پادري تصديق اوكړلو.پادري تصديق اوكړلو.او جواب ئے اوليكلو.چه مونږ ته هم معلومه وه.چه دخاتم النبيين وخت رانزدے شوے دے.معلوميږي.چه دا هم هغه وي.خو په دے وخت كښې ضغاطر د خپل اسلام اظهار اونكړلو.صرف د خط په جواب كښې ئے د هرقل د رائے سره موافقت اوكړلو . اوتصديق ئے اوكړلو.او وے ليږلو.هرقل لاپه حمص كښے وو.چه جواب راورسيدلو

كله چه هغه اوكتل.چه لوئے پادري موافقت اوكړلو.نودهغه اميد پيدا شو.چه اوس به زمونږ قوم اومني.اود نبي ﷺ د رسالت تصديق به اوكړي.ځكه چه د دنيا د ټولو نه لوئے بادشاه هم وائي.اود دين د ټولو نه لوئے عالم هم دا وائي.په دے اميد باندے هغه د روم لوئے لوئے خلق راوغوښتل.هغه يو ځل ددوي تنفر اوجوش ليدلے وو.هغه دا تدبير اوكړلو.چه ټول ئے راوغوښتلو.اود بهر ټولے دروازے ئے بندے كړے.اوپه خپله يوے بالاخانے ته اوختلو.اودهغه خانے نه ئے تقرير اوكړلو.چه د لاس وراوړلو په نيت ورته څوك نه رسي.اوپه آسانئ سره ورته نه رسي.اوپه جوش كښے دا خلق بهرته نشي تلے چه فساد اوكړي.اوټول جوش ئے دلته ختم شي.

هغه اووئيل.«يامعشرالروم،هل لكم في الفلاح والرشد؟» كله چه خلقو ددوي دا تقرير واوريدلو.نو وے وئيل.دے زمونږ نه د عربو غلامان جوړوي.

هرقل چه دا كيفيت اوكتلو .نو خيال ئے اوكړلو .كه د رسول الله ﷺ اطاعت مے قبول كړلو .نو زما بادشاهي به لاړه شي .نوهرقل د مال اوجاه د زوال د وجے اسلام قبول نكړلو .اوپه آخر كښے ئے هم هغه تدبير اوكړلو .دكوم چه په حديث كښے ذكر دے .يعني وے وئيل .چه ما دا خبرے ستاسو دامتحان اخستلو دپاره اوكړلے .زما مقصد دا نه وو .چه مونږ خپل دين پريږدو .چه دا ئے واوريدلو .نوخلقو بيا دده تعظيم شروع كړلو.

خوهرقل د خط مبارك بے حرمتي اونكړله .لكه څنګه چه كسرى كړے وه بلكه په ريښمو كښے ئے اونغښتلو او وے وئيل .چه ترڅو پورے دا زمونږ سره وي .نو ډير د خير اوبركت څيز به راسره وي .(١)

په دويم ځل دعوت اسلام بيا په دويم ځل چه كله دوى ديشت زره لښكر واخستلو .اوتبوك ته ئے تشريف يوړلو .نوهم دا هرقل قيصر روم وو .په دے موقعه باندے بيا نبي ﷺ دعوت نامه د حضرت دحيه رضي الله عنه په لاس باندے اوليږله .نوهغه اووئيل .زه څه اوكړم .زما قوم نه مني .په روميه كښے ډير لوئے پادري دے .هغه ټول نصارى مني .هلته كښے دا خط يوسه .نوپه خپله دحيه رضي الله عنه هغه خط يوړلو .اوروميه ته اورسيدلو .دلته دا خبره معلومه ده .چه هم حضرت دحيه رضي الله عنه تلے وو. خودلته دا متعين نه ده .چه د روميه لوئے پادري هم هغه ضغاطر وو .اوكه بل پادري وو. بهرحال چه څوك هم وو .دحيه رضي الله عنه ورلاړلو .اوهغه تصديق اوكړلو .چه بيشكه دا نبي آخرالزمان دے. زه په ده باندے ايمان راوړم .اوحضرت دحيه رضي الله عنه ته ئے دا هم اووئيل .چه نبي ﷺ ته زما سلام اووايه .اودا ورته اوښايه .چه ما ايمان قبول كړلو .بيا ئے غسل اوكړلو .جامے ئے بدلے كړے .اوپه عامه مجمع كښے ئے د ايمان اعلان اوكړلو .اود ټولو په مخكښے ئے كلمه شهادت اووئيله .خلقو هغه هم په دغه مجلس كښے شهيد كړلو.

چه دا واقعه ئے اوليدله .نوحضرت دحيه رضي الله عنه د دغه مجلس نه راووتلو .اوهرقل ته راغلو .نوټوله قصه ئے ورته واوروله .نوهغه اووئيل .هركله چه هغه سره داسے اوشو .نو ته اندازه اوكړه .چه ما سره به څه كيږي .غرض دا چه هغه ايمان راونړلو .څكه چه صرف د صداقت په اعلان كولواوشوق ښكاره كولو باندے ايمان نه راځي .د غزوه تبوك په موقعه هغه په جواب كښے ليكلي وو .«إني مسلم» نو نبي ﷺ اوفرمائيل .«كذب بل هو على نصرانيته» دا ټول زباني جمع خرچ دے .انقياد او تسليم هغه نه دے اختيار كړے .(٢)

تنبيه دلته كښے دے دا خبره په ذهن كښے وي .چه په دے كښے اختلاف دے .چه دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه په دور خلافت كښے چه كوم جنګ د روميانو سره شوے وو .اوبيا د يرموك په موقعه باندے هغوى ته تباه كن شكست وركړے شو .نوپه هغه وخت كښے قيصر روم څوك وو؟ آيا هم دا هرقل وو .اوكه دده څوئے؟ دواړه اقوال شته .البته دعلامه عيني رحمه الله تحقيق دا دے .چه د نبي ﷺ مكاتبت چه د كوم سره شوے وو .هغه هرقل وو .دهغه د مرګ نه پس دهغه څوئے ..مورق.. په تخت باندے كيناستلو .اودا د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په خلافت كښے

(١) عمدة القاري(١/٧٩، ٩٩) والبداية والنهاية (٤/٢٦٢، ٢٦٨)_

(٢) فتح الباري(١/٣٧) وعمدة القاري(١/٩٨)_

وو.بيا دهغه نه پس دهغه خوئے ..هرقل بن قيصر.. يعنى د هرقل نمسے بادشاه جوړ شو.او دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په دور كښے هغه سره جنگونه شوى دى.اودحضرت ابوعبيده رضي الله عنه او خالدبن وليد رضي الله عنه په لاس ورته شكست ملاؤ شو.دشام نه قسطنطنيه ته اوتښتيدلو.(١)

د روم اطلاق د روم اطلاق صرف په هغه حصه باندے كيږى.كوم ته چه نن ..رومة الكبرى.. وائى كوم خائے كښے چه نن صبا د اټلى دارالحكومت دے.ددےنوم روميه هم دے.خو په اوله زمانه كښے د روم اطلاق په روميه.قسطنطنيه او ايشيائے كوچك اود يونان د ټوله په مجموعه باندے كيدلو.ځكه چه مركز او دارالسلطنت په روميه كښے وو.كوم چه په حقيقت كښے روم وو.اودا ټول ملكونه د دے ماتحت وو.ددے په بنا ټولو ته روم ونيلے شو.

د روميه مركزيت په اول كښے وو.بيا په خپلو كښے د دوى څه اختلافات پيدا شول.او په قسطنطنيه كښے يوبل مركز قائم كړے شو.نو د هرقل په دور كښے د روم دارالسلطنت هم په قسطنطنيه كښے وو.حمص هم د شام يو لوئے ښار وو.د قسطنطنيه نه بيت المقدس ته چه خى نو په لار كښے پروت وو.والله اعلم

تردے ځائے پورے ټولے خبرے چه هركله ستاسو په ذهن كښے كيناستلے نواوس وړاندے د حديث دالفاظو تشريح باندے پوهه شئ:

دحديث الفاظ اوفوائد

قوله: أَنَّ أَبَاسُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ: يعنى حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته ابوسفيان رضي الله عنه دا واقعه واوروله.دا خبره دے ښكاره وى.چه په كوم وخت كښے دا واقعه پيښه شوے وه.په هغه وخت كښے ابوسفيان مسلمان شوے نه وو.په حالت د كفر كښے وو.لكه چه ددے روايت تحمل په حالت د كفر كښے او ادا په حالت د اسلام كښے وه.

قوله: أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ: ..هرقل.. د .هاء. په كسره او .راء. په فتحه او .قاف. په سكون سره دے.هم دا مشهوره دے.

بعضو .هاء. په كسره او.راء. په سكون او .قاف. په كسره سره ددے ضبط كړے دے.

دجواليقى وينا ده.چه دا عجمى لفظ دے.دكومو چه عربيانو تكلم كړے دے.اودا اسم علم دے.د عجمه او علميت د وجے غيرمنصرف دے.

هرقل يوديرش كالو پورے حكومت كړےوو.هم ددوى په زمانه كښے د نبى كريم ﷺ وفات شوےوو.

دهرقل لقب قيصر وو.بلكه قيصر(لكه څنگه چه مونږ وړاندے اشاره كړے ده) د روميانو دهربادشاه لقب وو.دغه شان د فارس د بادشاه .كسرى. د تركى .خاقان. د حبشه .نجاشى د .قبط. فرعون. د مصر.عزيز. د حمير او يمن .تبع. د هندوستان .دهيمى. د چين .فغفور. د زنج .غانه. د يونان .بطليموس. د يهود .قيطون. يا .ماتح د بربر .جالوت. د صابئه .نمرود او د فرغانه .اخشيد. لقبونه وو.(٢)

---

(١) عمدة القارى(١/٩٩)_

(٢) عمدة القارى(١/٨٠)_

هرقل د ټولو نه وړاندې دينار په ټاپه کښې جوړ کړې وو. اود بيعت اجراء ئې کړې وه.

دبخاري شريف په حديث کښې دي: ((إذا هلك کسرى فلا کسرى بعده، وإذا هلك قيصر فلا قيصر بعده))[١]

دامام شافعي رحمه الله نه ددې دا معنى منقول ده. چه کله په شام کښې قيصر هلاك شي. نوبيا به دوباره قيصر نه وي. اودغه شان چه کله په عراق کښې کسرى هلاك شي. نوبيا به بل کسرى نه راپاسي.[٢]

ددې حديث شان ورود بيانولې شي. د قريشو خلقو به د جاهليت په دور کښې د عراق او شام طرف ته د تجارت دپاره سفر کولو. کله چه دا خلق مسلمانان شول. نو دوى سره ويره شوه. چه اوس به زمونږ تجارتي سفر بند شي. ځکه چه د اسلام په وجه به د هغه ځائې خلق دشمنان شي. نبي ﷺ خلقو ته تسلي ورکړه. چه تاسو ته به څه نقصان نه وي. بلکه د قيصر او کسرى د مرګ نه پس به هلته داسې څوك پيدا نشي.[٣]

قوله: فِي رَكْبٍ مِنْ قُرَيْشٍ: ..رکب.. د راکب جمع ده. لس يا دلسو نه په زياتو کسانو باندې مشتملې ډلې ته وائي. دا کسان څومره وو؟ په ..اکليل.. کښې دي. چه درې وو. اود ابن السکن په روايت کښې دي. چه شلو ته نزدې وو.[٤]

قوله: وَكَانُوا تِجَارًا بِالشَّأْمِ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَادَّ فِيهَا أَبَا سُفْيَانَ وَكُفَّارَ قُرَيْشٍ: دا خلق شام ته د تجارت په غرض تلي وو. په دغه زمانه کښې په کومه کښې چه رسول الله ﷺ ابوسفيان او د قريشو کافرانو سره د صلح يوه موده مقرر کړې وه.

قوله: تجار: بضم التاء وتشديد الجيم، او بکسر التاء وتخفيف الجيم، دواړه ټيك دي. دا د ..تاجر.. جمع ده.

د مودې نه مراد د صلح حديبيه موده مراد ده. نبي کريم ﷺ چه د مکې کافرانو سره کومه صلح کړې وه. په هغې کښې دا فيصله شوې وه. چه لسو کالو پورې به جنګ بند وي. ددې لسو صراحت د ابن اسحاق رحمه الله په روايت کښې دې.[٥] ابوداود د ابن عمر رضي الله عنهما نه هم دا نقل کړې دي.[٦]

---

(١) صحيح بخاري کتاب أحاديث الأنبياء باب علامات النبوة في الإسلام رقم.٣٦١٨)_

(٢) عمدة القاري)_

(٣) پورتنئ حواله)_

(٤) فتح الباري(١/٣٣)

(٥) سيرت ابن هشام مع الروض الأنف (٢/٢٣٠) الهدانة)_

(٦) فتح الباري(١/٣٤)_

البته ابونعیم رحمه الله د عبدالله بن دینار رحمه الله په مسند کښې دغه شان حاکم رحمه الله په مستدرك کښې دصلح موده څلور کاله ذکر کړې ده.[1]

قوله: فَأَتَوْهُ وَهُمْ بِإِيلِيَاءَ: یعني ابوسفیان اود ده ملګری هرقل ته ورغلل په داسې حال کښې چه هغه خلق یعني هرقل اودهغه ملګری په ایلیاء کښې وو.

..ایلیاء.. د بیت المقدس د مشهور ښار نوم دے.

په ایلیاء کښې څلور لغات دی.

○ بهمزة مکسورة ثم یاء مثناة من تحت ساکنة، ثم لام مکسورة، ثم یاء أخری، ثم ألف ممدودة هم دا ضبط مشهوردے.

○ دویم لغت بغیر د الف ممدوده یعنی قصر سره دے.

○ دریم لغت دا دے چه د اولنۍ یاء په حذف کولو سره اولوستلے شي یعني د همزه مکسوره نه پس لام ساکن او ددے نه پس .یاء. او ددے نه پس الف ممدوده.

○ په یو لغت کښې ..ایلاء.. هم منقول دے.[2]

بعضې حضرات فرمائي چه ..ایل.. الله ته وائي او ..یاء.. بیت ته نو د ایلیاء معنی شوه ..بیت الله..

قوله: فَدَعَاهُمْ فِي مَجْلِسِهِ وَحَوْلَهُ عُظَمَاءُ الرُّومِ: بیا هرقل دغه قریشیان خپل مجلس ته راوبلل په دغه وخت کښې دهغه نه ګیرچاپیره دحکومت اراکین اولوئے لوئے خلق موجودوو.

قوله: ثُمَّ دَعَاهُمْ وَدَعَا بِتَرْجُمَانِهِ: بیا ئې دوی راوبلل اوخپل ترجمان ئې هم راوبللو.

داولنی ځل رابللو نه مراد دا دے چه دوی ئې په انتظار ګاه کښې کینول اوبیا ئې خپل ځان ته مخامخ کړل اوبیا دا مراد دے چه اول دوی حاضر کړے شول او بیا ئې دوی نور هم نزدے کړل والله اعلم.

ترجمان: د تاء په فتحه او جیم په ضمه سره هم دا د امام نووی رحمه الله په نیز راجح دے په دے کښې د تاء اوجیم دواړو ضمه هم تیك ده او په دواړو باندے فتح ونیل هم منقول دی البته د تاء د ضمه او دجیم د فتح قول د چا نه دے.[3]

ترجمان وائي د یوے ژبے نه بلے ژبے ته ترجمه کونکی ته.[4]

ددے لفظ په باره کښې اختلاف دے چه عربي دے که معرب دے.[5] بیا جوهری رحمه الله په دے

---

(۱) پورتنۍ حواله)_

(۲) تهذیب الأسماء واللغات (۳/۲۰) وفتح الباري(۱/۳٤) ومعجم البلدان(۱/۲۹۳، ۲۹٤)_

(۳) شرح نووی علی صحیح مسلم (۲/۹۷) کتاب الجهاد باب کتب النبی ﷺ إلی هرقل .. وعمدة القاری (۱/۸٤، ۸۵) وفتح الباري(۱/۳٤)_

(۴) پورتنۍ حواله)_

(۵) عمدة القاری(۱/۸۵)_

کښے تاء زیاتی کړخولے ده.اوصاحب د نهایه د ده اتباع کړے ده.خو د جوهری رحمه الله دا خبره جمهورو نه ده منلے.(١)

قوله: فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا بِهَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ: هغه تپوس اوکړلو.ددے کس سره څوك چه د نبوت دعوی کوی.دنسب په اعتبار په تاسو کښے څوك زیات نزدے دی.د ټولونه د زیات قریب النسب په باره کښے ئے ځکه تپوس اوکړلو.چه څوك قریب النسب وی.هغه به د نبی کریم ﷺ د حالاتو نه زیات خبر وی.اود نسب په باره کښے به غلط بیانی نه کوی.ځکه چه په خپله به هغه سره ویره وی.که زه د هغه په نسب باندے څه عیب اولګوم.نوزما په نسب به عیب اولګی.(٢)

قوله: فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا أَقْرَبُهُمْ نَسَبًا: ابوسفیان رحمه الله وائی چه ما اووئیل.زه په دے ټولو کښے د نسب په اعتبار سره دغه کس ته زیات نزدے یم.ددے وجه ښکاره ده.ځکه چه ابوسفیان رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ سره په عبد مناف کښے یوځائے کیږی.د نبی اکرم ﷺ سلسله نسب ده.محمد رسول الله ﷺ ابن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف او د ابوسفیان رضی الله عنه سلسلسه نسب ده.ابوسفیان بن صخربن حرب بن امیه بن عبد شمس بن عبد مناف(٣)

قوله: فَقَالَ أَدْنُوهُ مِنِّي وَقَرِّبُوا أَصْحَابَهُ فَاجْعَلُوهُمْ عِنْدَ ظَهْرِهِ: هرقل اووئیل.دا کس ماته رانزدے کړئ.اودده ملګری هم رانزدے کړئ.لوهغوی دده شاه ته کړئ.یعنی چه ابوسفیان رضی الله عنه وړاندے وی.اودهغه ملګری روستو وی.

دا ئے ددے وجے اوکړلو.ځکه چه بعضے وخت داسے کیږی.چه کله مواجهه وی.اوسړے مخامخ په مخامخ وی.نوتکذیب نشی کولے.سترګے چه کله څلور وی.نو شرم راځی.ددے وجے ئے هغوی د ابوسفیان رضی الله عنه نه شاه ته کینول.ددے دپاره که هغوی د ابوسفیان رضی الله عنه تردید کول غواړی.نو چه تکلف په کښے نه وی.او خاموش نه اوسی.(٤)

قوله: ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ: بیا هرقل ترجمان ته اووئیل.دے خلقو ته اووایه.چه زه ددے کس یعنی ابوسفیان رضی الله عنه نه د رسول اکرم ﷺ په باره کښے څه تپوسونه کوم.که دے غلط بیانی کوی. نو سمدستی وائے.اودده تکذیب کوئ.

په ،،كَذَبَنِيْ،، کښے ..كَذَبَ.. مجرد دے.دا لفظ که د مجرد نه وی.نو متعدی به وی دوؤ مفعولینو ته. اوکه مزید وی.نومتعدی به وی یومفعول ته.

---

(١) عمدة القاري (٨٥/١) وتهذيب الأسماء واللغات(٤١/٣)_

(٢) فتح الباري(٣٥/١)_

(٣) فتح الباري(٣٤/١، ٣٥)_

(٤) پورتنۍ حواله)_

هم دا كيفيت په ..صَدَّق،، او ،،صَدَقَ،، كښې دے دا په غريبو الفاظو كښې شمارلے شوے دے.خكه چه قاعده دا ده چه د حروفو په زيادت د هغے په معنى كښې زيادت راخى اودلته ددے په عكس ده.(١)

قوله: فَوَاللَّهِ لَوْلَا الْحَيَاءُ مِنْ أَنْ يَأْثِرُوا عَلَيَّ كَذِبًا لَكَذَبْتُ عَنْهُ: ابوسفيان رضي الله عنه وائى.كه ماسره ددے شرم نه وو چه دا خلق به ددے خائے نه د وتلو نه پس زما دروغ نقل كوى اودا به وائى چه ابوسفيان هرقل ته دروغ اووئيل نوما به ضرور د نبى كريم ﷺ په خبر وركولو كښے د دروغو نه كار اخستے وو.

دلته د ابوسفيان رضي الله عنه الفاظ دى.((يأثروا على كذبا)) يعنى دوى به زما دروغ نقل كړى.دا سے ئے اونه وئيل چه ((يكذبوا)) چه دا خلق به زما تكذيب اوكړى اوما به دروغژن كړى لكه چه ابوسفيان رضي الله عنه ته سل فيصده اطمينان وو چه زما كسان به د هرقل وړاندے ما دروغژن نكړى.خودا ويره ورسره وه.كه زه دروغ اووايم نو چه دوى مكے ته لاړ شى نو وائى به چه ابوسفيان د هرقل په دربار كښے غلط بيانى كړے وه.او په دے سره به زما نه د قوم اعتماد اوچت شى.اوقوم به دا اووائى.چه ابوسفيان دروغ وائى نود قوم د اعتماد مجروح كيدو د ويرے ابوسفيان دلته دروغ اونه وئيل.ابن اسحاق رحمه الله تصريح كړے ده چه **((فوالله لوقد كذبته ما ردوا على، ولكنى كنت إمرء أسيد أتكرم عن الكذب، وعلمت أن أيسر ما فى ذلك إن أنا كذبته أن يحفظوا ذلك عنى ثم يتحدثوا به))**(٢)

د يو بل خبرے احتمال هم شته.چه ابوسفيان ته دا خيال راغلے وى.چه دا خلق اگرچه زما تكذيب به اونكړى.خوچه مكے ته لاړ شى.اودا اوبنائى.چه ما دروغ وئيلى دى.نودا خبره به خوره شى.اوزمونږ خلقو د تجارت په غرض شام ته تګ راتګ دے.نوزما دروغ به دلته هم راورسى.دغه شان كيدے شى.چه هرقل ته هم پته اولګى.نودا به معمولى دروغ نه وى.بلكه دالله تعالى د پيغمبر په باره كښے به دروغ وى.نوخكه ممكن ده چه مونږ ګرفتار كړى.يا كم ازكم په داخله باندے پابندى اولګوى.(٣)

بهرحال ددے نه معلومه شوه.چه دروغ وئيل لكه څنګه چه په اسلام كښے بد ګڼرلى شى.دغه شان كافرانو به هم دا بد اوكم ازكم ناخوښه ګڼړل.

آيا په څيزونو كښې حسن او قبح عقلى ده؟ ددے نه معتزلو وغيره په دے خبره استدلال كړے دے چه په څيزونو كښے حسن او قبح عقلى ده.هم عقل د څيزونو د حسن اوقبح فيصله كوى.(٤)

---

(١) عمدة القارى(٨٥/١)_

(٢) فتح البارى(٣٥/١)_

(٣) فضل البارى(٢١٤/١)_

(٤) عمدة القارى(٨٥/١)_

داهل سنت د طرفه ددے جواب دا ورکړے شوے دے چه کیدے شي.ددے مذموم کیدل د پخواني شریعتونو مثلاً د شریعت ابراهیمی نه ماخوذ وي.اودا هم کیدے شي چه ددے بدوالے د عرف او عهد نه ماخوذ وي.(١)

خومناسب معلومیږي چه لږ غوندے توسع اختیار کړے شي.اودا اووئیلی شي چه په اصل کښے د تحسین او تقبیح تعلق د شریعت سره دے.الله تعالی چه څه حسن اوګرځوي هغه به حسن وي.اوڅه چه قبیح اوګرځوي.هغه به قبیح وي.خو عقل هم په حسن اوقبح کښے فرق کوي خوچه په کوم ځائے کښے په عقل او شرع کښے تعارض راشي.نود شارع تحسین اوتقبیح ته به د عقل په تحسین او تقبیح باندے ترجیح حاصل وي.(٢)

بلکه حقیقت دا دے چه هیڅ یو انساني عقل داسے یوکارته قبیح وئیلے نشي.کوم ته چه شریعت مطهره حسن وئیلی وي.اوڅه ته چه شریعت قبیح اوواني.هغے ته انساني عقل حسن نشي وئیلے.

مطلب دا دے چه چاته الله تعالی عقل سلیم ورکړے وي.نوهغه به شرعي حسن اوقبیح حسن او قبیح ګڼړي.ددے په خلاف نشي وئیلے.اوچه په کوم ځائے کښے ددے خلاف کیږي هلته د انسان په عقل کښے څه فتوروي.یادمقدماتوپه پوهیدلو کښے ورته مشکلات وي.یا چه بل څه تعارض راشي.چه دهغے په وجه عقل سلیم صحیح فیصله نشي کولے.والله تعالیٰ أعلم بحقیقة الأمر

قوله:لکذبت عنه:په اصل کښے ددے په صله کښے ..علی.. استعمالیږي.کله چه چاته د غلطے خبرے نسبت اوشي.نو وئیلی شي.«کذب علیه»یعني د ..عن..صله ئے راوړله . ځکه چه دلته معنی د ..اخبار.. متضمن ده.لکه چه عبارت دا شو.«لکذبت مخبراً عنه» یعني زه د رسول الله ﷺ په باره کښے غلط بیاني کړے وه.

قوله:ثُمَّ كَانَ أَوَّلَ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَنْ قَالَ كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ:بیا چه د ټولو نه وړاندے هغه زما نه د نبی ﷺ په باره کښے تپوس اوکړلو.نو هغه دا وو چه په تاسو کښے دده نسب څنګه دے؟

لفظ د ..اول.. د ..کان.. د خبر د وجه منصوب دے.روایت هم دا دے.البته چه اسم اوګرځولے شي.نومرفوع هم لوستلے شي.(٣)

قوله:قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ:ماجواب ورکړلو چه هغه په مونږ کښے د اوچت نسب مالك دے.په ..نسب.. کښے تنوین د تعظیم دپاره دے.دابن اسحاق رحمه الله په روایت کښے د«کیف

(١) شرک کرماني(٥٥/١) وفتح الباري(٣٥/١)_

(٢) اشار إلی هذا الکلام العیني في العمدة (٨٥/١)_

(٣) فتح الباري(٣٥/١)_

نسبه فیکم» په جواب کښې دی.«فی الذروة»([1])هغه خود غر د سر نسب لری.بلکه د بزار رحمه الله په روایت کښې دی.«حدثنی من هذا الذی خرج بأرضکم ما هو؟قال:شاب قال:کیف حسبه فیکم؟قال:هو فی حسب ما لا یفضل علیه أحد،قال:هذه آیة النبوة»([2])

قوله قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ مِنْكُمْ أَحَدٌ قَطُّ قَبْلَهُ: دا دویم سوال دے هرقل تپوس اوکړلو چه آیا دا خبره په تاسو کښې دده نه وړاندې چرته چا کړې ده؟

قط په دے کښې مشهور لغت «فتح القاف وتشدید الطاء المضمومة» دے بعضې حضرات وائی په دواړو حرفونو ضمه ده.بعضې حضراتو د قاف فتحه او دطاء د تخفیف سره ضبط کړے دے اوځه حضرات د قاف ضمه اود طاء په تخفیف سره دده نطق کوی.([3])

دا د ماضی منفی سره مختص دے.دلته هم دا اشکال دے چه په کلام مثبت کښې ددے استعمال شوے دے.

ددے جواب دادے چه دا قاعده ده.چه دا د ماضی منفی سره مختص دے.خو دا قاعده کلیه نه ده.بلکه اکثریه ده.کله کله د مثبت سره هم ددے استعمال کیږی.([4])

دا هم ممکن ده.چه دا کلام د نفی په حکم کښې وی.اوتقدیر دعبارت دا وی «هل قال هذا القول أحد أو لم یقله أحد قط»([5])

قوله:قُلْتُ لَا: ما اووئیل نه.

یعنی چا ددوی نه وړاندې داسې دعوی نه ده کړې.ابوسفیان ددے انکار ځکه اوکړلو چه هرقل دا اوګنړی.چه هغه دا یوه نوې خبره ایجاد کړې ده.اونوې خبرې او نوې دعوی قبل قبول نه وی.(معاذالله) هغه باندې لیونتوب یا سحر راغلے دے لکه څنګه چه داهل مکه ګمان وو.([6])

قوله:قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ:دا دریم سوال دے یعنی آیا دده په پلارانو او مشرانو کښې څوک سلطان او بادشاه تیر شوے دے؟

---

(1) فتح الباری(۲۱۷/۸) کتاب التفسیر.سورة آل عمران.باب:﴿قُلْ يَأَهْلَ الْكِتَبِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ (آل عمران:٦٤)_

(2) کشف الأستار عن زوائد البزار(۱۱۷/۳) ذکر نبینا محمد ﷺ باب فیما کان عند أهل الکتاب من علامات نبوته)

(3) شرح کرمانی(۵۵/۱.۵۶)_

(4) فتح الباری(۳۵/۱)_

(5) پورتنی حواله دغه شان شرح کرمانی (۵۶/۱)_

(6) فضل الباری(۲۱٤/۱)_

دلته په ..من ملك.. کښې ..من.. جاره دے او ..ملك.. د لام په کسره سره په معنی د بادشاه دے هم دا راجح دے او په بعضې روایاتو کښې ..من ملك.. یعنی ،من، موصوله او ددے نه پس فعل ماضی دے مفهوم د دواړو یو دے.(١)

قوله قُلْتُ لَا: ما اووئیل نه.

دلته هم ابوسفیان زر انکار اوکړلو ددے تاثر ورکولو دپاره چه دا څه لوئې سړے نه دے د بادشاهت سره دده یا دده د خاندان څه تعلق نشته.(٢)

قوله قَالَ فَأَشْرَافُ النَّاسِ يَتَّبِعُونَهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ: دا څلورم سوال دے یعنی په خلقو کښې معزز د دوی تابعداری کوی او که ضعیفان د دوی تابعداری کوی؟

داشرافو نه مراد هغه خلق دی کوم چه د اوچتې مرتبې ګنړلی شی د لوئې اوتکبر خاوندان او ضعفاؤ نه مراد کمزورے او مسکینان دی کوم چه د کمې درجې ګنړلی شی.(٣)

قوله فَقُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ: ما ورته اووئیل لوئې خلق دهغه تابعداری نه کوی بلکه لاندے خلق ئې دهغه سره ملګری کیږی ددے مقصد هم نبی ﷺ ہے عزته ثابتول وو حالانکه ترهغه وخته پورے د حضرت ابوبکرصدیق حضرت عمرفاروق، حضرت عثمان غنی حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنهم نه سوا بے شمیره د حسب ونسب او جاه اوجلال خاوندانو اسلام راوړے وو دهغوی استثناء ترے کولے شوه.

البته دا ونیلی شی چه ابوسفیان د اکثریت اعتبار کړے وو اوجواب ئې ورکړے وو چه د دوی په تابعدارو کښې په حقیقت کښې اکثریت د ضعفاؤ او کمزورو خلقو دے.

حقیقت دا دے چه کله په معاشره کښې خرابے راځی نوکوم کسان چه د مرتبې او اثرخاوندان وی هغوی د عیش پرستئ ښکار شی اوپه خپلومزو چرچوکښې مست وی او یوه خبره اګرچه په حقیقت مبنی وی کله هغوی ته وړاندے کړے شی نوپه خپله نشه کښې پرے هغوی غوږ نه ګروی اوتوجه ورته نه کوی اوچه کوم خلق کمزورے وی اودهغوی د زور زیاتی ښکار وی اوپه معاشره کښې لاندے وی په هغوی کښې ددے خبرے هروخت لټون موجود وی اوفکرمند وی چه په کومه طریقه ددے عذاب او مصیبت نه مونږ ته نجات ملاؤ شی نوچه کله هم هغوی ته څه مضبوطه آسره په نظر راشی نوهغوی خپل ټول قوت هغې ته حواله کړی اونتیجه دا راوځی چه انقلاب راشی اود انقلاب نه پس لاندے اوچت کمزورے خلق مضبوط شی او د اثر خاوندان او مضبوط خلق چه په عیش او عشرت کښې به اوسیدل په ګرفت او نیولو کښې راشی نودلته هم داسے اوشو چه د ضعیفانو اکثریت د نبی ﷺ سره وو کوم چه په دے معاشره کښې دعذاب او مصیبت ښکار وو نوابوسفیان ددے اکثریت ذکر اوکړلو چه د کمزورو او ضعفاؤ اکثریت دهغه تابعدار دی.

---

(١) فتح الباری(٣٥/١)_

(٢) فضل الباری(٢١٤/١)_

(٣) فتح الباری(٣٥/١)_

قوله قَالَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ: دا پنځم سوال دے یعنی هرقل تپوس اوکړلو چه دا خلق زیاتیږی که کمیږی؟

قوله قُلْتُ بَلْ يَزِيدُونَ: ماورته اووئیل هغوی کمیږی نه بلکه زیاتیږی.

قوله قَالَ فَهَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ: دا شپږم سوال دے تپوس ئے اوکړلو چه آیا په دوی کښے یو کس په دین کښے د داخلیدو نه پس د دین د ناخوښئ اوبد ګڼړلو د وجے اوړیدلے دے؟

د ((سخطة لدينه)) قید هغه ددے وجے اولګولو چه د دین نه اوړیدل کله خو د دین د نا خوښئ د وجے وی اوکله ددے د وجے وی چه سړے د مال اومتاع په لالچ کښے مرتد شی. اوکله ددے وجے مرتد کیږی چه سړے پوره په زړه سره مسلمان شوے نه وی. دغه شان په لیدو د څه وجے مسلمان شوے وی. قادح په دے صورتونو کښے هغه صورت دے چه سړے خفه شی. اودین ناخوښه اوګڼړی. او مرتد شی. باقی صورتونه قادح نه دی. (١)

تنبیه سخطة: چه کله په تاء سره وی. نو په سین به فتحه وئیلی شی. اوکه بغیر د تاء نه وی. نو په سین فتحه اوضمه دواړه جائز دی. البته د فتحه وئیلو په صورت کښے به په ..خاء.. باندے فتحه وئیلی شی. اود ضمه په صورت کښے په ..خاء.. باندے سکون اوضمه دواړه جائز دی. (٢)

قوله: قُلْتُ لَا: ابوسفیان وائی. ما جواب ورکړلو. چه داسے نه کیږی. چه په دوی کښے یوکس خفه شی. اوواوړی.

ابوسفیان ته معلومه وه. چه د دنیا د متاع په لالچ کښے مرتد کیدل یا بغیر د انشراح صدر نه اسلام راوړلو نه پس اوړیدل دا د دین نقصان نه دے. هم دا وجه ده. چه عبیدالله بن جحش کوم چه د حضرت ام حبیبه رضی الله عنها خاوند او د ابوسفیان زوم وو. حبشه ته د هجرت کولو نه پس په لالچ کښے د نصرانیت دین قبول کړے وو. د هغه ارتداد د دنیاوی متاع د لالچ د وجے وو. ((سخطة لدين الإسلام)) نه وو. نوځکه ئے په جواب کښے نفی اوکړله. چه یوکس د دین نه د ناراضئ د وجے نه دے اوړیدلے. (٣)

دا هم ممکن ده. اګرچه لرے ده. چه ابوسفیان ته د عبیدالله بن جحش د ارتداد علم نه وو. لرے ددے وجے ده. چه قریشو خپل کسان حبشه ته لیږلی وو. اوښکاره ده. چه هغوی به پوره تحقیقات کړی وو. نوآیا هغوی ته به دومره هم پته نه وه. چه عبیدالله بن جحش مرتد شوے

(١) فتح البارى (٣٥/١)_
(٢) عمدة القارى (٨٥/١)_
(٣) فتح البارى (٢١٨/٨) كتاب التفسير، سورة آل عمران باب ﴿قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا﴾ (آل عمران: ٦٤)_

دے (١) او کيدے شي چه ددے ارتداد نه اولنی دين ته اوړيدل مراد وی. عبيدالله بن جحش نوے دين اختيار کړے وو. اولنی دين ته نه وو اوړيدلے. (٢)

قوله قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ: دا اووم سوال دے آيا تاسو هغه د نبوت ددے خبرے نه وړاندے په دروغو باندے متهم کولو؟

دا سوال د ډير جامعيت حامل دے. هرقل دا تپوس اونکړلو. چه آيا هغه چرته دروغ ونيلی دی. يا دروغ ئے ونيل؟ بلکه د تهمت کذب په باره کښے ئے تپوس اوکړلو. او کذب د تهمت کذب سبب وی. هر کله چه تهمت منتفی وی. نو کذب به په طريقه اولی سره منتفی وی. (٣)

دا سوال په دے اعتبارسره هم اهم اوجامع دے. چه د مدعی نبوت مشهور بالصدق کيدل دهغه د صداقت لوئے دليل وی. د دعوت په اول کښے چه کله په کوه صفا باندے نبی ﷺ «ياصباحاه» اوونيل. او اهل مکه ته ئے چغه کړله. اوټول راجمع شول. نو نبی ﷺ د هغوی نه تپوس اوکړلو. که زه تاسو ته دا خبر درکړم. چه د دشمن لښکرد غر هغه طرف ته راجمع شوے دے. اوبه تاسو باندے حمله کونکے دے. نو تاسو به زما تصديق اوکړئ؟ ټولو په يو آواز اوونيل. خامخا به دے تصديق کوو. ځکه چه «ماجربنا عليك كذبا» مونږ کله هم ستا نه دروغ خبره نه ده اوريدلے. نبی ﷺ اوفرمائيل. «فإنى نذير لكم بين يدى عذاب شديد» په دے باندے ابولهب ګستاخی اوکړله. اووے ونيل. «تبالك، أما جمعتنا إلا لهذا؟» او ددے په نتيجه کښے سورة «تبت يدا أبى لهب» نازل شو. چونکه نبی ﷺ په اتفاق سره د عربو په نيز صادق او امين وو. نو ځکه هغه هم دوی ته د کذب نسبت اونکړے شو. (٤)

قوله: قُلْتُ لَا: ما اوونيل نه.

قوله: قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ: دا اتم سوال دے. تپوس ئے اوکړلو. چه هغه وعده خلافی کوی؟

قوله: قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِي مُدَّةٍ لَا نَدْرِي مَا هُوَ فَاعِلٌ فِيهَا: يعنی ما ورته اوونيل. نه هغه وعده خلافی نه کوی. البته زمونږ اودهغوی په مينځ کښے يوه موده روانه ده. معلومه نه ده. چه په دے کښے به هغه څه کوی.

---

(١) پورتنئ حواله)-
(٢) پورتنئ حواله)_
(٣) فتح البارى(١/٣٥)_
(٤) الكامل لابن الأثير(٢/٤٠) ذكر أمر الله نبيه ﷺ بإظهار دعوته .. او البداية والنهاية لابن كثير(٣/٣٨) باب الأمر بإبلاغ الرسالة دغه شان السيرة النبوية والآثار المحمدية للسيد احمد بزينى دحلان بهامش السيرة الحلبية (١/١٩٤)_

قوله وَلَمْ تُمْكِنِّي كَلِمَةٌ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرَ هَذِهِ الْكَلِمَةِ: ابوسفيان وائى چه ماته دے خبرو دا موقع رانكړله چه زه په دے كښے څه داخل كړم سوا ددے يوے خبرے نه. يعنى د ټولو خبرو په صفا جوابونو وركولو باندے زه مجبوره وم او د نبى ﷺ د فضائلو اواو شمائلو په اقرار كولو زه مجبوره ووم خو دا خبره چونكه د مستقبل سره متعلق وه په دے كښے د روغژن كول ممكن نه وو نوځكه ما اوونيل چه «ونحن فى مدة لاندرى ماهو فاعل فيها» مطلب دا دے چه زما زړه خو بيخى مطمئن وو چه رسول الله ﷺ به معاهده نه ماتوى په دے باندے مے شرح صدر وو خو بهرحال زه يو فريق مخالف ووم نوچه دے ته مے اوكتل چه دا خبره د مستقبل ده ما د خپل يقين او اطمينان په خلاف د شك اظهار اوكړلو چه معلومه نه ده په راروان وخت كښے به هغه څه كوى. معاهده به ماتوى اوكه په معاهده به وفا كوى؟

چونكه ابوسفيان د يو يے موقعه تردد اظهار كړے وو نوهرقل خكه دے ته څه توجه ورنكړله. دابن اسحاق رحمه الله په روايت كښے تصريح ده. «فوالله ما التفت إليها منى» (١)

دغه شان دحضرت عروه رحمه الله په مرسل روايت كښے دى چه د «فهل يغدر إذا عاهد؟» په جواب كښے ابوسفيان اوونيل، «لا، إلا أن يغدر فى هدنته هذه» چه هغه معاهده نه ماتوى البته كيدے شى چه په موجوده صلح كښے معاهده ماته كړى. په دے باندے هرقل تپوس اوكړلو په دے صلح كښے ولے ويره ده؟ نو ابوسفيان اوونيل چه زما قوم دهغه د حليفانو خلاف د خپل حليفانو مدد كړے دے. په دے باندے هرقل اوونيل. «إن كنتم بدأتم فأنتم أغدر» كه تاسو ابتداء كړى وى نوهم تاسو زيات معاهده ماتونكى ئے. (٢)

قوله: قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ: دا نهم سوال دے تپوس ئے اوكړلو آيا تاسو هغوى سره جنگ كړے دے؟

دلته هرقل دقتال نسبت كافرانو ته كړے دے نبى كريم ﷺ ته ئے نسبت نه دے كړے چه داسے ئے وئيلى وو. «فهل قاتلكم»

ددے وجے ياخو د نبى ﷺ تعظيم اواحترام دے يا ددے وجے چه نبى د خپل قوم سره په جنگ كولو كښے ابتداء نه كوى. يا ددے وجے چه قتال خو هغه څوك كوى چه د چې ډله ختميږى اوكميږى. د چا جمعيت چه زياتيږى دهغه جنگ ته څه ضرورت دے د نبى كريم ﷺ متعبين زياتيدل اود قريشو ډله ختميدله اوكميدله نوقريشو ته د منازعت او ابتداء بالقتال ضرورت وو. نبى كريم ﷺ ته هډو ضرورت نه وو. (٣)

---

(١) فتح البارى(١/٣٦)_

(٢) فتح البارى(١/٣٦)_

(٣) فتح البارى(٨/٢١٨) كتاب التفسير. سورة آل عمران باب ﴿قل ..وبينكم﴾_

قوله **قُلْتُ نَعَمْ**: ما اوونيل آو مونږ هغوى سره جنګ کړے دے.

قوله **قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ**: دا لسم سوال دے.هغه تپوس اوکړلو.نوبيا ستاسو دهغوى سره جنګ څنګه وو؟

قوله **قُلْتُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالٌ يَنَالُ مِنَّا وَنَنَالُ مِنْهُ**: ما اوونيل.جنګ زمونږ اودهغوى په مينځ کښے د ډولونو د رابنکلو پشان دے.(د اړخ د منګوتوپشان دى) هغوى زمونږ نقصان کوى.اومونږ دهغوى نقصان کوو.نه هغوى هميشه دپاره کامياب وى.اونه مونږ.اړخ بدليږى رابدليږى.

ددے تشبيه مفهوم دا دے.چه څنګه په کوهى باندے ډول وى.چه د يو کس په لاس کښے وى.نو بل کس انتظار کوى.اودغه شان په عکس.کله په کوهى باندے اړخ وى.په هغے کښے تړلى شوى ډولونه په يوخاص ترتيب سره څى راځى.د اوبو نه ډك ډولونه چه کله پورته شى.نوخالى ښکته شى.دجنګ معامله هم د سجال پشان ده.هغه په يو صورت برقرار نه پاتے کيږى.([1])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ..الحرب.اسم جنس دے.او ..سجال.. اسم جمع ده.([2])

علامه عينى رحمه الله فرمائى...سجال.. اسم جمع نه ده.بلکه جمع ده.چونکه ..الحرب.. اسم جنس دے.نوځکه د ..سجال.. په جمع راوړلو کښے څه حرج نشته.([3])

علامه عينى رحمه الله يو بل احتمال دا هم ذکر کړے دے.چه دا د ..سجل.. جمع نه ده.بلکه د..مساجلة.. په معنى کښے ده.په دے صورت کښے د مبتداء اوخبر په مينځ کښے د افراد او جمع اشکال هم باقى نه پاتے کيږى.([4])

علامه سراج الدين بلقينى رحمه الله فرمائى.چه ابوسفيان دلته کښے غلط بيانى کړے ده.په جنګ بدر کښے خو مسلمانانو ته فتح ملاؤ شوے وه.په جنګ احد کښے په اول کښے فتح وه.او روستود تيراندازو د مرکز په پريخودلو په وجه صورةً لږ غوندے شکست ملاؤ شوے وو.ګنى په حقيقت کښے الله اودهغه رسول ته غلبه حاصله شوے وه.([5])

خوحافظ ابن حجر رحمه الله دا نه دى تسليم کړے.هغوى فرمائى.چه دلته ابوسفيان څه غلط بيانى نه ده کړے.بلکه صورت حال دا وو.چه ترهغه وخته پورے د مسلمانانو او کافرانو په مينځ کښے درے جنګونه شوى وو.بدر،احد او خندق.په بدر کښے خو مسلمانان فاتح اوکامياب پاتے شوى وو.په احد کښے اګرچه په اول کښے مسلمانان کامياب وو.خوپه آخر کښے کافرانو ته غلبه حاصله شوے وه.اوددے نه پس په جنګ خندق کښے څه کسان د اخوا نه مړى

---

(١) فتح البارى(١/٢٦)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) عمدة القارى(١/٩٢) بيان الإعراب)_

(٤) پورتنئ حواله)-

(٥) ارشادالسارى للقسطلانى(١/٧٦)_

شوی وو.اوڅه دديخوا نه.خبره برابر په برابر پاتې شوې وه.نود ابوسفيان «الحرب سجال» ونيل بالكل ټيك دی.په دې كښې څه غلط بيانی نشته.په خپله د رسول الله ﷺ نه داسې الفاظ منقول دی.(۱) دحضرت اوس بن حذيفه ثقفی رضی الله عنه په حديث كښې دی.«فلما خرجنا إلى المدينة كانت سجال الحرب بيننا وبينهم ندال عليهم ويدالون علينا» (۲)

قوله .قَالَ مَاذَا يَأْمُرُكُمْ:دا يوولسم سوال دې.هرقل تپوس اوكړلو چه هغه تاسو ته د څه حكم كوی؟

چونكه تراوسه پورې چه كوم تپوسونه اوشول.هغه دشخصی حالاتو متعلق وو او س دده د تعليماتو په باره كښې تپوس كوی.ځكه چه رسول دالله تعالی د طرفه امر كونكې او منع كونكې راځی.

قوله :قُلْتُ يَقُولُ اعْبُدُوا اللَّهَ وَحْدَهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ....:

ابوسفيان وائی.چه هغوی فرمائی.دالله تعالی عبادت كوئ.دهغه سره څوك شريك مه جوړوئ.اوستاسو پلار نيكه چه به څه ونيل.هغه پريږدئ.په هغې باندې ټينګ مه اوسئ.

دلته ابوسفيان دخپل دې جواب په ذريعه هرقل غصه كول غواړی.ځكه چه هغه نصرانی وو.اونصاری د حضرت عيسی علیه السلام د نبوت قائل وو.لكه چه ددې خودلو كوشش نې اوكړلو.چه دهغوی عقيده ستاسو د عقيدې نه خلاف ده.دهغوی په نيز ستاسو د عقيدې څه ګنجائش نشته.(۳)

دعبادت معنی اود سجدې د مسئلې تحقيق دڅه كسانوخيال دې.چه غيرالله ته سجده كه تعظيماً وی اوكه تعبداً وی.شرك جلی دې.او ددې حكم په دنيا كښې وجوب قتل او په آخرت كښې دائمی عذاب دې.دا د دوی په نيز په بت پرستئ كښې داخل ده.

ددوی وينا دا ده.چه د عبادت معنی دا «غاية التذلل» او په سجده كښې د ټولو نه زيات «غاية التذلل» موجود دې.د دې حضراتو په نيز په سجده كښې د تعظيماً او تعبداً تقسيم صحيح نه دې.ځكه چه سجده په خپله تعبد دې.د عبادت معنی علی حد الكمال په دې كښې موجود ده.امام شوكانی رحمه الله په دې باره كښې يوه مستقله رساله «الدر النضيد فی إخلاص كلمة التوحيد» ليكلې ده.(۴)

---

(۱) فتح الباری(۲۱۸/۸) كتاب التفسير.سورة آل عمران)_

(۲) سنن ابی داود كتاب الصلاة أبواب قراءة القرآن وتحزيبه وترتيله باب تحزيب القرآن رقم (۱۳۹۳) وسنن ابن ماجه كتاب إقامة الصلاة باب فی كم يستحب ختم القرآن رقم .(۱۳۴۵)_

(۳) فضل الباری(۲۱۶/۱)_

(۴) فضل الباری(۲۱۶/۱، ۲۱۷)_

خومحققين عالمان ﷺ په سجده كښې دتعبداً او تعظيماً فرق كوى تعبداً سجده شرك جلى دے د بت پرستئ په حكم كښې داخل ده خو تعظيمى سجده د مړو او ژوندو دپاره شرك جلى نه دے البته په شريعت محمديه كښې حرامه ده او د شرك شعبه او گناه كبيره ده دد ے مرتكب مستحق د تعزير او د جهنم د عذاب دے. (١)

خكه چه دا خومعلومه ده چه په مختلفو شريعتونو كښې د حلال او حرام او د نورو احكامو نسخ او تبديلى شوے ده بعضے څيزونه چه په دے امت باندے حرام دى په وړاندے څه امت دپاره حلال وو يا ددے په عكس بلكه داسے قسم نسخ او تبديلى خو هم په يو شريعت كښې په مختلفو زمانو كښې شوے ده لكه د شرابو په باره كښې چه په اسلام كښې شوے ده خودا متفق عليه او يقينى ده چه دحضرت آدم ﷺ نه واخله تر نن ورځې پورے د هيڅ نبى په شريعت كښې د يوے لمحه دپاره هم شرك جلى جائز نه دے گرځولے شوے اونه په يو امت كښې د يو سكنډ دپاره د غيرالله عبادت برداشت كړے شوے دے. ﴿وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ﴾ (٢) په فروعاتو كښې خو اختلاف پاتې شوے دے خو په اصل الاصول ..توحيد.. كښې كله هم په شريعتونو كښې اختلاف نه دے راغلے.

اوس اوگورئ په قرآن كريم كښې دحضرت يوسف ﷺ د ابوين او رونړو په باره كښې راغلى دى. ﴿وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا﴾ (٣) حالانكه پخپله په جيل كښې هغه د شرك نه براءت كوى. ﴿مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ﴾ (٤) او ﴿اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ﴾ نومعاذالله آيا د الله نبى حضرت يعقوب ﷺ شرك كړے وو. بيا سجده دلته په مطلق انحناء باندے هم نشى حمل كيدے خكه چه په قرآن مجيد كښې د ﴿وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا﴾ الفاظ دى.

دغه شان حضرت آدم ﷺ ته د فرشتو سجده په قرآن پاك كښې مذكور ده دا په خپله دالله تعالى حكم وو چه په انكار باندے ترے ابليس ملعون اوگرځولے شو. نوآيا الله تعالى د شرك جلى حكم وركړے وو؟ دلته هم ﴿فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ﴾ الفاظ راغلى دى. په دے كښې هم د انحناء تاويل نشى چليدے په دواړو مقاماتو كښې به تاسو منلو ته مجبوريږئ چه سجده تعظيمى وه تعبدى نه وه. اوپه دواړوكښې به فرق كوئ چه سجده تعبدى شرك جلى دے اوسجده تعظيمى د بت پرستئ اوشرك جلى په حكم كښې نه ده. آو زمونږ په شريعت كښې حرام ده. دحضرت يوسف ﷺ په شريعت كښې جائز وه. (٥)

كه د انصاف په نظر سره اوكتلے شى. نومطلق سجدے ته هرگز شرك جلى نشى وئيلے. كله كله عاشق خپل محبوب ته په زمكه باندے سر كيږدى حالانكه كه دهغه زړه اولټولے شى نو هلته

(١) فضل البارى(٢١٧/١)_

(٢) البينة:٥)_

(٣) يوسف:٩٩)_

(٤) يوسف:٢٨)_

(٥) تفسيرابن كثير(٤٩١/٢) سورة يوسف)_

د شرك شائبه هم نه وي.بلکه د محبت يوه دلي جذبه وي.کومه چه د جهالت اوحماقت د وجې دا صورت اختيار کړي.اومقصد د محبوب راضي کول وي دا شرك جلي هرګز نه دے.(۱) دا خو وو الزامي جواب

تحقيقي جواب ترکومې پورې چه ددے اشکال تعلق دے.چه عبادت غايت تذلل ته وائي. نو مطلق سجده به عبادت شمارلے شي.په دے کښې به د تعظيم او تعبد تقسيم نه جاري کيږي.

نو ددے تحقيقي جواب حضرت شاه ولي الله رحمه الله په حجة الله البالغة کښې ورکړے دے.چه عبادت اقصي تذلل ته وائي.اوددے دوه حيثيتونه دي.يوصورة مثلاً چه کله په زمکه باندے تندے کيږدي.اويو نية و ارادة.اعتقاداً وقلباً کله چه په دواړو حيثيتونو سره تذلل جمع شي.نوپه دغه وخت کښې به حقيقي غايت تذلل متحقق کيږي.اوهم ددے نوم عبادت دے.اوکه دا نه وي.نوعبادت به متحقق نه وي.سجده تعظيمي اوسجده تعبدي په ظاهر کښې دواړه برابردي.دواړه په غايت تذلل باندے دلالت کوي.خو د نيت اواعتقاد په لحاظ سره په دواړو کښې ډير فرق دے.هرسړے چه غور اوکړي.نو پوهيدلے شي.چه دخپل ځان پشان انسان چه هغه د احتياج ،حدوث،اوامکان په شوائبو کښې ملوث وي.اوپه هيڅ حيثيت سره هغه د ممکناتو د دائرے نه اوچت نه ګنړي.اومعبوديت د شان هيڅ يو صفت دهغه دپاره نه ثابتوي.خود څه جذبے نه متاثره شي.اودجهالت او حماقت په وجه هغه ته سجده اوکړي.اوتعظيم ئے مقصد وي.لکه رعيت چه بادشاهانو ته سجده اوکړي.ياشاګرد استاذ ته اومريد پير ته سجده اوکړي.يا د تعظيم نه علاوه څه بله جذبه وي.لکه چه عاشق محبوب ته سجده اوکړي.نودا په عبادت او شرك جلي کښې داخل نه ده.ددے سجدے په مقدار تذلل اودهغه سجدے په مقدار تذلل کښې فرق يقيني دے.څکه چه په يوه کښې مسجود د عيبونو نه پاك.منزه.اود شان معبوديت لائق ګنړلے شي.په يو خاص صفت کښې تيك ده اوپه دويمه کښې مسجود داسے نشي ګنړلے.اولنے صورت د شرك جلي دے.اود بت پرستئ په حکم کښې دے.اودويم صورت داسے نه دے.(۲)

تنبيه خوياد ساتئ چه دا فرق به په هغه وخت کښې وي.چه کله څه داسے څيز ته سجده اوکړي.چه هغه د کفر اوشرك شعار نه وي.اوهغه څيز د مشرکانو معبود نشي شمارلے ګنړے صنم او بت ته سجده کول کوم چه د کفر او شرك شعار دے.مطلقاً شرك جلي دے.اګرچه هغه په ژبه باندے وائي.چه زما نيت د تعبد نه بلکه د تعظيم دے(۳)

د شرک قسمونه د شرك څو قسمونه دي.

① يودا چه د تعدد آله عقيده وي.لکه د مجوسيانو په نيز چه يزدان او اهرمن دي.

② دويم صورت دا دے.چه دالله تعالى په خاص صفت کښې څوك په څه درجه کښې شريك او مختار اوګنړي.اګرچه صرف په اختيار او نفاذ کښې وي.مثلاً اعتقاد ساتي.چه په اصل کښې

---

(۱) فضل الباري(۱/۲۱۷،۲۱۸)۔

(۲) فضل الباري(۱/۲۱۸،۲۱۹)۔

(۳) پورتنئ حواله)۔

خو خدائي يو دے.خوځه فرشتے او روحونه داسے دي.چه په دنيا كښے د بندګانو كارونه (اعطائے مال واولاد وغيره) هغوي ته حواله دي.دا اختيار دوي ته هم الله تعالى وركړے دے.خوددے اختياراتو په استعمال كښے دوي اوس آزاد دي.اوس دوي ته مزيد چاته د رجوع كولو ضرورت نشته.لكه په دنيا كښے چه حاكمانو ته د بادشاه د طرفه اختيار ملاؤ شوے وي.هغه بياد هغے په استعمال كښے بااختيار وي.نوكله هغوي خپل دا اختيار استعمالوي.اوبادشاه ته خبر نه وي.د مكے د مشركانو هم دا عقيده وه.

﴿وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ﴾ (١) او ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾ (٢) د دوي وينا وه.چه ﴿هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ﴾ په حج كښے د دوي تلبيه وه.«لبيك لا شريك لك،إلا شريكاً هولك تملكه وماملك» (٣) دوي به الله تعالى د ټولو نه لوئے اوقادر مطلق منلو.دخپلو معبودانو اختيارات ئے د الله تعالى وركړه ګڼړله.اومعبودان به ئے دالله تعالى مملوكان ګڼړل.صرف دومره به ئے ونيل.چه ددے اختياراتو د ملاويدو نه پس دوي ددے په نفاذ كښے بااختياره اومستقل دي.

د مشركانو عقائد: شاه ولى الله رحمه الله تصريح كړے ده.چه دنبي ﷺ په زمانه كښے اهل جاهليت دا منله .چه آسمان او زمكه او چه كوم جواهر د دوي په مينځ كښے دي.ددے په پيدا كولو كښے دالله تعالى سره څوك شريك نشته.د لويو لويو كارونو په تدبير كښے دهغه سره څوك شريك نشته.دهغه حكم څوك رد كولے نشي.اوچه قضاء مبرم او قطعي وي.نوهغه څوك ايسارولے نشي.(٤)

شاه صاحب رحمه الله فرمائي.«لكن كان من زندقتهم قولهم إن هنالك أشخاصاً من الملائكة والأرواح تدبرأهل الأرض فيما دون الأمور العظام من إصلاح العابد فيما يرجع إلى خويصة نفسه وأولاده وأمواله وشبهوهم بحال الملوك بالنسبة إلى ملك الملوك وبحال الشفعاء والندماء بالنسبة إلى السلطان المتصرف بالجبروت ومنشأ ذلك ما نطقت به الشرائع من تفويض الأمور إلى الملائكة واستجابة دعاء المقربين من الناس،فظنوا ذلك تصرفاً منهم،كتصرف الملوك قياساً للغائب على الشاهد وهوالفساد» (٥)

دحضرت شاه صاحب رحمه الله په دے تقرير سره ډيرلوئے فرق ښكاره شو.هغه دا چه د مسلمانانو هم عقيده ده.اود نصوصو نه هم ثابت دي.چه ډير انتظامات فرشتو ته حواله

---

(١) لقمان:٣٥)_

(٢) الزمراء :٢)-

(٣) صحيح مسلم (٣٧٦/١) كتاب الحج باب التلبية وصفتها ووقتها)_

(٤) حجة الله البالغة (١٢٥/١) المبحث السادس باب بيان ما كان عليه أهل الجاهلية فأصلحه النبي ﷺ)_

(٥) پورتني حواله)_

دی باران چاته حواله دے د مرگ معامله چاته حواله ده.[۱] مشرکان هم د زمانے حوادث فرشتو ته حواله کوی خوفرق دا دے چه مشرکان خپل معبودان د اختیار په استعمال کښے خود مختار اومستقل بالذات گنړی. دهغوی دخوشحاله کولو دپاره د هغوی عبادت کوی چه دوی خفه نشی اوپه مصیبت کښے مو اخته نکړی لکه څنګه چه حاکمان وی هغوی خپل اختیارات څنګه چه مناسب گنړی. استعمالوی خود مسلمانانو په نیز فرشتے خود مختارے نه دی چه څنګه غواړی . اختیارات استعمالوی د دوی په نیز د آسمان دپاسه، د زمکے په ویخ کښے اود سمندر په تل کښے چه څه کیږی تردے که په یوخانے کښے پانړه هم غورځیږی .نوهغه هم الله تعالی پیژنی اود هغه په حکم سره راغورځیږی ارشاد ربانی دے.

﴿ وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴾[۲] او ﴿إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ﴾[۳] دغه شان فرمائی. ﴿اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ﴾[۴] په حدیث کښے د نبی کریم ﷺ ارشاد دے.«إن الله قد وكل بالرحم ملكاً فيقول: أى رب نطفة أى رب علقة، أى رب مضغة، فإذا أراد الله أن يقضى خلقاً قال: قال الملك أى رب ذكر أو أنثى؟ شقى أو سعيد؟ فما الرزق فما الأجل؟ فيكتب كذلك فى بطن أمه»[۵]

تردے چه نمر کوم چه بعضے خلقو معبود جوړ کړے دے د مسلمانانو په نیز ددے طلوع او غروب هم د پروردیګار د اجازت نه بغیر نه کیږی.[۶]

په اسلام کښے دالله تعالی نه سوا چاته په څه خبره کښے د اوری د دانے برابر مستقل اختیار ثابت نه دے بعضے جاهلان چه د غیرالله سره د مشرکانو پشان سلوك کوی دا صورة ضرور شرك سره مشابه دے خود زړه په اعتقاد کښے ډیر فرق دے د مشرکانو په عکس خکه چه هغوی دخپلو معبودانو لره مستقل اختیارات ثابتوی .هغوی د عبادت مستحق گنړی.د

---

(۱) عن عبدالرحمن بن سابط قال:يدبر أمرالدنيا أربعة جبريل وميكائيل. وملك الموت.وإسرافيل.فأما جبريل فوكل بالرياح والجنود وأما ميكائيل فوكل بالقطروالنبات وأما ملك الموت فوكل بقبض الأرواح وأما إسرافيل فهو ينزل الأمر عليهم.شعب الإيمان للبيهقى (١٧٧/١) باب فى الإيمان بالملائكة فصل فى معرفة الملائكة)_

(۲) سورة الأنعام:۵۹)_

(۳) الأنعام:۹۵)_

(۴) الرعد:۸)_

(۵) صحيح مسلم (٣٣٣/٢) كتاب القدر.باب كيفية خلق الآدمى فى بطن أمه...)_

(۶) عن ابى ذر قال: قال النبى ﷺ لأبى ذر حين غربت الشمس:أتدرى أين تذهب ؟قلت؟ الله ورسوله أعلم.قال فإنها تذهب حتى تسجد تحت العرش فتستأذن فيؤذن لها.ويوشک أن تسجد فلا يقبل منها.وتستأذن فلا يؤذن لها. يقال لها:ارجعى من حيث جئت فتطلع من مغربها صحيح بخارى(٤٥٤/١) كتاب بدء الخلق باب صفة الشمس والقمر بحسبان)_

راضي كولو دپاره هغوى ته سجدے كوى. اودا گنړى. كه مونږ دوى راضي نه بللو. د دوى عبادت مو اونكړلو. د دوى په نومونو باندے مو نذرونه اونكړل. نو دوى به مونږ ته نقصان اورسوى. دا د ((شرك في التكوين)) صورت دے.

شرك في التشريع يوشرك في التشريع دے. چه په احكامو كښے د حلالو او حرامو اختيار مستقل د چا دپاره ثابت كړے شى. لكه چه د نصاروچه دخپلو پادريانو په باره كښے عقيده ده ابن الاثير رحمه الله په ((الكامل)) كښے تاريخ وار ليكلى دى. چه په فلانى فلانى كال كښے لوئے لوئے پادريان راجمع شوى وو. اوهغوى د تحليل او تحريم فيصلے كړے وے.(١) هم دا عقيده د يهوديانو د خپلو احبارو او عالمانو په باره كښے وه. ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ﴾(٢)

كله چه دا آيت نازل شو. نوحضرت عدى بن حاتم رضي الله عنه چه وړاندے نصرانى وو. تپوس اوكړلو يارسول الله هغوى خو د دوى عبادت نه كوى. نو بيا ئے ارباب ونيلے اوفرمائيل؟ نو نبى ﷺ ورته جواب وركړلو. ((أما إنهم لم يكونوا يعبدونهم، لكنهم كانوا إذا أحلوا شيأ استحلوه وإذا حرموا عليهم شيأ حرموه))(٣)

شرك في التشريع او تقليد په شرك في التشريع او تقليد كښے لوئے فرق دے. په شرك في التشريع كښے د تحليل او تحريم اختيار احبار او رهبانو ته حاصل وى. او په تقليد كښے د ائمه مجتهدينو رحمهم الله دپاره د اورى د دانے برابر هم اختيار تشريع نه دے منلے شوے ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ د پيغمبر ﷺ بيان چونكه دالله تعالى د طرفه په حلال او حرام باندے دليل قطعى وى. څكه د هغے اتباع كولے شى. او په تقليد كښے په ((راسخون في العلم)) باندے د هغوى د بصيرت په اعتبار سره د هغوى په استنباط او فتاوو باندے اعتماد كولے شى.

حضرت شاه ولى الله رحمه الله څه ښكاره او قطعى خبره كړے ده. ((وسر ذلك أن التحليل والتحريم عبارة عن تكوين نافذ في الملكوت أن الشيء الفلاني يؤاخذ به، أولا يؤاخذ به، فيكون هذا التكوين سببا للمؤاخذة وتركها، وهذا من صفات الله تعالى، وأما نسبة التحليل والتحريم إلى النبي ﷺ فبمعنى أن قوله أمارة قطعية لتحليل الله وتحريمه، وأما نسبتها إلى المجتهدين من أمته فبمعنى روايتهم ذلك عن الشرع من نص الشارع أو استنباط معنى من كلامه))(٤)

---

(١) الكامل في التاريخ لابن الأثير (١٨٩/١. ١٩١) الطبقة الثانية من ملوك الروم المنتصرة)_

(٢) التوبة: ٣١)_

(٣) سنن ترمذى كتاب التفسير باب ومن سورة التوبة رقم. ٣٠٩٥)_

(٤) حجة الله البالغة (٦٢/١) المبحث السادس باب أقسام الشرك)_

په تحليل او تحريم كښې مختار كنړل د ..رب.. سره دد ے وجے مرادف دى.چه په تحليل اوتحريم سره په حكومت كښے يو حكم نافذ كيږى.چه په فلانى څيز باندے مؤاخذه شته او په فلانى باندے نشته.اوصرف دومره وئيل د نيولو او نه نيولو سبب جوړيږى.اودا د الله تعالى په صفاتو كښے دے.رسول اكرم ﷺ او مجتهدينو ﷺ ته د تحليل او تحريم نسبت په دے معنى هرگز نه دے.

خلاصه د كلام دا شوه.چه دالله تعالى په صفت كښے څوك په څه درجه كښے شريك جوړل او مختار كنړل برابره ده كه په نفاذ كښے ورته مستقل اختيار وركړى يا په تشريع كښے د چا دپاره مستقل اختيار ثابت كړى.دا ټول شرك دے.او داسے قسم عقيده ساتل اوچاته سجده كول عبادت لغير الله اوشرك جلى دے.اود بت پرستۍ په حكم كښے دے.بغير د توبه نه په دنيا كښے د ارتداد د وجے واجب القتل دے.اوپه آخرت كښے مخلد في النار دے.او دداسے قسم اعتقاد نه بغير چاته صرف د تعظيم دپاره دجهالت او ضلالت د وجے سجده كول په شريعت محمديه كښے فسق او حرام ده.بدعت اوگناه ده.دد ے مرتكب فاسق اومستحق التعزير دے.هرڅه دى.خو شرك جلى او بيخى د بت پرستۍ په حكم كښے نه ده.((هذا هو منهب المحققين ومسلك أهل التحقيق من المتأخرين))(١)

قوله: وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ: اوهغه مونږ ته د مونځ رښتيا وينا ،پاكدامنۍ او خپلولۍ ساتلو حكم كوى.

دلته كښے ،صدق،، واقع شوے دے.خو په بل روايت كښے د ،صدقة.لفظ راغلے دے.(٢)

علامه سراج الدين بلقينى رحمه الله هم دا راجح گرخولے ده.يوخو دد ے وجے چه هم دا روايت وړاندے راغې.په هغے كښے د ..صلاة..سره د زكواة ذكر دے.(٣)

دويمه وجه دا ده.چه ..صلاة.. او ..زكواة.. په كتاب الله كښے مقرون ذكر شوى دى.او دريمه وجه دا ده.چه عربيان راست بازى اورښتيا وينا ډيره ښه گنړى.نوځكه دد ے د ذكر ضرورت نشته.(٤)

خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه د رښتيا وينا ښه گنړلو نه دا چرته لازميږى.چه دوى د دے حكم اونكړى.گورئ خلق وفاء بالعهد ښه گنړى.دغه شان امانت ښه گنړى.نبى اكرم ﷺ دد ے امر هم كړے دے.(٥)

---

(١) د دے ټول بحث د تفصيل دپاره اووړئ فضل البارى(١/ ٢١٦، ٢٢٣) دغه شان درس بخارى شريف از شيخ الاسلام علامه عثمانى رحمه الله ضبط وتحرير مولانا عبدالوحيد صديقى فتح پورى(ص، ٩٠،

(٢)كتاب الجهاد باب دعاء النبي ﷺ الناس إلى الإسلام والنبوة رقم،(٢٩٤١)_

(٣) كتاب التفسير.تفسير سورة آل عمران باب (قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ) رقم (٤٥٥٣)_

(٤) فتح ا لبارى(١/ ٢٦)_

(٥) سابقه حواله)_

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه راجح هم د ..صدق..لفظ دے د..صدقة.. نه دے ځکه چه ترکومے پورے د صدقه او زکواة تعلق دے نودا د ..صله.. په عموم کښے داخل دے او ..صدق.. کښے زیاتی فائده ده.باقی پاتے شوه دا خبره چه په کتاب الله کښے ..صلواة.. او ..زکواة.. مقرون ذکر شوی دی نودا د ترجیح دلیل نه دے ځکه چه ابوسفیان په هغه وخت کښے د دے دواړو د اقتران علم نه لرلو.(١)

خوراجح هم دامعلومیږی چه په اصل کښے دلته د ..صدق.. او ..صدقة.. دواړه الفاظ وی.د راویانو د تصرف د وجے په څه ځائے کښے صرف ..صدق.. ذکر دے اوپه څه ځائے کښے صرف ..صدقة.. مذکور دے اوپه څه ځائے کښے د ..صدقة.. په ځائے د ..زکواة.. لفظ ذکر دے.ددے ترجیح داسے معلومیږی چه د کشمیهنی او سرخسی رحمهما الله په روایت کښے دواړه الفاظ جمع کړے شوی دی.((بالصلاة والصدق والصدقة))(٢)والله اعلم

قوله: فَقَالَ لِلتَّرْجُمَانِ قُلْ لَهُ سَأَلْتُكَ عَنْ نَسَبِهِ فَذَكَرْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو نَسَبٍ فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي نَسَبِ قَوْمِهَا: هرقل ترجمان ته اوونیل چه دوی ته اووایه چه ماستاسو نه دهغه د نسب په باره کښے تپوس اوکړلو.تاسو اوخودل چه هغه په تاسوکښے اوچت نسب خاوند دے.هم داسے ده.چه پیغمبران علیهم السلام په خپل قوم کښے د ټولو نه په اوچت خاندان کښے رالیږلی شی.

کله چه هرقل د ترجمان په ذریعه د ابوسفیان نه د نبی ﷺ ابتدائی حالات معلوم کړل اود دوی اخلاق او صفات ئے ترے معلوم کړل.نو ددے نه پس هغه د ابوسفیان په جوابونو باندے تبصره اوکړله.دا تبصره په دے خبره دلالت کوی.چه هرقل د ذهانت او فطانت خاوند وو.د مذاهبو او ملتونو نه واقف وو.او د پیغمبرانوعلیهم السلام د حالاتو نه بنه واقف وو.د هغوی دصفاتو علم اود هغوی سره چه د قوم څه معامله پیښیږی.د هغے ټولو ورته علم وو.(٣)

د سوالونو په جوابونو باندے چه د هرقل کومه تبصره دلته کښے ذکر شوے ده.دا د سوالونو د ترتیب مطابق نه ده.بلکه تقدیم او تاخیر په کښے شوے دے.بیا د لسم او یوولسم سوال متعلق دلته څه تبصره هم ذکر نه ده.دا د راوی د طرفه دی.هم دا روایت په کتاب الجهاد کښے په کامله طریقه باندے راځی.هلته د سوالونو د ترتیب مطابق د هرقل تبصره موجود ده.

دلته کښے دا اولنے سوال دے.او په دے باندے تبصره هم په اول نمبر ده.اوددے مطلب دا دے.چه حضرات انبیاء علیهم السلام په خپل قوم کښے د ټولو نه په غوره خاندان کښے رالیږلی شی.ځکه چه کوم کس د اوچت خاندان سره تعلق ساتی.هغه خامخا غلطه خبره نه

(١) عمدة القاری(٨٨/١)۔

(٢) فتح الباری(٣٦/١) وعمدة القاری(٨٨/١)۔

(٣) فتح الباری(٣٦/١)۔

کوی.اونور خلق دهغه په تابعدارئ اوانقیاط کښے شرم نه محسوسوی.اوکه د کمزوری خاندان کس وی.نوکوم کسان چه د اوچت خاندان وی.هغوی دښکته خاندان په تابعدارئ کښے شرم محسوسوی.

ددے نه معلومه شوه.چه د اوچت نسب په شریعت کښے لحاظ ساتلی شی.اوحقیقت هم دا دے.په دے خبره داهل حق اتفاق دے.چه خلافت د قریشو دے.خکه چه دا په دنیا کښے دټولو نه اوچت قوم دے.

خودا اوپیژنئ.چه دا نسب په هغه وخت کښے فائده مند وی.کله چه ورسره دین او تقوی وی.نبی کریم ﷺ حضرت فاطمه ؓ ته فرمائیلی وو.((یافاطمة أنقذی نفسك من النار فإنی لا أملك لکم من الله شیا))(۱)خپل خان د اور نه بچ کړه.زه تا ته څه فائده نشم درکولے که الله تعالی تا رانیسی.نوزه څه نشم کولے.اوپه قرآن کریم کښے ښکاره وائی.﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾(۲)دالله تعالی په نیز د ټولو نه معزز اوقدرمند کس هغه دے.خوك چه د ټولو نه زیات پرهیزګار وی.نواصلی څیز پرهیزګاری ده.خوددے پرهیزګارئ سره که شرافت نسبی هم شامل شی.نوبیا مرتبه نوره هم اوچتیږی.که یو کس پرهیزګار وی.اوکم نسبه وی.اوبل کس فاسق او فاجر وی.اوعالی النسب وی.نودهغه نه دغه پرهیزګار په قرآنی نص سره په مرتبه کښے اوچت دے.خوکه څوك عالی النسب وی.او ورسره ورسره پرهیزګار هم وی نو دخپل اوچت نسب په وجه دے دهغه کس نه چه اوچت نسب نه لری. اوچتیږی خکه چه کوم د اوچت خاندان خلق وی.په هغوی کښے د فضائلو او کمالاتو جوهر زیات مضبوط وی.نوچه کله هغه دین ته تیټ شی.نو دهغه تیتیدل به د اوچتے درجے وی.اود استعداد د اوچتوالی د وجے دهغه ترقی زر او زیاته کیږی.

اوګورئ یوطالب علم که غبی وی.خوهروخت محنت کوی.اوبل ذهین دے.خو آزاد اوفضول ګرځی.نودے غبی ته به په دے ذهین باندے فضیلت حاصلیږی.خکه چه هغه سره دعلم پنګه ده.اودغه ذهین سره د ذهانت باوجود څه نشته.خوکه دغه ذهین په علم کښے اولګی.نودخپل ذهانت په وجه به د دغه غبی کس نه په علم او فضیلت کښے په څوچنده زیات شی.

بعضے خلقو ددے جملے مطلب دا اخستے دے.چه نبی هم په خپل قوم کښے مبعوث کیږی.داسے نه ده چه خپل نسبی قوم پریږدی.او نورو ته پیغمبر شی.بیا دے خلقو ددے قانون نه دحضرت لوط ؑ استثناء کړے ده.خکه چه هغه نبی وو.خوپه خپل قوم کښے مبعوث شوے نه وو.خودا غلطه ده.دهرقل تبصره د ابوسفیان په جواب کښے ((هوفینا ذونسب)) باندے ده.اوپه دے کښے تنوین دتعظیم دپاره دے.نو ددے مطابق هم دا معنی کول پکار دی.یعنی څنګه چه تاسو اوونیل.هم دغه شان کیږی.چه نبی ﷺ په خپل قوم کښے د ټولو نه د اعلی

---

(۱) صحیح مسلم (۱/۱۱۴) کتاب الإیمان باب بیان أن من مات علی الکفر فهو فی النار)۔

(۲) الحجرات:۱۳)_

او اشرف نسب سره تعلق ساتی لفظ د ..کذلك.. دلته ددے معنی په صحت باندے ښکاره دلالت کوی (١)

قوله وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ أَحَدٌ مِنْكُمْ هٰذَا الْقَوْلَ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا: دا د سوالونو په ترتیب کښے په دویم نمبر باندے دے او دلته په تبصره کښے هم په دویم نمبر دے یعنی ما ستا نه سوال کړے وو چه په دوی کښے چا دده نه وړاندے د نبوت دعوی کړے وه نو تا اوونیل چه نه.

قوله فَقُلْتُ لَوْ كَانَ أَحَدٌ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ قَبْلَهُ لَقُلْتُ رَجُلٌ يَأْتَسِي بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ: نوما په زړه کښے اوونیل که چا دده نه وړاندے دا دعوی کړے وه نوما به ونیلی وو چه دا سړے دهغے قول اتباع کوی کومه چه دده نه وړاندے ونیلے شوے وه.

مطلب دا چه هرقل دا وائی چه که چا وړاندے دا دعوی کړے وه نودا به ګنړلی شو چه دے هم دهغه اقتداء کوی خوهرکله چه چا د وړاندے دعوی کړے نه ده نو بیا به څنګه ګنړلی شی چه دے د بل په تابعداریٔ کښے دعوی کوی ددے نه خو معلومیږی چه دے په حقیقت کښے پیغمبر دے نوځکه ئے د نبوت اعلان کړے دے.

حقیقت هم دا دے چه شپږ سوه کاله تیر شوی وو او په دے کښے چا هم دده نه وړاندے د نبوت دعوی نه وه کړے او نبی ﷺ د نبوت دعوی اوکړله نوځوکسان راپاسیدل او ددوی په ژوند کښے څو کسان مدعیان د نبوت شول او د نبی ﷺ د وفات نه پس هم څو کسانو د نبوت دعوے اوکړلے خو د حضرت عیسی علیه السلام نه پس تر د نبی اکرم ﷺ پورے څوك هم مدعی د نبوت نه دے ښکاره شوے د دے نه معلومیږی چه نبی ﷺ د چا په اقتداء او اتباع کښے د نبوت دعوی نه ده کړے بلکه الله تعالی دوی پیغمبر جوړ کړی وو نوځکه دوی د نبوت اعلان اوکړلو.

په دے جمله کښے اولنے ..قلت.. د ..قلت في نفسی.. په معنی کښے دے او دویم ..قلت.. نه قول لسانی مراد دے روستو د ترجمه او تشریح نه دا خبره ښه په ذهن کښے پریوتونکے راروانه ده.

قوله وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا: دا د سوالونو په ترتیب کښے په دریم نمبر باندے دے او په تبصره کښے هم په دریم نمبر دے مطلب دا دے چه هرقل اوونیل ماستا نه تپوس اوکړلو چه دده په پلارانو او مشرانو کښے څوك بادشاه تیر شوے دے نوتا اوونیل چه نه.

قوله قُلْتُ فَلَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ أَبِيهِ: مطلب دا دے که دده په خاندان کښے څوك بادشاه تیر شوے وے نوما به ونیلی وو چه دا کس د نبوت دعوی صرف د بادشاهیٔ دپاره کوی.

---

(١) فضل الباری (١/٢٢٤)_

په ذکر شوی دواړو سوالونو کښې اولنے سوال «هل قال أحد منکم هذا القول» عزت باطنی سره متعلق دے. اودویم سوال «هل کان من آبائه من ملك» د دنیوی جاه او مرتبې سره متعلق دے.
دلته کښې دا خبره هم قابل غور ده. چه هرقل د دویم او دریم سوال په جواب باندے کله تبصره کوله نو وے وئیل چه ..قلت.. د باقی سوالونو په جواب باندے چه ئے تبصره کوله نو ..قلت.. ئے نه دی وئیلی. د دے وجه دا ده. چه دا دواړه څیزونه د فکر او نظر محتاج دی. اودباقی کوموڅیزونو په باره کښې چه هرقل تپوسونه کړی وو او هغه ته جوابونه ملاؤ شوی وو. هغه د فکر اوغور محتاج نه وو.(١) ښکاره ده. چه دهغې متعلق هرقل څه وئیلی وو. هغه ئے د آسمانی کتابونو د معلوماتو په رڼاکښې وئیلی وو.

قوله: وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا فَقَدْ أَعْرِفُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَذَرَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ وَيَكْذِبَ عَلَى اللَّهِ: هرقل اووئیل. ماستا نه دا تپوس اوکړلو. چه د نبوت د دعوی نه وړاندے تاسو په هغه باندے د دروغو الزام خو نه دے لګولے. نوتا جواب راکړلو. چه نه. زه پوهیږم. چه هغه به داسے نه وی چه دخلقو په معاملاتو کښې دروغ او افتراء کوی. اوپه الله تعالی به دومره لوئے بهتان تړی.
مطلب دا دے. چه کوم کس په خپل پوره ژوند کښې څه قسم دروغ نه وی وئیلے. هغه به یکدم د نبوت غوندے لویه دعوی څنګه کولے شی. څوك چه دمخلوق په باره کښې دومره محتاط وی. هغه دالله تعالی په باره کښې داسے قسم بیباکی څنګه کولے شی؟!
دهرقل مقصد دا وو. چه پیغمبر ته د الله تعالی دجواب ورکولو او تپوس کولو یقین وی. نوځکه هغه د انسانانو په باره کښې هیڅ قسم غلط بیانی نه کوی. نو بیا دالله تعالی په باره کښې داسے دعوی ،دهوکه او فریب څنګه کولے شی.
دهرقل ددے خبرے نه دا هم معلومه شوه. چه دے اهل کتاب وو. نوځکه د پخوانو کتابونو نه د نبی ﷺ د حالاتو نه واقف وو. نوځکه د زړه خبره اوس په ژبه باندے راخی. اودا هم مقصد دے. چه په دے سوال او جواب سره د ملك نورو کسانو ته د نبی ﷺ صداقت او د نبوت د دعوے صداقت ښکاره شی. اوپه خپله د هرقل دپاره د ایمان اعلان کولو لاره همواره شی.

قوله: وَسَأَلْتُكَ أَشْرَافُ النَّاسِ اتَّبَعُوهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَذَكَرْتَ أَنَّ ضُعَفَاءَهُمُ اتَّبَعُوهُ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ:
دا د سوالونو په ترتیب کښې څلورم سوال دے. اودلته په پنځم نمبر دے. یعنی ما ستا نه تپوس کړے وو. چه لوئے خلق دده تابعداری کوی. که کمزوری او ضعیفان؟ نو تا اوخودل. چه کمزورے د ده تابعداری کوی. او حقیقت دا دے. چه د انبیاؤ او مرسلینو تابعدار اکثر کمزوری خلق وی. ددے نه هم د دوی د نبوت تصدیق کیږی.

---

(١) فتح البارى (٣٦/١)_

مراد دا دے چه اول اول ضعيف او كمزوري خلق چه سپك گنړلى شى.هغوى د حضرات انبياؤ په دعوت باندے لبيك وائى.گنى په آخر كښے خو چه الله تعالى يو پيغمبرته ترقى وركړى نوټول دهغه تابعدار جوړ شى.نبى اكرم ﷺ چه كله د دعوت او تبليغ كار شروع كړلو.نوعام طور كمزورے او ضعيفان خلق د دوى په دعوت په اسلام كښے داخل شول.اوبيا په آخر كښے ټول معزز او لوئے لوئے خلق داخل شول.

دهرقل قول چه ((وهم أتباع الرسل)) ددے مطلب دا نه دے.چه په اول كښے صرف كمزورى خلق وى.اوهيڅ څوك معزز د دوى تابعدارى نه كوى.بلكه مطلب دا دے.چه عام طور ضعفاء د دوى تابعدارى كوى.گنى نبى كريم ﷺ چه كله د تبليغ كار شروع كړلو.نوحضرت ابوبكرصديق ؓ او حضرت حمزه ؓ وغيره هم مسلمانان شوى وو.

قوله:وَسَأَلْتُكَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَذَكَرْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ:دا دسوالونو په ترتيب كښے پنځم سوال دے.او په تبصره كښے په شپږم نمبر كښے ذكر دے.
ما ستاته تپوس كړے وو.چه دوى زياتيږى كه كميږى.نوتا اووئيل.چه هغوى زياتيږى

قوله:وَكَذَلِكَ أَمْرُ الْإِيمَانِ حَتَّى يَتِمَّ:دايمان هم دا شان وى.تردے چه پايه تكميل ته اورسى.يعنى هغه ترقى كوى.او د هغے دائره وسيع كيږى.په دے كښے خلق ډلے ډلے داخليږى.او ددوى ډله زياتيږى.

قوله:وَسَأَلْتُكَ أَيَرْتَدُّ أَحَدٌ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا:دا د سوالونو په ترتيب كښے په شپږم نمبر دے.اودلته په اووم نمبر دے.يعنى ما تپوس كړے وو.چه په دوى كښے څوك په اسلام كښے د داخليدو نه پس خپل دين نه د ناخوښئ اود بد گنړلو د وجے مرتد كيږى.نوتا جواب راكړلو.چه نه.څوك نه اوړى.

قوله:وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ حِينَ تُخَالِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ:اودايمان هم دا شان وى.چه كله د ايمان حلاوت زړه ته وركوز شى.اود هغے انشراح په زړه كښے دننه تمام شى.نوبيا هيڅ كس نه مرتد كيږى.مرتد كيږى هغه كس چه د اسلام په باره كښے ورته انشراح نه وى حاصل شوے.اودهغه په زړه كښے د هغے حلاوت نه وى گډ شوے.
بشاشت په اصل كښے هغه حالت ته وائى.دكوم چه د راتلونكى ميلمه سره په ملاقات كولو د انسان په مخ باندے ښكاره كيږى.اودلته د زړه انشراح او اطمينان مراد دے.(١)
دلته په ..بشاشة.. كښے دوه روايتونه دى.
يو روايت خو د ..بشاشة..دے.يعنى ..بشاشة.. مضاف دے.اومضاف اليه ضمير دے.كوم چه ..ايمان..طرف ته راجع دے.په دے صورت كښے ..بشاشة.. د .. تخالط .. فاعل دے.او ..القلوب.. مفعول دے.

(١) عمدة القارى(١/٨٦)_

دويم روايت ((حين يخالط بشاشة القلوب)) دے يعنى ..بشاشة.. مضاف دے او ..القلوب.. مضاف اليه دے په دے صورت كښے ضمير نښته په ..يخالط.. كښے ضمير دفاعل ..ايمان.. طرف ته راجع دے او ..بشاشة القلوب.. مفعول دے.(١)

قوله وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَذَكَرْتَ أَنْ لَا: دا دسوالونو په ترتيب كښے په اتم نمبر دے او په تبصره كښے هم په اتم نمبر دے. يعنى هرقل اوونيل چه ما ستانه تپوس كړے وو چه هغه وعده اوكړى نو هغه ماتوى هم؟ نو تا بيان اوكړلو چه نه. هغه معاهده نه ماتوى.

قوله وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ: حضرات پيغمبران عليهم الصلاة والسلام بے وفائى نه كوى چه معاهده اوكړى نو هغه نه ماتوى. ځكه چه عهد هغه كس ماتوى چه د دنيا د حصے طالب وى. دهغه مقصود دنيا وى. نو دخپل دے مقصد دپاره هغه هره لاره اختيار وى كه هغه دا اوګورى چه عهد ماتولو كښے دنياوى فائده شته. نو د عهد ماتولو پرواه نه كوى او د چا مقصود چه دين او د الله تعالى رضا حاصلول وى. هغه د عهد كولو نه پس هغه پوره كوى.(٢)

قوله وَسَأَلْتُكَ بِمَا يَأْمُرُكُمْ فَذَكَرْتَ أَنَّهُ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَيَنْهَاكُمْ عَنْ عِبَادَةِ الْأَوْثَانِ وَيَأْمُرُكُمْ بِالصَّلَاةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ: دا د سوالونو په ترتيب كښے په يوولسم نمبر دے او دلته په نهم نمبر دے. هرقل اوونيل چه ما ستا نه تپوس اوكړلو چه هغه تاسو ته دكومے خبرے حكم كوى. نو تا اوونيل چه هغه تاسو ته حكم دركوى چه دالله تعالى عبادت كوئ. او دهغه سره څوك شريك مه جوړوئ. او دا چه هغه تاسو د بت پرستئ نه منع كوى. او تاسو ته د مونځ ريښتيا ونيلو او پاكبازئ حكم كوى.

دلته سوال كيږى چه ابوسفيان خو په خپل جواب كښے د ..عبادة الاوثان.. ذكر خو نه وو كړے. نو بيا هرقل د ..نهى عن عبادة الاوثان.. ذكر څنګه اوكړلو؟

ددے جواب دا دے چه په اصل كښے ابوسفيان ((اعبدوا الله ولا تشركوا به شيأ واتركوا مايقول آباءكم)) ونيلى وو. په دے جملو سره د ..عبادة الاوثان.. نه نهى معلوميدله. نو ځكه ئے ددے ذكر اوكړلو.

بيا دلته هرقل د ..صلاة، صدق، او عفاف.. ذكر اوكړلو خود ..صله.. ذكر ئے اونكړلو. دغه شان د هرقل په تبصرو كښے هم هغه ترتيب موجود نه دے كوم چه په سوالونو كښے وو. دغه شان دوه سوالونه يعنى سوال نمبر نهم او سوال نمبر لسم هم نشته

ددے ټولو اشكالاتو اصل جواب هم دا دے چه په حقيقت كښے دلته راوى تصرف كړے دے. اود اختصار نه ئے كار اخستے دے. په بخارى كښے وړاندے په كتاب الجهاد كښے هم دا حديث دهرقل ذكر دے. په هغے كښے په تپوسونو او دهغے په تبصرو كښے ترتيب هم شته. دغه شان هغه دواړه تپوسونه هم هلته مذكور دى كوم چه دلته نه دى ذكر

---

(١) فتح البارى(١/٣٦، ٣٧)_

(٢) فتح البارى(١/٣٧)_

وترکومې پورې چه د ..صله.. دعدم ذکر تعلق دے نو اصل جواب هم دا دے چه دا د راوی تصرف دے خو دا هم ونیلی شي چه دا په ..صدق وعفاف.. کښې داخل ده

قوله فَإِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا فَسَيَمْلِكُ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ لَمْ أَكُنْ أَظُنُّ أَنَّهُ مِنْكُمْ: یعنې څه چه تا اوخودل که دا رښتیا وی نوهغه به د دے ځائے مالك شي په کوم ځائے کښې چه زما دا دواړه قدمونه دی زما دا یقین وو چه هغه بنکاره کیدونکے دے خو دا ګمان مې نه وو چه هغه به په تاسو کښې وی

هم دا روایت په کتاب الجهاد کښې راځي په هغې کښې هرقل په صفتو باندے تبصره کوی او وائي «وهذا صفة نبي» چه دا د نبي صفات دی اود کتاب التفسیر په روایت کښې دی «ان یك ما تقول فیه حقاً فإنه نبي»

دلته یو سوال دا کیږی چه د نبي ﷺ کوم صفات دلته بیان شوی دی دے ته د نبوت علامات خو بیشکه وئیلی شي خو دا د نبوت دلائل قطعیه خو نه دی نو بیا د هرقل په یقین سره دا ونیل چه ..هغه به زما د دے ځائے مالك شي.. اودا چه هغه ..پیغمبر دے.. دا به څنګه تیك شي؟ په علاماتو خو دا سے حکم نشی لګولے

د دے جواب دا دے چه په اصل کښې هرقل په اهل کتابو کښې وو نو ځکه هغه د نبي ﷺ په باره کښې په سابقه کتابونو کښې پیشنګوئي پیژندلے د دغه پیشنګوئیانو په رنړا کښې کله دا علامات د هغه مخې ته راغلل نو د هغه یقین راغلو نو په دے باندے ئے په قطعیت سره حکم اولګولو.

وړاندے وائي چه ما پیژندل چه هغه به تشریف راوړی خو دا راته معلومه نه وه چه هغه به په تاسو کښې وی دهرقل خیال دا وو چه هغه به په څه لوئي قوم کښې وی چه هغه متمدن او ترقی یافته وی دهغه دا توقع نه وه چه هغه به د عربو په غیر متمدن او جاهل قوم کښې تشریف راوړی دا داسے ده لکه چه مشرکانو ونیل ﴿لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ﴾ (الزخرف: ۳۱)_

دلته دا سوال کیږی چه په کتب سابقو کښې خو تصریح وه چه اوس کوم پیغمبر راځي هغه به په بني اسماعیل کښې وی او بنی اسماعیل خو هم عربیان دی نو ته اووایه چه هرقل ته دا خبره یاده نه وه او یا دنبي ﷺ د خبرونو معلومیدو نه پس هغه بدحواسه شو اوهغه سره د خپل حکومت دپاره ویره پیدا شوه نو ځکه هغه غلطه خبره اوکړله بلکه په بعضے روایاتو کښې دی چه کله ..خط مبارك اولوستے شو نو هغه د خولے نه ډك شو اودهغه په تندی باندے خوله راغله.. (۱) هغه سره ویره شوه چه اوس به زما حکومت باقي پاتے نشي د دے ویرے او بدحواسئ په حالت کښې هغه دا غلطه خبره اوکړله.

(۱) کما فی فتح الباري (۱/ ۳۷) وعمدة القاري (۱/ ۸۸)_

قوله فَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لِقَاءَهُ وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمِهِ: كه ماته دا يقين وے چه زه به د هغه خدمت عالى ته اورسم اوپه لاره كښے به زه قتل نكړے شم نوما به دهغه دملاقات دپاره ضرور تكليف برداشت كړے وو. اوكه زه هغه سره ووم نو دهغه پښے مباركے به مے وينځلے وے

ددے نه معلومه شوه چه دهرقل دا يقين وو چه كه دے د خپل سلطنت نه اوځى. اود نبى ﷺ په خدمت كښے د حاضريدو اراده اوكړى نود هغه قوم به هغه ژوندے پرے نګدى خوهغه غور اوفكر اونكړلو كه هغه د رسول الله ﷺ په خط مبارك باندے غور كړے وو اود نبى ﷺ د ارشاد عالى ((اسلم تسلم)) په عموم ئے غور كړے وو نو يقيناً د نبى ﷺ په خدمت كښے به هم حاضر شوے وو. اوسالم به هم پاتے شوے وو. اود دنيا او آخرت دواړو سلامتيا به ورته حاصل شوے وه.

دويمه جمله ((ولوكنت عنده لغسلت عن قدميه)) نه معلوميږى چه هرقل چه نبى ﷺ ته د رسيدلو تمنا ئے كوله. د هغه مقصد څه دنيوى جاه او مرتبه نه وه. بلكه دهغه مقصد د نبى ﷺ وړاندے په خادمانه انداز كښے حاضريدل وو اود دے نه دا هم معلوميږى چه هرقل ته د نبى ﷺ د حقانيت يقين شوے وو.

دهرقل اسلام په دے حقانيت باندے د يقين كولو نه پس هم آيا هغه مسلمان شو او كه نه؟ حافظ ابن عبدالبر رحمه الله خو ليكى دى چه هغه مسلمان شوے وو. (١)

خولكه څنګه چه مونږ وړاندے ذكر كړى دى چه په دلائلو سره دا خبره ثابته ده. چه هغه مسلمان شوے نه وو. هغه چه كله د خپل قوم نفرت اوليدلو نو وے وئيل ((إنى قلت مقالتى آنفاً أختبر بها شدتكم على دينكم فقد رأيت)) (٢) يعنى ما خو په تاسو امتحان كونو چه تاسو په خپل دين باندے خومره كلك ئے. په دے باندے د هغه قوم هغه ته خپل مخونه تيت كړل

بيا په ٨ھ كښے په جنګ موته كښے ده د مسلمانانو خلاف لښكر راوستے وو (٣) اوبيا په غزوه تبوك كښے ده د جنګ تيارے كړے وو (٤) رسول الله ﷺ هغه ته د اسلام دعوت وركړلو اوهغه هم قبولو ته نزدے شوے وو. خو مسلمان شوے نه وو. په مسند احمد كښے دى چه هغه اووئيل ((إنى مسلم)) په دے باندے رسول الله ﷺ اوفرمائيل ((كذب بل هو على نصرانيته)) (٥)

---

(١) هغوى د حضرت دحيه كلبى رضى الله عنه په حالاتو كښے ليكى ((وهوالذى بعثه رسول الله ﷺ إلى قيصر فى الهدنة وذلك فى سنة ست من الهجرة فآمن به قيصر. وأبت بطارقته أن تؤمن)) الاستيعاب(١/٤٧٣)_

(٢) دا جمله دحديث مبحوث عنه په آخر كښے راځى_

(٣) البداية والنهاية (٤/٢٤١. ٢٥٣) غزوة مونه)_

(٤) الكامل لابن الأثير(٢/١٨٩) ذكر غزوة تبوك)_

(٥) فتح البارى(١/٣٧)_

دے دلالت کوی په رڼا کښے د حافظ ابن عبدالبر رحمه الله قول ((فآمن به)) معنی دا کیدے شی چه ((أظهر التصدیق)) یعنی هغه د نبی ﷺ تصدیق اوکړلو اودهغه په زړه کښے د نبی ﷺ حقانیت کیناستلو خو په دے باندے هغه قائم پاتے نشو اونه ئے د هغے په مقتضا باندے عمل اوکړلو لکه چه داسلام طرف ئے صرف خپل رجحان ښکاره کړلو هغه د خپل حکومت بچ کولو فکر اوکړلو اوفانی دنیا ته ئے په باقی پاتے کیدونکے آخرت باندے ترجیح ورکړله.[۱] والله اعلم.

قوله ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي بَعَثَ بِهِ دِحْيَةُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى: بیاهغه د نبی کریم ﷺ خط مبارك راوغوښتلو کوم چه نبی ﷺ دحضرت دحیه رضی الله عنه په واسطه عظیم بصری ته او بیا عظیم بصری هرقل ته رالیږلے وو.

دحیه رضی الله عنه حضرت دحیه بن خلیفه بن فضالة بن زید الکلبی رحمه الله قدیم الاسلام وو.[۲] دغزوه بدر نه سوا په باقی ټولو غزاګانو کښے د نبی ﷺ سره شریك شوے وو.[۳] دحضرت معاویه رضی الله عنه ترخلافته پورے ژوندے وو.[۴]

دے ډیرحسین اوښکلے وو. تردے چه په روایاتو کښے راځی چه کله دے د مدینے کوڅو ته راووتلو نوښځو به د درواوز وغیره نه سرونه راویستل اوکتل به ئے ورته.[۵] نودے به په پرده کښے راوتلو.

وړاندے دا خبره تیره شوے ده چه حضرت جبریل علیه السلام چه به عام طور په انسانی شکل کښے راتلو نود دوی په صورت کښے به راتلو.[۶]

په حضرت جبریل آمین او حضرت دحیه رضی الله عنه کښے مناسبت دا دے چه فرشتے حسن صورت خوښوی هغوی چه کله انسانی صورت اختیاروی نود ښکلی سړی شکل اختیاروی په حدیث جبریل علیه السلام کښے تاسو لوستی دی ((إذ طلع علینا رجل شدید بیاض الثیاب، وشدید سواد الشعر))[ے] چه یوسړے راښکاره شو دهغه جامے ډیرے سپینے وے او ویخته ئے تك تور وو دا ټولے خبرے په حسن باندے دلالت کوی نوځکه حضرت جبریل علیه السلام دا ښکلے صورت اختیار کړلو.

---

(۱) پورتنی حواله)_

(۲) طبقات ابن سعد(۴/۲۵۱) دحیه بن خلیفة)_

(۳) قاله ابن سعد فی الطبقات (۴/۲۵۱) وقال الحافظ فی الإصابة (۱/۴۷۳. ۴۷۴) أول مشاهده الخندق،وقیل أحد ولم یشهد بدراً..وقد شهد دحیة الیرموک)_

(۴) طبقات ابن سعد(۴/۲۵۰)_

(۵) الإصابة(۱/۴۷۳)_

(۶) طبقات ابن سعد(۴/۲۵۰)_

(ے) نظرلحدیث جبریل علیه السلام الصحیح لمسلم .فاتحة کتاب الإیمان)_

ددے نه علاوه دا نکته هم کیدے شی چه الله تعالی حضرت جبریل ﷺ خپل سفیر جوړ کړلو. او نبی ﷺ ته ئے رالیږلو. او رسول الله ﷺ حضرت دحیه رضی الله عنه د دنیا دټولو نه لوئے بادشاه ته خپل سفیر جوړ کړلو چه دحضرت جبریل ﷺ سره مشابه وو. اوهغه سره مناسبت لرونکے وو.

فائده په ،،دحیه،، کښے په دال باندے کسره او فتحه دواړه صورتونه ټیک دی.ددے معنی داهل یمن په ژبه کښے ،،رئیس،، ده.(۱)

قوله: **عظیم بُصْرَیٰ**: د دے نه مراد حارث بن ابی شمرغسانی دے.(۲)

نبی کریم ﷺ چه کله حضرت دحلیه کلبی رضی الله عنه هرقل ته اولیږلو نوبراه راست ئے ورته نه وو لیږلے.بلکه د بصری دګورنر حارث بن ابی شمر په واسطه ئے ورته لیږلے وو. ځکه چه په شاهی آدابو کښے دا خبره وه.چه هغوی ته به براه راست پیغام نشو لیږلے.د بادشاهانو دربار ته به رسیدل درجه په درجه کیدل.اوهیڅ څیز به د واسطے نه بغیر نشو قبلولے.نوځکه نبی کریم ﷺ دعوت نامه د ،،عظیم بصری،، په واسطه اولیږله.(۳)

بصری: بصری د باء په ضمه او الف مقصوره سره دے.دا په شام کښے د حوران ښار یوه علاقه ده.حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه چه کله د عراق نه شام ته دهغه مسلمانانو د مدد دپاره راغلو.کوم چه دلته په جهاد کښے مصروف وو.نوپه هغه وخت کښے مسلمانان په دے ځنے کښے وو.د هغه ځائے خلق په صلح باندے مجبور کړے شو.او په دے طریقه په ۱۳ھ کښے د حوران په ټول ښارد مسلمانانو قبضه راغله.د شام په علاقو کښے د مسلمانانو په لاس فتح شوو ځایونو کښے دا د ټولو نه اولنے ښار دے.(۴)

نبی کریم ﷺ د نبوت نه وړاندے دلته ته دوه ځله تشریف وړے وو.(۵) یو ځل د دولس کالو په عمر کښے د خپل تره سره شام ته د تجارتی سفر په موقع.هم په دے مقام کښے بحیرا راهب نبی ﷺ لیدلے وو.او د نبی ﷺ تره ئے په تاکید سره د حفاظت دپاره د واپس کولو ونیلی وو.(۶) او په دویم ځل د پنځه ویشتو کالو په عمرکښے نبی ﷺ د حضرت خدیجه رضی الله عنها تجارتی سامان اوړے وو.بصری ته لاړو او قیام ئے اوکړلو.اوهلته د ،،نسطورا،، نوم راهب سره ئے ملاقات اوشو.(۷)

---

(۱) فتح الباری(۱/۳۷، ۳۸)_
(۲) فتح الباری(۱/۳۸)_
(۳) فضل الباری(۱/۲۲۶)_
(۴) د تفصیل دپاره اوګورئ معجم البلدان (۱/۴۴۱) او تهذیب الأسماء واللغات (۳/۳۷)_
(۵) تهذیب الأسماء واللغات(۳/۳۷)_
(۶) طبقات ابن سعد (۱/۱۲۱) ذکرابی طالب وعمه رسول الله ﷺ إليه وخروجه معه إلى الشام فى المرة الأولى)_
(۷) طبقات ابن سعد(۱/۱۲۹)_

قوله فَدَفَعَهُ إِلَى هِرَقْلَ :بيا هغه خط هرقل ته پيش کړلو .يعني کله چه هرقل دنبي ﷺ د حالاتو معلومولو نه فارغ شو اودا ورته معلومه شوه چه دا خط اهم دے او د لوستلو قابل دے نو اوس ئے خط هغه ته پيش کړے شو.

قوله فَقَرَأَهُ: هرقل هغه اولوستلو .ددے نه مراد يا خو دا دے چه په خپله هغه خط اولوستلو اودا هم ممکن ده چه ترجمان خط لوستلے وی او ورته ئے ونيلی وی .لکه څنګه چه د کتاب الجهاد په روايت کښے دی ..فقرئ.. چونکه دهرقل په حکم سره لوستلے شوے وو خکه ئے هغه طرف ته نسبت اوشو.

فَإِذَا فِيهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾

نو په هغے کښے ليکلی شوی وو .((بسم الله الرحمن الرحيم)) دالله تعالى بنده اودهغه د رسول محمد (ﷺ) د طرفه د روم سردار هرقل په نوم .په هغه کس دے سلامتيا وی .چه د هدايت تابعداری کوی .زه تاته د اسلام دعوت درکوم .اسلام قبول کړه .نو سالم به پاتے شے .اوالله تعالى به تاته دوچنده ثواب درکړی .اوکه تا مخ واړولو .نود قوم سزا به هم په تا وی .اے اهل کتابو! يوے داسے خبرے طرف ته راشئ: کومه چه زمونږ او ستاسو په مينځ کښے برابر ده .چه مونږ دالله تعالى نه سوا د بل چا عبادت نه کوو .دهغه سره څوك نه شريك کوو .اونه به دالله تعالى نه سوا په مونږ کښے بعضے خلق بعضے نور خدايان جوړوی .بيا که هغوی اعراض اوکړی نوورته اووايه .ګواه شئ: چه مونږ د يو الله منونکی يو.
دلته تاسو ګورئ: چه نبی ﷺ خپل خط د بسم الله الخ نه شروع کړلو .د خطونو په باره کښے د دوی عادت هم دا وو .چه ..بسم الله الخ .. نه به ئے شروع کوله.(١)

قوله مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ: دلته نبی کريم ﷺ خپل عبديت او رسالت دواړه ذکر کړل اوعبديت ئے په رسالت باندے مقدم کړلو .خکه چه اصل څيز خو عبديت دے .الله تعالى مخلوق د عبادت دپاره پيدا کړے دے .چونکه دا د تخليق اصل مقصود دے .نوچه په دے کښے څوك څومره زيات وی .هغه هومره به هغه اوچت او پورته وی .انبياء عليهم الصلاة والسلام ته د نبوت او رسالت په وجه د الله تعالى يو خاص معرفت حاصل وی .چه غير نبی ته په هيڅ صورت کښے نشی حاصليدے خکه ددے حضراتو مقام عبديت د نورو خلقو دمقام عبديت نه ممتاز وی .هغوی په عبديت او بندګئ کښے د ټولو نه

(١) د دے ټولو خطونه هم داسے منقول دی اوګورئ (زادالمعاد(٦٨٨/٣) ذکرهديه ﷺ فی مکاتباته على الملوك وغيرهم)_

وړاندے او د ټولو نه اوچت وی.بیا سرکاردوعالم ﷺ دالله تعالی آخری نبی او د ټولو سردار دے.نوځکه دا یقینی خبره ده.چه د نبی ﷺ عبدیت د ټولو نه اوچت او وړاندے دے.بیا نبی ﷺ د ..رسول.. لفظ ذکر کړلو.ځکه چه دوی د الله تعالی رسول دے.اوهم دا یو داسے وصف دے.چه ددے په وجه دوی ته په ټول مخلوق باندے امتیاز ورکړے شوے دے.دوی دالله تعالی رالیږلے شوے دے.ددے رالیږلو د وجے دوی دعوتی خطونه لیکل.او خلقو ته ئے د ایمان دعوت ورکولو.

بهرحال د ..عبد.. او د ..رسول.. د لفظ یوځائے ذکرکولو نه یوه خبره دا معلومیږی.چه حضرات رسولان که څومره لوئے وی.خوهغوی د خپلے بندګئ اوعبدیت اقرار کوی.

په دے کښے اشارة د نصاروٰ تردید اوشو.چه دوی حضرت عیسی علیه السلام د مقام عبدیت او رسالت نه پورته کړے دے.اومقام الوهیت ته ئے رسولے دے.(۱)

په خط کښې به د کاتب نوم وړاندې لیکلی شی که دمکتوب الیه دلته کښے دا خبره هم زده کړئ.چه نبی ﷺ د خط شروع دخپل نوم نه اوکړله.په دے کښے اختلاف دے.چه د خط ابتداء به د کاتب دنوم نه کیږی که د مکتوب الیه د نوم نه؟جمهورعالمان رحمهم الله فرمائی.چه د کاتب دنوم نه به کیږی .ابوجعفر نحاس رحمه الله په دے باندے د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع نقل کړے ده. (۲) غالباً د هغوی مراد به داکثرو صحابو رضی الله عنهم اجماع وی.ګنی حقیقت دا دے.چه په دے مسئله کښے د صحابو رضی الله عنهم هم اختلاف دے.او د بعضے صحابو رضی الله عنهم نه د مکتوب الیه د نوم ابتداء منقول ده.

امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښے روایت نقل کړے دے.چه حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه حضرت معاویه بن سفیان رضی الله عنه ته خط اولیکلو.دهغے شروع هغه داسے کړے وه.((من عبدالله معاویة أمیرالمؤمنین لزیدبن ثابت سلام علیك))(۳)دغه شان امام بخاری رحمه الله په ..الادب المفرد.. کښے دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه هم دا سند منقول کړے دے.(۴)

دغه شان په بخاری شریف کښے دی.چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما عبدالملك بن مروان ته خط لیکلے وو.((إلی عبدالله عبدالملك أمیرالمؤمنین..))(۵)

محمدبن حنفیه او ایوب سختیانی رحمهماالله فرمائی.چه دمکتوب الیه دنوم نه په شروع کولو کښے څه قباحت نشته.(۶)

---

(۱) شرح کرمانی(۶۱/۱)_
(۲) فتح الباری(۳۸/۱)_
(۳) فتح الباری(۴۸/۱۱) کتاب الإستیذان باب بمن یبدأ فی الکتاب)_
(۴) پورتنئ حواله)_
(۵) صحیح بخاری(۱۰۶۹/۲) کتاب الأحکام باب کیف یبایع الإمام الناس)_
(۶) عمدة القاری(۹۹/۱)_

امام طبرانی په خپل ،معجم، کښے په یوضعیف سند سره دا نقل کړی دی.چه نبی اکرم ﷺ حضرت خالد او حضرت علی رضی الله عنهما یمن ته اولیږل.دے دواړو نبی ﷺ ته خط اولیکلو. حضرت علی رضی الله عنه د نبی ﷺ نوم وړاندے اولیکلو اوحضرت خالد رضی الله عنه خپل نوم وړاندے اولیکلو.په دوی باندے څه انکار اونکړے شو.(١)

خودا یوڅو واقعات دی.ګنی اصل سنت هم دا دے.چه کاتب به خپل نوم اول لیکی.ځکه چه د نبی ﷺ نه څومره خطونه منقول دی.نوهغه ټول د دوی د اسم ګرامی نه شروع دی.

ددے نه علاوه په ابوداود کښے دحضرت علاء بن الخضرمی رضی الله عنه نه منقول دی.چه دوی به کله هم نبی ﷺ ته خط لیکلو.نودخپل نوم نه به ئے شروع کوله.(٢)

حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه فرمائی.«ماكان أحد أعظم حرمة من رسول الله ﷺ فكان أصحابه إذا كتبوا إليه كتاباً كتبوا، من فلان إلى محمد رسول الله ﷺ»(٣)

هرقل عظيم الروم نبی اکرم ﷺ عظیم الروم اوفرمائیل..ملك الروم.. ئے اونه فرمائیل. ځکه چه بادشاه خو هغه دے.کوم چه نبی اکرم ﷺ یا ددوی نائبین اوخلفاء بادشاه جوړ کړی .د کافرانو چه څوك بادشاه جوړ شی.نود هغه بادشاهی د ضرورت په بناء باندے وی.

بیا نبی ﷺ دا وصف د تالیف قلب دپاره بیان کړلو.ځکه چه په دعوت او تبلیغ کښے په کلام کښے د نرمئ اختیارولو حکم دے.الله تعالی فرمائی.﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾ (٤)او حضرت موسی اوهارون علیهما السلام ته فرمائی.﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا﴾ (٥)

چونکه هرقل درومیانو په نظر کښے معزز وو.نوځکه نبی اکرم ﷺ دهغه دپاره د عظیم لفظ اولیکلو.هم دا خبره د دوی د سیرت مطابق وه.چه سخت کلام نه وی.او دشمن سره هم ډیره نرمه خبره اختیار کړے شی. په دےکښے دا فائده وی.که دشمن دوستی نه کوی.نوکم ازکم په دشمنئ کښے تخفیف راځی.ګورنرمستن چه کله دارالعلوم دیوبند ته راغلو.نوانتظامیه حضرت شاه صاحب ته د استقبالیه کلماتو لیکلو دپاره اووئیل.نوحضرت شاه رحمه الله دهغه دپاره ددے حدیث پیش نظر د ..عظیم.. لفظ استعمال کړلو.حالانکه هغه د کانپور په جمات باندے ګولئ چلولے وے.شاه صاحب رحمه الله به فرمائیل.چه د دے حدیث په وجه زما زړه مطمئن وو.

د مسند بزار په حدیث کښے دی.چه کله دا خط اولوستلے شو.نودهرقل وراره د خفګان اظهار اوکړلو.اووے وئیل.چه دا خط دے نشی لوستلے.قیصر د وجے پوښتنه اوکړله.نوهغه اووئیل.

---

(١) مجمع الزوائد(٩٨/٨) كتاب الأدب باب فى كتابة الكتب وختمها_

(٢) سنن ابی داود كتاب الأدب باب فى الرجل يبدأ بنفسه فى الكتاب رقم.(٥١٣٤) و(٥١٣٥)_

(٣) مجمع الزوائد(٩٨/٨) كتاب الأدب باب فى كتابة الكتب وختمها)_

(٤) النحل:١٢٥)_

(٥) طه:٤٤)_

چه ده دخپل نوم نه شروع کړے ده.او په دے کښے ئے تاسو ته د ..ملك الروم.. په ځائے ,,عظيم الروم.. ونیلی دے.په دے باندے قیصر اوونیل نه دا خط به ضرور لوستلے شی.(١)
علامه قسطلانی رحمه الله د مدائنی رحمه الله په حواله سره نقل کړی دی.چه دهرقل وراره خط رانیکلو.اودهرقل په تپوس کولو ئے اوونیل.چه ده خپل نوم وړاندے لیکلے دے .او تاته ئے ..عظیم الروم.. ونیلی دی.په دے باندے هغه اوربل او وے ونیل :((إنك لضعيف الرأى،أتريد أن أرمى بكتاب قبل أن أعلم ما فيه،لئن كان رسول الله إنه لأحق أن يبدأ بنفسه،ولقد صدق،أنا صاحب الروم،والله مالكي ومالكه))(٢)یعنی ستا رائے ډیره کمزورے ده.آیا ته دا غواړے چه زه د خط په مضمون باندے د پوهیدلو نه وړاندے دا اوغورځو؟که هغه دالله پیغمبر وی.نوهغه ته دخپل نوم نه د شروع کولو حق شته.اوهغه تیك فرمائیلی دی.چه زه ..صاحب الروم.. یم.خکه چه زمونږ دیولو مالك خو الله تعالی دے.

قوله.سَلَامٌ عَلَى مَنْ اتَّبَعَ الْهُدَى:دا عبارت دفکر وړ دے.دهرقل متوجه کول وو.که ته په حقیقت کښے دالله تعالی دهدایت پیروکار ئے.نو بیشکه زمونږ د طرفه ستا دپاره د سلامتیا دعا ده.اوکه ته د هدایت خداوندی تابعدار نه دے.نوبیا دا دعا ستا دپاره نه ده.هرقل خپل خان اهل کتاب او اهل حق ګڼړلو.خو اوس هغه ته دا هم معلومه شوه.چه محمد رسول الله ﷺ مبعوث شوے دے.اوهغه د حالاتو په تحقیق سره په خپله هم دے نتیجه ته رسیدلے وو.چه دوی یقیناً خاتم الانبیاء والمرسلین دی.نواوس چه ترڅو پورے دے د دوی تابعداری اونکړی.نوترهغه وخته پورے دے د هدایت الهی تابعدار نشی جوړیدے.که دے دا غواړی.چه د رسول اکرم ﷺ دا دعا دے زما په حق کښے شی.نودے به د نبی ﷺ د تابعدارئ لمن اونیسی.اوکه دے دهغه لمن راؤ نه نیسی.نوبیا دے متبع د هدایت نه دے.اودا دعا دده دپاره نه ده.

آیا کافرانو ته سلام کولے شی؟ دا مسئله مختلف فیه ده.امام شافعی رحمه الله اواکثرعالمان رحمهم الله فرمائی.چه کافرته ابتداءً سلام کول جائز نه دی.(٣) امام طحاوی رحمه الله د احنافو رحمهم الله د درے عالمانو رحمهم الله امام ابوحنیفه.امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله نه هم دا نقل کړی دی.(٤)

---

(١)كشف الأستار عن زوائد البزار(١١٧/٣) ذكرنبينا محمد رسول الله ﷺ باب فيما كان عند أهل الكتاب من علامات نبوته..)_

(٢)شرح قسطلانى(٧٩/١)_

(٣)عمدة القارى(٩٩/١) وشرح نووى على صحيح مسلم (٢١٤/٢) كتاب السلام باب النهى عن إبتداء أهل الكتاب بالسلام وكيفية الرد عليهم)_

(٤)شرح معانى الآثار(٣٣٢/٢) كتاب الكراهة باب السلام على أهل الكتاب)_

بعضے عالمان ﷺ فرمائی.چه کافر ته مطلقاً سلام کول جائز دی.(١)خودا قول ضعیف دے.
خکه چه د رسول الله ﷺ بنکاره ارشاد دے.((لاتبدؤا الیهود ولا النصاری بالسلام))(٢)
صاحب د درمختار لیکلی دی.د ضرورت اوحاجت په وخت کښے د سلام کولو گنجائش شته.(٣) د بعضے سلفو رائے دا ده.چه په تالیف قلب کښے دغرض دپاره ابتداء سلام مباح دے.(٤)

صاحب د ((شرعة الإسلام)) فرمائی.که کافر ته د سلام کولو ضرورت پیښ شی.نو((السلام علی من اتبع الهدی)) دے وائی.(٥)
امام محمد رحمه الله فرمائی.چه یهودی یا نصرانی ته خط لیکل وی.نود نبی ﷺ په تابعداریٔ کښے ((السلام علی من اتبع الهدی)) لیکل پکار دی.(٦)

قوله: أَمَّـا بَعْـدُ: د نبی کریم ﷺ نه دا کلمه په ډیرو روایاتو کښے راغلے ده.حافظ عبدالقادر رهاوی رحمه الله په خپل کتاب((الأربعین المتباینة)) کښے په خطبه کښے دا د دوه دیرش صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل کړے دے.(٧)

په ,,امابعد،، دتولو نه وړاندې چا اطلاق کړې وو؟ په دے کښے اختلاف دے.چه لفظ د ..اما بعد.. دتولو نه وړاندے چا استعمال کړے دے.
یوقول دا دے.چه ددے د تولو نه اولنے قائل حضرت داود علیه السلام دے.امام طبرانی رحمه الله په دے باره کښے دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه یو مرفوع روایت نقل کړے دے.خودهغے په سند کښے ضعف دے.
دویم قول دا دے.چه ددے د تولو نه اولنے استعمال کونکے حضرت یعقوب علیه السلام دے.دا روایت امام دارقطنی په خپل کتاب ..غرائب مالك.. کښے نقل کړے دے.
دریم قول دا دے.چه ددے د تولو نه اولنے قائل یَعْرِبْ بنْ قَحْطان دے.
څلورم قول دا دے.چه د دے دتولو نه اولنے قائل کعب بن لوئ دے.

---

(١) فأخرج الطبری عن طریق ابن عیینة قال:یجوز إبتداء الکافر بالسلام.لقوله تعالی: ﴿لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ﴾ (الممتحنة:٨)_ الایة وقول إبراهیم لأبیه .سلام علیک.. ونقل ذلک عن أبی رضی الله عنه أیضاً انظر أوجز المسالک (١٠٨/١٥) ماجاء فی السلام علی الیهودی والنصرانی)_

(٢) صحیح مسلم (٢١٤/٢) کتاب السلام باب النهی عن إبتداء أهل الکتاب بالسلام وکیفیة الرد علیهم)_

(٣) درمختار مع ردالمحتار(٢٩٢/٥) کتاب الحضر و الإباحة)_

(٤) عمدة القاری(٩٩/١)_

(٥) فتاوی شامیه(٢٩٢/٥)_

(٦) پورتنی حواله)_

(٧) فتح الباری(٤٠٦/٢)کتاب الجمعة باب من قال فی الخطبة بعدالثناء:أما بعد)_

پنځم قول دا دے چه د ټولونه وړاندے سحبان بن وائل ددے استعمال کړے دے
شپږم قول د قس بن ساعده په باره کښے شوے دے چه هغه د ټولو نه وړاندے دا لفظ استعمال کړے دے
اولنے قول زيات راجح دے والله اعلم (١)

قوله فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ: دا حديث په کتاب الجهاد کښے هم راخى هلته او د مسلم په روايت کښے «بداعية الإسلام» راغلى دى.(٢)

"دعاية" او "داعية" دواړه مصدر دى. د دعوت په معنى دى.(٣) اومطلب دا دے چه زه تاته د اسلام دعوت درکوم.

علامه عينى رحمه الله مصدر د مفعول په معنى کښے اخستے دے او اضافت ئے بيانيه ګرځولے دے هغوى فرمائى. «أدعوك بالدعوالذى هوالإسلام» او فرمائى ..ب... د ..الى.. په معنى ده. نواوس به معنى دا شى. چه «أدعوك إلى الإسلام» (٤)

اوکه ..داعية.. د اسم فاعل صيغه اوګرځولے شى. نوتقدير د عبارت به دا شى «أدعوك بالكلمة الداعية إلى الإسلام» اود کلمه نه به مراد د «لاإله إلا الله محمد رسول الله» ګواهى وى.(٥)

قوله: أَسْلِمْ تَسْلَمْ: دے جمله خپل وجازت او اختصار باوجود د دنيا او آخرت نيکئ اوخوبيان په خپله جولئ کښے راګيرے کړى دى.(٦) هرقل د نبى ﷺ په ارشاد کښے غور اونکړلو. نبى ﷺ ورته د کاملے سلامتيا ضمانت ورکولو. مطلب ئے دا وو چه د اسلام قبلولو نه پس به تاته د دنيا او آخرت سلامتى ملاؤ شى. دے بے وقوفه دا اوګنړل که ما اسلام قبول کړلو. نوزما نه به حکومت واخستے شى. او اقتدار به مے د لاس نه لاړ شى.(٧)

دکتاب الجهاد په روايت کښے دى. «أسلم تسلم وأسلم يؤتك الله أجرك مرتين» په دے کښے د ..اسلم.. تکرار دے.(٨) په دے کښے خو به يا دا اوونيلى شى چه دا د تاکيد دپاره دے او يا به دا اوونيلى شى. چه په اولنى ..اسلم.. سره د اسلام قبلولو مطالبه ده او په دويم ..اسلم.. سره

---

(١) د تفصيل دپاره اوګورئ فتح البارى(٢/٤٠٤، ٤٠٥)_
(٢) صحيح مسلم (٢/٩٩) كتاب الجهاد باب كتب النبى ﷺ إلى هرقل ملك الشام يدعوه إلى الإسلام)_
(٣) النهاية لابن الأثير(٢/١٢٢)_
(٤) عمدة القارى(١/٩٣) بيان الإعراب)_
(٥) فتح البارى(١/٣٨) وشرح نووى (٢/٩٨)_
(٦) ارشادالسارى(١/٧٩)_
(٧) پورتنئ حواله)_
(٨) صحيح بخارى كتاب الجهاد باب دعاء النبى ﷺ الناس إلى الإسلام والنبوة.. رقم (٢٩٤١)_

د دوام علی الاسلام مطالبه ده.(١)لکه چه په ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا﴾(٢) کښې.

آیا اسلام او ,,مسلمان،، ددې امت دپاره خاص دي؟ په دې کښې اختلاف دې چه اسلام د دین محمدی دپاره او مسلمان د امت محمدیه دپاره مخصوص دې اوکه نورو ادیانو او امتونو ته هم شامل دې علامه سیوطی رحمه الله په خپله رساله «إتمام النعمة» کښې خصوصیت ثابت کړې دې اوپه دې باندې ئې دیرش دلائل ذکر کړی دی خوقرآن کریم حضرت ابراهیم علیه السلام ته ,,حنیفاً مسلماً،، او ﴿إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ﴾(٣) وائی د یوسف علیه السلام دعا ده ﴿تَوَفَّنِي مُسْلِمًا﴾ حضرت سلیمان علیه السلام بلقیس ته وائی ﴿وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ﴾ دحضرت لوط علیه السلام متعلق دی ﴿غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾ د حواریانو متعلق راغلی دی ﴿وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾

علامه سیوطی رحمه الله جواب ورکړې دې چه د ذکر شوی اختصاص نه انبیاء علیهم السلام مستثنی دی نودحضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت یوسف علیه السلام د آیتونو نه جواب اوشو دغه شان دانبیاء علیهم السلام په کورواله باندې تبعاً د مسلمان اطلاق شوې دې دحضرت لوط علیه السلام سره متعلق آیت نه جواب اوشو سیوطی رحمه الله فرمائی چه ما رساله اولیکله اوفارغ شوم اود اوده کیدو دپاره سملاستم نو د حواریانو آیت راته په ذهن کښې راغلو په دې باندې هیڅ تاویل نه جوړیدو نو بیا راپاسیدم ډیوه مې اولګوله اوهغه جواب مې اولیکلو کوم چه مې په ذهن کښې راغلو چه حواریانو ته ددې وجې مسلمین وئیلې شوی دی چه دهغوی په جماعت کښې نبی موجود وو نودا اطلاق د تبعیت نبی په اعتبار سره دې د سیوطی رحمه الله خیال دې چه په دغه حواریانو کښې دوه درې نبیان وو.

دعلامه عثمانی رحمه الله په رائې کښې کلی جواب زیات مناسب دې ځکه چه د جزئیاتو احصاء اوبیا جواب ورکول ډیره ګرانه ده دوی فرمائی چه د لغت په اعتبارسره دا اطلاق عام دې اود لقب په اعتبار سره خاص دې لکه څنګه چه لفظ د ,,حافظ،، په لغت کښې عام دې اولقب د ابن حجر رحمه الله دې ,,حیوان،، په لغت کښې عام دې او لقب د انسان غیرناطق سره خاص دې کیدې شي چه دا داسم او لقب ﴿مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ﴾(٤)او ﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ﴾(٥) نه اخستې شوی وی.(٦)والله اعلم.

---

(١) فتح الباري(٣٨/١)_
(٢)النساء:١٣٦)_
(٣) سورة البقرة:١٣١)_
(٤) الحج:٧٨)
(٥) سورة البقرة:١٢٨)_
(٦) فضل الباري(٢٢٨/١. ٢٢٩)_

قوله: يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ: اول داسلام راوړلو حکم وو.اواوس ترغیب دے.که تا اسلام قبول کړلو.نوالله سبحانه وتعالی به تاته دوچنده ثواب درکړی.یوخوددے وجے چه دے په خپل پیغمبر باندے ایمان ساتی.اوبل ددے وجے چه په حضرت محمد ﷺ باندےئے ایمان راوړلو.اوکتابی چه کله ایمان راوړی.نوهغه ته دوچنده اجر ملاویږی.یودهغه په خپل پیغمبرباندے په ایمان راوړلو.اوبل زمونږ په پیغمبرباندے په ایمان راوړلو.هم دا مفهوم دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت کښے راغلے دے.دوی د نبی ﷺ نه نقل کوی.چه

«ثلاثة لهم أجران، رجل من أهل الكتاب آمن بنبيه وآمن بمحمد» (۱)

بعضے عالمان فرمائی.چه د ..مرتين.. معنی ده...مرة بعد مرة.. یعنی برابر ثواب به ورته ملاویږی.یواجر خو د هغه په خپله د ایمان راوړلو اوبل اجر په دے چه دے د نورو خلقو دایمان راوړلو سبب اوګرځی.(۲)

قوله: فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ: که تا ددې اواعراض اوکړلو.نود اریسیینو ګناه به ستا په غاړه کښے وی.

د ..اریسیین.. په ضبط کښے پنځه اقوال دی.(۳)

() ..اریسیین.. (د راء مکسوره مخففه نه وړاندے همزه مفتوحه اود سین نه پس دوه یاګانی.

() ..اریسیین.. (د راء مکسوره مخففه نه وړاندے همزه مفتوحه او د سین نه پس یوه یاء ساکنه)

()..یریسین.. (د راء مکسوره مفتوحه نه وړاندے یاء او د سین نه پس دوه یاګانی.

() ..یریسین..(د راء مکسوره مخففه نه وړاندے یاء ساکن او د سین نه پس یوه یاء.

() اریسیین (همزه مکسوره ،ددےنه پس راء مشدده مکسوره بیا یاء ساکنه بیا سین او ددےنه پس یوه یاء.

اریسیین څوک وو؟: د اریسیین په تعین کښے اختلاف دے.

() یوقول دا دے.چه ددے معنی د زمیندار ده.د امام ثعلب ،ابن الاعرابی رحمهماالله اونورو عالمانو ﷺ نه هم دا منقول ده.(۴)ځکه چه ددے تائید په مختلفو روایاتو سره کیږی.دابن اسحاق رحمه الله روایت دے.«فإن عليك إثم الأكارين» د برقانی رحمه الله په روایت کښے اضافه ده...یعنی الحراثین.. دغه شان د مدائنی په مرسل روایت کښے دی.«فإن عليك إثم الفلاحين»

---

(۱) صحیح بخاری(۲۰/۱) کتاب العلم باب تعليم الرجل أمته وأهله)_

(۲) ارشادالساری(۷۹/۱)_

(۳) ددے ټولو اقوالو دپاره اوګورئ شرح نووی علی صحیح مسلم (۹۸/۲) کتاب الجهاد والسیر.باب کتب النبی ﷺ)_

(۴) فتح الباری(۳۹/۱)وعمدة القاری(۸۶/۱) وأعلام الحديث للخطابی(۱۳۷/۱)_

دابو عبيد رحمه الله په كتاب الاموال كښې د عبدالله بن شداد په مرسل روايت كښې دى «وإن لم تدخل في الإسلام فلا تحل بين الفلاحين وبين الإسلام» (١)

ابو عبيد رحمه الله فرمائى.دفلاحين معنى اګرچه زميندار ده.خودلته خاص طور صرف زميندار مراد نه دى بلكه د ملك ټول اوسيدونكى مراد دى.(٢)دزميندار ذكر ددې دپاره اوشو چه عام طور هم دا خلق د قوم افراد وى.دغه شان دا خلق د بادشاهانو بنه پوره تابعدار وى.كوم خواه ته چه هغوى خى.دوى ورسره هم خى.كه بادشاه مسلمان شى.نوقوم هم اسلام قبلوى.اوكه هغه اعراض اوكړى.نو بيا قوم هم اعراض كوى.بيا دعربوخلق هر كس ته فلاح وائى.برابره ده كه هغه په خپله زميندار وى.اوكه په بل باندې زميندارى كوى.(٣)

() دويم قول دا دې چه ددې نه خادمان او تابعدار مراد دى.او مطلب دا دې چه كه تا اسلام راوړلو.نوستا خادمان اوتابعدار به هم اسلام قبول كړى.لكه چه ته د دوى د ايمان دپاره ركاوټ جوړيږې.نوځكه به د هغوى ګناه هم په تا باندې وى.(٤)

دريم قول دا دې.چه ددې نه مراد دعبدالله بن اريس متعبين دى.چاته چه اريسه ونيلى شى.(٥)

() څلورم قول امام طحاوى رحمه الله نقل كړې دې.چه ..اريسه.. يوه ډله ده.چه اروس نومې كس ته منسوب ده.دا ډله دالله تعالى دتوحيد معترف ده.دحضرت عيسى عليه السلام د نبوت قائل ده.اوځه چه په انجيل كښې دى.په هغې باندې ايمان راوړى.اوځه چه عيسايان وائى.هغه نه منى.(٦)

اوس د «فإن عليك إثم الأريسيين» دوه توجيهات كيدې شى.يوه دا وجه كيدې شى.چه هرقل هم ..اريسى.. عقيده لره.نوكه دې د اسلام نه اعراض اوكړى.نودهغه ډله به هم د اسلام نه اعراض اوكړى.

دويمه وجه دا كيدې شى.چه په اصل كښې اريسى دهرقل په حكومت كښې اوسيدل.اودا قاعده ده.چه د بادشاه رعيت هم دبادشاه سره وى.امام طحاوى رحمه الله فرمائى.كيدې شى.چه صورت داسې شوې وى.چه اريسيه ډلې ته د نبى ﷺ د بعثت علم د هرقل نه وړاندې شوې وو.اواريسيه ډلې په نبى ﷺ باندې ايمان راوړل. د دې وجې دهغوى په حضرت عيسى عليه السلام باندې ايمان هم باطل شو.ځكه چه حضرت عيسى عليه السلام د نبى اكرم ﷺ د نبوت بشارت وركړې وو.اوس چه مبشربه ئې اونه منل.نولكه چه د حضرت عيسى عليه السلام بعضې خبرې ئې اونه

(١) ددې ټولو رواياتو دپاره اوګورئ فتح البارى(٣٩/١)_

(٢) شرح نووى (٩٨/٢)_

(٣) فتح البارى(٣٩/١)_

(٤) النهاية لابن الأثير(٣٨/١)_

(٥) النهاية (٣٨/١)_

(٦) حاشيه فيض البارى(٤٠/١، ٤١)_

منلي نوتول گناهگار شول .نو مطلب دا شو چه لکه څنګه هغه کسان گناهگار شو نوته به هم گناهگار شے.(۱)

۲) پنځم قول دا دے چه د اریسیين نه مراد سرداران او بادشاهان دی.څوك چه خپل رعیت فاسدو عقیدو ته وړاندے کوی.(۲) په دے صورت کښے به مطلب دا شی.چه که تاسو نافرمانی اوکړئ.نوتاسو به هم داسے گناهگار شئ.لکه څنګه هغه متکبر سرداران او بادشاهان گناهگار دی.څوك چه د حق نه اعراض کوی.

۳) شپږم قول دا دے.چه ددے نه ..عشار.. یعنی دټیکس اخستونکی مراد دی.لیث بن سعد رحمه الله د یونس بن یزید رحمه الله نه نقل کړی دی.«الأریسیون: العشارون یعنی أهل المکس» که دا معنی ثابته وی.نودلته به مبالغه مقصود وی.یعنی لکه څنګه چه عشار د سخت عذاب مستحق دی.اولوئے گناهگار دی.دغه شان به هرقل هم گناهگار وی.(۳)

اووم قول دا دے.چه د اریسیين نه مراد خوزمیندار دی.خو دا ونیلے شوی دی.چه زمینداران مجوسیان وو.اوروميان اهل کتاب وو.(۴)په دے صورت کښے به مطلب دا شی.چه ته کتابی اونصرانی ئے.اوددے ملك اوسیدونکی چه زمیندار دی.دا مجوسیان دی.اوستا خیال دے چه دا کتابیان اهل حق دی.اواریسیين د مجوسیت دوجے اهل باطل دی.نولکه څنګه چه د اهل کتابیت د وجے ته خپل خان برحق گنړے.اودا زمینداران اهل باطل.نودغه شان اوگنړئ چه اوس زما د نبوت د اعلان نه پس که تا اسلام قبول نکړلو.نود دے اریسیين پشان به ته په اهل باطل کښے داخل شے.اوپه اهل حق کښے به ستا شمار نه کیږی.لکه څنګه چه دوی د مجوسیت د وجے اهل باطل دی.نواوس به ته د نصرانیت د وجے په اهل باطل کښے داخل شے.(۵)

بیا په یوروایت کښے د اریسیين په خائے د ..ارکوسیين.. لفظ راغلے دے ..رکوسیت د نصرانیت اومجوسیت په مینځ کښے یومذهب دے.ممکن ده.چه په هغے کښے څه خلق داسے وو.چه هغوی د نصرانیت په خائے د رکوسیت قائل وو.(۶)لکه چه هرقل ته اوونیلی شو.چه که ته اسلام نه راوړے.نو رکوسين چه اهل باطل دی.دهغوی پشان به گناهگار شے.والله اعلم.

قوله:وَيَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا....:په بعضے نسخو کښے په دے خائے کښے ..واو.. نشته.اوپه بعضو کښے ..واو.. شته.(۷)

---

(۱) پورتنئ حواله)_
(۲) عمدة القاري(۸۶/۱)_
(۳)فتح الباري(۳۹/۱)_
(۴) غريب الحديث للخطابي(۵۰۰/۱)_
(۵) جامع الأصول لإبن الأثير(۲۷۳/۱۱)_
(۶) جامع الأصول (۲۷۳/۱۱)_
(۷) فتح الباري(۳۹/۱)_

دوه سوالونه اودهغې جوابونه دلته دوه سوالونه دى.

() اولنى سوال دا دے چه په قرآن پاك كښے ..واو.. نشته.بيا دلته واؤ څنگه راغلو؟

دويم سوال دا دے چه دا آيت د وفدنجران په حق كښے نازل شوے وو.څكه چه ابن اسحاق رحمه الله وغيره ليكلى دى.چه د آل عمران داول نه تر اتيا آيتونو پورے د وفد نجران په حق كښے نازل شوى دى.([1])اود وفد نجران راتگ په ۹هـ كښے وو.([2])

څكه چه دے خلقو د ټولو نه وړاندے جزيه ادا كړے وه.([3])اود جزيه مشروعيت په آيت كريمه ﴿قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾([4]) سره شوے دے.اودا آيت د فتح مكه نه پس نازل شوے دے.([5])رسول اكرم ﷺ چه كوم خط ليږلے وو.هغه په ۶هـ كښے وو.نودا آيت د آل عمران چه په دغه اتيا آياتونو كښے دے.چه د وفد نجران په راتلو نازل شوے وو.نبى ﷺ د هرقل په خط كښے څنگه اوليكلو؟

د اولنى سوال څو جوابونه وركړے شوى دى.

() يوجواب دا وركړے شوے دے چه كيدے شى.دا د ابوسفيان د كلام حصه وى.هغه داسے چه هغه ته د خط ټول مضامين ياد نه وو.د خط د شروع څه حصه ورته ياده وه.او آيت ترے پاتے شوے وو.لكه چه هغه دا ذكر اوكړلو.چه «كان فيه كذا وكان فيه يا أهل الكتاب» په دے صورت كښے به ..واو.. د ابوسفيان د كلام نه گرځولے شى.دخط جزء يا حصه نه.([6])

خودا جواب صحيح نه دے.څكه چه د نبى كريم ﷺ د خطونو چه كوم عكسونه شائع شوى دى.په هغے كښے هم دومره مضمون دے.

() دويم جواب دا وركړے شوے دے.چه دا واؤ عاطفه دے.او معطوف عليه «أدعوك» دے.اومعطوف محذوف دے.تقديرد عبارت دا دے.«إنى أدعوك بدعاية الإسلام وأقول لك ولأتباعك إمتثالاً لقول الله تعالى: يا أهل الكتاب..»([7])

() د دويم سوال هم څو جوابونه وركړے شوى دى.

() يو جواب دا دے چه ممكن ده.چه دا آيت مكرر نازل شوے وى.يوځل د حديبيه نه وړاندے نازل شوے وى.اويوځل د فتح مكے نه پس نازل شوے وى.([8])

([1]) تفسير ابن كثير(۳۷۱/۱)_

([2]) ابتداء د سورة آل عمران از تفسيرابن كثير(۳٤۳/۱)_

([3]) تفسيرابن كثير(۳۷۱/۱)_

([4]) التوبة:۲۹)_

([5]) تفسيرابن كثير(۳٤۷/۲)_

([6]) فتح البارى(۳۹/۱)_

([7]) پورتنۍ حواله)_

([8]) تفسيرابن كثير(۳۷۱/۱)_

حافظ ابن حجر رحمه الله دا قول بعيد گرځولے دے.(١)
() دويم جواب دا ورکړے شوے دے چه کيدے شي د وفد نجران د قدوم په موقع چه کوم آيتونه نازل شوى وى. هغه د سورة ال عمران دشروع نه تر دے ځائے پورے وى. اودا آيت وړاندے نازل شوے وى. ترڅوپورے چه د ابن اسحاق رحمه الله د قول ((بضع وثمانين)) تعلق دے نواوبه وئيلى شى چه دا عدد محفوظ نه دے. او د عدد په ذکر کولو کښے د دوى نه سهو شوے ده.(٢)
() دريم جواب دا ورکړے شوے دے چه د وفد نجران راتګ د صلح حديبيه نه وړاندے شوے وى. اوهم په دغه موقع باندے دا آيت نازل شوے وى. اوترڅو پورے چه د دے د ادا کولو مسئله ده. نو هغه جزيه نه وه. بلکه مصالحة د مباهله نه د بچ کيدو عوض وو. روستو په آيت د جزيه سره د دے موافقت راغلو.(٣)
() څلورم جواب دا ورکړے شوے دے. (دا د اولنى سوال جواب هم دے) چه په کوم وخت کښے نبى ﷺ هرقل ته دا خط ليکل. نوترهغه وخته پورے دا آيت نه وو نازل شوے. روستو د نبى ﷺ په موافقت کښے د قرآن کريم دا آيت نازل شو. لکه د حضرت عمر رضي الله عنه په موافقت کښے د حجاب، اسارى بدر، او د صلاة على المنافقين د سلسلے د آيتونه سوا نور آيتونه نازل شوى وو.(٤)
﴿قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللهِ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ﴾
اے اهل کتابو يوے داسے خبرے طرف ته راشئ چه هغه زمونږ او ستاسو په مينځ کښے برابر وى. هغه دا چه مونږ به دالله نه سوا د بل چا عبادت نه کوو. اونه به څه څيز دهغه سره شريک کوو. اونه به په مونږ کښے بعضے خلق بعضے نورولره دالله نه سوا رب گرځوو.
خط مبارک اود دعوت اصول: دلته کښے په دے خط کښے نبى ﷺ د دعوت د اصولو پوره پوره خيال ساتلے دے.
په اصول دعوت کښے يواصل دا دے چه د تاليف قلب به د زيات نه زيات خيال ساتلى شى. تاسوگورئ چه يولفظ هم داسے نه دے چه په هغے سره زړه مات شى.
نبى ﷺ ((من محمد بن عبدالله ورسوله إلى هرقل عظيم الروم)) فرمائيلى دى. د خپل خان دپاره نبى ﷺ د عظيم لفظ نه دے استعمال کړے بلکه دهرقل دپاره ئے د ..عظيم الروم.. لفظ استعمال کړے دے. په دے کښے تاليف قلب هم دے. اودهغه د منصب رعايت هم چه دهغه قوم دے عظيم گنړى.

(١) فتح البارى (٣٩/١)_
(٢) تفسير ابن كثير (٣٧١/١)_
(٣) تفسير ابن كثير (٣٧١/١، ٣٧٢)_
(٤) تفسير ابن كثير (٣٧٢/١)_

ددے نه پس نبی ﷺ ((سلام على من اتبع الهدى)) ليكلى دى لكه د سلام ليكلو سره سره ئے ددے خبرے خيال ساتلے دے چه غير مسلم ته به سلام نشى كولے.

په سلام كښے نبى ﷺ د ((على من اتبع الهدى)) قيد لګولے دے اوس كه هغه اسلام قبول كړى نوبيشكه هغه ددے دعا محل دے اوكه اسلام قبول نكړى نوددے دعا محل نه دے اوهرقل ئے په فكر كښے هم واچولو چه هغه سوچ اوكړى چه آيا په حقيقت كښے هغه ددے اهل دے چه د رسول الله ﷺ دعا دده په باره كښے شى.

ددے نه پس دى ((فإنى أدعوك بدعاية الإسلام أسلم تسلم، يؤتك الله أجرك مرتين فإن توليت فإن عليك إثم الأريسيين)) په دے كښے امر هم موجود دے او ترغيب هم .زجر هم شته او وعيد هم...اسلم.. امر دے او ..تسلم.. ترغيب دے((فإن توليت)) زجر دے او((فإن عليك إثم الأريسيين))وعيد دے.

نبى ﷺ د ((فإن توليت))په ځائے ((فإن كفرت)) نه دى ونيلے.ځكه كه چرته ((فإن كفرت)) ونيلے شوى وو.نوهغه چونكه د اهل كتابو ځنے وو.دكفر د اصطلاح نه واقف وو.نوهغه سره به ويره شوے وه.اود دعوت اصول دا دى.چه داعى به مخاطب متاثر كوى.چه زه ځه ستا وړاندے پيش كوم.په دے كښے مے ستا خيګړه مقصود ده.دل آزارى مے مقصود نه ده.كه دلته ((فإن كفرت)) استعمال شوے وو.نو د حوصله شكنئ احتمال راتلو.په دے وجه نبى ﷺ ((فإن توليت)) اوفرمائيل.

بيا ئے د هغه اسلام سره د مانوس كولو دپاره اود اجنبيت لرے كولو دپاره فرمائيلى دى.چه ﴿تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا﴾يعنى مونږ اوته په اصل الاصول كښے نزدے نزدے يو.لكه ځنګه چه مونږ دتوحيد قائل يو.دغه شان ته هم ئے.چه په دے اصل كښے مونږ متحد يو.نو ددے نه پس د نورو خرابيانو لرے كول ځه ګران نه دى.

يواشكال اودهغې جواب دلته په ﴿ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ باندے اعتراض شوے دے.چه نصارا خو د اقانيم ثلاثه اعتقاد ساتى.اوحضرت عيسىؑ ته معاذالله د الله تعالى ځوئے وائى.اوپه الوهيت كښے هغه شريك كوى.نوبيا ﴿ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ ځنګه ټيك كيدے شى؟ قرآن كريم ځنګه دوى په كلمه كښے د اهل اسلام سره برابر كړى دى.حالانكه اهل اسلام د توحيد قائل دى.اوهغوى مشركان دى.

يوجواب دا دے.چه په اصل كښے دلته د اصلى نصرانيت په باره كښے ونيلى شوى دى.چه په هغے او د اهل اسلام په كلمه كښے برابرى ده.ځكه چه دا خبره منلے شوے ده.چه دتوحيد مسئله په ټولو آسمانى كتابونو كښے يوشان راغلے ده.په قرآن. تورات اوانجيل كښے د دے په مينځ كښے ځه دومره اختلاف نشته.په دے اعتبار سره د نصارو او اهل اسلام كلمه يوه ده.

دويم جواب دا دے.چه يهود او نصارا اګرچه په حقيقت كښے موحدين نه دى.خو موحدين خو ورته ونيلى شى.زبانى او قولى حده پورے د هغوى دعوى د توحيد وه.هغوى وائى.چه لوئے خدائے خو يو دے.هغه زمونږ واړه خدايان پيدا كړى دى.مونږ دا واړه خدايان دالله تعالى سره

د زمکې او آسمان په تخليق کښې شريك نه ګڼړو.اونه ئې د اوچتوکارونو په تدبير کښې شريك ګڼړو.نه زمونږ عقيده دا ده.چه دوی دالله تعالٰی څه حکم روستو کولې شي.نوښکاره شوه.چه مونږ د الله تعالٰی دتوحيد قائل يو.

نودا به اوونيلې شي.چه دلته قرآن پاك د «مماشاة مع المخاطب»طريقه اختيار کړې ده.اواشاره ئې کړې ده.چه د دعوی نه اهم څيز په عقيده او عمل کښې توحيد اختيار کړئ.نه په خاص صفاتو کښې دالله سره شرك کوئ.اونه په تحليل اوتحريم کښې.اونه د فرښتو روحونه د ورکړې شوی اختياراتو په تنفيذ کښې مستقل بالذات ګڼړئ.

قوله ﴿فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾:اوکه روګرداني اوکړی نوتاسو ګواه اوسئ په دې خبره چه مونږ مسلمانان يو.

دخط تقاضا خو دا وه.چه د «فإن تولوا» په ځائې «فإن توليتم» وې.خوچونکه نبی ﷺ د قرآن کريم آيت نقل کړلو.اوپه دې کښې دغائب صيغه ده.نوځکه ئې علی سبيل الحکاية دا د غائب په صيغه سره ذکر کړلو.

قوله قَالَ أَبُوسُفْيَانَ فَلَمَّا قَالَ مَا قَالَ وَفَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ كَثُرَ عِنْدَهُ الصَّخَبُ وَارْتَفَعَتِ الْأَصْوَاتُ وَأُخْرِجْنَا :ابوسفيان وائي.چه کله هرقل څه چه ئې ونيل هغه ئې اوونيل.اوهغه دخط د لوستلو نه فارغ شو.نود ده په مخ کښې شور پيدا شو.اوازونه اوچت شول.اومونږ د دربار نه اوويستلې شو.

په «قال ما قال» کښې د فعل ضمائرهرقل طرف ته راجع کيږی.دلته کښې «ما قال» مبهم پريخودې شوې دې.ددې نه مراد يا خو هغه سوالونه اوجوابونه دی .کوم چه وړاندې تيرشوی دی.اويا ددې نه مراد هغه قصه ده.کومه چه وړاندې د ابن الناطور په حواله سره ذکر شوې ده.

بيا چونکه د ابوسفيان نه هرقل متاثر شوې وو.اودهغه اسلام طرف ته ميلان پيدا شوې وو.چه دا خلق ئې سبب جوړ شوې وو.ځکه هرقل سره ويره شوه.چه هسې دا خلق په ابوسفيان اودده په ملګرو باندې حمله اوکړی.چه تاسو زمونږ د بادشاه توجه واړوله.نوځکه ئې دوی دخپل دربار نه بهر کړل.

خو دا هم ممکن ده.چه د دوی د راغوښتلو کوم غرض اوغايت وو.يعنی د مدعی نبوت د حالاتو تحقيق.چونکه پوره شو.حالات معلوم شو.نوځکه ئې دوی رخصت کړل.

قوله فَقُلْتُ لِأَصْحَابِي حِينَ أُخْرِجْنَا لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ إِنَّهُ يَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الْأَصْفَرِ :کله چه مونږاوويستلې شو.نوماخپلو ملګرو ته اوونيل.چه واقعی دابن ابی کبشه کار ډيراهميت حاصل کړلو.دهغه نه خو دبنی اصفربادشاه هم ويريږی.

ابن ابی کبشه ابوسفيان نبی کريم ﷺ خامل الذکر اوورك ښکاره کړل.اود دوی دپاره ئې د ناخوښئ په وجه د . .ابن ابی کبشه..نوم استعمال کړلو.قاعده دا ده.چه کله يوکس خامل

نه کړاو ګمنام بنکاره کولے شي نودهغه دپاره داسے لقب اختيارولے شي چه دهغے نه عظمت نه ښکاره کيږي.دعربودا عادت وو چه کله به د چا نقص بيانول مقصود وو.نوهغه به ئے په پلارنيکه کښے يو ګمنام کس ته منسوب کولو.(١)

دا ابوکبشه څوك دے؟ددے په تعين کښے ډيراختلاف دے.

() عالم الانساب ابوالحسن جرجاني رحمه الله فرمائي دا دنبي ﷺ د نيکه دوهب دنيکهٔ نوم دے.

() دويم قول دا دے چه دا دعبدالمطلب د نيکه نوم دے.

() دريم قول د ابوالفتح ازدي اوابن ماکولا رحمهما الله دے.دوي فرمائي.چه ابوکبشه د نبي ﷺ رضاعي پلار دے.دهغه نوم حارث بن عبدالعزي دے.

() ابن قتيبه.خطابي.او دارقطني رحمهما الله فرمائي.دا د بنوخزاعه يوکس وو.چاچه بت پرستي پريخودے وه.اود قريشومخالفت ئے کړے وو.اود ..شعري ا.. نوم ستوري عبادت ئے شروع کړے وو.چونکه نبي اکرم ﷺ هم د بت پرستئ مخالفت کړے وو.نوځکه په مطلق مخالفت کښے د شرکت د وجے خلقو نبي ﷺ دغه کس طرف ته منسوب کړلو.هم دا قول د سهيل بن بکارهم دے.هغوي ددغه کس نوم ..وجزبن عامربن غالب..خودلے دے.

() پنځم قول دا دے چه د نبي ﷺ دنيکهٔ وهب کنيت ابوکبشه وو.

() شپږم قول د ابن ماکولا رحمه الله نه نقل شوے دے.چه دا د دوي د رضاعي مورحضرت حليمه د پلار کنيت وو.

() اووم قول دادے.چه دا دحضرت حليمه د مورد طرفه د نيکهٔ يا د پلار د طرفه د نيکهٔ نوم دے.(٢)ددے ټولو اقوالو خلاصه هغه ده.کومه چه مونږ ذکر کړے ده.چه ابوسفيان نبي ﷺ لره خامل الذکر اوګمنام ګرځول غوښتل.چه دده مقام اوس اوچت شوے دے.دده نه د روم بادشاه هم ويريږي.

بني الأصفر د بني الاصفر نه مراد روميان دي.روميانو ته بني الاصفر ولے وائي.په دے کښے مختلف اقوال دي.

() ابن الانباري رحمه الله فرمائي.چه دده نيکه روم بن عيص د حبشه د بادشاه د لور سره نکاح کړے وه.دهغے نه چه کوم اولاد پيدا شوے وو.هغه د سپين او تور رنګ په مينځ کښے وو.ځکه ورته ..اصفر.. وائي.اودده نسل ته ..بنوالاصفر..وائي.(٣)

() دابن الانباري رحمه الله نه دا هم نقل دي.چه يوځل حبشيانو په روميانو باندے غلبه حاصله کړے وه.اود دوي د ښځو سره ئے زنا کړے وه.نودهغوي نه چه کوم اولاد پيدا شوي وو.په هغوي کښے د روميانو سپينوالے اود حبشيانو توروالے وو.اودغه شان په دوي کښے زيړوالے پيدا شو.نوځکه دوي ..اصفر.. طرف ته منسوب شو.(٤)

---

(١) فتح الباري(٤٠/١)_

(٢) ددے ټولواقوالو دپاره اوګورئ فتح الباري(٤٠/١) وعمدة القاري(٨٠/١)

(٣) فتح الباري(٤٠/١)_

(٤) عمدة القاري(٨١/١)_

() ابراهیم حربی رحمه الله فرمائی چه ..بنوالاصفر..اصفربن روم بن عیصوبن اسحاق بن ابراهیم علیهما السلام ته منسوب دی.(۱)قاضي عیاض رحمه الله فرمائی.دا قول د ابن الانباری رحمه الله د قول په مقابله کښې اشبه دے.(۲)

() یوقول دا دے چه دعیصوبن اسحاق بن ابراهیم علیهما السلام رنګ ډیرسور وو.د دوی وادهٔ د خپل د ترهٔ لور یعنی دحضرت اسماعیل علیه السلام لور سره اوشوه.د دےنه د عیصو نه علاوه پنځه نور اولاد پیدا شول.روم د ډیرزیړ رنګ وو.د رومیانو نسل دهغه نه راروان دے.ځکه ورته ..بنوالاصفر.. ونیلی شی.(۳)

() ابن هشام رحمه الله په ..التیجان.. کښې لیکلی دی.چه عیصوبن اسحاق علیه السلام ته د هغه نیا حضرت ساره علیها السلام د سرو زرو کالی اچولی وو.د سرو د زیړوالی د وجې ورته ..اصفر.. ونیلی شی.(۴)والله اعلم

قوله: فَمَا زِلْتُ مُوقِنًا أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللَّهُ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ: نوزما برابر یقین اوشو.چه محمد ﷺ به ډیرزر غالب شی.تردے چه الله تعالی ما باندے اسلام داخل کړلو.

ابوسفیان د هرقل د دربار دا کیفیت اوکتلو.نود تاثیر نه بغیرپاتے نشو.اودهغه یقین راغلو.چه نبی اکرم ﷺ به غالب کیږی.

دابوسفیان رضی الله عنه اسلام: څه بدبخته خلق داسے هم شته.چه ابوسفیان رضی الله عنه مسلمان نه منی.دوی د رافضیانو د پروپیګنډو ښکار دی.اود جهالت دوجې دا وائی.چه دا کس د زړه نه مسلمان شوے نه وو.

په دے کښې څه شك نشته.چه داسلام نه وړاندے دے د کفر په سردارانو کښې وو.خو د دے باوجود ورته الله تعالی د اسلام توفیق ورکړلو.دده د اسلام قبلولو واقعه دلته په اختصار سره بیانولی شی.

د صلح حدیبیه نه پس د قریشو حلیف بنوبکر د نبی ﷺ په حلفاء بنوخزاعه باندے حمله اوکړله.د قریشو څه خلقو هم د خپلو حلفاء مدد اوکړلو.حالانکه په هغوی باندے لازمه وه.چه دوی ئے دحملے نه منع کړے وو.حمله هم د شپے د خوب په حالت کښې شوے وه.بدیل بن ورقاء،عمروبن سالم،اود بنوخزاعه څه خلق مدینے منورے ته راغلل.اونبی ﷺ ته ئے د هغوی د دهوکے خبر ورکړلو.عمروبن سالم د مظلومیت عکاسی کونکے نظم واورولو.

---

(۱) پورتنۍ حواله)_

(۲) پورتنۍ حواله)_

(۳) پورتنۍ حواله)_

(۴) فتح الباري(۱/۴۰) وعمدة القاري(۱/۸۱)_

یارب إنی ناشد محمدا ... حلف أبینا وأبیه الأتلدا

قد کنتم ولدا وکنا والدا ... ثم أسلمنا فلم ننزع یدا

فانصر هداك الله نصراً أعتدا ... وادع عباد الله یأتوا مددا

فیهم رسول الله قد تجردا ... إن سیم خسفاً وجهه تربدا

فی فیلق کالبحر یجری مزبدا ... إن قریشاً أخلفوك الموعدا

ونقضوا میثاقك المؤکدا ... وجعلوا لی فی کداء رصدا

وزعموا أن لست أدعو أحدا ... وهم أذل وأقل عددا

هم بیتونا بالوتیر هجدا ... وقتلونا رکعاً وسجدا

اهل مکة چه کله ددے حرکت په انجام باندے سوچ اوکړلو.نو ابوسفیان ئے د صلح د تجدید دپاره مدینے منورے ته اولیږلو.دوی د حضرت ابوبکر.عمر.اوعلی رضی الله عنهم سره خانله خبرے اوکړلے.اونامراد واپس شو.

نبی اکرم ﷺ په ۱۰ رمضان لس زره لښکر واخستلو.او دمکے په لور ئے سفر شروع کړلو.قریشو ته خبر نه وو.تردے چه مکے ته نزدے ..مرالظهران.. مقام ته نزدے اورسیدل.اهل مکه ته د فوج د راتلو غږ رسیدلے وو.اوهسے هم دا ویره وه.چه معلومه نه ده.رسول الله ﷺ به کوم وخت په مونږ باندے حمله کوی.نوابوسفیان بن حرب.بدیل بن ورقاء او حکیم بن حزام د خبراخستلو په غرض دمکے نه بهرته راووتل.کله چه مرالظهران ته نزدے شو.نواور ورته په نظر راغلو.خکه چه نبی کریم ﷺ د عربود زوړ رواج مطابق اودحکمت د وجه دا حکم ورکړے وو.چه هرکس دے دخپلے خیمے وړاندے اور اولګوی.دے خلقوچه اورونه اولیدل.نو ګهبراؤ شو.اود یو بل نه ئے تپوس اوکړلو دا اورونه څنګه دی؟ بدیل اووئیل دا اورونه د خزاعه قبیلے دی.ابوسفیان اووئیل.خزاعه سره دومره لښکر دکومے راغلو.هغوی خو لږ دی.داخبرے کیدلے.چه حضرت عباس رضی الله عنه د نبی ﷺ په قچر باندے سور هغه طرف ته راغلو.هغه سره فکر وو.څنګه اهل مکه ته خبر اوشی.اود صبا کیدو نه وړاندے وړاندے دوی د نبی ﷺ نه امن طلب کړی.ګنی دخیر څه صورت نه ښکاری.نوهغه د څه څرونکی وغیره په لټون کښے راوتلے وو.چه دابوسفیان آواز ئے واوریدلو.نوهغه ئے اوپیژندلو.سمدستی ئے هغه ته آواز ورکړلو.اود حملے خبر ئے ورته ورکړلو.چه خبر ئے واوریدلو.نودا خلق وارخطا شو.اودحضرت عباس رضی الله عنه نه ئے تپوس اوکړلو.چه څه تدبیر دے اوکړے شی؟حضرت عباس رضی الله عنه ورته اووئیل.ماسره په قچر باندے روستو سور شه.تا نبی ﷺ

نه بوخم.حضرت عمر رضي الله عنه وريسے شو. اوقتلول ئے غوښتل.اوعرض ئے اوكړلو.يارسول الله دا ابوسفيان دے.ده سره څه معاهده نشته.ماته اجازت راكړه.چه څټ ترے قلم كړم.حضرت عباس رضي الله عنه اوفرمائيل ما ابوسفيان ته پناه وركړے ده.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل بنه دےخان سره ايسار كړه، او صباته ئے ماته راوله.حضرت عباس رضي الله عنه د نبى ﷺ دحكم مطابق دے په خپله خيمه كښے ايسار كړلو.صبا ته ابوسفيان د مسلمان كيدو فيصله اوكړله.اود نبى ﷺ په خدمت كښے حاضر شو.اسلام ئے قبول كړلو.نبى ﷺ هم دهغه عزت اوكړلو.او وے فرمائيل.((من دخل دار أبي سفيان فهو آمن)) (١)

د اسلام راوړلو نه پس د نبى ﷺ دده سره سلوك. ددوى په غزواتو كښے ګډون.اود الله په لار كښے د دوى د دواړو سترګو شهادت دا ټولے خبرے دليل دے. په دے خبره چه دوى د زړه په اخلاص مسلمان شوى وو.(٢)

قوله: وَكَانَ ابْنُ النَّاطُورِ صَاحِبُ إِيلِيَاءَ وَهِرَقْلَ سُقُفًّا عَلَى نَصَارَى الشَّامِ يُحَدِّثُ...:دا دامام زهرى رحمه الله مقوله ده.اود اسناد سابق سره موصول ده.بعضے حضراتو دے ته معلق وئيلے ده.خو دا وهم دے.اود بعضے مغاربو خيال دے.چه دا ((عن الزهرى عن عبيدالله عن ابن عباس عن أبي سفيان عن ابن الناطور)) نه مروى دے.خومحققين فرمائى.په دوى باندے د ابن اسحاق رحمه الله په روايت سره اشتباه راغلے ده.ځكه چه هغوى د ابن الناطور حديث د ابوسفيان دحديث نه وړاندے ذكر كړے دے.(٣)

اصل صورت دا دے.چه دا حديث په اولنى حديث باندے معطوف دے.تقديرد عبارت دا دے.((عن الزهرى أخبرنى عبيدالله .... فذكر الحديث ثم قال الزهرى: وكان ابن الناطور يحدث..))(٤)

دامام زهرى رحمه الله ملاقات د ابن الناطور سره د ابن الملك په زمانه كښے په دمشق كښے شوے وو.امام زهرى رحمه الله دا قصه په خپله اوريدلے ده.په ظاهره په دغه وخت كښے ابن الناطور مسلمان شوے وو.(٥)

---

(١) دتفصيلاتو دپاره اوګورئ سيرت ابن هشام (٢/٢٦٨، ٢٦٩) سيرت مصطفى (٣/٢٠، ٢١) اوسيرت النبى ﷺ (١/٢٩٦، ٢٩٧)_

(٢) حضرت ابوسفيان داسلام په باره كښے بعضے حضرات دوى ته دا اشعار منسوب كوى.

لعمرک إني يوم أحمل رأية : لتغلب خيل اللات خيل محمد

لک المدلج الحيران أظلم ليله : فهذا أواني حين أهدى وأهتدى

هداني هاد غير نفسي ودلني : على الله من طردت كل مطرد...

خو په حقيقت كښے دا اشعار د حضرت ابوسفيان بن حارث بن عبدالمطلب دى.د ابوسفيان بن حرب نه دى.

اوګورئ سيرت ابن هشام (٢/٢٦٨)_

(٣) فتح البارى (١/٤٠)_

(٤) پورتنئ حواله)_

(٥) پورتنئ حواله)_

..ناطور.. په طاء مهمله سره لوستلے شوے دے.او "ناطور" په ظاء معجمه سره هم لوستلے شي.بعضے حضراتوونيلي دي.چه ناطورد كهجورو دباغ محافظ ته وائي.اوبعضوخيال دے.چه د انگورو د باغ ماليار ته وائي.دا عربي لفظ نه دے خو په عربئ كښے استعمال دے.(١)
دا ابن ناطور د ايلياء گورنر وو.اود هرقل مصاحب هم وو.اودے د شام د نصارؤ لوئے پادري وو.يعني ده ته مذهبي عظمت اودنيوي وجاهت دواړه حاصل وو.

آيا د حقيقت اومجاز په مينځ كښې جمع تيک ده؟ دلته ..ابن الناطور.. ته صاحب دايلياء او هرقل وئيلے شوے دے.د ..صاحب.. دلفظ معني د حقيقي مصاحب دے.اومجازي معني نے گورنرده.دلته دا لفظ په دے دواړومعانيو كښے مستعمل دے.علامه كرماني رحمه الله فرمائي.چه دحضرت امام شافعي رحمه الله په نيز د يولفظ نه په يووخت كښے حقيقي اومجازي معني دواړه مراد اخستلي شي.اونور حضرات په داسے موقع باندے عموم مجاز مراد اخلي.يعني يوه عامه معني مراد اخلي.چه حقيقت او مجاز دواړه ددے معني فرد جوړ شي.(٢)
زمونږ د طرفه دا وئيلي شي.چه اول خو شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله تصريح كړے ده.چه دامام شافعي رحمه الله نه چرته منقول نه دي.چه يولفظ په يووخت كښے د حقيقت او مجاز دواړو معانيو دپاره استعماليدے شي.البته د امام شافعي رحمه الله ملگرو د بعضے استعمالاتو نه دا نتيجه اخذ كړے ده.په خپله دهغوی نه څه تصريح نشته.(٣)
دويمه خبره دا ده.چه«وكان ابن الناطور صاحب إيلياء وهرقل» د زهري رحمه الله كلام دے.د رسول الله ﷺ ارشاد نه دے.نوځكه په دے باندے استدلال كول مفيد نه دي.
ددے نه علاوه دا هم وئيلي شي.چه دلته د ..صاحب ايلياء.. نه پس اود ..هرقل.. نه وړاندے د صاحب لفظ بيل هم مقدر دے.نود اولني ..صاحب.. معني به گورنر شي.اود دويم ..صاحب.. معني به ..مصاحب.. شي.په دے طريقه به دا اشكال ختم شي.چه د يولفظ نه دوه معاني يعني حقيقي اومجازي مراد اخستے شوي دي.مخذوف منل د حقيقت او مجاز د جمع په نسبت سره بهتر دي.(٤)
دغه شان دا هم وئيلي شي.چه د ..صاحب.. معني جدا جدا نه ده.بلكه يوه معني نے ده...ذو.. په معني د ..والا.. دے.دا بيله خبره ده.چه مضاف اليه ته د نسبت كولو په اعتبار سره فرق راځي.نوكه ددے نسبت ځائے طرف ته وي.نو ددے معني خاوند اوحاكم دے.اوكه يوكس طرف ته وي.نود ..مصاحب او دوست.. معني به وي .نو لكه چه د ..صاحب اويلياء وهرقل.. مطلب دا شو چه د ايلياء اوهرقل خاوند . چونكه ايلياء ځائے دے.نوددے معني به شي.دايلياء حاكم او گورنر.اوهرقل كس دے .نوددے معني به شي.دهرقل ملگرے.(٥)

---

(١) عمدة القاري(١/٨٠) بيان الأسماء المبهمة)_
(٢) شرح كرماني) رحمه الله ١/٦٤)_
(٣) فيض الباري(١/٤٢)_
(٤) عمدة القاري(١/٩٥)_
(٥) فيض الباري(١/٤٢)_

سقف ددے لفظ په ضبط کښې اختلاف دے چه دا فعل دے که اسم؟ که فعل وی نو په دے کښې دوه اقوال دی. یو قول خو دا دے چه دا ،،**سقِّف**،، د باب تفعیل نه دماضی صیغه ده اودویم قول دا دے چه دا ،،اسقف،، یعنی د باب افعال نه ماضی ده.(۱)
اوکه دا اسم وی نوددے په ضبط کښې څو اقوال دی.

(۱) یو قول ،،**أسْقُف**،،، او دویم قول دے ،،**أسْقُفّ**،، په دواړو همزه و قاف مضموم دے اوسین ساکن. البته په رومبنی قول باندے فاء مخفف ده اوپه دویم باند ےمشدد دریم قول ،**سُقُفّ**، بضم السین والقاف وتشدید الفاء دے.(۲)

مشهوره دا ده چه دا دعجمی ژبے لفظ دے اوددے معنی ده «رئیس دین النصاری» یعنی د نصارو دټولو نه لوئے پیشوا.
بعضے حضرات فرمائی چه دا ،،سقف،، نه مشتق دے ددے معنی په اوږدوالی سره ټیټیدل دی چونکه ددوی دینی پیشوا به د عاجزئ داظهار دپاره په ټیټه تلو خکه ورته ،،سقف،، یا اسقف،، وائی.(۳)
الشام دا مهموز او غیر مهموز په دواړو طریقو لوستلے شی دغه شان شام هم لوستلے شوے دے.(۴)
حافظ ابن عساکر رحمه الله په خپل تاریخ کښې نقل کړی دی چه شام ته لس زره صحابیان داخل شوی دی.(۵)
علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه نبی څلور خله شام ته تشریف اوړے دے دوه خله د نبوت نه وړاندے اول خل د دولسو کالو په عمر کښې ئے دخپل تره ابوطالب سره سفر کړے وو اومقام بصری ته رسیدلے وو راهب سره ئے ملاقات شوے وو هغه دوی ته د واپس بوتلو مشوره ورکړے وه په دویم خل ئے د پنځویشت کالو په عمر کښې د حضرت خدیجه رضی الله عنها مال د تجارت دپاره اوړے وو بیا دنبوت نه پس ئے هم دوه خله شام ته تشریف اوړے وو یوخل داسراء په موقع باندے اودویم خل د غزوه تبوک په موقع باندے(۶) الله اعلم.

قوله: أَنَّ هِرَقْلَ حِينَ قَدِمَ إِيلِيَاءَ أَصْبَحَ يَوْمًا خَبِيثَ النَّفْسِ: یعنی هرقل چه کله ایلیاء ته اورسیدلو نویوورخ هغه په ډیره پریشانئ اواضطراب کښې صبا کړلو هغه خفه او غمګین وو.

---

(۱) عمدة القاری(۸۹/۱) وفتح الباری(۴۱/۱)_
(۲) پورتنی حواله)_
(۳) فتح الباری(۴۱/۱) وتاج العروس (س ۵۳/۶)_
(۴) عمدة القاری(۸۲/۱) بیان أسماء الأماکن وشرح کرمانی(۵۳/۱)_
(۵) عمدة القاری(۸۲/۱)_
(۶) شرح کرمانی(۵۳/۱)_

دلته دے دا اشکال نه وی چه په حدیث کښې خو دی.((لایقولن أحدکم خبثت نفسی))(۱)که چه په دے کښې خطاب مسلمانانو ته دے اوهلته دهرقل په باره کښې دے.
دلته د ..خبیث النفس.. نه مراد مغموم اوغمګین دے.
قوله فَقَالَ بَعْضُ بَطَارِقَتِهِ قَدِ اسْتَنْكَرْنَا هَيْئَتَكَ: دده د حکومت بعضے خواصو اووئیل مونږ ته ستا حالت بدل ښکاری.تاسو مړاوے مړاوے اوخفه اودلګیر معلومیږئ.ددے څه وجه ده؟
..بطارقة.. د بطریق جمع ده.ددے معنی ده قائد.د حکومت خواص اواهل الرائے (۲)
قوله قَالَ ابْنُ النَّاطُورِ وَكَانَ هِرَقْلُ حَزَّاءً يَنْظُرُ فِي النُّجُومِ: ابن ناطور اووئیل:هرقل کاهن وو.په علم نجوم کښې ورته مهارت حاصل وو.
دلته دوه صورتونه دی.(۳)
یوصورت دا دے.چه ..حزاء.. موصوف او..ینظرفي النجوم.. ددے صفت اوګرځولے شی.اودویم صورت دا دے.چه ..حزاء.. د ..کان.. دپاره خبر اول او ..ینظرفي النجوم.. خبرثانی اوګرځولے شی.
په اولنی صورت کښې به ددے مطلب دا شی.چه هرقل کاهن وو.اودهغه کهانت د ..نظرفي النجوم.. په ذریعه وو.
په دویم صورت کښې به وئیلی شی.چه د کهانت درے قسمونه دی.یودا چه سړے فطری طورکاهن وی.دویم صورت دا چه د شیطانانو د خبر ورکولو په ذریعه کهانت کولے شی.اودریم صورت دا دے.په نجوم کښې د غور اوفکر دوجې نه کهانت زده شی.(۴)
اوس مطلب دا شو.چه هغه ته فطری کهانت هم حاصل وو.او د ..نظرفي النجوم.. په ذریعه هم هغه ته د کهانت فن ورتلو.
په جاهلیت کښې به کهانت د القاء شیطانی په ذریعه هم کیدلو.اود علم نجوم په مدد سره هم.اسلام هرقسم کهانت باطل اوګرځولو.نوپه کهانت باندے اعتماد ټیک نه دے.(۵)
یواشکال اودهغې جواب دلته اشکال دا دے.چه امام بخاری رحمه الله داسے روایت ولے ذکر کړلو.چه دهغې نه د کهانت اوعلم نجوم تقویت اوتصحیح معلومیږی؟
ددے جواب دا دے.چه امام بخاری رحمه الله دلته دا روایت د علم نجوم اوکهانت د تائید او تقویت دپاره نه دے راوړے بلکه ددے دپاره ئے ذکر کړے دے چه دا معلومه شی.چه د

---

(۱)صحیح بخاری کتاب الأدب باب لایقل:خبثت نفسی رقم (۶۱۷۹) و(۶۱۸۰)_
(۲) عمدة القاری(۸۷/۱) وتاج العروس (۲۹۶/۶)_
(۳)عمدة القاری(۹۳/۱)_
(۴)ایضاح البخاری(۱۲٤/۱)_
(۵)فتح الباری(٤۱/۱)_

نبی ﷺ د نبوت او صداقت اشارات دهرطرفه ښکاره کیدل. انسانانو جناتو.اهل حق او اهل باطل د ټولو په ژبه د نبی ﷺ خبرونه او زیری معلوم شوی دی.(۱)

قوله: فَقَالَ لَهُمْ حِينَ سَأَلُوهُ إِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ حِينَ نَظَرْتُ فِي النُّجُومِ مَلِكَ الْخِتَانِ قَدْ ظَهَرَ: نوهرقل د هغه په پوښتنې سره تپوس اوکړلو.چه ماښن شپه په نجوم کښې غور اوفکر اوکړلو.نواومې کتل.چه د ختنه کونکو ملك یا د ختنه کونکو خلقو بادشاه غلبه اوکړله.

..ملك..د میم د ضمه او د لام په سکون سره هم روایت دے.اودا د ..ملك.. د میم په فتحه اولام په کسره سره هم لوستلې شوے دے.

د نجومیانو عقیده ده.چه برج عقرب مائی دے.اوهرشل کاله په پس دے برج کښې د نمر اوسپوږمئ اجتماع کیږی.اوددے دواړو دے اجتماع ته ..قرن السعدین.. وائی نبی ﷺ چه کله پیدا شوے وو.نوپه هغه وخت کښې ..قرن السعدین.. شوے وو.بیا په دویم ځل ..قرن السعدین.. په شل کاله پوره کیدو شوی وو.کله چه حضرت جبریل ؑ وحی راوړله اودریم ځل په هغه موقع باندے شوے وو.کله چه فتح دخیبر اودعمرة القضاء واقعه پیښه شوے وه. اوددے په نتیجه کښې دفتح مکه په ذریعه دوی ته په ټولو عربو باندے غلبه حاصل شوے وه. هرقل ددے آخری ..قرن السعدین.. مشاهده په نظرفي النجوم سره کړے وه. او د دے نه هغه دا نتیجه راویستے وه.چه د ..ملك الختان.. غلبه به کیږی.(۲)

قوله: فَمَنْ يَخْتَتِنُ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ: د هغه زمانې په خلقو کښې د ختنه رواج په چا کښې وو.دامت معنی د ډلې ده.دلته مجازاً داهل عصر په معنی کښې دا استعمال شوے ده.

قوله: قَالُوا لَيْسَ يَخْتَتِنُ إِلَّا الْيَهُودُ فَلَا يُهِمَّنَّكَ شَأْنُهُمْ وَاكْتُبْ إِلَى مَدَايِنِ مُلْكِكَ فَيَقْتُلُوا مَنْ فِيهِمْ مِنَ الْيَهُودِ: بطارقه جواب ورکړلو.چه د ختنه رواج د یهودو نه سوا په بل چا کښې نشته.خوتاسو ته د دوی د وجې فکر نه دی کول پکار.ته دخپل ملك ښارونو ته اولیکه.چه هغه یهودیان کوم چه هلته وی.قتل کړی.

بطارقه د ختنه په باره کښې صرف د یهودو نوم اخستے دے.دا هغه دخپل علم په اعتبار سره ونیلی دی.ځکه چه د حجاز خلقو به ختنه کوله.

قوله: فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى أَمْرِهِمْ أُتِيَ هِرَقْلُ بِرَجُلٍ أَرْسَلَ بِهِ مَلِكُ غَسَّانَ يُخْبِرُ عَنْ خَبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دا خلق په دے فکر کښې وو.چه هرقل ته یو کس راوستے شو.کوم چه شاه غسان رالیږلے وو.اود نبی ﷺ خبرې راوړے وو.

د ملك غسان نه مراد ..عظیم بصری.. یعنی حارث بن ابی جمره دے.

---

(۱) پورتنئ حواله_
(۲) فتح الباری(۴۱/۱)_

دلته ..رجل.. مبهم دے.دا سړے څوك دے په دے باره کښے دوه اقوال نقل شوی دی
یودا چه دا دے نه حضرت دحیه رضي الله عنه خپله مراد دے چه حارث عظیم بصری ته کله دا خط
اورسیده نوهغه هم د حضرت دحیه رضي الله عنه په ذریعه هرقل ته رالیږلے وو
دویم قول دا دے چه دا عدی بن حاتم دے کوم چه ترهغه وخته پورے مسلمان شوے نه
وو بلکه د نصرانیت په دین وو لکه چه کله داخط حارث بن ابی جمره ته ملاؤ شو نوهغه د
عدی بن حاتم په ذریعه هرقل ته اولیږلو.(۱)

قوله فَلَمَّا اسْتَخْبَرَهُ هِرَقْلُ قَالَ اذْهَبُوا فَانْظُرُوا أَمُخْتَتِنٌ هُوَ أَمْ لَا فَنَظَرُوا إِلَيْهِ فَحَدَّثُوهُ أَنَّهُ مُخْتَتِنٌ وَسَأَلَهُ عَنِ الْعَرَبِ فَقَالَ هُمْ يَخْتَتِنُونَ: کله چه هرقل معلومات اوکړل نو
وے ونیل.ورشئ اوګورئ چه دے مختون دے که نه؟ هغه هرقل ته اوخودل چه هغه مختون
دے.هرقل دهغه نه د عربو په باره کښے تپوس اوکړلو.چه هغوی ختنه کوی که نه؟هغه ورته
اوخودل.چه هغوی هم ختنه کوی.

قوله فَقَالَ هِرَقْلُ هَذَا مُلْكُ هَذِهِ الْأُمَّةِ قَدْ ظَهَرَ: هرقل اووئیل.دا دهغه امت بادشاه
دے.چه غالب راتلونکے دے.

هرقل د ماضی صیغه او..قد..استعمال کړلو.څکه چه هرقل ته یقین وو.چه ددے نه بغیر
بله څه لاره نشته.چه هغه به غالب کیږی.

دلته کښے اکثرو راویانو ..مُلك.. د میم په ضمه اولام په سکون سره روایت کړے دے.البته
د قابسی په روایت کښے ..مَلِك.. (فتحه میم وکسره لام) دے.اود کشمیهنی په نسخه کښے
..یملك.. دے.

قاضی عیاض رحمه الله فرمانی.په اصل کښے ..ملك.. دے.دمیم ضمه د میم سره ملاؤ شوه.نو
دا یاء صورت پیدا شو.دغه شان په دے کلمه کښے تصحیف اوشو

علامه سهیلی دا په تصحیف باندے دحمل کولونه په ځانے د ټیك کرخولوکوشش کړے دے
اوفرمانیلی ئے دی.چه دا مبتدا اوخبر دی یعنی «هذا المذکور یملك هذه الأمة»
دا امکان هم ذکر شوے دے.چه دلته موصوف محذوف دے او..یملك.. صفت دے.یعنی
«هذا رجل یملك هذه الأمة» بلکه د کوفیانو په نیز دلته اسم موصول منلی شی.اوتقدیری
عبارت به وی.«هذا الذی یملك هذه الأمة» ددے نه هم وړاندے کیږی.اوکوفیان دا وانی.چه
..ذا.. د اسم اشاره په طور اسم مفعول استعمالولے شی.لکه چه د شاعر په دے شعر کښے
استعمال شوے دے.

---

(۱) فتح الباری(۱/ ۳۸)_

عدس، مالعباد عليك إمارة　　　أمنتِ وهذا تحملين طليق(١)

يعنى «الذى تحملينه طليق» دغه شان ..ذا.. دلته كنبے هم داسم موصول په معنى كښے ده. دحذف منلو ضرورت نشته. مطلب به داشى چه «والذى يملك هذه الأمة قد ظهر» خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ما په يوه معتمده نسخه كښے ليدلى وو ...بملك.. يعنى د ميم نه وړاندے باء موحده ده. په دے صورت كښے به د ..هذا.. مشار اليه ..حكم نجوم.. وى. اود ..بملك.. تعلق به د ..ظهر.. سره وى. تقدير د عبارت به دا شى «هذا الحكم الذى ثبت بالنظر فى النجوم وقد ظهر بملك هذه الأمة التى تختتن» يعنى د نظرفي النجوم نه چه كوم حكم ثابت شو. هغه د امت مختونه په بادشاهت سره ښكاره شو.(٢) والله اعلم.

قوله ثُمَّ كَتَبَ هِرَقْلُ إِلَى صَاحِبٍ لَهُ بِرُومِيَةَ وَكَانَ نَظِيرَهُ فِي الْعِلْمِ: بيا هرقل په روميه كښے خپل يو دوست ته خط اوليكلو. هغه په علم كښے د هرقل پشان وو.

وړاندے تير شوى دى. چه روميه د اټلى دارالحكومت دے. چه ..دومة الكبرى.. ورته هم وئيلى شى. د عيسايانو اصلى مركز هم دا وو. او هم دا د روم پايه تخت وو. شام فلسطين او نورے علاقے چونكه د روميانو د غلبے د وجے ددوى په تصرف كښے راغلے وے. اود دوى حكومت قائم شوے وو. نوځكه هغے ته هم روم وئيل شروع شوى وو. روستو بيا دا روميه چه دارالسلطنت او مذهبى مركز وو. ددے مركزيت تقسيم شو. او بل مركز په قسطنطنيه كښے جوړ كړے شو. هرقل به په قسطنطنيه كښے اوسيدل. اوده د شام په علاقه كښے يو مركز ..حمص.. جوړ كړے وو. په دے كښے به ده قيام كولو.

قوله وَسَارَ هِرَقْلُ إِلَى حِمْصَ فَلَمْ يَرِمْ حِمْصَ حَتَّى أَتَاهُ كِتَابٌ مِنْ صَاحِبِهِ يُوَافِقُ رَأْيَ هِرَقْلَ عَلَى خُرُوجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَّهُ نَبِيٌّ: هرقل حمص ته لاړلو. تراوسه پورے لا دحمص نه تلے نه وو. چه دده د دوست خط راغلو. اودهرقل درائے موافقت ئے كولو. چه يقينى ده. د نبى كريم ﷺ ظهور شوے دے او دا چه ده په حقه پيغمبر دے. په دے موقعه باندے د هرقل دوست د هرقل د رائے سره موافقت خو اوكړلو. خوذخپل اسلام اظهار ئے اونكړلو.

وړاندے مونږ په تمهيد كښے ذكر كړى دى. چه دے خط اوړونكے هم حضرت دحيه رضى الله عنه وو.

---

(١) دا د يزيد بن مفرغ شعردے دے دحضرت اميرمعاويه رضى الله عنه په زمانه كښے د قحطن ګورنر عباد بن زياد قيد كړے وو. د قيد نه دخلاصيدو نه پس هغه خپلے اسپے ته خطاب كوى اووائى روانه شه. په تابانديے دهغه عباد حكومت نه دے اوس خو مامون دے او څوك چه ته اوچت كړے دى (يعنى شاعر) هغه آزاد دے اوګورئ (سبيل الهدى بتحقيق شرح قطرالندى.. للشيخ محمدمحيى الدين عبدالحميد رحمه الله (ص.١٠٦) الأسماء الموصولة)_

(٢) فتح البارى(٤٢/١)_

اوکه بل څوك وو؟ په يقين سره نشي وئيلے. البته د تبوك په موقع چه نبي ﷺ دوباره دے هرقل ته اوليږلو نوهرقل د روميه لوئے پادري ته دے اوليږلو. خودے کښے دا نشته چه دا لوئے پادري هم هغه سابقه ضغاطر وو. اوکه نه بل څوك وو؟ بهرحال په دے خل دغه لوئے پادري د خپل اسلام اعلان اوکړلو. اوددے په نتيجه کښے هغه شهيد کړے شو.

حمص د شام يو مشهور او قديم ترين ښار دے چه دخپلو آثارو، مشاهدو او مزاراتو د وجے ډير مشهور دے. دحضرت ابوعبيده رضي الله عنه په مشرئ کښے دا ښار فتح شوے وو. (۱) وړاندے ذکر شوي دي. چه دهرقل اصلي مرکز خو قسطنطنيه وو. خود شام په علاقه کښے حمص ده خپل مرکز جوړ کړے وو.

قوله: فَأَذِنَ هِرَقْلُ لِعُظَمَاءِ الرُّومِ فِي دَسْكَرَةٍ لَهُ بِحِمْصَ: هرقل په حمص کښے په خپل محل کښے د روم مشران راوبلل.

..دسكرة.. هغه محل ته وائي. چه د هغے نه ګيرچاپيره ډيرکورونه جوړ شوي وي. (۲)

يولوئے محل وو. هلته کښے ده د روم مشرانو ته دعوت ورکړے وو. دهرقل خيال دا وو چه هرکله ضغاطر زما تائيد کوي. چه لوئے پادري دے. اود اهل کتابو لوئے عالم دے. نواوس کيدے شي. چه قوم اومني. نوځکه هرقل په حمص کښے خلق راجمع کړل.

قوله: ثُمَّ أَمَرَ بِأَبْوَابِهَا فَغُلِّقَتْ ثُمَّ اطَّلَعَ: بيا ئے د دروازو د بندولوحکم اوکړلو. اوبيا په خپله پورته اوختل. اودهغه ځائے نه ئے سر راتاه کړلو.

په خپله بالاخانه ته لاړلو. په دے خيال که په خلقو کښے جوش پيدا شي. نوپه ما باندے به لاس نشي اوچتولے. اودروازے ئے د دے دپاره بندے کړے. چه دوي بهرته نشي وتلے. ځکه چه که دجوش په صورت کښے بهرته اوځي. نوفتنه پيدا کيدے شي. نوځکه ئے دروازے بندے کړے. چه ددوي غصه هم په دے ځائے کښے سړه شي. (۳)

قوله: فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الرُّومِ هَلْ لَكُمْ فِي الْفَلَاحِ وَالرُّشْدِ وَأَنْ يَثْبُتَ مُلْكُكُمْ: بيا هغه اووئيل. اے روميانو! آيا تاسو په کاميابئ اوهدايت کښے څه مينه لرئ. اوپه دے خبره کښے چه ستاسو حکومت باقي پاتے شي؟

دهغه يقين وو. که اسلام قبول نکړے شي. نوحکومت به ځي. دا خبرے هغه ته د اخبارسابقو نه معلومے شوے وے. (۴)

قوله: فَتُبَايِعُوا هَذَا النَّبِيَّ: که ستاسود کاميابئ اوهدايت سره مينه وي اوتاسوخپل حکومت قائم اودائم ساتل غواړئ. نو ددے پيغمبر سره بيعت اوکړئ.

---

(۱) معجم البلدان(۲/۳۰۲، ۳۰٤)_

(۲) فتح الباري(۱/٤۳)_

(۳) فتح الباري(۱/٤۳)_

(۴) پورتنئ حواله)_

قوله فَحَاصُوا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ إِلَى الْأَبْوَابِ فَوَجَدُوهَا قَدْ غُلِّقَتْ: نو هغوى د خنګلى خرو پشان دروازو طرف ته منډه کړل خو هلته ئې دروازې بندې بيا موندې.

د روم عظما، اوو يريدل او اوتښتيدل دهغوى دا خيال وو چه هرقل زمونږ آزادى ختمول غواړى او زمونږ نه د عربو غلامان جوړول غواړى

دلته يوخو د خرو سره تشبيه ورکړې شوې ده دا په بيوقوفئ او جهالت کښې ضرب المثل ده او بل د خنګلى خرو سره تشبيه ورکړې شوې ده خکه چه د توپ وهلو اوتښتيدو خاصيت د کورنو خرونو په ځائې په دوى کښې زيات وى (١)

قوله فَلَمَّا رَأَى هِرَقْلُ نَفْرَتَهُمْ وَأَيِسَ مِنَ الْإِيمَانِ قَالَ رُدُّوهُمْ عَلَيَّ: کله چه هرقل د هغوى نفرت اوليدل او د هغوى د ايمان نه مايوس شو نو وې وئيل دوى ماته واپس راولئ هغه سياسى چل اوکړلو اووې وئيل.

قوله إِنِّي قُلْتُ مَقَالَتِي آنِفًا أَخْتَبِرُ بِهَا شِدَّتَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ فَقَدْ رَأَيْتُ فَسَجَدُوا لَهُ وَرَضُوا عَنْهُ: ما چه اوس اوس تاسو ته کومه خبره اوکړله په دې سره ما دا ازميښت کولو چه تاسو په خپل دين باندې څومره سخت او کلك ئې اوس زما يقين اوشو چه ستاسو مضبوطي مې اوليدله نو دوى ده ته سرونه ټيټ کړل او ده نه خوشحاله شول.

قوله فَكَانَ ذَلِكَ آخِرَ شَأْنِ هِرَقْلَ: د «آخر شأن هرقل» مطلب دا نه دې چه د دې نه پس هغه سمدستى مړ شو بلکه هغه ته چه د اسلام کوم دعوت ورکړې شو اوپه دې باره کښې چه کومه واقعه پيښه شوه هغه هم دلته ختمه شوه دهرقل معامله مشتبه پاتې شوه هغه ته د نبى اکرم ﷺ حقانيت ثابت شو خو بيا هم هغه خپل حکومت او دين ته ترجيح ورکړله او ايمان ئې راونړلو (٢)

هرقل د دې نه پس ډيره موده ژوندې پاتې شو لکه څنګه چه وړاندې بيان اوشو چه د دې نه پس هغه په جنګ موته کښې د مسلمانانو خلاف لښکر اوليږل په جنګ تبوك کښې ئې لښکر راوليږل دغه شان د نبى ﷺ په خدمت کښې ده سره زر راوليږل کوم چه نبى ﷺ تقسيم کړل (٣)

نبى اکرم ﷺ ده ته د غزوه تبوك په موقع باندې خط ليږلې وو هرقل خپل قوم ته هغه خط اولوستل او وې وئيل دا کس ماته دعوت راکوى چه زه مسلمان شم کنې جزيه به ادا کوم او که دا نه وى نو آخرى صورت په جنګ وى تاسو ټولو ته معلومه ده چه د دې کس قبضه به زمونږ په زمکه باندې هم اوشى راشئ يا خو د ده دين تابعدارى اوکړئ او يا جزيه ورکول اومنئ قوم چه کله دا خبره واوريدله نو په يو آواز ئې د ده خبره رد کړله او دخفګان

---

(١) پورتنئ حواله۔

(٢) فتح البارى (٤٣/١)۔

(٣) پورتنئ حواله۔

اظهار ئے اوکړلو. خو هرقل په دے باندے په آرام کړل اوخوشحاله کړل. چه ما خو ستاسو کلك والے کتل. اوس ماته معلومه شوه چه تاسو په خپل دین باندے څومره کلك ئے.
بیا هرقل حکم وزکړلو چه ماته یوعربی کس راولئ. چه هغه په خبره پوهیږی. اویادولے ئے شی نوتنوخی راوغوستے شو. هرقل ورته اووئیل. ته دے کس ته ورشه. که نورے درنه تولے خبرے هیرے شی نوخیر دے. خودرے خبرے یادے ساته. (۱)یوه دا چه هغه د خپل خط یادګیرنه کوی که نه؟ (۲) دویمه دا چه هغه زما خط اولولی. نود شپے ذکر کوی که نه؟ (۳) اودریم دا چه دهغه د اوږو په مینځ کښے څه څیز شته که نه؟
تنوخی لاړلو. اوپه تبوك کښے د نبی ﷺ په خدمت کښے حاضر شو. دتعارف نه پس نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. اے تنوخی آیا ستاسو دخپل پلار حضرت ابراهیم علیه السلام په دین. دین حنیف کښے مینه نشته. هغه ورته اووئیل. زه په دے وخت کښے د یو قوم قاصد یم. اوپه یوخاص دین باندے یم. ترڅوپورے چه زه هغوی ته واپس شوے نه یم. نود هغے نه وړاندے اوس زه دخپل دین نه نشم اوړیدے. نبی ﷺ په خندا شو. اوددے نه پس ئے دا آیت مبارك اولوستلو ﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾ القصص ۵۹۔

بیائے اوفرمائیل. ((یاأخا تنوخ: إنی کتبت بکتاب إلی کسری، فمزقه، والله ممزقه و ممزق ملکه، وکتبت إلی النجاشی بصحیفة فخرقها، والله مخرقه ومخرق ملکه، وکتبت إلی صاحبك بصحیفة فأمسکها، فلن یزال الناس یجدونه منه بأساً ما دام فی العیش خیر))
دا خبره دے ښکاره وی. چه نجاشی دوه دی. یوخو هغه دے. دچا په زمانه کښے چه صحابه کرام رضی الله عنهم اولنے هجرت کړے وو. هغوی په نبی ﷺ باندے ایمان راوړے وو. د هغوی وفات د ۷هـ کښے آخره کښے شوے وو. ځکه چه د ام حبیبه رضی الله عنها نکاح هم هغه کړے وه. او دراجح قول مطابق دهغے نکاح په ۷هـ کښے شوے وه. بیا نبی ﷺ د مدینه منوره په جنازګاه کښے دهغه غائبانه جنازه کړے وه. د غزوه تبوك په موقع په سفر کښے نه. علامه سهیلی رحمه الله ددوی وفات په ۹هـ کښے ذکر کړے دے. ددے په باره کښے حافظ ابن کثیر فرمائی چه ((فیه نظر))
دویم هغه دے. کوم چه د مسلمان نجاشی نه پس راغلو. هغه مسلمان نه وو. دهغه ذکر په مسند احمد کښے دتنوخی په روایت کښے دے. دغه شان د مسلم په روایت کښے نجاشی طرف ته د خط لیږلو ذکر سره په کښے د ((ولیس بالنجاشی الذی صلی علیه النبی ﷺ)) تصریح هم شته. (۱)
تنوخی وائی. چه یوه خبره دا شوه. اودا هغه اولیکله ددے نه پس دهرقل خط اولوستلے شو. په دے کښے هرقل لیکلی وو. ((تدعونی إلی جنة عرضها السماوات والأرض أعدت للمتقین، فأین النار)) نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل. ((سبحان الله أین اللیل إذا جاء النهار)) تنوخی اووئیل. دا دویمه خبره شوه. دا ئے هم اولیکله.

(۱) طبقات ابن سعد (۹۵/۸) والإصابة (۳۰۶/٤) والبدایة والنهایة (۹۹/۳. ۱۰٤) ومسند احمد)۔

نبی کریم ﷺ د خط نه د فارغ کیدو نه پس اوفرمائیل.ستا حق جوړیږی.اوته یو قاصد ئې.چونکه مونږ په سفر کښې یو اومونږ سره څه نشته.نوځکه مجبوری ده.ګنی مونږ به تا ته انعام درکړے وو.حضرت عثمان﷜یوه صفوریه جوړه پیش کړله اویوانصاری خوان د میلمستیا ذمه واری واخستله.زه دتلو دپاره پاسیدم.او روان شوم.نو نبی ﷺ ماته آواز اوکړلو.او راوے غوښتلم.اووے فرمائیل.تاته چه د څه حکم شوے دے.هغه اوکړه.نبی ﷺ خپلے شاه طرف ته اشاره اوکړله.چه راتاو شوم.او اومے کتل.نونبی ﷺ ..خبوه..(هغه جامه چه په کومه د کیناستو په وخت کښې پنډئ اوخیته تړی.چه اړانه ئې شی.ازمترجم) اوپه شاه مبارکه ئې مهر نبوة ښکاره وو.کوم چه ماته په نظرباندے راغلو.(۱)

براعت اختتام دامام بخاری رحمه الله عادت دے.چه په اختتام باندے دلالت کولو دپاره د کتاب په آخر کښې څه لفظ راوړی.دلته لفظ د..آخر.. د بدء الوحی په اختتام باندے دلالت کوی.(۲)

فائده حضرت شیخ الحدیث صاحب فرمائیلی دی.چه امام بخاری رحمه الله د کتاب په آخر کښې څه لفظ په اختتام باندے دلالت کونکے راوړی.په دے سره د کتاب اختتام طرف ته اشاره وی.خوپه دے سره دوی انسان ته خپله خاتمه وریادوی.د دوی مقصد دا وی چه ګوری دا کتاب چه علمی مباحث په کښې ذکر شوی دی.اختتام ته اورسیدلودغه شان ته هم مه غافله کیږه.ستا ژوند به هم یوه ورځ ختم شی.او بند به شی.لکه چه صرف د کتاب په اختتام باندے تنبیه نه ده.بلکه دے سره سره سړے خپلے خاتمے طرف ته هم متوجه کوی.(۳)

د روایت دترجمة الباب سره مناسبت د روایت د ترجمة الباب سره د مناسبت په باره کښې یوه خبره دا کولے شی.چه په ((باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله ﷺ)) کښې د وحی ذکر وو اوپه وحی کښې درے خیزونه وی.

() یوموحی،یعنی الله تعالی دده شان اوعظمت خو مسلم اومتفق علیه دے.مشرکان هم دالله تعالی تعریف اومدح کوی.اووائی.چه هم هغه د زمکے اوآسمان خالق دے.هم هغه د شمس اوقمر خالق دے.هم هغه د نظام تدبیر کونکے دے.خوك دهغه فیصله نشی رد کولے.

() دویم خیزپه وحی کښې یوه واسطه وی.هغه واسطه حضرت جبریل آمین دے.د چا په شان کښې چه راغلی دی.﴿إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ﴾(۴)

() دریم خیز موحی الیه دے.یعنی محمد ﷺ امام بخاری رحمه الله دلته د موحی الیه یعنی نبی ﷺ عظمت اوصداقت اود دوی ذهانت او شرافت ثابت کړل.د اهل کتابو د عالمانو، هرقل ،اوضغاطر شهادت دلته په حدیث کښې مصرح دے.لکه څنګه چه ئې تفصیل وړاندے تیرشو.دغه شان د کفر په امامانو کښې دکفر د یولوئې امام د ابوسفیان بن حرب ګواهی ئې هم

(۱) مسند احمدبن حنبل(۴۴۱/۲، ۴۴۲)_
(۲) فتح الباری(۴۴/۱)_
(۳) حاشیه لامع الدراری (۵۳۲/۱)_
(۴) التکویر:۱۹)_

پيش كړے ده.ابوسفيان بن حرب چه د هرقل د يوولسو سوالونو په جواب كښے د نبى ﷺ كوم اوصاف بيان كړى دى.هغه د دوى په عظمت،ديانت او شرافت باندے دلالت كوى.لكه چه امام بخارى رحمه الله دا حديث راوړلو.په دے كښے د موحى اليه يعنى نبى ﷺ اوصاف بيانول غواړى دوى د نبى ﷺ د اوصافو د حقانيت دپاره دوه لوئے شهادتونه بيان كړى دى.(١)

دا هم وئيلى شى.چه دا باب د ..بدء الوحى.. دے.اود هرقل په حديث كښے د ابوسفيان په ژبه دنبى ﷺ د ژوند ابتدائى حالات بيانيږى.نومعلومه شوه.چه نبى ﷺ ته د وحى ابتداءددے دپاره شوے وه.چه د دوى دا ښكلى اوحميده حالات وو.ددے تقاضا دا وه.چه په دوى باندے وحى نازل شى.(٢)

دريمه خبره دا ده.چه په ترجمة الباب كښے آيت ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ﴾ ...الخ،، ذكر دے.دغه شان په حديث هرقل كښے هم ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ...الخ﴾ (٣) آيت راغلے دے.په دے دواړو آياتونو كښے د اخلاص،اقامت دين،اود توحيد تبليغ مضامين د قدر مشترك په طور موجود دى.چه پيغمبرانوته به وحى كيدله.دغه شان په حديث هرقل كښے د ذكر شوى آيت په ذريعه دهغه آيت سره ربط راغلو.كوم چه په ترجمة الباب كښے ذكر دے.(٤)

دحضرت شيخ الهند د توجيه مناسبت به داسے وى.چه هغوى په بدء الوحى او په ..كيف.. كښے تعميم اختيار كړے دے.ددے په رڼا كښے خو تطبيق ښكاره دے.چه په دے حديث كښے د ا بتداء رسالت بيان په اعتبارد مكان،زمان اواحوالو سره دے.اوپه اعتبار د صفات د موحى اليهم سره هم دے.دغه شان دحديث هرقل د حديث دمجموعه نه د نبى اكرم ﷺ د عظمت،صدق سره سره د صاحب وحى په حيثيت سره د وحى عظمت هم معلوميږى.

دحديث نه مستنبط مسائل: ① ددے حديث نه ثابته شوه.مكتوب اليه اگرچه كافروى.چه هركله ورته د دعوت اسلام په سلسله كښے خط ليكلى شى.نود ملاطفت او نرمئ طريقه به اختيارولے شى.رسول الله ﷺ دهرقل په خط كښے هم ددے ملاطفت او نرمئ طريقه اختيار كړے وه.كما مر تفصله.② ددے نه يوه خبره دا معلومه شوه.اگرچه كافر ته خط ليكلى شى.نوهغه به هم د بسم الله الرحمن الرحيم نه شروع كولے شى.داسے نه ده.چه مكتوب اليه كافر وى.نو دهغه په خط كښے به بسم الله الخ نشى ليكلے.③ ددے حديث نه دا هم معلومه شوه.چه په خبر واحد باندے عمل كول واجب دے.خكه چه نبى ﷺ د يو كس په ذريعه خط اوليگلو.اود دوى مقصد دا وو.چه ددے مطابق دے عمل اوكړے شى.نو ددے نه په خبرواحد

(١) عمدة القارى(٧٩/١)_
(٢) عمدة القارى(٧٩/١)_
(٣) آل عمران:٦٤_
(٤) پورتنئ حواله)_

باندې د عمل كولو لزوم معلوميږي. ④ څلورمه فائده ددې حديث نه دا معلومه شوه كه اهل كتابو كښې څوك ايمان راوړي نو هغه ته به دوه ثوابونه ملاويږي. ځكه چه نبى ﷺ
اوفرمائيل چه ((أسلم تسلم يؤتك الله أجرك مرتين))
⑤ پنځمه خبره دا معلومه شوه چه قرآنى آياتونه واخلى. اودكافرو ملك ته سفر كوى. نو دا جائزدى. لكه څنګه چه ئې خط واخستلو اودهرقل ملك طرف ته ئې سفر اوكړلو. اوپه هغې كښې
قرآن پاك ليكلې شوې وو. ((وسيأتى تفصيله فى محله إن شاء الله))
⑥ شپږمه فائده دا معلومه شوه. چه كافرانو ته به اول د اسلام دعوت وركولې شى لكه څنګه چه هرقل ته نبى ﷺ د اسلام دعوت وركړې وو.
⑦ اوومه خبره دا معلومه شوه. چه د دين په امورو كښې به هغه خلقو ته ترجيح حاصله وى. څوك چه دنسبى شرافت حامل وى. يعنى كه داسې خلق موجود وى چه هغوى د دين حاملان وى. اوددې په مقتضا باندې عمل كونكى وى. نوپه هغوى كښې چه څوك نسبى شرافت لرى. هغه ته به ترجيح وى. اوكه څوك د نسبى فضيلت خاوند وى. خو حامل دين نه وى. اوددې په مقتضا باندې عمل نه كوى. اوبل كس چه نسبى شرافت نه لرى خودډين په مقتضا باندې پوره پوره عمل كونكې وى. نوڅوك چه د دين په مقتضا باندې عمل كوى اګرچه نسبى شرافت نه لرى. هغه ته به ترجيح وى. په داسې صورت كښې به صرف نسبى شرافت وجه د ترجيح نه وى. ⑧ يوه مسئله ددې نه دا ثابته شوه. چه په كوم خط كښې د قرآن پاك آيت ليكلې شوې وى. هغې ته محدث، جنب اوكافر هم لاس وراوړلې شى لكه د نبى ﷺ په دې خط كښې چه دقرآن كريم آيت ليكلې وو. اود كافر لاس ته هغه خط اورسيدلو
⑨ نهمه فائده دا په ذهن كښې راغله. چه په خط كښې ايجاز او اختصار غوره دې. هم دا د بلاغت تقاضا ده. دنبى ﷺ خط مبارك د ايجاز او اختصار باوجود د بلاغت په اعلى قسم باندې مشتمل وو. ⑩ ددې نه دا هم معلومه شوه. چه د كافرانو ملك ته سفر كول جائز دى. لكه څنګه چه د نبى ﷺ قاصد حضرت دحيه كلبى رضي الله عنه شام ته سفر كړې وو
⑪ دا هم معلومه شوه. كه د تبليغ دپاره د قرآن پاك آياتونه اوليكلې شى اوكافرانو ته اوليګلې شى. نوپه دې كښې څه حرج نشته. لكه څنګه چه نبى ﷺ ليږلې وو.
⑫ يوه خبره دا هم معلومه شوه. چه د ګمراهۍ سبب جوړيدل هم په ګمراهۍ كښې داخل
ده. لكه د ((فإن توليت فإن عليك إثم الأريسيين)) نه چه معلومه شوه
⑬ يوه خبره دا هم معلومه شوه. چه دروغ په د ټولو امتونو په نيز قبيح او بد دې. صرف په رافضيانو كښې يوه ډله ده. چه هغوى دروغ اجراوثواب ګڼرى. د باقى ټولو امتونو د كذب په قباحت باندې اجماع ده.
⑭ دا خبره معلومه شوه. چه پيغمبران عليهم السلام په اوچت نسب كښې راليږلې شوى دى
⑮ يوه خبره دامعلومه شوه. چه اهل كتابو ته د نبى ﷺ د صداقت علم وو
⑯ يوه خبره دا هم معلومه شوه. چه اهل كتابوته به دجنګ نه وړاندې د اسلام دعوت وركولې شى. د جنګ نوبت به هله راځى. چه هغوى په اسلام يا په جزيه كښې يو هم قبول نكړى.

⑰ يوه خبره دا معلومه شوه چه كافرانوته به ابتداءً سلام نشي كولے.نبي ﷺ ((سلام على من اتبع الهدى))فرمائيلي دي.((سلام عليكم))ئے نه دي فرمائيلي.

⑱ يوه خبره دا هم ثابته شوه چه كافرانو ته كله د اسلام دعوت وركولے شي.اود اسلام په قبلولو كښے تال متول كوي.نودهغوي عذر به قابل قبول نه وي.هرقل دعوت قبول نكړلو.نونبي ﷺ اوفرمائيل.((كذب بل هو على نصرانيته))(١)

⑲ يوه خبره دا معلومه شوه.چه په مخاطباتو او خطبه كښے د ((أمابعد)) وئيل مستحب دي

قوله رَوَاهُ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ وَيُونُسُ وَمَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ:دا روايت كوم چه تاسواولوستل.په دے كښے د امام بخاري رحمه الله شيخ ابواليمان دے.د دوي استاذ شعيب دے.اودهغه استاذ زهري دے.امام زهري رحمه الله د عبيدالله بن عبدالله عن ابن عباس په سند سره حديث نقل كړے دے.

دلته كښے ئے ((رواه صالح بن كيسان..إلخ)) اووئيل.امام بخاري رحمه الله دا خودل غواړي.چه د زهري رحمه الله نه روايت كونكے لكه څنګه چه شعيب دے.دغه شان دا درےواړه هم د امام زهري رحمه الله نه روايت كوي.

دصالح بن كيسان روايت امام بخاري رحمه الله د ((ابراهيم بن حمزة حدثنا إبراهيم بن سعد عن صالح بن كيسان عن ابن شهاب عن عبيدالله بن عبدالله عن ابن عباس)) په سند سره په ((كتاب الجهاد باب دعاء النبي ﷺ الناس إلى الإسلام والنبوة)) كښے نقل كړے دے.خويه دے روايت كښے د ابن ناطور قصه نشته.هم په دے سند سره امام مسلم هم ددے حديث تخريج كړے دے.(٢)

دغ شان د يونس روايت هم امام بخاري رحمه الله په ((كتاب الجهاد باب قول الله عزوجل ﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ﴾)) او ((كتاب الإستيذان باب كيف يكتب إلى أهل الكتاب)) كښے مختصراً نقل كړے دے.د دوي په سند سره مكمل حديث امام طبراني روايت كړے دے.

اودمعمر روايت هم امام بخاري رحمه الله په كتاب التفسير باب ﴿قُلْ يَآأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللّٰهَ﴾ كښے نقل كړے دے.

علامه كرماني رحمه الله په دے مقام كښ څه نور احتمالات ذكر كړي دي.دهغے علامه عيني او حافظ ابن حجر رحمهما الله په زوردار طريقه ترديد كړے دے.(٣)

والله اعلم وعلمه أتم وأحكم قد تم شرح كتاب بدء الوحي ويليه إن شاء الله تعالى كتاب الإيمان

---

(١) د ..اسلام هرقل ..په بحث كښے ددے تخريج تير شوے دے۔

(٢) صحيح مسلم كتاب الجهاد باب كتب النبي ﷺ إلى هرقل ملك الشام يدعوه إلى الإسلام)_

(٣) د پوره تفصيل دپاره اوګورئ عمدة القاري (١/ ١٠٠. ١٠١) وفتح الباري(١/ ٤٤. ٤٥)_

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الإيمان

دوحي عظمت او صداقت.عصمت اوحجتيت د ديباچه په طور د بيانولو نه پس اصلي مقصد شروع كوى.چونكه دټولو كارونو دارومدار په ايمان باندے دے.د وحي په تعلق سره د الله تعالى اود بنده تعلق معلوم شو.اوس ددے تعلق اظهارهم ضرورى دے.هغه به په ايمان او اعمالو سره راخى.ايمان روح دے.اواسلام بدن.ايمان حقيقت دے اواسلام ددے صورت.ايمان بنياد دے.اواسلام ددے شاخونه دى.هم د ايمان په وجه په مغيباتو باندے بغير د دليل او حجت نه يقين او اطمينان راخى.د وحى بحث ئے ځكه په ابتداء كښے ذكركړلو.چه دټول كتاب حجتيت او استناد ثابت شى.

مناسب معلوميږى.چه دايمان د مباحثو شروع كولو نه وړاندے د اسلامى ډلو مختصر تعارف اوكړے شى.

اسلامى ډلے: اسلامى فرقے هغے ته وائى.چه داسلام دعوى كوى.اوخپل ځان اسلام طرف ته منسوب كوى.كه ګمراه وى اوكه په صحيح لاره وى. معتزله. خوارج. مرجيه. جهميه. وغيره ټولے على سبيل التشكيك ..فرق ضاله.. دى.صحيح اسلامى فرقه .اهل السنة والجماعة.. ده. كوم چه د«ما أناعليه وأصحابي» مصداق دے(١)

د اهل سنت والجماعة ډلے: بيا په اهل سنت والجماعة كښے څلور ډلے په صحيح اسلام باندے دى

محدثين: دا حضرات په عقائدو كښے د امام احمد رحمه الله متبعين دى.

متكلمين: دا دوه ډلے دى.

(الف) **اشاعره:** دا خلق عام طور د امام مالك اوامام شافعى رحمهما الله نه د منقولو عقائدو تشريح اوترويج كوى.

(ب) **ماتريديه:** دا حضرات د امام اعظم رحمه الله اود دوى نه دمنقولو عقائدو تائيد اوتفصيل كوى.په اشاعره او ماتريديه كښے لږ غوندے اختلاف دے.ابوالحسن اشعرى رحمه الله د اولنۍ اود ابومنصور ماتريدى رحمه الله د دويمے ډلے امام دے.دا دواړه د امام طحاوى رحمه الله هم عصر دى.(٢)

امام ابوالحسن اشعرى رحمه الله: امام ابوالحسن اشعرى په اول كښے معتزلى وو.د ابوعلى جبائى معتزلى په خاص شاګردانو كښے وو.د معتزلو لوئے مناظر وو.يوځل ئے په ټول رمضان كښے اعتكاف اوكړلو.په اوله عشره كښے ئے اوليدل.چه نبى ﷺ ورته فرمائى.«ياعلى أنصر المذاهب

---

(١) هذا جزء من حديث أخرجه الترمذي في جامعه عن عبدالله بن عمروبن العاص رضى الله عنهما فى كتاب الإيمان باب ماجاء في إفتراق هذه الأمة رقم.(٢٦٤١)_

(٢) فضل البارى(١/٢٣٥)_

المروية عنى فإنها الحق» چه خوب نه رابیدار شو نو ډیر فکرمند شو ورسره په دویمه عشره کښې ورته بیا د نبی ﷺ زیارت نصیب شو نبی ﷺ ترې تپوس اوکړلو «ما فعلت فیما أمرتك» دوی ورته جواب ورکړلو.«یا رسول الله وما عسی أن أفعل، وقد خرجت للمذاهب المروية عنك محامل صحيحة» نبی ﷺ ورته دوباره اوفرمائیل «أنصر المذاهب المروية عنى فإنها الحق»چه بیمار شو نو ډیرفکرمند شو ورسره. پخه اراده ئې اوکړله چه ..کلام.. به پریږدم دحدیث تابعداری به کوم او دقرآن کریم په تلاوت به مداومت کوم.بیا په آخری عشره په اوویشتمه شپه چه ټوله شپه په کښې بیدار وو.په ده باندې دخوب غلبه راغله.نواوده شو.هغه ته افسوس کیدلو چه په اوویشتمه شپه ئې عبادت اونکړلو.هم ددې خوب په حالت کښې ورته د نبی کریم ﷺ زیارت نصیب شو.نبی ﷺ ترې بیا تپوس اوکړلو نو دوی جواب ورکړلو.«قد تركت الكلام،یا رسول الله،ولزمت كتاب الله وسنتك» نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.«أنا ما أمرتك بترك الكلام،إنما أمرتك بنصرة المذاهب المروية عنى فإنها حق» دوی عرض اوکړلو.یا رسول الله زه د یوخوب په بنیاد باندې داسې مذهب څنګه پریخودې شم.چه دهغې په پخولو او مضبوطولو کولو کښې ما دیرش کاله تیر کړی دی.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.«لولا أنى أعلم أن الله سیمدك بمدد من عنده لما قمت عنك حتى أبین لك وجوهها،فجد فیه،فإن الله سیمدك بمدد عنده» چه کله صبا شو.او رابیدار شو.نود اهل سنت عقائدو ته ئې شرح صدر شوې وو.اود معتزلو د عقائدو فساد ورته ښکاره شوې وو.په جامع مسجد کښې ئې د توبې اعلان اوکړلو.اوبیا د اهل سنت لوئې امام جوړ شو.([1])

امام ابومنصور ماتریدی رحمه الله محمد بن محمد بن محمود .ابومنصور ماتریدی رحمه الله د متکلمینو رحمهم الله امام دې.په درې واسطو سره د امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرد دې.دوی فقه د ابوبکرجوزجانی رحمه الله اوابوسلیمان جوزجانی رحمه الله نه حاصل کړې وه.کوم چه د امام محمد رحمه الله شاګرد دې.

کتاب التوحید .کتاب المقالات.کتاب اوهام المعتزلة وغیره اهم تصنیفات ئې پریخی دی.په ۳۳۳ه کښې وفات شوې دې.

دوی ..ماترید..طرف ته منسوب دی.کوم چه د سمرقند یوه محله ده.([2])

خلورمه ډله د اهل سنت دصوفیانو رحمهم الله ده.

په حضرات محدثینو رحمهم الله باندې نقل اوسماع غالب ده.دوی د سمعیاتو نه مسائل مستنبط کوی.متکلمین که ماتریدیه وی اوکه اشاعره.په سمعیات او عقلیات دواړو باندې اعتماد

---

(۱) ددې واقعې دپاره دغه شان ددوی د نورو حالاتو دپاره اوګورئ طبقات الشافعية الكبرى للسبكي(۲/۲۴۵.۳۰۱)

(۲) انظر الفوائد البهية في تراجم الحنفية(ص،۱۹۵)_

کوي خو ددے دا مطلب نه دے چه په عقل باندے څه خبره ثابتوي بلکه د قرآن او سنت نه ثابت شوي عقائد په عقلي دلائلو سره ثابتوي.دعقلي شبهاتو رد کول د دوي اهم مقصد دے.دوي دعقل اونقل د توافق په ذريعه باندے د مسائلو اثبات کوي.دصوفيانو ﷭ په نيز اشراق نوري ته زيات اهميت حاصل دے.(۱)

د ايمان لغوي معنی د ..ايمان.. لفظ د ..امن.. نه ماخوذ دے.او ..امن.. د ..خوف.. ضد دے. امن اطمينان او طمانيت ته وائي.کله چه دا د باب افعال نه راشي.نومتعدي کيږي .او د دے معنی. ازاله د ويرے.. راځي.بيا ددے استعمال کله د يو مفعول سره کيږي.او ونيلے شي.«آمنته» ماهغه ته امن ورکړلو.اوهغه مے مطمئن کړلو.اوکه کله د دوو مفعولينو سره راځي. «آمنته غيري»ما هغه ته د خپل خان نه سوا د نورو نه يے ويرے او مطمئن کړلو.بيا چه کله دا د باب افعال نه استعمال شي.نوددے معنی ازاله د ويرے وي.او دوو مفعولينو ته متعدي کيږي. اوکله په دويم مفعول باندے .من. داخلولے شي.لکه ﴿وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ﴾ دلته د باب افعال څنے دے..هم.. او ..خوف.. دوه مفعوله دي.دويم مفعول ..خوف.. د ..من.. په واسطه د ..من.. سره ذکر شوے دے.

کله د ..ايمان.. په صله کښے ..باء..استعماليږي.په دغه وخت کښے ددے معنی ..تصديق.. وي.بيا دغه ..باء.. کله په ذوات باندے داخليږي.لکه «آمنت بالله» اوکله په احکامو باندے لکه ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ﴾ (۲)

د بعضے خلقو رائے دا ده.چه ايمان کله د ..تصديق..په معنی کښے استعمال وي.نو ددے ,,صله.. د ..باء.. سره څکه راځي.چه دا معنی د ..اعتراف.. لره متضمن وي اود ..اعتراف.. صله چونکه ..باء.. راځي.نوځکه ددے صله هم ..باء.. راځي.

بعضے حضرات فرمائي.چه ددے وئيلو ضرورت نشته.چه ايمان د اعتراف معنی لره متضمن دے.اود ..اعتراف.. صله ..باء.. راځي.نوځکه د ..ايمان.. په صله کښے هم ..باء.. راځي.بلکه پخپله د تصديق صله په ..باء.. سره راځي.نوکله چه ايمان دتصديق په معنی دے.نو ددے دپاره د ..باء.. استعمال په «آمنت بالله» کښے يا په ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ﴾(۳) کښے بيخي ښکاره دے.

بيا په دے کښے اختلاف دے.چه ..ايمان.. په معنی د .. ويرے لرے کولو..دے. چه دا متعدي بنفسه وي.اوپه معنی د ..تصديق.. وي چه متعدي بالباء وي.د ايمان دا دواړه معاني حقيقي دي.اوکه په دے کښے يوه حقيقي اوبله مجازي ده.د علامه زمخشري نه دواړه قولونه منقول دي.

---

(۱) فضل الباري(۱/۲۳۶)_
(۲) سورة البقرة:۲۸۵)-
(۳) سورة البقرة:۲۸۵)-

بعضے خو وائی چه ..دویرے لرے کول.. او ..تصدیق.. دواړه د ایمان حقیقی معانی دی د ..امن.. لفظ په دے دواړو کښے مشترک دے کله چه متعدی بنفسه وی .نواولنی معنی اوجه کله په صلے د ب ..سره وی نو دویمه معنی به اخستلے شی
بعضو دا ونیلی دی چه د ایمان حقیقی معنی خو ..د ویرے لرے کول.. دی خو چونکه په تصدیق کښے د تکذیب نه امن ورکول او د ویرے لرے کول وی ددے تعلق د وجے د ایمان مجازی معنی تصدیق هم راځی
دغه شان ددے یو دریم استعمال هم شته چه کله د ..ایمان.. په صله کښے ..لام.. راشی لکه ﴿وَمَآ أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا﴾ (١) ﴿أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَـٰبِدُونَ﴾ (٢) ددے استعمال په باره کښے ونیلی شی چه دلته په اصل کښے ایمان معنی دانقیاد لره متضمن دے اود انقیاد صله د لام سره راځی .نود ﴿وَمَآ أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا﴾ (٣) معنی به وی .ته زمونږ د خبرے منونکے نه یے دغه شان د ﴿أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا﴾ (٤) معنی ده .آیا مونږ د داسے دوو کسانو منقاد اوتابعدار شو د دوی د خبرے منونکی شو چه هغوی زمونږ پشان دی .او ددوی قوم زمونږ غلام دے .نو دلته ..ایمان.. چونکه معنی دانقیاد لره متضمن دے .اود انقیاد صله د ..لام.. سره راځی .نوځکه د ایمان په صله کښے لام راوړلے شو.
د ایمان په صله کښے د ..علی.. استعمال ډیر لږ دے .حضرت علامه کشمیری رحمه الله فرمائی ((ما من الأنبياء نبي إلا أعطي ما مثله آمن عليه البشر...)) (٥) په دے حدیث کښے دا خودلی شی چه هرپیغمبرته داسے معجزات ورکولے شی .چه په هغے باندے د خلقو اعتماد پیدا کړی د ..ایمان.. په صله کښے د ..علی.. استعمال ډیرزیات کم دے .حضرت علامه کشمیری رحمه الله فرمائی .دا استعمال صرف په یو حدیث کښے راغلے دے .کوم چه مونږ وړاندے ذکر کړلو .دلته کښے ایمان د اعتماد معنی لره متضمن دے (٦)
خلاصه دا شوه چه د ایمان استعمال په څلورو طریقوسره کیږی (١) یودا چه دا متعدی بنفسه وی .که یو مفعول طرف ته متعدی وی .اوکه مفعولینو ته وی .بل مفعول ته په واسطه د حرف جر سره لاړ شی .اوکه بغیر د واسطه دحرف نه (٢) دویم صورت دا دے چه ایمان په معنی د

---

(١) یوسف:١٧)
(٢) المؤمنون ٤٧)_
(٣) یوسف:١٧)
(٤) المومنون:٤٧)

(٥) صحیح بخاری(٧٤٤/٢) کتاب فضائل القرآن باب کیف نزل الوحی وکتاب الإعتصام باب قول النبی ﷺ بعثت بجوامع الکلم دغه شان صحیح مسلم (٨٦/١) کتاب الإیمان باب وجوب الإیمان برسالة نبینا محمد ﷺ إلی جمیع الناس ونسخ الملل بملته)_
(٦) د دنے تولو د لغوی تفصیل دپاره اوګورئ لسان العرب (٢١/١٣، ٢٦) وتاج العروس (١٢٤/٩، ١٢٥) وفیض الباری(٤٤/١، ٤٦)_

تصدیق ..شی.او د باء په صلهٔ سره راغلی وی (۱) دریم صورت دا دے چه دا د انقیاد معنی لره متضمن شی.او د په صلهٔ د لام سره استعمال شوے وی (۲) اوڅلورم صورت دا دے چه دا د اعتماد معنی لره متضمن وی په دے صورت کښے به د دے صله ..علی.. راځی.اودا ډیره کمه ده.والله اعلم

په تصدیق لغوی اوتصدیق منطقی کښې فرق ددے نه پس د ایمان لغوی معنی تصدیق اوتصدیق منطقی کښے فرق پیژندل ضروری دی.

دتصدیق لغوی معنی ده.په خپل اختیارسره یوخبر یا یومخبر صادق ګرځول مثلاً ستا وړاندے یوکس څه خبره اوکړله.اوتا دهغه خبره رښتیا اوګرځوله یا دے مخبر رښتونے اوګرځوله.نودا تصدیق لغوی شو.

اود تصدیق منطقی معنی ده.د نسبت تامه علم او ادراك.مناطقو تصدیق چه د علم او ادراك د قبیلے څخه شمارلے دے.او ددے معنی ئے هم هغه د نسبت تامه علم او ادراك بیان کړے دے.اوس د نسبت تامه علم کله بغیرداختیار نه هم راځی.مثلاً د ماسپخین وخت دے نمر راختلے دے.دلته چه د نمرراختو کوم تصدیق حاصل دے.هغه غیراختیاری دے دغه شان په ټولو بدیهیاتو کښے هم دا کیږی.چه دهغے د نسبت تامه چه کوم علم او ادراك حاصل وی.په هغے کښے اختیار ته دخل نه وی.

حاصل دا چه په تصدیق لغوی اوتصدیق منطقی کښے یوفرق دا شو چه په تصدیق لغوی کښے اختیارته دخل وی.ځکه چه سړے په خپل اختیار باندے یوخبر یا مخبر صادق ګرځوی.اوپه تصدیق منطقی کښے اختیار ته دخل نه وی.هلته د نسبت تامه علم او ادراك کله بغیرداختیار نه هم حاصلیږی.اودے ته د منطقیانو په نیزتصدیق وائی.

اویو بل فرق دے.هغه دا چه تصدیق منطقی د تکذیب اوانکار سره جمع کیدے شی اوتصدیق لغوی د تصدیق اوانکار سره نشی جمع کیدے.مثلاً زما دا چشمے دی او تاسو دا پیژنئ.چه دا هم زما دی.خود عناد یا بدنیتئ دوجے تاسو انکار کوئ.نو زما او دچشمو په مینځ کښے تاسوته دنسبت علم او ادراك شته.اوتاسو ته تصدیق منطقی حاصل دے.خوتاسو انکار کوئ.مناطقه ددے انکار د وجے دا د تصدیق نه نهٔ خارجوی.اوتصدیق لغوی دانکار سره نشی جمع کیدے.په دے کښے خبراو دهغے مخبر صادق ګرځولے شی.زه وایم چه دا چشمے زما دی.نوچه کله تاسو ماته رښتینے اووائے.چه واقعیٔ دا چشمے زما دی.نوهله دا تصدیق لغوی شو.ګنی تصدیق لغوی نه دے.

دا فرق د دے تعریف په بنیاد باندے دے.کوم چه د منطق په کتابونو کښے لیکلے شوے دے.په کوم کښے چه ئے تصدیق دعلم اوادراك د قبیلے نه شمار کړے دے(۱)

خوصاحب د روح المعانی په روح المعانی کښے لیکلی دی.((وان التصدیق المنطقی بعینه التصدیق اللغوی،ولذا فسره رئیسهم فی الکتاب الفارسیة ب-گرویدن،،وفی العربیة بمایخالف التکذیب

---

(۱) فضل الباری(۱/ ۲۳۷، ۲۳۸)_

والإنكار، وهذا بعينه المعنى اللغوي»(۱)مطلب دا دے چه د رئیس المناطقه د تصریح مطابق د تصدیق منطقی معنی په فارسی کښے ..گرویدن.. راځی اودا د تکذیب اوانکار مقابل دے اود ..گرویدن.. معنی ده په یوخیز باندے یقین اوباور کول او په یوخیزباندے یقین کول دا د علم د حصول نه پس د نفس یو فعل دے چونکه دا د تکذیب مقابل ګرخولے شوے دے نوځکه دا معنی د تکذیب سره نشی جمع کیدے اوس چونکه دا د علم نه پس د نفس فعل دے نودا به اختیاری فعل وی اود تکذیب سره به جمع کیدے هم نشی نوپه دغه وخت کښے به تصدیق منطقی بالکل د تصدیق لغوی سره مرادف وی خکه چه تصدیق لغوی هم د تکذیب سره نشی جمع کیدے اوپه تصدیق لغوی کښے هم د انسان د اختیار دخل وی نوهرکله چه تصدیق منطقی د حصول علم نه پس د نفس یو فعل ګرخولے شی نومعلومه شوه چه تصدیق په خپله دعلم او ادراك د قبیلے ځنے نه دے بلکه د علم او ادراك د ملحقاتو د قبیلے ځنے دے اودے ته د تکذیب مقابل هم ونیلی شی نود ابن سینا د تعریف مطابق به تصدیق منطقی د ادراك د لواحقو نه ګرخولے شی اودا به ونیلی شی چه په تصدیق لغوی او تصدیق منطقی کښے څه فرق نشته.

بیا دعلامه تفتازانی اوصدرالشهید رحمهماالله چه د تصدیق په باره کښے کوم اختلاف دے هغه هم په دے باندے مبنی دے خکه چه علامه تفتازانی رحمه الله فرمائی چه د ایمان په تعریف کښے چه د تصدیق کوم لفظ راځی په هغے د اختیاری د قید څه ضرورت نشته خکه چه تصدیق خو هم اختیاری وی لکه چه دوی د ابن سینا د قول اعتبار کړے دے اوصدرالشهید رحمه الله دا فرمائی چه د ایمان په تعریف کښے چه د تصدیق کوم لفظ راځی په هغے کښے به د اختیاری قید هم زیاتی کولے شی دوی دهغه اولنی تعریف اعتبار کړے دے کوم چه د منطق په رسائلو کښے مذکور دے په کوم کښے چه تصدیق په اختیاری او غیر اختیاری دواړو کښے مشترك ګرخولے شوے دے خکه چه هغوی ونیلی دی چه په ایمان کښے کوم تصدیق وی په هغے کښے به د اختیار اعتبار کولے شی.(۲)

البته په تصدیق منطقی او تصدیق لغوی کښے دومره فرق دابن سینا په نیز هم ضرور ملحوظ دے چه په تصدیق منطقی کښے په اتفاق سره ظنیات هم داخل دی اود تصدیق لغوی دپاره پوره جزم اویقین لازم دے د ظن په دے کښے څه ګنجائش نشته والله اعلم.

دایمان شرعی معنی د ایمان شرعی معنی عالمانو رحمهم الله په ډیرو عنواناتو سره ذکر کړے ده.

جمهورو عالمانو رحمهم الله ددے تعریف کړے دے «هوالتصدیق بما علم مجئ النبی ﷺ به ضرورة تفصیلاً فیما علم تفصیلاً وإجمالاً فیما علم إجمالاً»(۳) ددے مطلب دا دے چه د رسول الله ﷺ نه د کومو خیزونو

---

(۱) روح المعانی (۱۵۲/۱)۔
(۲) فیض الباری (۴۷/۱)۔
(۳) روح المعانی (۱۵۱/۱)۔

ثبوت بديهي طور ثابت دے دهغے تصديق كول ايمان دے.كه د رسول الله ﷺ نه ثبوت اجمالي وی. نو اجمالي تصديق به ضروري وی.اوكه ثبوت تفصيلي وی.نو تفصيلي تصديق به ضروري وی.

د مثال په طور د نبي ﷺ نه عذاب قبر په تواترسره ثابت دے اوهغه اجمالي دے .نو اجمالاً د عذاب قبر تصديق كول دايمان دپاره لازمي اوضروري دے.اود عذاب قبر چه كوم تفصيلات راغلي دى.هغه په اخبار آحاد سره ثابت دى.اود نفس عذاب ثبوت په تواتر سره دے.اوبديهي دے.دمونځ ثبوت.د ركعاتونو شمار.د وختونو تفصيل.اودا چه په هر ركعت كښے يو قيام يوه ركوع اودوه سجدے دى.د نبي ﷺ نه په تواتر سره ثابت دى.اوبديهي دى اوپه عوامو او خواصو كښے مشهور دى.هم دا حال د روژے دے.اوددے په ابتداء او انتهاء او ((امساك عن الأكل والشرب والجماع)) باندے اجماع ده.نوددے تصديق به تفصيلي لازم وی.

دانبياء كرامو عليهم السلام په باره كښے قرآن كريم فرمائي. ﴿مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ﴾(۱) دنبي ﷺ نه هم د څه پيغمبرانو ذكر اجمالاً منقول دے.د ﴿وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾(۲) نه هم اجمالي ثبوت ملاويږى.نوچه د چا ثبوت اجمالي وی.په هغوى باندے اجمالي ايمان ضروري دے.اودحضرت ابراهيم. حضرت نوح.حضرت موسى.حضرت يوسف. حضرت اسحاق،حضرت اسماعيل،حضرت عيسى،حضرت داود .حضرت سليمان عليهم السلام وغيره ذكر تفصيلاً راغلے دے.په دوى باندے تفصيلي ايمان ضروري دے.(۳)

يواشكال اودهغے جواب: دلته يو اشكال دا كيږى چه ((التصديق بما علم مجئ الرسول ﷺ ضرورة)) نه وئيلي شوى دى.اود ((ضرورة)) معنى ((بداهة)) ده.يعنى مشهور بين العوام والخواص. د دے نه معلومه شوه.چه د ايمان دپاره د مشهور حكم تصديق ضروري دے د غير ضروري تصديق ضروري نه دے.اگرچه هغه قطعي وی.

حضرت شيخ الاسلام شبيراحمدعثماني رحمه الله ددے جواب دا وركړے دے چه دلته د مشهور نه د هر كس ناكس په نيز مشهور مراد نه دے.بلكه اهل دين چه د شريعت سره تعلق ساتي.اوددے د اصولو او قوانينو نه واقف وی.دهغوى په نيز مشهور مراد دے.په دے تقديرباندے هيڅ يوحكم داسے نشته.چه هغه قطعي وی.اود علم دين او ددے سره د تعلق ساتونكو په مينځ كښے به مشهور نه وی.(۴)

علامه تفتازاني رحمه الله ددے اشكال دا جواب وركړے دے چه په دے تعريف كښے د ((ضرورة)) نه مراد ..يقين.. دے.يعنى د ..ضرورت.. چه كومه معنى په پوهه كښے راځى .هغه مراد نه

---

(۱) المؤمن:۷۸_

(۲) الرعد:۷_

(۳) فضل البارى(۱/۲۴۰، ۲۴۱)_

(۴) فضل البارى(۱/۲۴۰)_

ده.بلکه صرف دومره مراد ده چه هغه څیز یقیني طور د نبي ﷺ نه ثابت وي.که مشهور وي اوکه نه وي.نودهغې انکار به کفر ګرځولے شي.اودهغې تصدیق به دایمان دپاره ضروري ګرځولے شي.(۱)

امام غزالي رحمه الله په «فیصل التفرقة بین الایمان والزندقة» کښې د ایمان او کفر تعریف کړے دے.هغوی فرمائیلي دي.چه ایمان نوم دے «تصدیق النبي ﷺ بجمیع ما جاء به» یعنې د ایمان دپاره ضروري ده چه دهغه ټولو څیزونو کوم چه د نبي ﷺ نه په قطعیت سره ثابت دي تصدیق اوکړے شي.اودکفر متعلق دوي فرمائیلي دي «تکذیب النبي ﷺ في شئ مما جاء به» د نبي ﷺ نه چه کوم څیزونه په قطعیت او یقین سره ثابت دي په هغے کښې که د یو نه انکار اوکړے شي.نوکافر به وي.نود ایمان دپاره ضروري دي چه د ټولو تصدیق اوکړے شي.اود کفر دپاره د ټولو انکار ضروري نه دے.دنبي ﷺ نه په قطعیت سره کوم څیزونه ثابت وي.په هغے کښې د یو په انکار سره هم کفر لازمیږي.(۲)

په دے باندے اعتراض شوے دے.چه هرکله د ایمان دپاره تصدیق اود کفردپاره تکذیب ضروري دے.نوکه یو کس داسے وي.چه هغه د څه څیز نه تصدیق کوي او نه تکذیب.نوهغه ته به څه وئیلي شي.د ایمان په تعریف کښې د تصدیق اود کفر په تعریف کښې د تکذیب قید لګولے شوے دے.یوسړے «لاأصدق ولاأکذب» وائي . نو هغه په اتفاق سره کافردے.خود دے تعریف په اعتبار سره دهغه حکم معلوم نه دے.

نوځکه امام رازي رحمه الله فرمائیلي دي.چه د کفرتعریف د «تکذیب النبي ﷺ في شئ مما جاء به» په ځائے «عدم تصدیق الرسول في شئ مما علم بالضرورة مجیئه به» اوکړے شي.یعنې د نبي ﷺ نه چه کوم څیزونه په قطعیت او یقین سره ثابت شوي وي.په هغے کښې دیوتصدیق نه کونکے کافر دے.(۳)

حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله د ایمان تعریف کړے دے.چه د قرآن کریم ظاهراً اوباطناً تصدیق کول.اواقرار کول.اوبیا ددے معنی داسے متعین کول چه هغه د مرادات قرآنیه او نبویه مطابق وي.دا ایمان دے.په ژبه او زړه دواړو سره قرآن د الله تعالی ربنتینے کلام ګنړل او بیا ددے نه پس د قرآني آیاتونو د معانیو متعین کولو دپاره چه رسول الله ﷺ اوقرآن پاك څه مراد بیان کړے وي.هغه منل.دا ایمان دے.یوسړے که په ظاهره او باطن په ژبه او زړه د قرآن د حقانیت اقرار کوي.خود قرآن د معنی متعین کولو دپاره هغه د قرآني او نبوي مرادونو خیال نه ساتي.دقرآن معنی ددے خلاف بیانوي.دغه کس زندیق دے.مؤمن نه دے.په قرآن مجید کښې د جنت او دوزخ ذکر راغلے دے.اوپخپله قران پاك او نبي ﷺ د جنت او

(۱) نبراس شرح شرح عقائد(ص،۳۹۲)۔

(۲) تنظیم الاشتات(۳۳/۱)۔

(۳) تفسیر کبیر(۳۷/۲، ۳۸) تفسیر آیت ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ﴾ (البقرة:۷)۔

دوزخ مصداق متعین کړے دے خو یو سړے وائي چه د جنت نه مراد معنوي او باطني خوشحالي ده او د دوزخ نه مراد معنوي او باطني غم دے هغه په قرآن او سنت کښې چه د جنت او دوزخ په باره کښې کوم تفصیلات راغلي دي هغه نه مني حالانکه په ظاهره هم د قرآن اقرار کوي اوپه باطن کښې هم اقرار کوي خومعني هغه بیانوي چه د رسول ﷺ د مراد نه خلاف وي د قرآن کریم د مراد خلاف وي دجنت نه هغه جنت مراد نه اخلي کوم چه به په آخرت کښې وي اوچه په هغې کښې به کوم باغونه وي حورے وي راحتونه او خوشحالئ راجمع شوي وي چه دهغه شان ((مالاعين رأت ولاأذن سمعت ولا خطر على قلب بشر))وي دغه شان د دوزخ نه هغه د عذاب ځائے مراد نه اخلي په کوم ځائے چه به فرښتے د عذاب ورکولو دپاره مقرر ے وي په کوم ځائے کښې چه به قسم قسم تکلیفونه رسولے شي اوکفر به ابدالآباد پورے په هغې کښې وي نوهغه کس مؤمن نه دے زندیق دے هغه د آخرت هم منکر دے په دنیا کښې د زړه سکون او خوشحالئ ته هغه جنت وائي اوهم دا تکلیفونه اودردونه چه په زړه باندے راځي هغه دوزخ ګنړي.اوکه یو سړے په ظاهره اقرار کوي اوپه زړه کښې ئې انکار پټ وي.نوهغه منافق دے.(۱)

حضرت علامه انورشاه کشمیري رحمه الله چه کوم بحث کړے دے دهغې حصل دا راوځي چه د نبي ﷺ نه کوم امور په قطعي او یقیني طور ثابت شوي وي په هغې کښې په دوي باندے اعتماد کوي.اوتصدیق ئې کوي.دے ته ایمان وائي اوکه یو کس په دے امورو کښې په دے کښې په بعضو باندے په عقل د اعتماد کولو په بنیاد تصدیق کوي اوپه نبي ﷺ باندے دده اعتماد دتصدیق په بنیاد باندے نه وي.نوهغه مؤمن نه دے یوکس وائي چه ما دعقل په بنیادباندے دا معلومه کړے ده.اوپه عقل مے ددے څیزونو صداقت او اهمیت پیژنمے دے.نوزه ددے تصدیق کوم.د نبي په وئیلو زه تصدیق نه کوم.نوداسے کس هم مؤمن نه دے په قرآن کریم کښې دي.﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾(۲) دلته په نبي ﷺ باندے داعتماد ذکر دے

امام محمد رحمه الله فرمائي.چه د ایمان شرعي معنی دا ده چه د رسول الله ﷺ نه د کومو امورو ثبوت قطعي اویقیني وي چه دهغې د تصدیق دپاره د قول سره سره نه د براءت او بیزاري اظهار هم اوکړے شي.﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾(۳)کښې ئې په حضرت ابراهیم علیه السلام اوپه هغه باندے د ایمان راوړونکو د مشرکانو او دهغوي دخدایانو نه د براءت اعلان کړے دے څکه دتصدیق سره ((تبری عن جمیع ما سوی الله)) هم ضروري ده.(۴)

---

(۱) تنظیم الأشتات (۱/۳۳)_

(۲) النساء:۶۵)_

(۳) الممتحنة:٤)_

(۴) تنظیم الأشتات(۱/۳٤)_

حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی.مولانا ثناء الله پانی پتی.اوحضرت شاه ولی الله محدث دهلوی ﷺ فرمائی چه دایمان یوصورت دے.هغه تصدیق بالقلب . اقرار باللسان.او عمل بالارکان دے اوبو دایمان حقیقت دے اوهغه ((لایؤمن أحدکم حتی یکون هواه تبعاً لما جئت به))(۱) مطابق دے چه طبیعت د شریعت مطابق شی کوم څیزچه شریعت غواړی.طبیعت هم هغه څیز غواړی دکوم څیزنه چه شریعت تنفراوبیزاری ښکاره کړے وی په طبیعت کښے دهغے نه تنفر اوبیزاری او کراهت وی.دا د ایمان حقیقت دے.(۲)

یواشکال دلته اشکال کیږی.چه په ایمان کښے تصدیق ضروری دے اوهغه تصدیق پکار دے چه اختیاری وی.نوهرقل ته چه د ابوسفیان په سوال اوجواب باندے تصدیق حاصل شو او ضغاطرته چه خط اولیکلے شو.نود هغوی نه د خط په جواب کښے تصدیق حاصل شو دوی ته مسلمان ونیل پکار دی.ځکه چه هغوی ته تصدیق اختیاری حاصل وو.لکه چه دهغوی داقوالو ((فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي نَسَبِ قَوْمِهَا))او((وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ)) او((فَسَيَمْلِكُ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ)) او((فَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لِقَاءَهُ)) او((وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمِهِ))او((هَلْ لَكُمْ فِي الْفَلَاحِ وَالرُّشْدِ وَأَنْ يَثْبُتَ مُلْكُكُمْ فَتُبَايِعُوا هَذَا النَّبِيَّ)) نه معلومیږی.

هم دا حال د ابوطالب دے.هغه ته تصدیق اختیاری حاصل وو.د هغوی اشعار د تصدیق اختیاری په حصول باندے دلالت کوی.

کذبتم وبیت الله یبزی محمد ولما نطاعن دونه ونناضل

و نسلمه حتی نصرع حوله ونذهل عن أبنائنا والحلائل(۳)

ترجمه: تاسو دروغ وائئ.په بیت الله قسم محمد به مقهور او مغلوب نشی.تراوسه پورے مونږ دهغه په مرسته کښے جنګ نه دے کړے.مونږ به ترهغه وخته پورے هغه یے یار اومددګاره پرے نږدو.ترڅوچه دهغه نه یوخواه بل خواه راونه پرزوو.اوخپل خامن اوښځے رانه هیرے نشی)

هم دغه شان دابوطالب شعر دے

أبیض یستسقی الغمام بوجهه ثمال الیتامی عصمة للأرامل(۴)

ترجمه: (دهغه نورانی مخ داسے روښانه دے.چه دهغے په وسیله د وریځو نه باران طلب کولے شی.د یتیمانو سرپرست اود کونډو محافظ دے.)

---

(۱) مشکاة المصابیح (۳۰/۱) کتاب الإیمان باب الإعتصام بالکتاب والسنة،الفصل الثانی)_

(۲) تنظیم الاشتات(۳٤/۱)_

(۳) سیرت ابن هشام (۱۷۶/۱)_

(۴) سیرت ابن هشام (۱۷۷/۱)_

دغه شان ابوطالب وئيلي دي.

ودعوتني وعلمت أنك صادق ولقد صدقت فكنت قبل أمينا

ولقد علمت بأن دين محمد من خير أديان البرية دينا(١)

ترجمه: تاماته داسلام دعوت راکړلو.زما يقين دے چه ته رښتينے ئے تا رښتيا وئيلي دي. د دے نه وړاندے هم ته امين وے.زما يقين دے چه د محمد دين د ټولو دينونو نه غوره دے.

دغه شان دهغه دا شعر دے.

والله لن يصلوا إليك بجمعهم حتى أوسد في التراب دفينا

ترجمه: په خدائے قسم که خلق د خپلو ټولو ډلو سره راشي.نوبيا هم تاته نشي رسيدے ترڅو چه زه په قبر کښے دفن نکړے شم.

نوهرقل او ابوطالب ته اختياري تصديق حاصل وو.کوم چه د ايمان دپاره ضروري دے بيا په کومه وجه دا دواړه مؤمنان تسليم نکړے شول؟

دامام غزالي رحمه الله جواب ددے اشکال په جواب کښے امام غزالي رحمه الله فرمائي.چه د تصديق قلبي سره د ايمان دپاره قول بالقلب يعني اقراربالقلب هم ضروري دے.او ددے دواړو د طرفه اقراربالقلب نه دے موجود شوے.دامام غزالي رحمه الله دا تعبير واضح نه دے.(٢)

دمحقق ابن همام رحمه الله جواب شيخ ابن همام رحمه الله دويم تعبير اختيار کړے دے.هغوى فرمائيلي دي.چه دايمان دپاره د تصديق قلبي سره استسلام باطني او انقياد باطني هم ضروري دے.د استسلام باطني اوانقياد قلبي مطلب دا دے چه د رسول الله ﷺ په لاس کښے خپل اختيار ورکړے شي.اوخپل ځان نبي ﷺ ته حواله کړے شي.او د نبي ﷺ په هداياتو من وعن عمل اوکړے شي.په هرقل او ابوطالب کښے دا انقياد قلبي او استسلام باطني موجود نه وو.نوځکه هغوى مؤمنان نه وو.(٣)

د حافظ ابن تيميه رحمه الله تعبير: ابن تيميه رحمه الله فرمائي.د تصديق سره التزام د طاعت هم ضروري دے.اودے دواړو د تصديق سره د طاعت التزام نه وو کړے.حافظ ابن تيميه رحمه الله په دے باندے دټولو عالمانو رحمهم الله اجماع نقل کړے ده.چه دايمان دپاره د تصديق قلبي سره التزام د طاعت هم ضروري دے.(٤)

د شيخ ابوطالب مکي اوشيخ نظام الدين هروي رحمهما الله تعبير هم دا خبره نورو عالمانو رحمهم الله په نورو عنواناتو سره ذکر کړے ده.ابوطالب مکي رحمه الله د ،،التزام شريعت،، عنوان اختيار کړے دے.اوفرمائي.چه دايمان دپاره دتصديق قلبي سره ,,التزام شريعت،، هم لازم دے.

---

(١) الإصابة في تميز الصحابة (١١٦/٤) القسم الرابع ترجمة أبي طالب)_

(٢) فضل الباري(٢٤٢/١)_

(٣) پورتنئ حواله)_

(٤) فضل الباري(٢٤٣/١)_

شیخ نظام الدین هروی رحمه الله هم دا تعبیر تسلیم کړے دے چه دایمان دپاره د تصدیق قلبی سره سره تسلیم ضروری دے ددے تعبیر په اختیارولو باندے صدرالشریعة په هغے باندے د برطعن کړے دے تردے چه په..شیخ التسلیم.. مشهور شوے دے په حقیقت کښے دوی هم هغه خه وائی کوم چه ابن همام رحمه الله فرمائی اوابن تیمیه رحمه الله چه په خه باندے اجماع نقل کړے ده بلکه په غورسره اوکتلے شی نو د دوی تعبیر د قرآن نظم ته نزدے دے خکه چه په قرآن کریم کښے دی ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ (۱) نوځکه د دوی په تعبیر باندے اعتراض کول تیك نه دے (۲)

خلاصه دجواب دجواب خلاصه دا شوه چه دهرقل اوابوطالب په تصدیق کښے التزام طاعت وشریعت او انقیاد قلبی موجود نه وو نوځکه هغوی ته مومن نشی ونیلے

دابوطالب په باره کښے خو تاسو ته پخپله معلومه ده چه هغه اور ته په پیغور باندے ترجیح ورکړنه او وے ونیل

لولا الملامة أو حذار مسبة　　لوجدتنی سمحاً بذاك مبيناً (۳)

ترجمه: یعنی که د ملامتیا او کنځلو ویره نه وے نوتا به زه لیدلے ووم چه ډیر په کهولاؤ زړه به مے دا دین قبول کړے وو.

دغه شان په صحیح مسلم کښے د ابوطالب دا قول هم منقول دے.

«لولا أن تعيرني قريش، يقولون إنما حمله على ذلك الجزع، لأقررت بها عينيك» (۴) که ما سره د پیغور ویره نه وه چه قریش به وائی چه ابوطالب د دوزخ د اور نه اوویریدلو نوما به ایمان راوړے وے اوستا سترګے به مے یخے کړے وے خوزه دا پیغور نشم برداشت کولے خکه د ایمان راوړلو نه مجبور یم.

هم په دے طریقه د هرقل متعلق د هرقل په حدیث کښے تیر شو هغه ونیلی وو «إنی قلت مقالتی آنفاً أختبر بها شدتکم علی دینکم» یعنی ما د ایمان راوړلو ذکر ددے دپاره اوکړلو ما په نصرانیت کښے ستاوپختګی او مضبوطتیا معلومول غوښتل ددے نه معلومه شوه چه هغه هم التزام شریعت ته تیار نه وو.

امام نووی رحمه الله لیکلی دی چه هرقل دایمان په مقابله کښے حکومت او ریاست ته ترجیح ورکړله اوددے ویرے د وجے چه حکومت او ریاست زما نه لاړ نشی هغه ایمان راوړلو ته تیار

---

(۱) النساء:۶۵_

(۲) فضل الباری(۱/۲۴۳)_

(۳) فضل الباری(۱/۲۴۴) وفیض الباری(۱/۵۰)_

(۴) صحیح مسلم (۱/۴۰)کتاب الإیمان باب الدلیل علی صحة إسلام من حضره الموت ما لم یشرع فی النزع رقم(۱۴۴)_

شو نوځکه ورته مؤمن نشي وئیلې (۱) ددې تائید د مسند بزار د حدیث نه کیږي په هغې کښې راغلي دي. «أبلغ صاحبكم أني أعلم أنه نبي ولكن لا أترك ملكي» (۲)
یوسوال اودهغې جواب سوال دا دې چه نجاشي ته مؤمن وئیلې شي حالانکه هغه هم دخپل ایمان اظهار نه وو کړې؟
ددې جواب دا دې چه نجاشي د ویرې د وجې خپل ایمان پټ کړې وو خوهغوی التزام طاعت او التزام شریعت کړې وو انقیاد باطني او استسلام قلبي هغوی اختیار کړې وو په قرآن کریم کښې ﴿ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ ﴾ (۳) راغلي دي ددې نه معلومیږي که د ویرې د وجې څوك ایمان پټ کړي نو د دې گنجائش شته په دې طریقه که هرقل هم التزام شریعت او التزام طاعت کړې وو اوخپل ایمان ئې پټ ساتلو نومونږ به هغه ته هم مؤمن وئیل اودنجاشي په باره کښې خودا هم ثابت دي چه نبي ﷺ دهغه دجنازې مونځ کړې دې نومعلومه شوه چه هغه التزام شریعت کړې وو اوهغه مؤمن وو.
یوسوال دا هم کیدې شي چه نجاشي هجرت نه وو کړې حالانکه په هغه وخت کښې هجرت فرض وو نوبیا دهغه د ایمان څنګه اعتبار کولې شي؟
ددې جواب دا دې چه نجاشي هجرت نه وو کړې خوهغه د مسلمانانو دپاره پناهگاه اوملجا وه هغه مسلمانانوته تحفظ ورکړې وو اوهغه کس چه د اهل اسلام دپاره پناه جوړیږي او هغوی ته تحفظ ورکوي دهغه حیثیت د مقاتل اومجاهد دې نو د نجاشي حیثیت د مقاتل اومجاهد پشان وو نوځکه په هغه باندې هجرت لازم او ضروري نه وو (۴)
خلاصه دا چه د نجاشي ایمان ددې وجې معتبر وو چه هغه دالتزام طاعت او التزام شریعت اهتمام کړې وو اګرچه د ویرې نه هغه ایمان ښکاره کړې نه وو او په داسې حالت کښې ایمان پټول نقصاني نه دي خوکه التزام طاعت او انقیاد قلبي متحقق شوې نه وي نوایمان به متحقق نه وي لکه څنګه چه د ابوطالب او هرقل په واقعه کښې دي چه هلته التزام طاعت او انقیاد قلبي موجود نه دې (۵)

---

(۱) شرح نووي على صحيح مسلم (۲/۹۸) كتاب الجهاد والسير باب كتب النبي ﷺ إلى هرقل ملک الشام يدعوه إلى الإسلام)_

(۲) کشف الأستارعن زوائد البزار(۳/۱۱۸)ذکرنبینا محمد رسول الله ﷺ باب فیما کان عند أهل الکتاب من علامات النبوة)_

(۳) المؤمن:۲۸)_

(۴) داحقرشاه فیصل په ذهن کښې دا جواب هم راځي چه هجرت دمکې نه مدینې منورې ته فرض وو. ځکه چه په مکه کښې دکفر غلبه وه اواسلام مغلوب وو اومسلمانانو به په خپل دین باندې په آزادۍ سره عمل نشوکولې اوحبشه چونکه د مکه پشان نه وه دغه شان نجاشي بادشاه د مکې د کمزورو او بې وسه مسلمانانو پشان نه وو بلکه هغه خو دخپل ملك بادشاه وو ځکه په هغه باندې دحبشه نه مدینې ته هجرت فرض نه وو)_

(۵) فضل الباري(۱/۲۴۳، ۲۴۴)_

التزام طاعت او انقیاد باطنی د ایمان دپاره شرط دې که رکن؟ بیا دلته دا خبره ده.چه التزام طاعت اوانقیاد باطنی دایمان دپاره رکن دے که شرط؟ بعضے حضراتو دا د ایمان دپاره شرط گرځولے دے اوفرمائی چه د ایمان دتحقق دپاره دا التزام ضروری دے.ددے نه بغیر ایمان نه متحقق کیږی اوبعضے حضراتو وئیلی دی.چه دا التزام شریعت او التزام طاعت دایمان دپاره رکن دے.(١)

د رکن منلو په صورت کښے به ددے خیال ساتلے شی.چه په ابتداء کښے د التزام شریعت وجود ضروری وی.خوکه روستو دچا نه څه معصیت صادر شی.نو معصیت په صدور سره ایمان نه سلب کیږی.اوهغه کس چه التزام طاعت ئے نه وی کړے . د هغه مثال دباغی پشان دے چه هغه حکومت هډو منی نه.اوهغه کس چه التزام طاعت ئے کړے وی.اوددے نه پس دهغه نه معصیت او جرم صادر شی.دهغه مثال د مجرم پشان دے.او په باغی اومجرم کښے ډیر فرق دے.باغی ته وفادار نشی وئیلے.خومجرم وفادار گڼړلے شی.دا ټیک ده.چه دهغه د جرم هغه ته سزا ملاویږی .خود بغاوت سزا ورته نشی ملاویدے.دغه شان چه کوم کس التزام طاعت کړے وی.اودهغه ایمان متحقق شوے وی.ددے نه پس که هغه گناه کوی.نودده مثال د مجرم پشان دے.اوپه دے جرم به هغه د سزا مستحق هم وی.اوتاسودا پیژنئ هم. چه څنگه هغه د سزا مستحق دے.هغه ته سزا ورکولے شی.دغه شان کله مجرم معاف کولے هم شی.نودا هم کیدے شی.چه د هغه جرم معاف شی.

د اقرارباللسان حیثیت که یو کس ته تصدیق بالقلب حاصل وی.اود ویرے د وجے یا دعدم قدرت د وجے یا دعدم فرصت دوجے ئے اقرار نه وی کړے.نوهغه په اتفاق سره مؤمن دے.

یوهغه کس دے.چه هغه ته تصدیق قلبی حاصل وی.هغه ته څه عذر هم نه وی.اوددے باوجود چه دده نه د اقرارمطالبه اوشی.هغه اقرارنه کوی.نوداسے کس په اتفاق سره کافردے.

یودریم صورت دے.چه تصدیق بالقلب موجود دے.داقرار دپاره څه عذرهم نشته.اود اقرار مطالبه هم نه وی شوے.اوده اقرار اونکړلو.نوداسے کس به مؤمن شمارلے شی که نه؟د ده په باره کښے اختلاف دے.

بعضے حضرات فرمائی.چه اقرار باللسان صرف د احکامو جاری کولو دپاره د ایمان شرط دے.دامام ابوالحسن اشعری رحمہ اللہ نه په دوو روایتونوکښے اصح روایت هم دا دے.هم دا د امام ابومنصور ماتریدی رحمہ اللہ قول دے.حافظ الدین نسفی رحمہ اللہ فرمائی. هم دا د امام ابوحنیفه رحمہ اللہ نه مروی دے.

اونورحضرات وائی.چه اقرار باللسان دایمان رکن دے.خودا رکن د تصدیق پشان رکن اصلی نه دے.بلکه رکن زائد دے.هم ددے وجے د اکراه او عجز په حالت کښے دا رکن ساقط کیږی.

علامه فخرالاسلام رحمہ اللہ فرمائی.چه اقرارته رکن زائد وائی.دا قول د فقهاؤ رحمہم اللہ مذهب دے.اود احکامو د اجراء دپاره دا شرط گرځول د متکلمینو رحمہم اللہ مذهب دے.(٢)

---

(١) فضل الباری(٢٤٤)_

(٢) دتفصیل دپاره اوګورئ فتح الملهم (١/٤٣٤) کتاب الإیمان باب الإقرار شرط للإیمان أم لا؟)_

تنبيه متكلمينو رحمهم الله چه كوم اقرار د دنيوي احكامو داجراء دپاره ضروري گرځولے دے ددے مطلب دا دے چه دا كس به په عامه مجمع كښے اقرار كوي چه خلقو او قاضي ته دده د اقرار علم راشي ځكه چه د اسلام د احكامو اجراء د عوامو .قاضي او حاكم دعلم نه بغير ممكن نه دي.

البته د فقهاؤ په نيز اقرار د ايمان جزء او ركن دے نوكه يو كس په خانله والي كښے هم كلمه اووائي نودا كافي ده .ځكه چه دوي د اجراء احكام قيد نه دے لګولے اود ركن په حيثيت اقرار كول به په هغه وخت كښے هم صحيح وي چه په خلوت كښے اقرار اوكړي.(۱)

يواشكال اودهغې جواب دلته يواشكال دا پيدا كيږي چه د متكلمينو رحمهم الله په نيزاقرار د اجراء احكام دپاره شرط دے اودفقهاؤ په نيز ركن زائد دے لكه چه اوس اوخودلے شو نواوس سوال دا پيدا كيږي چه كوم كس ته څه عذر نه وي .اودهغه نه د اقرار مطالبه اوشوه.نوده ته د متكلمينو رحمهم الله په مذهب كښے هم كافر ونيلي شي .حالانكه داسے نه ده پكار .فقهاء خو ئے ركن مني .د دوي په مذهب دده په كفر كښے څه اشكال نه راځي .خومتكلمين رحمهم الله خو ئے ركن نه مني .نود مطالبے باوجود كه اقرار اونكړي .نود متكلمينو رحمهم الله په مذهب پكار ده چه كافر نشي .ځكه چه د ايمان ركن نه دے فوت شوے

ددے جواب ((اذا فات الشرط فات المشروط)) مطابق د اقرار فوت كيدل دتصديق په فوت كيدو باندے دال دي .لكه چه ده ته كفر ددے وجے ونيلے شي .چه د مطالبه په صورت كښے كه عذر نه وي .اوبيا هم اقرار اونكړي .نوددے مطلب دا دے چه تصديق ئے نشته ځكه چه څه عذر هم نشته .اود اقرار كولو دده نه مطالبه كيږي .اوبيا هم دے اقرار نه كوي .نودا وجدانا .ذوقا اوعرفا ددے خبرے دليل دے .چه ده ته تصديق نه دے حاصل ګني ده به خامخا اقرار كړے وو .نود متكلمينو رحمهم الله په مذهب باندے دا اشكال ټيك نه دے

دكفر قسمونه ① كفر انكار ② كفر جحود ③ كفرعناد ④ كفر نفاق.

① كفرانكار دے ته وائي .چه په زړه كښے هم انكار وي .اوپه ژبه باندے هم انكار وي .نه په زړه كښے تصديق موجود وي .اونه په ژبه باندے اقرار وي .لكه څنګه چه د عامو كافرانو كفر وي.

② كفرجحود دے ته وائي .چه په زړه باندے پيژني .دايمان حقانيت باندے پوهيږي .خو په ژبه باندے انكار كوي .لكه دابليس كفر .په زړه خو هغه ټول هرڅه مني اوپيژني .خو په ژبه باندے انكار كوي.

③ كفرعناد دا دے چه په زړه باندے هم پيژني .اوپه ژبه باندے هم اقرار كوي .خو التزام طاعت وشريعت نه كوي .استسلام او انقياد باطني نه قبلوي خپل واك اختيار پيغمبر ته نه حواله كوي .كوم طرف ته هغه روان وي د هغه طرف تګ ته تيار نه وي .څنګه چه هغه وائي .هغه شان كولو باندے راضي نه وي .لكه د ابوطالب اوهرقل كفر.

---

(۱) فضل الباري (۲۴۵/۱)_

④ اوكفرنفاق دا دے چه په ژبه باندے اقرار كوى او د التزام طاعت اظهار هم كوى.خو په زړه كښے ئے انكار موجود وى په زړه قبلولو او منلو ته تيار نه وى.دا كفر نفاق دے.(١)

د ايمان د حقيقت په باره كښي د مذاهبو تفصيل دلته كښے دا اوپيژنئ:چه د ايمان په سلسله كښے په فرق ضاله كښے هم اختلاف دے.اوچه څوك اهل حق دى.په هغوى كښے هم اختلاف دے داهل حق اختلاف تقريبا لفظى دے.داصلى مدعا په اعتبارسره په دوى كښے څه اختلاف نشته.البته د اهل حق د اهل باطل سره اختلاف سخت دے.

جهميه او ايمان په اهل باطل كښے يوه فرقه ..جهميه.. ده.دا جهم بن صفوان طرف ته منسوب ده. د دے فرقے عقيده دا ده.چه ايمان صرف د معرفت قلبى نوم دے.برابره ده كه دا معرفت اختيارى وى اوكه غيراختيارى وى.د دوى په نيز د ايمان دپاره تصديق.انقياد قلبى .اوالتزام شريعت ضرورى نه دے.د دوى په مذهب د ابوطالب او هرقل مومن كيدل لازميږى.ځكه چه دے دواړو ته هم معرفت حاصل وو.بلكه خودلى شوى دى چه ابوطالب اوهرقل ته صرف معرفت نه بلكه معرفت اختيارى حاصل وو.(٢)

كراميه دا د محمد بن كرام متعين دى.د دوى په نيز دايمان دپاره صرف اقرار باللسان كافى دے.دتصديق بالقلب او عمل بالجوارح ضرورت نشته.(٣)

شيخ الاسلام شبيراحمد عثمانى رحمه الله ليكلى دى.چه ددوى د مذهب كله تحقيق اوشو.نو معلومه شوه.چه ددوى په نيز ايمان د دنيوى احكامو په اعتبارسره د اقرار باللسان نوم دے.داسلام دنيوى احكام به ترهغه وخته پورے نه جارى كيږى.ترڅو چه سړى په ژبه باندے اقرار نه وى كړے.خوچه تركومے پورے د آخرت دنجات تعلق دے.نودوى هم ددے دپاره تصديق بالقلب ضرورى ګنړى.په دے صورت كښے په اهل سنت والجماعت اوكراميؤ كښے څه زيات اختلاف باقى نه پاتے كيږى.(٤)

مرجئه مرجئه د ,,ارجاء.. نه دے.د ,,ارجاء.. معنى روستو كول دى.په قرآن كريم كښے ﴿وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ﴾(٥) دا آيت دهغه درے صحابؤ په باره كښے نازل شوے وو.كوم چه غزوه تبوك ته نه وو تلى.او دنبى ﷺ وړاندے هغوى دخپل قصور ښكاره اقرار كړے وو.د دوى معامله دالله تعالى د طرفه دحكم راتلو پورے روستو كړے شوه. اود منافقينو معامله مختلف وه.هغوى قسمونه اوخوړل. ددروغو بهانے ئے اوكړلے.نبى ﷺ به هغوى ته معافى كوله.اورخصت كول به ئے.خو ددے درے صحابؤ په باره كښے نبى ﷺ اوفرمائيل: ستاسو

---

(١) فيض البارى(٧١/١) كتاب الإيمان.أقسام الكفر)_

(٢) فضل البارى(٢٤٥/١) والفرق بين الفرق (ص.١٢٨) الفصل السادس)_

(٣) فضل البارى(٢٤٥/١)_

(٤) پورتنئ حواله)_

(٥) التوبة:١٠٦)_

فیصله روستو کولے شی.الله تعالی به دخپل علم او حکمت مطابق د معافئ یاد سزا حکم راولیږی.(۱) بهرحال .ارجاء.. د روستو کولو په معنی راخی.(۲)
د مرجئه په نیز دایمان دپاره صرف تصدیق قلبی ضروری دے.هم دا تصدیق دنجات دپاره کافی دے.دعمل ضرورت نشته.لکه چه دوی عمل روستو کړلو نوځکه ورته ..مرجئه.. وائی.(۳)
دوی وائی.چه لکه څنګه بغیر دایمان نه څوك جنت ته نشی داخلیدے اګرچه هغه څومره نیه کارونه کړی وی.اوهغه د اخلاقو او شرافت مجسمه وی.چه ایمان په کښے نه وی نوهغه قطعاً جنت ته نشی داخلیدے.اوهغه به مخلد فی النار وی.دا بیله خبره ده.چه د بدعمل او بدکرداره کافر په مقابله کښے به دهغه عذاب کم وی.خوخلود فی النار دده دپاره هم واجب دے.دوی وائی.که په دے طریقه په یو کس کښے تصدیق قلبی موجود وی.نودهغه ګناهونه که څومره زیات وی.نوهیڅ کله جهنم ته نشی تلے.لکه څنګه چه دایمان نه بغیریوکس هیڅ کله جنت ته نشی داخلیدے.نودغه شان دایمان یعنی تصدیق قلبی سره د ګناهونو په وجه څوك جهنم ته نشی داخلیدے.دوی د «الطاعة لاتفید والمعصیة لاتضر»قائل دی.چه نه طاعت څه فائده ورکوی.اونه معصیت څه نقصان ورکوی.دوی عمل بیخی شاته غورځولے دے.اودا نے بیخی نظرانداز کړے دے.نه اقرارباللسان ددوی په نیز ضروری دے.او نه عمل بالارکان.
دلته هم علامه شبیراحمد عثمانی رحمہ اللہ فرمائی.زما خیال دا دے.چه ددوی په نیز د تصدیق بالقلب نه پس جنت ته داخیدل خو ضروری دی.خود اعمالو د تفاوت په وجه د دوی په نیز هم په جنت کښے به په مراتبو کښے فرق وی.ځکه چه دآسمانی کتابونو او انبیاء کرامو علیهم السلام په تعلیماتو کښے چه دعمل کوم اهیمت دے.چه دا مطلقاً په هیڅ درجه اثر نه کوی.دا خبره په عقل کښے نۀ راځی.(۴)
معتزله او خوراج د دے دواړو فرقو په نیز ایمان مرکب دے.او ړاندے چه د کومو درے فرقو ذکر اوشو. دهغوی په نیز ایمان بسیط دے.
د دوی وینا دا ده.چه «الإیمان هو التصدیق بالقلب والإقرار باللسان والعمل بالأرکان» تصدیق.اقراراو عمل درے واړه دایمان اجزاء دی.لکه چه ددوی په نیز شدت دے.اودا وائی. که یوکس تارك دعمل وی.نوهغه به مخلد فی النار وی.بیا د خوارجو په نیز خو هغه دایمان نه اوځی.اوپه کفر کښے داخلیږی.اود معتزلو په نیز د کبیره په ارتکاب سره دایمان نه خارجیږی.خوپه کفر کښے نه داخلیږی.بلکه دے فاسق وی.اودا فسق ددوی په نیز منزله بین المنزلتین ده.لکه چه دوی د ایمان اوکفر په مینځ کښے د یوے مرتبه (مرتبه فسق) قائلین

---

(۱) تفسیرابن کثیر(۳۸۷/۲)
(۲) مختار الصحاح (ص.۲۳۳)_
(۳) فضل الباری(۲٤۶/۱)_
(۴) پورتنئ حواله)_

دی خودا خبره دے یاده وی چه په کومه طریقه کافر مخلد في النار وی نودغه شان دوی دے فاسق ته هم مخلد في النار وائی لکه چه په دے دواړو فرقو کښے اختلاف صرف لفظی دے د انجام او مآل په اعتبار سره په دوی او خوارجو کښے څه فرق نشته.هغوی هم مرتکب د کبیره ته مخلد في النار وائی اومعتزله هم.(١)

د بعضے معتزلو په نیز خو نور هم شدت دے.هغوی وائی چه په طریقه د فرائضو تارك او دمعاصیو مرتکب د ایمان نه خارجیږی نودغه شان د مستحباتو تارك او د مکروهاتو مرتکب هم د ایمان نه خارجیږی کومه درجه چه د فرائضو اومحرماتو ده.هم هغه درجه دوی د مستحباتو او مکروهاتو دپاره مقرر کړے ده.(٢)

معتزله.خوارج او مرجئه علی طرفی النقیض دی یوطرف ته معتزله او خوارج دی که: کبیره ارتکاب اوشو.نوایمان ختم شو.اودغه کس به مخلد في النار وی.اوبل طرف ته مرجئه دی د دوی په نیز که د څومره کبائرو ارتکاب اوشی.سړے بیا هم د تصدیق بالقلب په وجه براه راست جنت ته خی.په هغه به د دوزخ هوا هم نه لګی.

د اهل سنت والجماعت مذهب. داهل السنة والجماعة په دے باندے اتفاق دے که تصدیق بالقلب او اقرار باللسان موجود وی.نود امام ابن تیمیه رحمہ اللہ د قول مطابق که ارتکب د معاصی موجود وی.بیا هم مؤمن دے.اوس دا هم ممکن ده.چه الله تعالی داول نه په خپل فضل او رحم سره دے معاف کړی.اوبراه راست ئے جنت ته اولیږی.اودا هم کیدے شی چه هغه د خپل ګناهونو سزا خوړلو او ګناهونو نه د پاکیدو دپاره دځه ورخو دپاره دوزخ ته اولیګلے شی.خوبیا هم بهرحال هغه به ددوخ نه راویستے شی.اوجنت ته به داخل کولے شی.هغه به مخلد في النار نه وی.(٣) خوکه ده څه داسے ګناه کړے وی.چه دهغه ګناه په وجه دا ګنړلے شی.چه په ده کښے تصدیق موجود نه دے.نوبیا بیشکه دے کافر دے لکه چه ده د نبی ﷺ په شان کښے ګستاخی کړے وی.یا قرآن پاك په پلیتئ کښے اوغورځوی.یا بت ته سجده اوکړی.نو ددے ګناهونو دوجے که دے په زړګاؤ کرته وائی چه زما په زړه کښے تصدیق شته.خوبیا هم دے کافر دے.

دهرقل دحدیث په ضمن کښے تیر شوی وو چه په تعظیمی سجده باندے سړے کافر کیږی نه.هلته کښے دا هم مونږذکر کړی وو.که یوسړے داسے څیز ته سجده اوکړی.چه هغے ته سجده کول د مشرکانو شعار وی.لکه بت.نوبیا دا کس کافر دے.اګرچه هغه دا وائی.چه ما دا سجده د تعظیم دپاره کړے ده.د تعبد دپاره نه.د ده به دا خبره نشی منلے.ځکه چه ده د کفر اوشرك شعار اختیار کړے دے اود کفر اوشرك شعار اختیارول ددے خبرے دلیل دے.چه دده په زړه کښے تصدیق نشته.

---

(١) فضل الباری(٢٤٦/١)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) فتح الملهم (٤٢٩/١) کتاب الإیمان الحکم الشرعی للإیمان والإسلام)_

باقي پاتې شوه دا خبره چه دا ګناهونه د عدم تصدیق دلیل څنګه ګرځولې شي؟ ځکه څنګه چه نور کبیره ګناهونه دي، دهغه په وجه سړے نه کافر کیږي نودغه شان ددے ګناهونو په وجه هم سړے نه کافر کیږي.

ددے جواب به په یومثال سره ستاسو په پوهه کښے راشي. یوسړے دے هغه دخپل پلار نافرماني کوي. پلار ورته واني دسحر وختي پاسه مونځ د جماعت سره کوه. هغه نه پاسي پلار ورته واني ته خپل کاروبارله په پابندئ سره ځه اوغیرحاضري یا روستوالے مکوه. هغه دپلار نافرماني کوي. اوپه وخت نه ځي بلکه قضائي کوي. نوپه عرف او وجدان کښے د دے سړي په باره کښے نشي ونیلے چه دے د پلار دعظمت قائل نه دے بل یو خونے دے هغه پلار په څپلو باندے وهي. اوپلار ته کنځلے کوي. اولنے کس هم نافرماني کوي. اودا دویم کس هم نافرماني کوي. د دے دویم کس په باره کښے څوك دا نه واني چه دے دپلار د عظمت قائل دے. اوکه داسے اوواني نودنیا به ورته پاګل اوواني.

هم په دے طریقه هغه کس چه مونځ نه کوي زکواة نه ورکوي. ددے کس په باره کښے دا نشي ونیلے چه دے دتصدیق نه محروم دے اودده په زړه کښے دالله اود رسول عظمت نشته. دا بیله خبره ده. چه د بشریت اونفسانیت په د وجه د عظمت اوتصدیق باوجود ده نه کوتاهي کیږي. نوده ته ددے باوجود چه د ګناه کبیره ارتکاب کوي. به مونږ وایو. چه په ده کښے تصدیق موجود دے اودے مومن دے خو هغه کس چه بت ته سجده کوي یا د نبي اکرم ﷺ په شان کښے ګستاخي کوي. یا قرآن د خپو لاندے کوي. یا قرآن کریم په پلیتئ کښے غورځوي. د ده په باره کښے هیڅ کله نشي ونیلے چه دده په زړه کښے دالله او د رسول عظمت موجود دے اوتصدیق موجود دے نو سب النبي ﷺ. یا ››القا المصحف فی القاذورات‹‹، یا سجود لصنم. د داسے ګناهونه دي چه عرفاً، ذوقاً، وجداناً په عدم تصدیق باندے دلالت کوي. نود دے ګناهونو په ارتکاب باندے سړے کافر کیږي. ددے وجے نه چه ارتکاب د کبیره داسے ګناه ده چه سړے برے کافر کیږي. بلکه ددے وجے چه ددے ګناهونو د ارتکاب نه ثابتیږي چه دده په زړه کښے تصدیق موجود نه دے. د نورو ګناهونو په خلاف چه د هغې په وجه دے د ایمان نه خارج نشي ګرځولے بلکه دا به ونیلي شي چه دے به د خپلوګناهونو سزا خوړلو نه پس جنت ته ځي اومخلد في النار به نه وي. او دا هم ممکن ده چه الله سبحانه وتعالی دے معاف کړي او براه راست ئے جنت ته بوځي دا د اهل سنت والجماعة متفقه عقیده ده. اوپه دے کښے د دوی په مینځ کښے څه اختلاف نشته [۱] والله اعلم

دایمان په باره کښې داهل سنت والجماعت په خپل مینځ کښې اختلاف بیا د اهل سنت په مینځ کښے په تعبیر کښے اختلاف دے

(۱) امام بخاري رحمه الله فرماني. ((وهو قول وفعل)) [۲]

---

(۱) فضل الباري (۱/۲۴۷)۔

(۲) صحیح بخاري (۵)۔

() نورحضرات فرمائي ((الإيمان معرفة بالقلب والإقرار باللسان وعمل بالأيدي)) دا تعبير دمحدثينو ﷺ دے.(١)

دامام ابوحنيفه اوحضرات متكلمينو ﷺ تعبير دے ((الإيمان هوالتصديق بالقلب، والإقرار باللسان، شرط لإجراء الأحكام، والعمل بالأركان نتيجة للتصديق وثمرة الإيمان))(٢)

دامام ابوحنيفه رحمه الله نه امام طحاوى رحمه الله دا هم نقل كړى دى چه اقرارباللسان د ايمان ركن دے.(٣)

دامام ابوحنيفه رحمه الله نه د متكلمينو ﷺ د مذهب مطابق يوقول هم منقول دے چه اقرار شرط دے.(۴)

بهرحال دعرض كولو مقصد دا وو چه دحضرات متكلمينو او امام ابوحنيفه ﷺ په نيز دايمان تفسير په تصديق بالقلب سره شوے دے اوعمل دوى ثمره د ايمان او نتيجه د ايمان گرځولے ده.

په امام اعظم باندې د ارجاء الزام او ددې حقيقت په امام ابوحنيفه رحمه الله باندے بعضے خلقو الزام لګولے دے چه دوى په مرجئه كښے وو او دوى د عمل د ضرورت قائل نه وو،(۵) خودا الزام سراسر غلط اوظلم دے.

محققينو ﷺ تصريح كړے ده چه د مرجئه دوه قسمونه دى يو هغه فرقه ضاله ده كومه چه د عمل د ضرورت بيخى قائل نه دى.

اويوه مرجئه په اهل سنت كښے ده.څوك چه دعمل د ضرورت قائل دى خوعمل دايمان جزء نه منى.(۶)

بعضے حضراتو امام ابوحنيفه رحمه الله د اهل سنت په مرجئه كښے شمارلے دے خومونږ وايو چه په امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله باندے چه كوم الزام لګولے شى اګرچه د لقب د حده پورے وى نودا قابل قبول نه دے ځكه چه امام ابوحنيفه رحمه الله عمل د ايمان نه بيخى ويستے نه دے بلكه دے ته ئے خپل مقام وركړے دے اودا ئے ښودلى دى چه دعمل هغه مقام نه دے كوم چه د تصديق دے تصديق اصل اوبنياد دے كه تصديق نه وى نوكه ته څومره نيك اعمال كوے د جنت داخليدو دپاره ددے څه حيثيت نشته چونكه تصديق اصل الاصول اوبنياد دے نو ځكه امام ابوحنيفه رحمه الله صرف دا واضحه كړے ده چه دعمل درجه دتصديق برابر نه

(١) فضل البارى(١/ ٢٤٧)وشرح العقيدة الطحاوية لابن أبى العزالحنفى (ص.٣٣٢)_

(٢) كما يستفاد ذلک من الإحياء وشرحه الإتحاف (٢/ ٢٤١، ٢٤٣)_

(٣) كمافى العقيدة الطحاوية..الإيمان هوالإقرارباللسان.والتصديق بالجنان.انظرشرح العقيدة الطحاوية (ص.٣٣١)

(۴) اتحاف السادة المتقين(٢/ ٢٤١)_

(۵) كصاحب ..القوت.. وغيره وتبعه القونوى من علمائنا كذا فى ..الإتحاف..(٢/ ٢٤١)_

(۶) د يوره تفصيل دپاره اوګورئ (الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل (ص.٣٨٣،٣٥٢) إيقاظ ٢٢.فى بيان معنى الإرجاء السنى والبدعى)_

ده بلکه د تصدیق نه کمه اودد ے نه پس ده نود عمل نه بغیر سړے جنت ته تلے شی
اودا خبره هم داسے ده لکه چه په حدیث کښے راغلی دی «أخروهن من حیث أخرهن الله»(۱) دلته دا مراد نه دے چه ښځے بالکل دجماعت نه بهر کړئ بلکه دا حکم ورکړے شوے دے چه ښځے په روستنو صفونو کښے ساتئ خکه چه د دوی مقام الله تعالی هم دا مقرر کړے دے چه عمل د ایمان جزء نه ګرخوی که په دے وجه په امام ابوحنیفه رحمه الله باندے اعتراض کیدے شی نوموند هم ونیلی شو چه تاسو خو هم د معتزلو او خوارجو عنوان اختیار کړے دے معتزله او خوارج وائی چه ایمان مرکب دے د تصدیق بالقلب، اقرار باللسان او عمل بالارکان نه حالانکه امام ابن تیمیه رحمه الله اودهغه هم خیال هم دا وائی چه ایمان ددے امور ثلاثه نه مرکب دے نو کوم تعبیر چه د هغوی دے هم هغه تعبیر ستاسو دے
مخالفین شکایت کوی چه احنافو رحمهم الله د تعبیرپه سلسله کښے د احتیاط نه کار نه دے اخستے کوم تعبیر چه د مرجئه وو چه ایمان تصدیق بالقلب ته وائی هم دا تعبیر دوی اختیار کړے دے
نوموند وایو چه امام ابوحنیفه رحمه الله خوهغه کسانو ته کافر ونیلی دی خوك چه د عمل د ضرورت نه انکار کوی هغه د مرجئه د تعبیر سره کله اتفاق کوی او ستاسو تعبیر د معتزلو او خوارجو تعبیر سره متفق په نظر راخی تاسو په خپل قول کښے تاویل کوئ او د امام اعظم رحمه الله په قول کښے د تاویل کولو نه خان بچ کوئ (۲)
یوه خبره دا هم کولے شی چه په اصل کښے احنافو رحمهم الله چونکه عمل دایمان جزء نه دے ګرخولے نو دے سره د عمل اهمیت کمیږی مونږ دا وایو چه تاسو عمل د ایمان جزء ګرخولے دے نوپه دے سره په خلقو کښے مایوسی پیدا کیږی که عمل نه وی نو جنت به هم نه ملاویږی لکه خنګه چه خوارج او معتزله وائی نوکه داحنافو رحمهم الله په تعبیرباندے ستاسو اشکال وی چه په دے سره دعمل اهیمت کمیږی نو ستاسو په تعبیرباندے دا اشکال دے چه په دے سره په خلقو کښے مایوسی پیدا کیږی
دا هم ونیلی شی چه د احنافو رحمهم الله په تائید سره د مرجئه حوصله افزائی کیږی خکه چه هغوی هم عمل ضروری نه ګرخوی اواحناف رحمهم الله هم عمل دایمان جزء نه منی نو دے سره د مرجئه د مذهب تائید کیږی
مونږ وایو چه ستاسو په تعبیر سره د معتزلو اوخوارج تائید کیږی په کومه طریقه چه هغوی عمل د ایمان جزء ګرخوی نوهم په هغه طریقه تاسو هم عمل دایمان جزء ګرخوئ نودا تاسو د خوارجو اومعتزلو تائید کوئ (۳)
حافظ ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه احناف رحمهم الله دایمان تعریف په تصدیق بالقلب سره کوی او

(۱) رواه رزین کما فی کنوزالحقائق (ص۱ ۱۱) وانظرنصب الرأیة (۲ ۳۶)کتاب الصلاة باب الإمامة)_
(۲) رواه رزین کما فی کنوزالحقائق (ص۱ ۱۱) وانظرنصب الرأیة (۲ ۳۶)کتاب الصلاة باب الإمامة)_
(۳) بورتنی حواله)_

عمل د ايمان جزء نه ګرځوي خو د عقيدې په لحاظ سره دوي د عمل د ضرورت قائل دي صرف د دې د جزئيت نه انکار کوي نو دا د عقيدې بدعت نه دې خو په بدعت اقوالو کښې ضرور داخل دې (۱)

د دې متعلق مونږ وايو چه دا اعتراض صحيح نه دې ګورئ د حديث اقسام دي صحيح لذاته. صحيح لغيره. حسن لذاته. حسن لغيره. شاذ معلول وغيره. دا ټول اصطلاحات نه د نبي ﷺ په ارشاداتو کښې موجود دي او نه د صحابو ﷺ په اقوالو کښې د دې ذکر شته دغه شان د مونځ فرائض. واجبات او سنن وغيره د فرض و واجب وغيره په عنوان سره د نبي ﷺ په اقوالو کښې مذکور نه دي اوبنئي دا په کوم ځائې کښې ذکر دي چه قيام. قراءت. رکوع او سجده په مونځه کښې فرض دي په مونځه کښې فلانې څيز واجب دې که دا پريخودې شي نو سجده سهود به لازميږي؟ دا فقهي حدبندئې آيا د نبي ﷺ په ارشاداتو کښې يا د صحابه کرامو ﷺ په اقوالو کښې موجود دي اصول حديث. اصول فقه. او په خپله د فقه حدبندئې او اصطلاحات نه د نبي ﷺ نه ثابت دي او نه د صحابو ﷺ په اقوالو کښې د دې څه ذکر شته بيا هم تاسو دا مني او د دې مطابق عمل کوئ نو که امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د ايمان په باره کښې تجزيه کړې وي چه په دې کښې د تصديق درجه اوله ده او د دې نه بغير ايمان نه متحقق کيږي او د عمل درجه د تصديق برابر نه ده که دا عمل نه وي نو بيا هم ايمان متحقق دې نو په دې باندې تاسو ولې اعتراض کوئ؟

لکه څنګه چه محدثينو ﷺ او فقهاؤ امتونو د خلقو د آسانتيا د پاره دا اصطلاحات وضع کړي دي او په دې کښې ئې درجه بندي کړې ده په دې طريقه باندې امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د ايمان په تفصيل کولو کښې د تصديق مرتبه مقرر کړې ده او بيوه مرتبه ئې د عمل مقرر کړې ده نو په دې باندې اعتراض ولې کيږي؟ دا په بدع الاقوال کښې څنګه شاملېدې شي که داسې وي خو ټول څيزونه به په بدع الاقوال کښې داخليږي (۲)

که د دې باوجود په دې باندې اصرار وي چه د امام اعظم رحمه الله قول په بدع الاقوال کښې داخل دې نو بيا به دا هم داسې وي لکه څنګه چه حضرت عمر ﷺ په مسجد نبوي کښې په جماعت سره تراويح شروع کړل او وې فرمائيل «نعمت البدعة هذه» (۳) حضرت عمر ﷺ په خپل دې فعل باندې د بدعت لغوي اطلاق کړې وو نو ټيک هم داسې به د دوي دا قول په بدع الاقوال کښې داخليدل مونږ قبلولې شو ګني حقيقت دا دې چه دا په بدع الاقوال کښې داخل نه دې په امام ابوحنيفه رحمه الله باندې يو اعتراض دا هم شوې دې چه امام ابوحنيفه رحمه الله د ايمان تعريف په «الإيمان هو المعرفة» سره کړې دې معرفت اختياري هم وي او غير اختياري

---

(۱) فتح ملهم (۱/ ۱۴۴)_

(۲) فضل باري (۱/ ۲۴۹، ۲۵۰)_

(۳) أخرجه مالك في الموطا (۱/ ۱۱۴) كتاب الصلاة في رمضان باب ما جاء في قيام رمضان رقم ۳. والبخاري في كتاب صلاة التراويح باب فضل من قام رمضان رقم (۲۰۱۰)_

هم معرفت غیراختیاری په ایمان کښې معتبر نه دے نوبیا دا تعریف څنګه ټیک کیدے شي؟.(۱)

دا خبره دے واضحه وی چه دایمان تعریف په ..معرفت.. سره د حضرت علی کرم الله وجهه او امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم منقول دے.(۲)

دغه شان دعبدالکریم شهرستانی استاذ شیخ ابوالقاسم انصاری رحمه الله دامام الحرمین رحمه الله د کتاب ..الارشاد.. په شرح کښې دایمان تعریف په ..معرفت.. سره کړے دے.(۳)

په خپله په صحیح بخاری کښې د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قول مذکور دے «الیقین الإیمان کله»(۴) چه یقین ټول ایمان دے اویقین علم وی کوم چه اختیاری او غیراختیاری دواړو ته شامل دے.

نودے حضراتو د ایمان په تعریف کښې د معرفت ذکر کړے دے خوچ هم اعتراض نه دے کړے بلکه تاویل په کښې شوے دے خوامام اعظم رحمه الله د ایمان په تعریف کښې د ..معرفت.. ذکر کړے دے نواعتراض پرے کولے شي دا د انصاف خبره نه ده .معرفت د تصدیق موقوف علیه دے تصدیق ترهغه وخته پورے نشي راتلے ترڅوچه معرفت حاصل شوے نه وی نوکه تلفظ په معرفت اوکړی اومراد ترے تصدیق واخلی .په دے کښې څه حرج دے امام طحاوی رحمه الله کوم چه دامام ابوحنیفه رحمه الله د نقطه نظراومذهب په نقل کولو کښې دټولو نه زیات معتبر او ثقه دے هغوی د امام اعظم رحمه الله نه دایمان تعریف په تصدیق سره نقل کړے دے نوکه په یوځائے کښې امام صاحب رحمه الله دایمان په تعریف کښې د معرفت لفظ استعمال کړے وی نو ددغه معرفت نه به هم تصدیق مراد وي.(۵)

یوجواب دا هم ورکړے شوے دے چه امام ابوحنیفه رحمه الله چه د معرفت کوم لفظ استعمال کړے دے نوددے نه هغه معرفت کوم چه اختیاری او غیراختیاری دواړو ته شامل دے مراد نه دے بلکه ددے نه هغه معرفت مراد دے کوم چه د ریاضت او مجاهدے نه پس حاصلیږی چاته چه دا معرفت حاصل شی هغه ته عارف وائی .بنکاره خبره ده چه دا خاص معرفت کوم چه عارفینو ته حاصل وی . اختیاری وی غیراختیاری نه وی نو دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د ایمان په تعریف کښې د «الإیمان هوالمعرفة» باندے د اعتراض کولو څه ګنجائش نشته.(۶)

---

(۱) فیض الباری(۵۲/۱)_

(۲) پورتنۍ حواله)_

(۳) فضل الباری(۲۵۰/۱)_

(۴) صحیح بخاری (۶/۱)فاتحة کتاب الإیمان)_

(۵) فضل الباری(۲۵۱/۱)_

(۶) فضل الباری(۵۲/۱)_

يوجواب دا هم وركړے شوے دے چه امام ابوحنيفه رحمه الله چه د معرفت كوم لفظ استعمال كړے دے كيدے شي دده نه هغه معرفت مراد وى كوم چه د دلائلو اوبراهينو نه پس حاصليږى ځكه چه ايمان يوتقليدى وى اويو استدلالى وى.دايمان تقليدى په مقابله كښے ايمان استدلالى په هرصورت اعلى او افضل دے.اوهغه ايمان چه د استدلال او براهينو نه حاصل شوے وى.دهغے نه په معرفت سره تعبير كولے شى.(١)

ايمان تقليدى معتبر دې كه نه؟ په دے كښے اختلاف دے چه د مقلد ايمان معتبر دے كه نه؟ د معتزلو په نيز تقليدى ايمان معتبر نه دے نوترڅو چه په دلائلو سره معرفت حاصل نه وى ايمان معتبر نه دے.هم دا خبره بعضے خلقو امام ابوالحسن اشعرى رحمه الله ته هم منسوب كړے ده. خودا نسبت صحيح نه دے.امام ابوالقاسم اشعرى رحمه الله فرمائى.دا قول د امام ابوالحسن اشعرى رحمه الله د شان نه لرے دے.

د ټولو اهل السنة والجماعة دا مسلك دے.چه ايمان تقليدى معتبر دے.ټولو ته معلومه ده.چه كشران كله خپل مشران په څه كار باندے اووينى.نوهغوى ته د خپلو مشرانو په دے كارسره شرح صدر او اطمينان حاصليږى.هغوى دا ګنړى.چه زمونږ مشران چونكه دا كار كوى.نودا صحيح اوټيك دے.نوچونكه په تقليدى ايمان كښے تصديق موندلے شى.نوځكه به ددے اعتبار كولے شى.خودا حقيقت دے.چه ايمان استدلالى د ايمان تقليدى نه اعلى اوافضل دے.(٢)

آيا دامام ابوحنيفه رحمه الله تعبيردسلفونه مختلف دې؟ دلته دا كتل پكار دى.چه دا حضرات په امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله باندے اعتراض خو كوى.اووائى.چه دوى د سلفو رحمهم الله قول نه دے اختيار كړے.خوسوال دا دے.چه د سلفو رحمهم الله قول څه دے.د سلفو قول «الإيمان قول وفعل» نه دے . اونه دسلفو قول «الإيمان معرفة القلب» دے.بلكه دسلفو قول دے.«الإيمان معرفة بالقلب وإقرار باللسان وعمل بالأركان يزيد بالطاعة وينقص بالمعصية»(٣)

په دے كښے چرته تصريح نشته.چه عمل دايمان جزء دے.حرف عطف استعمال شوے دے.د دے نه دا چرته لازميږى.چه عمل دايمان جزء دے.دحرف عطف داستعمال نه دا نه لازميږى.چه دا د معطوفاتو جزء دے.په ترمذى شريف كښے دحضرت فضل بن عباس رضى الله عنهما روايت دے.«قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الصلاة مثنى مثنى، تشهد فى كل ركعتين وتخشع وتضرع، وتمسكن وتذرع وتقنع يديك: يقول ترفعهما إلى ربك مستقبلاً ببطونهما وجهك وتقول: يا رب يا رب ومن لم يفعل ذلك

---

(١) فضل البارى(١/٢٥١)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) ذكره الشيخ ابوالمنصور عبدالقاهر البغدادى فى .كتاب الأسماء والصفات.. والشيخ أبوالقاسم الأنصارى فى شرح ..الإرشاد.. كذا فى فضل البارى(١/٢٥٥، ٢٥٦)_

فهو كذا وكذا»(۱)

دلته ئې مونځ ته ..مثنی مثنی.. ونیلی دی.اوددے نه پس فرمانی:«تخشع وتضرع وتمسکن»
اود دے نه پس فرمائی:«تقنع یدیك یقول ترفعهما إلی ربك مستقبلاً ببطونهما وجهك وتقول: یارب
یارب» تاسو اوښائے چه دا ټول څیزونه چه په دے حدیث کښے د ..صلاة.. په تفسیر کښے
بیان شوی دی.دا ټول فرائض دی.اوکه لاس اوچتول او..یارب یارب.. ونیل اوپه مانځه
کښے خشوع او خضوع اختیارول؟ ښکاره ده چه دا ټول فرض نه دی.نود عطف باوجود تاسو
دا په فرائضو کښے نه شاملوئ.نود سلفو ﷺ اقراربالسان او عمل بالارکان دایمان په
تعریف کښے د ذکر کولو نه ددے په فرائضو کښے داخلیدل څنګه لازمیږی.

دغه شان په یوحدیث کښے راځی.چه د نبی ﷺ نه تپوس اوشو.«أی الحج أفضل»نوپه ﷺ
اوفرمائیل.«العج والثج»(۲) ..عج.. معنی «رفع الصوت بالتلبیة» اود ..ثج.. معنی «إراقة
الدماء» ده.حالانکه «رفع الصوت بالتلبیة»او «إراقة الدم» د حج په فرائضو کښے داخل نه
دی.فرض خو طواف زیارت.او وقوف عرفه دی. اصل دا دے.چه په محاوراتو کښے بعضے
وخت متعلقات اوفروعات هم د فرائضو په ځائے یا دهغے په ضمن کښے ذکر کولی
شی.نو، .تخشع،تضرع، او تمسکن صلاة،، د مونځ د متعلقاتوځنے دی.«رفع الیدین إلی الوجه»
هم د مونځ د په متعلقاتو کښے داخل دی.اګرچه دا د مانځه نه پس وی.دغه شان «رفع الصوت
بالتلبیة»او«إراقة الدم» د حج د متعلقاتوځنے دی.نوددے ټولوپه ذکر کولو سره ددوی
فرضیت او جزئیت نه ثابتیږی.نود سلفو ﷺ په قول کښے د ایمان په تعریف کښے د
«اقراربالسان وعمل بالارکان» ذکر کولو نه دا څنګه معلومیږی . چه اعمال دایمان جزء
دے.بلکه دا به ونیلی شی.چه ددے ذکر څکه اوشو.چه دا د ایمان په متعلقاتواوفروعاتو
کښے داخل دی.

امام غزالی رحمه الله اعتراض کړے دے.چه محدثین ﷺ یوطرفته اعمالوته د ایمان جزء
وائی.اوبل طرف ته دوی دا هم وائی.چه تارك اعمال به جنت ته ځی.نو بے ایمانه سړے به څنګه
جنت ته داخل شی.کله چه اعمال دایمان جزء دے.نوبیا خو تارك اعمال د ایمان نه محروم
دے.نوبیا دے ولې جنت ته ځی.(۳)

---

(۱) سنن ترمذی أبواب الصلاة باب ما جاء فی التخشع فی الصلاة رقم.(۳۸۵)_

(۲) جامع ترمذی أبواب الحج.باب ما جاء فی فضل التلبیة والنحر.رقم (۸۲۷) وأبواب تفسیرالقرآن باب ومن سورة آل عمران رقم(۲۹۹۸) وسنن ابن ماجه کتاب المناسک باب رفع الصوت بالتلبیة رقم.(۲۹۲٤) وسنن دارمی (۴۹/۲) کتاب المناسک باب أی الحج أفضل رقم(۱۷۹۷)-

(۳) إحیاء علوم الدین مع شرح إتحاف السادة المتقین(۲٤٤/۲)_

حافظ ابن تيميه رحمه الله جواب ورکړے دے چه يو مطلق ايمان دے يعنى نفس ايمان.او يو ايمان مطلق دے يعنى کامل ايمان.نواعمال د ايمان مطلق يعنى کامل ايمان جزء دے اود مطلق ايمان يعنى دايمان جزء نه دے.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا خبره منى.چه اعمال د ايمان کامل دپاره جزء دے.دنفس ايمان جزء نه دے (٢)

امام اعظم رحمه الله خو هم دا فرمائى.چه دنفس ايمان دپاره دے اعمال جزء اونه ګرځولے شى باقى دايمان کامل دپاره د اعمالو په جزئيت کښے امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله هم څه اشکال نه کوى

دټولو اهل السنة والجماعة په دے خبره باندے اتفاق دے.چه مرتکب د کبيره به بالآخر جنت ته خى برابره ده که الله تعالى هغه په اول کښے معاف کړى.اود اول نه ئے جنت ته داخل کړى اوکه د سزا خوړلو نه پس ئے جنت ته داخل کړى.بهرحال هغه به جنت ته خى.ددے نه ښکاره دا معلوميږى.چه اعمال د نفس ايمان جزء نه دے.نودا واويلا کول او شورجوړول چه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د جزئيت نه انکار کوى.اوهغوى دسلف نه خلاف کړے دے ټول فضل دى.سلف هم اعمال د نفس ايمان جزء نه ګڼړى.اوامام اعظم رحمه الله هم دايمان دپاره د عمل د جزئيت نه انکار کوى.اود ايمان کامل دپاره چه لکه څنګه سلف اعمال جزء ګرځوى.امام ابوحنيفه رحمه الله هم دا تسليموى.

د ايمان دپاره داعمالو په جزئيت دمحدثينو رحمهم الله دلائل ددے دپاره ډيردلائل پيش کولى شى چه اعمال په ايمان کښے داخل دى.

(١) اولنے دليل دحضرت ابوهريره رضى الله عنه حديث دے.«الإيمان بضع وسبعون شعبة والحياء شعبة من الإيمان»(٣)

(٢) دويم دليل د وفدعبدالقيس حديث دے په کوم کښے چه نبى صلى الله عليه وسلم دايمان په تفسير او تشريح کښے د صلوة.زکاة. وغيره اعمالو ذکر کړے دے «أمرهم بالإيمان بالله وحده،قال أتدرون ما الإيمان بالله وحده؟ قالوا: الله ورسوله أعلم، قال شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصيام رمضان وأن تعطوا من المغنم الخمس....»(٤)

---

(١) فضل البارى(١/ ٢٥٤)_

(٢) پورتنئ حواله)_

(٣) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه كتاب الإيمان باب أمورالإيمان رقم ٩. ومسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب بيان عدد شعب الإيمان ..رقم(١٦١، ١٦٢) والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان وشرائعه باب ذكر شعب الإيمان رقم (٥٠٠٧) و(٥٠٠٨) و(٥٠٠٩) وابوداود فى سننه فى كتاب السنة باب فى رد الإرجاء رقم (٤٦٧٦) والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان باب ماجاء فى أستكمال الإيمان وزيادته ونقصانه رقم.(٢٦١٤) وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم(٥٧)_

(٤) صحيح بخارى كتاب الإيمان باب أداء الخمس من الإيمان رقم(٥٣) وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى وشرائع الدين..رقم (١٢٤)_

() دریم دلیل دحضرت عائشه رضی الله عنها حدیث دے.((قالت قال رسول الله ﷺ إن أكمل المؤمنين إيماناً أحسنهم خلقاً وألطفهم بأهله))(۱)

() خلورم دلیل دحضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث دے.((قال قال رسول الله ﷺ أكمل المؤمنين إيماناً أحسنهم خلقاً))(۲)

() پنځم دلیل دحضرت ابوامامه بن ثعلبة رضی الله عنه حدیث دے.((فقال رسول الله ﷺ: ألا تسمعون ألا تسمعون إن البذاذة من الإيمان إن البذاذة من الإيمان ...))(۳)

() شپږم دلیل حدیث دشفاعت دے.په هغے کښے راغلی دی.((اذهبوا فمن وجدتم في قلبه مثقال دينار من إيمان فأخرجوه)) بیا فرمائی.((اذهبوا فمن وجدتم في قلبه مثقال نصف دينار فأخرجوه)) دغه شان راغلی دی.((اذهبوا فمن وجدتم في قلبه مثقال ذرة من إيمان فأخرجوه))(۴) ښکاره ده چه دا اعمال اوزان دی.

د ذکرشوی دلائلو نه جواب خو متکلمینو رحمهم الله ددے دلائلو نه جواب کړے دے چه په دے اعمالو باندے د ایمان اطلاق مجازاً شوے دے.ځکه چه اعمال دایمان د مقتضیاتو ځنی دی.چه په ایمان کښے داخل دی.لکه څنګه چه عمل د علم د مقتضیاتو ځنے دے.نولکه چه عمل په علم کښے داخل دے. هم دا وجه ده.که عالم بے عمله وی.نو وئیلی شی چه دے خوجاهل دے.

دغه شان اعمال د ایمان توابع دی.یعنی چه ایمان واقع شی.نوښکاره ده چه اعمال ورسره هم وی.دا داسے اووایه.چه په اعمالوباندے دایمان اطلاق ددے وجے شوے دے.چه دا د ایمان د آثارو ځنی دی.اوډیر په اثرباندے بعضے وخت د هغه څیز اطلاق کیږی. ګورئ د شمس اطلاق په ..قرص.. باندے هم کیږی.او..ضوء شمس..باندے هم .کوم چه د شمس اثر دے. دغه شان د نار اطلاق په جمره یعنی سکروټه باندے کیږی.اوددے په لمبو باندے هم کیږی.

د اعمالو په عدم جزئیت باندی دمتکلمینو رحمهم الله دلائل حضرات متکلمینو رحمهم الله په دے باندے چه اعمال دایمان جزء نه دے.ډیردلائل د قرآن او احادیثونه پیش کړی دی.

() دقرآن کریم هغه ټول مقامات چه په هغے کښے د اعمالو عطف په ایمان باندے شوے دے.

---

(۱) جامع ترمذی کتاب الإیمان باب ما جآء فی إستکمال الإیمان وزیادته ونقصانه رقم.(۲۶۱۲)_

(۲) جامع ترمذی کتاب الرضاع باب ماجآء فی حق المرأة علی زوجها رقم(۱۱۶۲) وسنن أبی داود کتاب السنة باب الدلیل علی زیادة الإیمان ونقصانه رقم(۴۶۸۲)_

(۳) ابوداود کتاب الترجل رقم (۴۱۶۱) وسنن ابن ماجه کتاب الزهد باب من لا یؤبه له رقم (۴۱۱۸)_

(۴) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ رقم(۴۳۹)_

لكه ﴿وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ جَزَاءً الْحُسْنَىٰ﴾ (١)
﴿فَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ﴾ (٢) او ﴿وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ﴾ (٣) وغيره اوپه عطف كښے اصل مغايرت وى
() دقرآن كريم هغه ټول آياتونه په كوم كښےچه دعمل دپاره ايمان شرط ګرځولے دے لكه ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾ (٤) ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ (٥) ددے پشان نور ډيرآياتونه دى په هغے كښے دعمل صالح دپاره ايمان شرط ګرځولے شوے دے.اوپه شرط او مشروط كښے مغايرت وى نو په عمل او ايمان كښے به مغايرت وى.اوعمل به د ايمان جزء نشى ګرځولے.
() په قرآن كريم كښے ارشاد خداوندى دے ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا﴾ (٦)
تاسوته معلومه ده.چه توبه د ګناه نه كيږى.اودا درته هم معلومه ده كه عمل دايمان جزء اوګرځولے شى.نو په ګناه اوايمان كښے به تضاد راشى.ځكه چه ګناه دعمل ضد دے اوعمل چه كله د ايمان جزء شى.نوګناه به دايمان هم ضد دے ځكه چه كوم څيز د جزء ضد وى.هغه د كل هم ضد وى.نود معصيت مرتكب په ايمان باندے نشى موصوف كيدے ددے بوجود په قرآن كريم كښے دى.اے دايمان خاوندانو! تاسوتوبه اوباسئ يعنى د ګناه نه.لكه چه دګناه باوجود ورته هم مؤمن ونيلى شى.ددے نه معلومه شوه.چه عمل په ايمان كښے داخل نه دے
دغه شان په قرآن پاك كښے په يوبل ځائے كښے په مرتكب دكبيره باندے د مؤمن اطلاق كړے دے ﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ﴾ (٧) دلته په خپلو كښے جنګ كونكى مسلمانانوته مؤمن ونيلے شوے دے اوقتال ګناه كبيره ده .د دے نه هم معلومه شوه.چه عمل په ايمان كښے داخل نه دے
() دغه شان هغه ټول آيات قرآنيه هم حضرات متكلمين د دليل په طور پيش كوى په كومو كښے چه دايمان سره د عمل صالح مطالبه هم شوے ده. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ (٨)
() د قرآن كريم هغه آياتونه هم د متكلمينو ﷺ دلائل دى په كومو كښے چه قلب محل

---

(١) الكهف:٨٨)_
(٢) القصص:٦٧)_
(٣) البقرة:٢٥)_
(٤) النساء:١٢٤)_
(٥) النحل:٩٧)_
(٦) التحريم:٧)
(٧) الحجرات:٩)_
(٨) التوبة:١١٩)_

دایمان گرخولے شوے دے لکه ﴿أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ﴾[1]
﴿وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ﴾[2] دغه شان فرمائی ﴿قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ﴾[3] دغه شان فرمائی ﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾[4] تول پیژنی چه زړه د تصدیق محل دے د عمل محل نه دے

() علامه عینی رحمه الله فرمائی چه الله تعالی اهل عربو ته د ..آمنوا.. حکم کړے دے اود ایمان مطالبه ئے ترے کړے ده.اوداهل عربو په نیز دایمان مفهوم ددے نه سوا بل څه نه وو چه تاسو تصدیق بالقلب اختیار کړئ.نودا د ..آمنوا.. صیغه په کومه باندے چه دوی مکلف گرخولی شی دعربو دلغت مطابق دتصدیق قلب نه سوا بل څه ته شامل نه دے ددے نه هم معلومیږی چه ایمان د تصدیق نوم دے اوعمل په دے کښے داخل نه دے[5]

() په قرآن کریم کښے ارشاد دے﴿فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ﴾[6] دلته د کفر په مقابله کښے دایمان ذکر دے اوکفر انکار اوتکذیب ته وائی.اوانکاراوتکذیب محل د ایمان دے نوددے ضد دایمان محل به هم قلب وی.اودا به هله وی.چه دایمان تعریف په تصدیق سره اوشی.اوعمل په کښے داخل نشی.

() په حدیث جبریل علیه السلام [7]کښے د نبی ﷺ نه تپوس شوے وو.چه «أخبرني عن الإسلام» ددے په جواب کښے نبی ﷺ اوفرمائیل.«الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلاً» اوبیا ئے د «فأخبرني عن الإيمان» په جواب کښے اوفرمائیل .«أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره» لکه چه نبی ﷺ د ایمان په تعریف کښے امور مخصوصه ذکر کړل دا تفریق د دے خبرے دلیل دے.چه اعمال په ایمان کښے داخل نه دی.

() دحضرت اسامه بن زید رضی الله عنه واقعه ده.چه هغوی یوداسے کس قتل کړے وو چا چه «لا إله إلا الله» وئیلے وه.هغه په دے خیال هغه قتل کړے وو چه دے د ځان بچ کولو دپاره کلمه وائی.نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل «أفلا شققت قلبه»[8] تا دهغه زړه ولے نه څیرے کولو چه کتلے

---

[1] المجادلة:۲۲)_
[2] النحل:۱۰۶)_
[3] المائدة:۴۱)_
[4] الحجرات:۱۴)_
[5] عمدة القاری(۱۰۵/۱)_
[6] سورة البقرة:۲۵۶)_
[7] صحیح مسلم فاتحة کتاب الإیمان رقم ۱۰۲)_
[8] صحیح مسلم (۶۸/۱) کتاب الإیمان باب تحریم قتل الکافربعد قوله لا إله إلا الله)_

دے وے.تادا څنگه یقین اوکړلو.چه صرف د خان بچ کولودپاره کلمه وائی.په حقیقت کښے مومن نه دے؟ددے نه ښکاره معلومیږی.چه دایمان محل زړه دے.اوددے وجے قلب د تصدیق محل دے.نود ایمان تعریف به په تصدیق سره کولے شی.اوعمل به په ایمان کښے نشی داخلولے.

() په مسند احمد کښے د یوانصاری ﷺ واقعه ده.((أنه جاء بأمة سوداء وقال یا رسول الله: إن علی رقبة مؤمنة فإن کنت تری هذه مؤمنة أعتقتها، فقال لها رسول الله ﷺ أتشهدين أن لا إله إلا الله؟ قالت: نعم، قال أتشهدين أني رسول الله؟ قال نعم، قال أتؤمنين بالبعث بعد الموت، قال نعم، قال أعتقها))(۱)دلته دعمل څه ذکر نشته.نبی ﷺ د تصدیق بالقلب اعتبار کړے دے.اوپه دے باندےئے د ..مومنة.. اطلاق اوکړلو.

() هم په مسند احمد کښے دحضرت انس ﷺنه مرفوع روایت دے.((الإسلام علانیة والإیمان في القلب...))(۲) ددےټولو دلائلو نه ثابته شوه.چه عمل په ایمان کښے داخل نه دے.څکه متکلمین ﷺ او حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ددے خبرے قائلین دی.چه عمل په ایمان کښے داخل نه دے.والله اعلم.

دحضرات محدثینو اومتکلمینو رحمهم الله په مینځ کښې د اختلاف حیثیت بیا دلته دا سوال پیدا کیږی.چه متکلمین ﷺ د ایمان تعریف په تصدیق بالقلب سره کوی.اومحدثین ﷺ دتصدیق.عمل او اقرار مجموعه ته ایمان وائی.خود مآل اونتیجے په اعتبارسره د محدثینو اومتکلمینو ﷺ په مینځ کښے څه اختلاف نشته.څکه چه دواړه فریق مرتکب دکبیره مخلد في النار نه گنړی.بیا دا اختلاف دومره سخت ولے شو؟ په دے باره کښے د بعضے حضراتو رائے ده. چه دا اختلاف لفظی اختلاف دے.(۳)

حضرت شیخ الاسلام شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی.دا اختلاف لفظی نه بلکه د نظرئے اختلاف دے.

د متکلمینو ﷺ نظریه ده.چه اعمال دایمان په فروعو کښے دی.اود ایمان یعنی تصدیق بالقلب حیثیت داسے وی.لکه چه د جرړے حیثیت وی.چه جرړه په زمکه کښے دننه پټه وی.دهغے نه تنه راوځی.اود تنے نه پس شاخونه او پاڼړے.نوهغه شاخونه او پاڼړے د جرړے جزء نه وی هغه د جرړے دپاسه متفرع کولے شی د متکلمینو ﷺ په نیز هم په دے طریقه اعمال په ایمان باندے متفرع کیږی.

دمحدثینو ﷺ نقطه نظردادے چه ایمان دتنے پشان دے اواعمال د شاخونواوپاڼړو پشان دے. نولکه څنگه چه شاخونه اوپاڼړے د جرړے جزء نه وی.دغه شان اعمال هم د ایمان جزء نه دے.

---

(۱) سند احمد (۳/۴۵۱، ٤٥٢)حدیث رجل من الأنصار)_

(۲) مسند احمد (۳/۱۳٤، ۱۳۵) مسند انس بن مالک ﷺ)_

(۳) فضل الباری(۱/۲٤۸)_

د محدثینو رحمهم الله خیال دے چه د ایمان حیثیت بیخی دهغے تنے پشان دے کومه چه د زمکه د پاسه وی شاخونه او پانړے د دے جزء وی دغه شان به اعمال هم د ایمان جزء وی.(۱)
حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی دا اختلاف په اصل کښے د حالاتو پیداوار دے.د امام اعظم ابوحنیفه اومتکلمینو رحمهم الله په زمانه کښے چونکه د معتزلو او خوارجو زور وو.او هغوی ددے خبرے قائلین وو چه اعمال د ایمان جزء دے که اعمال نه وی .نوسړے به مخلد في النار وی.اوهغوی به مرتکب د کبیره د ایمان نه خارج گرخولو.نودهغوی د تردید دپاره متکلمینواوامام ابوحنیفه رحمهم الله موثراوبلیغ عنوان اختیار کړلو اووے فرمائیل چه ایمان صرف د تصدیق بالقلب نوم دے.اواعمال ددے ثمره. نتیجه او فرع ده.دا د ایمان جزء نه دے.
د حضرات محدثینو رحمهم الله په زمانه کښے د مرجئو زور وو.اوهغوی عمل بیخی بیکاره گرخولے وو.د ((الطاعة لاتفيد والمعصية لاتضر)) دعوی ئے کوله.ددوی د تردید دپاره حضرات محدثینو رحمهم الله بلیغ عنوان اختیار کړلو.هغه دا وو چه عمل د ایمان جزء دے.چه د عمل اهمیت کم نشی.په دے وجه دا اختلاف پیدا شو.گنی د اصل په اعتبار سره نه دا حضرات د عمل د اهمیت نه منکر دی اونه هغوی د دواړو په نیز عمل ضروری دے.دغه شان د دواړو په نیز مرتکب د کبیرة نه د ایمان نه خارج دے اونه مخلد في النار دے.(۲)
په ایمان کښې زیادت اونقصان دلته دویمه اهمه مسئله په ایمان کښے د زیادت او نقصان ده.په دے کښے اختلاف دے.
جمهوراشاعره.ائمه ثلاثه او داود ظاهری رحمهم الله فرمائی.چه په ایمان کښے کمے زیاتے راځی.(۳)
دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مشهور مذهب دا دے.چه په ایمان کښے کمے زیاتے نه کیږی.
حضرت علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی.چه امام ابوحنیفه رحمه الله ته چه د عدم زیادت او نقصان قول منسوب وو.په دے کښے اول کښے زما تردد وو.ځکه چه دا هغوی ته په فقه اکبر کښے منسوب ملاویږی.خود ..فقه اکبر.. په باره کښے د محدثینو رحمهم الله رائے ده.چه د هغوی خپل تصنیف نه دے.بلکه دهغوی د شاگرد ابومطیع بلخی رحمه الله تصنیف دے.حافظ ذهبی رحمه الله هغه جهمی گرخولے دے.خودا خبره تیك نه ده.دومره خبره ضرور شته چه دحدیثو په سلسله کښے هغه حجت نه دے.
ددے نه علاوه دا قول امام صاحب رحمه الله نه امام ابن تیمیه رحمه الله هم نقل کړے دے. بیشکه هغه حافظ متبحر دے.خوچونکه دهغوی په طبیعت کښے تیزی ده اوکوم طرف ته چه دهغوی میلان وی.نود حد نه زیات میلان وی نوځکه دهغوی په نقل باندے اعتماد نشی کولے.
حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی.دصحیح قول نه ملاویدو په وجه ما ددے قول نفی کول غوښتل چه د حافظ ابن عبدالبر رحمه الله شرح موطا مے د نظر نه تیره شوه په هغے کښے هغوی هم دا قول دامام ابوحنیفه رحمه الله استاذ حضرت حماد رحمه الله طرف ته منسوب کړے وه.چونکه

---

(۱) درس بخاری علامه شبیراحمد عثمانی مرتبه مولاناعبدالوحید صدیقی فتح پوری (۱/ ۱۲۰، ۱۲۱)_
(۲) پورتنئ حواله)_
(۳) فتح الملهم (۱/ ٤٤٦) كتاب الإيمان هل الإيمان يزيد وينقص)_

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله په نقل کښې متقن او متثبت دے. نو خکه راته څه ناڅه اطمینان حصل شو چه د شیخ قول دشاګرد هم وی (۱)

خو حضرت شیخ الاسلام علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه حافظ ابن عبدالبر رحمه الله دامام اعظم رحمه الله نه ډیر متاخر دے اوهغوی چه څه نقل کړی دی نوهغه نے صراحة امام ابوحنیفه رحمه الله ته منسوب کړے هم نه دی بلکه دامام ابوحنیفه رحمه الله د استاذ حماد رحمه الله نه ئے نقل کړی دی.

او یوبل نقل ملاؤ شوے دے کوم چه دده نه زیات مضبوط دے شیخ ابوالمنصور بغدادی رحمه الله په «کتاب الأسماء والصفات» کښې او امام ابوالحسن اشعری رحمه الله په کتاب «مقالات الإسلامیین» کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله قول نقل کړے دے چه «الإیمان لایتبعض ولایزید ولاینقص ولایتفاضل الناس فیه» حضرت شیخ الاسلام فرمائی چه امام ابوالحسن اشعری رحمه الله د امام طحاوی رحمه الله هم عصروو. اوامام طحاوی رحمه الله په یوه واسطه د امام محمد رحمه الله شاګرد دے اوامام محمد رحمه الله دامام ابوحنیفه رحمه الله په شاګردانو کښې دے نو دوی زمانه امام اعظم رحمه الله ته زیاته نزدے ده. اوپه نقل کښې دهغه مستند او معتمد کیدل دبیان محتاج نه دی (۲)

منشأ د اختلاف اوس دلته د تولونه وړاندے دا سوال پیدا کیږی چه د زیادت اونقصان د دے اختلاف منشا څه ده؟

په دے سلسله کښې دامام رازی رحمه الله رائے ده. چه په اصل کښې دا اختلاف دایمان په ترکیب اوبساطت باندے مبنی دے کوم حضرات چه ایمان مرکب ګڼړی هغوی د «الإیمان یزید وینقص» قائلین دی اوخوک چه دا وائی چه ایمان بسیط دے. هغوی د «الإیمان لایزید ولاینقص» قائلین دی. دا اختلاف هم په دے اولنی اختلاف باندے متفرع دے نودا اختلاف هم داولنی اختلاف پشان لفظی دے (۳)

امام نووی رحمه الله فرمائی که اعمال د ایمان جزء اونشی ګرځولے نوپه دے صورت کښې هم په ایمان کښې زیادت اونقصان راځی هغوی فرمائی چه د صدیقینو ایمان د عامو خلقو دایمان نه زیات وی (۴)

د «لایزید ولاینقص» مطلب کوم حضرات چه د زیادت اونقصان نفی کوی په هغوی کښې بعضے حضرات فرمائی چه دایمان دوه درجے دی یوایمان معلی کوم ته چه تاسو ایمان کامل یا ایمان مطلق یا ایمان علی الاطلاق هم وئیلے شئ اوسو ایمان منجی دے کوم ته چه تاسو

---

(۱) فیض الباری (۱/ ۵۹، ۶۰)_
(۲) فیض الباری (۱/ ۲۵۸، ۲۵۹)_
(۳) فیض الباری (۱/ ۲۶۰)_
(۴) شرح نووی علی صحیح مسلم (۱/ ۲۶) کتاب الإیمان)_

نفس ايمان يا ايمان مطلق هم وئيلے شي ايمان معلي اوچته درجه ده او ايمان منجي ادنى درجه ده ايمان معلي زيادت اونقصان قبلوى خوکوم چه نفس ايمان دے يعنى ايمان منجي په هغے کښے د زيادت اونقصان څه احتمال نشته ځکه که په دے کښے کمے زياتے تسليم کړے شي نوهغه خو د وړاندے نه په ادنى درجه کښے دے که په هغے کښے نوره کمى راشي نوايمان باقى نه پاتے کيږى ځکه چه د ايمان په ادنى درجه کښے د کمى مطلب دا دے چه يقين باقى پاتے نشو شك او تردد پيدا شو نودايمان دا درجه نقصان نه قبلوى.(١)

سوال دا پيدا کيږى چه دا زيادت خو قبلوى نوبيا د.. لايزيد..ونيلومطلب څه دے؟

ددے جواب دا دے چه د زيادت قبلولو مطلب دا دے چه د ايمان په کومه ادنى درجه باندے خلود في النار حرام ګرځولے شوے دے.نودهغے نه پورته درجه د خلود في النار دپاره موقوف عليه نه ده ددے نه پورته بيشکه ډيردرجات کيدے شي.خوهغه پورته درجات دخلود في النار دحرمت دپاره موقوف عليه نه دى.مثلاً د پيغمبرانوعليهم السلام يا د صديقانو ايمان يقيناً ددے نه افضل اوغوره دے خود خلود في النار دحرمت دپاره هغه موقوف عليه نه دے.که دهغوى ايمان کوم چه د نفس ايمان اود ادنى درجے نه اوچت اوپورته دے دخلود في النار دحرمت دپاره موقوف عليه اوګرځولے شي نوبيا په مونږ کښے څوك هم د خلود في النار نه مستثنى کيدے نشي.

خلاصه دا ده چه هغه درجه نقصان نه قبلوى که هغه نقصان قبول کړى نوهغه ايمان نه پاتے کيږى.په هغے کښے تردد او شك راځى.تصديق نه پاتے کيږى اوپه دے کښے د زيادت دنفى مطلب دا دے.چه ددے نه زياته اوچته مرتبه دخلود في النار د حرمت دپاره موقوف عليه نشى ګرځيدلے.

علامه ابن حزم ظاهرى رحمه الله هم د ((لايزيد ولاينقص)) قائل دے.هغوى يوه بله توجيه کړے ده.هغوى فرمائى چه په حقيقت کښے دلته درے صورتونه دى

۱) يو داچه تصديق په صورت د جزم وى يعنى چه په دے کښے دنقيض احتمال موجود نه وى.

۲) دويم صورت دا دے.چه په هغے کښے تصديق وى اوتردد هم موجود وى

۳) دريم صورت دا دے.چه تصديق وى.اودے سره انکار وى.

ابن حزم رحمه الله فرمائى.ايمان دهغه تصديق نوم دے چه په هغے کښے جزم وى.اود نقيض احتمال په کښے نه وى.که تصديق وى.اودهغے سره تردد وى.نوهغه ايمان نه دے.نوکله چه په ايمان کښے د تصديق سره جزم وى.اود نقيض ګنجائش په کښے نه وى.نوپه دے کښے به نقصان څنګه راشى؟ځکه چه دنقصان راتلو مطلب دا دے چه د نقيض احتمال پيدا شى اود جزم نقيض تردد او انکار دے نوکه په دے کښے د نقيض يعنى د تردد يا انکار احتمال راشى نوهغه خو ايمان نه پاتے کيږى ځکه چه ايمان هغه تصديق دے چه هغه د جزم سره وى اود نقيض محتمل نه وى نودا منل به ضرورى شى چه په دے کښے دنقصان احتمال

---

(١) درس بخارى ازحضرت شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله ١ (١٢٥)مرتبه مولانا عبدالوحيد صديقى فتح پورى)_

نشته اوقاعده دا ده چه ((مالایحتمل النقصان لایحتمل الزیادة)) په کوم څیز کښې چه د نقصان احتمال نه وی په هغې کښې د زیادت گنجائش هم نه وی نوځکه به وئیلې شی چه ((الایمان لا یزید ولاینقص))(١)

شیخ الاسلام علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله یوه بله خبره کړې ده (٢) هغوی فرمائی چه د ایمان روح انقیاد قلبی اواستسلام باطنی دے شیخ ابوطالب مکی رحمه الله دے ته د ..التزام شریعت.. عنوان ورکړے دے دے ته التزام طاعت هم وئیلې شی په دے انقیاد قلبی اوالتزام شریعت باندے ایمان موقوف دے که دا نه وی نو ایمان به هم نه وی اودا د ..مؤمن به.. درجه ده مونږ دا فیصله کړے ده او زمونږ په دے باندے یقین دے چه کوم حکم د نبی ﷺ نه راخی مونږ به هغې ته غاړه بسته یو نو په دے التزام شریعت او انقیاد قلبی کښې کمے اوزیادت کیږی خو په خپله په تصدیق کښې زیادت اونقصان نه راخی مونږ د رسول الله ﷺ د اطاعت التزام کړے دے اوس نبی ﷺ حکم اوکړلو چه حشراونشر باندے یقین اوکړئ په حساب اوکتاب باندے ایمان راوړئ په جنت او دوزخ باندے یقین اوکړئ مونږ دا منو اوس بنکاره خبره ده چه دا ټولې خبرے په نظر نه راځی اونه دا په عقلی استدلال سره ثابتے کړے شوی دی صرف دد ے وجے چه د نبی ﷺ تصدیق مو کړے دے اود انقیاد قلبی او د شریعت التزام ذمه واری مو قبوله کړے ده نو کومه خبره چه نبی ﷺ کوی هغه په سر سترگو منو په لا اله الا الله محمد رسول الله باندے ایمان وو ددے نه پس په حشر نشر حساب کتاب جنت او دوزخ باندے دیقین کولو حکم اوکړے شو نو دا اومنلې شول بیا ئے اوفرمائیل چه پنځه وخته مونځ کوئ نو دا اومنلې شو نو دا التزام شریعت مومن به دے په دے کښې کمے زیاتے کیږی خو په تصدیق کښې کمے زیاتے نه کیږی.

په نصوصو کښې د وارد شوی زیادت توجیه باقی پاتو شو دا اشکال چه بیا په آیاتونو کښې چه په ایمان کښې د کمی اوزیاتی ذکر راغلے دے دهغې جواب به څه وی؟

په دے باره کښې یوه خبره خو دا یاده ساتل پکار دی چه په آیاتونو او احادیثو کښې د زیادت ذکر راغلے دے دنقصان نه دے دحافظ ابن تیمیه رحمه الله غوندے وسیع النظر عالم اقرار کوی چه دنقصان ذکر په نصوصو کښې نه دے راغلے (٣) صرف په یوحدیث کښې نبی ﷺ ښځو ته ((ناقصات عقل ودین)) وئیلې دی (٤)

په هغې کښې د نقصان ذکرشته خوهلته دایمان لفظ هم نشته په هغې کښې دا احتمال هم شته

---

(١) فتح الملهم (١/ ٤٤٧) کتاب الإیمان هل الإیمان یزید وینقص)_

(٢) فضل الباری(١/ ٢٦١، ٢٦٢)_

(٣) فضل الباری(١/ ٢٥٩)_

(٤) په حدیث کښې دی ((مارأیت من ناقصات عقل ودین أذهب للب الرجل الحازم من إحداکن ..صحیح بخاری (١/ ٤٤)_

چه هدے نه د اعمالو کمے مراد دے.دزیادت لفظ په قرآن او احادیثو کښے په کثرت سره راغلے دے.کیدے شی هم دا وجه وی.چه دامام مالك رحمه الله مذهب «الايمان يزيد ولاينقص» نقل شوے دے.دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله یو قول هم دا نقل شوے دے.دغه شان دعبدالله بن المبارك څوك چه په یووخت مجاهد ، محدث، زاهد ، اوصوفی دے.اودامام اعظم شاګرد هم دے.دهغوی قول هم «الايمان يزيد ولاينقص» منقول دے.(١) خود احنافو رحمهم الله مشهور قول هم «لا يزيد ولاينقص» دے.

بهرحال سوال دا دے.چه دے حضراتو «لايزيد ولاينقص» د کوم ځائے نه ونیلی دی؟ اوپه آیاتونو کښے دننه د زیادت ذکرموجود دے.نوددے زیادت نه څه مراد دے.ددے څو جوابونه ورکړے شوی دی.

() یوجواب دا ورکړے شوے دے.چه دزیادت نه د نورایمانی زیادت مراد دے.﴿أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِ﴾(٢)
الله تعالی چه کوم کس ته د اسلام دپاره شرح صدر ورکړی.نوهغه ته دهغه د رب د طرفه دایمان نور ورکړے شی.اوداعمالو د کمی زیاتی په اعتبار سره په دغه ایمانی نور کښے انبساط،زیادتیدل اونقصان پیدا کیږی.کوم کس چه څومره نیك اعمال زیات کوی.هغه هومره دهغه په نورایمانی کښے انبساط پیدا کیږی.اودا نورایمانی خوریږی.اودکوم سړی په اعمالو کښے چه څومره کمے راځی.نوهغه هومره دهغه په نورایمانی کښے کمے واقع کیږی.
دقرآن مجید یوبل آیت هم دے.﴿أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا﴾(٣) آیا هغه کس چه د ضلالت اوګمراهئ په تیرو کښے مړ پروت وی.مونږ ورته دمعرفت الهی اوایمان نور ورکړو.اوژوندے ئے کړو.اوهغه دغه نورایمانی واخلی.اوپه خلقو کښے ګرځی.نوکوم کس چه مونږ ددے دپاره پیدا کړے دے.دا کس د هغه کس پشان کیدے شی.څوك چه په تیرو کښے پروت وی.اودهغے نه راوتونکے نه وی.
دغه شان په قرآن کریم کښے دی.﴿يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ﴾(٤) دلته د کفرد ظلمت نه دایمان نور طرف ته راویستل مراد دی.
دغه شان ﴿يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ﴾(٥) دلته کښے د ﴿نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ﴾ نه نورایمانی مراد دے.

---

(١) فضل الباری(٢٥٩/١)_
(٢) سورة الزمر:٢٢)_
(٣)سورة الأنعام:١٢٣)_
(٤) سورة البقرة:٢٥٧)_
(٥) سورة التحريم:١٣)_

دغه شان په قرآن مجید کښې ﴿يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم﴾ (١) کښې دنور ايماني ذکر دے.

په يوځائے کښې فرماني. ﴿يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُوا انظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ﴾ (٢) منافقين او منافقات به مسلمانانو ته اووائي. موږ ته لږ شان انتظار اوکړئ چه ستاسونه لږ غوندے نور مونږ هم واخلو. نود ا يمان په دے نور کښې زيادت اوکمے راځي. ايمان کوم چه دتصديق قلبي نوم دے په هغے کښې کمے زياتے نه راځي.

() دويم جواب دامام اعظم رحمه الله نه منقول دے. (٣) په دوی باندے په استدلال کښې دهغه آياتونو په رنړا کښې اعتراض اوشو په کومو کښې چه دزيادت ذکر دے. نودوی اوفرمائيل.

«آمنوا بالجملة ثم آمنوا بالتفصيل» يعنی اول ايمان مجمل وو چه رسول الله ﷺ څه راوړی دی. هغه اومنلی شی. اوهغے ته غاړه کيخودے شی. اوددے نه پس نبی ﷺ تفصيلات بيان کړل چه دا کول دی. دا منل دی. دا کار کول دی. نودا تفصيلات روستو راغلی وو. نو کمے اوزيادت ددے تفصيلات په اعتبار سره دے. څه کسان دايمان راوړلو نه پس په هغه وخت کښې وفات شوی وو. چه مونځونه هم فرض نه وو. څه کسان تير شوی وو. چه د مونځ دفرضيت په وخت کښې ژوندی وو. خوچه کله روژے فرض کيدے. نووفات شوی وو. څه کسان داسے وو. چه هغوی مونځونه کړی وو. اوروژے ئے هم نيولے وے. خود هغوی په ژوند کښې حج نه وو فرض شوے. څوك چه وړاندے وفات شوی وو. ددے تفصيل په اعتبار سره دهغوی ايمان کم وو. اوڅوك چه روستو وفات شوی وو. دهغوی ايمان ددے تفصيل په اعتبار سره زيات وو. نوددے تفصيل په اعتبار سره کمے زياتے راتلے شی. خواجمالی ايمان چه څه نبی ﷺ وائی. مونږ په هغے باندے يقين کوو. دا زيادت اونقصان نه قبلوی.

خوپه دے جواب باندے اشکال کيږی. چه په حديث شفاعت کښې (٤) چه دايمان درجات مختلفه بيان شوی دی. هغه ددے جواب سره موافقت نه خوری. ځکه چه ددے جواب حاصل خو دا دے. چه ايمان يودے. د اجمال اوتفصيل فرق دے. نو زيادت په اعتبار د تفصيل سره شو. اودا خبره ښکاره ده. چه کله حقيقت يو وی. نو د هغے به په کامله طريقه سره مطالبه کيدے شی. ځکه که په حقيقت کښې کمے راشی. نوهغه څيز منتفی کيږی. ددے تقاضا دا ده. چه د ايمان کوم درجات په حديث د شفاعت کښې بيان شوی دی. اوپه څه چه نجات مرتب کړے شوے دے. پکار ده چه نجات ورته ملاؤ نشی. ځکه چه نجات خو په پوره ايمان باندے حاصليږی. بعضے ايمان چه د هغے نه په ..دينار.. نصف دينار او ..ذره.. سره تعبير شوے دے. نشی مرتب کيدے.

---

(١) سورة الحديد:١٢)

(٢) سورة الحديد:١٣)

(٣) درس بخاري ازحضرت شيخ الاسلام شبيراحمد عثماني مرتبه مولانا عبدالوحيد صديقي فتح پوري (١٢٤/١)

(٤) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى: ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ _

ددے جواب دا ورکولے شی چه د شفاعت په حدیث کښے چه دایمان کوم درجات بیان شوی دی.دهغے نه مراد اعمال دی.اوهغے ته مجازاً ایمان ونیلے شوے دے.ځکه چه دا د ایمان د مقتضیاتو ځنی دی.

() دریمه خبره دا کړے شوے ده.چه الله تعالی اهل ایمان ته سکینه اوطمانیت ورکوی. ((کما فی قوله تعالی﴿فَاَنْزَلَ اللهُ سَكِيْنَتَهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ﴾)[1] دا سکینه د تصدیق نه سوا یوبل ځیز دے.کوم چه اهل ایمان ته ملاویږی.بلکه داسے اووائے چه دا عارفین او کامل الایمان حضراتو ته ملاویږی.نوزیادت اوکمے ددے سکینه په اعتبارسره وی.دنفس ایمان په اعتبارسره نه کیږی.

دشیخ الاسلام شبیراحمد عثمانی رحمه الله تحقیق شیخ الاسلام علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی.چه داهل حق په مینځ کښے په اصل کښے څه اختلاف نشته.په نقل کښے دقصور د وجے اختلاف ګڼړلے شوے دے .متکلمین اوامام اعظم رحمه الله یوفریق ګرځولے شوے دے او فقهاء ثلاثه.محدثین. اواشاعره دویم فریق ګرځولے شوے دے.دوی فرمائی.بعضے وخت په نقل کښے ډیره غلطی کیږی.ددے مثال هغوی ورکړے دے.چه په درمختار کښے د فتاوی بزازیه په حواله سره نقل شوی دی.((یندب القیام عند سماع الأذان))[2]ددے مطلب دا اخستے شوے دے.که سړے ملاست وی.یا ناست وی.نوچه اذان واوری.اودریږی به.په دے خبره نه پوهیږم، .چه د اذان په وخت کښے ملاست کس یا ناست کښے به اودریږی.علامه شامی رحمه الله فرمائی.دا په ((النهرالفائق)) کښے هم داسے منقول دی. خو په فتاوی بزازیه کښے ما لټون کړے دے.نوپه هغے کښے ماته دا عبارت داسے خو ملاؤ نشو.البته د ((سمع وهویمشی)) الفاظ راته ملاؤ شول.([3]) لکه چه مطلب داشو .که یوکس لار کښے روان وی.اوپه روانه کښے د اذان آواز واوری.نوهغه دے کینی .چه اذان په ادب اواحترام سره واوری.اوروانه روانه کښے د په بے پرواهئ اواستغناء سره دے اوریدل نه کوی.مولانا رحمه الله فرمائی.دا خبره معقوله ده.چه د تګ په حالت کښے ادباً او احتراماً اودریدل او اوریدل پکار دی.خواولنئ خبره چه ملاست اوناست کس دے د اذان اوریدو دپاره اودریږی.معقول نه ده.په ملاسته هم اذان په توجه سره اوریدے شی.خوپه نقل کښے غلطی واقع شوے ده.اومطلقاً ئے ((یندب القیام عند سماع الأذان)) نقل کړی دی.نوخبره د کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسیدله.

دلته کښے هم د سلفو په قول اود امام اعظم رحمه الله په قول کښے کمے زیاتے شوے دے. اوددے کمی زیاتی د وجے اختلاف پیدا شوے دے.اوبیا بحثونه شروع شوی دی.

دوی فرمائی.چه د سلفو رحمهم الله قول دے.((الإیمان معرفة بالقلب، وإقرار باللسان، وعمل بالأرکان، یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة))

---

(۱) سورة الفتح:۲۶)_

(۲) الدرالمختار(۲۹۳/۱) باب الأذان)_

(۳)ردالمحتار پورتنئ حواله)_

() په دے کښے یو اختصار دا شوے دے چه د درے واړو څیزونو ذکرکولو په ځائے ئے «الإيمان قول وعمل» ذکر کړے دے اګرچه دتاویل نه پس ددے مراد هم هغه راوځی خوهغه اصل عبارت باقی پاتے نشو.

() دویم اختصار دا شوے دے چه فقط «يزيد وينقص» ئے ونیلی دی دے سره چه د «بالطاعة» او «بالمعصية» الفاظ دی هغه ئے حذف کړی دی ددے اختصار د وجے ددے جملے اصلی مطلب هم مخفی شو د دے قول نه چه د سلفو ﷺ کوم غرض وو هغه د «بالطاعة» او «بالمعصية» د الفاظونه بغیر نه ښکاره کیږی.

() دریم اختصار دا شوے دے چه په اصل کښے دا د اول نه واخله ترآخره پورے یوعبارت وو اوچه مجموعه ملاؤ شی نو یوه عقیده وه خلقو دا جدا جدا کړه اودوه مسئلے ئے ترے جوړے کړے یوه «الإيمان قول وعمل» یعنی اعمال دایمان جزء دے دویمه «الإيمان يزيد وينقص» یعنی په ایمان کښے زیادت اونقصان راځی. نو اوس چه په کوم ځائے کښے هم دسلفو ﷺ عقیده نقل کولے شی نوهغه جدا جدا د دوو مسئلو په صورت کښے ښکاره کولے شی.
دغه شان دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله قول کوم چه امام طحاوی رحمه الله نقل کړے دے هغه دا دے چه «الإيمان الإقرار باللسان، وتصديق بالجنان، وما صح عن رسول الله ﷺ من الشرع والبيان كله حق والإيمان واحد وأهله في أصله سواء والتفاضل بينهم بالخشية والتقى ومخالفة الهوى وملازمة الأولى» دا دے دامام اعظم رحمه الله تول عبارت د امام صاحب ددے عبارت نه «وما صح عن رسول الله ﷺ من الشرع والبيان» كله حق حذف کړے شوے دے او «الإيمان الإقرار باللسان وتصديق بالجنان» خانله ذکر کړے شوے دے اوونیلی شوی دی چه په دے کښے دعمل ذکر نشته اودا مسئله جوړه کړے شوه ده چه امام اعظم رحمه الله عمل دایمان دپاره جزء نه ګڼړی او «الإيمان واحد» هم حذف کړے شوے دے ددے نه پس وو «وأهله في أصله سواء» ددے نه دا مطلب اخستے شوے دے چه «الإيمان لايزيد ولاينقص» په ایمان کښے کمے زیاتے نه راځی تول اهل ایمان په اصل ایمان کښے برابر دی د دے نه دویمه مسئله جوړه کړے شوے ده او بیا د «والتفاضل بينهم بالخشية والتقى ومخالفة الهوى وملازمة الأولى» تول عبارت غائب کړے شو لکه چه دامام اعظم رحمه الله په قول کښے هم کمے زیاتے شوے دے اوپه عبارتونه جدا کړے شوی دی. دمستقلو مسائلو عنوان ورته ورکړے شوے دے حالانکه کوم مقصد چه دسلفو ﷺ دے هم هغه مقصد دامام اعظم رحمه الله دے د دواړو په مقصد کښے څه فرق نه دے صرف دومره خبره ده چه امام اعظم په اوږد عبارت کښے دسلفو ﷺ د قول تجزیه اوتحلیل کړے دے اود سلفومنشا ئے ښکاره بیان کړے ده لکه چه په «صفة الصلاة» کښے حدیث راځی اوفقهاء د هغے فقهی تحلیل کوی چه په دے حدیث کښے فلانے څیزفرض دے اوفلانے څیزد واجب یا سنت یا مستحب په درجه کښے

دے.دنبی ﷺ په حدیث کښے تول خیزونه یوځائے ذکر دی.خوفقهاء ددے مراتب اودرجات بیانوی.هم دغه شان امام اعظم رحمہ اللہ د سلفو رحمہم اللہ دقول تحلیل اوحد بندی کړے ده.

دسلفو رحمہم اللہ عبارت وو.((الایمان معرفة بالقلب،واقرار باللسان،وعمل بالأرکان،یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة)) ددے حضراتوپه زمانه کښے چونکه د مرجئو زور وو.نوهغوی په خپله اولنئ جمله کښے د مرجئو تردید اوکړلو.چه ایمان د تصدیق بالقلب.اقرارباللسان او عمل بالارکان نوم دے.عمل په ایمان کښے داخل دے.د مرجئودا قول چه ..د عمل د ایمان سره څه تعلق نشته.اوبغیرد عمل نه به هم سړے براه راست جنت ته داخلیږی.اوپه ارتکاب د معصیت سره هغه مستحق د سزا نه ګرځی.. دا غلطه ده.عمل په ایمان کښے داخل دے.

ددے نه پس د ((یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة)) نه د دوی مطلب دا دے.چه اصل ایمان خو تصدیق بالقلب اواقرارباللسان دے.که تصدیق اواقرار نه وی.نو د ایمان د دائرے نه انسان خارجیږی.اوکه تصدیق اواقرارباللسان موجود وی.نودے مؤمن شمارلے شی.دا حیثیت د عمل نه دے.چه ددے په نفی سره د ایمان نفی لازمیږی .عمل خو د ایمان په مراتبوکښے د زیادت اوکمی دپاره دے.دا د ایمان جزء نه دے .هغوی ((یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة)) اووئیل.اودا ئے اوخودل.چه په نیکو سره د ایمان درجه پورته کیږی.اوپه ګناهونو سره ددے درجه کمیږی.عمل د ایمان په مراتبو کښے دکمی بیشی سبب دے.دا ددے مرتبے خیز نه دے.چه عمل نه وی.نوسړے د ایمان نه خارجیږی.لکه چه د معتزلؤ اوخوارجو مذهب دے.لکه چه ((یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة)) سره هغوی د معتزلؤ اوخوارجو رد کړے دے.

امام اعظم ابوحنیفه رحمہ اللہ بعینیه هم دا خبره کوی.دوی هم د معتزلؤ.خوارجواومرجئ رد کوی.بس لږغوندے فرق دے.چه سلفو اول د مرجئو رد کړے دے.ځکه چه د هغوی په زمانه کښے د دوی زور وو.اوپه ((یزید بالطاعة وینقص بالمعصیة))سره هغوی د معتزلؤ اوخوارجو رد کړے وو.اوامام صاحب اول د معتزلؤ اوخوارجو رد کړے دے.ځکه چه د هغوی په زمانه کښے د هغوی زور وو.اود مرجئو رد ئے روستو کړے دے.

امام صاحب ((الایمان اقرار باللسان وتصدیق بالقلب)) اوفرمائیل.اود عمل ذکر ئے اونکړلو. دمعتزلؤ او خوارجو رد ئے اوکړلو.خوعمل ئے هم بیخی بےکاره نه دے ګرځولے.((وما صح عن رسول الله ﷺ من الشرع والبیان کله حق)) ئے اوفرمائیل. او د عمل ذکر ئے اوکړلو.په معتزلؤ او خوارجو باندے د رد کولو دپاره ئے دا خبره خانله ذکر کړله.چه د ایمان بنیاد اواساس اقرار باللسان اوتصدیق بالقلب دے.اوددے خودلو دپاره ..چه د عمل دا درجه نه ده..ئے عنوان بدل کړلو.او((وما صح عن رسول الله ﷺ من الشرع والبیان کله حق)) اوفرمائیل.په دے کښے د مرجئو رد هم اوشو.چه مونږ د عمل داهمیت منکر نه یو.ځکه چه د رسول الله ﷺ نه چه په صحیح سندونو سره کوم شریعت ثابت دے.هغه اعمال اواحکام دی.هغه تول حق دی.اودا سلف رحمہم اللہ هم منی.

ددے نه پس جمله وه.((والإيمان واحد)) ددے مطلب دا دے چه ايمان د تصديق بالقلب، اقراربالسان،اوعمل بالاركان.. ددے د مجموعه نوم دے.لكه چه څنګه يومركب د خپلو اجزاؤ نه ملاؤ شي اويوځيز ترے جوړ شي.دغه شان ايمان هم دے.لكه جرړه تنه اوشاخونه پاڼړے اوګلونه چه دا ټول ملاؤ شي.نو وونه ترے جوړه شي.هم دغه شان ايمان د تصديق بالقلب،اقراربالسان اوعمل بالاركان مجموعه ده.دا خبره تاسوته خودلے شوے ده.چه دامام اعظم رحمه الله په نيزدا ټول دايمان اجزاء دى.خوپه مرتبه كښے برابر نه دى.لكه څنګه چه په وونه كښے د څانګواوپاڼړو هغه مقام نه وى.كوم چه د جرړے اوتنے وى.دغه شان دلته دعمل هغه مقام نه دے.كوم چه د اقرار اوتصديق دے.په ((الإيمان واحد)) كښے امام اعظم رحمه الله دا اوخودل.چه ددے مجموعے نه جوړ شوے ايمان يو ځيز دے.اوددے مجموعے په اجزاؤ كښے د تصديق اواقرار مرتبه د اساس اوبنياد ده.اودعمل حيثيت داساس اوبنياد نه دے.دا خبره امام صاحب رحمه الله بيا ښكاره كړے ده.اوفرمائيلى ئے دى.چه ((وأهله في أصله سواء)) په تصديق كښے ټول اهل ايمان برابر دى.

دلته به اشكال كيږى.چه په تصديق كښے ټول څنګه برابريدے شي.د انبياء صديقين اوصحابة رضي الله عنهم په تصديق كښے خو تفاوت دے.اودعوامو تصديق د هغوى نه هم كم دے.

ددے په جواب كښے وئيلى شي.چه كله په يوځيزكښے متفاوت درجات وى.نو په هغے كښے يو داساس حيثيت لرى.مثال په طور د نظر(قوت باصره) مختلف درجات دى.د چا نظرتيز وى.د چا متوسط وى.اودچا ادنى وى.خوته به دا خامخا منې.چه د نظر يو آخرى حد هغه هم دے.كه هغه نه وى.نوسړے ړوند كيږى.

دغه شان په عقلونوكښے تفاوت اوپه عاقلانو كښے فرق منلے شوے دے.يوسړے ډيرسريع الفهم او دقيق الفهم وى.اوبل په باربار پوهوئ.نو په عقلونو كښے هم تفاوت دے.خو په دے كښے شك نشته.چه ددے تفاوت باوجود دعقل يوه بنيادى درجه ده.كه هغه نه وى.نوسړى ته بيا پاګل وئيلى شي.

هم دغه شان دايمان په درجاتو كښے تفاوت اوګنړئ.خودايمان يوه درجه هغه هم ده.چه دهغے نه اخوا بيا ايمان باقى نه پاتے كيږى.بلكه كه دهغے نه ښكته څے.نوكفر دے.

بهرحال دعرض كولو مقصد دا وو.چه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ((وأهله في أصله))افرمائيلى دى.((وأهله فيه سواء))ئے نه دى فرمائيلے.ددے نه هم هغه درجه مراد ده چه دهغے نه پس ايمان نه وى.په هغے كښے ټول برابر دى.

ددے نه پس امام اعظم رحمه الله فرمائى.((والتفاضل بينهم بالخشية والتقى ومخالفة الهوى وملازمة الأولى)) دا په مرجئو باندے رد دے.مرجئه وائى.چه دعمل څه ضرورت نشته.امام اعظم رحمه الله فرمائى.چه د علم ضرورت شته.په دے سره د درجاتو تفاوت راځى.چه يو كس نيك اعمال زيات اوكړى.دهغه درجه به اوچته وى.هغوى خودا هم فرمائى.چه د اولى اوافضل چه كوم سړے اهتمام كوى.دهغه درجه به هم اوچته وى.يعنى د فرض،واجب، سنت

اومندوب خبره خوپه خپل ځائې ده. د «ملازمة الأولى» اهتمام کونکي به هم د فضیلت خاوند وي.په دې عبارت کښې امام اعظم رحمه الله په مرجئو باندې رد کړې دې.اودې سره سره هغوی د عمل حیثیت هم خودلې دې.چه دعمل په وجه په مراتبو کښې تفاوت راځي.ددې په وجه سړې د ایمان نه نشي خارج کیدې.دامام اعظم رحمه الله په عبارت کښې هم هغه خبره شوې ده.کومه چه دسلفو رحمه الله په عبارت کښې شوې وه.یعني د مرجئو اوخوارجو رد هلته کښې هم وو.اودلته هم.البته امام اعظم رحمه الله دعمل حیثیت متعین کړې دې.کوم چه د سلفو رحمهم الله په عبارت کښې ښکاره نه وو.

اوس که تاسو دا ونیل اوغواړئ.چه په امام اعظم اواشاعرو او ائمه ثلاثو کښې څه اختلاف نشته.هغوی هم ایمان مرکب مني.اودوی هم.نوبې تکلفه دا خبره کوو.په دې کښې څه حرج نشته.دا د دواړو فریقو په مینځ کښې فیصله شوې خبره ده.چه داعمالو حیثیت د جزء تزییني دې.د جزء اصلي اوترکیبي حیثیت ئې نه دې.تاسوچه په خپله دامام صاحب مشهور مذهب بیانوئ.نودا به اومنئ.چه هغوی په ایمان کامل کښې اعمال جزء مني.نودلته به هم په ایمان کامل کښې جزء منلې شي.اشاعره.ائمه ثلاثه. اومحدثین رحمهم الله هم اعمال دکامل ایمان دپاره جزء ګرځوي.نوپه اهل حق کښې څه اختلاف پاتې نشو.(١) والله اعلم

په ایمان کښې استثناء دلته یوه مسئله د استثناء في الایمان ده.یعني یوسړې به دخپل ځان په باره کښې «أنا مؤمن» مطلقاً وائي.اوکه د «إن شاء الله» قید به ورسره لګوي.اودا به وائي.چه «أنا مؤمن إن شاء الله»

یوه ډله وائي.چه استثناء کول پکار دي.دا د ائمه ثلاثه.حضرت عبدالله بن مسعود . حضرت علقمه.حضرت ابراهیم نخعي.سفیان ثوري.سفیان بن عیینه.اویحیی بن سعید قطان رحمهم الله مذهب دې.یوه بله ډله وائي.چه استثناء کول جائز نه دي.د احنافواودوی اکثرومتکلمینو رحمهم الله هم دا قول دې.هم دا مذهب مختار اواهل تحقیق دې.

امام اوزاعي رحمه الله فرمائي.چه استثناء اوعدم استثناء دواړه صورتونه جائز دي.

استثناء خودد دې وجې جائز ده.چه د راروان وخت څه پته نه لګي.چه په ایمان به ثابت قدم پاتې شي که نه؟ اوعدم استثناء ددې وجې چه في الحال ایمان موجود دې.اوپه ده باندې حالاً د ایمان احکام جاري دي.

کوم حضرات چه دا وائي.چه «أنا مؤمن إن شاء الله» ونیل پکار دي.دا حضرات فرمائي.چه اصلي ایمان خوهغه دې.کوم چه د مرګ په وخت کښې وي.اودهغې څه ښه نشته.ځکه چه دانجام چاته علم نه وي.نوځکه سړي ته بطور تبرك نه د شك په طور «إن شاء الله» ونیل پکار دي.قال الله تعالی: ﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا﴾(٢)

---

(١) فضل الباري(١/٢٦٤، ٢٦٩)_

(٢) سورة الكهف:٢٣)_

اوكوم حضرات چه دا وائي چه «إن شاء الله» ونيل نه دى پكار .هغوى فرمائي چه دا كلام دتعليق دپاره استعماليږى اوس كه يو كس دا اووائي نوبل ته دهغه په ايمان كښے شك پيدا كيدے شى.هم داسے كيدے شى.چه په ونيلو ونيلو نفس ددے كلمے د وجے د شك اوشبه عادى جوړ شى

دعلامه ابن تيميه رحمه الله رائے ده.چه «أنا مؤمن إن شاء الله» ونيل پكار دى.خوددے تعليق وجه دا ده.چه ايمان د سلفو رحمهم الله په نيز يوډير وسيع خيز دے.چه په هغے كښے د زړه عقيده.د ژبے اقرار. اواعمال اركان ټول داخل دى.اوس كه يو كس «أنا مؤمن» مطلقاً وائي.نوددے دا معنى ده. چه هغه وائي.زه كامل مومن يم.اومؤمن كامل جنتى وى.په نوروالفاظو كښے داسے اووايه.چه هغه خپل خان ته جنتى وائي.اوخوك دخپل خان په باره كښے دا ذمه وارى نشى وركولے.چه ده د ايمان ټول اعمال ادا كړى دى.په كومو باندے چه جنت مرتب كيږى.هم دا وجه ده.چه يو كس حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راغلو.اووئے ونيل.«إني مؤمن» نوحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ورته دانكارپه طورسره اوفرمائيل.بياخوداسے وايه.چه «إني في الجنة» بيا ئے ورته ددے نه هدايت اوكړلو.چه داسے ونيل پكاردى.«لكنا آمنا بالله وملائكته وكتبه ورسله»(۱)

داخبره دے ياده وى.چه په سلفو كښے ددے مسئله په وجه ډيره فتنه پاتے شوے وه.يوے ډلے دحد نه زياته غلو كړے ده.او«إن شاء الله» ويونكو ته ئے . .مستثنيه شكيه . . پته نه لگى.چه څه څه ونيلى دى.په دے مقام كښے علامه زبيدى رحمه الله صاحب د «إتحاف السادة المتقين» په هغے غلاة احنافو باندے انكار كړے دے .اوفرمائيلے ئے دى.چه حقيقت دا دے.چه په دے مسئله كښے ژبه بندول پكار دى .اوچه ضرورت پيدا شى.نوپه اعتدال سره خبره كول پكار دى.دامام اعظم رحمه الله نه اگرچه د «أنا مؤمن إن شاء الله» باندے انكار منقول دے.خودهغوى نه داسے تشديدى كلمات كوم چه د متاخرينونه صادر شوى دى.منقول نه دى.هسے هم د سوچ خبره ده.كه د استثناء كونكو تكفير اوتضليل اوكړے شى.نوحضرت عبدالله بن مسعود. علقمه.ابراهيم نخعى. رحمهم الله په باره كښے به څه ونيلى شى.كوم چه د احنافو رحمهم الله د مذهب ستنے دى.اوپه چا باندے چه د احنافو رحمهم الله د مستدلاتو انتها كيږى.(۲)

په ايمان اواسلام كښې فرق په نصوصو كښے ددے استعمال على سبيل الترادف .على سبيل التباين اوعلى سبيل التداخل درے قسمه راغلى دے.

اول قسم على سبيل الترادف الله تعالى فرمائي.﴿فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۞ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ۞﴾(۳)

---

(۱) رواه الطبراني في الكبير ورجاله ثقات ..كذا في مجمع الزوائد (۱/۵۵) كتاب الإيمان باب في الإسلام والإيمان)
(۲) دمكمل بحث دپاره اوگورئ فتح الملهم (۱/۴۵۷. ۴۵۹) حكم الإستثناء في قول الرجل أنا مؤمن إن شاء الله)
(۳) سورة الذاريات:۳۵.۳۶)_

الله تعالى په دويم ځائے کښے فرمائى ﴿وَقَالَ مُوسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ﴾[1]

اونبى ﷺ فرمائيلى دى.«بنى الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله...الخ» [2] بيا تقريباً هم دا ځيزونه د وفد عبدالقيس په حديث کښے [3] دايمان په تفسير کښے ذکر شوى دى.

دويم قسم على سبيل التباين په قرآن کريم کښے دى. ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ۚ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا﴾[4]

په حديث جبريل ﷺ کښے دايمان تفسير په عقائد معينه معلومه سره شوے دے.اود اسلام تفسير په اعمال معينه سره.[5] دغه شان دحضرت انس ﷺ په حديث کښے دى.«الإسلام علانية والإيمان فى القلب»[6]

دريم قسم على سبيل التداخل. د نبى ﷺ نه چه کله تپوس اوشو.چه «أى العمل أفضل» نو نبى ﷺ اوفرمائيل. «إيمان بالله ورسوله» [7]

دحضرت عمروبن عبسه ﷺ په روايت کښے دى.«فأى الإسلام أفضل؟قال الإيمان»[8]
په اصل کښے خبره دا ده.چه د ايمان اواسلام جدا جداحقيقت شرعيه دے.لکه ځنګه چه د دے جدا جدا حقيقت لغويه دے.ايمان خو نوم دے د مخصوص اعتقاد .اواسلام نوم دے داحکام شرعيه د ادا کولو.خود هر يو دبل سره دتکميل تعلق دے.لکه ځنګه چه يومعتقد کامل نشى کيدے.ترڅوچه اعمال اونکړى.دغه شان مسلمان مطيع کامل نشى کيدے.ترڅوچه ئے د زړه نه اعتقاد نه وى.اوس که دا دواړه کلمات په يوځائے راغلے وى.اوپه مقام د سوال کښے وى.نودد ے حقيقت به متباين وى.په حديث جبريل کښے هم دا صورت دے.اوکه يوځائے نه وى وارد شوے.يا په مقام د سوال کښے نه وى.نوبيا په دے صورت کښے کيدے شى.چه په يوبل

---

(۱) سورة يونس: ۸٤_

(۲) صحيح بخارى كتاب الإيمان باب أعاءكم إيمانكم رقم ۸ وكتاب التفسير،باب (؟) رمق (٤٥١٤) وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان أركان الإسلام ودعائمه العظام رقم (۱۲۰، ۱۲۳)_

(۳)صحيح بخارى كتاب الإيمان باب أداء الخمس من الإيمان رقم(۵۳) وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى وشرائع الدين..رقم (۱۲٤)_

(۴) سورة الحجرات: ١٤)_

(۵) صحيح مسلم فاتحة كتاب الإيمان رقم(۱۰۲)_

(۶) مسند أحمد (۱۳۵/۳) مسند سيدنا أنس بن مالك ﷺ)_

(۷) صحيح بخارى (۸/۱) كتاب الإيمان باب من قال إن الإيمان هوالعمل رقم.۲۶) وكتاب الحج باب فضل حج المبرور.رقم (۱۵۱۹)_

(۸) رواه الطبرانى وأحمد أنظر مجمع الزوائد(۵۹/۱) كتاب الإيمان باب أى العمل أفضل وأى الدين أحب إلى الله)

کښے داخل شی.(۱)
حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله فرمائی چه کله ایمان او اسلام دواړه جدا جدا ذکر کړے شی نو په دے دواړو کښے څه فرق نه وی او چه کله دواړه یو ځائے ذکر کړے شی نو بیا به فرق وی هغوی فرمائی.((فالایمان والإسلام کإسم الفقیر والمسکین إذا اجتمعا افترقا، وإذا افترقا اجتمعا)) یعنی دا دواړه الفاظ د مسکین او فقیر پشان دی
لکه څنګه چه دا دواړه لفظونه یو ځائے ونیلی شی نو دد دے حقائق متباین وی او کله چه جدا جدا ذکر وی نو یو په بل کښے داخل وی.(۲)
د بعضے عالمانو رحمهم الله رائے دا ده چه اسلام عام دے او ایمان خاص دے نو هر ایمان اسلام دے او هر اسلام ایمان نه دے (۳)

الحديث السابع

۱-باب الإيمان وقول النبي ﷺ بني الاسلام على خمس

وَهُوَ قَوْلٌ وَفِعْلٌ وَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ﴾
﴿وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾
﴿وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى﴾
﴿وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ﴾
وَقَوْلُهُ ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾
وَقَوْلُهُ ﴿أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾
وَقَوْلُهُ جَلَّ ذِكْرُهُ ﴿فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا﴾
وَقَوْلُهُ تَعَالَى ﴿وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا﴾
وَالْحُبُّ فِي اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِي اللَّهِ مِنَ الْإِيمَانِ
وَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ إِنَّ لِلْإِيمَانِ فَرَائِضَ وَشَرَائِعَ وَحُدُودًا وَسُنَنًا فَمَنِ اسْتَكْمَلَهَا اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ وَمَنْ لَمْ يَسْتَكْمِلْهَا لَمْ يَسْتَكْمِلِ الْإِيمَانَ فَإِنْ

---

(۱) فتح الباری(۱/۱۱۵) کتاب الإیمان باب سؤال جبریل علیه السلام النبی ﷺ عن الإیمان والإسلام والإحسان وعلم الساعة وبیان النبی ﷺ له)_
(۲) فتح الملهم (۱/۴۲۸، ۴۲۹) البحث الأول فی موجب اللغة)_
(۳) فتح الملهم (۱/۴۲۶)_

أَعِشْ فَسَأُبَيِّنُهَا لَكُمْ حَتَّى تَعْمَلُوا بِهَا وَإِنْ أَمُتْ فَمَا أَنَا عَلَى صُحْبَتِكُمْ بِحَرِيصٍ
وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي
وَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ اجْلِسْ بِنَا نُؤْمِنْ سَاعَةً
وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ الْيَقِينُ الْإِيمَانُ كُلُّهُ
وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ حَقِيقَةَ التَّقْوَى حَتَّى يَدَعَ مَا حَاكَ فِي الصَّدْرِ
وَقَالَ مُجَاهِدٌ شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ أَوْصَيْنَاكَ يَا مُحَمَّدُ وَإِيَّاهُ دِينًا وَاحِدًا
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا سَبِيلًا وَسُنَّةً دُعَاؤُكُمْ إِيمَانُكُمْ لِقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ وَمَعْنَى الدُّعَاءِ فِي اللُّغَةِ الْإِيمَانُ

قوله: وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: نبی کریم ﷺ فرمائي. اسلام په پنځه څیزونو باندے مبنی دے. دا پنځه څیزونه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په حدیث کښے وړاندے په تفصیل سره راروان دی. هم دے حدیث طرف ته امام بخاری رحمه الله اشاره کړے ده. (۱) اول شهادتین (۲) دویم مونځ (۳) دریم زکواة (۴) خلورم صوم (۵) او پنځم حج په دے کښے شهادتین قول او باقی فعل او عمل دی. هم ددے وجے مؤلف فرمائی. چه ((وهو قول وفعل)) او چه کله قول او فعل شول. نو په دے کښے زیاتے هم راخی. ځکه چه اقوالو او افعالو کښے ټول خلق برابر نه وی. هم ځکه وړاندے فرمائی ((یزید وینقص)) په دے کښے زیادت هم کیږی. او نقصان هم.

قوله: وَهُوَ قَوْلٌ وَفِعْلٌ: دلته کښے تاسو ګورئ چه امام بخاری رحمه الله ((وهو قول وفعل)) اوفرمائیل. او د ((هو)) ضمیر راجع کیږی اسلام طرف ته. ځکه چه دا اقرب دے په دے صورت کښے دا سوال پیدا کیږی. چه هغه خو ایمان ترکیب ثابتول غواړی. او دلته خو د اسلام ترکیب ثابتیږی.

ددے جواب دا دے. چه د امام بخاری رحمه الله په نیز ایمان او اسلام دواړه مترادف دی. نو د اسلام د ترکیب نه به د ایمان ترکیب ثابت شی. (۱)

یو احتمال د ((هو)) په ضمیر کښے دا هم دے چه ددے مرجع په ..کتاب الایمان.. کښے ایمان وی. په دے صورت کښے به براه راست د ایمان ترکیب ثابت شی.

بیا په امام بخاری رحمه الله باندے دا اشکال کیږی چه هغوی ایمان قول او عمل ګرځولے دے یعنی د اقرار او عمل ذکر ئے کړے دے. خود تصدیق ذکر ئے نه دے کړے. حالانکه اهم جزء هم هغه دے.

(۱) شرح کرمانی (۱/۷۰)۔

ددے جواب ورکړے شوے دے چه قول عام دے که په لسان سره وی.اوکه په قلب سره.قول باللسان خواقرار دے اوقول بالقلب تصدیق دے بعضے حضرات وائی .چه فعل عام اوګرځولے شی یعنی که فعل د قلب وی اوکه فعل دجوارح وی.فعل قلب تصدیق دے اوفعل جوارح عمل بالارکان دے.(۱)

یوجواب دا هم ورکړے شوے دے چه تصدیق بالقلب خو دټولو په نیزمسلم دے .په دے کښے څه جګړه نشته.نوځکه ئے ددے ذکر پریخودلو.اوقول باللسان او فعل بالاعضاء والجوارح ئے ذکر کړلو (۲)

دلته دا خبره په ذهن کښے یاده ساتی: چه امام بخاری رحمه الله دلته ..قول وفعل.. وئیلی دی.په اکثرونسخو کښے هم دا دی.حالانکه د سلفو رحمهم الله تعبیر..قول وعمل.. دے.(۳) په علم اوفعل کښے فرق دے.فعل اختیاری اوغیراختیاری دواړو ته وئیلی شی.اودعمل اطلاق صرف په فعل اختیاری باندے کیږی.یوفرق دا هم خودلے شوے دے چه په عمل کښے امتداد اواستمرار وی.اوپه فعل کښے امتداد او استمرار نه وی .(۴)

بهرحال چونکه په اکثرواستعمالاتو کښے عمل اوفعل کښے هریو دبل په ځائے استعمالیږی. نوځکه ئے دلته فعل ذکر کړلو.(۵)

بیا د کشمهینی رحمه الله د نسخه مطابق ((قول وعمل)) دے.(۶) کومه چه د سلف رحمهم الله مطابق ده.نوځه اشکال پاتے نه شو.

د ,,قول،، او,,عمل،، معنی: بیا حضرت کشمیری رحمه الله د قول اوعمل خلورمعانی بیان کړی دی.

① یوه خوهغه مشهوره معنی ده.چه ایمان د قول اوعمل نه مرکب دے.

② بله دا چه اصل ایمان خوصرف تصدیق دے.چه دهغے اظهار په قول اوعمل یعنی لسان اوجوارحو سره کیږی.حاصل د دے دا دے چه ایمان تصدیق دے.اودقول اوعمل په ذریعه دے ته تقویت ملاویږی.

③ دایمان اطلاق لکه څنګه چه په تصدیق باندے کیږی.نودغه شان په قول اوعمل باندے هم کیږی.ګورئ که یوکس د چا په خبره باندے صرف په ژبه ..ها.. اوکړی .نوونیلی شی چه زید دعمرو تصدیق اوکړلو.دغه شان په اعمالو باندے هم دتصدیق اطلاق کیږی.چه یوکس خلقوته نصیحت کوی.اوپخپله پرے عمل نه کوی.نوونیلی شی.چه دده اعمال دده قول ته دروغ وائی.اود ده د قول تکذیب کوی.اوکه یوکس نورو ته نصیحت کوی.اوپه خپله پرے هم

---

(۱) پورتنۍ حواله)_

(۲) پورتنۍ حواله)_

(۳) فتح الباری(۱/۴۶)_

(۴) تاج العروس (۸/۳٤) مادة .عمل.. و(۸/۶٤) مادة .فعل.)_

(۵) فضل الباری(۱/۲۷۳)_

(۶) فتح الباری(۱/۴۶)_

عمل كوى.نووانى.وروره! دهغه اعمال ددے خبرے تصديق كوى.اودهغه دصداقت دليل دے.
④ خلورم مطلب ئے ددے دا بيان كرے دے چه په ايمان باندے قول اوعمل متفرع كيږى.
يعنى قول اوعمل د ايمان د مقتضياتو څخه دى.[1]

وَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ يعنى ((يزيد بالطاعة وينقص بالمعصية)) دے سره متعلق تفصيل وړاندے تير شوے
دے.په ((يزيد وينقص)) كښے ضمير ..ايمان.. طرف ته راجع دے.اوكه داسلام طرف ته راجع
كړے شى.نوبيا هم څه قباحت نشته.ځكه چه د امام بخارى رحمه الله په نيز په ايمان اواسلام كښے
ترادف دے.[2]
بعضے خلقو په دے مقام كښے دا ونيلى دى.چه امام بخارى رحمه الله په احنافو رحمهم الله باندے رد
كول غواړى.چه دوى د بساطت ايمان قائلين دى.اوامام بخارى رحمه الله ايمان ذواجزاء ثابتوى.
نوچه ايمان ذواجزاء وى.هله به زيادت او نقصان قبلوى.
خودا وينا غلطه ده.ځكه چه احناف رحمهم الله وائى.چه ايمان دنفس تصديق نوم دے.خوپه دے
كښے دمكملاتو په ذريعه زيادت اونقصان راځى.په خلاف د مرجئو ځكه چه هغوى دهيڅ
قسم زيادت اونقصان قائل نه دى.نوپه هغوى باندے رد دے.[3]
نوځكه دا هم په مرجئو باندے رد دے.ځكه چه هغوى ددے خبرے قائل دى.چه دايمان دپاره
عمل ضرورى نه دے.نوچه ايمان وى.نومعصيت ضرر نه رسوى. او احناف رحمهم الله فرمائى چه
معصيت ضرر رسوى.كه يوكس دګناهونو ارتكاب اوكړى.نوهغه د دغه ګناهونو په وجه د
عذاب مستحق دے.خوچه څومره موده د عذاب دپاره مقرر وى.دهغے نه پس به نجات بيا
مومى.اوكوم حضرات چه دا وائى. چه اعمال په ايمان كښے داخل دى.هغوى هم دا وائى.چه
عاصى دائمى جهنمى نه دے.بلكه د سزا خوړلو نه پس به نجات بيا مومى.ځكه امام ابن
تيميه رحمه الله فرمائى .چه داهل حق په مينځ كښے چه كوم اختلافات دى.هغه دنزاع لفظى
دقبيله څنې دى.په اهل حق كښے حقيقى اختلاف نشته.[4]

قوله: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى ﴿لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ﴾: ددے مقام نه امام
بخارى رحمه الله مسلسل اته آياتونه ذكر كړى دى.چه په هغے كښے د زيادت ايمان بيان دے.
ددے نه نصاً اوصراحةً دايمان زيادت ثابتيږى.اواستدلالاً كمى معلوميږى.ځكه چه زيادت
اونقصان دامور اضافيه څنې دى.كوم څيزچه زيادت قبلوى.هغه نقصان هم قبلوى.
دلته شارحين اواستاذان كرام رحمهم الله داحنافو رحمهم الله د مشهور مذهب مطابق بحث كوى.نودوى

---

(۱) فيض البارى(۱/۵۵، ۵۶)_
(۲) شرح كرمانى(۱/۷۰)_
(۳) تقرير بخارى(۱/۱۱٤)_
(۴) مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيميه) رحمه الله ۷/۲۹۷)_

فرمائی چه دلته به نفس ایمان اوتصدیق کښې زیادت مراد نه دے بلکه د ایمان په آثارو کښې زیادت مراد دے
دا آیت د غزوه حدیبیه سره متعلق دے رسول الله ﷺ د عمرۀ په خیال تشریف اوړے وو. دمکے کافرانود مکے د داخلیدو نه منع کړل.حضرت عثمان رضی الله عنه دخبرو اترو دپاره هغوی ته اولیږل حضرت عثمان رضی الله عنه هغوی ایسارکړلو.اودا افواه خوره شوه چه هغه شهید کړے شو نوصحابه کرام رضی الله عنهم چه صرف دعمرے دپاره راغلی وو.دهغوی په خیال کښې دجنګ څه تصور هم نه وو.نبی ﷺ هغوی په جنګ باندے آماده کړل.اوبیعت علی الجهاد ئے ترے واخستلو. خوروستو معلومه شوه.چه حضرت عثمان رضی الله عنه قتل شوے نه دے.آیت قرآنی ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا﴾(۱) په دے کښې دبیعت ذکر دے.
بهرحال حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم دجهاد دپاره تیار شول.خان قربانی کول یا دبل کس قتلولو ته تیاریدل څه آسانے لوبے نه دی.دا ډیرګران کار دے.په دے کښې خپل خان په هلاکت کښې اچول اوددے دپاره خطره پیدا کول وی.بیا خاص کرچه ذهنی طور تیارهم نه وی.نو اماده کیدل ډیرګران کار دے.ددے نه پس دا نوره هم ګرانه ده.چه یوبهادر کس د جنګ دپاره تیارکړے شی.اوچه کله هغه د جهاد په جذبه باندے مست شی.نوورته اوونیلی شی نه اوس جنګ مه کوه.صورت حال دا وو.چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم ډله د پنځلس سوو وه.هغوی په جنګ بدر کښې ددے باوجود چه درے سوه اودیارلس وو.مشرکان وارخطا کړی وو.اود ګازرو او مولو پشان ئے هغوی قتل کړی وو.اوس خوهغوی پنځلس سوه وو.اوپه هغوی کښې د جهاد جذبے تویونه وهل.داسے جذبۀ چه بعضے صحابو خو بیعت درے ځله اوکړلو.حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه د نبی ﷺ په لاس باندے بیعت علی الجهاد اوبیعت علی الموت په اول کښې هم کړے وو.په درمیان کښې هم کړے وو.اوپه آخر کښې هم.هم دا د جهاد جذبه وه.چه هغوی بیابیا بیعت کولو.
اوس صورت حال دا پیدا شو.چه د بیعت خبر ئے واوریدلو.نود قریشوخلق اوویریدل .اود صلح دپاره د خط اوپیغام سلسله شروع شوه.دنبی ﷺ خیال وو.که صلح کیدے شی.نو خامخا ئے کول پکار دی.اګرچه مونږ دعمرے نه بغیرواپس لاړ شو .او د صلح دپاره نبی ﷺ د هغے شرطونو منلو ته هم تیار وو.دکومو چه په صلح حدیبیه کښې ذکر راغلے دے.که دمکے خوك مسلمان شی.اومدینے ته راشی.نوهغه به دوی ته واپس کولے شی.اوکه د مدینے یوکس مرتد شی.اومکے ته راشی.نوهغه به نشی واپس کولے.اوداچه سخ کال به واپس ځی.او روان کال ته به راځی.صرف درے ورځے به په مکه کښې تیروی.
ددے شرطونو په رد عمل سره په صحابه کرامو رضی الله عنهم ډیراضطراب پیدا شو.اودحضرت عمر رضی الله عنه اضطراب دټولونه زیات اوسخت وو.

---

(۱) سورة الفتح:۱۸)_

آخر داسے اوشوه چه نبی ﷺ د احرام پرانستلواود خاروو قربانی کولوحکم اوکړلو.نوځوك هم پانه سیدل.ځکه چه هغوی د جهاد په جذبه مست وو اونبی ﷺ هغوی ددے باوجود چه تیار نه وو په جهاد باندے آماده کړی وو اوبیعت علی الجهاد اوبیعت علی الموت ئے ترے اخستے وو نودوی اوس جهاد ولے نه کوی.اودا ظاهری د ذلت شکست قبول کړی؟نوځکه هغوی احرام پرانستلو ته اماده نشو.نبی ﷺ حضرت ام سلمه رضی الله عنها ته تشریف یوړلو اوورته ئے اوونیل د نن ورځے پشان منظرماچرته نه دے لیدلے.ماخلقو ته اوونیل چه خاروی قربانی کړئ اواحرامونه پرانیزئ.نوځوك هم پانه سیدل.حضرت ام سلمه رضی الله عنها عرض اوکړلو.حضرت یقیناً ستاسومقصد دا دے چه هدی ذبح کړے شی.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل آو.نوهغے ورته ددے یود طریقه اوخودله چه تاسولاړ شئ.اوخپل خاروی ذبح کول شروع کړئ.نو نبی ﷺ دحضرت ام سلمه رضی الله عنها په مشوره باندے عمل اوکړلو.صحابه کرامو رضی الله عنهم چه دا اولیدل نو ډیر په ذوق اوشوق ئے د هدایا ذبح شروع کړه.

په اصل کښے ددے وجه دا وه.چه هغوی اول دا ګنړل چه نبی ﷺ دا صلح په خپل اجتهاد سره کړے ده.کیدے شی.دالله تعالی حکم ددے د ملتوی کولو دپاره راشی.خوچه کله هغوی اوکتل.چه نبی دخپل خاروی د ذبح کولودپاره تیارے کوی .نوخاروی ذبح کوی.نودهغوی اطمینان اوشو.چه د نبی ﷺ فیصله وحی ناطق ده.او اوس دا منسوخ کیدے نشی ددے اطمینان نه پس هغوی ډیر په جذبه سره ذبح اوکړله.اوحلق ئے اوکړلو د احرام جامے ئے بدلے کړے.او نورے جامے ئے واغوستلے.(١)

دا دایمان اثر وو.د نبی ﷺ د فرمانبردارئ اووفادارئ بے نظیره مظاهره وه.چه دځه قسم تیارئ نه بغیر د نبی ﷺ په حکم د جهاد دپاره تیار شو.اوکله چه د جهاد په جذبه باندے مست شو.نود نبی ﷺ په حکم ئے په ظاهره په ناموافق حالاتو کښے صلح اوکړله.اود جهاد اراده ئے پریخودله.نو د قرآن مجید د دے آیت ﴿هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ﴾(٢) نه مراد دا دی.چه هغوی وړاندے کوم عزم علی القتال کړے وو.هغه هم دهغوی د ایمان اثر وو .نو دلته دایمان د اثرزیادت مراد دے.وړاندے چه هم کله عزم کړے وو.نودا هم د ایمان اثر وو.اواوس چه ترك قتال دپاره تیار شو.حالانکه دواړه کارونه ګران وو. دا هم دهغوی دایمان اثر وو.نودلته د ایمان د اثر زیادت مراد دے اول چه ئے هم کله عزم کړے وو.نودهغوی د ایمان په آثارو کښے اضافه شوے وه.اوروستوچه ئے هم کله صلح قبول کړه.نو ددوی د ایمان په آثارو کښے زیادت اوشو.اوپه آثارو د ایمان کښے د اضافے مطلب په نور ایمانی اوانشراح صدر کښے زیادت مراد دے.نود نفس ایمان زیادت دلته مراد نه دے. بلکه د آثارو دایمان زیادت مراد دے.

---

(١) د صلح حدیبیه د تفصیلاتودپاره اوګورئ:..السیرة الحلبیة.. (٣/٨، ٣١) او زادالمعاد (٣/٢٨٦، ٣١٦)_

(٢) سورة الفتح:٣)_

قوله ﴿وَزِدْنٰهُمْ هُدًى﴾: دا دويم آيت دے.دامام بخاري رحمه الله مراد دا دے.چه دلته د ((زيادة في الهداية)) ذكر دے اوهدايت يوعمل دے.كوم چه امام بخاري رحمه الله په ايمان كښے داخل ګڼړى.

خو زمونږ د طرفه دا وئيلے شي.چه ددے نه مراد دبصيرت زيادت دے.يعني چه كوم ايمان هغوى ته حاصل وو.الله سبحانه وتعالى په هغے كښے هغوى ته نور بصيرت اوفهم وركړلو.

په اصل كښے دا آيت د اصحاب كهف په قصه كښے وارد شوے دے.د اصحاب كهف واقعه د روم د يوبادشاه په زمانه كښے پيښه شوے وه.چه دهغه نوم دقيانوس وو.ډيركلك بت پرست وو.اوپه ظالمانه انداز كښے به ئے خلق د بتانو په سجده باندے مجبوره كول.دهغه په حكومت كښے څوځوانان الله تعالى داسے پيدا كړل.چه هغوى دهغه دربار ته لاړل.اواعلان ئے اوكړلو. ﴿رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا هٰۤؤُلَاۤءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا﴾(١) ربوبيت اواولوهيت دالله تعالى سره خاص دے.نه مونږ څوك رب جوړولے شو.اونه ورته اله وئيلى شو.كه مونږ بل څوك اله او معبود اومنلو.نوزمونږ دا خبره به ناروا اوغلطه وى.كوم كسان چه د بت پرستئ دعوت وركوى.هغوى څه واضح دليل ولے نه پيش كوى.

دا هغوى دخپل ايمانى قوت اظهار اوكړلو.هم د هغوى متعلق ارشاد دے.چه ﴿وَزِدْنٰهُمْ هُدًى﴾ نودلته د ايمان زيادت مراد نه دے.بلكه بصيرت في الايمان او انشراح في الايمان كښے زيادت مراد دے.

قوله: ﴿وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى﴾: په دے كښے دا فرمائيلے شوى دى.چه الله سبحانه وتعالى اهل هدايت په هدايت كښے نور هم زياتوى.

دامام بخاري رحمه الله خيال دا دے.چه دا هدايت اوايمان چونكه يو څيز دے.نوپه هدايت كښے دزيادت مطلب په ايمان كښے زيادت دے.

ددے جواب دا دے.چه اول خو ايمان اوهدايت دواړه جدا جدا څيزونه دى.هدايت ايمان نه دے.بلكه دايمان اثردے.اوبله خبره دا ده.چه دلته زيادت مراد نه دے.بلكه استمرار اودوام على الهداية مراد دے.

اصل صورت حال دا دے.چه دا دسورة مريم آيت دے.ددے لږغوندے وراندے فرمائي.چه ﴿وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا﴾(٢) كله چه

---

(١) سورة الكهف:١٥،١٤)

(٢) سورة مريم:٧٣_

دوى ته زمونږ ښكاره آياتونه لوستے شى.نوكافران مسلمانانوته وائى.كومه يوه ډله د مرتبے اومقام په اعتبارسره اود سوسائټئ په اعتبارسره ښه ده؟يعنى دوى استهزاء اوترقے كوى.او وائى چه زمونږ اودخپل حال موازنه اوكړه.زمونږ د ژوند معيارخومره اوچت دے.اوستاسود ژوند معيارخومره ښكته دے. زمونږ معاشرت اوسوسائټى اعلى اواوچته ده.اوستاسو معاشرت ښكته اوكم تر ده.قرآن كريم ددے جواب وركړلو.اووے فرمائيل.﴿وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا﴾ سوسائټى اود ژوند معيار پريږدئ.ددے څه اعتبار نشته.ستاسو نه وړاندے ډيرداسے خلق تير شوى وو.چه دهغوى سامان هم ډيرشاندار وو.اوظاهرئ هم ښكلے اوحسين وو.خومونږ هغه ټول هلاك اوتباه وبرباد كړل.ددے نه پس بيا وړاندے فرمائى﴿قُلْ مَنْ كَانَ فِى الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا﴾(١) ته دوى ته ووايه.چه كوم كسان ګمراه دى.الله تعالى هغوى ته مهلت وركوى.اودوى په خپله ګمراهئ كښے خخيږى.نود هدايت قبلولو دپاره نه تياريږى.اوهم ددے ګمراهئ په خبره كښے مينه لرى.نوڅنګه الله تعالى ددوى په ګمراهئ كښے نور زيادت اوكړلو اوبيا ددوى په مقابله كښے فرمائى.﴿وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى﴾ اوكوم خلق چه دهدايت حاصلولو كوشش كوى.اوبيا هغوى ته هدايت ملاؤ شى.نو الله تعالى به هغوى ته استمرار على الهداية اودوام على الهداية نعمت نصيب كړى.

لكه چه ﴿وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى﴾كښے دكوم هدايت د زيادت ذكر شوے دے.ددے نه استمرار اودوام على الهداية مراد دے.اومطلب دا دے.چه كوم سړے دهدايت حاصلولو كوشش كوى.اوددے دپاره جدوجهد كوى.نوهغه ته هدايت هم ملاويږى.اواستقامت ورته هم وركولے شى.ددے كس په خلاف چه څوك په ګمراهئ كښے پريوځى.اوبيا هم دا دخپلوخواهشاتودپاره خاص كړى.نوهغه به هم په دغه ګمراهئ كښے مبتلا ساتم.والله اعلم.

قوله: ﴿وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰهُمْ تَقْوٰهُمْ﴾:د دے آيت نه هم امام بخارى رحمه الله د تيرو شوو آياتونو پشان د ايمان په زيادت باندے استدلال كوى.

خومونږ وايو.چه ددے مطلب دا دے.چه كوم خلق دهدايت حاصلولو كوشش كوى.نوالله سبحانه وتعالى دهغوى په بصيرت اوفهم كښے اضافه كوى اوپه روحانى قوتونو په استعداد كښے ترقى وركوى.دلته د ايمان زيادت مراد نه دے.

دا دسورة محمد (ﷺ) آيت دے.ددے نه وړاندے آيت دے ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ حَتّٰى اِذَا خَرَجُوْا

---

(١) سورة مريم:٧٥)_

مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ۟ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ﴾ دلته کښې ﴿زَادَهُمْ هُدًى﴾ د ﴿طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾ په مقابله کښې دے او د ﴿وَاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ﴾ او ﴿وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ﴾ په مقابله کښې دے دکافرانوپه باره کښې فرمائيلې شوې دي.چه څه خلق د قرآن پاك آياتونه اورى اوددے نه پس چه کله خپل مجلس ته لاړ شي نوداهل علم نه د تپوس په طريقه تپوس کوى څه ئے اوونيل اوس اوس.

الله تعالىٰ چه انسان ته کوم قوى ورکړى دى دهغے په باره کښې دا اصول اودستور دے که ته هغه قوتونه استعمالوے نوباقي وى چه لاس اوپښو ته حرکت ورکولے شى.نوددے قوت بحال وى.که دے ته حرکت ورکول پريخودے شى.نوشل به شى.

هم دا حال د روحاني قوتونو دے.که دا د روحانيت حاصلولو دپاره استعمالولے شى. نوددے قوت به بحال وى.خوکه دا د صحيح استعمال په ځائے هروخت په تمسخر استهزاء.داحکام الهي توهين اوتحقير کښې اخته کړے شى.نوددے نتيجه دا شى چه په انسان کښې چه د روحانيت اخستلو کوم صلاحيت چه الله تعالىٰ په دے قوتونو کښې کيخودے دے.هغه زائله کيږى.که ته ئے بيا څومره پوهوے.هغه نه پوهيږى.چه د تمسخر اواستهزاء عادت ئے خپل کړلو.نوهغه داکتساب روحانيت صلاحيت فنا کړلو.قرآن مجيد ددے نه په ﴿خَتَمَ﴾ سره تعبير کوى.اووائى.چه ددوى په زړونو باندے مهر لګولے شوے دے.يعنى لاپرواهئ اوتمسخر عادت ئے خپل کړے دے.اوروحانى قوتونه ئے د هدايت حاصلولو صلاحيت نه محروم کړى دى.

خلاصه دا چه دلته دايمان زيادت مراد نه دے.بلکه دا بيانول مقصود دى.چه کومو خلقوقوائے روحانيه صحيح استعمالوى.نوددے په نتيجه کښې دهغوى په فهم اوبصيرت کښې اضافه کيږى.

قوله: وَقَوْلُهُ ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا﴾: په دے آيت کښې د زيادت ايمان ذکر دے دا د سورة مدثر آيت دے.ددے نه وړاندے ذکردے چه په جهنم باندے نورلس فرښتے مقرر شوې دى.دوى دهغه ځائے دانتظام دپاره مقرر شوى دى.دمکے په مشرکانو کښې بعضے خلقو په دے پوزے توقے کولے.يوکس اوونيل.داوولسو دپاره خو زه يواځے کافي يم.اود باقي دوو بندوبست به نورخلق په آسانتيا سره اوکړى نوځکه د جهنم نه د ويريدو څه ضرورت نشته.

ددے نه پس دى.﴿وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۪ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا﴾(۱) دا فرښتے کومے چه په جهنم باندے مقرر شوى دى. دکافرانو دپاره داسے مستقله فتنه اوازمائش دے چه هغوى دخپل عادت مطابق توقے اوکړلے. اوهغوى په دے فتنه کښې اخته شو اوخپل آخرت ئے خراب کړلو وړاندے فرمائى...ددے دپاره چه اهل کتابو ته يقين اوشى...دا ئے ددے دپاره اوفرمائيل.چه په پخوانى آسمانى کتابونو کښې هم د جهنم د فرښتو شمار نورلس خودلے شوے دے.او رسول الله ﷺ امى

(۱) سورة المدثر:۳۱)_

دے دوی د پخوانی آسمانی کتابونو مطالعه نه ده کړے او په عدد کښے قیاس هم نه چلیږی نو خامخا به دا منل ضروری وی چه دا الله تعالی وحی ده نه راځی لکه څنګه چه وحی زمانی په پخوانو کتابونو کښے خودلی وو چه د جهنم انتظام کونکی نورلس فرښتے دی نو هم دغه شان د محمد ﷺ قرآن هم بیانی نو ثابته شوه چه دا قرآن مجید د الله تعالی کتاب دے دوی ته نازلیږی نو د اهل کتابو د پاره په دے کښے د یقین کولو اسباب موجود دی

وړاندے فرمائی ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾ دلته کښے تاسو دا ونیلے شئ چه د

دلائلو نیکړه کولو ته اشاره ده یعنی مسلمانانوته په دے خبره خوشحالی ملاؤ شوه چه لکه څنګه د جهنم د فرښتو شمار زمونږ په کتاب کښے نورلس بیان شوے دے نو دغه شان په آسمانی کتابونو کښے هم دا شمار بیان شوے دے نو دا دے شمار یو دلیل خو زمونږ قرآن دے او بل دلیل د آسمانی کتابونو بیان دے

دویمه خبره دا ده چه چونکه دا خبره بیخی د غیبو سره تعلق ساتی چه په جهنم کښے انتظام کونکے فرښتے څومره دی نو هرکله چه رسول الله ﷺ د وحی په ذریعه باندے اوخودله چه نورلس دی نو صحابه کرامو رضی الله عنهم په دے باندے کامل یقین اوکړلو په دے غیبی خبر باندے دیقین کولو نه ثابته شوه چه هغوی د مضبوط ایمان خاوندان دی ضعیف الایمان نه دی د دوی د ایمان کیفیت ډیر مضبوط او مستحکم دے نو دلته په ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾ کښے د ایمان قوت او مضبوطیا مراد ده

دریمه خبره دا ده چه تاسو ونیلے شئ چه وړاندے خو اجمالی طور دا خبره د هغوی په مومن به کښے داخله وه چه نبی ﷺ دڅه خبرهم ورکوی هغه صحیح او ټیک وی بیا چه کله نبی ﷺ خبر ورکړلو چه د جهنم انتظام کونکے فرښتے نورلس دی نو هغوی سمدستی یقین اوکړو

«آمنوا بالجملة ثم آمنوا بالتفصیل» اول اجمالی ایمان وو بیا د تفصیل په ذریعه په مومن به کښے اضافه اوکړے شوه نو دلته د ایمان د زیادت په ځائے د مومن به زیادت مراد دے

دجهنم د فرښتو د شمار حکمت دلته کښے سوال کیږی چه په جهنم کښے د کافرانو قابو کولو د پاره خو یوه فرښته کافی وه نو نورلس ولے مقرر شوی دی؟

هسے خو عالمانو ﷺ د دے ډیر حکمتونه لیکلی دی خو په دے سلسله کښے د حضرت شاه عبدالعزیز صاحب رحمه الله کلام ډیر لطیف او عمیق دے هغوی فرمائی په اصل کښے خبره دا ده چه فرښتے د څه کار د پاره مقرر شوی دی هم د هغه کار استعداد او صلاحیت په هغوی کښے وی حضرت جبریل علیه السلام د وحی راوړلو د پاره مقرر دے نو که هغه د آسمان نه زمکے ته په ورځ کښے سل ځله زر کرته د وحی راوړلو د پاره زمکے ته راشی نو د هغه د پاره څه ګرانه نه ده. خو هغه د روح قبض کولو د پاره نه دے مقرر شوے نو څکه هغه د یو ماشوم روح هم نشی قبض کولے دغه شان حضرت عزرائیل علیه السلام د روح قبض کولو د پاره مقرر شوے دے نو په یو وخت کښے د زرګونو اولاکهونو خلقو روحونه قبض کوی خو د باران ورول او د وریخو انتظام د هغه د وس خبره نه ده دغه شان الله تعالی د جهنم د عذاب نورلس قسمونه مقرر کړی او په هغے کښے ئے د هر قسم د پاره یوه فرښته افسره مقرر کړے ده هره فرښته ئے چه د

کوم قسم دپاره مقرر کړے ده.هغه هم په هغې باندے پوهيږي.حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه دعذاب انواع ئے نورلس مقرر کړي دي.اود هرقسم عذاب دپاره يوه خانله فرشته مقرر شوے ده.په دے بناء ئے د نورلس عدد بيان کړلو. (١)
اوس باقي پاتے شوه داخبره چه الله تعالى دعذاب انواع نورلس ولے مقرر کړي دي؟ نو ددے متعلق ونيلے شوي دي.چه دا تکويني امر دے.اوپه امورتکوينيه کښے د حکمت لټول بے سوده اوبے فائدے دے.دا خو عالمانو ﷺ خودلي دي.چه نورلس انواع دي.اونورلس فرشتے دي.ګني ددے شمار په باره کښے هم د څه خبرو کولو ضرورت اوحاجت نشته.په امورتکوينيه کښے دحکمت تعين د بندګانو د وس خبره نه ده.

قوله ﴿أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾:امام بخاري رحمه الله دآياتونو سلسله شروع کړے ده.اودا سلسله تراوسه پورے ختمه شوے نه ده.پنځه آياتونه وړاندے تيرشول. او اوس دشپږم آيت ذکرکيږي.نوپه درميان کښے ((وقوله عزوجل)) زياتي کړل.په ظاهره ددے څه وجه په نظر نه راځي. البته دا ونيلي شي.چه د تفنن دپاره امام بخاري رحمه الله داسے کړي دي.په تسلسل سره آياتونه راروان وو.نواوس هغوی په مينځ کښے د ((وقوله عزوجل)) زياتي کړل.چه د لوستونکو په زړونو کښے تازګي پيدا شي.کله چه نهج بدليږي.او په انداز کښے تبديلي راځي.نوپه دے سره په طبيعت کښے انشراح راځي.د تفنن عبارت هم دا مقصد دے.

ددے نه پس ئے آيت ذکر کړے دے.﴿أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا﴾کله چه به د قرآن پاك څه سورة نازل شو.نومنافقانو به ونيل په دے سره په تاسوکښے د کوم کوم کس ايمان زيات شو؟نوقرآن پاك اوونيل.﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ چه هغه داهل ايمان په ايمان کښے اضافه اوکړله.اوهغه د دوی نه خوشحاله دے.﴿وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ﴾ (٢) دچا په زړونو کښے چه دنفاق مرض وي.نوهغه د دوی په مرض کښے نوره هم اضافه اوکړله. کله چه يو سړے بيمار شي.اودهغه قوت هاضمه خرابه شي.نوبهترينه غذا د هغه په حق کښے د نورے بيمارئ سبب جوړيږي.هغه دنړيا خوړلے شي.اوپولاؤنشي خوړلے.هغه پئ او بسکټ خوړلے شي.قورمه نشي خوړلے.که په هغه باندے قورمه اوپولاؤ اوخوړلے شي.نو دهغه معده به نوره هم خرابه شي.خوچه کوم سړے تندرست اوصحت مند وي.هغه چه کله پولاؤ اوقورمه خوري.نودهغه په قوت کښے اضافه کيږي.اوهغه غذا د بدن جزء جوړيږي.

---

(١) تفسير عثماني(ص.٧٦٤.٧٦٥)_
(٢) سورة التوبة:١٢٥)_

دغه شان چه روحانی قوت او صحت بحال وی.نود قرآنی آیاتونو نه فائده رسی.اود چاپه زړونوکښے چه د نفاق بیماری وی.هغه خلقوته په قرآن مجید باندے نقصان رسی.کوم چه د روح دپاره د غذا حیثیت لری﴿ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ﴾ (۱)دچا په زړونو کښے چه مرض وو.دسورة نازلیدونه پس دهغوی د بیمارئ دوجے دهغوی په روحانی غلاظت کښے نور زیادت اوشو.اوهغوی هم ددے کفراوضلالت په حالت کښے مړۀ شول.دلته ئے د ،،مرض،، او ،،رجس،، لفظ استعمال کړے دے.د دے دواړو په مینځ کښے ډیرلطیف مناسبت دے.څنګه چه جسمانی طوریوسړے مریض وی کله چه هغه ته ښه غذا پیش کړے شی.نودهغه په ګندګئ کښے زیادت کیږی.په دے طریقه ددوی په زړونو کښے چونکه د نفاق مرض موجود دے.نود قرآن ښه غذا کله چه دوی ته پیش کړے شی.نودا د دوی دپاره د صحت بخش اومقوی نه وی.بلکه کوم نجاست چه په دوی کښے موجود وی.په هغے کښے نورزیادت کیږی.

بهرحال ﴿اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا﴾ آیت کښے چه د ایمان د زیادت کوم ذکر شوے دے.علامه ثعلبی جزائری مکی رحمه الله ددے په باره کښے فرمائیلی دی.چه د سورة نازلیدو نه پس درے قسمه زیادت کیږی.

() کله خوداسے کیږی.چه کله سورة نازل شی.نوپه هغے کښے نوے احکام وی نوپه دغه نوے احکامو باندے ایمان راوړلے شی.دے ته تاسو وئیلے شئ:«آمنوا بالجملة ثم آمنوا بالتفصيل»: اول نه اجمالی ایمان وو.چه څه د وحی په ذریعه باندے نازلیږی. مونږ هغه منو اوس په سورة کښے نوے مسائل اواحکام راغلل.نومونږ اومنل.

() دویم صورت دا وی.چه بعضے وخت د قرآن پاك په سورة کښے قرآنی دلائل ذکر کړے شی.د دغه دلائلو په اوریدو او لوستلو سره په ایمان کښے تازګی.ترقی او انشراح پیدا کیږی.

() دریم صورت دا وی.چه مؤمنانوته کله کله وسوسے راځی.د هغوی نه بتقاضئے بشریت څه غلطی صادره شی.چه نوے سورة نازل شی.نوهغه ټولے وسوسے زائله شی او ایمان تازه اوپوخ شی.(۲) والله اعلم.

قوله: وَقَوْلُهُ جَلَّ ذِكْرُهُ﴿فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا﴾: دقرآن کریم پوره آیت دے ﴿اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ (۳)

دا آیت دغزوه حمراء الاسد سره متعلق دے.ابوسفیان چه کله د احد نه مکے ته واپس شو.نوپه لاره کښے ورته خیال راغلو.چه مونږ ډیره غلطی اوکړله.شکست خوړونکی اوزخمیان مسلمانان مو داسے پریخودل.مشوره اوشوه.چه بیا مدینے ته واپس شو.اود دوی قصه ختمه

(۱) سورة التوبة: ۱۲٤)_
(۲) فضل الباری(۱/۲۸۱)_
(۳) سورة آل عمران:۱۷۳)_

کړو چه نبی ﷺ ته خبر اوشو نواعلان ئے اوکړلو چه کوم خلق پرون زمونږ سره په جنګ کښے شریك وونن دے د دشمن رالاندے کولو دپاره تیار شی مسلمانانو مجاهدینو دنے باوجود چه تازه زخمی شوی وو دالله تعالی اود رسول ﷺ په وینا به رابهر شو نبی ﷺ د مجاهدینو دغه ډله خان سره واخستله او مقام حمراء الاسد ته ،کوم چه د مدینے نه اته میله کښے دے اورسیدل ابوسفیان چه دا واوریدل چه مسلمانان د دوی د رالاندے کولو دپاره راغلی نود هغه په زړه کښے سخت رعب اوویره راغله دوباره د حملے اراده ئے پریخوده اود مکے طرف ته اوتښتیدل.د وفد عبدالقیس یوه تجارتی قافله مدینے ته راتله ابوسفیان دغه خلقو ته څه ورکړل او تیار ئے کړل چه دوی مدینے ته اورسی نوځه داسے خبرے دے خورے کړی چه هغه واوری نومسلمانان زمونږ نه مرعوب اوپه ویره کښے شی هغوی چه مدینه ته اورسیدل نو وینا ئے شروع کړه چه دمکے خلقو د مسلمانانو دختمولو دپاره ډیرلوئے لښکر وسازوسامان تیار کړے دے.چه دائے واوریدل.نود مسلمانانو په زړونو کښے د ویرے په ځائے جوش اوایمان زیات شو اوچه د کافرانو د لښکر خبر ئے واوریدلو نو وے ویل ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ :
تولے دنیاپه مقابله کښے یواځے الله زمونږدپاره کافی دے.هم په دے بندے دا آیتونه نازل شو بعضے فرمائی.چه جنګ احد ختم شو.نوابوسفیان اعلان اوکړلو چه په راروان کال به په بدر کښے بیا جنګ وی.نبی ﷺ قبول کړلو.کله چه راروان کال راغلو نونبی ﷺ خلقو ته حکم اوکړلو.چه د جهاد دپاره روان شئ.اوکه څوك نه ځی.نوبیا هم دالله رسول به یواځے ځی بل طرف ته ابوسفیان لښکر راواخستلو.اودمکے نه رابهر شو.چه لږ مزل ئے اوکړلو.نود همت ملا ئے ماته شوه.رعب پرے راغلو.دقحط سالئ بانه ئے جوړه کړه چه مکے ته واپس شئ.خوچه صورت داسے وی.چه الزام په مسلمانانو باندے راشی.نودا صورت ئے اختیار کړلو چه یو کس مدینه ته تلو.هغه ته ئے څه ورکړل.اودا ئے ورته اووئیل چه هلته اورسیږے نوداسے خبرے خورے کړه. چه مسلمانان ئے واوری.اوپه ویره کښے شی اود جنګ دپاره نه راوځی هغه چه مدینے ته اورسیدلو.نووئیل ئے شروع کړل چه د مکے خلقو ډیرلوئے لښکر جمع کړے دے .ستاسودپاره جنګ بهتر نه دے مسلمانانوته الله تعالی همت ورکړلو هغوی هم دا اووئیل چه الله زمونږ دپاره کافی دے.آخر دا چه مسلمانان دوعدے مطابق مقام بدرته اورسیدل هلته به منډئ لګیدله.درے ورځے ئے سوداګری اوکړله اوبیه په فائدے سره مدینے ته راواپس شول.دے ته ..غزوه بدر صغری.. وائی (۱)

بهرحال دلته هم دا راجح ده چه دا د غزوه حمراء الاسد ذکر دے او د ایمان دزیادت نه مراد په ایمانی جوش کښے زیادت مراد دے

قوله وَقَوْلُهُ تَعَالَى ﴿وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا﴾:دا د سورة احزاب آیت دے اود غزوه احزاب سره متعلق دے پوره آیت دا دے ﴿وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ

(۱) تفسیر عثمانی(ص.۹٤)_

وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا﴾(١) کله چه مسلمانانو د کافرانو ډلے اولیدلے چه د قریشو خلق یواځے نه دی راغلی بلکه دوی نورے قبیلے هم په مدینه منوره باندے دحملے کولو دپاره راوستے دی نودوی اووئیل چه هم ددے خومونږ سره الله اودهغه رسول وعده کړے وه او الله اودهغه رسول رښتینی دی په دے سره ددوی په ایمان اود تسلیم په عادت کښے اضافه اوشوه.

په غزوه احزاب کښے چه په عامو مسلمانانو باندے کومه سخته تیره شوے وه.قرآن مجید د دومره سختئ ذکر دبلے غزوه دپاره نه دے کړے خوچه کوم ممتاز اهل کمال واخلاص وو اودهغوی دالله اود رسول په وعدو باندے نظر وو دهغوی کیفیت څه عجیبه وو لکه څنګه چه یوډیر معتبر کس د څه حیرانونکے واقعے پیشنګوئی اوکړی اوبیا هغه واقعه ښکاره شی.نوهغوی بے اختیاره چغه کړی چه دا خو هغه خبره وه کومه چه مونږ ته خودلے شوے وه.هم هغه نقشه مونږ ته مخامخ شوه.هم دا صورت حال دلته راپیښ شوے دے نبی ﷺ دا وړاندے خودلی وو.چه داسے به کیږی.اوهم هغه شان اوشو هم ددے ذکر دے﴿ هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ﴾ د قریشونه بلکه د ټولوعربود طرفه د مسلمانانو ختمولو آخری کوشش وو.چه په دے کښے هغوی ته شکست ملاؤ شو اوواپس لاړل هم په دے موقع باندے نبی ﷺ اوفرمائیل.«نغزوهم ولایغزونا»(٢)اوس به په راوران وخت کښے مونږ په دوی باندے حمله کوو.اودوی به په مونږ باندے دحملے کولو جرات نشی کولے نودلته دایمان زیادت مراد نه دے.بلکه دا مراد دے.چه دالله تعالی اودهغه د رسول ﷺ د وعدو په رښتیاوالی باندے اعتماد زیات شو.

قوله: وَالْحُبُّ فِي اللّٰهِ وَالْبُغْضُ فِي اللّٰهِ مِنَ الْاِيْمَانِ: وړاندے اتۀ آیاتونه تیرشوی دی.ددے نه پس امام بخاری رحمه الله فرمائی چه «حب فی الله» او«بغض فی الله» اعمال دی اودا دایمان جزء دے.نومعلومه شوه.چه ایمان مرکب دے.اوهرمرکب قابل للزیادة والنقصان وی.نود ایمان ترکیب اوقابل للزیادة والنقصان ثبوت اوشو (٣)

ددے جواب دا دے.چه «الحب فی الله والبغض فی الله من الایمان» نه حدیث دے او نه قرآن اوس دوه احتمالات دی.یاخوپخپله دامام بخاری رحمه الله قول دے کوم چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په مقابله کښے حجت نه دے.یا دسلفو رحمهم الله قول دے په دے صورت کښے به مونږ دا اووایو چه دلته «من الایمان» کښے ..من.. د تبعیض دپاره نه دے بلکه ..من.. ابتدائیه دے اومطلب دا دے.چه دا څیزونه د ایمان نه ناشی دی او ددے په متعلقاتو کښے داخل دی.نو د امام

---

(١) سورة الأحزاب:٢٢ـ

(٢) صحیح بخاری(٢/٥٩٠)کتاب المغازی باب غزوة الخندق وهی الأحزاب)ـ

(٣) فتح الباری(١/٤٧)ـ

بخاری رحمه الله په دے باندے د ترکیب او زیادة اونقصان دپاره استدلال صحیح نه دے
امام بخاری رحمه الله چه د «والحب فی الله والبغض فی الله من الإیمان» چه کومه جمله ذکرکړے ده حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دے سره د ابوداود حدیث «أفضل الأعمال الحب فی الله والبغض فی الله» (۱) او «من أحب لله وأبغض لله وأعطی لله ومنع لله فقد استکمل الإیمان» (۲) طرف ته اشاره ده.
خوتاسوګورئ چه په دے کښے په اول حدیث کښے دایمان ذکر نشته.اوپه دویم حدیث کښے د«فقد استکمل الإیمان» ذکردے.معلومه شوه چه ددے څلورو واړو څیزونو تعلق د کمال ایمان سره دے.اوکمال ایمان ته مونږ هم مرکب وایو.اوقابل للزیادة والنقصان ئے منو.خودلته خو خبرے د نفس ایمان په باره کښے دی.
اوکه مونږ په دے جمله کښے ..من.. دامام بخاری رحمه الله دمنشا مطابق ..من.. تبعیضی اومنو.نود ایمان نه مراد دے ایمان کامل.چه دهغه په ترکیب کښے دچا اختلاف نشته.

قوله: وَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ إِنَّ لِلْإِيمَانِ فَرَائِضَ وَشَرَائِعَ وَحُدُودًا وَسُنَنًا فَمَنْ اسْتَكْمَلَهَا اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ وَمَنْ لَمْ يَسْتَكْمِلْهَا لَمْ يَسْتَكْمِلْ الْإِيمَانَ فَإِنْ أَعِشْ فَسَأُبَيِّنُهَا لَكُمْ حَتَّى تَعْمَلُوا بِهَا وَإِنْ أَمُتْ فَمَا أَنَا عَلَى صُحْبَتِكُمْ بِحَرِيصٍ: حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله عدی بن عدی رحمه الله ته لیکلی وو.چه دایمان څه فرائض اوڅه شرائع دی.څه حدود دی.اوڅه سنن.کوم کس چه دا ټول پوره کړل.هغه خپل ایمان مکمل کړلو.اوچاچه مکمل نکړلو.نوهغه ایمان مکمل نکړلو.
حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله دوی ته پنځم خلیفه راشد وائی.دوی مجدد اول ګرځولے شوے دے.په ۶۱ھ کښے پیدا شوے وو.اوپه ۱۰۱ھ کښے ئے وفات شوے وو.(۳) د نبی ﷺ احادیث په سرکاری سطح باندے د مدون کولو تجدیدی کارنامه هم دوی کړے ده.(۴)
مشهور متل دے.چه فلانے دومره عادل دے.چه دهغه د عدالت په وجه ګډے اوشرمخان په ګودر اوبه څکی.اوشرمخان ګډو ته څه نه وائی.دا متل دے.خود حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په زمانه کښے دا واقعه پیښه شوے وه.د هغوی د عدالت اثر په څناورو باندے هم کیدلو.(۵)

(۱) أخرجه ابوداود فی سننه عن أبی ذر رضی الله عنه فی کتاب السنة باب مجانبة أهل الأهواء وبغضهم رقم (۴۵۹۹)_
(۲) أخرجه ابوداود فی سننه عن أبی أمامة رضی الله عنه فی کتاب السنة باب الدلیل علی زیادة الإیمان ونقصانه رقم(۴۶۸۱)_
(۳) تهذیب الکمال للمزی(۲۱/۴۳۶، ۴۴۶)_
(۴) دتفصیل دپاره اوګورئ ..مقدمة العلم..)_
(۵) تهذیب الأسماء واللغات للنووی(۲/۱۸)_

خو ورسره دے داخبره هم ياده وى.چه امام عبدالله بن المبارك رحمه الله نه د حضرت اميرمعاويه رضى الله عنه په باره كښے تپوس اوشو.نوهغوى اوفرمائل.«ما أقول فى رجل قال رسول الله ﷺ سمع الله لمن حمده،فقال خلفه، ربنا ولك الحمد،، ددوئه تپوس اوشو.چه ،،أيهما أفضل؟،،هوأوعمربن عبدالعزيز،،نو وے فرمائيل.،،لتراب فى منخرى معاوية مع رسول الله ﷺ خيروأفضل من عمربن عبدالعزيز»(١)

عدى بن عدى دا عدى بن عدى بن عميره بن فروه بن زراره كندى دے.دوى په جزيره ابن عمركښے د عمربن عبدالعزيز رحمه الله دطرفه گورنر وو.(دا ابن عمربل خوك دے.حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما مرادنه دے) دا جزيرة موصل ته نزدے يوه علاقه ده.په دےباره كښے دا اختلاف هم شوے دے.چه دے صحابى ووكه تابعى؟صحيح قول هم دا دے.چه دوى تابعى رحمه الله دى.
ددوى پلار اوترة صحابيان وو.
ددوى په جلالت شان.عبادت.اوفضل اوصلاح باندے د ټولواتفاق دے.امام بخارى رحمه الله فرمائى.«عدى بن عدى سيدأهل الجزيرة»

مسلمه بن عبدالملك وائى.چه په قبيله كنده كښے درے كسان داسے دى چه دهغوى په وسيله باران غوښتلے شى.اوددوى په وسيله په دشمنانوباندے مدد غوښتلے شى () يورجاء بن حيوه () دويم عباده بن سبا() اودريم عدى بن عدى دے.په ١٢٠ھ كښے وفات شوےوو.(٢) رحمه الله تعالى

دحضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله په اثر سره دامام بخارى رحمه الله استدلال

امام بخارى رحمه الله ددے اثر نه دا ثابته كړے ده.چه ايمان مركب دے.په دے كښے فرائض. شرائع. حدود اوسنن داخل دى.نوهركله چه ايمان مركب شو.نوددے قابل زيادت اونقصان به هم ثابت شى.اومونږ دا هم وئيلى شو.چه «الإيمان يزيد وينقص»
ددے جواب دا دے.چه اول خوحضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله دلته دا څيزونه دكامل ايمان جزء گرځوى.ځكه چه په آخر كښے د «من إستكملها فقد إستكمل الإيمان» او «ومن لم يستكملها لم يستكمل الإيمان» الفاظ دى.اوپه دے كښے د چا اختلاف نشته.چه ايمان كامل مركب دے.
دويمه خبره دا ده.چه «إن للإيمان فرائض. الخ» د دے نه جزئيت نه ثابتيږى.بلكه دا ثابتيږى.چه دا څيزونه دايمان متعلقات اوفروع دى.نود امام بخارى رحمه الله استدلال ټيك نه دے.
فرائض وشرائع اوحدود وسنن د ،،فرائض،، نه مراداعمال مفروضه يعنى مونځ ،روژه،حج زكواة وغيره دى.
د شرائع،، نه مراد عقائد يعنى توحيد ،رسالت،حشرونشر .اوجزاءالاعمال وغيره مراد دى.
اوپه حدودو كښے درے احتمالات دى.

---

(١) البداية والنهاية (٤/ ٨/ ١٣٩) ترجمة معاوية رضى الله عنه_
(٢) عمدة القارى(١/ ١١٣) وتهذيب الأسماء واللغات(١/ ٣٢٨، ٣٢٩)_

() ددے نه د احكامومبادي اوغايات مراد واخستلے شي.لكه دمانخه ابتداء د تكبيرتحريمه نه او انتهاء په سلام باندے كيږي.دا دمونځ حد دے.د روژے ابتداء د صبا صادق نه كيږي.اوانتهاء ئے په نمر په ډوبيدو باندے كيږي.دا د روژے حد دے.
() دحدودو نه مراد زواجر دي.لكه حد سرقه،حد شرب خمر وغيره.
() دريم احتمال دا دے.چه دحدودو نه منهيات مراد واخستے شي.لكه په آيت كريمه كښے ارشاد دے.﴿وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ﴾(١) دغه شان په حديث كښے دي.«ألا وإن لكل ملك حمى وإن حمى الله في أرضه محارمه»(٢)دا منهيات اومحرمات حدود دي.په دے باندے د اوډريدو حكم دے.دتجاوز اجازت نشته.
..سنن..د سنت جمع ده.دسنت معنى د طريقے ده.په دے كښے فرائض،شرائع اوحدود هم داخل دي.ځكه چه دا ټولے د دين طريقے دي.په دے صورت كښے دا تعميم بعدالتخصيص دے. چه اول ئے دا ځيزونه د جدا جدا بيانولو نه پس د يو عنوان لاندے جمع كړل.
دويم صورت دا دے.چه د فرائضو په مقابله كښے سنن واخستے شي.نوددے نه به امور مندوبه ومسنونه مراد وي.

ددے نه پس فرمائي.«فمن إستكملها إستكمل الإيمان ومن لم يستكملها لم يستكمل الإيمان» څوك چه دا مكمل كوي.د فرائضو شرائعو حدودواو سنن اهتمام كوي. نو هغه به خپل ايمان كاملوي. اوڅوك چه ددے ټولواهتمام نه كوي.نودهغه ايمان به ناقص وي.

قوله: فَإِنْ أَعِشْ فَسَأُبَيِّنُهَا لَكُمْ حَتّٰى تَعْمَلُوا بِهَا وَإِنْ أَمُتْ فَمَا أَنَا عَلٰى صُحْبَتِكُمْ بِحَرِيصٍ: كه زه ژوندے پاتے شوم.نوددے تفصيلات به بيان كړم.چه تاسو پرے عمل اوكړئ. اوكه زه ژوندے پاتے نه شوم.زما مرګ راغلو.نوماته تاسو سره د اوسيدو څه شوق نشته.

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾:حضرت ابراهيم عليه السلام الله تعالى ته عرض كړے وو.چه ﴿رَبِّ أَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتٰى﴾ په دے باندے د الله تعالى د طرفه تپوس شوے وو. ﴿قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ﴾ حضرت ابراهيم عليه السلام جواب وركړلو. ﴿قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾.
امام بخاري رحمه الله په دے سره اشاره كول غواړي.دسعيد بن جبيراومجاهد رحمهما الله تفسير طرف ته.سعيد بن جبير رحمه الله ددے تفسير په «ليزداد يقيني» سره كړے دے. او مجاهد رحمه الله په «لأزداد إيماناً إلى إيماني» سره كړے دے.نودغه شان زيادت د ايمان ثابتيږي.كله چه دحضرت

(١) الطلاق:١)_
(٢) صحيح بخاري (١٣/١) كتاب الإيمان باب فضل من إستبرأ لدينه)_

ابراهیمﷺ په باره کښے دا خبره ثابته ده نوچونکه دهغوی دملت د تابعدارئ مونږ ته حکم شوے دے نولکه چه د نبی کریمﷺ نه هم ثابته شوے ده (۱)

ددے جواب دا دے چه دلته دحضرت ابراهیمﷺ په کلام کښے دایمان زیادت مراد نه دے بلکه شوق اواضطراب په اطمینان کښے بدلول مراد دی نور وضاحت به د وړاندے تشریح نه اوشی.

آیا دابراهیمﷺ تپوس دشك په بنیاد سره وو؟

دلته سوال دا پیدا کیږی چه حضرت ابراهیمﷺ د الله تعالی نه د احیاء موتی سوال ولے اوکړلو آیا هغوی ته دالله تعالی په قدرت علی الاحیاء کښے والعیاذ بالله څه شك یا تردد وو؟ حالانکه هغوی ابوالانبیاء اوپه اولوالعزم پیغمبرانو کښے شامل دی

ددے جواب دا دے چه د ,,کیف،، استعمال څوکله د استعجاز دپاره کیږی کله د استعجاب دپاره.اوکله داستفهام دپاره.مثلا که یوکس دا دعوی اوکړی چه زه دومره غټ بوج اوچتولے شم.اوهغه ته اووائے ((أرنی کیف تحمل هذا؟)) نودا د استعجاز دپاره دے یعنی ته هغه عاجز ښکاره کول اوګرځول غواړے.

دغه شان که یو ورکوټے ماشوم وی.اودهغه متعلق اوونیلی شی.چه هغه ته موطا امام مالك یاد ده.نوته تپوس کوے((کیف حفظ الموطا)) هغه څنګه موطا یاده کړه .د هغه عمر خو ډیرکم دے.دلته ،،کیف،، داستعجاب دپاره دے.

او،،کیف،، په ((کیف کان بدء الوحی)) کښے راغلے دے.هغه د استفهام دپاره دے.

دلته دا زده کړه.چه حضرت ابراهیمﷺ چه کوم سوال کړے وو.هغه داستفهام دپاره وو.اودا سوال په دے خبره باندے مبنی دے.چه حضرت ابراهیمﷺ ته په قدرت علی الاحیاء باندے پوره یقین وو.ددے قوت یقین دوجے په هغوی کښے اشتیاق پیدا شو.چه هغه ددے د کیفیت مشاهده اوکړی.تاسو ته یقین دے.چه مکه مکرمه یو مقدس ښار دے.هلته بیت الله دے.د ټولے دنیا خلق هلته کښے رسی.اود حج فریضه ادا کوی.ددے یقین دوجے ستا په زړه کښے شوق دے.چه الله تعالی هغه مبارك وخت زما په ژوند کښے هم راولی.چه زه د مکے مکرمے دیدار اوکړم.یقین چه څومره قوی اومضبوط وی.هم دهغے مطابق به اشتیاق هم وی.حضرت ابراهیمﷺ ته چونکه کامل یقین وو.ددے کامل یقین د وجے په هغوی یود احیاء کیفیت لیدلو ډیرشوق پیدا شو.نوځکه هغوی درخواست اوکړلو.چه ﴿رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ﴾ خوالله سبحانه وتعالی د خپلو پیغمبرانوعلیهم السلام دشان حفاظت کوی. نوځکه ئے تپوس اوکړلو.﴿قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ﴾ دا سوال ددے وجے نه وو.چه دالله تعالی د حضرت ابراهیمﷺ په یقین اوایمان کښے شك پیدا شوے وو.بلکه ددے دپاره ئے تپوس اوکړلو.چه غبی اوکم فهم نه په حضرت ابراهیمﷺ باندے د بدګمانئ موقع ملاؤ نشی.الله تعالی ښه پوهیدلو.چه دحضرت ابراهیمﷺ په یقین کښے څه کمے نشته.خود غلط فهمیانود رد کولو دپاره ئے سوال

---

(۱) فتح الباری(۴۷/۱)۔

اوکړلو په خپله ئے دحضرت ابراهیم علیه السلام په ژبه دا اووئیل ﴿بَلٰی وَلٰکِنْ لِّیَطْمَئِنَّ قَلْبِیْ﴾ چه زما ستا په قدرت علی الاحیاء باندے یقین ولے نشته.هغه یقین خو کامل دے.خوکه زه ددے کیفیت اووینم.نوزما زړه ته به آرام ملاؤ شی.

دا بیخی داسے ده.لکه الله تعالی چه حضرت عیسی علیه السلام ته فرمائی.﴿ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِیْ وَاُمِّیَ اِلٰهَیْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾(۱) الله تعالی دا پیژنی. چه حضرت عیسی علیه السلام داسے نه دی وئیلے.په قرآن کریم کنبے ارشاد دے.﴿مَا کَانَ لِبَشَرٍ اَنْ یُّؤْتِیَهُ اللّٰهُ الْکِتٰبَ وَالْحُکْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ یَقُوْلَ لِلنَّاسِ کُوْنُوْا عِبَادًا لِّیْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾(۲) ددے باوجود دحضرت عیسی علیه السلام نه تپوس کیږی.مقصد هم دا دے.چه دحضرت عیسی علیه السلام په ژبه باندے اظهار د براءت اوشی.نوهغوی عرض اوکړلو.﴿قَالَ سُبْحٰنَکَ مَا یَکُوْنُ لِیْ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَیْسَ لِیْ بِحَقٍّ اِنْ کُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ تَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ وَلَا اَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِکَ اِنَّکَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ۝ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَا اَمَرْتَنِیْ بِهٖ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبَّکُمْ﴾(۳) ددے تصریح نه پس هیڅ یوغبی اوغوی ته دا خیال نشی راتلے.چه هم حضرت عیسی علیه السلام خلقو ته دخپل خان اومور د اله جوړولو مشوره ورکړے وه.

هم دغه شان دلته دی.چه الله تعالی اوفرمائیل﴿قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ﴾ اے ابراهیم! ولے تاته یقین نشته.چه زه په احیاء موتی باندے قادر یم؟نوحضرت ابراهیم علیه السلام عرض اوکړلوولے نه.دا یقین مے کامل دے.اوپه دے خبره زما پوره پوره ایمان دے.﴿وَلٰکِنْ لِّیَطْمَئِنَّ قَلْبِیْ﴾ خوزه دا غواړم.چه زما په زړه کنبے دشوق لمبے بلیږی.اوزه د احیاء موتی د کیفیت لیدو دپاره خپل خان مضطرب وینم.چه زما دغه د شوق اور یخ شی.اوماته سکون اواطمینان ملاؤ شی.

بهرحال دحضرت ابراهیم علیه السلام په دے جواب کنبے د «زیادة فی الایمان» ذکر نشته.کوم چه امام بخاری رحمه الله کنړی.بلکه دلته خو مقصد دا دے.چه په ما کنبے د کیفیت احیاء د مشاهدے کوم شوق چه پیدا شوے دے.زه دهغے تسکین غواړم.

حقیقت دا دے.چه په استدلال سره د یوخیزعلم حاصل شی.نوپه هغے کنبے د یقین اوجزم کیفیت وی.اوعلم الیقین حاصلیږی.خودمشاهدے کولو نه پس چه د عین الیقین کوم کیفیت پیداشی.هغه په خبریا استدلال سره نه پیدا کیږی.حضرت ابراهیم علیه السلام ته دالله تعالی په خبر ورکولو باندے پوره یقین وو.اوبیا ورته دخپل استدلال په وجه هم کامل یقین وو.چه الله تعالی په احیاء موتی باندے قادر دے.خوهغوی غوښتل.چه ددے کیفیت مشاهده هم اوکړی.چه علم الیقین په عین الیقین سره بدل شی.والله اعلم.

یواشکال اودهغے جواب. دلته یواشکال دا کیږی.چه امام بخاری رحمه الله د ایمان د کمی اوزیادت دپاره وړاندے اته آیاتونه ذکر کړل.ددے نه پس ئے «الحب فی الله والبغض فی الله»

---

(۱) المائدة:۱۱۶_

(۲) آل عمران:۷۹_

(۳) المائدة:۱۱۶،۱۱۷_

اودحضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله اثرذكر كړلو.ددے تولو نه پس ئے آيت ﴿وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾ ذكركړلو. حالانكه پكار دا وو.چه دا آيت ئے هم ددغه آياتونو سره ذكر كړے وے.ددے تفريق څه وجه ده؟

حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي.ددے وجه دا وه.چه ﴿وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾ دحضرت ابراهيم عليه السلام قول دے.(۱)

خوپه دے جواب كښے اشكال دا دے.چه ددے قول الله تعالى حكايت كړے دے .نو دا دالله تعالى كلام دے.

نوځكه بهتر جواب دا دے.چه اصل كښے د پورتنو اتۀ آياتونو نه دايمان زيادت صراحةً ثابتيږي.اود آيت﴿ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ﴾ نه كمے اوزيادت استدلالاً ثابتيږي.د لفظ طمانينت نه دا مضمون اخذ كيږي.چه حضرت ابراهيم عليه السلام ته علم اليقين وو .د دے نه پس هغوی د نور طمانينت خواهش كړلو.معلومه شوه.چه ايمان زيادت قبلوی.اوكوم څيزچه زيادت قبلوی.هغه كمے هم قبلوی.(۲)

قوله:وَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ اجْلِسْ بِنَا نُؤْمِنْ سَاعَةً: حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه فرمائي.كينئ چه مونږ څه وخت دپاره ايمان راوړو.ددے تجديد اوكړو.

حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه ممتاز صحابي دے.داتلسو كالو په عمر كښے ئے اسلام قبول كړے وو.په بيعت عقبه ثانيه كښے شريك شوے وو.دنبي صلى الله عليه وسلم سره په بدر او نورو تولو غزاګانو كښے شريك شوے وو.نبي صلى الله عليه وسلم د دوی په حق كښے فرمائيلي وو.«أعلمهم بالحلال والحرام معاذبن جبل رضي الله عنه»(۳) د دوی مناقب اوفضائل بےشميره دی . په ۱۸ هـ كښے په طاعون عمواس كښے وفات شوی وو.(۴)

دحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه دا اثر ابن ابی شيبه اوامام احمد موصولاً نقل كړے دے .اوهغوی اسود بن هلال ته فرمائيلي وو.«اجلس بنا نؤمن ساعة»(۵)

امام بخاری رحمه الله ددے نه په زيادت في الايمان باندے استدلال كوی.په دے طريقه چه دا قول په اصل ايمان باندے نشي حمل كولے.ځكه چه حضرت معاذ رضي الله عنه خوداول نه ايمان راوړے وو.نودا به هم په زيادت في الايمان باندے حمل كولے شي.

---

(۱) لامع الدراری(۱/ ۵٤۰، ۵٤۱)_

(۲) فضل الباری(۱/ ۲۸۶)_

(۳) جامع ترمذی كتاب المناقب باب مناقب معاذبن جبل وزيد بن ثابت،وأبی ،أبی عبيدة بن الجراح رضي الله عنه رقم،(۳۷۹۰)و(۳۷۹۱)_

(۴) تهذيب الأسماء واللغات(۲/ ۹۸، ۱۰۰) ترجمة معاذبن جبل رضي الله عنه_

(۵) فتح الباری(۱/ ٤۸)_

ددے جواب دا دے چه دلته زیادت في الایمان مراد نه دے بلکه دایمان تجدید اود دے تازگی مراد ده لکه څنګه چه په حدیث کښے راغلی دی «جددوا إیمانکم، قیل یا رسول الله کیف نجدد إیماننا؟ قال: أکثروا من قول لا إله إلا الله»[1] «لا إله إلا الله» په کثرت سره وایئ. نود ایمان تازګی اوترقی به راشی حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه فرمانی چه «اجلس بنا نؤمن ساعة» کینئ چه د آخرت څه ذکر اوکړو چه د جنت د ثواب اود دوزخ د عذاب ذکراوکړو اوڅه دالله تعالی د رسول خبرے اوکړو نوبه دے سره به په ایمان کښے تازګی پیدا شی ﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ﴾[2] متقیان چه کله د شیطانی وسوسو نه پریشانه شی نوهغوی دالله تعالی ذکر شروع کړی په دے سره دهغوی بصیرت رابیدار شی اود شیطان د وسوسو اثر ختم شی. ددے نه پس د اهل زیغ په باره کښے فرمانی ﴿وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ﴾[3] ځوك چه د شیطانانو رونړه دی هغوی ګمراهئ ته راکاږی بیا په کښے هغوی کمے نه کوی.

تاسوبه کتلی وی چه د اور په سکروټه باندے دپاسه کله ایره راشی نوهغه سروټکه سره شی خوچه ایره ترے لرے کړے نوسروټکه تازه شی بیخی هم داسے داهل ایمان ایمانی کیفیت پټ شی خوسمدستی خبر شی اودالله تعالی په ذکر کښے مشغول شی ددے نتیجه دا شی چه دهغوی ایمانی کیفیت کوم باندے چه د شیطانی وسوسو په وجه غبار راغلی وی دالله تعالی په ذکرسره هغه دوړه ختمه شی اودهغوی روحانی کیفیت بحال شی کافران چه دهغوی روحانی کیفیت مړ شوے دے هغوی ته خبرورکول فائده نه رسوی الاماشاءالله. سړے بینا وی د پرکالئ دوجے هغه ته څه په نظر نه راځی چه ته هغه اورقوے نودهغه پرکالی ختمه شی اوهغه هرڅه لیدل شروع کړی په خلاف د نابینا که هغه ښقے سترګے راوباسی نوهغه ته نه دا فائده ورکوی اوکه ته ئے رقوے نونه ورته دا فائده ورکوی هغه په هیڅ صورت کښے لیدل نشی کولے هم دا فرق دمؤمن اوکافر دے دشیطانی وسوسو دوجے مؤمن غافله شی خوچه کله هغه ته خبر ورکړے شی یاهغه په خپله دالله تعالی د ذکر په ذریعه بیدار شی نو د هغه بینائی راواپس شی په کافرکښے چونکه صلاحیت نه وی په خپل عمل سره هغه دا صلاحیت ضائع کړے دے نوتنبیه ورکول دهغه دپاره څه فائده منده نه ده.

بهرحال امام بخاری رحمه الله په «نؤمن ساعة» سره دایمان په زیادت باندے استدلال کوی. ښکاره ده چه دلته تجدید مراد دے اوددے مطلب په ایمان کښے زیادت نه دے بلکه تروتازګی پیدا کول دی. والله اعلم.

---

(۱) مسند احمد (۲/ ۳۵۹) أحادیث أبي هریرة رضی الله عنه_

(۲) الأعراف: ۲۰۱)_

(۳) الاعراف: ۲۰۲)_

قوله: وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ الْيَقِيْنُ الْإِيْمَانُ كُلُّهُ: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه یقین کامل ایمان دے.

دا اثر طبرانی په صحیح سند سره ذکر کړے دے پوره اثر دا دے «الصبر نصف الإيمان واليقين الإيمان كله» (۱)

دامام بخاری رحمه الله استدلال یا خو په لفظ د ،،کل،، سره دے ځکه چه د کوم څیز کل وی د هغې به جزء هم وی یاددے په اولنی جزء باندے استدلال کوی ځکه چه په دے کښے لفظ د ،،نصف،، دے کوم چه صراحة په جزئیت باندے دلالت کوی. د دے نه ایمان ترکیب هم ثابتیږی او قابل د زیادت اونقصان هم په پوهه کښے راځی. دا دامام بخاری رحمه الله عادت دے چه غامض ته په ظاهرباندے ترجیح ورکوی او دصریح په مقابله کښے په اشاره باندے استدلال کوی مطلب ئے د طالبانو ذهنی تشحیذ وی.

دامام بخاری رحمه الله داستدلال جواب دا دے چه دلته د یقین نه د اهل معرفت یقین مراد دے کوم چه په مشقت شاقه اومجاهدات کثیره سره حاصلیږی حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا خودل غواړی چه کامل ایمان هغه دے چه په هغې کښے دا یقین وی نو اوس دا داحنافو رحمهم الله خلاف نشو ځکه چه ددوی په نیز هم دکامل ایمان دپاره د ډیرو څیزونو ضرورت وی.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ حَقِيقَةَ التَّقْوَى حَتَّى يَدَعَ مَا حَاكَ فِي الصَّدْرِ:
حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائی دتقوی حقیقت ته نشی رسیدلے ترڅو چه هغه خبرے پرے نږدی کومے چه په زړه کښے شك اچوی.

په سنن ترمذی اوسنن ابن ماجه کښے دحضرت عطیه السعدی حدیث مروی دے «لا يبلغ العبد أن يكون من المتقين حتى يدع مالا بأس به حذرا لما به البأس» (۲) یعنی بنده تر هغه وخته پورے د متقیانو درجے ته نشی رسیدے ترڅوچه هغه څیزونه پرے نږدی په کومو کښے چه څه باك نه وی دهغه څیزونو نه د بچ کیدو په غرض په کومو کښے چه باك وی.

دتقوی درجات: () دتقوی یوه درجه دا ده چه سړے د کفر شرك اونفاق نه بچ شی.

() دویمه درجه دا ده چه د بدعاتو نه بچ وی.

() دریمه درجه دا ده چه کبائرو نه بچ وی.

() څلورمه درجه دا ده چه د صغائرو نه بچ وی.

() پنځمه درجه دا ده چه دهغه مباحاتونه بچ شی چه په هغې کښے اخته کیدو او مشغوله کیدو سره په گناه کښے د واقع کیدو ویره وی.

---

(۱) مجمع الزوائد(۵۷/۱)كتاب الإيمان باب فی كمال الإيمان دغه شان مستدرک حاکم(۴۴۶/۲) كتاب التفسير تفسير سورة حم عسق_

(۲) سنن ترمذى كتاب صفة القيامة باب ۱۹ رقم (۲۴۱۵) وسنن ابن ماجه كتاب الزهد باب الورع والتقوى رقم(۴۲۱۵)_

() شپږمه درجه دا ده.چه سړے د مشتبهاتو نه بچ شي.دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په اثر کښے ددے بيان دے.چه کوم څيزونه په زړه کښے شك غورځوي.ترڅو پورے انسان هغه پرے نږدي. نودتقوی حقيقت ته نشي رسيدے.
() عارفينواومحققين عالمانو رحمهم الله د تقوی يوه بله درجه هم ذکر کړے ده.هغه دا چه سړے ..کل ما سوی الله.. پرېږدي.اود ..کل ما سوی الله.. پريخودو مطلب دا دے.چه کوم کار هم کوي.نودالله تعالى د رضا دپاره ئے کوي.که هغه د دين کار وي اوکه ددنيا وي (١)
امام بخاري رحمه الله په دے باندے استدلال داسےدے.چه دهغوی په نيز ..تقوی.. او ..ايمان.. يوڅيز دے.او د اثر نه معلومه شوه.چه بعضے مؤمنان دتقوی حقيقت ته رسي.اوبعضے نه رسي.نومعلومه شوه.چه ايمان زائد اوناقص وي.په بعضے رواياتو کښے دلته د ..تقوی.. په ځائے ..ايمان.. راغلے دے.چه «لايبلغ العبدحقيقة الإيمان»(٢)
ددے جواب دا دے.چه تقوی اوايمان يوڅيز ګرځول ټيك نه دي.ځکه چه تقوی عين ايمان نه دے.بلکه دايمان اثر دے.والله اعلم.

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ شَرَعَ لَكُمْ، أَوْصَيْنَاكَ يَا مُحَمَّدُ وَإِيَّاهُ دِينًا وَاحِدًا: امام مجاهد رحمه الله د آيت قرآني ﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾(٣) په تفسير کښے فرمائي.«أوصيناك يامحمد وإياه دينا واحداً» يعني اے محمده!تاته اونوح ته مونږ د يوشريعت وصيت کړے وو.
دامام بخاري رحمه الله مطلب دا دے.چه دين او ايمان يوڅيز دے.اودامعلومه ده.چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم اودحضرت نوح عليه السلام په شريعت کښے فروعي اختلافات شته.اګرچه په اصولو کښے اختلاف نشته.په توحيد ،رسالت،اوآخرت وغيره امورو کښے اختلاف نشته.دنبي صلى الله عليه وسلم ارشاد دے.«الأنبياء أولاد علات» او «الأنبياء إخوة لعلات،أمهاتهم شتى ودينهم واحد»(٤)نوددے نه د ايمان ترکيب معلوميږي.اود ترکيب نه ددے قابل للزيادة والنقصان هم ثابتيږي.
ددے جواب دا دے.چه دلته صرف دا خودل دي.چه اصول دين او مهمات شريعت هلته اودلته يو دي.په عقائدو کښے ټول يودي.په اعمال فرعيۀ کښے اختلاف ته کتل اوبيا ددے نه دايمان په ترکيب اوقابل للزيادة والنقصان بيانول مقصود نه دي.چه په دے سره دامام

---

(١)تفسير البيضاوي مع شيخ زاده (٧٧/١) وفضل الباري(٢٩٢/١، ٢٩٣)_

(٢) عمدة القاري(١١٦/١)_
(٣) الشورى:١٣_

(٤) صحيح بخاري كتاب الأنبياء باب قول الله ..وذكرفي الكتاب مريم ..رقم(٣٤٤٢، ٣٤٤٣) دغه شان صحيح مسلم (٢٦٤/٢) كتاب الفضائل باب فضائل عيسى عليه السلام وسنن أبي داود كتاب السنة باب في التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام)_

بخاري رحمه الله استدلال صحيح شي دابن عمر رضي الله عنه په حديث كښې د اصول دين اومهمات شريعت دواړو ذكر موجود دے.

تنبيه حافظ بلقيني رحمه الله فرمائي.چه دبخاري په ټولورواياتو كښې دامام مجاهد داثرپه الفاظو كښې تصحيف دے.د اصل اثرالفاظ لكه څنګه چه د عبدالله بن حميد ،فريابي،طبري اوابن المنذر رحمهما الله په تفاسيرو كښې دي.هغه دا دي.((وصاك يامحمد وأنبياءه كلهم ديناً واحداً)) حافظ بلقيني رحمه الله فرمائي.چه امام مجاهد رحمه الله صرف نوح عليه السلام ته ضمير ګرځولے شي. حالانكه په سياق كښې دپيغمبرانوعليهم السلام د يوے ډلے ذكر دے.

حافظ فرمائي.چه په تفسيركښې د مفرد ضميرراوړلو څه مانع نشته.په دے طريقه چه اراده په اصل كښې د مخاطب وي.اوبيا باقي حضرات تابع اوګرځولې شي.ددے وجې هم چه په آيت كښې دحضرت نوح عليه السلام ذكرمستقلاً دے.بيا په تفاسيروكښې په مختلفو الفاظو سره ددے واقع كيدلو سره دا نه لازميږي.چه دلته تخيف شوے دے.كيدے شي.چه د مصنف رحمه الله روايت بالمعنى واقع شوے وي.والله اعلم (۱)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا سَبِيلًا وَسُنَّةً: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د قرآني آيت په تفسير ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ (۲) كښې هغوى د ((شرعة ومنهاجاً)) تفسير هغوى په ((سبيلاً وسنة)) سره كړے دے.

د ,,منهاج,, تفسير ,,سبيل,, دے.او د ,,شرعة,, تفسير ,,سنة,, دے.لكه چه په تفسير او آيت كښےلف نشرغيرمرتب دے.,,شرعة,, لوئے لارے ته وائي. او ,,منهاج,, وړے لارے ته وائي. مطلب دا چه اصول دين كوم چه لويه لاره ده. هغه د ټولو دپاره يوه ده.اوفروعي احكام كومه چه وړه لاره ده.هغه دټولو دپاره جدا جدا ده.

امام بخاري رحمه الله دا خودل غواړي.چه دين په ,,شرعة او,,منهاج,, كښے تقسيم دے.نو مركب شو.اومركب قابل للزيادة والنقصان وي.

زمونږ جواب دا دے.چه منهاج يعني فروعي احكام دايمان متعلقات او مكملات دي. اجزاء نه دي.چه دامام بخاري رحمه الله مدعى ثابته شي.

دلته يواشكال دا كړے شوے دے.چه د اولنى آيت نه معلوميږي.چه دټولوانبياؤ دين يو وو.اوددے آيت نه معلوميږي.چه مختلف وو.په دے دواړو كښے تعارض دے.

ددے جواب دا دے.چه په كوم ځائے كښے وحدت بيان شوے دے.دهغے نه مراد وحدت في الاصول دے.اوپه كوم ځائے كښے چه اختلاف خودلے شوے دے.دهغے نه مراد اختلاف في الفروع دے.(۳)

---

(۱) فتح الباري(۱/۴۸)_

(۲) المائدة:۴۸_

(۳) فتح الباري(۱/۴۹)_

بیا دویم اشکال دا شوے دے.چه اولنۍ آیت د مؤلف دترجمے مناسب نه دے.البته دویم آیت مناسب دے.

حضرت گنگوهی رحمه الله ددے جواب ورکړے دے.چه حضرت امام بخاری رحمه الله خپله مدعی د دوارو آیاتونو د مجموعه نه ثابته کړے ده.اودا ئې خودلی دی.چه انبیاء علیهم السلام په اصولو کښے متفق اومتحد وو.اوپه فروعو کښے مختلف.نوهرکله چه په فروعو کښے اختلاف دے.نوخامخا چه په فرع باندے کوم عمل کیږی.په هغے کښے به زیادت اونقصان پیدا کیږی.(۱)

حضرت مولانا احمدعلی سهارنپوری رحمه الله ددے اشکال بل جواب ورکړے دے.فرمائی .

((شرع لکم من الدین...)) کښے وړاندے ((أن أقیموا الدین)) دی.اود اقامت دین معنی دا ده.چه سړے صحیح ایمان راوړی.یعنی دکومو څیزونوتصدیق چه په ایمان کښے ضروری وی.دهغے څیزونو تصدیق اوکړی.اواحکام خداوندی په ښه طریقه ادا کړی.اوس چه کوم کس د دین په اقامت اکمل وی.دهغه ایمان به هم اکمل وی.اوچه په چا کښے څه کمی وی.دهغه په ایمان کښے به هم کمی وی.لکه چه د مؤلف مدعی د ((أن أقیموا الدین)) نه مستنبط کیږی.(۲)

قوله: دُعَاؤُکُمْ إِیمَانُکُمْ: دلته په بعضے نسخو کښے ((باب دعائکم إیمانکم)) دی.امام نووی رحمه الله فرمائی.چه په ډیرو نسخو کښے دلته د باب لفظ دے.کوم چه غلط فاحش دے.صحیح دا ده.چه دلته ،،باب،، ساقط دے.(۳)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه مایوه نسخه لیدلے ده.کومه چه فربری رحمه الله ته اوروړے شوے وه.په هغے کښے د ،،باب،، لفظ نشته.(۴)

دلته که د ،،باب،،لفظ اومنلے شی.نووړاندے دابن عمر(عنهما) روایت دترجمۂ سره مطابقت نه راځی.اواولنۍ ترجمه ((باب قول النبی ﷺ بنی الإسلام علی خمس)) بغیرد حدیث نه پاتے کیږی.(۵) خوحافظ رحمه الله څه توجیه نه ده بیان کړے.

یوه توجیه دا کیدے شی.چه دابن عمر رضی الله عنهما په حدیث کښے عقائدایمانیه بیان شوی دی.اود ((دعاؤکم إیمانکم))نه د اعمال ایمانیه پته لګی.ځکه چه هرکله دعا ایمان شو.نومعلومه شوه.چه عمل په ایمان کښے داخل دے.اودابن عمر رضی الله عنهما په دحدیث نه هم دا معلومیږی.چه اعمال په ایمان کښے داخل دی.اودا به وئیلی شی.چه دا ((باب فی باب)) دے.اصلی باب وړاندینے دے.کوم چه کتاب الایمان کښے راغلے دے.والله اعلم.

---

(۱) لامع الدراری (۱/۵٤٤، ۵٤۵)_
(۲) حاشیه بخاری(۱/۶حاشیه ۵)_
(۳)فتح الباری(۱/٤۹)_
(۴) شرح کرمانی(۱/۷۶)_
(۵) فتح الباری(۱/٤۹)_

دا د آيت قرآنى د ﴿قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ﴾(١) تفسير دے.دلته د «دُعَآؤُكُمْ» تفسير په «إيمانكم» سره شوے دے.مطلب دا دے.چه اے كافرانو ستاسو د حركتونو.فساد اواستهزاء اوتمسخر تقاضا دا ده.چه تاسوهلاك شئ.خوپه تاسو كښے څه خلق ايماندار دى.د هغوى دايمان په وجه په تاسوباندے عذاب نه راځى .او تاسونشئ بربادېدئ.

بعضے حضراتو د «دُعَآؤُكُمْ» تفسير په ..ذكر.. سره كړے دے.اوپه دعا كښے خو ذكر وى.نو مطلب دا شو.چه ستاسودكفراوعناد تقاضاخو دا ده.چه تاسو هلاك كړے شئ.خوپه تاسو كښے څه خلق داسے دى.چه هغوى دالله تعالى يادونكى دى .د هغوى په وجه تاسو بچ يئ.

دصحيح مسلم په روايت كښے دى.«لاتقوم الساعة حتى لايقال فى الأرض: الله الله»(٢)ترڅو پورے چه د الله الله ونيل بند شوے نه وى.تر هغه وخته پورے به قيامت قائم نشى.چونكه د الله رابلونكى او د هغه ذكر كونكى خلق موجود دى. څكه تاسو نشئ تباه كولے.

حضرت علامه كشميرى رحمه الله فرمائى.چه دلته د دعا نه هم دعا مراد واخلئ.نه به ددے تفسير په ايمان سره كولے شى.اونه په ذكر سره،مطلب به داشى.چه اے كافرانوكله چه تاسو په څه مصيبت كښے اخته يئ.اوپه تاسو څه مصيبت راشى.نو په دغه مصيبت او تكليف كښے خپل معبودان بے وسه او مجبورئ مومئ.اوبيا تاسو بے اختياره الله تعالى رابلئ.نودا ستاسو بے اختياره الله تعالى لره رابلل ستاسو د بچ كيدو سبب دے.گنى تاسو به هلاك كړے شوے وئ.(٣)

دامام بخارى رحمه الله استدلال دلته د «إيمانكم» په تفسير باندے دے.په دے كښے دے طرف ته اشاره ده.چه ايمان يوعمل دے.اوددے اطلاق په ايمان باندے كيږى .نودا اطلاق دجزء على الكل دے.نود ايمان ذو اجزاء كيدل ثابت شو.اوكوم څيزچه مركب اوذواجزاء وى.هغه قابل للزيادة والنقصان وى.نودايمان قابل للزيادة والنقصان كيدل هم ثابت شو.

ددے نه جواب دا دے.چه دعا دايمان د متعلقاتو څنى ده.د اجزاؤ نه نة ده.نودامام بخارى رحمه الله استدلال ټيك نه دے.والله اعلم.

---

(١) الفرقان:٧٧_

(٢) صحيح مسلم(١/ ٨٤)كتاب الإيمان باب ذهاب الإيمان آخرالزمان)_

(٣) فيض البارى (١/ ٧٥، ٧٦)_

الحدیث الثامن

[۸] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا (۱) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ [رقم ۴۲۴۳]

رجال الحدیث

قوله: عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى: دا عبیدالله بن موسی بن باذام عبسی کوفی دے ثقه دے اودامام اعمش رحمه الله نه علاوه د ډیروتابعینو رحمهم الله نه دوی روایت کړے دے.ددوی نه امام بخاری اوامام احمدبن حنبل رحمهماالله براه راست اوامام مسلم اود سنن اربعه صاحبان رحمهم الله په یوه واسطه باندے روایت کوی.دقرآن کریم لوئے عالم وو.(۲)

حافظ رحمه الله فرمائی.دوی ثقه دی.البته په دوی کښے تشیع وو.(۳)

امام نووی رحمه الله فرمائی.چه په صحیحین اوددے نه علاوه دډیروامامانو په کتابونو کښے د ډیرو داسے مبتدعینونه روایات اخستے شوی دی.چه هغوی داعی الی البدعة نه وو.نود سلفو اوخلفو رحمهم الله دداسے حضراتو نه د روایاتو اخستلواوپه هغے باندے استدلال کولو باندے متفق دی.بغیرد څه انکار نه د هغوی سماع او اسماع ټیک ده.(۴)

۲۱۳ھ کښے په اسکندریه کښے وفات شو.(۵)

قوله: حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ: دوی خنظله بن ابی سفیان بن عبدالرحمن بن صفوان بن امیه بن خلف جمحی قرشی مکی دی.ثقه اوحجت دے.دعطاء بن ابی رباح اونورو تابعینو رحمهم الله نه روایت حدیث کوی.اود دوی نه دامام سفیان ثوری رحمه الله غوندے اعلام

---

(۱) الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب التفسیر أیضاً رحمه الله باب وقاتلوهم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین لله رقم(۴۵۱۴)ومسلم فی صحیحه فی کتاب الإیمان باب بیان أرکان الإسلام ودعائمه العظام رقم(۱۲۰، ۱۲۳) والنسائی فی کتاب الإیمان وشرائعه باب علی کم بنی الإسلام رقم(۵۰۰٤) والترمذی فی جامعه فی کتاب الإیمان باب ما جاء بنی الإسلام علی خمس رقم(۲۶۰۹)_

(۲) عمدة القاری(۱/۱۱۸)_

(۳) تقریب التهذیب (۳۷۵)_

(۴) عمدة القاری(۱/۱۱۸)_

(۵)پورتنی حواله وتقریب التهذیب(ص.۳۷۵)_

حدیث دعلم اخذ کړے دے.ددوی روایات داصول سته مصنفینو ﷫ په خپلو کتابونوکښے راوړی دی.په ۱۵۱ھ کښے ددوی وفات شوے دے.(۱)

قوله: عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ: دوی عکرمه بن خالد بن العاص بن هشام بن المغیره قرشی مخزومی مکي دی. جلیل القدربزرګ دے.دحضرت عبدالله بن عمر ﷠ اوحضرت عبدالله بن عباس ﷠ نه دوی احادیث اوریدلی دی.د دوی په روایت کونکو کښے دعمروبن دینار ﷫ نه علاوه نور ډیر تابعیان ﷫ دی.ددوی وفات په مکه کښے دعطاء نه پس شوے وو.اود عطاء وفات په ۱۱۴ھ یا ۱۱۵ھ کښے شوے وو.

تنبیه: یاد ساتئ چه د عکرمه بن خالد په نوم سره یوبل راوی هم په دے طبقه کښے دے.د دغه دویم عکرمه نسب دے.عکرمه بن خالدبن هشام بن المغیرة المخزومي.لکه چه د نیکهٔ په نوم کښے نے فرق راځي.ددے نه علاوه د شیوخو په اعتبار سره په کښے هم فرق دے.ددغه دویم عکرمه نه په صحیحینوبلکه په اصول سته کښے څه روایت نشته.بیا دے ضعیف هم دے. اواولنے عکرمه جلیل القدر ثقه راویانوکښے دے.او دابن ماجه نه سوا باقی ټولود هغه نه روایات اخستے دی.(۲)

قوله: عَنْ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: دوی د حضرت عمربن الخطاب خوئے دے.دام المؤمنین حضرت ام سلمة ﷞ سکه وررور دے.د دوی دمور نوم زینب بنت مظعون دے.
حضرت عبدالله بن عمر ﷠ په ماشوموالی کښے دخپل پلار سره مسلمان شوے وو.اودهغوی نه وړاندے نے هجرت کړے وو.په بدرکښے د ورکوټوالی د وجے شریك نشو.د احد په شرکت کښے نے اختلاف دے.البته په غزوه خندق اوددے نه پس په ټولو غزواتوکښے شریك شوے وو.
د سنتو په اتباع کښے مشهور وو.تردے چه په سفر کښے به په هغه مقاماتو کښے خامخا پړاؤ کولو.په کوموکښے چه نبی اکرم ﷺ پړاؤ کړے وو.اوپه هغه ځائے کښے به نے خپله اوښه کینوله. په کوم ځائے کښے چه به نبی اکرم ﷺ خپله اوښه کینولے وه. دا هم منقول دی.چه رسول الله ﷺ د یوے وونے دلاندے ایسارشوے وو.حضرت عبدالله بن عمر ﷠ به دغه وونے ته اوبه ورکولے.اودهغے خسمانه به نے کوله .چه ووچه نشي.خلاصه دا چه د اتباع سنت،حب رسول، زهدفي الدنیا ، په اعتبار سره د دوی نظیرډیر کم وو.
حضرت عبدالله بن عمر ﷠ په عبادله اربعه کښے یو دے.دغه شان په هغه شپږ مکثرینو صحابو﷢ کښے دے.(۳) دکومو نه چه د ټولو نه زیات روایات مروی دی.دحضرت عبدالله بن عمر ﷠ نه ټول دوه زره،شپږ سوه اودیرش احادیث مروی دی.په دے کښے متفق علیه یوسل اویا اویواتیا کښے بخاری منفر دے.اومسلم صرف په مسلم کښے یودیرشت دی.)

---

(۱) عمدة القاری(۱۱۸/۱) وتقریب التهذیب (ص.۱۸۳)۔
(۲) عمدة القاری(۱۱۸/۱) وفتح الباری(۴۹/۱)۔
(۳) دمکثرینوتفصیل هم وړندے د بدء الوحی په څلورم حدیث کښے دحضرت عائشے رضی الله عنها په تذکره کښے تیر شوے دے.فارجع إلیه إن شئت)۔

په مکه مکرمه کښې دحضرت عبدالله بن زبير ﷺ د شهادت نه درې يا شپږ مياشتې پس په ۷۳ھ کښې وفات شو. په مقام محصب يا فخ کښې دفن کړے شو.(۱)

قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ: رسول الله ﷺ فرمائي. اسلام په پنځو ستونو ولاړ دے. يو ددے خبرے ګواهي چه دالله تعالى نه سوا بل څوك دعبادت لائق نشته اوداچه محمد ﷺ دالله تعالى رسول دے. دويم مونځ قائمول، دريم د زکواة ورکول، څلورم حج اوپنځم د رمضان د روژو نيول.

قوله: بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: دلته کښې يواشکال دا دے چه ارکان اربعه په حقيقت کښې مبني دي. اوشهادتين مبني عليه دے. ځکه چه د شهادتين نه بغيرد باقي ارکان اربعه څه حقيقت نشته. نو سوال دا دے چه مبني اومبني عليه دواړه ئے د يو مسمى لاندے څنګه جمع کړل. يعنى مبني او مبني عليه ټولو ته اسلام څنګه اووئيلے شو؟

ددے جواب دا دےچه دا ممکن ده. چه يوڅيزپه بل څيزمبني وي. اوبيا په دے دواړو باندے يوبل څيزمبني وي. دلته اعمال اربعه په شهادتين منبي دي. اود دواړو په مجموعة باندے اسلام مبني دے. يعنى د اسلام وجود ددے پنځو په وجود باندے دے.

دويم اشکال دا دےچه په مبني اومبني عليه کښې مغايرت وي. حالانکه دلته چه کوم ارکان خمسه دي. هم دا اسلام دے. نوبيا اسلام مبني على الارکان الخمسه څنګه ګرځولے شي؟

ددے جواب دا دےچه دلته د جزء اوکل مغايرت دے. د ارکان خمسه ځانله ځانله افراد د مجموعے نه مغاير دي. صرف شهادتين مجموعه خمسه يا اسلام نه دے. دغه شان صرف صلاة مجموعه خمسه نه ده.

قوله: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ: په ،،شهادة،، باندے درے واړه اعرابات جائز دي. که مجرور وي. نود ،،خمس،، نه بدل دے. اوکه منصوب وي. نود فعل محذوف مفعول دے. لکه ،،اعني،، اوکه مرفوع وي. نوبيا خودا د مبتدا محذوف دپاره خبردے. «أي أحدها شهادة...» اويا دخبر محذوف دپاره مبتدا ده. «أي منها شهادة...»

قوله: وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ: د توحيد اوُرسالت شهادت دټولو ديني عقائدو دپاره عَلَم دے. په کوم ځائے کښې چه په شهادت وغيره باندے د نجات ترتب ذکردے. نودهغے نه مراد ټول عقائد دينيه دي. اومطلب دا دےچه کوم کس په امور معتبره في الايمان باندے ايمان راوړي. هغه به ناجي وي. نودغه شان دلته هم صرف شهادتين مراد نه دي. بلکه هغه ټول

---

(۱) ددوي دحالاتودپاره اوګورئ (تهذيب الأسماء واللغات(۱/۲۷۸، ۲۸۱) عمدة القاري(۱/۱۱۶) وتذكرة الحفاظ (۱/۳۷، ۴۰) وسير أعلام النبلاء (۳/۲۰۳، ۲۳۹)_

امور مراد دى.دكومو چه په ايمان كښے يقين اواعتقاد كول ضرورى وى.

قوله: وَإِقَامِ الصَّلَاةِ: د ..اقامت صلاة.. معنى ده.مونځ په هر جهت اوهرحيثيت سره ټيك كول.په دے كښے دمونځ فرائض.واجبات.سنن .مستحبات اوبيا په دے باندے دوام اوددے التزام دا ټول امور د اقامت دين په مهفوم كښے داخل دى.

قوله: وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ: په دے كښے د ..صوم.. اضافت ..رمضان.. طرف ته شوے دے.او ..رمضان.. بغير د .شهر.. نه استعمال شوے دے.په دے كښے اختلاف دے.چه د رمضان سره د ..شهر.. لفظ استعمالول ضرورى دى اوكه نه؟

دجمهوروعالمانو ﷭ په نيزد ..شهر.. نه بغير د ..رمضان.. تلفظ صحيح دے.

دبعضے عالمانو ﷭ په نيز بغيرد ..شهر.. نه د ..رمضان.. ونيل مكروه دى.ځكه چه ابن عدى حديث نقل كړے دے.چه ((لاتقولوا رمضان فإن رمضان من أسماء الله تعالى ولكن قولوا شهر رمضان))(١)

دځه حضراتو وينا ده.كه څه قرينه وى.چه دهغے نه معلوميږى.چه د رمضان نه مراد هم مياشت ده.نوجائزګنى مكروه دے.حديث باب اونور حديثونه د جمهورو تائيد كوى.(٢) والله اعلم.

دحديث په الفاظو كښې تقديم اوتاخير ددے نه پس په دے پوهه شئ:چه ددے حديث په الفاظو كښے څه اختلاف دے.

په بخارى كښے په دے مقام كښے حج په صوم باندے مقدم كړے شوے دے.امام مسلم رحمه الله دا په خپل صحيح كښے په څلورو سندونو باندے ذكر كړے دے.په اول اوڅلورم سند كښے ئے صوم په حج باندے مقدم كړے دے.اوپه دويم اودريم سند كښے ئے حج په صوم باندے مقدم كړے دے.(٣)

دامام بخارى رحمه الله په نيز چه كوم دتقديم الحج على الصوم روايت دے.دبخارى ترتيب هم ددے موافق دے.ځكه چه دزكاة نه د فراغت نه پس ئے كتاب المناسك راوړے دے.اودهغے د فراغت نه پس ئے كتاب الصوم راوړے دے.

بيا په مستخرج ابى عوانه كښے هم دا روايت مروى دے.په هغے كښے حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائى.((اجعل صيام رمضان آخرهن كما سمعت))(٤)

---

(١) الكامل لابن عدى (٥٣/٧) ترجمة نجيح أبى معشر المدينى السندى مولى بنى هاشم)_

(٢) د تفصيل دپاره اوګورئ أوجزالمسالك (٥/٦، ٧) كتاب الصيام باب ماجآء فى رؤية الهلال والفطر فى رمضان)_

(٣) صحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان أركان الإسلام ودعائمه العظام)_

(٤) عمدة القارى(١٢١/١)_

بهرحال دلته دا شبه پيدا شوه چه رسول الله ﷺ حج په صوم باندے مقدم کړے دے یا دد ے په عکس
ددے جواب داسے خو آسان دے چه مونږ په دے کښے یوروایت په ..روایت بالمعنی.. باندے حمل کړو خکه چه روایت بالمعنی دجمهورو په نیزتیک دے
خودلته یواشکال دا هم شوے دے چه د مسلم په یوسند کښے دا راغلی دی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه چه کله دا حدیث بیان کړلو نووے فرمائیل «وصیام رمضان والحج» ددوی په سامعینو کښے یوکس یزید بن بشرسکسکی حدیث تیر کړل او وے وئیل «الحج وصیام رمضان» نو دوی اوفرمائیل «لا، صیام رمضان والحج، هٰذا سمعته من رسول الله ﷺ»(١)نومعلومه شوه چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه بتقدیم الصوم علی الحج اوریدلی دی.
بعضے حضراتو دلته کښے هم هغه د روایت بالمعنی قول اختیار کړے دے اووئیلے ئے دی چه دمسلم هغه روایت اصل دے چه په هغے کښے صوم رمضان په حج باندے مقدم شوے ده.اوپه بخاری کښے یوراوی تقدیم اوتاخیر کړے دے.هغه ته د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نهی معلومه نه وه.( )
امام نووی رحمه الله فرمائی.دلته دوه احتمالات اظهر دی.یودا چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا روایت د نبی ﷺ نه دوه خله اوریدلے وی.یوځل د تقدیم الحج علی الصوم او په بل ځل تقدیم الصوم علی الحج اوریدلے دے.دوی په مختلفو وختونوکښے په دواړو طریقو سره دا روایت اوړولے دے.کله چه هغه سړی فتح ورکړله. نوحضرت ابن عمر رضی الله عنه هغه منع کړلو.چه ته په داسے خبره باندے ولے فتح راکوے.چه دهغے تاته کما حقه علم اوتحقیق نشته.ما د رسول الله ﷺ نه هم داسے اوریدلے دے.څنګه چه ما بیان کړلو.ددوی په دے روایت کښے د نورو الفاظو نفی ده.
دویم احتمال دا دے.چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه په دواړو طریقو دا روایت د نبی ﷺ نه اوریدلے وی.اوهم دغه شان ئے روایت کولو.خوچه کله هغه کس فتح ورکړله.نودهغوی نه هغه صورت هیر شوے وی.دکوم چه هغه تردید اوکړلو.نوځکه هغوی ..لا.. اووئیل.اودهغے تردید ئے اوکړلو.(٣)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه د بخاری روایت، په روایت بالمعنی باندے محمول دے. یا خو راوی د تعدد مجلس په وجه د حضرت ابن عمر رضی الله عنه واؤ نه ریدل.یا مجلس ته خوحاضر شوے وو.خوهیر شوی وو ترے.(٤)

(١) صحیح مسلم کتاب الإیمان باب بیان أرکان الإسلام ودعائمه العظام رقم(١٢٠)_
(٢) شرح نووی علی صحیح مسلم (٣٢/١) کتاب الإیمان باب بیان أرکان الإسلام)_
(٣) پورتنۍ حواله)_
(٤)فتح الباری(٥٠/١)_

حافظ رحمه الله فرمائى.چه امام نووى رحمه الله دنسيان كوم احتمال صحابى رضي الله عنه ته منسوب كولو رجحان ښكاره كړے دے.دا صحيح نه دے.بلكه احتمال د نسيان راوى طرف ته منسوب كول مناسب دى.«تطرق النسيان إلى الراوى عن الصحابي أولى من تطرقه إلى الصحابي» بيا خاص كرچه امام بخارى رحمه الله دحنظله په سند سره دلته روايت كړے دے.هم ددے حنظله نه په مسلم كښے بالعكس روايت نقل دے.بيا هم دا حنظله په مسند ابى عوانه كښے په يو بل انداز سره د تقديم الصوم على الحج روايت نقل كوى.لكه مونږ چه ئے وړاندے الفاظ ذكركړل.دا تنويع په دے خبره دلالت كوى.چه دوى روايت بالمعنى كړے دے.دلته دا نشي وئيلے.چه صحابى ﷺ په درے طريقو سره دا حديث اوريدلے دے.ځكه چه دا خبره بعيده ده.( )
په دے جوابونو خودا اشكال ختميږى.البته دا اشكال پيدا كيږى.چه په بخارى شريف كښے روايت بالمعنى منل د بخارى رحمه الله دشان سره موافق نه دى.ځكه چه امام بخارى رحمه الله خپل روايت اصل ګرځولے دے.اود كتابونو ترتيب ئے هم دا كيخودے دے.
نوددے جواب به دا وركولے شى.چه دلته روايت بالمعنى نه دے.بلكه دامام نووى رحمه الله په بيان كړى دوو صورتونوكښے اولنے صورت دے.چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه دا روايت د نبى ﷺ نه په دواړو طريقو سره اوريدلے وو.اوهغه به دواړه قسمه روايات كول.يوځل چه هغوى بتقديم الصوم روايت اوكړلو.نويو كس ورته فتح وركړله.چه تاسو بتقديم الحج روايت كوئ.نوپه هغه باندے دوى رد اوكړلو.چه زه ځنګه اورول كوم.صحيح اورول كوم.ما د رسول الله ﷺ نه هم داسے اوريدلى دى.
ددے نه د دويم صورت نفى ځكه نه كيږى.چه «هكذا سمعته من رسول الله ﷺ» مطلب دا نه دے.چه ما د رسول الله ﷺ نه هم دا اوريدلى دى.اودا هم داسے دے.لكه ځنګه چه په حديث كښے دحضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه قصه راغلے ده.چه هغوى دحضرت هشام بن حكيم بن حزام سره خواه كښے تيرشو.هغه په مونځ كښے سورة فرقان لوستلو.حضرت عمر رضي الله عنه ته دهغه قراءت اجنبى محسوس شو.ځكه چه هغه ځنګه قراءت كولو.حضرت عمر رضي الله عنه د نبى ﷺ نه هغه شان نه وو اوريدلے.دمانځه نه پس هغه حضرت هشام لاس نيولے نبى ﷺ ته بوتلو.اوقصه ئے ورته بيان كړه.نبى ﷺ اول د هشام نه سورة واوريدلو.اووے فرمائيل.«هكذا أنزلت» ( ) دويم قراءت نفى ئے اونكړله.دغه شان چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائل.چه «هكذا سمعته..» ددے نه د دويم روايت نفى نه كيږى.والله اعلم.
حافظ ابن صلاح رحمه الله دلته دحضرت ابن عمر رضي الله عنه د رد كولو نه ددے خبرے ثابتولو كوشش هم كړے دے.چه ،،واو،، دترتيب دپاره استعماليږى.(٣)

(١) فتح البارى(٥٠/١)_
(٢) دپوره واقعه دتفصيل دپاره اوګورئ جامع ترمذى كتاب القراءت باب ماجاء أنزل القرآن على سبعة أحرف)_
(٣) شرح نووى على صحيح مسلم (٣٢/١)كتاب الإيمان باب بيان أركان الإسلام ودعائمه العظام)_

خودا خبره تپلئ نه ده. اول خو د جمهور په نیز. .واو. . په ترتیب باندے دلالت نه کوی. دویمه دا ممکن ده چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د نبی ﷺ د الفاظو د خیال ساتلو د وجے تردید اوکړلو. اگرچه روایت بالمعنی جائز دے خوبعینه په دے ترتیب باندے ساتل غوره دی. اودا هم داسے دے چه نبی ﷺ سعی کوله نو وے فرمائل .«نبدأ بما بدأ الله به»[1] اوبیا نبی ﷺ د صفا نه سعی شروع کړه. ځکه چه آیت ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَائِرِ اللَّهِ﴾[2] کښے د . .صفا. . ذکر مقدم دے. نونبی ﷺ ددے ذکر مقدم کیدو رعایت اوکړلو. او د سعی ابتداء ئے د صفا نه اوکړله. دلته کښے هم حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دنبی ﷺ د الفاظو دترتیب رعایت کولو. اود دویم صورت تردید ئے اوکړلو ددے وجے نه چه . .واو. . په ترتیب باندے دلالت کوی. والله اعلم.

د ایمان او اعمال بلیغ تشبیه بیا پوهه شئ: چه نبی ﷺ د دے حدیث په مختصرو الفاظو کښے یوه اهمه خبره اوخودله. اودا ئے بیان کړل چه په اسلام کښے بنیادی طور تصدیق ته دټولونه زیات اهمیت حاصل دے. ددے نه پس داعمالو نمبر دے. نبی اکرم ﷺ ددے اهمیت اونوعیت طرف ته د اشارے دپاره یومثال ورکړلو. چه داسے اوګنړئ چه یوه خیمه وی. اوخیمه په خپل عمود (ستن) او اطناب (ګیرچاپیره پړی) باندے ولاړه وی. دغه شان د ایمان د آسمان هومره د اوچت عمارت مثال دے. چه په دے کښے دننه اصل بنیاد شهادتین دی. اوددے نه پس بیا داعمالو درجه ده. لکه څنګه چه بنیاد په نظر سره نه راځی. دغه شان تصدیق باطنی په قلب کښے د دننه کیدو د وجے په نظرنه راځی. اوس دا اعمال اربعه په کومه درجه کښے دی. اوددے نوعیت څه دے؟ ددے په باره کښے صراحةً خونشی وئیلے. خواحادیثو دمطالعے نه دا معلومیږی. چه په دے کښے دټولونه زیات اهمیت مونځ ته حاصل دے. بعضے عارفینو رحمهم الله دابیان کړے دے. چه په دے څلوروعباداتو کښے دوه اصل دی. اودوه تابع دی. صلاة اصل دے. او زکاة تابع دے. اوحج اصل دے صوم تابع ده.

ددے د پوهیدلو دپاره دا زده کړئ: چه ټول عبادتونه ددے دپاره مقرر شوی دی. چه بنده دخپل خالق بندګی اوکړی. اود خالق دوه قسمه شان دے. یود سلطنت عظمت اوملوکیت شان دے. اودویم ئے جمالی یعنی د محبوبیت شان دے. چه څومره عبادات دی. په هغے کښے دا دواړه قسمه شانونه ځلیږی. په هرعبادت کښے دالله تعالی دعظمت اومحبت خیال ساتلے شوے دے. خوپه بعضے عباداتو کښے شان عظمت اودهغه شان محبت غالب دے. او په بعضو عبادتونو کښے ملوکیت غالب دے. یعنی دالله تعالی د شان سلطنت ظهور زیات وی. اوپه بعضو کښے دشان محبت ظهور زیات وی. په صلاة اوزکواة کښے د شان سلطنت زیات ظهور دے. اوپه حج اوصوم کښے د شان محبت زیات ظهوردے.

مونځ څه څیزدے؟ لکه چه په یودربار کښے حاضری ده. سرکاری اعلان کونکی اعلان اوکړلو.

---

(۱) الحدیث أخرجه مالک فی الموطأ عن جابر رضی الله عنه فی کتاب الحج باب البدء بالصفاء فی السعی وأخرجه مسلم فی الحدیث الطویل فی صفة حجة النبی ﷺ انظر کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ)_

(۲) سورة البقرة:۱۵۸)_

ـمدستى تيارى اوشوه.پاك صفا شى.اودربار ته حاضر شى.
اوزكاة څه څيز دے؟د زكواة مثال داسے دى لكه چه د شاهى دربار نه سرى ته انعام ملاويږى. اود بادشاه دطرفه داحكم هم كيږى چه كله بهر ته اوځى.اود دربار نه بهرفقيران اومسكينان وينى،نوهغوى ته څه وركوى.
اوپه حج اوصوم كښے د شان محبوبيت ظهور زيات وى.څكه چه د محبت ميوه خوراك څكاك. اوخوب پريخودل.اود محبوب لاړو كوڅو كښے ګشت كول دى.چه كله د چا په سر كښے د عشق سودا وى.نودهٔولو نه وړاندے هغه خوراك څكاك پريږدى اوبيا ئے خوب ختم شى.اوپه آخره كښے داسے اوشى.چه هغه دخپل محبوب د لاړو كوڅو چكرونه لګول شروع كړى الله تعالى دخپل محبوبيت د اظهار دپاره روژه فرض كړه.نوخوراك څكاك پريږده.اود شپے تروايح كوه.اوكله چه په انسان كښے د عشق څه خوند ملاؤ شو نوددے نه وړاندے مرحله راغله.اوحج فرض شو.ددےوجے د روژو نه پس د حج مياشتے وى.
بهرحال دالله تعالى چه څومره عبادتونه دى.په ټولو كښے دالله تعالى شان سلطنت وعظمت او شان جمال ومحبوبيت په نظرراځى.خوپه څه كښے كم او په څه زيات. (١)
ما دا عرض كولو.چه په دے اركانو كښے كوم ركن ته اهميت حاصل دے.هغه ددے تقرير نه په پوهه كښے راځى.چه مونځ اصل اوزكواة تابع دے.دغه شان حج اصل اوروژه تابع ده.ښكاره ده چه صلاة ته به په زكواة ترجيح حاصل وى.اوحج ته په صوم باندے ترجيح حاصل وى.
باقى پاتے شو مونځ اوحج.چه په دے كښے د نبى ﷺ فيصله وړاندے كيخودے شى . چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.د قيامت په ورځ به دټولو نه وړاندے د بنده نه د مونځ په باره كښے تپوس كيږى. (٢)دا ددے خبرے دليل دے.چه مونځ د ټولو نه اهم دے.څكه چه ددے په باره كښے به دټولو نه وړاندےتپوس كيږى. والله سبحانه اعلم
بهرحال نبى ﷺ په دے حديث كښے د اسلام تشبيه دهغه خيمهٔ سره وركړے ده.چه په هغے كښے يوعمود اوڅلور اطناب وى.عمود په مينځ كښے وى.هغه ستن ده چه په هغے باندے خيمه ولاړه وى.اوڅلوراطناب څلور پړى دى.
په دے تشبيه كښے مقصد دا دے.چه لكه څنګه په يوه خيمه كښے عمود ولاړ وى نو خيمه به قائمه وى.اوكه عمود په زمكه راپريځوى.نوهغه خيمه به هم په زمكه دننه خوره شى.اوبے مصرفه اوبے استعماله به شى.نه په هغے سره دګرمئ نه حفاظت ملاويږى.اونه د يخنئ نه بچ كيدل،هم دغه شان په اسلام كښے د «شهادة أن لاإله إلاالله وأن محمداً رسول الله» حيثيت د عمود

---

(١) فتح الملهم(١/٥١٨، ٥١٩)_
(٢) سنن نسائى (١/٨١)كتاب الصلاة باب المحاسبة على الصلوات جامع ترمذى أبواب الصلاة باب ماجآء أن أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة رقم.٤١٣) سنن ابوداود كتاب الصلاة باب قول النبى ﷺ كل صلاة لايتمها صاحبها تتم من تطوعه رقم (٨٦٤،٨٦٦) سنن ابن ماجه كتاب إقامة الصلاة باب أول ماجآء فى أول ما يحاسب به العبد الصلاة:رقم(١٤٢٥، ١٤٢٦)_

دے.ترخوچه دا شهادت موجود وی .نواسلام به موجود وی.اوکه دا شهادت موجود نه وی.نوکه مونخ روژه،حج اوزکواة تول موجود وی.ددے څه اعتبار نشته.لکه څنګه چه په خیمه کښے عمود نه وی.اوڅلور واړه رسئ په میخونو پورے تړلے شوے وی.نوخیمه په زمکه پرته وی.اودریدے نشی.اوددے نه فائده نشی اخستے.هم په دے طریقه که شهادت نه وی.نود باقی ارکانو څه فائده نشته.په آخرت کښے د «نجاة من الخلود فی النار» حقیقی فائده په شهادت باندے موقوف ده.

بیا دغه شان که په خیمه کښے رسئ د یومیخ نه پرانستے شی.نوبل طرفه خیمه سسته شی.اوزوړنده شی.اودا د کمزورئ نښه ده.دغه شان که شهادت موجود وی.خو مونځ نه وی.نوداسلام خیمه به هم ددغه طرفه سسته شی.که د بل طرف نه ته رسئ پرانیځې.نودهغه طرف نه به هم سسته شی.دغه شان که ته د مونځ سره روژه هم پریږدے.نودبل طرف نه به هم اسلام کمزورے شی.

بهرحال خلاصه دا چه دشهادت حیثیت دعمود دے.اود باقی څلورو ارکانونه د فائدے اخستلو دپاره د عمود قائم کیدل ضروری دی.اودا چه رسئ د اوموږو سره تړل پکاردی.که په رسوکښے بعضے یا تولے سستے شی.نوپه خیمه کښے دنه کمزوری راځی.

دغه شان شهادت که وی.اوپه ارکان اربعه کښے تول یا بعضے پریخودے شی.نوپه اسلام کښے به هم کمزوری راځی.

حضرت حسن بصری رحمه الله اومشهوشاعرفرزدق: روایت دے.چه حضرت حسن بصری رحمه الله او فرزدق په یوه جنازه کښے جمع شول . نوحضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل. «ما اعددت لمثل هذه الحالة؟» تاددے حالت دپاره څه تیارے کړے دے؟فرزدق اوونیل «شهادة أن لا إله إلا الله» حضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل «هذا العمود فأين الأطناب» دا خو عمود دے.اطناب څه شو؟دخیمے نه د پوره فائدے اخستلودپاره د عمود سره سره د اطناب هم ضرورت وی.دهغے هم اهتمام کول پکار دی؟[1]

بهرحال ددے بلیغ تشبیه نه د شهادت حیثیت واضح شو.چه دا اساس اوبنیاد دے.اود باقی ارکانو حال هم معلوم شو.چه ددے حیثیت دشهادتینو پشان خو نه دے.خوچه په دے کښے یوهم پاتے شی.نوداسلام په عمارت کښے کمزوری راځی.اودا به مکمل نه وی.

په دے کښے د مرجئو هم رد دے.چه دوی اعمال ضروری نه ګڼړی.که په خیمه کښے د عمود سره اطناب ضروری دی.نوشهادت سره باقی ارکان هم ضروری دی. دا غیرضروری نشی ګرځولے.

---

(۱) شرح کرمانی(۱/۸۰)_

يواشكال اودهغې جواب: دلته يواشكال دے.هغه دا چه داسلام خو نور هم ډيرارکان دی. دجهاد حکم دے. د حقوقوسره متعلق نور ډيرفرائض دی.دهغې ذکرنشته.صرف د پنځه څيزونو په ذکر سره اکتفاء شوے ده؟

ددے جواب دا دے.چه په دے پنځو څيزونو څکه اکتفاء شوے ده.چه دا مشهور دی. بعضے حضرات فرمائي.چه عبادات به ياقولی وی يا غيرقولی.شهادتين قولی دی. او غير قولی به ياترکی وی لکه روژه اويابه وجودی وی.بيا وجودی به يا بدنيه وی.يا ماليه يا مرکبه من البدن والمال دلته کښے دهريويه بعضے مثالونو باندے اکتفاء اوکړے شوه.په پنځو کښے حصر مقصود نه دے.

داسے هم ونيلی شی.چه عبادات به يا د قلب سره متعلق وی يا نه. داولنی صورت مصداق شهادتين دی.اوکه متعلق بالقلب نه وی.نوبيا دوه صورتونه دی.يا به ايجابی وی يا به سلبی وی.دسلبی مصداق روژے دی.اوکه ايجابی وی.نوبيا به دا يا متعلق بالبدن وی يا متعلق بالمال يا متعلق بالبدن والمال جميعاً وی.متعلق بالبدن مونځ شو.بال زکواة شو.اودبالبدن والمال جميعاً مصداق حج شو.دلته د مثال په طور يو يو څيز ذکر کړے شو.

يوه توجيه هم هغه ده.کومه چه وړاندے تيره شوے ده.چه په «لااله إلا الله محمد رسول الله»کښے دالله تعالی حاکميت،توحيداو د رسول اللهﷺ د رسالت اقرار دے.اودالله تعالی دوه قسمه شوون دی.يوشان حاکميت اوبل شان محبوبيت،دشان حاکميت ظهور په مونځ اوزکواة کښے اوشو.اودشان محبوبيت اظهارپه روژه اوحج کښے اوشو.په دے پنځوکښے حصرمقصودنه دے.**يوه نکته:** علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی.چه علامه انورشاه کشميری رحمه الله د مذاکره په دوران کښے يومضمون ذکر کړے دے.چه په کوم ځائے کښے د شهادت عنوان سره د توحيد ذکر وی.نودے سره به هلته د رسالت ذکر هم وی.په حديث الباب کښے هم دا صورت دے.اوپه کوم ځائے کښے چه د شهادتين عنوان نه وی.نوهلته عام طور داسے کيږی.چه صرف دتوحيد په ذکر باندے اکتفاء کولے شی.د رسالت ذکر نه وی.لکه دنبیﷺ ارشاد گرامی دے.«من کان آخر کلامه لااله إلا الله دخل الجنة» (١)او«لقنوا موتاکم قول لااله إلا الله» (٢)دغه شان «أفضل الذکر لااله الا الله» (٣)

---

(١) سنن أبي داود كتاب الجنائزباب فی التلقين رقم(٣١١٦)_

(٢) دهورتنی حواله حديث نمبر(٣١١٧)_

(٣) سنن ترمذی كتاب الدعوات باب ماجآء أن دعوة المظلوم مستجابة رقم (٣٣٨٣)_

حضرت كشميرى رحمه الله ددے فرق نكته دا بيان كړے ده.چه دشهادت نه مقصد د زړه د عقيده اوايمان اظهاركول دى.په «لااله الا الله» كښے دوه احتمالات دى.كله خوددے په وئيلو كښے دعقيدة اظهارمقصود وى اوكله دعقيده اظهارنه وى صرف ذكر مقصود وى.په خلاف د «محمد رسول الله»په دے كښے صرف اظهار د عقيدة مقصود وى.چاهم دا په ذكر كښے نه ده شمار كړے چونكه د شهادت په عنوان سره دعقيدة بيان كيږى.نوځكه ددے سره د نبى ﷺ رسالت هم ذكر كوى.اود شهادت دعنوان نه بغيرذكر هم مقصود وى.نوځكه د رسالت د يادولو نه بغير صرف په توحيد باندے اكتفاء كولے شى.(١)

تنبيه دلته كښے لږ غوندے اشكال پيدا كيږى.چه «محمد رسول الله» هركله په ذكر كښے داخل نه دے.نوصوفيائے كرام رحمهم الله ددے تلقين ولے كوى؟

ددے جواب دادے.چه ذكر كونكو ته چه د «لااله الا الله» سره د «محمد رسول الله» يوځائے كولو كوم تلقين كولے شى.دا ددے وجے نۀ چه دا د دويم د ذكر حصه ده . بلكه ددے وجے چه هسے نه د «لااله الا الله» په كثرت تكرار اوپه دے كښے د مشغولتيا په وجه دے د رسالت دعقيدة نه غفلت اوكړى.اوپه دے كښے څه قسم كمزورى راشى.نوځكه وئيلى شى.چه د«لااله الا الله» سره دا هم په مينځ مينځ كښے وئيلى شى.

حافظ ابن تيميه رحمه الله اوذكرمفرد حافظ ابن تيميه رحمه الله ديرلوئے شخصيت وو اوډيرربانى بزرګ وو.هغوى د ..الله ،الله.. ذكر مفرد په سختئ سره انكار كړے دے.اوفرمائيلے ئے دى. چه دا ذكر بدعت دے.ځكه چه دا علم دے.اود علم په باربار وئيلو كښے څه فائده نشته.ذكر پكار دے چه .سبحان الله.. وى.چه په دے كښے دالله تعالى تقديس بيان شوے دے. ..الحمدلله.. وى.چه په دے كښے دالله تعالى حمد اوثنا بيان شوے ده...لااله الاالله،، چه په دے كښے د الله تعالى د توحيد بيان دے.صرف ،الله الله.. وئيل دا ئے مقصوده اوبے فائدے دى خو ددوى دا خبره ډيره كمزورے ده.اودهغوى دشان سره مناسب نه ده.ځكه چه دا كتل دى چه په ذكر كولو كښے دچا فائده مقصود ده.بنكاره ده.چه دالله تعالى په كښے څه فائده نشته.ځكه كه يو كس ..سبحان الله سبحان الله..وائى.نودالله په شان تقديس كښے څه اضافه نه راځى.دغه شان د «لااله الله» په وئيلو سره دالله تعالى په صفت وحدانيت كښے څه اضافه نه راځى.البته ذكركونكى ته په دے باندے فائده ملاويږى.چه د ..سبحان الله،، په تكرار سره دده په زړه كښے د الله تعالى شان قدوسيت راسخ كيږى.دغه شان په تحميد

(١) درس بخارى(١٤٢/١) وفضل البارى(٢٩٩/١، ٣٠١)_

اوتقدیس سره دالله تعالی محمودیت اووحدانیت په زړه کښې راسخ کیږي.بعینه هم دا فائده په ..الله الله.. ذکرمفرد باندے هم مرتب کیږي.په دے سره د سړي په زړه کښې دالله تعالی د صفات کمالیه استحضار اورسوخ راځي.ځکه چه ..الله.. د «ذات واجب الوجود مستجمع لجمیع صفات الکمال» دپاره علم ګرځولے شوے دے.ښکاره چه د ..الله الله.. په تکرار سره به ددے ذات اودده د صفاتو استحضار راځي اودا به په زړه کښې راسخ کیږي.لکه چه کوم فوائد په نورو ذکرونو کښې دي.نوپه دے کښې هم شته.
بیا ددے نه علاوه دے ته بدعت ونیل څنګه ټیك کیدے شي.حالانکه په حدیث کښې دي.
«لاتقوم الساعة حتی لایقال فی الله: الله الله»(۱)
دا خبره دے ښکاره وي.چه د ذکرمفرد په جواز باندے آیت قرآني ﴿قُلِ اللّٰهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ﴾(۲) سره استدلال کولے شي.چه دلته صرف ..الله.. موجود دے.خودا استدلال کمزورے دے.ځکه چه دا د سوال جواب دے.دلته ..الله..مفرد مراد نه دے.بلکه د ماقبل سره دملا وهلو نه پس به دا مرکب کیږي.(۳) والله اعلم.
دامام بخاري رحمه الله مقصد: امام بخاري رحمه الله ددے حدیث په راوړلو کښې دا ښائي.چه ایمان مرکب دے.اوچه کوم څیزمرکب وي.هغه قابل د نقصان اوزیادت وي.دامام بخاري رحمه الله مقصد هم دا ښکاره کوي.چه ایمان د پنځو څیزونو نه مرکب دے.چونکه دا پنځه څیزونه په هرکس کښې مکمل نه وي.څوك په مونځ کښې کوتاهي کوي.څوك د زکواة په ادا کولو کښې اوڅه خلق دحج اوروژے په ادا کولو کښې سستي کوي.دا ټولے داسلام علامات دي.په دے کښې دتفاوت په اعتبارسره د ایمان په مراتبو کښې هم فرق راځي.امام بخاري رحمه الله خپله مدعي داسے ثابتوي.چه داعمالو کمے زیاتے د ایمان په کمي زیاتي باندے دلالت کوي.
ددے جواب دا دے.چه احناف رحمهم الله د ایمان دترکیب او ددے د زیادت اونقصان نه مطلقاً منکر نه دي.هغوي هم دا مني.البته دوي اعمال د کامل ایمان جزء ګڼړي.نوڅه اختلاف پاتے نشو.(۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

❁❁❁

---

(۱) صحیح مسلم (۸٤/۱) کتاب الإیمان باب ذهاب الإیمان آخرالزمان)_
(۲)سورة الأنعام:۹۱)_
(۳) دتفصیل دپاره اوګورئ (۳۰۰/۱)_
(۴) فضل الباري(۳۱۳/۱)_

۲= باب امور الایمان

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى ﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَآتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَآتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَأْسِ ۗ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۖ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ﴾(۱)

قوله: وَقَوْلِهِ ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ....﴾(۲): په بعضے نسخوكښے د ((أمور الإيمان)) په ځائے ((أمر الدين)) دے.په دے صورت كښے به جنس اخستلے شي(۳) په دے كښے درے احتمالات دي.

① يودا چه دا اضافت بيانيه دے.يعني ((باب الأمور التي هي الإيمان)) دا د امام بخاري رحمه الله د مدعا مطابق دے.

② دويم صورت دا دے.چه اضافت په معنى د ،،في،، دے.تقديريه دا وى.((باب الأمور الداخلة في الإيمان)) دا صورت هم د امام بخاري رحمه الله د مدعا مطابق دے.

③ دريم صورت دا دے.چه دا اضافت لاميه دے.او داسے به ونيلى شي.((باب الأمور التي هي مكملة للإيمان)) په دے صورت كښے دا اعمال د ايمان جزء نه دے . بلكه مكملات دي.او د امام بخاري رحمه الله مدعا ترے نه ثابتيږي.(۴)

د ترجمة الباب مقصد او د ماقبل سره ربط: امام بخاري رحمه الله وړاندے اصول بيان كړل.او اوس د فروعو بيانول غواړي.(۵)

دشارحينو رحمهم الله د كلام نه معلوميږي.چه امام بخاري رحمه الله يا خو دا خودل غواړي.چه ايمان يو داسے مكمل څيز دے.چه د ډيرو اجزاؤ او اركانو د يو ځائے كيدونه پوره كيږي.او يا دا خودل غواړي.چه ايمان يو حقيقت مركبه دے.چه د دے ډير اجزاء تركيبيه دي.چه د دے د يو ځائے كيدو نه پس د دے تحقق كيږي.په اولنى صورت كښے خولكه چه امام بخاري رحمه الله دا اشاره اوكړله.چه دا امور مكملات د ايمان دي .او په دويم احتمال دا اشاره ده.چه د دے امورو په وجود سره د ايمان د حقيقت وجود راځي.خو امام بخاري رحمه الله چه څه په ((أبواب كتاب الإيمان)) كښے ذكر كړي دي . د هغے نه معلوميږي.چه اعمال د ايمان مكملات دي.(۶)

---

(۱) البقرة:۱۷۷)_

(۲) المؤمنون:۱)_

(۳) فتح الباري(۱/۵۰)_

(۴) عمدة القاري(۱/۱۲۲)وفتح الباري(۱/۵۰) ولامع الدراري(۱/۵۴۷، ۵۳۸)_

(۵) فضل الباري(۱/۳۱۳)_

(۶) عمدة القاري(۱/۱۲۲)_

دحضرت گنگوهي رحمه الله نه منقول دي. هغوي فرمائي چه وړاندې دحضرت ابن عمر رضي الله عنه په حديث کښې د پنځو اجزاؤ ذکر وو چاته به دا گمان راتلو چه ارکان بس پنځه دي اوهم پنځه ضروري دي امام بخاري رحمه الله دا باب راوړلو اودا خودل غواړي چه دايمان نور افعال اواعمال هم شته ايمان په پنځو څيزونو کښې منحصر نه دي.(١)

دحضرت گنگوهي رحمه الله نه دا هم منقول دي چه امام بخاري رحمه الله کله دايمان د بساطت اوترکيب دبحث نه فارغ شو نواوس امام بخاري رحمه الله مقتضيات دايمان بيانوي اوپه دې خبره تنبيه ورکوي چه د مومن شان دا نه دې چه د تصديق کولو نه پس به په اعمالو کښې کوتاهي کوي بلکه اعمال کوم چه د ايمان مقتضيات دي مؤمن به ددې اعمالو پوره کول غواړي.(٢)

دا هم ممکن ده چه امام بخاري رحمه الله اول اجمالاً دا اوخودل چه ايمان د قول اوعمل مجموعه ده په دې کښې کمې اوزيادت راځي اوس دلته اجمالي طور د ايمان شعبو ته اشاره کول غواړي اودا خودل غواړي چه د ايمان ډيرې شعبې دي خکه ئې په دې باب کښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث «الإيمان بضع وسبعون شعبة» ذکر کړې دې اوددې باب نه پس چه وړاندې کوم بابونه راځي په هغې کښې ئې د شعب ايمان تفصيل بيان کړې دې لکه چه اول ئې اجمالاً دا اوخودل چه دايمان ډيرې شعبې دي اوبيا په وړاندې بابونو کښې په دغې کښې د بعضو شعبو تفصيل او تعيين کوي د کومو متعلق چه امام بخاري رحمه الله د «الإيمان بضع وسبعون شعبة» روايت ذکر کړې دې.

يوه خبره تاسو دا هم کولې شئ چه امام بخاري رحمه الله ددې باب په راوړلو کښې په مرجئو باندې رد کوي چه تاسو وائې چه طاعت مفيد نه دې اومعصيت مضر نه دې حالانکه دايمان سره د ډيرو احکامو اواعمالو تعلق دې که دغه احکام او اعمال ادا نکړې شي نواسلام بيخي نامکمل پاتې کيږي د اسلام دتکميل دپاره صرف په پنځو څيزونواکتفا نشي کولې بلکه ددې نه سوا د نورو فروعو هم ضرورت دې نو په پنځو باندې هم د مرجئو رد اوشو اوکله چه نورو امورو ته امام بخاري رحمه الله اشاره اوکړله نو دا مزيد رد شو.(٣)

دلته کښې امام بخاري رحمه الله دخپل مقصد دپاره دوه آياتونه ذکر کړل يو ﴿لَيْسَ الْبِرَّ...إلخ﴾ اوبل آيت ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ...الخ﴾

د آيت دترجمې سره ربط په دې کښې د اولنی آيت متعلق دحضرت ابوذر رضي الله عنه نه مروي دي چه دوي د نبي ﷺ نه د ايمان په باره کښې تپوس اوکړلو نو نبي ﷺ په جواب کښې دا آيت اولوستلو.(٤)

---

(١) تعليقات لامع الدراري(١/٥٤۶)_

(٢) لامع الدراري(١/٥٤٩)_

(٣) ايضاح البخاري(١/١٧١)_

(٤) رواه عبدالرزاق –كذا في الفتح (١/٥١) قال الحافظ ورجاله ثقات)_

چونكه دا روايت على شرط البخاري نه وو.نوځكه امام بخاري رحمه الله روايت پريخودلو .او په دےباره كښے ئے آيت ذكر كړلو.(١)
خو سوال دا دےچه دا ځنګه معلومه شوه.چه دا امور كوم چه په آيت شريفه كښے ذكر دی.دا په ايمان كښے داخل دی؟
ددے جواب دا دےچه په آيت كښے ونيلے شوی دی.
﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ﴾ دلتـه كښے ﴿الْمُتَّقُونَ﴾ نه مراد «المتقون من الشرك والمعاصي والأعمال السيئة» دی.اود شرك اومعاصی نه بچ كيدونكی مومنان دی.نومومن داسے كس ته وائي.څوك چه د پورتنو اوصافو مالك وی.نومعلومه شوه.چه په ايمان كښے دا څيزونه داخل دی.(٢)
دغه شان په دويم آيت كښے خو صراحةً د مؤمن صفات شمارلے شوی دی.لكه چه د دواړو آياتونو د «باب أمور الإيمان» ترجمے سره پوره ربط دے.
د آياتونو په ترتيب كښې نكته: دلته تاسو ګورئ چه په دے كښےاولنے آيت د سورة بقره دےاو دويم آيت د سورة مؤمنون دے.د «باب أمور الإيمان» د ترجمے تقاضا دا وه.چه ترتيب برعكس وو . ځكه چه د امام بخاری رحمه الله مدعا دا ده.چه ايمان د اعمالو نه مركب دےپه دے مدعا او مقصد باندے دلالت كولو دپاره ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ آيت زيات واضح دے ځكه چه په دے كښے د مؤمنون لفظ موجود دے.ددےنه پس د ﴿ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ..الخ﴾ په ذريعه د مومنانو صفات شمارلے شوی دی.دا صفات كاشفه دی.كوم چه دا ښائي.چه دا اعمال په ايمان كښے داخل دی.په خلاف د اولني آيت ځكه چه هلته د ﴿الْبِرَّ﴾ لفظ استعمال شوے دے.هلته كښے ددے تاويل ضرورت دے.چه د ﴿الْبِرَّ﴾ اطلاق په ايمان باندے شوے دے.اوددے نه مراد ايمان دے.ددےباوجود امام بخاری رحمه الله داسے اونكړلو.
ددےوجه هم هغه روايت دے.كوم چه مونږ وړاندےبيان كړلو.چه نبي ﷺ دايمان په تفسير كښے د سورة بقره پورته ذكر شوےآيت تلاوت كړلو لكه چه په دےآيت كښے صراحةً امور ايمان ذكر شوی دی.نوځكه دوی دا آيت مقدم كړلو.(٣)
ددےنه علاوه دا هم ممكن ده.چه په﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ كښے ذكر شوی صفات .صفات كاشفه نه وی.بلكه مادحه وی.دامام بخاری رحمه الله مدعا د صفات كاشفه په صورت كښے پوره كيدله.د مادحه په صورت كښے به دا د كمال ايمان بيان وو.لكه چه دا كمالات ذكر كولے شی.كوم چه د مؤمنانو دپاره قابل د مدح او تعريف دی.چونكه دا احتمال موجود وو.

(١) فتح الباري(١/٥١)_
(٢) پورتنئ حواله)_
(٣) ارشاد الساری للقسطلانی(١/٩٢)_

نوخکه ئے دا مقدم نکړلو.ددے په مقابله کښے ئے هغه آیت مقدم کړلو.کوم چه د ایمان د تفسیر په باره کښے وارد شوے دے.والله اعلم

تنبیه تاسو په دے مقام باندے ګورئ چه امام بخاری د ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ نه پس بغیر د څه فصل نه ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ آیت ذکر کوی.ددے په باره کښے زده کړئ.چه د اصیلی په نسخه کښے دلته د دواړو آیتونو په مینځ کښے ..واو.. موجود دے.اود ابن عساکر په نسخه کښے ..وقوله.. فصل موجود دے.(۱)

په دے مقام باندے حافظ ابن حجر رحمه الله دا احتمال ذکر کړے دے چه ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ د ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ تفسیر دے. شارحینو رحمهم الله ددے تردید کړے دے.(۲)

علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه په دے آیت کښے الله تعالی د ذکر شوی صفاتو د حاملینو ذکر اوکړلو.اودے طرف ته ئے اشاره اوکړله.او د ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ په ذریعه لکه چه دا ښائی.چه ددے صفاتو حاملین بس متقیان دی.اوس دلته داسے کومه یوه خبره پاتے شوے ده.چه دهغے تفسیر ته ضرورت وی.بیا دا دعوه د څه حد پورے په هغه وخت کښے ټیک کیدے شوه.چه دواړه آیاتونو متصل وو.حالانکه دلته په قرآن کښے دیو آیت نه بلکه د ډیرو سورتونو فاصله ده.نودا تفسیر ګرځول ډیره بعیده ده.(۳)

بهرحال په کومو نسخو کښے چه دلته څه فصل نشته.نودهغے په باره کښے مونږ دلته دا وئیلی شو.چه چونکه دا خبره ښکاره ده.چه دا دواړه آیتونه بیخی جدا جدا دی. څه قسم التباس په کښے نشته.نوځکه د څه فاصل ضرورت محسوس نکړے شو.(۴)

دآیاتونو تفسیر

قوله ﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ...﴾: کله چه د تحویل قبله حکم راغلو.نوخلقو عجیبه عجیبه خبرے کول شروع کړے.چاوئیل صاحبه ستاسو پیغمبر خوواني.چه زه نبی یم.اود انبیاؤ قبله ئے پریخودله.دبنی اسرائیلو پیغمبران د زرګونو په شماروو.اودهغوی قبله بیت المقدس وو .نبی صلی الله علیه وسلم بیت المقدس پریخودلو.اودالله تعالی په حکم ئے بیت الله قبله جوړه کړله.بیا هم هغوی اعتراض اوکړلو.چه دا څنګه پیغمبر دے؟

بعضو وئیل.دده عجیبه حالت دے.دده عدم استقلال ته ګورئ.کله بیت المقدس ته مونځ کوی.اوکله بیت الله طرف ته.دے په یوحال باندے نه پاتے کیږی.

د داسے خلقو په جواب کښے دا آیت نازل شو.اودا په کښے اوخودلی شو.چه ایمان دا نه دے.چه تاسو مشرق طرف ته مخ کړئ یا مغرب طرف ته.بلکه ایمان خودا دے .چه الله تعالی کوم

(۱) ارشاد الساری للقسطلانی(۱/۹۲)_

(۲) پورتنی حواله)_

(۳) عمدة القاری(۱/۱۲۳)_

(۴) پورتنی حواله)_

طرف ته د مخ كولو حكم اوكړى.هغه طرف ته سمدستى مخ كړے شى.اود هغه د حكم سمدستى تعميل اوكړے شى.(۱)
دا داسے اوګنړئ چه ديو كس په باره كښے دا معلومه وى.چه دا وفادار دے.دخپل مالك دحكم پوره منل كوى.دده د ژوند مقصد هم دا دے.چه د خپل مالك حكم اومنى.داسے كس يوطرف اوجهت نه پيژنى.بلكه صرف دا خبره پيژنى.چه زما د مالك رضا په كوم څيز كښے ده.ترڅوچه د مالك حكم وو.چه بيت المقدس طرف ته مونځ كوه.نوهغه هم هغه طرف ته مونځ كوى.اوكله چه د مالك حكم راغلو.چه اوس بيت الله طرف ته اوګرځه.نوهغه په دے كښے د څه حكمت پوښتنه نه كوى.او نه د حكم په تعميل كښے توقف كوى.بلكه هغه سمدستى خپل مخ بيت الله طرف ته اړوى.
لګه چه په دے آيت كښے دا حقيقت بيان شوے دے.چه اصلى عبادت او طاعت دالله تعالى حكم پوره كول دى.
په دے باندے په نورو الفاظو كښے داسے پوهه شئ.چه يوصورت د ..بر.. وى.او يو حقيقت د ..بر.. وى.په صورت د ..بر.. كښے كه حقيقت موجود نه وى.نوهغه صورت به بيخى بيكاره وى.كه د ..بر.. حقيقت په كښے راشى.نوهغه به فائده مند وى.
ګورئ منافقان مونځ كوى.په جهاد كښے شركت كوى.دشهادتينو اقرار كوى.ددے باوجود الله تعالى فرمائى. ﴿وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ﴾(۲) دغه شان فرمائى﴿اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾ (۳)
تاسو ګورئ چه په دوى كښے صورت صلاة،صورت جهاد وغيره موجود دے. خو چونكه حقيقت ايمان اوتصديق قلبى نشته.نوځكه په دے آياتونو كښے د دوى حقيقت بيان كړے شو.
هم دا صورت حال دټولو كافرانو دے.كوم چه نيك اعمال كوى.خودهغوى دا نيك اعمال فائده مند نه دى.قرآن كريم كښے ارشاد دے.﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا﴾(۴)
دكافرانو د اعمالو مثال داسے دے لكه صحرا او په هموار ميدان كښے چه شګه وى .سړے په دے باندے د لرے نه د اوبو ګمان كوى.خوچه كله هغے ته نزدے ورشى .نو اوبه نه وى.دغه شان ددے خلقو په اعمالو كښے صورت موجود دے .خو حقيقت موجود نه دے.
چه دا خبره زده شوه.نواوس به دا زده كړئ.چه يو وى د استقبال في الصلاة صورت،هغه برابره ده كه بيت المقدس طرف ته وى اوكه بيت الله طرف ته.او يودے د دے حقيقت ،دا حقيقت به په هغه وخت كښے متحقق كيږى.چه ايمان وى.كه يو سړے بيت الله طرف ته مخ

(۱) تفسير قرطبى(۲/۲۳۸،۲۳۷)_
(۲) سورة المنافقون:۱)_
(۳) سورة النساء:۱۴۵)_
(۴) سورة النور:۳۹)_

کوی.اودهغه په زړه کښې ایمان نه وی.نوهغه دالله تعالی تابعداری کونکے نه دے.دغه شان که یو سړے بیت الله طرف ته مونځ کوی.اودهغه په زړه کښې ایمان نه وی.نوصورت خو د استقبال دے.خوحقیقت داستقبال نه دے.ځکه چه دعمل حقیقت په ایمان سره متحقق کیږی.

﴿لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِى الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴾

دے آیت مبارك دخپل اختصار باوجود پوره شریعت راګیر کړے دے.ځکه چه ټول شریعت په درے قسمونو باندے تقسیم کیدے شی.

① یوصحت اعتقاد .انسان ته د کمال حاصلولو دپاره د ټولو نه وړاندے د خپل خیالاتو اوعقائدو د ټیك کولو ضرورت پیښیږی.که د یو سړی عقیده صحیح نه وی.نوکه هغه هرڅنګه وی.دالله تعالی په زمکه باندے بوج دے.هم د عقائدو تصحیح طرف ته دلته په ﴿وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ﴾ کښے اشاره شوے دے.

② دویم قسم حسن اخلاق ومعاشرت دے. د عقائدو د صحت نه پس انسان ته پکار دی.چه په حسن اخلاق اوحسن معاشرت باندے موصوف شی.په ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِى الرِّقَابِ ۚ﴾ کښے د دے حسن اخلاقو بیان دے.

③ دریم قسم تهذیب نفس دے.بیا ددے تهذیب نفس دوه صورتونه دی.

(الف) یوصورت دا دے.چه د بنده تعلق دالله تعالی سره ټیك وی.د تهذیب النفس دے شاخ طرف ته په ﴿وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ﴾ سره اشاره شوے ده.

(ب) دویم صورت دا دے.چه دالله تعالی د بندګانو سره تعلق صحیح وی.دے طرف ته اشاره ده په ﴿وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ﴾ کښے.

بهرحال دا اولنۍ آیت دے.چه دا ئے راوړلو.نولکه چه امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی.چه د ..بر.. نه مراد ایمان دے.اود ایمان په تفسیر کښے دا ټول اعمال داخل دی.نومعلومه شوه.چه ایمان مرکب دے.

تاسودا ونیلے شئ.چه په دے آیت کښے په مرجئو باندے رد دے.هغوی دا ګنړی.چه د اعمالو دایمان سره څه تعلق نشته.دلته کښے الله تعالی دایمان سره متعلق ډیر اعمال بیان کړل.دا ټول اعمال د ایمان مکملات دی.دا ټول اعمال د ایمان فروعات او مقتضیات دی.نوبیا د اعمالو په باره کښے دا ونیل څنګه ټیك دی.چه ددے د ایمان سره څه تعلق نشته.دا خبره په ذهن کښے اوساتئ.چه دلته د احنافو رحمهم الله تردید مقصود نه دے.ځکه چه امام بخاری رحمه الله اود احنافو رحمهم الله په مینځ کښے څه فرق نشته.ځکه دنفس ایمان دپاره اعمال هغه هم جزء نه ګنړی.اومونږ هم. په نفس ایمان کښے هغه هم د کمی زیاتی قائل نه دے.اومونږ هم د کمی زیاتی قائلین نه یو.

كه تاسو دا وائى چه د امام بخارى رحمه الله داحنافو رحمهم الله سره اختلاف خو مشهور دے.هم په دے بنياد هغه په احنافو رحمهم الله باندے رد كوى.نوتاسو په دے صورت كښے دا ونيلے شئ:چه دلته دايمان ذكر نشته.بلكه د ، ،بر، ، ذكر دے .چونكه ، ،بر، ، دايمان اثر دے.خكه په حديث كښے د ايمان تفسير په ، ،بر، ، سره شوے دے.ددے وجے نه چه ، ،بر، ، او ، ،ايمان، ، دواړه مترادف دى.نودامام بخارى رحمه الله استدلال ټيك نه دے.

د دويم آيت ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾...الخ) په باره كښے مونږ وړاندے بيان كړے دے.چه په دے صفاتو كښے دوه احتمالات دى.يواحتمال دا دے.چه دا صفات مادحه دى.په دے صورت كښے به دا صفات د كمال ايمان تعريف وى.اوكمال ايمان خو مونږ هم مركب ګڼرو.دويم احتمال دا دے.چه دا صفات كاشفه اوګرخولى شى .په دے صورت كښے به بيشكه دا ثابته شى.چه دا خيزونه په ايمان كښے داخل دى .خو تاسو ونيلے شئ:چه په دے كښے امام بخارى رحمه الله مقصود په مرجئو باندے رد دے.والله اعلم،

الحديث التّاسع

[٩]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(١)عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ

رجال الحديث

① عبدالله بن محمد رحمه الله : دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر بن اليمان بن انس جعفى بخارى مسندى دے.د دوى نسب كښے چه كوم ، ،يمان، ، دے.دا هم هغه دے.د چا په لاس چه د امام بخارى رحمه الله په نيكونو كښے مغيره اسلام راوړے وو.دا ثقه او حافظ دے.د اصول سته په مصنفينو رحمهم الله كښے صرف بخارى او ترمذى ددوى نه احاديث اخستے دى.په ٢٢٩ﻫ كښے وفات شوى دى.(٢)

دوى ته ، ،مسندى ، ، ولے ونيلے شى؟ددے وجه عالمان ليكى.چه دوى به هميشه د مسند احاديثو په تلاش كښے اوسيدل.مراسيل اومنقطعات طرف ته د دوى رغبت نه وو.امام حاكم رحمه الله فرمائى.چه دوى ته ، ،مسندى، ، ددے وجے ونيلى شى.چه دوى په ماوراء النهر

(١) الحديث أخرجه مسلم فى كتاب الإيمان،باب بيان عدد شعب الإيمان وأفضلها وأدناها رقم،(١٦١، ١٦٢) والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان وشرائعه،باب ذكر شعب الإيمان رقم(٥٠٧، ٥٠٩) وأبوداود فى سننه فى كتاب السنة باب فى رد الإرجاء رقم(٤٦٧٦) والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان ،باب ما جآء فى إستكمال الإيمان وزيادته ونقصانه رقم،(٢٦١٤) وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم(٥٧)_

(٢) عمدة القاى (١٢٣/١) وتقريب التهذيب (ص،٣٢١)_

کښې د ټولو نه وړاندې د صحابو رضي الله عنهم مسانيد جمع کړي وو.(۱) والله اعلم

② **ابوعامر عقدي رحمه الله:** دا ابوعامر عبدالملك بن عمروبن قيس عقدي ((بفتح العين المهملة والقاف)) بصري دے.دامام مالك رحمه الله شاګرد دے.اود امام احمد رحمه الله استاذ دے.ټول حافظان د دوی په جلالت او ثقاهت باندے متفق دي.په ټول صحاح سته کښې د دوی روايات موجود دي.په ۲۴ھ يا ۲۰۵ھ کښې وفات شوی دی.(۲)

③ **سليمان بن بلال رحمه الله:** دا ابومحمد يا ابوايوب سليمان بن بلال قرشي تيمي مدني دے.عبدالله بن دينار رحمه الله او د دوی نه علاوه د نور ډيرو تابعينو رحمهم الله نه ئے احاديث اوريدلی دی.او عبدالله بن المبارك رحمه الله غوندے بے مثاله محدثينو رحمهم الله د دوی نه سماع کړے ده.

په اصول سته کښې د دوی روايات موجود دی.بلکه په دے نوم په اصول سته کښې بل راوی موجود نه دے.په ۱۷۷ھ کښې وفات شوی دی.(۳)

④ **عبدالله بن دينار رحمه الله:** دا ابوعبدالرحمن عبدالله بن دينار قرى عدوی مدنی دے. دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما مولي وو.دوی د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او دهغوی نه علاوه د نورو ډيرو حضراتو نه احاديث اوردلے دی.او د دوی نه د دوی خوئ عبدالرحمن او نورو حضراتو د حديثو سماع کړے ده.دوی په اتفاق سره ثقه دی.په ۱۲۷ھ کښې وفات شوی دی.په اصول سته کښې د دوی روايات موجود دی(۴)

⑤ **ابوصالح رحمه الله:** ابوصالح ددوی کنيت دے.او د دوی نوم ذکوان دے.لقب ئے سمان اوزيات دے.ځکه چه دوی به د کوفے نه تيل او غوړی راوړل.او ددے کاروبار به ئے کولو. ثقه او ثبت دے.په صحابو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله کښې دډيرو حضراتو نه روايت کوی.او د دوی نه روايت کونکو کښې د تابعينو رحمهم الله يوه لويه ډله شامله ده.

امام اعمش رحمه الله د دوی نه يو زر احاديث اوريدلی دی.په ۱۰۱ھ کښې په مدينه منوره کښې وفات شوی دی.د دوی احاديث په صحاح سته کښې موجود دی.(۵)

⑥ **حضرت ابوهريره رضي الله عنه:** جليل القدر حافظ اوفقيه ومکثر صحابي دے.دوی د اسلام راوړلو نه پس خپل ځان د نبی ﷺ نه د استفاده اخستلو.د علم حاصلولو او ددے خورولو ته وقف کړ وو . په ۷ھ کښې د خيبر په کال مسلمان شوے وو.او بيا د دوی مور د نبی اکرم ﷺ د دعا په برکت مسلمانه شوے وه.د مور د اسلام راوړلو نه پس حضرت

---

(۱) عمدة القاری(۱/۱۲٤)-

(۲) عمدة القای ر(۱/۱۲۳(وتقريب التيب (ص.۲۵۰)_

(۳) عدة القاری(۱/۱۲۳ وتقريب التهذيب (ص.۲۵۰)_

(۴) عمدة القاری (۱/۱۲۳) وتقريب (۲.۳۰۲_

(۵) عمدة القاری(۱/۱۲۳. ۱۲٤ وتقريب التهذيب (۲۰۳_

ابوهریره رضی الله عنه نبی ﷺ ته درخواست کړے وو.چه یارسول الله! دالله تعالی نه دعا اوکړئ.چه ما او زما مور الله تعالی د خپلو مؤمنانو بندګانو په زړونو کښے خوښ جوړ کړی.نبی اکرم ﷺ د دوی دپاره دعا اوکړله.حضرت ابوهریره رضی الله عنه به فرمائیل.«فما خلق مؤمن یسمع بی ولا یرانی إلا أحبنی» (۱)

حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.«ابوهریرة أحفظ من روی الحدیث فی دهره» (۲)

کثرت روایت او د روایاتو شمار: حضرت ابوهریره رضی الله عنه به هغه شپږ مکثرین صحابو رضی الله عنهم کښے په اول نمبر دے.دچا نه چه د ټولو نه زیات روایات مروی دی.خلقو به په دے خبره تعجب هم کولو.چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے باوجود چه متاخرالاسلام دے.دومره زیات احادیث بیانوی.خو حضرت ابوهریره رضی الله عنه به خپله دا اعتراض نقل کوی .او فرمائی.چه ما سره چرته هم د مال جمع کول فکر نه وو.مهاجرین به د بازار نه نه اوزګاریدل.او انصارو سره د خپلو زمکو فکر وو.اوزه به هر وخت د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښے حاضر اوسیدم.که د خیټے دکولو دپاره به راته خوراك ملاؤ شو.نو خوراك به مے اوکړل.ګنی صبر به مے کولو.بیا د رسول الله ﷺ دعا هم زما سره وه.څکه چه یو ځل نبی ﷺ اوفرمائیل.څوك به خپل څادر خور کړی.چه د هغے نه پس به زما نه اوریدلے خبره نه هیروی.ما خپل څادر خور کړلو.نوهغه ئے د خپلے سینے سره اولګولو.ددے نه پس زما نه هغه خبره نه ده هیره شوے کومه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے ده.(۳)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه په مسند بقیة بن مخلد کښے ۵۳۷۴(پنځه زره درے سوه څلور اویا) احادیث مروی دی.اودا دټولونه لوئے تعداد دے.کوم چه دبل صحابی رضی الله عنه نه مروی نه دے. بعضے خلقو په دے باندے اعتراض کړے دے.چه دا څنګه کیدے شی.حالانکه په خپله حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی.«ما من أصحاب النبی ﷺ أحد أکثر حدیثاً عنه منی إلا ما کان من عبدالله بن عمرو،کان یکتب ولا أکتب» (۴)دے نه خو دا معلومیږی.چه د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روایات د حضرت ابوهریر رضی الله عنه نه زیات وو.

د دے یو جواب دا ورکړے شوے دے.چه استثناء دلته منقطع ده.او تقدیر دا دے.«لکن الذی کان من عبدالله وهو الکتابة لم یکن منی» مطلب دا دے.چه زما نه زیات څوك مکثر نه وو.البته عبدالله بن عمرو به احادیث لیکل.او ما به نه لیکل.په دے کښے دا احتمال هم شته.چه د هغه احادیث زیات وو.اودا احتمال هم شته.چه د هغه احادیث زیات نه وو.

---

(۱) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل أبی هریرة الدوسی.)

(۲) تهذیب الأسماء واللغات (۲۷۰/۳۲)_

(۳) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة رضی الله عنهم باب من فضائل أبی هریرة الدوسی .)

(۴) صحیح بخاری کتاب العلم باب کتابة العلم رقم(۱۱۳)

خوكه مونږ استثناء متصل اومنو.نو ددے جواب دا دے چه مونږ ته د حضرت عبدالله بن بن عمر رضی الله عنهما کوم احادیث رارسیدلی دی.هغه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د احادیثو نه ډیر کم دی.په يو قول کښے د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د روایاتو شمار ۵۰۰ خودلے شوے دے او بعضے محدثینو رحمهم الله د دوی د روایاتو شمار ۷۰۰ نقل کړے دے.(۱) ددے څو وجوهات دی.

() اولنۍ وجه دا ده.چه حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما به په عبادت کښے زیات مشغول وو.په علم کښے د هغوی مشغولیت کم پاتے شوے وو.ددے وجے د هغوی روایات کم دی.

() دمختلف ملکونو د فتح کیدو نه پس د حضرت عبدالله بن عمرو رحمه الله قیام زیات په مصر او طائف کښے وو.دے مقاماتو طرف ته د طالبانو توجه دومره نه وه.څومره چه مدینے منورے طرف ته وه.اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه په مدینه منوره کښے تر وفاته پورے فتوی او تحدیث کښے مصروف وو.اوپه دغه وخت کښے مدینه د علم مرکز وو.

() دریمه وجه دا ده.چه مونږ وړاندے ذکر کړی دی.چه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه سره د نبی ﷺ دعا وه.چه څه به ئے یوخل واوریدل.هغه به ترے نه هیریدل.

() څلورمه وجه دا بیان شوے ده.چه حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما ته په شام کښے د اهل کتابو ډیر کتابونه ملاؤ شوی وو.هغه به دغه کتابونه کتل.ددے وجے ډیرو تابعینو امامانو رحمهم الله د هغوی نه روایت نه اخستل.(۲)

بهرحال حضرت ابوهریره رضی الله عنه په ټولو صحابو رضی الله عنهم کښے کثیرالروایة دے.پنځه زره درے سوه څلور اویا احادیث د دوی نه مروی دی.په دے کښے متفق علیه درے سوه پنځویشت دی.امام بخاری رحمه الله په درے اویا کښے منفرد دے.او امام مسلم رحمه الله په یو سل نوی احادیثو کښے.صرف د شاګردانو شمار ئے اته سوه لیکلی شی. چه په دوی کښے صحابه رضی الله عنهم هم وو.او تابعین رحمهم الله هم.(۳)

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه تفقه حضرت ابوهریره رضی الله عنه په اتفاق سره په فقهاء صحابو کښے وو. بلکه په فقهی مسائلو کښے به ئے د نور فقهاء صحابو سره معارضه هم کوله.د احنافو رحمهم الله د اصولو په بعضے کتابونو کښے دوی ته ،،غیر فقیه،، ونیلے شوے دے.دا خبره ټیك نه ده.بیا دا خبره نه د امام ابوحنیفه رحمه الله نه منقول ده.اونه د دوی په مشهورو شاګردانو کښے د چا نه، بعضے اصولیینو عیسی بن ابان رحمه الله ته ددے خبرے نسبت کړے دے.خو په دے نسبت کښے هم کلام دے.

خلاصه دا چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه صرف د حدیث په روایت کښے نه بلکه په فقه او افتاء کښں هم په لویو صحابو کښے شمار دے.(۴)

---

(۱) تقریربخاری اردو۔
(۲) ددے ټولو وجوهاتو دپاره اوګورئ فتح الباری (۲۰۷/۱) کتب العلم باب کتابة العلم۔
(۳) عمدة القاری(۱۲٤/۱)۔
(۴) تکملة فتح الملهم (۳٤۰/۱، ۳٤۱) کتاب البیوع باب حکم بیع المصراة۔

د حضرت ابوهریره ﷛ نوم د حضرت ابوهریره ﷛ په نوم کښې ډیر سخت اختلاف دے.ترد دے چه حافظ ابن عبدالبر ﷫ فرمائی:«اختلفوا في اسم أبي هريرة واسم أبيه اختلافاً كثيراً لا يحاط به ولا يضبط في الجاهلية والإسلام»(۱) یعنی حضرت ابوهریره ﷛ او د دوی د پلار د نوم په باره کښې دومره اختلاف دے.چه په جاهلیت او اسلام کښې دومره اختلاف په بل نوم کښې نشته.حافظ ابن عبدالبر ﷫ شل اقوال شمارلی دی.ابن الجوزی ﷫ په «التلقیح» کښې په دے کښې اتلس اقوال ذکر کړی دی.او امام نووی ﷫ فرمائی.د دیرشو اقوالو نه زیات دی.حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی.چه ما دا ټول نومونه په تهذیب التهذیب کښې ذکر کړی دی.خو دیرشو ته نه رسی.د امام نووی ﷫ قول صرف د حضرت ابوهریره ﷛ په نوم باندے نه بلکه دهغه اود هغه د پلار دواړو په نومونو باندے محمول دے.(۲)

بهرحال راجح دا دے.چه د اسلام ته وړاندے د دوی نوم عبد شمس وو.د اسلام راوړلو نه پس عبدالله یا عبدالرحمن نوم ورته کیخودے شو.او د دوی د پلار د نوم په باره کښې راجح دا ده.چه صخر وو.(۳)

د حضرت ابوهریره ﷛ کنیت او ددې وجه: په جامع ترمذی کښې حضرت ابوهریره ﷛ فرمائی. چه زما د کنیت وجه دا ده.چه ما به د خپل کور د خلقو چیلئ څرولے.ما سره یوه وړه غوندے پیشو وه.د شپے به ما هغه د ونې دپاسه کینوله.اود ورځے به مے ځان سره ساتله.او هغے سره به مے لوبے کولے.نوځکه زما کنیت ابوهریره ﷛ کیخودے شو.(۴)

یو قول دا دے.چه نبی ﷺ د دوی په لستوڼی کښې پیشو اولیدله.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.«یا أباهريرة» نودا ئے کنیت شو.(۵)

ابومعشر مدائنی د محمد بن قیس نه نقل کړی دی.چه حضرت ابوهریره ﷛ به فرمائیل.

«لاتكنوني أباهريرة فإن النبي ﷺ كناني أباهر، والذكر خير من الأنثى»(۶)

خو په احادیثو کښې د دوی کنیت د نبی اکرم ﷺ نه دواړه قسم راغلے دے.په صحیح مسلم کښې اوږد حدیث دے.په هغے کښې نبی کریم ﷺ یو باغ ته تشریف اوړے وی.کله چه ناوخته شی. نو صحابه کرام ﷡ د دوی په لټون کښې اوځی . حضرت ابوهریره ﷛ باغ ته ورداخل شو. نبی ﷺ ترے تپوس اوکړلو.«ابوهريرة؟» یعنی آیا ته ابوهریره ﷛ ئے.دغه شان په دے

---

(۱) الإستيعاب بهامش الإصابة (۲۰۳.۲۲/٤) ترجمة أبي هريرة ﷛_
(۲) فتح الباری(۵۱/۱)_
(۳) الإصابة(۲۰۳/٤، ۲۰٤)_
(۴) جامع ترمی کتاب المناقب باب مناقب لأبي هريرة ﷛ رقم(۳۸٤۰)_
(۵) عمدة القاری(۱۲٤/۱)_
(۶) الإصابة (۲۰۶/٤)_

حدیث کښې په «یا أباهریرة» سره خطاب هم کړے دے.(۱)

دغه شان د بخاری شریف په روایت کښې دی «حدثنا شعیب یا أباهر»(۲) هم د بخاری شریف په یو بل روایت کښې دی «یا أباهر»(۳)

«ابوهریرة» منصرف دی که غیرمنصرف؟ ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه اصل خو دا دے چه «هریرة» مجرور اوونیلی شی .ځکه چه دا علم نه دے د علم جزء دے چونکه صرف یو سبب دے نوځکه دا منصرف ونیل پکار دی .هم دا د عالمانو رحمهم الله یوے ډلے تیک کړخولے دے خو د محدثینو رحمهم الله په ژبه دا غیر منصرف مشهور دے .ځکه چه دا د کلمه واحده په شان ده .نو د دوو سببو په وجه به دے ته غیر منصرف ونیلی شی (۴) والله اعلم.

وفات او مدفن د حضرت ابوهریره رضی الله عنه وفات د اته اتیا کالو په عمر کښې په **۵۷ھ** . **۵۸ھ** یا **۵۹ھ** کښې شوے وو .او په مدینه منوره کښې په جنت البقیع کښې دفن شوے وو .بعضے خلقو ددوی مدفن عسفان خودلے دے .خو د دے څه اصل نشته .(۵) رضی الله تعالیٰ عنه وأرضاه وحشرنا معه فی زمرة محبیه.

قوله: الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً: بضع: د باء په کسره سره ده .فتح هم یو لغت دے د بضع د مصداق په باره کښې مختلف اقوال دی.

① مشهور قول دا دے چه د دریو نه تر نهه پورے ددے اطلاق کیږی .په دے باندے قزاز جزم کړے دے.

② ابن سیده وائی .چه د دریو نه تر لسو پورے ددے اطلاق کیږی.

③ یو قول د یو نه تر نهه پورے دے.

④ یوقول د دوو نه تر لسو پورے دے.

⑤ او یو قول د څلورو نه تر نهه پورے دے.(۶)

په دے کښې اولنے قول مشهور دے .اوددے تائید د ترمذی شریف د حدیث نه هم کیږی .په هغے کښے دا دی .چه کله دا آیت کریمه (۷) نازل شول شو .نو صدیق اکبر رضی الله عنه د مکے د مشرکانو سره شرط اولګوو .او موده ئے د نهه کالو نه کمه مقرر کړله .په دے باندے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الإیمان باب الدلیل علی إن من مات علی التوحید دخل الجنة قطعاً رقم (۱۵۶)_

(۲) صحیح بخاری .کتاب الأطعمة باب قول الله تعالی: کلوا من طیبات ما رزقناکم رقم(۵۳۷۵)_

(۳) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب کیف عیش النبی ﷺ وأصحابه رقم(۶۴۵۲)_

(۴) مرقاة (۶۹/۱) کتاب الإیمان)_

(۵) عمدة القاری (۱۲٤/۱) وتقریب التهذیب (۶۸۰، ۶۸۱)_

(۶) فتح الباری(۵۱/۱)_

(۷) سورة روم:۱-٤)_

اوفرمائيل.«ألا احتطت يا أبابكر، فإن البضع ما بين الثلاث إلى التسع» [1] چه اے ابوبکر! تا ولے احتياط اونکړلو.ځکه چه د ،،بضع،، اطلاق د درېو نه تر نهه پورے کيږي.

د رواياتو اختلاف دا روايت په بخاري شريف کښے د ابوعامر عقدي په سند سره د ،،بضع وستون،، په الفاظو سره راغلے دے.

په مسلم شريف کښے ددے دوه طريقے دي.

يوه طريقه د «عبيدالله بن سعيد وعبد بن حميد، عن ابي عامر العقدي» په واسطه ده.په هغے کښے د «بضع وسبعون» الفاظ دي.

دويمه طريقه «زهير بن حرب، عن جرير عن سهيل عن عبدالله بن دينار، عن ابي صالح عن ابي هريرة» سند سره ده.په دے کښے «بضع وسبعون أو بضع وستون» الفاظ دي .يعني په شك سره وارد دي.[2]

په سنن نسائي کښے يو روايت په درے طرقو سره مروي دے.په دے کښے په اولنو دوو طريقو کښے «بضع وسبعون» الفاظ دي.او په آخري طريق کښے ددے حديث اولنے جزء يعني «الإيمان بضع وسبعون شعبة...» موجود نه دے.صرف آخري جزء يعني «الحياء شعبة من الإيمان» په کښے مروي دے.[3]

په سنن ابي داؤد کښے د «بضع وسبعون» الفاظ دي.[4]

په سنن ترمذي کښے ددے دوه طرق دي.په دے کښے په اولني طريق کښے خو «بضع وسبعون بابا» دي.او په دويم طريق کښے «الإيمان أربعة وستون بابا» وارد دي.[5]

ابن ماجه هم دا نقل کړے دے.اود مسلم د شك د روايت پشان ئے ذکر کړے دے.يعني «الإيمان بضع وستون أو سبعون بابا»[6]

په صحيح ابو عوانه کښے «ست وسبعون أو سبع وسبعون»الفاظ دي.[7]

ددے ټولو رواياتو خلاصه دا شوه چه :

() په بعضے رواياتو کښے د «بضع وستون» الفاظ دي.

() په بعضو کښے د «بضع وسبعون» الفاظ دي.

---

(۱) جامع ترمذي كتاب التفسير باب ومن سورة الروم رقم(۳۱۹۱) _
(۲) صحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان عدد شعب الإيمان .. رقم(۱۶۱، ۱۶۲)_
(۳) سنن نسائي باب الإيمان باب ذكر شعب الإيمان رقم(۵۰۰۷، ۵۰۰۹)_
(۴) سنن ابي داود كتاب السنة باب في رد الإرجاء رقم (۴۶۷۶)_
(۵) جامع ترمذي كتاب الإيمان باب ما جآء في إستكمال الإيمان وزيادته ونقصانه رقم (۲۶۱۴)_
(۶) سنن ابن ماجه المقدمة باب في الإيمان رقم (۵۷)_
(۷) فتح الباري (۵۲/۱)_

() په بعضو کښې دشك سره د «بضع وستون أو بضع وسبعون» یا «ست وسبعون أو سبع وسبعون» الفاظ دی.
() اوپه یو روایت کښې د «اربعة وستون بابا» الفاظ هم شته.
دا آخرنۍ روایت اول خو حافظ رحمه الله معلول گرځولې دے.هسې هم دا د صحیحینود روایاتو په مقابله کښې مرجوح دے.نو ددے نه د بحث ضرورت نشته.(۱)
باقي پاتې شول نور روایات نوپه هغې کښې چه کوم بغیر د شك نه واقع شوی دی .هغې ته د شك په روایاتو ترجیح حاصله ده.اوس صرف دوه قسمه روایات پاتې کیږی.یو د «بضع وستون» روایت.او بل د «بضع وسبعون» روایت .دا دواړه روایاتونه صحیح دی.
امام بیهقي رحمه الله د بخاری روایت «بضع وستون» راجح گرځولې دے.د هغوی وینا دا ده.چه سلیمان بن بلال بغیر د څه شك نه ددے روایت کړے دے.(۲)
خو په دے دلیل کښې دا ویره ده.چه دسلیمان بن بلال په طریق کښې ابوعوانه حدیث نقل کړے دے.په هغې کښې شك سره «بضع ستون أو بضع وسبعون» الفاظ دی.(۳) نو د امام بیهقي رحمه الله دا دلیل صحیح نه دے.
حافظ ابن الصلاح رحمه الله د بخاری روایت په دے بناء باندے راجح گرځولې دے . چه په دے کښې عدد اقل دے.او عدد اقل متیقن وی.(۴)
امام ابوعبدالله الحلیمي، قاضي عیاض ،امام نووی رحمه الله او یو جماعت د «بضع وسبعون» روایت راجح گرځولې دے.ځکه چه دا د قبیله د زیادة الثقات څنې دے.او زیادت د ثقه قبلولې شي.که دے د خپل ځان نه د اوثق مخالف نه وی.(۵)
علامه کرماني رحمه الله په دے باندے اعتراض کړے دے.چه دا د زیادة الثقه صورت نه دے.چونکه په زیادة الثقة کښې د الفاظو اضافه وی.حالانکه دلته د روایاتو اختلاف دے.(۶)
علامه کرماني رحمه الله فرمائي.چه په دے دواړو روایاتو کښې څه تعارض نشته.ځکه چه عدد اکثر د عدد اقل نفي نه کوی.
هغوی فرمائي.چه دلته دا احتمال هم شته.چه «بضع ستون» روایت مقدم وی.او د «بضع وسبعون» روایت مؤخر وی.لکه چه اول نبی ﷺ ته د «بضع وستون» علم شوے وو.او بیا د «بضع

---

(۱) پورتنۍ حواله_
(۲) شرح نوی علی صحیح مسلم (۴۷/۱) کتاب الإیمان باب بیان عدد شعب الإیمان ...)_
(۳) فتح الباری(۵۱/۱)_
(۴) فتح الباری(۵۲/۱)_
(۵) شرح نووی(۴۷/۱)_
(۶) شرح کرمانی(۸۲/۱)_

وسبعون» نو دواړه روايات ټيک دي.(۱)
خود علامه کرماني رحمه الله جواب ټيک نه معلوميږي.ځکه چه دلته روايت يو دے.او طرق ئے جدا جدا دي.نو هرکله چه مخرج يو وي.نو د جدا جدا عدد او په دے کښے د تطبيق کولو څه سوال پيدا کيږي.(۲)

بيا چونکه د «بضع وسبعون» زيادت معنی لره متضمن دے.لکه چه د علامه کرماني رحمه الله اعتراف هم دے.نو د امام نووي رحمه الله وغيره خبره صحيح معلوميږي.(۳)
ملا علي قاري رحمه الله فرماني.چه ښکاره دا ده.چه ددے نه مراد د څه خاص عدد تحديد نه دے.بلکه مراد ترے تکثير دے.ځکه په آيت کريمه ﴿إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ﴾(۴) کښے تکثيرمراد دے.او د عدد اختلاف د واقعاتو په تعدد باندے حمل کولے شی. اګرچه د يو روايت د طرفه وي.(۵)
که عدد د تکثير دپاره اومنلے شی.نو علامه عيني رحمه الله د ..ستون.. او ..سبعين.. دواړو حکمتونه بيان کړي دي.
هغوي د ،،ستين،، حکمت بيانوي.چه عدد به يا زياتي وي يا ناقص يا برابر.عدد زائده هغه عدد ته وائي.چه د هغے د اجزاء مجموعه د هغه عدد نه زيات وي . لکه د دولسو عدد دے. ددے پنځه اجزاء جوړيږي.نصف ،،۶، ثلث،،۴،، ربع ،،۳،، سدس ،،۲،، او نصف سدس ،،۱،، اوددے مجموعه شپاړس جوړيږي.(۶+۴+۳+۲+۱= ۱۶) دا د دولس د عدد نه زيات دے.
عدد ناقص: هغه عدد ته وائي.چه د هغے د اجزاؤ مجموعه د هغے د عدد نه کم وي .لکه د څلورو عدد شو.چه ددے دوه اجزاء دي.نصف ،،۲،، او ربع ،،۱،، او ددے مجموعه درے ده.(۲ +۱= ۳)ښکاره ده.چه د دريو عدد د څلورو د عدد نه کم دے.
عدد مساوي: هغه عدد دے.چه د هغے د اجزاؤ مجموعه ددے عدد سره برابر وي.لکه د شپږو عدد شو.ددے درے اجزاء جوړيږي.نصف ،،۳،، ثلث،،۲،، او سدس ،،۱،، ددے مجموعه هم شپږ ده.(۳+۲+۱=۶)
په دے درے قسمه اعدادو کښے هغه عدد ته فضيلت حاصل دے.کوم چه تام او مساوي وي. يعني شپږ.دا د شپږو عدد اکائي ده.کله چه مبالغه مقصود وي.نو دا دهايانو ته اړولے شی. او ددے دهائي شپيته جوړيږي.

---

(۱) مخکنئ حواله)_
(۲) فتح الباری(۵۲/۱)_
(۳) فتح الملهم (۶۱۰/۱)_
(۴) التوبة:۸۰)_
(۵) مرقاة المفاتيح (۶۹/۱)_

علامه عينى رحمه الله د ..سبعين، حكمت بيانوى اوفرمائى چه ..د اووه عدد داسے عدد دے چه د عدد ټول قسمونه ددے لاندے راخي خكه چه دعدد يو تقسيم وى فرد او زوج طرف ته بيا په دے دواړو كښے د هر يو دوه دوه قسمونه دى يو فرد او بل مركب د فرد اول مثال درے دى او فرد مركب پنځه دى دغه شان د زوج اول دوه دى او د زوج مركب څلور دى بنكاره ده چه دا ټول اعداد د اووه د لاندے دے

بيا د عدد يو بل تقسيم هم دے په دے اعتبار سره دے دوه قسمونه دى يو عدد ناطق او بل عدد اصم د عدد ناطق مثال څلور دى او د اصم مثال شپږ دى او د اووه عدد دے دواړو ته شامل دے

تركومے پورے چه د دواړو اعدادو سره د «بضع» د اضافه تعلق دے نو دا خكه روستو كړے شوے دے چه «بضع» اطلاق په شپږو باندے هم كيږى او په اووه باندے هم خكه چه «بضع ما بين اثنين الى عشرة» دپاره دے لكه چه ..ستين.. سره چه كوم ..بضع.. دے هغه په شپږو باندے دال دے او د شپږو عدد ..ستين.. دپاره د اصل درجه لرى دغه شان ..سبعين.. سره چه كوم ..بضع.. دے هغه په اووه عدد باندےدال دے او د اووه عدد د سبعين دپاره د اصل درجه لرى لكه چه ..بضع.. لفظ ئے راوړلو دا د دے اعدادو اصل طرف ته هم اشاره كوى بعضے حضراتو وئيلى دى چه عربيان ..سبعين.. د مبالغے دپاره زيات استعمالوى په دے باندےئے د اووه اضافه اوكړله او ددے تعبير ئے په ..بضع.. سره اوكړلو ددےوجه دا ده چه دا اكمل الاعداد دے خكه چه شپږ اولنے عدد تام دے دے سره چه يو ملاؤ شى نو دا عدد اووه جوړيږى لكه چه اوس كامل شو خكه چه «ليس بعد التمام سوى الكمال» بيا سبعين غاية الغاية دے خكه چه د آحادو او اكائيانو غايات عشرات يعنى دهيائے وى.[1]

د حافظ ابن حجر رحمه الله يو تسامح حافظ رحمه الله د بخارى شريف ددے حديث لاندے فرمائيلى دى «لم تختلف الطرق عن أبي عامر شيخ شيخ المؤلف في ذلك» [2] يعنى ددے حديث راوى كوم چه سليمان بن بلال دے د دوى په شاگردانو كښے اختلاف راغلے دے خو ابوعامر عقدى كوم چه د سليمان بن بلال شاگرد دے د هغوى په شاگردانو كښے اختلاف نشته

دحافظ رحمه الله دا خبره ټيك نه ده خكه چه هم په مسلم شريف كښے د ابوعامر دوه شاگردان دى عبيدالله بن سعيد او عبد بن حميد، دواړه د ابوعامر نه «بضع وستون شعبة» كوم چه د بخارى روايت دے ددے په ځائے «بضع وسبعون شعبة» نقل كوى [3]

دغه شان په نسائى كښے دابوعامرشاگرد محمد بن عبدالله بن المبارك دے هغوى هم «بضع

---

(۱) عمدة القارى (۱۲۷/۱)_

(۲) فتح البارى (۵۱/۱)_

(۳) صحيح مسلم (۴۷/۱) كتاب الإيمان باب بيان عدد شعب الإيمان ..)_

وسبعون شعبة» نقل کړی.(۱)

د شعب ایمان په باره کښې څو کتابونه په نصوصو کښې د شعب الایمان تفصیل په تعین سره چرته موجودنه دے.البته مختلفو عالمانو ﷺ دخپل علم اوفهم په اعتبارسره دا شمارلی دی. په دے باره کښې مختلف تصانیف هم په وجود کښې راغلی دی.امام ابوعبدالله حلیمی رحمه الله د ((فوائد المنهاج)) په نوم په دے موضوع باندے کتاب لیکلے دے.

حافظ ابوبکر بیهقی او شیخ عبدالجلیل رحمهماالله هم په دے موضوع باندے کتابونه لیکلی دی دواړه د خپل خپل کتاب نوم ((شعب الایمان)) کیخودے دے. اسحاق بن القرطبی رحمه الله هم په دے موضوع باندے ((کتاب النصائح)) په نوم سره تصنیف کړے دے.او امام ابوحاتم رحمه الله هم په دے موضوع باندے د((وصف الایمان وشعبه)) په نوم کتاب لیکلے دے.(۲)

بیا په آخر کښې مشهور محدث علامه محمد مرتضی زبیدی رحمه الله د ابن حبان او عبدالجلیل رحمهماالله د محنت خلاصه د ((عقدالجمان)) په نوم سره لیکلے دے. (۳) جزاهم الله تعالی.

د شعب ایمان تحقیق: امام ابوحاتم بن حبان بستی رحمه الله فرمائی.چه زه ددے حدیث د لوستلو نه پس د دے شعبو په تتبع کښې لګیا شوم.اول مے احادیث اوکتل.او هغه امور مے شمار کړل.کوم چه په احادیثو کښې په امور و د ایمان کښې شمارلے شوی دی.نودا شمار کم راووتلو.بیا مے د قرآن کریم طرف ته رجوع اوکړله.او په هغے کښې چه کومو څیزونو ته ایمان وئیلے شوے وو.هغه مے شمار کړل.نود هغے شمار هم کم راووتلو.بیا مے قرآن او حدیث دواړه ملاؤ کړل.او چه کله مے جمع کړل.اومکررات مے حذف کړل .او اومے کتل.نو ددے شمار د عدد موافق راووتلو.

د ابوحاتم بن حبان رحمه الله د دے طریقے د تحقیق عالمانو تعریف کړے دے.او حافظ رحمه الله دا اقرب الی الصواب ګرځولے دے.(۴)

ددے شعب ایمانیه تفصیل ابن حبان رحمه الله په خپل کتاب ((وصف الایمان وشعبه)) کښې ذکر کړے دے.دا کتاب معدوم دے.حافظ ابن حجر رحمه الله ته هم دا کتاب نه دے ملاؤ شوے.هغوی د مختلفو عالمانو د تفصیلاتو نه اخذ کړے دے.او په خپله اندازه سره ئے دا ذکر کړے دے.

هغوی ټول اعمال په درے حصو کښې تقسیم کړی دی.اعمال متعلقه بالقلب.اعمال متعلقه باللسان او اعمال متعلقه بالبدن.په دے کښې د اعمال قلبیه تعداد څلیریشت دے.اود اعمال

---

(۱) سنن نسائی (۲/۲۶۸) کتاب الإیمان وشرائعه باب ذکر شعب الإیمان)_

(۲) عمدة القاری(۱/۱۲۸)_

(۳)الأعلام للزرکلی (۷/۷۰)_

(۴) فتح الباری(۱/۵۲)_

لسان تعداد اووه دے.او د اعمال بدنیه تعداد اته دیرش دے.دا ټول یوکم اویا خیزونه شول.بیا په دے کښے دننه بعضے خیزونه ضمنی دی.چه هغه مستقل شمار کړے شی.نو یو کم اتیا شعبے جوړیدے شی.(۱)

حضرت شیخ الاسلام علامه شبیراحمد صاحب عثمانی رحمه الله فرمائی.چه امام ابن حبان رحمه الله دا شعبے د قرآن کریم او احادیثو نه په لټون سره راویستے دی.خو زما خیال دا وو.چه ټولے شعبے هم د قران نه راویستے شی.په دے وجه ما د قرآن کریم تتبع شروع کړله.اود لټون او تتبع ډیره مےوسیع کړه.ابن حبان رحمه الله صرف هغه خیزونه شمار کړی وو.چه په هغے باندے صراحة دایمان اطلاق شوے وو.اوما هغه هم شمار کړل.چه په هغے باندے د ایمان د لفظ اګرچه صراحة اطلاق نه وو.خو هغه د ایمان د صفت متقضاء وه.اود هغےمنشاء هم ایمان وو.په دے طریقه چه ما اول تتبع اوکړله. نوشمار ۶۷ ته اورسیدل.بیا چه مے غور اوکړلو.نو په قرآن پاك کښے بعضے داسے شعبے هم بیان شوی دی.چه داصل په اعتبار سره چه دوه یوځائے کړے شی.نو هغه یو هم شمارلے شی.او په خپل ځائے هغه دواړه مستقل شعبے هم شمارلے شی.مثلاً انفاق فی سبیل الله هم د ایمان یوه شعبه ده.اوپه قرآن پاك کښے ځائے په ځائے ددے تذکره ده.زکواة هم د انفاق في سبیل الله یو فرد دے.خو زکواة ددے یو داسے اهم فرد دے.چه دا د شریعت په نظر کښے مستقل یوه فریضه ګڼړلے شی.اوس دا ممکن ده.چه د واقع خیال اوساتلے شی.اوزکواة په انفاق في سبیل الله کښے داخل کړے شی.اودواړه یوه شعبه شمار کړے شی.او دا هم ممکن ده.چه د زکواة اهمیت ملحوظ اوساتلے شی.اودا یوه مستقله شعبه شمار کړے شی.شریعت د یو حکم د اهمیت ښکاره کولو دپاره کله داسے هم کوی.دا د شریعت په ،،ماموراتو،کښے یو مثال پیش کړے شو.

په منهیاتو کښے داسے قسم یو مثال دا دے.چه «اجتناب من الزور» دایمان یوه شعبه ده .ددے یو اهم فرد د دروغو د شهادت نه اجتناب هم دے،،شهادة الزور،، په حدیث کښے مستقل طور په اکبر الکبائر کښے شمار کړے شوے دے.او رسول الله ﷺ ددے د تغلیظ ښکاره کولو دپاره دا درے خله بیان کړے دے.(۲)

اوس که غواړے.نو شهادة زور په مطلق کذب کښے داخل کړه.ددے نه اجتناب یو مستقله شعبه اوګرځوه.اوکه غواړے.نو «اجتناب عن الکذب» یو ځانله جدا شعبه اوګرځوه.اود دے اهم ترین فرد «اجتناب عن شهادة الزور» بله مستقله شعبه اوګرځوه.داسے قسم شعبے چه کله شمار کړے شوے.نو شپږ شعبے داسے ملاؤ شوے.چه هغه مستقل هم شمارلے شی.او په بل کښے ضم

---

(۱)راجع للتفصیل فتح الباری(۱/۵۲، ۵۳)_

(۲) دحضرت ابوبکره رضی الله عنه نه نقل دی.((قال قال النبی ﷺ ..ألا أنبئکم بأکبر الکبائر - ثلاثاً- قالوا بلی یا رسول الله قال الإشراک بالله وعقوقو الوالدین وجلس وکان متکئاً فقال:ألا وقو الزور قال فما زال یکررها حتی قلنا لیت سکت.. وفی روایة خالد عن الجریری ..ألا وقول الزور وشهادة الزور.. اوګګورئ صحیح بخاری کتاب الشهادات باب ما قیل فی شهادة الزور رقم (۲۶۵٤) وفتح الباری(۵/۲۶۳)_

كولے هم شى.كه ضم شوے اومنلے شى.نوشمار ۶۷ جوړيږى.اوكه مستقل شمار كړے شى.او اضافه په كښے اوكړے شى.د دے شمار درے اويا تـه رسى.ددے ټولو تفصيل زما په يو ياداشت كښے ذكر دے.

په دے تحقيق سره دا معمه هم حل شوه.چه د ((ستون)) او((سبعون)) اختلاف كه چرته په حقيقت كښے د نبى ﷺ په كلام كښے وى.نو ددے يوه وجه دا هم كيدے شى.اومزيد دا چه په دے تقرير سره يو بل تطبيق حاصليږى.كه داسے قسم شعبے يو شمار كړے شى.نو ،،بضع وستون،، يعنى اووه شپيته شعبے به شى.اوكه مستقل شمار كړے شى.نو ،،بضع وسبعون،، يعنى درے اويا شعبے به شى.(١)

نكته په حديث كښے ئے ((الإيمان بضع وستون شعبة)) فرمائيلى دى.او په قرآن كريم كښے دى.﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ﴾(٢) د قرآنى تعبير نه د محدثينو او فقهاء ثلاثه ﷭ د نقطه نظر تائيد كيږى.ځكه چه د كلمه طيبه نه مراد ايمان دے.او ددے تشبيه ئے د شجره سره وركړے ده.او اعمالو ته قرآن پاك فرع وئيلے ده.نو معلومه شوه.چه د محدثينو ﷭ تعبير د قرآن كريم د تعبير سره مطابق دے.چه ايمان په منزله د شجره او اعمال په منزله د اغصان دى.د متكلمينو ﷭ تعبير ددے نه مختلف دے . هغوى فرمائى.چه ايمان په منزله داصل او جرړے دے.او اعمال په منزله د اغصان دى.اغصان او ښاخونه دوونے او شجرجزء دى.ليكن د جرړے او اصل جزء نه دے.بلكه په دے باندے متفرع دى.
بهرحال ددے نقطه نظر په اعتبار سره قرانى تعبير د حضرات محدثينو او فقهاؤ ﷭ مطابق دے.باقى په اصل مدعا باندے په دے سره څه اثر نه غورځيږى .ځكه چه د دواړو په نيز اعمال ضرورى دى.او د ايمان تكميل دټولو په نيز په اعمالو موقوف دے.د اعمالو نه بغير نه ايمان ترو تازه كيدے شى.اونه په دے كښے ترقى راتلے شى.والله اعلم بالصواب.

قوله: وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ :حياء دايمان يوه شعبه ده.

اشكال دا دے.چه ((الإيمان بضع وستون شعبة)) كښے حياء هم داخله وه.نودا ئے جدا ولے ذكر كړه؟ ددے جواب دا دے.چه حيا يوه داسے شعبه ده.چه دا په باقى ټولو شعبو كښے مددګاره او معاون ده.د دے وجے امام راغب رحمه الله د حياء تعريف كوى.((الحياء انقباض النفس عن القبائح وتركه كذلك(٣))) يعنى د قبيح او ګناهونونه اجتناب كول او لرے اوسيدل دا حياء ده.نو كوم سړے چه صاحب حياء وى.ښكاره ده.چه هغه به د ټولو ماموراتو پابندى كوى.ځكه چه ددے پابندى نه كول قبيح دى.او د ټولو منهياتو نه به اجتناب هم كوى.ځكه چه ارتكاب د

---

(١) فضل البارى(١/٣١٧، ٣١٨ دغه شان درس بخارى(١/١٥٢)_
(٢) سورة ابراهيم آيت:٢٤)_
(٣) المفردات فى غريب القرآن (١٤٠)_

منهياتو هم قبيح دے.لكه چه حياء يوه داسې شعبه ده.چه د ايمان د نورو تولو شعبو په تحصيل كښې ډيره معاون او مددګاره ده.ددے اهميت د وجے نبي اكرم ﷺ «الحياء شعبة من الإيمان» اوفرمائيل .اودا ئے جدا ذكر كړله.

"شعبة" كښې تنوين د تعظيم دپاره دے.او دا «الحياء شعبة عظيمة من الإيمان» په معنی كښې ده.
بعضے حضراتو وئيلي دي.چه دلته نبي كريم ﷺ د "حياء" ذكر جدا خكه اوكړلو.چه حيا يو فطري او خلقي او جبلي صفت دے.فطرة سړے حياداړ وي.نودا شبه كيدے شوه.چه چونكه دا يو فطري امر دے.نو خكه د ايمان شعبه نه ده.خكه چه په شعب ايمان باندے اجر ملاويږي.او اجر په كسبياتو باندے ملاويدل پكار دي.په فطرياتو باندے د اجر ملاويدوځه سوال دے؟ددے شبهے د لرے كولودپاره ئے اوفرمائيل. چه «الحياء شعبة من الإيمان» سوال پيدا كيږي.چه هر كله حياء امر فطري دے.نودا بيا په شعب ايمان كښې داخلول نه وو پكار.خكه چه ايمان په خپله كسبي دے.نوپكار ده.چه ددے تولے شعبے هم كسبي وي.
ددے جواب دا دے.چه دلته كومه حياء د ايمان شعبه بنائي.ددے نه هغه امر فطري مراد نه دے.بلكه تخلق بالامر الفطري يعني تخلق باالحياء مراد دے.مطلب دا دے.چه په تاسو كښې الله تعالى كومه حياء فطرتي طور كيخودے ده.تاسو هغه استعمال كړئ.شريعت چه د دومره ځيزونو نه منع كړے ده.د هغے نه اجتناب او حيال اوكړئ.او د كومو ځيزونو چه ئے حكم كړے دے.د هغے د كولو دپاره د حياء نه كار واخلئ.ډير كسان داسے وي.چه په هغوى كښې دا فطري جذبه موجود وي.خو ددے باوجود په دے باندے تخلق نه اختياروي.او ددے په مقتضا باندے عمل نه كوي.سروركائنات د ﷺ دے طرف ته اشاره كړے ده.

امام ترمذي رحمه الله روايت نقل كړے دے.«عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال:قال رسول الله ﷺ استحيوا من الله حق الحياء قال قلنا يا رسول الله إنا نستحيي والحمد لله قال ليس ذلك ولكن الاستحياء من الله حق الحياء أن تحفظ الرأس وما وعى والبطن وما حوى وتذكر الموت والبلى ومن أراد الآخرة ترك زينة الدنيا فمن فعل ذلك فقد استحيا من الله حق الحياء»(١)
نبي كريم ﷺ اوفرمائيل.دالله تعالى نه داسے حيا كوئ.څنګه چه دحيا حق دے.صحابو رضي الله عنهم عرض اوكړلو.دالله شكر دے.يا رسول الله! مونږ خو دالله تعالى نه حياء كوو.نبي ﷺ اوفرمائيل.دا مطلب نه دے.بلكه د الله نه د حياء كولو حق دا دے.چه سړے د خپل سر سترګو غوږونو وغيره اوځه چه په دے كښې شامل دي.ددے حفاظت اوكړي.اودا ټول د الله تعالى د نافرمانئ نه بچ كړي.خپله خيټه د حرام مال د خوړلو نه اوساتي.خپله شرمګاه دے هم چه خيټه په كښې شامل ده.د حرامو نه اوساتي. مرګ دے يادوي.اود هډوكو د زړيدو خيال دے اوساتي.چه د بدن دا تازګي به باقي نه وي.كوم سړے چه آخرت خپل مقصود ګنړي.هغه د

(١) سنن ترمذي كتب صفة القيامة باب (٢٤) رقم الحديث (٢٤٥٨)_

دنيا زينت او د دنيا شانست طرف ته توجه نه وركوى.كوم سړے چه دا كار كوى.هغه په حقيقت كښے د حيا ء حق ادا كوى.
حضرت مولانا شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى.چه په حديث جبريل عليه السلام كښے د احسان ذكر دے.[١]

«أن تعبدالله كأنك تراه، فإن لم تكن تراه فإنه يراك» ددے احسان مفهوم هم هغه دے.كوم چه د حياء دے.چه انسان هر وخت دا گنړى.چه الله تعالى ماته گورى.او زه د الله تالى په دربار كښے حاضر يم.لكه چه هغه وينم.كله چه سړى ته دا خيال مستحضر وى.هغه بيا گنا نه كوى.نه د مامور به ترك د هغه نه كيږى.اونه د منهى عنه ارتكاب [٢]
اوهم دا خبره په حياء كښے وى.چه سړے د الله تعالى نه شرميږى.هغه دا سوچ كوى .كه څوك مے نه وينى.نو الله تعالى خو مے وينى.په دے خيال سره هغه بيا د گناه د ارتكاب جرات نه كوى.خودا خيال د سړى په زړه كښے په هغه وخت كښے راسخ كيږى.چه كله د الله تعالى ذكر په كثرت سره كوى.او كوم خلق چه غافل وى.د الله تعالى د ياد سره د هغوى څه تعلق نه وى.نو بيا نفس او شيطان دوى ښه ښكار كوى .چونكه د حفاظت ذريعه د الله تعالى ياد دے.نوځكه دا په جوهر قلب كښے شاملول پكار دى.دے نه بغير نفس او شيطان ته د گمراه كولو موقع لگيا وى ملاويږى.
شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله د سيد الطائفه حضرت جنيد بغدادى رحمه الله نه د حيا تعريف نقل كړے دے.«الحياء حالة تتولد من رؤية الآلاء ورؤية التقصير»[٣]چه سړے د الله سبحانه وتعالى نعمتونه د سترگو وړاندے ساتى.اودده نه چه كومے كوتاهيانے كيږى.اودالله تعالى د حق ادا كلو كښے ترے قصور كيږى.هغه د نظر وړاندے ساتى.د چا په وينا خو كيدے شى.چه هغه په ضد شى.او توجه اونكړى. بلكه چه په خپله سوچ اوكړى.چه د الله تعالى څومره احسانات دى.او زما د كوتاهيانوفهرست څومره اوږد دے.په دے مراقبے سره چه داطاعت د جذبے كوم كيفيت پيدا شى.هغه حيا ده.ددے دپاره د خصوصى مراقبه ،او فكر اهتمام ضرورى دے.افسوس دے.چه د دنيا د وړو وړو حقير خواهشاتو دپاره څومره اهتمام كيږى.
خو مونږ چرته په تنهائے او خلوت كښے نه كينو.چه سوچ اوكړو.چه د الله تعالى په مونږ باندے څومره احسانات دى.او ددے باوجود مونږ څومر گناهگار يو.د منعم حقيقى او خالق ومالك حق ادا كولو كښے څنگه څنگه تقصيرات او كوتاهئ زمونږ نه كيږى.هركله چه د داسے سوچ موقع نه ملاويږى.اودے طرف ته چرته توجه هم نه كيږى.نو بيا آخر په سړى كښے به حيا څنگه پيدا شى.مونږ ته پكار دى.چه ددے خبرے اهتمام اوكړو.چه لږ غوندے وخت ددے دپاره اوباسو.كه د مانځه نه د فراغت نه پس وى.يا د قران مجيد دتلاوت نه پس وى.چه لږ

---

(١) انظر صحيح مسلم فاتحة كتاب الإيمان)_
(٢) فضل البارى(١/٣١٩، ٣٢٠_
(٣) اشعة اللمعات(١/٤٦)_

غونډے سوچ کوو. د شيے د اوده کيدو نه وړاندے لږ غونډے سوچ کوو. اودا په خپلو معمولاتو کښے داخل کړو.

دحضرت جنيد بغدادي رحمه الله په تعريف او د امام راغب رحمه الله په تعريف کښے د ثمره او نتيجه په اعتبار سره څه فرق نشته. ځکه چه د امام رغب رحمه الله په تعريف کښے دا وو. چه په نفس کښے د قبائحو نه انقباض پيدا کيږي. او دلته هم کله چه سړے د الله تعالى د نعمتونو او خپلو تقصيراتو موازنه اوکړي. نو يقيناً چه په ده کښے به داسے کيفيت پيدا شي. چه هغه به د قباحتونو نه د بچ کيدو فکر کوي.

امام العصر حضرت کشميري رحمه الله فرمائي. چه بعضے اخلاق حسنه کوم چه د ايمان مبادي دي. هغه په ايمان باندے مقدم دي. لکه امانت شو. ارشاد نبوي دے «لا إيمان لمن لا أمانة له» (۱) امانت ئے په ايمان باندے مقدم ګرځولے دے. هم دا صورت په حياء کښے هم پکار ردے. (۲)

د حضرت کشميري رحمه الله مطلب دا دے. چه بعضے صفات د ايمان نه وړاندے موجود وي. او ايمان د هغے د قائم او برقرار ساتلو تاکيد کړے وي. مونځ روژه، زکواة وغيره دا څيزونه د ايمان نه وړاندے موجود نه وي. ددے حکم د ايمان نه پس ورکړے شوے دے. خو امانت او حياء دا دواړه داسے صفتونه دي. کوم چه د ايمان نه وړاندے موجود وي. اوبيا الله سبحانه وتعالى د ايمان نه پس د دے د قائم او برقرار ساتلو تاکيد کړے دے. په «لا إيمان لمن لا أمانة له» کښے د امانت د حفاظت تاکيد دے. اودغه شان «استحيوا من الله حق الحياء» کښے د حياء د حفاظت حکم دے. د حضرت شاه صاحب رحمه الله اشارة دے طرف ته ده. چه دلته کومه «الحياء شعبة من الإيمان» جدا ذکر شوے ده. دا هم دد هوجے ده. چه د ايمان صفت وړاندے موجود وو. او اوس ددے د قائم او برقرار ساتلو دپاره مزيد تاکيد فرمائيلي شي. والله اعلم

ددے نه علاوه يوه خبره بله هم شوے ده. چه په حقيقت کښے دلته اختصار دے. سوال دا وو. چه «الإيمان بضع وستون شعبة» کښے حياء داخل وه. نو بيا ددے د جدا ذکر کولو څه وجه وه؟

ددے جواب دا ورکړے شوے دے. چه دلته په روايت کښے اختصار دے. په بل روايت کښے راځي. «فأفضلها قول لا إله إلا الله، وأدناها إماطة الأذى عن الطريق والحياء شعبة من الإيمان» (۳) نبي ﷺ حياء جدا بيان نکړله. بلکه د ايمان چه کومے ګڼړے شعبے دي. په هغے کښے ئے افضل بيان کړله.

---

(۱) أخرجه احمد في مسنده عن أنس رضي الله عنه (۱/۱۳۵، ۱۵٤، ۲۱، ۲۵۱) والبيهقي في سننه الكبرى عنه رضي الله عنه (۶/۲۸۸) كتاب الوديعة باب ما جآء في الترغيب في أداء الأمانات وفي شعب الإيمان له عنه رضي الله عنه (٤/۷۸ الثاني والثلاثون ممن شعب الإيمان وهو باب في ايفاء بالعقود رقم (٤۳۵٤ وعن ثوبَت رضي الله عنه (٤/۳۲۰) الخامس ولاثلاثون من شعب الإيمان وهو باب في الأمانات وما يجب من أداءها إلى أهلها رقم (۵۲۵۵، ۵۲۵۵)

(۲) فيض اباري (۱/۷۹)_

(۳) صحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان عدد شعب الإيمان)_

او په هغې کښې ئې د ادنی ذکرهم شوے وو بیا ئې شعبه متوسطه هم بیا کړله.نودا اعتراض چه حیاء ئې خاص کړ جدا ولې ذکر کړه ،ختم شو.

د حیاء قسمونه ددے نه پس زده کړئ.چه د حیاء درے قسمونه دی.

① حیاء شرعی ② حیاء عقلی ③ حیاء عرفی

که د حیاء سبب امر شرعی وی.او په حیاء نه کولو کښې دا کس شرعاً د ملامتیا مستحق وی.نو هلته حیاء شرعی وی.

او که د حیاء سبب امر عقلی وی.او ددے په ترک کولو باندے د اهل عقل په نیز د ملامتیا مستحق وی.نو هلته حیا عقلی وی.

او که د حیا سبب څه امر عرفی وی.او ددے امر د پریخود په وجه په عرف کښې هغه د ملامتیا او مذمت مستحق ګرځولے شی.نو هلته حیاء عرفی وی.(١)

خوحضرت علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی.چه زما په نیز د حیاء شرعی او عرفی تقسیم تیك نه دے.بلکه امر واحد دے.البته د متعلق په اعتبار سره ددے دا تقسیم کیدے شی.(٢) دحضرت شاه رحمه الله خبره هم تیك ده.په دے کښې او په قول مشهور کښې کوم چه وړاندے بیان شو.څه تعارض نشته.

که حیاء په درې قسمونو کښې څه تعارض وی نو ددې د دفع کولو صورت. ددے نه پس دا زده کړئ. چه په حیاء شرعی اوحیاء عقلی کښې څه تعارض نشته.دا نشی کیدے.چه یو څیزشرعاً قبیح وی.اوعقلاًمستحسن وی.یاعقلاًقبیح وی.اوشرعاًمستحسن وی.بلکه اعتبارعقل سلیم لره دے.کوم څیز چه شرعاً قبیح وی.د عقل سلیم په نیز به هم هغه قبیح وی.هغه د عقل په نیز مستحسن نشی کیدے.دغه شان کوم څیز چه عقلاً قبیح وی.د شریعت په نظر کښې هم هغه قبیح وی.هغه د شریعت په نظر کښې مستحسن نشی کیدے.نو په حیاء شرعی او حیاء عقلی کښې د تصادم سوال نشته.البته په حیاء شرعی او حیاء عرفی کښې تعارض راتلے شی.

که په حیاء شرعی او حیاء عرفی کښې تعارض راشی.نو مونږ به ګورو.چه هغه کار چه د هغې په کولو کښې عرفاً حیاء کیږی.هغه امر شرعی طور فرض دے.واجب دے سنت دے.یا مستحب ؟که هغه امر عندالشرع فرض وی.نوددے حیاء عرفی ترك به فرض وی.اوکه هغه واجب وی.اوکه دا حیاء عرفی د هغې سره مزاحم وی .نو ددے حیاء عرفی ترك به واجب وی.او که هغه امر عندالشرع سنت وی.او حیاء عرفی د هغې نه منع کوی.نو ددے حیاء عرفی ترك به سنت وی.اوکه هغه امر مستحب وی.او حیاء عرفی د هغې دپاره مانع وی.نو ددے حیاء عرفی پریخودل به مستحب وی.

خوکه یوکارداسے وی.چه هغه مباح وی.اودنبی ﷺ نه ثابت نه وی.اوحیاء عرفی په کښې مانع وی.نو بیشکه تاسو هلته په حیا عرفی باندے عمل کوئ.اودغه کار مه کوئ.(٣) والله اعلم.

---

(١) فضل الباری (٣٢٢/١)_

(٢) فیض لاباری (٧٩/١)_

(٣) فضل الباری(٣٢٢/١، ٣٢٣)_

٣=باب: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

الحديث العاشر

[١٠] حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ وَإِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا (١) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ

د ماقبل سره ربط او د ترجمې مقصد امام بخاري اول د ايمان حقيقت «هو قول وفعل» او د دے صفت «يزيد وينقص» ثابت کړل. اود امام بخاري مقصد د مرجئو ترديد وو. هلته کښے امام بخاري د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت «بني الإسلام على خمس...» ذکر کړے وو. په هغے کښے د اصول ايمان ذکر وو. بيا امام بخاري رحمه الله د شعب ايمان تذکره اوکړله. چه ايمان په دے اصولو کښے منحصر نه دے بلکه د ايمان نورے شعبے هم شته. او هغه شپيته يا اويا دی.

هلته هم د مرجئو ترديد مقصود وو. اوس ددے نه پس «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» ترجمه امام بخاري رحمه الله قائمه کړله. اودا خودل غواړی. چه مؤمن او مسلمان دپاره ضروری دی. چه هغه به بل ته د ضرر رسولو نه خان بچ ساتی. دده دپاره ضروری ده. چه دے به د نورو خيرخواه او خير غوښتونکے وی. ددے نه د مرجئو ترديد کيږی. هغوی وائی. چه د طاعت څه فائده نشته. او معصيت نقصان نه ورکوی. امام بخاري خودل غواړی. که مسلمان نورو مسلمانانو ته د ضرر رسولو نه خان بچ ساتی. نو ددے نيکئ په سبب به هغه کامل مسلمان جوړ شی. دا د طاعت لويه فائده ده. اوکه يو مسلمان بل مسلمان ته په لاس يا په ژبه باندے د تکليف رسولو د گناه مرتکب شو. نو هغه د مسلمان وئيلو مستحق نه دے. دا د معصيت څه کم نقصان دے؟

په ترجمه کښے امام بخاري رحمه الله هم د حديث الفاظ ذکر کړی دی. څکه چه دوی کله کله هم د حديث د الفاظو نه ترجمه جوړوی.

---

(١) الحديث أخرجه البخاري في كتاب الرقاق أيضا باب الإنتهاء عن المعاصي رقم(٦٤٨٤) ومسلم في صحيحه في كتاب الإيمان باب بيان تفاضل الإسلام وأي أموره أفضل والنسائي في سننه و في كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة المسلم وابوداود في سننه في كتاب الجهاد باب في الهجرة هل انقطعت رقم(٢٤٨١) واحمد في مسنده (١٦٣/٢، ١٩٢، ١٩٥، ٢٣، ٢٠٥، ٢٠٩، ٢١٢) والدارمي في سننه (٣٨٨٠/٢ كتاب الرقاق باب في حفظ اليد رقم(٢٧١٦)_

رجال الحدیث

① **أدم بن ابی ایاس** دا ابوالحسن آدم بن ابی ایاس عبدالرحمن العسقلانی دے.دوی په خراسان کښے پیدا شوی وو.په بغداد کښے لوئے شوے وو.اود هغه ځائے د شیوخو نه ئے علم حاصل کړے وو.بیا کوفه ،بصره،حجاز او شام طرته ئے سفر کړے وو.عسقلان ئے خپل وطن گرځولے وو.او هلته په ۲۲۰ھ یا ۲۲۱ھ کښے وفات شوے وو.

ابوحاتم رحمه الله فرمائی:«هو ثقة مأمون من خیار عباد الله تعالیٰ»

ددوی روایات امام بخاری،امام نسائی ،امام ترمذی او امام ابن ماجه رحمهم الله په خپلو خپلو کتابونو کښے راوړی دی.([1])

دا امیر المؤمنین شعبه بن الحجاج بن الورد عتکی واطی بصری دے.ابوبسطام ئے کنیت دے.د دوی په جلالت شان او امامت باندے ټول متفق دی.

امام سفیان ثوری رحمه الله فرمائی:«شعبة أمیرالمؤمنین فی الحدیث»

امام احمد رحمه الله فرمائی:«کان أمة وحده فی هذا الشأن»

په عراق کښے د رجالو د تفتیش او د حدیث د دفاع کار د ټولو نه وړاندے دوی شروع کړے وو.په ۱۶۰ھ کښے وفات شوی وو.د اصول سته مصنفینو د دوی روایات نقل کړی دی.([2]) رحمه الله تعالیٰ.

② **عبدالله بن ابی اسفر**: دا عبدالله بن ابی السفر ثوری کوفی دے.ثقه دے.

د ترمذی نه علاوه په باقی اصول سته کښے د دوی احادیث موجود دی.دا ثقه دے . د مروان بن محمد په عهد خلافت کښے دوی وفات شوی وو.([3])

علامه عینی رحمه الله فرمائی..السفر..چه چرته هم د نوم په طور راشی.نو د فاء د سکون سره به وی.اوچه کله د..ابوالسفر.. یعنی د کنیت په طور راشی.نو هلته به د فاء په فتحه سره وی.دلته کښے هم د فاء فتحه ده.البته بعضے حضرات دلته په فاء باندے سکون وائی.([4])

③ **اسماعیل** رحمه الله: دا اسماعیل بن ابی خالد احمسی بجلی کوفی دے.دحضرت انس رضی الله عنه نه علاوه ئے د نورو ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه احادیث اوریدلی دی.د دوی نه د علم حاصلونکو کښے د سفیان ثوری رحمه الله غوندے امام المحدثین هم شته.

دوی ثقه ،ثبت، صالح اومتقن وو.دوی ته ..میزان.. ونیلی شی.په کوفه کښے په ۱۴۵ھ یا ۱۴۶ھ کښے وفات شوے وو.په اصول سته کښے د دوی احادیث مروی دی.([5])

---

(۱) عمدة القاری (۱/۱۳۰) وتقریب التهذیب (ص.۸۶ شعبه (۱۳۲)_

(۲) عمدة القاری (۱/۱۳۰ وتقریب التهذیب (ص.۲۶۶ رقم الترجمة (۲۷۹۰)_

(۳) عمدة پورتنئ حواله وتقریب التهذیب (ص.۳۰۶) رقم الترجمة (۳۳۵۹)_

(۴)عمدة القاری پورتنئ حواله)_

(۵) عمدة القاری (۱/۱۳۰) وتقریب التهذیب (۱۰۷) رقم الترجمة (۴۳۸)_

④ شعبي رحمه الله دا ابوعمرو عامر بن شراحيل شعبي کوفي دے.جلیل الدر ثقه تابعي فقیه او فاضل دے.په صحابه کرامو کښې ئې د یو لوئې ډلې نه کسب فیض کړے وو.پخپله فرمائي.
«أدرکت خمسمائة صحابي» مکحول رحمه الله فرمائي.«ما رأیت أفقه منه»
د دوی نه د امام قتاده رحمه الله نه علاوه نورو ډیرو تابعینو روایت کړے دے.د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په شپږم کال پیدا شوے وو.په کوفه کښې د قضاء په منصب باندے هم پاتے شوے وو.په ۱۰۳ھ یا ۱۰۴ھ یا ۱۰۵ھ یا ۱۰۶ھ کښې وفات شوے وو.(۱) رحمه الله تعالی.
حضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما دا مشهور صحابي حضرت عبدالله بن عمروبن العاص بن وائل بن اشم بن سعید (بالتصغیر) الهمي دے.د دوی کنیت ابومحمد. ابوعبدالرحمن یا ابونصیر دے.په عبادله اربعه کښې یو دے.
د دوی شمار په حقیقت کښې په حضرات صحابه مکثرین کښې پکار وو خوچونکه د دوی روایات مونږ ته کم رارسیدلی دي.نوځکه دوی په مکثرین في الحدیث صحابو رضي الله عنهم کښې نشي شمارلے.(۲)
دا هم هغه صحابي دے.چه د نبي صلی الله علیه وسلم نه ئې د کتابت حدیث اجازت غوښتے وو.(۳) اود احادیثو یوه مجموعه ئې تیاره کړے وه.چه د هغې نوم دوی «الصحیفة الصادقة» کیخودے وو.(۴)
په وړاندینی باب کښې د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د تذکرے لاندے مونږ دا ذکر کړے وو.چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه به فرمائیل.«ما من أصحاب النبي صلی الله علیه وسلم أحد أکثر حدیثاً عنه مني إلا ما کان من عبدالله بن عمرو،کان یکتب ولا أکتب»(۵) دا بیله خبره ده.چه مونږ ته د دوی روایات نه دي رارسیدلے.د دے څه وجوهات دي.مونږ په تفصیل سره د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په تذکره کښې دد ے ذکر کړے دے.«فارجع إلیه إن شئت»
د دوی روایات کوم چه مونږ ته رارسیدلي دي.هغه ټول اووه سوه دي.چه په هغې کښې متفق علیه اوولس احادیث دي.بیا اته احادیثو کښې امام بخاري منفرد دے.او په شلو کښې امام مسلم(۶) دوی د خپل پلار حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه نه وړاندے مسلمان شوے وو.ددوی او د دوی د پلار په عمر کښې یوولس یا دولس کاله فرق خودلے شي.(۷)

(۱) عمدة (۱۳۰/۱ وتقریب (ص.۲۸۷ رقم الترجمة (۳۰۹۲)_
(۲) د عبادله اربعه په باره کښې تفصیل په ..بدء الوحي.. کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د تذکره لاندے تیر شوے دے.دغه شان د مکثرین صحابو تفصیل هم په ..بدء الوحي.. کښې د دویم حدیث لاندے د حضرت عائشے رضی الله عنها په تذکره کښې تیر شوے دے.
(۳) سنن درامي (۱۳۷/۱.۱۳۶) المقدمة باب من رخص في کتابة العلم رقم(۴۸۵، ۴۸۶)_
(۴) طبقات ابن سعد(۲۶۲/٤) ترجمة عبدالله بن عمروبن العاص (۳۷۳/۲)_
(۵) صحیح بخاري کتاب العلم باب کتابة العلم رقم(۱۱۳)_
(۶) عمدة القاري(۱۳۱/۱) وتهذیب الأسماء واللغات (۲۸۲/۱)_
(۷) طبقات ابن سعد (۲۶۲/٤ وتهذیب الأسماء واللغات(۲۸۱/۱)_

په صحابه كرامو ﷺ كښې د ټولو نه لوئې عابد اوزاهد مشهور وو. دغه شان د كتب سابقه په مطالعه كښې هم د نورو نه ممتاز وو.(١)
د اصح قول مطابق په ايام حره كښې د طائف په مقام د دى وفات شوے دے.(٢)

قوله: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ: مسلمان هغه دے چه دهغه د ژبې او لاس د تكليف نه نور مسلمانان محفوظ وى.

((المسلم)) كښې الف لام د عهد دپاره دى.((المسلم الكامل)) په معنى دے يعنى كامل مسلمان هغه دے چه نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس د شر نه محفوظ وى.(٣)
حضرت علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه د علمى تحقيق د حد پورے خو ټيك ده.ته وئيلے شے چه الف لام دپاره د عهد دى.او د ((المسلم الاكمل))يا((المسلم المعدوم)) په معنى كښې دے خو په دے صورت كښې په كلام كښې زور باقى نه پاتے كيږى.كه الف لام د جنس دپاره واخستے شى.نو مطلب به دا شى.چه د مسلمان د لقب هغه كس حق دار او مستحق دے.چه دچا دپښو لاسو او ژبې د شر نه نور محفوظ وى.كه څوك نورو ته تكليف او ضرر رسوى.نو هغه ته موذى او ضار وئيلى شى.مسلمان ورته نشى وئيلے.په دے صورت كښې تنبيه او زجر زيات دے.دا بيخى داسے ده.لكه چه اهل عرب ..ابل.. باندے د ..مال.. او په ,,عرب.. باندے د ,,ناس.. اطلاق كوى.((المال الإبل)او((الناس العرب)) حالانكه د ابل نه علاوه نور مالونه او د عربو نه علاوه نور انسانان هم شته.خو د ابل د اهميت خودلو دپاره د جنس مال اود عربو د اهميت خودلو دپاره د جنس ناس اطلاق په ابل او عرب باندے كولے شى.
دغه شان قاعده ده.چه په خانه كعبه باندے د ..بيت.. اطلاق ددے د عظمت د اظهار دپاره كولے شى.دغه شان په كتاب سيبويه باندے د ..الكتاب.. اطلاق هم ددے د عظمت د اظهار دپاره دے.دلته كښې هم كه الف لام دجنس دپاره واخستلے شى.او مطلب دا شى.چه د كوم كس د لاس او ژبې د شر نه نور خلق محفوظ نه وى.هغه د مسلمان وئيلو مستحق نه دے.لكه چه دا د ((تنزيل الناقص بمنزلة المعدوم)) د قبيله څنې دے.چه مسلمان صرف هغه كس ته وئيلى شى.چه نور خلق د ده د شر نه محفوظ وى.دا عنوان كه اختيار كړے شى.نو په دے كښې به خلقو ته تنبيه وى.او دوى به د تكليف رسولو نه د بچ كيدو اهتمام كوى.كه مونږ نورو ته تكليف يا ضرر اورسولو.نومونږ د مسلمان وئيلو مستحق نه يو.نومونږ ته ددے نه بچ كيدل پكار دى.(٤)

په خلاف د اولنى صورت كه هلته تاسو د ((المسلم الكامل)) ترجمه كوئ.نو سړے دا سوچ كولے

---

(١) طبقات ابن سعد (٤/٢٦١.٢٦١) وسير أعلام النبلاء (٣/٨١)_
(٢) تقريب التهذيب (٣١٥) رقم الترجمة (٣٤٩٩)_
(٣) عمدة القارى(١/١٣٢)_
(٤) فيض البارى(١/٨٠)دغه شان ايضاح البخارى(٢/١٧٩)_

شي.چه په ما كنبے نور هم ډير نقائص دي.كه دا يوه كوتاهي راكښے هم وي.نودا څه خبره ده. په دے كښے دومره زجر او تنبيه نشته.لكه څومره تنبيه چه په الف لام د پاره د جنس كښے ده.
حضرت مولانا شبيراحمد عثماني رحمه الله ليكلي دي.چه زمونږ فقهاء دا مسئله ليكي .كه عوام د غيبت متعلق د مسئلے تپوس اوكي.چه په دے باندے روژه ماتيږي؟ نو هغه حديث دے ورته واورولے شي.چه په هغے كښے فرمائيلے شوي دي.«الغيبة يفطر الصوم» چه غيبت د روژے ماتونكے دے.او په دے سره روژه باقي نه پاتے كيږي . د دے نه زياتي ورته څه مه وائي.البته كه يو كس د كولو نه پس تپوس اوكړلو په هغه وخت كښے داصل مراد مناسب تشريح كولے شي.(١) دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دي.كه ددوي نه به چا څه مسئله تپوس اوكړلو.چه د قاتل عمد دپاره توبه شته.؟كه هغه ته به پته اولګيدله.چه تراوسه پورے ئےڅوك قتل كړے نه دي.بلكه د قتل اراده لري.نوڅكه د مسئلے تپوس كوي.نوهغه ته به ئے د آيت د ظاهر مطابق مسئله خودله.چه توبه نشته.﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا......﴾(٢) اوكه پته به ورته اولګيدله.چه قتل ئےكړے دے.خو اوس پښيمانه دے.اود توبے په غرض راغلے دے.نو بيا به ئے ورته واقعي مسئله خودله.چه توبه قبليږي.(٣) غرض دا چه د عالمانو دپاره د حال د تقاضا رعايت ضروري دے.(٤)
بعضے حضراتو فرمائيلي دي.چه په حقيقت كښے دلته دا خودل وو.چه مسلم د ..اسلام.. نه ماخوذ دے.نود مسلمان علامت دا كيدل پكار دي.چه د ده نه نورو ته تكليف اونه رسي. دلته دا علامت بيانول مقصود دي.چه په هغے سره دمسلمان په اسلام باندے استدلال كولے شي.اوپه كومه نښه چه هغه مسلمان ګڼړلے شي.اوهغه دا چه نور خلق دده د شر نه محفوظ وي.چاته دده نه تكليف نه وي.(٥)

يوه شبه او دهغې جواب: دلته د حديث د الفاظو «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» نه معلوميږي. كه يوكس نورو ته تكليف نه رسوي.نو هغه مسلمان دے.كه مونځ كوي.اوكه نه

---

(١) په غيبت سره روژه ماتيږي.يا نه؟د جمهورو عالمانو په نيز نهٔ فاسيدږي.البته دامام سفيان ثوري رحمه الله په نيز روژه ماتيږي.په متن كښے ذكر شوي الفاظ د حديث ((الغيبة يفطرالصوم)) احقرته ملاؤ نشو.البته د بعضے تابعينو آثار په دے باره كښے مروي دي.امام غزالي رحمه الله د امام مجاهد: رحمه الله اثر نقل كړے دے((خصلتان تفسدان الصوم الغيبة والكذب)) امام مجاهد رحمه الله نه چه كوم الفاظ مشهور دي.هغه دا دي.((خصلتان من حفظهما سلم له صومه :الغيبة والكذب)) (هكذا رواه ابن ابي شيبة) دغه شان عبيده سلماني رحمه الله نه منقول دي((اتقوا المفطرين الكذب والغيبة) اوګورئ عمدة القاري(١٠/٢٧٦) كتاب الصوم باب من لم يدع ثول الزور والعمل به في الصوم)_
(٢) النساء:٩٣)_
(٣) تفسير ..الدرالمنثور..(١٩٨/٢) آيت ﴿ ومن يقتل مؤمناً متعمداً فجزاؤه جهنم ..﴾ دغه شان فتوى د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه هم منقول ده.پورتنئ حواله)_
(٤) فضل الباري(١/٣٢٥)_
(٥) فضل البار(١/٣٢٤)

كوى .روژه نيسى اوكه نه نيسى.دغه شان نور فرائض ادا كوى كه نه ادا كوى . ځكه چه په دے كښے د يو څيز ذكر نشته.

ددے جواب دا دے.چه دلته ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) سره ((مع مراعاة باقى الأركان))قيد هم ملحوظ دے.(١) يعنى دا نه ده.چه دومره خبره د مسلمان كيدو دپاره كافى ده.بلكه د اسلام د نورو اركانو سره ددے اهتمام ضرورى دے.

دويم جواب دا وركړے شوے دے.چه دلته صرف دومره خبره خودلے شوے ده.چه په مسلمان كښے د سلامتيا د وصف وجود پكار دے.د يو څيز د اهميت د وجے د هغے تذكره شوے ده.ددے نه دا ښكاره لازميږى.چه د اسلام د نورو احكامو او اركانوڅه حيثيت نشته.او مسلمان ددے د ادا كولو مكلف نه دے.ددے خو دلته څه ذكر نشته.(٢)

أيا غير مسلم د تكليف نه بچ كول ضرورى نه دى؟ بيا دلته ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده)) كښے د ..مسلمون.. په قيد باندے دا اشكال دے.چه د شرنه حفاظت دا اهل اسلام دپاره خاص نه دے.نور انسانان هم د خپل شر نه بچ كول پكار دى.بلكه د تكليف نه خو ښناورو حفاظت هم ضرورى دے.په بخارى شريف كښے روايت دے.((عذبت إمرأة فى هرة حبستها حتى ماتت جوعاً فدخلت فيها النار، قال فقالوا والله أعلم لا أنت أطعمتها ولا سقيتها حين حبستيها ولا أنت أرسلتها فأكلت من خشاش الأرض)) (٣)ددے نه معلومه شوه.چه ښناورو ته هم د تكليف رسولو ممانعت دے.بيا د ((المسلم)) قيد ولے اولګولے شو؟

ددے جواب دا دےچه ((خرج هذا القيد مخرج الغالب))ځكه چه د مسلمان واسطه زيات تر د مسلمانانو سره راځى.د شيے او ورځے دده ګډون او ملاويدل د مسلمانانو سره وى.په دے وجه د ((المسلمون)) قيد ذكر كړے شو.(٤) يا دا قيد ددے دپاره دے.چه په دارالاسلام كښے زيات اوسيدونكى چه دده ورسره واسطه وى.مسلمانان وى.

يا داسے اووايه.چه د كافرانو دوه قسمونه دى.ذمى او حربى كه هغه ذمى وى.نو((دماؤهم كدمائنا وأموالهم كأموالنا وأعراضهم كأعراضنا)) د اصولو په بنا باندے هغوى په ((المسلمون)) كښے داخل دى.اګرچه هغوى په حقيقت كښے مسلمانان نه وى.خوهغوى حكماً په اهل اسلام كښے داخل كړے شوى دى.ځكه چه د هغوى د دوينو مالونو او اعراضو دحرمت هم هغه حكم دے.

---

(١) فتح البارى(٥٣/١)_

(٢) امدادالبارى(٣٤٢/٤)_

(٣) صحيح بخارى كتاب المساقاة باب فضل سقى الماء رقم (٢٣٦٥) وكتاب بدء الخلق باب إذا وقع الذباب فى شراب أحدكم فليغمسه.إلخ رقم(٣٣١٨)وكتاب أحاديث الأنبياء باب(بلاترجمة بعدباب حديث الغار رقم (٣٤٨٢)

(٤) فتح البارى(٥٣/١)_

كوم چه د مسلمانان د وينو مالونو او اعراضو دے.
د اهل حرب كافرانو دوه قسمونه دى.يو مصالحين چه دهغوى سره صلح شوے وى . دويم محاربين چه هغوى سره صلح نه وى شوے.چا سره چه صلح شوے وى .هغوى ته دتعرض اجازت نشته.او د صلح مطابق د هغوى د مالونووينو او اعراضودحفاظت ذمه وارى به وى.نودا هم ضمناً د «المسلمون» په قيد كنبے داخل دى.
باقى پاتے شو محاربين كافران كوم چه اهل حرب دى.اود هغوى سره څه صلح نه ده شوے.نو بيشكه هغوى داسے دى.چه هغوى ته تكليف او نقصان اورسولے شى.اودا هم ددے وجے چه هغوى د اسلام مقابله كول او د اسلام لاره نيول پريږدى.نو بس دوى به مستثنى وى.او باقى به مستثنى نه وى. هغوى حكماً په «المسلمون» كنبے داخل دى.[1]
په دويم روايت كنبے راځى.«والمومن من أمنه الناس على دمائهم وأموالهم» [2]دلته كنبے د ،،الناس،، لفظ عام دے.او په دے كنبے مسلمان،ذمى او حربى مصالح ټول داخل دى.
تاسو دا هم وئيلے شئ:چه د «المسلمون» تخصيص دلته د دوى د عظمت د وجے شوے دے. باقى د محاربينو كافرانو نه علاوه چاته هم نقصان رسول جائز نه دى.دغه شان ضمناً ځناور هم ددےحفاظت په حكم كنبے داخل دى.
من لسانه ويده: د لسان په شر كنبےسب وشتم، لعن طعن او بهتان وغيبت دا ټول داخل دى.د هريو نه بچ كيدل واجب او ضرورى دى.
«من لسانه» ئے اوفرمائيل.او «من قوله» ئے اونه فرمائيل.ځكه چه په ژبه باندے ضرر رسول بغير د تكلم او تلفظ نه هم كيږى.لكه چه سړے خپله ژبه راوباسى.او په غصه شى.په دے باندے هم تكليف رسى.نو د ژبے لفظ ئے ځكه استعمال كړلو.چه په دے كنبے تلفظ او قول هم شامل شى.او د «إخراج اللسان من الفم» صورت په كنبے هم داخل شى.
«ويده» ذكر ئے اوكړلو.د لاس په ضرر كنبے وهل او قتل هم داخل دى . دفع او هدم هم ،دغه شان په دے كنبے كتابت بالباطل هم داخل دے.
بعضے حضراتو وئيلى دى.چه تكليف خو په نورو اندامونو باندے هم رسولے شى.نو بيا د «يد» تخصيص ولے اوكړے شو؟
ددے وجه دا ده.چه سلطنت افعال داهم د «يد» نه ښكاره كيږى.اخذ وبطش ،وصل وقطع،منع و اعطاء داټول په لاس سره كيږى.يعنى زيات افعال د لاس په ذريعه كيږى.ځكه ددے ذكر اوكړے شو.د نورو اندامونو نه احتراز مقصود نه دے.

---

(١) د تفصيل دپاره اوګورئ فضل البارى (٣٢٥/١) وعمدة القارى(١٣٣/١)_
(٢) سنن نسائى (٢٦۶/٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة المؤمن – وجامع ترمذى كتاب الإيمان باب ما جاء أن المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده رقم (٢۶٢٧)_

یا داسے اووایه چه «قبض علی مال الغیر» نه چونکه په ..ید.. سره تعبیر کولے شی.نو قتل وضرب وغیره سره چه کوم نقصان د «قبض علی مال الغیر» په صورت کښے وی.د شاملولودپاره دلته د ،،ید.. عنوان اختیار کړے شو.(۱)

لسان په ..ید، باندې ولې مقدم کړې شوه؟ دلته دا سوال شوے دے چه ..لسان.. په ..ید.. باندے ولے مقدم کړے شو .نو ددے وجه دا ده.چه په ژبه باندےکوم تکلیف رسولے شی.هغه عام هم وی.اوتام هم وی.خکه چه په لاس سره خو هغه چاته نقصان رسولے شی .څوك چه تاته مخامخ وی.اوعام طور هم داسے کیږی.او په ژبه باندے هغه سړی ته هم نقصان رسولے شی.څوك چه دلته حاضر نه وی.یا غریب مړ شوے وی.یا پیدا شوے هم نه وی.چونکه د ژبے شر عام او تام دے.خکه ونیلے شوی دی.

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

په ژبه چه کوم زخم اولګی.هغه کله هم نه ختمیږی.بلکه تازه وی.او د لاس زخم څه موده پس تیك شی.باقی نه پاتے کیږی.(۲)

قوله: وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ: دلته کښے هم هغه صورت دے.چه یا به ته الف لام د عهد دپاره اخلے.او د ..هاجر. نه به .مهاجر کامل مراد وی.

اویا به ته الف لام د جنس دپاره ګرخوے.او مطلب به دا وی.چه هجرت هم هغه معتبر دے.چه په هغے کښے ګناه نه وی.اود مهاجر ونیلو مستحق هم هغه کس دے .چه ګناه ئے پریخودے وی. خکه چه د وطن پریخودل بذات خود څه مطلوب څیز نه دے.دیو وطن نه بل وطن ته هجرت کول خوددے دپاره وی.چه اولنی وطن کښے دالله تعالی په حکمونو باندے عمل کول ګران وو.نوخکه هغه پریخودے شی.او بل وطن ته هجرت کولے شی.نو د هجرت اصل مقصد د ګناه پریخودل دی.ددے وجے چه کوم سړے وطن پریږدی.او دارالاسلام ته راشی.که هغه د ګناهونو ارتکاب بیا هم کوی.نو هغه د مهاجر ونیلو لائق نه دے.

بیا «المهاجر من هجر مانهی الله عنه» کښے یوه وجه دا هم بیان شوے ده.چه په اصل کښے به د مکے مهاجرینو د مکے نه هجرت کولو او مدینے منورے ته به راتلل .نود انصارو د طرفه به دهغوی سره د ایثار مظاهره کیدله.هغوی به خپل مالونه هم دوی ته پیش کول.او بعضے وخت که د انصاری به څو ښخے وے.نو هغه به ئے ورته هم پیش کولے.او ونیل به ئے.چه ستا کومه یوه خوښه وی.زه ورته طلاق ورکوم.ته ورسره نکاح اوکړه.نوخکه نبی ﷺ تنبیه ورکړله.چه په هجرت کښے دا څیزونه مطلوب او مقصود مه ګرخوئ.ګنی د هجرت عمل به ضائع شی.اووے فرمائیل.چه د ګناهونو نه د بچ کیدو اهتمام کوئ.په دے سره به د هجرت مقصد هم پوره شی . او هجرت حقیقی به هم حاصل شی.

---

(۱) د تفصیل دپاره اوګورئ: فتح الباری(۱/۵٤) وعمدة القاری(۱/۱۳۲، ۱۳۳)_

(۲) عمدة القاری(۱/۱۳۲)_

یوه خبره دا هم وه چه کله نبی ﷺ مکه مکرمه فتح کړله نود فتح مکه نه پس چه څوك مسلمانان شوی وو هغوی ته افسوس او ارمان وو که مونږ هم وړاندے اسلام قبول کړے وو نومونږته به هم د هجرت فضیلت حاصل شوے وو کوم چه ډیر لوئے فضیلت دے نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه «لولا الهجرة لكنت أمرء من الأنصار» (۱) که د هجرت فضیلت نه وے نو زما به دا تمنا او ارمان وو چه هم په انصارو کنبے ووم خو د هجرت د فضیلت د وجے زه دا ارمان نه کوم نودا حضرات چه د فتح مکه نه پس مسلمانان شوی وو او د هجرت شرافت ورته نه وو حاصل شوے هغوی ته افسوس وو د هغوی د تسلیٔ او اطمینان قلب دپاره نبی اوفرمائیل چه حقیقی هجرت خو دا دے چه د گناهونو نه هجرت اوکړے شی او د کومو څیزونو نه چه الله تعالی منع کړے ده د هغے نه اجتناب اوکړے شی اودا فضیلت تاسو اوس هم حاصلولے شئ د دے حضراتو د تسلیٔ او اطمینان دپاره لکه چه نبی ﷺ دا ارشاد فرمائیلے وو (۲)

د هجرت حکم دهجرت قسمونه وړاندے د اول حدیث په ضمن کنبے د «فمن كانت هجرته» د لاندے تیر شوی دی دلته د خلاصے په طور دا زده کړئ چه د هجرت یو ظاهری قسم دے او بل باطنی قسم (۳)

د هجرت ظاهری حکم دا دے چه سړے په دارالکفر کنبے اوسیږی او هلته د اسلامی احکامو ادا کولو دپاره ده ته گنجائش نه وی نو دده دپاره هجرت کول فرض دے اوکه هلته د اسلامی احکامو ادا کولو کنبے څه خلل نه وی نو دده دپاره هجرت فرض خو نه دے البته خوښ او مستحب بیا هم دے ځکه چه د مسلمانانو په یو ځائے څومره زیاته اجتماع وی نو هومره د اسلام او مسلمانانو په حق کنبے زیاته خیگړه وی.

د هجرت دویم قسم کوم چه هجرت باطنی دے دے ته هجرت حقیقی هم وئیلی شی یعنی هجرت «من الذنوب والمعاصی» ځکه چه هجرت «من دارالکفر إلی دار الإسلام» کیږی دا بذات خود څه مقصود نه دے دا خو ددے دپاره وی چه د گناهونو او د اسلام د احکامو پریخودلو نه سړے بچ شی نوځکه دا هجرت «من الذنوب والمعاصی» حقیقی هجرت او باطنی هجرت دے ښکاره ده چه دا هجرت په ټولو باندے لازم او ضروری دے.

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا دَاوُدُ هُوَ ابْنُ أَبِي هِنْدٍ عَنْ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دا تعلیق دے اوددے مقصد دا دے چه وړاندے کوم روایت د عبدالله بن ابی السفر او اسماعیل

(۱) صحیح بخاری کتاب مناقب الأنصار ،باب قول النبی ﷺ لولا الهجرة لکنت إمرأ من الأنصار رقم (۳۷۷۹) وکتاب التمنی باب ما یجز من اللو رقم (۷۲٤٤ و۷۲٤۵) وجامع ترمذی کتاب المناقب باب فضل الأنصار وقریش رقم (۳۸۹۹)_

(۲) فتح الباری (۱/۵٤) وارشاد الساری (۱/۹٤)_

(۳) فتح الباری (۱/۵٤)_

په طریقه سره ذکرشوے دے.په هغے کښےد ..شعبی .. ذکر وو.خو هلته د شعبی نوم نه وو خودلے شوے.دلته کښے اوخودلے شو.چه د هغه نوم عامر دے.بیا هلته چه د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه حضرت شعبی رحمه الله کوم روایت کوی. هغه د ..عن.. په لفظ سره دے.او په ..عن. کښے داتصال او انقطاع دوارو احتمال وی.نو دلته ئے «قال سمعت عبدالله بن عمرو» اوفرمائیل.او د سماع تصریح ئے اوکړله.

لکه چه د دے تعلیق نه دوه فائدے حاصلے شوے.یو خو د راوی امام شعبی رحمه الله نوم معلوم شو.او بله د سماع تصریح اوشوه.او اولنے روایت معنعن وو.په هغے کښے د سماع او عدم سماع دوارو احتمال وو.په دے تعلیق سره احتمال دعدم سماع ختم شو.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه ابن منده رحمه الله نقل کړی دی.چه دا حدیث «وهیب بن خالد عن داود عن الشعبی عن رجل عن عبدالله» په طریق سره هم مروی دی .لکه چه د شعبی رحمه الله او صحابی رضی الله عنه په مینځ کښے یو مجهول کس دے.په دے صورت کښے به د تعلیق فائده دا شی. چه کله شعبی رحمه الله ته په یوه واسطه د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت ملاؤ شو.نو هغوی براه راست د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما سره ملاقات اوکړلو..او د حدیث سماع ئے ترے اوکړله .دکوم ذکر چه په دے تعلیق کښے صراحةً موجود دے.(٢)

د ابومعاویه دا تعلیق اسحاق بن راهویه رحمه الله په خپل مسند کښے موصولاً کړے دے. او ابن حبان رحمه الله هم په خپل صحیح کښے ددے تخریج کړے دے.د هغوی الفاظ دا دی.«سمعت عبدالله بن عمرو یقول: ورب هذه البنیة لسمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: المهاجر من هجر السیئات والمسلم من سلم الناس من لسانه ویده»(٣)

قوله: وَقَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى عَنْ دَاوُدَ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دا دویم تعلیق دے.ددے د نقل کولو مقصد دا دے.چه دلته عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما په مطلق ..عبدالله.. سره ذکر شوے دے.اود محدثینو رحمهم الله په نیز د صحابو رضی الله عنهم په طبقه کښے چه کله عبدالله مطلق ذکر شی.نو د هغے نه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مراد اخلی.(۴) نو خکه دا شبه کیدے شوه.چه کیدے شی.دا د امام شعبی رحمه الله بل سند وی.چه هغه ئے د عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما په ځائے د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل کوی.په دے باندے ئے تنبیه ورکړله.چه اول مونږ تصریح کړے ده.چه دا عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما دے.د باب په اصل روایت کښے هم دعبدالله بن عمرو رضی الله عنهما تصریح راغلے ده.نو ته پوهه شه.چه دلته

(١) فتح الباری(١/٥٤)_

(٢) فتح الباری(١/٥٤_

(٣) پورتنئ حواله)_

(۴) لمداد الباری(٤/٤٤٢)_

عبدالله مطلق راغلے دے. د دے نه هم هغه عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما مراد دے.حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مراد نه دے.

د ترجمة الباب مقصد د ترجمة الباب مقصد وړاندے بیان شوے دے.بیا ئے واورئ.چه امام بخاري رحمه الله په مرجئو باندے رد کوی.خکه چه د هغوی وینا ده.چه «الطاعة لا تفيد والمعصية لا تضر» امام بخاري رحمه الله اوخودل.چه ستاسو خیال غلط دے.معصیت به مضر ولے نه وی؟کامل اسلام نه وی. سړے د مسلمان ونیلو حقدار نه وی.کله چه هغه په خپله ژبه یا لاس نورو ته تکلیف رسوی. معلومه شوه.چه معصیت مضر دے.او که یو کس د معصیت نه بچ کیږی.او خپل خان د نورو خلقو د تکلیف رسولو نه بچ ساتی.نو په دے باندے په اسلام کښے کمال راځی.او هغه سړے د مسلمان ونیلو حقدار دے .نو دا خیال چه طاعت مفید نه دے.او معصیت مضر نه دے.غلط دے.

۴=بَاب ايُّ الاسلام افضَلُ

الحديث الحادي عشر

[۱] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقُرَشِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو بُرْدَةَ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ

ما قبل سره ربط د اولنی باب نه یوه شبه پیدا شوے وه.چه «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» نه معلومه شوه.که یو سړے نورو ته تکلیف رسوی.نو هغه مسلمان او مومن نه پاتے کیږی. نو ددے نه د خوارجو اومعتزلو تائید کیږی. هغوی هم دا وائی.چه په ارتکاب د کبیره سره سړے مومن نه پاتے کیږی. او تاسو هم دا وایئ چه مسلمان هغه دے.چه د هغه د ژبے او لاس نه چا ته تکلیف اونه رسی.

ددے اشکال لرے کولو دپاره امام بخاري رحمه الله «أي الإسلام أفضل» ترجمه قائمه کړه.دا خودل غواړی.چه د اسلام درجات دی.که یو سړے د خپل شر نه نورو ته تکلیف رسوی.نو هغه د ادنی درجے اسلام خاوند دے.د اسلام نه خارج نه دے.

رجال الحديث

قوله: سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى : سعید بن یحیی بن سعید اموی دے ابوعثمان ئے کنیت دے.د ابن ماجه رحمه الله نه سوا د باقی ټولو اصحاب اصولو استاذ دے.

ابوحاتم رحمه الله فرمائی.دوی صدوق دے.امام نسائی او یعقوب بن سفیان رحمهما الله فرمائی. چه دوی او د دوی والد دواړه ثقه دی.امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی.چه دوی د خپل

پلار په مقابله كښې اثبت دى.صالح بن محمد رحمه الله فرمائى.دوى ثقه دى.البته كله كله ترې غلطى كيږى.په ۲۴۹ھ كښې دوى وفات شوې دې.(۱)

قوله: يحيى بن سعيد: دا د اولنى راوى پلار دې.امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى. ((هومن أهل الصدق وليس به بأس)) په يو بل روايت كښې ابن معين رحمه الله دې ثقه ګرځولې دې. دغه شان محمد بن عبدالله بن عمار موصلى او دارقطنى رحمهما الله دوى ته ثقه ونيلى دى. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((صدوق يغرب))د اتيا كالو په عمر كښې په ۱۹۴ھ كښې وفات شوى دى.(۲)

قوله: بُرْدَةَ: دا بريده ،،بضم الباء الموحدة وفتح الراء المهملة- ابن عبدلله بن ابى برده بن ابى موسى اشعرى دې.دوى دخپل پلار.نيكه.حسن بصرى او عطاء رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.او ددوى نه رويت كونكو كښې حضرت عبدالله بن المبارك رحمه الله غوندې اعلام محدثين شته.ابن معين رحمه الله د دوى توثيق كړې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((ثقة يخطئ قليلاً))(۳)

قوله: ابوبردة: دا عامر يا حارث بن ابو موسى اشعرى دې.دا ددې نه د وړاندې راوى نيكه دې.ددواړو كينت يو دې.البته په نومونو كښې فرق شته.د نمسى نوم بريد دې.اود نيكه نوم عامر يا حارث دې.

دوى د خپل پلار حضرت على ،حضرت ابن عمراوحضرت عائشې رضى الله عنها نه روايات اوريدلى دى.او د دوى نه عمربن عبدالعزيز او امام شعبى رحمهما الله اودوى نه علاوه نورو ډيرو حضراتو روايات اخستې دى.دقاضى شريح رحمه الله نه پس د كوفې قاضى پاتې شوې دې.په حديث كښې ثقه دې.اصحاب سته د دوى د رواياتو اخراج كړې دې.د اتيا كالونه ئې زيات عمر وو.په ۱۰۳ھ يا ۱۰۴ھ په كوفه كښې وفات شوې دې.(۴)

قوله: أبومُوسَى اشعري رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ: دا مشهور صحابى دې.د دوى نوم عبدالله بن قيس دې. دنبى ﷺ مدينې ته د هجرت نه وړاندې ئې تشريف راوړې وو.اوپه اسلام مشرف شوې وو.بيا يمن ته تلې وو.بيا ئې د حبشه هجرت كړې وو.د حبشه نه مدينې ته د فتح خيبر نه پس د اصحاب السفينتين سره هجرت كړې وو.حافظ ابوبكربن ابى داود السجستانى رحمه الله فرمائى.چه حضرت ابوموسى اشعرى رضى الله عنه كښې د دې نه علاوه يو بل فضيلت دا

---

(۱) عمدة القارى(۱/۱۳٤) وتقريب التهذيب (ص.۲٤۲ رقم الترجمة (۲٤۱۵)_

(۲) تهذيب الكمال (۳۱/۳۱۸-۳۲۲) وتقريب (۲.۵۹۰) رقم الترجمة (۷۵۵٤_

(۳) عمدة القارى(۱/۱۳٤) وتقريب (ص.۱۲۱) رقم الترجمة ۶۵۸)

(۴) عمدة القارى(۱/۱۳۵) وتقريب (۲۲۱) رقم الترجمة (۷۹۵۲_

وو.كوم چه بل صحابي ته نه وو حاصل.دوى درے هجرتونه كړى دى.اولنے هجرت د يمن نه نبي كريم ﷺ طرفته.دويم هجرت د مكے مكرمے نه حبشه ته..اودريم هجرت د حبشه نه مدينے منورے ته.ليكن دا خبره دے بنكاره وى.چه دلته هم اولنے قول صحيح دے.چه دوى د مكے نه يمن ته تلے وو.بيا حبشه اودبيا د حبشه نه مدينے منورے ته راغلے وو.
نبي كريم ﷺ دوى د زبيد ،عدن او دساحل يمن گورنر مقرر كړے وو.بيا عمر بن الخطاب رحمه الله دوى د كوفے او بصرے عامل مقرر كړے و.
حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه نه درے سوه شپيته روايتونه مروى دى.په دے كښے متفق عليه پنځوس احاديث دى.او بيا امام بخارى رحمه الله په څلورو احاديثو كښے منفرد دے.او امام مسلم رحمه الله په پنځلس حديثونو كښے.
دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه شمار په صحابو رضي الله عنهم كښے په عالمانو او مفتيانو كښے كيږى.
د صحيح قول مطابق حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه په ۴۴ه كښے وفات شوے وو.(۱)

قوله: أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ: صحابه كرامو رضي الله عنهم د نبي كريم ﷺ نه تپوس اوكړلو.چه «أى الإسلام أفضل؟» بعضے حضراتو ددے تقدير «أى خصال الإسلام أفضل؟» راويستے دے.(۲) او بعضے حضراتو «أى ذوى الإسلام أفضل» تقدير راويستے دے.(۳) دا دويم تقدير د اولنى تقدير نه اولى دے.(۴) ځكه چه په جواب كښے د صاحب اسلام ذكر دے.نبي ﷺ په جواب كښے «من سلم المسلمون من لسانه ويده» اوفرمائل.اود مُسلمان ذكر ئے اوكړلو.د خصلت ذكر ئے نه دے كړے كه چرته د«أى خصال الإسلام» تقدير راويستے شى.نوپه سوال او جواب كښے به مطابقت نه وى.
دويمه خبره دا هم ده.چه ددے حديث په بعضے طرق كښے «أى المسلمين أفضل»مذكور دے.(۵) او په جواب كښے هم هغه «من سلم المسلمون من لسانه ويده» ونيلے شوى دى.نو د «اى المسلمين» مطابق چه «أى الإسلام» راويستے شى.نوزياته بهتره به وى.اودا به هله وى.چه «أى ذوى الأسلام» مقدر اومنلے شى.
په دے تقدير سره د علامه كرمانى رحمه الله سوال او جواب غير ضرورى گرځى. هغوى سوال كړے دے.چه صحابه كرامو رضي الله عنهم د اسلام په باره كښے يعنى د خصلت په باره كښې سوال كړے

---

(۱) تهذيب الأسماء واللغات (۲۶۸/۲ ، ۲۶۹)_ وسير أعلام النبلاء (۳۸۰/۲، ۴۰۲_ وعمدة القارى (۱۳۵/۱)
(۲) فتح البارى(۵۵/۱)_
(۳) پورتنئ حواله)_
(۴) پورتنئ حواله
(۵) صحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان تفاضل الإسلام وأى أموره أفضل رقم (۱۷۳)_

وو.اوپه جواب كښې نبي ﷺ اوفرمائيل چه ((من سلم)) يعني ((أي الخصلة)) ذكر ئې اوكړلو.لكه چه په سوال او جواب كښې مطابقت نشته.
بيا هغوي ددې جواب وركړې دې.چه د نبي كريم ﷺ جواب د معنى په اعتبار سره بيخى مطابق بلكه په زياتي معنى باندې مشتمل دې.څكه چه په دې سره ددې خصلت په وجه افضيلت معلوميږي.او تقدير دا دې. ((خصلة من سلم المسلمون....)) يعني د ((ذوى الإسلام)) د تقدير په صورت كښې ددې ضرورت نشته.چه ((خصلة)) مقدر اومنلې شي.(۱)
دا باب چونكه د اولنى باب د تشريح په طور راغلې دې.هلته كښې اشكال شوې وو.نوامام بخاري رحمه الله دا باب قائم كړلو.اوددې اشكال جواب ئې وركړلو.نوځكه دا وئيل چه ددې ترجمه مقصد د مرجئو ترديد دې.يا نه دې.د حاجت نه زياتي خبره ده.اصلي مقصد دا شبه لرې كول دي.ضمناً په كښې ترديد هم راغلوالله اعلم.

۵=بَاب إِطْعَامُ الطَّعَامِ مِنْ الْإِسْلَامِ

الحديث الثاني عشر

[۳] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ [۵۸۸۲،۲۸]

په تراجمو كښې د امام بخاري تفنن دلته كښې ترجمه ده.((إطعام الطعام من الإسلام)) په دې كښې د ،،اسلام،، لفظ راغلې دې.په وړاندې باب كښې فرمائي.((من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه)) دلته د ايمان لفظ دې.بيا دلته ئې ((من الإسلام)) موخر كړې دې.او په وړاندې باب كښې ئې ((من الإيمان)) مقدم كړې دې.ددې نه پس وړاندې باب دې.((حب الرسول ﷺ من الإيمان)) هلته ئې ((من الإيمان)) روستو كړې دې.دا اتفاقي خبره هم كيدې شي.خو د امام بخاري رحمه الله پشان متيقظ او دقت پسند بزرګ د شان سره داسې اتفاق لرې معلوميږي.
نوځكه بهتره هم دا ده.چه دا په تفنن باندې حمل كړې شي.د دوى منشا دا ده.چه په طبيعت كښې تازګي قائمه وى.كه په تراجمو كښې يوشان والې وى.نو په طبيعتونو كښې د ستومانتيا پيدا كيدو ويره وى.د شوق قائم ساتلو دپاره داسې قسم تبديلیانې راوړي.موږ خلق اهل لسان نه يو.څكه دا لطائف نه محسوس كوو.كوم خلق چه اهل لسان دي.هغوى ته په دې خبرو خوند ملاويږي.(۲)

---

(۱) شرح كرماني (۱/)_
(۲) امدادالباري (۳۴۹/۴)_

د ترجمة الباب مقصد او د ماقبل وما بعد سره مناسبت ددے نه په وړاندینی باب باندے یو اشکال کیدلو.چه که یو کس نورو ته تکلیف رسوی.نوهغه هډو مسلمان نه دے.(په دے خو د خوراجو او معتزلو تائید کیږی.) نوامام بخاری رحمه الله هغه اشکال ختم کړلو.چه داسے نه ده.بلکه د اسلام درجات دی.که یوسړے نورو ته تکلیف نه رسوی.هغه کښے کمال اسلام موجود دے.اوکه یو سړے نوروته تکلیف رسوی.نودهغه ایمان او اسلام ناقص دے.هلته د «تنزل الناقص بمنزلة المعدوم» صورت اختیار کړے شوے دے.کوم چه د اهل بلاغت په نیز مشهور دے.اوامام بخاری رحمه الله دا ترجمه ددے دپاره قائمه کړه.چه هغه دا خودل غواړی.چه یوه درجه خو د اسلام ده.چه سړے نورو ته تکلیف اونه رسوی.او ددے نه اوچته درجه دا ده.چه نورو ته دتکلیف رسولو نه ځان ساتلو سره سره هغوی ته فائده رسوی.دا ددے په مقابله کښے اوچت مقام دے.چه ،،مواسات،، ورته وائی.ددے نه پس وړاندے فرمائی«من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه»دا ددے نه هم اوچته درجه ده.چه سړے نورو ته د خپل ځان سره برابر درجه ورکوی.چه کوم څیز د خپل ځان دپاره خوښوی.هغه د نورو دپاره هم خوښ کړی.دا د ،،مواسات،، نه هم اوچته درجه ده.بیا ددے نه هم اوچته درجه ده.چه «حب الرسول من الإیمان»چه سړے خلقو ته په خپل ځان باندے ترجیح ورکړی . مثلاً د رسول اکرم ﷺ سره دومره محبت وی.چه د خپل ذات او ځان سره هم هغه محبت نه وی.دا نورو ته د ترجیح ورکولو مسئله ده.اودا ښکاره ده.چه عام نه ده . دا د هغه خواصو او اهل فضائلو دپاره ده.په چا کښے چه ایمان په اعلیٰ او اکمله درجه موجود وی.بیا ئے ددے نه پس یوه بله درجه بیان کړے ده.چه د هغے ذکر په «علامة الإیمان حب الأنصار» کښے راځی.یعنی چه نورو ته په خپل ځان باندے ترجیح ورکړی.اود خپل ځان نه زیات د هغوی سره محبت ساتی.اوهغوی سره د دوی محبت دومره وی.چه د هغوی کوم متعلقین او انصار دی.د هغوی سره هم د دوی محبت پیدا شی.د سړی چه کله څه څیز سره محبت وی.نو د هغے د متعلقاتو سره ئے هم محبت وی.دلته د رسول الله ﷺ خاص متعلقین حضرات انصار دی چا چه د نبی ﷺ د حمایت او نصرت او امداد کارنامے کړے وے.نو د ایمان اعلیٰ درجه دا ده.چه د نبی کریم ﷺ سره محبت د خپل ځان سره د محبت نه دومره زیات کړے شی.چه څوک د نبی ﷺ انصار او معاونین دی.چه د هغوی سره محبت هم د ده په زړه کښے راسخ شی.

خلاصه دا چه اولنئ درجه دا ده.چه نورو ته د تکلیف رسولو نه ځان بچ کړی.دویمه درجه دا ده.چه نورو ته فائده اورسوی.دریمه درجه دا ده.چه نور خپل ځان سره برابر کړی.یعنی د نورو دومره خیال ساتی.لکه څنګه چه د خپل ځان ساتی.څلورمه درجه دا ده.چه نورو ته په خپل ځان باندے ترجیح ورکړی.او پنځمه درجه دا ده.چه د اهل ترجیح او اهل محبت سره د دوی محبت دومره وی.چه د هغوی د متعلقینو سره هم دده محبت پیدا شی.دا یو خاص ترتیب دے.او ددے مطابق په «إطعام الطعام من الإسلام» کښے د مواسات یعنی دویمے درجے بیان دے.کوم چه د وړاندے باب «من سلم المسلمون من لسانه ویده» نه اوچته درجه ده.نودا وینا چه د اولنئ او دویمے ترجمے مقصد یو دے.په دواړو کښے څه فرق نشته.مناسب نه ده.

رجال الحدیث

قوله: عمروبن خالد: دا عمروبن خالد بن فروخ بن سعید تمیمي دے.خزاعي ورته هم وائي.اصل کښے د حران دے.څکه ورته حراني وائي.په مصر کښے ئے استوګنه اختیار کړے وه.څکه د دوی شمار په مصریانو کښے کیږي.د دوی کنیت ابوالحسن دے.دلیث بن سعد او عبیدالله بن عمر رحمهماالله وغیره نه ئے احادیث اوریدلی دی.او د دوی نه روایت کونکی ابوزرعه او ابوحاتم رحمهماالله وغیره دی.

ابوحاتم د دوی په باره کښے فرمائي.چه دوی صدوق دی.اواحمد بن عبدالله فرمائي.«ثبت ثقة مصري» د دوی نه په اصول سته کښے صرف امام بخاري رحمه الله روایات اخستے دی.اوباقي حضراتو ترے نه دی اخستے.البته ابن ماجه د یو کس په واسطه د دوی نه روایات اخستي دی.په مصر کښ په ۲۲۹ه کښے وفات شوے وو.(۱)

قوله: لیث: دا مشهور فقیه او امام لیث بن سعد مصري دے.د دوی حالات مونږ په «بدء الوحي» کښے د دویم حدیث لاندے ذکر کړي دی.«فارجع إلیه إن شئت»

قوله: یزید: دا یزید بن ابي حبیب دے.د ابوحبیب نوم سوید دے.او د یزید کنیت ابورجاء دے.دا جلیل القدر تابعي دے.په صحابو رضي الله عنهم کښے ئے د حضرت عبدالله بن الحارث بن جزء الزبیدي او ابوالطفیل عامربن واثله رضي الله عنهما نه احادیث اوریدلی دی.او ددوی نه علاوه په تابعینو رحمهم الله کښے ئے د یو لوئے جماعت نه کسب علم کړے دے.د دوی نه په روایت کونکو کښے سلیمان تیمي، ابراهیم بن یزید او یحیی بن ایوب رحمهم الله شامل دی.او ددوی نه علاوه د مصر په اکابرینو کښ ډیر حضرات دی.

ابن یونس رحمه الله فرمائي.چه د دوی نه وړاندے به په مصر کښے صرف په فتن او ملاحم باندے خبرے اترے کیدے.اوهم ددے متعلق احادیث به بیانولی شو.دا اولنے شخصیت دے.چه په مصر کښے ئے د حدیث او فقه علم ښکاره کړلو.اود حلالو او حرامو په باره کښے ئے د خبرو سلسله شروع کړله.

یزید بن ابي حبیب په هغه درے بزرګانو کښے یو دے.څوک چه حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په مصر کښے د فتوی ورکولو دپاره مقرر کړي وو.دوی به په مصر کښے فتوی ورکوله.ډیرحلیم اوعاقل وو.په ۵۳ه کښے پیدا شوے وو.او په ۱۲۸ه کښے وفات شوے وو.(۲)

(۱) عمدة القاري(۱/۱۳۷) وتقریب (۴۲۰) رقم الترجمة (۵۰۲۰)_
(۲) عمدة القاري(۱/۱۳۷ وتقریب (ص.۶۰۰ رقم الترمة (۷۷۱)_

قوله: ابوالخير: دا مرثد بن عبدالله يزني مصري دزحضرت عمروبن العاص سعيد بن يحيى او حضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت كوي. ثقه او فقيه دے. په ٩٠ هـ كښے وفات شوے دے. اصحاب صحاح سته د دوی نه په خپلو كتابونو كښے روايات نقل كړی دی.(١)

() عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د دوی حالات په «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» كښے تير شوي دی.

قوله: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د دے رجل مبهم په باره كښے حافظ رحمه الله فرمائي. «لم أعرف أسمه» بيا فرمائي. «قيل إنه أبوذر وفي ابن حبان أنه هانئ بن يزيد والد شريح» (٢)

قوله: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ(٣)

د نبي ﷺ نه تپوس اوشو. چه «أي الإسلام خير؟» يعنى «أي خصال الإسلام خير» د اسلام كوم خصلتونه ښه دی؟ دلته كښے د «خصال» تقدير منلے شي. ځكه چه راروان هم د خصلتنو ذكر دے.(٤)

د دے سوال په جواب كښے نبي ﷺ اوفرمائيل. «تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف» دلته «تطعم» او «تقرأ» د «أن تطعم» او «أن تقرأ» په معنى كښے دی. او د مصدر په تاويل كښے دی. لكه «تسمع بالمعيدي خير من أن تراه» د «أن تسمع» په معنى كښے دے.(٥)

اطعام طعام مطلق دي. په «تطعم الطعام» كښے څه قيد نشته كه دوست وی. اوكه رشته دار، نزدے وی اوكه لرے، د دے علاقے وی. او كه د لرے. بيا دا هم تعميم دے. كه دغه طعام اعلى وی اوكه ادنى وی. چه څه تاسره وی. په هغه ئے اوخره. په «تطعم الطعام» كښے خودا قيد هم

(١) عمدة (١٣٧/١) وتقريب (ص. ٥٢٤) رقم الترجمة (٦٥٤٧)_

(٢) فتح الباري (٥٦/١)

(٣) الحديث أخرجه البخاري ايضاً في كتاب الإيمان باب إفشاء السلام من الإيمان رقم (٢٨ وفي كتاب الإستئذان باب السلام للمعرفة وغير المعرفة رقم (٦٢٣٦ ومسلم في صحيح في كتاب الإيمان باب بيان تفاضل الإسلام وأي أموره أفضل رقم (١٦٩) والنسائي في سننه في كتاب الإيمان وشرائعه باب أي الإسلام خير ......رقم (٥٠٠٣) وابوداود في سننه في كتاب الأدب باب في إفشاء السلام رقم (٥١٩٤) وابن ماجه في سننه في كتاب الأطعمة باب إطعام الطعام (٣٢٥٣)_

(٤) فتح الباري (٥٦/١)_

(٥) پورتنئ حواله_

نشته.چه په مره خيټه پرے خوراك كوه.كه تا سره لږ وي.نو د «طعام الواحد يكفي الاثنين» مطابق د يوكس طعام دے دوه كسان اوخوري.گذاره خو بهرحال د يوكس په خوراك د دوو هم كيږي.خكه دا هم ضروري نه ده.چه په مړه خيټه پرے خوراك اوكړي.دے سره سره دا هم ضروري نه ده.چه په اطعام طعام كښے هم روټئ خوړل داخل دي.بلكه په دے كښے يخ او گرم هم شامل دي.چائے پرے اوڅكوه.بوتل پرے اوڅكوه.چونكه په قرآن مجيد كښے د څكاك دپاره هم دا لفظ استعمال شوے دے.﴿فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهٖ﴾ (١) خكه په اطعام طعام كښے روټئ وركول هم داخل دي.او چائے او اوبه او پيئ او شربت څكول هم داخل دي.منشا ئے دا ده.چه د«من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليكرم ضيفه» (٢) مصداق پكار ده چه تۀ ئے.ددے نه ډېره كول نه دي پكار.

د شيخ الاسلام حضرت مدني قدس سره طرز عمل مونږ خو كتلي دي.چه د شيخ الاسلام حضرت مدني رحمه الله سره چه به سبق ختم شو .د سبق نه پس به حضرت په چوكئ باندے اودريدلو.او په پوره دارالحديث كښے به ئے نظر واچولو.چه كوم خلق نوے راغلي دي. دارالعلوم ديوبند يوه مركزي اداره وه .د لرے او نزدے نه به خلق ددے د ليدو دپاره راتلل. چونكه د حضرت ذات ته مركزيت حاصل وو.دحضرت د درس وخت به وو.خلق به هلته راتلل.دسبق نه پس به حضرت نوي راتلونكي كسان كتل.بيا به ئے هغوي راغوبنتل.اوخپل ځان سره به ئے كور ته بوتلل.اوروټئ به ئے پرے خوړله.حالانكه عين ممكن وه.چه په طالبانو كښے به د هغه څوك كوربه موجود وو.يا په استاذانو كښے به دهغه څه كوربه موجود وو.خو هغوي به په دے احتمال باندے اكتفاء نه كوله.بلكه روزانه به اهتمام وو.چه دا خلق به ئے لټولو.ستړكو به ئے هغوي لټول.او بيا به ئے كور ته د روټئ دپاره بوتلل.اوس كه يو كس به ورته اوونيل.چه زه د فلاني ميلمه يم.زما دپاره هغه اهتمام كړے دے.نوهغه ته به اجازت وركړے شو. او كوم خلق چه به داسے نه وو.هغوي به حضرت خپل كور ته بوتلل.اوس هغوي به كله لس كسان هم وو.اوكله به پنځه هم وو.په شمار كښے به كمے بيشے راتللو.

قوله: **وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلٰى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَّمْ تَعْرِفْ**:تاسو به كتلي وي.چه په تولو قومونو كښے رواج دے.چه كله دوي په خپل مينځ كښے يوځائے شي.نو د قولي تحفه تبادله كوي.څوك څه وائي.او څوك څه وائي.د هندوانو په نيز د تحيه جدا طريقه ده.د انگريزانو په نيز جدا طريقه د .اود نورو قومونو په نيز جدا.اسلام ددے دپاره د «السلام عليكم» يا د «سلام عليكم» طريقه اختيار كړے ده.يو سړے چه كله بل سره ملاؤ شي.نو «السلام عليكم» اووائي. بل جواب كښے «وعليكم السلام» اووائي .د تحفو تبادله په خپل مينځ كښے من قبيل الاقوال

---

(١) سورة بقرة:٢٤٩)_

(٢) صحيح بخاري كتاب الأدب باب من كان يومن بالله واليوم الآخر فلا يوذ جاره رقم(٦٠١٨) و(٦٠١٩) وباب حق الضيف رقم(٦١٣٥) و(٦١٣٦) و(٦١٣٨)_

ده.په خلقو کښې دشمنۍ وې يو دبل د سردشمن وو.هم ددې عداوتونو او دشمنود وجې هغوی د ..حلف.. سلسله قائمه کړې وه.يوه قبيله د بلې قبيلې او يو سړې دبل سړی حليف وو.دې به دهغه د جان محافظ وو.اود هغه د جان حفاظت به ئې کولو ددې نه بغير دهغوی ملاقات

د خطرو نه خالي نه وو. نواسلام ((السلام عليكم)) تحيه مقرر کړله چه د اول نه ورته اطمينان ورکړی چه زه ستا د سلامتيا خوانشمند يم.زما د طرف نه ته مطمئن اوسه.زه به تا ته څه

ضرر او نقصان نه درکوم.دويم کس په جواب کښې وائي.((وعليكم السلام)) اوهغه هم دا اطمينان ورکوی.چه زه هم ستا د سلامتيا خواهشمند يم.زما د طرفه به هم تا ته څه تکليف او ضرر نه رسي.

دالله سبحانه وتعالى تحيه هم دا ده.لکه چه د ﴿سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ﴾ (١) نه معلوميږي.

خودا به په غرض د اکرام او تکريم وی.مونږ خو((السلام عليكم)) د دعا په نيت وايو.خوالله تعالى خو دعا کونکې نه دې.نوځکه به دا ونيلې شي.چه هلته مقصود اکرام او تکريم دې.يعنې د ا اطمينان ورکول دی.چه تاسو به زمونږ په نيز دلته د مکرم او معزز ئې نوځکه ئې ﴿سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ﴾ اوفرمائيل.

دا د فرښتو تحيه هم ده.په حديث کښې راځي.چه نبي کريم ﷺ ته حضرت جبريل ؑ د حضرت خديجه ؓ په باره کښې فرمائيلی وو.((فإذا أتتك هي فقرأ عليها السلام من ربها ومني)) (٢)

دغه شان د حضرت عائشې ؓ په باره کښې هم راغلي دي.((هذا جبريل يقرئك السلام)) (٣)

حضرت آدم ؑ چه کله الله سبحانه وتعالى پيدا کړلو.نو په هغه وخت کښې ئې ورته اوفرمائيل.((اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ)) (٤)

الله سبحانه وتعالى مونږته په ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا﴾ (٥) کښې هدايت کړې دې.که تاسو د چا کور ته ورځئ.نو ((السلام عليكم)) وائې.او اجازت غواړې.او بيا اسلام دا د مسلمانانو شعار ګرځولې دې.قرآن کريم وائي.﴿وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا﴾ (٦) ((السلام عليكم)) ويونکی ته دا مه وائې.چه هغه مومن نه دې.دا

---

(١) سورة يس:٥٨)_

(٢) صحيح مسلم (٢/٢٨٤) كتاب الفضائل باب من فضائل خديجة رضي الله عنها دغه شان اوګورئ مجمع الزوائد (٩/٢٢٤، ٢٢٥) كتاب المناقب باب فضل خديجة بنت خويلد زوجة رسول الله ﷺ)_

(٣) صحيح بخاری كتاب فضائل الصحابة باب فضل عائشة رضي الله عنها رقم(٣٧٦٨)_

(٤) صحيح بخاری كتاب أحاديث الأنبياء باب خلق آدم وذريته رقم(٣٣٢٦)_

(٥) سورة النور:٢٧)_

(٦) سورة نساء:٩٤)_

خو د اهل اسلام شعار دے.کله چه هغوی ((السلام عليكم)) اووائی.نو هغه به مومن گنړلے شی.دغه شان نبی اکرم ﷺ په ((تقرء السلام على من عرفت ومن لم تعرف)) کښے ذکر کړی دی.چه تاسو اطعام طعام کوئ.او چه څوك پيژنئ.هغوی ته هم سلام کوئ.اوچه څوك نه پيژنئ.نو هغوی ته هم سلام کوئ.

ددے نه بعضے خلق مستثنی دی.لکه کافران که ذمیان وی اوکه غیر ذمیان.هغوی باندے د سلام د ابتداء اجازت نشته.دغه شان په عاصی مجاهر باندے څوك چه په جهره او علانيه گناه کوی.هغه ته هم د سلام کولو نه منع شوے ده.دغه شان که يو سړے متيازے کوی.يا غسل کوی.يا تلاوت کوی.يا دعا کوی.يا ذکر کښے مشغول وی.يا په درس او تدريس کښے مشغول وی.نوهغه ته به هم سلام نشی کولے.مختلف مواقع دی.کوم چه فقهاؤ بيان کړی دی.او ددوی د استثناء معقول وجوهات موجود دی.(١)

البته که يو حاکم ظالم وی.اوهغه ته ابتداء بالسلام اونکړے شی.نو د ضرر او تکليف احتمال وی.نوهلته اجازت ورکړے شوے دے.اګرچه هغه غير مسلم ولے نه وی . ليکن حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائی.که هغه غير مسلم وی. که هغه ته د ضرر د ويرے د وجے د ابتدء بالسلام نوبت راشی.يا جواباً سلام ته ضرورت پيښ شی. نو په هغه وخت کښے هم که د سلام لفظ استعمال نکړی.نو بهتره ده.په جواب کښے دے ((هداك الله)) اووائی.آداب هم وئيلی شی.(٢)

نن صبا دا رواج شوے دے.چه چا سره پيژندګلو وی.هغه ته سلام کوی. اوچا سره چه پيژندګلو نه وی.هغه ته سلام نه کوی.دا خو ټيك ده.که د چا د مسلمان کيدو خبر نه وی.اوويريږی.چه دا به مسلمان نه وی.نو سلام دے نشی کولے.خوکه دا ويره نه وی.اوپه زړه کښے دا احتمال نه راځی.نو بيا ته سلام کوه.په ابتداء بالسلام کښے عاجزی ده.د متکبرينو طريقه ده.چه هغوی دبل د سلام انتظار کوی.او په ابتداء بالسلام کښے دخان سپك والے ګنړی.نوځکه د ابتداء بالسلام اهتمام کول پکار دی.اوتاسو ته معلومه ده.چه ابتداء بالسلام مسنون ده.او رد د سلام واجب دے.خودا مسنون د واجب نه افضل دے.(٣)

د يو قسم سوالونو په جواب کښې د مختلفو جوابونو د واريدو وجوهات دلته په حديث کښے سوال ((أى الإسلام خير)) وو.او په جواب کښے ((تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف)) اوفرمائيلے شو. دلته اشکال پيدا کيږی .چه سوال يو شان دے.خو په جواب کښے

(١) بذل المجهود (١/٤٢، ٤٣) كتاب الطهارة باب فى الرجل يردالسلام وهو يبول)_

(٢) فضل البارى(١/٣٢٨)_

(٣) تفسير قرطبى (٥/٢٩٨، ٢٩٩) قوله تعالى ﴿ وإذا حييتم بتحية فحيوا بأحسن منها أو ردوها تفسير كبير(١٠/٢١١، ٢١٥) وأوجزالمسالك (١٥/٩٦، ١٠) العمل فى السلام وردالمحتار (٦/٤١٦ كتاب الحضر والإباحة (مطبوعه ايچ ايم سعيد كمپنى)_

مختلف امور ذکر شوی دی.مثلاً د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په حدیث کښې دی.په هغې کښې سوال دے.((أی العمل أفضل؟)) نو نبی ﷺ په جواب کښې فرمائی.((الإیمان بالله ورسوله، قیل ثم ماذا؟ قال الجهاد فی سبیل الله،قیل ثم ماذا؟قال:حج مبرور))(١)
دغه شان د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په حدیث کښې دی.چه هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړلو((أی العمل أحب إلی الله؟))نو نبی ﷺ اوفرمائیل.((الصلاة علی وقتها قال ثم أی؟قال ثم بر الوالدین قال: ثم أی؟قال: الجهاد فی سبیل الله))(٢)
سوال دا دے.چه ددے څه وجه ده چه سوال یو یا متقارب دے او جوابونه مختلف دی.
عالمانو ددې اشکال ډیر جوابونه ورکړی دی ۱) یو جواب دا دے.چه په اصل کښې د جواب دا اختلاف د سائلینو دحال داختلاف د وجې دے.د سائلینو د حالاتو د اختلاف د وجې نبی کریم ﷺ جواب مختلف ورکړے دے.(٣) تاسو به کتلی وی.چه سائل مونځ کوی.په جهاد کښې هم ځی.ایمان هم راوړی.خو هغه لږ غوندے بخل کوی اوپه هغه کښې تکبر غوندے محسوس کیږی.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.((تطعم الطعام وتقرأ السلام علی من عرفت ومن لم تعرف)) چه په اطعام طعام سره د بخل نفی اوشی.او ((تقرأ السلام علی من عرفت ومن لم تعرف)) سره د تکبر نفی اوشی.
یو سائل ته ئے اوکتل.چه هغه په مونځ اود مورپلار په تابعدارئ کښې کوتاهی کوی .نو هلته نبی ﷺ اوفرمائیل.((الصلاة علی وقتها)او د((بر الوالدین)) ذکر ئے اوکړلو .او بیا دا هم کیږی.چه سائل یو وی.اود جواب په وخت کښې په جمع کښې څو کسان وی.په چا کښې یوه کوتاهی وی.اوپه چا کښې بله کوتاهی وی.نو د سائل رعایت هم نبی ﷺ کړے دے.او د نورو حاضرینو هم.بهرحال د اد جواب اختلاف ((لإختلاف حال السائلین)) د وجې دے.
۲) بعضے حضرات وائی چه په اصل کښې دا اختلاف د وخت د اختلاف په وجه دے.(٤) یوه زمانه وه.چه که گرانی وی.قحط راشی.یو سړے د نبی ﷺ نه تپوس اوکړلو.چه زه د نفلی حج دپاره ځم.ستاسو څه مشوره ده؟نبی ورته اوفرمائل. چه ته حج ته مه ځه.بلکه خلقو ته روټئ ورکوه.دغه شان یوه زمانه وه.چه په ایمان راوړلو کښې به ډیرے سختې پیښیدلے.او د مشرکانو ظلم او زیاتی خلق د اسلام نه منع کول.نو نبی ﷺ په خصوصیت سره ((إیمان بالله ورسوله)) ذکر اوفرمائیل.او د ایمان بالله سره نبی ﷺ د نورو څیزونو ذکر هم اوکړلو.کوم چه

---

(١) صحیح بخاری (٨/١) کتاب الإیمان باب من قال إن الإیمان هو العمل)_
(٢) صحیح بخاری(٧٦/١) کتاب مواقیت الصلاة باب فضل الصلاة لوقتها)_
(٣) شرح نووی علی صحیح مسلم(٤٨/١) کتاب الإیمان باب بیان تفاضل الإسلام وأی أموره أفضل)_
(٤) فتح الباری (٥٦/١)_

د زمانې د حالاتو په اعتبار سره ضروري وو.اود ترجيح مستحق وو.

() بعضې حضراتو دا ونيلي دي.چه د جوابونو اختلاف د متكلم د شؤون په وجه دے.د متكلم خپل حالت په يو وخت كښې څه وي.او په بل وخت كښې بل وي.دنبي كريم ﷺ نظر به په يو وخت كښې د الله تعالى په قهر او غضب وو.نو نبي ﷺ اوفرمائيل.چه «لايدخل الجنة قتات»[1] په بل وخت كښې د نبي ﷺ نظر دالله تعالى په شان رحمت باندے وو.نونبي ﷺ اوفرمائيل.چه «من كان آخر كلامه لاإله إلا الله دخل الجنة»[2] نو د نبي په شؤونو او په دوي باندے راتلونكو كيفياتو او حالاتو كښې چونكه اختلاف وو.نو د هغې په اعتبار سره به نبي ﷺ جواب وركولو.پخپله په مونږ باندے هم دا كيفيات مختلفه واردېږي.زمونږ حال خو دا دے چه كله په كيفياتو كښې په مونږ باندے د نفس غلبه وي.اوكله د شيطان تاثير خپل زور ښائي.او په رسول الله ﷺ به چه د شوونو كوم اختلاف راتلو.هغه به د شوون الهيه تابع وو.د نفس او شيطان څه سوال نه وو.([3])

() بعضې حضرات فرمائي.چه ګورئ د نبي كريم ﷺ نه پس حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه دټولو نه افضل دے.دا خو تاسو ته معلومه ده.چه فضيلت كلي حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته حاصل دے.او د فضيلت كلي مطلب دا دے.چه «من حيث المجموع» په ټولو صحابو رضي الله عنهم كښې افضل صحابي دے.هغه حضرت ابوبكر رضي الله عنه دے.خو ددے فضيلت كلي باوجود په بعضې نور صحابو رضي الله عنهم كښې جزئي فضيلت موندے شي.يعني يو خاص قسم فضيلت بعضې بعضې صحابو رضي الله عنهم سره مختص دے.مثلا «أرحم أمتي بأمتي أبوبكر، وأشدهم في أمر الله عمر، وأصدقهم حياء عثمان، وأعلمهم بالحلال والحرام معاذبن جبل وأفرضهم زيد بن ثابت، وأقرؤهم أبي، ولكل أمة أمين، وأمين هذه الأمة أبوعبيدة بن الجراح»[4] وغيره ددے صحابو رضي الله عنهم چه كوم فضائل بيان شوي دي.دا جزئي فضائل دي.ددے جزئي فضائلو د وجې چه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته كوم فضيلت مطلقه او فضيلت كلي حاصل دے.هغه نه متاثر كيږي.د ټولوصفاتو اعتبار كه اوكړے شي.او په صحابو رضي الله عنهم يا په امت كښې د «أفضل من الكل» لتول اوكړے شي .نو هغه به حضرت

---

(۱) صحيح بخاري كتاب الأدب باب ما يكره من النميمة رقم(۶۰۵۶ وصحيح مسلم كتاب الإيمان باب بيان غلظ تحريم النميمة وسنن أبي داود كتاب الأدب باب في القتات رقم(٤٨٧١) وسنن ترمذي كتاب البر والصلة باب ما جآء في النمام رقم(۲۰۲۶)_

(۲) سنن أبي داود كتاب الجنائز باب في التلقين رقم(۳۱۱۶)_

(۳) دشوون نبويه د تفصيل دپاره اوكوګرئ فتح الملهم (۱/ ٥٩٤ـ ۵۹۶) كتاب الإيمان باب الدليل على أن من مات على التوحيد دخل الجنة قطعاً)_

(۴) جامع ترمى كتاب المناقب باب مناقب معاذبن جبل وزيد بن ثابت.وأبي وأبي عبيدة بن الجراح رضي الله عنه رقم(۳۷۹۰، ۳۶۷۹۱)_

ابوبکر ﷺ را خیژی.لکه څنګه چه په رسولانو کښې نبی کریم ﷺ ته فضیلت کلی حاصل دے.خو ددے فضیلت کلی باوجود په خپله نبی ﷺ بعضے پیغمبرانو دپاره جزئی فضیلتونو بیان کړی دی.

نبی ﷺ فرمائیلی دی.چه د قیامت په ورځ چه کله زه د خپل قبر نه راپاسم.نو حضرت موسی ﷺ به اووینم.چه هغه به دعرش پښه نیولے وی.(۱) دا د هغوی جزئی فضیلت دے.

دغه شان نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی.چه کله قیامت شی.او حشر الاجساد من القبور اوشی.نو د ټولو نه وړاندے به حضرت ابراهیم ﷺ ته جامے اغوستولے شی.(۲)

د هغوی دا فضیلت هم جزئی دے.

حضرت سلیمان ﷺ ته داسے حکومت ورکړے شوے و.چه په پیریانو باندے هم د هغوی حکومت چلیدلو.(۳) په دے حکومت کښے به هغوی د ټولو ځناورو خبرے هم پیژندلے.اود هغے مطابق به ئے عملی اقدامات کول.دا د حضرت سلیمان ﷺ جزئی فضیلت دے.

ښکاره ده چه نبی کریم ﷺ ته دا جزئی فضیلتونه نه دی ورکړے شوے.نوځکه به دا وئیلی شی.چه په کومه طریقه نبی کریم ﷺ ته فضیلت کلی حاصل دے.نوهغه په جزئی فضیلت سره نه متاثر کیږی.هم دغه شان حضرت ابوبکرصدیق ﷺ ته کلی فضیلت حاصل وو.د نورو صحابو ﷺ په جزئی فضائلو سره هغه کلی فضیلت نه متاثر کیږی.

دغه شان دلته ډیر اعمال دی.چه هغے ته جزئی فضیلت حاصل دے.مثال په طور «تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف» ته په دے اعتبار سره فضیلت حاصل دے.چه په دے کښے د بخل ا کبر نفی ده.اود بخل او کبر نفی د ټولو په نیز خوښ عمل دے.څوك هم ددے د خوبئ نه انکار نه کوی.نو ددے فضیلت په دے اعتبار سره د ے.چه په دے کښے د چا اختلاف نشته.جهاد د فضیلت یو عمل دے.او په دے کښے ډیر لوئے فضیلت دے.خو څه کسانو ته دا ګران وی.چه دا وینه تویول دی.په دے کښے سفك دماء وی.او په «تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف» کښے څوك اختلاف نشی کولے.

یو فضیلت د مشقت په اعتبار سره وی.«أجركم على قدر نصبكم»، «العطايا على متن البلايا» چه څومره مشقت وی.هغه هومره فضیلت به وی.په دے اعتبار سره که تاسو اوګورئ نو په ایمان

---

(۱) عن أبي سعيد ﷺ عن النبي ﷺ قال:الناس يصعقون يوم القيامة .فأكون أول من يفيق. فإذا أنا بموسى آخذ بقائمة من قوائم العرش ..) صحيح بخاری کتاب أحاديث الأنبياء باب قول الله تعالى ﴿وواعدنا موسى ثلاثين ليلة وأتممناها بعشر... رقم(۳۳۹۸)_

(۲) عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي ﷺ قال: إنكم محشورون حفاةً عراةً غرلاً ثم قرأ ﴿كما بدأنا أول خلق نعيده.وعداً علينا .إنا كنا فاعلين﴾ وأول من يكسى يوم القيامة إبراهيم.. صحيح بخاری کتاب الأنبياء باب قول الله تعالى ﴿ واتخذالله إبراهيم خليلاً﴾ رقم (۳۳٤۹)_

(۳) كمافي قوله تعالى:﴿ومن الجن من يعمل بين يديه بإذن ربه.. وقليل من عبادي الشكور﴾ سورة سبا :۱۲، ۱۳)

بانده کښې د تولو نه زیات مشقت دے.مونږ خو نسلي طور مسلمانان يو.او زمونږ ایمان تقلیدي دے.اګرچه دا نسلي او تقلیدي ایمان هم معتبر دے.لکه څنګه چه وړاندے بیان اوشو خو تاسو لږ سوچ اوکړئ چه یو سړے د لات او عزی عبادت کوی.هغه خپل مشکل کشا او حاجت روا ګنړی.د هغه ډیر تعیم کوی.او تندے په زمکه اړدی.اوهغه ته سجده کوی.دا رسم د هغه د پلار نیکه نه نسلاً بعد نسل راروان وی.اوس چه هغه سړے په الله باندے ایمان راوړی.او دهغه معبودانو نفی اوکړی.د چا چه هغه ډیر تعظیم کولو.هغه ئے حاجت روا او مشکل کشا ګنړلو.اوبیا د دوی د بے بسئ اقرار کوی.هغوی ته باطل معبودان وائی .او نسلاً بعد نسل د خانداني روایت نه اوګرځی.نودا معمولي خبره نه ده.دا ډیرګران کار دے.

د مبتدعینو په حال باندے غور اوکړئ.یو سړے بدعتي وی.که په زرګاهو کرته ئے پوهه کړے چه د بدعت نه توبه اوباسه.اود سنت عاشق جوړ شه.هغه خپل بدعت په هیڅ قیمت پریخودو ته تیار نه وی.چه هغه ته کله ته اووائے چه ددے خو په قرآن او حدیث کښې چرته څه ثبوت نشته.هو هغه به درته آخري جواب هم دا درکوی. چه دا یو ښه کار او نیک کار دے.که دا اوکړےشی.نو په دے کښې څه حرج دے؟د لاجوابه کیدو نه پس هغه د حرج خبره راړواندے کړي.خو بدعت نه توبې ویستلو ته تیار نه وی.نو بیا یو دین پریخودل او بل دین اختیارول څه آسان کار نه دے.

دغه شان «ایمان بالله»نه پس نبی ﷺ جهاد في سبیل الله ذکر کړلو.په جهاد في سبیل الله کښې کوم مشکلات دی؟تاسو پیژنئ.چه سر په تلی کښې کیږدی.اوخپل ځان په خطراتو کښې اچوی.دا آسان کار نه دے.ځکه خو الله سبحانه وتعالی ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾ (۱) فرمائی.او دوی ته د جنت زیرے ورکوی.او ددے دپاره د «اشتری» لفظ استعمالوی.

دغه شان په حج کښې ډیر مشقت دے.سړے د یو ملك نه بل ملك ته ځی.د ژبے نه هم ناواقف وی.د هغه ځائے د رسم او رواج نه هم واقف نه وی.په قدم قدم باندے پیسه لکه د اوبو پشان خرچ کوی.او د اجنبي او ناواقف خلقو د غیر همدردانه سلوك نه متأثر کیږی.خو حاجي دا ټول څیزونه په روښانه تندی سره برداشت کوی.نو د ایمان جهاد او حج چه کوم افضیلت بیان شوے دے.هغه د مشقت په وجه سره دے.

دغه شان په یوحدیث کښې دی.چه نبی ﷺ د «أي العمل أحب إلى الله؟» په جواب کښې «الصلاة على وقتها» ذکر کړلو.هلته احبیت په دے اعتبار سره دے.چه په مانځه کښې د الله سبحانه وتعالی او د بنده په مینځ کښې د عبدیت تعلق قائم وی.هغه الله تعالی ته ډیره عاجزئ اختیار کړی.په دے باندے په مونځ کښے احبیت پیدا کیږی.

---

(۱) سورة توبة:۱۱۱_

په دے حدیث کښے نبی ﷺ د ((الصلاة على وقتها)) نه پس ((بر الوالدين)) ذکر کړے دے.ددے وجے چه په دے کښے د مور پلار اطاعت او تابعداری هغوی ته عاجزی اختیارول وی.په قرآن مجید کښے هم دی.﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾ (١) دخپل ذات سره الله سبحانه وتعالی مور پلار ذکر کړی دی.﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾(٢) دلته کښے هم د خپل عبادت سره د مور پلار سره د حسن سلوك بيان شوے دے.

ددے نه پس په دے حدیث کښے نبی ﷺ د جهاد ذکرکړے دے.په جهاد کښے د امیر وړاندے د خپلے عاجزئ اقراروی.او مجاهد د امیر په حکم خپل خان قربانی کولو ته تیار وی.نو مونځ، برالوالدین ،اوجهاد کښے عاجزئ .اطاعت او تابعدارئ په جهاتو سره فضیلت حاصل دے.

حاصل دا دے.چه په مختلفو وجوهاتو سره په اعمالو کښے فضیلت موجود وی.په يوه موقع باندے ئے د يو خاص جهت دفضيلت لحاظ ساتلے دے.او مخصوص اعمال ئے بيان کړی دی.اوکله ئے د بل جهت د فضيلت اعتبار کړے دے.او دهغے سره متعلق اعمال ئے ذکر کړی دی.په مختلفو اعمالو کښے جزئی فضائل موجود وی.هم دا جزئی فضیلتونه د جواب په وخت کښے د نظر وړاندے ساتلے شوی دی.(٣)

() يو جواب دا ورکړے شوے دے.چه دا مختلف اجناس دی.په دے اجناسو کښے د بعضے اجناسو نبی ﷺ د يو سوال په جواب کښے ذکر کړی دی.او د بعضے اجناسو ئے دبل سوال په جواب کښے ذکر کړے دے.او د بعضے اجناسو ئے د دریم سوال په جواب کښے .والله اعلم بالصواب.

هذا آخر ما أردنا إيراده من شرح أبواب كتاب الإيمان ويليه إن شاء الله تعالى في المجلد الثاني باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات والصلاة والسلام على رسوله محمد أفضل الموجودات وأكرم المخلوقات وعلى آله وأصحابه وتابعيه لهم بإحسان ما دامت الأرض والسماوات.

الحمد لله

احقر مترجم ترے د ګل په شپه په کال (٣ .رمضان ١۴٢۵) مطابق ١٧/١٠/٢٠٠۴) فارغ شو.الله دے د نوروجلدونو د تکمیل توفيق هم ورکړی. او حضرت شيخ الحديث مدظلهم العالی مع مرتبین ته دے صحت او عافيت ورکړی. آمين

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله وصحبه وسلم

---

(١) سرة لقمان : ١٤)_

(٢) سورة الإسراء:٢٣)_

(٣) فتح الملهم (١٦٢٤، ٦٢٧ كتاب الإيمان باب بيان تفاضل الإسلام وأى أموره أفضل)_

بسم اللہ الرحمن الرحیم

((مصادر ومراجع))

① القرآن الکریم: کلام رب العالمین۔

② ابن ماجه اورعلم حدیث: (مصنف) مولانا عبدالرشید نعمانی، مدظلہم، مطبع: میر محمد کتب خانه مرکز علم وادب،

③ الأبواب والتراجم: حضرت مولانا محمد ادریس کاندھلوی صاحب رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۹۴ھ) مکتبہ جمیلی لاہور۔

④ الابواب والتراجم لصحیح البخاری: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب (متوفی ۱۴۰۲ھ مطابق ۱۹۸۲ء) ایچ ایم سعید کمپنی پاکستان چوک کراچی۔

⑤ اتحاف السادة المتقین بشرح أسرار إحیاء علوم الدین: علامه سید محمد بن محمد الحسینی الزبیدی المشهور بمرتضی رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۰۵ھ) دار احیاء التراث العربی

⑥ الاتقان فی علوم القرآن: حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ (متوفی ۹۱۱ھ) شرکة مکتبة مصطفی البابی الحلبی مصر،

ألاجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الکاملة: امام عبد الحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ ھ) مکتب المطبوعات الإسلامیة بحلب-

⑦ إحیاء علوم الدین مع شرح إتحاف السادة المتقین: امام محمد بن محمد الغزالی رحمہ اللہ (متوفی ۵۰۵ ھ) دار إحیاء التراث العربی۔ بیروت،

⑧ إختصار علوم الحدیث: ابوالفداء عماد الدین إسماعیل بن شهاب الدین عمر المعروف بابن کثیر رحمہ اللہ (متوفی ۷۷۴ھ) دار التراث۔ القاهرة (۱۳۹۹ھ مطابق ۱۹۷۹ء)،

⑨ ألأربعون النوویه۔ بشرح الإمام ابن دقیق العید، ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ۶۷۶ھ)

⑩ إرشاد الساری شرح صحیح البخاری: ابوالعباس شهاب الدین أحمد بن محمد القسطلانی رحمہ اللہ (متوفی ۹۲۳ھ) المطبعة الکبری الأمیریة۔ مصر طبع سادس ۱۳۰۴ھ

⑪ إرشاد القاری الی صحیح البخاری: حضرت مفتی رشید أحمد صاحب لدھیانوی رحمہ اللہ، محمد سعید اینڈ سنز کراچی طبع اول،

⑫ أرواح ثلاثه: حکیم الأمت مجدد الملت حضرت مولانا أشرف علی تھانوی رحمہ اللہ (۱۳۶۲ھ) دار الإشاعت کراچی،

⑬ أساس البلاغة: جار الله ابوالقاسم محمود بن عمر الزمخشری (متوفی ۵۳۸ھ)۔ دار المعرفة للطباعة والنشر بیروت ۱۳۹۹ھ مطابق ۱۹۷۹ء،

⑬ الإستيعاب فی اسماء الأصحاب بهامش الإصابة: ابوعمر یوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر رحمه الله (متوفی ۴۶۳ھ) دارالفکر للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت

⑭ أشعة اللمعات: شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله (متوفی ۱۰۵۲ھ) مکتبه نوریه رضویه سکھر پاکستان،

⑮ الإصابة فی تمیز الصحابة: شهاب الدین ابوالفضل أحمد بن علی القسطلانی المصری المعروف بابن حجر رحمه الله (متوفی ۸۵۲ھ) دار الفکر. بیروت

⑯ أصول البزدوی: فخر الإسلام أبوالحسن علی بن محمد البزدوی (متوفی ۴۸۲ھ) الصدف پبلشرز کراچی

⑰ الأعلام: خیر الدین محمود بن محمد الزرکلی رحمه الله (متوفی ۱۳۹۶ھ مطابق ۱۹۷۶ء) دار العلم للملایین طبع ثامن، جولائی ۱۹۸۹ء

⑱ أعلام الحدیث: إمام أبوسلیمان احمد بن محمد الخطابی رحمه الله (متوفی ۳۸۸ھ) مرکز احیاء التراث الإسلامی جامعه أم القری مکة المکرمة،

⑲ إعلام الموقعین عن رب العالمین: شمس الدین أبوعبدالله محمد بن أبی بکر المعروف بابن قیم رحمه الله (متوفی ۷۵۱ھ) دار الجیل. بیروت

⑳ الإمام البخاری إمام الحفاظ والمحدثین: علامه تقی الدین الندوی مدظلهم. المکتبة الحدیثة. العین. الأمارات العربیه المتحدة طبع ثالث ۱۴۰۵ مطابق ۱۹۸۵ء

㉑ إمداد الباری: حضرت مولانا عبدالجبار أعظمی رحمه الله (متوفی) مکتبه. حرم مراداباد

㉒ إمعان النظر: علامه قاضی محمد أکرم نصرپوری سندهی رحمه الله (من علماء القرن الحادی عشر) شاه ولی الله اکیدمی سنده

㉓ أنوار الباری: مولانا سید أحمد رضا بجنوری مدظلهم. مدینه پریس بجنور

㉔ أنوار التنزیل وأسرار التاویل: ناصر الدین أبوسعید عبدالله بن عمر البیضاوی الشافعی رحمه الله (متوفی ۶۹۱ھ)

㉕ أوجز المسالك إلى مؤطأ مالك: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله (متوفی ۱۴۰۲ھ) ادارہ تالیفات اشرفیه ملتان،

㉖ إیضاح البخاری: حضرت مولانا سید فخر الدین محمد صاحب رحمه الله (متوفی ۱۳۹۲ھ) مکتبه مجلس قاسم المعارف دیوبند

㉗ الباعث الحثیث شرح إختصار علوم الحدیث: شیخ أحمد محمد شاکر رحمه الله (متوفی ۱۳۸۸ھ) دار التراث قاهرة، مصر ۱۳۹۹ھ مطابق ۱۹۷۹ء

㉘ بدایة المجتهد ونهایة المقتصد: قاضی ابوالولید محمد بن أحمد بن رشد قرطبی رحمه الله (متوفی ۵۹۵ھ) شرکة ومطبعة مصطفی البابی الحلبی. مصر طبع خامس ۱۴۰۱ھ مطابق ۱۹۸۱ء

(۳۰) البدایة والنهایة: حافظ عماد الدین أبو الفداء إسماعیل بن عمر المعروف بابن کثیر رحمہ اللہ (متوفی ۷۷۴ھ) مکتبة المعارف. بیروت. طبع ثانی ۱۹۷۷ء

(۳۱) البدر الساری. حاشیه فیض الباری: حضرت مولانا بدر عالم میرٹھی رحمہ اللہ (۱۳۸۵ھ) ربانی بکڈپو دھلی ۱۹۸۰ء

(۳۲) بذل المجهود: حضرت العلامه خلیل أحمد سهارنپوری رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۴۶ ھ) مطبع ندوة العلماء لکنھو. ۱۳۹۳ھ مطابق ۱۹۷۳ء

(۳۳) بستان المحدثین: حضرت شاہ عبد العزیز صاحب رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۳۹ھ) ایچ ایم سعید کمپنی پاکستان، چوک کراچی طبع سوم ۱۹۸۴ء،

(۳۴) البلاغ (مفتی أعظم نمبر) دار العلوم کراچی ۱۳۹۹ء،

(۳۵) بلغة الأریب فی مصطلح آثار الحبیب: سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضی الزبیدی رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۰۵ھ) مکتب المطبوعات الإسلامیه بحلب طبع دویم ۱۴۰۸ھ،

(۳۶) بیان القرآن: حکیم الأمت حضرت مولانا أشرف علی صاحب تھانوی نور الله مرقده (متوفی ۱۳۶۲ھ) شیخ غلام علی اینڈ سنز لاھور،

(۳۷) پرانے چراغ: مولانا سید أبو الحسن علی ندوی رحمہ اللہ، مجلس نشریات اسلام کراچی،

(۳۸) تاج العروس من جواهر القاموس: أبو الفیض سید محمد بن محمد المعروف بالمرتضی الزبیدی رحمہ اللہ (۱۲۰۵ھ). دار مکتبة الحیاة بیروت لبنان،

(۳۹) تاریخ بغداد ومدینة السلام: حافظ أحمد بن علی المعروف بالخطیب البغدادی رحمہ اللہ (متوفی ۴۶۳ھ). دار الکتب العربی بیروت لبنان،

(۴۰) تاریخ الخمیس فی احوال أنفس نفیس: شیخ حسین بن محمد بن الحسن الدیار بکری المالکی رحمہ اللہ (متوفی ۹۶۶ھ)، مؤسسة شعبان بیروت،

(۴۱) تاریخ دار العلوم دیوبند: مرتبه سید محبوب رضوی رحمہ اللہ ادارۂ اهتمام دار العلوم دیوبند طبع اول ۱۳۹۷ھ

(۴۲) تاریخ دعوت وعزیمت: حضرت مولانا سید أبو الحسن علی ندوی رحمہ اللہ. مجلس نشریات إسلام پاکستان،

(۴۳) التاریخ الکبیر: أمیر المؤمنین فی الحدیث محمد بن إسماعیل البخاری رحمہ اللہ (متوفی ۲۵۶ھ). دار الکتب العلمیة بیروت،

(۴۴) تاریخ مشائخ چشت: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا کاندھلوی قدس سرہ (متوفی ۱۴۰۲ھ) نشریات إسلام کراچی،

(۴۵) تبصرہ بر المدخل فی علوم الحدیث للحاکم: حضرت مولانا عبد الرشید نعمانی رحمہ اللہ (متوفی) الرحیم اکیڈمی کراچی،

(۴۶) تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف أبوالحجاج جمال الدين يوسف بن عبدالرحمن المزی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۲ھ) المکتب الإسلامی بیروت طبع دویم ۱۴۰۳ھ مطابق ۱۹۸۳ء

(۴۷) تحفة القاری فی حل مشکلات البخاری: حضرت مولانا محمد إدریس صاحب کاندھلوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۹۴ھ)، مکتبہ عثمانیہ لاھور،

(۴۸) تدریب الراوی شرح تقریب النواوی: حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ (متوفی ۹۱۱ھ) المکتبة العلمیة مدینه منورة،

(۴۹) تدوین حدیث: حضرت مولانا سید مناظر أحسن گیلانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۷۵ھ). مکتبہ إسحاقیه جونامارکیت کراچی،

(۵۰) تذکرة حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مرادآبادی رحمہ اللہ. حضرت مولانا سید أبوالحسن علی ندوی رحمہ اللہ. مجلس نشریات اسلام کراچی،

(۵۱) تذکرة الحفاظ: حافظ أبوعبدالله شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۸ھ). دارالمعارف العثمانیه الهند،

(۵۲) تذکرة الرشید: حضرت مولانا عاشق إلهی صاحب میرٹهی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۰ھ) إدارة إسلامیات لاهور،

(۵۳) التعلیقات علی الدراسات: حضرت مولانا عبدالرشید نعمانی رحمہ اللہ صاحب. لجنة إحیاء الأدب السندی،

(۵۴) تعلیقات علی ذیل تذکرة الحفاظ لإبن فهد المکی: علامه محمد زاهد الکوثری رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۷۱ھ) دار إحیاء التراث العربی،

(۵۵) تعلیقات علی الرفع والتکمیل للکنوی: شیخ عبدالفتاح أبوغدة حفظه الله. مکتب المطبوعات الإسلامیه. حلب طبع دریم، ۱۴۰۷ھ مطابق ۱۹۸۷ء

(۵۶) تعلیقات علی شروط الائمة الخمسة للحازمی: علامه محمد زاهد الکوثری رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۷۱ھ). مطبوعه مع سنن إبن ماجه. قدیمی کتب خانه کراچی،

(۵۷) تعلیقات علی شروط الائمة الستة للمقدسی. علامه محمد زاهد الکوثری رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۷۱ھ)، کتب خانه کراچی،

(۵۸) تعلیقات علی علوم الحدیث لإبن الصلاح. دکتور نور الدین عتر. دار الفکر بیروت ۱۴۰۶ھ مطابق ۱۹۸۶ء

(۵۹) تعلیقات علی مسند الإمام أحمد: علامه أحمد محمد شاکر. دار المعارف مصر،

(۶۰) تعلیق التعلیق: حافظ أحمد بن علی المعروف بإبن حجر العسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ھ) المکتب الإسلامی ودار عمار،

(۶۱) تفسیر عثمانی: شیخ الإسلام شبیر أحمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۹ھ) مجمع الملك فهد سعودی عرب،

(۶۲) التفسیر الکبیر (مفاتیح الغیب) إمام أبوعبدالله فخر الدین محمد بن عمر الحسین رازی رحمہ اللہ (متوفی ۶۰۶ھ). مکتب الاعلام الاسلامی ایران،

(٦٣) تفسیر القرآن العظیم: حافظ أبوالفداء عماد الدین إسماعیل بن عمر ابن کثیر دمشقی رحمہ اللہ (متوفی ٧٧٤ھ) دار الفکر بیروت،

(٦٤) تقریب التہذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ٨٥٢ھ) دار الرشید حلب ١٤٠٦ھ،

(٦٥) التقریب والتیسیر لمعرفة سنن البشیر النذیر: ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ٦٧٦ھ) المکتبة العلمیة مدینہ منورہ،

(٦٦) تقریر بخاری شریف اردو: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب متوفی رحمہ اللہ (١٤٠٢ھ مطابق ١٩٨٢ء، مکتبة الشیخ کراچی،

(٦٧) التقریر والتحبیر: علامہ شمس الدین أبوعبداللہ محمد بن محمد بن محمد بن أمیر حاج رحمہ اللہ (متوفی ٨٧٩ھ) المکتبة الکبری الأمیریة بولاق مصر طبع اول ١٣١٧ھ،

(٦٨) التقیید والإیضاح لما أطلق وأغلق من کتاب ابن الصلاح: حافظ أبوالفضل زین الدین عبدالرحیم بن الحسین العراقی رحمہ اللہ (متوفی ٨٠٦ھ) مکتبہ سلفیہ مدینہ منورہ طبع اول ١٣٨٩ھ،

(٦٩) تکملہ فتح الملہم: شیخ الإسلام محمد تقی عثمانی مدظلہم. مکتبہ دار العلوم کراچی،

(٧٠) التلخیص الحبیر فی تخریج أحادیث الرافعی الکبیر: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ٨٥٢ھ). دار نشر الکتب الإسلامیہ لاہور،

(٧١) تلخیص المستدرک (مع المستدرک): حافظ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذہبی رحمہ اللہ (متوفی ٧٤٨ھ). دار الفکر بیروت،

(٧٢) التمہید لما فی المؤطا من المعانی والأسانید: حافظ أبوعمر یوسف بن عبداللہ بن محمد بن عبدالبر مالکی رحمہ اللہ (متوفی ٤٦٣ھ). المکتبة التجاریة مکة المکرمہ،

(٧٣) تنظیم الأشتات فی حل عویصات المشکوة: مولانا ابوالحسن (متوفی ھ) میر محمد کتب خانہ آرام باغ کراچی،

(٧٤) تہذیب الأسماء واللغات: إمام ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ٦٧٦ھ) إدارة الطباعة المنیریہ،

(٧٥) تہذیب التہذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ٨٥٢ھ) دائرة المعارف النظامیہ حیدرآباد دکن ١٣٢٥،

(٧٦) تہذیب الکمال: حافظ جمال الدین أبوالحجاج یوسف بن عبدالرحمن مزی رحمہ اللہ (متوفی ٧٤٢ھ). مؤسسة الرسالہ طبع اول ١٤١٣،

(٧٧) توجیہ النظر إلی أصول الأثر: علامہ طاہر بن صالح بن أحمد الجزائری رحمہ اللہ (١٣٣٨ھ مطابق ١٩٢٠ء) دار المعرفة بیروت،

(٧٨) تیسیر القاری شرح صحیح البخاری: مولانا نور الحق بن شیخ عبدالحق محدث دہلوی رحمہ اللہ (متوفی ١٠٧٣ھ) مطبع علوی لکھنو،

(٧٩) الثقات: حافظ أبوحاتم محمد بن حبان بستى رحمه الله (متوفى ٣٥٤ھ) دار المعارف العثمانيه حيدرآباد ١٣٩٣ھ

(٨٠) جامع الأصول من حديث الرسول: علامه مجدالدين أبوالسعادات المبارك بن محمد بن الأثير الجزرى رحمه الله (متوفى ٦٠٦ھ) دار الفكر بيروت،

(٨١) جامع بيان العلم وفضله وماينبغى فى روايته وحمله: حافظ أبوعمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر مالكى رحمه الله (متوفى ٤٦٣ھ). دار احياء التراث العربى بيروت،

(٨٢) جامع ترمذى: إمام أبوعيسى محمد بن عيسى بن سورة ترمذى رحمه الله (متوفى ٢٧٩ھ) ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى،

(٨٣) الجامع الصغير فى احاديث البشير النذير: حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ٩١١ھ). مكتبه إسلاميه سمندرى لائل پور،

(٨٤) الجامع الكبير: حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ٩١١ھ) نسخة مصورة عن دار الكتب المصريه.

(٨٥) الجامع لأحكام القرآن: إمام أبوعبدالله محمد بن أحمد الأنصارى القرطبى رحمه الله (متوفى ٦٧١ ھ) دار الفكر بيروت،

(٨٦) الجواهر المضية فى طبقات الحنفية: حافظ أبومحمد محى الدين عبدالقادر قرشى رحمه الله (متوفى ٧٧٥ ھ) مير محمد آرام باغ كراچى،

(٨٧) الجواهر والدرر فى ترجمة شيخ الإسلام ابن حجر: حافظ شمس الدين أبوالخير محمد بن عبدالرحمن سخاوى رحمه الله (متوفى ٩٠٢ھ). لجنة إحياء التراث الإسلامى مصر،

(٨٨) چراغ محمد (سوانح شيخ الإسلام حضرت مدنى رحمه الله): علامه محمد زاهد الحسينى مدظلهم. دار الإرشاد أتك پاكستان،

(٨٩) حاشية السندى على البخارى (مطبوعه مع صحيح بخارى): إمام أبوالحسن نورالدين محمد بن عبدالهادى سندهى رحمه الله (متوفى ١١٣٨ھ). قديمى كتب خانه كراچى،

(٩٠) حاشيه صحيح بخارى: حضرت مولانا أحمد على سهارنپورى رحمه الله (متوفى ١٢٩٧ھ). قديمى كتب خانه كراچى،

(٩١) حاشيه قواعد فى علوم الحديث: شيخ عبدالفتاح أبوغدة حفظه الله. مكتب المطبوعات الإسلاميه. حلب،

(٩٢) حاشيه لامع الدرارى: شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب متوفى رحمه الله (١٤٠٢ھ) مكتبه إمداديه مكه مكرمه،

(٩٣) حجة الله البالغة: حضرت شاه ولى الله أحمد بن عبدالرحيم دهلوى رحمه الله (متوفى ١١٧٦ھ) إدارة الطباعة المنيرية مصر ١٣٥٢ھ،

(٩٤) حيات شيخ الهند: حضرت مولانا سيد أصغر حسين صاحب ديوبندى رحمه الله (متوفى ١٣٦٤ھ) دار الفكر بيروت،

(٩٥) حلية الأولياء: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهانى شافعى (متوفى ٤٣٠ھ) دار الفكر بيروت،

(۹۶) الخصائص الکبری(کفایة الطالب اللبیب فی خصائص الحبیب) حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ (متوفی ۹۱۱ھ). دار الکتب العلمیة بیروت،

(۹۷) خلاصہ تذہیب تہذیب الکمال: علامہ صفی الدین خزرجی رحمہ اللہ (متوفی ۹۲۳ھ تک زندہ تھے)، مکتب المطبوعات الإسلامیة حلب،

(۹۸) الدرر الکامنة فی اعیان المائة الثامنة: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ھ). دائرة المعارف العثمانیة حیدر آباد دکن ۱۳۹۲ھ،

(۹۹) درس بخاری: شیخ الإسلام شبیر احمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۹ھ)(ضبط وترتیب مولانا عبدالوحید صدیقی فتحپوری). مکتبہ عارفین پاکستان چوک کراچی،

(۱۰۰) الدر المختار مع رد المحتار: علامہ علاء الدین محمد بن محمد الحصکفی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۸۸ھ) مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،

(۱۰۱) الدر المنثور فی التفسیر بالماثور: علامہ حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ (متوفی ۹۱۱ھ) مؤسسة الرسالة،

(۱۰۲) دلائل النبوة: حافظ أبونعیم أحمد بن عبداللہ بن أحمد أصبهانی رحمہ اللہ (متوفی ۴۳۰ھ). دار النفائس،

(۱۰۳) دلائل النبوة: حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمہ اللہ (متوفی ۴۵۸ھ). مکتبہ أثریہ لاہور،

(۱۰۴) دیوان الحماسہ: أبوتمام حبیب بن أوس بن حارث طائی رحمہ اللہ (متوفی ۲۳۱ھ). میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۰۵) دیوان الشافعی: إمام محمد بن إدریس بن عباس الشافعی رحمہ اللہ (متوفی ۲۰۴ھ) دار الجیل بیروت،

(۱۰۶) ذب ذبابات الدراسات عن المذاهب الأربعة المتناسبات: علامہ مخدوم عبداللطیف سندھی لجنة إحیاء الأدب السندی،

(۱۰۷) ردالمحتار مع الدر المختار: علامہ محمد أمین بن عمر بن عبدالعزیز عابدین دمشقی شامی رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۵۲ھ) مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،

(۱۰۸) رسالہ شرح تراجم أبواب البخاری رحمہ اللہ (مطبوعہ مع صحیح بخاری). حضرت مولانا شاہ ولی اللہ رحمہ اللہ (متوفی ۱۱۷۶ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۰۹) الرسالة المحمدیة (عربی خطبات مدارس) حضرت مولانا سید سلیمان ندوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۹۵۳ء)،

(۱۱۰) الرسالة المستطرفة لبیان مشهور کتب السنة المشرفة: علامہ محمد بن جعفر کتانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۴۵ھ) میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۱۱) الرفع والتکمیل فی الجرح والتعدیل: علامہ أبوالحسنات عبدالحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ھ)، مکتب المطبوعات الإسلامیة حلب، ط ربیع ۱۴۰۷ھ،

(۱۱۲) روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی: أبوالفضل شهاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۷۰ھ) مکتبہ إمدادیہ ملتان،

(۱۱۳) الروض الأنف: إمام أبوالقاسم عبدالرحمن بن عبداللہ السہیلی رحمہ اللہ (متوفی ۵۸۱ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان ۱۳۹۷ء،

(۱۱۴) سبیل الهدی بتحقیق شرح قطر الندی: شیخ محمد محی الدین عبدالحمید رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۹۳ھ) مکتبة السعادة مصر یولسم طبع،

(۱۱۵) السعایة فی کشف ما فی شرح الوقایة: علامہ عبدالحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ھ) سہیل اکیڈمی لاہور،

(۱۱۶) سنن إبن ماجه: إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجه رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۳ھ). قدیمی کتب خانہ،

(۱۱۷) سنن إبن ماجه (تحقیق محمد فؤاد عبدالباقی): إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجه رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۳ھ). دار الکتب المصری قاهرة/ دار الکتاب اللبنانی بیروت،

(۱۱۸) سنن ابی داؤد: إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۵ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،

(۱۱۹) سنن ابی داؤد (تحقیق محمد محی الدین عبدالحمید): إمام أبوداؤد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۵ھ). دار إحیاء السنة النبویة،

(۱۲۰) سنن دارمی (مسند دارمی): إمام أبومحمد عبداللہ بن عبدالرحمن دارمی رحمہ اللہ (۲۵۵ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۲۱) سنن دارقطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دارقطنی رحمہ اللہ (متوفی ۳۸۵ھ) دار نشر الکتب الإسلامیة لاهور،

(۱۲۲) السنن الکبری: إمام حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمہ اللہ (متوفی ۴۵۸ھ) نشر السنة ملتان،

(۱۲۳) سنن نسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (۳۰۳ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۲۴) سنن نسائی (بحاشیہ مولانا عطاء اللہ حنیف): إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (متوفی ۳۰۳ھ). مکتبہ سلفیہ لاهور،

(۱۲۵) سوانح قاسمی: علامہ سید مناظر احسن گیلانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۷۵ھ مطابق ۱۹۵۶ء). میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۲۶) سیر أعلام النبلاء: حافظ أبوعبداللہ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۸ھ) مؤسسة الرسالة،

(۱۲۷) السیرة الحلبیة (انسان العیون فی سیرة الأمین المأمون): علامہ علی بن برهان الدین الحلبی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۴۴ھ) المکتبة الإسلامیہ بیروت،

(۱۲۸) سیرة المصطفی: حضرت مولانا محمد إدریس کاندهلوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۹۴ھ مطابق ۱۹۷۴ء). مکتبہ عثمانیہ لاهور،

(۱۲۹) السیرة النبویة لإبن هشام (مع الروض الأنف) إمام أبومحمد عبدالملک بن هشام المعافری البصری رحمہ اللہ (متوفی ۲۱۳ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان،

(۱۳۰) السیرة النبویة (بهامش السیرة الحلبیة: سید احمد زینی دحلان رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ھ) المکتبة الإسلامیہ بیروت،

(۱۳۱) سیرت النبی ﷺ: علامہ شبلی نعمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۳۲ھ) و مولانا سید سلیمان ندوی (متوفی ۱۹۵۳م) دار الإشاعت کراچی،

(۱۳۲) شرح أصول إعتقاد أهل السنة والجماعة: حافظ أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور الطبری اللالکائی رحمہ اللہ (متوفی ۴۱۸ھ) دار طیبة الریاض،

(۱۳۳) شرح شرح نخبة الفکر: حضرت ملا علی القاری رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۱۴ھ). مکتبہ اسلامیہ کوئٹہ،

(۱۳۴) شرح العقیدة الطحاویه: علامہ صدر الدین علی بن علی بن محمد بن ابی العز حنفی رحمہ اللہ (متوفی ۷۹۲ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۳۵) شرح معانی الآثار: امام أبو جعفر احمد بن محمد بن سلامة بن سلمہ طحاوی رحمہ اللہ (متوفی ۳۲۱ھ) میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۳۶) شرح معانی الآثار: إمام أبو جعفر احمد بن محمد بن سلامة بن سلمہ طحاوی رحمہ اللہ (متوفی ۳۲۱ھ) میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۳۷) شرح المنظومة البیقونیة: عبد الله سراج الدین. دار التراث الإسلامی حلب ۱۳۹۳ھ،

(۱۳۸) شرح النووی علی صحیح مسلم (مطبوعہ مع صحیح مسلم) إمام أبو زکریا یحیی بن شرف النووی رحمہ اللہ (۶۷۶ھ). قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۳۹) شرح الوقایة (مع السعایة) صدر الشریعة عبید الله بن مسعود بن تاج الشریعة (۷۴۷ھ) سہیل اکیڈمی لاہور،

(۱۴۰) شروط الأئمة الخمسة: (مطبوعہ مع سنن إبن ماجه). حافظ أبو بکر محمد بن موسی بن عثمان حازمی رحمہ اللہ (متوفی ۵۸۴ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۴۱) شعب الإیمان: إمام حافظ احمد بن الحسین بن علی البیهقی رحمہ اللہ (متوفی ۴۵۸ھ). دار الکتب العلمیة بیروت، ۱۴۱۰ھ،

(۱۴۲) شمائل ترمذی: إمام أبو عیسی محمد بن عیسی بن سورة الترمذی رحمہ اللہ (۲۷۹ھ). میر محمد آرام باغ کراچی،

(۱۴۳) شیخ الإسلام سید حسین احمد مدنی رحمہ اللہ: فرید الوحیدی. قومی کتاب گھر ذاکر نگر جامعہ ملیہ اسلامیہ نئی دہلی،

(۱۴۴) صحیح بخاری شریف: إمام أبو عبد الله محمد بن إسماعیل البخاری رحمہ اللہ (متوفی ۲۵۶ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(۱۴۵) صحیح مسلم (مع شرح نووی) إمام أبو الحسین مسلم بن الحجاج القشیری رحمہ اللہ (متوفی ۲۶۱ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

(١٤٦) طبقات الشافعية الكبرى: علامه تاج الدين أبونصر عبدالوهاب بن تقى الدين على بن عبدالكافى (متوفى ٧٧١هـ). دار المعرفة بيروت،
(١٤٧) طبقات الكبرى: إمام أبوعبدالله محمد بن سعد رحمه الله (متوفى ٢٣٠هـ) دار صادر بيروت،
(١٤٨) عجاله نافعه (مع فوائد جامعه)، حضرت شاه عبدالعزيز صاحب محدث دهلوى رحمه الله (متوفى ١٢٣٩هـ). نور محمد آرام باغ كراچى،
(١٤٩) العرف الشذى (مطبوعه مع جامع ترمذى): إمام العصر علامه أنور شاه كشميرى رحمه الله (متوفى ١٣٥٢ هـ) ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى،
(١٥٠) عقود اللآلى فى الأسانيد العوالى: علامه محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز عابدين شامى رحمه الله (متوفى ١٢٥٢هـ)،
(١٥١) العقيدة الطحاوية (مع شرح العقيدة): إمام أبوجعفر احمد بن محمد بن سلامة بن سلمه طحاوى رحمه الله (متوفى ٣٢١هـ). قديمى كتب خانه كراچى،
(١٥٢) علوم الحديث (مقدمه إبن الصلاح) حافظ تقى الدين أبوعمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بإبن الصلاح الشهرزورى رحمه الله (٦٤٣هـ). دار الفكر بيروت،
(١٥٣) عمدة القارى شرح صحيح البخارى: إمام بدر الدين أبومحمد محمود بن أحمد العينى رحمه الله (متوفى ٨٥٥ هـ) إدارة الطباعة المنيرية،
(١٥٤) العناقيد الغالية فى الأسانيد العالية: حضرت مولانا عاشق الهى بلندشهرى مدظلهم. مكتبة الشيخ كراچى،
(١٥٥) العناية شرح الهداية (بهامش فتح القدير) علامه اكمل الدين محمد بن محمود البابرتى رحمه الله (متوفى ٧٨٦ هـ) مكتبه رشيديه كوئته،
(١٥٦) غريب الحديث: إمام أبوسليمان حمد بن محمد الخطابى رحمه الله (متوفى ٣٨٨هـ). مركز البحث جامعه ام القرى مكه مكرمه.
(١٥٧) الفائق فى غريب الحديث: علامه جار الله أبوالقاسم محمود بن عمر الزمخشرى (متوفى ٥٣٨هـ) دار المعرفة بيروت،
(١٥٨) فتح البارى شرح صحيح البخارى: حافظ إبن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ٨٥٢هـ). دار الفكر بيروت،
(١٥٩) فتح القدير: إمام كمال الدين محمد بن عبدالواحد المعروف بإبن الهمام رحمه الله (متوفى ٨٦١هـ) مكتبه رشيديه كوئته،
(١٦٠) فتح الله بخصائص الإسم الله: حضرت مولانا محمد موسى صاحب روحانى بازى رحمه الله (متوفى) جامع اشرفيه لاهور،
(١٦١) فتح المغيث شرح الفية الحديث / شرح الفية العراقى: إمام أبوالفضل زين الدين عبدالرحيم بن الحسين العراقى رحمه الله (متوفى ٨٠٦هـ) دار الجيل بيروت،
(١٦٢) فتح الملهم بشرح صحيح مسلم: شيخ الإسلام علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله (متوفى ١٣٦٩ هـ). مكتبة الحجاز حيدرى كراچى،
(١٦٣) الفتوحات الربانية شرح الأذكار النواوية: شيخ محمد بن علان صديقى رحمه الله (متوفى ١٠٥٧هـ). المكتبة الإسلاميه،

(١٦٣) الفَرقُ بين الفِرَق: شيخ عبدالقاهر بن طاهر بن محمد بن عبدالله بغدادى (متوفى ٤٢٩ھ). مكتب نشر الثقافة الإسلامية ١٣٦٧ھ،

(١٦٥) فضل البارى شرح أردو صحيح البخارى: شيخ الإسلام علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله (متوفى ١٣٦٩ھ).: ادارة علوم شرعيه كراچی،

(١٦٦) الفوائد البهية فى تراجم الحنفية: علامه أبوالحسنات عبدالحى لكهنوى رحمه الله (متوفى ١٣٠٤ھ). نور محمد كتب خانه آرام باغ كراچی،

(١٦٧) فوائد جامعه بر عجاله نافعه: مولانا عبدالحليم چشتى مد ظلهم. نور محمد آرام باغ كراچی،

(١٦٨) فيض البارى: إمام العصر علامه أنور شاه كشميرى رحمه الله (متوفى ١٣٥٢ھ). ربانى بك ديو دهلى،

(١٦٩) فيض القدير شرح الجامع الصغير: شيخ عبدالرؤف المناوى رحمه الله (متوفى ١٠٣١ھ). دار المعرفة بيروت،

(١٧٠) قفو الأثر فى صفو علوم الأثر: علامه رضى الدين محمد بن إبراهيم الحلبى الحنفى رحمه الله (متوفى ٩٧١ھ) مكتب المطبوعات الإسلاميه،

(١٧١) قواعد فى علوم الحديث (مقدمه إعلاء السنن) علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله (متوفى ١٣٩٤ھ). مكتب المطبوعات الإسلاميه حلب دويم طبع ١٤٠٨ھ (١٧٢) الكاشف عن حقائق السنن (شرح طيبى) إمام شرف الدين حسين بن محمد بن عبدالله الطيبى رحمه الله (متوفى ٧٤٣ھ) إدارة القرآن كراچی۔

(١٧٣) الكامل فى التاريخ: علامه أبوالحسن عزالدين على بن محمد بن الأثير الجزرى رحمه الله (متوفى ٦٣٠ھ) دار الكتاب العربى،

(١٧٤) الكامل فى ضعفاء الرجال: إمام أبو احمد عبدالله بن عدى جرجانى رحمه الله (متوفى ٣٦٥ھ) دار الفكر بيروت،

(١٧٥) كتاب الضعفاء الكبير: أبوجعفر محمد بن عمرو بن موسى بن حماد العقيلى (١٧٦) المكى رحمه الله (متوفى ھ). دار الكتب العلميه بيروت،

(١٧٧) كتاب الأذكار النووية بشرح الفتوحات الربانيه: إمام محى الدين أبوزكريا يحيى بن شرف النووى رحمه الله (٦٧٦ھ). المكتبة الإسلاميه

(١٧٨) كتاب العلل (مع جامع ترمذى): إمام أبوعيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذى رحمه الله (متوفى ٢٧٩ھ). ايچ ايم سعيد كمپنى كراچی،

(١٧٩) كشاف إصطلاحات الفنون: علامه محمد أعلى تهانوى رحمه الله (متوفى ١١٩١ھ) سهيل اكيدمى لاهور،

(١٨٠) الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الأقاويل (تفسير كشاف): جار الله ابوالقاسم محمود بن عمر الزمخشرى (متوفى ٥٣٨ھ). دار الكتاب العربى بيروت،

(١٨١) كشف الأستار عن زوائد البزار: إمام نور الدين على بن ابى بكر الهيثمى رحمه الله (متوفى ٨٠٧ھ). مؤسسة الرسالة طبع اول ١٤٠٥ھ،

(١٨٢) كشف الأسرار شرح أصول البزدوى: علامه عبدالعزيز احمد بن محمد البخارى رحمه الله (متوفى ٧٣٠ھ) الصدف پبلشرز كراچی،

(۱۸۳) کشف الظنون عن أسامی الکتب والفنون: ملا کاتب چلپی مصطفی بن عبداللہ المعروف بہ حاجی خلیفہ رحمہ اللہ (متوفی ١٠٦٧ھ)۔ مکتبۃ المثنی بغداد، آفست فوتو استنبول،
(۱۸۴) الکفایۃ شرح الہدایۃ (مع فتح القدیر): علامہ جلال الدین بن شمس الدین الخوارزمی رحمہ اللہ۔ مکتبہ رشیدیہ موئٹہ،
(۱۸۵) کنز العمال فی سنن الأقوال والأفعال: علامہ علاء الدین علی متقی بن حسام الدین ہندی برہان پوری رحمہ اللہ (متوفی ٩٧٥ھ)۔ مکتبۃ التراث الإسلامی حلب،
(۱۸۶) کنوز الحقائق فی حدیث خیر الخلائق: إمام عبدالرؤف المناوی رحمہ اللہ (متوفی ١٠٣١ھ) مکتبہ إسلامیہ سمندری لائل پوری،
(۱۸۷) الکواکب الدراری (شرح الکرمانی): علامہ شمس الدین محمد بن یوسف بن علی الکرمانی رحمہ اللہ (متوفی ٧٨٦ھ) دار إحیاء التراث العربی،
(۱۸۸) لامع الدراری: إمام ربانی حضرت مولانا رشید أحمد گنگوہی رحمہ اللہ (متوفی ١٣٢٣ھ)۔ مکتبہ امدادیہ مکہ مکرمہ،
(۱۸۹) لسان المیزان: حافظ إبن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ٨٥٢ھ)۔ مؤسسۃ الأعلمی بیروت،
(۱۹۰) لقط الدرر حاشیہ نزہۃ النظر: شیخ عبداللہ بن حسین خاطر السمین العدوی رحمہ اللہ (من علماء القرن الرابع عشر)۔ مصطفی البابی ١٣٥٦ھ)،
(۱۹۱) لمعات التنقیح: شیخ عبدالحق محدث دہلوی (متوفی ١٠٥٢ھ)۔
مکتبۃ المعارف العلمیۃ لاہور،
(۱۹۲) ما تمس إلیہ الحاجۃ لمن یطالع سنن إبن ماجہ (مطبوعہ مع سنن إبن ماجہ) حضرت مولانا عبدالرشید نعمانی مد ظلہم۔ قدیمی کتب خانہ کراچی،
(۱۹۳) مجمع بحار الأنوار فی غرائب التنزیل ولطائف الأخبار: محدث محمد طاہر پٹنی رحمہ اللہ (متوفی ٩٨٦ھ) دائرۃ المعارف العثمانیہ حیدر آباد ١٣٩٥ھ
(۱۹۴) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: إمام نور الدین علی بن أبی بکر الہیثمی رحمہ اللہ (متوفی ٨٠٧ھ)۔ دار الفکر بیروت،
(۱۹۵) المجموع شرح المہذب: ابوزکریا یحیی بن شرف الدین النووی (متوفی ٦٧٦ھ)۔ شرکۃ من علماء الأزہر،
(۱۹۶) مجموع فتاوی شیخ الإسلام إبن تیمیۃ: حافظ تقی الدین أبو العباس احمد بن عبدالحلیم حرانی رحمہ اللہ (متوفی ٧٢٨ھ)۔ طبعۃ الملک فہد،
(۱۹۷) مختار الصحاح: إمام محمد بن أبی بکر بن عبدالقادر الرازی رحمہ اللہ (متوفی ٦٦٦ھ) نہ روستو، دار المعارف مصر،
(۱۹۸) مرقاۃ المفاتیح شرح مشکوۃ المصابیح: علامہ نور الدین علی بن سلطان القاری رحمہ اللہ (متوفی ١٠١٤ھ)۔ مکتبہ امدادیہ ملتان،
(۱۹۹) المستدرک علی الصحیحین: حافظ أبو عبداللہ محمد بن عبداللہ حاکم نیشاپوری (متوفی ٤٠٥ھ) دار الفکر بیروت،
(۲۰۰) مسند أحمد: إمام أحمد بن حنبل رحمہ اللہ (متوفی ٢٤١ھ) المکتب الإسلامی / دار صادر بیروت،

(۲۰۱) مسند الحميدى: إمام أبوبكر عبدالله الزبيرى الحميدى رحمه الله (متوفى ۲۱۹ھ) المكتبة السلفية مدينه منوره،
(۲۰۲) مشاهير علمائے دیوبند: حافظ قاری فیوض الرحمن مدظلهم. مکتبه عزیزیه لاهور طبع اول ۱۹۷۶ء،
(۲۰۳) مشكوة المصابيح: شيخ أبوعبدالله ولى الدين خطيب محمد بن عبدالله رحمه الله (متوفى ۷۳۷ ھ) نه روستو، قديمى كتب خانه كراچى،
(۲۰۴) المصنف: إمام عبدالرزاق بن همام بن نافع الصنعانى رحمه الله (متوفى ۲۱۱ھ) مجلس علمى،
(۲۰۵) المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية: حافظ إبن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ۸۵۲ھ). دار الباز مكة المكرمه،
(۲۰۶) معارف القرآن: مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله (متوفی ۱۳۹۶ ھ) ادارة المعارف کراچی،
(۲۰۷) معجم البلدان: علامه أبوعبدالله ياقوت حموى رومى رحمه الله (متوفى ۶۲۶ ھ). دار إحياء التراث العربى بيروت،
(۲۰۸) المعجم الوسيط: دكتور إبراهيم أنيس، ودكتور عبدالحليم منتصر، عطية الصوالحى، محمد خلف الله احمد،، مجمع اللغة العربية دمشق،
(۲۰۹) معرفة علوم الحديث: إمام حافظ أبوعبدالله محمد بن عبدالله حاكم نيشاپورى رحمه الله (متوفى ۴۰۵ھ). مكتبه علميه مدينه منوره،
(۲۱۰) المفردات فى غريب القرآن: علامه حسين بن محمد بن الفضل الملقب بالراغب الأصفهانى رحمه الله (متوفى ۵۰۲ ھ) نور محمد آرام باغ کراچی،
(۲۱۱) مقدمهٔ أجوبه أربعين: حضرت مولانا صوفى عبدالحميد سواتى صاحب مدظلهم. مدرسه نصرة العلوم گوجرانواله،
(۲۱۲) مقدمه أنوارالبارى: حضرت مولانا احمد رضا صاحب بجنورى مدظلهم. خواجه پريس دهلى/ ناشر العلوم ديوبند،
(۲۱۳) مقدمه أوجزالمسالك (مع أوجزالمسالك): شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب متوفى رحمه الله (۱۴۰۲ ھ) ندوة العلماء لكهنؤ،
(۲۱۴) مقدمه أوجزالمسالك (مع أوجزالمسالك): شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب متوفى رحمه الله (۱۴۰۲ ھ) إدارة تاليفات أشرفيه ملتان،
(۲۱۵) مقدمه بلوغ المرام أردو: حضرت مولانا عبدالرشيد صاحب نعمانى مدظلهم، نور محمد آرام باغ كراچى،
(۲۱۶) مقدمه صحيح بخارى (مطبوعه مع صحيح بخارى) حضرت مولانا احمد على سهارنپورى رحمه الله (متوفى ۱۲۹۷ ھ) قديمى كتب خانه كراچى،
(۲۱۷) مقدمه صحيح مسلم: إمام أبوالحسين مسلم بن الحجاج القشيرى النيشاپورى رحمه الله (متوفى ۲۶۱ ھ) قديمى كتب خانه كراچى،

(۲۱۸) مقدمه فتح الملهم (مع فتح الملهم): شیخ الإسلام شبیر أحمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۹ ھ). مکتبه دار العلوم کراچی،

(۲۱۹) مقدمه مشکوة المصابیح: شیخ عبد الحق محدث دهلوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۵۲ ھ) قدیمی کتب خانه کراچی،

(۲۲۰) مقدمه لامع الدراری: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ (متوفی ۱۴۰۲ ھ). مکتبه إمدادیه مکه مکرمه،

(۲۲۱) مقدمه نصب الرایة: علامه محمد زاهد الکوثری (متوفی ۱۳۷۱ ھ). مجلس علمی دابهیل،

(۲۲۲) مکاتیب رشیدیه (مجموعه مکتوبات إمام ربانی مولانا رشید أحمد گنگوهی رحمہ اللہ جمع کردہ حضرت مولانا عاشق الهی میرٹهی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۰ ھ). مکتبه مدینه لاهور،

(۲۲۳) موطا: إمام مالك بن أنس أصبحی رحمہ اللہ (متوفی ۱۷۹ ھ). میر محمد ارام باغ کراچی،

(۲۲۴) موطا (تحقیق محمد فؤاد عبد الباقی): إمام مالك بن أنس أصبحی رحمہ اللہ (متوفی ۱۷۹ ھ). دار إحیاء التراث العربی،

(۲۲۵) میزان الإعتدال فی نقد الرجال: حافظ شمس الدین أبو عبد الله محمد بن احمد بن عثمان، ذهبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۸ ھ) دار إحیاء الکتب العربیة مصر ۱۳۸۲ ھ،

(۲۲۶) النبراس شرح شرح العقائد: علامه عبد العزیز بن احمد رحمہ اللہ (متوفی ۱۲۳۹ ھ نه روستی) مکتبه حبیبیه کوئٹه / مکتبه إمدادیه ملتان،

(۲۲۷) نزهة الخواطر وبهجة المسامع والنواظر: علامه عبد الحی بن فخر الدین حسنی لکهنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۴۱ ھ). میر محمد آرام باغ کراچی،

(۲۲۸) نصب الرایة فی تخریج أحادیث الهدایة: إمام حافظ أبو محمد جمال الدین عبد الله بن یوسف زیلعی رحمہ اللہ (متوفی ۷۶۲ ھ). مجلس علمی دابهیل ۱۳۵۷ ھ

(۲۲۹) النکت علی کتاب إبن الصلاح: حافظ إبن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ ھ). دار الرایة بیروت،

(۲۳۰) النهایة فی غریب الحدیث والأثر: علامه مجد الدین أبو السعادات المبارك بن محمد بن الأثیر رحمہ اللہ (متوفی ۶۰۶). دار إحیاء التراث العربی بیروت،

(۲۳۱) نیل المراد فی السفر إلی گنج مراد آباد (مشموله تذکره مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادی): حضرت مولانا أشرف علی تهانوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۲ ھ) مجلس نشریات إسلام،

(۲۳۲) وفیات الأعیان وأنباء أبناء الزمان: قاضی شمس الدین أبو العباس احمد بن محمد المعروف بإبن خلکان رحمہ اللہ (متوفی ۶۸۱ ھ) دار صادر بیروت،

(۲۳۳) هدی الساری (مقدمه فتح الباری). حافظ إبن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ ھ) دار الفکر بیروت،

(۲۳۴) هدیة العارفین أسماء المؤلفین وآثار المصنفین: إسماعیل باشا رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۳۹ ھ) مکتبه المثنی بغداد أفست فوتو استنبول ۱۹۵۱ء،

.... ختم شدہ جلد اول باب بدء الوحی و کتاب الایمان ....